د جنت ګاڼے

مکمل یوولس (۱۱) حصے د پښتو ترجمه

ددے مطالعه اوکړئ. په دے بے بهاکتاب کښې د مسلمانانو جینکو او
ښځو متعلق د ژوند د ټولو اهمو او ضروری مسئلو بیان او هدایات درج دی

مؤلف:

حکیم الامت حضرت مولنا محمد اشرف علی صاحب تهانوی

مترجم:

مولوی ګل برخان ابو ... سواتی، منشی فاضل

مولوی ... پیبانی

ناشر

رحمن ګل پبلیشرز محله جنګی قصه خوانی پشاور

فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَیْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ

پوره یو لس حصے مکمّل

دجنت کالے

مکمّل په پښتو کښ ترجمه شوے

ددے مطالعه اوکړئ. په دے بے بها کتاب کښ دمسلمانانو جینکو او ښځو متعلق دژوند دتولو اهمو او ضروری مسئلو بیان او هدایات درج دی

مؤلفه

حکیم الامّت حضرت مولنا محمد اشرفعلی صاحب تهانوی

مترجم :- مولوی گل برخان ابو حسین سواتی، منشی فاضل، مولوی فاضل، فاضل دینیات

مصحح: حضرت مولانا عبدالوافی فاضل جامع امداد العلوم پشاور

رحمٰن گل پبلشرز محله جنگی قصه خوانی پشاور

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم	د جنت کالی (پوره یولس حصی مکمل)
لیکوال	حکیم الامت حضرت مولانا محمد اشرف علی تهانوی رح
ژباړن	مولانا گل برهان ابوحسین سواتی منشی فاضل ، مولوی فاضل ، فاضل دینیات
مصحح	حضرت مولانا عبد الوافی فاضل جامع امداد العلوم پشاور
بریښنايي کوونکی	عزت الله سلطانزی 0093706912702
د چاپ کال	۱۴۰۴ هـ ق
خپرندویه	رحمان گل پبلیشرز محله جنگي قصه خوانی پشاور



سریزه

تول صفتونه هغه خالق مهربان لره دی چه د خپل مخلوق د هدایت د پاره ئے روښانه او واضحه کتاب (قرآن کریم) را اولیږه - او درود او سلام دے وی په سردار دانبیا ؤ چه محمد رسول الله صلے الله علیه وسلم دے - او دَ دغه کتاب (قرآن کریم) تعلیم ئے خپل امت ته په کامله طریقه سره اوکړه - او رضا دے شی الله پاک او رحمت دے او لیږی په هغه اصحابو تابعینو تبع تابعینو اماما نو او عالما نو دَ دین باندِ چه خپل تول ژوندئے دَ دین اسلام په اشاعت، ترویج او ترقئ کښے صرف کړے دے او دَ دین ګرانے ګرانے مسئلے ئے په ډیر محنت سره حل کړی دی او کتابی شکل ئے ورله ورکړے دے او محفوظ ئے کړی ئے دی -

دا زیر نظر کتاب دَ جنت کالے هم دَ دے سلسلے یو کړئ ده اصل کتاب بهشتی زیور دَ حضرت مولانا مولوی حکیم الامت محمد اشرف علی صاحب تهانوی تصنیف دے چه په اردو ژبه کښے دے - فاضل مصنف په دے کتاب کښے ډیرے ګرانے او پیچیده مسئلے په ډیره آسانه طریقه سره حل کړی او بیان کړی دی چونکه نن صبا دینی مسائل ایزده کول او دَ یو عالم نه تپوس کول اکثر خلق شرم ګنړی او بیا خاص کر زنانه طبقه خو بلکل تپوس نه کوی او په ډیرو ضروری مسئلو دَ نه پوهیدو په وجه ئے دین او دُنیا دواړه تباه کیږی او دوی تے بلکل خبر نه وی -

نو دَ دے ضرورت په وجه ما دَ دے کتاب دَ ترجمه کولو اراده او کړه ځکه چه دَ دے کتاب په هر یو کور کښے ساتل ضروری دی چه ځمونږ پښتنے خویاندِ او رونړه په کښے خهٔ په آسانئ سره دَ خپل ضرورت مسئله پخپله مورنئ ژبه کښے مونده شی او ځان پے پوهه کولے شی او دَ هغے پته او دَ شرم دَ مسئلو تپوس کولو ته ئے دَ چا نه ضرورت پاتے نه شی اُمید دے چه دا کتاب به دَ دوی خوښ شی او ما ته به دعاګانے کوی انشاءالله تعالی - والله اعلم بالصواب -

(دَ دعا طالب)

اَبو حُسین چنداخوری

(۱۸ صفر ۱۴۰۴ھ)

ډاکخانه کبل سوات (۲۰ نومبر ۱۹۸۳ء)

د جنت کالی د مضمونو فهرست

دَ جنت دَ کالي او دَ جنت دَ ملغلرے دَ موجوده نسخے متعلق خبرے اترے

دَ احقر اشرف علي نه

۱:- په دے نسخه باندے دَ برخوردار مولوي شبير علي دَ اهل علمو نه نظر ثاني کول او بیا دے نظر ثاني کښې په بعض مقاماتو کښې دَ عبارت یا مضامینو ترمیم کول۔ او دَ هرے مسئلے په آخر کښې دَ کتابونو حواله لیکل دا ټول ځما په مشورے او اطلاع سره شوي دي۔ او دَ ترمیم ځایونه ما پخپله دَ نظر نه اړه وُلي دي۔ او س دا نسخه دَ خدائے په فضل دَ هر قسم مکمله او مدلّله ده۔

۲:- دَ بعض حصو په آخر کښې څه ضمیمے په نوم دَ دویم ضمیمے سره په نظر راځي دا هم په حقیقت کښې یو قسم ترمیم دے۔ چه دَ صاحب دَ نظر ثاني نتیجه ده۔ دَ دے تجویز هم احقر کړے دے۔

۳:- کوم مسائل چه په عرف کښې شرمناک وو۔ یا دَ ګران والي په وجه پے عوام نه پوهیدل هغه یو ځائے ته جمع کړے شو چه چاته ئے لوستل مناسب نه وي نو چه پاتے شي۔

۴:- په دَ جنّت ملغلرے کاملے باندے یو سرسري نظر احقر کړے دے بیا دَ تفحّص په نظر کښې هغه هم دَ جنت دَ کالي سره شریک دے۔ چه دومره ترمیم په کښې شوے دے چه ګویا دَ نوي سره تصنیف شوے دے۔

۵:- اوس که په دے نسخه او پخوانو نسخو کښې څه اختلاف وي نو دَ دے نسخے اعتبار به کوے شي۔ په آخر کښې دَ برخوردار مذکور دَ پاره چه دَ دے په صحت او تکمیل کښې ئے خاص کوشش کړے دے دَ نیک عمل دَ توفیق او دَ فتنو نه دَ حفاظت دُعا کوم۔ والسّلام۔

خانقاه امدادیه تهانه بهون

آغاز۔ جمادي الاوّل سنه ۱۳۴۴ھ (مترجم ابوحسین ۱۷ رجب المرجب سنه ۱۴۰۳ھ)

پخوانۍ سرِیزه

ټول تعریفونه هغه الله پاک لره دي چا چه پخپل کتاب کښې فرمایلي دي۔ اے ایماندارو! خپل ځانونه او خپل اهل وعیال دَ هغے اور (دوزخ) نه بچ کړئ چه خشاک ئے بني آدم او کاڼي دي۔ او فرمایلي دي الله پاک چه "او یاد کړئ (اے بنځو) هغه څه چه لوستے شي ستاسو په کورونو کښې دَ الله پاک آیاتو نه او دَ پوهے خبرے۔ او درود او سلام دِ وي دَ هغه په رسول محمد صلے الله علیه وسلم چه غوره کړے شوے دے په انبیاؤ کښې۔ هغوئ په خپلو ارشاداتو کښې فرمایلي دي چه په تاسو کښې هر یو تن راعي (ساتونکے) دے او دَ هر یو نه به دَ خپل رعیّت په باره کښې تپوس کیدے شي۔ او فرمایلي دي رسول صلے الله علیه وسلم حاصلول دَ علم په هر یو مسلمان سړي او ښځه باندِ فرض دے۔ او درود دے وي دَ هغوئ په اولاد

او اصحابو خوک چه د هغوئ د اخلاقو او عادتو ازده کونکی او خوره ونکی دی۔

پس حقیر ناچیز اشرف علی تهانوی حنفی ظاهروئ دمُدعا دے۔ چه د ډیر وخت نه زه د هندوستان د ښځو په دینی تباهئ لیدلو سره زړه دړ زیدو۔ او د دے د علاج په فکر کښے وم۔ او د فکر زیاته وجه دا وه چه دا تباهی صرف د دوی د دین پورے محدوده نه وه بلکه دنیاوی تباهی ئے هم وه۔ او تر دے چه اثرات ئے د دوی په بچو او بیا په خاوندانو هم غورزیدل شروع شوی وو۔ او په کوم رفتار سره چه دا تباهی زیاتیده د هغے نه دا اندازه معلومیده چه که په دے لږ وخت کښے د دے اصلاح اونه کړے شی نو شاید چه دا مرض بیا لاعلاجه شی۔ نو د دے د علاج فکر راسره شو۔ او د دے تباهئ اصل سبب راته دا معلوم شه چه ښځے د دینی علومو نه ناخبره دی۔ چه د هغے په وجه د دوی عقیدے، عملونه، معاملات، اخلاق او د ژوند تیره ولو طریقے تول هرڅه برباد یږی۔ بلکه د ایمان بچ کیدل ئے هم مشکل دی۔ ځکه چه په بعض خبرو او کارو نو کښے د دوی نه کفر سرزد کیږی۔ او چونکه آئنده نسل خو هم د دوی په غیږ وکښه پرورش مومی نو هغوی هم د دوی د طرز عمل او خیالاتو له په زړه ونو کښے ځائے ورکوی چه د دے بچو هم د دین د تباهئ او د ژوند د بے مزے کیدو ذریعه وه۔ ځکه چه د بدے عقیدے نه بداخلاقی پیدا کیږی او د بداخلاقئ نه بدعملی او د بدعملئ نه بدے معاملے چه د معاشرے د خرابید و جرړے دی۔ یا تے شو خاونه که هغه هم د ښځے پښتانه شی نو بیا خو د دوه مفسدانو په جمع کیدو په فساد کښے نوره هم ترقی اوشی چه د هغے په وجه د آخرت کور ورانیدل خو ضروری دی لیکن بعض وخت د دے فساد نتیجه د یو بل سره د جنګ جګړے صورت اختیار کړی او د دُنیا کور ئے هم وران شی۔ او که په خاوند کښے څه صلاحیت وی نو د هغه د پاره کور جهنم جوړ شی۔ د بی بی هریو حرکت د هٔ ته نقصان رسوی او د هغه هر یو نصیحت په هغے بار او ناخوښه لږی۔ او چه صبر ئے اونه شی نو آخر ئے په مینځ کښے جدا والے راشی او که صبر کوی نو ژوند ئے د قید شی او د دین نه د ناخبرئ په وجه ئے دنیا هم خرابه شی۔ مثلاً د چا غیبت اوکړی د هغه دشمن

د دے حصے د لوستو طریقه: (۱) چه جینئ قرآن شریف ختم کړی۔ نو دا رساله دے ورته شروع شی۔ (۲) سرېره دے ورته نه وائی ابتدا کا اخلاقو کالی نظم دے ورته زبانی یاد کړی (۳) الف، ب د دے ورته په ښه شان سره ازده کړی (۴)، او که غوره ګڼړی نو دا کتاب دې د اولی نه په تختئ لیکل شروع کړی په دے به ورته لیکل هم ازده شی او مسئلے به ئے هم ښے یاد ګنی (۵)، عقاید او مسائل دې ښه یاد کړی او امتحان دې ئے هم اخلی۔ او که دوه درے جینکئ یو ځائے سبق وی نو هغوی دې هم هر وخت د یو بل نه تپوس ونه په کښے کوی۔ (۶) او که استاد ئے سړے وی نو د حصے په آخر کښے چه په کوم لاندے سرخئ د (لانده مسئلو د لوستو طریقه) کښے لیک دی د هغے هدایت متعلق عمل دې او کړی۔ (هغه هدایت دا دے چه که لوتیکې (استاد) سړے وی نو دا مسئلے دې ورته نجیله نه وائی بلکه د خپلے ښځے په ذریعه دے ورته ازده کړی یا دې ورته او وائی چه دا به بیا او وایو۔ او که شاګرد هلک وه هغه ته دې هم نه لولوی چه دا به بیا اد کورے)

شي، او کله د نوم نمائش د پاره په فضول رسمو نو کښې فضول خرچي اوکړي۔ مفلس شي که د
خاوند د خفه کولو څه کار اوکړي د هغه تے نظر واوړي او یا ئے د کوره اوباسي۔ یا د
اولاد پرورش په ټهیک طریقه اونه کړي هغه بے علمه او بے هنره لوئے شي او ټول عمر ئے د
تکلیف شي۔ او یا مثلاً د مال او کالو په حرص کښې ئے ژوند د عذاب شي۔ او چرته خوشحاله
نه وي۔ او دغه شان ډیر لازمي او متعدي فسادونه د ناپوهئ په وجه پیدا کیږي
په دے بنا چونکه د هر شي علاج په ضد سره کیږي نو مونږ هم د بے دینئ علاج په دینداري
سره مقرر کړو۔ په دے وجه زه ډیره موده په دے خیال کښې وم چه داسے څه کار
پکار دے چه ښځو ته علم دین او خودے شي خواه کم په (خپله ژبه) اردو کښې وي هم خیر دے
نو د دے ضرورت رفع کولو د پاره م موجوده ټولے رسالے او کتابونه اوکتل خو هغه
کافي نه وو۔ بعض کتابونه معتبر نه وو او د بعضو عبارت داسے وو چه د ښځو د پوهه کولو
لایق نه وه۔ بیا په دوی کښې هغه مضامین هم مخلوط وو د کومو چه د ښځو سره تعلق نه
وه۔ بعضے کتابونه د ښځو په باره کښې وو مګر دومره لنډ تنګ وو۔ چه د ضروري مسئلو او
احکامو تعلیم په کښې پوره نه وه۔ نو دا تجویز اوکړے شه چه یو کتاب خاص د دوی د پاره
جوړ شي چه عبارت ئے اسان وي او په ټولو ضرورتو نو پوره وي۔ او کوم مسائل چه د
سړو سره تعلق لري هغه په کښې را وا نغښتے شي۔ او دا کتاب دومره پوره وي چه د دین ټول
روزمره ضروریات په کښې پوره وي او د نورو کتابونو د لوستو نه بے پرواهي راولي۔ هسے خو
د علم دین په یو کتاب کښې احاطه کول ممکن نه دي او نه په دے سره مسلمانان د علمائے دین نه بے پروا
کیدے شي۔ تر ډیرو کلو نو پورے م دا خیال په زړه کښې ګرځید ولیکن د څه عوارضو په
بنا او د لاوزګارتیا په وجه ئے موقع د شروع کولو په لاس رانغله۔ اخر په سنه ۱۳۲۰ھ م د
خدائے په نوم شروع اوکړه۔ او د خدائے فضل وه چه د چهاپ کولو سامان ئے هم ور سره
ورسره تیاریدل شروع شو۔ په دے کښې الله تعالیٰ د رنګون د جینکو د مدرسے د مهتمم
سیټهه صاحب، او د جناب مولانا عبدالغفار صاحب لکهنوی د لور مرحومے چه حکیم
عبدالسلام صاحب دانا پوري ته ئے نسبت وه حصه مقرر کړے وه۔ چه دا نیک
کار د هغوی په پیسو شروع شه۔ الله دے قبول کړي۔ ځکه دوه چه مخ له په دے کښې
د څلورم حصه ده۔ تالیف ئے برائے نام دے او ناچیز طرفته منسوب دے۔ او په واقع
کښې د دے همیشه د سرګل ګما خوږ عزیز مولوی سید احمد علی صاحب فتحپوري

(۷) او کومے مسئلے چه کمائے دي هغه هم روستو ته پاتے کول پکار دي (۸) په دے حصه پسے اوّل ضمیمه لوستل پکار دي دویے ته ضرورت نشته (۹) پکور کښې چه داسے مشرانے ښځے دي چه هغوي د لوستو قابلے نه وي هغوي ته ئے هسے بار بار دروڼ پکار دي او چه د محلے ډیرے داسے ښځے را جمع کوي او هغوی ته ئے کله کله اوروي نو ډیره فائده ده (۱۰) لولونکي له پکار دي چه په لوستونکي د دے مسئلو د زړه کولو او عمل کولو تاکید کوي د علم مطلب عمل کول دي (۱۱) لولونکي له پکار دي چه په کومه مسئله نه پوهیږي چه اټکل دے نه لولوي بلکه د یو عالم نه دے په ځان ښه پوهه کړي بیا دے لولوي۔ احقر محمد اشرف علي عفي عنه۔ (ترغیب ابو حسین مترجم)

سلمہ اللہ تعالیٰ بالافادات والافاضات دے۔ جزا دے ورکړی ذوی لره اللہ پاک غوره جزا ځماد جانبه او د ټولو مسلمانو سړو او ښځو د جانبه۔

اوس دا کتاب که د اللہ رضا شی به نظر د تے لرے وی د اکثر ضروریاتو د دین بلکه د بعض ضروریاتو د معاش پورے دا سے راګیر ویکے دی چه که شوک د اول نه تر اخره پورے ځان په دې بنه پوهه کړی نو دیو متوسط عالم هومره پوهه به ئے په دین کښے او شی عبارت ئے ډیر اسان دے۔ د کوم خبرو چه ښځو ته ضرورت نه وه لکه جُمعه اختر وُنه امامت وغیره په کښے نظر انداز شوی دی۔ صرف د ده قسمه احکام په کښے راغستی شوی دی یو هغه چه د سړو او ښځو د پاره شریکے وی او بل هغه چه د ښځو سره خاص وی۔ او په حاشیه کښے د دغے خاصو مسئلو په باره کښے چه د سړو د پاره کوم حکم وی لیک شوے دے۔ چه سړی ته هم فائده واخلی او د داسے مسئلو د پاره د بل کتاب ضرورت هم پیخ نه شی۔ او د کتاب په شروع کښے د مفردا و مرکب حرفو نو پیژنې او د لیکلو طریقه هم شامله کړه۔ چه د منشی شوکت علی صاحب مرحوم د رسالے نه راغستی شوی دی۔

او د کتاب نوم مونږ د ښځو د مذاق او مناسبت مطابق ” د جنّت کالے “ کیخوده۔ ځکه چه اصل کالے دینی کمالات حاصلول دی او د دے په وجه به په جنّت کښے کالی د اچولو د پاره ملا ویږی۔ لکه چه اللہ پاک فرمائی يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ[1] ترجمه:- په جنّت کښے به دوی ته کالی اغوستولے کیږی د سرو کنګڼ او ملغلرے۔ حضور صلے اللہ علیه وسلم فرمائی تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوُضُوْءُ[2] ترجمه:- د مؤمن کالے به د قیامت په ورځ هغه ځائے ته رسی کوم ځائے ته چه د اودس اوبه رسی۔ چونکه دا وخت صحیح اندازه نه شی کیدے چه دا کتاب به کوم مقدار ته رسی په دے وجه د ختم کولو انتظار ئے تاخیر فی الخیر او ګڼړلے شو او مناسب معلومه شوه چه کتاب په وړو وړو حصو کښے تقسیم کړے شی اشاعت به ئے هم زر او شی او لوستونکی به ورته هم تازه دم کیږی او په لیکلو کښے به هم ګنجائش د نور و زیاتولو وی۔ او دا اسانی به پکښے هم وی چه چا ته کومه حصه اسانه وی هغه اوّل لولی او کرانه روستو کوی۔

چنانچه دا اوّله حصّه ده کومه چه ستاسو پهلاس کښے ده۔ دعا کوئ چه په خیر سره ختم شی۔ او د ایات او حدیث په مطابق سړو له پکار دی چه خپلے خویاندے میندے او ښځے کدے په لوستو ولیږ وی او ښځو له پکار دی چه اِرْده ئے کړی۔ زړه به مے هغه وخت خوشحاله شی چه کوم مضامین مے په زړه کښے دی هغه ټول جمع او چهاپ شی او ښځو ستړو سره او وینم چه د دے کتاب درس شروع دے۔ او کور د پکور د دے چرچا ده۔ ځکه چه توفیق د اللہ پاک په قبضه قدرت کښے دے۔ نو خپله سرېږه په دے سره ختموم چه کتونکی او خاص بیا جینکئ به ئے ډیر خوښ کړی۔

[1] سورة فاطر ا ع ۲ ۔ ۱۲ [2] رواه مسلم عن ابی هريرة رضی اللہ تعالیٰ عنه ۱۲

دَ مفردو حرفونو صورتونه او تلفظ

ا الف — ب بې — پ پې — ت تې — ټ ټې — ث ثې — ج جيم — چ چې — ح حې — خ خې

د دال — ډ ډال — ذ ذال — ر رې — ړ ړې — ز زې — ژ ژې — ږ ږې — س سين — ش شين — ښ ښين — ص صاد — ض ضاد

ط طوی — ظ ظوی — ع عين — غ غين — ف فې — ق قاف — ک کاف — ګ ګاف — ل لام — م ميم — ن نون

و واو — ه ه — ه ه — ه ه — ه ه — لا لام الف — ء همزه — ی غوڅه يې — ې اوږده يې

دَ خوشخطئ طريقې

اوس مونږ دَ خط لاس نيکوکه په دې عمل اوشي نو خط به ډير ښکلې شي۔

۱:- اول په غټ قلم پهٔ تختئ مشق دَ مفردو حرفونو پکار دې بيا په ورو قلم ترې کول پکار دي۔

۲:- دَ تختئ دَ غټ خط دَ پاره دَ بل يا کهي قلم پکار دې چې پوره نويشت يا څه کم وي۔

۳:- دَ غټ کوټې برابر پيره پکار دې۔ بيا دَ کوټې دَ پينډ په مقدار دې سر نسکئې تراش کړه او دَ ښئ کيڼ طرف نه دې هم تراش کړه دَ ريشو دَ ختيد دَ پوړې دې تراش کوه۔ بيا چه څومره غټ يا نرې چوړه دل غواړې په لوکئ يا قط ګير دې کيده په منځ کې او چوه او بيا دې سر نسکئې پريکړه داسې چه ښئ نوک دې دَ کيڼ نه لږ اوږد شي قلم تيار شه۔

۴:- سياهي په اوبو کښې حل کړه او چاڼ يې کړه دوات کښې داچوه او دَ لتې يا کړ کپره په کښې کيده سياهي داسې پکار ده چه نه ډيره ټينګه او شي ډيره نرمه دې کيږه په کښې په قلم پوره نه ختم شوه بس تياره شوه ۵:- کله کله سياهي ډيره غوړه شان وي قلم نه چليږي نو په مالږه يکښې داچوه۔

۶:- اوس په ښئ خپه کينه او کيڼه خپه او دروه تختئ يا کاپئ يې کيده او په کيڼه لاس تختئ اونيسه ۷:- اوس قلم په مينځنئ ګوته کيده او په غټه ګوته او په مسوا کئ ګوته يې اونيسه۔۔۔

زبرونه: اَ بَ پَ تَ ټَ ثَ جَ چَ حَ خَ څَ دَ ډَ ذَ رَ ړَ زَ ژَ ږَ سَ شَ ښَ صَ ضَ طَ ظَ عَ غَ فَ قَ کَ ګَ لَ مَ نَ وَ هَ ھَ لاَ ءَ یَ ېَ ۍ

زيرونه: اِ بِ پِ تِ ټِ ثِ جِ چِ حِ خِ څِ دِ ډِ ذِ رِ ړِ زِ ژِ ږِ سِ شِ ښِ صِ ضِ طِ ظِ عِ غِ فِ قِ کِ ګِ لِ مِ نِ وِ هِ ھِ لاِ ءِ یِ ېِ ۍ

پیښونه

اُ بُ پُ تُ ټُ ثُ جُ چُ حُ خُ څُ ځُ دُ ډُ ذُ رُ ړُ زُ ژُ ږُ سُ شُ ښُ صُ ضُ طُ ظُ عُ غُ فُ قُ کُ ګُ لُ مُ نُ وُ هُ ھُ ۀُ لاُ ءُ یُ ےُ

دَ امتحان دَ پاره زبرونه زیرونه پیښونه

قَ اِکُ نَ سِ بُ طَ جِ ډُ ټَ لُ خَ ظِ رُ چِ ډَ ثِ یُ ژُ وَ حُ پَ عِ ښُ غُ ذِ مَ ړُ فُ زَ تِ صُ ګَ ۀِ لاَ هَ ږِ ضُ نِ ټُ

دَ یو یو حرف څو څو شکلونه

ب با بہ بـ پ پا پہ پـ ت تا تہ تـ ټ ټا ټہ ټـ ث ثا ثہ ثـ ج جا جہ جـ چ چا چہ چـ ح حا حہ حـ خ خا خہ خـ س سا سہ سـ ش شا شہ شـ ص صا صہ صـ ض ضا ضہ ضـ ع عا عہ عـ غ غا غہ غـ ف فا فہ فـ ق قا قہ قـ ک کا کہ کـ ګ ګا ګہ ګـ ل لا لہ لـ م ما مہ مـ ن نا نہ نـ ه ها هہ ی یا یہ یـ

دَ ب پ ت ټ ن ث ه ی مثالونه

با بب پپ پت تپ یت تہ بد تد ټر ثر تژ نږ بک بل بن هر هټ بس بش تص تض نط ثظ بع ثغ نف نق یو بچ تج بچ تج نج نخ تم تم ثم بلا بے ثی تی نی پے تے نی تے تپے نے یی یے هی هے۔

دَ ج چ ح خ څ مثالونه

جا جب چپ چت جج حج څج جج جد چر څر جس خس خض خص خط جج خع حف حق چک څل جل جم چن جو خه څی جے خے۔

دَ س مثالونه

سا سب سج سد سر سس سص سط سف سق سک سل سم سن سو سه سی سے

او لیکل شروع کړه (۸) دَ تعلیم اول ا ب ج صرف دَ دے درے حرفو نو مشق کوه چه دا بنه پابنه شی نو بیا یو یو دوه دوه درسره سوا کوه (۹) چه دا مفرد حرفونه ختم شی نو بیا دوه دوه حرفونه لیک مرکب۔ بیا جملے او عبارت کله څنګه چه دَ جنت په کالی کښے لیک دی۔ (۱۰) کوم حرفونه چه اوږد دَ لے شی یا دائره کښے لیکلے شی دَ هغے دَ لیکلو په ښت کښے ساه بنده وه (۱۱) خط په ډیر محنت سره ښکلے کیږی۔ دَ دے یوه آسانه طریقه دا ده چه دا رانګو نکے کاغذ په ډه کښے کینوے او ډیر ډیر مشق کوے۔ بیا دا سے یو کاغذ را واخلے چه لاندے تے دا حرفونه په نقطو دا شی په دے حرفونو صفحه کاغذ کیدے او لیکلو پسے په احتیاط سره دغه شان حرفونه جوړ کړے۔ بیا قلم او بې کیسے او په هر یو کی

دَ ښ ش مثالونه

شا شب شج شد شخ ښد شر شش شس شص شط شع
شف شق شک شکا شل شم شن شو ښه شی شے۔

دَ ص ض مثالونه

صا صب صج صد صر صس صش صص صط صع صف
ضق ضک ضکا ضک ضل ضم ضم ضن ضو ضه ضی ضے

دَ ط ظ مثالونه

طا طب طج طد طر طس طش طص طط طع طف ظق
ظک ظکا ظک ظل ظم ظن ظو ظه ظهه ظلا ظی ظے

دَ ع غ مثالونه عا عب عج عد عر عش عص عط عع عف
غق غک غکا غک غل غم غم غن غو غهه غه غلا غی غے

دَ ف ق مثالونه فا فب فج فد فر فر فس فش فص فط فع فق
قک قکا قک قل قم قم قن قو قه قهه قلا قی قے

دَ ک گ مثالونه کا کب کج کد کر کش کص کط کع کف کق
گک گل گم گم گن گو گه گهه گلا گی گے۔

دَ ل مثالونه لا لب لج لد لر لس لص لط لع لف لق لک لل لم
لن لو له لی لے

دَ م مثالونه

ما مب مج مد مر مس مص مط مع مف مق مک مل مم من مو مه می مے

۱؎ تل تل یوے قلم مه ګرځوئے بیا په تختۍ یا کاغذ دغه حرفونه اولیکے او ګورے سره دے میم کړے نو کښے دا خوښه ورته په تخته مشق کوه - او دغه طریقه ډیر ټیک کیږی وروا هم ده چه په باریک کاغذ دغه حرفونه اولیکے او د کتاب په دے حرفونو کیږدے نو پته به درته اولګی چه ستا په دے حرفونو کښے او په هغو کښے څومره فرق دے نو په تخته روزانه دوه ګړئ مشق کوه - په لږه موده کښے به دے خط ښه شی - او یکا ودی چه د خط ښه کیدو دپاره د خوشخطئ څه کتاب هم داخلے او د هغے په طریقه مشق شروع کړے ۱۲

دَ ه مثال | هاهب هج هد هر هس هش هص هط هع هف هق هک هکا هلک هل هم هن هو هه هلا هی هے

دوه حرفی لفظونه

اَبْ جَبْ دِنْ خَطْ ضِدْ دَرْ اِسْ اُسْ تُمْ دِلْ دَسْ اَسْ بَسْ غُلْ بَلْ بَتْ پَٹْ چِتْ پَتْ چِلْ هَٹْ بَچْ سَچْ سَمْ شَنْ

درے حرفی لفظونه

ایک۔ بات۔ جال۔ دام۔ سال۔ ساک۔ راک۔ شام۔ صاف تاٹ۔ ڈاک۔ خوب۔ لات۔ مرد۔ زور۔ روز۔ کام۔ نام۔ غور

څلور حرفی لفظونه

انډا۔ مرغی۔ چراغ۔ حالت۔ خراب۔ فرصت۔ میرا۔ تیرا۔ غوطه طوطا۔ بکری۔ پلنګ۔ ګیدړ۔ بندر۔ لړکا۔ لړکی۔ شامل۔ کامل مرشد۔ روټی۔ بوټی۔ سالن۔ کتاب۔ کاغذ۔ تختی۔

پنځه حرفی لفظونه

بندوق۔ صندوق۔ مسهری۔ نهایت۔ مضبوط۔ سروتا۔ قینچی۔ کټورا۔ رومال۔ تعویذ۔ چیونټی۔ انګلی۔ رضائی۔ دوپټه۔ پتیلی۔

شپږ حرفی لفظونه

جولاها۔ تنبولی۔ چیونټی۔ نالایق۔ بهیړیا بچهیرا۔ جهینګر۔ دهتورا۔

اوه حرفی لفظونه

جهنجهنا۔ نیلکنټه۔ ګهروبچی۔ ګهنګهور۔ ګهونګهټ۔ بهټیاره۔

اته حرفی لفظونه

پهپهوندی۔ چهچهوندر۔ بیربهوټی۔ ګهونګهرو۔ بندیلکنهد۔

د ورځو نومونه

شنبه۔ یکشنبه۔ دوشنبه۔ سه شنبه۔ چهارشنبه۔ پنج شنبه۔ جمعه
هفته۔ اتوار۔ پیر۔ منګل۔ بده۔ جمعرات۔ جمعه
خالي۔ اتوار۔ ګل۔ نهه۔ شروع۔ زیارت۔ جمعه

د میاشتو نومونه

محرّم۔ صفر۔ ربیع الاول۔ ربیع الثاني۔ جمادی الاول۔ جمادی الثاني
رجب۔ شعبان۔ رمضان۔ شوّال۔ ذیقعده۔ ذی الحجه۔
اسان (حسنین)۔ صفره۔ وړمبۍ خور۔ دویمه خور۔ دریمه خور۔ څلورمه خور
زبرګه۔ شوقدر (شب قدر)۔ روژه۔ وړوکے اختر۔ خالي۔ لوئے اختر۔

جملې پښتو کښې

د خدائے نه یریږه۔ ګناه مه کوه۔ اودس اوکړه مونځ کوه۔ مونځ کونکے سړے د خدائے دوست وی۔ بے نمازه سړے د خدائے د رحمت نه لرے وی۔ په چا ظلم مه کوه د مظلوم خیرے ډیرے زر قبلیږی۔ بے ګناه جانور وهل مرغۍ ازاره ول سپے پیشو وهل ډیر ناکاره کار دے۔ د مور و پلار خبره مَنه۔ د هغوی خدمت فخر ګڼړه۔ په زړه سړے ئے خدمت کوه۔ جنت د مور و پلار د قدمو نو لاندے دے۔ راګرزه پسے مه۔ جواب مه ورکوه۔ چه په غصه کښے څه وائی نو په خاموشئ ئے اوره۔ په یوه خبره کښے ئے ازاره وُ مه۔ د مشرانو په مخ کښے په ادب سره اوسه۔ په وړو مینه محبت کوه۔ هیڅوک سپک مه ګڼړه۔ ځان د ټولو نه کم ګڼړه۔ ځان لوئے ګڼړل ناکاره خبره ده۔ د خلقو رټل، شرمول عیب پے لګول ډیره ناکاره خبره ده۔ او ډیر سخت ګناه دے۔ خوراک په ښیٔ لاس خوره۔ اُوبه په ښیٔ لاس سکه۔ په کیڼ لاس بانډے شیطان خوری سکی۔ اُوبه په درے ساګانو سکه خوراک سوړ خوره۔ په ګرم خوراک کښے برکت نه وی۔ کومه خبره چه کوے نو رشتیا کوه۔ دروغ ویل لوئے ګناه دے۔ سحر چه پاڅے نو مشرانو ته سلام کوه۔ د مانځه نه پس د قرآن شریف تلاوت کوه سبق ښه یاده وه۔ په لوبو پورے زړه مه تړه۔ په هره خبره قسم مه خوره۔ بار بار قسم خوړل ډیره بده خبره ده۔ خپل کتاب په احتیاط سره ساته۔ د چا شکل که ناکاره وی نو په کوتو ئے مه خندکوه۔ د خدائے په نزد څه بد صورتو نه ټول یو شان دی۔ شرارت مه کوه نو نقصان به درته نه رسی۔ پوزه په کیڼ لاس پاکوه۔ استنجی په کیڼ لاس کوه لوبولو ځائے ته چه ننوځے نو اول کیڼه خپه دننه کوه او چه راوځے نو ښیٔ خپه مخکښے راوباسه۔ پیزار اوّل په ښیٔ خپه کوه بیا په کیڼه خپه۔

دَ لاندِ حرفو نو دَ استعمال خاص قاعدے

ن ۔ و ۔ ھ ۔ ی ۔ ے ۔ ا ۔ ل ؛

ن

دا حرفی کله په غنه یعنی په پوزه کښے ویلے شی مثلاً ۔ تانګ ۔ مانګ ۔ هینګ ۔ سینګ چونچ ۔ بهون ۔ کنواں ۔ پهونک ۔ پهانک ۔ بانټ ۔ اونټ ۔ بانکا ۔ بانس ۔ سانس پهانس ۔ نیند ۔ سانپ ۔ لونګ ۔ سونف ۔ ګونډا ۔ مینډک ۔ کنول ۔ مُنه ۔ هانډی ۔ بهانډ ۔

دَ دے حرف نه پس چه ب یا پ راشی نو بیا دَ میم آواز کوی ۔ دَ ن آواز نه کوی ۔

لکه انبیاء ۔ دُنبه ۔ شنبه ۔ عنبر ۔ کهنبه ۔ منبع ۔ منبر ۔ چنپا ۔ چنپت ۔

و

(۱) دَ دے حرف نه اول پېښ وی او خه ظاهر نه شی لوستے نو هغے ته مجهول وائی ۔ لکه ۔ شور ۔ کور ۔ چور ۔ زور ۔ مور ۔ نوک ۔ بول ۔ هوش ۔ جوش ۔ پورا ۔ اورا ۔ کټورا

(۲) او که دَ دے حرف نه اول پېښ وی او بنه ظاهر کولے شی نو معروف ورته وائی لکه ۔ دُور ۔ حُور ۔ نُور ۔ چُور ۔ جُول ۔ دُول ۔ پهُول ۔ پهُوټ ۔ چهُوټ ۔

(۳) او که دا حرف لیکلے وی او لوستے نه شی نو معدوله ورته وائی ۔ لکه ۔ خواجه ۔ خواب خویش ۔ خواهش ۔ خوان ۔ خوش ۔ خود ۔ خواه ۔ وغیره ۔

ھ

دا حرف په اُردو کښے همیشه دَ بل حرف سره یو ځائے راځی او ویلے کیږی نه ۔ لکه ۔ بهانډ ۔ کهانډ ۔ جهوټ ۔ چهینټ ۔ چهینک ۔ جهانجه ۔ کهیل ۔ بهوت ۔ تهوک ۔ پهوټ ۔ تهوکر ۔ ډهول ۔ بڑهیا ۔ باکه ۔ ملهو ۔

ی

دَ دے حرف نه اول همیشه زیر وی ۔ او خه ظاهر ویلے شی ۔ او معروف ورته ویلے شی ۔ لکه ۔ وهی ۔ بُری ۔ بهلی ۔ پهلی ۔ سهری ۔ کملی ۔ هنسی ۔ خوشی ۔ بنی ۔ ولی ۔ ډلی ۔ چهپکلی ۔ چوہی ۔ بالی ۔ بجلی وغیره ۔

کله دا حرف دَ لفظ په آخر کښے راشی او دَ ولاړ الف آواز کوی ۔ او مقصوره ورته وائی لکه ۔ عیسیٰ ۔ موسیٰ ۔ مجتبیٰ ۔ مرتضیٰ ۔ حتّٰی ۔ الیٰ ۔ علیٰ ۔ مولیٰ ۔ یحییٰ ۔ کبریٰ ۔ صغریٰ ۔

ے

دَ دے حرف په اول کښے که زیر وی او بنه ظاهرید شی لوستے ۔ نو (ے) لیکلے شی او مجهول ورته وائی لکه ۔ کے ۔ سے ۔ نے ۔ تھے ۔ دیئے ۔ لئے ۔ آئے ۔ گئے ۔ وغیره ۔

ال

دا دواړه حرفونه که دَ (ا ب ج ح خ ع غ ف ق ک م و ہ ی) په اول کښے راشی نو صرف (ل) لوستے شی او الف نه شی لوستے ۔ لکه ۔ حق الامکان ۔ عبد الباری ۔ جواب الجواب ۔ عبد الحق ۔ عبد الخالق ۔ نور العین ۔ عبد الغنی ۔ بالفعل ۔ عبد القادر ۔ عبد الکریم ۔ بالکل ۔ عبد الوهاب ۔ ابوالهوس ۔ طویل الید ۔

او که دَ (ت ث د ذ ر ز س ش ص ض ط ظ ل ن) په اول کښے راشی نو دواړه نه لوستے کیږی ۔ بلکه دَ ال نه په بعد والا حرف باندِ په شد لوستے شی لکه ۔ عند التاکید ۔

نجم الثاقب - علیم الدین - غنی الذهن - عبد الرزاق - عدیم الزوال - عند السوال عبد الشکور - بالصواب - بالضرور - میزان الطب - وسیلة الظفر - قائم اللیل - نصف النهار وغیره.

دَ زبرُونو زیرُونو پیښُونو غوړُندُو استعمال

نوم	صورت	آواز	نوم	صورت	آواز
مَدّ	~	ا	تنوین زیرونه	ٍ	ن
تنوین زبرونه	ً	ن	تنوین دوه پیښه	ٌ	ن
تشدید	ّ	دوچند حرف	سکون	ْ	اوّلنی حرف پرے بندیږی
وقف	.	دَسکون نه پس سکون			

مَدّ (~) دا حرکت په الف دَ پاسه راځی لکه - آج - آک - آړ - آره - آس - آل - آم - آن - آنت آری - آدمی - آیخ - آندهی - آیا - آتا - آدم - آفت - آهټا - آلو - آسمان -

تنوین دوه زبرونه :- (ً) دا حرکت همیشه دَ الف سره راځی او کله دَ ت سره هم راځی لکه - معًا - فورًا - مثلًا - اتفاقًا - عمدًا - سهوًا - خصوصًا - عمومًا - طوعًا - کرهًا - جبرًا - قهرًا - بغتةً - عداوةً -

تنوین دوه زیرونه (ٍ) :- لکه یومئذٍ - حینئذٍ - وغیره -

تنوین دوه پیښونه (ٌ) لکه نورٌ - حورٌ - وغیره -

تشدید ّ دا حرکت چه په کوم حرف بانډې وی هغه دوه پیرے لوستے شی - لکه اُلّو - چُلّو - کلّو منّو - بلّی - کتّا - دلّی - بدّهو - چکّی - تکّړ - مکّړ - لڈّو - سچّا - کچّا - پکّا - پتّه - پلّا - چهلّا -

سکون (ْ) :- دَدے معنیٰ دَه اودریده - دَ دینه اوّلنی حرف دَدے سره ملاؤ کړی او دریږی په کوم حرف چه دا وی هغه ته ساکن وائی - لکه اَبْ جَبْ - دِلْ - دَمْ - دَسْ - رَسْ - اِسْ - اُسْ - مِکْلْ - مُکْلْ - دِنْ - وغیره -

وقف :- دا دَ سکون نه پس وی - په کوم حرف چه وی هغه ته موقوف وائی لکه - اَبْر - جَبْر - صَبْر - قَبْر - عِلْم - حِلْم - گوشت - پوست - دوست - قهر - مهر - شهر - بند - نرم - سخت - تخت - وغیره -

دَ خط لیکلو بیان

چا ته چه خط لیکے نو اوّل دا خیال اوکه چه ستا نه لوئے دے او که وړوکے - او که برابر دے - دَ کومے درجے سړے چه وی دَ هغے موافق خط کښے الفاظ لیکه - دَ لویو خط ته والانامه ، سرفرازنامه ، افتخارنامه ، کرامت نامه ، اعزازنامه ، صحیفهٔ عالی ، صحیفهٔ گرامی لیکلے شی - او کوم سړے چه د پیر لوئے وی نو هغه ته دَ تاسو په ځائے آنجناب - جناب عالی

جناب والا- حضرت والا- حضرت عالی لیکلے شی- چه داسے لیکے چه ستاسو خط راغے نو داسے به لیکے- د جناب والا سرفراز نامه راغله- او د راغله پځائے داسے لیکلے شی سرفراز نامه صادره شوه- سرفراز نامه مشرفه شوله- او د واړه خط ته مسرّت نامه، راحت نامه لیکلے شی- او د برابر والا خط ته عنایت نامه، کرم نامه لیکلے شی- او د خط لیکلو طریقه داده چه مثلاً کس پلار ته خط لیکے نو داسے لیکه- جناب پلار صاحب مخدوم ومعظم د فرزندانو هیشه دِ وی ستاسو لوے سوړے- السلام علیکم پس د سلام نه پس سلو ادبونو او تعظیمو نو عرض دے چه ستاسو والا نامه راغله او د مزاج مبارک د خیریت په موندو سره اطمینان حاصل شو- د دینه پس چه نور څه لیکل غواړے او لیکه- په دے کښے د دام ظلکم العالی پورے دیته القاب وائی- او د دینه پس سلام او دُعا څۀ چه لیکلے شی هغے ته اداب وائی- او د دینه پس نور چه څه لیکلے شی هغے ته د خط مضمون وائی-

د مشرانو القاب او آداب

د پلار په نوم :- جناب پلار صاحب محترم او معظم مخدوم او مُتاع د کمترینو ستاسو د سَرَ سوړے د هیشه وی- السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس د سلام او سلو

〃 ادبونو او عن تو نو نه عرض دے- چه-

〃 جناب پلار صاحب معظم او محترم هیشه دِ وی سورے په فرزندانو-
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس د سلام ادبونو تعظیمونو نه عرض دے-

د پلار په نوم :- جناب پلار صاحب معظم او محترم هیشه دِ وی سورے په فرزندانو-
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس د سلام نه پَسَل تعظیمونو عرض دے-

〃 جناب پلار صاحب عزتمند او محترم هیشه دِ وی سورے په فرزندانو خپلو-
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس د آدابونو او سلام نه عرض دے چه

〃 عزتمند او محترم هیشه دِ وی سورے السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د تره په نوم :- عزتمند او محترم مخدوم او خدمت کړے شوے هیشه دے وی سورے
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس د سلام نه په سل تعظیمه عرض دے-

د خالو په نوم :- جناب خالو صاحب معظم او محترم هیشه دِ وی سورے السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

〃 جناب خالو صاحب خدمت کړے شوے عزتمند د کشرانو هیشه دِ وی سورے ئے-

د مور په نوم - ۱- جناب والده ماجده صاحبه خدمت کړے شوے عزتمنده هیشه دِ وی سورے

〃 جناب مور صاحبه مخدومه معظمه هیشه دِ وی سورے ستاسو-

〃 جناب مور صاحبه عزتمنده او محترمه هیشه دِ وی سورے السلام علیکم و-

مشرے خورته :- خور صاحبه عزتمنده او محترمه خدمت کښے شوے هیشه دِ وی سورے۔
مشر رورته :- جناب رور صاحب عزتمند او محترم مخدوم او مکرم هیشه دِ وی سورے
کوم القاب چه د پلار دی د پلار د پلار او د مور د پلار او تره ماما او سخر هم هغه القاب دی او کوم القاب چه د مور دی د پلار د مور د مور د مور د تره د ښځے او مامی هم دی وغیره او د نورو او چتو رشتو هم دغه القاب دی۔ خو صرف نوم پے بدلولے شی مثلاً د پلار د پے ځائے تره 'ماما' او د مور پځائے ترور مامی وغیره۔ د لیور وغیره سره څه خط کتابت سانګ نه دی پکار البته که سخته ضرورت شی نو بیا خیر دے۔ او هغه ته جناب رور صاحب لیکئ۔ آداب د ټولو رشتو یو شانتے دی۔

د کشرانو القاب او آدابونه

څوئی نمسی وراره ته :- ځما خوږ د سترګو تور راحت د روح د نیک بختئ او اقبال مندئ نښه
خورئے وغیره :- سلامت دِ لری ده لره الله تعالیٰ۔ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ۔
پس د دعا د زیاتی د عمر او درجو نه دے واضحه وی۔ چه
" نور د سترګو ټوکره د زړه او ډیر دِ وی عمر د ده۔ الخ
" فرزند دلبند لخت جګر او ډیر دِ شی عمر د ده السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ
پس د ډیرو دعاګانو او نیک بختئ د دوا ړو جهانو نه دِ واضح وی۔
همزولے رور :- برادر بجان برابر سلامت دِ لری الله تعالیٰ۔ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ
پس د دعا د نیک بختئ نه دِ واضحه دی چه۔
وړے خورته :- همشیزه عزیزه نور د سترګو نیک بخته سلامته دِ او لری دے لره الله پاک السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ
خور نیک بخته او ډیر دے وی عمر د دے۔ السلام علیکم ورحمة الله۔
آداب د ټولو یو شان دے څنګه چه غواړے لیکه۔

د خاوند القاب او آداب

(۱) سردار ده ځما سلامت اوسے۔ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ پس سلام او شوق ملاقات عرض
(۲) محرم د راز د ونو ملګرے غمخوار ځما سلامت دِ وی السلام علیکم ورحمة الله پس سلام د نیاز نه۔
(۳) راز دار همدم او همنواز ځما سلامت دِ وی السلام علیکم ورحمة الله د شوق ملاقات نه پس عرض دے

د ښځے القاب او آداب

ساتونکے د راز همدم او همباز ځما سلامت السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس د شوق ملاقات نه دِ واضحه وی چه۔
(۲) رونق د کور او خاښت د خانے ځما سلامت السلام علیکم ورحمة الله پس د شوق ملاقات نه۔

رس الفت دَزړه غمګین تسکین ورکونکےٗ دَ نوره پریشان سلامتهٔ دِ وی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته - پس دَ شوق او آرزو دَ ملاقات نه دِ واضحه وی -

دَ پلار په نوم بانډ خط

معظّم او محترم دَ فرزندانو همیشه دِ وی سورے مبارک په سرځمونږ

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس دَ تسلیم نه په سلو تعظیمو نو سره عرض دے چه دَ ډیرے مودے نه دَ جناب والا سرفرازنامه صادره نه شوه نو په دے وجه والله تعول پریشانه دی امید دے چه دَ خپل مزاج مبارک دَ خیریت نه به زرمونږ سرفراز کړے - خوږه خور مسماة زبیده خاتون دَ خدائے په فضل و کرم سره ښه ده - پرون ئے قرآن مجید ختم کړه - او س تاسو دَ هغے دَ پاره دَ اردو وڅه کتابونه راولیږئے چه شروع کړی کوم کتاب تعلیم الدین چه تاسو مالهٔ رالیږلے وه هغه ډیر ښه کتاب دے تولو زنانو هغه خوښ کړے دے او غواړی ئے - نو په دے وجه دَ هغے څلور پنځه جلده نور راولیږئ - والله هر قسم خیریت دے - تاسو دَ خپل خیریت نه مونږه زرخبر کړئے چه ځمونږ تسلّی اوشی والتسلیم - فقط

عریضهٔ ادب حمیده خاتون دَ الٰه آباد ۱۳ محرم ورځ شنبه

دَ لور په نوم خط

دزړه ټکړه نیک اختر دَ سترګو نور بی بی خدیجه سلامته دَ لری الله تعالیٰ -

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته. پس دَ دعاګانو او بده والی دَ عمر او دَ ترقّی دَ علم نه او دَ هنر نه دِ واضحه وی - چه ډیر موده ستا خط رانه غے نو په دے وجه زړه ډیر پریشانه وه - لیکن پرون چه ستا دَ مسرور او خوشحالی نامه راغله او دَ خیریت په معلومید و دَ زړه تسلّی اوشوه - دَ دے خط نه دا هم معلومه شوه چه ستا دَ لیکلو لوستلو سره شوق نشته او زړه دِ په کښے نه لږی - دا هم واورېده چه بعض ښځے داسے وائی چه دَ جینکو دَ لوستلو لیکلو نه څه فائده ده - دوی تل کتل کول خوراک سکاک پخه ول ایزده کول پکار دی - دَ جینکو نه مولاياني نه چوړیږی - معلومه شوے ده چه دے خبرو ستا زړه اوچت کړے دے - ځما لور! دَ دے ناپوهو ښځو په خبرو پسے مه ځه او په دے پوهه شه چه ځما نه بل څوک ستا ذیات خیرخواه نشته ځما نصیحت واوره او دَ ناپوهه ښځو په خبرو پسے مه ځه - دَ هرے ښځے دَ پاره کم نه کم دا ضروری ده چه لیکل لوستل پخپله زده کښے کولے شی په دے کښے ډیرے فائدے دی - او چه لیکل لوستل نه ورځی نو په دے کښے ډیر نقصانونه دی - لویه فائده په کښے اوّل دا ده

چه ډېر بهٔ صفاوی اکثر ان پوهې ښځې ثواب ته سبابا او احسان ته انسان وغیره
دائي او تعلیمیافته ښځې پورے خاندی - او مسخرې پورې کوی - دریم موږ روژه
پې صحیح کیږی دین او ایمان پې سمیږی - ان پوهې ښځې ډناپوهئ په وجه ډیر داسې
کارونه کوی چه ایمان ئې پې ځي - او دوی خبر هم نه وی - خدائے دې نه کا کښ پیدا سې
وخت کښې د دلمرګ راشی نو کافره به مړه شي او همیشه به په دوزخ کښې سوزی - خلاصه
بهٔ بیانه وی چه لیکل لوستل ایزده کړی نو دا نقصان پې ختمیږی - او ایمان پې ټینګیږی
دریم د کور بند وبست چه خاص د ښځو ذمواری ده په ښه طریقه کولےشي - د ټول کور
حساب کتاب ئې هر وخت په نظر کښې وی - څلورم د اولاد پرورش په ښځه سره خه کیږی
ځکه چه وا ړه بچي د مور سره زیات وی - خاص کر جینکۍ خو هر وخت د مور سره وی - نو
که مور تعلیمیافته وی نو عادتونه او خبرے ئې هم ښې وی نو اولاد تے هم هغه ایزده
کوی او د دې کوتوالی نه نیک خویه او نیک بخته وی - ځکه چه مور ورته هر وخت خودنه
او تعلیم ورکوی نو دا ډومره لویه فائده ده - پنځم دا چه ښځه تعلیمیافته وی نو
د مور و پلار خاوند خپلو خپلو او مرتبے پیجنی حقوق ئې اداکوی او خپل دنیا او
الخرت خائسته کوی - د دے ټولو نه علاوه چه لیکل لوستل نه ورځی نو لوئے نقصان
ئې دا دے چه د کور د خبرے نه ئې پردی خلق خبرشي - یائې د پټو لونه نقصان اوشي
د ښځو خبرے اکثر د حیا او شرم وی لیکن کله کله چیلے مور یا خورته ئې ظاهرول
ضروری وی او مور خور خو همیشه د دے سره نه وی نو په داسے صورت کښې
خو یا دا به غیر وخلقو خط او لیکی شرم ئې اوشی - او یا به نه ویلو سره ئې دیته نقصان
اورسی - د دینه علاوه نورے به زر کونو فائدے دی او چه لیکل لوستل نه ورځی
نو چیرے نقصانونه دی به کښې - ترڅو به ئې زه بیان نه وم - نو مکوره ځما نصیحتونه
واوره او د لیکلو لوستلو نه زړه مه ستړے کوه - زیاته دعا فقط
راقم عبدالله د بنارس نه - ۲۵ رمضان ورځ د جمع -

د لور د طرف نه د خط جواب

معظم او محترم د فرزندانو همیشه د دی سورے ستا سو په مونږ پا ئې - السلام علیکم ورحمة
الله وبرکاته - پس د آداب او وسلام نه عرض دے چه د لوئے مرتبے د صحیفے په راتلو مشرفه
شوم - وستا سو د خیریت په خبر یدو هم اطمینان اوشو - الله تعالی دے ستا سو بابرکته ذات
ځمونږ په سر و نو همیشه قائم او دائم لری - جناب والا چه د بندے په باره کښې د لیکلو او
لوستلو په باره کښې څه فرمائلی دی د هغے نه ما ته ډیره فائده اوشوه بے شکه چه د خلقو
په خیر و ځما نه ره او چت شوے وه - خو د کومے ورځے نه چه والا نامه راغلے ده او س په شوق
لوله او څه ښه ناکاره لیکل هم کوم بیشکه ستاسو فرمایش ډیر ځائے دے او ډیرے فائدے

دی په کښې کو مے بښځے چه لیکل لوستل نه شي کولے هغوی اوس ډیر افسوس کوی چه مونږ ولے سبق نه دے ویلے - د هغے پلے ورځے خبره ده د پېښکا رصاحب بی بی چه زمونږ په کلی ونه کښې اوسی د هغے د ماما خط راغلو او ښځه صیبا خونا رینه پکو رکښې شته نه - عاجزه ئے د هغې خوشامند کوله چه خط ورته او لولی چه اوس د ماما طبیعت څنګه دے - آو ریږ لی ئے وه چه هغه جوړه نه ده په دے وجه عاجزه ډیره په ډیره کښې وه - غرمه راغلے خط ئے ولا ورځ پروت وه او څوک لوستونکے ملاؤ نه شو - د ماښام نه پس عاجزه ماله راغله - نوما ورته حال واورلو پس د هغے ئے زړه پقلار ه شو - د هغے نه ځما په زړه دا خبره او لږیده چه بے شکه د لیکلو لوستلو هنر لوئے دولت دے - او چه دا نه وی نو بعضے وخت لوے مصیبت په سړی راپیښیږی - او دا هم ویئم چه ځمونږ په خپلو کلو کښې ښځه بیبیانے داسے دی چه لیکل لوستل ورځي نو هغوی چه چرته ځي ډیر عزت ئے کیږی - کومه خبره چه د شریعت نه خلاف د چانه کیږی یا په واده ښادئ کښې څوک ناکاره رسم کوی نو دوی زورنه ورکوی او منع کوی ئے - نصیحتونه کوی او نورے ځو ورته غوږ ایږے وی آوری ئے - څوک چه د غه خبرے تپوس کوی نو د هغوی نه کوی - ځولے زنانه ئے صفتونه کوی - نو زه په خاما په شوق سره لیکل لوستل ایزده کوم - ځما پخپله هم شوق پیدا شوے دے تاسو هم د الله تعالیٰ نه سوال کوئے چه دا دولت م نصیب شی - باقی دلته د هرقسم خیریت دے - زیاره حدِادب فقط - ستاسو ونیځه خدیجه د سهارا پنورنه - ۲۸ رمضان ورځ دوشنبه -

خورزے ته خط

نور د سترو د زړه آرام بی بی صدیقه سلامته دِ لری دے لره الله تعالیٰ - السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ - پس د دعا نه دِ واضحه وی چه ستا سو خوشحالی نامه راغله حال معلوم شو او تسلی او شوه - ستا د سبق حال م واوریده ډیر خوشحاله شوم الله تعالیٰ دے په عمر کښې برکت واچوه - او ستا د محنت میوه دے ستا زر نصیب کړی - په کومه ورځ چه ته ماته پخپل لاس خط اولیکے - نو په هغه ورځ به زهٔ پنځه روپۍ تا ته د میټهائی د پاره

دخط لیکلو ضروری خبرے	(۱) کوم خط چه جواب ورکوے هغه خط ښه ته مخامخ کیده چه د څه خبرے جواب در نه پاتے نه شي (۲) چا ته چه خط لیکے نو د هغه د مرتبے او رشتے خیال ساته

او الفاظ داسے لیکه چه هغه ورته مخامخ ناست دے او ته ورسره خبرے کوے رس داسے خبرے مه لیکه چه د خفگان سبب جوړیږی (۴) داسے تعرفے هم مه لیکه چه کله چرته بل څوک ئے واوری او په هغه خراب اثر اوشی (۵) د خط ځینځه برخے وی (۱) لقبونه ادبونه (۲) دعا او سلام (۳) د خیریت پښتنه او خپل خیریت لیکل (۴) اصل مضمون یعنی مدعا او مقصد (۵) په آخر کښې دعا او سلام او دا نګے د نورو خلقو تپوسونه او دعا سلام ورته درجه په درجه لیکل (۶) په خط کښې لرم الفاظ ساده او آسان عبارت د خفه کو نکو خبرو او مشکل الفاظو نه ډډه کوه (۷) خط داسے آسان او سلیس لیکه چه لوستونکے په آسانه سره مطلب ته رسی - (۸) عربی فارسی الفاظ په خط کښے مه استعمالوه روان واضح عبارت لیکه داسے خط لیکه چه ګویا ته ورسره مخامخ خبرے

دراولیږم - او یو نصیحت درته بل کوم ما آوریدلی دی چه ته شوخی کوے او د چا د ادب لحاظ نه کوے په دے خبره ما ته ډیر افسوس دے - ځکه چه بنده فقط په لیکلو لوستلو سره نه سړے کیږی ترڅو پورے چه ادب ایزده نه کړی - د بے ادبه سړه څوک مینه نه کوی - د تعلیم سره دا لازمه ده چه ادب ایزده شی - ځکه چه په ادب سره بنده د خلقو خوږ کیږی او هر څوک ترے خوشامنده کوی - ادب کونکے همیشه خوش نصیبه وی هغا د چا قول دے " با ادب با نصیب - بے ادب بے نصیب " اوس زۀ تا ته دا خائم چه ادب څۀ شے دے ؟ او دا به څنګه کول پکار وی ؟ - څوک چه ستا نه په عمر او رشته کښے اوچت دے هغه ته په تعظیم سره سلام کوه - د هغوی په مخکښے فحش خبره مه کوه د خپلو همزولو سره هم د هغوی په مخکښے ټوقے او مسخرے مه کوه - هر کله چه درته آواز او کړی نو په ډیر نرم آواز سره جواب ورکوه او کله چه ورله څه ده کړې نو سلام ورته کوه - او چه نصیحت درته کوی نو په غور سره ئے آوره او چه خبرے کوی نو د خبرے په مینځ کښے ئے مه ورداننګه - کوم ځائے چه هغه ناست وی د هغوی نه په اوچت ځائے مه کینه - او په نامه ورته مه وایه - بلکه د رشتے نوم ورته وایه - نوم ئے په لوئے سره اخله لکه ترور جی - بهائی جی ، ماما جی ، ماسی جی ، نیا ائی مورائی بابا جی وغیره - او که هغوی درته د غصے نه څه بدے ردے وائی نو ته هرګز جواب مه ورکوه - را ګرزه پسے مه دیته ادب وائی - او دا د بنده د پاره ډیر ضروری دی - فقط

محمّد واجد حسین د فیض آباد نه -

که چا همزولی ته خط لیږے نو د لیکلو طریقه ئے داده چه اول په د هغه د مرتبے موافق داسے القاب اولیکے -

القاب ځما مهربانه سلامت دِ وی السلام علیکم ورحمة الله - ځما مشفقه شفیقه سلامت دے وی السلام علیکم ورحمة الله - په ما مهربانه سلامته اوسے - السلام علیکم ورحمة الله - (بیا داسے آداب لیکه) پس د سلام مسنون نه عرض دے - یا داسے لیکه -

کوے (۹) خط چه اولیکے نو په دوباره نظر پے واچوه چه چرته غلطئ په کښے پاتے نه شی (۱۰) په اول اول کښے د خط لیکلو د پاره د خپل استاد نه اصلاح اخله (۱۱) د خط په اول کښے خپله پته ظهدا ولیکه چه بیا تا له جواب درکوی نو په پته ورته معلومه وی (۱۲) د هر یو خط په اول یا په آخر کښے تاریخ ضرور لیکه د دا ځائے د غلطئ یا د پتے د غلطی په وجه که خط پیتا شی نو پته به لږی چه تا جواب نه ورکړے دے که د خطو نو جوابونه ډیر جمع شی نو پته به لږی چه اول کوم خط راغلے دے - بعض وخت د خبرو د پاره خط لیکل وی چه مونږ دروان شو او په فلانی تاریخ به درګسو یا ده دورے ورځے پس یا بله ورځ به درګسو نو د دے د پاره تاریخ لیکل ډیر ضروری دی - د دا ځائے مهرا که صفا نه لږی او هر څوک په هغے پوهیږی هم نه - او که خط په هغے ورځے د ډاکخانے نه اوشی دځی په بله ورځ اوځی نو بیا هم مهرپے د بلے ورځ او لږی نو تاریخ لیکل خاصکر ضروری وی - (۱۳) که خط مشرانو ته لیکے نو په هغې کښے داسے لیکه چه فلانی فلانی ته سلام عرض کوم یا که خط اوګوری نو ځما سلام دِ قبول کړی -

پس دَ سلام مسنون او شوق دَ ملاقات نه عرض دے - بیا دَ خط مضمون لیکی خو دا خیال ساته چه دومره لوئ هم نه وی که څو مره چه تویو لنډ وی کوے او نه دومره لنډ لیکه لکه څنګه چه د یو دته لیکے - بلکه په هر څیزه کښے دَ برابری خیال ساته -

دَ خط دَ پتے لیکلو طریقه او دا ده دَ نمونے دَ پاره پتے لیکلے شی

په خدمت دَ والا درجات معظم او محترم جناب داروغه وحید الزمان
محله آمین اباد - قریب مکان - حکیم عبد الغنی صاحب نائب تحصیلدار - لکهنؤ -

۱	یو	۲۱	یوویشت	۴۱	یو څلویښت	۶۱	یو شپیته
۲	دوه	۲۲	دوویشت	۴۲	دوه څلویښت	۶۲	دوه شپیته
۳	درے	۲۳	درویشت	۴۳	درے څلویښت	۶۳	درے شپیته
۴	څلور	۲۴	څلیرویشت	۴۴	څلور څلویښت	۶۴	څلور شپیته
۵	پنځه	۲۵	پنځویشت	۴۵	پنځه څلویښت	۶۵	پنځه شپیته
۶	شپږ	۲۶	شپږویشت	۴۶	شپږ څلویښت	۶۶	شپږ شپیته
۷	اوه	۲۷	اوویشت	۴۷	اوه څلویښت	۶۷	اوه شپیته
۸	اته	۲۸	اتیشت	۴۸	اته څلویښت	۶۸	اته شپیته
۹	نه	۲۹	نه ویشت	۴۹	نه څلویښت	۶۹	نه شپیته
۱۰	لس	۳۰	دیرش	۵۰	پنځوس	۷۰	اویا
۱۱	یولس	۳۱	یو دیرش	۵۱	یو پنځوس	۷۱	یو اویا
۱۲	دولس	۳۲	دوه دیرش	۵۲	دوه پنځوس	۷۲	دوه اویا
۱۳	دیارلس	۳۳	درے دیرش	۵۳	درے پنځوس	۷۳	درے اویا
۱۴	څوارلس	۳۴	څلور دیرش	۵۴	څلور پنځوس	۷۴	څلور اویا
۱۵	پنځلس	۳۵	پنځه دیرش	۵۵	پنځه پنځوس	۷۵	پنځه اویا
۱۶	شپاړس	۳۶	شپږ دیرش	۵۶	شپږ پنځوس	۷۶	شپږ اویا
۱۷	اوه لس	۳۷	اوه دیرش	۵۷	اوه پنځوس	۷۷	اوه اویا
۱۸	اتلس	۳۸	اته دیرش	۵۸	اته پنځوس	۷۸	اته اویا
۱۹	نولس	۳۹	نه دیرش	۵۹	نه پنځوس	۷۹	نه اویا
۲۰	شل	۴۰	څلویښت	۶۰	شپیته	۸۰	اتیا

شمار [1]

[1] دا یو ه دا سے پوهه کول پکار دی چه په اردو کښے (۰) ته ګکی ته صفر وائی دَ صفر معنی ده هیڅ شه خو کله دا صفر دَ یو عدد سے نه بښی طرفته او لیکلے شی نو بیا ترے مراد دَ هغے عدد سے لس دومره زیاتوالے وی - لکه یا دے دا دی دَ ایک شه دَ نو یو دا کاپ نے دی او بیا چه دَ ایک نه بښی طرفته دا صفر راشی مثلاً (۱۰) نو لس شو یعنی یوه لس زیاتی شو بیا چه دغه شان لس دهایا نے پوره شی مثلاً ۱۰، ۲۰، ۳۰، ۴۰، ۵۰، ۶۰، ۷۰، ۸۰، ۹۰، ۱۰۰ نو سل شی دَ (۹) یو بښی طرفته یو صفر راشی او بیا دَ سل سره دوه او دَ سل به پوره بیا دوه راشی تر (۹۰۰) پورے بیا درے صفرونه (۱۰۰۰) راشی او هزار شی دغه شان په پورته یو یو صفر زیاتی کیږی مثلاً ۱۰۰، ۱۰۰۰، ۱۰۰۰۰، ۱۰۰۰۰۰، ۱۰۰۰۰۰۰، دَ کروړ وی او لس کروړ وغیره پورے لیکلے شی -

عه دا دَ خط لیکلو او دَ پتے لیکلو پخوانئ طریقے اوس پاتے شوی دی او س مختصر لیکل خلق کوی دومره لوئے لوئے القاب او آداب پاتے شوی دی - دَ لفافے دَ پاسه اوس عموره طریقه دَ پتے لیکلو دا سے ده چه اول دَ هغه نوم او لیک چا ته چه خط لیږے دَ هغه سره لنډ شان عهده وغیره بیا کا او سید دَ کلی نوم په بله کرښه بیا دَ ډاکخانے او دَ کلی نوم - مبتهر یه دی نو محله دَ سره هم لیکل پکار دی او مکان نمبر هم - بیا په بله کرښه دَ ضلع نوم صوبے نوم کښ بلے صوبے ته خط ځی -

۸۱	یواتیا	۸۵	پنځه اتیا	۸۹	نه اتیا	۹۳	درے نوی	۹۷	اوه نوی
۸۲	دوه اتیا	۸۶	شپږ اتیا	۹۰	نوی	۹۴	څلور نوی	۹۸	اته نوی
۸۳	درے اتیا	۸۷	اوه اتیا	۹۱	یو نوی	۹۵	پنځه نوی	۹۹	نه نوی
۸۴	څلور اتیا	۸۸	اته اتیا	۹۲	دوه نوی	۹۶	شپږ نوی	۱۰۰	سل

رشتونے قصے اوله قصه

حضور صلے الله علیه وسلم فرمائي چه یو سړے په ځنګل کښے وه چه ناګهانه هغهٔ په وریځ کښے دا آواز واورېده چه د فلاني سړي باغ له اوبه ورکړه هغه وریځ لاړه او اوبه داسے ځائے اوورېدے چه اوبۀ ئے تمے په یوه ناله کښے جمع شوے دا سړے د دے اوبو سره روان شو څۀ ګوري چه یو سړے په خپل باغ کښے ګلیا دے په دے اوبو ئے اوبه کوي - دۀ تے د نوم تپوس اوکړه هغه ورته هغه نوم اووے کوم چه دۀ په وریځ کښے اورېدلے وه - کۀ باغ والا دۀ ته اووے چه تا ولے زما د نوم تپوس اوکړ - دۀ ورته اووے چه ما په دغه وریځ کښے د کومے چه دا اوبه دي ستا دا نوم " واورېده چه لاړه شه او د دۀ دے باغ له اوبه ورکړه - تۀ په دے باغ کښے څۀ عمل کوے؟ چه دومره مقبول دے - هغۀ ورته اووے چه زۀ کوم د دے باغ پیدا وار درے حصے کوم یوه حصه خیرات کوم یوه حصه ځانته او خپل بال بچ ته پاتے کوم - او یوه حصه په دے باغ لږه وم - **فائده** : - سبحان الله د خدائے پاک څومره لوئے رحمت دے چه څوک ئے حکم مني نو د هغه کار د غیبو نه داسے پوره کوي چه هغه تے خبر هم نه وي - رشتیا دي چه څوک د الله شي نو الله د هغه شي -

دویمه قصه

حضور صلے الله علیه وسلم فرمائي چه په بني اسرائیلو کښے درے سړي وو - یو جذامي بل ګنجے بل ړوند خدائے پاک آزمایل - نو یوه فرښته اول جذامي له راغله چه ستا څۀ خوښ دي؟ هغه اووے زما ښائسته او روغ بدن چه دا مرض را نه لرے شي - نو ملائکے پے لاس راخکودو او دے روغ شه ښکلے څون تے جوړ شه بیا ئے ورته اووے کوم قسم مال دے خوښ دے؟ هغه اووے - اوښان - نو یوه بلاربه اوښه ئے ورله ورکړه - بیا ګنجي له راغله تپوس ئے تے اوکړه چه ستا څۀ خوښ دي؟ هغه اووے روغ سر چه دا ګنجي توب را نه لرے شي - ملائکے پے لاس راخکودو سر ئے جوړ شه - بیا ئے تے تپوس اوکه کوم قسم مال دے خوښ دے - هغه اووے غواګانے - نو یوه بلاربه غوائے ورله ورکړه بیا ړانده له راغله او تپوس ئے تے اوکه چه تۀ څۀ غواړے - هغه اووے روغ سترګے چه هر څوک وینم - دے فرښتے ورله په سترګو لاس راخکوده نو سترګے ئے بینا شوے بیائے تے تپوس اوکه ستا کوم قسم مال خوښ دے هغه اووے بیزے - نو یو بلاربه بیزه ئے ورکړه - دا درے واړه په لږه زمانه کښے دومره مالداره شو - چه یو ته د اوښانو ګلے جمع شوے او بل ته د غواګانو او بل ته د بیزو - بیا هغه فرښته د خدائے په حکم سره اول جذامي له راغله ورته ئے اووے چه زۀ یو مسافر مسکین یم د سفر سامان مے ختم شوے دے نن زما بغیر د خدائے نه

بل څه وسیله نشته او تاسو طمع ده زه د هغه خدائ په نوم ستاسو نه غواړم چه تاسو ته ئې ښکلي صفا ځوان او روغ بدن درکړو چه سور شم په اوښ کور ته اورسم - هغه ورته اووې لرې کیږه په ما نور هم ډیر حقوق دي تاسو څه نشم درکولې - فرښتې ورته اووې چه شاید زه خو تا پیژنم - ته څوک ای نه وې چه خلقو به درنه کرکه کوله او ته غریب نه وې بیا درله خدائ دومره مال درکړو؟ هغه ورته اووې دا ته څه وائې دا مال خو ما ته د پلار نیکه په میراث کښې پاتې دې - فرښتې ورته اووې که دروغ وائې نو خدائ دې بیا په زاړه حال کړي - او بیا کنجې له راغلو او د هغه نه ئې هم د غسې سوال اوکړو - او هغه درله هم د غسې جواب ورکړو فرښتې ورته اووې که ته دروغژن ئې نو خدائ دې تا بیا په زاړه حال کړي - بیا ړوند ته راغلو چه زه مسافر یم هیڅ راسره نشته نن ما بغیر د خدائ نه او ستاسو بله هیڅ آسره نشته زه د هغه په نوم چه تاسو ته ئې نظر درکړې ستاسو نه یوه بیزه غواړم چه د خپل سفر ضروریات پرې پوره کړم - هغه اووې بې شکه زه ړوند وم - خومره بیزې چه دې زړه غواړي بیا یې - په خدائ قسم دے چه هیڅ شے ستا نه منع نه دے - فرښتې اووې مال د ځان سره سنبال کړه ما هیڅ نه حاجت نشته صرف په تاسو دریو واړو امتحان کولو - هغه اوشو ستاسو نه خدائ پاک راضي شو او د هغوی نه ناراضه شو -

فائده :- فکر پکار دے چه د ناشکرئ په وجه د هغوی دواړو نه نعمت بیا واپس شه او هغوی بیا په زاړه حال شو - او هغه بل ته د شکر په وجه نعمت هم پاتې پاتې شو او خدائ پاک ترې هم راضي شو - او په دنیا او آخرت کښې کامیاب شه -

دریمه قصه یوه ورځ حضرت ام سلمهؓ له کچرې ته غوښه ښه راغله - او د حضورؐ غوښه ډیره خوښه وه - نو په تاخ کښې ئې کیښوده شاید چه حضورؐ ئې اوخوري - په دې کښې یو سائل په دروازه کښې آواز اوکړو چه د خدائ په نوم څه راکوئ - د کور ورته په جواب کښې اوویلې شو چه خدائ دې درله برکت درکړي - د دې خبرې مطلب وه چه په کور کښې څه نشته چه درکړو - نو سائل لاړ شه - په دې کښې حضورؐ تشریف راوړه او ام سلمهؓ ته ئې اوفرمایل چه د خوراک څه درسره شته؟ هغې اووې هاں شته - او خادمې ته ئې اووې چه ورشه هغه غوښه ورله راوړه - خادمه چه تاخ له لاړه هلته د غوښې نوم هم نه وه صرف یوه سپینه کتهه پرته وه - او ئې فرمایل چه تا سائل له نه ورکوله نو کتهه ترې جوړه شوه -

فائده :- فکر اوکړئ کوم شے چه حاجتمند له ورنه کړې شي او پټ کړې شي او خوړې شي نو دې کښې خوري هم دغه وجه ده چه زړه ورنه لګي د کتو کلک شوی دی - د حضورؐ د خاندان سره خو د خدائ پاک محبت دے ځکه ئې ورله ښکاره په ښکاره د غوښې صورت بدل کړه چه د کتهو د خوراک نه محفوظ شي او ئې نه خوري -

څلورمه قصه د حضورؐ دا عادت وه چه د سحر مونځ به ئې اداکړو نو اصحابو ته به ئې مخ کړو چه که چا څه

خواب لیدلے وی نو او دئے دائی - او حضورؐ به ورته تعبیر ورښو دل - دعادت موافق چه
یو سحر ئے پتوس اوکړه نو چا ورته څهٔ خواب اونه وے نو حضورؐ پخپله اوفرمایل چه ما بیګاه
خواب لیدلے دے چه دوه تنه راغله او زهٔ ئے کلاسه اونیولم او مقدسے زمکے ته ئے بوتلم - نو یو سړے
ناست وه او بل ولاړ او په لاس کښے ئے د اوسپنے امبور دے او د ناست سړی وخکی پے دځټ
پورے څیره وی - ما پتوس اوکړ چه دا څهٔ وجه ده نو دا ته ئے اووے چه مخکښے زهٔ - مونږ مخکښے
لاړو نو یو سړے پروت دے او بل سړے ولاړ دے په لاس کښے ئے غټ کټ دے د دے
سړی سر پے ماتوی په زوره ورله کټ راوتړی نو هغه کټ لرے لاړ شی چه دے دا کټ را
ګرځوی او دهٔ ته راسی نو دهٔ سر بیا جوړ شوے وی او دے ئے ورله بیا راتړی - ما پتوس
اوکړه چه دا ولے - نو هغوی راته اووے چه مخکښے زه - چه مونږ مخکښے لاړو نو یو داسے
غارته اورسیدو چه د تنور پشان وه خوله ئے تنګه وه او دننه ارت وه - اور په کښے
بلیده - او د لغړو سړو او ښځو پکښ وه - چه کله اور لمبے پورته را خیژی نو دا خلق د
ځان سره پورته را خیژوی او چه لمبے ښکته ځی نو دوی د ځان سره ښکته بیا ځی -
ما پتوس اوکړ دا څوک دی؟ هغو راته اووے مخکښے زه - چه مونږ مخکښے لاړو نو
د وینو نهرته اورسیدو - چه په مینځ کښے ئے یو سړے ولاړ دے - او یو سړے ئے
په غاړه ولاړ دے او ډیرے کټے ورته پرتے دی چه د نهر منځه سړے د نهر غاړے ته راشی
چه راوخیژی تے نو د غاړے هغه سړے ئے خوله دومره په زوره په کټه ولی چه دے بیا
هغه خپل ځائے ته اورسی - او دغه شان چه دے کله هم کوشش کوی هغه ئے په کټه ولی واپس کوی
ئے - ما پتوس اوکړ چه دا څهٔ دی - هغوی اووے ورانده ځه مونږ چه مخکښے لاړو نو یو شین باغ
ته اورسیدو په غټه ونه وه په کښے او لاندے ئے یو بوډا سړے او ډیر بچی ناست دی - او
د ونے ته نزدے یو بل سړے ناست او مخکښے ورته اور بلیږی او دے ئے پوکی بیا هغے دواړو
زهٔ ونے ته اوختو او ختولم او یو کور کښے په مینځ کښے ډیر ښکلے جوړ شوے وه - زهٔ ئے
ورله بوتلم ما داسے ښکلے کور چرته نه وه لیدلے په دے کښے سړی بوډاګان ځوانان ښځے
او بچی ډیر زیات وه - بیائے د هغه ځائے نه بهر کړم نو ورسره پورته بوتلم هلته د دے
مخکښے کور نه زیات ښائسته بل کور وه - هغے ته ئے بوتلم هلته ځوانان او بوډاګان وو -
ما بیا هغے دواړو سړو ته اووے چه تاسو خو زهٔ ټوله شپه اوګرځولم اوس را ته
دا اووایئے چه دا ټول څهٔ رازونه دو؟ هغوی اووے چه هغه سړے چه د هغه
وخکی څیره ولے شو دے دروغژن وه دروغ به ئے ویل او هغه به خوریدل -
د ده سره به د قیامته پورے دغه شان کولے شی - او سړے چه ئے ورله په کټ ماتولو
دا هغه سړے وه چه دهٔ له خدائے پاک د قرآن علم ورکړے وه د شپے به د هغه نه
غافله اوده کیده او د ورځے به ئے په هغے عمل نه کاوه د قیامته پورے به ورسره
دغه شان کیږی - او کوم چه تا کاور په غار کښے لیدلی وه دا زناکار خلق وو - او کوم
چه د وینو په نهر کښے لیدلے وه هغه سود خوروه - او د ونے لاندے چه بوډا

سړے وه هغه ابراهیم علیه السلام وه او کوم هغه نه چار چاپیره چه کوم ښکلی وو دا د خلقو نابالغ بچی وو- او اوُر چه ئے پوکلو دا د دوزخ داروغه مالک وه- او کوم کورچه اوّل ورته داخل شوے وے دا د عام مسلمانانو کور وه او کوم ته چه ورستے داخل شوے وے دا د شهیدانو کور وه- او زهٔ جبرائیلؑ یم او دا بل میکائیلؑ دے- بیا ئے راته اووے چه پورته اوګوره چه ما پورته اوکتل نو سپینه وریځ مې اولیده راته ئے اووے چه دا ستا کور دے- ما ورته اووے زهٔ ورته داخلیږم هغوی اووے چه اوس لا ستا عمر باقی دے او س نشے ورتلے-

فائده:- د پیغمبرانو خواب وحی وی دا ټول واقع رشتونے دی د دے حدیث نه د څو خلقو حال معلوم شه د دوی څو چه څومره غټه سزائے ده- د عالم بے عمله، د زنا کار، د سود خور- خدائے پاک دے ټول مسلمانان د دے کارونو نه بچ اوساتی-

دَعقیدو بیان

عقیده ۱ ټول عالم (دنیا او مخلوق) اول نه وو بیا الله پاک پیدا کړه

عقیده ۲ الله پاک یو دے د چا محتاج نه دے نه ئے څوک پیدا کړی نه د چا نه پیدا دے نه ئے ښځه شته نه ئے څوک مقابل-

عقیده ۳ هغه همیشه دے او همیشه به وی-

عقیده ۴ د الله پاک مثل نشته هغه بے مثله دے-

عقیده ۵ هغه ژوندے دے هر شے د هغه په قدرت کښے دے د علم نه ئے هیڅ یو هم نشته هر څه وینی اوری کلام فرمائی لیکن د هغه کلام زمونږ خلقو پشان نه دے. څوک چه غواړی کوی څوک منع کوونکے ئے نشته- د عبادت لائق یوازے هغه دے. شریک ئے نشته- په خپلو بندګانو مهربان دے. بادشاه دے د ټولو عیبونو نه پاک دے- خپل بندګان د آفتونو نه بچ کوی- عزت والا دے. لوئے والا دے. د ټولو څیزونو پیدا کوونکے دے- د هغه څوک پیدا کوونکے نشته- د ګناهونو بخښونکے دے- زبردست دے- ډیر څه ورکوونکے دے- رزق رسوونکے دے- چا له چه غواړی رزق ئے تنګوی او چا له چه غواړی رزق فراخه کوی- چا له چه غواړی خکته کوی چا له چه غواړی او چتوی- چا له چه غواړی عزت ورکوی چا له چه غواړی ذلت ورکوی- انصاف والا دے- ډیر صبرناک او برداشت کوونکے دے- د خدمت او عبادت قدر کوونکے دے- دعا قبلوونکے دے- په هر چا حاکم دے په ده څوک حاکم نشته- هیڅ کار ئے د حکمت نه خالی نه دے- د هر چا کار جوړوونکے دے- ټول هغه پیدا کړی دی او بیا به ئے په دوباره پیدا کوی- هغه ژوندی کوی هغه مړه کوی- د ده له هر څوک قدرت په نښو او صفتونو پیژنی- د هغه د ذات باریکی هیچا ته معلومه نه ده- د ګناهګارو توبه قبلوی- د سزا لائق له سزا ورکوی- هغه هدایت کوی- په جهان کښے چه څه کیږی د هغه په حکم سره کیږی- بے د هغه د حکم نه یوه ذره هم نه شی خوزیدے- نه هغه اوده کیږی او نه ورله پرکالی راځی د عالم په حفاظت سره ستړے کیږی نه- هر څه د هغه په قبضه کښے او حفاظت کښے دی ټول غوره او کمالی صفتونه د هغه ده داسے یو صفت په هغه کښے نشته چه په هغے کښے عیب وی-

له یو شے حق ګنړل او په زړه سره د هغے تصدیق کول ته عقیده وائی- ۱۲

عقیده ۶ د هغه ټول صفتونه د همیشه نه دي او همیشه به وي -
عقیده ۷ د مخلوق د صفتونو نه هغه پاک دے او په قرآن او حدیثو کښې چه بعضې داسے خبرے راغلیدي (مثلاً د خدائے لاس وغیره) نو د دے حقیقت الله پاک ته معلوم دے مونږ ته د دے هیڅ حقیقت نه دے معلوم مونږ په خم د غسے بے چون وچرا ایمان راوړو - او دا مو یقین دے چه د دے هرڅه مطلب چه وي هغه صحیح دے او حق دے - او دا خبره غوره ده یا دے د دے داسے مطلب راوباسي چه د پوهه کو لو وي -
عقیده ۸ په عالم (دنیا) کښې چه څه خه بد کیږي دا هرڅه الله تعالیٰ ته د د واقع کیدو نه مخکښې معلوم وي او د خپل علم مطابق ئے کوي تقدیر د دے نوم دے - او د بد و خیز د نو په پیدا کولو کښې هم لوئے راز دے چه هرڅوک پرے نه پو هیږي -
عقیده ۹ بندګانو له الله تعالیٰ پوهه او اراده ورکړے ده چه د ګناه او د ثواب کار په خپل اختیار سره کوي خو د یو کار د پیدا کولو قدرت د بنده نشته په ګناه سره الله پاک ناراضه او په ثواب سره خوشحاله وي.
عقیده ۱۰ الله پاک بندګانو ته داسے څه حکم نه دے کړے چه خلقو ته ګران وي -
عقیده ۱۱ هیڅ شے د خدائے په ذمه ضروري نه دے څه چه کوي د مهرباني نه دائے فضل دے.
عقیده ۱۲ ډیر پیغمبران خدائے پاک خلقوته د لا رخودنے دپاره رالیږلي دي او هغه ټول د ګناهونو نه پاک دي - پوره شمار ئے الله ته معلوم دے - د هغوي د رښتونولي دپاره الله پاک د هغوي په لاسونا شونی کارونه ښکاره کړي دي دیته معجزه وائي - د ټولو نه اولنے آدم علیه السلام وه او د ټولو اخري محمد رسول الله صلے الله علیه وسلم - په دوي کښې بعضې ډیر مشهور دي لکه حضرت نوح ؑ حضرت ابراهیم ؑ حضرت اسحٰق ؑ حضرت اسمٰعیل ؑ حضرت یعقوب ؑ حضرت یوسف ؑ حضرت داؤد ؑ حضرت سلیمان ؑ حضرت ایوب ؑ حضرت موسیٰ ؑ حضرت هارون ؑ حضرت زکریا ؑ حضرت یحییٰ ؑ حضرت عیسیٰ ؑ حضرت الیاس ؑ حضرت الیسع ؑ حضرت یونس ؑ حضرت لوط ؑ حضرت ادریس ؑ حضرت ذوالکفل ؑ حضرت صالح ؑ حضرت هود ؑ حضرت شعیب علیهم السلام -
عقیده ۱۳ د ټولو پیغمبرانو شمار الله تعالیٰ ته ښه خرګند دے خو زمونږ دا عقیده ده چه څومره پیغمبران خدائے پاک راليږلي دي مونږ په ټولو ایمان راوړے دے کوم چه مونږ ته معلوم دي او کنه -
عقیده ۱۴ په پیغمبرانو کښې د بعضو مرتبه د بعضو نه زیاته ده د ټولو نه زیاته مرتبه د حضور صلے الله علیه وسلم ده - او د دوي نه پس بل پیغمبر نشي راتلے د قیامته پورے دے د ټولو نبي آدم او پیریانو پیغمبر دے
عقیده ۱۵ نبي کریم صلے الله علیه وسلم له الله پاک په ویښه د جسم سره د مکے نه بیت المقدس ته او بیا د هغه ځائے نه اووه آسمانو نو ته او بیا چه چرته د الله رضا وه بوتلو او بیائے مکے ته واپس کړو -
عقیده ۱۶ - الله پاک څه مخلوق د نور نه پیدا کړي او زمونږ د نظر نه ئے پټ کړي دي هغوي ته فرښتے

له مثلاً حضور ص میاشت دوه ټکرے کړے وه یا لکه د موسیٰ ؑ د لاسه امسا ښامار شو او داسے نورے معجزے د پیغمبرانو ۱۲
له یعني څوک چه د حضور ص نه پس د نبوت دعوه کوي هغه دروغژن دے لکه مرزا غلام احمد چه ځان ته نبي وائي علما ؤ په ده او د ده په منونکو د کفر فتوی ورکړے ده د دوي سره یعني د قادیانانو سره واده کول او د دوي ذبح خوړل حرام دي ۱۲

وائی۔ ډیر کارونه دوی ته حواله دی دوی د الله د حکم نه چرته خلاف نه کوی پکوم کار کښے چه ئے لږ وی دی په هغې کښے لږیا دی څلور فرشتے په دوی کښے ډیر مشهورے دی۔ حضرت جبرائیلؑ حضرت میکائیلؑ، حضرت اسرافیلؑ، حضرت عزرائیلؑ۔ [1] الله تعالیٰ څه مخلوق د اور نه پیدا کړیدے چه پیریان ورته وائی دوی هم مونږ ته نه ښکاری۔ په دوی کښے نیک هم دی او بد هم دی۔ اولادے هم کیږی په دوی کښے ډیر مشهور شریر ابلیس لعین شیطان دے۔

عقیده ۱۷:۔ انسان چه ډیر عبادت کوی گناه نه کوی د دنیا سره محبت نه ساتی او د پیغمبرؐ پوره تابعداری کوی۔ نو دے د الله دوست او محبوب وی۔ داسے سړی ته ولی وائی۔ کله داسے سړی نه کله داسے کار وشه کیږی چه د نورو خلقو نه نه شی کیدے دے خبره ته کرامت وائی۔

عقیده ۱۸:۔ ولی که هر څومره لوئے مرتبے ته اورسی د نبی برابر کیدے نه شی۔

عقیده ۱۹:۔ که د خدائے هر څومره دوست ولے نه وی خو چه عقل هوش ئے په ځائے وی د شریعت پابندی پے فرض [2] ده۔ مونځ روژه هیڅ یو عبادت ورته معاف کیدے نه شی۔ هیڅ گناه ورله جائز کیدے نه شی۔

عقیده ۲۰:۔ کوم سړے چه د شریعت نه خلاف وی هغه د خدائے دوست کیدے نه شی او که د داسے څه ناشنا کار ښکاره شی یا به جادو وی یا به نفسانی [3] او یا شیطانی دهوکه وی۔ عقیده لره پے نه دی پکار۔

عقیده ۲۱:۔ ولی ته بعضے د راز خبرے په خواب کښے یا په ویخه معلومیږی دیته کشف او الهام وائی که د شرع [4] موافق وی نو قبول دے ورنه بیا رد دے۔

عقیده ۲۲:۔ الله پاک او رسولؐ د دین ټولے خبرے په قران او حدیثو کښے بندے کانو ته خودلی دی او س نوے خبره په دین کښے راویستل جائز نه دی۔ داسے نوے خبرے ته بدعت وائی بدعت ډیر لوئے گناه ده۔

عقیده ۲۳:۔ الله پاک لوئے واړه ډیر کتابونه د جبرائیلؑ په ذریعه د اسمان نه په ډیرو پیغمبرانو نازل کړیدی چه خپلو خپلو امتونو ته د دین خبرے او ښائی۔ څلور کتابونه په کښے ډیر مشهوردی۔ تورات په حضرت موسیٰؑ زبور په حضرت داودؑ انجیل په حضرت عیسیٰؑ قرآن مجید زمونږ په پیغمبر صلے الله علیه وسلم نازل شو۔ قرآن اخری کتاب دے د دینه پس بل کتاب نه شی راتلے۔ د قیامته پورے به د قرآن حکم چلیږی۔ نور کتابونه ادل بدل شوی دی مگر د قرآن د حفاظت الله پاک وعده کړے ده دا څوک نه شی بدلولے۔

عقیده ۲۴:۔ زمونږ پیغمبر صلے الله علیه وسلم چه چا مسلمان لیدلے دے هغوی ته صحابی [5] وائی۔ د دوی ډیرے بزرگئ بیان شوی دی د دوی ټولو سره محبت پکار دے او ښه گمان۔ که د دوی په مینځ کښے څه جنگ جگړے وغیره شویدی نو هغه هیر او غلطی او گڼړه بد نه دوی ته مه وایه۔ په ټولو کښے د لوئے مرتبے خاوندان څلور دی۔ اول حضرت ابوبکرؓ دا د حضورؐ اولنے خلیفه وه د ټول امت نه د دوی درجه لویه ده۔ دویم حضرت عمرؓ دوی دویم خلیفه وه۔ دریم حضرت عثمانؓ دوی دریم خلیفه وه۔ څلورم حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنهم دوی څلورم خلیفه وه۔

عقیده ۲۵:۔ د صحابی مرتبه دومره لویه ده چه د لویو نه لوئے ولی د یو ادنی درجے صحابی ته نه رسی۔

عقیده ۲۶:۔ د حضورؐ ټول اولاد او بیبیانے د تعظیم قابل دی۔ په اولاد کښے ئے د ټولو نه لویه

---

[1] حضرت عزرائیلؑ روحونه قبض کوی چه ملک الموت ورته هم وائی ۱۲ [2] د نفسانی مطلب دا دے چه نفس ئے څه تصرف کړے دی د شیطانی مطلب دا دے چه پیریے وغیره ئے تابع کړے دی ۱۲ [3] د دے مطلب دا دے چه که دے د شریعت نه خلاف نه وی نو د ده د انکار ضرورت نشته دلے مطلب نه دے چه منل ئے ضروری دی۔ هاں داسے الهام منل غوره دی۔ او انکار تے ښه نه دے۔ [4] خو په دے شرط چه دا لیدل ئے په اسلام سره وی۔ او چا چه د اسلام په حالت کښے صحابی لیدلے دی او په اسلام مړ دی وه ته تابعی وائی د دوی بزرگی په حدیثو کښے ثابته ده ۱۲۔

مرتبه د حضرت فاطمهؓ او په بیبیانو کښې د حضرت خدیجهؓ او حضرت عائشهؓ ده۔

عقیده نمبر ۲۷:۔ ایمان هله درست شی چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسولؐ ټولے خبرے رښتونے اوګڼړی او ټولے اومنی۔ د الله تعالیٰ او د رسولؐ په څه خبره کښې شک کول یائے دروغژن کول یا په کښې څه عیب راویستل یا پورے ټوقے کول په دے ټولو سره ایمان ځی۔

عقیده نمبر ۲۸:۔ د قرآن او حدیث واضحه خبره نه منل او کیږ پیږ په کښې کول او د خپل مطلب معنی په کښې جوړول د بد دینۍ خبره ده

عقیده نمبر ۲۹:۔ د ګناه په حلال ګڼړلو سره ایمان ځی۔

عقیده نمبر ۳۰:۔ ګناه که هر څومره لوئے وی خو چه سپک ئے ګڼړی ایمان پے نه ځی البته کمزورے کیږی۔

عقیده نمبر ۳۱:۔ د الله تعالیٰ نه زړه ورکیدل یا تے ناامیده کیدل کفر دے۔

عقیده نمبر ۳۲:۔ د چانه د غیبو د خبرو تپوس کول او یقین پے کول کفر دے۔

عقیده نمبر ۳۳:۔ د غیبو حال بغیر د الله تعالیٰ نه بل چا ته نه دے معلوم۔ البته نبیانو ته په وحی او اولیاؤ ته په الهام او کشف سره او عامو خلقو ته په نښو سره بعضے خبرے معلومیدے شی۔

عقیده نمبر ۳۴:۔ د چا نوم اخستل کافر ورته ویل یا پے لعنت کول لوئے ګناه دے۔ لیکن داسے ویلے شی چه په ظالمانو دے لعنت وی په دروغژنو دے لعنت وی۔ لیکن د چا نوم چه اخستے دے او الله تعالیٰ او رسولؐ پے لعنت کړے دے یائے ورته کافر ویلی دی هغوی ته کافر او ملعون ویل ګناه نه دے۔

هرکله چه بنده مړ شی نو که په قبر کښې ئے ښخ کړی او که ښخ ئے نه کړی په هره طریقه سره چه وی په قبر کښے وی او که نه خو دوه فرښتے ورله راځی تپوس تے کوی چه ستا رب څوک دے ستا دین څه دے۔ د حضور صلی الله علیه وسلم متعلق تپوس ترے اوکړی چه دا څوک دے۔ که مړے ایماندار وی نو ټیک ټیک جواب به ورکړی۔ بیا د ده د پاره د هر قسم ارام دے۔ د جنت د طرفه کړکئ به ورته پیرته شی چه د جنت یخه هوا او خوشبو به ورته پکښې راځی او دے به په مزه کښے اوده شی۔ او که مړے ایماندار نه وی نو د ټولو خبرو په جواب کښې وائی چه ما ته هیڅ پته نشته۔ بیا به په ده د قیامته پورے سخت عذاب او سختی وی۔ او بعضو له به الله تعالیٰ د دے امتحان نه معافی کوی لیکن په دے ټولو خبرو مړه پوهیږی مونږ پے نه پوهیږو۔ لکه اوده سړے چه خوب کښې هر څه وینی او د هغه څنګ کښې ویښ د هغے هر څه نه ناخبره وی۔

عقیده نمبر ۳۶:۔ د مړی نه پس سحر او مابنام د مړی چه کوم ځائے دے د ده ته هغه خودلے شی۔ جنتی ته جنت خودلے شی خوشخبری ورکوی او دوزخی ته دوزخ خودلے شی افسوس ئے زیاتولے شی۔

عقیده نمبر ۳۷:۔ مړی ته د دعا کولو او د څه خیرخیرات بخلو ثواب رسی او ده یه فائده ورته رسوی۔

له ناامیدی دیته وائی چه دے داسے اوګڼړی چه په آخرت کښې ځما چرته هم بخالله نه کیږی ۱۲ ۲ه د لعنت معنی ده د خدائے پاک د رحمت نه لرے کیدل یعنے داسے ویل چه په فلانی دے د خدائے پاک لعنت وی ۱۲ ۳ه یا به ورته حضور صلی الله علیه وسلم ښکاره کړے شی تپوس به ترے کوی چه دا څوک دے یا به تے هسے تپوس کولے شی چه ستا پیغمبر څوک ده د علماؤ نه داوا په خبرے نقل دی خو کوم خبره اوّل ده او هغه دا چه خود بخود به د مړی خیال د حضورؐ طرف ته راواوړې شی ۱۲ ۴ه علماؤ د احادیثو په رڼا کښے فرمائلی دی چه کوم سړے نه مؤمن صالح وی نه کافر بلکه فاسق وی نو عذاب به ئے د کافر نه کم وی او فاسق هغه دے چه ګناه کبیره کوی۔ او یا صغیره ګناه باندے عملی ابولو اختیار د الله پاک دے

عقیده نمبر ۳۸ :- الله پاک او دَ هغه رسول ﷺ چه دَ قیامت کومے نښے ښودلی دی هغه به ضرور ښکاره کیږی- امام مهدی علیه السلام به ښکاره کیږی او بیا به په انصاف سره به بادشاهی کوی- کانا دجال به راووځی او په دنیا کښے به ډیر فساد خور وی- دَ هغه دَ مړه کولو دَ پاره به حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ آسمان نه را کوزیږی او دجال به مړ کړی- یاجوج ماجوج یو زبردست قوم دے دوی به په زمکه را خوریږی او ډیره تباهی به راولی بیا به ئے الله پاک په خپل قهر سره هلاک کړی- یو عجیبه قسم جانور به دَ زمکے نه راووځی او دَ خلقو سره به خبرے کوی- دَ مغرب دَ طرفنه به نمر راوخیژی- قرآن شریف به اوچت کړے شی او په لږه زمانه کښے به ټول مسلمانان مړه شی او ټوله دُنیا به دَ کافرو نه ډکه شی- دَ دے نه علاوه نورے هم ډیرے خبرے دی-

عقیده نمبر ۳۹ :- چه ټولے نښے پوره شی نو دَ قیامت حالات به شروع شی- حضرت اسرافیل علیه السلام به دَ خدائے په حکم سره شپیلی اُووهی- دَ دے شپیلئ دَ وهلو سره به آسمانونه او زمکه ټوکړے ټوکړے ټول مخلوق به مړه شی او کوم چه مړه دی دَ هغوی روحونه به بے هوشه شی- مګر چاله چه الله پاک بچ کوی هغه به په خپل حال وی- یوه زمانه به په دغه حال تیره شی-

عقیده نمبر ۴۰ :- بیا چه کله الله پاک رضا شی چه مخلوق دوباره پیدا کړی نو دوباره به شپیلئ پوک وهلے شی او ټول مخلوق به دوباره پیدا شی مړی به ژوندی شی او دَ قیامت میدان ته به راغونډ شی او دَ قیامت دَ تکلیفونو نه په ګیریږی ټول به پیغمبرانو ته دَ سفارش دَ پاره لاړ شی- آخر زمونږ پیغمبر صاحب ﷺ به سفارش اوکړی- تله به اودریږی نیک او بد عملونه به تللے شی او حساب به شروع شی- بعضے به بے حسابه جنت ته ځی- دَ نیکانو عملنامے به په ښی لاس کښے او دَ بدانو به په کینړی لاس کښے ورکړے شی نبی کریم صلے الله علیه وسلم به خپل اُمت ته دَ حوض کوثر[1] اُوبه سکوی- چه دَ پیونه به زیاتے سپینے او دَ ګبین نه زیاتے خوږے وی- په پل صراط به پورے وتل وی- کوم چه نیکان وی هغه به پورے اووځی او جنت ته به لاړ شی او بدان به ښکته دوزخ ته راغورځیږی-

عقیده نمبر ۴۱ :- دوزخ پیدا شوے دے ماران لړمان او هر قسم عذابونه پکښے دی- په کومو دوزخیانو کښے چه لږ شان ایمان دی هغه به دَ ګناه دَ سزا ختمولو نه پس دَ پیغمبرانو او بزرګانو په سفارش سره راووځی جنت ته به داخل شی خواه که هر څو مره ګناهګاران دی- او کوم چه کافران او مشرکان وی هغه به په دوزخ کښے همیشه پاتے شی- او مری به هم نه-

عقیده نمبر ۴۲ :- جنت هم پیدا شوے دے او په هغے کښے دَ هر قسم آرام او نعمتونه دی- جنتیانو ته به دَ هیڅ قسم یره او غم نه وی او دوی به په جنت کښے همیشه وی نه به ترے اووځی او نه به مری-

عقیده نمبر ۴۳ :- الله پاک اختیار دے چه په واړه ګناه سزا ورکړی یا لوئے ګناه په خپله مهربانی سره معاف کړی او بالکل سزا پرے ورنه کړی-

عقیده نمبر ۴۴ :- دَ شرک او کفر ګناه الله تعالیٰ چرته هم چاته نه معاف کوی او دَ دینه سوانور ګناهونه چاله چه غواړی نو خپلے مهربانئ سره به ئے معاف کړی-

عقیده نمبر ۴۵ :- دَ کومو خلقو نومونه چه الله پاک او رسول ﷺ اَخستی او جنتیان ئے ورته ویلی دی

[1] په جنت کښے یو حوض دے چه دَ هغه نوم حوض کوثر دے او دا الله پاک حضور ﷺ له ورکړے دے ۱۲

دَ هغوی نه سِوا په بل چا دَ جنتي حکم نشي لږولے البته که څه پخپلے او دینی نو ښه ګمان په
لرل او دَ هغه دَ رحمت نه امیدوار کیدل ضروری دی۔

عقیده نمبر ۸۶:- په جنت کښې دَ ټولو نه لوئے نعمت دَ الله پاک دیدار دے چه جنتیانو ته به نصیب شی
چه دَ هغې په خوند به ټول نعمتونه هیڅ معلوم شی۔

عقیده نمبر ۸۷:- په دنیا کښې په بیدارئے په دَ سترګو هیڅوک الله پاک نه شی لیدے۔ او چا لیدلے دے۔

عقیده نمبر ۸۸:- په ټول عمر کښې که بنده نیک یا بد وی لیکن چه خاتمه ئے په کوم حالت وشی هغسے بدله به مومی۔

عقیده نمبر ۸۹:- بنده چه کله توبه او کړی یا مسلمان شی الله تعالیٰ ته مقبول دے۔ البته چه د
مرګ وخت شی او دَ عذاب فرښتے او وینی نو له بیا توبه[له] قبلیږی او نه ایمان۔

فصل دَ دینه پس مناسب ده چه بعضے ناکاره عقیدے رسمونه او بعضے لوئے لوئے ګناهونه
چه اکثر کیږی او ایمان ته پے نقصان رسی بیان کړے شی چه خلق تے ځان اوساتی۔ بعضے خو
په دے کښے بالکل شرک او کفر دے۔ بعضے کفر او شرک ته نژدے۔ او بعضے بدعت او ګمراهی او بعضے
فقط ګناه دے خوغرض دا دے چه دَ ټولو نه ځان ساتل ضروری دی۔ او دَ دے دَ بیا نولو نه
پس به دَ هغې ګناهونو چه دَ دنیا نقصان دے تے او عبادت چه دَ دنیا نفع ده تے څه لږ شان
بیان کړے شی ځکه چه خلق دَ دنیا دَ نفع نقصان زیات خیال ساتی نو شاید چه په دے خیال سره
ئے دَ نیک کار توفیق او دَ بد و نه پرهیز نصیب شی۔

دَ کفر او شرک دَ خبرو[۲] بیان

کفر خوښول۔ دَ کفر خبرے ښے ګنړل۔ په بل چا باندې دَ کفر څه خبره کول۔ په څه وجه پخپل
ایمان خپیمانه کیدل چه که مسلمان نه وے نو فلانۍ خبره به راته حاصله شوے وے۔
دَ اولاد وغیره په مرګ یا نورځه داسے خبرے کول۔ چه خدائے پاک بس دے مړ کاوه۔ په
دے ټول دنیا کښې دَ مرګ دَ پاره دے وه۔ خدائے له داسے نه وو پکار۔ داسے ظلم
څوک نه کوی لکه تا چه او کړو۔ دَ خدائے او رسول[۳] څه حکم ناکاره ګنړل، عیب په کښې
راویستل۔ دَ یو نبی یا فرښتے سپکاوے کول۔ عیب پے لږولول۔ په یو پیر یا بزرګ داسے
عقیده لرل چه ځما دَ هرڅه نه دے خبر دے۔ دَ نجومی[۳] یا پنډت یا چه په چا پیریان وی
دَ هغوی نه دَ غیبو دَ خبرو تپوس نه کول یا پے فالونه کتل او رښتیائے ګنړل۔ دَ چا بزرګ
په خبره فال نیول او هغه یقینی ګنړل۔ دَ لرے نه ئے رابلل او داسے ګنړل چه هغه
خبریږی۔ چا له دَ نفع نقصان اختیارمند منل۔ دَ چا نه مرادونه غوختل۔ رزق او
اولاد تے غوختل۔ دَ چا په نوم روژه نیول۔ چا ته سجده کول۔ دَ چا په نوم جانور پریخودل
یائے ذبحه کول دربارونو وغیره ته ئے سپارل۔ دَ چا په نوم نذر منل۔ دَ چا دَ قبر یا مکان طواف
کول۔ دَ خدائے دَ حکم په مقابله کښې دَ بل چا خبره یا رسم مقدم ګنړل۔ دَ چا په مخ کښې ښکته
کیدل یا ښغ لکه دَ تصویر په شان او دریدل۔ ګڼو پیسه زیارت ته بوتلل او ورته ئے حواله کول۔ دَ پیری

له توبه دَ ګناهونو نه توبه دے سلو ته وائی ایمان دَ شرک او کفر نه توبه ویستل او مسلمانیده ۱۲ ۲ـه یعنی دَ هغې خبرو بیان چه
دَ شرک او کفر سبب دے یا چه طریقے او رسمونه دَ مشرکانو دی یا دَ شرک وهم دے په کښې یا شرک ته نژدے کوونکی دی ۱۲ ۳ـه نجومی
چه دَ ستورو حالات معلوموی ۱۲ ۴ـه طواف دَ بیت الله چاپیره ګرځیدو ته وائی دغه شان دَ بل ځائے طواف جائز نه دے ۱۲

وغیره له ډ ازادیه وکړ پاره ډ هغوی پنوم حصه[۱] ورکول - ډ بچي ډ ژوندی پاتے کیدو ډپاره تو تکے وغیرٔ کول - ډ څه ځائے ډ کعبے برابر تعظیم کول - ډ چا په نوم ډ بچي غوږ پوره سوری کول - په غوږ بُږ وتوکیے ورته دالی وغیره اچول - ډ چا په نوم په لاسونو یا ښپو کیے څه اچول - سهرا جوړول - خونړی پریخودل - علی بخش، حسین بخش، عبد النبی وغیره نوم ایخودل - جانور ډ چا بزرگ په نوم کول او تعظیم ئے کول - ډ عالم کاروبار ډ ستورو په تاثیر سره گنړل - ډ څه یو تاریخ او ورځ پتوس[۲] کول په فالی بیول - یوے میاشتے او تاریخ لره منحوس گنړل - ډ چا بزرگ نوم ډ وظیفے په طور یادول - داسے ویل چه که خدائے او رسول او غواړی نو فلانے کار به اوشی - ډ چا په نوم یا سر قسم خوړل ډ جاندار لوئے تصویر[۳] ساتل خصوصا ډ چا بزرگ تصویر ډ برکت ډپاره ساتل او تعظیم[۴] ئے کول -

ډ بد عتونو[۵] بدُو رسمونو او بد و خبرو بیان

په قبرونو پشان شوکت سره میلے کول ډیوے پے بلول چادرونه پے خوروُل - پاخه قبرونه جوړول ډ قبرونو ډحدنه زیات تعظیم کول - تعزیت قبر خکلول کانړی خاورے ئے ځان مږل طواف او سجده ورته کول قبرونو طرفته مونځ کول - میوے پیسے وغیره پے ایخودل - جنډے وغیره پے اودرول - سلام ورته کول وغیره ډ محرم په میاشت کښے پان نه خوړل نکریزه وغیره له لرے ول - ډ خاوند سره نه اوسیدل - سره کپړه نه اغوستل - او غلو ځنځه وغیره کول - سره ډ ضرورت[۶] نه ډ شځے بل نکاح عیب گنړل - په کوژدن، سنتو وغیره کښے اگرچه طاقت ئے نه وی خو غیر ضروری رسمونه پوره کول قرض دار به کوی خو مجلسونه وغیره پوره کول - ډ سلام ډپاره خکته کیدل یا پسر لاس ایخودل - ډ لیور ډ تره ډ رځوئی تره ځوئ ماما ځوئ په مخکښے بے احتیاط راتلل - یا ډ بل نامحرم په مخکښے بے پردے گرځیدل - ډ کور درنه ډ منګی راوړو سره سندرے ویل - سندرے وریدل - ډ ماڼے وغیره کښول او ورته کتل او خوشحالیدل انعام ورکول - په نسب فخر کول - یا یو بزرگ ته ئے نسبت ډ ځان ډپاره نجات گنړل - په لاندے نسب والا باندے طعن کول - جائزه پیشه ذلیله گنړل - ډ حد نه زیات ډ چا تعریفونه کول - په ودونو کښے فضول خرچیانے او خرافات خبرے کول - ډ هندوانو رسمونه کول - ډ واده هلک ته ډ شرع نه خلاف جامے اغوستول سهرا جوړول لاس نکریزه لرول - اتشبازیانے ډزے وغیره کول فضول ارائشونه کول - ډ واده هلک ډ ښځو مینځ ته دننه کور ته رابلل - ډ ځوانو ښځو وغیره دو ورته مخامخ راتلل او تو قے مسخرے ورسره کول - ډ جینئ رناوے او هلک رجنغول خبر ورته پټ او وریدل او خبرے ئے اوریدل - ډ لوئے ډپاره مهر زیات مقرر کول - په غم کښے په چغو ژړل - مخ او سینه وهل - خبرے کول او ژړل - ډ مړی ډ استعمال لوخی ما تول کومے کپړے چه که هغه ډ بدن سره لږیدلی وی هغه ټولے وینځل ډ تلینه پورے په دے کور کښے خوشحالی وغیره نه کول - په مخصوص تاریخونو بیا غم تازه کول - ډ حد نه زیات زیبا و زینت کول

[۱] لکه ډ سلام په وخت کښے چه اکثر خلق خکته کیږی [۲] یعنے ډ تصویر پشان بے حرکت او دریدل ۱۲ [۳] ډ تصویر نه مراد ډ جاندار شی لوئے تصویر دے چه پوره وی ۱۲ [۴] دغه شان نور داسے کارونه کول چه ډ شریعت نه خلاف وی ۱۲ [۵] هغه داسے نوے خبره چه په شریعت کښے ډ هغے څه اصل نه وی او هغے لره ډ دین خبره او ثواب اوگنړی کوئ ئے دیته بدعت وائی داسے کار کول ډیر سخت گناه دے ۱۲ [۶] یعنی ډ کونډے دویم نکاح کول عیب گنړی دا گناه دے ۱۲

ساده وضع عیب ګڼړل - په مکان کښې تصویرونه لږه ول - ګلدانې سرمه دانې سلائي وغیره د سرو سپینو استعمالول - باریکے نرے کپړے اغوستل - د ښځو ښکاري کالي اچول - د سړو مجلسو خصوصًا تعزیو میلو او عرسونو لیدو ولو تلل - د سړو وضع اختیارول - د زیب زینت د پاره دیوالونه او چتونه جوړه ول - سفرته د تلو یا راتلو په وخت کښې د غیر محرم سره غاړه کیدل د غمې او پائیدلو د پاره د هلک پوزه یا غوږه څیرل - تعویذ کول د ریخمو یا په زعفرانو وغیره رنګ شوے جامے یا ګونګرې وغیره ورته اغوستول - افیم یا بله نشه ورکول د نه جړلو د پاره ورکول - د څه بیمارۍ د پاره د منترۍ یا غوه بښه خوړل او دغه شان نور که خبرے -

د بعضو لویو لویو ګناهونو بیان چه ډیره سختي ئې راغلې ده

د خدائے سره شرک کول - ناحق قتل - هغه ښځې چه اولاده ئې نه وي د بلے ښځې د پۍ کیدو په وخت کښې دا ئے تعویذ کول چه د ډیچے مړشي او ځما اوشي دا هم په قتل کښې شامل دے - مور پلار ازاره ول - زنا کول د یتیمانو مال خوړل - جینکو له په میراث کښې حصه نه ورکول - په چا ښځه په معمولي شک با ندې د زنا تهمت لږه ول - ظلم کول - د غائب بدي بیانول - د خدائے د رحمت نه نا امیده کیدل - وعده پوره کول په امانتونو کښې خیانت کول - د خدائے پاک فرض مثلاً مونځ روژه حج زکوٰة کښې څه پریښودل - قرآن شریف اولولي ادبیائے هیرکړی - دروغ ویل - په دروغه قسم خوړل - د خدائے نه سوا د بل چا قسم خوړل یا داسے قسم خوړل چه د مرګ په وخت م د کلمه نصیب نه شي - ایمان م دے نصیب نه شي - د خدائے نه سوا بل چاته سجده کول - بلا عذره مونځ قضا کول - چا مسلمان ته کافر یا بے ایمان یا خدائے دهلے یا د خدائے دشمن ویل - غلا کول - سود کول - د غلے په ګران خوشحالیدل - قیمت اغستل او دروستو ئے په زور سره کمول - د غیر محرم سره یوائے کینا ستل - جواري کول - تاش وغیره هم یو قسم جواري ده - د کافرانو رسمونه خوښول - خوراک ته بدرد ویل - ناچ ته کتل - سرود باجا اوریدل - سره د قدرت نه نصیحت نه کول - په چا پورے مسخرے کول او بے عزته او شرمنده کول ئے - عیب لټول -

په ګناهونو سره د دنیا د بعضے نقصانونو بیان

د علم نه محروم کیدل - د رزق کمیدل - د خدائے د یاد نه ویره کول - د خلقو نه ویریدل خاص کر د نیکو خلقو نه - په اکثرو کارونو کښې مشکلات پریوتل په زړه کښې صفائي نه راتلل د زړه کمزوري او بعض وخت د ټول بدن کمزوري - د عبادت نه محرومي - عمر کمیدل - د توبے توفیق نه پاتے کیدل - په لږ ورځو کښې د ګناه بد والے د زړه نه وتل - د الله تعالیٰ په نزد ذلیله کیدل - نور مخلوق ته د ده نقصان رسیدل په دے وجه په ده لعنت کول - په عقل کښې نقصان راتلل - د رسول الله صلے الله علیه وسلم د طرفنه په ده لعنت کیدل - د فرښتو د دعا نه محروم پاتے کیدل - په پیداوار کښې کمے کیدل - شرم او غیرت تے وتل - نعمتونه تے کیدل - د هر طرفنه بے

له کورے نه مراد جائز پیشه ده ۱۲ که د ښځ وجه ئې دا ده چه دا حنډ والي رسمونه دي او بل دا خلقو د واده ضروریات ګڼړلي دي او دا په شریعت کښې اضافه ده ۱۲ سه تنخو پورے چه په زنا باندے شرعي دلیل قائم نه شي تر هغے پورے چا باندے د زنا تهمت نه لږه وي او کښې ضرورت پیښ شي نو چرته د یو دیندار عالم نه په دے باره کښې کان پوهه کوي چه بے وجه ګ

بلاګانے راتلل - دَشیطانانو پهٔ مقرر کیدل - دَزړه خفګان - دَمرګ په وخت کښے کلمه دَخولے نهٔ وتل دَخدائے دَرحمت نهٔ مایوسه کیدل - او بغیر توبے مړکیدل -

په عبادت سره دَ بعضے دنیاوی فائدو بیان

رزق زیاتیدل - دَ هر قسم برکتونهٔ نازلیدل - تکلیف او پریشانی لرے کیدل - مرادونهٔ پوره کیدل - ژوند دَمزه کیدل - باران کیدل - هر قسم بلاګانے لرے کیدل - دَ الله تعالیٰ مهربانی او مدد راتلل دَفرښتو ورله زړهٔ مضبوطول - عزت موندل - مرتبه اوچتیدل - دَخلقو په زړهٔ ونوکښے ئے محبت راتلل قرآن دَدهٔ په حق کښے شفا کیدل - دَمال په نقصان ورته خهٔ بدله ملاویدل - ورځ په ورځ ئے په نعمت کښے ترقی راتلل مال زیاتیدل - په زړهٔ کښے راحت او تسلّی راتلل - په راتلونکی نسل کښے نفع ورته رسیدل - غیبی بشارتونهٔ نصیب کیدل دَمرګ په وخت کښے دَفرښتو خوشخبری ورکول مبارکبادی ویل - عمر زیاتیدل - دَلوږے او مُفلسئ نه بچ کیدل په برخیز کښے ئے ډیر برکت راتلل - دَ الله تعالیٰ غصه ترے لرے کیدل -

دَ اَوْدَس بَیَان

اودس کونکی له پکار دی چه دَ اودس کولو په وخت کښے قبلے ته مخ کړی په اُوچت ځائے کینی چه دَاوبو دارے دهٔ ته نهٔ رَسی - او بسم الله او دوائی اول دَرے دَرے پیرے ترمړوندو نو پورے لاسونهٔ او وینځی بیا دَرے دَرے پیرے خوله او وینځی او مسواک او کړی که مسواک نهٔ وی نو په کپړه یا ګوته دَ غابونهٔ خه او مږی - او که روژه دار نهٔ وی نو غرغره دے او کړی چه تولے خولے ته اُوبه اورسی - په روژه کښے به غرغره نهٔ کوی - بیا دے دَرے پیرے پوزے ته اُوبه واچوی او په کینړلاس دے پوزه پاک کړی - بیا دے دَرے پیرے مخ او وینځی دَتندی دَ ویښتو نه دَ زنے دَلاندے پورے او دَیو غوږ دَ پوزه کئی نهٔ تر بل غوږه دَ پوزه کئی پورے ټول مخ ته دِ اوبه اورسوی - چه یو ځائے اوچ پاتے نهٔ شی - بیا دے دَرے پیرے ښئ لاس دَخنګلے سره بیا دَرے پیرے کینړلاس دَخنګلے سره او وینځی - او که دواړو لاسونو ګوتے دے په یو بل کښے واچوی خلال دے او کړی - ګوته بګړی هر څهٔ چه ئے پلاس وی او ئے خوزه وی چه لاندے ترے اوبه لاړے شی - بیا دے یو پیره دَ ټول سر مسح او کړی - بیا دِ دَ غوږونو مسح او کړی په مسواکئ ګوته دننه غوږ او په غټه باهر طرف - بیا دَ ګوتو په شا دِ دَ څټ مسح او کړی - لیکن دَ مرئ مسح دِ نهٔ کوی دا منع دی - دَغوږ کونو دَمسح دَپاره دَ تازه او بو اغستل ضروری نهٔ دی - دَ سر دَ مسح نه چه پاتے ګوتے دی کافی دی - او بیا ښئ خپه دَ پړکی سره او بیا کینړه خپه دَ پړکی سره دَرے پیرے او وینځی - دَکینړ لاس په کچه ګوته به دَ ښئ خپے دَ کچے ګوتے نه خلال شروع کړی او دَ کینړے خپے په کچه ګوته به ئے ختم کړی - دا دَ اودس پوره طریقه ده - لیکن په دے کښے بعضے خبرے فرض دی په هغے کښے که نښان هم پاتے شی اودس نهٔ کیږی - او بعضے په کښے سنّت دی هغه که پاتے شی نو اودس کیږی خو دَدے په کولو ثواب ملاویږی تاکید ئے راغلے او په قصد ایښودو دے ګناه کیږی - او بعضے داسے دی چه په کولو کښے ئے ثواب

لـه که اودس کولو نه او ل په زړه کښے ئی داسے نیت کول ضروری دی بغیر دَ نیت که اودس او شـه خو ثواب دا وداسـه او نشه ۲

دے او په نه کولو کښے ګناه نشته دا سے ته مستحب وائي۔

مسئله ۱:- په اودس کښے څلور فرض دی۔ یو وار ټول مخ وینځل۔ یو یو وار د څنګلو سره دواړه لاس وینځل یو وار د څلورمے حصے د سر مسح۔ یو وار د پړکو سره دواړه پښے وینځل۔ په دے ځایونو کښے که د ویښته هومره اوچ ځائے پاتے شه اودس نه دے شوے۔

مسئله ۲:- اول د مړوندو نو پورے دواړه لاسونه وینځل او بسم الله ویل او غړغره کول پوزه کښے اوبه اچول مسواک کول د ټول سر مسح کول هر اندام درے درے پیرے وینځل د غوږونو مسح کول د لاسونو او د پښو د ګوتو خلال کول دا ټولے خبرے سنت دی د دینه باقی نورے ټولے خبرے مستحب دی۔

مسئله ۳:- هرکله چه دا څلور اندامونه د کوم وینځل چه فرض دی لامده شی نو اودس او شه که د اودس قصد ئے وی او که نه وی۔ که د لمبلو په وخت کښے په ټول بدن اوبه او درځی یا حوض ته ار تاؤ شی یا باران ته او دریږی او ټول لوند شی نو اودس او وشه البته ثواب د اودس ئے او نه شه۔

مسئله ۴:- سنت طریقه د اودس دغه ده کومه چه مونږ بیان شوه او که چا اُلټه اودس او که اول ئے پښے او وینځلے بیائے مسح او کړه بیائے دواړه لاسونه او بیائے مخ او وینځه یا ئے کږ وږ او کړه نو اودس او شه خو د سنت خلاف دے او د ګناه یره ده په کښے۔ (یعنے چه عادت جوړ کړی)

مسئله ۵:- دغه شان که کینړ لاس او کینړه پښه ئے مخکښے کړل نو د مستحب خلاف دی۔

مسئله ۶:- چه یو اندام او وینځی نو بیا به پسے فوراً وینځی چه دا اول اوچ[1] نه شی۔ که د یو اندام د اوچیدو نه پس ئے بل اندام وینځه نو اودس او شه خو د سنت نه خلاف دے۔

مسئله ۷:- د هر یو اندام د وینځلو په وخت کښے پرے لاس مښل هم سنت دی چه اوچ[2] ځائے په کښے پاتے نه شی ټول اندام ته اوبه اورسی۔

مسئله ۸:- د وخت نه اول اودس کول او د مانځه تیاری کول غوره او مستحب دی۔

مسئله ۹:- ترڅو پورے چه مجبوری نه وی پخپله دے اودس کوی چاته د اوبو اچولو وائی او په اودس کښے د دنیا دی خبرے[3] نه کوی بلکه د هر اندام وینځلو په وخت کښے کلمه او بسم الله وائی۔ او به که هر څومره ډیرے وی خواه که د سیند یا دریاب په غاړه اودس کوی خو اسراف به نه کوی او نه به ډیر کمے کوی او نه به یو اندام د تندوا دونه زیات وینځی او مخ ته به اوبه په تیزه نه غوزاری او نه به پوکی په اوبو کښے کوی۔ خوله او ستر ګے به کلکے نه بنده وی دا ټولے خبرے مکروه او منع دی۔ که ستر ګے ئے کلکے بندے کړے او ذیر موته اوبه او نه رسیدے نو اودس او نه شه۔

مسئله ۱۰:- ګوته بنګړی وغیره که ارت وی لاندے ئے اوبه رسی خو بیائے هم خوځول مستحب دی او که تنګ وو بغیر خوځولو ئے لاندے ئے اوبه نه رسیدے بیائے خوځول واجب دی د منډرے نتکئ وغیره دا حکم دے

مسئله ۱۱:- که د چا په ګوتو کښے اوړه اوچ شو او د ننه تے اوبه نه تلے نو اودس نه کیږی اوړه دے تے لرے کړی او په دے ځائے اوبه او رسوی۔ او که د غسے ئے مونځ او کړه بیائے ورته پته لګیده نو مونځ ئے نه دے شوے بیا به ئے کوی۔

---

[1] یعنی قصداً دا سے کول د سنتو نه خلاف دی او که هوا تیزه وه د ځکه نه او چیدل بیا خیر دے ۱۲ [2] خاص کر په ژمی کښے دا سے کول ضروری دی ځکه چه په دے موسم کښے خشکی زیاته وی ۱۲ [3] یعنی فضول او بے ضروره خبرے دے نه کوی البته که څه ضرورت وی بیا خیر دے ۱۲ تصحیح الاغلاط ۱۲

مسئله ۱۲ :- که په تندی ئې ډَ زر ورقو وغیره تاروننه نښلولی وو او دپاسه ئې پے اوبه هسے اوُ بهَولے چه لرے نه شی نو اودس[1] نه دے شوے - ډا اوُچولی نه به کوی نه لرے کړی او اودس[2] اوکړی -

مسئله ۱۳ :- چه اودس اوکړی نو اِنَّآ اَنْزَلْنَا او وَدا دعا دے او لوَلی -[3]

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنْ عِبَادِکَ الصّٰلِحِیْنَ وَ اجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِیْنَ لَاخَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ۝

اے الله ما د توبه کونکو نه کړے - او ما د ښکلا حونو نه (پاکیدونکو) شکړے او ما د خپلو نیکو بندګانو نه کړے - او ما د هغه خلقو نه کړے چه ربه د وا به چهانسے) یَره نه وی - او نه خفګی به اخرت کښے غمجن کیږی -

مسئله ۱۴ :- د اودداسه نه پس دوه رکعته مونځ[3] ډیر غوره دے تحیة الوضوء ورته وائی په احادیثو کښے ئې ډیر لوئ ثواب بیان شوے دے -

مسئله ۱۵ :- په سهار اوداسه چه ترڅو پورے مات شوے نه وی کَس خومره د ختو نو مونځ چه پے کوی نو کولے شی خو که دوباره اودس کوی نو ډیر ثواب ئې دے -

مسئله ۱۶ :- چه اودس ئې اوکړه او مات شوے نه وی نو چه ترڅو پورے پے څه عبادت اوُ نه کړی بل اودس پے ډپاسه مکروه او منع دے - نو که د غسل په وخت کښے چا اودس اوکړو او مات شوے نه وی او دس پے کوی نو منع دے البته که دوه رکعته قدرے پے کړی وی نو بیا چه پے ډپاسه اودس کوی نو ثواب دے په کښے -

مسئله ۱۷ :- د چالاس یا خپے چاودلی وه او موم وغیره ئې په کښے اچولی وو را وپه لرے کولو کښے ئې ضرر وُه) نو که بغیر د لرے کولو نه پے ډپاسه اوبه بهَوی نو اودس کیږی -

مسئله ۱۸ :- د اودس په وخت کښے پونده ته یا بل ځائے ته اوبه او نه رسیدے او د اوداسه نه پس ورته معلومه شوه چه دا ځائے اوچ پاتے شوے دے نو اودس ئې لوند کړی او به ډے پے اوُ بهَوی خو چه اودس ئې اوچ شوے نه وی -

مسئله ۱۹ :- که په لاس خپه وغیره څه دانه یا بله داسے بیماری وی چه اوبه اچول پے نقصان رَسَوی - نو اوبه دے پے نه اچوی ډ اوداسه په وخت کښے دِ پے لوند لاس را کاږی دیته مسح وائی او که لوند لاس هم نقصان کولو نو هسے دِ پاتے کړی خیر دے -

مسئله ۲۰ :- که په زخم پټئ تړلے وی او پرانستو ئې نقصان کولو یا په پرانستو او تړلو کښے ئې تکلیف وه نو په پټئ دپاسه دِ مسح کوی او که داسے نه وه نو پټئ دِ سپړی او په زخم دِ مسح کوی -

مسئله ۲۱ :- که د ټولے پټئ لاندِ زخم نه وی - نو که پټئ پرانستے شوه او د زخم نه خالی ځائے وینځلے شو او په زخم ئې مسَح کولے شوه نو داسے به کوی او که داسے نشو کیدے نو په ټوله پټئ دِ مسح کوی خیر دے -

مسئله ۲۲ :- چه هډوکے مات شی او په هغے ځائے پلستر وغیره او لړوی د هغے هم دغه حکم دے - چه ترڅو ئې پلستر نه وی لرے کړے دپاسه دِ پے مسح کوی او د رګ وهلو د پټئ هم دغه حکم دے - که په زخم ئې مسح نه شوه کولے نو پټئ به لرے کوی د کپړے په پرده دپاسه به مسح کوی

[1] ئه د ناوے پښے لاسو چه زرورق باداے رنګ پورے کړې چه پټ شي د دے سره اودس شاکیږی [2] ئه په حدیث کښے راغلي چه اودسه پسے خوک چه دا انا انزلنا لولي د صدیقانو نه به وي د کنز العمال [3] ئه خو په دے شرط چه وخت مکروه نه وي ۱۲

بیا به پټۍ تړی او که دا تړل پر استنجا ګران وی نو په پټۍ دپاسه دِ مسح کوی۔

مسئله ۲۳:- د پټۍ او پلستر د پاره غوره داده چه په ټول دے مسح کوی خو که د ټولے نه په زیاته حصه ئے مسح اوکړه هم اوشوه او که په نیمه یا د نیمے نه په کمه وی بیا جائز نه ده۔

مسئله ۲۴:- که پټۍ یا پلستر ارتاؤ شو او لا زخم لا جوړ نه وه نو مسح باقی ده او دِ تړی او مونځ دِ کوی بیا یے مسح ته ضرورت نشته۔ او که زخم جوړ شوے وه او س ئے بیا تړلو ته ضرورت نه وه۔ نو مسح ماته شوه او س به دغه ځائے او وینځی نور او دس ته ضرورت نشته۔

اودس ماتونکو څیزونو بیان

مسئله ۱:- لوئے بول تش بول او هوا چه د شاطرفنه اووځی اودس پے ماتیږی۔ البته که د مخکینے لارے نه هوا اووځی لکه چه په بیمارئ کښے کله داسے کیږی نو په دے سره اودس نه ماتیږی او که د مخے یا د شا طرفنه څه چینجے وغیره اووځی نو هم اودس ماتیږی۔

مسئله ۲:- که د زخم نه چینجے اُووت یا د غوږ نه یا د زخم نه د غوښے ټوکړه اوغورزیده او وینه ترے اونه بهیده نو اودس نه دے مات۔

مسئله ۳:- که چالے ژګی او واهه یا پوزه ماته شوه یا څه ځائے او تکیده او وینه ترے راووته یا د دانے وغیره نه یا د بدن د څه ځائے نه وینه اُووته یا نوَ او وت نو اودس مات شه البته که د زخم د خولے نه اخوا دیخوا خوره نه شوه نو اودس نه ماتیږی۔ او که ستن په څه ځائے کښے لاړه او وینه راأووته خوا اخوا دیخوا خوره نه شوه نو اودس نه دے مات۔ او که لیږه شان هم اخوا دیخوا شوه نو اودس مات شه۔

مسئله ۴:- که چا پوزه سونړکړه او د وینے کلکے ټکړے په کښے ارتاوے شوے نو اودس نه دے مات اودس به هله ماتیږی چه نرمه وینه اووځی۔ او اوُبهیږی۔ نو که چا په پوزه کښے ګوته د ننه کړه او د ګوتے په سر پورے معمولی وینه وه چه د بهیدو نه وه نو اودس پے نه ماتیږی۔

مسئله ۵:- د چا په سترګه کښے دننه دانه وغیره وه هغه ماته شوه۔ یا ده پخپله ماته کړه او اُوبه ترے دومره او بهیدے چه په سترګه کښے دننه خورے شوے با هرته را اونه وتے نو اودس ئے نه دے مات۔ او که د سترګے نه با هر را اووتے نو اودس ئے مات شه۔ دغه شان که په غوږ کښے دننه دانه وه او ماته شوه نو ترڅو چه وینه یا نوَ بهر هغه ځائے ته نه وی راوتے د کوم ځائے وینځل چه په غسل کښے فرض دی اودس نه ماتیږی۔

مسئله ۶:- چا د خپلے دانے یا زخم د پاسه پوستکے اوشوکاوه۔ او لا نیِ ترے وینه یا نوَ بنکاره شو لیکن پخپل ځائے وو اخوا دیخوا اُونه بهیدل نو اودس نه دے مات او که او بهیدل د خپل ځائے نه نو بیا اودس مات شو۔

مسئله ۷:- په دانه کښے چوړ سورے شوے وه نو ترڅو چه وینه او نوَ د هغے سوری نه با هر نو بدن ته نه وی بهیدلی اودس نه ماتیږی۔

مسئله ۸:- که وینه یا نوَ پخپله نه وی راوتلی خو ده په زور سره راویستلی وی نو چه

او بهیږي اودس مات شه

مسئله ۹:- د چا د زخم نه لږه وینه را اووته او دوه پې خاورې وا چولې یائې په کپړه اوچه کړه بیا نوره را اووته بیائې هغه دغه سې اوچه کړه څو پیرې ئې داسې اوکړه نو اودس دې دې فکر اوکړي که ده پرېښودې وې نو بهیدلې به وې نو اودس ئې مات شه او که نه شو بهیدې نو بیائې اودس نه دې مات شوې -

مسئله ۱۰:- چا لاړې توکړې نو وینه په کښې معلومه شوه نو که لاړې پرې غالبې وې د وینې کمه وه نو اودس نه دې مات او که وینه غالبه وه لاړې کمې وې نو مات دې -

مسئله ۱۱:- که په غاښونو ئې څه شې پرې کړه او په هغې شي د وینې داغ معلوم شه یائې غاښونه خلال کړه او په خلال د وینې سرخي ښکاره شوه لیکن په لاړو کښې بالکل وینه نه وه اودس نه دې مات -

مسئله ۱۲:- چا جوړه اولږوله او هغې دومره وینه راخکوده چه که په مینځ ئې پرې کړي نو وینه به اوبهیږي نو اودس مات شو او که د بهیدو نه وه نو نه ماتیږي که ماشي یا مچ یا منګږ وینه اوسکله نو هم پې اودس نه ماتیږي -

مسئله ۱۳:- د چا په غوږ کښې درد دې او په تې بهیږي نو که اوبه پلیتې دي اګر که دانه وغیره معلومه نه وي - نو اودس پې ماتیږي هر کله چه هغه ځائې تر اوځي چه وینځلې ئې په غسل کښې فرض دي - دغه شان که د نامه نه اوبه اوځي او درد هم کوي نو اودس پې ماتیږي - دغه شان که سترګې خوږې وې نو په اوبو اوښکو بهیدو سره اودس ماتیږي او که خوږې نه وي او په کښې درد وغیره وي نو په اوښکو د تلو سره اودس نه ماتیږي -

مسئله ۱۴:- که د سینې نه اوبه اوځي او درد هم وي نو دغه اوبه پلیتې دي اودس پې ماتیږي او که درد نه وي نو پاکې دي اودس پې هم نه ماتیږي -

مسئله ۱۵:- که قے اوشه او غله یا اوبه یا ترخي په کښې اوغورځیږي نو که په ډکه خوله وه نو اودس مات شه او که په ډکه خوله نه وه نو اودس نه ماتیږي د ډکې خولې نه مطلب دا دې چه دومره وي چه په مشکله په خوله کښې حصار یدې شي - او که خالص بلغم وه بیا هر څومره چه وي اودس پې نه ماتیږي - او که کلک ټکړې ټکړې وه او په ډکه خوله وه اودس مات شه او که کم وه نو نه ماتیږي -

مسئله ۱۶:- که لږ لږ قې ډیر واره اوشه او په یو وار زړه جوشید وسره وه نو چه ټول جمع کړې د ډکې خولې د قي هومره برابریږي نو اودس پې مات شه - او که لږ لږ قې ډیر واره اوشه خو یو وار قې چه اوشه نو زړه جوشیدل ئې بند شو - بیا دوباره ورته زړه اوجوشید بیا قې اوشه بیائې زړه خه شه مطلب دا دې چه هر وار قې په ځانله ځانله زړه جوشید وسره وه نو دا ټول شي جمع کولے اودس پې نه ماتیږي -

---

ع مطلب دا دې چه د مرض په وجه د سترګې نه اوبه ځي نو اودس پې ماتیږي - او که خوږ نه وي د نزلې په وجه وي نو نه ماتیږي دا مشهور قول دې البته تحقیق دا دې چه که اوبه د سترګې نه د زخم په وجه تلې او زخم ظاهر نه ښکاریده خو د مسلمان طبیب په کتو سره معلوم شو یا ظاهر ښکاریده نو په دغې اوبو د تلو سره اودس مات شه ورنه نه ۱۲ عسه دا حکم د ښځو دې سپې چه په سینه کښې اوده شي او سینه ئې داسې وي لکه سړه چه کوي اودس ئې نه ماتیږي ۱۲

مسئله ۱۷:- په ملاستے اُوده شه یائے څه شی ته ډډه وهلے وه او ده شه نو اودس ئے مات شه - او که په مانځه کښے په ولاړے یا په ناستے اوده شه نو اودس نه ماتیږی - او که په سجده کښے اوده شی نو اودس مات شه -

مسئله ۱۸:- که د مانځه نه باهر یا هم په ناستے داسے اوده شه چه څه شی ته ئے ډډه نوی وهلے نو اودس نه ماتیږی -

مسئله ۱۹:- په ناستے خوب او ژنګاوه وغورزیده او سمدستی راویښ شو نو اودس ئے نه ماتیږی - او که ورغورزیدو نه پس بیدار شه نو اودس مات شه - او که په ناستے ئے تالۍ وهلے نو نه ماتیږی -

مسئله ۲۰:- که بے هوشه شی یا لیونے شه نو اودس ئے مات شه اګر که د لږ ساعت دپاره وی دغه شان که څه دسے نشه ئے او کړه چه سم بیا نه شه تلے قدمونه ئے کږه وږه کیدل یا ړنګیدل نو اودس ئے مات شه -

مسئله ۲۱:- که په مانځه کښے ئے دومره په زوره اوخندل چه کاونډی ئے آواز واوریده نو مونځ او اودس ئے دواړه مات شو - او که چپله ئے آواز خپل واوریده او کاونډیانو ئے آواز وا نه وریده نو مونځ ئے مات شه اودس ئے نه ماتیږی - او که صرف غاښونه ئے ښکاره شو آواز ئے او نه وتلو نو نه ئے اودس مات دے نه ئے مونځ - البته که نابالغ وي یا د تلاوت په سجده کښے بالغ اوخندل په زوره سره نو اودس ئے نه ماتیږی البته مونځ د نابالغ او سجده د بالغ مات شو

مسئله ۲۲:- د مخ د لارینه چه اوبه اوځی د سړی د لاس وروړه سره یا هسے په خیال را تلو سره نو په دے اودس ماتیږی - او دا اوبه چه د شوق په وخت کښے اوځی دیته مذی وائی -

مسئله ۲۳ د بیمارۍ په وجه چه کومے خټیځ چینے او به د مخ طرفه اوځی نو احتیاط په دے کښے دے چه دغه پلیتے دی او دس پرے ماتیږی -

مسئله ۲۴:- د تشو بولو یا مذۍ قطره د سوری نه باهر راغله لیکن د بهرنۍ پردے نه لا نده را وتلے بیا هم اودس مات شه - د اودس ماتیدو دپاره د څرمنی نه باهر راوتل ضروری نه دی -

مسئله ۲۵:- د سړی د تشو بولو د ځائے سره چه د ښځے د تشو بولو ځائے اولږی او څه پرده د کپړے وغیره په مینځ کښے نه وی نو اودس مات شه - دغه شان که دوه ښځے خپل د تشو بولو ځایونه او جنګوی نو هم اودس ماتیږی - لیکن دا کار ډیر ګناه او ناکاره دے - په دواړو صورتونو کښے که څه اوځی او که نه یو حکم دے -

مسئله ۲۶:- د اودس نه پس ئے نوکونه پرے کړه یا ئے د زخم نه مرداره څرمن اوشوکوله نو اودس نه ماتیږی او نه د دغه ځائے لوندو ولو څه حاجت شته -

مسئله ۲۷:- د اودس نه پس ئے څوک بے پردے اولیده یا ئے خپله پرده ښکاره شوه یائے په لغړه او لبل او په لغړه ئے اودس او که نو اودس ئے تهیک دے بیا د اودس دوباره کولو ضرورت نشته البته بغیر ناچارئے چا ته بے پردے کتل یا خپله پرده ښکاره کول د ګناه خبره ده -

مسئله ۲۸:- په کوم څیز وتلو سره چه اودس ماتیږی هغه پلیت وی او په کوم چه نه ماتیږی

هغه پلیت هم نه وی نوکه لنده وینه اووته چه د زخم نه خوره نه شوه یا لنده دُشه چه په ډکه خوله نه وه نو دا پلیت نه دے اګرکه غله زیږے او به تروے اوبه د وینے قطرے ښکنے وی چه که په کپړه یا بدن یا ئیا اولږی نو نه پلیتیږی - اوکه تے د ډکے خولے وه یا وینه د زخم نه او بهیده نو پلیت دی وینځل ئے واجب دی - اوکه په ډکه خوله قے ئے اوکړه او د لوټے یا بل لوښی نه ئے د خولے کنګالولو د پاره په خوله لنده د لو سره اوبه را واخستے نو هغه لوښے پلیت شه -

مسئله ۲۹ :- ورکوټے بچے چه پئ قے کوی د هغے هم دغه حکم دے چه که په ډکه خوله نه وی نو پلیت نه دے اوکه په ډکه خوله وه نو بیا پلیت دے -

مسئله ۳۰ :- اودس کول ئے یاد دی خو د اودس ماتیدل ئے بنه یاد نه دی چه مات شوے دے اوکه نه دے نو اودس ئے باقی دے مونځ پرے کیږی خو اودس کول ورله غوره دی -

مسئله ۳۱ :- که د چا په اودس کولو کښے شک وه چه فلانے اندام ئے وینځلے دے اوکه نه دے نو هغه اندام بیا وینځل پکار دی - اوکه د اودس کولو نه وروستو ئے شک راغے نو هغه اودس ئے شوے دے شک د نه کوی - البته که په یقین ورته معلومه شی نو یقین موافق عمل دے اوکړی -

مسئله ۳۲ :- بے اودسه قرآن له لاس وروړل جائز نه دی البته که د داسے کپړے سره لاس وروړی چه د بدن نه جدا وی نو جائز دی - د د وپټے یا کمیص پلنّ چه اغوستے وی قرآن نشی نیولے - البته که ویستلی وی نو بیا جائز دی - او زبانی لوستے ئے جائز دی چه لاس نه ورُوړی او قرآن شریف بیرته پروت وی - دغه شان بے اودسه هغه تعویذ او لوښے چه قرآن شریف په کښے لیک وی په لاس کښے اغستل نه دی جائز - خهٔ ځان پوهه کړے ئ -

د معذور د احکامو بیان

مسئله ۱ :- که د چا چه داسے پوزه ماته شی چه په هیڅ شان نه اودریږی - یا داسے زخم دے چه په هغه بهیږی یو ساعت ئے بهیدل نه اودریږی - یا د تشو بولو بیماری ده چه هر وخت تے تکے څاڅی نو داسے سړی ته معذور وائی - د دهٔ حکم دا دے چه د هر یو مانځه وخت له دے اودس کوی تر څو پورے چه د هغے مانځه وخت باقی وی د دهٔ اودس باقی دے - البته کومه بیماری چه په دهٔ د هغے نه علاوه بله داسے څه خبره اوشوه چه اودس پرے ماتیږی نو بیا ئے اودس مات شه - مثال ئے دا دے چه د یو سړی پوزه ماته شوے وه او بیا نه اودریده او ده د ماسپخین د مانځه د پاره اودس اوکړه نو تر څو چه د ماسپخین وخت وی د دهٔ اودس د دغے پوزے د وینے په راوتو نه ماتیږی البته که تش بول یا لوئے بول ئے اوکړه یا ئے څه ځائے زخمی شه وینه تے لاړه نو په دے سره ئے اودس مات شه - او چه دا نه وی نو چه کله د مانځه وخت تیر شی نو د دهٔ اودس به مات شی د بل وخت د مانځه د پاره به نوے اودس کوی - او په دغے اودسه چه څومره فرض سنت نفل وغیره مونځونه کوی نو کولے شی -

مسئله ۲ :- چه د سحر مانځه له ئے اودس اوکه نو د نمرختو نه پس په دے اودسه مونځ

نه شي کولے بیا اودس به کوي۔ او چه د نمونځ خته نه پس ئے اودس اوکړو نو د ماسپخین مونځ په کولے شي د ماسپخین بیا اودس ته ضرورت نشته۔ چه د ماز یګر وخت راشي نو نوے اودس به اوکړي البته که په څه بله وجه مات شه نو هغه جدا خبره ده۔

مسئله ۳:- په یو سړي زخم وه هر وخت به بهیدو نو ده اودس اوکړو او بیا زخم پیدا شه وینه ترے اوبهیده نو اودس ئے مات شه۔ بیا به اودس کوي۔

مسئله ۴:- یو سړے هله معذور ګڼړلے شي او دا حکم په هغه وئیلے شي چه پوره د یو مانځه وخت په داسے تیر شي چه وینه برابر بهیدي او دومره وخت ورته نه ملاویږي چه د دغ وخت مونځ په پاکئ سره اوکړي۔ که دومره وخت ورته ملاویده چه په پاکئ سره ئے د وخت مونځ په کښے کولے شه نو بیا معذور نه دے۔ دا حکم په نه شي لږیدے۔ او که دومره وخت ئے نه مونده چه په پاکئ سره په کښے مونځ اوکړي نو بیا دے معذور دے۔ اودس ئے دغه حکم دے چه بره تیر شه چه د هر وخت د مانځه د پاره به نوے اودس کوي۔ او چه بل وخت راشي بیا به اودس کوي اوس د دغه د پاره دا شرط نه دی چه په بل وخت کښے د هم هر لیسے وینه روانه وي که د څه ساعت د پاره بندیده نو هم خیر دے دے معذور ګڼړلے شوے دے۔ البته که د وینه پس په پوره وخت د مانځه داسے تیر شه چه وینه لا نه ره نو اوس بیا دے معذور نه دے څو پورے چه وینه وتله اودس به نوے کوي۔

مسئله ۵:- د ماسپخین څه وخت تیر شوے وه چه د زخم وغیره نه وینه شروع شوه نو د اخیر وخته پورے به انتظار اوکړي که بنده شوه نو ښه شوه۔ او که بنده نه شوه نو اودس به اوکړي او مونځ به اوکړي۔ او د ماز یګر[۱] مانځه له به نوے اودس اوکړي او اوس که د ماز یګر وخت په تول دغه شان تیر شه چه د مانځه کولو مهلت ورته ملاؤ نه شو۔ نو اوس به په د معذور حکم لږه وئیلے شي۔ او که د ماز یګر په وخت کښے د ننه بنده شوه نو بیا دے معذور نه دے څومره مونځونه چه ئے په دغه وخت کښے کړي دي هغه به بیا اوکړي[۲]۔

مسئله ۶:- داسے معذور د لویو بولو یا د ړوبولو په وجه سره اودس اوکړو او دغه وخت ئے وینه بنده وه۔ نو د اودسه نه پس وینه راغله نو د دے وینے په وتو سره اودس مات شه۔ البته کوم اودس چه ئے د بولو پورے ما تیدو وغیره په وجه کړے دے خاص هغه ئے په دغه وینه نه ماتیږي۔

مسئله ۷:- که دا وینه په کپړه وغیره اولږي نو که داسے وه چه د مانځه ختمیدو نه اول بیا هم لږیده نو وینځل ئے واجب نه دي۔ او که دوباره د لږیدو امکان ئے نه وه نو وینځل ئے واجب دي۔ که د یوے روپئ نه زیاته وه نو بے وینځلو مونځ نه کیږي۔

---

[۱] د ماز یګر مونځ به هم د وخت مکروه پورے ورستے کوي نو که د دغ وخته پورے وینه بنده نه شوه نو اودس دے اوکړي او مونځ دے اوکړي۔ او که وینه بنده شوه نو اګر که دغه وخت مکروه وي خو دے معذور دے کوم مونځ چه ئے د وخت کړے دے بیا به ئے کوي ۱۲ [۲] البته که نفلو یا سنتو راګرزه ول نه نشته ۱۲

دَ غسل بیان

مسئله ۱:- غسل کونکی له پکار دی چه اول په زړه کښې دَ غسل اراده اوکړی بیا دِ واړه لاسونه دَ مړوندو نو پورې - بیا دَ استنجا ځائے او وینځی - بیا که په بدن پورې پلیتی دی هغه دِ اووینځی بیا دِ اودس اوکړی - که اودداسه نه پس دِ دښے پیړے په سر اوبه واچوی - بیا دِ دے پیړے په بنځ او که بیا دے پیړے په کښته او که داسې چه په ټول بدن اوبه اوبهیږی - بیا دِ دَ دغه ځائے نه لږ شان پاک ځائے ته اوخیږی او دِ وینځی - که اودداسه سره ئے خپې وینځلې وې نو اودس حاجت نشته -

مسئله ۲:- اوّل دِ په ټول بدن لاسونه اوګرځی بیا دِ په اوبه واچوی چه اوچ ځائے پاتے نه شی -

مسئله ۳:- دَ غسل دا طریقه چه بیان شوه سنّت ده - بعضے پاڼې کښې فرض دی چه بغیر دَ هغې نه غسل نه کیږی ۔ او بعض سنّت دی دَ هغې په کولو ثواب کیږی ۔ او که اونه کړی نو هم غسل کیږی - فرض صرف درے دی - دَ خولے غرغره کول چه ټوله خوله پاکه شی - دَ پوزې دننه نرمے غوښے ته اوبه رسول - په ټول بدن اوبه اچول - داسې چه ټول بدن ته اورسی -

مسئله ۴:- دَ غسل په وخت کښې په قبلے به نه مخ کوی - او به به ډیرے نه اچوی او نه ډیرے کمے - او داسې ځائے به غسل نه کوی چه څوک ئے اووینی - او خبرې به نه کوی - او دَ غسل نه پس به په څټ کپړے ځان اوچ کړی او په ځان پټولو کښې به تلوار کوی - یعنی جامے به زر اغوندی -

مسئله ۵:- که داسې ځائے وی چه څوک ئے نه وینی نو که بربنډ غسل کوی خیر دے - که په ولاړه غسل کوی او که په ناسته - که دَ غسل خانے چت وی او که نه وی خو په ناسته غسل غوره دے - او ښځے له دَ نامه نه لاندې تر زنګونه نو پورے بلے ښځے ته هم ځان ښکاره کول ګناه ده اکثر ښځې دَ نورو ښځو نه پرده نه کوی دا ډیره ناکاره او دَ بے عزتۍ خبره ده -

مسئله ۶:- چه په ټول بدن اوبه اوبهیږی او پوزه خوله او وینځی نو غسل ئے اوشه که دَ غسل اراده ئے کړې وی او که نه - نو که باران ته دَ ځان یخولو دَ پاره او دریاب یا حوض ته اوغورزیده او ټول بدن ئے لوند شه او خولے او پوزی ته ئے اوبه واچولے نو غسل ئے اوشه - (خو بغیر دَ نیت نه ئے ثواب دَ غسل اونه شه) او دغه شان دَ غسل په وخت کښې کلمه لوستل یا په علمه اوبه دمول هم ضروری نه دی بلکه دَ غسل په وخت کښې کلمه یا بل څه دُعا نه لوستل غوره دی -

مسئله ۷:- که په ټول بدن کښې دَ ویښته هومره ځائے اوچ پاتے شه نو هم غسل نه دے شوے - دغه شان که خولے یا پوزی ته ئے اوبه اچول هیر شو نو هم غسل اونه شه -

مسئله ۸:- که دَ غسل نه پس ئے یاد شو چه فلانے ځائے اوچ پاتے شوے دے نو بیا دِ غسل واجب نه دے بلکه هغه ځائے به او وینځی صرف لوند لاس ورپسې کافی نه دی بلکه اوبه ورته ور پکار دی - او که خوله ئے هیره شوے وه نو خوله به او وینځی او که پوزه وه نو پوزه به او وینځی -

مسئله ۹:- که دَ څه بیمارئ په وجه ئے په سر اوبه نه شوے اچولے نقصان ئے کاوه نو چه سر پاتے کړی او نور بدن او وینځی نو هم غسل اوشه - او چه جوړ شی نو سر به او وینځی نو د غسل حاجت نشته

مسئله ۱۰:- د تشو بولو د خائے د بهرنۍ څرمنې نه دننه اوبه رسول په غسل کښې فرض دي که اوبه اونه رسیدے نو غسل نه دے شوے دغه حکم د ناسنته سړي هم دے که په څرمنئ کښې کولو کښې تکلیف وه۔

مسئله ۱۱:- که د سر ویښته اودلی شوي نه وو نو ټول ویښته لمده دل او ویخو نو ټولو ته اوبه رسول فرض دي او که اودلی شوي وو نو ویښته لمده ول معاف دي البته ویخو نو ته اوبه رسول فرض دي که یو ویښته یا د یو ویښته ویخ اوچ پاتے شه نو غسل نه دے شوے او که بغیر د سپړه دوشئ ویخو نه نه لمدیده نو سپړی به ئے ویښته او ویخو نه به ئے لمده وي۔

مسئله ۱۲:- تنکۍ والۍ کوته بنګړی وغیره په خه خوزه وي چه لاندے سوروته اوبه اورسي که بالۍ وغیره نه وے نو هم به کوشش کوي چه دننه سوروته اوبه اورسي۔ هسے نه چه او به ځه ځائے ته اونه رسي او غسل ئے اونه شي۔

مسئله ۱۳:- که په نوکو نوکښے اوړه اولږیده اوچ شو او لاندې ئے اوبه اونه رسیدے نو غسل اونه شو۔ چه یاد ئے شي نو اوړه دې لرے کړي او په ډیرې واچوي او که د اوبو اچولو نه اول ئے مونځ په کړے وي نو هغه ډیا اوکړي

مسئله ۱۴:- لاس خپه چاودلی وو او موم وغیره ئے په کښے اچولی وو نو د پاسه اوبه بهول کافي دي۔

مسئله ۱۵:- په غوږ او نوم کښے د هم خیال کوي چه اوبه اورسي ورنه غسل نه کیږي۔

مسئله ۱۶:- که د غسل په وخت کښے ئے خوله ونځل هیرشو لیکن په ډک خوله ئے اوبه او څکلے چه ټوله خوله ته اوبه اورسیدے نو هم غسل اوشه که خوله کنګال کړي او که نه۔ لیکن که داسے ئے اوبه او څکلے چه ټوله خوله لمده نه شوه نو بیا په خوله کنګالوي۔

مسئله ۱۷:- که په ویښتو یا بدن ئے تیل لږه دلی وي چه اوبه پرے نه ځصاریږي هسے پرے رغړي نو خیر دے غسل ئے کیږي۔ چه په سر او ټول بدن اوبه اورغړه وي۔

مسئله ۱۸:- که په غاښونو کښے ئے داسے څه شے نختلے وه چه د هغې په وجه د غاښونو مینځ ته اوبه نه رسیدے نو په خلال به ئے دغه څیز لرے کړي د دغې سره غسل نه کیږي۔

مسئله ۱۹:- په تندي ئے افشان څه تیک رنګ وغیره یا په ویښتو کښے کوند وغیره داسے څه لږه دلی وو چه ویښته سم نه لوند یده یا د رنګ نه لاندے څرمن اوچه پاتے کیده نو غسل نه کیږي۔

مسئله ۲۰:- که په غاښونو ئے لپ ستک لږه دلی وو نو غسل ورسره نه کیږي لرے کوي به ئے۔

مسئله ۲۱:- که د چا ستر ګے خوږے وے او چیپنے ئے راوتې وے او په څه ځائے پورے اوچے شوے وي داسے چه لاندے ئے اوبه نه رسي نو هغه چیپنے به لرے کوي ورنه غسل نه کیږي۔

په کومو څیزونو چه غسل واجبیږي د هغې بیان

مسئله:- په خواب کښے یا په ویښه چه په جوش سره د مني اوبه اووځي نو غسل واجب شه که تش په خیال نا تلو سره وي او که په کوروالی سره په هرحال غسل واجبیږي

مسئله ۲:- که دېڅ شو او په کپړے یا بدن ئے مَنی اولیده نو هم غسل واجب دے که خواب ورته یاد وی او که نه۔

تنبیه:- د ځوانئ په جوش کښے چه کومے اوبه اوّل اوّل اوځي هغې ته مَذی وائی د دے په وتو سره جوش نور هم زیاتیږی کمیږی نه او کومے اوبه چه په شوق او مزه خوند سره اوځي هغې ته مَنی وائی۔ پیژندګلوئے داده چه د مَذی په وتو سره جوش څه زیاتیږی او زړه نه مړیږی او د مَنی په وتو سره جوش سوړ شی او زړه موړ شی او مَنی ټینګه وی او مَذی نرمه۔ د مذی په وتو سره اودس ماتیږی او غسل نه واجبیږی۔

مسئله ۳:- هرکله چه د سړی د تشو بولو د ځائے سَر (یعنی سنّت شوے ځائے) چه د ننه لاړ شی او د غه سر قدرے ئے پټ شی نو هم غسل واجب شه که منی اوځي او که نه۔ که د مخے په لاره کښے وی او که د شا په لاره کښے۔ البته د شا په لاره کښے ډیره لویه ګناه ده۔

مسئله ۴:- کومه وینه چه هره میاشت د مخے د لارے نه د ښځو راوځي هرکله چه داینده شی نو هم غسل واجب دے دے ته حیض وائی۔ او کومه وینه چه د بچی د پیدا کیدو نه پس راځي هغې ته نفاس وائی داچه بنده شی نو هم غسل واجب دے۔ خلاصه داده چه په دے څلور وځیزونو غسل واجبیږی (۱) په جوش سره منی وتل (۲) د سړی د اندام سر د ننه کیدل (۳) حیض (۴) نفاس بندیدل

مسئله ۵:- د دېرے جینئ سره که سړی کوروالے اوکړه چه لا ځوانئ ته نه وه رسیدلے نو په هغې غسل واجب[۱] دے البته د عادت کیدلو د پاره پے غسل کول پکار دی۔

مسئله ۶:- په خواب کښے ئے د سړی سره کوروالے اوکړه او په خوند ئے هم پوهه شوه خو چه را بیداره شوه نو مَنی ئے اونه لیده نو غسل پے نشته البته که مَنی وتلے وه نو غسل پے واجب دے او که بدن یا کپړه ورته لمده ښکاریدو لیکن داپته ورته نه وه چه دا مَنی ده که مَذی هم غسل واجب دے

مسئله ۷:- که لږه منی اوته او غسل ئے اوکړ۔ بیا د لمبلو نه پس نوره منی اوته بیا[۱] به غسل کوی او که د لمبلو نه پس تے د خاوند مَنی[۲] اووته کومه چه په ښځه کښے د ننه وه نو بیا پے غسل نشته۔

مسئله ۸:- د بیمارئ په وجه یا په څه بله وجه جسے د ځان نه منی اووته جوش او خواهش ورسره بالکل نه وه نو غسل پے واجب نه دے البته اودس ئے مات شه۔

مسئله ۹:- ښځه خاوند دواړه یو ځائے ملاست وو۔ چه پاسیدل نو په څادر ئے منی اولیده او په اودو کښے د خواب لیدل نه سړی ته یاد دی نه ښځے ته۔ نو احتیاطاً په دواړو غسل واجب دے ځکه چه معلومه نه ده چه دا د چا مَنی ده۔

مسئله ۱۰:- چه کافر مسلمان شه نو غسل ورله مستحب[۳] دے۔

مسئله ۱۱:- چه مړے او لمبوی نو د لمبونکی له پاره بیا غسل کول مستحب دی۔

مسئله ۱۲:- په چا چه غسل واجب شوے وی هغه که د غسل کولو نه اوّل څه خوړل سکل غواړی

---

[۱] دا حکم هله دے چه د خواب کولو یا تشو بولو کولو یا ځلویخت قدمه د تلو نه اول دامنی اوځی که دے کارونو نه پس وه بیا غسل نشته ۱۲
[۲] چه په څه علامے سره ورته دا خبره معلومه شی چه دا د خاوند مَنی ده ۱۲ او نه بیا پے غسل واجب دی ۱۲ [۳] د مطلق اسلام د پاره غسل مستحب دے خو که څه نورے وجهے وی مثلاً جُنب وه یا حیض نفاس نه پاک شوے وه او غسل ئے نه وه کړے د اسلام نه مخکښے بیا پے غسل واجب دے ۱۲

نو لاس لګول ورته او وینځل ئې غرغره دې او که چرې هیڅ څوک نه وي او که بغیر د دینه څوک هم نه وي نو خیر دے

مسئله ۱۳:- په چا چه غسل واجب شوے وي - هغه له قرآن شریف له لاس وروړل - لوستل او ځُمات ته تلل جائز نه دي - او د الله نوم اخستل کلمه او درود لوستل ورله جائز دي - او دا قسم مسئلے به ان شاء الله تعالیٰ د حیض په باب کښې په تفصیل سره راشي -

مسئله ۱۴:- د تفسیر کتابونه بغیر غسل مسح کول مکروه دي او د ترجمے والا قرآن شریف مسح کول بالکل حرام دي -

په کومو اوبو اودس او غسل جائز دے او په کومو نه دے

مسئله ۱:- د باران په اوبو د ولے لختي خوړ نو او تالابونو چینو او دریابونو په اوبو اودس او غسل جائز دے که خوږے وي او که تروے -

مسئله ۲:- د څه میوے یا ونے یا پانړو نه په څوړ شوي عرق او بانډا اودس کول جائز نه دي - دغه شان د تربوزے نه چه کومے اوبه اوځي یا د ګنې وغیره په رَس اودس نه کیږي - او نه غسل -

مسئله ۳:- په کومو اوبو کښې چه بل شے ملاو شه یا په اوبو کښې څه شے پوخ شه او داسے شوے چه په عام حالت کښې ورته اوس اوبه نه شي ویلے بلکه بل څه نوم ئې شي نو غسل او اودس پرے جائز نه دے لکه شربت شیره شوروا سرکه ګلاب او عرق او ګاؤ زبان وغیره په دے غسل او اودس جائز نه دے

مسئله ۴:- په کومو اوبو کښې چه څه پاک شیز پریوت او د اوبو په رنګ یا خوند یا بوئي کښې څه فرق راغے لیکن هغه شے په اوبو کښې پوخ شوے نه وه او نه د اوبو په نرم والي کښې څه فرق راغلے وه لکه په بهیدونکو اوبو کښې خاورے شګے ملاؤ شي او ډیرے شي یا په کښې زعفران او غورځیږي او بل رنګ په کښې راشي یا پکښې صابون ملاؤ شي یا بل داسے څه شے نو غسل او اودس پرے جائز دے -

مسئله ۵:- که په اوبو کښې ئې څه شے پوخ که نو رنګ یا مزه وغیره ئې بدل شو نو په دغه او بو اودس او غسل جائز نه دے - البته که داسے څه شے پکښې پوخ شه چه خیرے پرے ښه صافي کیداه او اوبه پرے نه ټینګیدے نو اودس پرے جائز دے لکه د مړي لمبولو د پاره د بیرو پانړے په اوبو کښې خوټکوي نو هیڅ باک په کښې نشته البته که ډیرے زیاتے ئې په کښې واچولے چه اوبه ټینګے شوے نو اودس او غسل پرے جائز نه دے -

مسئله ۶:- د کپړے رنګ کولو د پاره ئې زعفران ګول کړه یا پوړیے ګول کړه نو اودس پرے جائز نه دے

مسئله ۷:- که په اوبو کښې پئ واچول شو او د پیو رنګ په اوبو کښې ښه شان سره راغے نو اودس پرے نه کیږي او که پئ په کښې ډیر کم وو چه رنګ ئې په کښې او نه ښه نو اودس پرے جائز دے -

مسئله ۸:- په بیابان کښې ئې څه لږ اوبه بیا مونده نو ترڅو پورے چه د پلیتي یقین پرے نه وي راغلے نو تر هغې پورے په دغے اوبو اودس کوي - داسے د نه واي چه پلیتے به وي د دغے اوبو په موجودګئ کښې تیمم نه کیږي -

مسئله ۹:- په کوهي وغیره کښې د ونے پانړے او غورځیدے شوے او بدبویه شوے او رنګ او خوند ئې هم بدل شو نو هم په دے اودس جائز دے - ترڅو چه په دے اوبو کښې ټینګوالے نه وي راغلے -

مسئله ۱۰: په کومو اوبو کښې چه پلیتي پریوځي نو په هغې اودس او غسل هیڅ جائز نه دی. خواه که پلیتي ښکاره دی که چېره او که روانې اوبه وی نو هغه په پلیتئ غورځېدو سره نه پلیتیږي تر څو چه په رنګ یا بوئ یا خوند کښې ئې فرق رانه شي۔ او چه د روانو اوبو رنګ یا بوئ یا خوند د پلیتئ په وجه بدل شي نو بهېدونکې اوبه هم پلیتې شوې۔ کومې اوبه چه واخله یا پانړې اوړي نو هغه بهېدونکې دی خواه که هرڅو مره رو رو روانې وی۔

مسئله ۱۱: لوئې حوض چه لس لاسه پلن او لس لاسه اوږد وي او دومره ژور وي چه په لپه ئې اوبه راخلې نو زمکه ئې نه ښکاره کیږي دا هم د بهېدونکو اوبو په مثال دے داسې حوض ته لس په لس وائي که دے حوض ته داسې پلیتي پریوځي چه بیا نه ښکاري لکه تشې بول شراب وینه وغیره (حکم چه داغیز ونه په اوبو کښې حل شي بیا نه ښکاري) نو د څلورو واړو طرفو نو ئې اودس جائز دے هر طرفته چه غواړي اودس کولے شي۔ او که داسې پلیتي ورته پریوته چه ښکاریده لکه مړ سپے نو کوم طرفته چه هغه پروت وي هغې طرفته د اودس نه کوي بل هر طرفته چه غواړي اودس کولے شي۔ البته که دومره لوئې حوض ته دومره پلیتي پریوته چه رنګ یا خوند یا بوئ ئې بدل شو نو بیا پلیتې شوې۔

مسئله ۱۲: که شل لاسه اوږد او پنځه لاسه پلن یا پنځویشت لاسه اوږد او څلور لاسه پلن وي هغه حوض هم د لس په لس په مثل دے۔

مسئله ۱۳: په چت پلیتي پرته وه او باران اوشه پرنالې او بهېده نو که نیم یا د نیم نه زیات چت پلیت وه نو هغه اوبه پلیتې دي او که د نیم نه کم پلیت وه نو پاکې دي۔ او که پلیتي د پرنالې په خوا کښې وه چه اوبه راتلې نو ټولې به د هغې سره لږېدې نو دغه اوبه بیا پلیتې دي۔

مسئله ۱۴: که اوبه رو رو بهېدې نو په اودس کښې دې تلوار نه کوي چه مستعملې اوبه ئې بیا پلاس نه راځي۔

مسئله ۱۵: د لس په لس حوض نه که ئې هغه مستعملې اوبه بیا په لاس کښې راځي خیر دے۔

مسئله ۱۶: که چا کافر یا بچي لاس په اوبو کښې او منډلو نو اوبه نه پلیتیږي۔ البته که دا معلومه شوه چه په لاس پورې ئې پلیتي وه نو پلیتې به شي۔ لیکن په ور دېچو څه اعتبار نشته نو که نورې اوبه موندې شوې په دغې اوبو دې اودس نه کوي۔

مسئله ۱۷: په اوبو کښې چه داسې جاندار شے مړ شي چه بهېدونکې وینه کښې نه وي یا بهر مړ شي او بیا اوبو ته ارتاوشي نو اوبه نه پلیتیږي لکه ماشے مچ مچئ لړم وغیره

مسئله ۱۸: د کوم شي پیدائش چه په اوبو کښې وی او همیشه په اوبو کښې اوسي د هغه په مرګ سره اوبه نه خرابیږي پاکې وي لکه مهي چندخ شمشتئ وغیره او که د اوبو نه علاوه په بل څه کښې مړ شي لکه سرکه، شیره پئ وغیره نو هغه هم پلیت نه دی۔ او د اوچې د چیندخ او د اوبو د چیندخ یو حکم دے یعنې د یو په مرګ هم اوبه نه پلیتیږي۔ لیکن د اوچې په چندخ کښې که وینه وه نو بیا ئې په مرګ اوبه وغیره پلیتیږي۔ فائده: د اوبو د چندخ د اپیژندل دي چه د ده

دَ خپو په کوتو کښے پرده وی او دَ اوچے دَ چینډخ دَ خپو کوتے جدا جدا وی۔

مسئله ۱۹:- کوم شے چه په اوبو کښے اوسی لیکن پیدا اُشئ دَ اوبو نه بهر وی په مرګ ئے اوبه پلیتیږی لکه بطځ، مرغابئ دغه شان که بهر مړ شه او او بو ته وا چولے شه نو هم پلیتیږی۔

مسئله ۲۰:- چینډخ او شمشتئ که په اوبو کښے مړه شی او خس خس شی پکښے نو هم اوبه پاکے دی لیکن دَ هغے سکل او پڅلے پے کول جائز نه دی البته اودس او غسل پے کولے شی۔

مسئله ۲۱:- په غرمو دَ کرمو شوو اوبو[۱] نه برګے مرض کیږی نو غسل پے نه دے پکار۔

مسئله ۲۲:- دَ مردارے څرمن چه په غرمو کښے او چه شی یا پے څه دوائی پورے کړی او چه ئے کړی او په ایخودو نه خرا بیږی نو پاکه شوه مونځ پے کیږی۔ او چه مُشک تے جوړ کړی او به پکښے سا تی نو هم جائز دی لیکن دَ سُور څرمن[۲] نه پاکیږی نورے ټولے څرمنے پاکیږی۔ البته دَ بنی آدم دَ څرمنے نه څه کار اخستل او استعمالول ډیر سخت ګناه ده۔

مسئله ۲۳:- دَ سپی، شادو، پیشو، منزری وغیره کومے څرمنے چه په جوړه[۳] ولو سره پاکیږی په بسم الله سره چه ئے ذبح کړی نو ئے څرمن پاکه شوه خواه که رونغه (رنګ) کړے وی او که نه البته دَ دغے خیزونو غوښه په ذبح نه پاکیږی۔ او خوړلے ئے جائز نه دی۔

مسئله ۲۴:- دَ مردارے[۴] ویښته ښکرونه او هډوکی او غا ښونه دا ټول پاک دی۔ که په اوبو کښے پریوځی نو نه پلیتیږی۔ البته که دَ دغے مردارے څه غوړوالے وغیره پورے وه نو بیا پلیتیږی۔ دغه خیزونه هم پلیت دی او اوبه هم پلیتوی۔

مسئله ۲۵:- دَ بنی آدم هډوکی وغیره هم پاک دی خو په عزت ئے ښخول پکار دی۔ استعمالول ئے جائز نه دے۔

دَ کوهی بیان

مسئله ۱:- چه په کوهی کښے څه پلیتی پریوځی نو پلیت شه په اوبو راویستو به پاک شی که لږه پلیتی دی او که ډیره دی۔ ټولے اوبه تے ویستل پکار دی۔ چه ټولے اوبه تے ویستلے شی نو پاک شه دَ کوهی دننه چه څه وی هغه بیا وینځل ضروری نه دی۔ دغه شان رسئی بوکه هم پاک شو۔

فائده ۱۵:- دَ ټولو اوبو ویستلو مطلب دا دے چه ټولے ختمے شی او نیمه بوکه پکښے بیا هم نه ډکیږی۔

مسئله ۲:- کوهی ته که دَ کوترے یا چنچڼے ګنګی پریوته نو نه پلیتیږی۔ او که دَ چرګ یا بطے پړے واته نو پلیت شه ټولے اوبه به تے راوباسی۔

مسئله ۳:- سپے پیشو غوا بیزه چه پکښے تش بول او کړی پلیت شه ټولے اوبه به تے اوباسی۔

مسئله ۴:- که سړے سپے بیزه یا بل دومره جانور ورته او غورزیده او مړ شه نو ټولے اوبه به تے راوباسی۔ او که با هر مړ شه بیا کوهی ته پریوت نو هم دا حکم دے۔ ټولے اوبه به راوباسی۔

مسئله ۵:- که څه جاندار شے په کوهی کښے مړ شی او اوپړ سیږی یا وریجی نو هم به ټولے اوبه

---

[۱] دا مسئله دَ طب په اعتبار سره ده دَ شرع په اعتبار پکښے څه ګناه وغیره نشته ۱۲ [۲] دَ مار او ګنګک نوم تے دا بیزه پس دَ تحقیق نه کړے شو۔ لان علة عدم الطهارة عدم احتمال الدباغة وهو مرتفع ا نفا ۱۲ [۳] یعنی په رنګ کولو او جوړه ولو سره ۱۲ [۴] دَ مردارے نه مراد دَ خنزیر نه علاوه دے ۱۲ تصحیح الاغلاط ۲

را او باسي که ورکوټي وي او که لويئ نو که منګک يا چينجړه پکښې مړه شو او پړسيدلي يا وريجيدلي نو دا حکم دي۔

مسئله ۶:- که منګک يا چينجړه يا دَ هومره بل جانور په کوهي کښې مړ شه ليکن پړسيدلے ريجيدلے نه دے نو شل بوکے تر ديرشو پورې ويستل واجب دي۔ او ديرش غوره دي۔ خو اول به تر دغه مرځيز را اوباسي بيا په هله بوکے را اوباسي۔ که هغه مړشے ئے تر ويستلے نه وه نو هرڅومره بوکے چه ئے را ويستلي دي هغه نه دي معتبر۔ دَ مرځيز دَ ويستلو نه پس به شمار پوره کوي۔

مسئله ۷:- دَ لوئے چړ مګې چه بهيد ونکے وينه پکښې وي دَ هغې هم دغه حکم دے شل بوکے ويستل واجب دي او ديرش غوره دي۔ او چه وينه پکښې نه وي په هغې کوهے نه پليتيږي۔

مسئله ۸:- که کوتره يا چړګه يا پيشو يا دَ هومره بل جانور شي او غوريږي او مړشه او پړسيدلے نه وي۔ نو څلويښت بوکے ويستل واجب دي او شپيته غوره دي۔

مسئله ۹:- په کوهي چه کومه بوکه وي دَ هغې په حساب سره ويستل پکار دي او که په غټه بوکه ئے اوبه را ويستلے چه ډيرے اوبه په کښې راتلے نو حساب به ئے لږه وي چه که دوه بوکے پکښې راتلے نو دوه به ئے حساب وي او که څلور راتلے نو څلور به ئے حساب وي۔

مسئله ۱۰:- که کوهے چينه دار وه نه او چيرته څومره او به چه ئے ترې را ويستلے هومره پکښې نور راتلے نو حساب به ئے او کړي او دَ هغې په اندازه به تر اوبه را اوباسي څومره چه پکښې او س دغه وخت موجود دے وي۔

فائده:- دَ اوبو دَ اندازے معلومولو ډيرے طريقے دي۔ يو دا چه مثلاً پنځه ګزه اوبه دي په کوهي کښې نو بر ليسے دے تر زر زر شل بوکے را اوباسي او دے کوري چه اوبه څومره کمے شوے نو که يو ګز کمے شوے نو په دے حساب ډِ تر پنځه سوه بوکے را اوباسي نو کوهے پاک شه۔ بله دا چه کوم خلق دَ اوبو ماهران وي او دَ اوبو اندازه کولے شي دا سے دوه ديندار ه دے اندازه او کړي چه هغوي څومره بوکے او وائي هومره ډ اوباسي۔ او که دا دواړه خبرے ممکنے نه وي نو بيا ډِ درے سوه ۳۰۰ بوکے را اوباسي۔

مسئله ۱۱:- دَ کوهي نه مړ منګک يا بل جانور را اووت او دا نه ده معلومه چه کله ورته پريوتے دے او پړسيدلے يا ريجيدلے نه دے۔ نو چا چه په دے کوهي اودسونه کړي دي هغوي ډِ دَ يوے ورځے او شپے مونځونه را او ګرځوي او کپړے دِ ے هم او وينځي۔ او که پړسيدلے يا ريجيدلے وي نو دَ درے ورځو شپو مونځونه دے را او ګرځوي۔ خو هغه خلق چا چه په دے کوهي اودسونه کړي وي۔ دا خبره دَ احتياط ده او بعضے عالمانو ويلي دي چه دَ کوم وخت نه دَ کوهي پليتو لے معلوم شه دَ هغې وخت نه به پليت ګڼړلے کيږي دَ دينه مخکے مونځونه او دسونه شوي دي۔ په دے مسئله که څوک عمل او کړي نو جائز دي۔ (اولنۍ خبره دَ امام صاحب قول دے او دا ورستے دَ يارانو۔ هدايه۔ مترجم)

مسئله ۱۲:- که جُنب کوهي ته دَ بوکے را ويستو دَ پاره کوز شه او په بدن يا کپړه ئے څه پليتي نه وه نو کوهے پاک دے۔ دغه شان که کافر کوز شي او څه پليتي پورے نه وي نو هم کوهے

پاک دے۔ البته که پلیتی پورے وی نو بیا به پلیت شی او تهولے اوبه به تے راوباسی۔ او که شک ئے وی چه پلیتی پورے وه او که نه وه نو هم کوهے پاک دے۔ البته که د تسلّی دپاره تے شل یا دیرش بوکے را اوباسی نو باک نشته۔

مسئله ۱۳:۔ کوهی ته بیزه یا منګک پریوت او ژوندے را اوویستلے شو نو کوهے پاک دے۔

مسئله ۱۴:۔ پیشو په منګک حمله اوکړه زخمی ئے کړه او خلاص شه تے او د وینو سره کوهی ته پریوته نو تهولے اوبه به تے راوباسی۔

مسئله ۱۵:۔ منګک د چارچوبۍ یا نالۍ نه را اووت او د پلیتی سره کوهی ته ابتا ؤ شه نو تهولے اوبه به را ویستے شی که ژوندے را اووت او که مړ۔

مسئله ۱۶:۔ د منګک لکۍ پریکړے شوه او پریوته نو تهولے اوبه به را اوباسی دغه شان د هغے چړ لمګے لکۍ چه وینه بهیده ونکے په کښے وی پریکړے شوه او کوهی ته ارتاوه شوه نو هم به تهولے اوبه را ویستلے شی۔

مسئله ۱۷:۔ د کوم شی په پریوتو چه کوهے پلیت شوے دے نو که سره د ډیر کوشش نه را اؤ نه وتو نو اوس کوری چه دغه شے څنګه دے؟ که داسے شے وی چه پخپله خو پاک وی لیکن د پلیتۍ لږیدو سره پلیت شوے وی۔ لکه پلیته کپړه، پلیت پنړو د سکے، ناپاک پنډ او ر نو د ده را ویستل معاف دی هسے دے تے اوبه را اوباسی۔ او که هغه شے داسے وی چه پخپله ناپاک وی لکه مړ جانور منګک وغیره نو ترڅو پورے چه دا یقین نه وی شوے چه اوس به هغه ریزیدلے او خاورے شوے وی تر هغے کوهے پلیت دے او چه دا یقین ئے اوشی نو هغه وخت دے تهولے اوبه را اوباسی کوهے به پاک شی۔

مسئله ۱۸:۔ څومره اوبه چه د کوهی نه را ویستل ضروری شی که تهولے په یو دم را اوباسی او که لږے لږے په دمه دمه را اوباسی په هره طریقه پاکیږی۔

د جاندارو د جوټے بیان

مسئله ۱:۔ د بنی ادم جوټه پاکه ده۔ خواه که بد دینٔ وی، یا حائضه وی یا نفاسه وی یا جنبه وی۔ په هر حال کښے پاکه ده۔ دغه شان خولے هم د دے ټولو پاکه ده البته که په خولے یا لاسو پورے ئے پلیتی وه[له] نو په دے سره به هغه جوټه پلیته شی۔

مسئله ۲:۔ د سپی جوټه پلیته ده که څه لوښے ئے جوټه کړو نو په درے ځله وینځلو سره به پاک شی که د خاورے لوښے وی او که د تانبے وغیره۔ لیکن غوره دا ده چه اوه ځله ئے او وینځی او یو ځل ئے په خاورو هم اومږی۔

مسئله ۳:۔ د خنزیر جوټه هم پلیته ده دغه شان د منتری، شرمښ، شادو، ګیدړه وغیره څیره ونکو او خوړ ونکو جانورو ټولو جوټه پلیته ده۔

له لکه څوک چه د وینو ستاوه یا ئے شراب سکلی وه ۱۲

مسئله ۳:- د پیشو جوټه پاکه ده البته مکروه ده. نو که نورې اوبه وې په دا اودس نه دې کول.

مسئله ۴:- په پیو سالن وغیره کښې پیشو خوله وا چوله. نو که مالدار وي نه دې خوري او که غریب وه نو بیا دَ هغه دَ پاره مکروه هم نه ده په ازاد ئې دِ خوري.

مسئله ۵:- پیشو منګک او خوړه او فوراً ئې خوله لوښي ته ئې خوله که وه نو پلیت شو او که لږ ساعت ئې خوله او ختله نو بیا پلیت نه دے بلکه مکروه دے.

مسئله ۶:- کَازاد چرګ چه الوا ديګو کرځي هرځه خوري د هغه جوټه مکروه ده او کوم چرګ چه بند وي د هغه جوټه پاکه ده.

مسئله ۷:- د ښکار کونکے مرغې مثلاً باز، ښکرې وغیره جوټه هم مکروه ده. لیکن کوم چه ساتلے شوے وي مردارے خوراک ته ئې نه پریږدي او په مخوکه پورے ئې د پلیتئ شک هم نه وي نو بیا ئې جوټه پاکه ده.

مسئله ۹:- حلال جانور لکه ګډه بیزه، غوا میخه هوسئ وغیره او حلالے مرغې لکه کوتره طوطي چنچڼړے وغیره د دے ټولو جوټه پاکه ده. دغه شان دَ اس جوټه هم پاکه ده.

مسئله ۱۰:- کوم څیزونه چه په کورونو کښې لکه مار لړم منګک چڼ ګکے وغیره جوټه ئې مکروه ده.

مسئله ۱۱:- که منګک د ډوډئ نه څکو نه او کړل نو هغه ځاے نه دِ تے لرے کړي باقي دِ خوري.

مسئله ۱۲:- دَ خر او قچر جوټه پاکه ده خو په اودس کولو کښې په شک دے. نو که چرته دَ خر قچر دَ جوټے نه سوا نور اوبه دَ اودس دَ پاره نه ملاویږي نو په هغے دِ او دس هم او کړي او تیمم دِ هم او کړي اودس اول کوي او که تیمم د دۀ اختیار دے.

مسئله ۱۳:- دَ کومو جانورو چه جوټه پلیته ده د هغوی خوله هم پلیته ده او دَ کومو چه جوټه پاکه ده د هغوی خوله هم پاکه ده. او دَ کومو چه جوټه مکروه ده خوله ئې هم مکروه ده دَ خر او قچر خوله پاکه ده که په کپړه یا بدن او لږي نو وینځل ئې واجب نه دي. خو لیکن غوره دي.

مسئله ۱۴:- چا پیشو ساتلے ده او خوا ته ئې کینا سته لاس وغیره ئې ورله څټل نو د دغه ځائے وینځل پکار دي که او ئې نه وینځه نو مکروه او بد ئې او کړه.

مسئله ۱۵:- دَ غیر سړي جوټه خوراک او او به دَ ښځے د پاره مکروه دي چه معلومه وي ورته چه دا د هغه جوټه ده. او که معلومه نه وي نو مکروه نه دي. (دغه شان که پردئ ښځے سړي له)

دَ تیمم بیان

مسئله ۱:- که څوک په ځنګل کښې دي او بالکل معلومه ورته نه وي چه او به کوم ځائے دي. او نه هلته داسے څوک شته چه تپوس ترے او کړي. نو په داسے وخت کښې به تیمم کوي او که څوک ملاؤ شه او په یو شرعي میل د ننه ئے ورته د او بو پته ورکړه او غالب ګمان ئې لاګے چه دا رښتیا دي. یا د دۀ ځپل په خپله یقین داسے راغے چه په یو میل کښې د ننه اوبه شته نو د او بو د پاره دو مره قدر تلاش کول چه ده ته او د ده ملګرو ته څه قسم تکلیف نه وي

ضروری[1] دی۔ بغیر تلاش نه تیمم کول جائز نه دی ۔ او که کله دده پوخ یقین وه چه په یو میل کښې دننه اوبه ضرور شته نو بیا ورله د اوبو لټول واجب[2] دی ۔

فائده :۔ شرعی میل د انګریزی میل نه لږ زیات دے یعنی یو انګریزی میل او یو اتمه حصه ئے یو شرعی میل دے (د اتخمینه ده پوره اندازه ئے داده ۔ یو میل یو فرلانګ او لس ګزه یو شرعی میل دے)

مسئله ۲ :۔ که ده اوبو پته او لږ یده لیکن د یو میل نه لرے وی ۔ نو تیمم به کوی ۔

مسئله ۳ :۔ که څوک د آبادئ نه یو میل لرے وه او په میل کښې دننه چرته اوبه نه وی نو هم تیمم به کوی که مسافر وی او که نه هسے د څه کار د پاره دومره لرے تلے وی ۔

مسئله ۴ :۔ که په لاره کښې کوهے ملاو شو خو رسئ بو که نه وه نو هم تیمم کولے شی ۔

مسئله ۵ :۔ که اوبه ملاو شوے لیکن لږے وی ۔ نو که دومره ډیرے چه یو وار خوله مخ او یو وار لاسونه او یو وار خپے په وینځلے کیدے یعنی فرض او دسه پے کیدۀ نو او د ګړه علیے او تیمم د نه کوی او خوله پوزه وغیره د پاتے کړی خو د سر مسح د او کړی ۔ او که د دینه هم کمے وی بیا د تیمم او کړی ۔

مسئله ۶ :۔ که د بیمارئ په وجه او به نقصان ورکوی مرض پرے زیاتیږی نو تیمم به کوی لیکن که یخو اوبو نقصان کولو او ګرمو نه کولو نو غسل له به اوبه ګرمول ی ۔ خو که داسے ځائے وه چه اوبه نشوے ګرمیدے نو بیا به تیمم کوی ۔

مسئله ۷ :۔ که اوبه نزدے وی یعنی په میل کښې دننه وی نو تیمم جائز نه دے څی به اوبه به راوړی ۔ (لیکن که په تلو کښې د ځان یا د مال یا د عزت او عصمت یره وه بیا ورله تیمم جائز دے (عالمګیری وشامی)

د سړو نه د شرمیدو یا پردے په وجه اوبو له نه تله او تیمم کول جائز نه دی ۔ داسے پرده چه په هغې کښې د شریعت حکم پاتے کیږی نا جائزه او حرامه ده ۔ په بورقه یا څادر کښې به ځان خه پټ کړی تله ورله واجب دی ۔ البته د سړو په مخ کښې به اودس نه کوی او لاسونه مخ به نه ښکاره کوی

مسئله ۸ :۔ ترڅو پورے چه په اوبو سره اودس نه شی کولے تیمم دِ کوی هرڅومره ورځے چه تیرے شی ۔ څومره پاکی چه په اودس او غسل سره کیږی دومره پاکی په تیمم کیږی داخیال دِ نه کوی چه په تیمم سره ښه پاکی نه راځی ۔

مسئله ۹ :۔ که اوبه خرڅیدے او د ده سره پیسے نه وی نو تیمم ورله جائز دے او که پیسے ورسره وے او د سفر ضرورت ترلوته سوا کیدے نو اخستل د اوبو ورله واجب دی ۔ البته که کرلنے ئے خرڅولے چه بل ځائے ئے دغه قیمت نه وه نو بیا ورله اخستل واجب نه دی تیمم به کوی او که د لاره د خرچ نه ورسره هم پیسے زیاتے نه وے نو بیا ورله هم اخستل واجب نه دی ۔

مسئله ۱۰ :۔ که یو ځائے کښې دومره یخنی او واوره وی چه که غسل کوی نو د مرګ یا بیمارئ یره وی او څه داسے کمبل برستن وغیره ورسره هم نه وی چه ځان پکښې بیا ګرم کړی نو د داسے مجبورئ په وخت کښې تیمم کول جائز دی ۔

---

[1] او که په لټولو او تلاش کښې تکلیف وه بیا ضروری نه دی ۱۲ [2] اګرچه تکلیف وی د ځه ته یا ملګرو ته ئے خو اوبه به راوړی ۱۲

مسئله ۱۱:- که د چا د نیم نه په زیات بدن زخم وی یا په ننګئ وی نو غسل پرېښته تیمم به کوی

مسئله ۱۲:- که په یو ځائے کښې ئے په تیمم مونځ اوکړو او هلته او به نزدې وې لیکن ده ته پته نه وه نو تیمم او مونځ ئے دواړه شوی دی بیا مدباره کول ئے ضروری نه دی۔

مسئله ۱۳:- که په سفر کښې د ملګری سره او به وې او ده ذړه ده ته وې چه که تے او غواړم نو را به کړی۔ نو بے غوښتلو ئے تیمم جائز نه دے۔ او که ذړه ورته وې چه که غواړم نو نه ئے راکوی نو بے غوښتلو ئے مونځ او تیمم جائز دی۔ لیکن که د مانځه نه پس ئے تے او غوښتلے او هغه ورکړے نو مونځ به بیا کوی۔

مسئله ۱۴:- که د زمزم او به ورسره پسلوخی کښې بندے ورسره وې نو تیمم ورله جائز نه دے هغه به سپړی غسل او او دس به پے کوی واجب دی ورله۔

مسئله ۱۵:- د چا سره او به شته خو لار داسے ده چه، او به پکښې نه ملاویږی او پ لاره کښې د تندے نه د هلاکت یره ده نو په تیمم به مونځ کوی او دس به نه کوی په هغے او بو۔

مسئله ۱۶:- که غسل ورله نقصان ورکولو او او دس نقصان نه کولو۔ نو د غسل په ځائے به تیمم اوکړی۔ بیا که د غسل د تیمم نه پس ئے او دس مات شه۔ نو د او دس د پاره به تیمم نه کوی بلکه او دس پځائے به او دس کوی۔ او که د غسل د تیمم نه مخکښې ئے څه خبره او دس ماتونکے هم موندلے وه او بیائے د غسل د پاره تیمم کړے وه نو دا تیمم د غسل او او دس دواړو د پاره کافی دے۔

مسئله ۱۷:- د تیمم طریقه دا ده چه دواړه لاسونه په پاکه زمکه او وهی او تول مخ به پے او مږی۔ بیا به دوېم وار په زمکه دواړه لاسونه او وهی او د څنګلو پورے به ئے په دواړو لاسونو را کاږی۔ ګنګړی وغیره که په لاسو وو نو په مینځ کښې به ئے ښه لاسونه او وهی که د ویخته برابر ځائے ئے پاتے کړو نو تیمم نه دے شوے ګوتې وغیره به او باسی چه څه ځائے پاتے نه شی د ګوتو خلال به او کړی. نو تیمم ئے او شه۔

مسئله ۱۸:- په خاورو چه لاس او وهی نو بیا به ئے څنډوهی چه مخ ئے سپیره نه شی۔

مسئله ۱۹:- د زمکے نه سوا هر یو شے چه د زمکے د جنس نه وی په هغے تیمم جائز دے۔ لکه خاوره، شګه، کانړی، ګچ، چونا، هرتال، رانجه وغیره۔ او کوم شے چه د خاورے د قسم نه وی په هغے تیمم نه کیږی لکه سره زر، سپین زر، مرجان، غنم، لرګے، کپړه، او دانے وغیره۔ البته که په دے څیزونو ګرده نو بیا پے تیمم جائز دے۔

مسئله ۲۰:- کوم شے چه په اور کښې نه سوزی او نه ویلے کیږی هغه د خاورے د قسم نه دے په هغے تیمم جائز دے او کوم شے چه سوزی ایره کیږی یا ویلے کیږی په هغے تیمم جائز نه دے۔ دا رنګے په ایره[1] هم تیمم صحیح نه دے۔

[1] که څه چا ایره نه سوزی او نه ویلے کیږی مګر بیا هم په دے تیمم جائز نه دے۔ او چونه اګرچه سوزی خو بیا هم په هغے تیمم جائز دے۔ او دا دواړه خبرے د دے قاعدے نه مستثنیٰ دی۔ ۱۲

مسئله ۲۱:- د تامبے په لوخو په تکے کړے وغیره کپړے تیمم نه کیږی البته که دومره گرد پرې وه چه په لاس وهلو سره تے اوچتیده نو بیا پرې تیمم جائز دے۔ خو که لږ تے اوچتیده چه لاس ئے نه سپیره کول بیا پرې نه کیږی۔ او د خاورے په منګی باندے هم تیمم جائز دے۔ که کاډو چک وی او که نه۔ لیکن که رنګ شوے وه بیا پرې نه کیږی۔

مسئله ۲۲:- که په کټه بالکل گرد نه وی هم پرې تیمم کیږی بلکه که په اوبو وینځلے شوے وی هم۔ دغه شان په پخه ښخته هم کیږی گرد پرې وی او که نه۔

مسئله ۲۳:- په خټه تیمم کیږی مګر مناسب نه دے که د ختو نه سوا بل څه شے نه وه نو داسے دے اوکړی چه په کپړه کښے دے خټه راواخلی چه اوچه شی تیمم دې پرې اوکړی مګر که د مانځه وخت تیریږی نو بیا هر څنګه چه وی تیمم دې اوکړی چه مونځ قضا نه شی۔

مسئله ۲۴:- که په زمکه نش بول وغیره څه پلیتی پریوته او په غرمه اوچه شوه او بوئی ئے هم لاړه نو پاکه شوه مونځ پرې کیږی لیکن په دغه زمکه تیمم نه کیږی که معلومه وی چه دا زمکه داسے ده او که معلومه نه وی نو وهم مکوه۔

مسئله ۲۵:- څنګه چه د اودس په ځائے تیمم جائز دے دغه شان د غسل په ځائے هم چه مجبوری وی تیمم جائز دے۔ دغه شان کومه ښځه چه د حیض او نفاس نه پاکه شی نو چه مجبوری وی تیمم ورله جائز دے۔ د اودس او د غسل په تیمم کښے هیڅ فرق نشته د دواړو دغه یوه طریقه ده۔

مسئله ۲۶:- که چا ته ئے د تیمم ځان خودلو او ځانله ئے د تیمم نیت نه وه نو د ده تیمم نه دے شوے ځکه چه د تیمم د صحیح کیدو د پاره د تیمم اراده ضروری ده۔

مسئله ۲۷:- د تیمم کولو په وخت کښے به په زړه کښے صرف دومره اراده اوکړی چه د پاکئ د پاره تیمم کوم یا د مانځه د پاره تیمم کوم نو تیمم به ئے اوشی د اودس یا غسل ذکر ضروری نشته۔

مسئله ۲۸:- که د قرآن مسحه کولو د پاره ئے تیمم اوکړه نو مونځ پرې نه کیږی او چه د مانځه د پاره ئے اوکړه نو د بل وخت مونځ پرې هم کولے شی او قرآن پرې هم مسح کولے شی۔

مسئله ۲۹:- د چا اودس هم نشته او غسل پرې هم واجب شوے دے نو د دواړو د پاره یو تیمم پوره دے ځانله ځانله تیمم ته ضرورت نشته۔

مسئله ۳۰:- چا په تیمم مونځ اوکړو او د دے مانځه په وخت کښے ئے د ننه اوبه بیا مونده نو اوس بیا د مانځه راګرځولو ته ضرورت نشته کوم مونځ چه ئے په تیمم کړے دے هغه شوے دے۔

مسئله ۳۱:- که اوبه د یو شرعی میل نه لرے نه وے۔ لیکن وخت ډیر تنګ دے که اوبو له ځی نو مونځ قضا کیږی نو مونځ به قضا اوکړی خو اوبه به راوړی په تیمم ئے مونځ نه کیږی۔

مسئله ۳۲:- چه اوبه وی نو د قرآن مسح کولو د پاره تیمم جائز نه دے۔

مسئله ۳۳:- که دِ ډاډه وی چه اوبه به مومي نو اُميد وي نو غوره داده چه په اوّل وخت کښے لمونځ نه کوی بلکه ورستے دِ کړی خو دومره انتظار دِ هم نه کوی چه وخت مکروه شي۔ او که داوبو انتظار ئے اونه کړه په اول وخت کښے ئے لمونځ اوکړه نو هم اوشه۔

مسئله ۳۴:- که اوبه خو ډیرے نزدے وی خو یريږي چه که په اوبو پسے لاړو نو کافر به مے رواني یا مار وغیره داوبو په خوا کښے دے ضرورت رسوی نو هم تیمّم جائز دے۔

مسئله ۳۵:- په اسباب کښے ورسره اوبه وے خو هیرے ئے وے او چه مونځ ئے په تیمّم اوکړه نو بیائے یاد شوے نو اوس پے کمانځه دوباره کول واجب نه وی۔

مسئله ۳۶:- په کوم څیز چه اودس ماتیږی په هغے تیمّم هم ماتیږی۔ او په اوبو موندلو سره هم تیمّم ماتیږی۔ دغه شان که اوبه د یو میل په فاصله نزدے شوے نو هم تیمّم مات شه۔

مسئله ۳۷:- که د اودس تیمّم ئے نو چه کله اودس موافق اوبه بیا مومی او چه د غسل تیمّم وی نو چه د غسل موافق اوبه بیا مومی نو تیمّم به ئے مات شي او که کمے وی نو بیا تیمّم نه ماتیږی (یعنی دومره اوبه چه فرض اودس یا فرض غسل پے کیدے شي)

مسئله ۳۸:- که په لارے روان اوبه مخے له راغلے خو دا ته ئے پته اونه لګیده یا په ریل کښے وه کوزیدے پسے نه شه نو هم ئے تیمّم نه ماتیږی۔

مسئله ۳۹:- که د بیمارئ په وجه ئے تیمّم کړے وه نو چه بیماری ختمه شوه اوس اودس او غسل نقصان نه کولو نو تیمّم مات شه اوس پے اودس او غسل واجب دے۔

مسئله ۴۰:- داوبو د نه موندو په وجه ئے تیمّم کړے وه۔ بیا داسے ناجوړه شه چه اوس ورته اوبو نقصان رسولو۔ او د بیمارئ نه پس اوبه میلاؤ شوے نو اوس ئے هغه تیمّم مات شه چه داوبو د موندو په وجه ئے کړے وه۔ بیا به تیمّم کوی۔

مسئله ۴۱:- د غسل ضرورت وه او غسل ئے اوکه لیکن لږ شان ځائے ئے اوچ پاتے شه او اوبه ختم شوے نو دے نه دے پاک شوے تیمّم به کوی۔ بیا چه اوبه مِلاؤ شوے هغه پاتے ځائے به اووینځي د نوی سره د غسل حاجت نشته۔

مسئله ۴۲:- که داسے وخت کښے اوبه مِلاؤ شوے چه اودس ئے هم مات شه نو هغه اوچ پاتے ځائے به اول اووینځي او کا اودس د پاره به تیمّم اوکړی۔ او که اوبه دومره کمے وی چه اودس پے کیدے او هغه ځائے پے نه وینځلے کیده نو اودس به اوکړی او د هغه ځائے د پاره به د غسل تیمّم اوکړی۔ لیکن که د غسل تیمّم ئے اوّل کړے وه نو اوس د تیمّم ضرورت نشته هغه باقی دے۔

مسئله ۴۳:- د چا کپړه یا بدن هم پلیت دی او اودس ئے هم نشته او اوبه لږے دی نو بدن او کپړه دِ وینځي او کا اودس د پاره دِ تیمّم اوکړی۔

په موزو دَ مَسح بَیان

مسئله ۱:- که اودس ئے اوکړه او دَ خپو ئے هم مینځلے موزے ئے واغوستلے بیائے اودس مات شه نو بیا به د اودس سره په موزو مسح کوی او که موزے اوباسی خپے وینځی نو دا غوره دی۔

مسئله ۲:- که موزے دومره ډیرے وی چه پړی کی پکښے پیتاوی نو مسح پرے جائز نه ده دغه شان که بغیر اودس[لے] نه ئے موزے واغوستلے نو هم پرے مسح جائز نه ده۔

مسئله ۳:- په مسافرئے کښے درے ورځے شپے په موزو مسح جائز ده او چه مسافر نه وی نو یوه شپه او ورځ به مسح کوی۔ او د کوم وقت نه چه اودس مات شی د هغے وخت نه په د مسح موده حسابیږی۔ لکه یو سړی ماسپخین اودس اوکړه موزے ئے واغوستے۔ بیا ئے د نمر پریو تو په وخت کښے اودس مات شه۔ نو دے به د بلے ورځے د نمر پریو تو پورے مسح کوی او که مسافر وه نو د دریمے ورځے د نمر پریو تو پورے به مسح کوی۔

مسئله ۴:- که غسل پرے واجب شه نو موزے به اوباسی د غسل سره په موزو مسح نه کیږی۔

مسئله ۵:- د موزے په پاسه طرف به مسح کوی په لاندے تلی به نه کوی۔

مسئله ۶:- په موزو د مسح طریقه دا ده چه د لاس ګوتے به لندے کړی او د خپو سره تولے ګوتے به د مخ په طرف کیدی د ورغوی به نه بږدی او پورته په ګوتو به ئے را کاږی۔

مسئله ۷:- که څوک الټه مسح اوکړی یعنی د پړکو ګوتو طرفته لاس را کاږی نو هم جائز دی خو د مستحبو خلاف دی دغه شان که په پلنو مسح اوکړی هم روشوه خو د مستحب خلاف ده۔

مسئله ۸:- که د تلی په طرف یا د پوندے په طرف یا په څنګ دئے مسح اوکړه نو روا نه شوه۔

مسئله ۹:- که د ګوتو په سرو نو ئے مسح اوکړه تولے ګوتے ئے اونه لږولے نو مسح اونه شوه البته که د ګوتو اوبه بهیدے او د درے ګوتو په مقدار موزه لنده شوه نو مسح اوشوه۔

مسئله ۱۰:- په مسح کښے مستحب دا دی چه د ورغوی په طرف به مسح کوی خو که په پاسنی طرف ئے مسح اوکړه نو هم اوشوه۔

مسئله ۱۱:- که چا په موزه مسح اونه کړه خو په باران کښے موزے لندے کړے یا په لمده وښو کښے لاړه شه چه موزے لندے شوے نو مسح اوشوه۔

مسئله ۱۲:- د لاس د دریو ګوتو برابر مسح په هره یوه موزه فرض ده د دینه په کمه مسح نه کیږی۔

مسئله ۱۳:- کوم شے چه اودس ماتوی په هغے مسح هم ماتیږی او د موزو ویستو هم مسح ماتیږی۔ نو که د چا اودس نه وه مات شوے او موزے ئے ویستلے نو مسح ئے ماته شوه اوس به دواړه خپے اووینځی او دس کولو ته ضرورت نشته۔

لے د دے مطلب دا دے چه پښے او د سه وی او اودس اونه کړی موزی واغوستی نو په دے مسح نه کیږی پوره اودس به کوی او موزی به باچوی او که صرف خپے ئے وینځلے او موزے ئے واغوستے اودس ئے پوره اونه کړه هم مسح نه کیږی او که خپے ئے وینځلے او موزے ئے واغوستے بیائے اودس پوره کړه نو بیائے اودس مات شه نو اودس مسح جائز ده ۱۲

مسئله ۱۴:- که یوه موزه ئے اوویستله نو اوس به بله هم اوباسی خپے به وینځی۔

مسئله ۱۵:- که د مسح موده پوره شوه نو هم مسح ماته شوه که اودس ئے مات نه وی نو موزے به اوباسی دواړه خپے به وینځی د اودس کولو ته ضرورت نشته او که اودس ئے مات شوے وی نو موزے به اوباسی اودس به اوکړی او خپے به اووینځی۔

مسئله ۱۶:- په موزو ئے مسح اوکړه بیا ئے خپه په اوبو کښے اولګیده او دننه خپے ته اوبه لاړے او ټوله خپه یا د نیمے نه زیاته خپه ئے لمده شوه نو هم ئے مسح ماته شوه۔ موزے به دواړه اوباسی او خپے به اووینځی۔

مسئله ۱۷:- که موزه دومره څیرے شی چه په تلو کښے ئے په قدر د درے د ړوکو ته خپه ښکاره کیږی نو مسح پے جائز نه ده او که د دینه کمه څیرے وه بیا خیر دے مسح پے کیږی۔

مسئله ۱۸:- که د موزے ګنډونه اوشلیده لیکن خپه تے نه ښکاریده نو مسح جائز ده او که داسے وی چه د تلو په وخت کښے تے د دریو ګوتو برابر خپه ښکاریده هسے تے نه ښکاریده نو مسح جائز نه ده

مسئله ۱۹:- که په یوه موزه کښے د دوه ووګوتو برابر خپه ښکاره شوه او په بله کښے د یوے ګوتے برابر نو خیر دے مسح پے جائز ده۔ او که یوه موزه څو ځایه څیرے وه او چه ټول راجمع کړی نو د دریو ګوتو برابرتے جوړیږی نو مسح پے جائز نه ده۔ او که په جمع کولو هم د دریو ګوتو برابر نه جوړیده نو بیا پے مسح جائز ده۔

مسئله ۲۰:- چا په موزو مسح شروع کړه او لا یوه شپه او ورځ ئے نه وه تیر شوی چه مسافر شه نو درے شپے و ورځے به پوره کوی۔ او که د سفر نه مخکښے پوره شو بیا به خپے وینځی۔ یعنے یوه شپه او ورځ ئے پوره شوه او مسافر شه نو خپے به اووینځی او موزے به واغوندی۔

مسئله ۲۱:- او که په مسافرئ کښے ئے مسح کوله او کور ته راغے نو که یوه شپه او ورځ ئے پوره شوی وی موزے به اوباسی او س پے مسح نه کیږی۔ او که شپه او ورځ ئے نه وی پوره شوی نو پوره دے کړی۔ د دینه زیاتی به مسح نه کوی۔

مسئله ۲۲:- که په جرابو د پاسه ئے موزے اغوستے وی هم پے مسح جائز ده۔

مسئله ۲۳:- په جرابو مسح جائز نه ده۔ البته که څرمن پے د پاسه ختلے وه یا په ټول څرمن نه وه ختلے خو د پیڼ ار په قدر پے څرمن ختلے وه۔ یا دومره کلکے او سختے وی چه بغیر د تړلو نه بره نه غلی او درے څلور میله مزل په کښے څه آبله کیدے شی نو په دے ټولو صورتونو کښے په جرابو هم مسح جائز ده۔

مسئله ۲۴:- په بورقعه او دستانو مسح جائز نه ده۔

له د دے زمانے په جرابو بانډِ چه د پیڼ ار په شکل څرمن او خیږی پے نو په دے کښے د فقهاؤ اختلاف دے۔ نو په دے وجه احتیاط په دے کښے دے چه که د پیڼ ار پټان څرمن پے هم ختلے وی خو مسح دے پے نه کوی ۱۲

اوله ضمیمه دَجنت کالي چه نوُم دَجنت ملغلره اوله حصه

بسم الله الرحمن الرحیم

پس دَحمد او درود نه دَ مسلمانانو په خدمت کښې عرض دے چه رساله دَجنت کالي چه ډیره مقبوله شوے ده دا ہسے مضامین په کښې کم دي چه جنت ته مینه او دَ دوزخ نه یره پیدا کوي۔ اکثرے حصے ئے دَ فقه دَمسائلو نه جوړے دي۔ نو په دے وجه محمد مرشد او پیر جناب حافظ قاري شاه اشرفي علي صاحب دامت برکاته کړه چه دَ دے رسالے دَهرے حصے په آخر کښې دِ ضمیمه په مضامینو دَ رغبت او یرے سره دَ نورو ضروري امورو زیاتے کړے شي۔ او دَ کوم ځائے چه دَ اصل رسالے دَجنت کالي عبارت ګران وي دَ هغے وضاحت دِ هم په حاشیه کښې روشي۔ او نور مضامین دِ دَ جدا ضمیمے په صورت کښې او لیکلے شي۔ نو دَهرے حصے سره دا مضمونونه او لږه وړے شو۔ دَ کتونکو حضراتو نه دَ دعائے خیر غوختونکے یم (محشي)

دَ علم فضیلت

الله تعالیٰ فرمائي ”چه پورته کوي الله پاک هغه چا لره (مرتبے) چه ستاسو نه ایمان راوړی (یعني کامل ایمان) او دَ هغو چه علم ورلره ورکړے شوے دے درجے (به هغو[1]) او نیک عالم نه وي)“ دلته دَ قرآن نه دَ علم فضیلت ثابت شه چه اول ئے دَ ایمان راوړونکو صفت اوکړه او بیا دَ عالمانو یعني عالمان ئے په صفت سره خاص کړه او دَ لویو مرتبو خاوندان ئے ورته او وے او چا ته چه الله پاک لوئے او وائي دَ هغوي دَ لوئے په څه حد وي۔ بل ځائے فرمائي چه۔ او وایه دوئي ته اے حبیبه[2] چه وَلے عالم او بے علمه برابر دي (استفهام انکاري دے یعني دَعالمانو مرتبه دَ بے علمو نه زیاته ده)

حدیث :- په جامع صغیر کښې یو صحیح حدیث نقل دے چه ”طلب دَعلم فرض دے په هر مسلمان سړي او ښځے“ او دَ فرضو پریښودل ګناه کبیره دے۔ نو پوهه شه چه دَ کوم کار کول په بنده فرض وي دَ هغے کار دَ کولو طریقه ایزده کول هم فرض دي۔ او دَ کوم کار کول چه مستحب وي دَ هغې دَ ایزده کولو طریقه هم مستحب وي۔ پس چه مونځ فرض دے نو طریقه ایزده کول ئے هم فرض دي۔ دغه شان روژه وغیره دي۔ او چه تجارت نوکري وغیره کوي نو دَ هغې متعلق چه دَ شریعت کوم حکم دے دَ هغے ایزده کول او په هغې

[1] دَ عبد الله ابن عباس رضی الله عنه روایت دے چه دَ عالم فضیلت په عامو مؤمنانو باندې او وه سوه درجے زیات دے او دَ هرے درجے په مینځ کښې دَ پنځه سوه کالو مسافت دے ۱۲ احیاء۔ علامه سیوطی رحمه الله دَ ابن منذر په حواله سره دَ ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل کوي چه الله تعالیٰ په دے آیات کښې دَ عالمانو څومره فضیلت فرمایلے دے په بل یو آیات کښې ئے نه دے فرمایلے۔ په دے کښې ئے پیرے علمه مؤمنانو نو دَعالمانو مؤمنانو لوړے درجے او چتے کړي دي ۱۲ درمنثور ص ۱۸۵ ج ۶

عمل کول لازم دی۔ دا تفصیل د هغه علم دے چه په هر سړی فرض دے۔ او بعضے علوم داسے دی چه که یو څو کسان ئے ایزده کړی نو د نورو نه په خلا صیږی۔ مثلاً په هر کلی او محله کښے یو عالم ضروری دے۔ چه د قرآن حدیث او فقه وغیره په علوموکښے بنه ماهر وی۔ چه د اسلام د مخالفینو رد هم کولے شی او چه د مسئلے پتوس تے او شی نو بے تکلیفه د هغه جواب ورکولے شی۔ نو دا علوم په هر سړی فرض نه وی۔ هان که څوک ئے په شوق او موقع مونده و سره حاصل کړی نو مستحب دی او ډیر ثواب دے۔

حدیث[۲] شریف کښے دی چه حضور ﷺ فرمائیلی دی د چا سره چه خدائے پاک ښه کوی نو هغه ته د دین پوهه[ل] ورکړی او زه تقسیم کوونکے (د علم) یم او الله تعالیٰ ورکوونکے دے۔ (بخاری و مسلم)

حدیث[۳] شریف کښے دی چه کله سړے مړ شی نو د ده عمل قطع شی مګر د دریو عملو نو ثواب نه قطع کیږی۔ اول صدقه جاریه (لکه وقف، کوهے، جمات وغیره چه د الله پاک د پاره ئے تیار کړی وی) دویم علم[۲] چه خلقو ته تے نفع رسی (مثلاً تعلیم تصنیف وغیره) دریم نیک اولاد چه د مړی د پاره د دُعا د خیر کوی (مسلم) مطلب دا دے چه که څو لو نیکوکارو نو ثواب په مرګ سره ختمیږی ځکه چه مړے بیا عمل نه شی کولے نو ثواب به ختمیږی ملاؤ شی مګر دا درے کارونه داسے دی چه د دے ثواب د مرګ نه پس هم جاری وی ځکه چه دا کارونه که د ده د مرګ نه پس چلیږی۔ ځکه چه په صدقه جاریه کښے د مخلوق نفع جاری وی او دغه شان د علم نفع هم جاری وی۔ او نیک اولاد د خیر دُعا د مور و پلار د پاره کوی۔ نو په دے وجه دا عمل هم پس د مرګ نه باقی وی۔

حدیث[۴] د کثیر بن قیس تابعی نه روایت دے چه زه د دمشق په جمات کښے د حضرت ابودرداءؓ سره ناست وم (ابودرداءؓ ډیر لوئے صحابی او عالم ده او بلائے هم ډیره عالمه وه) نو ابودرداءؓ له یو سړے راغے ورته ئے او وے اے ابو درداءؓ زه د مدینے نه تاله د حضور د یو حدیث د اورید و د پاره راغلے یم چه ما ته معلومه شوے ده چه ته ئے دغه حدیث د حضور ﷺ نه روایت کوے د بل هیڅ حاجت د پاره تا ته نه یم راغلے۔ حضرت ابو درداءؓ او فرمایل چه بے شکه ما د حضور ﷺ نه اوریدلی دی چه څوک په یوه لاره باندې ځی چه د علم دین طلب په کښے کوی نو الله پاک ده له د جنت د لارو نه په یوه لاره روانوی او بے شکه فرشتے خپلے وزرے خوروی ده ته د ده د خوشحالولو د پاره (د فرشتو د وزرو خورولو نه مراد د طالب علم سره شفقت او مرحمت دے۔ چه د دے انجام د مائے خیر دے د طالب علم د کامیابئ

له دا یو غور دے چه الله پاک دے څیلو بندګانو کښے اچوی که امام مالک نه منقول دی چه علم په ډیر کولو سره نه شی بلکه دا یو نور دے چه الله تعالیٰ ئے په زړه کښے کدی۔ علما لیکی چه کوم عمل د غیر الله د پاره دی په حضوی دا نو د حرام کړے شوی دے بهجته اللا سفی ...م ... د علم نه خلقو ته د فائدے رسولو دی صورتونه دی۔ یو خپله عالم وی او خلقو ته نفع رسوی لیکن څوک چه د دے فائدے نه محروم وی د حضوی د پاره الله تعالیٰ نو د ډیرے لارے پرانستے دی مثلاً خپل خرچ څوک عالم کړی دینی مدرسه جوړه کړی یا په کښے امداد کړی دینی کتابونه واخلی او وقف ئے کړی۔ نو تر څو پورے چه دا کارونه چلیږی ده ته به هم دغه شان نفع رسی او عملنامه به ئے د ثواب نه ډکیږی ۱۲

دَپاره[1] او دا علامه ده چې دَ خدائے په نزد دَ مقبول کيدو۔ ځکه چې فرښتې معصومې او بې ګناه دي او دَ الله خاص بندګان دي نو هغوی ته مقبول کيدل ګويا خدائے ته مقبول کيدل دي ځکه چې دَ دوست دوست خپل دوست وي)۔ او بې شکه دَ عالِم دَپاره څوک چې په اسمانونو کښې دي او څوک چې په زمکه کښې دي دَ ګناه دَ معاف کيدو سؤالونه کوي۔ او مهي په اوبو کښې د ننه (دَ ده دَپاره بخښنه غواړي۔ او په ظاهر کښې کفار او شياطين په استغفار کونکو کښې داخل نه دي ځکه چې هغوی دَ دې نعمت اهل نه دي چې دَ خالق سره سرکشي کوي نو دَ دوستانو سره به ئې څنګه بښه او کړي ځکه په حديث کښې دَ دوی بيان او نشه او علماؤ فرمايلي دي چې مراد ټول حيوانات دي دَ مهو خصوصيت ځکه او شه چې اوبه دَ علماؤ په برکت راځي چې دَ ټول مخلوق تعلق ورسره دے او دَ مهو ورسره خاص تعلق دے) او په تحقيق سره فضيلت دَ عالِم په عبادت کونکي داسې دے لکه دَ څوارلسمې دَ سپوږمۍ په ستورو (دَ عالم مثال ئې دَ څوارلسمې دَ سپوږمۍ سره ځکه ورکړ چې دَ دينه ټول دنيا روښانه وي او هر چا ته فائده رسوي او دغه مثال دَ عالِم دے۔ او دَ عبادت کونکي نفع فقط خپل ځان ته وي بل چا ته ترې څه فائده نه وي او دغه مثال دَ ستورو دے چې خپله خو ښکاريږي ليکن بل ته رڼا نه کوي يعنې بل ته ترې هيڅ نفع نه وي۔ او که څوک دا او وائي چې دَ عابد په ليدو سره دَ نورو خلقو هم عبادت ته مينه پيدا کيږي او دَ هغه دَ عبادت په وجه الله پاک رحمت وي۔ په خلقو باندې او دغه شان دَ ستورو نه هم زمکې ته رڼا وي۔ نو جواب ئې دا دے چې دا لږ شان نفع دَ عابد او دَ ستورو دَ عالِم او سپوږمۍ په برابر دَ نشت برابر ده۔ او دَ عالِم نه مراد هغه سړے دے چې ضروري علم لکه دَ مانځه روژے وغيره دَ علم نه زيات عالِم وي۔ او دَ عابد نه مراد هغه عبادت کونکے دے چې دَ عبادت دَ ضرورت په قدر علم ورته حاصل وي۔ او ډير عبادت کوي علمي مشغله نه لري ځکه چې جاهل څه عبادت کولے شي۔ پس په قدر دَ ضرورت دَ عابد دَپاره علم ضروري دے)۔ او علماء دَ انبياؤ ميراث خواره دي او انبياؤ مال دولت نه دے پريښو دے مګر علم نو چا چې دا حاصل کړه لوئے دولت ئې حاصل کړه (احمد ابن ماجه وغيره)

(۵) حضرت عبدالله ابن عباسؓ ته حضورؐ دَ قرآن دَ علم او دَ ديني پوهے حاصليدو دُعا کړې وه نو هغه قبول شوه او ډير لوئے عالِم شه۔ ده ته ترجمان القرآن يعنې په قرآن پوهه او تفسير کونکے هم وائي) دَ دهؓ نه روايت دے چې علم حاصلول بل ته ئې خودل تصنيف او تاليف کول (په دين کښې) يوه ګهړئ دَ شپې خوره ده دَ ټولې شپې دَ عبادت نه (دارمي) پوهه

[1] ابن ابي حمزهؒ ليکي چې دَ علم طلب په دوه طريقو سره کيږي يو دا چې خپله ئې حاصلوي او بل دا چې نورو له ئې اهتمام کوي ۱۲ بهجه ص۱ ۱۲ [2] دَ دينه لويه مرتبه بله څه کيدے شي چې دے خپل کار کښې مشغول وي او نور دَ ده دَپاره بخښنه غواړي دَ ابي امامهؓ نه يو روايت په ترمذي شريف کښې نقل دے چې حضورؐ فرمايلي دي چې الله پاک ملائک او دَ اسمانونو او زمکې اوسيدونکي حتٰي چې ميږي په سوړو کښې او مهي په دريا بو کښې دَ خير تعليم کونکو دَپاره دعا کوي ۱۲ [3] دا قسم روايات په حديثو کښې ډيردي او دَ ټولو نه زيات دَ حضرت امامهؓ هغه حديث دے چې ترمذي نقل کړے دے چې حضورؐ فرمائي چې دَ عالِم فضيلت په عابد داسې دے لکه زما فضيلت په يو ادني صحابي باندې ۱۲ احياء ص۷ ج۱ ۱۲

شه چه دا دے فضیلتونو کښیا نولوښ داغرض نه دے چه نفل عبادت بالکل پریږدی بلکه نفلی عبادت هم څه نه څه پکار دے البته زیات وخت په علمی خدمت کښے صرف کول پکار دی چه دا د نورو عباداتو نه لوئے عبادت دے۔ او د علم نه مراد دینی علم دے۔

حدیث ۵ کښے دی چه ویل دے د بے علمه کپاره (ویل په جهنم کښے کاوړیوکنده ده (الحدیث) او د ویل معنی سخته خرابی ده (کنزالعمال) څه ښه ویلی دی شیخ سعدی رح ؎

سرانجام جاہل جہنم بود کہ جاہل نکوعاقبت کم بود - یعنی انجام د جاهل دوزخ دے ځکه چه د جاهل خاتمه ډیره کمه نیکه وی - (اکثر د جاهل خاتمه خرابه وی)

حدیث ۶ کښے دی چه حضور فرمائی په خدائے قسم چه الله تعالیٰ به خپل دوستان دوزخ ته داخل نه کړی دا حدیث په صحیح سند سره جامع صغیر نقل کړے دے او ښکاره خبره ده چه عالم باعمله د خدائے دوست او محبوب کیږی شی - جاهل خو کسره مقبول کیدے نه شی - نو د خدائے تعالیٰ د دردناک عذاب نه د بچکیدو د پاره او د هغه د رضا حاصلولو د پاره په علم و عمل خائسته کیدل پکار دی - شاعر وائی - ترجمه :- د خدائے دوستانو له د دنیا مصیبتونه د روی عذاب دے - او معافی د گناهونو د پاره کافی ده - په خدائے قسم دے چه د دینه پس به دوی له د دوزخ عذاب ورنه کړے شی -

ښهٔ پوهه شه چه د خدائے دوست د جوړ پاره چه دا خوشخبری ده هغه خوک کیدے شی چه هر وخت د هغه د رضا طلب کوی او د هغه د احکامو پابند وی او که څه گناه کے اوشی توبه کوی -

حدیث ۷ شریف کښے دی چه ته خدائے خلقو ته خوږ که خدائے به تا خپل خوږ جوړ کړی (کنزالعمال) یعنی خلقو ته د هغه احسانات د رته یاد ره او د هغه نعمتونه د ورته شماره څلا تر کړے دا گرځوه او د دا تعلیم ورکړه چه دوی د خدائے خوختونکی شی نو ته به د خدائے دوست شے او دا خبره بغیر د عالم نه بل څوک نه شی کولے - د عالمانو د پاره په دے کښے څومره خوشخبری ده چه د الله خوږ بنده به جوړ شی (یا الله ما خپل اعلیٰ غلام جوړ کړے امین

حدیث ۹ شریف کښے دی چه کوم عالم خپل علم عمل اوکړی الله تعالیٰ به ئے د داسے علم وارث کړی چه ده ئے نه وی معلوم (حلیة الاولیاء) یعنی د اسرارو علم به ورته حاصل شی او په علم کښے به ئے ترقی اوشی -

حدیث ۱۰ شریف کښے دی چه عالم خپل علم سره د رضا د حق اراده اوکړی هر شے به تے پریکښی (مختصر)

حدیث ۱۱ کښے دی که فقهاء (علمائے دین) اولیاء الله نه دی نو په اخرت کښے به څوک د خدائے ولی نه وی - یعنی عالم ضرور ولی دے (سخاوی)

حدیث ۱۲ شریف کښے دی چه د عالم مخ ته کتل عبادت دے (دیلمی من انس مرفوعا بغیر ذکر سند)

حضور ۱۳ (صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی خوشحاله دے کړی الله پاک هغه سړے (او بنده) چه زما نه ئے خبره واوریده او بیائے او رسوله هغه ته کله ځنله چه ئے وا اوریده - ځکه چه زیات هغه خلق چه کلام ورته اورسی هغه یادونکی به وی د اوریدونکی نه (ترمذی وابن ماجه) په دے کښے د

له مطرت ثعلبه نه د حضور نه روایت نقل کوی چه الله جل شانه چه په قیامت کښے د خلقو فیصله کوی نو علماؤ ته به ارشاد اوفرمی چه ما خپل علم او حلم تاسو له ځکه درکړے وو چه تاسو گناهونو او بدو و مغفرت اوکړم خوره پرواه مه کوه ۲ ماخوذ د جمع الفوائد ص ۱۲

علم دین خوره فضیلت دے چه حضورؐ خادمِ دین چه خادمِ حدیث وی پخپله مبارکه دعا سره مشرف کړے دے - علماء فرمائی چه دَ حدیثو په یادولو او بل ته په خو دلو کښے سوادَ دے دعا دَ برکت نه بله نفع دَ هم نه وی بیا هم کیدے کو لو کار ښه وه حالانکه دَ دے دعا نه علاوه عظیم ثواب لے نور دے خلقو دے دُعا قدر دَ کړے علم دین لوله چه په دوا پره جهانه کامیاب شئ -

حد[13]یث کښے دی چه دَ چا په لاس یو تن هم مسلمان شه جنت به بیا مومی (طبرانی) په دے کښے دَ نیکے خاتمے خوشخبری ده ځکه چه جنت به هغه مومی چه خاتمه ئے پخیر شی - او دَ چا مسلمانول دَ عالم کار دے جاهل خو پخپله ناخبره وی بل ته به څه لار او ښائی -

صحیح[14] حدیث کښے دی چه حضورؐ فرمایلی دی څوک چه خلو یښت احادیث ځما امت ته او رسوی نو زهٔ به په قیامت کښے خاص طور سره دَ هغه سفارش کوم - (جامع صغیر) دَ رسول عام دی خواه لو لول وی او که تصنیف کول وی یا په وعظ سره وی - غرض دا دے چه څلو یښت حدیث خلقو ته او رسی په هر طریقه چه وی - په دے وجه محدثینو ډیر څلو یښت حدیث لیکلی دی -

حد[15]یث کښے دی چه " ان الله یکره الحبر السمین " تحقیق الله پاک نه خوښوی څوربه عالم (بیهقی) یعنی کوم عالم چه باعلم وی هغه دَ دین دَ خدمت او دَ آخرت دَ یرے په وجه نشی څربیدے نو څربیدل ښه ده دَ عیش عشرت او دَ غفلت نو دا سړے مقبول کیدے نه شی - او بعض غفلت او بعض عیش گناه وی او بعض مکروه وی او دَ درجے دَ کمال نه خلاف چه خومره غفلت وی په هغه درجه دَ الله پاک ناخوښی وی - او که دَ مرض په وجه څوربوالی وی بیا خیر دے -

حد[16]یث کښے وی چه په قیامت کښے به سخت عذاب دَ هغے عالم وی چا چه دَ خپل علم نه نفع وانخستله (جامع صغیر) حد[17]یث کښے دی چه په دوزخ کښے یو وادی (ځنګل) دے هره ورځ ترے سل واره نورد وزخ پناه غواړی دیته به ریا کار عالم داخلیږی - (مشکوة) یعنی هغه عالم چه خلقو ته دَ ځان خودلو دَ پاره علمی خدمت کوی - او علم دَ دے دَ پاره کوی چه خلق ما ته عالم او وائی او عزت م کوی - مال راکوی بزرګ م کنړی - او خلقو ته دَ ځان خودلو دَ پاره عبادت کول سخت ګناه او شرک دے -

حضرت ابن مسعودؓ څه که اهل علمو دَ علم حفاظت کولے (او قدر ئے کولے) او دَ علم اهل ته ئے علم سپارلے (یعنی په چا کښے چه دَ علم قابلیت وی هغوی ته ئے خودلے - دَ ضرورت مطابق علم خو په هر یو سړی فرض دے خو زیات علم هغه چا ته خودل پکار دی چه هغه دَ مقتدا او پیشوا کیدو اهل وی) نو بے شکه سرداران به جوړیدل (یهود او نصاری) په سبب دَ علم دَ خپلے زمانے په خلقو - مګر هغوی علم په مالدارو خرخ کړو چه دَ دنیا نفع حاصله کړی نو دَ مالدارو دنیادارو په نظر کښے خوار او ذلیله شو - (ځکه دَ علم حق داده چه دَ خدائے رضا پرے حاصله کړی نو چه ده پرے دنیا طلب کړه

له ډیرو محدثینو څلو یښت احادیث دَ کتابچو په شکل کښے لیکلی دی چه نن صبا عام دی او ډیرکو ائي ئي ری کتل ئے منا دی ۱۲ تله حضورؐ فرمایلی دی چه علم دوه قسمه دے یو هغه چه په ژبه باندے وی دا په بنده دَ الله پاک حجت دے دویم هغه علم چه په زړه کښے وی دا علم نافع دے - په حدیث کښے دی چه علم دَ دے دَ پاره اینده کوه چه په عالمانو کښے پے فخر کوے او دَ جاهلانو سره مقابله وخلق ځانته مائل کړے څوک چه داسے کوی هغه دوزخی دے ۱۲ سه ابن ماجه او دَ حضرت ابو هریرهؓ په روایت سره دَ حضورؐ دا ارشاد نقل کړے دے چه څوک علم دین دَ دے دَ پاره حاصلوی چه دنیا پرے حاصله کړی (یعنی دنیاوی غرض ئے وی) نو په قیامت کښے به دے دَ جنت خوشبو هم بیا نه مومی ۱۲

نو علم ئې ذلیل کړو چه انجام ئې دا شه چه پخپله ذلیل شه - کوم عالم چه طمع نه لري او د دین حق ادا کوي نو د خلقو په زړونو کښې الله پاک د ده لوئي پیدا کوي او کوم چه په دنیا طلب کوي هغه لره ذلیل کوي او دا سې عالم په دوا په جهان په تاوان کښې دے) ما د حضور صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چه څوک خپل ټول فکرونه او مقصدونه یو فکر او مقصد کړي او هغه د آخرت (یعني خپل ټول مقصد آخرت کړي او د کوم څه په فکر کښې شي او باقي مرادونه او فکرونه د شریعت موافق الله ته او سپاري) نو کافي به شي الله تعالیٰ ده لره د دنیا د ټولو فکرونو او مقصدونو د پاره یعني د دنیا کارونه به ئې الله تعالیٰ پخپله پوره کړي - او څوک چه د دنیا په ټولو کښې پریشانه وي خدائے پاک د ده هیڅ پرواه نه کوي چه د دنیا په کومه کنده کښې هلاک کړي (ابن ماجه)

اې مسلمانانو رونړو او دیني خویندو فکر او کړئ خپل ځانونه او اولاد د جهالت د تیرونه بهر کړئ او د الله تعالیٰ د حکم هر وخت پابند شئ - چه بنده د الله شي نو الله تعالیٰ هم د هغه سره محبت کوي او هر قسم مدد ئې کوي او چه الله د چا شي نو د هغه په ښه کې وي - د خدائے په خزانو کښې څه شي نشته مګر دا ټول فضل د هغه په تابعدارئ سره حاصلیږي - په حدیث کښې دي چه د الله تعالیٰ نه هر څه د هغه په اطاعت سره ملاویږي - نن صبا دیني علم عیب ګڼړلے شي او ویلے شي چه د دیني علم نه سوا د فقیرئ نه بل څه نه حاصلیږي - نوے تهذیب نوي خیالات د کافرانو پیروي فخر او عزت ګڼړلے شي - هم دا وجه ده چه شپه او ورځ د الله پاک عذابونه نازلیږي چرته سیلابونه دي چرته زلزلې دي چرته خشک سالۍ او چرته د غربت او لوږې فکرونه دي او چرته مذهبي دشمنۍ راپورته شوي بے دریغه قتلونه کیږي - او د آخرت عذاب د دې نه څو څو چنده دے الله پاک دِ په مسلمانانو رحم او کړي - زمونږ مطلب دا نه دے چه په قدر د ضرورت د دنیا علم مه ایزده کوئ یا نوکري او تجارت پریدئ - بلکه غرض دا دے چه د دین نه مه ناخبره کیږئ او ټول کارونه د شریعت موافق کوئ او د شریعت تابعداري بغیر د دیني علم نه نه کیږي - دا تجربه ده چه څوک د دین پوره پابند وي هغه په دنیا کښې هم څه په آرام او عزت سره دے - یو دا سې پوخ دیندار او عالم دې څوک او بنائي چه هغه خوار دے او خیرات غواړي - دنیا د امتحان ځائې دے اصل کور د آخرت دے هلته همیشه او سیدل دي - زیات د هغې کور د آبادئ بند و بست لازم دے خپل ځانونه او اولاد د نوے رڼا د تیرونه بچ کړئ دا په حقیقت کښې تیاره ده چه دین تباه کوي - کله چه سړے دین مضبوط اونیسي نو دنیا خو ورپسې ده ته راځي - لکه په حدیث کښې چه دي - او حضرت ابن عباسؓ فرمائي چه حضرت سلیمان عليه السلام له الله پاک اختیار ورکړه چه یا علم واخله یا بادشاهي نو هغه علم واغستو - نو الله پاک ورله علم هم ورکړو او بادشاهي هم او بادشاهي داسې چه بے مثله چه د قیامته پورې داسې بادشاهي بل چا ته نه ده مِلاو شوې او نه به ملاوېږي دا ځکه چه حضرت سلیمانؑ دین اغستے وو او علم ئې قبول کړے وو - او حضرت سالم بن ابي الجعد چه یو لوئې تابعي دے فرمائي چه زه خپل آقا آزاد کړم (دے غلام وو) نو ما خیال او کړو چه کومه پیشه اختیار کړم چه اوقات مې بنه تیریږي - تر او سه خو د مالک تابعدار وم او د هغه سره مې ګذاره

وه او اوس آزاد یم لوځه بند وبست پکار دے - لو په خیال کښے م راغله چه علم حاصل کړم نو واسے رم او کړوه او یو کال نه وه تیر شوے چه د مدینے حاکم ما سره د ملاوین و خواهش او کړه خو ما ورله اجازت ورنه کړو - مطلب دا دے چه په څه خاص وجه ورسره ملاؤ نه شوم ورنه بلا وجه داسے کول د دین نه خلاف دی - لیکن د لته د دے بیان نه داغرض دے چه په دے لږه موده کښے ما دومره مرتبه شوے وه چه حاکمان به زیارت له راتله او ما پے هیڅ پرواه نه وه چه موقع به نه وه نو ما به صاف انکار کولو - واقعی د دین دا برکت دے - د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا یره په زړه کښے نه پاتے کیږی - او څوک چه د خدائے نه یریږی د هغے نه هرشے یریږی داسے خلق د چا نه څه غواړی نه چه ذلیل شی نه د چا نه طمع کوی - (احیاء العلوم)

حدیث[19] کښے دی چه علم د دوشنبے په ورځ طلب کوه چه د سره په علم کښے ترقی کیږی (کنز العمال) او دا مضمون د جمعرات متعلق هم راغلے دے مطلب دا دے چه کتاب د دوشنبے او جمعرات په ورځ شروع کول غوره دی - دغه شان بل علمی کار شروع کول هم په دے ورځو غوره دی -

حدیث[20] کښے دی چه کچا چاته د کلام الله یو ایات هم او خوده هغه ئے آقا شو (طبرانی) یعنی طالب علم غلام او استاد آقا شو غرض دا دے چه د استاد ډیر لوئے حق دے دے خلق د تیرے نه رنړا ته را او باسی او الله تعالیٰ ته ئے رسوی - او د غلام کیدو مطلب دا نه دے چه خرڅوی به ئے بلکه مراد تے د استاد د حق زیا توالے دے استاد او پیر د والد ینو نه په کمه درجه کښے دی -

حدیث[21] کښے دی چه د عالم نه د مسئلے تپوس اوشی او بغیر شرعی عذر ئے د پټه کړی په قیامت کښے به ورته د اور واګے واچولے شی (مشکوٰة) یعنی چه خود لته ضروری وی - او بخل کول د علم نه خواه که خو دلته فرض دی یا مستحب بے د شرعی عذر نه هر ګز نه دی پکار -

دلته یو خاص مضمون چه ډیر مفید دے د بچو د تعلیم په باره کښے او مولانا اشرف علی صاحب په رساله القاسم کښے مرحمت کړے وه د مسلمانانو د نفع د پاره د فائدے په غرض درج کولے شی -

د معاملے اصلاح د بچو په تعلیم سره

اګرچه پس د راوړو د حدیث د طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة نه او د نورو حدیثو نه چه دا جیونکی د حصول د علم دی په سړو او بچو باندے د مستقل بحث څه ضرورت نشته لیکن د بعض خاصو حالاتو په وجه چه اکثر لیدے شی دلته په مستقله طریقه د ضرورت مطابق ذکر کولے شی - دا یاد لرل پکار دی چه په دے مقدمه کښے چه څومره تالاش شوے دے درے قسمه خلق دی - یو هغه چه د بچو د تعلیم نه مخالف دی او نه موافق - دویم مخالف - او دریم هغه چه موافق دی - او د دے تولو نه مختلفے کوتاهئ واقع کیږی - لو دا ولے طبقے کوتاهی چه

له په بعضو احادیثو کښے د چهارشنبے ورځ راغلے ده د صاحب هدایه نه نقل دی چه د کتاب شروع کولو د پاره به ئے د شروع د ورځے اهتمام کولو او دا ئے مائل به ئے چه کوم کار د دے به ورځ شروع شی هغه د رختم کیږی او امام اعظم نه هم دا نقل دے ۱۲
که د علم طلب په هر مسلمان فرض دے که ښځه وی او که سړے ۱۲

دَ تولو کو تا هونه زیات ده دوی دَ سرنه دَ ښځو دَ تعلیم ضرورت نه کنړی. نه دَ ښځو په نزد او نه دَ سړو په نزد۔ او دلیل دا پیش کوی چه ښځو ته کومه نوکری پرته ده چه تعلیم کوی نو معلومیږی چه دا خلق نه دَ تعلیم په مقصد پوهیږی او نه په دے حدیثو او روایاتو کښے غور کوی چه په سړو او ښځو دَ یو حده پورے علم حاصلول واجبوی۔ نو دوی ته دے معلومه وی چه دَ علوم نه غرض نوکری نه ده ځکه چه کوم علم فرض عین دے هغه ذریعه معاش نه دے بلکه هغه دَ دین علم دے چه عقیده او عمل او معاملات او اخلاق په برابریګی۔ چه دَ هغے میوه په دنیا کښے[1] اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ او په آخرت کښے دَ[2] وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۞ زیرے دے. نو وجوب ئے ظاهر دے سمعًا هم او عقلاً هم۔ دلایل سمعی دا دی[3] طلب العلم واجب علیٰ کل مسلم (بیهقی عن انس)[4] طلب العلم فریضة علیٰ کل مسلم (الدیلمی عن علی)[5] طلب الفقه حتم واجب علیٰ کل مسلم (حاکم فی تاریخه عن انس) تعلموا[6] العلم وعلموه الناس دارقطنی عن ابی سعید و بیهقی عن ابی بکرؓ) تعلموا[7] العلم قبل ان یرفع الدیلمی عن ابن مسعودؓ عن ابی هریرةؓ) یا ایها[8] الناس علیکم بالعلم قبل ان یقبض طبرانی والخطیب عن ابی امامةؓ) یا ایها[9] الناس خذوا من العلم قبل ان یقبض العلم (احمد والدارمی طب وابو شیخ فی تفسیره وابن مردویه عن ابی امامةؓ) ویل[10] لمن لا یعلم کذا فی کنز العمال وغیر ذلك من النصوص العامة للرجل والمرأة او دلیل عقلی دا دے چه دَ عقائدو او اعمالو اصلاح فرض ده او دا بغیر دَ علم نه نه کیږی نو ظاهر شوه چه فرض په فرض بودے موقوف شو۔ نو علم حاصلول فرض شو۔ او دَ عمل په علم پورے موقوف کیدل خو بالکل ظاهر دی او دا په حِسّ سره معلومیږی۔ چونکه بے علمه ښځے چه په څه حالت کښے دی تول ئے وینی چه نه په کښے دَ کفر او شرک تمیز شته او نه په کښے دَ ایمان او اسلام محبت شته۔ څه چه غواړی نو دَ خدائے په شان کښے بکواس نه کوی دَ شرعی احکامو هم وخه پروانه ساتی۔ او دَ خاوند او اولاد وغیره دَ مسخر کولو دَ پاره تعویذونه منترونه کوی۔ هر څه جادو منتر وغیره دَ شرع خلاف کوی۔ بد فالی نیک فالی وغیره کوی۔ چه عقیدے ئے دومره خرابے وی نو دَ مانځه او او داسے روژے به ئے څه وائے۔ نه ورسره دَ فرضو خیال وی او نه ئے څه اهتمام کوی دَ پلیتی او بے نمازی څه خیال نه ساتی فرض واجب غیر ضروری بلکه بعضے ئے منحوس او څه نه کنړی او نوبت ئے کفر ته اورسی او فسق او ګناه کبیره خو عام دے۔ چه دَ مانځه روژے دے دا حال وی چه یوه پیسه پے نه خرچ کیږی نو دَ زکوٰة او حج خو ئے هیڅ تپوس مه کوه نو چه دَ عقائدو او اعمالو او دینداری ئے دا حال دے نو معاملے به دَ دوی څنګه ټیک شی ځکه چه دَ مونځ روژے حیثیت دَ دین دے او معاملے خو دَ عوامو په نظر کښے بالکل دَ دنیا شکل لری نو دَ دے دَ درستی اهتمام خو به خاص خلق کوی جاهلے زنانه به څه درستی

[1] دغه خلق په هدایت دی دَ خپل رب نه [2] او دغه خلق فلاح موندونکی دی [3] دَ علم طلب په هر مسلمان واجب دے [4] طلب دَ علم په هر مسلمان فرض دے [5] دَ فقه طلب په هر مسلمان ډیر ضروری دے [6] علم ایزده کړه او خلقو ته ئے اوخایه [7] علم ایزده کړه اول دَ هغے نه چه پورته کړے شی [8] اے خلقو علم لازم اونیسئ اول دَ هغے نه چه پورته کړے شی۔ [9] اے خلقو علم حاصل کړے دَ هغے نه مخکښے چه پورته شی [10] خرابی ده دَ بے علمه دَ پاره ۱۲

اوکړي - نو چه معاملات ئې داسې وي نو معاشرت به ئې څنګه ټيک شي ځکه چه معاملات خو کم ازکم حقوق العباد ګڼړلے شي په معاشرت کښې خو دا پهلو هم بنکاره نه ده - او چه معاملات او معاشرت ئې داسې وي خو اخلاق باطني لکه اخلاص تواضع خوف محبت صبر شکر وغيره به ئې ډکومه برابر شي - بهرحال دا ټول کاروبار ئې په وجه د بے علمئ د علمِ دين خراب او بے کاره وي - لوچه کوم ځائے علم نه وي او بيا فطرتا په ښځو کښې عقل هم کم وي نو بيا به په دے مذکوره کارونو کښې دغه ځائے څومره کوتاهي وي - غرض دا دے چه عقل او مشاهده او دا بره ګواه دي چه بغير د علم نه د عمل صحيح والے ممکن نه دے او د عمل صحيح والے واجب او فرض دے پس د علم دين فرض والے عقلا هم ثابت شو او سمعًا هم - پس د هغې خلقو دا خيال چه ښځو ته کومه نوکرئ حيرانه پرته ده چه تعليم ئې ضروري شه محض غلط ثابت شه - دا جواب شه د دوي د دے مذکوره کوتاهئ - البته په دے دا شبه کيدے شي چه د علمِ دين فرضيت په دے متعارف طريقه خو واجب کيدل لازمي کيږي نه شي چه ښځو ته دِ هم کتابونه لوستے شي بلکه دا خو د عالمانو نه په تپوس کولو هم حاصليدے شي - نو د دے تحقيق دا دے چه دا واقعي دا خبره صحيح ده او مونږ دے متعارف تعليم ته بنفسه واجب نه وايو ليکن دلته د دے خبرے د غور قابلے دي اول دا چه خبره د واجبو واجب وي اګر که بالغير وي - لکه يو سړے به پياده حج کولو قادر نه وي او د دغې سړي په زمانه ريل کاډے هوائي جهاز د سفر د پاره مقرر وي او د ده سره طاقت او قدرت وي نو په دے سړي واجب دي چه د سفر قصد او کړي او د ريل او جهاز ټکټ واخلي او سور شي په کښے - پس د ريل او جهاز ټکټ اخستل او سوريدل په ده في نفسه شرعًا فرض نه دي ليکن دا د يو فرض و ذريعه ده نو دا هم فرض شو خو بالغير نو دا مقدمه خو ثابته شوه - بله دا ده چه په تجربه سره معلومه شوے ده چه علم د کتاب نه په ذهن کښے کيني - او دا د تعليم معلومه طريقه ده او د علمِ دين ياده ول واجب دي نو په دے وجه په معلومه طريقه سره علم زده کول هم واجب شو البته دا واجب کفائي دي - يعني په هر ځائے کښے داسے خلق پکار دي چه د نورو خلقو د پوهه کولو د پاره کافي وي - دريمه دا چه دا هم په تجربه سره ثابته شوے ده چه سړي عالمان د ښځو ديني ضروريات نه شي پوره کولے په دوه وجهو سره يو دا چه د وي له پوره ضروري واجبه ده او ټولے ښځے عالمانو له نه شي تلے او په هر يو کور کښے اکثر داسے سړي وي هم نه چه د کور ټولے زنانه د هغه په واسطه ځان خبر ولے شي - او اکثر وسړو سره خو بچيله هم د دين څه خيال نه وي نو د ښځو د پاره به څه کوشش او کړي - او که داسے سړي پيدا هم شي خو ښځے د ټولو مسئلو تپوس د سړو نه کولے هم نه شي - داسے بے تکلفي صرف د خاوند سره کيدے شي خو اکثر خاوندان عادتًا داسے وي هم نه - نو د ښځو عام ضرورتونه بغير د دينه نه شي پوره کيدے ترڅو چه پکښې څه ښځے تعليم يافته نه وي - نو پس ځنو ښځو له په معلومه طريقه سره ديني تعليم ورکول واجب شو - او دا خيال چه ښځو له د ديني تعليم ورکولو څه ضرورت نشته باطل شو -

او س د بلے طبقے متعلق څه لږ ليکلے شي چه د ښځو د تعليم مخالفت کوي - او ضررناک ئې ګڼړي - دعوي ئې دا ده چه تعليم يافته ښځے اکثر آزادے، بے باکه، بے حيا، مکارے او بد چلنه

وی چاته چه غواړی خطونه لیکی او سړی هم اکثرخپل خواهشات دوی ته دخطونو په ذریعه رسوی- او اخر د دے خط وکتابت انجام د شرم او بد چلنئ په شکل کښے ښکاره شی اوکه جواب ورته کړی نو بیا هم دا بیماران د دړونو تے د خاموشی نیمه رضا ده مطلب اخلی او بیا بیا خطونه رالیږی او ذناته اکثر نرم مزاجه وی او په دے داسے خبره واترو یرے زر دهوکه کیږی او شیطانانو ته یرے زر دهوکه کولے شی او که بعضے زنانه رټه جواب او زورنه هم ورکړی خوخاندان ته د شرم د وجهے ښکاره کولے نه شی نو په دے هغه زیات زړه ورکیږی او قلاریږی نه که بیا هم چرته موقع بیا مومی نو خپل شرارت کوی او دا تول واقعات ځکه کیږی چه ښځے تعلیم یافته وی- چه بے تعلیمه وی هیڅوک ورته خط نه لیکی ځکه چه په دے کښے د بل سړی د خبرے و یره وی- او دا فساد په هغه وخت کښے بیا ډیر زیات وی کله چه د ښځو مضامین په اخبارونو کښے چهاپ کیدل شروع شی- ځکه چه شیطانان خلق ئے د خبرو اترو ولیک نه د لیکونکے د حذبا تو خیالاتو او طبیعت اندازه اخلی او د خپل شرارت بچری هلته خوَرَول شروع کوی- او که کلام ئے په نظم کښے وی نو هغه خو بیا زیات آفت دے او نن صبا خو ورسره پوره پته لیکلے شی چه بیا ورته رسائی ډیره آسانه وی- او که چرته په دے پښتو شرارتونو خاندان والا خبرشی نو د خپلے صفائی د پاره داسے لیکونکی لوستونکی داسے خبرے جوړے کړی چه ځان بالکل بے داغه او بے نقصانه ثابت کړی- او داسے مکارئے او چلونه ولونه جوړ کړی چه بازپرس کونکے ئے بیا په خوشامند کولو مجبوره شی- او د یرینه بیا چرته دا خبره په ژبه هم نه راوړی- د تعلیمیافته یوه بله خبره د خرابئ داده- چه هر قسم کتابونه راغواړی او لولی د عشق بازئ کتابونه او لوبه د شوق راپورته کولو غږلے او کله کله ئے داسے په ذوره وائی چه د کوره پهریا کاونړی ئے هم آوری او خلق ئے تماشے او ننداره ته لیوالئه کیږی او د شرم او بے عزتئ سبب جوړیږی- دا خلاصه د هغه خلقو د خبرو ده چه ښځو له تعلیم ضررناک کنړی- زه دا واقعات دروغژن کوم نه لیکن دا ضرور وایم چه دوی د تنګ نظرئ نه کار اخلی- د دا قعو په حقیقت غور نه کوی- اصلی خبره داده چه د دے تولو خرابو ذموار تعلیم نه دے بلکه طریقه د تعلیم ده- یا د تعلیم نصاب دے یا طرزعمل دے- یا ناکاره تدبیر دے- یعنی داسے کتابونه په نصاب کښے نشی لوستے چه په هغے کښے د احکامو او حلالو حرامو تفصیل وی د ثواب او عذاب بیان وی- د اخلاقو د جوړه ولو تعلیم وی او د خدائے یره او معرفت پے حاصل شی- صرف لیکونکے او لوستونکے تے جوړ کړی او بیرے ئے پردی بیا هغه پخپله رضا چه څه ئے زړه غواړی لولی او تعلیمیافته تے جوړ شی- نو دا ظاهره خبره ده چه په داسے تعلیم د عملونو اصلاح نه شی کیدے- او یا داسے کیږی چه که طریقه د تعلیم کافی او اصلاحی وی خو د هغے په زړه کښے د کینولو او په عملی ژوند کښے د پکار را وستو کوشش نه وی شوے مثلاً داسے نه شی کولے چه مثلاً نن یو جینئ دا اولوستل چه غیبت ګناه دے- او د دیته پس هغه چرته غیبت او کړی او او تم کلے شی په چه ولے تا نه دی لوستلی چه اوس تے خلاف کوے- او یا مثلاً د پردے او نظر ځکته ساتلو متعلق هغے اولوستل او بیا تے په دے باره کښے کوتاهی

کیږی او فوراً ورته یا دَ ولے شی چه دَ لے دَ دین نه خلاف کوے. او دغه شان دَ تعلیم سره سره که دَ دوی په اخلاقو جوړولو هم نظر او ساتلے شی نو امید دے چه ښهٔ خویونه او نیک اعمال به یه دے کښے ځائے اونیسی. او یاد اے اوشی چه څنګه دَ دوی ختهٔ خرابه دی صلاحیت او قابلیت په کښے نه وی نو په دے صورت کښے بیا هغه دَ دے مصرع مصداق وی "چه نا اهلو ته تربیت کول کیند ته پنډوسکے کښل ارل دی" داخو دَ دوی دَ خپلو اعمالو او احوالو متعلق خبره وه. او زیاتے شرارتونه په کښے دَ نا کاره تدبیر په وجه وی دَ دے دَ بندولو تدبیر دا دے چه کوم اسباب دَ مفاسدو وی هغه بالکل بند کړے شی. ځکه چه په دے مفاسدو کښے یوائے ګناه دَ بنځو نه دے بلکه دَ دے ذمواراکثر سړی وی. دَ سړو هم چه پرورش په ښه طریقه اونه شی نو دا سے مفاسد تے پیدا کیږی او اکثر دَ دا سے فساد اصل محرک سړے وی. نو بیا څه وجه ده چه سړو ته دے دَ تعلیم هرقسم آزادی وی بلکه څه اهتمام دے کولے شی او په بنځو دے بند کړے شی. دَ دے اصل وجه دَ دے نه سوا بله نه معلومیږی چه دا خرابی که په سړی کښے وی نو هغه ذلت او رسوائی نه شی ګڼړلے او که په بنځو کښے وی نو ذلت او رسوائی ګڼړلے شی نو بنځو ته دَ تعلیم دروازے بندے او سړو ته پرانستے دی. لیکن شرعا ښکاره خبره ده چه په دے باب کښے بنځه او سړے یوشان دی. که بنځے له ګناه ده او ملامتی ده نو سړی له هم او که بنځے له نیکی او پاکدامنی غوره والے دے نو سړی له هم. نو چه شرعا دواړه برابر دی او عرفاً ورله په تفاوت دی. نو دَ یو فریق دَ پاره دَ دے احتمال اعتبار کول او دَ بل دَ پاره نه کول ښکاره دَ شریعت نه مخالفت دے او لوئے جهالت دے. او دا صرف محض دعوی نه ده بلکه دَ مدعا علیهم اقرار هم دے. ډیر دَ خلقو نه اوریدلی شوی دی چه دَ سړی مثال دَ لوښی دے که لس ځلے پلیت شی خو په اینځلو پاکیږی او دَ بنځے مثال دَ ملګلرے دَ څمک دے چه یو وار تے لاړ شی نو بیا ورله نه راځی. نو دَ دے نه دا مطلب شه چه دَ سړی دَ پاره ګناه څه معمولی کار دے او دَ بنځے دَ پاره دَ لوئے والی نه علاوه سپکاوے هم دے.

اوس صرف دَ دریمے طبقے متعلق خبره پاتے شوه چه دَ تعلیم حامی دی لیکن دَ تعین او طریقے په تجویز کښے دَ دوی نه غلطی شوے ده. چه دَ هغے نه که بعضے بیان اوس تیر شوے دے. چه صرف حرف شناسے تے جوړے کړی او بیائے هم دغسے پریدی چه هغوی بیا څنګه رضا مختلف رسالے او کتابونه غیر اخلاقی ګوری او دَ تعلیم او دَ عمل ئے هیڅ نګرانی نه کیږی. یا بعضو زنانه وو ته دَ دینی علومو په ځائے تاریخ جغرافیه انګریزی وغیره لوستے شی چه دا صرف دَ غیر قومونو دَ تقلید نه سوا نور هیڅ نه دی. او دَ دے خبرے هیڅ خیال نه شی ساتلے چه مونږ او دَ دوی په رسمونو عقیدو و عادتونو کښے لوئے فرق دے او دَ دینه علاوه لوئے فرق په مونږ او دوی کښے دَ مذهب دے چه مونږ مسلمانان یو مونږ او دَ دوی مذهبی اختلاف دے. دَ مسلمان دَ پاره تعلیم په اسلامی طریقه دے او دَ دوی تعلیم صرف دَ ژبے تعلیم دے یا دَ دنیوی معاملاتو او یا دَ غیر مذهب تعلیم دے. بهرحال دَ دے خلقو دَ تعلیم یو خاص مبنی ده نو که مونږ دَ دوی تعلیم اختیار کړو نو څه مطلب

بہ ئے شی ځکه چه د دوی د تعلیم نه غرض بل څه دی او زمونږ بل څه - زمونږ د تعلیم نه مقصد د عقیدو و عملونو معاملوا و اخلاقو اصلاح ده او دا بغیر د دینی علم نه ممکنه نه ده - نو ښکاره خبره ده چه د دوی تعلیم اختیاره ول ځمونږ د پاره بے مطلبه دی البته که چا ته د ذریعه معاش د پاره د دے تعلیم حاجت وی نو د دینی علم حاصلولو نه پس دے دغه علم حاصلوی کوم چه د معاش ده لازم وی - او دا هم ښکاره خبره ده چه د کسبِ معاش ضرورت سړو ته وی - د ښځو نان نفقه خو په سړو ده - بل دا چه په اسلام کښے د پردے تاکید دے - او د معاش خاصے طریقے چه د خاصو خاصو علمونو ضرورت دے ورته د پردے سره نه حاصلیږی - نو په دے وجه د ښځو د پاره دا تعلیم بالکل فضول او د وقت ضائع کول دی - بلکه د فضول نه زیات هر قسم ضررناک دے چه بیان به ئے مخکښے راشی - بهرحال دا نوے تعلیم د ښځو د پاره په هیڅ شان لایق نه دے البته د ضرورت مطابق فنی علم - لیکل، د لاسونو هنر ایزده کول ورله مناسب دی پاتے شو لیاقت حاصلول نو دا چه څومره په دینی علم کیدے شی دومره په بل یو علم هم نه شی حاصلیدے - او که څوک تجربه کول غواړی نو آسانه ده - یو دے هغه سړے داخلی چه علمِ دین پے پوره اثر کړے وی او بل دے هغه سړے چه مغربی تهذیب پے پوره اثر کړے وی - بیا د دواړو د اخلاقو معاملو، معاشرت موازنه او کړی نو د زمکے او اسمان فرق به بیا موی - او که د چا په ذهن کښے یو دیندار داسے راشی چه په هغه کښے څه کمے وی نو وجه به ئے دا وی چه دین به په هغه کښے پوره اثر نه وی کړے - د دین پینځه حصے وی - عقیدے، عملونه، معاملے، معاشرت، او اخلاق باطنه - بعض خلق صرف مونځ روژه احکامو پیژندو ته علمِ دین او د دے احکامو پابندی کونکی ته دیندار وائی - نو دا غلطی ده دا ټول ذکر شوی ضروری احکام پیژندل علمِ دین او د دے ټولو پابندی کول دینداری ده - نو کوم سړے چه دیندار بللے شی او کمے په کښے وی نو هغهٔ په حقیقت کښے د دین ټول اجزاء نه دی قبول کړی او خبره زمونږ په دے کښے ده چه چا د دین ټول اجزاء قبول کړی وی - بنده د دے قسم شبهاتو د جواب د پاره رساله "حقوق العلم" لیکلے ده (چه د کتو قابله ده) غرض د علمِ دین نه چه څومره تهذیب حاصلیدے شی دومره د بل علم نه نه شی حاصلیدے - دا د علمِ دین اثر وه چه زمونږ په تیرو مشرانو کښے ئے هغه شائسته اخلاق پیدا کړه چه پخپله مغرب والا ئے نه یوائے اقرار کوی بلکه حصه اغستونکی دی تے - مگر مونږ د خپل کور د دولت نه بے خبره د بل په دَر کښے ئے خیرات غوختونکی یو - رومی فرمائی ؎

ترجمه:- د روټو یو ټکور دے په سر کښے او ته د ژبه در د روټو ټکړه تلاش کوے او د ځلکو تا نو پورے په او بو کښے ډوب ولاړ ئے او د تندے او لوږے نه پریشانه ئے بد -

بعضے خلق خپلو جینکو ته تعلیم په آزادۍ او بے باکو انګوبا ندے ورکوی او د هغوی د اخلاقو او جذباتو اثر لازما په دوی او شی ځکه چه د هم صحبت اثر لازمی وی - او دغه بے باکی او آزادی په دے جینکو کښے هم راشی - ځما په رائے د ښځے حیا او د خیال او طبع بندیز دا د ټول خیر کیجی ده او چه دا پاتے نه شو نو بیا تے د خیر طمع عبث ده ؛ هر علله چه ئے

لاړه نو بیا چه څهٔ ږدي ړه غواړي کوه". او بیا خاص کر په ښځو کښے خو عقل هم کم دے نو چه یو عقل کم وي او بیل ځیالاړه شي نو څهٔ به ئے حال وي. چه استاذه داسے وي او د سکول ملګرے جینکۍ داسے وي نو هغو مره جنیکۍ چه ورته نورے نزدے کیږي دغه اثر به قبلوي. د دے تقریر نه د دوه وه خرابو حال معلوم شه. یو د جینکو د پاره عام زنانه سکول جوړه ول او د عامو مدرسو پشان په هغے کښے د مختلفو قومونو او مختلفو طبقو د جینکو روزانه جمع کیدل. اګر که استاذه مسلمانه هم وي او دو ي ورل په ځو لو کښے هم راځي او دلته ئے د پردے خاص انتظام هم وي لیکن بیا هم واقعاتو دا ثابته کړے ده او تجربه شوے ده چه دلته داسے اسباب جمع کیږي چه په اخلاقو ډیر بد اثر پرے باسي او دا صحبت اکثر عفت سیزونکے ثابت شوے دے. او که استاذه ورته هم اناډ خیاله او مکاره ملاګ شوه نو بیا خو تے د خیر طمع فضول ده. او دویم دا چه که چرته د مشن سکول میمه ورته استاذه ملاوه شوه نو بیا خو ته د عزت خیر شته او نه د ایمان. لیکن افسوس چه صد افسوس چه بعضے خلق دا خپل فخر ګنړي او خپلو کورونو ته ئے راولي. د داسے ښځوته خپل اولاد هیچ ساتل پکار دي. دا مجسم اغاتو ته دی خپلو لونړو ته په دینداره مسلمانو ښځو په کور کښے دننه په پرده سره تعلیم ورکول پکار دي. د کومو ضررونو د بیانو لو چه پورته وعده شوے وه د هغے نه شه دا وو. او د څه ذکر د دوے طبقے د خلقو په ذکر کښے شوي وو. غوره طریقه د جینکو د پاره دا ده کومه چه د پخوانه راروانه ده. چه دوه دوه څلور څلور جینکۍ د خپلو خپلوانو کورونو ته راځي او تعلیم کوي. او که چرته داسے استاذه ملاو شي چه اجرت نه اخلي نو دا تعلیم ډیر برکتي وي او اثرناک وي او که مجبوري وي نو بیا هم خیر دے که څه واخلي. او که دا نه وي نو د خپل کور سړے دے ورته تعلیم ورکوي. او نصاب د تعلیم د داسے وي چه اول ورته قرآن شریف صحیح او لو لوي او بیا دے ورته دیني کتابونه چه په اسانه ژبه کښے وي چه د دین د ټولو اجزاؤ مکمل تعلیم په کښے وي. (ځما په نزد دا وخت د جنت د کالی نسل وارړه حصے د ضرورت د پاره کافي دي). او که د کور سړے ورته تعلیم ورکوي نو کومے مسئلے چه شرمناکے دي هغه دے ورته د خپلے ښځے په ذریعه ښائي. او که دا انتظام نشي کیدے نو ښے دے ورته کوي چه دا به بیا اولو لے او چه بیا دا پوهه شي نو پخپله دے لولي. او که یا ورته عالم خاوند ملاؤ شي نو د هغه به پے ځان پوهه کړي. یا دے بیا د خاوند په ذریعه د عالم نه تحقیق او کړي او دا وضاحت د جنت د کالی په دستورالعمل کښے په ص باندے بنده لیکلے دے. لیکن بعضے خلق دغه نه کوري او اعتراضونه کوي چه که سړے جینکو ته دا کتاب لولي نو دا مسئلے به ورته څنګه بیانوي نو د دے لیکل نه وو مناسب. د جنت د کالی په اخر کښے د فائده نا کو رسالو نومونه هم لیکلي شوي دي چه لوستل ئے د ښځو د پاره غوره دي چه په مطالعه کښے ئے ساتي. او د تعلیم سره سره د دوي د عمل نګراني هم پکار ده او د لوستو سره که د دوي شوق وي نو چه انتظام ئے او شي. په مطالعه سره علم زیاتیږي نو د فائدے د کتابونو د مطالعے شوق ورته

ورکول پکار دی او د ضروری نصاب نه پس که قابلیت په کښے وی نو د عربۍ طرفته دے ورله توجه ورکړی چه د قرآن او حدیثو او فقه په اصلی ژبه پوهه شی. او د قرآن خالی ترجمه چه بعضے جینکۍ لولی نو اکثر په کښے غلطی کوی نو پکار دی چه ځان منه پوهه کړی او د پوهے نه پس بیا ترجمه او کړی۔

دا هو تول د لوستو متعلق بحث وه یا تے شو لیکل نو که د قرائنو نه ئے په خیال کښے بے باکی نه معلومیده نو په لیکلو کښے څه باک نِشته د کور د ضروریاتو د پاره لیک ته هم ضرورت وی۔ او که د خرابو احتمال په کښے وی نو بیا د ورته لیکل نه ایزده کوی۔ او س مضمون ختموم او غالبا د دے مضمون بیا دوباره کول په عنوان د تسهیل سره ضروری نه دی۔ کتبهٗ:۔ اشرف علی تهانوی شوال المکرم سنه ۱۳۳۱ھ۔

پاکی یعنی د اودس او د غسل د فضیلت او ثواب بیان

حدیث کښے دی چه څوک اودس کوی بسم الله د او وائی د بسم الله او الحمد ویل زیات غوره دی بیا د هر اندام وینځلو په وخت کښے اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ دے وائی۔ د فارغ کیدو نه پس دے لولی اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ ط نو د ده د پاره به د جنّت اته واړه دروازے پرانستے شی۔ یکومه دروازه چه غواړی جنّت ته به داخل شی۔ او که فی الحال دوه رکعته مونځ او کړی او قرآن په کښے او لولی او پوهه شی په یعنی په غفلت سره ئے نه لولی چه څه لولی په هغے پوهیږی په حضور د زړه سره ئے لولی او تول مونځ دا سے او لولی نو دے به د مانځه نه داسے فارغ شی چه د گناهونو نه به پاک وی داسے لکه د مور نه چه یکومه ورځ زیګیدلے وی۔ نو ورته به او ویلے شی چه د سر نه نوے عمل کوه (رواه الحافظ المستغفری وکذا حسنه فی احیاء السنن) د دے وخت پورے گناهونه ئے معاف شو۔ او علماء تے مراد واړه گناهونه اخلی او دغه قدر ونیا چه دوباره عمل کوه د خوشحالئ حاصلیدو او عمل کولو د پاره کافی ده۔

حدیث کښے دی چه د هغے سړی اودس کامل نه دے کوم چه په ما درود او نه وائی۔ او په بل حدیث کښے د درود لوستو وخت د اودس نه پس راغلے دے۔ (احیاء السنن) حدیث شریف کښے دی چه کوم مسلمان اودس کوی بیا مخ او وینځی نو د ده د مخ نه گناه لرے شی کوم ته چه ئے په سترګو کتلی دی د اوبو سره یائے دا فرمایلی دی چه د اوبو د ورستی څاڅکی سره۔ بیا چه دواړه لاسونه تر څنګلو او وینځی نو د لاسو گناهونه به ئے لرے شی د اوبو سره یا د اوبو د ورستی څاڅکی سره۔ بیا چه دواړه خپے او وینځی نو د خپو گناهونه به ئے لرے شی تردے چه د گناهونو نه پاک شی (مسلم) د دے گناهونو نه مراد واړه گناهونه دی۔ او د سترګو گناه دا ده چه په بد نظر کتل۔ او د لاسو گناه لکه چالان په بد نیتا سره لاس وړوړل۔ د خپو گناه لکه په بد نیت سره په تلل۔ په اودس کښے بنه کوشش کوئے څومره فضیلت ئے دے د دے قدر او کړئے۔

حضرت انس رض د لوئے مرتبے صحابی دے او لس کاله ئے د حضور ﷺ خدمت کړے دے دوی په یوا وړد حدیث کښے روایت کوی چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه اے انس رض ته مبالغه یعنی کوشش کوه په غسل د جنابت کښے نو بیشکه ته به د غسل د ځائے نه په داسے حالت کښے اوځے چه په تا به هیڅ گناه او خطا پاتے نه شی۔ ما عرض او کړه چه په غسل کښے مبالغه څنګه وی یا

رسول الله ﷺ او ئے فرمایل چه دَ ویختو بیخونه لمده وه او بدن بنه صفا کوه (په غسل کښې دَ بدن مږل مستحب دی او بغیر دَ مږه لو نه خه صفائی نه راځي) او دَ مبالغې نه مراد په بنه شان سره لمبل دی چه دَ هغې تفسیر حضور ﷺ فرمائیلے دے - اے ځما خوږه بچیه! (دا الفاظ ئے دَ شفقت په وجه او فرمایل) که ته طاقت لرے په هر وخت کښې په اودس کښې داوسیدلو نو دا سے کوه - (دا مستحب دی) نو چا ته چه په داسے حالت کښې مرګ راشي چه دے په اودس کښې وی نو دۀ ته به دَ شهادت (ثواب) ورکړے شي - تمام شه - ۱۶ صفر ۱۳۲۳ھ۔

(مترجم ابو حُسین، ۲ شعبان ۱۴۰۳ھ مطابق ۱۶ مئی ۱۹۸۳ء روز پیر وقت صبح شپږ بجے)

دویمه ضمیمه دَ اولے حصے دَ جنت دَ کالی چه مسمّیٰ ده په تصحیح دَ اغلاطو او اخلاطو

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

تمهید

دَ حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا مولوی حافظ شاه محمد اشرف علی صاحبؒ

پس دَ الحمد او صلوٰة نه دا کتاب په حقیقت کښې دَ هغې غلطو تصحیح ده کومے چه دَ احقر په تالیفاتو کښې نقل کونکو او لیکونکو نه په خطائی سره پاتے شوی دی او دَ موافقت دَ هغې مسامحو سره کومے چه دَ احقر نه صادرے شوی دی کۀ دے ټولو دَ تصحیح دا صورت اختیار دے شویدے چه دَ اول کتاب نوم سره دَ مطبع او دَ سن دَ طبع او ځائے دَ غلطو سره دَ صفحے او کرښے لیکلے شوے دے بیا عبارت (اصل) او بیا موجوده صحیح شوے عبارت لیکلے شوے دے چه ناظرین ورسره دَ خپلو نسخو تصحیح او کړی - البته که څه ځائے په نورو نسخو کښې صحیح وی او په دے ماخوذه نسخه کښې صحیح نه وی او په دے فهرست کښې دَ غفلت دَ وجے نه پاتے شوے وی نو دَ هغې دے مونږ ته اطلاع را کړی - چونکه ما ته فرصت نه وه دَ دے وجے نه م په دے کار کښې دَ خپلو کره دوستانو نه زیات مدد اخستے شوے دے دَ کوم چه په علم او استعداد ځما محکم عقیده ده - په آخر کښې دَ یو څو خبرو متعلق خبره ول هم مناسب معلومیږی۔

(۱) دَ تصحیح دَ پاره هغه نسخه اختیار شویده کومه چه ورستئ چهاپ شوے ده -(۲) دَ کومے نسخے سره چه په غرض دَ تصحیح غلط نامه پیوست شویده دے کښې به هغه غلطئ اغستے کیږی کومے چه دے کښې نوی نو دا ټولے به دَ دے کتاب ضمیمه ګڼړلے کیږی -(۳) په دے کتاب کښې به صرف هغه غلطئ اغستے کیږی کومے چه دَ کتونکو دَ پاره سختئ پیدا کوی او په غلطئ کښې ئے غور نه وی - دَ محاورے او ژبے غلطئ به په کښې شاملے نه وی -(۴) کوم کتابونه چه زمونږ په علم کښې شائع شوی دی او په غلطوئے مونږ دا وخت خبر شوی یو دَ تصحیح الاغلاط او تنقیح الاخلاط اول جلد مقرر شوے دے - او دَ کوموچه راته ورستو علم کیږی یا ورستو شائع کیږی - دَ هغې تصحیح به دَ دے کتاب په دویم جلد کښې کیږی -(۵) کوم کتاب چه څوک چهاپ کوی هغه له پکار دی چه اول دَ تصحیح الاغلاط مطالعه او کړی او دَ کتابت سره چه دَ کومو غلطو تعلق وی هغه دِ صحیح کړی او دَ کومو مسامحو تعلق دَ مضمون سره وی دَ هغې تنبیهات دے په حاشیه او خیږ وی - مونږ دا تنبیه دَ دے کتاب دَ هر تالیف دَ تصحیح په ابتدا کښې راوړو -(۶) دَ کومو غلطو چه په ترجیح الراجح کښې ذکر

شوے وی دَ هغې نه په دَدے کتاب کښې اصطلاحاتو په ذیل کښې چه تعلق ئې د ورسره تفصیلاً یا اجمالاً په تعرض کولے شی۔ (۷) دَ هر کتاب تصحیح او اصلاح به یو جدا حصه شمیرلے شی۔ (۸) دَ کوم کتاب سره چه غلط نامه لګیدلے دَه دَ هغې تصحیح به دَ اصل کتاب سره کیدے شی۔ (۹) په دے کتاب کښې به صرف دَ هغې مضمونونو اصلاح کیدے شی کوم چه دَ احقر سره تعلق لری۔

کتبهٗ:- محمد اشرف علی عفی عنه۔

تمهید دَ مولانا مولوی حبیب احمد صاحبؒ کیرانوی نه

احقر حبیب احمد کیرانوی دَ مدعا بشکاره کولو دپاره دا وائی چه اعلیٰحضرت صاحبؒ دَ خپل بنده ګمان په وجه چه په ما دَ یے۔ خپلو تصنیفاتو دَ دویم نظر اچولو خدمت ما ته سپارلے دے۔ نو احقر دَ خپل طاقت مطابق دا خدمت سرته رسَوی۔ او دَ دے متعلق دَ څو خبرو ظاهرول مناسب معلومیږی (الف) دَ کومو اصلاحاتو تعلق چه دَ مولانا دَ خپلو تصنیفاتو سره دَ هغې په باره کښې دا خو دل ضروری دی چه په کومو مضامینو کښې دَ مولانا دَ زیاتو شغلونو په وجه تسامح شوے دَه دَ هغې متعلق خو دَ څه لیکلو ضرورت نشته۔ لیکن په کومو کښې چه تسامح را تلل بکاره وی دَ هغې متعلق دا خودل ضروری دی چه احتمال ظاهر په دوه وو طرفونو کښې دے یعنی دا هم ممکنه دَه چه دَ حضرت نه تسامح شوے وی او دا هم ممکنه دَه چه دَ احقر غلطی وی نو عالمانو له بکار دی چه په اصلی مضمون او اصلاح دواړو دے نظر واچوی خبره دِ تحقیق ته اورسوی او کوم چه عالمان نه دی هغوی دِ دَ عالمانو نه تحقیق اوکړی۔ (ب) بعض داسے اصلاحات دی چه دَ هغوی تعلق دَ تسامح دَ اصلاح سره نشته بلکې دَ وضاحت دَ مضمون سره ئې تعلق دے یا دَ څه نورے فائدے سره (ج) دَ جنت دَ کالی دَ هغه مسئلو دَ تحقیق دَ پاره چه دَ عناد په وجه پے اعتراضات شوی دی دَ هغې دَ پاره مونږ یو مستقل کتاب لیکلے دَے چه نوم ئې "تحقیقات مفیده" دے۔ نو په دے کتاب کښې چرته دَ هغو مسئلو ذکر راشی هغه به پے اجمالاً خبره شوے وی او دَ تحقیق دَ پاره به دَ دغه کتاب حواله ورکړے شوے وی دَ چا چه شوق وی هغه دِ دے اوګوری۔ (د) دَ کومو مسئلو په باره کښې چه دَ عناد کونکو دَ اعتراضاتو مونږ ته علم وی نو دَ هغې حواله به مونږ په دغه کتاب ورکړی وی۔ او دَ کومو چه مونږ ته علم نه وی دَ هغې حواله به هم نه وی (احقر حبیب احمد کیرانوی)

بسم الله الرحمٰن الرحیم ط

شروع دَ کتاب پس دَ تمهید نه

اصل ۱۔ الله او رسول دَ دین ټولے خبرے الخ تحقیق:- دَ دے مطلب دا دے چه الله او رسولؐ دَ دین ټولے خبرے بندګانو ته خودلے دی که ټول په کلی اصولو سره وی او که په جزئی او که په دلالة النص وی او که په اشارة النص وی۔ وغیره۔ نو ځکه اوس نوے خبره په دین کښې داخلول جائز نه دی او داسے نوے خبرے ته چه نص په کښې نه وی بدعت وائی۔ او بدعت په دے معنی لوئے ګناه دے۔ دَ دے وضاحت نه معلومه شوه چه دَ صحابوؓ او تابعینو او امامانو مجتهدینو اقوال چه دَ نص نه ئې استنباط شوے دے بدعت نه دے۔ خو کوم کارونه چه په هغې کښې شرعی دلیلونه نه وی او بدعتیانو په زبردستی په دین کښې ورننویستی وی بدعت دے

اصل ص۳۲ :- په ټول امت کښې ټولو نه غوره دی- تحقیق :- دا بیان د اصحابو رض نه راغلے دے او د حضور ﷺ په خدمت کښې پاس شوے دے- حضرت علی رض فرمائی "خیر هذه الامة بعد نبیها ابوبکر رض الخ کذا فی مسند احمد"- او حضرت عبدالله بن عمر رض فرمائی "کنا نقول ورسول الله صلی الله علیه وسلم حی افضل الامة النبی ﷺ و بعده ابوبکر رض الخ کما فی المشکوٰة"- پس په دے عنوان اعتراض کول په اصحابو رض او په نبی صلی الله علیه وسلم اعتراض کول دی-

اصل ص۳۷ :- د چا نوم اغستل او کافر ورته ویل الخ- تحقیق :- د دے دوه جزه دی- یو دا چه د چا نوم اغستل او قطعی کافر ورته ویل لوئے ګناه دے چه د هغه کفر قطعی نه وی په دے کښې دعوی د علم غیب ده- هان د هغه د ظاهر حال په اعتبار سره ورته کافر ویل او د کفارو پشان معامله ورسره کول ګناه نه دے په دے شان چه هغه د کفر اقرار کوی یا دعوی د اسلام کوی لیکن د دین د یو کار نه منکر وی لکه روافض چه دوه خو بیندے یو سړی له جائز ګنړی او قرآن بدل شوے او تحریف شوے ګنړی- او حضرت عائشه رض حضرت ابوبکر رض حضرت عمر رض حضرت عثمان رض وغیره لره ظاهرا و باطنا مؤمنان نه ګنړی حالانکه حضور ﷺ د دوی ظاهر او باطن ایمان دا سے قطعی مانه لکه مونږ روزه چه حضور ﷺ پے راتله کړی دی نو د دوی د ایمان نه انکار د حضور ﷺ نه انکار دے- د دویم جز مطلب دا دے چه د چا نوم اغستل او لعنت پے کول که مسلمان وی او که کافر لویه ګناه ده په دے شرط چه کفر ئے قطعی نه وی ځکه چه په دے کښې احتمال دے د دے خبرے چه دے په علم د خدائے کښې مرحوم وی لکونه مؤمنا یا ظنا او ظاهرا احتمالا او مآلا او چه احتمالا په علم د الله تعالیٰ کښې مرحوم شه نو لعنت پے جائز نه شه او که مسلمان وی نو بیا نو شکاره جواز نه لری لان کل مؤمن مرحوم ولیس بملعون بعض خلق د لعان د جواز نه د لعن معین جواز هم اخلی مګر دا د هغوی غلطی ده ځکه چه که روا والے د لعان د یو سړی د پاره لازم شی د چا د پاره چه لعان جائز وی نو د دے خو هیڅوک قائل نه دی- ځکه چه لعان خو د صحابو او غیر صحابو ټولو د پاره جائز دے نو پکار دی چه د اصحابو رض د پاره هم لعنت جائز شی او په دے خو یو مسلمان هم وینا نه کوی نو معلومه شوه چه روا والے د لعان جدا شے دے او روا والے د لعنت شخصی جدا دے- او دا رنګ بعضے خلق په دے دهوکه شوی دی چه دوی د لعنت معنی لرے والے د رحمت بیا نوی او دا ئې د دے دوه صورتونه دی- یو لرے والے د رحمت نه مطلقا او بل مختص په ابرار و بورے- نو دا اول په مسلمان نه شی کیدے لیکن دویم پے کیدے شی- خو دا هم د دوی غلطی ده ځکه چه د رحمت مختصه په ابرار و پورے درجے دی یو رحمت خاص دے په انبیاؤ پورے بل خاص دے په صحابو و پورے- نو نعوذ بالله پکار ده په انبیاؤ باندے لعن په معنی د ابعاد عن الرحمة خاص په رسول الله ﷺ باندے جائز وی ولا یقول به مسلم- نو معلومه شوه چه لعن شخصی بغیر د کفارو نه چه کفر ئے قطعی دے په بل چا جائز نه دے- او کوم خلق چه کوم دے د جواز قائل دی هغوی د دے په مفاسد وا و لوازمو باندے خبر نه دی ورنه هیڅکله به ئے قائل شوی نه وو-

اصل ص۴۶ :- علی بخش، حسین بخش، عبدالنبی ﷺ وغیره نوم ایخودل- تحقیق :- په دے مسئله بعض جاهلانو اعتراض کړے دے- خو د دے د پاره مونږ په ثبوت کښې د خاتم علماء جناب مولوی عبدالحی صاحب فتوی پیش کوو- فرمائی الجواب :- دا سے نوم چه په هغے کښې اضافت غیر الله ته دی نه دے جائز- اګرچه د دا سے نوم ایخودو نه د شرک حکم لګښته د دے احتمال په وجه چه د عبد نه مراد خادم او فرمان بردار شی مګر د شرک بوئی په کښې ضرور دے- نو د جنت په کالی کښې ئے د شرک د

یوئی په بنا د شرک او کفر په کارونو کښے اولیکل ـ (حبیب احمد) قرآن او احادیث کښے قسم قسم نومونو
په نه ایخودو دلالت کوی او علما نوئے هم ځائے په ځائے وضاحت کړے وے ـ په جلالین کښے دی
هو الذی خلقکم من نفس واحدة وجعل خلق منها زوجها حواء لیسکن الیها فلما تغشاها حملت حملا خفیفا هو
النطفة فمرت به ذهبت وجاءت لخفته فلما اثقلت کبر الولد فی بطنها واشفقا ان یکون بهیمة دعوا
الله ربهما لئن اتیتنا صالحا سویا لنکونن من الشاکرین فلما اتهما صالحا جعلا له شرکاء فیما
اتهما بتسمیة عبد الحارث ولا ینبغی ان یکون عبدا الا الله ولیس باشراک فی العبودیة بعصمة
آدم وروی عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لما ولدت حواء طاف بها ابلیس وکان لا یعیش لها
ولد فقال سمیه عبد الحارث فانه یعیش فسمته فعاش فکان هذا من وحی الشیطن وامره رواه الحاکم
وقال صحیح والترمذی وقال حسن غریب انتهی ملخصا ـ او په حواشی د جلالین الجمل کښے دی
ولیس الجعل المذکور باشراک والله بل هو شرک فی التسمیة وهذا لا یقتضی الکفر ا ه ـ او شرعة الاسلام
کښے دی ولا یسمیه حکیما ولا حکما ولا ابا عیسیٰ ولا عبد فلان انتهی او ملا علی قاری په شرح فقه اکبر کښے
وائی واما ما اشتهر من التسمیة بعبد النبی فظاهره کفر الا ان اراد بالعبد المملوک انتهی ـ او په شرح
د مشکوة کښے ملا علی قاری لیکی ولا یجوز نحو عبد الحارث وعبد النبی ولا غیره مما شاع بین الناس ا ه ـ او
ابن محمد مکی په شرح منهاج کښے لیکی ـ ویحرم ملک الاملاک لان ذلک لیس لغیر الله وکذا عبد النبی
وعبد الکعبة او الدار او علی او الحسن لایهام التشریک انتهی ـ محمد عبد الحی عفی عنه مجموع الفتاوی ج ۲ ص ۲۹۶
پاتے شو علی بخش نو په دے کښے هم د شرک وهم دے ځکه چه عبد مشترک دے نو دغه
شان علی هم مشترک دے د خدائے پاک او د حضرت علیؓ په نوم کښے او دا چه د حق ائے پاک نوم
هم علی دے عوام پرے نه پوهیږی ځکه چه پخوا مو کښے د علیؓ نوم ډیر مشهور دے او حسین بخش
د دے بنکاره قرینه ده نو شک کول په دے کښے چه وهم د شرک په کښے نشته سراسر جهل دے ـ
اصل ص ۴۷ :ـ د بنه بد تاریخ او ورځے پتوس کول ـ الخ ـ تحقیق :ـ مطلب دا دے چه په نجومو
وغیره کښے چه کوم د هندوانو روافضو وغیره پسبب کومے خبرے پیدا شوی دی چه د فال کرو
او نجومیانو وغیره نه د بنو بدو ورځو وغیره پتوسونه کوی او حال دا دے چه په شریعت کښے
د دے څه اصل نشته دا د شرک او کفر خبرے دی ـ ځکه چه دا طریقه د کفارو ده د مسلمانانو نه ده
او دا مطلب نه دے چه د کوم ورځو د شریعت نه فرضا یا حقیقة د څه تاریخ یا ورځے بنه والے
بدوالے ثابت وی د هغے معلومول هم شرک او کفر دے ـ دا د اعتراض کونکو عناد دے نور
هیڅ نه دی ـ پاتے شوه دا خبره چه په شریعت کښے د بعضے کارونو د پاره بعضے ورځے بنے کیدل
او بعضے ورځے د بعضو کارونو د پاره بدیدل شته یا نشته نو دا بله خبره ده د جنت کالے د دے
نه خاموش دے نه ئے نفی کوی نه اثبات نو دا اعتراض پرے کول چه دا د شریعت نه خلاف دے
غلط ده ـ او د پتوس نه مراد په غرض د تصدیق سره پتوس دے نه مطلقا لکه چه د مسلم په یو
حدیث کښے دی من اتی عرافا فسأله عن شیء لم یقبل له صلوة اربعین لیلة ـ
اصل ص ۴۷ :ـ بد فالی نیول ـ تحقیق :ـ واضحه دی وی چه شرعی فال جدا شے دے او بد فالی
چه کومه په عوامو کښے د هندوانو وغیره په وجه شروع شوے ده هغه جدا ده ـ شرعی فال دا دے
چه یو سړے اتفاقا د چا نه بنه لفظ واوری او دغه د الله پاک د طرفه د خیر ملاوید و امید او گنړی
او بد فالی رواجی دا ده ـ چه لاس خاریږی نو روپئ لاس ته راځی ـ خوک ورته پرنجی او کړی نو کار نه کیږی

بخښنه او پیدا خوشحالي راځي - کېښه او پیدا غم خفگان راځي دا قسم فالونه ناجائز دي - او په اَلطِّيَرَةُ کښې داخل دي او حدیث دے چه اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ نو په شرک کښې داخل شو - نو څوک چه د جنت کالي په مسله اعتراض کوي دا ښکاره جهل او گمراهي ده -

اصل ص۴۷ :- تصویر ساتل - الخ - تحقیق :- د دینه د جاندار لوے تصویر مراد دے او د دې تهذیب د خلقو اصلاح ته مقصود ده - چه د خپلو دوستانو تصویر ونه ساتي یا د جاهلانو عقیده وپشان د خپلو مشرانو تصویر ونه ساتي او تعظیمونه ئے کوي چه حالاً یا مالاً شرک دے او هم یو تصویر نه مراد نه دے چه د جاندار وي او که د بے جان لوئے وي که وړوکے - د ضرورت د پاره وي او که بے ضرورته سپک وي او که عزتمن - لکه چه د بعضے احمقانو خیال دے - او مثال ئے د مسلم شریف واحد یث دے د جبرائیل علیه السلام انالا ندخل بیتا فیه کلب او صورة نو لکه څنگه چه په حدیث کښے صورة او کلب لفظاً مطلق دے او معنیً مقید دغه شان د جنت په کالي کښے صورة یعنی تصویر لفظاً مطلق دے او معنیً مقید - پوهه شه -

اصل ص۴۶ :- ډیوه بلول - تحقیق :- قال رسول الله صلے الله علیه وسلم لعن الله زائرات القبور والمتخذین علیها المساجد والسرج - رواه الترمذی - په دے کښے ښکاره ممانعت دے د ډیوه بلولو په قبرونو باندې په دے کښے اصلی راز دا دے چه د قبر پرستئ یره ده په کښے چه شرک دے او د شرک د لارے بند ولو د پاره ئے دا منع کړو او بعض خلق ئے د اولیا د تعظیم گنړي او جائز کوي ئے او دا خیال نه کوي چه کوم تعظیم د شرک حد ته رسي یا شرک ته راخکو دونکے وي هغه پخپله جائز نه دے نو یو حرام نص په دے شان سره څنگه جائز کولے شي - دا ښکاره ده چه کله په یو مستحب کار کښے څه مصلحت وي او لوئے فساد په کښے هم وي نو هغه مصلحت پریخوے شي او د هغے فساد لحاظ کولے شي لکه الله تعالیٰ فرمائي چه "په شرابو او جوارئ کښے گناه لوئے او نفع د خلقو او گناه ئے د نفع نه زیات دے" - نو گوره چه سره د دے چه په شرابو او جوارئ کښے نفع شته لیکن د فساد د گناه لحاظ ئے اوکړے شه - نو که په قبرونو د ډیو بلولو څه فائده وي خو د لوئے فساد په مقابله کښے چه نن ئے هر څوک په ښکاره وینئ او د افراط د تعظیم په سبب برابر خلق په ښکاره شرک کښے گرفتار دي - دا هیڅکله نه شي جائز کولے - او د حضور د قول په مقابله کښے د بل چا حکم نه شي قبلیدے - په دے احمقانو د دے زمانے تعجب دے چه یو طرفته خان د حدیثو تابع گنړي او دو مره غلو کوي چه د فقها د مفتیٰ به اقوال پریخودے شي او بعضے وخت دومره کے کولے شي چه د بعضے عالمانو په اقوالو باندې صریح نصونه رد کوي - او کله دومره سختي کوي چه سره د دے چه په دین کښے وسعت او احتیاطي مسلک پریخودونکو باندې اعتراض کوي - او کله دومره کمي کوي چه د خلقو د مشرک او بت پرست کیدو هم پرواه نه ساتي بلکه د شرک او بت پرستئ بنیا دونه مضبوطوي - خلاصه دا ده چه په قبرونو ډیوے بلول په ښکاره نص سره حرام دي او د بت پرستئ ذریعے مضبوطوي - او د دے په جواز کښے د یو عالم قول معتبر نه دے -

اصل ص۴۶ د بڼئو هلته تلل - تحقیق :- د ښځو قبرونو ته تلل بنفسه روا دي مگر د لمارځ عوارضو په وجه جائز نه دي لکه چا تو لو ته تلل او په جمع ما څمه کښے شریکیدل بلکه مقبرو ته په تللو کښے زیات فساد وو دی څنگه عموماً مقبرے په خوشي بیابانو کښے وي چه د ناموس یره په کښے زیاته ده نو په دے وجه د ښځو تلل جائز نه دي)

اصل ص۴۶ ۱- پا بنه قبر ونه جوړه ول - تحقیق :- فی المشکوٰة عن جابر قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن تجصیص القبر وان یبنیٰ علیه وان یقعد رواه مسلم - و فیه ایضًا عن ابی مرثد الغنوی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تجصّصوا علی القبور ولا تصلوا الیها رواه مسلم - و فیه ایضا عن ابی الهیاج الاسدی قال قال لی علی الا ابعثك علی ما بعثنی علیه رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تدع تمثالا الا طمسته ولا قبرا مشرفا الا سویته رواه مسلم - و فیه ایضا عن جابر قال منع رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبر وان یکتب علیها وان توطأ رواه الترمذی - په دے روایاتو کښے دَ قبرو نو چونه کولو منع صراحةً موجود ده او په قبرځه شے جوړه ول لیکلے تخته پے اودره ول موښځ ورته کول او ذیا تودنګولو منع ئے هم موجوده ده - اوچا تو نه پے جوړه ول او ډیوے پے بلول ګخکښے تیرشو - دَ دے ټولو نصوصو نه دا ښکاره معلومیږی چه دَ حضورﷺ مقصد دا دے چه دَ قبرونو دومره شان او عظمت قائم نه شی چه خلق ئے عبادت شروع نه کړی - لیکن شیخ عبد الغنی نابلسی وغیره دَ دے نه ښکاره مخالفت اوکړو او دَ کوم کارونو چه حضورﷺ صراحتًا منع فرمائیلے ده هغه ئے بدعتِ حسنه اوګرځول او صرف په دے هم صبر نه شه بلکه دَ ستورو تمقمو شمعو وغیره لره ئے هم جائز کړه او وجه ئے ورله دا اوخوده چه په دے کښے دَ اولیا وُ تعظیم دے او دا چه خلق ئے سپک اونه ګنړی - اوس دِ دَ انصاف خاوندان غور اوکړی چه دا دَ شریعت سره ښکاره جنګ نه دے ؟ او دَ شریعت محمدیؐ په مقابله کښے بل شریعت نه دی ایجاد کول ؟ چه صاحب شریعت ئے منع فرمائیلے ده او په کونکی ئے لعنت کړے دے او شیخ صاحب وغیره فرمائی جائز لا ینبغی النهی عنه - او دا رنګ ورته بدعت حسنه وائی او سنت - پس تعجب دے دے کار لره چه یو طرفته خودا ځیز ونه دَ شرک دروازے پرانزی او بل خوا دَ شریعت نه خلاف دی نه چه بدعت حسنه او سنت - ځکه چه دَ بدعت حسنه متعلق شیخ موصوف لیکی ان البدعة الحسنة الموافقة لمقصود الشرع تسمّٰی سنة - دَ کوم نه چه معلومیږی چه دَ نورے خبرے دَ بدعة حسنه کیدو او دَ سنت کیدلو دَ پاره دَ دے ضرورت دے چه هغه دِ دَ شارع دَ مقصود موافق وی - او دا امور مذکوره نه دَ مقصود دَ شارع نه خلاف بلکه منهی عنه دی پس دا ضرور بدعت سیئه شو - او دَ شیخ موصوف یادکړه دَ تا بعدارانو قول کوم چه دَ حضورﷺ دَ ښکاره ارشاداتو نه خلاف او دَ هغوی دَ مقصود یعنی دَ بند ولو دَ دروازے دَ شرک سره مزاحم دے هرګز قبول نه دے - او کوم مصلحت چه دوی بیان کړے دے هغه دَ فساد دَ شرک په مقابله کښے هیڅ وقعت نه لری - واضح دِ وی چه زما مقصد په حضرت شیخ او دَ هغه په ملګرو باندِ طعن نه دے ځکه چه زه پوهیږم چه دَ دوی مقصود دَ شریعت مقابله کول نه دی بلکه زما مقصود دا دے چه دا دَ هغوی اجتهادی غلطی ده خدائے دِ ورته عفوه اوکړی - لیکن دَ مفاسد و دَ وضاحت نه پس اوس نور ځما ګنجائش نشته چه په ړند و سترګو اوس دَ هغه تقلید کوی - او بیا خاص هغه خلق چه ځپل خیال مجتهدان دی او دَ فقهاؤ خبره بے حقیقته ګنړی اوس دَ خپل بیان دَ تائید دَ پاره دَ فقه روایتونه ذکر کوو په در مختار کښے دی - لا یجصص للنهی عنه او دا رنګ دی لا یرفع علیه بناء او په رد المختار کښے دی قوله لا یرفع علیه بناء ای یحرم لو للزینة ویکره لو للاحکام بعد الدفن و فیه ایضا اما البناء

علیه فلم ار من اختار جوازه دفی شرح المنیة المختار انه لایکره التطیین وعن ابی حنیفة یکره
ان بنی علیه بناء من بیت او قبة او نحو ذلک لما روی عن جابر نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم
عن تجصیص القبور وان یکتب علیها وان بنی علیها رواه مسلم وغیره اه - دَ دے روایاتو نه
ثابته شوه چه پا بنه قبرونه جوړه ول جائز نه دی ځکه چه په دے کښے لهو یو بناء علی
القبر راغی او دویم تجصیص او دا دواړه ناجائز دی - او بعض خلقو چه ویلی دی چه لایکره
البناء اذا کان المیت من المشائخ والعلماء والسادات نو دا وجه دَ تعارض نه دَ نصوصو سره
او دَ مقابلے دَ مذهب حنفی سره مقبوله نه ده - او کوم مفاسد چه دَ عامو قبرونو په آبادو
وغیره جوړه ولو کښے دی دَ مشائخو وغیره په قبرونو بانڼ دَ ابادو جوړه ولو کښے زیاتی دی
ځکه چه دلته دَ زینت او دَ احکام او دَ اسراف نه علاوه دَ شرک دَ دروازے لرے کیدو
یره زیاته ده - نو دَ دوی په قبرونو ابادی جوړه ول زیات ناجائز دی - او بعضے خلقو
چه ویلی دی الیوم اعتقاد والتسنیم باللبن صیانة عن النبش ورأوا ذلك حسن وقال علیه
الصلوة والسلام ماراٰه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن اه - نو دا په دے وجه قبول
نه دے چه نه دَ مسلمون نه مراد عام مسلمانان دی او نه ماراٰه المسلمون عام دے بلکه
دَ ماراٰه المسلمون نه مراد هغه کار دے چه دَ مقصود دَ شارع نه خلاف نه وی او دَ مسلمون
نه مراد هغه خلق دی چه اهل دَ اجماع دی - نو مطلب دا دے چه یو کار دَ شارع دَ مقصود
نه خلاف نه وی او اهل اجماع په هغے اجماع اوکړی نو هغه عند الله حسن دے - نه
دا چه یو شے بعض مسلمانان ښه اوکڼړی هغه دَ خدائے په نزد ښه دے - دا خو به بیا دَ
بدعت څه مصداق پاتے نه شی - نو دَ دینه دَ قبرونو پخه ولو دلیل هیڅ جائز نه دی
ځکه چه دا خو دَ مقصود دَ نص دَ شارع نه خلاف لکه چه بیان ئے اوشه - او دا رنګ کوم
خلق چه دا ښه کنړی هغه بعض عالمان دی چه نور بیا ر علماء ئے مخالفت کوی
او صیانة عن النبش علت ځکه صحیح نه دے چه دا دَ دے عالمانو په وخت کښے نه دے
پیدا شوے بلکه دا علت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابو او تابعینو او دَ
مجتهدینو په زمانه کښے هم موجود وه لیکن هغوی دَ دے لحاظ نه دے ساتلے او دَ بناء
جوړولو په قبرا او چونه کولو اجازت ئے نه دے کړے - نو په داسے حالت کوم یو عالم مجاز
دے چه هغه دَ دے لحاظ اوکړی او فتوای ورکړی - خلاصه دا ده چه پحکم نبوی او
په حکم دَ مذهب حنفی قبرونه پخول منع دی او دَ دے مخالف دَ یو عالم قول معتبر نه دے - والله اعلم۔

اصل ص۱۵ :- دَ سلام په ځائے بندګی وغیره کول الخ - تحقیق :- چونکه دَ سلام پځائے بندګی
کول دَ هندوانو رسم دے ځکه منع دے او په آدابو کښے مشابهت او ترک دَ سنتو دے - نو
ځکه بدعت دے او دَ جنت په کالی کښے چه لفظ دَ آداب په خطونو کښے استعمال شوے دے
دا په معنی دَ سلام نه دے بلکه پخپله لغوی معنی کښے مستعمل دے او دَ ادب جمع ده یعنی هغه
آداب پځائے راوړل کوم چه په کشرانو لازم دی الخ نو اعتراض دَ احمقانو ساقط شو -

اصل ص۲۶ :- ګانا او ریدل - تحقیق :- دَ ګانے نه مراد مطلق شعر ویل نه دی بلکه دغه
معلومه ګانا ده کومه چه په واده بنادئ کښے دَ ډمو ډمانو وی یا په عرسونو کښے قوالیانے
وغیره کوے چه رواج دی په دے کښے ډیر مفاسد دی ځکه منع دی - حضرت مولانا مد ظلهم
دا بحث په اصلاح الرسوم کښے قدرے په تفصیل سره بیان کړے حلته کتل پکار دی -

اصل ص۴۷ :- پیشه ذلیله گنړل ۔ تحقیق :- دَ دینه مراد جائز پیشه ده نه عام خواه که جائز وي اوکه ناجائز ۔ او مقصود دَ دینه دَ هغې خرابۍ اصلاح ده کومه چه په شریفانو کښې پیدا شوې ده چه دَ لوږې نه مري اوَ دَ هند وانو پیښ ار برابره ول خوه بنه وي مګر دَ درزي توب یا لوهاري وغیره جائز کاروبار نه شرم ګنړي ۔ او خپل ذلت ۔ نو دَ احمقانو دا اعتراض چه په دې کښې دَ ناجائز وپیشو دَ ذلیل ګنړلو منع ده عبث اعتراض دے ۔

اصل ص۴۸ :- په څه بیمارۍ کښې دَ منتری پۍ یا غوښه خوړل ۔ تحقیق :- دَ دینه مراد دَ هغې خرابۍ اصلاح ده کومه چه په عوامو کښې رواج ده چه بغیر دَ حاذق طبیب نه اوبې دَ تحقیق نه دَ حرامو اشیاؤ استعمال کوی ۔ پاتې شوه دا خبره چه حاذق طبیب ئې دَ څه مرض دَ علاج دَ پاره تجویز کړی نو بیا خیر دے ۔ دا خبره په جنت کالی کښې نشته ځکه چه دا سے اتفاق شاذ ونادر پیښیږی ۔ او کوم چه رواج دے او که هغې بند ول مقصود دے هغه دا دے چه بې دَ تحقیق نه او بې دَ خودَنې دَ طبیب حاذق نه دَ حرامو څیزونو استعمال کوی او بالفرض که عام شي بیا پې هم څه اعتراض نه واردیږی ځکه چه مسئله مختلف فیه ده او ظاهر مذهب ئې تحریم دے ۔ اګرچه بعضې خلقو دَ دے اجازت هم ورکړے دے او دَ دینه ئې مفتیٰ به قول ویلے دے ۔ نو پس که دَ جنت په کالی کښې ئې ظاهر مذهب اختیار کړه چه اصل مذهب دے او دَ متأخرینو قول ئې دا نغښتو نو څه ګناه اوشه ۔ او بیا په داسے حال کښې چه احتیاط په کښې هم دے او که احادیثو مطابق هم دے ۔ او احمقان دَ حضرت مولانا په غرض دَ اسانۍ دَ احتیاط دَ مسلک په پرېښودو اعتراض هم کوی او دَ ظاهر و احادیثو په بنا دَ جمهورو فقهاؤ مخالفت هم جائز کوی ۔ خلاصه دا ده چه کوم حرام دارو چه مختلف فیه دی دَ جنت په کالی کښې زیر بحث نه دی بلکه دَ هغې ممانعت دے چه په اتفاق حرام دی او که مختلف فیه دارو زیر بحث هم وی نو بیا هم څه اعتراض نه واردیګی ځکه چه دا تحریم اصل مذهب دے دویم په دې کښې احتیاط دے دریم دا چه د ظاهرو احادیثو سره موافق دے ۔

اصل ص۴۹ :- ترڅو پورے چه څه مجبوری نه وی الخ ۔ تحقیق :- دَ دے مسئلے دا دے په درمختار کښې دی یکره ان یستعین فی وضوئه لغیره الا عند العجز لیکون اعظم لثوابه واخلص لعبادته اه وجه دَ استدلال دَ استعانت مطلق ده چه راغستو او چولو دواړو ته شامله ده ۔ دا رنګے دلیل دَ کراهت هم دواړو ته شامل دے نو استعانت فی الصب په مکروه شی ۔ او دَ علامه شامی دا وینا چه شاید چه دَ صاحب درمختار مراد په استعانت په مباشرت وی نو دا صحیح نه ده کما یدل علیه دلیله ۔

اصل ص۵۱ :- چه او دس اوکړی نو غوره ده چه دوه رکعته مونځ اوکړی ۔ تحقیق :- په دے کښې دا ضرور شرط دے چه اوقات مکروه نه وی ۔ لیکن څه رنګ چه نور شرطونه دَ مانځه په دے ځائے کښې ذکر نه دی بلکه پخپل خپل ځائے کښې ذکر دی نو دغه شان دا شرط هم ولته ذکر نه شو او په حدیث کښې هم ذکر دَ دے شرط نشته کوم چه دَ تحیة الوضوء دَ مشروعیت په باره کښې وارد دے نو دَ جنت په کالی اعتراض نه واردیږی ۔

اصل ص۵۱ :- چه یو وار اودس اوکړی الخ ۔ تحقیق ۔ دلیله ما فی الغنیة وهذه عبارة موهمة بتوضیحاتنا القوسة الوضوء عبادة غیر مقصودة لذا تها ز ولا خلاف فیها لاحد) فاذا لم یؤدبه عمل مما

هو المقصود من شرعيته كالصلوة وسجدة التلاوة ومس المصحف ينبغي ان لا يشرع تكراره قربة لكونه غير مقصود لذاته والا لزم كونه مشروعا لذاته وهو قلب الموضوع (واذا كان كذلك) فيكون اسرافا محضا لعدم الفائدة الاخروية والدنيوية اما الاخروية فلانه غير مشروع للزوم قلب موضوع الشارع كما تبين واما الدنيوية فلان الكلام في الوضوء المستقل الذي ينوي به التقرب لا الذي يقصد به التبرد و ازالة الوسخ وغيره (ايضا) قد قالوا في السجدة لما لم تكن مقصودة لم يشرع التقرب بها مستقلة وكانت مكروهة فهذا اولى (لان السجدة عبادة مقصودة في الجملة بخلاف الوضوء فانها ليست بعبادة مقصودة لذاتها اصلا) انتهى كلامه بتوضيحاتنا المقوسة وهذا كلام متين لا يوهن بتوهينات سخيفة وقد زل قدم خاتم علماء فرنگی محل في هذا المقام زلة ظاهرة وقال في السعاية قولا سخيفا عفا الله عنه -

اصل ص۵۲ :- كه دَ مخې دَ لاړې نه هوا اووته الخ - تحقيق دا حكم دَ عامو ښځو دے لا چه دَ مفضاتے دَ پاره څکه چه داکم واقع كيږي -

اصل ص۵۲ :- كه په مانځه كښې په ناستے ناستے يا ولاړے اوده شي نو اودس نه ماتيږي او كه په سجده كښې اوده شي نو اودس ماتيږي -

تحقيق :- مطلب دا دے چه پكومه طريقه چه ښځو ته دَ سجدے كولو حكم دے نو چه په دغه طريقه دے سجده كولې او اوده شوه په كښې نو اودس ئې مات شه. يا تے شوه دا خبره چه كله دَ سر و پشان سجده ئې كوله او اوده شوه په كښې يا دَ مانځه نه بهر اوده شوه نو اودس ئې مات شه او كنه؟ دَ دے ذكر په دے كتاب كښې نشته. نو چه دَ جنت دَ كالي دَ مسئلے مطلب معلوم شه نو اوس ئې دليل واوره - په عمدة الرعايه كښې دي - الحديث ليس على من نام ساجدا وضوء حتى يضطجع اخرجه احمد في مسنده وحديث لا يجب الوضوء على من نام جالسا او قائما او ساجدا حتى يضع جنبيه فانه اذا اضطجع استرخت مفاصله اخرجه البيهقي وقد حسنه ابن الهمام سنده بكثرة الطرق - دَ دے احاديثو الفاظ حتى يضطجع او اذا اضطجع استرخت مفاصله نه دَ پوهے خاوندانو په اسانئ سره دا معلوم وَلے شي چه نه ماتيدل دَ اودس په خواب كښې په سجدے دَ موضع خضا تعبدي امر نه دے بلكه معلول په علت دَ عدم استرخاء دَ مفاصلو دے نو چه پكومه حالت كښې استرخاء دَ مفاصلو راشي نو دَ اودس دَ ماتيدو حكم به اوكړے شي او په كومه حالت كښې چه استرخاء دَ مفاصلو رانه شي نو دَ اودس ماتيدو حكم به نه شي كولے - په دے كښې نه خصوصيت دَ سجدے لره دخل شته نه هيئت مسنونه لره په مانځه كښې دَ داخليدو - نو چه دا معلومه شوه نو اوس پوهيدل پكار دي چه دَ ښځو دَ سجدے هيئت مسنونه دا قسم واقع شوے دے چه په دے كښې په اوده كيدو سره استرخاء دَ مفاصلو راځي نو كه ښځے په سجده كښې اوده شوے او دس به ئې مات شي - لكه چه دَ جنت په كالي كښې ليكلي دي - او دَ سر و دَ سجدے حالت دا سے دے چه استرخاء دَ مفاصلو په كښې نه راځي - نو اودس ئې نه ماتيږي - ليكن كه ښځو دَ سر و پشان سجده كوله او سر و دَ ښځو پشان نو بيا به حكم اُلټه شي - خوك چه په دے راز پوه شو هغوي صحيح حكم قائم كړو او خوك چه په دے راز پوه نه شو دَ خپل فكر موافق حكم ئې اوكړو - نو حلبي په صغيري شرح دَ منيه كښې په دے راز پوهه شو نو او وئے دے المعتمد انه ان نام (الرجل) على الهيئة المسنونة في السجود (را فعا بطنه عن فخذيه مجافيا مرفقيه عن جنبيه) لا يكون حدثا (اقول وكذا المرأة ان نامت على هيئة الرجل) والا (اقول بان نام الرجل على الهيئة الغير المسنونة

او المرأة علی هیئتہ المسنونة) فهو حدث لوجود الاسترخاء سواء فی الصلوٰة او خارجها انتهی کلام الحلبی مع توضیحاتنا المقوسة او نورو خلقو دا راز نه دے پیژندلے نو چا څۀ ویلی دی او چا څۀ - او بس دے خلقو کښې یو خاتم علماء فرنګی محل دے چه په دے راز پوهه شوے چه په سعایه کښې دے اقوی او اصح قول نه اسخف القول وائی انا لله وانا الیه راجعون ۵- خلاصه دا ده چه د جنت د کالی مسئله غلطه نه ده او نه ورته په حقیقت کښې ضعیفه ویلې شی البته مختلف فیها ده -

اصل صـ ۵۶ :- که په څوک خوله ټي او شه تردے قول پورے نو نجس دے وینځل ئے واجب دی - تحقیق :- یعنی اصل حکم خو دا دے چه وینځل ئے واجب دی - چنانچه که په کوته وغیره پورے لږه وینه وه او لاس ئے او بوته خکته کاوه نو وینځل ئے واجب دی ورنه او به به پلیتے شی کویا په ما نځه کښې دفعًا للحرج د روپئ مقدار یا د وینه کم د وینځلو وجوب ساقط دے لکه د دویم حصے د جنت د کالی په مسئله ۱۵ کښې دی - نو د احمقانو اعتراض ساقط شه -

اصل مسئله صـ ۶۱ که لږه شان منی او وته الخ - تحقیق :- دلته په دے پوهه شه که منی په شهوت او تو په سره د ځپل ځائے نه جدا شوه او څه او وته او څه د ننه پاتے شوه او د غسل نه پس دغه پاتے خارجه شوه نو دوباره غسل پے واجب شه - او که د غسل نه پس نوره منی بغیر د شهوت او تو په او وته غسل پے واجب نه دے - اصل وجوب د مکرر غسل دا دے لیکن د دے معلومیدل ګران دی نو فقهاؤ ورله دا نښے مقرر کړی دی چه کومه منی د تشو بولو یا لږ ګرځیدو یا او ده کیدو نه پس خارجه شوه هغه نوے منی ده او بغیر شوق نه وتلے ده نو غسل پے نشته او کومه منی چه د دے مذکوره څیزونه اول خارجه شوه نو څو نګه دا د ځپل ځائے نه په شوق جدا شوے ده نو دوباره غسل پے واجب دے - نو د جنت د کالی مسئله هم په دے تفصیل سره ده او په حاشیه کښې ورسره حلبته دا وضاحت موجود دے - نو د احمقانو اعتراض غلط دے -

اصل صـ ۶۲ :- چه کله یو کافر مسلمان شه نو غسل ورله مستحب دے - تحقیق :- یعنی د نفس ایمان راوړو د پاره غسل مستحب دے لیکن که یو امر واجبونکے د غسل موجود وی لکه جنابت یا حیض یا نفاس نو د هغے بیان دلته نشته بلکه دغه د جنت په ملغلره کښې دے چه تتمه ده د جنت د کالی - خاتم علماء فرنګی محل په سعایه صـ $\frac{۳۲۹}{ج۱}$ کښې دا مسئله هم دغه شان ذکر کړیده لکه څنګه چه د جنت په کالی کښې ده - دے د مستحب غسل اقسام بیانوی فرمائی - منه غسل الکافر اذا اسلم بذٰلک امر النبی صلی الله علیه وسلم من جاء یرید الاسلام کذا فی التجنیس اه - نو د احمقانو اعتراض په جنتی کالی غلط دے -

اصل صـ ۶۴ :- د مردارے ویښته او ښکرونه الخ - تحقیق :- د مردار نه مراد غیر خنزیر دے کما فی تنویر الابصار شعر المیتة وعظمها وعصبها وحافرها وقرنها الی قوله طاهر - وکما فی الوقایة وشعر المیتة وعظمها وعصبها وحافرها وقرنها وشعر الانسان وعظمه طاهر فلا اعتراض علی بهشتی زیور کما یفعله جهلة زماننا -

اصل صـ ۶۸ :- او بالکل معلومه نه وی چه اوبه کوم ځائے دی - تحقیق :- په دے فقره احمقانو داسے اعتراض کړے دے" د دے مصداق خو به چرته یو بے عقله وی ورنه دا بالکل نه پیژندل چه اوبه کوم ځائے دی په یو پوهه سړی نه صادقیږی" نو که د اعتراض کونکی دا مطلب وی چه دا چا ته نه ده معلومه چه اوبه کوم ځائے دی هر چا ته پته ده چه اوبه په سیند نهر والی دریاب چینه کوهی کښې وی - نو دا بنکاره حماقت او عظیم جهل دے - ځکه چه دلته دا مطلب نه دے

بلکه مطلب دا دے چه مسا فرته دا نه وی معلومه چه په دے بیابان کښے اوبه کوم ځائے دی- یا اوبه پکښے شته یا نشته یا په میل کښے دننه دی او که باهر- نو اعتراض ختم شو- او دلته دا اعتراض هم شوے دے چه "دَ دینه خو به دَ تیمم دَجواز دَ پیرصور تونه را اوځی" لیکن دا هم دَ دوی دَ حماقت او جهالت نښه ده ځکه چه دَ تیمم دَجواز دا یو خاص صورت دے نه چه دَ جواز قاعده کلیه- او نه ټولو صورتونو لره دَ قاعدے کُلیّه شمول ضروری دے او نه دَ یو خاص صورت دَ پاره- مثلاً څوک او وائی چه که چا او دس او کړه او بیا ئے تش بول او کړه نو او دس ئے مات شه نو په دے دا اعتراض نه شی کیدے چه دَ دے نه خو دَ او دس ماتید و دَ پیرصورتونه را اوځی- دا دی هغه بے ځایه اعتراضونه چه دَ دے په بنا دَجنت کالے نا قابلِ اشاعت کرځولے شی او دَ دے دَ پاره سازشی جلسے کیدے شی-

اصل ص ۶۹ :- که او به نزدے وی الخ - تحقیق :- مطلب دا دے چه په دَے صورت کښے محض دَ پردے په خیال سره او دَ شرم تیمم کول جائز نه دی لکه دلالت کوی په دَے بانډی دا قول "دَ سړو نه دَ شرم په وجه" الخ - پاتے شوه دا چه بله څه وجه وی لکه دَ ناموس یره- نو دا بله خبره ده دَجنت په کالی کښے دَ دے نفی نشته- نو دَ احمقانو اعتراض باطل دے-

(ختم شوه دویمه ضمیمه)

دَ جَنّت کَالے دویمه حِصّه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اوّل باب دَ پلیتئ پاکولو بیان

مسئله ۱:- دَ پلیتئ دوه قسمونه دی- یوه سخته چه که لږه وی هم ئے وینځل ضروری دی دویمه سپکه، دیته نجاست خفیفه وائی-

مسئله ۲:- وینه او دَ انسان تش او وچک بول، منی، او شراب، دَ سپی بیشو بول دَ خنزیر غوښه ویښته هډوکی وغیره ټول خیزونه ئے- او دَ اس، خره، قچره خرشنه دَ غوا غوائی میخے وغیره غوشان، دَ بیزے کلرے پیچے غرض دَ ټولو جانورانو لوئے بول دَ چرګ، بطے او مرغابئ بول او دَ خره قچره او دَ ټولو حرامو جانورانو تش بول دا ټول خیزونه سخته (غلیظه) پلیتی ده-

مسئله ۳:- دَ داسے پئ خوړونکی بچی تش بول او لوئے بول هم سخته پلیتی ده-

مسئله ۴:- دَ حرامو مرغونکی او دَ حلالو جانورانو تش بول لکه بیزه غوامیخه وغیره او دَ اس تش بول سپکه پلیتی ده (نجاست خفیفه)

مسئله ۵:- دَ چرګ، بطے، مرغابئ نه سوا دَ نورو حلالو مرغونکی پاکه ده لکه کوتره چنچړه خارو وغیره- او دَ خفاپیرک ګنګی او بول هم پاک دی-

مسئله ۶:- دَ سختے (غلیظے) پلیتئ نه که نرمه او بهیدونکے په کپړه یا بدن او لږه

نو که د روپۍ برابر یا کمه خوره وي نو[له] معاف ده بغیر د هغې د وینځلو که ئې ورسره مونځ اوکړ نو اوشه لیکن نه ئې وینځل او مونځ ورسره کول مکروه دي - او که د روپۍ نه زیاتې وه بیا معاف نه ده بغیر وینځلو نه ورسره مونځ نه کیږي - او که سختې پلیتۍ نه ټکینه پلیتي اولږي لکه لوئ بول نو که په وزن کښې څلورنیم ماشې پا ته کم وُو نو مونځ ورسره کیږي او که زیات وو بیا ورسره مونځ نه کیږي -

مسئله ۷:- که سپکه پلیتي په کپړه یا بدن اولږي نو په کومه حصّه چه لږیدلې وي که د هغې د څلورمې حصې نه کمه وي نو معاف ده او که پوره څلورمه وه یا زیاته وه نو معاف نه ده یعنې که په لستونړي لږیدلې وي نو د لستونړي د څلورمې حصې نه کمه وي او که په لمنه نو د هغې د څلورمې نه کمه وي او که په ځادر نو د هغې د څلورمې نه کمه وي نو معاف ده - دغه شان که په لاس لږیدلې وي نو د لاس د څلورمې حصې نه کمه وي - او که په پښه ئې نو د هغې غرض چه په کوم اندام لږیدلې وي نو د هغې د څلورمې حصې نه چه کمه وي معاف ده او که پوره څلورمه حصه وه یا زیاته وه بیا معاف نه ده وینځې به ئې بغیر وینځلو ورسره مونځ نه کیږي -

مسئله ۸:- غلیظه (سخته) پلیتي چه یکو مواو بوکښې اولږي هغه هم سختې پلیتې شوې او چه خفیفه پلیتي په کښې پریوځي نو سپکې پلیتې شوې که لږه وي او که ډیره -

مسئله ۹:- پلیت تیل په کپړه اولږیده نو د روپۍ نه کم وو - لیکن په ورځ دوه کښې بیا خواره شو د روپۍ نه زیات شو نو تر څو چه کم وو معاف وو او چه خواره شو بیا معاف نه دي.

مسئله ۱۰:- د مهي وینه پلیته نه ده دغه شان د وُړکې ماشې منګو نړ وینه پلیته نه ده -

مسئله ۱۱:- که د تشو بولو دارې د ستنې د سُوم په مقدار پریوځي چه لیده کیږي نه نو هیڅ باک نشته وینځل ئې واجب نه دي (البته غوره دي) -

مسئله ۱۲:- که لید ونکې پلیتي جسم داره اولږي لکه لوئ بول یا وینه نو تر هغې به ئې وینځې چه پلیتي لاړه شي او داغ ئې ورک شي خواه په هرڅو پیرې وینځلو چه لرې کیدے شي نو چه پلیتي لاړه شي کپړه وغیره پاک شو - او که په اول وار وینځلو سره پلیتي لاړه نو دوه پیرې دے نور او وینځي او که په دویمه پیره وینځلو سره لاړه نو یوه پیره دے بیا او وینځي - غرض دا چه درې پیرے پوره کول غوره دي -

مسئله ۱۳:- که داسې پلیتي وه چه په ډیر واره وینځلو سره هم بوئ او داغ لاړه نه شه - نو بیا هم کپړه وغیره پاک شوه صابون وهلو او بې بوئ او داغ لرې کول ضروري نه دي

مسئله ۱۴:- او که غیر جسم داره پلیتي اولږیده لکه تشې بول وغیره نو په درے واره وینځلو او نچوړه ولو سره پاک شوه - او په دریمه پیره به ئې بنه په زور سره نچوړي

[له] د معاف نه مراد دا دے چه مونځ ورسره کیږي البته که د خوراک په څیز کښې پریوانه نو هغه پلیت شو اګر که لږ دوي دغه شان که په لاس وغیره او لږیده نو هم پلیت نه وینځې به ئې ۱۲

کړي - که په زور ئې پخوړ نه کړه په دريم وار نو پاک نه ده -

مسئله ۱۵:- که پليتي په داسې شي لږيدلې وي چه پخوړ ئې نه شي لکه تخته اندړپرې کالي يا لوښي وغيره يا خاورې، بوتل، پيزار وغيره نو د پاکولو طريقه ئې داده چه يو ځل ئې پريمينځي صبر په وکړي چه اوبه ترې بهې او څاڅکي او نور تڅيدل بند شي بيا به ئې او وينځي چه بيا ترې اوبه تڅيدل بند شي دريم وار به ئې او وينځي نو هغه شے پاک شه.

مسئله ۱۶:- د اوبو پشان چه کوم شے نرم او پاک وي په هغې هم پليتي وينځلے شي نو په ګلابو يا عرق ګاؤزبان يا په نور وعرقو يا په سرکه ئې څه شے او وينځه نو پاک شه ليکن په غوړو تيلو او پيو وغيره چه غوړوالے په کښې وي څه شے نه پاکيږي -

مسئله ۱۷:- په بدن يا کپړه مني اولږيده او چه شوه نو په ښه مږه لو سره او ګروَلو سره پاکيږي او که او چه شوے نه وي نو بيا په هسے وينځلو پاکيږي - ليکن که تشي بول او کړه استنجائے نه وه کړے او مني اُووته نو هغه په مږه لو سره نه پاکيږي وينځي به ئې -

مسئله ۱۸:- په پيزار يا د څرمنې په موزه که جسم داره پليتي اولږيده او او چه شوه لکه غوشان لوئے بول وينه، مني وغيره نو چه په زمکه ئې ښه او مږي او پليتي ترې لاړه شي نو پاک شو دغه شان په ګرځولو هم پاک شو - او که او چه شوے نه وي هم چه داسے ئې او مږي چه د پليتي نښه پے پاتے نه شي نو پاک شو -

مسئله ۱۹:- او که د تشو بولو پشان څه پليتي د څرمنې په موزے يا پيزار اولږيده چه جسم داره نه وه نو بغير وينځلو نه پاکيږي -

مسئله ۲۰:- کپړه او بدن بغير د وينځلو نه پاکيږي که پليتي جسم داره وي او که نرمه.[1]

مسئله ۲۱:- د ائين شيشه، چاقو، چوړه کۍ د سرو سپينو کالي د تابنے او سينے ګيلهتو شيشے وغيره څيزونه چه پليت شي نو په ښه او چول مږه لو ګرځولو يا په خاورو مږه لو سره پاکيږي - ليکن که نقش دار څيزونه وو نو بغير وينځلو نه پاکيږي -

مسئله ۲۲:- په زمکه پليتي پريوته بيا داسے او چه شوه چه د پليتي نښه پے پاتے نه شوه نه ترے بوئ ختلو نو پاکه شوه البته په داسے زمکه تيمم جائز نه دے مګر مونځ پے جائز دے کو مے ښځے پاکښے چه په زمکه کښے داسے ښخے کړے وي چه بغير کنستو ترے نه جدا کيږي د هغوی هم دغه حکم دے چه او چے شي او نښه د پليتي پے پاتے نه شي نو پاک شو - خو تيمم پے نه کيږي.

مسئله ۲۳:- کو مے ښځے چه ئے هسے په زمکه خورے کړي وي په ختو يا سيمنټو وغيره ئے کلکے کړے نه وي هغه په او چيدو نه پاکيږي وينځي به ئے -

مسئله ۲۴:- په زمکه ولاړه وابنه هم په او چيدو پاکيږي او که ريبلي وو نو وينځي به ئے -

[1] که او چه مني په بدن يا کپړه پورے وه نو هم په مږه ولو پاکيږي البته که د تشو بول نه پس راوتے وه بيا به ئے وينځي.

۲۵ مسئله: پلیت چاقو چوړکئ یا د اوسپنے تانبے وغیره لوښے چه بل اوته ارتا وُشه هم پاک شه۔

۲۶ مسئله: په لاس پلیتی لرېدلے وه درے پیرے ئے او څاته نو پاک شه خو څټل ئے منع دی۔ یا په سینه پچی تے او که او بیائے درے پیرے هغه ډقی پئ او څټل نو پاک شو۔

۲۷ مسئله: که سور لوښے پلیت شه او پلیتی ئے راخکوده نو په وینځلو یواځے نه پاکیږی بلکه د اوبوئ به ئے ډکه کړی چه پلیتی په اوبو کښے راشی نو هغه اوبه به تے وا ړه وی بیا به ئے ډک کړی دغه شان به په ځنه کوی تر هغے چه رنګ او بُوئ تے د پلیتیٔ لاړے شی نو پاک به شی۔

۲۸ مسئله: د پلیتے ختے نه کولال لوښے جوړ که نو چه کچه وه پلیت دے چه سُور شه پاک شه۔

۲۹ مسئله: ګبین یا غوړی یا تیل پلیت شو نو څومره چه هغه وی دومره به پکښے اوبه وا ړه وی او تر هغے به ئے ښخوی چه هغه اوبه اوچے کړی بیا به پکښے نورے اوبه واچوی ښځه وی به ئے راسے به درے پیرے او کړی نو پاک به شی۔ یا به داسے او کړی چه د هغے هومره اوبه به پکښے واچوی چه دوی ئے سر ته راشی نو په څه جوړ به ئے تے لرے کړی درے پیرے به داسے او کړی پاک به شی او که غوړی کلک وو نو په اور به ئے ویلی کړی بیا به داسے ورسره او کړی۔

۳۰ مسئله: پلیت رنګ ئے کپړے له ور کړو نو دومره به ئے او وینځی چه پاکے اوبه تے لاړے شی نو پاک شوه که رنګ تے لاړ[۱] شی او که نه۔

۳۱ مسئله: د غرشنو غوښا یا نو د ښپیاکو وغیره پلیتو ځیز و نو ایره او لوګے پاک دی۔

۳۲ مسئله: د بچو نړے یو کوټ پلیت دے نوره ټوله پاک ده نو په پاک طرف ئے مونځ کیږی۔

۳۳ مسئله: په غوښا نو یو ځائے لیونه شوے وو نو پلیت دے بغیر د بل ځیز اچولو نه پے مونځ نه کیږی۔

۳۴ مسئله: په غوښا نو یو ځائے لیونه شوے او اوچ شوے وه نو لمده کپړه پے اچولو سره هم مونځ کیږی خو چه دومره لمده نه وی چه د زمکے نه پورے خاورے نخلی۔

۲۵ مسئله: خپے ئے او وینځلے او په پلیته زمکه لاړ شه او د خپو سره د زمکے نا اوره پخپو پورے او نه نختله نو پاکے دی او که دومره لمده وی چه خاوره پورے نختله نو پلیتے شوے۔

۳۶ مسئله: په پلیته بچونړه اوده شه او د خولے نه هغه لمده شوه نو خیر دے د ده بدن او کپړے پاکے دی البته که دومره خوله تے لاړه چه د بچونړے نه څه پلیتی د ده په بدن یا کپړه او لږیده[۲] نو بیا به پلیت شی۔

۳۷ مسئله: پلیته نکریزه ئے په لاس و خپو پورے کړه نو په درے کله وینځلو پاک شو رنګ لرکول وا نه دی[۳]۔

۳۸ مسئله: پلیت رانجه وغیره ئے په سترګو کښے پورے کړه نو وینځل ئے واجب نه دی البته که باهر ته[۴]

---

[۱] لیکن درے پیرے ئے وینځل په کار دی ځکه چه په دے کښے احتیاط دے ۱۲ [۲] نجاست خواه اصلی دی یا هغه خوله وی چه په پلیته کپړه لږیدلے وی او پلیته شوے وی ۱۲ [۳] د دے مطلب دا دے چه درے پیرے ئے دومره او وینځی چه اوبه پاکے تے راوځی شی نو لاس خپه به پاک شی ۱۲ [۴] یعنی د هغه ځائے وینځل کماځقه کاره ضروری دی چه د سترګو نه بهر وی ۱۲

ناخوار شو نو هغه بهر ځایونه وینځل واجب دی۔

مسئله ۳۹:- پلیت تیل ئے په سر یا بدن پورے کړه نو د قاعدے مطابق درے پیرے وینځل ئے کافی دی په صابون وغیره تے غوړ والے لرے کول ضروری نه دی۔

مسئله ۴۰:- سپی او ړوند خوله واچوله یا شادو چو ته کړله نو که اوږه اغیزلی وی نو کوم ځائے چه ئے خوله اچولے ده هغه به تے لرے کړی پاتے خوړے شی او که اوچ وُو نو کوم ځائے چه ئے په لاړه ولوند دے هغه به لرے کړی باقی پاک دی۔

مسئله ۴۱:- د سپی لاړے پلیتے دی نو رسپے پلیت نه دے۔ نو که د چا د کپړو یا بدن سره سپے اولږی نو نه پلیتیږی که سپے اوچ وی او که لوند لیکن که بڼ ئے په پلیتئ پلیت وه نو دا بیا بله خبره ده۔

مسئله ۴۲:- د شا طرفنه هوا اووته او کپړه ورته لمده نزدے وه نو هغه پلیته نه ده

مسئله ۴۳:- په پلیتو او بو کپړه لمده شوے وه پاکه کپړه ئے ورسره ونغښته او هغه پاکه کپړه تے لمده شوه لیکن د پلیتئ رنګ یا بوئی په کښے رانه غے نو که پاکه کپړه دومره لمده شوے وه چه په نچوړه ولو تے څاڅکے دوه کیده یا ئے لاس لمده وُه نو پلیته شوه او که دومره نه وه لمده نو پاکه ده او که په تشو بولو وغیره خاصه پلیتئ سره لمځ وه او پاکه کپړه ورسره اولږیده نو که لږه نمی یا داغ پے اوشه هم پلیته شوه۔

مسئله ۴۴:- که د لرګی تخته د یو طرفنه پلیته وه او بل طرف ئے پاک وه او دومره غټه وه چه په منځ اره کیدے شوه نو په هغے پاک طرف ئے مونځ کیږی او که نرئ وه بیا نه کیږی۔

مسئله ۴۵:- دوه غبرګے کپړه وه یو غبرګ ئے پلیت وه او بل پاک نو که دواړه طرفونه د یو بل سره ګنډلی شوی نه وی نو په پاک طرف ئے مونځ کیږی او که ګنډلی وو نه کیږی۔

باب دویم — د استنجی بیان

مسئله:- چه د خوب نه بیدار شی نو ترڅو پورے چه دواړه لاسونه د مړوند و نو پورے اونه وینځی تر هغے دے اوبو کښے نه منډی خواه که لاس پاک وی او که پاک نه وی۔ که اوبه په وړوکی لوښی کښے وے لکه لوټه یا کوزه نو په کښ لاس به ئے اوچته کړی او ښی لاس به اوبه واچوی ښی لاس به او وینځی بیا به لوښے په ښی لاس اوچت کړی او ګینړ لاس به او وینځی درے پیرے او که په غټ لوښی کښے اوبه وی او وړوکے تے لوښے د اوبو اغستو د پاره نه وی نو د ګینړ لاس په ګوتو به اوبه راواخلی او ښی لاس به وینځی او بیا به په ښی لاس اوبه راواخلی ګینړ لاس به وینځی۔ خو دا به هله کوی چه پلیتی په لاسو پورے نه وی که په لاسو پورے پلیتی وه نو په لوښی کښے به ئے نه منډی بلکه اوبه په بل څه ترکیب سره راواخلی مثلاً پاک رومال دے په اوبو کښے خکته کړی او هغه دے په لاس

نجوړ کړي لاس دې پې او وینځي یا په څه بل ترکیب ډاوبه راوباسي -

مسئله ۲ :- کومه پلیتي چه د مخې یا شا د لارې نه او ځي د هغې نه استنجې کول سنت دي -

مسئله ۳ :- که پلیتي اخوا دېخوا نه وي خوره شوې او په لوټو ځان خه پاک کړي په اوبو استنجې او نه کړي نو هم جائز دي لیکن غوره په اوبو استنجې ده - البته که اوبه نوي نو مجبوري ده

مسئله ۴ :- په لوټو د استنجې څه خاص[1] طریقه نشته خو بس دومره خیال به ساتي چه پلیتي اخوا دېخوا خوره نه شي - بدن خه صاف شي -

مسئله ۵ :- د لوټو د استنجې نه پس په اوبو استنجې کول سنت دي لیکن که پلیتي د روپۍ نه زیاته خوره شوې وي بیا واجب ده - بې وینځلو مونځ نه کیږي او که پلیتي خوره شوې نه وي نو فقط په لوټو استنجې هم کافي ده لیکن د سنت نه خلاف ده -

مسئله ۶ :- چه په اوبو استنجې کوي نو اول به دواړه لاسونه د مړوند نو پورې او وینځي بیا به پناه ځائې کښې کیني او دومره به ئې وینځي چه یقین ئې راشي چه پاک شوم البته که څوک شکي وي نو د هغه د پاره د درې[3] یا اووه[4] پیرو نه زیات وینځل نه دي پکار -

مسئله ۷ :- که پټ ځائې نه وي نو د چا په مخ کښې ځان بربنډ ول او استنجې کول نه دي جائز نه د سړي په مخکښې او نه د ښځې په مخکښې چه داسې موقع وي نو بیا اوبو به استنجې نه کوي بلکه د لوټو هغه پوره ده ځکه چه د ځان بربنډول لوې گناه دې -

مسئله ۸ :- په هډوکي په پلیتي لکه خړشته غوشان وغیره او په کوټله شیشه او پخه ښخته او د خوراک په شي او په کاغذ او په ښي لاس استنجې بده او منع ده - لیکن که چا پې او کړه نو او شوه بدن پاک شه - لیکن نه دي پې کول پکار -

مسئله ۹ :- په ولاړه تش بول کول منع دي -

مسئله ۱۰ :- د تشو بولو لویو بولو کولو په وخت کښې قبلې ته مخ کول او شا کول منع دي

مسئله ۱۱ :- د واړه بچي هم قبلې ته مخ کول او شا کول منع دي د بولو په وخت کښې -

مسئله ۱۲ :- د استنجې نه په پاتې اوبو او دس کول جائز دي او د اودس نه په پاتې اوبو هم استنجې کول جائز دي - لیکن نه کول پې غوره دي -

مسئله ۱۳ :- چه تش بول او ډک بول کوي نو د پاخانې په دروازه کښې به د ننوتو نه اول بسم الله او دا دعا او وائي - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ[2] او سر تور به نه ځي او که په گوته وغیره د الله او رسول ﷺ نوم وي نو هغه به لرې کړي او اول

---

[1] حق او مختاره مذهب دا دې چه د استنجې د پاره څه مخصوص کیفیت نشته او نه څه سنت شمار شتې بلکه مقصود پاکي ده هغه چه په هره طریقه کیدې شي پاتې شوې د فقها و الله ازې خو دل نو د دینه مقصد دا نه دې چه دا طریقه ده بلکه د هر یو په خیال کښې چه کوم کیفیت بده راغلې د خولې ئې د کړې ۱۲
[2] اې الله زه د خبائثو او پلیتو نه پتا پناه غواړم ۱۲

په کېنړه خپه د ننه کړي او د ننه به د خدائے نوم نه اخلي - که پرنجے ورشي. نو
په زړه کښې به الحمد لله اووائي په ژبه به نه وائي - نه به هلته خبرے کوي - او چه
بیا راوځي نو اول به ښۍ خپه بهر کړي او چه راوځي نو دا دعا به اووائي - غُفْرَانَکَ
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَذْهَبَ عَنِّی الْاَذٰی وَعَافَانِیْ [1] - او د استنجي نه پس به کېنړ لاس په زمکه
راکاږي یا به ئے په خاورو او مږي او وینځي -

باب دریم — د مانځه بیان

د الله تعالیٰ په نزد د مانځه ډیره لویه مرتبه ده د مانځه علاوه بل یو عبادت د
الله پاک په نزد دومره زیات محبوب نه دے - الله تعالیٰ پنځلو بندګانو پنځه وخته
مونځ فرض کړے دے او ډیر ثواب ئے دے او که پریږدي وئے ډیر لوئے ګناه دے
په حدیث شریف کښې راغلي دي چه څوک به څه شان اودس او کړي او څه به حضور
سره مونځ او کړي که قیامت په ورځ به الله تعالیٰ د ده واړه ګناهونه ټول معاف
کړي او جنت به ورکړي - او حضور ﷺ فرمایلي دي چه مونځ د دین ستن ده نو چا چه مونځ
په ښه شان سره ادا که هغه دین ټیک کړه او چا چه دا ستن او غورزوله (یعني مونځ ئے اونه کړ)
یعني دین ئے برباد کړه - او حضور ﷺ فرمایلي دي چه د قیامت په ورځ به اول د مانځه تپوس
کیږي - او د مونځ کونکو لاس او ښپے او مخ به د قیامت په ورځ د نمر په شان پړقیږي
او بے نمازه به د دے دولت نه محرومه وي - او حضرت ﷺ فرمایلي دي چه د مونځ کونکو حشر به
د قیامت په ورځ د نبیانو او شهیدانو او اولیاؤ سره وي او د بے نمازو حشر به د فرعون
او هامان او قارون لویو لویو کافرانو سره وي - نو په دے وجه مونځ ډیر ضروري
شے دے - او په نه کولو سره ئے د دین او دنیا دواړو ډیر نقصان دے - د دینه زیات نقصان
به څه وي چه د کافرانو سره به د بے نمازانو حشر وي - بے نمازه ئے د کافر سره برابر کړیدے
مونځ نه کول څومره ناکاره خبره ده - البته چه دے خلقو مونځ واجب نه دے - په لیونی واړه
او په نورو ټولو فرض دے - لیکن اولاد چه د اوه کالو شي نو مور و پلار به ورته د مانځه
حکم کوي او چه د لسو کالو شي نو په مانځه نه کولو به ئے وهي - او د مانځه پاتے کول په
هیڅ وخت کښې جائز نه دي - او که په هیره ئے پاتے شه او یا ئے او ده پاتے شه او مونځ
قضا شو نو چه څه وخت ئے یاد شو او یا ویخ شه فوراً به ئے کوي قضا ئے فرض ده
البته که هغه وخت مکروه وه نو صبر دے او کړي - او دغه شان که په بے هوشئ
کښې ئے مونځ پاتے شه نو چه کله په هوش کښې راغے فوراً د کوي -

مسئله ۱ - د ښځے بچے کیده لیکن تراوسه لا ټول نه وه بهر شوے څه دننه وه
او څه بهر نو دغه وخت هم که ئے هوش ځائے وه نو مونځ پے فرض دے البته که

---

[1] ټول ثناء ده هغه خدائے لره چه تکلیف ئے راڼه لرے کړو او ارام ئے راکړو ۱۲

په مونځ کولو سره هم ته نقصان رسیده نو بیائے قضا کولے شی - دغه شان که د دائی سره یره وه چه مونځ کوم نو د لچی به نقصان شی نو دا هم قضا کولے شی البته بیا بهٔ ئے په جلدئ سره کوی -

خلورم باب

ځوانئ ته د رسید و بیان

مسئله:- چه د جینئ حیض اوشه یا که ئے حیض لا تر اوسه نه وی شوے خو کیږه ئے شوه - یا ئے کیږه شوے نه وی لیکن خوابائے اولید او مزه ورله راغله او منی ئے اووته پس ددے دواړو صورتو نو کښے دا ځوانئ ته اورسیده - د شریعت ټول احکام به پرے اوس لږه وی لکه روژه مونځ وغیره او که په دے درے وخبر وکښے لا یوه هم نه وه شوے او عمر ئے پنځلس[۱۵] کاله پوره شو نو هم به ځوانه گنړلے شی - او ټول احکام به پرے لږه وی شی -

مسئله:- ځوانید وته په شریعت کښے بالغ کیدل وائی د نهو کالو نه اول یوه بنځه هم ځوانه نه شی گنړلے کیدے - که حیض ئے هم اوشی خو دا حیض نه دے استحاضه[۱] دے -

پنځم باب

د مانځه د وختونو بیان

مسئله:- د شپے په آخر کښے چه مشرق طرفته د آسمان په کناره نیغ سپینوالے ښکاره شی او بیا لږ ساعت پس په پلنو د آسمان او بره خور سپینوالے ښکاره شی او زر زر زیا تیږی نو د دے سپینوالی د ښکاره کید و نه د سحر د مانځه وخت شروع شی او د نمر ختو پورے وی او چه نمر را او خیژی نو د سحر وخت ختم شی لیکن مونځ په اول وخت کښے په تیاره کښے کول پکار دی غوره اول[۲] وخت دے -

مسئله:- چه د غرمے نمر واوړی نو د ماسپخین وخت شروع شی او د نمر د اوختو نښه دا ده چه د هر شی سورے بالکل شمال طرفته شی او مشرق طرفته کیږی شی نو دا د نمر اوښته دی - او بله نښه ئے دا ده چه کله نمر را او خیژی نو چه څومره را او چتیږی د هر شی سورے کمیږی نو چه دا کمیده بند شی نو دغه ټیک غرمه شوه نو چه بیا په او بدیدو شروع شی نو پوهه شه چه نمر واوښته او د ماسپخین وخت شروع شه - او کوم سورے چه د غرمے وی د هغے نه علاوه چه د هر شی سورے دوچند شی تر هغے پورے د ماسپخین وخت وی - مثلاً د یو گز لرگی سورے په غرمه کښے څلور گوتے وه نو چه اوس دا سورے دوه گزه او څلور گوتے شی تر هغے د ماسپخین وخت دے او که دینه پس د مازیگر وخت شروع شه او د مازیگر وخت د نمر پریوتو پورے وی - لیکن کله چه د نمر رنګ بدل شی او غاړمه زیړ شی نو دغه وخت د مازیگر مونځ کول مکروه دی - او که په څه وجه ئے مونځ دغه وخت ته پاتے شی نو هم به ئے کوی قضا کوی به ئے نه او د دے مازیگر نه سوا د بل وخت مونځ دغه وخت نه کیږی -

---

[۱] د دے بیان به په بیان د رنځو کښے راشی - ۱۲ [۲] دا حکم د بنځو د پاره دے سړو له په رڼا کښے مونځ پکار دے ۱۲

نه قضا او نه نفل مونځ. یو مونځ به هم دغه وخت نه کوی بغیر د دغې ماذیګر نه -

مسئله ۳:- چه غر یر یوت نو د ماښام وخت شه او ترڅو چه مغرب طرفته د اسمان په غاړه سور والے وی د هغې پورے د ماښام وخت دے. لیکن د ماښام مونځ به دومره ناوخته کوی. چه ستوری ښه ځکاره شی دا مکروه دی - بیا چه دغه سور والے ختم شی نو د ماسختن وخت شروع شه او د سحره پورے وی لیکن د نیمې شپې نه پس د ماسختن وخت مکروه کیږی او ثواب ئے کمیږی نو دومره ناوخته کول نه دی پکار او غوره داده چه د دریمے حصے نه اول ادا شی -

مسئله ۴:- د ګرمئ په موسم کښے د ماسخین مونځ زر نه دی کول پکار چه د ګرمئ وخت ختم شی نو بیائے کول مستحب دی او په اول وخت کښے په یخنئ کښے کول مستحب دی -

مسئله ۵:- او د ماذیګر[۱] په مانځه کښے تاخیر مستحب دے ځکه چه کښ څوک تے اول نوافل وغیره کوی نو چه او کړی ځکه چه ورستو بیا نفل نه کیږی خو دومره به ئے نه ناوخته کوی چه نمر زیړ شی - او د ماښام په مانځه کښے تلوار کول مستحب دی -

مسئله ۶:- د چا چه په ګمان یقین وی او د تهجد مونځ کولے شی او د شپے په آخر کښے پاسیدے شی نو هغه له د وترو مونځ د تهجد نه پس کول غوره دی او که څوک پاسیدے نه شی نو د ماسختن د مانځه نه پس او د اوده کیدو نه اول دے وتر کوی -

مسئله ۷:- د وریځے په ورځ د سحر او ماښام مونځ لږ ناوخته کول پکار دی - او د ماذیګر[۲] په مانځه کښے ورله تلوار پکار دے[۳] یعنی مستحب دے -

مسئله ۸:- د غرختو په وخت کښے او د ټیک غرمے په وخت کښے او د نمر پریوتو په وخت کښے یو مونځ هم صحیح نه دے البته که د دغې ماذیګر مونځ وه هغه د نمر پریوتو په وخت کښے هم کولے شی او په دے دریواړو وختونو کښے د تلاوت سجده هم منع ده -

مسئله ۹:- د سحر د مانځه نه پس ترڅو چه نمر نه وی ختلے او را اوچت شوے نه وی نفل مونځ مکروه دے - البته قضا مونځ کولے شی - او سجده د تلاوت هم کولے شی - او چه نمر را اوخوت نو چه ښه روښانه شوے نه وی قضا مونځ نه شی کولے - دغه شان د ماذیګر د مانځه نه پس نفل نشی کولے البته قضا مونځ او د تلاوت سجده کولے شی - لیکن په نمر پریوتو کښے نه

مسئله ۱۰:- د سحر سنت که په څه وجه پاتے شو او فرض ئے او کړه نو اوس به دا سنت د نمر ختو نه پس کوی - د نمر ختو نه اول نه دا سنت کولے شی او نه نور مونځ بسوا د قضا نه -

مسئله ۱۱:- چه صبا اوخیژی نو بیا د سحر د دوه رکعته سنتو او دوه رکعته فرضونه علاوه نور نفل مونځ نه کیږی مکروه دی البته قضا مونځ کولے شی - او د تلاوت سجده کولے شی.

---

[۱] د ماذیګر مونځ دومره ناوخته کول هرچاله مستحب دی که نفل کوی او که نه ۱۲ [۲] د ماذیګر شان په ماسختن کښے هم جلدی پکار ده البته د صبا هر څاله څکه چه دی نو هر یو مونځ په خپل مقرر وخت کول پکار دی ۱۲ [۳] د نمر اوچت را تلو حد یوه نیزه دے او دا هغه وخت دے چه نمر ته سترګے او بریښی ۱۲ مطلب داد ے چه خاص که نمر په پریوتو او ختلو او غرمه او دریو وختو کښے یو مونځ هم نه کیږی البته د سحر او د ماذیګر قضا مونځ کولے شی

مسئله ۱۲:- که د سحر مونځ ئې کولو او نمر په را اوخوت نو دا مونځ نه دې شوې چه نمر را اوچت شي نو بیا به ئې قضا اوکړي- او د نماز یکړ په مانځه کښې نمر پریوت نو مونځ ئې اوشه-

مسئله ۱۳:- د ما سخنتن د مانځه نه مخکښې اوده کیدل مکروه دي- او که څوک سترې وه یا بیمار وه او چا ئې او وې چه ما به مانځه له ویخه وې نو بیا اوده کیدې شي-

شپږم باب

د مانځه د شرطونو بیان

مسئله ۱:- د مانځه شروع کولو نه اول شو خبرې واجب دي- که اودس ئې نه وي نو اودس کول- که د غسل ضرورت وه نو غسل به اوکړي- کپړې به پاکې کړي- په کوم ځائې چه مونځ کوي هغه به پاک کړي- د نخ[له] او د دواړو منګلو او د دواړو خپو نه سوا ټول بدن به پټ[ته] کړي- قبلې ته به مخ کړي- او کوم مونځ چه کوي د هغې نیت به اوکړي یعنې په زړه کښې به ئې اراده اوکړي- او د وقت را تلو نه پس به مونځ کوي- دا ټول د مانځه شرطونه دي په دې کښې که یو پاتې شو مونځ نه کیږي-

مسئله ۲:- ډیره نرۍ او یا جالي داره دوپټه سره مونځ نه کیږي[ته]-

مسئله ۳:- که په[ته] مانځه کښې څلورمه حصه ورون یا پنډۍ یا بل ځائې ښکاره شو او دومره وخت ښکاره وه چه درې ځله په کښې سبحان الله ویلې شو نو مونځ ئې مات شه بیا به ئې کوي- او که دومره وخت په کښې تیر نه شه بلکه د بربنډ یدو سره ئې پټ کړو نو مونځ ئې اوشه دغه شان د کوم ځائې پټول چه واجب دي که په هغې کښې څلورمه حصه اندام ښکاره شو نو مونځ ئې مات شه لکه د غوږ څلورمه حصه د سر څلورمه حصه څلورمه حصه ویښته، څلورمه حصه ګیډه، څلورمه حصه شا، څلورمه حصه مرۍ، څلورمه حصه سینه، څلورمه حصه تي، وغیره چه ښکاره شي نو مونځ نه کیږي-

مسئله ۴:- کومه جینۍ چه ځوانۍ ته نه وي رسیدلې د هغې سر که بربنډ شه نو مونځ ئې کیږي-

مسئله ۵:- که په کپړه وغیره پلیتي لږیدلې وي خو اوبه[ته] نه وي نو مونځ ورسره کیږي-

مسئله ۶:- او که ټوله کپړه پلیته وي یا زیاته پلیته او لږه پاکه وي یعنې د څلورمې حصې نه کمه پاکه وه- نو دا سې وخت دا هم جائزدي چه د دغې سره مونځ اوکړي او یا دغه کپړه لرې کړي په لغړه مونځ اوکړي خو د لغړې نه د دغې پلیتې کپړې سره مونځ کیږي یعنې غوره دې او که د

له د منګلو نه مراد د ورغوو دننه او باهر دواړه مراد دي ۲ ۱۲ ته دا صرف د ښځو حکم دې سړو له د نامه د لاندې نه تر زنګونو پورې بدن پټول فرض دي د دینه سوا کسې نور بدن ښکاره وه مونځ ئې کیږي لیکن بغیر ضرورت نه داسې کول مکروه دي ۱۲ ته دا هغه وخت چه بدن ئې تې ښکاریږي که لاندې ئې بیره کپړه پسې نه وه بیا خیر دې ۱۲ ته مطلب دا دې چه که په مانځه کښې ښکاره شي نو مونځ به مات شي په دې شرط چه دومره وخت ښکاره پاتې شي چه درې ځله په کښې سبحان الله ویلې شي- او د مانځه په شروع کښې دومره بدن ښکاره وه نو په مانځه کښې شروع د سره نه ده شوې هغه ځائې به پټ کړي بیا به مونځ شروع کړي ۱۲ ته یعنې که په یو میل شرعي کښې دننه او به نه وې نو بغیر وینځلو بیا مونځ کیدې ۱۲

خلور مے حصے نه زیاته یا خلورمه حصه پاکه وی نو بیا ورسره مونځ واجب دے۔

مسئله ۷:- که د چا سره بالکل کپړه نه وی نو په لغړه دے داسے ځائے مونځ کوی چه څوک ئے نه وینی او په ناستے دے مونځ کوی د رکوع او سجده دپاره اشاره کوی او که په ولاړے د رکوع سجدے سره اوکړی نو هم اوشه خو په ناستے په اشاره غوره دے۔

مسئله ۸:- په سفر کښے د چا سره او به لږے وے چه یا پے اودس کیده یا پے پلیتی لرے کیدے شوه نو پلیتی دے پے اووینځی د اودس دپاره دِ تیمم اوکړی۔

مسئله ۹:- د ماسپخین مونځ ئے اوکړه نو بیا ورته پته اولګیده چه دغه وخت خو د ماز یګر وخت داخل شوے وه نو مونځ ئے اوشه په قضا کښے به اولګی بیا به ئے نه کوی

مسئله ۱۰:- او که د وخت نه اول ئے کړے وه[1] نو نه دے شوے۔

مسئله ۱۱:- په ژبه نیت کول ضروری نه دی بلکه په زړه کښے چه دومره نیت اوکړی چه مثلاً د دے ماسپخین ننی مونځ کوم او که سنت کوی نو چه سنت مونځ د ماسپخین کوم بس چه دومره خیال په زړه کښے راوړی الله اکبر اووائی نو مونځ کیږی۔ کومے اوږدے قصے د نیت چه په خلقو کښے مشهورے دی د دے وینا ضروری نه ده۔[2]

مسئله ۱۲:- که په ژبه نیت ذیل[3] غواړی نو دومره ویل پوره دی چه نیت کوم د ننه ماسپخین د فرضو الله اکبر۔ یا نیت کوم د ماسپخین د سنتو الله اکبر۔ د دینه سِوا نور څه ویل ضروری نه دی که وائی او که نه وائی۔

مسئله ۱۳:- په زړه کښے ئے خیال د ماسپخین د مانځه وه خو په ژبه ئے ماز یګر اووئے نو هم ئے مونځ اوشه۔

مسئله ۱۴:- که په هیره ئے د څلورو رکعتو ځائے شپږ یا درے اووئے هم ئے مونځ اوشه۔

مسئله ۱۵:- که د چیرے مونځونه ئے قضا شوی وو او بیا ئے راګرځول نو په نیت کښے به د وخت تعین کوی۔ یعنی د سحر فرض قضا کوم۔ او که د ماسپخین کوی نو د ماسپخین د فرضو قضا کوم دغه شان چه د کوم وخت د فرضو قضا کوی نو خاص د هغے وخت نیت به کوی چه قضا کوم خاص د دغے وخت۔ او که د هغے وخت تعین ئے او نه که نو مونځ به بیا کوی نه د شوے۔

مسئله ۱۶:- که د چیرو ورځو مونځونه ئے قضا شوی وی نو په نیت کښے به د ورځے او تاریخ تعین کوی لکه د یو سړی نه د خالی اتوار پیړا ومنګل مونځونه قضا شویدی نو اوس فقط دا نیت کول چه د سحر قضا مونځ کوم پوره نه دے بلکه داسے نیت به کوی چه د خالی د ورځے د سحر قضا مونځ کوم بیا دغه شان د ماسپخین ماز یګر به وائی۔ بیا به دغه شان د اتوار د ورځے

[1] یعنی د وخت راتلو نه اول مونځ شروع نه کیږی که قصداً وی او که په هیره په دواړو صورتو نو کښے مونځ نه دے شوے ۱۲ [2] یعنی اکثر خلق چیرا اوږده اوږده نیتونه تړی امام قرأت شروع کړی او که دوی نیت ختم نه وی او اکثر د څنو نه رکعت هم اوځی ۱۲ [3] په دے مسئله شبه او جواب ئے په امداد الفتاوی جلد اول ص ۳۵ کښے لیک دے حلته اوګوره ۱۲ ۱۲

چه د اتوار د ورځې د سحر قضا مونځ کوم او دغه شان [1] تول مونځونه او کړی او که ډیرو میاشتو یا ډیرو کلو نو مونځونه تے قضا شوی وی نو د میاشتے او کال نوم به هم اخلی چه د فلانی کال د فلانی میاشتے د فلانی تاریخ د سحر قضا مونځ کوم بغیر د دے نیت نه قضا صحیح نه ده

مسئله ۱۷:- که چا ته ورځ تاریخ میاشت او کال یاد نه وی نو داسے نیت به کوی چه کوم مونځونه ځما نه قضا شوی په هغے کښے د اول سحر قضا مونځ کوم یاد ما سپخین چه څومره مونځونه ځما نه قضا شوی په هغے کښے د اول ماسپخین قضا مونځ کوم دغه شان به تول مونځونه کوی- چه تول پوره شی بیا به قضا پاتے کړی-

مسئله ۱۸:- د سنتو نفلو او تراویح د پاره فقط دومره نیت کافی دے چه مونځ کوم د سنتو او نفلو ویلو ته څه ضرورت نشته که ذکر ئے په کښے د هیڅ هم او نه که نو هم مونځ البته د سنتو تراویحو نیت کول زیات ته د احتیاط خبره ده-

اُوَم باب قبلے ته د مخ کولو بیان

مسئله ۱:- که داسے ځائے وی چه قبله معلومه نه وی او نه هلته داسے څوک وی چه تپوس تے او کړی نو فکر دے او کړی او چه زړه ئے په کوم طرف مطمئن شه هغه طرفته دے مونځ کوی- که بغیر د فکر نه ئے او کړه نو مونځ نه شوے- او که فکر ئے په کښے نه وه کړے او بیا روستو معلومه شوه چه قبلے ته ئے برابر کړے دے نو او شو- او که هلته څوک وه خو د پردے او د شرم د وجے نه ئے ترے تپوس او نه کړه او دغه شان ئے مونځ او کړه نو مونځ نه دے شوے- داسے وخت شرم کول نه دی پکار تپوس به کوی-

مسئله ۲:- که خو دونکے نه وه او فکر ئے او کړه او بیا ئے مونځ او کړه بیا معلومه شوه چه مونځ ئے قبلے ته نه دے کړے نو مونځ ئے شوے دے-

مسئله ۳:- که بدل طرفته ئے مونځ کاوه بیا په مانځه کښے معلومه شوه چه قبله دیخوا نه ده هغه بل طرفته ده. نو په مانځه کښے د را او کرځی او که د معلومیدو سره را او نه کرځید [2] نو مونځ ئے نه کیږی [3]-

مسئله ۴:- که څوک په کعبه کښے دننه مونځ کوی نو چه کوم طرفته ئے خوښه وی مخ کوی دے او مونځ د کوی د ده اختیار دے-

مسئله ۵:- په کعبه شریفه کښے دننه فرض او نفل هر یو مونځ جائز دے-

---

[1] اصل مسئله خو داده لیکن که چا بغیر د ورځ او تاریخ د تعین نه مونځ قضا او کړه نو که راګرځول ئے آسان وو بیا به ئے او کړی او که ګران وو نو او شو- د دے مسئلے متعلق سوال او جواب په امداد الفتاوی اول جلد صـ۳۱۳ کښے دے چه د جنت د کالی د عبارت تائید تے کیږی ۱۲ تصحیح الاغلاط ۱۲ [2] یعنی که دومره وخت حصار شه چه سبحان الله په کښے وے ویلے شوه نو مونځ ئے او نه شو ۱۲

اتم باب
د فرض مونځ ادا کولو طریقه

مسئله ۱- د مانځه نیت به او کړی الله اکبر[1] به او وائی او د الله اکبر ویلو سره به خپل دواړه لاسونه او کوته[2] او چت کړی لیکن لاسونه به د غاړ دنه نه بهر کوی بیا به ئې په سینه او تړی او د ښئ لاس ورغوے به د کینړ لاس د ورغوی پښا[3] کیدی او دا دعا به او لولی - سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ[4] بیا به اعوذ بالله او بسم الله او وائی اَلْحَمْدُ به او لولی او د وَلَا الضَّآلِّيْنَ نه پس به آمین او وائی بیا به بسم الله او وائی یو سورة به او لولی بیا به الله اکبر او وائی رکوع به لاړه شی او سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ[5] به درے پیرے او وائی یا پنځه او یا اووه پیرے - او په رکوع کښے به د دواړو لاسو گوتے ملاؤ کړی[6] په زنگونو نو به ئې کیدی او دواړه لیچے به د ډډ وسره پیوست[7] کړی او د دواړو ښپو ورنونه به پیوست کړی بیا به سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ او وائی او نېغ به او دریږی - بیا به الله اکبر او وائی سجدے له به لاړه شی - په زمکه به اول زنگونان کیدی بیا به د غوږ ونو په برابر لاسونه او گوتے به پیوست ساتی - بیا به د دواړو لاسونو په مینځ کښے اول پوزه بیا تندے کیدی او د لاسو او د ښپو گوتے به قبلے ته ساتی لیکن ښپے به نه اودروی[8] ښئ طرفته به ئې او باسی او ښه به مُحُته او پریوتے سجده کوی خیټه به د ورنو نو سره او لیچے به د دواړو ډډ وسره پیوست ساتی او دواړه څنگلے به په زمکه کیدی او[9] په سجده کښے به سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى درے یا پنځه یا اووه پیرے او وائی بیا به د الله اکبر ویلو سره نیغه کینی بیا به دویمے سجدے[10] له د الله اکبر سره لاړه شی او درے یا پنځه یا اووه پیرے به دغه شان تسبیح او وائی او د الله اکبر سره به بیا نیغه پاڅی او به دریږی د پاسیدو په وخت کښے به لاسونه په زمکه نه لږوی بیا به بسم الله الحمد او سورة او لولی دویم رکعت به دغه شان پوره کړی - او چه دویمه سجده او کړی نو په کینړه کوناټی به کینی او ښپے به ښئ طرفته او باسی[11] او دواړه لاسونه به په ورنو کیدی او گوتے به پیوست ساتی او التحیات به داسے او لولی - اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ - او چه په تشهد کښے د لا کلمے ته او رسی نو د ښئ لاس مسواکئ گوته به او چته کړی او په اِلَّا اللّٰهُ به ئې کیدی او نورے گوتے به حلقه کړی

---

[1] الله اکبر کښے په رے جزم کوی ۱۲ [2] او سړے به د غوږ پولو کی ته لاس او چتوی ۱۲ [3] او سړے به د نامه لاندې لاس تړی ۱۲ [4] او سړے به په ښئ لاس کینړ لاس اونیسی ۱۲ [5] او سړی به په لوړ گوتو زنگونان کلک اونیسی ۱۲ [6] او سړے به لیچے د ډډو نه بیرته ساتی ۱۲ [7] اگر چه په درمختار کښے دا حکم مطلق دے لیکن د قواعد و نه دا حکم د ښځو د پاره خاص معلومیږی سړی به ئې جدا ساتی ۱۲ [8] او سړے به ښئ ښپه اودروی په کینړه ښپه به کینی ۱۲ [9] او سړے به سجده آزاده کوی خیټه به د ورنو نه او څنگلے د تشو نه بیرته ساتی ۱۲ [10] او سړے به څنگلے په زمکه نه ږدی ۱۲

کله څلورم رکعته مونځ وي نو دېنه پس به الله اکبر اووائي درېم رکعت ته به پاڅي او دوه رکعته به نور په دغه طريقه پوره کړي خو د فرضو په درېم او څلورم رکعت کښې به د الحمد سره سورة نه لولي. چه په څلورم رکعت کيني نو التحيات او تشهد به اولولي او بيا به دا درود شريف اولولي. اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ؕ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ؕ. بيا به دا دعا اولولي. رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ؕ او يا دا. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ الْاَحْيَآءِ مِنْهُمْ وَالْاَمْوَاتِ ؕ بيا به ښي او کيڼې طرفته سلام اوګرځوي او به وائي اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ[1] او په فرښتو به د سلام نيت کوي[2] دا د مانځه کولو طريقه ده ليکن په دې کښې څه کوم فرض دي په هغې کښې که يو پاتې شي نو مونځ نه کيږي که قصداً وي او که په هېره سره. او بعضې په کښې واجب دي نو که په هغې کښې قصداً کمې راغې نو مونځ ئې خراب شه بيا به ئې کوي. ليکن که اوئې نه کړه نو ځيرمه ئې خلاصه شوه البته ډېر ګناه ګار شه او که په هېره په کښې کمې راغې نو چه سجده سهوه اوکړي مونځ به ئې اوشي. او بعضې په کښې سنت دي او بعضې مستحب دي.

مسئله[2]:- په مانځه کښې شپږ څيزونه فرض دي اوّلنې تکبير[3] په ولاړه[4] مونځ کول، قرآن په کښې لوستل يو سورت يا يو دا آيات، رکوع کول، دوه سجدې کول، قعده اخيره په قدر د تشهد.

مسئله[3]:- دا څيزونه په مانځه کښې واجب دي. الحمد لوستل او سورة د سره پيوست کول هر يو فرض پخپل ځپل ځائې ادا کول، او اوّل په ولاړه الحمد لوستل بيا سورت ورسره ضم کول، بيا رکوع کول بيا سجده کول اوّل قعده کول. په دواړو قعدو کښې التحيات لوستل، د وترو په مانځه کښې دُعا قنوت لوستل، په لفظ د سلام سره سلام[5] ګرزول، هر يو رکن په آرام سره ادا کول، تلوار نه کول.

مسئله[4]:- د دې ذکر شو څيزونه سوا نور ځه سنت دي او څه مستحب دي.

مسئله[5]:- که څوک په مانځه کښې الحمد اونه وائي او سورة اووائي، يا الحمد او لولي او سورة ورسره پيوست نه کړي. يا په دوېم رکعت قعده اونه کړي درېم ته پاڅي يا قعده اوکړي ليکن التحيات اونه لولي نو په دې ټولو صورتونو کښې ئې فرض اوشو ليکن خراب اوشو بيا دې اوکړي واجب دي. که بيائې اونه کړه نو ډېر ګناه ګار شه

[1] د ورحمة الله د الله په ه په جزم کړي يعنې مونږ نه دې به وائي زبر په له دا ئې ۱۲
[2] او سره هم که يواځې مونځ کوي نو د فرښتو نيت به په سلام کښې کوي او که په امامتئ مونځ کوي نو د ښي او کيڼې طرف د مونځ کونکو او امام چه کوم جانب ته وي هغې جانب ته به ورسره د امام د سلام نيت هم کوي. او امام به هم د فرښتو او دواړو طرفته د مقتديانو نيت کوي ۱۲ [3] مطلب وادې چه تکبير تحريمه فرض ده ۱۲ [4] دا او درېم پقدر د درې تسبيحا تو په نزد د اکثرو علمائو فرض دي ۱۲ [5] مراد وتل په لفظ د سلام سره دي ۱۲

البته که په هیره ئې داسې اوکړه نو په سجده سهوه به ئې مونځ پوره شي۔

مسئله ۶:- که د سلام گرځولو په وخت کښې ئې سلام[1] اُونه گرځولو خو د چا سره ئې خبرې اوکړې یا پاسیده وروان شه یائې بل داسې کار اوکړه چه مونځ پې مات شه نو هم ئې دغه حکم دے چه فرض ئې ادا شو لیکن د مانځه را گرځول پې واجب دی ورنه گناهګار شه۔

مسئله ۷:- که اول ئې سورة او بیا الحمد اووئې نو هم به بیا مونځ کوی او که په هیره وو نو سجدهٔ سهوه دے اوکړی۔

مسئله ۸:- د الحمد نه پس کم نه کم درے ایاتو نه لوستل پکار دی که یو یا دوه ئې اولوستل نو که هغه یو ایات د درے وړو ایاتو برابر وه بیا هم جائز دی۔

مسئله ۹:- که څوک د رکوع نه په پورته کید وکښې سَمِعَ اللہ او رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ یا په رکوع او یا په سجده کښې تسبیح اونه وائی یا په اٰخری قعده کښې د التحیات نه پس درود اونه لولی یا د درود نه پس دعا اونه لولی او دغه سے سلام اوگرځوی نو مونځ ئې اوشه خو د سنتو نه خلاف

مسئله ۱۰: د نیت تړلو په وخت کښې لاس اوچتول سنت دی که چا اوچت نه کړل نو مونځ ئې اوشه خو د سنتو نه[2] خلاف دے۔

مسئله ۱۱:- په هر یو رکعت کښې د الحمد نه اول بسم اللہ ویل دی۔ او چه سورة ورسره ملاوهی نو هم دے د سورة په شروع کښې بسم اللہ اولولی غوره دی۔

مسئله ۱۲:- د سجدے په وخت کښې تندے او پوزه دواړه په زمکه کیخودل پکار دی څوک تندے ئې کیخود او پوزه نه نو مونځ اوشه او که فقط په پوزه ئې بغیر تندی سجده اوکړه نو مونځ نه[3] دے شوے۔ البته که څه مجبوری وی نو بیا خیر دے۔

مسئله ۱۳:- که د رکوع نه پس نیغ او نه دریده بلکه برابر نیغ شه او سجدے له لاړ نو مونځ نه دے شوے بیا[4] به ئې کوی۔

مسئله ۱۴:- دغه شان که د دواړو سجدو په مینځ کښې نیغ کښې نه ناستو بلکه ئې سر اوچت کړو او دویمے سجدے له لاړ شه نو یوه سجده ادا شوه دویمه نه ده شوے نو مونځ ئې بالکل اونه شه۔ او که نیغ نه شه البته نزدے شه نیغیدو ته نو فرض ئې ادا نه شو خو ډیر بے کاره شو بیائې کول پکار دی ورنه ډیر گناهګار دے۔

مسئله ۱۵:- که په مالوچو یا بل داسې پوس شي ئې سجده کوله نو سر له به زور ورکوی چه په زمکه جُخت شي که زمکے ته ئې زور اونه رسید و نو سجده ئې اُونه[5] شوه۔

مسئله ۱۶:- د فرض مانځه په ورستو دوه رکعتو نو کښې که ئې سورة هم اولوستو نو مونځ ئې اوشه۔

[1] یعنی لفظ د السلام علیکم و رحمت اللہ ئې اونه وے ۱۲ اَللّٰهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ولجمیع المؤمنین والمؤمنات اٰمین
[2] یعنی سنت مؤکده ۱۲ [3] که قصداً ئې اوکړل او که په هیره ۱۲ [4] که قصداً ئې داسے اوکړه او که په هیره وو نو سهوه به اوکړی
[5] که قصداً وو او که په هیره وو نو سهوه به اوکړی ۱۲ [6] که قصداً اوی او که په هیره ۱۲

مسئله ۱۷:- که په ورستو دوه رکعتو نو کښے ئے الحمد او نه وے تسبیح ئے او وئیله یا چپ او دریدو هم مونځ اوشه

مسئله ۱۸:- په اولو دوه رکعتو نو کښے که ئے د الحمد سره سورت پیوست نه کړو یا ئے الحمد هم او نه وے صرف سبحان الله ئے لوستے نو په ورستو رکعتو نو کښے به الحمد او سورة پیوست کړی. نو که قصدًا ئے داسے کړی وو مونځ به بیا کوی او که په هیره سره وو نو سجده سهوه به اوکړی.

مسئله ۱۹:- په مانځهٔ الحمد او سورة وغیره تول څیز و نه دو لوستل پکار دی لیکن داسے چه پخپلو غوږ و نو کښے ئے آواز راشی که پخپلو غوږ ونو کښے ئے له آواز را نشی او دریدو ونو مونځ نه کیږی.

مسئله ۲۰:- د یو مانځهٔ د پاره سورة مقرر کول مکروه دی هر یو چه زړه غواړی لولی دے.

مسئله ۲۱:- په دویم رکعت کښے به د اول نه زیات اوږد سورة نه لولی.

مسئله ۲۲:- تولے ښځے به خپل خپل مونځونه جدا جدا کوی په امامتی به ئے نه کوی جماعت ته تلل ئے مناسب نه دی. که یوه ښځه د خپل خاوند یا محرم سره په امامتی مونځ کوی نو د مسئلے تپوس د اوکړی داسے اتفاق ډیر کم پیښیږی ځکه مونږ ئے بیان اونه کړو البته دومره خبره د ضرور یاده ساتی چه که داسے موقع راغله نو کسرې سره د برابره او دریږی بلکل شاته دے اودریږی او د ره د دے مونځ هم نه کیږی او کسرې هم.

مسئله ۲۳:- که په مانځهٔ کښے ئے او دس مات شه او دس د اوکړی بیا دے مونځ کوی.

مسئله ۲۴:- مستحب دا دی چه په مانځه ولاړه وی نو د سجدے ځائے ته دے کوری او په رکوع کښے خپو ته او په سجده کښے پوزے ته، د سلام گرځولو په وخت کښے اوګو ته او چه اسویلے ورشی نو خوله دِ بنده کړی او که نه شوه بندیدے نو د لاس پشا دے خوله بنده کړی او که ټوخے ورځی نو ترڅو چه کیدے شی غاړه دِ نه تازه کوی.

نهم باب

دَقرآن لوستو بیان

مسئله ۱:- قران شریف صحیح لوستل پکار دی (روا جب دی) هر یو حرف به صحیح ادا کوی د همزه او عین فرق کړی د ح او ه فرق د ذ ظ ز ض فرق او د س ص ث فرق به صحیح صحیح کوی. د یو حرف پځائے به بل حرف نه لولی.

مسئله ۲:- که څوک یو حرف نه شی ادا کولے مثلاً د ح په ځائے ئے ه وائی یا ع نشی ویلے یا ث س ص یو شان په سین سره وائی نو د صحیح لوستو مشق پے لازم دے که کوشش د صحیح لوستو نه کوی نو ګناه ګار به وی او مونځ ئے نه کیږی البته که په محنت سره هم صحیح ادا نه شی کولے نو بیا مجبوری ده.

مسئله ۳:- که ح ع وغیره حرفونه ادا کوی لیکن په داسے بے پرواهئ سره ئے لولی چه د

له د دے مسئلے متعلق سوال او جواب په امداد الفتاوی جلد اول ص ۱۳۵ کښے دی چه کوم چه د دے مسئلے تائید کوی ۱۲
ﷲ لیکن که کله کله هغه سورتونه کوم چه حضور ﷺ په مانځهٔ کښے لوستلی دی لولی نو مکروه نه دی بلکه مستحب دی ۱۲
ﷲ چونکه د بنا شرائط او مسائل ډیر نازک دی او اختلافی مسئله هم ده ځکه رغه تولے مسئلے پرېښودے شوے ۱۲ ﷲ یعنی په مرئ کښے خرا شکے راشی ۱۲ اللّٰهم اغفر لکاتبه ولوالدیه آمین ۱۲ ۱۲ ۱۲

ح په ځائے ة او د عین په ځائے همزه لولی په خیال ئے نه لولی نو گناه گار دے مونځ ئے صحیح شوے
مسئله ۴:- کوم سورة چه ئے په اول رکعت کښے لوستے دے هغه ئے په دویم رکعت کښے هم اولوسته نو هیڅ پرواه نشته لیکن بے ضرورته داسے کول غوره نه دی -
مسئله ۵:- په کوم ترتیب چه سورتونه په قرآن کښے لیک دی په مانځه کښے هم په دغه ترتیب ئے لوستل پکار دی - د عَمَّ سپاره چه پکوم ترتیب لیک ده په دغه ترتیب به ئے نه لولی یعنے په اول رکعت کښے چه کوم سورة اولولی په بل رکعت کښے به ورپسے سورة لولی مخکښے سورة به ئے نه لولی لکه چه چا په اول رکعت کښے قُلْ يَا اَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ اولوسته نو اوس به اِذَا جَآءَ یا قُلْ هُوَ اللهُ یا قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ یا قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ لولی اَلَمْ تَرَ كَيْفَ یا لِاِيْلٰفِ وغیره به نه لولی - داسے لوستل مکروه دی لیکن که په هیره داسے اولولی نو مکروه نه دی -
مسئله ۶:- کله چه یو سورة شروع کړی نو بے ضرورته دغه پریخودل او بل شروع کول مکروه دی -
مسئله ۷:- چا له چه مونځ نه ورځی یا نوے نوے مسلمان شوے وی نو هغه دے هرځائے سُبْحَانَ اللهِ لولی نو فرض ئے ادا شو لیکن مونځ به ازده کوی -

د مونځ ماتونکو څیزونو بیان

لسم باب

مسئله ۱:- په قصد یا په هیره چه خبرے اوکړی مونځ مات شه-
مسئله ۲:- په مانځه کښے آه یا اُوه یا اُف یا هائے او وائے یا په زوره او ژاړی نو مونځ ئے مات شه البته که د جنت یا دوزخ په یادیدو سره ئے زړه را ډک شه او په زوره ئے څه آواز اووت نو مونځ نه ماتیږی -
مسئله ۳:- بے ضرورته اُخ اُوخ کول او غاړه تازه کول چه آواز ئے پیدا شی نو مونځ ماتیږی - البته که لاچاری وه نو مونځ نه ماتیږی -
مسئله ۴:- په مانځه کښے او پرنجیده نو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ئے اووئیل نو مونځ نه ماتیږی لیکن نه وئیل ئے دی پکار - او د بل د پرنجی په جواب کښے ئے يَرْحَمُكَ اللهُ اووے نو مونځ ئے مات شه -
مسئله ۵:- په مانځه کښے د قرآن نه په لوستو مونځ ماتیږی -
مسئله ۶:- په مانځه کښے دومره تاؤ شه چه سینه ئے د قبلے نه تاؤ شوه نو مونځ مات شه-
مسئله ۷:- د چا د سلام په جواب کښے ئے وعليكم السلام اووے نو مونځ ئے مات شه -
مسئله ۸:- د مانځه خلاف څه کار ئے اوکړه په مانځه کښے نو مونځ ئے مات شه -

---

له د چوکاسانئ د پاره د دے سپارے ترتیب بدل کړے شوے دے اسان سورتونه ئے اول لیکلی دی ورنه اصل ئے هغه ترتیب دے کوم چه په قرآن کښے دے ۱۲ ئله لیکن که د قرآن آخری سورة ئے په اول رکعت کښے اووے نو په دویم کښے د سره ویلے شی ۱۲ ئله او که د جنت یا دوزخ په یادیدو سره وئے د خولے نه آه یا آف وغیره اووځی خیر دے (ماسل الفقادی)

مسئله ۹:- په مانځه کښې ئې څه او خوړل او سکل نو مونځ ئې مات شه ترڅو چه که دَ چنړې دَ دانې هومره څه شئے په غاښو نو کښې نښتے وه هغه ئې تیر که نو مونځ ئې مات شه او که دَ چنړې دَ دانې نه کم وه نو بیا ماتیږی۔

مسئله ۱۰:- پانړئې په خوله کښې ده او اُوبه ئې حلق ته تحی نو مونځ نه کیږی۔

مسئله ۱۱:- خوږ شئے ئې خوړلے ده او خوله ئې بیا کنګال کړه لیکن خوږ والے ئې په خوله کښې وه او دلاړ و سره حلق ته تلو نو مونځ صحیح دے۔

مسئله ۱۲:- په مانځه کښې ئې دَ خوشحالئ په خبر اَلحَمدُ لِلّٰهِ او دَ غم په خبر اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیهِ رَاجِعُوْن او وے نو مونځ ئې مات شه۔

مسئله ۱۳:- دړوکے وغیره اړتا وید ه او بِسمِ اللّٰه ئې او وے نو مونځ ئې مات شه۔

مسئله ۱۴:- په مانځه کښې تے یې تے او خوړ نو که پئ او وا ته مونځ مات شه و رنه نهٔ دَ مات۔

مسئله ۱۵:- دَ اللّٰه اکبر ئے آللّٰه اکبر یا اللّٰه آکبر او وے یعنی الف ئې ولاړ که نو مونځ مات شه دغه شان دَ اکبر بے ئې ولاړه کړه اکبار ئې او وے نو هم مونځ مات شه۔

مسئله ۱۶:- په مانځه کښې ئې په څهٔ خط یا کتاب نظر پریوت او په زړه ئې او لوست نو مونځ ئې مات شه البته که په زړه کښې ئې تے مطلب واغستے نو مونځ ئې نه دے مات۔

مسئله ۱۷:- دَ مونځ کونکی په مخ کښې څوک تیر شه یا سپے پیشو بیزو وغیره جانور ئې په مخ کښې تیر شه نو مونځ پے نه ماتیږی البته تیریدونکے ډیر ګناه ګار شه۔ نو مونځ داسے ځائے کول پکار دی چه په مخ کښې ئې څوک نه تیریږی او تلونکو را تلونکو ته تکلیف نه وی او که داسے جد ا ځائے نه وی نو خپلے مخ ته دَ څه لرګے وغیره او دروی چه دَ کم نه کم یو لاس اوګد او یو ه ګوته پیړه وی دغے لرګی وغیره ته دِ او دریږی او لړ دے دَ بالکل دَ یو زنے په برابر نه را ولی بلکه بنئ یا کینړے سترګے ته دے برابر را ولی او که څه لرګے وغیره دَ او دره ولو نه وه نو بل څه دومره ونګ څیز دے مخ ته اُو دروی۔ نو اوس ئې په مخ کښې تیریدل جائز دی۔ څه ګناه نشته۔

مسئله ۱۸:- دَ څه ضرورت په وجه که یو قدم دوه قبلے ته مخکښې لاړ شی یا وروستو لاړ شی او دَ قبلے نه سینه او نه ګرځی نو مونځ نه ماتیږی لیکن که دَ سجدے دَ ځائے نه مخکښے لاړه نو مونځ ئې مات شه۔

یولسم باب

کوم څیزونه چه په مانځه کښې مکروه او منع دی

مسئله ۱:- مکروه هغه دی چه مونځ پے نه ماتیږی لیکن ثواب کمیږی او ګناه کیږی۔

مسئله ۲:- دَ خپلو کپړو یا بدن یا کالو سره لوبے کول کیتهٔ لوے کول مکروه دی البته که

دَ کیتو پوجه ئے سجده نه شوه کولے نو یو یا دوه پیرے ئے پلاسو برابروَل یا لرے کول جائز دی۔
مسئله ۳:- په مانځه کښے دَ کوتو نه تهار وَیستل په کونا تو لاسونه ایخودل، بنئ او کینړ طرفته کتل دا ټول مکروه دی البته دَ سترګو په کوتو نو بے دَ مخ کرځولو نه کتل نه دی مکروه البته بغیر دَ سخت ضرورت نه دا سے کول هم بنهٔ نه دی۔
مسئله ۴:- په مانځه کښے دواړه خپے اودروَل کینا ستل پے یا په لټیٔ کینا ستل یا دَ سپی پشان کیناستل مکروه دی البته که څه عذر وه بیا هرڅنګه چه کیناستے شی جائز دی۔
مسئله ۵:- دَ سلام په جواب کښے لاس او چتول مکروه دی او په ژبه که ئے جواب ورکړو نو مونځ ئے مات شه لکه بره چه بیان شوی دی۔
مسئله ۶:- په مانځه کښے دَ یو خوا او بل خوا نه جامے راټولول مکروه دی۔
مسئله ۷:- په کوم ځائے کښے چه ئے څوک خنده وی یا خیال په کښے کس وړه کیږی مونځ مکروه دے
مسئله ۸:- که څوک مخکښے ناست وی خبرے کوی یا څه کار کوی نو شا ته ئے مونځ کول جائز دی چه دَ هغو ورته شاوی مخه ئے نه وی۔ لیکن که دغه ناستو ته ئے تکلیف وی نو بیا ئے شاته مونځ نه کوی۔ یا هغوی دومره په زوره خبرے کوی چه دَ مانځه خطاکیدو ویره په کښے وی نو بیا هلته مونځ مکروه دے۔ او چا ته مخامخ مونځ کول مکروه دی۔
مسئله ۹:- که دَ مونځ کونکی مخے ته توره یا قرآن شریف ځوړند وی نو هیڅ باک نشته۔
مسئله ۱۰:- په کوم فرش چه تصویر وه جوړ شوی وی په هغے مونځ کیږی لیکن په تصویر به سجده نه کوی۔ او پکوم جانماز چه تصویر وه وی هغه مکروه دے۔ او دَ تصویر په کور کښے ساتل لوئے ګناه دے۔
مسئله ۱۱:- که تصویر دَ سر دَ پاسه وه یا مخے ته وه یا بنئ یا کینړ طرفته[له] وه نو مونځ مکروه دے او که دَ خپو لاندے وه نو مکروه نه دے لیکن که دومره وړه وکے تصویر وی چه په زمکه وی نو دَ ولاړے نه لیدے نه شی، یا پوره تصویر نه وی بلکه سر ئے کټ شوے یا وران شوے وی نو دَ هغے هیڅ باک نشته۔ په دا سے تصویر سره په یو حالت مونځ نه مکروه کیږی۔
مسئله ۱۲:- دَ تصویر دارے جامے سره مونځ مکروه دے۔
مسئله ۱۳:- دَ وُنے یا کور وغیره بے جان څیز تصویر مکروه نه دے۔
مسئله ۱۴:- په مانځه کښے ونه ایا تونه یا بل څه په ګوتو شمارل مکروه دی۔ البته که دَ یاداشتو دَ پاره په ګوتو هسے زور راولی بیا مکروه نه دی۔
مسئله ۱۵:- دویم[له] رکعت دَ اول رکعت نه زیات اوږده ول مکروه دی۔
مسئله ۱۶:- په مانځه کښے یو سورت مقرر کول چه همیشه ئے لولی مکروه دی
مسئله ۱۷:- په اوږه و دومال اچول او مونځ کول مکروه دی۔

له بنا په دے که شاته وی هم مکروه دے خو دَ دے نو روونه کم ۱۲ له یعنی په دویم رکعت کښے دَ درے ایا تونو نه زیات

مسئله ۱۸:- دَ ډیرو خیرَ نو جامو سره مونځ کول مکروه[1] دی لیکن که نور کړے نه وی نو جائز دی
مسئله ۱۹:- پیسه دمړے وغیره په خوله کښے نیول او مونځ ورسره کول مکروه دی او که داسے
څیز ئے په خوله کښے نیولے وه چه قرأت ورسره نشو لوستے نو مونځ مات شه نه کیږی۔
مسئله ۲۰:- چه تشو بولو یا لویو بولو په زور راوستے وه نو مونځ کول ئے مکروه[2] دی۔
مسئله ۲۱:- چه ډیر اوږے دی او خوراک تیار وی نو اول دے خوراک اوکړی او بیا مونځ بغیر
دَ خوراک نه مونځ کول مکروه دی۔ البته که وخت تنګ وه بیا دِ[3] مونځ اول[4] اوکړی۔
مسئله ۲۲:- په پټو سترګو مونځ کول مکروه دی لیکن که په سترګو پټولو ئے حضور پنه
کیده بیا خیر دے۔
مسئله ۲۳:- بے ضرورته په مانځه کښے لاړے توکل او پوزه پاکول مکروه[5] او که ضرورت شه
بیا خیر دے۔ لکه توخے دراغے او بلغم ئے خولے له راغله نو کین طرفته دے توکړی یا دے په
کپړه توکی او دِ مخ ی بنئ طرفته او قبلے طرفته دِ نه توکی۔
مسئله ۲۴:- په مانځه کښے مونګړ او چیچلو نو ادِ نیسی او پریدی دے وژل ئے په مانځه کښے نه
دی پکار۔ او که مګنړ لا چیچلے نه وی نو نیسی به ئے نه بغیر چیچلو ئے نیول هم مکروه دی۔
مسئله ۲۵:- په فرض مانځه کښے بغیر ضرورته تکیه لګول مکروه دی۔
مسئله ۲۶:- سورة لا ختم نه وه دوه درے جملے پاتے وے چه رکوع له لاړ او په رکوع کښے
ئے ختم کړو نو مونځ مکروه شه۔
مسئله ۲۷:- که دَ سجدے ځائے دَ خپو دَ ځائے نه اوچت وی نو که د یوے لوشتے نه زیاتِ اوچت
وی نو مکروه دے مونځ او که یوه لوشت یا کم وه نو مونځ جائز دے البته بے ضرورته داسے کول
مکروه دی۔

دوولسم باب　پَه کومُو وَجهُو چه مُونځ مَاتول جَائزدی دَهغے بیَان

مسئله ۱:- ده مونځ کاوه او کاډے روان شه دَ ده اسباب پکښے پروت وه یائے په کښے بال بچ
سواره وو۔ نو مونځ به ماتوی او سور به ئے.
مسئله ۲:- مار راروان وُه نو دَ هغه دَ ډیرینه مونځ ماتول جائز دی۔
مسئله ۳:- چرګ بهر پاتے شوے وه پیشو وغیره پسے راغے نو مونځ ماتول پسے جائز دی۔
مسئله ۴:- ده مونځ کاوه او غل راغے پیزار ئے تختاوه نو مونځ پسے ماتول جائز دی۔

[1] مطلب دا دے چه که خیرَ نو جامو سره چه نورے پاکے کپړے ئے وی مونځ مکروه دے ۱۲ [2] لیکن که وخت
ختمیده بیا دِ داسے اوکړی [3] یعنی دومره تنګیده چه فرض او سنت په کښے نه کیده ۱۲ [4] دغه شان که
مانځه کیده نو هم دے مونځ مینځه کړی ۱۲ ۱۲

مسئله ۵:- ترکاری تو ئیده او دا په مانځه وه نو مونځ پسے ماتول جائز دی[1] فرض دا دے چه دا سے یو څیز ضائع کیږی چه د هغے د قیمت شلورانړے وی نو مونځ پسے ماتول شی

مسئله ۶:- که په مانځه کښے یے تښتو بولو یا څو بولوز وررا وست نو مونځ به مات کړی بیا او دې کړی

مسئله ۷:- څوک په وند پسلار روان وه او پلار دے کښے ورته کوهے وغیره وو او دُ غورزیدو یره ئے وه نو مونځ به پسے ماتوی که مونځ ئے مات نه کړ او هغه وغورزیدۀ نو دے گناهګار شه ـ

مسئله ۸:- د چاپچی وغیره کپړوته او را ولیږیده نو مونځ پسے ماتولے شی ـ

مسئله ۹:- مور و پلار دنیکه نیا د څه مصیبت په وجه آواز اوکړی نو فرض مونځ ماتول پسے واجب دی لکه که چا مور و پلار یا نیا نیکه بو ډاګان شوی وو او چرته او دس ماتی وغیره ته تله وغورزیدۀ نو مونځ به پسے مات کړی چه هغه را اوچت کړی ـ لیکن که بل څوک اوچتونکے وه نو بے ضرورته به مونځ نه ماتوی ـ

مسئله ۱۰:- که غورزیدے لاند دُ خوږه ئے ده او دوه ته ئے آواز او که هم مونځ به ماتوی ـ

مسئله ۱۱:- او که دا ضرورت نه وه هسے ئے ورته آواز کړیے نو فرض مونځ به نه ماتوی ـ

مسئله ۱۲:- او که نفل یا سنت ئے کول او دغه وخت ورته دوی آواز او که او پته دوی ته نه وه چه دُ څه کوی یعنی مونځ کوی نو دا سے وخت هم مونځ ماتول واجب دی خواه که څه تکلیف ورته وی او که نه وی د دوا ړو یو حکم دے که مونځ پسے مات نه کړی نو گناهګار دے او که ورته معلومه وی چه مونځ کوی نو بیا به مونځ نه ماتوی لیکن که ضرورت وه بیا به ماتوی ـ

د وتر مانځه بیان

دیارلسم باب

مسئله ۱:- د وترو مونځ واجب دے او د واجبو مرتبه فرضو ته نزدے ده په پریخودو کښے ئے لویه گناه ده که پاتے شو نو قضا ئے لازمه ده ـ

مسئله ۲:- د وترو درے رکعتونه دی. په دوه رکعتونو به قعده اوکړی د تشهد پس به پاتی الله اکبر به او وائی او الحمد او سورت به او لولی کا الله اکبر سره به او کوته[2] لاس اوچت کړی بیا به لاسونه په سینه کیدی دعا قنوت به او لولی او دریم رکعت به پوره کړی قعده به اوکړی او سلام به او ګرځوی ـ

مسئله ۳:- دعا قنوت دا دی :- اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط

[1] خواه که دا امید ئے وی چه مونځ به بیا په وخت کښے او کړم او که نه که قضا شه نو بیا دے خیر دے قضا او کړم

[2] د ونارینه به غوږ و نو ته لاس او چتوی لکه عامه قاعده چه ده کرسهو د پاره ۱۲

مسئله۴:- د وتر وپیا دریو اړو رکعتو کښے د الحمد سره سورة پیوست کول پکار دی
مسئله۵:- که په دریم رکعت کښے ئے دعا قنوت لوستل هیر شو او رکوع ته لاړه بیائے یاد شو نو او س دِ ئے نه لولی بلکه مونځ دِ ختم کړی او سجده سهوه دِ او کړی او که رکوع ئے پریخوده بیا نیغه شوه او دعا قنوت ئے او لوستل نو خیر دے مونځ ئے اوشه لیکن داسے کول نه دُو پکار- او سجده سهوه په دے صورت کښے هم واجب ده-
مسئله۶:- که په هیره ئے په اوّل یا دویم رکعت کښے دعا قنوت او لوستل نو دُے هیڅ اعتبار نشته په دریم رکعت کښے به بیا لولی او سجده سهوه به کوی-
مسئله۷:- چا ته چه دعا قنوت یاد نه وی نو دا دعا دِ لولی:- رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنۡیَا حَسَنَةً وَّ فِی الۡاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ یا درے ځله اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لِیۡ یا درے ځله یَارَبِّ یَارَبِّ یَارَبِّ دِ لولی[1]

دَ سُنّت اَو نفل مُونځونو بَیان

خوارلسم باب

مسئله۱:- د سحر د فرضو نه اول دوه رکعته سنت دی- په حدیث کښے ئے ډیر تاکید راغلے دے پریخودل ئے چرته نه دی پکار- که د څه مجبورئ په وجه پاتے شو نو د نمرختو نه پس دِ دے دوه رکعته قضا او کړی- خو حلمه چه نمرخته را او چت شی-
مسئله۲:- د ماسپخین اول څلور رکعته سنت بیا څلور فرض بیا دوه رکعته سنت دی د ماسپخین دا شپږ رکعته سنت هم ډیر ضروری دی- بے وجے ئے پریخودل ګناه دے-
مسئله۳:- د مازیګر اول څلور رکعته سنت بیا څلور فرض دی- خو د مازیګر دے سنتو ډیر تاکید نه دے راغلے- که پاتے شو ګناه ئے نشته اوچه او کړی نو ډیر ثواب دے-
مسئله۴:- د ماښام اول درے رکعته فرض بیا دوه سنت دی- د دے سنتو هم ډیر تاکید راغلے دے
مسئله۵:- د ماسختن غوره داده چه اوّل څلور رکعته سنت او کړی بیا څلور فرض بیا دوه سنت او کړی او بیا که ئے زړه غواړی نو دوه رکعته نفل دِ او کړی په دے حساب سره د ماسختن شپږ رکعته سنت شو او که څوک ډومره نه شی کولے نو اوّل څلور فرض بیا دوه سنت او بیا دِ وتر او کړی د ماسختن دا دوه سنت ضروری دی-
مسئله۶:- د رمضان په میاشت کښے تراویح هم سنت دی د دے هم تاکید راغلے دے پریخودل ئے ګناه دے- ښځے اکثر تراویح نه کوی داسے دِ نه کوی- د ماسختن د فرضو او سنتو نه پس شل رکعته تراویح کول پکار دی- د دوه دوه رکعتو نیت به تړی او یا د څلورو- لیکن دوه دوه رکعته کول غوره دی- چه شل رکعته پوره شی نو بیا دِ وتر او کړی-
فائده:- د کومو سنتو کول چه ضروری دی دیته سنتِ مؤکده وائی- او په شپه او ورځ کښے داسے سنت دولس دی- دوه د سحر، څلور د ماسپخین د فرضو اوّل دوه پس، دوه د ماښام، دوه د ماسختن- او د رمضان تراویح- او بعضو

[1] خو ذیاد دِ لو د دُعا قنوت کوشش به کوی چه یاد کړی همیش به داسے نه کوی ۱۲

عالما نو دَ تهجّد مونځ هم په سنّتِ مؤکّد وکښے شمار لے دے۔

مسئله:- دا مونځونه خو دَ شرع دَ طرف نه مقرر دی۔ که دَ چا زړه غواړی نو دَ دینه زیات هم کولے شی او هره وخت چه ئے کوی خو دا خیال به ساتی چه په مکروهو وختونو کښے دِ نه کوی دَ فرضو او سنتونه سوا نور مونځونه نفل دی څومره چه زیات نفل اوکړی هومره زیات ثواب دے۔

مسئله ۸:- دَ بعضو نفلو نو ثواب ډیر زیات دے نو په دے وجه دَ نورو نفلو نو دَ کولو نه دَ دے کول غوره دی۔ چه په لږ محنت ډیر ثواب ملاویږی۔ هغه دا دی ۱ تحیة الوضوء۔ ۲ اشراق۔ ۳ څاښت۔ ۴ اوّابین، ۵ تهجّد، ۶ صلوٰة تسبیح۔

مسئله ۹:- تحیة الوضوء هغې ته وائی چه اودس اوکړی او فوراً پسے دوه رکعته نفل اوکړی۔ په حدیث کښے دَ دے ډیر فضیلت راغلے دے۔ خو په مکروه وخت کښے دِ نه کوی۔

مسئله ۱۰:- دَ اشراق دَ مانځه دا طریقه ده چه دَ سحر دَ مانځه نه پس دَ خپل ځائے نه پورته نه شی په هغې ځائے څه وظیفه ذکر کوی دنیاوی خبرے دَ دنیا کارونه کوی چه نمر راوچت شی نو دوه رکعته یا څلور رکعته اوکړی نو دَ یو حج او یو عمرے ثواب ورته ملاویږی۔ او که دَ فرضو نه پس دَ دنیا په کار کښے مشغول شه او بیا ئے دَ اشراق مونځ اوکړو نو هم غوره ده لیکن ثواب به ئے کم شی۔

مسئله ۱۱:- بیا چه نمر ښه راوچت شی او غرمه تیزه شی نو کم نه کم دوه رکعته یا زیات یعنی څلور یا اته یا دولس رکعته اوکړی دیته دَ څاښت مونځ وائی ډیر ثواب ئے دے۔

مسئله ۱۲:- دَ ماښام دَ فرضو او سنتو نه پس کم نه کم شپږ رکعته یا زیات شل رکعته اوکړی دیته صلوٰة اوّابین وائی دَ دے هم ډیر ثواب دے۔

مسئله ۱۳:- دَ نیمے شپے په وخت کښے چه پاځی او مونځ کوی دَ دے ډیر ثواب دے۔ دیته دَ تهجّد مونځ وائی دا مونځ خدائے پاک ته ډیر مقبول دے او په ټولو (نفلو) مونځونو کښے دَ دے ثواب زیات دے۔ تهجد کم نه کم څلور رکعته او زیات دولس دی که نه وی نو دوه سهی۔ که دَ شپے نه شی پاسیدے نو ماسختن دِ اوکړی۔ خو ثواب ئے کم به وی۔

مسئله ۱۴:- دَ صلوٰة تسبیح په حدیث کښے ډیر ثواب راغلے دے۔ حضور ﷺ خپل تره حضرت عباس رضی الله عنه ته دا مونځ خودلے وه او ورته ئے فرمایلی وو چه دَ دے مانځه په کولو ستاته ورانډِ وروستو نوی زاړه لوئے واړه ټول ګناه حو نه معاف شی ورته اوفرمایلی ئے وو۔ که کیدے شی نو روزانه دا مونځ کوه۔ ورنه په هفته کښے یو وار اوکه دا هم نه شے نو په میاشت کښے او که دا هم نه شے نو په کال کښے یو وار کوه اوکه دا هم نه شے نو په ټول عمر کښے یو وار اوکړه۔ دَ دے مانځه دَ کولو ترتیب دا دے چه څلور رکعتو نو نیت به اوتړے سُبحانک اللهم به اووائے بیا به اعوذ بالله او بسم الله

او لولے او بیا به پنځلس ځل پیرے سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَرُ او وائے بیا به اَلْحَمْدُ او سورة او لولے او رکوع له د تلو نه مخکښے به ئے بیا لس پیرے او لولے بیا به رکوع له لاړ شے د رکوع د تسبیح نه پس به په رکوع کښے لس پیرے بیا به سَمِعَ اللهُ او وائے او په ولاړے به لس پیرے او وائے بیا به سجدے له لاړ شے د تسبیح نه پس به په سجده کښے لس پیرے او لولے او بیا به لس پیرے د دواړو سجدو په مینځ کښے او بیا به لس پیرے په دویمه سجده کښے دا پنځه او یا پیرے شو دغه شان به څلور رکعته پوره کړے

مسئله ۱۵:- په دے څلورو رکعتو کښے چه کوم سورتونه لولے ستا اختیار[1] دے۔

مسئله ۱۶:- که په یو رکن کښے د تسبیحات هیر شو نو په راتلونکی رکن کښے به ئے پوره کړے مثلاً په رکوع کښے ئے هیر شو نو په قیام یا په سجده کښے به لس دغه پاتے او لس د هغے رکن هغه ځل به او لولے تول شل[2] پیرے به او لولے مطلب دا دے چه په هر رکعت کښے به پنځه[3] او یا پیرے پوره کوی او په څلورو واړو رکعتو کښے به[4] درے سوه پیرے پوره شی۔ که په څلورو رکعتو کښے دا شمار پوره نه شو نو دا نفل شو صلوة تسبیح به نه یا کوی

مسئله ۱۷:- که په صلوة تسبیح کښے سهوه شوے نو د سهوے په سجده کښے به تسبیح[5] لولی۔

مسئله ۱۸:- د تسبیحاتو په هیرید و یا کمید و سجده سهوه نه واجبیږی۔

پنځلسم باب

فصل

مسئله ۱:- د ورځے نفلونه چه کوی نو که د دوه دوه رکعتو نو نیت تړی او که د څلورو څلورو رکعتو نو نه د زیاتو نیت تړل مکروه دی او د شپے که د شپږ[6] و یا اته[7] و رکعتو نو نیت په یو ځائے تړی هم جائز دی۔ او د دینه د زیاتو نیت تړل د شپے هم مکروه دی۔

مسئله ۲:- که د څلورو رکعتو نو نیت ئے اوتاړه او څلور ئے کول نو د دوه رکعتو نو په قعده چه کیناستو نو اختیار دے ورته چه د تشهد نه پس درود او دعا هم لولی او بیا دریم رکعت ته پاځی سُبْحَانَ اَعُوْذُ بِاللهِ بِسْمِ اللهِ الحمد او سورة لولی۔ او که د دوه رکعتو نو د قعدے د تشهد نه پس پاځی بسم الله او الحمد په دریم رکعت کښے شروع کوی۔ او که اته و رکعتو نو نیت ئے تړلے وی نو په هغے کښے هم دا دواړه خبرے جائز دی. یعنی چه په دوه رکعته قعده کوی نو که د تشهد نه پس درود او دعا هم لولی بیا دریم او پنځم رکعت ته بغیر سلام گرځولو نه پاځی او د تشهد نه پس پاځی او دغه شان که دریم او پنځم رکعت د اعوذ بالله او بسم الله او سبحانك نه شروع کوی او که صرف د بسم الله او الحمد نه دواړه خبرے جائز دی۔

---

[1] لیکن سورة عصر سورة کوثر، سورة کافرون، سورة اخلاص یا سورة حدید سورة حشر سورة صف او سورة تغابن لوستل افضل دی ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه امین ۱۲

مسئله ۳:- دَ سنتو او نفلو په ټولو رکعتو نو کښې دَ الحمد سره سورة پيوست کول واجب دی که قصداً ئې سورة پرېښود نو ګناه ګار دے او که په هيره وو نو سجدهٔ سهوه دِ اوکړي۔

مسئله ۴:- دَ نفل مانځهٔ چه نيت اوتړي او س واجب شي که ماتے ئې کړو نو ګناه ګار دے او کوم مونځ چه ئې مات کړے دے دَ هغې قضا به کوي - ليکن دَ نفلو هر دوه دوه رکعتونه جدا جدا دی که دَ څلورو يا شپږو نيت ئې تړلے وه او مات ئې کړو نو دَ دوه دوه قضا پرې واجب شوه دَ نورو نه۔ نو که دَ څلورو نيت ئې کړے وه او دوه ئې اوکړه بسلام ئې اوګرځاوه نو هيڅ ګناه پرې نشته۔

مسئله ۵:- که چا دَ څلورو نفلو نيت اوتړه او دوه ئې پوره کړه چه مونځ ئې مات کړو نو دوه رکعته به بيا کوي - يعنې دَ دوه قضا به کوي -

مسئله ۶:- او که دَ څلورو نيت ئې کړے وه دوه ئې پوره کړه په دريم رکعت يا څلورم کښې ئې مونځ مات که نو که په دويم رکعت کښې ئې التحيات لوستی وی نو دَ دوه رکعتو نو قضا به کوی او که په دويم رکعت نه وه کېنا ستلے او دريم ته پاسيدو نو بيا به دَ څلورو واړه رکعتو نو قضا راوړی۔

مسئله ۷:- دَ ماسپخين دَ څلورو رکعتو نو نيت که ئې مات کړو نو پوره څلور واړه رکعتو نه به بيا کوی خواه که په دوه وُه رکعتو نو ئې قعده کړے وی او که ئې نه وی

نو په ولاړه ئې کول پکار دی۔ په دے کښې دَ تروند پس نفلو نه هم راغله - البته دَ بيمارۍ په وجه جائز دی بيا پوره ثواب ملاويږي او فرض[له] او سنت چه ترڅو مجبوري نه وی په ناستے دِ نه کوی۔

مسئله ۹:- که نفل مونځ ئې په ناستے شروع که او بيا ئې څهٔ په ولاړه اوکړه نو جائز دی۔

مسئله ۱۰:- که نفل ئې په ولاړه شروع کړه بيا ئې څه په ناستے اوکړه نو دا هم جائز دی۔

مسئله ۱۱:- په نفل مانځه کښې که دَ بيمارۍ وغيره په وجه ستړے شه او تکيه ئې اولږوه يا او مونځ ئې دَ تکيه سره کاوه نو هم جائز دے مکروه نه دے ۔

شپاړسم باب دَ استخارے دَ مانځهٔ بيان

مسئله ۱:- چه دَ يو کار اراده اوکړے نو دَ الله پاک نه صلاح واخله - دے صلاح اخستو ته استخاره وائی - په حديث کښې دَ دے ډېر ترغيب راغلے دے حضور ص فرمايلی دی چه دَ الله تعالیٰ نه صلاح نه اغستل او استخاره نه کول دَ بد بختۍ او کم نصيبۍ خبره ده که کوژدن واده کوے يا سفر کوے يا بل کار کوے نو بے استخارے مکوه انشاءالله خپيمان به پے نه شے۔

مسئله ۲:- دَ استخارے دَ مانځهٔ دا طريقه ده چه اوّل به دوه رکعته نفل مونځ اوکړے او بيا به ښهٔ په اخلاص دَ زړه دا دعا اُووائے :- اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَسْتَخِیْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَ

له دَ فرض لفظ واجب مونځو نو له هم شامل دے ځکه چه واجب دَ فرضو په حکم کښې دی علاً - دَ دے سنتو نه دَ سحر سنت مراد دی او بعضو دَ تراويح هم دا حکم ليکلے دے ۱۲ تصحيح الاغلاط ۱۲

أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِّي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي فَاقْدُرْهُ وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِّي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ ۔ او چې هٰذَا الْأَمْرَ وائي نو د کوم کار د پاره چې استخاره کوي هغه به په خیال کښې راولي بیا به په پاک صاف ځائے مخ په قبله څملے اُوده به شي په اوداسه کښې نو چې کومه خبره چې دې په زړه کښې پس د ویښیدو نه کلک راځي هغه غوره ده د هغې کول پکار دي۔

مسئله ۳:۔ که په یوه ورځ درته څه معلوم نه شو او په زړه کښې دې تردد او خلجان وه نو په بله ورځ بیا داسې اوکړه وغه شان تر اوه ورځو پورې کوه انشاء الله تعالیٰ چې ضرور به درته د هغې کار ښه والے بد والے معلوم شي۔

مسئله ۴:۔ که حج له ځې نو داسې استخاره مکوه چې لاړ شم او که نه داسې کوه چې په فلانۍ ورځ لاړ شم یا نه

اوولسم باب

د توبې د مانځه بیان

مسئله ۱:۔ که څه ګناه درنه اوشي نو دوه رکعته نفل اوکړه او الله پاک ته په ښه او عاجزه او توبه او باسه او په خپلو کړو پښیماني اوکړه او الله تعالیٰ نه معافي اوغواړه او د آئنده د پاره پخه اراده اوکړه چې بیا به چرته داسې نه کوم د الله تعالیٰ په فضل به دې معافي اوشي۔

اتلسم باب

د قضا مونځونو کولو بیان

مسئله ۱:۔ د چا نه چې مونځ پاتې شي نو چې کله یاد شي فوراً دې اوکړي بغیر د څه عذر نه قضا مونځ حصاره ول ګناه ده ۔ نو چې د چا نه مونځ قضا شي او فوراً ئې او نه کړي بلے ورځې ته ئې پاتې کوي نو که په دې کښې مړ شي نو دوچنده ګناه ګار شه یو د مونځ قضا کولو او بل فوراً د نه کولو۔

مسئله ۲:۔ که د چا ډیر مونځونه قضا شوي وي نو څومره چې ترې کیدے شي ډیر زر دې ټول قضا راوګرزوي او همت دې اوکړي چې ټول په یو وخت اوکړي ۔ دا ضروري نه ده چې د ماسپخین سره دې د ماسپخین او ماز یګر سره دې د ماز یګر قضا کوي ۔ که د ډیرو میاشتو یا کلونو مونځونه ترې قضا شوي وو نو هم ترڅو چې کیدے شي تلوار دې په کښې کوي ۔ په یو یو وخت کښې دې درې درې څلور څلور قضا کوي او که ډیره مجبوري وي نو بیا خیر دے د یو یو وخت سره دې یو یو مونځ راګرځوي خو دا ډیره کمه درجه ده۔

مسئله ۳:۔ د قضا مونځ کولو څه وخت مقرر نشته څه وخت چې فرصت وي کوي دې لېکن د مکروه وخت خیال دې ساتي۔

مسئله ۴:۔ چې یو مونځ ترې قضا شه او د دینه مخکښې ترې بل مونځ نه وي قضا شوے یا قضا شوي وي خو بیا ئې راګرځولي وي او اوس په دغه یو مونځ قضا دي نو اول دې دغه اوکړي د وخت

اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَيْرٌ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ فَاقْدِرْهُ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدِرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِيْ بِهٖ - او چه هٰذَا الْاَمْرَ وائي نو د کوم کار د پاره چه استخاره کوي هغه به په خیال کښې راولي بیا به په پاک صاف ځائي کښې په قبله مخ اوده به شي په اوداسه کښې نو چه کومه خبره چه ئې په زړه کښې پسن د ویخیدو نه کلک راځي هغه غوره ده د هغې کول پکار دي-

مسئله ۳:- که په یوه ورځ د زړه خه معلوم نه شو او په زړه کښې ئې تردد او خلجان وه نو په بله ورځ بیا دا سې او کړه دغه شان تر اوو ورځو پورې کوي ان شاء الله تعالیٰ چه ضروربه د زړه د هغې کار ښه والي یا بد والي معلوم شي-

مسئله ۴:- که حج له ځي نو دا سې استخاره مکوه چه لاړ شم او که نه دا سې کوه چه په فلانۍ ورځ لاړ شم یا نه

اوولسم باب　**د توبې د مانځه بیان**

مسئله ۱:- که څه ګناه د ده نه اوشي نو دوه رکعته نفل او کړه او الله پاک ته ښه او ژاړه او توبه او باسه او پخپلو کړو د خپیمانی او کړه کہ الله تعالیٰ نه معافی او غواړه او د اینده د پاره پخه اراده او کړه چه بیا به چرته دا سې نه کوم د الله تعالیٰ په فضل به ئې معافی اوشي-

اتلسم باب　**د قضا مونځونو کولو بیان**

مسئله ۱:- د چا نه چه مونځ پاتې شي نو چه کله یاد شي فوراً دې او کړي بغیر د څه عذر نه قضا مونځ حصاره ول ګناه ده - نو چه د چا نه مونځ قضا شي او فوراً ئې او نه کړي بلې ورځې ته ئې پاتې کوي نو که په دې کښې مړ شي نو دو چنده ګناه ګار شه یو د مونځ قضا کولو او بل فوراً د نه کولو-

مسئله ۲:- که د چا نه ډیر مونځونه قضا شوي وي نو څومره چه تې کیدې شي ډیر زر دې تول قضا را او کر زوي او همت دې او کړي چه ټول په یو وخت او کړي - دا ضروري نه ده چه د ماسپښین سره د د ماسپښین او ماز دیګر سره د د ماز دیګر قضا کوي - که د ډیرو میاشتو یا کلونو مونځونه تې قضا شوي وو نو هم ترڅو چه کیدې شي تلوار دې په کښې کوي - په یو یو وخت کښې دې درې درې څلور څلور قضا کوي او که ډیره مجبوري وي نو بیا خیر دې یو یو وخت سره دې یو یو مونځ را کرځوي خو دا ډیره کمه درجه ده-

مسئله ۳:- د قضا مونځ کولو څه وخت مقرر نشته څه وخت چه فرصت وي کوی دې البته د مکروه وخت خیال دې ساتي-

مسئله ۴:- چه یو مونځ تې قضا شه او د دینه مخکښې تې بل مونځ نه وي قضا شوي یا قضا شوي وي خو بیا ئې را کرځولي وي او اوس په دغه یو مونځ قضا دی نو اول دغه او کړي د وخت

مونځ به بیا دروستو کوی او که د وخت ئې ځکښې که نو دا نه دے شوے د قضا نه پس به ئې بیا کوی.
البته که قضا مونځ ئې هیروه نو اوشه اوس چه یاد شه قضا دِ اوکړی د وخت هغه دِ نه کوی بیا.

مسئله ۵:- او که وخت تنګ وه چه قضا اول کوی نو د وخت هغه قضا کیږی نو بیا به د وخت کوی او قضا به وروستو اوکړی.

مسئله ۶:- دوه درے یا څلور پنځه مونځونه د چا نه قضا شوی وو او د دینه سوا نور قضا مونځونه په ده نشته نو دے چه ترڅو دا قضا مونځونه ونه کړی د وخت مونځ ئې نه کیږی. او چه کله دا قضا مونځونه کوی نو په ترتیب به ئې کوی کوم چه اول وی هغه به اول کوی بیا وریسے. لکه د یو سړی نه د ټولے ورځے مونځونه قضا شو نو اول به د سحر بیا د ماسپخین بیا ماز یګر بیا ماښام بیا ماسختن قضا کوی او که بے ترتیبه ئې اوکړه مثلاً د ماسپخین یا ماز یګر وغیره مونځ ئې اوکړه او د سحر ئې لا نه وه کړے نو دا سے نه کیږی بیا به ئې د سره په ترتیب سره کوی.

مسئله ۷:- که د چا نه شپږ مونځونه قضا شو نو اوس بغیر د قضا نه د وخت مونځ کولے شی او چه دا شپږ قضا مونځونه کوی نو په دے کښے په هم ترتیب واجب نه دے بلکه هر یو چه ځکښې کوی کولے شی.

مسئله ۸:- دوه څلور میاشتے یا دوه څلور کاله اوشو چه د چا نه شپږ یا زیات مونځونه قضا شوی وو او لا تر اوسه ئې نه دی کړی او بیا تے چرته هم یو مونځ نه دے قضا شوے موده پس تے اوس یو مونځ قضا شه نو په دے صورت کښے هم د دغه قضا مونځ کولو نه بغیر د وخت مونځ کولے شی ځکه چه دے صاحب ترتیب نه دے شپږ قضائې په ذمه دی.

مسئله ۹:- د چا په ذمه شپږ یا زیات مونځونه وُو او د صاحب ترتیب نه وه نو بیا ئې دغه مونځونه را اوکړځول او اوس په یو مونځ هم قضا پاتے نه شه نو اوس چه بیا تے یو یا پنځه مونځونه قضا شو په ترتیب به ئې کوی او چه دا پنځه ئې نه وی کړی د وخت مونځ به نه کوی. البته که بیا تے شپږ مونځونه قضا شو نو بیا په ترتیب واجب نه دے او اوس که قضا ځکښې کوی او که ادا یعنے د وخت مونځ.

مسئله ۱۰:- د چا نه ډیر مونځونه قضا شوی وو نو لږ لږ ئې کول او س په څلور پنځه پاتے شو نو بیا هم دے د اختیار خاوند دے ځکه چه خواهی کولے شی او که د وخت مونځ ځکښې کوی هم کولے شی او ترتیب په واجب نه دے.

مسئله ۱۱:- که د وترو مونځ تے پاتے شوے وه نو چه ترڅو ئې دا وتر نه وی کړی د سحر مونځ ئې جائز نه دے خو هله که نور مونځونه په نه وُو. که د وترو قضا ورته یاده وه او سره د هغې ئې وتر اونه کړه د سحر مونځ ئې اوکړه. نو اوس دے د وترو قضا اوکړی او د سحر مونځ به بیا کوی.

مسئله ۱۲:- د ماسختن مونځ ئې اوکړ او ده ئې شه. و د شپې پاسید و تهجد او د وترو مونځ ئې اوکړه بیائې سحر یاد شو چه د ماسختن مونځ ئې بې اودسه کړے دے نو اوس به د ماسختن مونځ اوکړي د وترو قضا به نه کوي-

مسئله ۱۳:- قضا[1] فقط د فرضو او د واجبو کولے شي د سنتو قضا نشته البته که د سحر مونځ قضا شوے وه او د غرمې نه اول اول ئې راګرځوَ لو نو سنت به ورسره کوي- او که د غرمے نه پس ئې کولو نو بیا به صرف دوه رکعته فرض کوي-

مسئله ۱۴:- که د سحر د فرضو وخت تنګ شه نو صرف فرض دِ اوکړي او سنت دِ د غرمے نه پس قضا اوکړي- خو د غرمے نه اول-

مسئله ۱۵:- یو بے نماز توبه اوویسته نو څومره مونځونه چه ئې په ټول عمر کښې قضا شوي دي هغه به اوس راګرځوي مونځونه په توبه نه معافي کیږي-

مسئله ۱۶:- د چا نه څه مونځونه قضا شوي وو او راګرځولو ته ئې جوړ نه شو نو د مرګ په وخت کښې پې د فدیې ورکولو وصیت واجب دے (د فدیې بیان به وریمه حصه کښې دے)

نولسم باب — د سجده سهوے بیان

مسئله ۱:- په مانځه کښې چه څومره څیزونه واجب دي په هغې کښې چه یو یا څو پرې پاتې شي په هیره سره نو سجده سهوه واجب شوه که اوئې نه کړه نو مونځ به بیا کوي-

مسئله ۲:- که په هیره سره فرض پاتې شو نو په سجده سهوه نه صحیح کیږي بیا به مونځ کوي-

مسئله ۳:- د سجده سهوے طریقه داده چه په آخیری قعده کښې التحیات اولولي نو یو طرف ته به سلام اوګرځوي دوه سجدے به اوکړي بیا به کیني التحیات تشهد درود دُعا نه پس به سلام اوګرځوي

مسئله ۴:- که چا په هیره بغیر د سلام ګرځولو نه سهوه اوکړه نو هم مونځ اوشه-

مسئله ۵:- که په هیره ئې دوه رکوع یا درے سجدے اوکړے نو هم سهوه واجب شوه-

مسئله ۶:- په مانځه کښې ئې د الحمد ځائې سورة اول اووے او الحمد پس یائې الحمد هیره شوه او سورة ئې اولوست نو سهوه پے واجب شوه-

مسئله ۷:- د فرضو په اولو رکعتو نو کښې ئې سورة هیر شو نو په ورستو کښې به ئې اولولي د الحمد نه پس او سهوه به اوکړي- او که په اولو رکعتو نو کښې ئې په یو کښې سورة پاتې کړے وي نو د آخري رکعتو نو په اول کښې به سورة اولولي او سهوه به اوکړي- او که په څلورو واړو کښې ئې سورة هیر شه یوائې الحمد ئې اولوسته او په اخیری قعده کښې یاد شو نو سهوه به اوکړي مونځ اوشه-

مسئله ۸:- د سنتو او نفلو په ټولو رکعتو نو کښې د الحمد سره سورة ویل واجب دي نو که په هر یو رکعت کښې سورة پاتې شه سهوه به کوي-

مسئله ۹:- د الحمد لوستو نه پس ئې فکر کولو چه کوم سورة اولولم او دومره ساعت ئې په دے فکر کښې تیر کړه چه درے پیرے په کښې سُبحَانَ الله ویلے شوه نو سهوه پے واجب شوه-

[1] یعنې د وخت وتو نه پس سوا د فرضو او واجبو نه بل مونځ نشته- په دے مسئله سوال او جواب په ۱۳۱ امداد الفتاوی ج ۱ ص ۳۱۳ کښې دي ۱۱

مسئله ۱۰:- کہ په آخيري قعده کښې ئې د درود لوستو نه پس شک شه چه ما څلور رکعته او کړه او کہ درے په دے فکر کښې دومره ساعت د سلام ګرځولو نه حصار شه چه د درے پيرے په کښې تسبيح ويلے شوه او بيائے يقين شه چه څلورم کړې دی نو سجده سهوه پے لازم شوه۔

مسئله ۱۱:- چه الحمد او سورة ئې او لوستو او بيا په فکر شه د رکوع نه دومره وخت پاتې شه لکه دا بره چه بيان شه نو هم پے سجده سهوه واجب شوه

مسئله ۱۲:- دغه شان کہ د قرأت په مينځ کښې په څه فکر حصار شه يا په دويم او دريم څلورم رکعت قعدے ته کينا ستو نو فورًا ئې التحيات شروع نه کړو په څه فکر کښې دومره حصار شه يا چه د رکوع نه پورته شه او په ولاړے ئې بيا دومره وخت څه فکر کولو يا د دواړو سجدو په مينځ کښې چه کيناست نو دومره وخت ئې څه فکر کولو نو په دے ټولو صورتونو کښې پے سجده سهوه واجب ده ۔ مطلب دا دے چه دومره وخت ئې د ما نځه په څه يو ځائے کښې چه په فکر کولو تير کہ او د مخکښې تلو نه حصار شه نو سجده سهوه پے واجب شوه۔

مسئله ۱۳:- درے يا څلور رکعته فرض مونځ (د وخت يا قضا يا وتر يا د ماسپښين اوّلنی څلور سنت) ئې کول نو چه په اول قعده کينا ست التحيات ئې دوه پيرے او وے يا ئې په التحيات پسے درود د اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ پورے يا تر زيات او وے بيا ئې ياد شو او پورته شه نو سهوه پے واجب شوه او کہ د دے نه کم وه بيا پے سهوه نشته ۔

مسئله ۱۴:- په نفل مونځ (او د نذر په څلور رکعته مونځ) کښې په اوّل قعده کښې د التحيات سره درود شريف لوستل هم جائز دی ۔ ځکه چه په نفل (او نذر) مونځ کښې د درود شريف په لوستو سره سجده سهوه نه لازميږی ۔ البته کہ دوه پيرے ئې التحيات او لوستل نو بيا په نفل (او نذر) مونځ کښې سهوه واجب ده۔

مسئله ۱۵:- په قعده کښې ئې د التحيات په ځائے بل څه او لوستل يا ئې الحمد او لوسته نو هم پے سجده سهوه واجبا ده۔

مسئله ۱۶:- د نيت نه پس[1] ئې د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په ځائے دُعا قنوت اُو وے نو سهوه واجب نه ده ۔ دغه شان د فرضو په دريم يا څلورم رکعت کښې ئې د الحمد په ځائے التحيات يا نور څه او لوسته نو هم سجده سهوه واجب نه ده۔

مسئله ۱۷:- دويمه قعده ئې هيره شوه او دريم رکعت ته اودريده نو کہ ناستے ته نژدے وه کيني دے او التحيات دِ او لولی بيا دے پاڅی نو په دا سے حالت کښې سهوه نشته او کہ اودريدو ته نژدے وه نو پاڅی دے څلور رکعته دِ پوره کړی او سهوه دِ او کړی۔ او کہ د نيغ اودريدو نه پس بيا کيناستو او التحيات ئې او وے نو ګناه ده او سهوه به اوس هم کوی۔

مسئله ۱۸:- کہ آخيره قعده ئې هيره شوه او پاسيده نيغ شوے لا نه وه نو کيني په

[1] خواه که دعا قنوت نه پس ئې سُبْحَانَکَ او وے او کہ نه ۱۲

او التحیات درود دعا به لولي سلام به کړي خوی سهوه پې نشته - او که نیغ شوے وه بیا به هم کیني بلکه که الحمد او سورة ئې هم لوستلے وه او رکوع ئې هم اوکړه خو کیني به او التحیات به تر آخره لولي سهوه به کوي او که د پنځم رکعت سجده ئې اوکړه بیا ئې یاد شو نو فرض به بیا کوي دائے نفل شو شپږم رکعت به ورسره کړي سهوه پې نشته - او که شپږم رکعت ئې ورسره نه کړه نو څلور ئې نفل شو او یو هسے لاړ -

مسئله ۱۹:- که په څلورم رکعت کیناست التحیات ئې اووے او بیا پا سید و نو د پنځم رکعت د سجدے کولو نه مخکښے چې ئې کله یاد شو قعدے له دے لاړ شي او التحیات دِ نه لولي بلکه فوراً دے سلام اوکړي خوی سجده سهوه دے اوکړي - او که د پنځم رکعت سجده ئې اوکړه نو بیا دے ورسره یو بل ملاؤ کړي چې شپږ شي او په آخر کښے به سهوه اوکړي څلور ئې فرض شو او دوه ئې نفل شو - او که شپږم رکعت ئے ورسره او نه کړه په پنځم رکعت ئې سلام اوګرځاؤ او سهوه ئې اوکړه نو بدئے اوکړه -

مسئله ۲۰:- که د نفلو په څلورو رکعتو نو کښے ئې اوله قعده هیره شوه نو تر څو چې ئې د دریم رکعت سجده نه وي کړي کیناستل ورله پکار دي او که سجده ئې اوکړه نو خیر بیا هم مونځ اوشه خو سهوه به په دواړو صورتو نو کښے کوي -

مسئله ۲۱:- که شک ئې راغے چې درے رکعته رم او کړه او که څلور نو که دا شک اتفاق وه د دے شاول چرته د دۀ شک نه وه راغلے - نو مونځ دِ د سره بیا اوکړي - او که شک ئې عادت وه او اکثر به داسے شکمند کیده نو فکر دے اوکړي چې زړه ئے زیات کوم طرفته دے - نو که زیات ګمان ئې د دریو رکعا تو وه نو یو دے نور پسے بل اوکړي او سهوه واجب نه ده او که زیات ګمان ئې د څلورو وه نو بل رکعت او سهوه دے نه کوي او که د فکر کولو نه پس ئې هم خیال برابر وه نو درے رکعا تو ته زیات وه نه څلورو ته نو د ګیر ئې اوګڼړي او یو رکعت به بل سره د سهوے اوکړي - او په دغے دریم رکعت به هم قعده کوي -

مسئله ۲۲:- که دائې شک شه چې دا اول رکعت دے او که دویم نو هم دغه حکم دے چې که دا شک اولنے وه مونځ به بیا کوي - او که نور کله هم داسے شک راتته نو کوم طرف ته چې ئې زیات یقین وي هغه دے اختیار وي او که ګمان ئې برابر وه نو بیا دے یو اوګڼړي خو په دے یو به هم قعده کوي شاید چې دا دویم وي او په دویم[1] به بیا قعده اوکړي شائد چې دا دویم وي او په دریم به هم قعده اوکړي او په څلورم هم او سهوه به اوکړي -

مسئله ۲۳:- که دا شک ئې شه چې دا دویم رکعت دے او که دریم نو هم دغه حکم دے - نو که دواړه طرفته ئې ګمان برابر وه نو دویم به شي او په دے به قعده اوکړي په دریم به هم

[1] په دے دویم رکعت کښے به الحمد او سورة هم لولي ۱۲ [2] لیکن دا مونځ به پوره کوي هسے به ئې نه پاتے کوي ۱۲

قعده اوکړی او په څلورم هم او سهوه به اوکړی سلام به اوګرځوی۔

مسئله ۲۴:- که د مانځه نه پس ئې شک راغې چه درےم او که څلورم نو دا شک نه دے معتبر مونځ ئې شوے دے۔ البته که تیک ګمان ئې راغې چه درےم او که نو که خبر ئې نه وی کړی یا د مانځه خلاف ئې څه کار نه وی کړے نو پوره ته دې یو رکعت نور بل اوکړی او سهوه دې اوکړی او که خبرې وغیره ئې کړے وې نو مونځ دې بیا اوکړی۔ دغه شان که د التحیات لوستو نه پس ئې دا شک راغې نو هم دغه حکم دے۔ او که احتیاطاً بیا مونځ کولے شی نو غوره ده۔

مسئله ۲۵:- که په یو مانځه کښے ئې ډیرے داسے خبرے اوشوے چه سهوه پرے واجبیده نو په آخر کښے یوه سجده سهوه پوره ده۔ دوه سهوے په یو مانځه کښے نه شی کولے۔

مسئله ۲۶:- د سجده سهوې کولو نه پس ئې بیا داسے کار اوکړه چه سهوه پرے راتله نو دغه کړے سهوه ئې پوره ده بیا به اوس بله نه کوی۔

مسئله ۲۷:- سجده سهوه پرے واجبه شوے وه خو هیره ئې شوه او دواړو طرفته ئې سلام اوګرځاوه لیکن لا تر اوسه په هغه ځائے ناست دے او د مانځه خلاف څه کار ئې نه دے کړے او نه ئې سینه د قبلې نه آوختے ده نو اوس دې سهوه اوکړی۔ او که په دغه ځائے ناست وه څه وظیفه ئې کوله نو هم خیر دے سهوه دې اوکړی مونځ ئې اوشه۔

مسئله ۲۸:- سجده سهوه پرے واجب وه او قصداً ئې دواړه طرفته سلام اوګرځاوه چه سجده سهوه نه کوم بیا هم چه د مانځه خلاف څه کار ئې لا نوی کړے سهوه کولے شی۔

مسئله ۲۹:- په څلور رکعته یا درے رکعته مانځه کښے ئې په هیره سره په دوه رکعته کښے سلام اوګرځاوۀ نو پوره ته دې شی او دا مونځ دې پوره کړی البته که د مانځه خلاف ئې څه اوکړه نو بیا به د سره مونځ کوی۔

مسئله ۳۰:- په هیره ئې د وتر و په اول یا دویم رکعت کښے دعا قنوت او لوستل نو د دے هیڅ اعتبار نشته په دریم کښے دې بیا اولولی او سهوه دې اوکړی۔

مسئله ۳۱:- د وترو په مانځه کښے ئې شک راغې چه دا دویم رکعت دے او که دریم او زیات ګمان ئې یو طرفته نشته۔ نو په دغه رکعت کښے دې دعا قنوت اولولی قعده دې اوکړی او بل رکعت دے ورسره اوکړی په هغے کښے دې هم دعا قنوت اولولی او سهوه دې اوکړی۔

مسئله ۳۲:- په وترو کښے ئې د دعا قنوت په ځائے سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ اووے او بیا ئې یاد شو دعا قنوت ئې اولوستل نو سهوه واجب نه ده۔

مسئله ۳۳:- په وترو کښے ئې دعا قنوت هیر شو نو سجده سهوه به اوکړی۔

مسئله ۳۴:- په الحمد پسے ئې دوه یا درے سورتونه اولوستل نو خیر دے سهوه واجب نه ده۔

مسئله ۳۵:- د فرضو په ورستو یو رکعت یا دواړو کښے ئې سورة ملاوشی نو هم سهوه نشته

مسئله ۳۶:- د مانځه په اوّل کښې ئې سُبحَانَكَ هیره شوه یا په رکوع کښې تسبیح یا په سجده کښې ئې تسبیح هیرشو یا د رکوع نه په پورته کیدو کښې ئې سَمِعَ اللهُ هیره شوه یا د نیت تړلو په وخت کښې ئې اوګوټې نه لاس هیرشو یا ئې په آخیري قعده کښې درود او دُعا هیره شوه دغه شان ئې سلام اوګرځاوه - نو په دې ټولو صورتونو کښې سجده سهوه واجب نه ده -

مسئله ۳۷:- د فرضو په دواړو وروستو رکعتو نو کښې یا په یو رکعت کښې ئې الحمد اونه لوسته هیره ئې شوه او خاموش اودریده (دومره ساعت چه درې ځل په کښې تسبیح ویلې شوه) او رکوع له لاړشه نو هم سجده سهوه واجب نه ده -

مسئله ۳۸:- په کوموکارو نوچه په هیره سره سجده سهوه واجبیږي که دغه ئې قصدًا اوکړه - نو مونځ به بیا کوي په سجده سهوه مونځ نه صحیح کیږي - کوم څیزونه چه په مانځه کښې نه فرض دي نه واجبا د هغې په هیریدو سره سجده سهوه نه واجبیږي -

د تلاوت د سجدې بیان

مسئله ۱:- په قرآن شریف کښې د تلاوت سجدې څوارلس[1] دي کوم ځائې چه په قرآن کښې په کناره سجده لیک وي دغه ایات چه اولولې سجده پې واجب شي دیته سجدهٔ تلاوت وائي -

مسئله ۲:- د سجده تلاوت کولو طریقه[2] داده چه الله اکبر اووائې سجده اوکړې او درې پیرې پکښې کم نه کم سُبحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى اووائې - د تکبیر سره به لاسونه او چتوي - بیا به اَللهُ اَکبَرُ اووائې سر به اوچت کړي بس سجده تلاوت اوشوه -

مسئله ۳:- غوره داده چه د ولاړ ینه الله اکبر اووائي سجدې له لاړ شي بیا الله اکبر اووائي پورته شي او که په ناستې الله اکبر اووائي سجدې له لاړ شي او بیا الله اکبر اووائي کېني نو هم خیر دے -

مسئله ۴:- څوک چه د سجدې ایات اولولي په هغه هم سجده واجب ده او څوک چه ئې واوري په هغه هم - که د اوریدو قصد ئې وي او که نه وي - نو غوره داده چه د سجدې ایات پټ لولي چه په بل چا سجده واجب نه شي -

مسئله ۵:- کوم څیزونه چه د مانځه د پاره شرط دي هغه د سجده تلاوت د پاره هم شرط دي - یعني د ځائې پاکول او دس کول، د بدن او کپړو پاکول، قبلې ته مخ وغیره -

مسئله ۶:- څنګه چه د مانځه سجده کولې شي دغه شان سجده تلاوت هم کولې شي بعضې بنځې په قرآن شریف سجده کوي داسې سجده نه کیږي -

مسئله ۷:- که د چا دغه وخت اودس نه وه نو بیا دې څه وخت اودس اوکړي او سجده دې اوکړي فورًا دغه وخت سجده کول ضروري نه دي - لیکن غوره داده چه دغه

---

[1] د دې مسئلې متعلق سوال او جواب په امداد الفتاوی ص ۳۴۵/۱۷۰ کښې درج دي ۱۲ [2] د سجدې ایات چه داو[ري] او فورًا سجده نشي کولې نو مستحب دي چه سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ دې اولولي (ردالمختار ص ۷۱۶)

وخت سجده اوکړی شاید چه بیائے هیره شی۔

مسئله ۸:- که د چا په ذمه ډیرے سجدے وی تراوسه پورے ئے نه دی کړی نو اوس دے اداکړی په عمر کښے هر وخت کښے چه وی ادا دِ کړی ورنه ګناه ګار به وی۔

مسئله ۹:- که د حیض یا د نفاس په حالت کښے چا د سجدے ایات واوریده نو سجده پے نه ده واجب او که داسے وخت ئے واوریده چه غسل پے واجب شوے وه نو د غسل نه پس پے سجده کول واجب دی۔

مسئله ۱۰:- که د بیمارئ په حالت کښے ئے واوریده او سجده ئے نه شوه کولے نو څنګه چه د مانځه سجده کوی دغه شان دِ اوکړی۔ یعنی په اشاره سره۔

مسئله ۱۱:- که په مانځه کښے ئے د سجدے ایات اولوستو نو ښه دے سجدے له لاړ شی او بیا دے پیغ او دریږی باقی سورة دے اووائی او رکوع له دے لاړ شی۔ او که فوراً لاړ نه شه سجدے له دوه درے ایاتونه ئے اولوستل بیائے سجده اوکړه نو هم خیر دے او که ډیرے ئے اولوستل بیائے سجده اوکړه نو سجده اوشوه البته ګناه ګار دے۔

مسئله ۱۲:- که په مانځه کښے ئے د سجدے ایات اولوستو او په مانځه کښے ئے سجده اونکړه نو اوس د مانځه نه پس نه اداکیږی همیشه ګناه ګار شه توبه او استغفار دے کوی بل ئے هیڅ صورت د معافئ نشته۔

مسئله ۱۳:- د سجدے ایات ئے اولوست او فوراً رکوع له لاړ شه نو په رکوع کښے د تلاوت د سجدے نیت هم اوکړی نو دواړه ئے اوشوے او که په رکوع کښے ئے نیت اونه کړو او سجدے له لاړ شو نو په دے سجده ئے د تلاوت سجده هم ادا شوه۔ که نیت وی او که نه۔

مسئله ۱۴:- په مانځه کښے ئے د چا نه د سجدے ایات واوریده نو په مانځه کښے به سجده نه کوی د مانځه نه پس به ئے اوکړی۔ او که په مانځه کښے ئے اوکړه نو ادا نه شوه بیا به ئے کوی۔ او ګناه هم ده۔

مسئله ۱۵:- په یو ځائے چه ناست وی نو هر څو مره پیرے چه د سجدے ایات تکرار کړی نو یوه سجده واجب ده که ورستئ سجده کوی او که یو وار اولی سجده اوکړی او بیائے یا ده وی او که ځائے ئے بدل کړه نو څو مره ځایونه چه ئے بدل کړی دی دو مره سجدے به کوی۔

مسئله ۱۶:- که په یو ځائے ناست وه د سجدے ډیر ایاتونه ئے اولوسته نو څومره ایاتونه چه ئے لوستلی دی دومره سجدے به کوی۔

مسئله ۱۷:- په ناستے ئے د سجدے یو ایات اولوستو بیا پاسیدو په هغه ځائے او دریده او هغه ایات ئے اولوستو نو یوه سجده واجب ده۔

مسئله ۱۸:- په یو ځائے کښے ئے د سجدے ایات اولوستو او پاسید و چرته لاړ بیا راغے په هغه ځائے کیناستو او دغه ایات ئے بیا اولوستو نو هم به دوه سجدے کوی۔

مسئله ۱۹:- په یو ځائے ناسته وه د سجدے ایات ئے اولوستو۔ او بیا په دغه ځائے په څه کار کښے مشغوله شوه مثلاً ډوډئ ئے اوخوړه یائے ګنډل شروع کړه یا ئے بچی له تے ورکول او یوساعت

پس ئے بیا هم په دغه ځائے په ناسته ناسته دغه یو ایت تلاوت کړو نو هم به دوه سجدے کوی۔

مسئله ۲۰:- د یو کوټے یا دالان په یو کوټ کښے ئے د سجدے یو ایات تلاوت کړه او بیا ئے هغه ایات په بل کوټ کښے او لوست نو هم یوه سجده کافی ده او که په بل کار کښے لګیا شوه او بیا ئے هغه ایات او لوست نو دویمه سجده به کوی۔ او که په دریم کار کښے لګیا شوه او بیا ئے دغه ایات او لوستو نو دریمه سجده به کوی۔

مسئله ۲۱:- که کور لوئے وه نو بیا چه بل کوټ ته لاړ شی بله سجده به کوی او په دریم کوټه کښے دریمه۔

مسئله ۲۲:- د جمات هم دغه حکم دے که د سجدے ایات ئے هر څو پیرے او لوست نو یوه سجده به کوی خواه که په یو ځائے په ناسته ئے څو پیرے لولی او که په جمات کښے اخوا دیخوا ګرځی راګرځی۔

مسئله ۲۳:- که په مانځه کښے ئے د سجدے ایات څو پیرے او لوستو بیا هم یوه سجده واجب ده که په اخیر کښے سجده کوی او که په یو وار لوستو سره ئے سجده او کړه او بیا ئے نور لوستو۔ په دغه یو رکعت کښے دی او که په دویم رکعت کښے ئے او لولی۔

مسئله ۲۴:- د سجدے ایات ئے او لوست او سجده ئے اونکړه او په دغه ځائے ئے د مانځه نیت او کړه او دغه ایات ئے په مانځه کښے او لوستو او په مانځه کښے ئے سجده او کړه نو دغه سجده د دواړو د پاره پوره شوه۔ البته که ځائے ئے بدل کړو بیا به بله سجده هم کوی۔

مسئله ۲۵:- که د سجدے ایات ئے او لوست سجده ئے او کړه او بیا ئے په دغه ځائے د مانځه نیت او کړه دغه ایات ئے په مانځه کښے او لوست نو اوس به په مانځه کښے بله سجده کوی۔

مسئله ۲۶:- لوستونکے په یو ځائے ناست وه د سجدے ایات ئے لوستو او اوریدونکی ځائے بدلولو یو وار ئے په یو ځائے کښے واورید بل ځل بل ځائے او بیا بل ځائے نو لوستونکے به یوه سجده کوی او اوریدونکے به درے۔ چه څومره ځائے کښے اوریدلے وی۔

مسئله ۲۷:- دغه شان که اوریدونکے په ځائے ناست وه د لوستونکی ځای نه بدلیده نو اوریدونکے به یوه سجده کوی او لوستونکے درے۔

مسئله ۲۸:- ټول سورت لوستل او د سجدے ایات پریخودل مکروه او منع دی فقط د سجدے نه د ځان ساتلو د پاره به دغه ایات نه پریدی داګویا د سجدے نه انکار دے۔

مسئله ۲۹:- که په سورة خالص د سجدے سورة لولی نو خیر دے هیڅ باک نشته او که په مانځه کښے داسے کوی نو په دے کښے هم شرط دا دے چه دغه ایات دومره او که دی چه د یو وړو دریو ایاتو نو برابر وی۔ لیکن غوره داده چه یو ایات دوه ورسره ملګری کړی۔

د بیمار د مانځه بیان

مسئله ۱:- مونځ به په هیڅ حالت کښے نه پریدی چه په ولاړے نشی کولے نو

په ناسته دې کوي او رکوع او سجده دې کوي د رکوع دپاره به لږ ښکته کیږي او د سجدې دپاره به سجده برابر کوي په زمکه باندې۔

مسئله ۲:- او که د رکوع او سجدې کولو هم طاقت نه وي نو د رکوع او سجدې به په اشاره سره کوي او د سجدې دپاره به د رکوع نه لږ زیات ښکته کیږي۔

مسئله ۳:- د سجدې کولو دپاره څه اوچت څیز ځانته ایښودل او سجده په کول غوره نه دي چه د سجدې طاقت ئې نه وي نو اشاره دې کوي په تکیه وغیره سجدې ته ضرورت نشته

مسئله ۴:- که دا اودریدو طاقت ئې وي خو په اودریدو کښې ورته تکلیف زیاتیږي یا د بیمارئ زیاتید ویره وي نو هم په ناسته مونځ جائز دے۔

مسئله ۵:- که اودریدې شي خو رکوع سجده نشي کولے نو د ده خوښه ده که په ولاړه په اشاره سره مونځ کوي او که په ناسته خو په ناسته غوره دے په اشاره سره۔

مسئله ۶:- که د کیناستو طاقت ئې هم نه وه نو بیا به شا ته څه داسې تکیه کیدي چه سر ئې ښه اوچت شي او خپې به قبلې طرف ته اوغزه وي او که څه طاقت په کښې وه چه خپې ئې ولاړې اودره وُلے شوے نو غزوه وي به ئې قبلې ته نه بلکه زنګونان به اودروي بیا دې د سر په اشارے سره مونځ کوي او د سجدے دپاره دے سر لږ زیات ښکته کوي او که تکیه ته ئې ډډه هم نه شوه لږه ولے نو بیا دے بالکل پیخ څملي او خپې دے اوغزوي لیکن د سر نه دے څه لاندے کړي چه مخ ئې قبلې ته اوچت شي۔ اسمان ته نه وي۔ بیا دِ د سر په اشاره سره مونځ کوي د سجدے اشاره دے لږه زیاته کوي۔

مسئله:- که په شا نه څملي بلکه په بنئ یا کیڼه ډډه څملي قبلې ته مخ کوي او د سر په اشاره سره رکوع سجده کوي دا هم جائز دي۔ لیکن په شا څملاستل او په اشاره سره مونځ کول غوره دي۔

مسئله ۸:- او که د سر اشاره ئې هم نه شوه کولے نو بیا دِ مونځ پریدي نو که د یوے شپے ورځے نه په زیات داسې حالت تیر شه نو دغه مونځونه ورته معاف دي۔ چه جوړ شه نو بیا په قضا هم نشته۔ او که د یوے شپے ورځے نه دا حالت کم وه یا یوه شپه او ورځ وه او په اشاره ئې د مانځه کولو طاقت پیدا شه نو په اشاره دے د هغې قضا راوګرځوي او داسے دے نه کوي چه بالکل جوړ شم بیا به ئې اوکړم چه که مړ شي نو ګناه ګار به وي۔

مسئله ۹:- دغه شان که روغ سړے بے هوشه شه او بے هوشي ئې د یوے شپے ورځے نه زیاته نه شوه نو قضا په لازم ده او که زیاته شوه نو بیا په قضا نشته۔

مسئله ۱۰:- که مونځ ئې په ولاړه شروع کړ روغ وه بیا په مانځه کښې ناګهانه ناجوړه شه اودریدے نه شه نو پاتے مونځ دے په ناسته اوکړي که رکوع سجده ئې کولے شوه نو کوي دے

ورته د سر په اشاره دا اوکړي او که کېناستې هم نه شي نو په ملاستې دې يا تې مونځ پوره کړي۔

مسئله ۱۱:- ناجوړه وه په ناستې ئې مونځ کولو د رکوع سجدې سره او طاقت ئې دا وو چه ودرېده پيدا شه نو پاتې مونځ دې په ولاړه اوکړي۔

مسئله ۱۲:- ناجوړه وه په اشاره ئې رکوع او سجده کوله نو په مانځه کښې ئې طاقت د رکوع سجدې پيدا شه نو اوس به دا مونځ د سره بيا کوي- دغه مونځ ئې مات شه۔

مسئله ۱۳:- فالج او وا هه او داسې شه چه استنجې ئې په اوبو سره نه شو کولې نو په لوټو استنجې ئې کافي ده او نور تيمم که ئې پخپله نه شو کولې نو بل به ورله کوي او مونځ به کوي او که په لوټو يا کپړه ئې هم ځان نه شو پاکولې نو هم به مونځ نه قضا کوي دغه سې په مونځ کوي بل چا له د ده بدن ليدل او پاکول جائز نه دي نه مور و پلار له نه خوئ لور له البته ښځې له د خپل خاوند بدن او خاوند له د ښځې بدن ليدل جائز دي۔

مسئله ۱۴:- په روغ والي کښې ئې څه مونځونه قضا شوي وو نو اوس ناجوړه شه نو اوس چه ئې په څه حالت د مانځه طاقت وي قضا دې هم په هغې شان را اوګرځوي چوله والي ته دې صبر نه کوي چه کوم وخت به جوړ شم بيا به ئې اوکړم دا شيطاني وسوسه ده۔

مسئله ۱۵:- که د بيمار بستره پليته وه ليکن په بدلولو کښې ئې ډير تکليف وه نو په هغې مونځ کول جائز دي۔

مسئله ۱۶:- د ستر بند وعلاج ئې کړے وه او ډاکټر د خوځيدو منع کړے وه نو په ملاستې دې مونځ کوي په اشاره سره۔

په سفر کښې د مانځه کولو بيان

مسئله ۱:- که څوک د يو منزل يا د دوه منزلو په سفر روان شي نو دے په شريعت کښې مسافر نه دے بلکه دے داسې دے لکه چه کور وي ټول احکام ئې د مقيم دي۔ مونځ به هم پوره کوي او په موزو به مسح هم يوه شپه او ورځ کوي۔

مسئله ۲:- څوک چه د درې منزله د سفر نيت اوکړي او روان شي د ده ته په شريعت کښې مسافر وائي چه د خپل ښهر د آبادۍ نه باهر شه نو مسافر شه او تر څو پورې چه په ابادۍ کښې دننه روان وي مسافر نه دے د ښهر سټيشن که په آبادۍ کښې دننه وه نو د ښهر نه حساب دے او که باهر وه نو چه دے ورته اورسيده نو مسافر شه۔

مسئله ۳:- درې منزله دومره وي چه پياده تلونکے ورته په درې ورځو کښې د رسي اندازه ئې څومره په دے ملک کښې چه دغره او درياب سفر نه وي اته څلويښت ميله انګريزي ده۔

مسئله ۴:- که منزل دومره اوږد وه څو څوک ورته په لارئې موټر يا جهاز وغيره کښې په لږ وخت کښې رسيده بيا هم دے مسافر دے۔

مسئله ۵:- څوک چه په شریعت کښې مسافر وي هغه به د ماسپخین ماښام ماذیګر او ماسختن فرض مونځ دوه دوه رکعته کوي - او د سنتو دا حکم دے چه که تلوار وه نو د سحر د سنتو نه علاوه نور سنت ورله پریښودل جائز دي ګناه په کښې نشته او که تلوار نه وي او ملګري ئې نه جدا کیږي نو نه دے پریږدي - او سنت به پوره کوي کمے پکښې نشته -

مسئله ۶:- د سحر ماښام او وتر په مانځه کښې هم کمے نشته پوره به کوي -

مسئله ۷:- د ماسپخین ماذیګر او ماسختن مونځ به د دوه رکعتو نه سوا نه کوي ګناه ده - داسے ګناه ده لکه څوک چه د څلورو فرضو په ځائے شپږ اوکړي -

مسئله ۸:- که په هیره ئې څلور اوکړه نو که په دوه رکعته ئې قعده کړے وه نو دوه ئې فرض شو او دوه نفل او سجده سهوه به اوکړي او که په دوه رکعته ئې قعده نه وه کړے نو څلور واړه نفل شو فرض به بیا کوي -

مسئله ۹:- که په لاره کښې چرته پاتے شه نو که د پنځلسو ورځو د کمو نیت ئې وه نو مسافر دے دوه رکعته به کوي او که د پنځلسو ورځو یا د زیاتو نیت ئې کړے وه نو اوس مسافر نه دے مونځ به پوره کوي - او که په دے دوران کښې ئې نیت بدل شه او د پنځلسو ورځو نه ئې مخکښې د تلو اراده اوشوه نو بیا هم مسافر نه دے ترڅو پورې چه روان شوے نه وي او د دے ځائے نه هغه ځائے کوم ته چه ځي د دریو منزلو په مزل وي -

مسئله ۱۰:- د درے منزلو په سفر ئې د کور نه اراده اوکړه خو د اراده ئې ورسره هم اوکړه چه په لاره کښې به په فلاني کلي کښې پنځلس ورځے حصار یږم نو مسافر نه دے په لارے به مونځ پوره کوي او که هغه کلي ته اورسید او پنځلس ورځے حصار هم نه شه خو مسافر نه دے -

مسئله ۱۱:- درے منزله د تلو اراده ئې اوکړه لیکن په اول منزل یا په دویم منزل ئې خپل کور راتلو بیا هم مسافر نه دے -

مسئله ۱۲:- څلور منزله د تلو اراده ئې اوکړه لیکن اول دوه منزلونه ئې د حیض په حالت کښې سفر اوکړه نو هم مسافره نه شوه - اوس چه غسل اوکړي پوره څلور رکعته به کوي البته که د حیض نه د پاکیدو نه پس درے منزله پاتے وه او یا چه د کوره روانیده نو پاکه وه په لارے ورله حیض راغے نو البته مسافره ده مونځ به د سفر کوي -

مسئله ۱۲:- مونځ ئې کاوه او په مانځه کښې ئې د پنځلسو ورځو د پاتے کیدو نیت اوکړه نو اوس مسافر نه دے دا مونځ به هم پوره کوي -

مسئله ۱۳:- د دوه څلورو ورځو د پاره پاتے شه په یو ځائے کښې او بیا داسے څه کار راغے چه روزانه به ئې نیت د تلو کاوه او پاتے کیده به دغه شان پنځلس یا شل یا میاشت یا د دینه هم زیاتے ورځے پاتے شه لیکن د پوره پنځلسو ورځو نیت ئې چرته هم نه وه کړے نو بیا هم مسافر دے که هر څومره موده پاتے شه -

مسئله ۱۴:- د درے منزلو د تلو اراده ئے اوکړه روان شه او د څه ځائے نه بیا واپس شه نو د کله نه چې ئے د تلو اراده پاتے کړه د هغے نه پس مقیم شه۔

مسئله ۱۵:- ښځه د خاوند سره ده نو په لاره کښے چې څومره هغه پاتے کیږی به د هغه نه زیاته نشی پاتے کیدے نو د خاوند نیت له به اعتبار وی نو که خاوند د پنځلسو ورځو د پاتے کیدو نیت اوکړه نو دا هم اوس مسافره نه شوه که دے نیت کړے وی او که نه وی او که د خاوند اراده د کمو ورځو وه نو ښځه هم مسافره ده۔

مسئله ۱۶:- درے منزله لاره او چرته پاتے شوه نو که دغه ئے خپل کور وه مسافره نه ده او که خپل نه وی نو که اراده ئے د پنځلسو ورځو وه نو هم مسافره نه ده او که نه ئے خپل کور وی او نه ئے د پنځلسو ورځو د پاتے کیدو اراده کړے وی نو بیا مسافره ده۔

مسئله ۱۸:- په لارے ئے چرته ځایه د پاتے کیدو اراده وه لس ورځے دلته پنځه ورځے هلته دولس ورځے هلته لیکن پنځلس ورځے پوره ئے په یو ځائے کښے اراده نشته نو مسافر دے۔

مسئله ۱۹:- چا خپل کلے بالکل پریخود بل ځائے ئے کور جوړ کړه او هلته بیا اوسیده نو اوس ئے دا خپل کلے د مسافرئ شه که په لارے چرته تلو او دا خپل کلے ئے په لاره کښے راغی او دوه څلور ورځے په کښے پاتے شه نو هم مسافر دے

مسئله ۲۰:- که د چا مونځ نه په سفر کښے قضا شو نو چې کور ته راغی دغه قضا به د سفر دوه رکعته کوی۔ او که پکور کښے ئے مونځ قضا شوے وه نو په سفر کښے به ئے پوره کوی۔

مسئله ۲۱:- د واده نه پس ښځه مستقل طور د خاوند په کور کښے پاتے شوه نو اصلی کور ئے اوس دا دے که د پلار کره ئے د پنځلسو ورځو د پاتے کیدو نیت نه وی کړے نو مسافره ده۔ او که د همیشه د پاره ئے هلته په نه کښے اراده نه وه نو د پلار کور ئے اصلی وطن دے۔

مسئله ۲۲:- په دریاب کښے کشتئ روانه وه۔ او د مانځه وخت شه نو په دغه روانه کشتئ کښے به مونځ کوی که په ولاړے نه شو کولے نو په ناستے به کوی۔ په ریل د مانځه هم دغه حکم دے

مسئله ۲۳:- په روان ریل کښے ئے مونځ کاوه نو ریل راواوګرځید او مخ ئے د قبلے نه بدل شه نو په مانځه کښے دے را اوګرځی قبلے ته۔

مسئله ۲۴:- ښځه چې سفر کوی د کوره او ځی نو د محرم سره به ځی چې څوک محرم ورسره نه وی په سفر به نه او ځی ډیر ګناه په حدیث کښے ئے منع راغلے ده۔

مسئله ۲۵:- کوم محرم چې د خدائے او رسول نه نه ویریږی او د شریعت پابندی نه کوی د داسے محرم سره هم سفر جائز نه دے۔

مسئله ۲۶:- په څه سوارلئ کښے ښځه روانه وه او د مانځه وخت شه نو کوزه به شی او مونځ به او کړی دغه شان او دس به هم په طریقه شی او به کړی که بود قعه ورسره

شو وی نو په څادر وغیره کښې دِ ځان او نغاړی کوزه دِ شی مونځ دِ اوکړی دومره پرده چه مونځ پے قضاشی حرامه ده - په هره خبره کښے دَ شریعت خبره مخکښے کول پکار دی دَ پردے هم هغه حد مقرر کول پکار دی کوم چه شریعت خودلی دے - دَ شریعت دَحد نه تجاوز کول بے وقوفی او نادانی ده - البته بے ضرورته بے پرده کښے کمی کول بے غیرتی او ګناه ده -

مسئله ۲۷:- که داسے بیماری وی چه په ولاړه مونځ نه شی کولے بیا هم په روان ګیډی مونځ کول تیک نه دی (که سوارلی دَ غواړل نو کار ورکے) او درولے ده لیکن غوایان ئے نه شی درولے نو بیا پے هم جائز نه دے مونځ - چه غوایان تے لرے کړی نو بیا پے مونځ کیږی - دَ تنګے هم دا حکم دے چه اس تے شوی لرے کړے مونځ پے نه کیږی -

مسئله ۲۸:- که څوک نا جوړه وه په ناستے ئے مونځ کولو نو په ډولۍ کښے ورلره هم مونځ جائز دے لیکن چه دَ سر وپه اوکو نه وی کوزه ئے کړی -

مسئله ۲۹:- که دَاوښ یا ګاډی نه کوزیدو کښے ئے دَجان یا مال یره وه نو بیا ئے مونځ په غیر دَ کوزیدو نه هم جائز دے -

دروېشتم باب

په کور کښے دَ مرګ کیدو بیان

مسئله ۱:- چه بنده مړ کیږی نو ستونی ستغ ئے څملوے او خپے ورله قبلے ته کړے او سر ورله وچت کړے چه مخ ئے قبلے ته شی او په خوا کښے ئے په زوره کلمه وایه چه هغه ئے واوری او کلمه او وائی خو تا سوبه ورته دَ کلمے ویلو نه وائی ځکه چه دغه وخت ډیر مشکل دے هسے نه چه دَ خولے نه ئے بل څهٔ اووځی -

مسئله ۲:- چه مړکیدونکے یو وارے کلمه او وائی نو چپ شئ تے او دا کوشش مه کوئ چه برابر دے کلمه وائی ځکه چه مطلب صرف دا دے چه آخری خبره ئے کلمه شی. دے ته ضرورت نشته چه دَ ساه ختو پورے دے کلمه وائی - لیکن که دَ کلمے ویلو نه پس ئے دَ دُنیا څه خبرے اوکړے نو بیا ورته کلمه وائی - چه هغه ئے بیا او وائی -

مسئله ۳:- چه ساه په ختو شی او زر زر ئے اخلی او خپے ئے سُستے شی او پوزه ئے کږه شی او دَ غوږ ډډونه ئے کینی نو پوهه شه چه مرګ ئے راغے او س په زوره کلمه وائی -

مسئله ۴:- دَ سورة یٰسٓ په لوستو دَ مرګ سختی کمیږی خوا ته ئے لوستل غوره دی

مسئله ۵:- دغه وخت څه داسے خبره نه دی کول پکار چه زړه ئے دنیا طرفته مائل شی ځکه چه دا دَ دنیا نه دجدا کیدو او دَ الله تعالیٰ سره دَ ملاویدو وخت دے - داسے خبرے او دا سے کار کوئ چه دَ هغه زړه دَ دنیا نه اوګرځی او الله تعالیٰ طرف ته مائل شی دَ مړی خیر خواهی به دے کښے ده - دغه وخت ورته بال بچ مخامخ کول او هوخ خیز ونه ورته مخامخ کول او دا سے

خبرې ورته کول چه زړه ئې ورته مائل شي ډیره بده خبره ده۔ چه د دنیا محبت په زړه کښې پروت وي نو نعوذ بالله ډیر ناکاره مرګ دې دا۔

مسئله ۶:- د مرګ په وخت کښې خدائ دِ نه کا که د خولې نه ئې د کفر څه کلمه اوځي نو خیال ورته مه کوئ او بیان ئې هم مه کوئ۔ دا د مرګ لیونتوب ګڼړئ او د بې عقلۍ په وخت کښې چه څه او وئیلې شي هغه معاف دي او که خدائ ئې نه د معافۍ سوال کوئ۔

مسئله ۷:- چه مړ شي اندامونه ورله برابر کړئ او زنه ورله او تړئ چه خوله ئې وازه پاتې نه شي۔ او سترګې ورله بندې کړئ او د ښپو دواړه غټې ګوتې ورله او تړئ چه ښپې ئې وازې پاتې نه شي بیا په څادر خور کړئ او د غسل او کفن ئې تلوار کوئ۔

مسئله ۸:- د خولې وغیره بند ولو په وخت وائي:- بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ط

مسئله ۹:- د مرګ نه پس ورته لوبان وغیره خوشبو لوګے کوئ او د حیض او نفاس ښځه او جُنب دې ورله خوا له نه راځي۔

مسئله ۱۰:- د مرګ نه پس چه غسل ئې ورله نه وي ورکړے قرآن لوستل ورته جائز نه دي۔

څلورویشتم باب

د لمبولو بیان

مسئله ۱:- چه د ګور کفن سامان ئې برابر شي او د لمبولو وخت شي نو اول تختې له خوشبوئیه لوګے ورکړئ درې پیرې یا پنځه پیرې یا اوه پیرې ته څلور طرفه لوګے او کړه او مړے پې څملوئ او کپړې ئې او باسئ او یوه کپړه په د نامه نه د زنګونو پورې واچوئ۔

مسئله ۲:- که د لمبولو دپاره ځائې وي چه اوبه ئې چرته بهیږي جدا ځائې ته نو خیر او که نه وي نو یو وغل د تختې لاندې او کنئ چه ټولې اوبه په کښې راشي۔ که یو وغل ئې او نه کنستوا اوبه په ګور کښې خورې شوې نو هم خیر دې غرض فقط دا دې چه پکور کښې ختې جوړې نه شي او څوک په او نه خوځیږي۔

مسئله ۳:- د لمبولو طریقه داده چه اول به ورله استنجا او کړي لیکن د مړي ورنونو ته لاس نه وړي او نه به ورته ګوري۔ د لاسونه به کپړه تاو کړي او کومه کپړه چه ئې په اچولې ده د هغې لاندې دِ لمبوي۔ بیا دِ ورله اودس او کړي لیکن خولې ته دِ ورله او پوزې ته اوبه نه اچوي۔ اول دې ورله مخ او وینځي بیا لاسونه د څنګلو پورې بیا د سر مسح بیا دواړه ښپې۔ او بیا به مالوچ لامده کړي په خوله او پوزه کښې به ورله راکاږي۔ او که مړے د حیض یا نفاس یا جنابت په حالت کښې مړ شي نو بیائې پوزې او خولې ته په دې طریقه اوبه رسول ضروري دي۔ او پوزه خوله غوږونو کښې ورته مالوچ کیدئ چه اوبه پکښې لاړې نه شي۔ چه اودس ئې او شي نو سر دِ ورله په ګل خیرو یا صابون وغیره سره او وینځي او صاف دِ کړي۔ بیا به ئې په کیڼ اړخ څملوي په نیم ګرمو اوبو دې درې پیرې او وینځي د سر نه د ښپو پورې تر بیرې

پانړے ډېره او بو کښې واچوی۔ بیا دِ په بنځې ډېره ښځلوی او کس سرنه د خپو پورے ډیرے پیرے او وینځی بیا دے مړی ته ډېره ور کړی او نیغ دِ کینوی او دوروړ ورله په خیته لاس راکاږی چه که په کیڼه کښې څه وی پچه او نه وځی که څه ترے او وځی بیا دے پاک کړی غسل او او دس ته یه دغے څه نقصان نه رسی۔ بیا دے نه دوباره کوی۔ بیا دے په کیڼړه ډېره کړی او د کافورو په اوبو دے پیرے د سر نه د خپو پورے لوند کړی بیا دے ورله ټول بدن په څه کپړه اوچ کړی چه کفن ئے کړی۔

مسئله ۴:۔ د بیرے پانړے که نه وی نو هسې ساده نیم گرمے او به کافی دی۔ او په ډیرو تیلو گرمو او بو دے نه لمبوی۔ او د لمبولو دا طریقه چه بیان شوه سنت ده۔ او که دے پیرے ئے نه شی لمبولے او یوه پیره ئے ټول بدن و وینځي هم فرض ادا شو۔

مسئله ۵:۔ چه مړی په کفن واچوی نو بیا دے ورله په سر عطر واچوی او په ږیره هم۔ بیا ورله په تندی، پوزه، دواړو ورغوو، دواړو زنګونو او دواړو خپو کافور او لږوی بعضے خلق په کفن عطر لږوی او په غوږ کښې ورته د عطرو مالوچ کړی دا ټول جهالت دے په شرع کښې چه څه راغلی وی د هغے نه زیاتے مکوه۔

مسئله ۶:۔ ویښته ورله مه منګز کوئے او نه ورله نوکونه او ویښته پریکوئے۔

مسئله ۷:۔ که سړے[1] مړ شه او لمبونکے سړے نه وه نو د خپلے بنځے نه سوا بله بنځے له ورله غسل ورکول جائز نه دی اګرچه محرمه وی۔ او که بنځه ئے هم نه وه نو تیمم دے ورله او کړی خو لاس دے وسره نه لږوی دستانے دِ په لاس کړی۔

مسئله ۸:۔ که خاوند مړ شه نو بی بی ئے لمبولے شی او کفن کولے شی او که بنځه مړه شی نو خاوند ورله لاس نه شی وروړے لاس وروړل او مسه کول ئے جائز نه دی (او غسل ور هم نه شی ورکولے) البته لیدل ئے او په کپړه د پاسه لاس وروړل ورله جائز دی۔

مسئله ۹:۔ کومه بنځه چه په حیض یا نفاس کښے وی مړی له غسل ورکول ئے مکروه دی۔

مسئله ۱۰:۔ غوره داده چه نژدے رشته دار دے او لمبوی۔ او که دے نه وی نو څوک دیندار۔

مسئله ۱۱:۔ که په لمبولو کښے څه عیب په مړی کښے او وینی نو چا ته دے نه وائی۔ که خوله ئے وراڼه شوے یا رنګ تور شوے وی هیڅ دِ نه وائی جائز نه دی۔ البته که چا څه ښکاره ګناه کوله لکه ډمه وه یا رنځی وه وغیره نو د دے خبرے کول جائز دی چه نورو ته عبرت شی۔[2]

د کفن کولو بیان

مسئله:۔ بنځه په پنځه کپړو کښې کفن کول سنت دی یو قمیص دویم څادر۔ دریم

[1] په دے مسئله اشکال او د هغے جواب په امداد الفتاوی ص۴۹۹ ج ۱ کښے لیک دے ۱۲

[2] او که څه ښه خبره او ویني لکه د هغے نورانیت او خاشت وغیره نو د دے ښکاره کول مستحب دی

سربند، څلورمه لفافه پنځم سینه بند، چادر د سر نه د خپو پورې او لفافې ته بړ ده او بړ ده '۱ د قمیص د اوږو نه د خپو پورې البته ځاړه او لستونړي به پکښې نه وي. او سربند دې لاسه او نیم وي او سینه بند د سینې نه د ورنونو پورې پلن او او د دومره چه راوتړلې شي۔

مسئله ۲:- که چا له درې کپړې کفن کړي یو څادر بله لفافه دریم سربند نو هم جائز دی او کافي دے او کړ دینه کم مکروه دے لیکن که لاچاري او مجبوري وي بیا جائز دے۔

مسئله ۳:- سینه بند که د سینې نه د تا مه پورې وي هم خیر دے خو غوره د ورنونو پورې دے

مسئله ۴:- اول به کفن له درې یا پنځه یا اووه ځلې د لوبان لوګے ورکړي بیا به مړے پکښې کفن کړي۔

مسئله ۵:- د کفن کولو طریقه دا ده چه اول به لفافه خوره کړي بیا څادر بیا به په لپاسه قمیص بیا به پکښې مړے څملوي او اول به ورته قمیص واغوندوي د سر و یخته به ئې دوه حصې کړي د قمیص د پاسه به ئې په سینه نیم یو طرفته او نیم بل طرفته واچوي. بیا به سربند ورله په سر واچوي او په ویختو به ئې د پاسه راولي ویخته به پکښې نغاړي نه بیا به څادر اول د بښځ طرفته بیا د کینړ طرفنه راغونډ کړي او بیا به سینه بند او تړي او بیا به دغه شان لفافه راونغاړي او په نړی او م تار به ئې سر او خپو طرفته او تړي او د سینې سره به ئې هم او تړي چه پلاره کښې بیرته نه شي۔

مسئله ۶:- سینه بند که د چادر نه پس تړي او که د ټول کفن د پاسه۔

مسئله ۷:- چه کفن شي نو او س ئې رخصت کړئ چه جنازه پې اوشي او دفن شي۔

مسئله ۸:- که ښځې د جنازې موخ کوي نو هم جائز دی خو دا اتفاق چرته نه دے شوے نو په دې وجه ئې مونږ مسئلې بیان نه کړے۔

مسئله ۹:- په کفن کښې یا په قبر کښې دننه عهدنامه یا د خپل پیر شجره یا بله څه دُعا ایښودل جائز نه دي۔ او دغه شان په کفن یا سینه ورله په کا فورو یا سیاهۍ کلمه وغیره دعا لیکل جائز نه دي۔ البته د کعبې شریفې غلاف یا د خپل پیر رومال تبرګا جائز دی۔

مسئله ۱۰:- کوم بچے چه ژوندے پیدا شه بیا ئې ساعت پس مړ شه یا فوراً مړ شه نو هغه به هم په دے طریقه غسل کفن او دفن کولے شي او نوم به ورله هم کیدی جنازه پې هم کولے شي

مسئله ۱۱:- کوم بچے چه د مور نه مړ پیدا شه او د پیدا کیدو په وخت کښې پې د ژوندون څه نښه نه وه هغه له هم غسل شته لیکن کفن ئې یوه کپړه ده او نوم ورله ایښودل غوره دي

مسئله ۱۲:- که حمل کچه او غورزیږي څه لاسو خپې وغیره ئې نه وي جوړ شوي نو کفن به ورله یوه کپړه ورکړي غسل وغیره ئې نشته۔ او که څه اندامونه ئې جوړ شوي وي نو بیا د مړ بچي حکم ئې دے یعني غسل به ورکړي په یوه کپړه کښې به ئې اونغاړي دفن به ئې کړي اوبې جنازے

مسئله ١٣: - که چې فقط سر را ووت هغه وخت ژوندے وه بیا مړشه نو د مړ پیدا شوي حکم ئې دے البته که د نیمې نه زیات راوتے وه او ژوندے وه بیا مړشه نو ژوندے پیدا به ګڼلے شي. که د سر د طرفه وه نو د سینې پورې او که اُلټه وه نو د نوم پورې چه را ووځي ژوندے به ګڼلے شي

مسئله ١٤: - که وړه جینۍ مړه شوه چه لا ځوانه شوې نه وي خو ځوانۍ ته نزدې وي نو کفن ئې هم دغه پنځه کپړې دي او که درې کپړې ورکړی هم کافي دي غرض د ځوانې او جینۍ یو حکم دے البته د ځوانې د پاره تاکید دے او د جینۍ د پاره غوره دے۔

مسئله ١٥: - کومه جینۍ چه چیرې وړه وي هغې له پنځه کپړې غوره دي او دوه کپړې ورله جائز دي یو څادر او یوه لفافه۔

مسئله ١٦: - که هلک مړ شي او بنځې ئې لمبوي نو هم دغه طریقه د لمبولو او کفن کولو ئې ده کومه چه بره بیان شویده بس دومره فرق دے چه د بنځې کفن پنځه کپړې دے او د سړي کفن درې کپړې یوه لفافه یو څادر یو قمیص۔

مسئله ١٧: - د سړي په کفن کښې که فقط دوه کپړې وي هم کافي دي او یوه کپړه مکروه ده البته که لاچاري او مجبوري وي بیا خیر دے۔

مسئله ١٨: - کوم چادر چه په جنازه د پاسه خوره ولے شي هغه په کفن کښې شامل نه دے ۔ کفن صرف دغه دے کوم چه بیان شه۔

مسئله ١٩: - په کوم ښهر کښې چه څوک مړ شي هم دغه خلق به ئې هلته کور کفن کوي ۔ بل ځائې ته ئې وړل غوره[له] نه دي البته که یو ځائې یو کس نیم لرې وي بیا خیر دے وړے شي۔

د لاندے مسئلو د لوستو طریقه

که استاد سړے وه نو دا مسئلے د پچپله ورته نه وائي یا دے د خپلې بنځې په واسطه پوهه کړي یا دے لوستونکے ته او وائي چه بیا ئې ځانله پچپله کوره او که لوستونکے کم عمره هلک وي هغه ته دے هم نه لولوي بلکه ورته دے او وائي چه بیا به ئې او کوري۔

د حیض او استحاضے بیان

مسئله ١: - په هره میاشت کښې چه د مخ د لارینه معمولي وینه راځي دیته حیض وائي۔

مسئله ٢: - د حیض کمه موده درې شپې ورځې دي او د زیاتو نه زیات لس شپې ورځې دي ۔ که چا له د درې شپو ورځو نه کمه وینه راغله دا حیض نه دے بلکه استحاضه دے د څه بیمارۍ په وجه داسې شوے ده ۔ او که د لسو شپو ورځو نه زیاته وه نو کومې شپې او ورځې چه په لسو زیاتې دي هغه ورځې شپې استحاضه دے۔

مسئله ٣: - که درې ورځې خو وینه راغله لیکن درې شپې رانغله لکه د جمعې د سحر نه

له البته که چیرته مجبوري وي نو بیا خیر دے ١٢ اللّٰهمّ اغفر لکاتبه ولوالدیه ١٢ امین ١٢ ١٢

وينه شروع شوه او که اتوار شپې له پس کما بنام نه بنده شوه بيا هم حيض نه دے بلکه استحاضه دے. چه د دريو شپو ورځو نه ذرا هم کم وي حيض نه دے لکه د جمعې په ورځ د ماختو په وخت وينه راغله او د دوشنبې په سحر د ماختو نه بره مخکښې بنده شوه نو حيض نه دے.

مسئله ۴:- د حيض په موده کښې سره زيړه شنه خړه هر قسم رنګ چه وي د وينې ټول حيض کې ترڅو پورې چه پرده بالکل سپينه نه شي. او چه کله داسې سپينه شي لکه چه شلګه ئې مخکښې وه نو اوس د حيض نه پاکه شوه.

مسئله ۵:- د نهو کالو نه اول او د پنځه پنځوس کالو نه پس چاله حيض نه راځي نو که د نهو کالو نه اول ئې وينه راغله دا حيض نه دے بلکه استحاضه دے. او که د پنځه پنځوس کالو نه پس وينه راغله نو که بنه سره يا توره وه نو حيض دے. او که زيړه يا شنه يا خړه وه نو حيض نه دے بلکه استحاضه[له] دے. البته که د وينې چه مخکښې به د دے حيض راته نو د ځنې رنګ به هم زيړه يا شين يا خړه وه نو بيا حيض دے او که د عادت نه خلاف داسې او شوه نو حيض نه دے بلکه استحاضه[له] ده.

مسئله ۶:- چاله هميشه درې ورځې يا څلور ورځې وينه راتله بيا يوه مياشت ورله زياته راغله ليکن د لسو ورځو نه زياته نه شوه نو دا ټول حيض دے. او که د لسو ورځو نه زياته شوه نو څومره ورځې چه مخکې راتله هغه حيض دے او باقي استحاضه دے. مثال ئې دا دے چه د يوې ښځې هميشه عادت درې ورځې دے بيا ورله يوه مياشت نهه ورځې يا لس ورځې شپې راغله نو دا ټول ئې حيض دے او که زياته شوه نو که يوه لحظه زياته شوه بيا به دغه مقرر درې ورځې حيض وي او باقي استحاضه د دغې درې ورځو نه علاوه د نورو ټولو ورځو قضا مونځ به راګرځوي.

مسئله ۷:- يوه ښځه ده چه عادت ئې مقرر نشته کله ئې څلور ورځې وينه راځي کله او وه ورځې او کله لس ورځې هم راشي نو دا ټول حيض دے. داسې ښځې له که چرته د لسو ورځو نه زياته وينه راغله نو کتے به شي چه د وينې په مينه مياشت کښې ورله څو ورځې وينه راغلې وه بس هغه ئې حيض دے او باقي ټول استحاضه ده.

مسئله ۸:- د چا هميشه څلور ورځې حيض کيده بيائې په يوه مياشت کښې پنځه ورځې او شه او بيا په بله مياشت کښې پنځلس ورځې او شه نو که دے پنځلسو نه پنځه ورځې د حيض دي او باقي لس ورځې استحاضه[ته] ده ګڼو ولې عادت اعتبار به ئې نه کيږي.

[له] دا مطلب دا دے چه د نهو کالو نه مخکښې حيض نه راځي نو چه د نهو کالو نه مخکښې وينه راغله هغه حيض بالکل نه دے او د پنځه پنځوس کالو نه پس عام طور حيض نه راځي ليکن راتله ئې ممکن دي نو طاقتې دے وغه ده کومه چه په متن کښې ذکر شوه ۱۲ [لمه] کل الى الشاميه ۱۲ [ته] په دے صورت کښې به لسو ورځو ته انتظار کوي نو که د لسو ورځو پس وينه بنده نه شوه نو که پنځه ورځو مونځ به قضا کوي او که د لسو ورځو نه پس به غسل اوکړي او مونځ به اداکړي ۱۲

مسئله ۹:- چاله د لسو ورځو نه زیات حیض راځي او دیته خپل زوړ عادت بلکل یاد نه دے نو دا مسئلے ډیرے مشکلے دي او دا سے کیږي هم ډیر کم نو په دے وجه ئے حکم نه بیانوو که چا ته دا سے ضرورت پیښ شه نو د عالم نه دے ځان پوښته کړي د معمولي مولانا نه دے تپوس نه کوي بلکه د یو لوئي پوهه عالم نه.

مسئله ۱۰:- یوے جینئ اول اول ویته اولیده نو لس ورځے پاتے کیږي دا حیض دے او د لسو نه زیات تول استحاضه دے.

مسئله ۱۱:- چا اول اول وینه اولیده او هغه په هیڅ شان بنده نه شوه څو میاشتے برابر روانه وه نو کومه ورځ چه وینه راغلے ده د هغے ورځو نه د لسو ورځو پورے حیض دے او باقي شل ورځے استحاضه ده دغه شان به برابر لس ورځے حیض او شل ورځے استحاضه شمارېږي.

مسئله ۱۲:- د دوه حیضو نو په درمیان کښے د پاکئ موده د کم نه کم پنځلس ورځے او د زیات ئے څه حد نشته نو که د چا په څه وجه حیض بند شه نو څو مره ورځے چه وي پاکه ده.

مسئله ۱۳:- که د چا درے ورځے شپے وینه راغله بیا پنځلس ورځے پاکه وه بیا درے ورځے وینه راغله نو درے ورځے هغه اولنئ او درے دا وروستئ حیض دے باقي پنځلس ورځے پاکي ده.

مسئله ۱۴:- او که د چا یوه یا دوه ورځے وینه راغله بیا پنځلس ورځے بند شوه بیا یوه یا دوه ورځے راغله نو دغه د مینځ پنځلس ورځے پاکي ده او اولنئ او وروستے ورځے استحاضه ده.

مسئله ۱۵:- که یوه ورځ یا ډیرے ورځے وینه راغله بیا د پنځلسو ورځو نه کم پاکه وه نو د دے هیڅ اعتبار نشته دا سے به گڼړلے شي چه برابر وینه تلے ده تولے ورځے نو څو مره ورځے چه ئے عادت دے هغه ئے حیض دے باقي تول استحاضه ده - مثال ئے دا دے چه یوے ښځے له په د هرے میاشتے اول او دویم او دریم تاریخ کښے وینه راتله بیا په یوه میاشت کښے دا سے اوشوه چه په اول تاریخ وینه راغله بیا څوارلس ورځے بنده وه بیا یوه ورځ وینه راغله نو دا سے به گڼړلے شي چه شپاړس ورځے گویا برابر وینه راغلے ده نو اولے درے ورځے حیض شه او دیارلس ورځے استحاضه ده - او که څلورم او پنځم او شپږم تاریخ ئے د حیض عادت وه نو اولے درے او وروستے د شپږ ورځے استحاضه او دغه ورځے حیض دے - او که عادت ئے هیڅ نه وه او اول وارئے د لیدو او لنئ لس ورځے حیض دے او شپږ ورځے استحاضه ده.

له مگر دا خبره چه دوه مره حیض دے او دومره استحاضه د شپاړسے ورځے نه اول نه وه معلومه نو په دا سے حالت کښے چه اول وارئے وینه اولیده مونځ دے پریږدي ځکه چه کیدے شي حیض وي او بیا چه یوه ورځ پس بنده شوه نو احتمال دے چه استحاضا وي او احتمال دے چه حیض وي - نو د دغے ورځے مونځ به قضا راوړي بیا چه څوارلس ورځے پس وینه راغله معلومه شوه چه دغه حیض وه نو دغه مونځونه ئے بے کاره لاړه نو د درے ورځو معافي شو او که دغے درے ورځو نه زیات قضا راوړي - نو که د دغے درے ورځو نه پس ئے غسل کړے وي نو دغه مونځونه ئے شوي دي او که غسل ئے نه وي کړے نو د دغے دیارلس ورځو مونځونه به قضا راوړي - او س به پکار وینه مونځ نه پریږدي ۱۲

مسئله ۱۶:- دَ حمل په زمانه کښې چه وینه راشي دا هم استحاضه ده حیض نه دے۔

مسئله ۱۷:- دَ بچي پیدا کیدو په وخت کښې دَ بچي نه اول چه وینه راشي هغه هم استحاضه دے۔ بلکه ترڅو پورے چه بچے دَ نیمے نه زیات نه وي راوتے تر هغې دغه وینه استحاضه دے۔

اوویشتم باب

دَ حیض دَ احکامو بیان

مسئله ۱:- دَ حیض په زمانه کښې مونځ کول او روژه نیول جائز نه دي۔ مونځ ورته بالکل معاف دے قضا یې واجب نه ده لیکن دَ روژے به قضا راوړي چه پاکه شي۔

مسئله ۲:- که دَ فرض مانځه په مینځ کښې ورله حیض راغے نو دغه مونځ هم معاف شه (پاکے دکړي) قضائے بیا هم نشته۔ البته که نفل یا سنت مونځ کښې ورله حیض راغے نو قضا به ئے راوړي۔ او که دَ روژے په مینځ کښې ورله حیض راغے نو روژه ئے ماته شوه او بیا به دَ دغې روژے هم قضا راوړي۔ که نفل روژه وه هم به ئے قضا راوړي۔

مسئله ۳:- که دَ مانځه په آخیر کښې حیض راغے هم دغه مونځ معاف شه۔

مسئله ۴:- دَ حیض په زمانه کښې[له] دَ سپري سره یو ځائے کیدل جائز نه دي او دَ کور والي نه سوا نورے ټولے خبرے ورله جائز دے دي رخوچه دَ بنځے دَ نامه نه تر زنګونو نو پورے بدن دَ سپري دَ څه ځائے سره مسه نه شي) نور هر څه خوراک سکاک یو ځائے کول جائز دي۔

مسئله ۵:- دَ چا عادت پنځه ورځے یا نهٔ ورځے وه نو څومره چه عادت وه هغه ورځے وینه راغله بیا بنده شوه نو ترڅو پورے چه ئے غسل نه وي کړے یا پې دَ یو مانځه وخت نه وي تیر شوے تر هغې ورله کور والے جائز نه دے۔

مسئله ۶:- که عادت ئے پنځه ورځے وه او وینه څلور ورځے راغله بیا بنده شوه نو غسل کول او مونځ کول پې واجب دي البته کور والے ورله دَ پنځمے ورځے پورے جائز نه دے۔

مسئله ۷:- که پوره لس ورځے شپے ئے حیض اوشه او بیا بند شه نو دَ بندیدو سره ورله او س کور والے جائز دے که لمبلې وي او که نه۔

مسئله ۸:- که یوه یا دوه ورځے وینه راغله او بیا بنده شوه نو لمبل پې واجب نه دي په او دا سه به مونځ کوي لیکن کور والے ورله جائز نه دے که دَ پنځلسو ورځو نه مخکښې ورله وینه راغله نو معلومه شوه چه دغه دَ حیض زمانه وه دَ حساب نه چه ئے څومره ورځے دَ حیض وي هغه دَ حیض شوے او او س به غسل اوکړي مونځ به کوي۔ او پنځلس ورځے پوره په مینځ کښې تیرے شوے۔ نو دا ستحاضه وه کوم مونځونه چه ئے دَ دغو ورځو دوینے په وجه نه دي کړي او س به دَ هغې قضا راوړي۔

مسئله ۹:- دَ درے ورځے ئے دَ حیض عادت وه لیکن یوه میاشت داسے اوشوه چه درے ورځے پوره

له دَ حیض کښې ښځے دَ پاره دَ سپري دَ بدن نه سره مسه کیدل لاس وروړل جائز خو سپري له دَ ښځے دَ نامه نه لاندے تر دَ ګونډو پورے بدن مسه کول لاس وروړل جائز نه دي ۱۲ سه دَ دے بیان مخکښې راغے ۱۲ –

شوے، او وینه ئے لا نه وه بنده نو غسل به نه کوي او نه به مونځ کوي که په پوره لس ورځے پاتے په کمو کښے وینه بنده شوه نو که دے تولو ورځو مونځ معاف دے او د اسے به گڼلے شي چه عادت ئے بدل شه او که په یولسمه ورځ هم وینه راغله نو معلومه شوه چه د حیض فقط د ورځے وے نور ټول استحاضه ده نو غسل به او کړي او کوم وروه ورځو مونځونه به را او گرځوي۔ او اوس که وینه تله هم به مونځ کوي۔

مسئله ۱۰:- که د لسو ورځو نه کم حیض راغے او وینه داسے وخت بنده شوه چه د مونځ وخت بالکل تنګ دے چه دا په کښے لا مبي نو صرف دومره وخت پاتے کیږي چه یو وار به کښے الله اکبر ویلے شي او نیّت تړلے شي نو هم په د دغے وخت د مانځه کول واجب دي قضا به ئے کوي او که د وینه هم کم وخت وي بیا معاف دے قضا پے واجب نه ده۔

مسئله ۱۱:- او که پوره لس ورځے وینه راغله او داسے وخت بنده شوه چه صرف یو وار الله اکبر په کښے ویلے شي د دینه زیات په کښے هیڅ نه شي کیدے نو مونځ پے واجب دے۔

مسئله ۱۲:- که په رمضان شریف کښے د ورځے پاک شوه نو اوس به څه خوري سکي نه د مابنامه پورے به کرروژه دار و پشان اوسي لیکن دا ورځ ئے په روژه کښے نه ده حساب قضا به ئے راوړي۔

مسئله ۱۳:- او که د شپے پاک شوه او پوره لس ورځے ئے حیض شوے دے نو که دومره لږ وخت د شپے پاتے وي چه الله اکبر په کښے یو وار هم نه شي ویلے نو هم پے د دغے ورځے د سحر روژه واجب ده او که حیض ئے د لسو ورځو نه کم شوے وه نو که دومره شپه پاتے وه چه په جلدئي ئے په کښے غسل کولے شه نو هم پے د سحر روژه واجب ده۔ او که غسل ئے اونه کړه نو روژه ئے نه ماتوي نیّت دِ او کړي غسل به سحر او کړي او که دومره شپه پاتے وه چه غسل ئے په کښے نه شه کولے نو د سحر روژه جائز نه ده البته د ورځے به څه خوري سکي نه او که دے روژے قضا به راوړي۔

مسئله ۱۴:- چه وینه د بهر ځے منے ته د سوري نه را اووځي نو حیض شروع شه که د دغ ځے منے نه راووځي او که نه۔ او که په سوري کښے دننه مالوچ وغیره ایښودي وي او د مالوچ نه بهر ته وینه رااونه وځي نو تر څو چه بهر ته نه وي راوتے د حیض حکم پے نشي لږیدے۔ کله چه د وینې داغ با هر ځے منے ته راشي یائے مالوچ وغیره باهر راوباسي نو حیض به حساب شي۔

مسئله ۱۵:- پاکے ښځے د شپے په دننه سوري کښے مالوچ کیښوده چه سحر شه نو د وینے داغ ئے پے اولیده نو د کوم وخت نه چه ئے د وینې داغ لیدلے دے د هغے وخت نه حائضه شوه۔

اتلویشتم باب

د استحاضے د احکامو بیان

مسئله ۱:- د استحاضے حکم داسے دے لکه د چا چه پوزه ماته شي او ...

سله که کومنسل نه پس د نیت او الله اکبر ویلو وخت باقي وي نو نیت دے او تړي مونځ دِ شروع کړي اگر چه وخت پے ختم شي نو مونځ به پوره کړي۔ لیکن که سحر پے وخت کښے که د نیت تړلو نه پس نمر را او ختو نو مونځ مات شه بیا به ئے قضا کوي ۱۲

مخه پهیږي داسې بنځه به مونځ هم کوي او روژه به هم نیسي او کور والې ورسره هم کولې شي۔
نوټ:- د استحاضې احکام بالکل د معذور په شان دي چه په اول حصه ص۵۶ کښې بیان شوي دي۔

یو کم دیرشم باب

د نفاس بیان

مسئله ۱:- د بچي پیدا کیدو نه پس چه کومه وینه د مخې د لارې نه څي هغې ته نفاس وائي د نفاس د زیاتې نه زیاته موده څلویښت ورځې ده او د کمې کمې څه حد نشته۔ که چا یوه ګهړۍ پسه وینه راغله او بیا بنده شوه نو دا هم نفاس دے۔
مسئله ۲:- که د بچي پیدا کیدو نه پس د چا بالکل وینه لا نه شوه هم پرې غسل واجب دے۔
مسئله ۳:- د نیمې نه زیات بچے را اووت او دغه وخت وینه لاړه دا هم نفاس دے او که د نیمې نه کم راوتے وه او وینه راغله نو دا استحاضه ده که هوش ئې ځائے وه نو دغه وخت به هم مونځ کوي ورنه ګناه ګاره ده په اشاره دې کوي خو قضا کوي دې نه او که د بچي د مرګ یره وه بیا دے نه کوي۔
مسئله ۴:- که د چا حمل پریوځي او غورځیږي نو که د بچي یو اندام دوه جوړ شوي وو نو د دینه پس چه کومه وینه راځي نفاس دے او که بالکل غوښه بنه وه نو بیا نفاس نه دے که حیض پوره کیده نو حیض دے او که حیض نه پوره کیده نو بیا استحاضه ده۔
مسئله ۵:- که وینه د څلویښتو ورځو نه سوا شوه نو که دا ئې اول بچے وه نو څلویښت ورځې ئې نفاس دے او زیاتي استحاضه ده نو د څلویښتې ورځې نه پس به غسل کوي او مونځ به کوي د وینې بندیدو انتظار به نه کوي او که دا ئې اول بچے نه دے بلکه د دینه اول ئې نور بچي هم شوي دي او عادت ئې معلوم دے چه نفاس ئې دومره ورځې وي نو څومره ورځې چه د نفاس وي هغه ئې نفاس دے باقي ورځې استحاضه ده۔
مسئله ۶:- د چا عادت دیرش ورځې د نفاس دي او دیرش ورځې تیرې شوې خو د وینه بنده نه شوه نو نه دے لا مبي که په څلویښتمه ورځ ئې وینه بنده شوه نو دا ټول نفاس دے او که د څلویښتو نه زیاته شوه نو دیرش ورځې ئې نفاس دے او باقي استحاضه نو اوس دې فورًا غسل اوکړي او د لسو ورځو مونځونه د قضا را اوګرځوي۔
مسئله ۷:- که د څلویښتو ورځو نه مخکښې وینه بنده شوه نو فورًا د غسل اوکړي او مونځ دې کوي او که غسل ورله نقصان کاوه نو تیمم د اوکړي او مونځ د اوکړي قضا کوي د نه۔
مسئله ۸:- په نفاس کښې هم مونځ بالکل معاف دے او د روژې قضا به راوړي او د روژې مانځه او کور والي دلته هم هغه مسئلې دي کومې چه بره بیان شوي دي په حیض کښې۔
مسئله ۹:- که په شپږ میاشتې کښې دننه دوه بچي پیدا شي او شو نو نفاس به د اول بچي نه شمارېږي که دویم بچے ئې لس شل ورځې یا یوه دوه میاشتې پس اوشه نو د دویم بچي نه به د نفاس حساب نه کوي۔

دیرشم باب — دَ نفاس او حیض وغیره احکام

مسئله ۱:- کومه ښځه چه په حیض یا نفاس کښې وی یا په چا چه غسل واجب وی هغه له جمات ته تلل دَ کعبې شریفې طواف کول دَ قرآن لوستل لاس ورله وړل جائز نه دی البته که قرآن مجید په جزدان کښې پروت وی یا نرینه رومال تاؤ وی یا کپړه وغیره کښې تاؤ وی یا چه قمیص شوی ئې نه وی جدا وی تو داسې حال کښې ورله لاس وروړل جائز دی
مسئله ۲:- دَ چا چه اودس نه وی هغه له هم لاس وروړل قرآن له جائز نه دی البته لوستې شی
مسئله ۳:- په کومه روپئ یا پیسه یا لوښی یا تعویذ کښې چه دَ قرآن مجید آیات لیک وی هغې له هم داسې خلق لاس نه شی وروړے - البته که په تهیلئ یا لوښی وغیره کښې وی نو دغه تهیلئ او لوښے وغیره اوچتولے او لاس وروړے شی۔
مسئله ۴:- دَ خپل قمیص په لمنه یا دَ څادر دوپټې په پیڅکی ئې نه شی نیوے البته که دَ دے دَ بدن نه جدا اخته پاکه کپړه وی لکه رومال وغیره نو په هغې دې ئې نیوے او اوچتولے شی - جائز دی۔
مسئله ۵:- که پوره آیات ئې اونه لوستو بلکه یو لفظ یا نیم آیات لولی نو جائز دی لیکن چه دغه نیم آیات دومره اوګد نه وی چه دَ ورکوټی آیات سره برابر یېږی۔
مسئله ۶:- که دَ الحمد پوره سورة ئې دَ دُعا په نیت اولوستو یا نورے دعاګانے کومے چه په قرآن شریف کښې راغلی دی دَ دُعا په نیت سره او لولی دَ تلاوت په نیت سره نه نو جائز دی هیڅ ګناه په کښې نشته لکه دا دُعا :- رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ط او یا دا دُعا- رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا دَ آخره پورے کومه چه دَ سورة بقره په آخر کښې لیک ده یا بله څه دُعا چه په قرآن شریف کښې راغلې وی که دُعا په نیت سره ئې لوستل جائز دی۔
مسئله ۷:- که یوه ښځه جینکو ته قرآن شریف وائی نو په داسې حال کښې ئې په ټکو ټکو لوستل جائز دی او چه رواں ئې لولی نو پوره آیات به نه لولی بلکه دَ یو یو یا دوه دوه ذو جملو نه پس به ساه اخلی او پریکړے پریکړے به ئې وائی - په مخه روان آیات به نه وائی۔
مسئله ۸:- کلمه او درود شریف لوستل او دَ خدائے تعالیٰ نوم اخستل استغفار لوستل یا بله یوه وظیفه لوستل لکه لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط لوستل منع نه دی بلکه دا ټول لوستل جائز دی۔
مسئله ۹:- دَ حیض په زمانه کښې مستحب دی چه دَ مانځه په وخت کښې اودس اوکړی په یو ځائے کښې به لږ ساعت کینی الله الله به کوی چه دَ مانځه نه بے عادته نه شی او دَ پاکیدو نه پس ئې دَ مانځه نه زړه نه ویریږی۔
مسئله ۱۰:- په چا غسل واجب شه او لا غسل ئې نه دے کړے چه په دے کښې

ئې حیض شروع شه نو اوس پې غسل واجب نه دے بلکه چه کوم حیض نه پاکه شي نو غسل به او کړي دغه یو غسل ئې کړے دوا ړو د پاره پوره دے -

مسئله ۱۱: - د دعا قنوت لوستل هم دغو خلقو له جائز دي -

اوله ضمیمه دجنت دکالی مسمیٰ په جنتي ملغلره دوېمه حِصّه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دمانځه دفضیلت بیان

الله تعالیٰ فرمائي۔ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنۡهٰی عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَالۡمُنۡکَرِ بے شکه مونځ دبے حیائي او د ګناه نه منع کول کوي- غرض دا دے چه په باقاعده مانځه سره مونځ کونکے د ګناهونو نه منع کیدے شي- اګرچه نورو عبادتو نو هم ډیر برکتونه دي لیکن د مانځه تاثیر او برکت په ټولو کښې زیات دے خو شرط په کښې دا دے چه مونځ د سنتو مطابق ادا کړے شي- د مونځ کونکي په زړه کښې د الله پاک لوئي پیدا شي ظاهر او باطن ئې د سکون او عاجزئ نه ډک وي او کامل مونځ ادا کړي- نو کامل ثواب او برکت به بیا موي د الله تعالیٰ په ټولو عبادتونو کښې محبوب مونځ دے- پس مسلمان له پکار دي چه دا سے عبادت چه د ګناهونو نه منع کوي او د دوزخ نه ئې خلاصوي چه په لازمه طریقه سره ئې اداکوي چرته ئې نه قضا کوي-

(۱) د حضرت امام حسن بصري نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه واٰله وسلم فرمائیلي دي چه چا داسے مونځ او کړه چه دے ئې د بے حیائي د خبرونه منع نه کړو او د ګناهونو نه ئې منع نه کړه نو دغه سړے بغیر د الله پاک نه د لرے کیدو نه په نورڅه کښې زیات نه شه- د دے مانځه په سبب- یعنې ده ته د مانځه په سبب د خدائے پاک نزدیکت او ثواب حاصل نه شه بلکه د الله پاک نه ئې لرے والے زیات شه- او دا سزا ده د دا سے خبرې چه ده د دے غوره عبادت قدر او نه کړه او حق ئې ورله ادا نه کړه پس معلومه شوه چه د مانځه د مقبول کیدو علامه دا ده چه مونځ کونکے به د ګناهونو نه منع شي او که چرته اتفاقاً ئې څه ګناه اوشي نو فوراً به توبه اوباسي-

(۲) د حضرت عبد الله ابن مسعود نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چه بے شکه د هغه مونځ کونکي مونځ قبول نه دے (یعني ثواب ورته نه ملاویږي- اګرچه فرض ترے ساقط شو) چه د مانځه تابعداري نه کوي- او د مونځ د تابعداري نښه دا ده چه مونځ مونځ کونکي له د بے حیائي د کارونو او د ګناه د کارونو نه منع کړي آه- او بل-

(۳) حدیث کښې دي چه یو سړے د حضور صلے الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شه او عرض ئې اوکړه چه فلانے د شپې مونځ کوي بیا چه سحر شي نو غلا کانے کوي نو حضور او فرمائیل چه ډیر زر به ئې مونځ د دغے کار نه منع کړي کوم چه ته ئې بیا نوے او د ګناه نه به واپس

شي راخرجه احمد ابن حبان والبیهقي عن ابي هریرةؓ)

(۴) حضرت عبادة بن صامت روایت کوي چه حضورصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه وخت چه بنده اودس کوي او ښه اودس اوکړي - بیا د مانځه د پاره اودریږي پس په پوره طریقه ئې رکوع کوي او پوره طریقه ئې سجده کوي او پوره پکښې قرآن لولي (یعني ارکان د مانځه پخه ښان ادا کوي نو مونځ وائي چه الله تعالیٰ دِ ستا داسې حفاظت اوکړي لکه تا چه زما اوکړه بیا هغه مونځ آسمان ته ځیږي په داسې حال کښې چه رڼا تې خیژي او د آسمان دروازې ورته بیرته کولې شي (چه بره لاړ شي او قبول شي) او کله چه بنده پخه ښان سره اودس نه کوي او رکوع سجده او قرأت په ښه ښان نه ادا کوي نو هغه مونځ وائي خدائې دِ تا داسې ضائع کړي لکه زه چه دِ ضائع کړم بیا دې آسمان ته ځیژي په داسې حال کښې چه تیاره پرې خوره وي او د آسمان دروازې ورته بند کړې شي (چه قبول نه شي) بیا داسې راټول کړې شي لکه زوړ چیتړه چه پرې کاره شي او او نغښتې شي او د مونځ کونکي مخ له راواچولې شي - (رواه الطبراني في الکبیر)

(۵) د حضرت عبد الله بن مغفلؓ نه روایت دې چه حضورصلی الله علیه واله وسلم فرمائیلي دي په غلو کښې غټ غل هغه دې چه خپل مونځ غلا کوي عرض ورته اوشه چه یارسول اللهؐ مونځ څنګه خپل غلا کوي؟ اوئې فرمایل چه رکوع او سجده ئې پوره نه ادا کوي او په بخیلانو کښې لوئې بخیل هغه دې چه په سلام بخل کوي (رواه الطبراني) غرض دا دې چه د مانځه پشان د آسان او ښکلي عبادت حق نه ادا کول لویه غلا ده چه ګناه ئې ډیر لوئې دې. مسلمانانو له غیرت پکار دې چه د مانځه حق نه ادا کولو ورته خومره ناکاره خطاب شوی دې

(۶) حضرت انس بن مالکؓ نه روایت دې چه حضورصلی الله علیه وسلم باهر تشریف راوړو نو په جمات کښې ئې یو سړې اولیده چه خپله رکوع او سجده ئې پوره نه ادا کوله نو حضورؐ او فرمایل چه د دې سړي مونځ نه شي قبلولې چه خپله رکوع او سجده پوره نه ادا کوي (رواه الطبراني في الاوسط و الصغیر)

(۷) حضرت ابو هریرهؓ - دې د لوئې درجې عالم او لوئې عبادت ګذار صحابي دې په صحابو کښې حضرت عمر بن العاصؓ نه د دوي نه زیات حدیث یاد وُو بل یو صحابيؓ ته د حضرت ابو هریرهؓ نه زیات حدیث یاد نه وُو- د ده نوم عبد الرحمن دې او کنیت ئې ابو هریره دې - په اول حالت کښې دوي ډیر تنګدست وُو تردې چه لوږې به ډیرې تیرې شوي دي - د دوي د اسلام راوړلو قصه ډیره اوږده ده - په اول کښې ئې سره د ضرورت نه د غریبئ په وجه نکاح هم نه وه کړې - بیا پس د وفات د حضورؐ نه د دوي دنیا وي حالت ښه شه او مال ئې ترقي اوکړه او د مدینې منورې حاکم مقرر کړې شه د حاکمئ په حالت کښې به ئې د لرګو (خشاک) پنډ په سر کړه په بازار به تیریده نو

راوانه بهٔ کاوه چه حاکم ته لار اوکړے ریعنې د تیریدو د پاره راته لار را وکړئ) او
کورته چه سره د دومره لوئے عهده بهٔ دانسے معمولي کار کولو چه د لږ عزت سړے
ئے هم د ځان د پاره ذلت گڼړي- دا ځکه شوے چه دا کار خو ماله نوکران او خدمتګاران
هم کولے شي- دا طریقه وه د هغې حضرت چه د حضورؐ نه ئے تعلیم حاصل کړے وه-
لنډ خو چه چا ته څه معمولي عهده حاصله شي نو ځان بیا د اسمان په کنارو کښې وینې
او بیا دعوې د اسلام او د محبت د رسولؐ کوي- لیکن په حقیقت کښې محبت د
رسولؐ په دے کښې دے چه د هغوي د احکامو تعمیل کوي او په هر کار کښې د سنتو
تابعداري کوي چا هیر سنه ویلي دي:-
ترجمه:- هر سړے د لیلیٰ د وصال دعوې کوي لیکن لیلیٰ د دوي د پاره د دے خبرے
اقرار نه کوي - نو د دوي دعوې څنګه صحیح کیدے شي- دغه شان چه څوک د
اللهؐ او د رسولؐ د محبت دعوې کوي او د قران او حدیث نه خلاف عمل کوي
او اللهؐ او رسولؐ د ده د دے خبرے دروغژن والے کوي نو د ده دعوې به څنګه
صحیح شي- په احادیثو کښې صاف ذکر دے چه حق لار هغه ده چه په هغې زهٔ
(یعنې رسول اللهؐ) او زما صحابه دي د دینه دا خبره ښکاره شوه چه کومه خبره د رسولؐ
د طریقے نه خلاف وي هغه ګمراهي ده او په دے عمل کونکے د حضورؐ نا خوښه دے- او
حضرت ابو هریره رضه فرمائي چه ما پرورش موندلے دے په داسے حال کښې چه زهٔ یتیم وم
او هجرت م اوکړه (مدینے ته) په داسے حال کښې چه زهٔ مسکین وم او د غزوان د لور
نوکر وم خوراک به ئے راکاوه او په دے شرط چه په سفر کښې به کله پیدل ځم او کله
سوریږم د هغې د اوښ جلیب به م بیولے وه شعر به م وے- او خشاک به م ورله راوړه
کله چه به ئے پړاؤ اوینوه- پس شکر دے د هغه الله چه دین ئے مضبوط کړه او ابو هریره ئے
امام او پیشوا جوړ کړه- یعنې د دین اسلام په قبلولو ماته دا شرافت حاصل شه چه د امت د
دین امامت ماته حاصل شه نو دائے د خدائے شکر ادا کړه تکبر او فخر ئے اونه کړه- او د خدائے د
نعمت اظهار کول او شکر ئے ادا کول- او څومره درجه چه انسان ته حاصله وي د هغې ظاهرول
ثواب دے- او په اعتبار د فخر او تکبر منع او حرام دي- او حضرت ابو هریرهؓ فرمائي چه
حضور صلے الله علیه واله وسلم ماته اوفرمایل چه ته ما نه د دے غنیمتو نو د مال نه ولے نه
غواړے ما ورته اووے چه زهٔ ستا نه دا غواړم چه ته ما ته علم ازده کړے د هغې علم
نه چه الله تعالیٰ تا ته خودلے دے- نو هغوئ زما د شا نه کمبل را اتول کړه او زما او خپل منځ
کښې ئے خور کړه او ما هغې سپږو ته کتل کوم چه په هغې رولے وے- بیا ئے څه کلمے ماته
(د تبرک د پاره) اوفرمائیلے تر دے چه پوره ئے کړے بیا ئے ماته اوفرمائل چه دا را اتول
کړه او د خپلے سینے سره ئے اونښلوه- حضرت ابو هریرهؓ فرمائي چه د دے دا نتیجه شوه

چه زهٔ داسې شوم چه یو حرف به هم نه هیره ولو دَ هغې علم نه کوم چه به ما نه حضور ﷺ فرمایه (یعنې حافظه مې خه شوه) او حضرت ابو هریره رضه فرمائي چه زهٔ روزانه هزار پیرے الله تعالیٰ ته توبه او استغفار کوم یعنې اَسْتَغْفِرُ اللهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ - یا داسې نور الفاظ به ئې روزانه دولس زره پیرے لوستل او دَ دهٔ سره یو تړے وه چه دوه زره غوټې پکښې وے تر هغې به نه اوده کیده کَشپې ترڅو چه به ئې په هغې دوه زره پیرے سُبْحَانَ اللهِ نه وَو ویلی - دَحضرت عبد الله ابن عمر رضه چه دَلوئې درجې صحابي او عالم وُه او دَ سنتو دَ تابعدارئ ئې دومره شوق وه چه دَ سنتو دَ طریقې تلاش ئې دومره کولو چه دَ خلقو دا یره وه چه هسې نه په دې تلاش کښې لیونے نه شي او حضور ﷺ فرمائلی وُه "ښه سړے دے عبد الله ابن عمر رضه کاش چه دَ تهجد مونځ ئې کولے" نو دَ دینه پس دهٔ دَ تهجد مونځ چرته نه وه پریخودے او دَ شپې به کم اوده کیده - پس دے فرمائي چه اے ابو هریره رضه ته زمونږ نه دَ حضور ﷺ سره ډیر پاتې شوے ئې او زمونږ نه په حدیثو کښې ډیر پوهه ئې - حضرت طفاوي رح فرمائي چه زهٔ شپږ میاشتې دَ ابو هریره میلمه وم نو په صحابوؤ کښې ما دَ ده نه زیات میلمه دوست خوک نه دے لیدلے - او حضرت ابو عثمان نهدي رح فرمائي چه زهٔ اووه ورځې دَ حضرت ابو هریره میلمه وم نو حضرت ابو هریره رضه او دَ دهٔ بي بي او نوکر به وار په وار دَ شپې پاسیدل او مونځ به ئې کولو او بیا به ئې بل پاڅولو - یعنې یو چه به مونځ اوکړو هغه به بل راویښ کړو ما ښځه به اوده اوده او دے به اوده شه - (دا قصې دَ تذکرة الحفاظ بخاري وغیره نه لیکلے شوي دي) نو دَ دے حضرت ابو هریره رضه نه روایت دے چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه که په تاسو که داسې دَ چا ملکیت وے نو هغه به بد ګڼړلو دا خبره چه دا ستون ډ ډ خراب کړے شي نو پس تاسو ولے داسې کار کوئ چه خپل مونځ خرابوئ داسې مونځ چه هغه دَ الله دَ پاره دے پس تاسو خپل مونځ پوره او با قاعده ادا کوئ ځکه چه الله تعالیٰ نه قبلوي مګر کامل مونځ (رواه الطبراني)

(۸) دَ حضرت عبد الله ابن عمر رضه روایت دے چه یو سړے دَ حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شه او تپوس ئې اوکړه چه غوره او افضل په عبادتو نو کښې کوم یو دے؟ (پس دَ ایمان نه) حضور ﷺ اوفرمایل مونځ (فرض) هغه عرض اوکړه بیا - حضور ﷺ اوفرمایل مونځ - هغه عرض اوکړه بیا - حضور ﷺ اوفرمایل مونځ - درې پیرے ئې داسې اوفرمائل - دا تاکید ئې دَ مانځه دَ لوئې په وجه اوفرمایه چه خلق ئې ضائع نه کړي بیا چه خلورمه پیره هغه تپوس اوکړه نو حضور ﷺ اوفرمایل چه جهاد په لارے دَ خدائے کښې - یعنې دَ مانځه نه پس دَ کافرا نو سره دَ الله پاک دَ دین دَ غالب کیدو دَ پاره جنګ کول (نه دَ مال او دولت او شهرت حاصلولو دَ پاره) اګر چه مال وغیره ورته هم

حاصل شي خو نیت داسې نه دې په کار. (نو معلومه شوه چه د نورو عملونو غوره والے
د فرض مانځه نه پس دے) بیا هغې سړي عرض اوکړو چه ځما مور و پلار ژوندي دي د
هغوی په باره کښې څه ارشاد دے۔ حضور اوفرمائیل چه زه تا ته د مور و پلار سره
د ښېګړې کولو حکم کوم (یعنې نیکي ورسره کوه هغوی ته تکلیف رسول حرام دي
د مور و پلار دومره حق فرض او ضروري دے چه په کوم کار کښې هغوی ته تکلیف وي
هغه به نه کوے په دې شرط چه هغه داسې کار نه وي چه د مور و پلار د حق نه د
هغې حق زیات وي او د خدائے پاک نافرماني په کښې نه کیږي او د تکلیف نه مراد هغه
تکلیف دے چه شریعت ورته تکلیف ویلې وي۔ او د دینه زیات حق ئې اداکول مستحب دي
ضروري نه دي۔ ښه پوهه شه چه په دې مسئله کښې عام خلق ډیره غلطي کوي او دا
په تفصیل سره په "رسالة الدين عن حقوق الوالدين" کښې ذکر شوي دي. دې سړي عرض
اوکړو چه قسم دے په هغه ذات چه ته ئې برحق نبي رالیږلے ئې زه به ضرور جهاد کوم
او خامخا به دا دواړه (مور و پلار) پرېږدم حضور اوفرمائیل چه ته ځه پوهه ئې
(یعنې په جهاد او د مور و پلار په خدمت کښې چه د کومه خوښه وي هغه کوه) د دې حدیث نه
دا معلومه شوه چه د جهاد درجه د مور و پلار سره د نیکئ کولو نه زیاته ده او په بعضې
حدیثونو کښې ئې پس د فرض مانځه نه د مور و پلار د حق اداکولو حکم کړے دے۔ او بیا د جهاد
نو جواب ئې دا دے چه دلته د جهاد نه د مور و پلار حق ځکه وړاندې راغلے دے چه حقوق د
مور و پلار د بندګانو حقوق دي چه بغیر د بندګانو د معافئ نه نه معاف کیږي او جهاد که
یو بنده اونه کړي او وخت ئې تیر شي نو په توبه سره دا ګناه معاف کیږي او د بندګانو
حقوق په توبه نه معاف کیږي۔ بل جواب ئې دا دے چه د حضور په خدمت کښې به مختلف
قسم تپوس کونکي حاضریدل او دوئ به د هر سړي د حالت موافق جواب ورکولو (رواه احمد)
(۹) حضرت ابو ایوب انصاري رض روایت کوي چه حضور صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلي دي
چه هر یو مونځ د مونځ کونکي وړمبي ګناهونه معاف کوي۔ (رواه احمد) مطلب دا دے
چه د یو مانځه نه د بل مانځه پورې چه کوم واړه ګناهونه وي هغه په دې مانځه
اداکولو سره معاف کیږي۔

(۱۰) د حضرت ابو امامه باهلي رض نه روایت دے چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه
یو فرض مونځ د بل فرض مونځ سره ملاؤ شي نو ختموي هغه ګناهونه چه د دوئ ترمینځه
شوي وي (یعنې د هغې بل مانځه نه د دې مانځه پورې چه کوم صغیره ګناهونه شوي
وي هغه ختم کړي) او د جمعې مونځ ختموي هغه ګناهونه چه د تیرې جمعې د مانځه
نه د دې جمعې د مانځه پورې شوي وي (او په بعضې حدیثونو کښې ورسره د دریو ورځو
د نورو ګناهونو د معاف کیدو هم ذکر دے) او روژه د رمضان ختموي هغه

ګناهونه چه د تیرے روژے نه تر دے روژے پورے شوی وی - او چه ختموی هغه ګناهونه کوم چه د تیر حج نه د دے حج د ادا کولو پورے شوی وی - بیا راوی اووئے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه نه دی جائز یو مسلمانے ښځے له چه حج کوی مګر سره د خاوند نه یا د محرم نه (رواه الطبرانی) که څوک اووائی چه د چا ګناه صغیره نه وی نو هغه ته به څه فضیلت حاصل شی بل دا چه په دے نورو مونځونو خوا اخوا دیځو ګناهونه معاف شو نو جمعے ته څه پاتے شو او س خو د ده د سره صغیره ګناهونه نشته چه معاف شی - نو جواب دے دا دے چه په داسے حال کښے به د ده درجے بُلند یږی -

(۱۱) د حضرت ابو امامةؓ نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د پنځه وخته مانځه داسے مثال دے لکه د خوږو اوبو نهر چه د چا د کور په دروازه کښے بهیږی او دے په کښے پنځه پیرے روزانه غسل کوی نو په ده به څه خیرے پاتے شی - (الطبرانی)

(۱۲) د حضرت ابو هیرهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بے شکه د قیامت په ورځ به د بنده سره د ټولو نه اول د مانځه حساب کیږی نو که چه دے کښے دے ټیک شه نو ټول عملونه به ئے ټیک شی (ځکه چه د مانځه د برکته به د ده ټول عملونه برابروی) او که په مانځه کښے خراب شه نو ټول عملونه به ئے خراب شی بیا به حق تعالیٰ او فرمائی فرښتو ته چه ځما د دے بنده په عملنامه کښے نفلونه اوګورئے نو که نفلونه ئے وی نو د هغے فرضو مونځو نو نقصان به پے پوره کړی - او د باقی فرضو به هم دغه شان حساب اخستے شی او که کمے په کښے وی نو په نفلو نو به پوره کیږی (لکه فرض روژه په نفل روژه فرض زکوٰة په نفلی صدقه وغیره) د الله تعالیٰ په فضل او مهربانئ سره - (چه فرض ورله په نفلو پوره کوی) ورنه پکار خو دا وه چه فرض په نفلونه پوره کیدے او چه پوره نه شی نو عذاب به ورکړے شی سبحان الله څومره فضل او مهربانی ده د الله تعا او چه د چا فرض او نفل نه وی نو عذاب به ورکولے شی مګر هغه چه الله پے رحم اوکړی (ابن عساکر)

(۱۳) د حضرت ابو هریره رضؓ نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی مونځ په هغے ټولو عبادتونو کښے غوره دے کوم چه الله پاک پخپلو بندګانو مقرر کړی دی پس څوک چه د زیاتولو طاقت لری نو زیات دے کړی یعنی ډیر دے کوی چه ډیر ثواب ئے اوشی -

(۱۴) د حضرت عبادة بن صامتؓ نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ما ته د الله پاک د طرفه جبرائیلؑ راغلو او اوئے وے اے محمدؐ الله پاک فرمائی چه ما ستا په امت پنځه مونځونه فرض کړی دی چا چه پوره اوکړه د اودس او د وختونو او د رکوع او سجدے سره نو د دے مونځو نو په سبب د ده دا ذمه شوه چه ده به ئے داخل کړم

په جنت کښے او څوک چه راغے مال به داسے حال کښے چه کمے ئے کړے دے نو د ده هیڅ ذمه ما سره نشته که غواړم او به ئے بخښم او که غواړم عذاب به ورکړم (کنز العمال)

(۱۵) په حدیث کښے دی چا چه بښه اودس اوکړه او بیائے داسے مونځ اوکړه چه نه هیر شه او نه سهوه شه نو الله پاک به دده تیر گناهونه اوبخښی (رواه احمد) دوه رکعته مونځ ئے بښه په اطمینان او حضور سره اداکړه په غفلت سره نه -

(۱۶) په حدیث شریف کښے دی چه د سړی (اوښځے) مونځ نورانی کوی پس تاسو په مانځه حیل زړه روښنا کړئ

(۱۷) حدیث کښے دی چه نه دی فرض کړی الله پاک څه شی لره زیات لوئے مګر توحید (خدائے یو منل) او مانځه لره - او که د دینه بل څه شے غوره وے نو فرض کړے به ئے وه په خپلو فرښتو - څوک د دوی نه رکوع کوی او څوک سجده کوی - یعنی فرښتے د الله پاک مقرب بندګان دی او د عبادت سره ئے زیات تعلق دے نو که د مانځه سوا بل عبادت غوره وے نو په هغوی به فرض شوے وه او دا خبره هم د دے حدیث نه معلومه شوه چه څنګه چه په مجموعی شکل سره په مونږ فرض دے دغه سے په فرښتو فرض نه دے بلکه بعضے اشیاء ئے په فرښتو فرض دی - نو مونږ ته څومره خوش قسمته یو چه هغه غوره اجزاء د مانځه چه په فرښتو تقسیم دی په مجموعی شکل سره په مونږ پیر زو شویدی نو د دے نعمت ډیر قدر پکار دے -

(۱۸) حضرت انس رض د حضور صلے الله علیه وسلم نه روایت کوی چه په خپل مانځه کښے مرګ یاد وئی ځکه چه کوم سړے (او ښځه) په خپل مانځه کښے مرګ یادوی نو دے به مونځ په غوره طریقه سره کوی او داسے مونځ کوے چه بل څۀ ته مو په کښے خیال نه وی یعنی د مانځه او داسے کار مه کوئ چه بیا پرے ستوماننه ئے - (الدیلمی عن انس)

(۱۹) په حدیث کښے دی غوره مونځ هغه دے چه قیام په کښے اوږد وی (رواه الطحاوی)

(۲۰) په حدیث کښے دی چه د هغه مونځ کامل نه دے چه په خپل مونځ کښے عاجزی نه کوی - د خشوع لفظ کوم چه په حدیث کښے دے ترجمه ئے عاجزی شوے ده اصل معنے ئے سکون دے لیکن بغیر د عاجزئ نه په سکون سره مونځ نه شی حاصلیدے نو ځکه ئے په عاجزئ سره ترجمه شوے ده - او سکون په غیر د عاجزئ نه ځکه نه حاصلیږی چه بے پروا سړے په مانځه کښے کینی پاڅی نو هغه خامخا خواډیځوا کوری -

(۲۱) د حضرت علی نه په صحیح سند سره روایت دے چه آخری خبره د نبی صلے الله علیه وسلم دا وه چه اهتمام ساتئ د مانځه او د خدائے نه یره کوئ په باره د وینځو او غلامانو کښے (کنز العمال) دا دواړه خبرے دومره ضروری وے چه حضور صلے الله علیه وسلم ئے په آخری وخت کښے وصیت فرمایلے دے - چه خلق په کښے کوتاهی شکوی - د دغه شان وینځے غلامان (ښځے او بچی) خلق سپک ګنړی او تکلیف ورله ورکوی نو مسلمانانو له پکار دی چه اهتمام ئے کوی (خیال ئے ساتی) - د الله پاک د بعضے نیکو

بندګانو دَ مانځه سره دومره شوق وه چه دَ حضرت منصور بن زادان تابعي په باره کښې ليکي چه دَ عمر ختوښه ترما ذيګره پورې به ئې برابر مونځ کولو۔ ښکاره خبره ده چه فرض خو به دې کښې صرف دوه مونځونه وو۔ او دا نور به ئې نفل کول۔ بيا به ئې دَ ماښګرونه دَ ماښامه پورې سبحان الله وئې بيا به ئې دَ ماښام مونځ اوکړ۔ او دَ هغه داحالت وه چه کله به ورته اوويلې شو چه ملک الموت په دروازه دې نو ده به پخپلو دينی کارونو کښې څه شي نه شو زياتولې ځکه چه پخپل عمل کښې زياتې هغه څوک کولې شي چه هغه دَ مرګ نه غافله وي او تول وخت دَ خدائے په يادو کښې نه صرف کوي نو چه دَ مرګ واوري نو په خپل عمل کښې ترقي اوکړي۔ او څوک چه هر وخت دَ خدائے په يادو کښې مشغول وي او يو وخت ئې خالي نه وي نو هغه به څه ترقي اوکړي پخپل عمل کښې۔ او دې ډير لوئے عالم وه او لويو لويو عالمانو ترې احاديث ازده کړي دی۔ او حضرت منصور بن المعتمر هم تابعي او لوئے عالم او پرهيزګار دے۔ دَ ده په باره کښې ئې ليکلي دي چه څلويښت کاله دَ هغه داحالت وه چه دَ ورځې به روژه وه او دَ شپې به ئې عبادت کولو او ټوله شپه به ئې ژړل او چه چا به په مانځه او ليدلو دا سې به ښکاريده چه اوس مړکيږي او چه سحر به شه نو دواړه سترګې به ئې تورې کړې او شونډې به ئې غوړې کړې او سر به ئې غوړ کړه۔ نو مور به ئې ورته وې چه څوک دې وژلې دې چه داسې ځان جوړه وې (دَ شپې چه دِ په ژړا او عبادت رنګ خراب شوې دې هغه بدلوې) نو ده به عرض اوکړه چه زه څهٔ پيژنم هغه شي چه ځما نفس کړې دې (يعنی ځما نفس غواړي چه ځما دې شهرت اوشي او په خلقو کښې دَ ځما دَ عبادت چرچا وي خلق مې بزرګ اوګنړي او دَ شکل نه مې عبادت ګذاري معلوميږي نو ځکه خپل شکل بدلوم) او په ژړا ژړا به ئې سترګې سپينې شوې۔ دَ عراق امير قاضي کولو نو ده انکار اوکړه نو بيړئ ئې ورته راچولې او بيائې پريخودو۔ او بعضو ويلي دي چه دوه مياشتې ئې په مجبورئ قاضی توب اوکړه (تذکرة الحفاظ) دوستانو! فکر اوکړئ چه دَ دې بزرګانو سره دَ عبادت څومره شوق وه او دَ دنيا نه ئې څومره نفرت وه چه دَ حکومت عهده به ورته بغير دَ کوشش نه ملاويده او ډيره عزت او آمدني په کښې وه ليکن هغه ئې هيڅ پرواه نه کوله او بيړئ ئې غوره کوله۔ مسلمانانو لره داسې پکار دي چه په قدر دَ ضرورت دَ خوراک سکاک بند وبست کوي او باقي وخت دَ خدائے په يادو کښې صرف کوي۔ او اخرت لره په دنيا ترجيح ورکوي۔

(۲۲) حديث کښې دي چا چه په شپه او ورځ کښې دولس[۱۲] رکعته مونځ دَ فرضونه علاوه اوکړه (دَ دينه سنت مؤکده مراد دي۔ دوه دَ سحر څلور[۴] دَ ماسپښين دَ فرضونه اول او دوه ورستو او

دوه د ماښام د وه د ما سخښتن په فرضو پسې) نو خدائے پاک به ورله په جنت کښې کور جوړ کړي (جامع صغير)
(۲۳) حديث کښې دي چا چه د ماښام او ما سخښتن په مينځ کښې شپږ رکعته او کړه داسې چه په مينځ کښې ئے څه ناکاره خبره او نه کړه نو د دولسو کالو د نفل عبادت برابر ثواب به ئے اوشي (جامع صغير) يعني د دې شپږو رکعتو نو ثواب د دولسو کالو نفلي عبادت هومره دے۔
(۲۴) حديث کښې دي چا چه دوه رکعته مونځ په داسې خالي ځائے کښې او کړه چه هلته د ده او د خدائے پاک او د هغه ملائکو نه چه هرو خت د ده سره وي نه سوا نور څوک نه وي نو د ده د پاره به د دوزخ نه نجات او ليکلے شي۔ (امام سيوطيؒ) يعني د ګناه نه د بچ کيدو توفيق به ئے اوشي چه د جهنم نه په خلاص شي مګر لولي دے چه دا برکت حاصل شي۔
(۲۵) حديث کښې دي چا چه د ځابنت دولس رکعته مونځ او کړه په جنت کښې به ورله د سرو زرو محل تيار کړے شي (جامع صغير)
(۲۶) په حديث کښې دي چا چه څلور رکعته د ځابنت او څلور رکعته اول د ما سخښين نه (سوا د سنتو مؤکده وو نه) او کړه نو د ده د پاره به په جنت کښې يو کور جوړ کړے شي (طبراني)
(۲۷) حديث کښې دي څوک چه د ماښام او ما سخښتن په مينځ کښې شل رکعته (نفل) اوکړي الله تعالیٰ به ورله په جنت کښې يو مکان جوړ کړي (امام سيوطي)
(۲۸) حديث کښې دي چا چه د ماز يګر نه اول څلور رکعته نفل او کړه حرام به کړي الله پاک دے په دوزخ باندې (طبراني عن ابن عمرؓ) مطلب دا دے چه د دے ما نځه په هميشه کولو به د ده د نيکۍ طرفته مينه او د بدۍ نه نفرت پيدا شي چه د دے په برکت به ورته د دوزخ نه خلاصے ملاو شي۔ ليکن دا ضروري ده چه عبادت دومره کول پکار دي چه هميشه ئے نساته کولے شي اګر چه ډير لږ وي۔ اګر کس په څه مجبورۍ سره تے کله پاتے شي نو دا بله خبره ده۔ نو چه نفل مونځو نه کله شروع کړي بيا ئے هميشه کوي شروع کړے عمل بيا پريښودل ډيره ناکاره خبره ده۔ او د نه شروع کولو نه ئے پريښودل ډير بد دي۔
(۲۹) حديث کښې رحم دې او کړي الله پاک په هغه سړي (او بنځه) چه د ماز يګر نه اول څلور رکعته مونځ او کړي (امام سيوطيؒ) مسلمانانو رونړو او خوينډو! په دے حديث قربان شئ او کورئ په لږ محنت څومره درجه ملاويږي چه د حضور ﷺ د دعا برکت او د ګناهونو نه د بچ کيدو توفيق۔ د دے چه څومره قدر دا وکړے شي او څومره چه د دے عبادت په مقرر کولو د الله تعالیٰ شکر ادا کړے شي کم دے۔ د حضور ﷺ دعا به چا خوش نصيب ته ملاويږي سحر او ماښام څمونږ عملونه حضور (صلے الله عليه وسلم) ته پيش کيږي څوک چه نيکي کوي او د هغه په خودلو شوو طريقو عمل کوي هغه خوشحاله کيږي او د هغه په خوشحاله کولو او رضا کولو سره د دواړو جهانو رحمت او آرام حاصليږي۔ څه ښه ئے ويلي دي ۔

فان من جودک الدنیا وضرتها ومن علومک علم اللوح والقلم

یعنی ستا په سخاوت او بخشش کښې دنیا او په مقابله کښې ئې اخرت موجود دے او ستا په علومو کښې د لوح محفوظ او قلم علم موجود دے - غرض دا دے چه ستا په توجه سره د دنیا او اخرت نعمتونه حاصلیدے شی - او ستا په تعلیم سره د لوح محفوظ علم حاصلیدے شی - او د دے علم حاصلید و دوه صورتونه دی یو دا چه ستا سو په فرمائیلو احادیثو کښې د غیبو رازونه موجود دی او د الله تعٰ خاصو بندګانو ته حاصلیږی - او دویم دا چه د دے غیبی رازونو نه علاوه د الله پاک عنایت او ستا سو د احادیثو د لوستو برکت او په دے د عمل کولو په سبب نورغیبی رازونه هم د حق په طالبانو ښکاره کیږی - خو پوره شه عمل پکار دے فقط په لوستو کښې دومره فائده نشته -

(۳۰) حدیث کښې دی چه د شپے مونځ یعنی تهجد په ځان باندے لازم کړه اګرچه یو رکعت وی (امام سیوطیؒ) مطلب دا دے چه د تهجد مونځ که ډیر لږ وی خو ضرور ئې کوه ځکه چه د دے ثواب ډیر زیات دے اګر که فرض نه دے او دا غرض نه دے چه یو رکعت کوه ځکه چه یو رکعت مونځ د سره جائز نه دے کم نه کم دوه رکعته به کوی -

(۳۱) حدیث کښې دی چه د شپے او ږدیدل (یعنی تهجد) په ځان لازم کړه ځکه چه دا عادت د هغه نیکو دے کوم چه ستا سو نه مخکښې وو او الله ته نزدیکت دے او د ګناه نه د بندید و ذریعه ده - او ګناهونه ختموی - او مرض د جسم نه لرے کوی - (السیوطی)

فکر او کړئ څومره نفع ده چه ثواب هم دے د ګناهونو نه منع کونکے دے او د جسمانی مرضونو علاج دے او د باطنی امراضو خو شفا ده - په حدیث شریف کښې دی چه د خدائے ذکر د زړه د بیمارو شفا ده - او مونځ د اعلیٰ درجے ذکر دے او که ان هم نه دے د تهجد په وخت کښې خاص طور دعا قبلیږی ضرور ئې کول پکار دی - امام ابو حنیفهؒ خلویښت کاله د ماسختن په اودسه د سحر مونځ کړے دے تول شپه به ئې د خدائے عبادت کولو -

(۳۲) حدیث کښې دی چه حضور صلے الله علیه وسلم د الله پاک نه روایت کوی چه حق تعالیٰ فرمائی اے د ادم اولاده ته څلور رکعته (نفل) زما د پاره او کړه په اول د ورځ کښې کښې زه به ستا د پاره پوره شم د ټولے ورځے د پاره (رواه الترمذی) دا د اشراق د مانځه فضیلت دے او د دے د ادا کولو طریقه مخکښې ذکر شوے ده - او کوره ثواب هم ملا ویږی او الله تعالیٰ ئې د ټولو کارونو د پوره کو ذمه هم اخلی - خلق اخوا دیخوا سر وهلی کړئ او د مخلوق خوشامندے کوی کاش چه دوی الله طرفته توجه او کړی او د هغه خوږلے وظیفے او مونځونه ادا کړی نو د دنیا کارونه به ئې هم برابر شی او ثواب هم او د مخلوق د خوشامند و نه به هم خلاص شی - یو بزرګ فرمائی چه د هر قوم یو پیشه وی او زما پیشه تقویٰ او توکل دے (کذا فی ظلال لهیل) تقویٰ پرهیزګاری او د الله د حکم پوره کولو

وائی۔ او که توکل معنی دا ده په خدائے پاک باندې بهروسه کول او د دے پوره ذکر به د او دے حصے په ضمیمه کښے راشی انشاء الله تعالیٰ۔

مسئلے

۱۔ د بنی آدم ویښته چه وېستلی شی نو ویښو شئے د ځمکې غوړوالی پوچه پلیت دی۔ چه ورپورے وی۔ (شامی)

۲:۔ د اختر د نوموځو نه چه کوم ځائے واجب دی هلته د اختر د مانځه نه مخکښے او د سحر د مانځه نه پس څه نفل وغیره مونځ سره او بخولو جائز نه دے مکروه دی (بحرالرائق)

۳:۔ د جنابت په حالت کښے نوکونه پریکول د نامه لاندې یا د بدن ځائے نه ویښته لرے کول مکروه دی (عالمگیری مصطفائی ج ۶ ص ۲۳۸)

۴:۔ نابالغو بچو ته د مانځه اداکولو ثواب ملاویږی او څوک چه ورته تعلیم ورکوی هغه ته د تعلیم ورکولو ثواب ملاویږی۔

۵:۔ په کومو وختونو کښے چه مونځ کول مکروه دی په هغې وختونو کښے د قرآن تلاوت مکروه نه دے۔ یا د تلاوت په ځائے درود شریف یا ذکر کوی۔ (صغیری مجتبائی ص ۲۵۹)

۶:۔ که د مانځه په اول رکعت کښے د سورت یوه حصه اولولی او په دوېم رکعت کښے ئے باقی حصه لولی نو بے کراهته جائز دی دغه شان که په اول رکعت د یو سورة درمیانی حصه یا ابتدائی حصه اولولی بیا په دوېم رکعت کښے د بل سورت درمیانی حصه یا ابتدائی حصه یا ټول پوره سورة لولی نو بے کراهته جائز دی (صغیری ص ۲۵۶) مګر د اعادت جوړه ول غوره نه دی۔ په هر رکعت کښے جدا سورت لوستل غوره دی۔

۷:۔ په تراویح کښے تے یو آیات یا سورة د غلطئ په وجه پاتے شه او مخکښے تے شروع شه او بیا ورته یاد شو چه فلانے آیات یا سورت را نه پاتے شوے دے نو پکار دی چه د هغې نه بیا شروع اوکړی او کوم چه ئے لوستے دے هغه دے ورسره دوباره او لولی چه قرآن په ترتیب سره ختم شی۔ (عالمگیری مصطفائی ج ۱ ص ۷) او د دلے کول مستحب دی نو که یو سړی ته د ډیرو لوستو نه پس یاد شو چه فلانے ځائے پاتے شوے دے۔ نو صرف هغه پاتے ئے اولوستو او بیا ئے د هغه ځپل رسیدلی ځائے نه شروع اوکړه نو هم جائز دی۔

۸:۔ د مرګ په وخت کښے په تندی خوله راتلل او د سترګو ونا او به بهیدل او د پوزے سپیږے آرتیدل د ښه مرګ علامه ده۔ او فقط په او چولی خوله راتلل هم د ښه مرګ علامه ده (تذکرة الموتیٰ والقبور از جامع ترمذی۔ مؤلفه قاضی ثناء الله پانی پتی رح)

۹:۔ کالارے ځینې او ناپاکے او به معاف دی په دے شرط چه د پلیتی اثر په کښے ښکاره نه معلومیږی (یعنی دغه چه په چا اولږی نو معاف دی) (مراقی الفلاح)

۱۰:۔ مستعمل او به چه چاپے اودس یا غسل د جنابت کړے وی او دیا پے با اودسه سړی

دَ ثواب دَ پاره دوباره اودس کړے وی یا پے چا بغیر جنابت نه غسل کړے وی دَ ثواب دَ پاره نو په داسے اوبو اودس او غسل جائز نه دے۔ او دغه اوبه دے دَ خوراک سکاک دَ پاره نه استعمالوی مکروه دی (شامی) خو دا هله چه دَ اودس کونکی یا غسل کونکی په بدن حقیقی پلیتی نه وی لږیدلے او که حقیقی پلیتی وه پے نو بیا دغه مستعملے اوبه پلیتے دی دَ خوراک سکاک په څیزونو کښے ئے بیا استعمالول حرام دی۔ (تمامه شوه اوله ضمیمه دَ جنت دَ کالی دَ دویمے حصّے)

نوے اضافه دَ ژوندا او دَ مړګ شرعی دستور العمل

دَ مړګ شرعی دستور العمل

دساه ختو په وخت کښے ورته سورة یٰس لولی او قبلے ته ئے په بښی ډډه کړی خو چه تکلیف ورته نه وی او ستونی ستغ ئے څملول هم جائز دی چه خپے ئے قبلے ته وی۔ او ناست خلق دِ ورته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ په لړا وچت آواز سره لولی خو هغه ته دے دَ کلمے دیلو نه وائی۔ چه ساه ئے لاړه شی نو ژر نه دِ ورله او تری سترګے دِ ورله بندے کړی او دَ دواړو خپو ګوتے دِ ورله یوځائے او تړی او لاسونه دِ ورله دَ څوړو ته برابر کړی۔ او په دفن کولو کښے دِ جِلدی تلوار کوی دَ قبرا و غسل دَ پاره ورله دا سامان تیار ول پکار دی دُوه منګی یوه لوټه دغسل تخته۔ لوبان یوه تولهٔ۔ مالوچ یوه چټاکئ۔ کچلِ خیر دیوه چټاکئ۔ کافور شپږ ماشے۔ تخته یا لرګی دَ پاره دَ قبرا یخو دو دَ قبر په مقدار۔ بَروزه کفن چه دَ سړی دَ پاره داسے دے۔ دَ مړی دَ سر او خپو سره به څهٔ مزے وغیره میچ کړی بیا به یوه کپړه دَ دغه مزی سره په اوږدوالی او پلنو میچ کړی۔ که پلنوالے دَ کپړے کم وه چه دَ مړده نه نه تاویده نو بله کپړه به ورسره او ګنډی۔ دیته لفافه وائی بیا به بله کپړه په دغه قدر څیرے کړی خو دَ لفافے نه لږه څلور ګوتے کمه په اوږدو دیته چادر وائی۔ بیا به ورله قمیص په دَغه انداز، چه دَ اوږدو نه تر خپو پورے او پړه وی او لاندے باندے اوږسی په منځ کښے به ورله غاړه دَ سَرُ دَ ننو یستو دَ پاره څیرے کړی۔ او دَ ښځے دَ پاره دَ دینه علاوه نورے دوه کپړے دی یو سینه بند او دویم سربند۔ سینه بند دَ تر خولو نه دَ ځنګونا نو پورے او سربند دومره چه سر او ویښتو پورے اوږسی او په هغی شی په کښے۔ دا کفن شو۔ او دا اللّٰه ئے متعلقات دی۔ یوه کپړه چه دَ غسل په وخت کښے دَ مُرده بدن دَ نامه نه تر ځنګونانو پورے پټ کړی۔ دوه دستانے چه لمبونکے ئے په لاسو کړی۔ دَ ښځے دَ جنازے دَ پاره په وخت کښے په کټ دَ خوره ولو دَ پاره دَ پاسه په مرده یو غټ څادر۔

تنبیه:۔ دَ دے ټولو اشیاؤ بند وبست به دَ کفن سره سره کوی۔

اوس د کفن نقشه په يو ځائې اوګوره -

شمار	نوم د کپړې	اوږدوالې	پلنوالې	پيمائش	کيفيت
۱	څادر	پاؤ باندې دوه ګزه	يو ګز شه تر دوه ګزه	د سر نه د ښپو پورې	خوارلس ټنګلس يا شپاړس ګره پلنه کپړه يوه نيمه تهه
۲	لفافه	〃	〃	د څادر نه څلور ګره اوږد	〃 ٥ 〃 〃
۳	قميص	دوه ګزه ترڅه نيم	يو ګز	د اوږو نه ترپنډو پورې	لاندې باندې دوه کپړې به ئې کړی او مينځ کښې به ورله د سر د پاره غاړه څيرې کړی -
۴	سينه بند	دوه ګزه	يو ګز	د ترخو لاندې نه تر زنګونانو	سينه به ورله پې او ترې يعنې تاؤ به ئې کړی تې
۵	سربند	يو نيم ګز	دولس ګره	کوم ځائې نه چه اوږدسی	د سر ويښته به دوه حصې کړی او ښي او کينړ طرف ته به ئې به کښې او نغاړی او کيدی به ئې -

اندازه ګا د سړی د کفن د پاره چه ګز سوروی لس ګزه کپړه او د ښځې د پاره سره د دولئ د څادر نه يوويشت نيم ګزه - دستانې او د غسل کپړه د دينه علاوه دی -

د غسل او کفن کولو طريقه

په يو منګی کښې به دومره پانړې د بيرې واچوی او جوش به ورکړی او بيا به ئې په دوه منګو کښې کړی او شمالاً جنوباً به يو څو غل او کتی رخوکه نزدې نالئ د او بو بهيدلو وه نو بيا دې ته ضرورت نشته) او د غسل تخته د د هغې په غاړه کيدی د لوبانو لوګی دې درې پيرې ورکړی او مرده دې په څملوی جامې دې تې اوباسی او د غسل کپړه دې ورله په ستر خوره کړی په کپړه د ورله رو دولاس راکاږدی که پليتي تې او وته او کنه خو په درې لوټو د ورله استنجا اوکړی بيا دې ورله په اوبو استنجا اوکړی خو دستانې د پلاس کړی بيا د ما لوچو شوړه د په اوبو لمده کړی په شونډو او غاښونو د ورله را کاږدی درې پيرې نوې شوړه - او دغه شان د درې پيرې په پوزه او غوږونو کښې راکاږدی بيا به ورله په خوله پوزه او غوږ بدو نو کښې مالوچ کيدی چه اوبه ورته لاړې نشی بيا د ورله کپړه او سر د صابون يا ګلِ خيرو په اوبو او وينځي بيا دې ورله اودس اوکړی اول مخ بيا دواړه لاسونه ترڅنګلو بيا د سر مسح بيا ښپې د ورله او وينځی بيا د ورله په ټول بدن اوبه اوبهوی بيا ئې په کينړه د ډډه څملوی او ښي د ډډې اوبهوی بيا د په ښئ د ډډه څملوی او ښي د ډډې اوبهوی بيا دې مړې لږ راولاړه کړی چه کينو لوته نزدې شی په خيټه د ورله رو دولاس او وحی که پليتي تې او وته هغه دې پاکه کړی غسل د بيانه ور کوی اوبه نه دې وُرله صاف کړی - بيا دې په کټ کفن داسې خور کړی چه لاندې لفافه بيا د پاسه څادر بيا د قميص لاندې حصه او پاسنۍ حصّه دې غونډه سرته کيدی بيا دې په مړې څملوی د قميص په غاړه کښې دې ورله سر اوباسی او د پاسنه د ډډې خور کړی - او کافور دې ورله په تندی

پوزه دواړه وورغو و دواړه ونګونانو او دواړه وخپو او سرا وګیره باندې او دوره وی بیا دې اول دځادر ګخه ډډه بیا بنئ ډډه را اونغاړی او بیا دپاسه دغه شان لفافه. اوپه تړی او م تار دِ ورله کفن سرا وخپو ته او تړی د بنځې د سینې نه به سینه بند تاوکړی او د سو بند ذکر مخکښې شوے دے او بنځه په دې ولئ پښان جنازه کښے وړی -

تنبیه :- بعضې کپړے خلقو د کفن سره ضروری ګنړلی دی حالانکه دغه د سنت کفن نه باهر دی د مړی د ترکے نه ئې اغستل جائز نه دی - مثلاً جائے نماز - پټکے - چه مړے په قبر ته کوزه وی په کټ لاندے د غوړه ولو د پاره پچادر - غټ څادر په کټ د پاسه د غوړه ولو چادر د ومره چه کټ پټوی دا ټول د کفن نه خارج دی دا کار ونه د نورو کپړو نه هم پوره کیدے شی که د کفن په رنګ نه وی خیر دے هر څه کپړه چه وی خو چه په کټ جوړیدے شی پوره ده - او دغه شان د جائماز هم خاص ضرورت نشته -

مسئله :- د کفن یا د غسل په سامان کښے که یکور کښے څه شے موجود وی نو اغستلو ته ضرورت نشته

مسئله :- د کفن د پاره داسے کپړه یکار ده کومه چه د مړی د عام استعمال وی تکلفاتو ته هیڅ ضرورت نشته -

مسئله :- کوم بچے چه د پیدا کیدو په وخت کښے یے کړ ژوند څه نښے ښکاره شی غسل کفن مونځ او نوم ایخودل ورله ضروری دی - او چه مړ وی صرف په یوه کپړه کښے ئے انغاړی غسل دے ورکړی مونځ یے نشته -

په قبر کښے مړے داسے څملول یکار دی چه په بنئ ډډه قبلې ته مخامخ راشی او د کفن غوټے د پرانزی - خاورے د پې واړه وی - او د سلفو صالحینو په طریقه دے د ثواب رسولو د پاره کار کوی چه د څه رسم قید یا د ورځے تخصیص په کښے نه وی بلکه د خپل طاقت موافق دے په پټه د مسکینانو مدد کوی او پخپله که پسے ختم د قرآن کولے شی نو غوره ده او په خلقو باندې ختمونه په پیسو کول دا مروج اسقاط و نه ما بنا مونه جمع وغیره ټول رواج دی په شریعت کښے د دے هیڅ دلیل نشته) -

تصحیح متعلقه مسئله حصه دوم دجنت کالے مندرجه ص ۱۲۷

د ابو المظفر مولانا سعید احمد صاحب مفتی مدرسه مظاهر العلوم سهارنپور

دا مسئله د کتابونو د فقه د روایتونو نه خلاف ده - د دے متعلق دا معلومول غواړم چه دا د کوم ځائے نه نقل شوے ده د فقه عبارات خو داسے دی ملاحظه ئے کړے -

فی البدائع وان لم یکن معهن ذلک فانهن لا یغسلنه سواء کن ذوات رحم محرم اولا لان المحرم فی حکم

النظرالی العورة والاجنبیة سواء فکما ان لا یغسله الاجنبیة فکذا ذوات محارمه ولکن تیممنه ص۳۵ ج۱"
وفی العالمگیریة ص۱ ج۱ والاصل فیه ان کل من یحل له وطئها لوکان حیا بالنکاح یحل لها ان یغسله والا فلا اه - ومثله فی نورالایضاح" دامضمون دحضورا قدس پخدمت کښے تها نه بهون ته اولیکلے شه - او دالاندې جواب ئے دمولانا ظفراحمد صاحب په قلم لیکلے شوے ملاؤ شه -

جواب دجانب دمولانا ظفراحمد صاحب تهانوی - د فقه په تماموکتابونو کښے تقریبا هم دغه دی کوم چه تاسو نقل کړی دی نو په دے لحاظ سره واقعی دجنت دکالی دا مسئله ختم محذوشه ده لیکن درایة ئے دغلطید وجه وجه نه معلومیږی ځکه چه د درمختار په باب الکراهت کښے دی" تنظر المرأة من الرجل کنظر الرجل الیه وماجاز النظرالیه جاز لمسه"
ددے مجموعے حاصل دادے چه د نوم نه ترزنګونا نو نه علاوه بدن خو محرمه ښځه مسه کولے شی او د نوم نه ترزنګونا نو مسه چه څنګه د محرمے د پاره منع ده دغه شان د سړی د پاره منع ده او په کومه حیله د کپړے سره چه سړے غسل ورکولے شی ښځه هم ورکولے شی اللّٰهم الا ان یقال ان حکم غسل المیت مفترق عن حکم النظر والمس فی الحیاة کما یدل علیه قول الید ان الجنس یغسل الجنس ولا یغسل الجنس خلاف الجنس والله اعلم ولعل الله یحدث بعد ذلك امرا - ظفراحمد عفی عنه -

ددیه پس په رسالہ النور بابت ماه جمادی الاخیر سنه ۱۳۵۱ه کښے دا سوال پخپله د اشرف علی صاحب تهانوی د جواب ترجیح الراجح په سلسله کښے په ص۵ په دے لاندې سرخئ سره شائع شه -
فصل دوم په تحقیق دغسل ورکولو د ښځو محرم مرده لره :- الجواب :- واقعی په نقل کښے غلطی شوے ده چه وجه ئے په خیال کښے نه راځی نقل هغه دی کوم چه تاسو لیکلی دی -
ددیه پس بعضے دوستانو دا لیکلی پیش کړه - د شامی باب الرضاع کښے دی (فتیممها) یعنے بغیر کپړے د طحطاوی د روایت نه د بهشتی زیور تائید کیږی او یله دا چه مسئله دجنت د کالی د درایت سره هم موافق ده - زه وایم چه یا خو په مسئله کښے دوه روایتونه دی او یا منع دغسل نه مقید ده په دے کښے چه حائل نه وی او په جواز د غسل کښے د حائل قید لفظ خو ښکاره دے - (کتبه اشرف علی ، ج ۲ سنه ۱۳۵۱ه -)

ترجیح الراجح بابت ماه صفر سنه ۱۳۴۲ه ص ۱۰/۳۶ ګذارش دادے جناب والا دجنت دکالی په یو ځائے کښے یو مسئله د نا پوهئ په وجه په فکر کښے نه راځی مهربانی اوکړئ د دے مطلب اولیکئ - دجنت کالی دویمه حصه ص۱۰۳ مسئله په ماښځه کښے اه یا اوه یا اُف یا هائے اوکړی یا په زوره اوجاړی نو مونځ ئے مات شه البته که دجنت دوزخ په یاد کولو سره ئے زړه راډک شه او دا وانړے اووت نو مونځ نه ماتیږی - د دے عبارت په معنی کښے زه دا سے پوهیږم چه که په ماښځه کښے اه یا اوه یا اُف اوکړی یا په زوره اوجاړی نو مونځ مات شه او د جنت دوزخ په یاد د ولو او په زوره د اواز و تو سره مونځ نه ماتیږی او که اه یا اوه یا اُف ئے اوکړه نو هم مونځ ماتیږی ځما دا داخیال صحیح دے یا غلط تحریرا وفرمائئ -

الجواب فی الدرالمختار والانین والتاوه والتافیف والبکاء بصوت یحصل به حروف لوجع او مصیبة قید للاربعة الا المریض لایملک نفسه عن انین وتاوه لانه حینئذ کعطاس وسعال وجشاء وتثاءب وان حصل حروف للضرورة لا لذکر الجنة او نار فی ردالمختار ولا لذکر جنة او نار لان الانین ونحوه اذا کان بذکرهما صار کانه قال اللهم انی اسئلک الجنة وان کان من وجع او مصیبة صار کانه یقال انا مصاب فعزونی کذا فی الکافی اه - ملخصا ص۴۶۲ ج ا - کدے عبارت نه معلومه شوه چه د جنت او دوزخ په یادو سره که اه یا اخ د خولے نه او ځی هم مونځ نه فاسدیږی پس عبارت د بهشتی زیور چه صاف نه دے هلته په هغې کښے دادی چه په زوره او از او ځی هلته داهم زیاتول پکاردی چه یا اه وغیره او ځی ـــــ اشرف علی عفی عنه -

ترجیح الراجح بابت ماه محرم سنه ۱۳۴۶ھ

سوال :- په لاندې مسئله او روایت کښے تعارض معلومیږی تحقیق ئے پکار دے -

مسئله د سجدے کولو د پاره تکیه وغیره څه اوچت شے ایخودل او سجده ورباندې کول نه دی پکار - چه د سجدے طاقت ئے نه وی نو بس اشاره دے کوی په تکیه د سجدے کولو ضرورت نشته - حصه۲ ص۲۱ مسئله۳ روایت - ولا یرفع الی وجهه شیئا یسجد علیه فانه یکره تحریما درمختار - قوله فانه یکره تحریما قال فی البحر واستدل للکراهة فی المحیط بالنهیه علیه الصلوة والسلام عنه وهو یدل علی کراهة التحریم اه - وتبعه فی النهر اقول هذا محمول علی ما اذا کان یحمل الی وجهه شیئا یسجد علیه بخلاف ما اذا کان موضوعا علی الارض یدل علیه ما فی الذخیرة حیث نقل عن الاصل الکراهة فی الاول ثم قال فان کانت الوسادة موضوعة علی الارض وکان یسجد علیها جازت صلوته فقد صح ان ام سلمة رض کانت تسجد علی مرفقة موضوعة بین یدیها لعلة کانت بها ولم یمنعها رسول الله صلی الله علیه وسلم من ذلک اه - فان مفاد هذه المقابلة والاستدلال عدم الکراهة فی الموضوع علی الارض المرتفع ثم رأیت القهستانی صرح بذلک ردالمختار جلد اول ص۵۰۹ باب صلوة المریض - الجواب - فی مراقی الفلاح وجعل ایماءه براسه للسجود اخفض من ایماءه براسه للرکوع وکذا لو عجز عن السجود وقدر علی الرکوع یؤمی بهما لان النبی علیه الصلوة والسلام عاد مریضا فرأه تصلی علی وسادة فاخذها ورمی فاخذ عودا لیصلی علیه وقال صل علی الارض ان استطعت والا فاوم ایماء واجعل سجودک اخفض من رکوعک رواه البزاز والبیهقی عن جابر کذا فی نصب الرایه ص۳۱۲ ج۱ قال رالمجیب) الی قوله فان فعل او وضع شیئا فسجد علیه وخفض رأسه للسجود عن ایماء للرکوع صح ای صحت صلوته لوجود الایماء لکن مع الاسائة لماروینا ص۲۵ ج۱ وفی حاشیة طحطاوی علیه قوله وجعل ایماءه للسجود اخفض تمیزا بینهما ولا یلزمه ان یبالغ فی الانحناء اقصی ما یمکنه بل یکفیه ادنی الانحناء فیهما نهر عن المجتبی -

د مذکوره صفحے د جنت د کالی چه په دے کښے بنکاره تائید دے پس تطبیق داسے کیدے شی چه کراهت د عدم عذر په حالت کښے دی او عدم کراهت د عذر په حالت کښے وی عذر دا چه بغیر د تکیه نه په خکته کید و کښے تکلیف وی - وفی عبارة الحاشیة نفی لما کتبت فی المکتوب السابق من لزوم اقصی ما یمکن من الانحناء فالنص یقضی علی الرأی - (مولنا اشرف علی صاحب نورالله مرقده)

دویمه ضمیمه د جنت د کالی دویمه حصه مسمی به تصحیح الاغلاط

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اصل ص۱۵۵ مسئله :- د حیض په زمانه کښے الخ - تحقیق :- دا دے چه کله ښځه حائضه شی نو د نفع دوه صورتونه دی - یو دا چه نفع اغستونکے سړے وی او فعل د هغه د طرفه وارد شی - او بل دا چه نفع اغستونکے ښځه وی او فعل د دے د طرفه وارد شی پس که نفع اغستونکے سړے وه نو حکم ئے دادے چه د ه لره د خپلے ښځے حائضے سره جماع کول او د نامه نه تر زنګونو پورے دا مینځ د کورولی په جوړ مسه کول او نفع ترے اغستل جائز نه دی لکه چه ئے په بهشتی ګوهر (جنتی ملغلره) کښے وضاحت شوے دے - او که نفع اغستونکے

بنځه وي لکه چه دجنت په کالي کښے ئے فرض کړے ده ځکه چه په دے کښے د بنځو احکام دي نو داحکم ئے دے چه لکه څنګه سړي له د بنځے د نامه نه تر زنګونو پورے دا ما بين په لاس مسه کول او نظر ورته کول نفع تے اغستل جائز نه دي دغه شان د سړي دے ما بين له د بنځے لاس ورو ړل مسه کول نفع تے اغستل کتل ورته جائز دي خو بنځے له داجائز نه دي چه خپل دغه مذکور مقام د نامه نه لاندے تر زنګونو پورے د سړي د څه ځائے سره مسه کړي ـ قال في الشامي فکذا هي لها ان تلمس بجميع بدنها الاماتحت الازار جميع بدنه حتى ذکره و الا فلوکان لمسها لذکره حراما لحرم عليها تمکينه من لمسه بذکره لماعدا تحت الازار منها و اذا حرم عليه مباشرة ما تحت ازارها حرم عليه تمکينه منها فيحرم عليها مباشرتها له بما تحت ازارها بالا ولى دا تحقيق وه د دغے مسئلے ـ او د جنت د کالي د مسئلے تحقيق دا دے ـ چه مسئله مذکوره مولوي احمد علي صاحب مرحوم دا مسئله لبا د بحرالرائق نه اخذ شوے ده او د بحرالرائق عبارت چه په شامي کښے دے دا دے لم ار لهم حکم مباشرتها له ولقائل ان يمنعه بانه لما حرم تمکينها من استمتاعه بها حرم فعلها به بالاولى ولقائل ان يجوزه بان حرمته عليها لکونها حائضا وهو مفقود في حقه فحل لها الاستمتاع به ولان غاية مسها لذکره انه استمتاع بکفها وهو جائز قطعاً اه ـ د دے عبارت نه د صاحب بحر ميلان د جواز طرفته ظاهر يږي دا رنګ د اول تعليل نه چه جواب ئے د دليل د مانعينو دا متبادر ده چه مباشرت د حائضے د زوج د پاره مطلقا جائز وائي خواه که بما دون السرة وي او که په ما فوق السرة وي (سوا استثناء د جماع) بل دا عبارت د تاويل احتمال هم لري او دا مطلب ئے هم کيدے شي چه مباشرة د حائضے زوج لره په غير د ما بين السرة و الرکبة جائز دے لکه صاحب د نهر چه ګڼړلے دے ـ ګويا دا توجيه د تعليل اول نه په ظاهره خلاف ده ـ نو که عبارت د جنت د کالي او د بحر پخپل ظاهر سره واغستے شي نو دا مسئله د جنت د کالي به غلطه شي البته په مصنف به څه الزام نه وي ځکه چه ده خو د بحر تقليد کړے دے او که د بحر او د جنت د کالي عبارت مؤول او ويلے شي نو بيا اعتراض نشته ـ نو غوره دا ده چه د دے دواړو کتابونو عبارت نه مصروف عن الظاهر او ويلے شي چه د اعتراض نه بچ شي ـ نو د جنت د کالي د عبارت مطلب به دا شي چه د حيض په زمانه کښے د سړي خواله ورتلل يعني کور والے کول جائز نه دي او د دينه سوا نور هر څه جائز دي خو چه د بنځے د نامه نه تر زنګونو پورے بدن د سړي د څه اندام سره مسه نه شي يعني خوړل سکل ځملا ستل وغيره ټول جائز دي فقط والله اعلم بالصواب ـ چه خبره ښکاره شوه نو اوس ګبے عقلو دا التباس چه فعل د بنځے ئے فعل د سړي اوګاڼه او اعتراض ئے پے اوکړه چه دا صحيح نه ده ځکه چه علاوه د کور والي نه مباشرت د نامه او زنګونو په ما بين کښے په مذهب د امام اعظمؒ امام مالکؒ امام ابويوسفؒ امام شافعيؒ نا جائز دے لکه چه د عامو کتابونو نه ښکاره ده ـ دا مسئله مولانا خلاف تحقيق او خلاف د قول مفتیٰ به ليکلے ده ـ دا د دوي بکواس دے ـ ځکه چه مذهب د امام اعظمؒ وغيره د فعل زوج بسره تعلق لري نه چه د فعل د زوجے سره د فعل زوجے متعلق بحر ليکي لم ار لهم حکم مباشرتها له بلکه د مباشرة زوجے حکم متأخرينو استنباط کړے دے خلاصه د کلام دا ده چه د جنت د کالي په مسئله کښے چه کومه خدشه وه هغے ته د دے بے عقلو رسائي

نه ده شوے او کوم چه دوی اعتراض کړے دے هغه دجنت دکالی سره تعلق نه لری۔
اصل ص۱۰۳ مسئله ۔ د بناپیرک تش بول او کنکی پاک دی۔
تحقیق :۔ دليله فی الدر المختار حيث قال الا بول الخفاش وخرءه فطاهر اه۔ وما فی البدائع وغیره حیث قالوا بول الخفاش وخرءها ليس بنجس الخ فلا اعتراض علی بهشتی زیور۔
اصل ص۱۰۳ مسئله :۔ که په خور والی کښے د روپۍ برابر وی الخ۔
تحقیق :۔ د روپۍ نه مراد یا شرعی روپۍ ده چه درهم وزنه والۍ یا دارالجه سکه ده۔ په اول صورت کښے خو اعتراض ساقط دے۔ پاتے شو دوېم صورت نو د هغې توجیه داده چه رائجه سکه تقریبا کورغوی د چور والی برابر دی نو اوس هم اعتراض نشته۔
اصل ص۱۰۴ مسئله :۔ که د تشو بو لو دارے الخ۔
تحقیق :۔ په دے مسئله کښے د ستنے سوم برابر وینا احترازی نه ده بلکه مقصود ده یر نوی والے دے چه ډیر په غور سره لیدے شی از ادے نه شی لیدے او مقصود دا دے چه که دارے ډیرے نرۍ وے او بغیر تکلیف نه نه لیدے کیدے نو د هغې څه اعتبار نشته دے ځکه چه کرعرم وس الابر د امام محمد رح نه مروی دی او چه لیدے نه شی دا قید د امام ابو یوسف نه دے او مقصود د دواړو نه بیان د ورکو توالی د دارو ده نو ځکه مولوی احمد علی صاحب د جمع بین القولین د پاره دواړه عبارتونه راوانغستے۔ د جنت د کالی دا صحیح مطلب دے مګر د احمقانو د زمانے د ستنے سوم قید احترازی جوړ کړه د ستے دوېم سرئے تے خارج کړه د نه لیده و قید لره ئے قید احترازی مقرر کړه هغه دارے ئے خارج کړے کوم چه لیدے شی خواه که په غور سره وی او که بغیر د غور نه او دغه شان ئے په کلام کښے تحریف او کړه او اعتراض ئے پے وارد کړه۔ نو دا د دوی جهل دے۔
اصل ص۱۰۴ مسئله :۔ که د تشو بولو پشان بله څه پلیتی او لږیدہ۔ الخ۔
تحقیق :۔ واضحه دوی چه د لدار ترجمه ده د جثه لرونکے۔ او د جثه لرونکے تعریف په در مختار کښے داسے دے هو کل ما یری بعد الجفاف و لو من غيرها کخمر وبول اصابه تراب په دے بنا په د غیر ذی جرم تعریف داسے شی هو کل ما لا یری بعد الجفاف۔ کله چه دا معلومه شوه نو اوس وا وره چه په غایة البیان کښے د نجاست مرئی او غیر مرئی تعریف داسے شوے دے المرئیة ما یکون مرئیا بعد الجفاف وغیر المرئیة ما لا یکون مرئیا بعد الجفاف کالبول ونحوه۔ پس د دے بیان نه معلومه شوه چه نجاست ذی جرم او لیده ونکے یو شے دے او غیر ذی جرم او غیر مرئیه یو شے دے۔ پس په عبارت د جنت د کالی اعتراض کول حماقت دے۔ چه نقهاؤ د مرئیه او غیر مرئیه لفظ استعمال کړے دے نو په دے وجه د جنت د کالی لفظ دلدار او غیر دلدار غلط دے۔ د دے تقریر نه د احمقانو د زمانے اول اعتراض ساقط شه۔ کله چه دا معلومه شوه نو اوس پو هه شه چه د نه لیده ونکی نجاست د پاکوالی په باره کښے اصل مذهب خو دا دے چه کله د پاکوالی ګمان غالب شی نو هغه وخت به پاک شی لیکن په دے کښے فی الجمله ګران والے وه او په غالبو حالاتو کښے په درے پیرے وینځلو سره د پاکیدو غالب ګمان حاصلیده نو په دے بنائے درے پیرے وینځل د غلبے د ګمان د پاکوالی قائمقام او ګرزاوه۔ د پاره د اسانۍ په خلقو او د لرے کیدو د وسوسے۔ چنانچه په غنیه کښے

دی ۔ فعلم بهذا ان المذهب هو اعتبار غلبة الظن وانها مقدرة بثلث لحصولها بها فی الغالب وقطعا للوسوسة فانه من اقامة السبب مقام المسبب الذی فی الاطلاع علی حقیقته عسر کالسفر مقام المشقة وامثال ذلك الخ ۔ دَ دینه معلومه شوه چه دَجنت په کالی کښې دَ درې پیرې وینځلو حکم دَ مذهب خلاف اودَ غالب گمان معارض نه دے بلکه موافق دَمذهب او موافق دَ غلبې دَگمان دے نو په دے دَ احمقانو دویم اعتراض هم ساقط شه چه دا معلومه شوه نو اوس پوهه شه چه دَ جنت په کالی کښې په دریمه پیره په مبالغې سره دَ نچوړه ولو حکم دے نو وجه ئې داده چه په شامی کښې دی جعلها فی الاول شرطا للمرة الثالثة فقط وکذا فی الایضاح لابن الکمال وصدر الشریعة وکافی النسفی وعزاه فی الحلیة الی فتاوی ابواللیث وغیرها ۔ دَ دینه معلومه شوه چه دَ جمهور فقهاؤ مسلك دادے چه صرف په دریمه پیره بسئې په مبالغې سره نچوړه وی نه چه په هره پیره نو دَ دے فقهاؤ خلاف دَ دے احمقانو حجت هیڅ نه دے چاچه دَ قاضیخان دَ عبارت نه دهوکه اوخوړه او دَ جمهورو فقهاؤ خلاف مسلك ئې راوویسته او په هروارئې په مبالغې سره نچوړه ول شرط کړی دی او حال دا دے چه په هغې کښې خو دَ مبالغې بالکل نفی شوده ۔ نو په دے سره دَ احمقانو دریم اعتراض هم ساقط شه ۔

اصل ص۱۰۵ مسئله۲۰ :۔ کپړه او بدن صرف په اینځلو پاکیږی ۔

تحقیق :۔ یعنی اصل حکم دادے پاتې شوه موقع دَ ضرورت نو هغه دَ دے حکم نه مستثنیٰ دی دَجنت دَ کالی دا مسئله داسې ده لکه چه فقهاء وائی چه دَ مانځهٔ دَ پاره طهارت شرط دے پس څنګه چه په دې حکم دَ فقهاؤ اعتراض نشته دغه شان په دې مسئله دَ جنت دَ کالی اعتراض نه شی کیدې ۔

اصل ص۱۰۶ مسئله۲۶ :۔ په لاس څه پلیت شی لګیدلی وه الخ ۔

تحقیق :۔ په دے مسئله دَ احمقانو اعتراض دَ دے په صحت نه دے بلکه نو رعیث بکواس ئې کړے دے چه دَ جواب دَ پاره ئې مفید تحقیقات موضوع دی نو دَ دَ پاره مونږ دلته څه نه شو ویلے ۔

اصل ص۱۰۶ مسئله۲۸ :۔ دَ پلیتې خټې نه چه کوم لوښې کولالان جوړ کړی الخ ۔

تحقیق :۔ دا مسئله دَ تنویر الابصار نه راغستې شوې ده چه الفاظ ئې دا دی کطین تنجس فجعل منه کوز بعد جعله علی النار اه ۔ او چونکه په دے عبارت کښې دَ اثر لرې کید و قید نشته نو دَ جنت په کالی کښې ئې هم اونه لګاؤ ۔ نو اوس که دَجنت په کالی اعتراض وی نو په تنویر الابصار هم پکار دے ۔ او که دَ تنویر دَ عبارت جواب وی نو دَ جنت دَ کالی ولې نشته خلاصه داده چه په تنویر اعتراض نه کول او دَجنت په کالی کول بے انصافی ده ۔ که اعتراض وی نو په دواړو په کار دے او که نه وی نو په دواړو دے نه وی ۔ دا ونیا علی سبیل التنزل وه اوس مونږ ترقی کوو او وایو چه دَ جنت دَ کالی په عبارت کښې دَ دې قید دَ سره ضرورت نشته ځکه چه کولال په اور کښې لوښې پخه وی نو دَ نجاست اثر باقی نه پاتې کیږی نو دَ شرط لږه ولو ضرورت څه پاتې شو او د غه وجه ده چه په تنویر کښې ئې شرط نه دې لږه ولې ځکه چه په جعله علی النار سره مراد جعل مخصوص دے یعنې دغه معلوم پخه ول او په دُرّ مختار کښې چه ئې کوم شرط لږه ولے دے هغه بالنظر الی المفهوم عام دے ځکه چه مطلق جعل علی النار او طبخ شامل دَ دے پوره پخولو ته او څه قدر پخولو وغیره ته نو فلا اعتراض ۔

اصل ص۱۰۶ مسئله۲۹ :۔ که بین 'شیره' یا غوړی او تیل پلیت شو ۔ الخ ۔

تحقیق :۔ دَ دے مقام تحقیق دا دے په شامی کښې دی ۔ قال فی الدر ولو تنجس العسل فتطهیره

ان یصب فیه ماء بقدره فیغلی حتی یعود الی مکانه والدهن یصب علیه الماء فیغلی فیعلو الدهن الماء فیرفع بشیء هکذا ثلث مرات اه وهذا عند ابی یوسف خلافا لمحمد وهو اوسع و علیه الفتوی کما فی الشرح شیخ اسمعیل عن جامع الفتاوی - وفی الکبیری - الا یری الی ماروی عن ابی یوسف فی تطهیر الدهن النجس ای المتنجس انه اذا جعل الدهن فی اناء فصب علیه الماء فیعلو الدهن علی وجه الماء فیرفع بشیء ویراق الماء ثم یفعل هکذا حتی اذا فعل کذلک ثلث مرة یحکم بطهارة الدهن - او مجمع الروایة او شرح قدوری کښې دی - یصب مثله ماء ویحرک وفی الدرمختار ویطهر لبن وعسل ودبس ودهن یغلی ثلثا وقال فی الفتاوی الخیریة ظاهر الخلاصة عدم اشتراط التثلیث د دے روایتونو د مجموعے نه معلومیږی چه د تیلو وغیره د پاکولو دپاره نه جوش شرط دے او نه خوزه ول او که ضرورت ئے دے نو هغه صرف په دے وجه چه تیل وغیره د او بو سره راشی او د اوبو نه جدا شی پس دا مقصود که په هم طریقه سره هم حاصل شی کافی دے د بلے طریقے بیا ضرورت نشته - او دلیل ئے دا دے چه بعضو فقهاؤ د جوش ذکر کړے دے او بعضو د خوزه ولو او کبیری نه د جوش ذکر کړے نه دے نو معلومه شوه چه جوش او خوزه ول مقصود بالذات نه دی بلکه مقصود د تیلو وغیره پورته راتلل او د اوبو نه جدا کیدل دی ویدل علیه قول الدرر فیغلی فیعلو الدهن دارنلی د مذکوره عبارتونو نه معلومیږی چه شرط د تثلیث مختلف فیه دے د بعضو په نزد ضروری دے او د بعضو په نزد ضروری نه دے نو موږ ته د ترجیح ضرورت دے نو موږ گورو چه شرط د تثلیث د امام ابو یوسف صاحب مذهب دے لکه چه ظاهرېږی د درر او د منیه او د شرح نه ئے او د عدم اشتراط خلاصه وغیره - او ظاهره ده چه د مذهب د خاوند قول د نورو علماؤ نه مقدم وی نو اشتراط راجح شه بالخصوص هغه وخت کله چه منشاء د عدم اشتراط بجمله غلط وی ځکه چه منشاء ئے قیاس دے په ثوبے باندے او دا په دوه وجه غلط ده اول ځکه چه په ثوبه کښې هم تثلیث شرط دے لکه چه مخکښې په پاکولو د ثوبے کښې معلومه شوے ده او بل ځکه چه قیاس د دهن په ثوبے قیاس مع الفارق دے ځکه چه د تیلو وغیره نجاست د ثوبے نه اقوی دے او دلیل ئے دا دے چه امام محمدؒ پاکوالے د روغنو وغیره نه جائز کوی حالانکه د ثوبے پاکوالے جائز کوی - دارنلی صاحب د درمختار په پاکوالی د ثوبے کښې غلبهٔ ظن معتبره وی لیکن په تیلو کښې تثلیث شرط کوی پس فرق ظاهر دے - کله چه دا امر معلوم شه نو اوس پوهه شه چه د دے بره روایتونو د ظاهرنه معلومیږی چه په مقدار د اوبو کښې هم اختلافی دے د بعضو په نزد د تیلو برابر ضروری دی او د بعضو په نزد ضروری نه دی - لیکن چه موږ په غور سره اوگورو نو دا معلومیږی چه چا ابتداءً قدره من الماء ویلی دی هغوی قید د قدره احترازًا نه دے بیان کړے بلکه اتفاقًا ئے بیان کړے دے او چا چه د دینه پس د دے قید ذکر کړے دے هغوی د مذکوره شخص تقلید کړے دے - او چا چه د دے قید ذکر نه دے کړے هغوی په حقیقت نظر کړے دے - دلیلو نه ئے دوه دی اول دا چه اشتراط د مساوات بے دلیله دے دویم دا چه په بعض روایتونو کښې قَدْرًا مِنَ الْمَاءِ منصوص دی - او دیته تضعیف قدره ویل بلا دلیله دی - پس ثابته شوه چه قید مذکوره قدره من الماء اتفاقی دے او چا چه

احترازي کنړلے دے هغوی د هوکه شوی دي پس د دے تحقیق حاصل دارا اووت چه د تېلو وغیره د پاکوالي د پاره نه جوش ضروري دے او نه لخوزه ول نه خاص مقدار . البته تثلیث بے شکه ضروري دے ـ نو اوس په دے پوهه شه چه د جنت د کالي د تشقیق نه صافي معلومیږي چه د ابو یوسفؒ په نزد غلیان یا تحریك ضروري نه دے کما هوالحق پاتے شه تعین د مقدار نو هغه محض اتفاقي دے نه چه احترازي لکه چه د نورو فقهاؤ په کلام کښے موجود دے ـ او قید تثلیث ضروري دے نو د دے بیان نه پس د احمقانو اعتراض باطل شه ـ

اصل ص۱۰۲ مسئله ۳۷ :- نجسه نکریزه ئے په لاس وخپواو لږه و لی ـ

تحقیق :- د دے مقام دا دے په شامی کښے دی ـ قد ذکر سیدی عبدالغنی کلاماً حسناً سبقه الیه صاحب الحلیة وهوان مسئلة الاختضاب الی قوله لم نرمن رجح خلافه فافهم ـ دا عبارت دا خائی چه په مسئله د نکریزه کښے دوه قولونه دی یو دا چه اوبه صافي روانے شی نو پاک شو خواه که هرڅو پیرے ونیځلی وی او دویم دا چه درے پیرے ونیځل ئے کافي دی خواه اوبه صافي شوے وی اوکه نه او مفتی به قول اول دے ـ نو د جنت د کالي مطلب دا دے چه درے پیرے ئے داسے او وینځي چه اوبه ئے صافي شي لکما یدل علیه قوله خوب لانه یدل علی المبالغة وهو یستلزم صفوالماء او په دے کښے ابو یوسفؒ د دواړو مسلکو نو رعایت کړے دے چه په دواړو عمل او شی او لاس څپے په اتفاق سره پاک شی ـ نو اعتراض ختم شه ـ

شاید د چا شک وی چه په ص۱۰۶ مسئله ۳۱ کښے مذکور دی ـ پیالیت رنګ کښے کپړه رنګ شوه الخ او په دے کښے د درے وارو قید نشته نو جواب ئے دا شه چه په موقعو د اختلاف کښے رعایت د اختلاف اولیٰ دے نه چه واجب نو حلته د اختلاف رعایت نه کول قابلِ اعتراض نه شی کیدے د دے مسئلے تحقیق په یه زیا تو تحقیقاتو مفیده ؤ کښے اوکړے شی ـ

اصل ص۱۰۷ مسئله ۴۴ :- که د لرګی تخته الخ ـ

تحقیق :- دا مسئله د غنیة المستملی نه ماخوذ ده او عبارت ئے دا دے ـ و مثله ایضا ای مثل الحکم المذکور وهو عدم الفساد اذا حلت النجاسة بخشبة فقلبها وصلی علی الوجه الطاهر ان کان غلظا لخشبة بحیث تقبل القطع ای یمکن ان ینشر نصفین فیما بین الوجه الذی فیه النجاسة والوجه الاخر فیجوز الصلوة علیها حینئذٍ والافلا لانها بمنزلة اللبعنة فی الوجه الاول وبمنزلة الثوب فی الوجه الثانی اه ص۲۰۰ ـ لیکن په حلیه کښے اشبه بالحق مطلقاً جوازته وئیلے او د دے دوی دلائل هم بیان کړی دی چه مونږ ته ئے علم اوشه چه د دواړو دلائل مولید لی ئے نو فیصله په موکړے وے چه حق د صاحب منیه او غنیه په طرف دے او که د صاحب حلیه په طرف او دا رنګے د اصل مؤلف د جنت د کالي انتقال شوے دے یعنی د مولوی احمدعلي صاحب ـ نو مونږ ته دا هم نه معلومیږی چه دوی په کومه بنا د صاحب غنیه بیان له ترجیح ورکړے ده او دومره ضرور وئیلے شی چه اختیار د مسلک د صاحب غنیه اقرب الی الاحتیاط دے نو که څوک په مسئله د جنت د کالي اعتراض کوی نو هغه له پکار دی چه اول د د غنیے دلائل غلط ثابت کړی ـ او دا دینا کافي نه ده چه په حلیه کښے ئے د دے خلاف ته حق دیلی دی ځکه چه د دے جواب دا دے چه په غنیه کښے ئے د دے خلاف اختیار کړے دے نو په دے وجه هغه اقرب

الی الاحتیاط هم دے پس هیڅ وجه نشته چه د صاحب غنیے بیان پریښودے شی نو د دے تفصیل نه د احمقانو د زمانے د خرافاتو جواب معلوم شه۔

اصل ص۱۰۱ مسئله ۲ په لوتو سره د استنجا کولو الخ

تحقیق :- په رد محتار کښے دی - ولا یتقید باقبال وادبار شتاءً او صیفاً او د دے لاندې شامی لیکی۔ ای بناء علی ماذکر من ان المقصود هو الانقاء فلیس له کیفیة خاصة وهذا عند بعضهم وقیل کیفیته فی المقعدة فی الصیف للرجل ادبار الحجر الاول والثالث واقبال الثانی وفی الشتاء بالعکس وهکذا تفعل المرأة فی الزمانین کما فی المحیط وله کیفیات اخر فی النظم والظهیریة وغیرهما وفی الذکر ان یأخذ بشماله ویمره علی حجر او جدار او مدر کما فی الزاهدی اه - قهستانی واختار ماذکره الشارح فی المجتبیٰ والفتح والبحر وقال فی الحلیة انه الاوجه الخ او صاحب د وقائے صاحبِ د شرح وقایه او صاحب د عمدة الرعایه د سنیت د عدد نه نفی کړے ده - د دے تولو خبرو نه معلومیږی چه حق او مختار مذهب دا دے چه د استنجا د پاره څه کیفیت مخصوص نشته او نه څه عدد مسنون ئے شته بلکه مقصود انقاء ده هغه په هر طریقه چه حاصله شی کافی ده - باقی شو د بعض فقهاؤ کیفیات خودل نو د دوی مقصود دا نه دے چه دا مقصود دی بلکه دوی چه څنګه خیال کښے څه کیفیت د انقاء معلوم کړے دے هغه ئے خودلے دے - نو حاصل د کلام دا شه چه مقصود انقاء ده څه کیفیت مقصود نه دے لیکن زمونږ په خیال کښے دا کیفیت معین فی الانقاء دے نو کس په دے کیفیت سره استنجا وشی نو په حصول د مقصود کښے په پوره فائده حاصله شی نو دا د جنت د کالی خلاف نه دی کما هو الظاهر - پس د احمقانو اعتراض ساقط شه - نور زیات تفصیل د دے په تحقیقات مفیده کښے دے -

اصل ص۱۱۱ مسئله ۲- ترڅو چه د هر شی سورے دوچند نه شی الخ -

تحقیق :- دلیله مافی التنویر ووقت الظهر من زواله الی بلوغ الظل مثلیه فی الوقایة وغیرها وقال ردالمختار جوابا لمن خالف هذا المسلک فیه ان الادلة تکافأت ولم یظهر ضعف دلیل الامام بل ادلته قویة ایضا کما یعلم من مراجعة المطولات وشرح المنیة وقد قال فی البحر لا یعدل عن قول الامام الی قولهما او قول احدهما الا لضرورة من ضعف دلیل او تعامل بخلافه کالمزارعة وان صرح المشائخ بان الفتوی علی قولهما کما هنا اه - وقال ایضا تحت قول المص الی بلوغ الظل مثلیه هذا ظاهر الروایة عن الامام نهایه وهو الصحیح بدائع ومحیط وینابیع وهو المختار غیاثیه واختاره الامام المحبوبی وعول علیه النسفی وصدر الشریعة تصحیح قاسم واختاره اصحاب المتون وارتضاه الشارحون فقول الطحاوی وبقولهما نأخذ لا یدل علی انه المذهب وما فی الفیض من انه یفتی بقولهما فی العصر والعشاء مسلم فی العشاء فقط الخ - د دے روایتو نه معلومه شوه چه د جمهور د ائمه ؤ حنفیه ؤ مسلک دا دے کوم چه د جنت په کالی کښے دے - نو اعتراض ختم شه -

اصل ص۱۱۳ مسئله ۳ بیا ترڅو چه مغرب طرفته د اسمان په غاړه الخ -

تحقیق :- دا مسئله هم د تنویر الابصار وغیره نه ماخوذ ده چنانچه په تنویر کښے دی والمغرب منه الی الشفق وهو الحمرة - او په درمختار کښے دی - عندهما وبه قالت الثلاثة والیه رجع الامام کما فی شروح المجمع وغیرها فکان هو المذهب او کویا ابن همام او علامه قاسم په دے کښے کلام کړے دے مګر عام فقهاء په مثل د صاحب نهر او نقایه او وقایه او درر او اصلاح او

دررالبحار او امداد او مواہب او برہان وغیرہم مسلک دا دے۔ او دا امام صاحب نہ یو روایت ہم دَ دے موافق دے نو فیکون ھوالمعتمد فلا اعتراض علیہ۔

اصل ص۱۱۳ مسئلہ:- فقط دَ خولے او دواڑو ورغووا و دواڑو خپو نہ سوا الخ۔

تحقیق:- دَ تلی نہ باطن دَ خپے او ظاہر دَ خپے دواڑہ مراد دی نہ چہ صرف باطن او دلیل دَ دے مسئلے دا دے چہ پہ کنزالدقائق کښے دی - الا وجہہا وکفہا وقدمہا او پہ وقایہ کښے دی الا الوجہ والکف والقدم واقرہ فی شرح الوقایہ او پہ تنویرالابصار کښے دی خلا الوجہ والکفین والقدمین۔

اصل ص۱۱۶ مسئلہ:- کنہ بے سوچہ مونځ او کړی نو مونځ نہ کیږی- الخ۔

تحقیق:- دَ دے مسئلے دلائل دا دی پہ تنویرالابصار کښے دی ان شرع بلا تحرلم یجز وان اصاب او پہ شرح وقایہ کښے دی وان شرع بلا تحرلم یجز وان اصاب لان قبلتہ جہۃ تحریہ ولم یتحراہ۔ والیہ مال ابن الہمام فی بعض تحریراتہ وقال تلمیذہ قاسم بن قطلوبغا فی رسالۃ الفوائد الجلۃ فی اشتباہ القبلۃ وصاحب الہدایۃ فی مختارات النوازل کما فی عمدۃ الرعایہ۔

اصل ص۱۱۸ مسئلہ:- پہ مانځہ کښے شپږ څیزونہ فرض دی الخ دَ نیت نہ پس وخت کښے اللہ اکبر

تحقیق:- مطلب دا دے چہ تکبیر تحریمہ فرض دے نہ دا خاص لفظ۔ او چونکہ مونځونہ عام طور دَ دے لفظ نہ شروع کیږی او پہ عام مونځو نو کښے تکبیر تحریمہ دا لفظ یعنی اللہ اکبر وی نو پہ دے وجہ ئے دے پہ فرضو کښے شمار کړہ او دَ شپږو عدد دَ فرائضو متفق علیہا دَ پارہ دے یعنی متفق علیہا فرض شپږ دی۔ دا دَ نکہ دَ دینہ مقصود حصر نہ دے۔ نو اعتراض نشتہ۔

اصل ص۱۱۹ مسئلہ:- دَ سجدے پہ وخت کښے کہ پوزہ او تندے دواڑہ پہ زمکہ کیږدی فقط تندے پہ زمکہ کیدی او پوزہ نہ، نو ہم مونځ اوشہ الخ۔

تحقیق:- قال خاتم علماء فرنگی محل فی عمدۃ الرعایۃ معلقا علی قول صاحب الوقایۃ والسجود بالجبہۃ والانف وبہ اخذ اہ قولہ وبہ اخذ ای اخذبہ المشائخ وافتوابہ وھذا الکلام لایخلو عن مسامحۃ لان المفہوم من ظاہر قولہ والسجود بالجبہۃ والانف عند تعداد الفرائض ان وضع الجبہۃ والانف کلیہما فرض وانہ المفتی بہ مع انہ لیس مذھبا لاحد من ائمتنا فان ابا حنیفۃؒ جوز الاکتفاء بالانف وخالفہ فیہ صاحباہ واما الاکتفاء بالجبہۃ فہو متفق بینہم علی جوازہ وبالجملۃ اتفقوا علی ان المسنون وضع الجبہۃ والانف کلیہما وعلی انہ یکفی وضع الجبہۃ فقط الا انہ یکرہ وانما اختلفوا فی الاکتفاء بالانف الی اٰخر ما قال۔ دَ خاتم علماء فرنگی محل دا قول دَ جنت دَ کالی دَ مسئلے واضح دلیل دے۔

اصل ص۱۲۰ مسئلہ:- دَ څہ مانځہ دَ پارہ پہ یو سورۃ نہ مقرر کوی۔

تحقیق:- قال فی الہدایۃ یکرہ ان یوقت بشئ من القرآن لشئ من الصلوۃ وقال فی الفتح ان المداومۃ مطلقا مکروھۃ سواء رآہ حتما یکرہ غیرہ اولا لان دلیل الکراھۃ لایفصل الخ اودرمختار کښے دی یکرہ التعیین کالسورۃ السجدۃ وھل اتی والفجر کل جمعۃ بل یندب قرائتہما احیانا۔ او شامی کښے دی لان الشارع اذا لم یعین علیہ شیئا تیسیرا علیہ کرہ لہ ان یعین۔ الخ۔ دا عبارت دَ جنت دَ کالی واضح دلیل دے۔ نو اعتراض دَ احمقا نو ساقط دے۔

اصل ص۱۳۲ مسئلہ:- بغیر دَ څہ عذر نہ قضا مونځ دروستو کولو کښے گناہ دے۔

تحقیق :- لعل هذه المسئلة مبنية على مذهب الكرخي واختاره ههنا للاحتياط وزجرا للعوام عن التكاسل تبعا لصاحب الدرالمختار والشامي۔

اصل ص۱۳۵ مسئله ۱۰ :- په څومره ساعت کښے چه درے پیرے سبحان الله ویلے شي الخ۔

تحقیق :- په دے باندے مولوي احمد حسن صاحب لیکلي دي چه خدائے خبر چه د درے پیرو دا مقدار ئے د کوم ځائے نه لیکلے دے په طحاوي او ردالمختار کښے ئے د یوے پیرے سبحان الله ویلو مقدار لیکلے دے پس په دے عمل لازم دے اھ۔ نو په دے وجه د دے مسئلے پوره تحقیق کولے شي او هغه دا چه په ردالمختار کښے د یوے پیرے مقدار څما د نظر نه نه دے تیر شوے شاید چه مولوي صاحب ئے د څه ځائے نه استنباط کړے وي۔ او طحاوي[1] راسره نشته چه په کښے اوګورم۔ لیکن په ردالمختار وغیره کښے د غور کولو نه پس معلومیږي چه د جنت د کالي دا مقدار صحیح دے تفصیل دا دے چه تفکر موجب د سهو ځکه دے چه مستلزم دے تاخیر د واجب ولره نو په دے وجه د ده او د زیادة على التشهد حکم یو شان بیان کړے او دا صرف څما خیال نه دے بلکه تماثل ئے مصرح هم دے لکه اګنده به معلومه[2] شي دا رنګ په فقه کښے واقعه د جهر په ځائے د اخفاء او د اخفاء په ځائے د جهر هم د دے متماثل خودلے شوے دے په دے بنا که دا سے او ویلے شي چه تلبس بالنجاسة في الصلوة وانکشاف عورت هم د دے متماثل دے نو صحیح ده ځکه چه دا کاریه ټولو کښے مشترک دے۔ چه زمان قلیل بوجه تسهیل على الامة په ټولو کښے عفوه ده او زمان کثیر بوجه عدم ضرورت نه دے عفوه۔ پس کومه زمانه چه په یوه مسئله کښے کثیره ګڼړلے شي هغه په ټولو کښے کثیره منل پکار دي۔ او کومه زمانه چه په یوه مسئله کښے قلیله ګڼړلے شي په ټولو کښے قلیله ګڼړل پکار دي ورنه د فرق وجه پکار ده۔ او وجه د فرق خو هیڅ نشته نو لامحاله کومه زمانه چه په یوه کښے قلیله ګڼړلے شوے ده هغه به په ټولو کښے قلیله وي۔ او کومه چه په یوه کښے کثیره او ګڼړلے شوه په ټولو کښے به کثیره وي۔ او که فرق اوکړے شي چه په بعضو کښے چونکه ضرورت کم دے نو هلته به د کمے زمانے اعتبار وي او په بعضو کښے چه ضرورت زیات وي هلته به زیاته زمانه اغستے شي نو دا فرق د دے مقتضي دے چه د تفکر زمانه دے د ټولو نه زیاته وي ځکه چه دا د ټولو نه زیات واقع کیږي بهرحال زمانه د تفکر په هیڅ شان د زیادت على التشهد وجهر موضع مخافت وتلبس بالنجاسة وانکشاف عورت وغیره نه کم نه شي کیدے یا به ئے برابروي یا به ترے زیات

[1] باب د ص۱۸۵ حاشیه) طحاوي اوکتے شوه نو په هغے کښے صرف دا لیک وو۔ وهو مقدار سبحان الله بیا په مراقي الفلاح کښے صاف تصریح په درے پیرے سبحان الله ملاؤ شوه اوګوره صفحه طحاوي على المراقي ۱۲ منه (کوډے څ)
قال صاحب الغنية في بحث الزيادة على التشهد في القعدة الاولى كما سنقله والصحيح ان قدر زيادة الحرف ونحوه غير معتبر في جنس ما يجب به سجود السهو انما المعتبر قدر ما يؤدى فيه ركن كما في الجهر فيما يخافت وعكسه وكما في التفكر حال الشك ونحوه ۱۲

نو اوس مونږ په تحولو متشابهو او متماثلو مسائلو خبره کوؤ -

بحث دَ مسئلے دَ تفکّر

په منية المصلى او دَ هغې په شرح غنية المستملى ص۳۴۷ کښے دی - من شک فی حال القيام انه هل كبر للافتتاح ام لا فتفكر فی ذلك وطال تفكره مقدار اداء ركن الى ان قال فعليه السهو لان تفكره يستلزم تاخير الواجب وهو القرأة الى ان قال ثم الاصل فی حكم التفكر انه ان منعه عن اداء ركن كقرأة اٰية او ثلث اوركوع او سجود او عن اداء واجب كالقعود يلزمه السهو لاستلزام ذلك ترک الواجب وهو الاتيان بالركن او الواجب فی محله وان لم يمنعه عن شئ من ذلك بان كان يؤدى الاركان و يتفكر لايلزم السهو وقال بعض المشائخ وهو الامام الصفار ان منعه التفكر عن القراءة او عن التسبيح يجب عليه سجود السهو وان كان لايمنعه بان كان يقرء و يتفكر لايجب عليه سجود السهو فعلى هذا القول لوشغله التفكر عن تسبيح الركوع وهو راكع مثلا يلزمه السجود وعلى القول الاول لايلزم لانه لم يمنعه عن اداء ركن ولا واجب انتهى بحذف الزوائد (اقول فيه نظر) لان ايجاب الصفار سجود السهو على الراكع الذى شغله التفكر عن التسبيح ليس لاجل انه شغله عن التسبيح بل لانه شغله عن القومة التى هى واجبة لان اطالة الركوع كان مشروعاله لاجل التسبيح فلما تركه لم يكن له اطالة الركوع بل كان عليه ان ينتقل منه الى القومة فلما تركه اخر الواجب عن محله فيلزم عليه سجود السهو فح لامخالفة بين الجمهور والصفار فتدبر (من حبيب احمد) او په ردالمختار کښے ص۴۸۹ دی - الحاصل انه اختلف فی التفكر الموجب للسهو فقيل ما لزم منه تاخير الواجب او الركن عن محله بان قطع الاشتغال بالركن او الواجب قدر اداء الركن وهو الاصح انتهى بقدر الضرورة - دَدے عبارتونو نه معلومه شوه چه تفکر مطلقا موجب سهو نه دے بلکه هَله دے چه تاخير دَ رکن يا واجبو لره مستلزم شی او دَ تاخير زمانه به قدر دَ ادا دَ رکن وه ليکن دَ ادا دَ رکن زمانه څو اونه خوره نو ضرورت دَ دے چه دَ دے به نظائرو غور اوشی نو منجمله دَ هغے نظائرو نه يو نظير دَ انکشاف عورت دے په ماخذ کښے تفصيل ئے داسے په درمختار ص۴۲۳ کښے دی - ويمنع حتى انعقادها كشف ربع عضو قدر اداء ركن - شامی دَ دے لاندے ليکی - قوله اداء ركن اى بسنته فيه قال شارحها وذلك قدر ثلث تسبيحات اه - وكانه قيد بذلك حملا للركن على القصير منه للاحتياط الى ان قال ثم ماذكره اثار قول ابى يوسف واعتبر محمد اداءالركن حقيقة والاول المختار للاحتياط كما فی شرح المنية اه بحذف الزوائد - په غنيه شرح دَ منيه ص۲۱۳ کښے دی - وان انكشف عضو هو عورة فی الصلوة فستر من لبث لايضره ذلک ولايفسد صلوته لان الانكشاف الكثير فی الزمان القليل عفو كالانكشاف القليل فی الزمان الكثير وان ادّى معه اى مع الانكشاف ركنا كالقيام ان كان فيه او الركوع او نحو هما يفسد ذلك الانكشاف صلوته وان لم يؤد مع الانكشاف ركنا ولاكن مكث مقدارما اى زمن يؤدى فيه ركنا بسنته وذلك مقدار ثلث تسبيحات فلم يستر ذلك العضو فسدت صلوته عند ابى يوسف خلافا لمحمدؒ وكذا اذا وقع الرجل المصلى للمزاحمة فی صف النساء او وقع

م ای قدام الامام اورفع نجاسة ثم القی ای تلک النجاسة فعلی هذا الخلاف المذکور ان مکث قدر اداء رکن من غیر ان یؤدیه تفسد عند ابی یوسفؒ خلافا لمحمدؒ وقد تقدم الدلیل من الجانبین فی بحث النجاسة وان المختار قول ابی یوسفؒ فی الجمیع للاحتیاط انتهی بقدر الضرورة۔

دَدے عبارت نه نو زمانه دَ اداءِ رکن معلومه شوه چه په مقدار دَ درے تسبیحا تو ده او دَ زمانے دَ تفکر تشریح تے هم اوشوه۔ بل نظیر تلبس بالنجاسة فی الصلوة دے په دے کښے هم دَ امام ابو یوسفؒ او امام محمدؒ خلاف دَے هم دغه کوم چه په کشف دَ عورت کښے دَے چنانچه غنیه ص۱۹۹ کښے دی قال محمدؒ تجوز ما لم یؤد رکنا علی ذلک الحال لانه لم یؤد جزء من الصلوة مع المانع فلا تفسد ولابی یوسفؒ ان المعفو هو المقدار القلیل من الزمان والذی یمکن فیه اداء رکن کثیر فلا یعفی سواء ادی الرکن او لم یؤد اه۔ دَ دینه معلومه شوه چه مقدار دَ زمان قلیل دَ دواړو په نزد معاف دے مګر دَ امام محمد صاحبؒ په نزد قلیل هغه دَے چه حقیقةً دَ اداءِ دَ رکن نه کم وی او دَ امام یوسف صاحب په نزد قلیل هغه دَے چه دَ درے تسبیحا تو نه کم وی پس چونکه تفکر فی الزمان القلیل هم عفوه دے نو په دے وجه په په دے کښے هم دغه اختلاف وی۔ او چونکه دَ امام یوسف صاحب په نزد قلیل هغه دے چه دَ درے تسبیحا تو نه کم وی او دا مختاره ده نو په دے وجه که زمانه تفکر دَ درے تسبیحا تو نه کم وه نو معاف دے او که برابر یا تے زیاته وه نو معاف نه دَے۔

اوس دریم نظیر ته فکر اوکړے او دا جهر فی موضع المخافتة او بالعکس دَے په درمختار ص۷۷۶ کښے دی والا صح تقدیره بقدر ما یجوز به الصلوة فی الفصلین وقیل قائله قاضیخان یجب السهو بهما ای بالجهر والمخافتة مطلقا ای قل او کثر وهو ظاهر الروایة التی نقله الثقات من اصحاب الفتاوی اه۔ زاد المص فی منحه وانما عولنا علی الاول تبعا للهدایة وانا اعجب من کثیر من کمل الرجال کیف یعدل عن ظاهر الروایة الذی هو بمنزلة النص صاحب المذهب الی ما هو کالروایة الشاذة اه اقول لا عجب من کمل الرجال کصاحب الهدایة والزیلعی وابن الهمام حیث عدلوا عن ظاهر الروایة لما فیه من الحرج وصححوا الروایة الاخری للتسهیل علی الامة وکم له من نظیر ولذا قال القهستانی یجب السهو لمخافتة کلمة لکن فیه شدة قال فی شرح المنیة والصحیح ظاهر الروایة وهو التقدیر بما تجوز به الصلوة من غیر تفرقة لان القلیل من الجهر فی موضع المخافتة عفو ایضا ففی حدیث ابی قتادة فی الصحیحین انه علیه الصلوة والسلام کان یقرء فی الظهر فی الاولیین بام القرآن وسورتین وفی الاخریین بام الکتاب ویسمعنا الآیة احیانا اه ففیه التصریح بان ما صححه فی الهدایة ظاهر الروایة ایضا فان ثبت ذلک فلا کلام والا فوجه تصحیحه ما قلنا وتائیده بحدیث الصحیحین وقد قدمنا فی واجبات الصلوة عن شرح المنیة انه لا ینبغی ان یعدل عن الدرایة ای الدلیل اذا وافقتها روایة اه مافی الشامی۔ دَ دینه معلومه شوه چه دَ جهر او مخافت په مسئله کښے صحیح امر دا دے چه ما یجوز به الصلوٰة کثیر دے او دَ دے نه کم قلیل اوس دا کتل پکار دی چه ما یجوز به الصلوٰة نه دلته څه مراد دے نو ښکاره ده چه په دے کښے اختلاف دے۔ یو روایت دَ امام دا دے چه دا درے ایات چه کم نه کم شپږ حرفونه وی خواه

تحقيقا لکه "ثم نظر" يا تقديرا لکه" لم يلد"- په دې شرط چه يوه کلمه نه وي په دې سره موخ
جائز دے۰ او بل روايت دا دے چه اطلاق دَ قرآن په کيدې شي او دَ قصد خطاب دهوکه په نه
کيږي په دې سره موخ جائز دے دے روايت لره قدوري دَ امام صحيح مذهب ګنړلے دے
او زيلعي هم ترجيح ورکړے ده- او ويلي دي چه دا اقرب الى القواعد الشرعيه دے- او دويم روايت
دَ امام صاحبؒ او صاحبينوؒ مذهب دا دے چه په درے وړه واړا يا تو نو يا يو لوئے ايات موخ جائز
دے- په دې کښے مذهب دَ امام صاحب مرجوح او خلاف ئے راجح دے- ځکه چه منشا دَ عفو تسهيل على
الامة دے او تسهيل په مذهب مخالف کښے دے- نو چه په مذهب دَ امام صاحبؒ کښے نو هغه مذهب
په مختار دوي او ويلے په شي که دَ درې وړه واړا يا تو نو برابر جهر يا مخافت او شه نو سهوه لازم
شوه ورنه نه ده- او درے واړه ايا تونه يا ثم نظر ثم نظر ثم نظر دي چه اتلس[18] حروف
ئے دي يا ثم نظر ثم عبس وبسر ثم ادبر واستکبر چه ملفوظي حروف ئے يو کم ډېرش[29] دي- په
اول صورت کښے زمانه دَ جهرا و مخافت دَ دوه پيرے سبحان الله ويلو برابر ده-او که تلوار
کوي نو درے پيرے هم ويلے شي- او په دويم صورت کښے دَ درے پيرے سبحان الله ويلو برابر دي
ځکه چه دَ دے ملفوظي حروف نهه[9] دي او که يا ۹×۳ = ۲۷ کيږي ليکن په ۲۷ او ۲۹ کښے
څه معتد به فرق نشته نو دَ دے مسئلے حاصل دا شه چه که په تلوارے يا ارام سره درے
پيرے دَ سبحان الله ويلو مقدار جهر يا اخفاء واقع شوه نو سهوه لازم شوه ورنه نه-
په دے مقام دَ يو شک ازالہ مناسب ده چه دَ مخکيني بيان څخه نه پيدا کيږي هغه دا چه په
مسئله دَ انکشاف عورت کښے دَ امام محمدؒ په نزد اداء دَ رکن حقيقة معتبره ده او په مسئله دَ
جهر او اخفاء کښے مقدار دَ ما تجوز به الصلوة نو په دواړو مسئلو کښے فرق ثابت شه او تاسو څو
فرق نه کوئے بلکه قول يو شان ګنړئ- او يوه په بله قياس کوئے نو جواب ئے اول دا دے چه په دے
مسئلو کښے دَ امام محمدؒ په قول فتوى نشته بلکه دَ امام يوسف په قول ده نو دَ هغه دَ قول فرق
مونږ ته څه نقصان دے- بل دا چه دَ ما تجوز به الصلوة نه دَ امام محمدؒ په نزد درے ايا تو نه مراد
نه دي بلکه پوره قرأت مراد دے چه په دے رکعت کښے ئے کوي- ځکه قاعده دا ده چه څومره قرأت په
يو رکعت کښے کولے شي خواه طويله وي يا قصيره ټول فرض واقع کيږي- او دَ امام ابو يوسفؒ
په نزد دَ درے وړه واړا يا تو نو مقدار مراد دے چه دَ درے پيرے سبحان الله ويلو برابر دے- دا
وخت په نه دَ امام محمدؒ په نزد فرق وي او نه دَ امام ابي يوسفؒ په نزد والله اعلم - حاصل دَ
دے تقرير دا دے چه مفتى به او قابل اعتماد مذهب په مسئله دَ جهرا و مخافت کښے هم دا ده
چه درے پيرے سبحان الله ويلو برابر جهر يا مخافت وي نو سهوه لازميږي پس دَ
دے نه هم دا ثابتيږي چه په مسئله دَ تفکر کښے مقدار دَ درے تسبيحا تو معتبر دے-
څلورم نظير ئے زيادة على التشهد الاول دے چه تفصيل ئے دا دے په غنيه شرح
دَ منيه ص۳۲ کښے دي- فان زاد على قدر التشهد قال بعض المشائخ ان قال اللهم صل على محمد ساهيا

يجب عليه سجدة السهو وعن ابي حنيفة فيما رواه عنه الحسن ان زاد حرفا واحدا فعليه سجدتا السهو قال المص واكثر المشائخ على هذا اى على انه يلزمه السهو بزيادة حرف واحد وفى الخلاصة والمختار انه يلزمه السهو ان قال اللهم صل على محمد قال البزازى لانه ادى سنة وكيدة فيلزم تاخير الركن اى وبتاخير الركن يجب السهو وهذا باطلاقه يصلح دليلا لمن اختار رواية الحسن فان مطلق تاخير الركن موجود فى زيادة الحرف ونحوه ولا يخص ما اختاره هو وصاحب الخلاصة من التقييد بقوله اللهم صل على محمد والصحيح ان قدر زيادة الحرف ونحوه غير معتبر فى جنس ما يجب بسجود السهو وانما المعتبر قدر ما يؤدى فيه ركن كما فى الجهر فيما يخافت وعكسه وكما فى التفكر حالة الشك ونحوه على ما عرف فى باب السهو وقوله اللهم صل على محمد يشغل من الزمان ما يمكن ان يؤدى فيه ركن بخلاف ما دونه لانه زمن قليل يعسر الاحتراز عنه فبهذا يتم مراد البزازى ويعلم منه انه لا يشترط التكلم بذلك بل لو مكث مقدار ما يقول اللهم صل على محمد يجب السهو لانه اخر الركن بمقدار ما يؤدى فيه ركن اه درمختار ص۵۳۲ فصل اذا اراد الشروع کښے دى ولا يزيد فى الفرض على التشهد فى القعدة الاولى اجماعا فان زاد عامدا كره فتجب الاعادة او ساهيا وجب عليه سجود السهو اذا قال اللهم صل على محمد فقط على المذهب المفتى به ۵۱ او باب سجود السهو ص۷۷ کښے دى وتاخير قيام الى الثالثة بزيادة على التشهد بقدر ركن وقيد بحرف فى الزيلعى الاصح وجوبه باللهم صل على محمد اه - شامى کښے دى - قوله وفى الزيلعى جزم به المص فى متنه فى فصل اذا اراد الشروع قال انه المذهب واختاره فى البحر تبعا للخلاصة والظاهر انه لا ينافى قول المص هنا بقدر ركن تامل وقد منا عن القاضى الامام انه لا يجب ما لم يقل وعلى ال محمد وفى شرح المنية الصغير انه قول الاكثر وهو الاصح قال الخير الرملى فقد اختلف التصحيح كما ترى وينبغى ترجيح ما قال القاضى الامام اه وفى التاتارخانية عن الحاوى وعلى قولهما لا يجب السهو ما لم يبلغ الى قوله حميد مجيد اه ما فى الشامى - د دې عبارتونه معلومه شوه چه په زيادة على التشهد کښے د سهو په وجوب کښے خلور قولونه دى يو دا چه د يو حرف په زيادة سره سهوه لازميږى - بل چه د اللهم صل على محمد په زيادة سره سهوه لازميږى دريم دا چه د ال محمد پورے په ويلو سهوه لازميږى - خلورم دا چه د حميد مجيد پورے په ويلو سهوه لازميږى - په دے کښے اول او خلورم نا قابل اعتماد دى پاتے شو دويم او دريم نو په نزد د دواړو يو دى ځکه چه د دواړو حاصل دا دے چه مقدار د اداء د ركن مؤخر کولو سره سهوه لازميږى او دغه مقدار د درے تسبيحات دى لکه په شامى او غنيه کښے چه دى - پس کومو خلقو چه دا او ليده چه مونږ کوټکے په څومره ساعت کښے اللهم صل على محمد وال پسے دومره وخت کښے زر زر درے پيرے تسبيح ويلے شی نو په دے مقدار سے سهوه واجبه او ويله - او چا چه او کتل چه په آرام سره درے پيرے تسبيح په دومره ساعت کښے ويلے شی په څومره کښے چه اللهم صل على محمد وعلى ال محمد ويلے شی ځکه چه د تسبيح ۹ حروف دى او ۹ x ۳ = ۲۷ کيږى او س چه په اللهم الخ کښے دواړه تنوينه حذف شی نو ټول (۳۱) حرفونه دى او د تنوينو سره (۳۲) جوړيږى

نو په اول صورت کښې فرق د درې حرفو نو دے او په دویم کښې د پنځه ؤ - نو دا تفاوت هیڅ تفاوت نه دے) نو دوی په اللّٰهم صل علی محمد وعلیٰ ال محمد سهوه واجب وائی حاصل دا دے چه په زیادة علی التشهد کښې هم مقدار د ادا د رکن معتبر دے بعضې وائی چه اداء د رکن یعنې درې پیرے تسبیح ویل په دومره ساعت کښې ممکن دی په څومره کښې چه اللّٰهم صل علی محمد ویلے شی دارنګے دا د درے لنډ وایاتو نو ثم نظر ثم نظر ثم نظر برابر دے ځکه چه د دواړو حروف اتلس دی نو په دومره مقدار کښې به سجده سهوه لازمه شی او بعضې وائی چه په اطمینان سره درے پیرے تسبیح په دومره ساعت کښې ویلے شی په څومره کښې چه اللّٰهم صل علی محمد وعلی ال محمد ویلے شی دارنګ دا هم د درے لنډ وایاتو نو ثم نظر ثم عبس و بسر ثم ادبر واستکبر سره تقریباً برابر دے نو په دومره مقدار سره سهوه لازمیږی - دا اختلاف د تخریج دے نه چه اصل دا رنګه په اول کښې احتیاط دے او په ثانی کښې تسهیل - پس چه د زیادة علی التشهد حکم معلوم شه نو د دینه زمانه د مسئلې د تفکر هم معلومه شوه - د دے تمام تفصیل خلاصه دا شوه که طریان مفسد صلوة مثل تلبس بالنجاسة وانکشاف عورة وغیره - او - جهر فیما یخافت وبالعکس وتاخیر واجب مثل تفکر فی الصلوة وزیاده تشهد - تول مسائل متشابه او متماثل دی او د تولو حکم یوشان دے او په دے کښې د امام صاحب مذهب مختار نه دے بلکه د صاحبینو مختار دے یعنې چه په قدر د ادا د رکن تاخیر د رکن دے نو معتبر دے ورنه نو نه دے لیکن د دے په تشریح کښې د صاحبینو اختلاف دے د امام محمدؒ په نزد ادا د رکن حقیقة معتبر دے او د امام یوسفؒ په نزد د درے پیرے تسبیح یا د درے لنډ وایاتو نو مقدار معتبر دے نو په دے دواړو کښې بیا د ابو یوسفؒ مذهب مختار دے او د امام ابو یوسف د مذهب په تفصیل کښې بیا د علماؤ اختلاف دے - بعضې وائی چه درے پیرے تسبیح زر زر ویل دی او د لنډ ورے ایاتو نو نه مراد ثم نظر ثم نظر ثم نظر دے او بعضې وائی چه په آرام سره درې پیرے تسبیح ویل مراد دی او ثم نظر ثم عبس وبسر ثم ادبر واستکبر تلاوت کول مراد دی (په دے دواړو تولو نو کښې ځما په نزد دویم مختار دے او نه د خیر رملی سره اتفاق کوم) د دے تولو خبرو نتیجه دا شوه چه په مسئله د تفکر کښې د درے تسبیحاتو مقدار صحیح دے - او چا چه د دے مقدار یو وار تسبیح ویل مقرر کړیدی دا نه د امام صاحب مذهب دے او نه د صاحبینو مسلک دے بلکه دا د دوی ذاتی اجتهاد دے والله اعلم - په دے مقام کښې یوه بله خبره هم د غور ده چه لوستونکی په خطره کښې واقع نه شی هغه دا چه شامی د زیادة د تشهد په باره کښې اول د دے قول نقل کړی دی یو دا چه زیادت د یو حرف موجب سهوه دے دویم دا چه اللّٰهم صل علی محمد موجب د سهو دے دریم دا چه اللّٰهم صل علی محمد وعلیٰ ال محمد موجب د سهوے دے او بیا ئے ویلی دی هذا کله علی قول ابی حنیفة والا ففی التاتارخانیة عن الحاوی

انه علی قولهما لایجب السهو ما لم یبلغ الی قوله حمید مجید اه شامی ص۳۳۵ - لیکن دا نقل صحیح نه دے ځکه چه اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد - او - اللهم صل علی محمد موجب د سهو بنا په مذهب د امام ابویوسف دے نه په مذهب د امام صاحبؒ او د حمید مجید پورے موجب د سهو بنا په مذهب د محمدؒ نه چه په مذهب د ابویوسفؒ ځکه چه د امام محمد دا وصول دی چه په کوم رکن یعنی جزد مانځه کښے دے مشغول وی سنت وی یا واجب یا فرض د هغے د پوره کولو پورے زمانه کثیره ده او د دینه کم قلیل نو چه دۀ درود شروع کړه نو چه پوره ئے کړی هله به زمانه کثیره کنړلے شی ورنه قلیله فتدبر والله اعلم۔ (حبیب احمد کیرانوی)

دجنّت کالے درېيمه حِصّه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د روژے بيان

په حدیث شریف کښے د روژے لوئے ثواب راغلے دے د روژه دار مرتبه د الله تعالی په نزد ډیره لویه ده نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائیلی دی چاچه د رمضان روژے محض د الله پاک د پاره د ثواب په نیت ونیوے نو ټول وړمبی گناهونه به ئے معاف شی او نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائیلی دی چه د روژه دار د خولے بوئ د الله پاک د مشکو د خوشبوئی نه زیاته خوښه ده - د قیامت په ورځ به د روژے بے حده ثواب ملاؤ شی -

روایت دے چه د قیامت په ورځ به روژه دارو ته د عرش لاندې دسترخوان خور کړے شی او دوی به ناست وی خوراک به کوی او ټول خلق به په حساب کښے تختی وی نو دغه خلق به او وائی چه دا څوک دی چه دوی خوراک کوی او مونږ په حساب کښے تختی یو نو ورته به او ویلے شی چه دا روژه داردی او تاسو به روژے خوړے - روژه د اسلام لوئے رکن دے څوک چه د رمضان روژے نه نیسی لوئے گناه دے او دین ئے کمزورے دے -

مسئله:- د رمضان روژے په هر مسلمان چه لیونے او نابالغ نه وی فرض دی ترڅو پورے چه (شرعی) عذر نه وی روژه خوړل گناه دے - او که څوک روژه نذر کړی نو نذر د روژه پے فرض شوه او قضا او د کفارے روژه هم فرض ده او د دینه سوا نورے روژے نفل دی نیول ئے ثواب دے - البته د دواړه اخترو لوئے اختر په ورځ او درے ورځے د لوئے اختر په ورځ پسے نورے دا پنځه ورځے روژه نیول حرام دی -

مسئله ۲:- دَ صبا ختو نه دَ غرمې پورې تو پورې دَ روژې په نیت سره خوړل سکل او کور والې بند قَوْلُ دیته په شرع کښې روژه وائی -

مسئله ۳:- په ژبه نیت کولو ته حاجت نشته بلکه په زړه کښې دا خیال راوستل چه نن ې روژه ده او ټوله ورځ څه خوراک سکاک او کور والې او نه کړی نو روژه ې او شوه او که څوک پخولې داسې او وائی چه یا الله صبا به زما روژه وی او یا په عربی او وائی چه بِصَوْمِ غَدٍ نَوَیْتُ او د زړه اراده ې هم وی نو هم خیر دې غوره ده -

مسئله ۴:- که چا ټوله ورځ خوړل سکل او نه کړه د ما ښامه پورې او ې نګلې وه او په زړه کښې ې دَ روژې اراده نه وه بلکه خوراک سکاک ته ې شوق نه دے راغلې یا په څه بله وجه ې دَ خوراک سکاک څه موقع را نغله نو روژه ې نه ده شوې که په زړه کښې ې دَ روژې اراده کړې وې نو روژه به ې حله شوې وه -

مسئله ۵:- په شریعت کښې دَ روژې وخت دَ صبا صادق نه شروع کیږی نو چه صبا نه وی ختلې خوراک سکاک کیږی دَ بعضو ښځو دا عادت وی چه پیشمنې په شپه کښې او کړې او نیت او تړی او بیا ې دا خیال وی چه اوس دَ نیت کولو نه پس څه خوړل سکل جائز نه دی دا خیال غلط دے که نیت او کړی نو هم چه صبا شوې نه وی خوړې سکې شی -

دَ رمضان روژې بیان

باب دوئیم

مسئله:- دَ رمضان دَ روژې نیت که دَ سحر نه او کړی نو هم روژه او شوه -

او که دَ شپې نه ې دَ روژې نیت نه وه خو دَ ورځې ې دا خیال راغې چه روژه نه پریدم نیسم ې نو هم ې روژه او شوه لیکن که دَ سحر ې څه خوړلی سکلی وی نو اوس نه کیږی -

مسئله ۲:- که دَ سحر نه ې څه خوړلی سکلی نه وی نو دَ غرمې نه یعنې دَ نیمې ورځې نه اول اول دَ رمضان[2] دَ روژې نیت کولې شی -

مسئله ۳:- دَ رمضان په روژه کښې بس دومره نیت کافی دے چه نن زما روژه ده یا دَ شپې دومره په خیال کښې راولی چه صبا زما روژه ده بس په دے سره دَ رمضان روژه کیږی که په نیت کښې رمضان یا فرض او نه وائی نو هم خیر دے روژه کیږی -

مسئله ۴:- دَ رمضان په میاشت کښې که چا دَ نفل روژې نیت او کړه چه صبا به نفل روژه

---

[1] یعنی دَ قیامت په ورځ به دَ روژې په وجه دَ روژه دار خولې ته دَ مشکو نه زیاته خوشبوئی ورکړے شی چه دَ خدائے پاک به هغه خوښه وی دَ دنیا دَ مشکو دَ خوشبوئی او دا مطلب دے چه ټوله ورځ به خوله نه صفا کوی مسواک نه کوی ۱۲

[2] دَ دے طریقه دا ده چه دا به معلومه کړی چه صبا په څو بجې خیژی او غرمه په څو بجې پریوزی نو دغه وخت به نیم کړی او دَ نیم وخت نه یو ګینټه اول یا تر مخکښې چه نیت او کړی او شه او که نیم یا تر زیات وخت تیر شه او بیا ې نیت او کړه نه دے شوے ۱۲ په دے مسئله سوال او جواب په امداد الفتاوی ص۹۹ ج۲ کښې دے ۱۲ تصحیح الاغلاط ۱۲

نیسم دَ رمضان نه نیسم قضا بهٔ بیا او نیسم نو هم دَ رمضان روژه اوشوه - نفل نه.

مسئله ۵:- دَ تیر رمضان روژے تے قضا شویدی او هس بل رمضان راغے او په دَ کښے دے دَ قضا روژے نیت کوی نو دَ دے رمضان روژه ئے کیږی دَ قضا نه کیږی قضا به بیا نیسی.

مسئله ۶:- چا نذر منلے وه چه که فلانے کار مِ اوشه نو دَ الله دَپاره به یوه یا دوه روژے اونیسم نو چه دَ رمضان میاشت راغله دَ هٔ دَ هغے نذر روژے نیت اوکړه دَ رمضان نه نو هم ئے دَ رمضان روژه اوشوه نذر به دَ رمضان نه پس نیسی - خلاصه دا شوه چه دَ رمضان په میاشت کښے که دَ هرے یوے روژے نیت کوی خو دَ رمضان کیږی بله نه کیږی -

مسئله ۷:- دَ شب قدر په یوکم دیرشم تاریخ که دَ رمضان میاشت را او نخته نو سحرله روژه کړه او که را اُونخته یا په اسمان وریځ وه او میاشت اونه لیده شوه نو سحر تر غرمے پورے چه دا شك وی چه رمضان شروع شوه او که نه - روژه به نه نیسے بلکه دَ شعبان دیرش به پوره کوے روژه به هله شروع کوے -

مسئله ۸:- په یوکم دیرشم تاریخ دَ وریځے په وجه میاشت اونه لیده شوه نو سحر له نفل روژه هم مه نیسه البته که داسے اتفاق پریوت چه دَ همیشه نه دَ یو مخصوصه ورځ روژے وه او سحرله هغه ورځ وه نو بیا دسحر نه دَ نفل روژے نیت غوره دے - بیا که چرته نه دَ رمضان خبر راغے نو دغه نفل روژه ئے دَ رمضان روژه شوه -

مسئله ۹:- دَ وریځے په وجه په یوکم دیرشم تاریخ میاشت اونه لیدے شوه نو دَ غرمے نه یو گینټه مخکښے پورے څه خوره سکه مه که خبر راغے نو روژه کړه ورنه خوره سکه -

مسئله ۱۰:- په یوکم دیرشم تاریخ میاشت اونه لیدے شوه نو دا خیال مه کوه چه سحرله خو رمضان نه دے - نو راشه چه دَ تیر کال قضا روژه یا چه را باندِ نذر دے هغه روژه به اونیسم دغه ورځ قضا روژه او دَ کفارے روژه او دَ نذر روژه نیول هم مکروه دی یوه دے هم نه نیسی او که قضا یا دَ کفارے روژه ئے اونیوله او دَ چرته نه دَ میاشتے خبر راغے نو هم ئے دَ رمضان روژه ادا شوه دغه کفاره یا قضا به بیا نیسی - او که خبر رانغے نو چه دَ کومے روژے نیت ئے کړے وَی هغه ادا شوه -

دَمیاشتے لیدَلو بیان

مسئله ۱:- که په اسمان گرد یا غبار وه په دے وجه دَ رمضان میاشت اونه لیدے شوه لیکن یو دیندار رشتونی سړی گواهی اوکړه نو ثبوت دَ میاشتے اوشه که ښځه وی او که سړے.

مسئله ۲:- او که دَ وریځے په وجه دَ اختر میاشت اونه لیدے شوه نو دَ یو سړی گواهی نه شی قبلیدے خواه هر څو مره مقبول بنده چه وی - بلکه کله چه دوه معتبر گواهان گواهی اُوکړی یا یو دیندار سړے او دوه دیندارے ښځے دَ میاشتے دَ لیده گواهی اوکړی نو ثبوت به اوشی - او که څلور و ښځو گواهی اوکړه نو هم قبوله نه ده -

مسئله ۳:- کوم سړے چه دینداره نه وی بلا بر گناه کوی مثلاً مونځ نه کوی روژه نه نیسی دروغ وائی یا بل څه گناه کوی - دَشریعت پابندی نه کوی نو دَده دَ خبرے په شرع کښے هیڅ اعتبار نشته خواه که هرڅومره قسمونه خپله خبره اوکړی داسے که ډیر خلق وی هم ئے خبرے له اعتبار نشته -

مسئله ۴:- داچه مشهوره ده چه کومه ورځ دَ شعبان څلورمه وی هغه دَ روژے اوله وی - دَدے هم په شریعت کښے څه اعتبار نشته - دَمیاشتے لیدل معتبردی -

مسئله ۵:- میاشت لیدل اوداسے ویل چه ډیره لویه ده دَ دویمے معلومیږی دابده خبره ده - په حدیث کښے راغلی دی چه دا دَ قیامت نښه ده (یعنے داسے خبرے کول دَ قیامت دَعلاموں یوعلامه ده) چه قیامت نزدے شی نو خلق به داسے وائی - غرض داچه دَ میاشتے لوئے والی او ورکوټوالی له هم څه اعتبار نشته.

مسئله ۶:- که اسمان بالکل صاف وی نو دَه دوه څلورو تنو گواهی هم بیا قبوله نه ده که دَ روژے میاشت وی او که دَ اختر وی البته چه دومره ډیر خلق گواهی اوکړی چه دَ هغوی دروغژن والے بیا زړه نه منی نو بیا به دَمیاشتے ثبوت اوشی -

مسئله ۷:- په ټول ښهر کښے خبره مشهوره شوه چه میاشت اولیدے شوه لیکن دَ ډیر تلاش نه پس هم داسے څوک ملاؤ نه شو چه خپله ئے میاشت لیدلے وی نو داسے خبرهم څه اعتبار نشته -

مسئله ۸:- چا دَ رمضان میاشت یواځے اولیده بغیر دَدهٔ نه په ښهر کښے بل چا نه ده لیدلے لیکن دے دَشریعت پابند نه دے نو دَده گواهی قبوله نه ده البته دے به خپله روژه نیسی او که دهٔ دیرش روژے پوره کړے او میاشت چا اونه لیده نو دے به یواځے نه اختر کوی بلکه یو دیرش روژے به نیسی او دَ نورو سره به اختر کوی -

مسئله ۹:- که چا دَ اختر میاشت یواځے اولیده نو دَده گواهی منظوره نه ده په شریعت کښے نو دے به هم یواځے نه اختر کوی سحرله به روژه نیسی او خپل دَ میاشتے لیدو له به اعتبار نه ورکوی روژه به یواځے نه ماتوی -

دَقضا روژے بیان

خلورم باب

مسئله ۱:- کومے روژے چه په څه وجه سره پاتے شوے وی دَ رمضان نه پس ترڅو چه ممکن وی زر دے دَهغے قضا نیسی بے عذره دَقضا روژے نه ټیول گناه دے -

مسئله ۲:- په قضا روژه کښے دَورځے او تاریخ تعین نه ضرورت نشته بلکه څومره روژے چه قضا وی دَهغې هومره روژے داو نیسی پوره ده - البته که دَ دوه رمضانو روژے قضا وی او او س ټولے نیسی نو دَ کال مقرر کول ضروری دی یعنے داسے نیت به کوی چه دَ فلانی کال دَ قضا روژو نیت کوم -

مسئله ۳:- په قضا روژو کښې د شپې نه نیت کول ضروري دي که د سحر نه ئې نیت اؤ کړه نو دغه ئې نفل شوه قضا به بیا نیسي۔
مسئله ۴:- د کفارې د روژو هم دغه حکم دې یعنې د شپې نه به نیت کوي که د سحر نه وروستو ئې نیت اوکړه نو د کفارې روژه ئې نه ده شوې۔
مسئله ۵:- څومره روژې چې ترې قضا شوې وي که په یو ځائې ئې نیسي او که جدا جدا ئې یو یو یا دوه دوه نیسي د ده اختیار دې۔
مسئله ۶:- که د رمضان قضا روژې ئې لا نه وې نیولې چې بل رمضا ن راغې نو خیر اوس دې د دې رمضان ادا روژې اونیسي قضا روژې به د اختر نه پس اونیسي۔ خو څومره قضا روژې پاتې کول بده خبره ده۔
مسئله ۷:- د رمضان په میاشت کښې د ورځې بې هوشه شه او بې هوشي ئې د یوې ورځې نه زیاته شوه نو د بې هوشه کیدو د ورځې نه علاوه چې څومره ورځې بې هوشه وه د هغې ورځو قضا به نیسي په کومه ورځ چې بې هوشه شوې دې د هغې ورځې قضا پې واجبه نه ده ځکه چې د دغې ورځې روژه ئې د نیت په وجه شوې ده۔ لیکن که په دغه ورځ ئې روژه نه وه یا ئې څه دوائي حلق ته واچولې شوه او تیره ئې شوه نو بیا پې دغه روژه هم قضا واجبه ده۔
مسئله ۸:- او که د شپې نه بې هوشه شوې وه بیا پې هم د دغه ورځې د کومې په شپه چې بې هوشه شوې دې قضا واجب نه ده د باقي ټولو ورځو قضا پې واجب ده لیکن که دغه شپه ئې د سحر د روژې نیت نه وه یا ئې سحر څه دوائي تیره شوه نو بیا به د دغه ورځې قضا هم نیسي۔
مسئله ۹:- که ټول رمضا ن بې هوشه پاتې شه بیا به هم قضا راوړي۔ البته که لیونې شه او ټول روژه لیونې وه نو بیا پې قضا نشته او که په مینځ د رمضان کښې روغ شه لیونتوب ترې لاړو نو اوس د پاتې روژې اونیسي او قضا شوې روژې به هم نیسي۔

باب پنځم

د نذر روژو بیان

مسئله ۱:- که چا روژه نذر کړه نو نیول ئې واجب دي په نه نیولو ئې ګناه ګار دې۔
مسئله ۲:- نذر په دوه قسمه دې یو دا چې ورځ او تاریخ مقرر کړي چې که دا فلانے کار م اوشه نو په فلانئ ورځ به روژه نیسم نو په دا سې نذر کښې که د شپې نه د روژې نیت اوکړي هم ټیک دې او که د غرمې نه یو ګینټه مخکښې نیت اوکړي نذر به ئې ادا شي۔
مسئله ۳:- د جمعې د ورځې د روژې نذر ئې منلے وه او چې جمعه راغله نو بس دومره نیت ئې اوکړو چې نن زما روژه ده دا تعین ئې اونه کړه چې د نذر ده۔ یا ئې د نفل نیت اؤ کړه نو هم ئې نذر ادا شه۔ البته که په دې جمعه ئې د قضا روژې نیت اوکړه او د

نذر روژه ئې جېره وه یائې یاده وه خو قصداً ئې دَ قضا نیت اوکړه نو قضا ئې اوشوه دَ نذر روژه به بیا نیسي -

مسئله ۴:- بل نذر دادے چه ورځ یا تاریخ مقرر نه کړي خو دومره اووائي چه یا الله که زما فلانے کار اوشه نو یوه روژه به اونیسم یائې څه نوم وانه اخستو دَ کار خو دغسے ئې اووے چه پنځه روژے به نیسم په دا سے نذر کښے دَ شپے نه نیت کول شرط دي - که دَ سحر کیدو نه پس ئې نیت اوکړ نو دَ نذر روژه ئې اونه شوه نفل ئې اوشوه -

[شپږم باب]

دَ نفل روژے بیان

مسئله ۱:- دَ نفل روژے په نیت کښے که دا سے اووائي چه نفل روژه نیسم نو هم صحیح ده او که صرف دومره نیت اوکړي چه روژه نیسم نو روژه اوشوه -

مسئله ۲:- دَ غرمے نه دَ یوے گینټے نه مخکښے پورے دَ نفل روژے نیت کیدې نو دَ لسو بجو پورے ئې څه خوړلي سکلي نه وي او اوس دَ روژے نیت اوکړي نو اوشوه -

مسئله ۳:- دَ رمضان دَ میاشتے نه سوا کومه ورځ چه نفل روژه نیول غواړي نیوے شي څومره زیاتے چه اونیسي زیات ثواب به بیا موموي البته دَ دوکوچني اختر په ورځ او دَ لوئي اختر لسمه یولسمه دولسمه دیارلسمه په ټول کال کښے فقط دا پنځه ورځے روژه نیول حرام دي دَ دینه سوا هره ورځ نیوے شي -

مسئله ۴:- که چا دَ اختر دَ ورځے روژه نذر کړه هم به ئې بله ورځ نیسي دَ اختر په ورځ به ئې نه نیسي جائز نه دي -

مسئله ۵:- که چا دَ ټول کال روژے نذر کړے چه پوره کال به روژے نیسم نو هم به دا پنځه ورځے نه نیسي باقي به ټولے اونیسي دَ دے پنځه ورځو به بیا قضا راوړي -

مسئله ۶:- نفل روژه په نیت کولو شروع واجبیږي نو که چا دَ صبح صادق نه مینه نیت اوکړه چه نن م روژه ده او بیا ئې ماته کړه نو قضا په واجب شوه -

مسئله ۷:- چا دَ شپے اراده اوکړه چه نن به صبا روژه نیسم لیکن بیا ئې دَ صبا ختو نه اول اراده بدله شوه او روژه ئې نه کړه نو قضا واجب نه ده -

مسئله ۸:- بغیر دَ خاوند دَ اجازت نه نفل روژه نیول جائز نه دي که بغیر دَ هغه دَ اجازت نه ئې روژه کړه او هغه ورله ماتول نو ماته دَ کړي بیا دے قضا دَ هغه په اجازت سره راوړي -

مسئله ۹:- دَ چا کره میلمنه شوه یا چا دعوت ورکړه او په نه خوراک دَ هغه زړه

لہ یعني کله چه ئې دَ غرمے نه اول نیت کړے وي که دَ شپے ئې نیت کړے وه نو دَ صبا ختو نه مخکښے خپله اراده بدلولے شي نکه په راتلونکے مسئله کښے راځي ۱۲ ۲ له دا حکم هله دے چه خاوند ئې په کور وي ۱۲

۳ له یعني هر کله چه دَ میلمه زړه دَ کوربه په نه خوړو خفه کیده ۱۲ محشي ۱۲ اللّٰهم اغفر لکاتبه ولوالدیه آمین ۱۲

خفه کیده نو نفل روژه به ماتوی او د میلمه د پاره کو روالا هم ما تولے شی -

مسئله ۱۰:- چا د اختر په ورځ نفل روژه اونیوه نو ماته دې کړی او قضا پې نشته -

مسئله ۱۱:- د محرم د لسم تاریخ روژه مستحب ده په حدیث کښې دی چه چا دا روژه اونیوه نو د یو کال گناهونه به ئې معاف شی را و د دې سره د نهم یا یولسم تاریخ روژه نیول هم مستحب دی صرف د لسم تاریخ روژه یوائې نیول مکروه دی) -

مسئله ۱۲:- دغه شان د لوئې اختر د نهم تاریخ روژه نیول هم ډیر لوئې ثواب دے د یو کال مخکښې او د یو کال را تلونکی گناهونه پې معاف کیږی او د اولے نه د نهمې پورې ډیر ثواب دې

مسئله ۱۳:- د شعبان د پنځلسم تاریخ او د دواړه اختر شپږ روژې هم ډیر ثواب لری.

مسئله ۱۴:- که د حرے میاشتې دیارلسمه څوارلسمه پنځلسمه ورځ روژه نیسی نو گویا دهٔ ټول کال په مخه روژې اونیوے - حضور صلے الله علیه وسلم به دا روژې نیوے دغه شان به ئې د هرے دوشنبې او جمعرات د ورځو روژې نیوے - که څوک همت کولے شی نو ډیر ثواب دے په کښې -

اووم باب	په کومو څیزونو چه روژه نه ماتیږی او په کومو چه ماتیږی او قضا یا کفاره لازمیږی د هغې بیان

مسئله ۱:- که په هیره سره روژه داره څه اوخوری یا اوسکی یا د خاوند سره څملی نو روژه ئې نه ده ماته اگر که څهٔ په مړه خیټه اوخوری اوسکی او که په هیره ډیرے پیرے هم اوخوری اوسکی بیا هم روژه نه ماتیږی -

مسئله ۲:- یو سړی په هیره سره څه خوړل سکل نو که طاقتور وه روژے نه خراب نو یا ده ول ورته واجب دی او که کمزورے وه نو هغه ته به نه یادوی -

مسئله ۳:- د ورځې اوده شو او بخواب کښې پې غسل واجب شه نو روژه ئې نه ده ماته -

مسئله ۴:- د ورځې رانجه پورے کول تیل لگول خوشبو بوئول جائز دی روژه پې نه ماتیږی بلکه که په لاړو یا پوزه (ترنړه) کښې د رنجو رنگ راغے هم نه ماتیږی - او نه مکروه شوه -(یعنې نه په دې سره روژه ماتیږی او نه مکروه کیږی) -

مسئله ۵:- د ښځې او خاوند یو ځائے څملاستل لاس لګول مینه محبت کول ټول جائز دی - البته که د ځوانئ جوش ئې غالب وه او د کوروالی یره وه نو بیا مکروه دی -

مسئله ۶:- خلق تماشے وغیره لاړ یا د ځان ورته لوګے یا ګرد غبار لاړ نو روژه نه ماتیږی او که قصداً ئې راسے اوکړه نو ماته شوه -

مسئله ۷:- لوبان وغیره نه ئې لوګے اوکړه او ځان ته ئې نزدے کړه په پوزه ئې راخکود

نو روژه ئے ماتہ نشوه دغه شان په چیلم سګلو هم ماتیږی البته عطر کیوړه ګلاب ګلونه وغیره خوشبوپه پوزه راخکودل چه لوګے پکښے نه وی روژه پے نه ماتیږی۔

مسئله ۸:۔ په غابښونو کښے دَ غوښے پوتے وغیره نختے وه په چکی ئے راویستو اُوئے خوړے لیکن دَخولے نه ئے باهر نه وه راویستلے دَ ځانه حلق ته لاړے نو که دَ چڼړے نه کم وی نو روژه نه ده ماته او که دَ چڼړے برابر یا تے زیاته وی نو ماته شوه او که دَخولے نه ئے باهر کړه اوبیا ئے تیره کړه نو په دواړو صورتو نو کښے روژه ماته شوه که کم وی او که زیات۔

مسئله ۹:۔ په لاړو تیره ولو روژه نه ماتیږی که هر څومره وی۔

مسئله ۱۰:۔ که پان ئے اوخوړا وخوله ئے ښه ونځکله خو بیا ئے هم په لاړو کښے سور والے وه نو خیر دے روژه نه ماتیږی۔ (ق)

مسئله ۱۱:۔ دَشپے پے غسل واجب شوے وه غواړُئے نه کړه دَورځے ئے اوکړه نو روژه ئے کیږی بلکه که تو له ورځ ئے اونه کړه هم نه ده ماته۔ البته ګناه ئے بیله خبره ده۔

مسئله ۱۲:۔ پوزه ئے په زوره راخکوده چه حلق ته لاړه نو روژه نه ماتیږی۔

مسئله ۱۳:۔ په خوله کښے ئے پان وه اوده شه او سحر ویښ شه نو روژه اونه شوه قضا به ئے نیسی البته کفاره پے نشته۔

مسئله ۱۴:۔ دَخولے ونځلو پوخت کښے ئے اوبه تیرے شوے نو که روژه ئے یاده وه ماته شوه قضا به ئے نیسی خو کفاره پے نشته۔

مسئله ۱۵:۔ بے اختیاره قے ئے اوشه نو که لږ وی او که ډیر روژه نه ماتیږی البته که قصدًا ئے اوکړه او په ډکه خوله وه نو ماته شوه او که لږ وه نو نه ماتیږی۔

مسئله ۱۶:۔ لږ قے ورله راغے او بیا دَ ځانه واپس حلق ته لاړه نو روژه نه ده ماته او که قصدًا ئے واپس کړو نو ماته شوه۔

مسئله ۱۷:۔ چا کیتئ یا اوسپنه یا داسے شے تیر که چه دَ خوراک یا دوائی په طور دَ خوراک نه وه نو روژه ئے ماته شوه البته کفاره پے واجب نه ده۔ او که داسے شے ئے تیر کړه چه خوړے شه یا په دوائی کښے استعمالیده نو روژه ئے ماته شوه قضا او کفاره پے دواړه واجب شو۔

مسئله ۱۹:۔ که کور والے ئے او که نو هم پے قضا او کفاره واجب شو چه دَ سړی دَ تشو بولو دَ ځائے سَر قدر رے دننه شو نو روژه ماته شوه قضا او کفاره لازم شو که منی او وته او که نه۔

مسئله ۱۹:۔ که سړی دَ لویو بولو په ځائے کښے دَ خپل اندام سر دننه کړه نو هم دَ ښځے او سړی روژه ماته شوه قضا او کفاره لازم شو۔

مسئله ۲۱:۔ دَ روژے په ماتولو سره جله کفاره لازمیږی چه دَ رمضان په میاشت کښے روژه ماته کړی دَ رمضان شریف نه علاوه دَ بلے روژے په ماتولو سره کفاره نه لازمیږی که هر څنګه چه ئے ماته کړی۔ او قضا دَ رمضان روژه که ولے نه وی۔ البته که دَ دے

روژے نیتۍ د شپے نه وی کړے یا د روژے ماتولو نه پس ئے حیض اوشو نو بیا پرے کفاره نشته.

مسئله ۲۱:- چا په غوږ کښے تیل واچول یا ئے زکام او واهه یا ئے په څه عمل سره چا پاوکړه دسکولو څه دوائی ئے او نه خوړه نو روژه ماته شوه قضا پرے شته او کفاره پرے نشته او که په غوږ کښے ئے اوبه واچولے نو روژه نه ماتیږی.

مسئله ۲۲:- په روژه کښے د تشو بولو په ځائے کښے تیل یا دوائی اچول جائز نه دی که ئے کیخوده نو روژه ئے ماته شوه قضا پرے شته کفاره نه ده (احکم د ښځو د پاره هم د سړو دے)

مسئله ۲۳:- د څه ضرورت په وجه د ښځے د تشو بولو په ځائے کښے دائی گوته دننه کړه یا دے پخپله بیائے د تیلو گوتے راوویستو یا لړے راوویستو نه پس بیا واپس کړه نو روژه ماته شوه قضا پرے شته او کفاره پرے نشته- او که په اوله پیره گوته لونده وه نو هم. البته که دوباره ئے واپس نه کړه نو روژه نه ده ماته.

مسئله ۲۴:- د خولے نه وینه اووته او د لاړو سره ئے تیره کړه نو که وینه په لاړو غالبه وه او په حلق کښے ئے خوند معلوم شه روژه ماته شوه او که کمه وه نه ده ماته.

مسئله ۲۵:- که په ژبه ئے څه شے او څکلو او بیائے توک کړه نو روژه نه ماتیږی لیکن بے ضرورته داسے کول مکروه دی- لیکن که د چا خاوند بد مزاجه وی نو سالن وغیره ورله څکل جائز دی مکروه نه دی.

مسئله ۲۶:- د وړکوټی له پخپله خوله کښے څه شے ژویل او ورکول مکروه دی لیکن که مجبوری او ناچاری وی بیا مکروه نه دی.

مسئله ۲۷:- کوئله ژویل غا ښونه په منجن یا بل څه شی صاف کول مکروه دی او که حلق ته ئے څه لاړه روژه ماته شوه- مسواک کول که تازه وی او که اوچ خو له صفا کول جائز دی- که د نیم لرگے وی او ترخوالے ئے په خوله کښے معلومیږی هم مکروه نه دی.

مسئله ۲۸:- یوه ښځه اوده وه یا بے هوشه وه او خاوند ورسره کوروالے اوکړه نو روژه د دواړو ماته شوه ښځه به صرف قضا راوړی او سړے به قضا او کفاره دواړه.

مسئله ۲۹:- چا په هیره څه او خوړل او دائے خیال شه چه روژه م ماته شوه نو په دے وجه ئے بیا قصداً څه او خوړل نو روژه ئے ماته شوه خو قضا پرے شته او کفاره پرے واجب نه ده.

مسئله ۳۰:- که د چا قے اوشه او خیال ئے اوکه چه روژه م ماته شوه څه ئے اوخواړه نو قضا پرے واجب ده او کفاره پرے واجب نه ده.

مسئله ۳۱:- که رانجه ئے پورې کړه یا ئے زکام او واهه یائے تیل او لږه ول بیا ئے خیال اوکړه چه روژه م ماته شوه اوڅه ئے اوخواړه نو قضا او کفاره پرے دواړه واجب دی.

ئے په دے مسئله شبه او جواب په امداد الفتاوی دویم جلد ص۱۱۵ کښے دی ۱۲ شبیر علی-

مسئله ۳۲:- د رمضان په میاشت کښې که اتفاقاً د چا روژه ماته شوه نو بیا به هم څه خوری سکی نه بلکه ورځ به د روژه دارو په شان اوسی۔

مسئله ۳۳:- که چا په رمضان کښې د روژے نیت نه وه کړے او څه ئے خوړل سکل نو کفاره پرې نشته کفاره هله واجبیږی چه نیت اوکړی او بیا ئے ماته کړی۔

اتم باب

د پیشمنی او روژه ماتی بیان

مسئله ۱:- پیشمنے کول سُنّت دی که څه ئے خواته نه کیږی خو یوه دوه چوهارے یا بل څه لږ څیز شے دے او خوری یا کم نه کم او به دے یو گوټ دوه او سکی۔

مسئله ۲:- که پان ئے د پیشمنی پچائے او خوړ هم ئے پیشمنے او شه ثواب وے۔

مسئله ۳:- پیشمنے چه ترڅو کیدے شی نا وخته غوره دے خو دومره نه چه سحر شی پے۔

مسئله ۴:- که پیشمنے ئے وختی اوکړه خو بیا نا ست وه پان چائے وغیره ئے کول خو چه صبا ته لږ وخت پاتے شه خوله ئے کنگال کړه نو هم ئے د نا وخته پیشمنی ثواب او شه۔

مسئله ۵:- که د پیشمنی کول نه او ده پاتے شو سحر شه پے نو هم به روژه نیسی۔

مسئله ۶:- ترڅو چه صبا نه وی ختلے تر هغے د پیشمنی وخت دے او چه صبا او خوت بیا پیشمنی کول جائز نه دی۔

مسئله ۷:- د خوابه بید ار شه او دا ئے خیال وه چه لا صبا نه دے ختلے او پیشمنے ئے اوکه بیا معلومه شوه چه هغه څو سحر وه نو روژه نه ده شوے قضا به راوړی لیکن کفاره پې نشته خو اوس به څه خوری سکی نه۔ دغه شان که د نمر پریوتو په خیال ئے روژه ماته کړه او بیا معلومه شوه چه نمر لا نه دے پریوتے نو روژه ئے ماته شوه قضا به راوړی کفاره پے نشته خو اوس به هم نو رڅه نه خوری د نمر پریوتو پورے۔

مسئله ۸:- دومره نا وخته شه چه د صبا ختو شک ئے پید اشه نو اوس څه خوړل مکروه دی۔ او که د دغه وخت ئے څه خوراک سکاک اوکړه نو بد ئے اوکړه گناه ئے او شه۔ او که بیا معلومه شوه چه دغه وخت خو سحر شوے وه نو د دغے روژے به قضا راوړی او که هیڅ نه شی معلومه بلکه همسے شک ئے وی نو قضا پے نشته البته احتیاطاً غوره ده چه قضا راوړی۔

مسئله ۹:- مستحب دا دی چه د نمر پریوتو سره فوراً روژه ماته نا وخته کول مکروه دی۔

مسئله ۱۰:- د وریځے په ورځ لږ نا وخته کول پکار دی چه بنه یقین راشی چه نمر پریوت او صرف په گهړئ اعتبار مه کوه ترڅو چه دے خپل یقین خاص شوے نه وی شاید چه په گهړئ کښې غلطی راشی۔ او که چرته بانگ هم او ویلے شی خو چه ستا یقین په نمر پریوتو نوی هم روژه ماتول جائز نه دی۔

مسئله ۱۱:- په چوهارو سره روژه ماتول غوره دی یا په بل خوږ شی او که دا نوی

نو بیا په او بوما تول غوره دی - بعضے بنځے یاسړی په ماګکه روژه ماتول ثواب ګڼړی دا نښته -

مسئله ۱۲:- ترڅو چه په غر پریو تو کښے شک وی روژه ماتول جائز نه دی -

دَ کفارے بیان

مسئله ۱:- دَ رمضان شریف دَ روژے ماتو لو کفاره داده چه دَ دوه میاشتے به پرلپسے روژے نیسی لږے لږے نیول ئے جائز نه دی - که په څه وجه ئے په مینځ کښے یوه ورځ روژه قضا کړے بیا به ئے دَ سره نیسی لیکن کومے روژے چه په حیض پاتے شی خیر دے لیکن دَ پاکید وسره به فورًا بیا شروع کوی او شپیته روژے به پوره کوی -

مسئله ۲:- که دَ نفاس په وجه په مینځ کښے روژے پاتے شوے نو هم کفاره صحیح نه ده بیا به ئے دَ سره شروع کوی -

مسئله ۳:- که دَ څه بیمارئ په وجه پاتے شوے هم به بیا دَ سره شروع کوی -

مسئله ۴:- که په مینځ کښے دَ رمضان میاشت راغله نو هم کفاره صحیح نه شوه -

مسئله ۵:- که څوک روژے نه شی نیوے طاقت ئے نه وی نو شپیتهٔ مسکینانو له به سحر ما ښام خه په مړه خیټه ډوډئ ورکوی یعنی بنهٔ به ئے مړه وی چه څومره خوړے شی هومره به خوری -

مسئله ۶:- په دے مسکینانو کښے که څنے بالکل واړه بچی وی نو جائز نه دی دَ دوی په ځائے به بیا نورو مسکینانو له ډوډئ ورکوی -

مسئله ۷:- که دَ غنمو ډوډئ وی نو ترکاری ورکول ورسره ضروری نه دی او چه ئے هم ورکولے شی البته که دَ جوارو یا وربشو وه نو څه دال وغیره ورسره ورکول پکار دی -

مسئله ۸:- که خوراک پے اوله خوره وی بلکه شپیته مسکینانو له دانے ورکړی نو هم جائز دی یو مسکین له به دَ صدقه فطر هومره ورکوی - دَ صدقه فطر بیان به دَ زکوٰة په باب کښے راشی انشاء الله تعالیٰ -

مسئله ۹:- که دَ دومره غلے قیمت ورکړی نو هم جائز دی -

مسئله ۱۰:- که یل چا ته ئے اووے چه ته زما دَ طرف نه کفاره ادا کړه او هغه شپیته دَ مسکینانو له خوراک ورکړه یا غله او یا قیمت نو هم کفاره ادا شوه - او که بغیر دَ ده دَ وینا ئے ادا کړه نو کفاره نه ده ادا شوے -

مسئله ۱۱:- که یو مسکین ئے شپیته ورځے سحر ما ښام موړ که یا ئے شپیته ورځے هغه غله ورکړه یا قیمت نو هم کفاره ادا شوه -

مسئله ۱۲:- که شپیته ورځے ئے پرلپسے خوراک ورنه کړه بلکه ناغه پکښے اوشوه هم خیر دے -

مسئله ۱۳:- که دَ شپیته ورځو دانو حساب ئے اوکړه او یو فقیر ته ئے یوه ورځ ورکړے نو جائز نه دی وغه شان که ئے یو فقیر ته په یوه ورځ دَ شپیته ورځو غله ځائله ځا ئله

شپیته پیرے ورکړه هم ډیوے ورځ اداشوه ډیوکم شپیته ورځو به بیا ورکوی - او دغه شان حکم د قیمت ورکولو دے یعنی یو مسکین له به یوه ورځ کښے ډیوے روژنیه ز ورکول جائز نه دی -

مسئله ۱۴:- که یو فقیرلنړ ته د صدقهٔ فطرة مقدار نه کم ورکړه هم کفاره ادا نه شوه -

مسئله ۱۵:- که د یو رمضان دوه یا درے روژے ئے ماتے کړے هم یوه کفاره یوره ده البته که د جدا جدا رمضان وی نو جدا جدا کفاره به ورکوی -

باب ۱۳ په کومو وجهو چه روژه ماتول جائز دی د هغے بیان

مسئله ۱:- ناڅاپه داسے ناجوړه شه چه که روژه نه ماتوی نو مری یا بیماری زیاتیږی نو روژه ماتول جائز دی لکه په کیده درد شی یا ئے مارا و چیچی یا داسے تنګے شی چه مری نو په داسے حالت نو کښے روژه ماتول جائز دی - یا د پیراو کے شی نو هم -

مسئله ۲:- حاملے ته څه داسے عذر راشی چه د دے یا د بچی د مرګ یره وی نو هم روژه ماتولے شی -

مسئله ۳:- د وړې یخولو سره دومره تنګے شوه چه د مرګ یره ئے ده نو روژه ماتولے شی - البته که قصداً ئے دومره کار او کړه چه داسے حالت ئے شه نو ګناه ګاره ده لیکن روژه په داسے حالت کښے هم ماتولے شی -

باب ۱۴ په کومو وجهو سره چه روژه نه نیول جائز دی د هغے بیان

مسئله ۱:- که داسے بیماری وی چه روژه نقصان کوی او په روژه سره د بیماری د زیاتیدو یره وی یا به ژر جوړه نه شی یا به مړه شی نو روژه دِ نه نیسی چه کله جوړه شی بیا دِ نے اونیسی لیکن فقط په خپل زړه کښے داسے خیال کول او روژه پریخودل جائز نه دی بلکه چه څوک مسلمان طبیب او دوائی چه دیندار وی حکم دے پریدی (یا ئے خپل غالب ګمان وی لکه ورستو راځی) -

مسئله ۲:- که حکیم یا ډاکټر کافر وی یا د شریعت پابند نه وی نو د هغه په وینا روژه نه شی پاتے کولے -

مسئله ۳:- که حکیم څه نه وی ویلی خو خپله ئے داسے نښے او علامے او لیدے چه زړه ئے ګواهی کوله چه روژه به لنقصان راکوی نو هم روژه پریخودے شی - خو دا محض په خیال او ګمان سره نه بلکه په پوخ یقین سره - ورنه که د دیندار حکیم د وینا نه بغیر او بغیر د خپلے تجربے نه ئے صرف په خیال سره روژه پاتے کړه نو کفاره به ورکوی -

مسئله ۴:- که د بیماری نه بنه شه لیکن لا کمزوری ده او غالب ګمان دا وه چه که روژه نیسی نو بیا ناجوړه کیږی بیا هم روژه نه نیول جائز دی -

---

له په دے مسئله شبه او جواب امداد الفتاوی ص ۱۱۱ ج ۲ کښے درج دے او موږ ئے د جواب مطابق د په تحقیق کښے اصلاح کړیده ۱۲

مسئله ۵:- که څوک مسافروی نو هغه له هم روژه نه نیول جائزدی اوبیا به ئے قضا راوړی او د سفر وضاحت د مانځه په بیان کښے تیر شوے دے - چه درے منزله دے.

مسئله ۶:- په سفرکښے که د روژے نه څه تکلیف نه وی او ارام او راحت ورته حاصل وی نو بیا په سفرکښے هم روژه نیول غوره دی څوک او نه نیسی نو هم گناه نشته - البته د رمضان شریف د روژے د فضیلت نه به محروم شی - او که په لاره کښے ورته د روژه نیولو په وجه څه تکلیف او پریشانی وی نو بیا داسے وخت روژه نه نیول غوره دی.

مسئله ۷:- که د بیمارئ نه خلاص نه شو او مړ شو یا په سفرکښے مړ شه نو څومره روژے چه ترے په سفرکښے یا بیمارئ کښے پاتے شوی دی په هغے به اخرت کښے مؤاخذه نشته ځکه چه مهلت د نیولو ورته نه دے ملاؤ شوے -

مسئله ۸:- که په بیمارئ کښے لس ورځے وُتے وے بیا پنځه ورځے ښه شه لیکن قضائے پکښے او نه نیوے نو پنځه معاف دی په پنځو به ئے مؤاخذه کیږی او که پوره لس ورځے ښهٔ شه نو په لسو به ئے نیسی نو ضروری ده چه د څومره روژو مؤاخذه پے وی د هغے د فدئے د ورکولو د مرګ په وخت کښے وصیت اوکړی که مال ورسره وی - د فدئے بیان مخکښے راځی -

مسئله ۹:- دغه شان که په سفرکښے ترے روژے پاتے شوے وے او بیا کورته د راتلو نه پس مړ شه نو څومره ورځے چه پکور کښے پاتے شوے وی د هغے هومره ورځو د فدئے ورکولو وصیت دِ اوکړی کا او کومے روژے چه د کور د ورځو نه پاتے وی هغه معاف دی.

مسئله ۱۰:- او که په لاره کښے د پنځلسو ورځو په نیت پاتے شه نو اوس به روژے نیسی او که کم وی نو بیا روژه نه نیول ورله جائز دی -

مسئله ۱۱:- حامله ښځه یا یئ ورکونکے ښځه که څپل ځان یا بچی پریده نو روژه دے نه نیسی بیا دے قضا راوړی لیکن که خاوند ئے مالدار وه دائی ئے نیوے شوه نو نیسی به او دایه روژه نه پریدی لیکن که بچی د بل چا پئ نه خوا ره نو بیا د مور روژه نه نیسی -

مسئله ۱۲:- دائی د بیو ورکولو د پاره نوکره شوے وه نو که بچی ته په روژه د دے سره نقصان رسیده نو دایه هم روژه نه نیسی -

مسئله ۱۳:- د ښځے حیض اوشه یا ئے بچے پیدا شه نفاس ئے شروع شه نو د حیض او نفاس په ورځو کښے به روژه نه نیسی -

مسئله ۱۴:- که د شپے پاکه شوه نو سحر له به روژه نیسی که د شپے ئے غسل نوی کړے هم په سحر روژه نیسی - او غسل به سحر اوکړی - او که سحر پاکه شوه نو د روژے نیت به نه کوی البته څه به خوړی سکی نه ټوله ورځ به د روژه داروېشان وی -

مسئله ۱۵:- دغه شان که د ورځے مسلمان شه یا د ورځے ځوانئ ته اورسیده نو اوس

دے دغه ورځ څه خوړی سکی نه - او که څه ئے اوخوړل نو دَ دے ورځے دَ روژے قضا به نوی مسلمان او نوی ځوان نِشته -

مسئله ۱۶:- په سفر کښے ئے روژه ونه نیوه لیکن دَ غرمے نه یوه گهنټه اول کورته راغے یا په دے وخت کښے ئے چرته دَ پنځلسو ورځو دَ پاتے کیدو نیت اوکړو او تر اوسه ئے څه خوړلی سکلی نه دی نو اوس دے دَ روژے نیت اوکړی -

دَ فدئے بیان

مسئله ۱:- څوک دومره زوړ شوے وه چه دَ روژے طاقت ئے نه وه یا دومره نا جوړه دے چه دَ روغیدو اُمید ئے نه وه او نه ئے دَ روژے طاقت وه نو روژه به نه نیسی او دَ هرے روژے په بدله کښے به مسکین له دَ صدقۂ فطر په مقدار غله ورکوی یا به ئے سحر او ماښام مړه وی په شرعه کښے دیته فدیه وائی او که دَ غلے په بدله کښے دَ غلے قیمت ورکړی هم جائز دی -

مسئله ۲:- بیا چه کله ئے طاقت پیدا شه یا دَ بیمارئ نه روغ شه نو روژے به نیسی دا فدئے چه ئے ورکړے ده جُدا ثواب به ورته ملاؤ شی -

مسئله ۳:- دَ چا په ذمه څو روژے وے او دَ مرګ په وخت کښے ئے وصیت اوکړو نو ولی به ئے دَ ده دَ مال نه فدیه ورکوی او دَ کفن دفن او قرضے نه چه څومره مال پاتے شی دَ هغے دریمه که تول له به فدیه کښے تله نو ورکول ئے واجب دی (او که په دغې دریمے حصے فدیه نه خلاصیده نو چه څومره خلاصیده هغه به ورکړی) -

مسئله ۴:- او که هغه وصیت او نه بلکه ولی دَ ځان نه دَ خپل مال نه فدیه ورکړه نو بیا دے هم دَ خدائے نه اُمید لری شاید چه قبول ئے کړی - او بغیر دَ وصیت نه دَ مړی دَ مال نه فدیه ورکول جائز نه دی - دغه شان که فدیه دَ دریمے حصے دَ مال نه زیاته وه نو هم بغیر دَ ټولو وارثانو دَ اجازت نه زیاتی ورکول جائز نه دی - که ټول وارثان په خوشحالئ سره راضی شی نو فدیه ورکول به دواړه صورتونو کښے جائز دی لیکن دَ نابالغ وارث دَ اجازت په شرع کښے څه اعتبار نِشته - بالغ وارثان دِ خپله حصه جدا کړی او دَ هغے نه دے ورکړی -

مسئله ۵:- دَ مانځه دَ فدئے هم دغه حکم دے خو چه وصیت ئے کړے وی -

مسئله ۶:- دَ هر وخت دَ مانځه دومره فدیه ده څومره چه دَ یوے روژے ده په دے حساب سره دَ یوے شپے ورځے دَ پنځه مونځونه او وِتر مانځه یوه چهټاکی کم یاؤ کم یولس سیره غنم دَ اتیا روپئ سیر په وزن سره به غنم ورکوی بلکه دولس سیره به احتیاطاً ورکوی -

مسئله ۷:- دَ چا په ذمه زکوٰة باقی وه نو دَ هغے هم دغه حکم دے چه وصیت اوکړی نو دَ

دریمے حصے دَمال نه به ئے ورکوی دَ روژو فدئے او زکوٰة ادا کولو یو حکم دے) او که وصیّت ئے نه وه کړے او وارثانو ادا کړه دَ ځان نه نو نه ادا کیږی۔

مسئله ۸ :- دَ فدئے غنم که لږ لږ کړی په ډیرو مسکینانو ئے تقسیم کړی هم جائز دی۔

مسئله ۹ :- که دلی دَ مړی دَ طرفه روژے نیسی یا مونځونه کوی نو نه ادا کیږی۔

مسئله ۱۰ :- بے وجے دَ رمضان روژے نه نیول ډیر سخت ګناه دے داسے دِ نه وائی چه بیا به ئے اونیسم ځکه چه په حدیث کښے دی چه دَ رمضان دَ یوے روژے په بدله کښے که ټول کال روژے اونیسی نو هم دَ هغے یوے روژے هومره ثواب نه ملا ویږی۔

مسئله ۱۱ :- که چا دَ بدبختئ نه روژه اونه نیوه نو دَ خلقو په مخکښے دِ څه خوری سکی نه او نه دے ظاهروی چه ځما روژه نه ده ځکه چه دَ ګناه ښکاره کول ځانله ګناه دے نو دوه ګناهونه شو یو دَ روژے نه نیولو بل ئے دَ ښکاره کولو۔ داخبره چه دَ خدائے نه غلا نه کیږی نو دَ بنده نه ولے کوم دا غلط ده۔ بلکه دَ عذر والو دِ هم پټه خوری۔

مسئله ۱۲ :- چه هلک یا جینئ دَ روژے قابل شی نو په هغوی دِ هم نیسی او چه دَ لسو کالو شی بیا دے په روژه نه نیولو وهی۔ که ټوله نه شی نیوے نو لږے دِ اونیسی۔

مسئله ۱۳ :- که نابالغ هلک یا جینئ روژه ماته کړه نو قضا پے نشته او که مونځ ئے ماته کړه نو بیا به ئے کوی۔

باب ۱۳

دَ اعتکاف بیان

مسئله ۱ :- دَ رمضان شریف دَ شلم تاریخ دَ غرمے یو تو نه لږ مخکښے نه دَ رمضان دَ یو کم دیرشم یا دیرشم تاریخ دَ نمر پریوتو پورے دَ خیل کور په داسے ځائے کښے کوم چه ئے دَ مانځه دَ پاره مقرر کړے وی په پابندئ سره کیښی راوسړی په داسے جماعت کښے چه پنځه وخته امامتی په کښے کیږی) دیته اعتکاف وائی دَ دے ډیر لوئے ثواب دے چه اعتکاف ته کیښی نو بیا بغیر دَ ضروری حاجت نه او دَ خوراک دَ پاره دَ راوتو نه نور راوتل دَ هغے ځائے نه جائز نه دی۔ که دَ خوراک راوړو څوک وو نو بیا به دَ خوراک دَ پاره هم نه راوځی هر وخت به هلته اوسی او هلته به اوده کیږی او غوره دا دی چه هسے دے نه کیني قرآن دِ لولی نفلونه تسبیح تهلیل دِ کوی۔ او که حیض یا نفاس ورله راغے نو بیا دے پاتے کړی (لیکن دَ پاکیدو نه پس به صرف دَ دغے یوے ورځے دَ اعتکاف قضا راوړی که په رمضان کښے راوړی نو دَ رمضان روژه ورله پوره ده او که بله ورځ وه روژه به ورسره نیسی) په اعتکاف کښے کور والے او نور خلط ملط جائز نه دے

باب ۱۴

دَ زکوٰة بیان

دَ چا سره چه مال وی او زکوٰة تے نه اوباسی نو ډیر ګناه ګار دے دَ قیامت په ورځ به پے سخت عذاب وی۔ حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه دَ چا سره سرزه سپین وی او دَ زکوٰة تے نه اوباسی دَ قیامت په ورځ به تے دَ اور تختے جوړے شی او دَ هٔ دَ بدن دا به پے

داغونه ورکوی او چه ئې نِیږدی بیا به ئې کړموی - او حضورؐ فرمائلی دی چا له چه الله تعالٰی مال ورکړے وی او زکوٰة ئې نه اوباسی په قیامت کښې به ئې په ډیر زهرې ګنجے مار جوړ شی او د مرګی نه به ئې تاؤ شی او دواړه جامے به ورله چیچی او وئیل به ورته چه زه ستا هغه مال او هغه خزانه یم - دا څومره سخت عذاب دے خدائے دِ ترے امان راکړی - د خدائے مال د خدائے په لار کښې نه خرچ کول څومره ناپوهي ده -

مسئله ۱:- د چا سره چه دوه نیمې پنځوس تولے سپین زر یا اوه نیمې تولے سره زر وی یا د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو د قیمت برابر روپۍ ورسره وی او کال پرے تیر شی نو زکوٰة ورکول ترے واجب دی - او که د دینه کم وی نو زکوٰة پرے واجب نه دے -

مسئله ۲:- د چا سره اته تولے سره زر څلور یا شپږ میاشتے وو بیا کم شو او درے میاشتے پس بیا مال ملاؤ شه نو هم زکوٰة واجب دے مطلب دا دے چه د کال په اول او آخر کښې مالدار وی نو که په مینځ کښې څه ورځے کم شی هم زکوٰة واجب دے - البته که ټول مال ختم شه کوم چه د کال په اول کښې وه او بیا نوے مال ملاؤ شه نو او س به د نوی سره کال حسابیږی -

مسئله ۳:- د چا سره اته نیم تولے سره زر وو خو کال پرے تیر نه شه زکوٰة پرے نشته -

مسئله ۴:- د چا سره دوه پنځوس نیمے تولے سپین زر دی خو د دومره قیمت د روپو دے قرض دار دے نو هم پرے زکوٰة واجب نه دے -

مسئله ۵:- که دومره قرض دارے وی چه قرض ادا کړی نو د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو قیمت ورسره پاتے کیږی نو زکوٰة پرے واجب دے -

مسئله ۶:- د سرو سپینو په کالو لو خو په وغیره ټولو زکوٰة واجب دے خواه که داغستو وی او که د پروت - غرض د سرو سپینو په هر شی زکوٰة واجب دے - البته که د دغې مقدار نه کم وی نو بیا پرے زکوٰة واجب نه دے -

مسئله ۷:- سره او سپین که کره نه وی بلکه څه خیرے یا رانګ وغیره په کښې ملاؤ وی نو کتے به شی چه زر زیات دی او که رانګ که زر زیات وو نو حکم ئې د زرو دے یعنے که د دغې مقدار وی نو زکوٰة پرے واجب دے او که رانګ زیات وو نو بیا د پیتلو او تانبے وغیره حکم ئې دے چه د دے ذکر به وړاندے راشی -

مسئله ۸:- د چا سره نه د پوره مقدار سره وی او نه سپین بلکه لږ لږ دی نو که د

له دا حساب د دولسو ماشو په تولہ سره دے - که وزن په بل څه سره کولے شی مثلاً په روپو وغیره سره نو د کمی زیاتی حساب به کوی ۱۲ - له بلکه د سرو به جدا زکوٰة اوباسی او د سپینو جدا - او که په دے صورت کښې هم قیمت لږه وی او زکوٰة اوباسی نو په دے شرط جائز دی چه که د فقیرانو فائده په کښې وه نو بیا به قیمت لږه وی او که څوک ئې بکیراکنړی بیا دے جدا جدا د هر یو نصاب نه زکوٰة اوباسی ۲ محشی -

دواړو د قیمت په یو ځائے کولو سره د سپینو زرو مقدار ته یا د سرو زرو مقدار ته رسیده نو زکوٰة واجب دے او که دومره کم وُو چه د یو شي نصاب یې هم نه پوره کیده نو زکوٰة واجب نه دے - او که د سرو او سپینو دواړو مقدار جدا جدا د نصاب برابروی نو بیا ئے قیمت لږه ولو ته ضرورت نشته -

مسئله ۹:- فرض که چه په یوه زمانه کښے په پنځویشت[۲۵] روپۍ یو تولہ سره ملاویږي او په یوه روپۍ یو نیمه تولہ سپین زر ملاویږي او د یو سړي سره دوه تولے سره زر او پنځه روپۍ د ضرورت[۱] نه سوا پرتے دی او کال پے تیر شه نو زکوٰة پے واجب دے ځکه چه د دوه تولے سرو زرو قیمت پنځوس روپۍ شه او د پنځوس روپو پنځه اویا تولے سپین زر ملاویږي او پنځه روپۍ ورسره نورے دی نو په دے حساب د دے مال د نصاب نه ډیر زیات شه - البته که پنځه روپۍ ورسره نه وے نو ورسره نور څه بل هیڅ سپین زر وی فقط دوه تولے سره زروی بیا پے زکوٰة واجب نه دے -

مسئله ۱۰:- په یوه روپۍ سپین زر دوه تولے ملاویده او د یو سړي سره ډیرش روپۍ د چاندي وے نو زکوٰة پے واجب نه دے - دا حساب په نه کوي چه پنځه روپو شپیته تولے چاندي کیږي ځکه چه روپۍ خو د چاندي وی او چه فقط چاندي یا فقط سره وی نو د وزن اعتبار دے د قیمت اعتبار نشته (دا حکم د هغے وخت وه چه روپۍ د چاندي وے نن صبا روپۍ د کلټو دی او نوټونه هم مستعمل دی نو اوس دا حکم دے چه د چا سره دومره روپۍ یا نوټونه وی چه دوه نیمے پنځوس تولے چاندي پے کیږي نو زکوٰة واجب دے)-

مسئله ۱۱:- د چا سره سل روپۍ د ضرورت نه سوا پرتے وی نو د کال پوره کیدو نه اول ورسره پنځوس نورے جمع شوے نو چه په سلو کال پوره شو د یونیم سل زکوٰة به ورکوی داسے به گڼلے شي چه په یونیم سل کال پوره شوے دے -

مسئله ۱۲:- د چا سره ۳۵ تولے چاندي وه نو د کال پوره کیدو نه اول ورسره دوه څلور تولے نوره راغله نو چه په سلو تولو کال پوره شو به دے نو دوی ورسره هم پوره گڼلے شي او زکوٰة به د ټولو نه او باسي - دا ورستي به تے نه چه اکوی -

مسئله ۱۳:- د سرو سپینو نه سوا چه خومره څیزونه دی لکه پیتل، تانبا، وسپنه کلټ، رانګا وغیره او کړے څیزونو جوړ شوی لوښي کپړے پیزار وغیره او کدینه سوا چه څه اسباب وی د دائے حکم دے چه که د سوداګرۍ د پاره وی نو که قیمت ئے د چاندي د نصاب سره برابروی یا د سرو زرو د نصاب سره نو چه کال پے تیر شي (خواه که د کور ضروري خرچ د دے د کښته نه وی او که نه) نو زکوٰة پے واجب دے - او که قیمت ئے نصاب ته نه رسیده یا د سوداګرۍ د پاره نه وه نو بیا پے زکوٰة واجب نه دے (اګر که د زر کو نورو بوری څو چه د سوداګرۍ د پاره نه وی نو زکوٰة پے واجب نه دے)-

مسئله ۱۴:- دَ کور اسباب لکه پتیلی، دیګچې، لوښی، دیګونه دَ خوراک سکاک لوښی دَ اوسید و مکان دَاغو ستو کپړے دَ ملغلرو هار وغیره څیزونو کښے زکوٰة واجب نه دے خواه هرڅومره چه وی او که دَ روز مره په کار راځی او که نه راځی خو زکوٰة پے نشته۔ او که دغه اسباب دَ تجارت دَ پاره وه نو بیا پے زکوٰة واجب دے۔ خلاصه دا چه دَ سرو سپینو نه علاوه هرڅومره اسباب چه وی که دَ تجارت دَ پاره وه نو زکوٰة پے واجب دے او که دَ تجارت دَ پاره نه وی نو بیا پے زکوٰة نشته۔

مسئله ۱۵:- دَ چا سره پنځه یا لس کورونه دی او په کرایه ئے چلوی یا لوښی زیات دی او په کرایه ئے چلوی نو زکوٰة پے نشته۔ غرض دا چه په کرایه دَ چلونکی مال اسباب یا مکانونو زکوٰة نشته۔

مسئله ۱۶:- دَ اغستو جامے که هرڅومره ډیرے وی او دَ ډیر قیمت وی زکوٰة په کښے واجب نه دے البته که دَ چاندی کل کاری پکښے شوے وه او دومره وه چه که دغه چاندی تے راټوله کړی نو دَ دوه پنځوس نیمو تولو هومره یا تے زیاته خیژی نو بیا په دغه چاندی کښے زکوٰة واجب دے او که دومره نه وه بیا نه دے واجب۔

مسئله ۱۷:- دَ چا سره څه سره او څه سپین دی او څه دَ سوداګرئ مال دے نو که ټول په جمع کولو سره دَ سرو یا دَ سپینو نصاب ته رسیده نو زکوٰة واجب دے ورنه نه دے۔

مسئله ۱۸:- دَ سوداګرئ مال هغے ته ویلے شی چه دَ خرڅولو په اراده ئے اغستے وی نو که چا دَ خپل کور دَ ضرورت یا دَ واده دَ پاره څه وریجے واغستے بیا ئے دا اراده وکړه چه راشه تجارت پے کوم نو په دے مال زکوٰة نشته او دا مال دَ سوداګرئ نه دے۔

مسئله ۱۹:- که په چا دے قرضه وی نو په دغے قرضه هم زکوٰة واجب دے لیکن دَ قرض درے قسمونه دی یو ه قرضه داده چه نقد روپئ یا سره سپین دے چاله قرض ورکړی وی یا دے پے دَ سوداګرئ مال خرڅ کړے وی او قیمت ئے باقی وی او یو کال پس یا دوه درے کاله پس وصول شه نو که دومره وه چه زکوٰة پے واجبیده نو دَ دغے ټولو کلو نو زکوٰة به ورکوی۔ او که یکمشت وصول نه شه نو کله چه تے دَ یولسو تولو سپینو قیمت وصول شه[1] نو دومره زکوٰة پے واجب شه او که دَ یولس تولو قیمت په قسطونو کښے وصول شه نو کله چه دا مقدار پوره دَ دے مقدار زکوٰة دے ادا کړی او کله چه ئے ورکړی نو دَ ټولو کلو نو دے ادا کړی۔ او که قرضه دَ دینه کمه وی بیا زکوٰة واجب نه دے البته که دَ ده سره نور[2] مال هم وی او دواړه شریک نصاب ته رسی بیا واجب دے۔

مسئله ۲۰:- او که نقد ئے نه وه ورکړی او شئے دَ تجارت مال خرڅ کړے وه بلکه نور څه ئے خرڅ کړی وُو مثلاً دَ اغوستو جامے یا دَ کور څه سامان او قیمت ئے باقی وه او دومره وه چه

---

[1] په حساب سره دَ یولس تولو نه څه زیات وی لیکن دَ کسر په وجه پوره یولس تولے اولیکلے شه لیکن احتیاط په اته دیرش تولو کښے دے چه دَ اته تولو قیمت پوره شی زکوٰة دے ورکړی ۱۲ ۔۔۔ ۱۲ او حصه مال که دَ زکوٰة مال دَ جنس نه وی ۱۲

زکوٰة پرے واجبیده ادبیا دغه قیمت څوکاله پس وصول شه نو د ټولو کلو زکوٰة پرے واجب دے او که په قسطونو کښے قیمت وصولیده نو ترڅو چه دومره قیمت وصول نه شي چه د سپینو نصاب ته رسي (یعنے دوه نیمے پنځوس تولے سپین پرے اخستے شي) ترهغې زکوٰة واجب نه دے - او چه مذکوره رقم وصول شي د ټولو کلو نو به ورکوي -

مسئله ۲۱ :- دریم قسم دا دے چه خاوند ته ئے مهر پورے دے هغه څوکاله پس ملاؤ شه نو د زکوٰة حساب به ئے د ملاویدو د ورځے نه کوي د تیرو کلو نو زکوٰة پرے واجب نه دے بلکه چه اوس پرے کال تیرشي هله به زکوٰة واجب شي -

مسئله ۲۲ :- که مالدار سړی د کال پوره کیدو نه اول زکوٰة ورکړه هم ادا شه - او که مالدار نه وه بلکه د چرته نه ئے د مال ملاویدو امید وه او په دے امید ئے زکوٰة ورکړه نو زکوٰة ادا نه شه چه مال ملاؤ شي او کال پرے تیرشي نو بیا به زکوٰة ورکوي -

مسئله ۲۳ :- مالدار سړے که د څو کلو نو زکوٰة په یوځائے پیشګي ورکړي هم جائز دي البته که کله مال کښے زیاتے راغے نو د زیاتي به بیا ادا کوي

مسئله ۲۴ :- د چا سره سل روپۍ وے د ضرورت نه سوا او د سلو روپو د چرته نه امید وه نو پوره د دوه سوه روپو زکوٰة ئے د کال پوره کیدو نه اول ورکړه نو دا جائز دي لیکن که د کال په ختمیدو روپۍ د نصاب نه کمے شوے نو زکوٰة معاف شه او دغه ورکړے ئے صدقه شوه -

مسئله ۲۵ :- د چا په مال پوره کال تیرشه لیکن زکوٰة ئے تر لا نه وه ویستلے چه ټول مال ئے غلا شه او یا په بله طریقه ختم شه نو زکوٰة هم معاف شه او که پخپله ئے چا له ورکړه او یا ئے پخپل اختیار هلاک کړه نو څومره زکوٰة چه پرے واجب وه معاف نه دے ورکوي به ئے -

مسئله ۲۶ :- د کال پوره کیدو نه پس ئے ټول مال خیرات کړه نو زکوٰة معاف شه -

مسئله ۲۷ :- د چا سره دوه سوه روپۍ وے کال پس تے سل غلا شوے یا ئے خیرات کړے نو د سلو زکوٰة معاف شه د سلو به ورکوي (او که او ئے بخلے یا ئے خرچ کړے زکوٰة به ئے ورکوي) -

باب ۱۵ د زکوٰة ادا کولو بیان

مسئله ۱ :- چه په مال پوره کال تیرشي نو زکوٰة دے فوراً ادا کړي په نیک کار کښے نا وخت کول ښه کار نه دے شاید چه مرګ راشي او په ذمه ئے پاتے شي او که ادا ئے نه که دویم کال هم تیرشه پرے نو ګناه ګار دے اوس دے توبه او کړي او د دواړو کلو نو دِ ادا کړي باقي کوي دِ ئے.

مسئله ۲ :- څومره مال چه وي د هغے څلوېښتمه دے (۱/۴۰) په زکوٰة کښے ورکول واجب دي یعنے په سلو کښے دوه نیمے او په څلویښتو کښے یو روپۍ -

مسئله ۳ :- کوم وخت چه د زکوٰة روپۍ غریب له ورکوي نو په زړه کښے دے د زکوٰة خیال راولي که د زکوٰة ورکولو په وخت کښے ئے د زکوٰة نیت او نه کړه زکوٰة ادا نه شه بیا به ئے ادا کوي -

مسئله ۴ :- فقیر له د ورکولو په وخت کښے که ئے نیت او نه کړه نو ترڅو چه د فقیر سره

دغه مال موجود وی نیت کولے شی اوکه هغه مال خرچ که بیا نیت نشی کیدے زکوٰة دے بیا ورکړی دغه ئے خیرات شه۔

مسئله ۵:- چا دَ زکوٰة په نیت سره روپئ جدا کړئ چه دا به فقیرانو له ورکوم بیاکه ئے دَ فقیرله ورکولو وخت کښے نیت هیر شه نو زکوٰة اداشه په دَ جدا کولو په وخت کښے ئے نیت کړے وی۔

مسئله ۶:- چا دَ زکوٰة روپئ جدا کړے نوکه یو فقیرله ئے ورکوی اوکه ډیرو له اوپه یوه ورځ ئے تقسیموی اوکه په ډیرو ورځو یا میاشتو کښے۔

مسئله ۷:- غوره داده چه یو فقیرله دومره ورکړی چه دَ دغے ورځے دَپاره ئے پوره شی۔

مسئله ۸:- یو فقیرله دومره مال ورکول چه دَ زکوٰة نصاب ته رسی مکروه دی لیکن که ورئے کړه نو زکوٰة اداشه اوکم هم ورکولے شی مکروه نه دی۔

مسئله ۹:- یوه ښځه دَ قرض غوختو دَپاره راغله او دومره غریبه وه چه چرته ئے نه شو قرض اداکولے یا داسے ده چه قرض واخلی بیائے نه ورکوی نو دَ قرض په نوم ئے ورله روپئ ورکړے او په زړه کښے ئے اودے چه زکوٰة ورکوم نو زکوٰة اداشه اګرچه هغه ئے قرض ګنړی۔ خوچه ورکونکے دَ زکوٰة نیت اوکړی۔

مسئله ۱۰:- که چا له ئے دَ انعام په نوم څه ورکړه خو په زړه کښے ئے نیت دَ زکوٰة وه نو اداشه

مسئله ۱۱:- په چا غریب[1] دے لس روپئ پورے وے او په زکوٰة کښے ورته دغه لس روپئ پاتے کوے نو نه اداکیږی البته که لس روپئ ورله زکوٰة ورکړے او بیائے ترے قرض کښے واخلی نو دا جائز دی۔

مسئله ۱۲:- دَ چا سره دَ سپینو دومره کالی وو چه درے تولے سپین ئے زکوٰة کیده او په بازار کښے درے تولے سپین په دوه روپئ خرخیده نو په زکوٰة کښے دوه روپئ دَ سپینو زرو نه شی ورکولے ځکه چه دَ دوه روپو وزن درے تولے نه دے او دَ چاندی په زکوٰة کښے چه چاندی ورکوی نو اعتبار وزن له دے دَ قیمت نه دے۔ لیکن که دَ دوه روپو چاندی ئے واغسته ورئے کړه یائے دَ کلټو دوه روپئ یا دَ دوه روپو پیسے ورکړے یا کپړه وغیره یا درے تولے چاندی ورکړه نو زکوٰة اداشه۔

مسئله ۱۳:- دَ زکوٰة روپئ ئے چپله ورنه کړے بل چا له ئے ورکړے چه ته ئے ورکړه نو داهم جائز دی که اوس هغه دَ زکوٰة نیت کوی دَ ورکولو په وخت کښے اوکه نه۔ خو چه دَه ورله دَ زکوٰة په نیت ورکړے زکوٰة اداکیږی۔

مسئله ۱۴:- چا له دے دوه روپئ دَ زکوٰة ورکړے چه دا غریب له ورکړه لیکن هغه بعینه هغه دوه روپئ فقیرله ورنه کړے کومے چه تا ورکړے وے بلکه خپلے دوه روپئ ئے ستا دَ طرفه ورکړے او خیال ئے اوکړه چه هغه دوه روپئ به زه واخلم نو هم زکوٰة

[1] مطلب دا دے چه دَ قرض په معاف کولو سره دَ نورمال زکوٰة نه اداکیږی دا خبره چه دَ قرض زکوٰة اداشه که نه دا مسئله ولته نشته خو جواب ئے دادے چه اداشه۔ په دے مسئله شبه او جواب په امداد الفتاوی ص۲۹ ج۲ کښے درج دے ۱۲

اداشه خو په دے شرط چه ستا هغه دوه روپئ لا د هغه سره وی او د خپلو روپو په بدله کښے ئے واخلی البته که ستا روپئ ئے مخکښے خرچ کړے وے او بیا ئے خپلے روپئ درد ستو غریب له ورکړے نو زکوة ادا نه شه. یا ستا هغه روپئ ورسره وے خو د خپلو روپو ورکولو په وخت ئے دا نیت نه وه چه زه به بیا هغه روپئ واخلم نو ادا نشه او س ئے هغه ورکړی.

مسئله ۱۵:- که تا روپئ نه وے ورکړے خو دومره دے ورته اووے چه څما د طرفه زکوٰة ورکړه او هغه ستا د طرفه خپلے روپئ ورکړے نو ادا شه او س دے ستا نه واخلی.

مسئله ۱۶:- او که تا ورته نه دی وئیلی هغه د ځانه ستا د طرفه زکوٰة ورکړه نو ادا نه شه او س که ئے ته منظور هم کړے خو نه که شوے او ستا نه ئے د روپو اغستو حق هم نشته.

مسئله ۱۷:- تا یو سړی له د خپل طرفه د زکوة دوه روپئ ورکړے چه دا چا له ورکړه نو د هغه اختیار دے چه پخپله ئے ورکوی او که هغه ئے بیا بل ته سپاری چه ته ئے چا له ورکړه او د نوم خو دل ورته هم ضروری نه دی چه د فلانی د طرفه ئے ورکړه او که هغه ئے خپلو غریب رشته دار یا مور و پلار ته غریبان وی ورله ورکوی هم جائز دی لیکن که پخپله دے غریب وه نو ئے شی اغستے. البته که تا ورته وئیلی وه چه هر چا له چه ئے ورکوے او هغه چه و رسره کوے بیا ئے اغستے شی.

دپید اوار د زکوٰة بیان

مسئله ۱:- یو ښهر د کافرانو په قبضه کښے وه کافران پکښے اوسیدل بیا په مسلمانانو حمله اوکړه او ښهر ئے په جنګ د هغوی نه واغستو او مسلمان بادشاه هغه زمکه د کافرانو نه واغسته په مسلمانانو ئے تقسیم[له] کړه نو دے زمکے ته عشری زمکه وائی او که د دے ښهر خلق بغیر د جنګ نه خو دیخو د په خوشحالئ سره مسلمانان شو بیا هم د دغه ښهر ټوله زمکه عشری ده. او د عرب د ملک هم ټوله زمکه عشری ده

مسئله ۲:- که چا ته د پلار نیکه نه د دغسے دا عشری زمکه برابر رارسیدلی وی یا ئے د داسے مسلمان نه اغستے وی چه د هغه سره دغسے راغلے وی په دے زمکه کښے چه څه پیدا شی زکوٰة په کښے واجب دے. طریقه ئے دا ده چه که دا زمکه بارانی وه یا د سیند دریاب وغیره نه او بکیده او بو له و یستلو ته ئے حاجت نه وه نو په پید او ار کښے ئے لسمه حصه خیرات کول واجب دی یعنے په لسو منو کښے یو من او په لسو سیرو کښے یو سیر. او که پټے اړتی وه یا په بله څه طریقه او به کیده نو بیا شلمه ده یعنے په شلو منو کښے یو من او شلو سیرو کښے یو سیر او دغه حکم دے د باغ په داسے زمکه کښے که څه پیرلیږ شے پیدا شی خو عشر واجب دے.

مسئله ۳:- دانے، ساګ، ترکاری، میوه، ګلونه هر څه چه وی دغه حکم دے.

مسئله ۴:- د عشری زمکے په غر یا ځنګل کښے که شهد را اوخت هم په کښے صدقه واجب ده.

[له] یعنے هغه مسلمانان چه دغه ملک ئے فتح کړے دے او دغه حکم دے که په نورو مسلمانانو ئے تقسیم کړی ۱۲ منه

مسئله ۵:- چا په خپل کور کښے دننه اونه او لګوله یا ئے ترکاری او کرله یا بل څه نو په دے کښے عشر نشته هرڅه چه وی -

مسئله ۶:- که عشری زمکه چا کافر واخسته نو دا اوس عشری نه ده که بیا ئے مسلمانی داخلی یا ورته په څه طریقه ملاؤ شی خو هم به عشری نه وی -

مسئله ۷:- دا خبره چه عشر د چا په ذمه دے په دے کښے د عالما نو ډیر اختلاف دے مګر مونږ د آسانئ د پاره دغه لیکو چه د پیداوار والا په ذمه دے نو که زمکه په ټهیکه وی په نقد یا په غله نو د کسان په ذمه دے او که په برخه وی نو زمیندار او کسان دواړه به د خپلے خپلے حصے نه ورکوی -

کوموخلقوله چه زکوٰة ورکولے شی د هغوی بیان

مسئله ۱:- د کوموخلقو سره چه د نصاب مطابق سره زر یا سپین زر وی یا د دومره قیمت د سوداګرئ اسباب وی هغه ته په شریعت کښے مالدار وائی دا سے سړی له زکوٰة ورکول نه دی پکار او ده له ئے اغستل او خوړل حلال نه دی - دغه شان چه د چا سره د دومره قیمت څه اسباب وی نو که د تجارت د پاره نه وی خو چه د ضرورت نه زیات وی دَ هم مالدار دے ده له هم زکوٰة اغستل جائز نه دی - اګرچه په ده زکوٰة واجب نه دے -

مسئله ۲:- د چا سره چه دومره مال نه وی بلکه لږ وی یا هیڅ نه وی د یو ورځے د ګذارے هم نه وی دے غریب دے زکوٰة اغستے شی او ده له زکوٰة ورکولے شی -

مسئله ۳:- لوئے لوئے دیګو نه قالینو نه شامیانے چه په کلو نو کښے ورته چرته یو وار نیم په واده ښادئ کښے ضرورت راځی او په روزمره استعمال کښے نه راځی هغه په ضروری اسباب کښے داخل نه دی -

مسئله ۴:- د اوسیدو کور د اغستو جامے د کار روزګار د پاره نوکر وغیره دا ټول په ضروری اسباب کښے داخل دی په دے څوک نه مالدار کیږی خواه که د هرڅومره قیمت وی نو ده له زکوٰة ورکول جائز دی دغه شان د عالم او لیکونکی لوستونکی د پاره کتابونه هم په ضروری اسباب کښے داخل دی -

مسئله ۵:- د چا سره پنځه یا لس مکانونه دی په کرایه ئے ورکړی دی او په امدن ئے ګذاره کوی یا کلے نیم ئے دے چه امدن تے راځی لیکن کورمه ئے دومره ده چه ګذاره ئے پے سمه نه کیږی لنډ تنګ دے او دا سے مال ورسره نشته چه زکوٰة پے واجب شی نو دا سے سړی له هم زکوٰة ورکولے شی -

مسئله ۶:- د یو سړی سره زر روپۍ نقد موجود دی لیکن دے د زرو روپو یا تے زیات قرضدار دے نو ده له هم زکوٰة ورکولے شی او که قرضه کمه وه نو که دومره روپۍ ورسره بچ پاتے کیدے د قرضے نه چه زکوٰة پے واجبیده نو جائز نه دی او که کمے وے نو جائز دی

مسئله ۷:- یو سړے په کور کښې ډیر مالدار دے لیکن په سفر کښې ورسره خرچ ختم شه یا ئے مال غلا شه او کور ته د رسیدو خرچ ورسره پاتے نه شو نو دهٔ له هم زکوٰة ورکول جائز دی. دغه شان که د حاجی سره خرچ ختم شه او په کور کښې مالدار وی نو دهٔ له هم زکوٰة ورکول جائز دی۔

مسئله ۸:- زکوٰة کافر له ورکول جائز نه دی مسلمان له به ئے ورکوی او د زکوٰة عشر او صدقه فطر او نذر او کفارے نه سوا خیرات ورکولے شی۔

مسئله ۹:- د زکوٰة په پیسو جامات جوړول د لاوارث مړی کور کفن پے کول یا د مړی د طرفه د هغه په قرضه کښې ئے ورکول یا په بل نیک کار کښې ئے لګول جائز نه دی۔ تر څو چه مستحق له ورنه کړے شی زکوٰة نه اداکیږی۔

مسئله ۱۰:- د زکوٰة پیسے خپل مور و پلار نیکه په پور ته څومره چه وی او خپل لور نوسی کړوسی څومره چه په ښکته وی له نه شی ورکولے۔ یعنی د چا نه چه پیدا وی او څوک چه ئے پیدا وی په پورته او په ښکته هر څومره چه وی له زکوٰة نه شی ورکولے۔ دغه شان خاوند خپلے ښځے له او ښځه خپل خاوند له زکوٰة نه شی ورکولے۔

مسئله ۱۱:- د دے رشته دارو نه سوا نورو ټولو له زکوٰة ورکول جائز دی لکه رور خور وراره، خوریٔ، تره، ترور، ماما، میره مور پلند پلار، خواښے، سخر وغیره له ورکولے شی۔

مسئله ۱۲:- د نابالغ هلک پلار که مالدار وه نو دهٔ له زکوٰة نه شی ورکولے او که هلک جینیٔ بالغ وو او خپله غریبان وه نو که پلار ئے مالدار وه خو دوی له زکوٰة ورکولے شی۔

مسئله ۱۳:- که د واړه بچی پلار غریب وه مور ئے مالداره نو دهٔ له زکوٰة ورکولے شی۔

مسئله ۱۴:- اولاد د فاطمےؓ اولاد د حضرت علیؓ (د فاطمےؓ نه غیر) اولاد د جعفرؓ او حضرت عُقیلؓ یا حضرت حارثؓ بن عبدالمطلب اولاد له زکوٰة ورکول جائز نه دی۔ دغه شان واجب صدقه ورله هم نشی ورکیدے او نور خیر خیرات ورکولے شی۔

مسئله ۱۵:- د کور نوکر خدمتګار دائی وغیر له هم زکوٰة ورکولے شی لیکن په تنخواه کښې به ئے ورته نه حسابوی۔ او په زړه کښې د د زکوٰة نیت کوی۔

مسئله ۱۶:- کوم هلک جینیٔ ته چه په درکوتعالی کښې تا پئی ورکړی او د چا چه تا پئی خوړلی هغوی له زکوٰة ورکولے شی۔

مسئله ۱۷:- د یوے ښځے مهر زر روپئی دے لیکن خاوند ئے غریب دے اداکولے ئے نه شی نو دے ښځے له هم زکوٰة ورکولے شی۔ او که خاوند ئے مالدار وی لیکن ورکوی ئے نه یا دے بچلے دے نو هم زکوٰة ورکولے شی۔ او که داامید وه چه کله ئے دا او غواړی نو نه ئے منع کوی ور به کړی نو بیا ورله زکوٰة نه شی ورکولے۔

له د مړی لاوارث کیدل ضروری نه دی بلکه که وارثان ئے وی هم د هغه په کور کفن کښې د زکوٰة پیسے نه شی لګیدے ولے لیکن که روپئی د زکوٰة په نیت سره د هغه غریب وارث له ورکړی او هغه د خپل طرف نه دغه روپئی په کور کفن کښې اولګوی نو هم جائز دی د لاوارث قید په دے بناء چه عام د لاوارث امداد کولے شی۔

مسئله ۱۸:- یو سړے ورته مستحق ښکاره شه ذکوٰة ئے ورکړه بیا معلومه شوه چه مالدار دے یا سید دے۔ یا ئے په تیاره شپه کښے ورکړه بیا معلومه شوه چه مور ئے وه یا ئے لور وه یا بله رشته داره داسے چه زکوٰة ورله نه شي ورکولے نو په دے ټولو صورتونو کښے زکوٰة اداشه بیا ورکولو ته ئے ضرورت نشته۔ لیکن که اخستونکی ته دا معلومه شوه چه دا د زکوٰة پیسے وے او زه ئے مستحق نه یم نو واپس دِ کړی۔ او که د ورکولو نه پس معلومه شوه چه هغه کافر وه نو نه دے اداشوے بیا ئے اداکوی۔

مسئله ۱۹:- که په چاﺋے شك وی چه مالداره دے که محتاج نو چه ترڅو پوره تحقیق او نه کړی نه دے ورکوی که بے تحقیقه ئے ورکه نو که زیات گمان ئے په د محتاج وه اداشو او که زیات گمان ئے د مالداروه نو نه دے اداشوے بیا ئے ورکوی۔ او که معلومه شوه چه غریب دے نو زکوٰة اداشه۔

مسئله ۲۰:- د زکوٰة په ورکولو او د نورخیرخیرات په ورکولو کښے زیات خیال د رشته دار ساتل پکار دی لیکن دوی ته په داسه وائی چه دا زکوٰة صدقه یا خیرات دے چه هغوی خفه نه شي۔ په حدیث شریف کښے دی چه رشته دارو له په خیرات ورکولو کښے دوچند ثواب دے یو د خیرات او بل د رشته دارو سره د ښه سلوک کولو۔

مسئله ۲۱:- د یو ښهر زکوٰة بل ښهر ته وړل مکروه دی لیکن که رشته دار ئے په بل ښهر کښے وو یا د خپل ښهر د خلقو نه د هغے ښهر خلق زیات مستحق وو۔ یا هغه خلق د دین په کار کښے لګیا وی۔ نو مکروه نه دی ځکه چه طالبانو او دینداره عالمانو له ئے ورکول زیات ثواب دے۔

باب ۱۸ د صدقهٔ فطر بیان

مسئله ۱:- کوم مسلمان چه دومره مالدار وی چه زکوٰة په واجب وی یا په زکوٰة خو واجب نه دے لیکن د ضروری اسباب نه زیاتی د دومره قیمت مال اسباب ورسره دے په څومره چه زکوٰة واجبیږی نو په هغه د واړه اختر په ورځ صدقه ورکول واجب دی۔ که دغه مال د سوداګرئ وی او که نه وی او که کال پے تیرشوے وی او که نه۔ دے صدقے ته په شرع کښے صدقه فطر وائی۔

مسئله ۲:- د یو سړی سره ډیر لوئے کور دے که سید وړے چه د ډیر زیات قیمت دے او قیمتی قیمتی کپړے دی ورسره لیکن زرد وزی په کښے نه ده شوے او د خدمت د پاره نوکران دی او په کور کښے د زرګونو روپو اسباب دے لیکن کالی په کښے نشته او دا ټول هرڅه پکار راځی یا په کښے څه اسباب د ضرورت نه سوا هم دے او څه کالی پترې هم شته خو نصاب د زکوٰة ته نه رسی۔ نو په ده صدقهٔ فطر واجب نه ده۔

مسئله ۳:- د چا دوه کورونه دی په یو کښے اوسی یو خالی پروت دے یائے په کرایه ورکړے دے نو دا دویم مکان د ضرورت نه سوا دے که قیمت ئے نصاب د زکوٰة ته

رسیده نو صدقهٔ فطر پرې واجب ده - او دهٔ له زکوٰة هم نه شي ورکولے - البته که د دے مکان په کرایه ئے ګذاره وه نو دا په ضروري اسباب کښې داخل شه صدقهٔ فطر پرې واجب شوه - او زکوٰة هم اغستے شي - خلاصه دا چه څوک زکوٰة اغستے شي صدقهٔ فطر پرې واجب نه ده او چه څوک نه شي اغستے صدقهٔ فطر پرې واجب ده -

مسئله ۴ :- د چا سره د ضروري اسباب نه زائد مال اسباب دے لیکن د قرض دار هم دے نو چه قرضه ترے لرے کړي او دومره ورسره پاتے کیږي چه زکوٰة یا صدقه پرې واجبیږي نو صدقه فطر پرې واجب ده او که کم پاتے کیده بیا پرې نه ده واجب -

مسئله ۵ :- د اختر په ورځ چه صبا او خیژي نو صدقه فطر واجب شي - نو که څوک د صبا ختو نه اول مړ شه صدقه فطر پرې واجب نه ده - د هغه د مال نه به ئے نه اوباسي -

مسئله ۶ :- د اختر ما نځه له د تلو نه اول صدقه فطر ادا کول غوره دي - و رنه بیا د ورکړه

مسئله ۷ :- که د اختر د ورځے نه مخکښې په رمضان کښې ئے ادا کړه صدقهٔ فطر نو ادا شوه -

مسئله ۸ :- که چا د اختر په ورځ ورنه کړه نو په ذمه ئے واجب ده بیا دے ادا کړي -

مسئله ۹ :- صدقه فطر صرف د ځپل طرف نه واجب ده د بل چا د طرفه واجب نه ده د شه د بچو د طرفه نه د مور و پلار او نه د خاوند د طرفه - او نه د بل چا د طرفه -

مسئله ۱۰ :- که د واړه بچي سره دومره مال وه په څومره چه صدقه فطر واجبیږي لکه د چا رشته دار میراث ورته پاتے شوے وه یا د بل طرفه ورته مال ملاؤ شه نو د ده د دے مال نه به صدقه فطر ورکوي - لیکن د اختر د صبا ختو نه پس چه کوم بچے پیدا شه په هغه نشته

مسئله ۱۱ :- که چا په څه وجه د رمضان روژے او نه نیوے نو هم پرې صدقه فطر واجب ده او چا چه نیولی دي په هغه هم -

مسئله ۱۲ :- صدقه فطر که د غنمو یا د غنمو د وړه وغیره نه ورکوي نو په انګریزي سیر (چه اتیا تولے دے) یا د کم دوه سیره بلکه احتیاطاً پوره دوه سیره به ورکوي یا څه زیات او که وربشے یا د وربشو اوړه ورکوي نو د دے دوچند به ورکوي -

مسئله ۱۳ :- که د غنمو او وربشو نه سوا نور څه غله لکه چڼه جوار وریجے وغیره ورکوي نو دومره به ورکوي چه قیمت ئے د دغه غنمو یا وربشو سره برابر شي -

مسئله ۱۴ :- که غنم یا وربشے ئے ورنه کړے بلکه د دے قیمت ئے ورکړه نو دا ډیره غوره ده -

مسئله ۱۵ :- د یو سړي صدقه که یو فقیر له ورکړي او که لږه لږه کړي په ډیرو یا لږو واړه خبرے جائز دي -

مسئله ۱۶ :- د ډیرو سړو صدقه فطر یو فقیر له ورکول هم جائز دي خو دومره نه چه غني شي پرې

مسئله ۱۷ :- د صدقهٔ فطر مستحق هم هغه خلق دي کوم چه د زکوٰة دي - (لیکن صدقهٔ فطر کافر فقیر له ورکولے شي او زکوٰة نشي ورکولے) -

له دا حکم د بنځو د پاره دے په سړو د نا بالغ اولاد د طرفه هم واجب ده لیکن که هغه مال دار وي بیا به ئے د هغه د مال نه ورکوي او د بالغ اولاد د طرفه پرې هم واجب نه ده لیکن که لیونے وه بیا به ورکوي ۱۲ ۱۲ ۲

باب ۱۹ دَ قربانۍ بیان

دَ قربانۍ لوئے ثواب دے رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمائی چه دَ قربانۍ په ورځو کښے دَ قربانۍ نه سوا بل څه شے دَ الله په نزد محبوب نشته په دغو ورځو کښے رکه فرضو نه علاوه) بل یو نیک کار دَ دینه سوا نشته - او دَ قربانۍ وینه لا زمکے ته رسیدلے نه وی چه الله تعالیٰ ته قبوله شوے وی - نو قربانی ښه په مینه کوئے - او حضورؐ فرمائی چه دَ قربانۍ په بدن څومره ویښته وی دَ هر ویښته په بدل کښے یو نیکی لیکلے شی سبحان الله څومره زیات ثواب دے - دَ کړ په بدن څومره ویښته وی چه دَ شماره باهر دی - دَ دینداری خبره خو داده چه که په چا قربانی واجب هم نه وی خو دَ دے دومره ثوابونو دَ حرص نه ئے کوی - دا ورځ چه تیره شی نو دا دولت بیا نه نصیب کیږی او دومره په اسانۍ سره داسے نیکۍ بیا نه گټلے کیږی - او څوک چه مالدار وی هغه له پکار دی چه ځان له قربانی کوی نو چه خپلو مړو مور وپلار وغیره رشته دارانو دَ پاره هم اوکړی چه داسے بے حسابه ثواب ورته اورسوی - دَ حضورؐ دَ طرفه دَ خپلو بیبیانو او استاذانو دَ طرفه اوکړی - او که لوی نو دَ ځان دَ طرفه خو دے کوی ځکه چه په مالدار خو واجب ده - په چا چه قربانی واجب وی او بیا هم قربانی او نه کړی نو دَ هغه نه به زیات بدنصیب څوک وی او گناه گار لا زیاتی شی - چه دَ قربانۍ جانور مخ په قبله څملوی نو اول دا دُعا اولولی ---

اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ اِنَّ صَلٰوتِیْ وَنُسُکِیْ وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ لَاشَرِیْکَ لَهٗ وَبِذٰلِکَ اُمِرْتُ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ اَللّٰهُمَّ مِنْکَ وَلَکَ بیا به بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَکْبَرُ اُووائی او ذبح به اوکړی او دَ ذبح نه پس به دا دُعا اُولولی اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْهُ مِنِّیْ کَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِیْبِکَ مُحَمَّدٍ وَّخَلِیْلِکَ اِبْرَاهِیْمَ عَلَیْهِمَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ -

مسئله ۱:- په چا چه صدقهٔ فطر واجب ده په هغه قربانی هم واجب ده - لیکن که په چا واجب نه وی او اوکړی نو ډیر لوئے ثواب دے -

مسئله ۲:- په مسافر قربانی واجب نه ده -

مسئله ۳:- دَ لوئے اختر دَ لسم تاریخ نه دَ دولسم[۱۲] دَ ماښامه پورے دَ قربانۍ وخت دے لیکن غوره وخت ئے لسم تاریخ بیا یولسم او بیا دولسم دے -

مسئله ۴:- دَ اختر دَ مانځه نه مخکښے قربانی جائز نه ده چه مونځ اوشی نو بیا دِ کوی لیکن که څوک په کلی وکښے وی نو دَ صبا ختو نه پس ورله هم قربانی جائز ده -

---

له او که یو بل چا دَ طرفه قربانی کوی نو دَ مِنِّیْ په ځائے به مِنْ فُلَانٍ وائی دَ فلان په ځائے به دَ هغه چا نوم اخلی دَ چا دَ پاره چه قربانی کوی - ۱۲

مسئله ۵:- که څوک په ښهر کښې اوسي او خپله قرباني بانډې ته اولیږي نو هلته کې د مانځه نه مخکښې ذبح کول جائز دي اګرچه دے په ښهر کښې اوسي - خو چه قرباني کې بانډې ته اولیږه لو نو هلته کې ذبح د مانځه نه اول جائز شوه د ذبح نه پس دې غوښې را اوغواړي او خوري دې -

مسئله ۶:- د دولسم تاریخ نمر پریوتو نه اول قرباني جائز ده د نمر پریوتو نه پس جائز نه ده

مسئله ۷:- د لسم تاریخ نه د دولسم پورې چه کله زړه غواړي قرباني دِ کوي که د شپې کوي او که د ورځې - لیکن د شپې غوره نه ده شاید چه رګونه کې سم پرې کړے نه شي

مسئله ۸:- په لسم یولسم او دولسم تاریخ په سفر وه بیا د دولسم تاریخ د نمر پریوتو نه اول کور ته راغے یا ئې چرته د پنځلسو ورځو د پاتے کیدو نیت اوکړه - یا اول غریب وه قرباني پې واجب نه وه او د دولسم تاریخ د نمر پریوتو نه اول ورته مال ملاؤ شه نو قرباني پې اوس واجب شوه په دے درے واړه صورتونو کښې -

مسئله ۹:- خپله قرباني پخپله ذبح کول غوره دي خو که پخپله نه پوهیږي نو په بل دې ذبح کړي او د ذبح په وخت کښې دِ ورته مخامخ اودریږي البته که د پردې د وجې نه شوه اودریدے نو بیا خیر دے -

مسئله ۱۰:- د قرباني په وخت کښې په ژبه سره نیت کول او دعا لوستل ضروري نه دي که په زړه کښې کې د قرباني خیال اوکړه چه زه قرباني کوم او په ژبه کې هیڅ اُو نه وے صرف بسم الله الله اکبر ئې اووے ذبح کې اوکړه نو هم قرباني اوشوه لیکن که ورته یاده وي نو دغه بره لیکلے شوے دُعا لوستل غوره دي -

مسئله ۱۱:- قرباني فقط د خپل طرف نه واجب ده د اولاد د طرف نه واجب نه ده - بلکه که اولاد نابالغ او مالدار هم وي بیا هم د هغوی د طرف نه واجب نه ده نه پخپل مال او نه د هغوی په مال - او که چا اوکړه نو نفل شوه لیکن د خپل مال نه دې کوي د هغوی نه دې نه کوي

مسئله ۱۲:- د بیزې، پسه، ګډے، غوا، غوايي، سنډا، میښې، اُوښ، او د دے نه علاوه نورو څارو قرباني جائز ده د نورو نه ده جائز -

مسئله ۱۳:- په غوا، میښه، اوښ کښې که اووه تنه شریک شي نو هم جائز دي خو په دے شرط چه د چا حصه په کښې د اُوومے برخے نه کمه نه وي - او د ټولو نیت د قرباني یا د عقیقې وي - د غوښې نیت په کښې د چا نه وي که د یو تن حصه په کښې د اُوومے نه کمه وه نو د یو تن قرباني هم اونه شوه

مسئله ۱۴:- که په غوا کښې د اووه کسو نه کم شریک شو لکه پنځه یا شپږ او د چا حصه په کښې د اُوومے حصے نه کمه نه وه نو هم د ټولو قرباني اوشوه او که اته تنه شریک شو نو د هیچا قرباني هم اونه شوه -

مسئله ۱۵:- د قربانۍ د پاره چا غوا واغسته او د اغستو په وخت کښې ئې دا نیت وکړو چه که نور څوک ملګري شو نو شریک به کړم په کښې او نور ورسره ملګري شو نو جائز ده- او که د اغستو په وخت کښې ئې د نورو د شریکولو نیت نه وه بلکه څالي ئې اراده وه نو اوس په کښې د نورو شریکول ښه نه دي څوک شریک ئې کړل نو ګټے به شي چه دے مالدار دے قربانی پرے واجب ده او که غریب دے نو ده پرے واجب- نو که مالدار و قربانی اوشوه او که غریب[1] وو نو اونه شوه-

مسئله ۱۶:- که د قربانۍ څاروے چرته ورک شو نو بل ئے واغستو نو بیا هغه اولنے هم ملاؤ شو نو که مالدار وه یو[2] دے قربانی کړي او که غریب وه نو دواړو قربانی پرے واجب شوه-

مسئله ۱۷:- اوه کسانو په غوا کښې شریک شو نو چه غوښه به تقسیموي په اټکل به ئے نه تقسیموي بلکه ټیک په تول به ئے تقسیموي ورنه که کمے زیاتے په کښې راغے نو هغه به سود وي او ګناه به ئے اوشي- البته که د غوښے سره ئے سر او خپے او څرمن شریک کړه نو بیا که د سر خپو او څرمنے د طرف غوښه کمه وي خیر دے- او که د لګے د زیاتے طرف د غوښے سره شریک کړه نو هم سود شه او ګناه دے-

مسئله ۱۸:- بیزه کړه د یو کال[3] وغوا مېښه چه د دوه کالو نه کمه وي بیا پرے قربانی جائز نه ده او اوښ چه د پنځه کالو نه کم وي نو جائز نه دے- او که بیزه چه داسے څربه او تازه وي چه د کال معلوم میږي نو که د شپږو میاشتو وي هم جائز ده-

مسئله ۱۹:- کوم جانور چه ړوند یا کونړ وي یا د یو سترګے دریمه حصه یا زیاته رڼا ئے نه وي یا یو غوږ ئے دریمه حصه یا زیات کټ وي یا لکۍ دریمه حصه یا زیاته کټ وي د هغه قربانی جائز نه ده-

مسئله ۲۰:- کوم څاروے چه په یوه خپه ګوډ وي یعنے په درے خپے ځي یوه نه شي لږه ولے قربانی پرے نه کیږي او که لږه وي ئے خو ګوډ پے ځي بیا پرے جائز ده-

مسئله ۲۱:- د ډیر خوار څاروي قربانی جائز نه ده چه بالکل هډوکی وي او که لږ خوار وي بیا خیر دے لیکن قربانی د څوربه څاروي غوره ده-

مسئله ۲۲:- د کوم څاروي چه بالکل غاښونه نه وي د هغه قربانی جائز نه ده او که لږ غاښونه ئے ارتاؤ شوي وي او ډیر ئے باقي وي بیا ئے قربانی جائز ده-

مسئله ۲۳:- د کوم څاروي چه پیدا ئشي غوږونه نه وي د هغه قربانی جائز

[1] یعني غریب له د ځان سره څوک شریکول جائز نه دي او که شریک ئے کړل نو د هغوی قربانی اوشوه او ده له اوس دا واجب دي چه څومره حصے ئے نورو له ورکړي دي د دومره حصو قربانی اوس نوره اوکړي که ورځے د قربانۍ باقي دے او که د قربانۍ ورځے ختمے وے بیا دے د دغه حصو قیمت مسکینانو له ورکړي ۱۲
[2] په دوا پو د یو ځهي چه د هغ یو قربانی اوکړي لیکن په دے کښې دومره تفصیل دے چه که اولنے ئے قربانی کړو نو خیر او که دویم ئے قربانی کړو نو کتے به شي چه په قیمت کښې د اول نه کم خو شو دے که کم وه نو څومره پیسے چه کے وے هغه په ټم بیا نو خیرات کول مستحب دي ۱۲

نه ده او که غوږ یې وڅرے وي لیکن ډیر واړه وي بیا یې قربانی جائز ده۔

مسئله ۲۴:- دکوم څاروي چه پیدائشي ښکرونه نه وو یا وو لیکن مات شوي وو نو قربانی یې جائز ده البته که د ذیلو نه پورې کړې شوي وو بیا جائز نه ده۔

مسئله ۲۵:- په خصي پیسه او کړو قربانی جائز ده (او په بل څاروي هم) په کوم څاروي چه خارښت وي په هغه هم قربانی جائز ده البته که د خارښت د وجې نه ضوار شوے وه بیا پرې جائز نه ده۔

مسئله ۲۶:- د قربانۍ د پاره یې څاروے واخستو بیا په کښې داسې عیب ښکاره شه چه قربانی پرې نه کیده نو بل دې واخلي او قربانی دې کړي۔ لیکن که غریب وه قربانی پرې واجب نه وه نو د هغه د پاره دغه ټیک دے قربانی دے کړي۔

مسئله ۲۷:- د قربانۍ غوښې د پخپله خوري خپلوانو او فقیرانو له د ورکوي۔ او غوره دا ده چه دریمه حصه خیرات کړي په فقیرانو لیکن که ټول یې خیرات کړه هم جائز دی۔

مسئله ۲۸:- د قربانۍ څرمن د یا دغسې[1] خیرات کړي یا د خرڅه کړي پیسے د خیرات کړي او هغه چالاه دې ورکړي چه زکوٰة پرې کیدی او کومې پیسے چه په قیمت کښې راغلې دي هم هغه دې خیرات کوي که هغه یې او لږه وړلې او نورې یې خیرات کړے نو دا شوے خو ښه نه دی

مسئله ۲۹:- د څرمنې قیمت په جمات یا بل ځه کښې لږه ول خه دي خیرات کوي[2] به یې۔

مسئله ۳۰:- که څرمن یې پخپل کار له وساته غلبیل یا بوکه یا مشک یا جانماز یې تې جوړ کړه نو دا هم جائز دی۔

مسئله ۳۱:- قصاب له به په مزدورۍ کښې وا نه ده یا غوښه به نه ورکوي خپلے پیسے به ورکوي

مسئله ۳۲:- د قربانۍ رسۍ وغیره ټول څیزونه به خیرات کوي۔

مسئله ۳۳:- په چا قربانی واجب نه وه خو د قربانۍ د پاره یې څاروے واخستو نو د دغه څاروي قربانی پرې واجب شوه۔

مسئله ۳۴:- په چا قربانی واجب وه لیکن د قربانۍ درې واړه ورځې اوښتې او قربانی یې ونه کړه نو د یو کړه یا پیسه قیمت دے خیرات کړي۔ او که بزه یې اخستې وه نو بعینه هغه دے خیرات کړي۔

مسئله ۳۵:- چا د قربانۍ نذر او مانه او بیا هغه کار او شه د کوم نذر چه یې منلے وه نو اوس پرې قربانی واجب ده[3] خواه مالدار وي او که غریب او د دې قربانۍ ټولے غوښه به خیرات کوي نه به یې پخپله خوري نه به یې مالدار له ورکوي څومره چه یې پخپله او خوړے یا یې مالدار له ورکړے دومره به بیا خیرات کوي۔

ل د دې مسئلې متعلق سوال جواب په امداد الفتاوی ج ۳ ص۱۹۰ کښې درج دی ۱۲ چه د دې مسئلې تائید دے ۲

له د دې مسئلې متعلق سوال جواب امداد الفتاوی ج ۳ ص۱۹۰ کښې درج دي چه د دې مسئلې تائید دے ۱۲ شبیر علي ۱۲

سه او دا قربانی به د قربانۍ په ورځو کښې کوي لیکن که یو کال یې دا معلومه وي چه صرف ذبح ته هم قربانی وائي او که دے له منونکي مطلب هم دا وه نو بیا به د قربانۍ د ورځو قید نه وي ۱۲

مسئله ۳۶:- که پخپله خوه بنده ئے د چا مړي په نوم قرباني اوکړه د ثواب رسولو کپاره نو د دے غوښے پخپله هم خوړے شي او تقسیمولے هم شي لکه د خپلے قرباني پشان -

مسئله ۳۷:- لیکن که یو مړي وصیّت کړے وه چه ځما په ترکه کښے په ځما د طرف نه قرباني کوئ او د هغه په وصیّت ئے د هغه په مال قرباني اوکړه نو د دے ټولے غوښے وغیره به خیرات کوي (یعنے فقیرانو له به ئے ورکوي)-

مسئله ۳۸:- که یو سړے دلته موجود نه وه او بل سړي د هغه د طرفه بغیر د هغه د وینا نه قرباني اوکړه نو دا نه ده شوے - او که په یو غاروي کښے د یو غائب حصه په غیر د هغه د وینا نه مقرر شوه نو د نورو حصه دارو قرباني هم اونه شوه -

مسئله ۳۹:- که چا یو غاروے چا له په حصه ورکړے دے (یعنے په ساته) نو دا غاروے د دے ساتونکي مِلک نه دے نو که چا دا غاروے د دے ساتونکي نه واخست او قرباني ئے پے اوکړه نو قرباني اونه شوه -

مسئله ۴۰:- که په یو غاروي کښے ډیر تنه شریک دي او غوښه ئے نه تقسیموي بلکه په شریکه ئے خوري او دوستانو خپلوانو او فقیرانو له ئے ورکوي نو جائز دي -

مسئله ۴۱:- د قرباني څرمن چا له په اُجرت کښے ورکول جائز نه دي خیرات کوي به ئے -

مسئله ۴۲:- د قرباني غوښه بنیے کافرانو له هم ورکول جائز دي خو چه په اُجرت کښے نه وي -

مسئله ۴۳:- که غاروے بلا رب وه نو قرباني ئے جائز ده که بچے ئے زوندے وه نو هم به ئے ذبح کړي

باب ۲ [د عقیقے بیان]

مسئله ۱:- که د چا ځوئي یا لور اوشي نو بکار دي او غوره دي چه په اوومه ورځ ورله نوم کیدی او عقیقه اوکړي په عقیقه سره د بچي آلابلا ټول دفع کیږي -

مسئله ۲:- د عقیقے طریقه داده چه که هلک وي نو دوه کړان یا پیسان او که جینۍ وي نو یو کړه یا پیسه دے ذبح کړي یا د قرباني په غاروي کښے د هلک د پاره دوه حقے او د جینۍ د پاره یوه حصّه ډِ اونیسي او د سر ویښته دِ ورله کټ کړي د هغے ویښتو سره دے سپین زر یا سره زر تول کړي خیرات دِ کړي او د بچي په سر کښے دے زعفران اولګوه وي که زړه ئے غواړي -

مسئله ۳:- که په اوومه ورځ عقیقه اونه کړي نو چه کله کوي خو د اوومے ورځے خیال دے ساتي غوره دي او طریقه ئے داده چه که مثلاً بچے د جمعے په ورځ شوے وي نو د زیارت په ورځ او که د زیارت په ورځ پیدا شوے وي نو د شروع په ورځ عقیقه اوکړه خواه هر کله چه کوے خو دا به ئے اوومه ورځ راځي -

---

له ددا هم جائز دي لیکن عطائؒ فرمائي چه غوره داده چه د ذبح نه اول سر او خریي (ص۲ ج ۲) مقدمات ابن رشد ۱۲

مسئله ۴:- دا دستور چه څه وخت د ځې په سرنائ چاړه کیدی هم دغه وخت فوراً که ډیګ کوی دا مهمل رسم دے په شریعت کښے هرڅنګه جائز دی که سرمخکښے خریٔ اوکه که مخکښے ډیګ کوی د تماشا دا سے رسمونه چه په ول لا کاره کا دے۔

مسئله ۵:- د کوم ښاروی چه قربانی جائز نه ده د هغے عقیقه هم جائز نه ده او د کوم چه قربانی جائز ده د هغے عقیقه جائز ده۔

مسئله ۶:- د عقیقے غوښه بنے کچه تقسیموے که پخے تقسیموے او که دعوت پے کوے[۱] جائز دی۔

مسئله ۷:- د عقیقے غوښه بنے پلار نیکه نیا وغیره ټولو له خوړل جائز دی۔

مسئله ۸:- که د چا طاقت نه وی او د هلک عقیقه په یوه پسه او کړی هم جائز دی او که بالکل او نه کړی نو هم څه حرج نشته۔

باب ۲ | **دَ حج بیان** | د چا سره چه د ضرورت نه زیات دومره خرچ وی چه په متوسط درجه سوارلی

او خوراک سکاک سره تلے شی پے د هغه په ذمه حج فرض دے۔ او د حج ډیر فضیلت بیان شوے دے۔ حضور صلے الله علیه وسلم فرمائلی دی چه کوم حج د ګناهونو نه او خرابونه پاک وی د هغے بدله بغیر د جنت نه بل هیڅ نشته۔ دغه شان د عمرے هم ډیر ثواب بیان شوے دے حضورؐ فرمائلی دی چه حج او عمرہ دواړه ګناهونه داسے لرے کوی لکه بټئ چه د اوسپنے نه زنګ لرے کوی۔ او په چا چه حج فرض وی او دا نه کړی د هغه د پاره ډیره زورَه نه بیان شوے ده۔ حضورؐ فرمائلی دی د چا سره چه د خوراک سکاک او سواریٔ د رسیه و بیت الله ته دومره سامان وی چه تلے شی پے او لاړ نه شی نو که یهودی مری او که نصرانی د خدائے پے هیڅ پرواه نشته۔

مسئله ۱:- په ټول عمر کښے یوه پیره حج فرض دے که ډیر حجونه ئے او کړه نو یو فرض شو او نور نفل او ډیر ثواب دے د نفل حج۔

مسئله ۲:- د بلوغ نه مخکښے چه ئے کوم حج کړے دے هغه نفل دے که مالدار وی نو په ځوانئ کښے به بیا کوی فرض حج۔

مسئله ۳:- په ړانده حج فرض نه دے که هر څومره مالدار وی۔

مسئله ۴:- په چا چه حج فرض شه نو فوراً دے په دغه کال کوی تاخیر کول په کښے ګناه دے که دوه څلور کاله پس ئے او کړه نو حج ئے او شه خو ګناهګار شه۔

مسئله ۵:- د حج د پاره په لارے د ښځے سره د خاوند یا د محرم ملګرتیا ضروری ده

---

[۱] او په عقیقه کښے دا هم مستحب دی چه یو پتون په کښے دا لا ورکړی او دریمه حصه غوښه په لا خیرات کړی او دوه لله تقسیم کړی پخه وانو او پخله ئے هم که غواړی لوچه او خوری او غوښه ئے دا ده چه د مختے هډوکی دے نه ماتوی او سرد لا ئی له ورکړی او دا ټولے خبرے واجب نه دی۔ زه وایم چه اکثر عوام دا خبرے ضروری ګنړلی دی نو وری ته دا خوړل نه دی پکار کله کله د دیته خلاف کول هم پکار دی ۱۲ الله

بغیر د دوی نه تلل ورله جائز نه دی البته که مکے ته دومره نژدے وه چه د کورنه د
مکے پورے منزل درے منزله نه وه نو بیا خاوند یا محرم ته حاجت نشته۔

مسئله ۶:- که محرم ئے نابالغ وه یا بے دینه وه چه مور خور ئے ښه پېژندلے نو تلل ورسره نه دی جائز۔

مسئله ۷:- که قابل اطمینان محرم ئے د لارے ملګرے بیا موندلے نو اوس ئے د خاوند منع کول د حج نه جائز نه دی که خاوند ئے منع کوی نو له بے ئے منی او حج له به ځی۔

مسئله ۸:- ځوانیه وته نژدے جینئ هم بغیر محرم نه نه شی تلے حج له۔

مسئله ۹:- کوم محرم چه ئے حج له بیائی د هغه خرچ په دے دے۔

مسئله ۱۰:- که ټول عمر ورته د حج تلو د پاره محرم ملاؤ نه شو نو ګناه ګاره نه ده خو د مرګ په وخت کښے به وصیت کوی چه زما د طرفه حج اوکړئ د مرګ نه پس ئے د دے وارثان د دے په مال څوک د دے د پاره حج له اولیږی دیته حج بدل وائی۔

مسئله ۱۱:- که په چا حج فرض وه خو سستی ئے کوله تر دے چه ړوند شه یا داسے بیمار شه چه اوس حج نه شی کولے نو ده له هم د حج بدل د پاره وصیت واجب دے۔

مسئله ۱۲:- که دے دومره مال پاتے که چه د قرض وغیره نه پس پاتے مال کښے په دریمه حصه د ده حج کیدے شه نو په وارثانو ئے د ده وصیت پوره کول او حج بدل ورله کول واجب دی۔ او که مال ئے لږ وه چه په دریمه حصه ئے حج بدل نه شه کیدے نو ولی دے ورله حج نه کوی (مطلب دا دے چه د دے ځائے نه دے نه کوی البته په هغه رقم چه کوم ځائے نه کیدے شه د هغه ځائے نه دے ورله څوک حج له اولیږی مثلاً د جدے نه پے کیدے شه نو دا رقم دے هلته اولیږی) لیکن که داسے اوکړی چه د مړی د هغے دریمے حصے مال سره خپل مال ورسره کړی نو بیا حج بدل کولے شی۔ غرض دا دے چه د مړی د دریمے حصے د مال نه به زیات نه ورکوی البته که ټول وارثان په خوشحالئ راضی شی چه موږ خپله نه اخلو حج بدل پرے ورله اوکړئ لیکن د نابالغو وارثانو اجازت شریعت نه منی۔ نو د هغوی حصه به نه اخلی۔

مسئله ۱۳:- که د حج بدل وصیت ئے اوکړه لیکن مال ئے کم وه نه کیده پرے نو ګناه پرے نشته

مسئله ۱۴:- د ټولو وصیتو نو دغه حکم دے که په یو سړی څه یرے روژے او ډیر مونځونه وو یا پرے زکوٰة باقی وه او وصیت ئے اوکړه نو فقط په دریمه حصه مال به ئے دا پوره کوی د دریمے حصے نه زیات به بغیر د وارثانو د اجازت نه نه لګوی

مسئله ۱۵:- بغیر د وصیت نه د مړی د مال نه حج بدل کول جائز نه دی۔ البته که ټول وارثان په خوشحالئ اجازت اوکړی نو انشاء الله چه فرض حج به ئے ادا شی۔ خو د نابالغو وارثانو اجازت نه دے معتبر۔

مسئله ۱۶:- که ښځه په عدت کښے وه نو عدت پاتے کول او حج له تلل ورله جائز نه دی۔

مسئله ۱۷:- که چا سره چه د مکې د تګو مال وي او مدینې ته پې نه شي تلې ورتلې نو حج پې فرض دے۔ بعضې خلق چه د مدینې خرچ ورسره نه وي حج فرض نه ګڼړي دا خیال غلط دے۔
مسئله ۱۸:- په احرام کښې مخ پټول او کپړه پې اچول جائز نه وي نو صبا د دے د پاره چالید اره کپړه خړ ځيږي حفه دے په مخ دا اچوي او د پاسه پې بود قعه غوره ده۔
مسئله ۱۹:- د حج مسائل بغیر د حج کولو نه یادیږي او چه حج له لاړه شي نو معلم هلته هرڅه خائي نو دلته ئې لیکلو ته ضرورت نشته۔

باب ۲۲ دَ زیارتِ مدینې بیان

که ګنجائش وي نو د حج نه اول یا د حج نه پس دے مدینې منورې ته حاضر شي د نبي کریم صلے الله علیه وسلم د روضې مبارکې او د مسجد نبوی ؐ د زیارت نه دے شرافت حاصل کړي۔ د دے په باره کښې حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چا چه زما د وفات نه پس زما زیارت اوکړه حغه ته به حغه برکت حاصل شي کوم چا زما په ژوندانه زیارت زما اوکړي۔ او دا ئې هم فرمائلي دي چه څوک یواځې حج اوکړي او زما زیارت له رانه شي نو حغه زما سره چیره بې مروتي او کړه او د مسجد نبوی ؐ په حق کښې فرمائي چه څوک په دے کښې یو مونځ اوکړي نو حغه ته به د پنځوسو زرو مونځو نو ثواب میلاؤ شي۔ الله تعالی دے ټولو ته دا دولت نصیب کړي او مونږ له دے د نیکو کارو نو توفیق راکړي۔ آمین یارب العلمین۔

باب ۲۳ د نذر منلو بیان

مسئله ۱:- په څه کار ئې د یو عبادت نذر او منلو او بیا حغه کار اوشه نو اوس پې د نذر پوره کول واجب شو که نذر ئې پوره نه کړه نو سخت ګناهګار دے۔ لیکن که څه عبث نذر وي چه په شریعت کښې د حغې څه اعتبار نه وي نو پوره کول ئې واجب نه دي۔
مسئله ۲:- چا اووے چه یا الله که زما فلانے کار اوشه نو پنځه روژے به اونیسم نو چه حغه کار اوشه نو پنځه روژے به نیسي او که اونه شه نو نه به نیسي۔ که دا ئې ویلي وو چه پنځه روژے به نیسم نو اوس که ئې پرلپسې نیسي او که جُدا جُدا۔ او که دا ئې ویلي وو چه پرلپسې به پنځه روژے نیسم نو ټولے به پرلپسې نیسي که په مینځ کښې ئې یوه پاتې کړه بیا به ئې د سره نیسي۔
مسئله ۳:- که دا ئې اووے چه د جمعې روژه به نیسم یا د محرم د اول تاریخ نه د لسم پورے به نیسم نو خاص د جمعې او خاص د محرم د دغې تاریخو نو روژے واجب نه دي کله چه غواړي لس روژے دے اونیسي لیکن لس واړه به پرلپسې نیسي که په محرم کښې نیسي او که په بله میاشت کښې۔ دغه شان که دا ئې اووے چه که نه

له خو په دے شرط چه حغه عبادت د داسے جنس نه وي چه په څه وخت کښې حغه فرض یا واجب وي ۱۲

څه دا کار او شه نو صبا به روژه او نیسم نو هم ئې خوه بنه ده چه کله ئې نیسي -

مسئله ۴ :- که چا د نذر منلو په وخت کښې دا ویلې اووې چه د محرم د میاشتې روژې به نیسم نو د محرم د ټولې میاشتې روژې به پرلپسې نیسي - که په مینځ کښې ئې څه روژې پاتې کړے نو پس بدل کښې به ئې دومره روژې نورې نیسي ټولې به د سره نه دوباره کوی - او دا ئې هم اختیار دے که د محرم نه علاوه په بله میاشت کښې ئې نیسي نو ینوے شي خو پرلپسې به ئې نیسي -

مسئله ۵ :- چا نذر او مانه چه که څما ورک شے ملاؤ شه نو ا تلا رکعته مونځ به اوکړم نو چه ملاؤ شه اتلا رکعته مونځ به کوی که په یو ځائے د اتلا رکعتو نو نیت تړی او که د څلورو څلورو یا دوه دوه نیت تړی - او که د څلورو نذر ئې منلے وه نو څلور وارو به په یو نیت کوی - که دوه دوه ئې اوکړه نو نذر به دے شو ے -

مسئله ۶ :- که چا د یو رکعت نذر او مانه نو دوه رکعته به پوره کوی - که د درې رکعتو وه نو پوره څلور به کوی او که د پنځه نو شپږ به کوی د غسې د اخره پورې حکم دے -

مسئله ۷ :- که دا سې نذر ئې او مانه چه لس روپئ به خیرات کوم یا یوه روپئ نو څومره چه ئې ویلي دي د ومره به خیرات کوی - که نذر ئې د پنځو سو منلے وه او د غه وخت ورسره صرف لس روپئ وے نو لس به خیرات کړی - او که د لسو روپو نه سوا څه مال اسباب ورسره هم وه نو د هغې به هم قیمت اوکړی مثلا لس روپئ ورسره نقد دي او د پنځلسو ورسره سامان دے نو پنځو یشت روپئ به خیرات کوی -

مسئله ۸ :- که دا سې نذر ئې او مانه چه لسو[1] مسکینا نو بانده ے به خوراک خوره وم نو که په زړه کښې ئې څه خیال وه چه یو وخت یا دوه وخته به ورباندې خوره وم نو د غه شان به کوی او که څه خیال ئې نه وه نو دوه وخته به لسو مسکینا نو ته خوراک ورکوی او که اومه غله ورکوی نو هم د غه حکم دے چه څومره خیال ئې وه هومره به ورکوی او که خیال کښې ئې هیڅ نه وو نو بیا به د صدقه فطر هومره هر یو له ورکوی -

مسئله ۹ :- که دا سې ئې او وے چه د یو ے روپئ ډوډئ به په فقیرا نو تقسیموم نو خوه بنه ئې خپله ده که د روپئ ډوډئ ورکوی او که بل شے او که نقد روپئ -

مسئله ۱۰ :- که دا سې ئې او وے چه لس روپئ به یوه یوه یو یو فقیر له ورکوم نو که لس واړه ئې یو فقیر له ورکړے هم جائز دی او که شلو فقیرا نو له ئې لس روپئ ورکړے هم جائز دی او که دا سې ئې ویلي وو چه لس روپئ به لسو فقیرا نو له ورکوم هم دغه حکم دے که لسو له ئې ورکوی او که کمو له او که زیا تو له -

مسئله ۱۱ :- که دا سې ئې او وے چه لسو مونځ کونکو یا لسو حافظا نو له به خوراک ورکوم نو

---

[1] په دے صورت کښې د لسو تخصیص مراد نه دے بلکه مقصود د لسو ټنو خوراک دے که لسو له وی او که یو له (عالمګیری) ۱۲

په لسو فقیرانو دے او خوره وی که هغوی مونځ کونکی او حافظان وی او که نه۔

مسئله ۱۳:- که چا اووے چه په مکه کښے به خیرات کوم نو هرځائے چه ادکری مکه واجب ده، یائے اووے دجمع په ورځ به خیرات کوم یا فلانی فقیر له به ئے ورکوم نو دجمع ورځ او دغه فقیر ضروری نه دی۔ دغه شان یوه روپئ ئے دخیرات دپاره مقرره کړه نو بعینه هغه واجب ده که بله ئے ورکړه جائز دی۔

مسئله ۱۳:- دغه شان که اوئے وے چه په جامع مسجد کښے به مونځ کوم یا په مکه کښے نو چه هرځائے ئے مونځ اوکړه نذر رئے پوره شه۔

مسئله ۱۴:- چا اووے چه که ځما رور ښه شه نو یوه بیزه به ذبح کړم یا به دیوے بیزے غوښے خیرات کړم نو نذر را وشه۔ او که داسے ئے اووے چه قربانی به کوم نو بیا به داختر په ورځو کښے کوی او په دواړو صورتونو کښے به ټولے غوښے خیرات کوی له فقیر نه سوا به ئے بل چاله نه ورکوی او نه به ئے پخپله خوری۔

مسئله ۱۵:- دیوے غوا نذر ئے منلے وه نو که غوا ملاؤ نه شوه بیا اووه بیزے دی۔

مسئله ۱۶:- داسے نذر ئے منلے وه چه که دوه رم راغے لس روپئ به خیرات کړم نو چه دوه راتلو خبرئے واوریدله لس روپئ ئے خیرات کړے دا نذر را ونشه چه راغے بیا به لس روپئ خیرات کوی

مسئله ۱۷:- دیوکار دکیدو نذر ئے منلے وه مثلاً وے که زه جوړه شوم نو داسے به اوکړم یا که دوه رم په خیریت سره راغے داسے به اوکړم۔ که پلاړم په مقدمه کښے بری شه یا ئے نوکری اوشوه داسے به اوکړم۔ نو کله چه هغه کار اوشی نذر به پوره کوی۔ او که داسے ئے اووے چه که ستا سره رم خبرے اوکړے نو دوه روژے به نیسم یا که تا رم مونځ اوکړه نو یوه روپئ به خیرات کړم بیائے خبرے اوکړے یا ئے مونځ اوکړه نو اوس ئے اختیار دے که د قسم کفاره ورکوی او که دوه روژے نیسی او یوه روپئ خیرات کوی۔

مسئله ۱۸:- که نذر ئے اومانه چه زر پیړے درود شریف به لولم یا به زر پیړے کلمه لولم نو نذر را وشه لوستل پے واجب شو او که داسے ئے اووے چه زر پیړے به سبحان الله وایم یا به زر پیړے لاحول ولا قوة لولم نو نذر نه دے شوے او لوستل پے واجب نه دی

مسئله ۱۹:- نذر ئے اومانه چه لس پیړے به قرآن ختموم یا یوه سیپاره به لولم نو نذر را وشه۔

مسئله ۲۰:- داسے نذر ئے اوکړه چه که فلانے کار اوشه نو مولود به کوم نو نذر نه دے شوے یا په فلانی قبر به غلاف خوره وم نو نذر نه دے شوے۔ یائے دچا پیر نقیر نذر اوانه او منله یا به په جمات کښے ګلګے خیژه وم یائے دپیر یولسمه یا دولسمه او منله نو دا صحیح نه دی

مسئله ۲۱:- دمشکل کشا روژه ئے نذر کړه یا دآس بی بی کونډا دا ټول خرافات او شرک دے

مسئله ۲۲:- داندر ئے اومانه چه فلانے جمات چه وران دے چوړ کوم به ئے یا به فلانے پل جوړه

وم نو دا ننذر هم صحیح نه دے او نه په ده ځه واجب دی۔

مسئله ۲۳:- که دا سے ئے اووے چه وروره منه شه نو نا څ په کوم یا به باجه غږه وم نو دا ننذر گناه ده د بنده کید و نه پس دا سے کول جائز نه دی۔

مسئله ۲۴:- د الله پاک نه علاوه د بل چا ننذر منل مثلاً دا سے ویل لو یه پیره که دا کار م اوشه نو تاله به دا سے او کړم یا قبرونو او مزارونو ته تلل- کوم ځائے چه بنا پیری وی هلته تلل او هلته تے غوختل (او کفیبو د خبرو تپوسونه تے کول) حرام او شرک دے بلکه د دا سے ننذر څه خوړل هم حرام دی- او د ښځو خو قبرونو ته تلل حضور ﷺ بند کړی دی او په دا سے ښځو ئے لعنت فرمائیلے دے۔

باب ۲۴ د قسم خوړو بیان

مسئله :- بے ضرورته په خبره خبره قسم خوړل ډیر بده خبره ده- په دے کښے د الله د نوم بے حرمتی ده ترڅو چه کید یشی په رشتیا خبره هم قسم خوړل ښه نه دی۔

مسئله ۲:- چا چه په الله تعالیٰ قسم او خوړو چه په خدائے قسم د خدائے په لوئے او عزت قسم نو قسم اوشه او س د دیته خلاف کول جائز نه دی- که د خدائے نوم ئے وا نه خیستو فقط دومره ئے اووے چه زه قسم خورم چه فلانی کار به نه کوم نو قسم اوشه۔

مسئله ۳:- که دا سے ئے اووے چه خدائے گواه دے خدائے حاضر ناظر دے نو هم قسم اوشه۔

مسئله ۴:- په قرآن قسم د په کلام الله م قسم دے نو هم قسم اوشه[۱] - او که په قرآن ئے لاس کیخود یا ئے پلاس کښے اوچت کړه لیکن قسم ئے او نه کړه نو قسم نه دے شوے۔

مسئله ۵:- دا سے ئے اووے چه که فلانے کار او کړم نو بے ایمان به یم یا م دے ایمان نصیب نه شی یا مسلمان به نه یم نو قسم اوشه که خلاف ئے او کړه کفاره به ورکوی[۲]۔

مسئله ۶:- که فلانے کار او کړم نو لاس م د ماتے شی سترگے م د ړندے شی- د خدائے غضب دے را پریوځی آسمان دے را رتاؤ شی- د دلے دانے محتاج د شم خدائے م دے اووهی- د سور غوښه شه که فلانے کار او کړم- په ځنکدن م د کلمه نصیب نه شی[۳]- په قیامت دے رسوا شم، دا خبرے قسم نه دے کفاره پے نشته۔

مسئله ۷:- د خدائے نه سوا په بل هیڅ قسم نشته، لکه په رسول الله قسم- په کعبه قسم، په سترگو قسم ځپله ځوانئ قسم- په پلار قسم، په بچی قسم، ستا په سر قسم، ستا په روح قسم وغیره- دا سے قسم چه او خوری او خلاف او کړی نو کفاره پے نشته- لیکن د الله تعالیٰ نه سوا په بل چا قسم خوړل لوئے گناه دے- په حدیث کښے د دا سے قسم منع راغلے ده

---

[۱] لیکن فقها گو دا سے قسم بند کړے دے ۱۲ [۲] لیکن د دا سے قسم نه ځان ساتل پکار دی ۱۲ [۳] د دے عبارت مطلب دا دے چه مرگ م د په ایمان وی خو که مرگ په وخت م د د کلمه ادا نه شی- او که مطلب ئے دا اخلی چه د مرگ په وخت م د ایمان لاړ شی نو بیا قسم اوشه او په خلاف کولو به ئے کفاره ورکوی ۱۲

په ما سوی الله قسم خوړل شرک[1] دے. ځان تے ساتل پکار دي۔

مسئله ۸:- کہ د لسے ئے اووے چہ ستا د کور خوراک په ما حرام دے یا د فلانے شے ما په ځان حرام کړے دے نو په دے سره شے نه حرامیږي البته دا قسم شه کہ ئے اوخوړ کفاره به ورکوی

مسئله ۹:- چا تہ ئے اووے چہ ستا دے پخدائے قسم وي دا کار اوکړه نو داسے قسم نه کیږي کہ خلاف ئے کوي نو جائز دي. د بل په قسم ورکولو قسم نه کیږي۔

مسئله ۱۰:- د قسم سره ئے ان شاء الله اووے. داسے چہ پخدائے قسم دا کار به ان شاء الله نه کوم نو قسم اونه شه۔

مسئله ۱۱:- کومه خبره چہ شوی وی او په دروغو ئے قسم خوړی حالو یه گناه ده لکہ مونځ ئے نه دے کړے او چا تے د ماښځه پوښتنه اوکړه نو اووائی پخدائے قسم کړے مے دے یا گلاس تے مات شوے دے او وائی پخدائے قسم ما نه دے مات کړے - د دروغو د قسم د گناه څه حد نشته او نه ئے څه کفاره شته بس شپه او ورځ د الله تعالیٰ نه بخښنه فریاد کوی او توبه دے اوباسی - او کہ په غلطئ کښے ئے قسم خوړ چہ پخدائے قسم فلانے لا نه دے راغلے او د ده دا یقین وه چہ زه رښتونے یم بیا معلومه شوه چہ دغه وخت هغه راغلے وه نو معاف دے گناه په کښے نشته او نه کفاره ئے هم نشته۔

مسئله ۱۲:- کہ په داسے خبره ئے قسم اوخوړ چہ ائنده کیدونکے وه لکہ په خدائے قسم نن به باران اوشی. یا به محمد راشی. او باران اونه شه یا ئے رو را نغے. نو کفاره به ورکوی۔

مسئله ۱۳:- چا قسم اوکه چہ په خدائے قسم نن به قرآن ضرور لولم نو قرآن لوستل په واجب شو کہ اوئے نه لوست نو گناه ئے اوشوه او کفاره به ورکوی. کہ قسم ئے اوکه چہ پخدائے قسم فلانے کار به نه کوم نو کہ اوئے کړو د قسم کفاره به ورکوی۔

مسئله ۱۴:- چا په گناه قسم اوخوړ چہ پخدائے قسم نن به فلانے څیز پټوم یا به نن مونځ نه کوم یا د مور و پلار سره به خبرے نه کوم نو قسم ماتول په واجب دی او کفاره به ورکوی کہ مات ئے نه کړو نو گناهګار دے۔

مسئله ۱۵:- چا قسم اوکه چہ فلانے څیز به نه خورم نو په هیره ئے اوخوړ یا ورله چا په زبردستئ ورکړه نو کفاره به ورکوی۔

مسئله ۱۶:- په غصه کښے ئے قسم اوخوړ چہ څه به درله کړم بیائے ورکړه نو کفاره به ورکوی۔

باب ۲۵ د قسم د کفارے بیان

مسئله:- کہ چا قسم مات کړه نو کفاره ئے دا ده چہ لس مسکینان به صبا بیگاه مړه وی یا به هر یو له د صدقۂ فطر هومره غله ورکوی. نو په تول طریقه ئے هغه ده چہ د دوه

[1] یعنے سپک شرک دے نو کافر نه شه اسلام نه نه خارجیږي او نکاح ئے هم نه ده ماته ۱۲

په کفاره کښې بيان شوې ده- يا به لسو فقيرانو له کپړې ورکوي - هر يو له دومره چه اکثر بدن ئې پکښې پټ شي لکه څادر يا اوږده قميص - ليکن چه يوه زړه کپړه نه - او که يوه يوه لنګۍ يا يو يو پرتوګ ئې ورکړه نو کفاره ادا نه شوه که د لنګۍ سره قميص وه نو بيا ادا شوه - او په دې دواړو يعنې غله او جامه کښې هر يو شے چه ورکوي - او که بنځې له ئې کپړه ورکوله نو دومره به ورکوي چه ټول بدن ئې پټ شي او مونځ ورسره کولے شي که کمه وه نو کفاره نه ادا کيږي -

مسئله[۲]:- که څوک داسې غريب وه چه د خوراک او کپړې طاقت ئې نه وه نو پرلپسې به درې روژې نيسي که جدا جدا ئې اونيوې نو کفاره ادا نه شوه بيا به ئې د سره نيسي - که په منځ کښې ئې په څه عذر روژه پاتے شوه نو هم به بيا د سره نيسي -

مسئله[۳]:- د قسم ماتولو نه ئې اول کفاره ادا کړه قسم ئې روستو مات کړه نو نه ده ادا شوې او س به بيا ادا کوي - او څه چه فقيرانو له ورکړي دي هغه به نه واپس کوي -

مسئله[۴]:- چا څو پېرې قسم اوکړه يو واړے اُوئے چه الله قسم دا کار به اونه کړم بيا ئې او وے چه الله قسم دا کار به اونه کړم په دغه ورځ يا بله يا دويمه دريمه ورځ غرض څو پېرې ئې دغه شان او وے يا ئې داسے او وے چه الله قسم په الله قسم په کلام الله قسم چه فلانے کار به ضرور کوم او بيا ئې قسم مات که نو د ټولو د پاره يوه کفاره ده -

مسئله[۵]:- د چا په ذمه د قسمو نو ډيرے کفارے جمع شوې نو په قول مشهور د هر يو د پاره به ځان ځانله کفاره ورکوي - که په ژوند کښې ورله کړې نو د مرګ په وخت کښې په وصيّت واجب دے -

مسئله[۶]:- په کفاره کښې به هغه مسکينانو له خوراک يا جامې ورکوي چه زکوٰة ورله ورکولے شي

باب[۲]

کورته د تلونه د قسم بيان

مسئله[۱]:- چا قسم اوکړه چه ستا کورته به چرته لاړ نه شم بيا په دروشل او دريډ يا د دروازے د پچي لاندے او دريډ د ننه لاړ نه شه نو قسم مات نه دے که د ننه لاړ بيا مات شه -

مسئله[۲]:- چا قسم اوکړه چه د کورته به چرته لاړ نه شم بيا چا اولويډ کښ او رشولا او ورته نو قسم مات شه او که يا لکل ميدان شه د کور ننه ويله شوه، يا پټے يا جمات يا باغ شه او ورته لاړ نو قسم نه دے مات -

مسئله[۳]:- قسم ئې اوکه چه د کورته به لاړ نه شم نو چه وران شه او بيا جوړ شه لاړ نو قسم مات شه

له په يو مجلس کښې وي او که په دويم مجلس کښې ۱۲ رف) يعنې د يو کار په نه کولو ئې څو پېرے قسم او خوړه او مقصد ئې د دويم تاکيد وه د اول قسم د دويم قسم نيت ئې نه وه نو يوه کفاره واجب ده - او که نيت ئې د دويم قسم وه يا ئې هيڅ نيت نه وه نو بيا د هر يو قسم کفاره واجب ده ۱۲ لکه د عالمګيري د عبارت نه ظاهر ده ۱۲

مسئله ۴:- چا قسم اوکړه چه ستا کور ته به نه ځم نو په کوټه را او خوت په چت د پاس
اودریدو نو قسم مات شه اګر چه خکته کوز نه شه۔

مسئله ۵:- په کور کښې ناست وه قسم ئے اوکړه چه دلته به اوس چرته نه ځم بیا لږ
ساعت ناست وه نو قسم نه ؤ مات که هر څومره وخت ناست وی چه را اوځی او بیا
دننه شی نو قسم به مات شی۔ که د کپړے نه ئے قسم اوخوړو او فوراً ئے اوویسته نو
قسم نه دے مات او که لږ ساعت ئے اغوستے وه نو قسم مات شه۔

مسئله ۶:- قسم ئے اوکړه چه په دے کور کښې به اونه اوسم او فوراً ئے سامان راټولول
شروع کړه نو قسم نه دے مات او که لږ حصار شه نو قسم مات شه۔

مسئله ۷:- قسم ئے اوکړ چه په دے کور کښې به قدم کیږدم نو مطلب دا دے چه دا به نه ځم
نو که سور راغے او په سوارلۍ د پاسه ناست وه را کوز نه شه بیا هم قسم مات شه۔

مسئله ۸:- چا قسم اوکړ چه کله به ستا کره ضرور راځم بیا موقع ملاؤ نه شوه نو
تر څو چه ژوندے دے قسم نه ؤ مات د مرګ سره به مات شی نو د کفارے وصیت دے اوکړی

مسئله ۹:- قسم ئے اوکړه چه د فلانی کره به لاړ نه شم نو په کوم کور کښې چه هغه
اوسی هلته به نه ځی که د هغه خپل کور وی او که د کرائے وی او که سوالی وی۔

مسئله ۱۰:- قسم ئے اوکړه چه ستا کره به چرته را نه شم بیا ئے چا ته او دے چا
په غیږ کښې هلته بوزه نو هغه په غیږ کښې راوست هم قسم مات شه البته که
ده ورته نه وو ویلی هغه د ځان راوړو نو قسم نه دے مات۔ دغه شان
که قسم ئے اوکړه چه د دے کور نه به چرته اونه وځم او چا د ده په وینا په غیږ کښې راویسته
نو قسم مات شه او که د ځان ئے راویسته نو قسم نه دے مات۔

باب ۲۷

د خوراک سکاک نه د قسم کولو بیان

مسئله ۱:- قسم ئے اوکړ چه دا پئ به اونه خورم او ماسته ئے ورله او خوړه قسم نه ؤ مات۔

مسئله ۲:- د بزے د پیو خوړو بچے وه او چا قسم اوکړه چه د ده غوښه به اونه خورم
بیا هغه پوره بیزه شوه او غوښه ئے ورله او خوړه نو قسم ئے مات شه۔

مسئله ۳:- قسم ئے اوکړه چه غوښه به اونه خورم بیا ئے مهے یا پنتوړکی یا ئے
کولے او خوړه نو قسم نه دے مات (ځکه کوم ځائے دیته هم غوښه ویلے شوه بیا مات دے)

مسئله ۴:- قسم ئے اوخوړو چه دا غنم به اونه خورم او د هغے ډوډئ یا ستوان ئے او
خوړه قسم نه دے مات او که غنم ئے وریته یا پاخه شول او خوړه بیا مات دے۔ البته
که نیت ئے دا وه چه د دے ډوډه شے به هم اونه خورم نو بیا په هر څه مات دے۔

مسئله ۵:- کۀ قسم ئے اوکړو چې دا اوړه به اونۀ خورم نو که هغې ډوډۍ یا حلوا یا لیټۍ ئے اوخوړه قسم مات شو او که اوچ اوړۀ ئے اوخواړه نۀ دے مات۔

مسئله ۶:- قسم ئے اوکړو چې ډوډۍ به اونۀ خورم نو په دغه ملک کښے چې دکومو څیز ډوډۍ خوړے شی هغه به نۀ خوری ورنۀ قسم به ئے مات شی۔

مسئله ۷:- قسم ئے اوکړو چې سرۍ به اونۀ خورم نو دَ چینجړے، مرغۍ، چرګې وغیره په سر خوړو ئے قسم نۀ دے مات کۀ دَ بیزے یا غوا سر ئے اوخوړو بیا مات شو۔

مسئله ۸:- قسم ئے اوکړو چې میوه به اونۀ خورم نو په انار، منړه، انګور، چوهارا، بادام، غوز، کشمش، وڅکو، کجورو خوړو به ئے قسم مات شی۔ او کۀ خټبوزه، بادرنګ، ختکے هندوانه آم ئے اوخوړو نو نۀ دے مات۔

باب ۲۸ دَ خبرونه کولو دَ قسم بیان

مسئله ۱:- قسم ئے اوکړو چې دَ فلانی سره به خبرے اونۀ کړم نو چې هغه اوده شو ده ورته څه اوویل او دَ دۀ په آواز هغه راویښ شو نو قسم ئے مات شو۔

مسئله ۲:- قسم ئے اوکړو چې بغیر دَ مور دَ اجازت نه به دَ فلانی سره خبرے اونۀ کړم بیا ورته مور اجازت اوکړو خو دۀ ته لا دَ اجازت خبر نۀ وه رسیدلے او خبرے ئے ورسره اوکړے نو قسم مات شو اګرکۀ بیا ورته معلومه شوه چې مور اجازت کړے وو۔

مسئله ۳:- قسم ئے اوکړو چې دَ ګواړه سره به خبرے اونۀ کړم بیا هغه ځوان یا بوډا شو او خبرے ئے ورسره اوکړے نو هم ئے قسم مات شو۔

مسئله ۴:- قسم ئے اوخوړو چې ستا سره به اونۀ ګورم نو مطلب دا شو چې ملاقات به ورسره اونۀ کړم خلط به ورسره اونۀ کړم نو که دَ لرے نه ئے اولیده قسم نۀ دے مات۔

باب ۲۹ اَغستو خرڅولو نه دَ قسم کولو بیان

مسئله ۱:- قسم ئے اوکړو چې فلانے شے به زۀ وانخلم بیا ئے چاته اوویے هغه ورله واغستو نو قسم نۀ دے مات۔ دغه شان چې فلانے شے به زۀ خرڅ نۀ کړم او بل چاته ئے اوویے هغه ورله خرڅ کړو نو قسم نۀ دے مات۔ دا سے حکم دَ کرائے دے چې دا شے به زۀ په کرایه وانۀ خلم او بل چاته ئے اوویے هغه ورله په کرایه واغست قسم نۀ دے مات۔ البته کۀ دَ قسم کولو مطلب ئے دا وه چې نۀ به ئے پخپله اخلم او نۀ په بل چا نو بیا دَ بل په اغستو سره هم قسم ماتیږی۔ غرض حکم به دَ مطلب موافق لږ ه وَلے شی۔ یا دا پروه داره بچګه وه پخپل لاس ئے اغستل خرڅول نۀ کول نو بیا هم دَ بل په اغستو قسم مات شو

مسئله ۲:- قسم ئے اوکړو چې دا څپل بچے به اونۀ وهم او په بل ئے اوواهه قسم نۀ دے مات۔

باب ۳ دَ مونځ روژے نه دَ قسم کولو بیان

مسئله ۱:- چا دَ بے دقوفئ نه قسم اوخوړ چه روژه به اونه نیسم اوبیائے نیت اوکړو نو لږ ساعت پس ئے قسم مات شه اګرچه تول ورځ نه ده تیره اوکه لږ ساعت پس ئے ماته هم کړه نو کفاره پے لازم ده- اوکه داسے ئے اووے چه یوه روژه به هم اونه نیسم نو چه روژه ختم شی قسم به ئے مات شی یعنے چه د روژے ما تولو وخت راشی نو هله به ئے قسم مات شی اوکه د وخت نه اول ئے روژه ماته کړه قسم نه دے مات۔

مسئله ۲:- قسم ئے اوکړه چه مونځ به اونه کړم بیا خپیمانه شه اوبیا ئے مونځ اودرید نو چه کله اول رکعت سجده اوکړی قسم به ئے مات شی د سجدے نه مخکښے ئے قسم نه دے مات که یو رکعت ئے اوکړه او مونځ ئے مات که هم ئے قسم مات شه۔

خو یادلره چه داسے قسمونه خوړل سخته ګناه ده که بے وقوفی نه اوشی نو فوراً ئے ماتول او کفاره ورکول ضروره دی۔

باب ۳ کپړے وغیره نه دَ قسم کولو بیان

مسئله ۱:- قسم ئے اوخوړ چه پدے قالین به نه خملم بیا ئے په قالین د پاسه څادر خور کړه خملا ست پے نو قسم ئے مات شه اوکه بل قالین یا دړی ئے پے واچول نو نه دے مات۔

مسئله ۲:- قسم ئے اوکړه چه په زمکه به نه خملم بیا ئے پے بورئ یا کپړا یا انړ یے یا تاټ وغیره خور کړه نو قسم نه دے مات اوکه د پیسږ څادر پیځکے لاندے کړه نو مات شه اوکه څادر ئے د سره لرے کړه او خور ئے کړه نو نه دے مات۔

مسئله ۳:- قسم ئے اوکړه چه پدے کټ یا تخت به نه کینم بیا ئے پے دړئ یا قالین وغیره خور که کیناست نو قسم مات شه اوکه د پاسه ئے پے بل کټ یا تخت واچاؤ اوپه پاسئ تخت یا کټ کیناست نو قسم نه دے مات۔

مسئله ۴:- قسم ئے اوکه چه فلانے به چرته اونه لمبوم او چه مړشه اوئے لمباؤ قسم ئے مات شه۔

مسئله ۵:- څاوند ښځے ته قسم اوخوړ چه چرته به دے اونه وهم بیائے د سره راښکوده یا د مرئ نه اونیوه یائے اوچیچله نو قسم مات شه- اوکه د مینے چیچل وو بیا نه دے مات۔

مسئله ۶:- قسم ئے اوکه چه فلانے به ضرور وهم او هغه د دے وینانه اول مړوه نو که مړګ ئے ده ته معلوم نه وه قسم ئے نه دے مات اوکه معلوم وه قصداً ئے قسم کړے وه بیا فوراً مات دے۔

مسئله ۷:- که چا د څه خبرے د کولونه قسم اوکړه داسے چه انار به ضرور خورم نو په تول عمر کښے یو دانه خوړل کافی دی- اوکه د نه کولو قسم ئے اوکړه داسے چه انار به اونه خورم نو د همیشه د پاره به ئے نه خوری که کله ئے اوخوړه قسم به ئے مات شی- لیکن که کوم ته انار وغیره راغله د هغے نه ئے قسم اوکړه نو دا بله خبره ده هغه دے نه خوری نو د

دے راوغوا ړي او هغه دے اوخوري۔

باب ۳۲

دین نه د واپس کید و بیان

مسئله: خدائے دے نه کړي که څوک د خپل ایمان او دین نه واپس شه نو دے ورته مهلت ورکړے اوکه څه شک شبه ئے وی د هغې جواب دے ورکړے شي۔ په دے موده کښے که مسلمانه شوه نو خه ده ورنه د قول عمر[1] د پاره دے قید کړے شي۔ د توبے پورے

مسئله ۲:- که چا د کفر کلمه په ژبه اووے نو ایمان ئے لاړ او څومره نیکئ چه کړي وي هغه ختمے شوے نکاح ئے مات شه که فرض حج ئے کړے وه هغه هم عبث لاړ۔ که اوس ئے توبه اوکړه مسلمان شه نو نکاح دے بیا تازه کړي او حج د بیا[2] اوکړي۔

مسئله ۳:- دغه شان که سړے کافر شه نو نکاح ئے مات شه اوس چه تر څو توبه او نه کړي او بیا نکاح او نه کړي ښځه به ورسره څه واسطه نه ساتي که شغل د ښځے خاوند ئے د یو بل سره اوساتي نو ښځه هم گناهگاره ده اوکه زور ئے ورسره کاوه نو خلقو ته دے اظهار کوي شرم دے نه کوي چه دین کښے شرم نشته۔

مسئله ۴:- که په خندا کښے ئے د کفر کلمه د ژبے نه اوویشته هم دغه حکم دے لکه چا داسے اووے چه د خدائے دومره قدرت نشته چه فلانے کار اوکړي او جواب ئے اوکړه چه هان نشته دے نو کافر شه۔

مسئله ۵:- چا اووے یا څه مونځ اوکه جواب ئے ورکړه د اکینا سته پاسیده څوک کوي یائے ورته د روژے اووے جواب ئے ورکړه څوک د لوږے نه مري یا ولے روژه نسي چه خوراک ورکړه وی دا ټول خبرے د کفر دي۔

مسئله ۶:- چا په گناه کولو اولیده او ورته ئے اووے د خدائے نه ویریږه ده اووے نا نو کافر شه۔

مسئله ۷:- چا په نا کاره کار اولیده ورته ئے اووے ته مسلمان نه ئے چه داسے کوے ده اووے نه یم نو کافر شه که په خندا کښے ئے اووے هم دا حکم دے۔

مسئله ۸:- چا مونځ شروع کړه او اتفاقا په څه آفت راپریوت نو د دا د مانځه نحوست یعني بد راتلل دی نو کافر شه۔

مسئله ۹:- د کافر څه کار ورته ښه معلوم شه او آرزو ئے اوکړه چه کافر وے نو ما به هم داسے کول نو کافر شه۔

مسئله ۱۰:- د چا څوئ مړ شه او داسے ئے اووے چه یا الله دا ظلم د په ما ولے اوکړه نو کافر شه۔

مسئله ۱۱:- که خدائے راته اووائي خو دا کار به اونه کړم په دے وینا ویلو سره کافر شه۔ یا که جبرائيل راکوزشي او به ئے نه منم نو کافر شه۔

---

[1] دا حکم د ښځو دے سړي به قتل وي په دریم ورځ ۱۲ [2] که کوم مسلمان نه پس ئے د حج طاقت وه چه تلے را ئے شه ۱۲

مسئله ۱۲:- چا اووے څه داسے کار کوم چه خدائے تے هم خبر نه دے نو کافر شه۔
مسئله ۱۳:- که د الله یا رسول حقارت ئے اوکړه یا د شریعت په یوه خبره کښے ئے عیب پیدا
والے ویلو۔ یائے د کفر خبره خوښه کړه په دے ټولو سره ایمان لاړه۔ د کفر ډیرے خبرے
په اول حصه کښے د عقیدو نه پس بیان شوی دی حلته ئے اوګوره۔ د خپل ایمان ډیر احتیاط
پکار دے۔ الله تعالیٰ دے زمونږ ټولو ایمان ټهیک کړی او خاتمه د په ایمان کړی آمین یا رب العٰلمین

باب ۳۳ د ذبح کولو بیان

مسئله ۱:- د ذبح طریقه دا ده چه څاروے په مخ په قبله پریباسی تیره چاړه په لاس کښے واخلی
بسم الله الله اکبر به اووائی او مرئ به ورله پریکړی چه څلور رګونه ئے پریکړے شی یو
د ساه رګ بل د خوراک مرئ او دوه شاه رګونه چه د ساه د رګ ښی او کینړ طرفته وی که
په دے څلورو کښے درے کټ شو هم ذبح اوشوه او که دوه کټ شو نو مردار ده۔
مسئله ۲:- د ذبح په وخت کښے ئے بسم الله قصداً اونه وے نو مردار ده که هیره ئے نو حلال
مسئله ۳:- په پسه چاړه ذبح مکروه ده او منع ده جانور ته تکلیف وی دغه شان د یخیدو
نه اول ته څرمن ویستل لاس خپے پریکول او مرئ ورله بالکل پریکول۔ یعنے سر جدا کول دا
ټول مکروه دی۔
مسئله ۴:- د ذبح په وخت کښے د چرګ مرئ پریکړے شوه نو حلال دے مکروه نه دے
البته دومره زیات ذبح کول مکروه دی چرګ نه دے مکروه۔
مسئله ۵:- د مسلمان ذبح په هر حال جائز ده که ښځه ذبح اوکړی او که سړے پاک وی او
که ناپاک په هر حال د دوی ذبح حلال ده او د کافر ذبح حرام ده۔
مسئله ۶:- کوم شے چه تیره وی لکه تیره کټه د بانس یا ګنے پوستکے ذبح په جائز ده۔

حلالو او حرامو څیزونو بیان

مسئله ۱:- کوم جانوران او پرندګان چه ښکار کوی یا خوراک ئے فقط ګنده ګی وی د هغے خوړل
جائز نه دی لکه منګرے، شرمخ، ګیدړ، پیشو، سپے، شادو، شکرے، باز، مردار خور وغیره
او کوم چه داسے نه وی لکه طوطی، مینا، کونته، چڼچڼړه، مرغه، مرغابئ، فاخته، نیلګائ، هوسئ
بطه، خرګوش وغیره ټول جائز دی۔
مسئله ۲:- لړم، سمساره، (ګوه) چرمکئ، مچئ، وچه، خر، د ځمکے غوږ بنه او دې خوړل
جائز نه دی۔ د آس خوړل جائز دی لیکن غوره نه دی، په دریائی جانورانو کښے فقط مهے
حلال دے نور ټول حرام دی۔
مسئله ۳:- مهے او ملخ بغیر ذبح نه هم حلال دے د دے نه سیوا بل یو
جانور بغیر ذبح حلال نه دے۔ چه څه شے مړ شه نو حرام شه۔
مسئله ۴:- کوم مهے چه مړ شه او لټه کاوی په سر روان شه خوړل ئے جائز نه دی

مسئله ۵:- لوی کولے خوړل[له] حلال دی حرام یا مکروه نه دی۔

مسئله ۶:- په څه شی کښے میږی مړه شو نو لرے دے کړی بیا دے خوری که یو دوه حلق ته لاړه نو د مردارے خوړو ګناه ئے اوشه۔

مسئله ۷:- په انګورو وغیره کښے چه کوم چینجی وغیره وی هغه تے لوی کول پکار دی دا سے خیزونه بغیر تلاش خوړل نه دی پکار د مردارے خوړو ګناه کیږی۔

مسئله ۸:- کومه غوښه چه هندو خرڅوی د هغے اخستل جائز نه دی البته که مسلمان ذبح کړی وی او هغه ورسره ناست وی بیا دے اخلی۔

مسئله ۹:- کوم چرګ چه ګندګی خوری هغه درے ورځے د بنده ولو نه پس ذبح کول پکار دی ورنه مکروه دے۔

د نشے د خیزونو بیان[له]

مسئله ۱:- څومره شرابونه چه دی ټول حرام دی د دوائی د پاره ئے هم خوړل حرام دی بلکه کومه دوائی چه دا په کښے وی د هغے لږه ول هم حرام دی۔

مسئله ۲:- د شرابونه سوا چه څومره نشے دی لکه افیم جائفل زعفران[له] وغیره د هغے دا حکم دے چه دومره مقدار چه نشه نه راولی د دوا د پاره جائز دی۔ او زیات حرام دی

مسئله ۳:- د شرابو وغیره سرکه خوړل جائز دی۔

مسئله ۴:- بعضے ښځے بچو له افیم د خواب د پاره ورکوی دا حرام دی۔

باب ۳۶ د سرو سپینو د لوخو بیان

مسئله ۱:- د سرو سپینو په لوخو کښے خوړل سکل جائز نه دی بلکه په هیڅ شان ئے استعمال جائز نه دے لکه د سپینو ځمځے یا د غابنو نو صفا کولو ړکے سرمه دانی یا سلائی عطردان پان دان پیاله تالے د کټ د سپینو خپے وغیره البته ښځو له د کالو په طور جائز دی۔

باب ۳۷ د جامو او پردے بیان

مسئله ۱:- ورو هلکا نو ته کړے وغیره کالی او ریشمی کپړا اغوستول جائز نه دی دغه شان د سرو سپینو تعویذ د زعفرانو رنګ شوے کپړه غرض کوم خیزونه چه سړو له حرام دی هغه ورو هلکا نو له هم حرام دی۔ البته که تنسته د ریښمو او بوده تاریزه وه یا مخمل چه ټول ریښم نه وی جائز دی او دا سے کپړه سړو له هم جائز ده او د ریښمو کل وغیره په جامو لږه ول خو چه د څلورو ګوتو نه زیات نه وی هم جائز دی سړو له۔

[له] د دے مسئلے متعلق سوال د جواب په امداد الفتاوی جلد ۴ ص۱۲۱ کښے درج دے ۱۲ [له] د نشے د خیزونو مفصل حکم په طبع جوهر ضمیمه حصه نهم کښے اوګوره ۱۲ [له] او زعفران په حلوا وغیره کښے دومره خوړل چه نشه نه راولی بغیر ضرورته هم جائز دی ۱۲

مسئله ۲:- د سوچه تیلي د که ټوپۍ یا بله کپړه جائز نه ده البته که د نګې وي بیا خیر دے او دغه حال د ریخمو دے - سره وله جائز نه دي -

مسئله ۳:- ډیره نرۍ کپړه لکه ململ، جالي، وغیره اغوستل او لغړ یو شان دي په حدیث کښې دي چه داسې نرۍ کپړه اغوستونکې به د قیامت په ورځ لغړې کنړلې شي که قمیص معیته دواړه نرۍ وي بیا خو لوئې غضب دے -

مسئله ۴:- مردانه پیزار پچو کول او مردانه شکل جوړه ونکو بانه حضور لعنت ویلے دے

مسئله ۵:- ښځو له کالي اغوستل جائز دي لیکن زیات ئے نه اغوستل غوره دي کوم ښځو چه په دنیا کښې وانه غوستل په اخرت کښې به ورته ملاؤ شي - شرنګیدونکي کالي اچول جائز نه دي لکه پازیب، پې کړے، کړے، وغیره او وړو جینکو ته هم جائز نه دي د سرو سپینو نه علاوه نور کالي اچول هم جائز دي لکه د پیتلو کیلټو زیړو وغیره لیکن ګوتۍ د چاندۍ (اوسرو) نه علاوه د بل شي جائز نه ده - (او سرو له د چاندۍ نه سوا بله نه ده جائز او د چاندۍ چه د څلور نیمو ماشو نه کمه وي هغه جائز ده ورنه نه ده جائز)-

مسئله ۶:- د ښځې ټول بدن د سر نه د خپو پورې پټ ساتل پکار دي د غیر محرم په مخکښې به ئے نه ښکاره کوي صرف بوړۍ ښځې له مخ ورغوي او د پنډۍ نه لاندې څپې که ښکاره شي نو خیر دے - د تندي نه اکثر ویښته لوېږي کیږي او غیر محرم ته ښکاره کیږي دا جائز نه دي د غیر محرم په مخکښې یو ویښته هم ښکاره کول نه دي پکار - په منګز چه ویښته او غوړي یا نوکونه پریکړي نو داسې ځائے به ئے خوره وي چه د غیر محرم نظر پرې او نه لګي ورنه ګناه ده - دغه شان خپل لاس ښپه وغیره د نامحرم د بدن سره لګول جائز نه دي.

مسئله ۷:- د ځوانې ښځې مخ د نامحرم په مخکښې ښکاره کول جائز نه دي او نه به داسې ځائے او درېږي چه نامحرم ئے اووینې - نو د ناوې مخ خوول هم جائز نه دي -

مسئله ۸:- د خپل محرم په مخکښې که مخ 'سر، سینه' لیچې او پنډۍ ښکاره شي نو خیر دے لیکن خیټه شا او ورنو نه ښکاره کول جائز نه دي -

مسئله ۹:- د نامه نه د زنګونو نو د لاندې پورې د بلې ښځې په مخکښې هم ښکاره کول جائز نه دي بعضې ښځې د ښځو په مخکښې لغړې لامبي دا ډیر ګناه دے -

مسئله ۱۰:- که څه مجبوري وي نو د ضرورت موافق بدن ښکاره کول جائز دي مثلاً په ورانه دانه ده نو صرف د دانې ځائے ښکاره کول پکار دي زیات نه - داسې چه په پرتوګ کښې د دانې ځائے پرېکړي او په هغې کښې ئے ښکاره کړي خو که طبیب نه سوا چه بل څوک ئے اونه وینې - نه ښځه او نه سړے - البته که د نامه نه تر زنګونو نو پورې په د ځائے کښې نه وي بل ځائے وي نو بیا ئے ښځه لیدے شي - دغه شان د یې د

کید وپه وخت کښې ماځي ته هم د ضرورت نه زیات بدن ښکاره کول نه دي پکار بالکل ځان پټ ساتلو سره ونه دي پکار - داسې چه خپټ ملا وغیره دې داچوي او ځان دې پټ ساتي ډېر تنګ دې لږ ښکاره کوي کپړه دې ملنه دې داځي ځپل ګرکوي - بالکل لغڅ بدل اوکه داځي نه سوا لوڅ رو بنځو ته ځان ښودل بالکل حرام دي - حضورﷺ فرمائلي دي چه ستر ښکاره کونکو اولیدونکو دواړو باندې د خدائے لعنت دې

مسئله [11]:- دَ حمل په زمانه کښې که ورله داځي کیږه ملکی نو د نامسته لا لاړ بدن ښکاره کول نه دي پکار اوکه داځي نه سوا بل څوک زنانه دې ورته نه ګوري -

مسئله [12]:- خومره بدن چه ښکاره کول جائز نه دي هغې له لاس وروړل هم جائز نه دي نو په نائیږه بادې دَ غسل په وخت کښې ورونه مږل جائز نه دي -

مسئله [13]:- کافرې او بازاري ښځې کومې چه کورونو ته ځي داځي حکم کې دا دے چه خومره پرده د نامحرم سړي[1] نه ده دومره دَ دوی نه - سوا د مخ ورغوږو او د خپو د تلو نه نور بدن ورته هم ښکاره کول جائز نه دي - په دې مسئله ځان پوهه کول پکار دي اکثر ښځې احتیاط نه کوي - اوکه د چي کید وماځي هندوه وه یا مسیحه وه نو هغې ته د مخ خاص ځائے نه علاوه نور بدن لمس ځائے هم ښودل جائز نه دي -

مسئله [14]:- د خپل خاوند نه د هیڅ ځائے پرده نشته دواړه د یو بل په مخ کښې بدن ښکاره کولے شي لیکن بې ضرورته داسې کول ښه نه دي -

مسئله [15]:- څنګه چه ځپله د سړو مخ ته راتلل او بدن ښکاره کول جائز نه دي دغه شان د پناه ځائے نه هم سړو ته کتل او د سړي سیل کول جائز نه دي - بعضې ښځې داځي موږ خو وینی نو که موږ ورته ګورو داخو خبره ده لیکن دا بالکل غلط ده د دروه په چاودو کښې یا د کوټې د سره سړو ته کتل یا د واده حلک ته ننداره کید ل اوکتل ورته داتول جائز نه دي -

مسئله [16]:- د نامحرم سره یو ځې ځائے کښې پاتې کید ل جائز نه دي اګرچه دواړه جُدا جُدا او په فاصله باندې وي خو بیا هم جائز نه دي

مسئله [17]:- خپل پیر ته مخامخ کید ل داسې دي لکه نامحرم ته نو دا هم جائز نه دے - پالله شوې هلک بالکل غیر وي په څوني جو په ولو سره څوني کیږي نه - (بعضې ښځې تش په خوله چا ته څوني یا رور وداځي او بیا ترې ستر نه کوي څوني اورور کښې ګڼړي دا چیره بده خبره ده که دینه ځان ساتل پکار دي) -

---

[1] مطلب دا دے چه څومره پرده د نامحرم سړي نه ده حتی چه بوډي ښځه به هم د بو پا سړي نه دومره پرده کوي چه سوا د مخ او لاسو نو ورغوږو او خپو تلو نه بل بدن ورته به هم نه ښکاره کوي - دا مطلب دې که دے وینا چه څومره پرده د نامحرم سړي نه ده - ورنه ځائه ښځه له نورو نامحرم په مخکښې د بدن لمس ځائے هم ښکاره کول جائز نه دي بلکه په ټپه بهدن به هم د نامحرم په مخکښې نه راځي او بیا چه بیا ئې کیږي د ځې اخوش ولا بسته که غیره ښځې کیږي ولا ټپه دا یا غیره دے ۱۲

مسئله ۱۸:- دغه شان کوم چه نا محرم رشته دار دے لکه لیور د ماما ځوئ د ترور ځوئ د تره ځوئ وغیره دا ټول په شرع کښے پردی دی جوخته پرده ترے پکار ده۔

مسئله ۱۹:- د جهړ پانده په مکښے هم راتلل نه دی جائز۔

مسئله ۲۰:- بعضے بعضے ک بنجاریانو نه بنگړی په لاسوی دا حرام دی بلکه کومے بنځے چه یا ص کړی حقوق ی له هم ک دوی نه بنگړی په لاسول جائز نه دی۔

باب ۳۸ متفرّقات

مسئله ۱:- په هره هفته کښے لمبل د نامه لاندے او ترخونو وغیره ویښته لرے کول او بدن صاف ستره کول مستحب دی که هره هفته نه وی نو په پنځلسمه ورځ د ډیا تو نه زیا تے خلویښت ورځے او د دینه زیات گناه ده۔

مسئله ۲:- د ځپل موږ پلار او خاوند وغیره نوم اغستل او اواز ورته کول مکروه او منع دی ځکه چه بے ادبی ده په کښے او که ضرورت په وخت کښے جائز دی دغه سے په ناسته پاسته او هر څه کښے ئے ادب کول پکار دی۔

مسئله ۳:- د چاند ارشی په اورکښے سوزه ول جائز نه دی لکه سپږے یا مونګنړ او رته اچول نا جائز دی البته که مجبوری وی بیا خیر دے او په کټ کړمے او په اچول بیا جائز دی

مسئله ۴:- په څه خبره شرط تړل جائز نه دی لکه که سیر میتهائی دے او خوړه نو روپئی به درکوم او که او دے نه خوړه روپئی به راکوے غرض چه د دوا ړه طرفه شرط وی نو جائز نه دے او که د یو طرفه وی بیا جائز دے۔

مسئله ۵:- چه دوه تنه پټے خبرے کوی نو خوا له ورتلل نه دی پکار۔ او په پټه ورته غوږ اېښودل گناه ده۔ په حدیث شریف کښے دی چه څوک د چا پټو خبرو ته غوږ کدی د قیامت په ورځ به ورته په غوږ ونو کښے گرمه شیشه اچولے شی۔

مسئله ۶:- د خاوند سره چه کومے خبرے شوی وی یا څه معامله په مینځ کښے راغلے وی هغه چاته ویل ډیر گناه ده۔ په حدیث کښے دی چه کوم دے راز ونو په ظاهر ونکو د ټولو نه زیات ته د الله تعالیٰ غصه او غضب وی۔

مسئله ۷:- دغه شان د چا سره ټوقے کول او ټخنول چه هغه ته پے تکلیف وی جائز نه دی د هغے پورے ټخنوکه چه او خاندی ر زیا تا خفه کول جائز نه دی)۔

مسئله ۸:- د مصیبت په وخت کښے د مړک ارزو کول ځان وهل جائز نه دی۔

مسئله ۹:- غل باچاء تاش وغیره عبث لوبے کول جائز نه دی او چه گټه پلا دې په کښے وی

له د وغیره لفظ د سیده ک پاره زیات شه یعنے شونډے تراش کول او دا حکم د نوکونو دے ۱۲ منه لیکن څوک چه قربانی کوی نو د ذی الحج د اول تاریخ نه د قربانی کولو پورے به ویښته او نوکونه د بدن نه جدا کوی۔ لیکن که د ډیا تو ورځو شوی وی بیا دے لرے کړی او چه د څلویښتو ورځو نه سوا شی بیا ئے لرے کول واجب دی ۱۲ منه

له دغه شان سره له هم پکار دی چه د خپلے بی بی حال نه وائی ۱۲ راز ونه ښکاره کول ډیر سخت گناه دے ۱۲

بیا خو صریح جواری ده او حرام دی-

مسئله:- چه هلک جینئ ګ لسو کالو شي نو بیا د هلک د مور خور او د جینئ د پلار ور سره څملاستل جائز نه دی- البته که هلک د پلار سره او جینئ د مور سره څملی جائز دی.

مسئله ۱۱:- چه څوک اوږد پرنجیږی نو اَلحَمدُ لِلّٰهِ دِ او وائی او چا اوریدلی وی نکی ئے په جواب کښے یَرحَمُکَ اللّٰهُ ویل واجب دی- که اونه وائی ګناه ده- که پرنجیدونکے ښځه وه نو د کِ زیر به وائی او سړے وه نو د کَ زبر- بیا به پرنجیدونکے په جواب کښے اووائی یَغفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَکُم لیکن دا ویل په پرنجیدونکی واجب نه دی بلکه غوره دی-

مسئله ۱۲:- د پرنجی نه پس ئے اَلحَمدُ لِلّٰهِ اووے او ډیرو خلقو واوریده نو که یو تن د هغوی نه یَرحَمُکَ اللّٰهُ او وے د ټولو غاړه آزاده شوه او که یو تن اونه وی نو ټول ګناهګار شو-

مسئله ۱۳:- که څوک بار بار پرنجیده او اَلحَمدُ لِلّٰهِ ئے وے نو د درے ځل جواب ورکول واجب دی نور نه.

مسئله ۱۴:- چه د حضور صلے الله علیه وسلم نوم مبارک واوریدلے یا اولولی نو درود لوستل واجب شو که او ئے نه وے نو ګناهګار شه- لیکن که په یو ځائے ډیر ځلے ئے اولولی یا واوری نو یو ځل واجب دے او که ځائے بدل شه نو بیا هم واجب دے-

مسئله ۱۵:- بچو له څو ئی پر بیخودل جائز نه دی یا دے ټول سرخرئ وی یا د ټول پریږدی.

مسئله ۱۶:- دومره عطر وغیره لږ دول چه غیر سړو ته ئے خوشبو اورسی جائز نه دی

مسئله ۱۷:- د دروغو قیصے او بے سنده حدیثونه چه جاهلانو د اردو په کتابو کښے (دغه شان د پښتو په کتابو کښے) لیکلی دی او ثبوت ئے نه دی لکه نور نامه وغیره او د حُسن او عشق کتابونه کتل او لوستل جائز نه دی دغه شان د غزلو او د قصیدو کتابونه خاص کر د ځنی صبانا ولے وغیره بنجو له هرګز کتل نه دی پکار-

اغستل ئے هم جائز نه دی او که د چیلو جینکو سره ئے او وینے نو سیزے ئے ته-

مسئله ۱۸:- بنجو له هم السلام علیکم ویل سنت دی د ویل سره ئے په حیلو کښے رواج کول او جاری کول پکار دی-

مسئله ۱۹:- چه چرته میلمنه شے نو د چیل ځانه فقیرو له د و حے مه ورکوه د کور والا بے اجازته

باب ۳۹ دغه شی موندلو بیان

مسئله:- چرته په لارے یا کوڅه محله کښے یا چرته په میلمستیا یا کنره کوره کښے ئے څه شے بیا موند نو ده له ئے پخپله اغستل حرام دی په دے نیت به ئے واخلی چه مالک به ئے تلاش کوم او ورکوم به ئے-

مسئله ۲:- څه شے پروت وه خوئے او چت نه کړه نو ګناه نشته لیکن که د ضائع

له دغه شان چه د الله تعالی نوم واغستے شی نو تعالی یا جل شانه وغیره د تعظیم کلمه ویل واجب دی ۱۲

کین وغیره ئې وه چه څوک به ئې واخلی او مالک ته به ئې اونه رسوی نو اوچتول او مالک ته ئې رسول واجب دی۔

مسئله ۳:- چا پروت شے را اوچت کړه نو او سئې د مالک تلاش کول او هغه ته ئې ورکول د ده په ذمه شو۔ که حلته ئې بیا ایښه کړه یا ئې کوم ته را وریا او مالک ئې تلاش نه کړ نو ګناه ګار شه۔ خواه که په محفوظ ځائې کیښے پروت وه چه د ضایع کیدو ویره ئې نه وه او که محفوظ ځائې کیښے نه وه د ضائع کید ویره ئې وه۔ د دواړو یو حکم دے چه د او چتولو پس به ئې د مالک تلاش کوی او ورکوی به ئې۔ بیا به ئې حلته نه غورځوی۔

مسئله ۴:- په کنډه کوره او هر ځائې کښې د د مالک تلاش کوی او بنه شهرت دې کوی چه ما څه شے موندلے دے د چا چه وی ځما نه دے واخلی (که بنځه وه نو د خاوند وغیره په ذریعه دے شهرت اوکړی) لیکن هغه څیز به خائی نه هسے نه چه په دوکان ئې څوک واخلی۔ البته دومره به وائی چه مثلاً روپئ دی۔ یا کالے دے یا کپړه ده یا بټوه ده وغیره۔ که چا ورته ټیک نخه اوخوده نو هغه له دے ورکړی۔

مسئله ۵:- د ډیر شهرت او تلاش نه پس که مالک پیدا نه شه نو خیرات دې کړی ځانته دې نه پاتے کوی البته که چپله غریب او محتاج وی نو چپل کار دې راولی۔ خو که د خیرات کولو پس ئې مالک پیدا اشه او خیرات ئې نه منظوراوو نو ځیل شے اغستے شی یا قیمت ئې۔

مسئله ۶:- ساتلے کونتره طوطی یا خاروغیره که د چا کوره راغله نو مالک ته به ئې رسوی ځانله ئې اغستل حرام دی۔

مسئله ۷:- په باغ کښے څه میوه راغورزیدلے پرته ده نو بے اجازته ئې را اغستل او خوړل حرام دی۔ البته که بے قیمته څیز وه چه چا ئې به اغستو او خوه هیڅ نه کنړل نو د هغے را اغستل بیا جائز دی۔ مثلاً د بیرے یا د چنړے دانه پلا رکښے پرته وه۔

مسئله ۸:- په څه مکان یا ځنګل کښے بنځه خزانه بیا موند شوه د هغے هم دغه حکم دے چه مالک به ئې تلاش کوی که بیا نه موند شه بیا به ئې خیرات[1] کوی۔ او که غریب وه چپله دې واخلی

باب ۶ د وقف بیان

مسئله:- چپل څه جائیداد مثلاً مکان باغ کلے وغیره ئې د خدائې پسلاره کښې د فقیرانو او مسکینانو د پاره وقف کړه چه د دے ټول آمدن به په غریبانو خرچ کولے شی یا د باغ ټولے میوے به غریبانو له ورکولے شی یا په دے کور کښے به غریبان اوسی بل څوک به ئې پکار نه راولی نو د دے ډیر لوئې ثواب[2] دے۔ دا داسے نیک کار دے چه د مرګ

---

[1] لیکن که چپله ئې واغست یا ئې خیرات که او بیائې مالک پیدا اشه او په خیرات یا ده له په ورکولو راضی نه وه نو چپله ئې اغستے شی که ده نه ئې ته او نور چه څومره داسے کارونه دی چه نفع ئې جاری وی د هغه لوئه حکم دے چه ثواب ئې هم جاری وی او ده ته رسی ۱۲ منه

نه پس به ئې هم ترڅو چه دغه جائداد باقي وي تر قیامته ده ته ثواب رسي- څومره چه غریبان د دینه فائده اخلي د ده په عملنامه کښې به ثواب لیکلې کیږي-

مسئله ۲:- چه څنګل څه شے وقف کړي نو یو دینداره او نیک سړي ته دې اوسپاري چه حفاظت ئې کوي او د کوم کار د پاره چه وقف شوي وي په هغې کښې ئې لږه وي ضائع نه شي

مسئله ۳:- کوم شے چه وقف شه هغه اوس د ده نه دے د الله تعالیٰ شه او س ئې خرڅول یا چا له ورکول جائز نه دي- د کوم کار د پاره چه وقف د صرف هغه ته دې اغستے شي-

مسئله ۴:- د جمات څه شے لکه بخښته، خته، چونه، لرګي، کته وغیره چپل کار د را وستل جائز نه دي خواه څومره بے کاره ولے نه وي خو چپل کار ئې نه راولي خرڅوي به ئې او د جمات په کار به ئې راولي-

مسئله ۵:- په وقف کښې دا شرط مقرر کول هم جائز دي چه ترڅو زه ژوندے یم د دے وقف ټوله آمدني یا نیمه یا دریمه برخه به چپل استعمال کښې راولم بیا به ځما نه پس په فلاني نیک کار کښې خرچ کیږي- نو چه داسے او وائي نو دغه هومره آمدني ته بیا دے خرڅ کولے شي او دا چیره آسانه طریقه ده دے ته فائده هم اخلي او جائداد وقف هم شه- دغه شان که داسے شرط ئې او لګاو چه ځما اولاد له ته دومره ورکولے شي او نور دې په دغه نیک ځائې کښې خرچ کیږي دا هم جائز دي-

اوله ضمیمه دجنت د کالي دریمے حصے مسمّٰی به جنتي ملغلره

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د روژے د فضیلت بیان

باب ۱
حدیث ۶

۱:- په حدیث شریف کښې دي چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي د روژه دار خواب عبادت دے او خاموشي ئې تسبیح ده- (یعنے چه چپ ناست وي د سبحان الله ویلو ثواب ورته ملاویږي) او ثواب د عمل ئې زیاتولے شي (یعنے د نورو ورځو نه ورته په دے ورځو کښې د عمل ثواب زیات ملاویږي) او دعائې مقبوله ده- او ګناهونه ئې بخلے شي-

۲:- په حدیث کښې دي چه روژه ډال دے او مضبوط قلعه دے د دوزخ نه د بچکیدو د پاره (یعنے څنګ چه په ډال او مضبوط قلعه سره انسان د دشمن نه بچ کیږي دغه شان په روژه سره د دوزخ نه خلاصیږي- نو د انسان د ګناهونو طاقت کمزورے شي او د نیکۍ ماده په کښې سوا کیږي نو چه انسان باقاعده روژے نیسي سره د دا به نو د ګناهونو نه بچ شي او د دوزخ نه ورته نجات حاصل شي-

۳:- په حدیث کښې وي چه روژه ډال دے ترڅو چه ئې روژه دار په دروغو او غیبت سره څیرے (یعنے برباده) نه کړي- (یعنے روژه د ډال کار کوي مګر چله

چه د ګناهونو نه ئې محفوظ کړی لیکن چه د روژې سره د غیبت او دروغو او ګناهونو نه ډډه اونه کړي نو ګویا فرض ئې ادا شو لیکن ګناه ګار شه او د برکت نه ئې محروم شه).

۴ :- په حدیث کښې دی چه روژه ډال دے د دوزخ نه پس څوک چه صبا کړی په داسې حال کښې چه روژه دار وی او جهالت اونه کړي په دغه ورځ او که څوک ورسره جهالت کوی نو چه دے ورته صرف دغه او وائي چه زه روژه دار یم او قسم دے په هغه ذات چه په لاس کښې ئې د محمد ﷺ روح دے د روژه دار د خولې بد بوئي د خدائے پاک د مشکو د خوشبو نه زیاته خوښه ده - (یعنې د دے بد بوئي په سبب چه په دنیا کښې د روژه دار د خولې نه خیژی په قیامت کښې به خدائے پاک د ده څخوله کښې د مشکو نه زیاته پاکیزه خوشبو راولی او هغه به د خدائے پاک خوښه وی) -

۵ :- په حدیث کښې دی چه روژه دار ته د هرې روژې ماتولو په وخت کښې د داسې دُعا اجازت وی چه د قبلیدو ئې خاص وعده ده -

۶ :- په حدیث کښې دی چه حضور صلے الله علیه وسلم دوه ځلې اوفرمائیل چه تاسو روژه نیسئ ځکه چه روژه ډال دے د دوزخ او د زمانې د مصیبتونو نه د بچ کیدو د پاره (یعنې د روژې په برکت سره د دوزخ او مصیبتونو نه نجات ملاویږی)-

۷ :- په حدیث کښې دی چه درې سړی داسې دی چه د هغوی د خوراک حساب به په قیامت کښې نه کیږی هر څومره چه خوری او هغه روژه دار او پیشمنی کونکے او د خدائے په لار کښې د اسلامی سرحد حفاظت کونکے - (په دے سره د دے درے واړو څومره لوئے رعایت معلوم شه چه د خوراک حساب ئې معاف شه - خو د دے رعایت په وجه به ډیرو خوندونو کو خوراکو کښې مشغولیدل نه وی ځکه چه په دے سره د خدائے د یادو نه غفلت او په ګناه توفیق او ترقی پیدا کیږی د خدائے د دے نعمت په عبادت سره قدر پکار دے

۸ :- په حدیث کښې دی چه څوک روژه دار له روژه ماتے ورکړی نو د روژه دار هومره ثواب ورته ملاویږی بغیر د دے چه د روژه دار نه څه ثواب کم شی (الله تعالیٰ به ورله د خپل طرفنه ثواب ورکړی) اګرچه په ډیر معمولی څیز ګویا او به سره ولے نه وی.

۹ :- په حدیث کښې دی چه الله تعالیٰ په نیکو ثواب مقرر کړے دے د لس چنده نه تر اووه سوه چنده پورے - لیکن الله تعالیٰ فرمائي چه روژه زما د پاره ده او زه به ئې بدله ورکوم (د روژې د فضیلت اندازه د دینه کیږی چه دا به څومره زیات ثواب وی چه حساب ئې نه دے معلوم او بدله به ئې حق تعالیٰ ورکوی او د ملائکو په ذریعه ئې بند وبست نه کیږی سبحان الله څومره قدردانی ده د الله تعالیٰ چه په لږ محنت څومره عوض مرحمت کوی - لیکن دا فضیلت هله دے چه د روژې حق ادا شی او د دروغو غیبت او نورو ګناهونو نه پکښې ځان اوساتی - بعضے خلق په کښې د

مانځهٔ هم څه خیال نه ساتی او بے پروائی کوی نو دوی ته به څنګه داسے ثواب ملاؤ شی۔ او دا دے حدیث نه دا شک هم نه کیګا رچه روژه د مانځهٔ نه غوره ده ځکه چه مونځ د ټولو عبادتونو نه افضل دے خو مراد د دینه دادے چه د روژے په یو ثواب دے دا مطلب نه دے چه د ټولو عبادتونو نه روژه افضله ده) او بے شکه د روژه دار د پاره دوه خوشحالئ دی یوه د روژه ماتی په وخت کیږی او بله به په قیامت کیږی وی ر د ه خدائے سره د ملاویدو په وخت کیږی) ۔

۱۰ :۔ په حدیث کیښے دی چه کله د رمضان اول تاریخ شی نو د اسمان دروازے پرانستے شی او د رمضان د آخری شپے پورے ټولے بیرته وی۔ او داسے یو مسلمان نشته چه هغه د رمضان په شپو کیښے یوه شپه مونځ اوکړی مګر لیکلے شی د هغه د پاره دوه نیم زره نیکئ په بدله د هر یو رکعت او جوړه کړی ورله الله پاک په جنت کیښے یو مکان د سرو یعقوتو چه شپیته دروازے به ئے وی او د هرے دروازے سره به ئے د سرو زرو یو محل وی چه خائسته شوے به وی په سرو یعقوتو پس چه روژه دار د رمضان اوله روژه اونیسی نو ګناهونه به ئے معاف کړے شی کوم چه د تیر رمضان نه د دے تاریخ پورے کړی وی (یعنے صغیره ګناهونه د دے کال به ئے معاف شی) او او یا زره فرښتے روزانه د ده د پاره بخته غواړی د سحر د مانځهٔ نه د نمر پریوتو پورے او ملاؤ به شی ده ته په بدله د هر یو رکعت کیښے چه په رمضان کیښے کوی د شپے یا د ورځے یوه ونه (په جنت کیښے) داسے چه د سوری لاندے به ئے سوار پنځه سوه کاله مزل کوی (رخو مره لوئے فضیلت دے د روژے مسلمانانو چه چرته درنه قضا نه شی او که درنه کیدے شی نو د نفل روژو برکت هم حاصل کړئ ۔ او د الله تعا سره ډیر محبت ساتی چه په لږ محنت څومره مهربانی کوی) (کم سے کم د ځینی مطلب د پاره چه په جنت کیښے درته قسم قسم نعمتونه حاصل شی خو درسره محبت ساتی)

۱۱ :۔ په حدیث کیښے دی چه بے شکه جنت خائسته کولے شی د اول د کال نه د آخر کاله پورے د رمضان د میاشتے د پاره او بے شکه چه غټو غټو سترګو والا حورے ځان خائسته کوی د اول د کال نه د آخر کاله پورے د حسنا دارو د پاره د رمضان ۔ نو چه رمضان راشی جنت وائی اے ماته را داخل کیښے په دے میاشت کیښے ستا بندګان (یعنی حکم اوکه چه په قیامت کیښے ماته داخل شی) او حورے وائی اے الله مقرر کړه څمونږ د پاره خاوندان په دے میاشت د خپلو بندګانو نه ۔ پس چا چه په دے میاشت کیښے په مسلمان تهمت او نه لګاؤ او د نشے څیز ئے په دے میاشت کیښے اونه سکه ورانه به کړی خدائے پاک د ده ګناهونه او چا چه تهمت اولګاؤ په دے میاشت کیښے په مسلمان او د نشے څیز ئے او سکه وانے به کړی خدائے پاک د ده د ټول کال نیکئ (یعنے ګناهونه به ئے زیات شی) پس او ویرېږئ د رمضان نه ځکه چه دا د الله تعا میاشت ده (نو څنګه چه الله پاک د رزق نه همیشه پاک دے غسے بندګان نو

تا حکم کړے چه خوراک پریدئ دَ الله پاک عبادت اختیار کړے ورنه تولے میاشتے دالله دی) تاسو له ئے یولس میاشتے دَخوراک سکاک دپاره مقرر کړی دی او دَ ځان دپاره ئے یو میاشت مقرر کړے ده- پس او س پیدئ دَ رمضان دَ میاشتے نه څکه چه بے شکه دا دَ الله تعالیٰ میاشت ده او عبادت په کښے ډیر کوئے او گناه مه کوئے اگر چه عبادت او بندگی همیشه ضروری ده لیکن په خاص ځائے لکه مکه معظمه او مدینه منوره او خاصو ورځو لکه رمضان مبارک وغیره کښے دَ نیکو کولو او دَ گناهونو نه دَ ځان ساتلو خاص اهتمام کول پکار دی چه په بزرگو ځایونو او بزرگو ورځو کښے دَ نیکو ثواب زیات او دَ گناهونو عذاب زیات وی-

۱۲:- په حدیث کښے دی چه کله تاسو روژه ماتوئے نو اول دا دُعا لولئ- بِسْمِ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ تَقَبَّلْ مِنِّيْ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط -

۱۳:- په حدیث کښے دی چه کله تاسو روژه ماتوئے نو په چوهارو سره ئے ماتوئ څکه چه دا برکت دے او که چوهارے نه وی نو په او بوئے ماتوئے څکه چه دا پاکونکی دی (په بعض احادیثو کښے دَ پیو په لسئ هم دَ روژے ماتولو حکم راغلے دے) -

۱۴:- په حدیث کښے دی چا چه روژے اونیوے خلوېښت ورځے په دا سے حال کښے چه نه طلب کوی دے په دے روژو سره مگر رضا دَ خدائے پاک- نو نه غواړی دے دَ الله نه څه شے مگر هغه شے ده له ورکولے شی دیعنے چه خلوېښت ورځے محض دَ الله پاک دَ رضا دپاره روژے اونیسی نو دُعائے قبلیږی او دا سړے دَ الله په نزد دا سے مقبول شی چه دَ ده هره یوه دُعا چه دَ الله پاک په نزد دَ ده دَپاره غوره وی ضرور قبلیږی- صوفیائے کرامو چله نشینی تجویز کړے ده یعنے خلوېښت ورځے چه دنیاوی ټول تعلقات پریدی او په جمات کښے عبادت کوی او روژے نیسی دَ دینه ډیره فائده حاصلیږی دَ دین او دَ نیکو تقویت پے راځی او دَ دے په برکت سره دَ الله پاک دَ طرفه خاص علوم عطا کیږی او یوه زیاتیږی-

۱۵:- په حدیث کښے دی چا چه روژه ونیوه په هره محترمه میاشت کښے جمعرات جمعه او هفته نو او به لیکی ده له الله پاک عبادت دَ اوه سوه کالو- او محترمے میاشتے یعنے دَ عزت میاشتے څلور دی- رجب، ذیقعده، ذی الحجه، او محرم- لیکن دَ ذی الحجے لسم یولسم او دولسم تاریخ روژه منع ده-

۱۶:- په حدیث کښے دی چه چا روژه اونیوه درے ورځے په یو محترمه میاشت کښے دَ جمعرات، جمعے او هفتے نو او به لیکی ده له الله پاک دَ دوه کالو عبادت- یعنے دَ دوه کالو عبادت ثواب به ئے په عملنامه کښے او لیکلے شی) رواه الطبرانی فی الاوسط عن ابن عباسؓ بلفظ من صام ثلثة ایام من شهر حرام الخميس والجمعة والسبت كتب الله تعالىٰ له عبادة سنتين انتهى -

باب ۲ حدیث ۳

دَ اعتکاف فضیلت بیان

۱:- په حدیث کښې دي چا چه اعتکاف او کړلس ورځې (اخیره عشره) په رمضان کښې نو دغه اعتکاف په مثل دَ دوه حجونو او دوه عمرو به وي (یعنې ثواب ئې) رواه البیهقي
۲:- په حدیث کښې دي چا چه اعتکاف او کړ چه یقین ئې پې کړ دیني عبادت وه او دَ ثواب په خیال نو دَ ده تیر ګناهونه به او بخلې شي (یعنې صغیره ګناهونه)
۳:- په حدیث کښې دي چه دَ اسلامي سرحد حفاظت څلویښت ورځې دي او څوک چه څلویښت ورځې دَ اسلامي سرحد حفاظت او کړي داسې چه نه په کښې خرڅول او کړي او نه اخستل او نه څه بدعت او کړي نو پاک به شي دَ ګناهونو نه داسې لکه په کومه ورځ چه دَ موره پیدا شوے وي -(یعنې دَ ګناهونو نه به بالکل پاک شي- او تشبیهاً ئې دَ سرحد اسلام حفاظت ځکه فرمائیلې دے چه دنیاوي ټولې علاقې پریدي په مانځه او روژه کښې مشغول شي دَ نفس ځا هري او باطني حفاظت کول مراد دي او دَ ګناهونو نه مراد صغیره ګناهونه دي- او دا صورت دَ چلّه نشینئ دے کوم چه دَ صوفیائے کرامو په نزد متعارف دے -(رواه الطبراني عن ابي امامة بلفظ تمام الرباط (قال المناوي اي المرابطة يعني مرابطة النفس بالاقامة على مجاهدتها لتبديل اخلاقها الرديئة بالحسنة) اربعون يومًا ومن رابط اربعين يومًا لم يبع ولم يشتر ولم يحدث حدثا اي لم يفعل شيئا من الامور الدنيوية الغير الضرورية) خرج من ذنوبه كيوم ولدته امه كذا في شرح الجامع الصغير العزيزي -

باب ۳ حدیث ۴

دَ لیلة القدر فضیلت بیان

الله تعالیٰ فرمائي لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ یعنې لیلة القدر غوره ده دَ زرو میاشتو نه- مطلب دادے چه په دے شپه دَ عبادت دومره ثواب دے چه په نورو ورځو کښې دَ زرو میاشتو په عبادت دومره ثواب نه ملاویږي لکه څومره چه په دے شپه په عبادت سره ملاویږي - دَ دے آیات شانِ نزول امام سیوطيؒ په لباب النقول کښې نقل کړے دے چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه یو سړی په بني اسرائیلو کښې زر میاشتې دَ خدائے په لاره کښې جهاد کړے وه- نو په دے خبره مسلمانانو افسوس اوکړه چه دا نعمت به مونږ ته څنګه حاصل شي- نو الله پاک دا آیاتونه نازل کړه إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ الخ - یعنې دا شپه قدر غوره دے دَ هغه زر میاشتو نه چه هغې سړي په کښې دَ الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کړے وه- او بل روایت دادے چه په بني اسرائیلو کښې یو سړے وه چه دَ شپے به ئې عبادت کاوه او دَ ورځې به ئې دَ الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کاوه دَ سړه دَ مابنامه پورے نو دا عمل هغه زر میاشتې او کړه نو نازل کړو الله پاک دا

اٰیات لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ خَیۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَہۡرٍ ط یعنے دَ هغه زرومیاشتو نه چه هغه سرې په کښے عبادت اوچها دکړے وه دا شپه غوره ده ا ه۔ نواے رورونړو! اوخویاندو! دَ دے دَ دے مبارکے شپے قدراوکړے چه په لږ شان محنت څومره ثوابونه حاصلیږی اوپه دے شپه خاص طورسره دُعا قبلیږی که ټول شپه ویخ نه شئ پاتے کیدے نو څومره چه درنه کیدے شی خوداسے نه چه دَ سُستئ په وجه بالکل محروم پاتے شئ۔

۱:- په حدیث کښے دی چه دامیاشت یعنے رمضان په تاسو راغله اوپه دے کښے یوه داسے شپه ده چه دَ زرومیاشتو نه غوره ده څوک چه دَ دے شپے دَ برکتونو اوعبادت نه محروم شه هغه دَ ټولو نیکو نه محروم کړے شه اونه محرومه کیږی دَ دے شپے دَ برکتونو نه مګر محروم (یعنے څوک چه دَ دے شپے دَ برکت اوعبادت نه محروم شه نو هغه ډیر لوئے محروم دے)

۲:- په حدیث کښے دی چه که الله تعالیٰ غوښتے نو تاسو ئے په لیلة القدر خبرکړی وے (لیکن دَ بعضے حکمتونو په وجه ئے خاص شپه اونه خوده) دا دَ رمضان په اخیرو شپو کښے تلاش کوئے (چه غالب ګمان ئے په دَ شپو کښے دے) اودَ تلاش مطلب دادے چه ویخ کیښئ عبادت کوی چه حاصل شی درته۔

۳:- په حدیث کښے دی چه لیلة القدر په هریو رمضان کښے وی۔

۴:- په حدیث کښے دی چه لیلة القدر په اوویشتمه شپه وی۔ په دے کښے اختلاف شته خوغوره قول دادے چه په اوویشتمه شپه وی۔ غوره خبره داده چه اخیری لس واړه شپے عبادت اوکړے شی اوپه ویخه تیرے کړے شی۔ اوپه دَ کښے دا ضروری نه ده چه څه دے په نظر راشی ځکه چه مقصود څه په نظر راتلل نه دی بلکه مقصود عبادت او برکت حاصلول دی۔ که څه اولیدے شی اوکه نه۔

بابُ دَتراویح فضیلت بیان

په حدیث کښے دی چه بے شکه فرض کړی دی الله پاک په تاسو دَ رمضان روژے اوسنت کړی دی دَ شپے اودریدل (یعنے تراویح کول) پس څوک چه پکښے روژه اونیسی اودَ شپے تراویح اوکړی په ایمان سره (یعنے دَ دینی شوق سره) اودَ ثواب په نیت سره نو داروژه اوتراویح به دَ ده دَ تیروګناهونو دَ پاره کفاره شی (یعنے واړه ګناهونه به ئے اوبخلے شی نو په دے میاشت کښے ډیرے نیکئ کول پکار دی)۔ په یوفرض مانځه دَ اوویافرضو اوپه یو نفل دَ فرضو ثواب میلاویږی نو داڅومره لوئے غنیمت دے۔

باب۵ دَاخترونو دَشپو فضیلت بیان

۱ :- په حدیث کښې دی چه څوک بیده ارپا تے شه دَ داپه اولوئے اخترپه شپه نو مړ به نه شی دَ دَه زړه په کومه ورځ چه زړونه مړی (یعنې دَ قیامت دَ سختو اُویَروونه به په امان شی چه خلق به دَ قیامت په سختو کښې پریشان وی)-

باب۶ دَخیرات کولو ثواب بیان

۱ :- په حدیث کښې دی چه سخاوت دَ الله پاک لوئے عادت دے (یعنې ډیر سخی دے)

۲ :- په حدیث کښې دی چه په تحقیق بنده صدقه کوی دَ روټۍ ټکړه بیا هغه زیاتیږی دَ الله تعالیٰ په نزد تردے چه دَ احد دَ غره هومره شی (یعنې ثواب ئے دَ احد دَ غره هومره لوئے شی- نو دَ لږ ډیر خیال نه دے پکار خو چه څومره طاقت وی)-

۳ :- په حدیث کښې دی چه دَ دوزخ نه ځان اوساتئ اګرچه دَ چوهارے په یو ټکړه وی

۴ :- په حدیث کښې دی چه رزق طلب کړئ دَ الله نه) دَ صدقے په ذریعه سره (یعنې خیرات کوئے دَ هغې په برکت سره به ستا سو به رزق کښې ترقی کیږی)

۵ :- په حدیث کښې دی چه دَ احسان کار دَ ناکاره هلاکتونو نه بچ کوونکے دے او پټ خیرات کول دَ الله پاک غصه مړه کوی او دَ خپلوانو سره سلوک کول عمر زیاتوی- (چه یو نیک کار کښې دَ بل سړی دَ رغبت پیدا کیدو امید وی بیا ئے ښکاره کول غوره دی ورنه پټ غوره دے)

۶ :- په حدیث کښې دی چه دَ سوال کوونکی حق دے په هغه چا دَ چا نه چه سوال او کړی اګرچه په اس سور راشی (مطلب دا دے چه دے به حاجتمند وی ځکه به سوال کوی نو تا سو به دے ته نه ګوری چه دَ دَه سره خواښ دے دے ځکه غریب کیدے شی لیکن که یقینی تا سو ته معلوم وی چه دے غریب نه دے خو دا سوال ئے ځانله یو کسب ګرځولے دے نو بیا دا سے سړی له څه ورکول حرام دی او هغه له سوال هم حرام دے)-

۷ :- په حدیث کښې دی چه الله سخی دے او سخا غوره کوی او دوست لری لویو اخلاقو لره (یعنې دَ همت نیکو کارونو لره لکه خیرات کول دَ ذلت نه ځان ساتل دَ بدیه وجه په ځان تکلیف اچول وغیره) او نه خوښوی سپکو اخلاقو لره- (لکه بے همتی په دین کښې)-

۸ :- په حدیث کښې دی چه بے شکه صدقه مړه کوی دَ صدقه کوونکی نه ګرمی دَ قبر- او ضروری خبره ده چه مسلمان به په صدقه سره دَ قیامت په ورځ سورے حاصلوی-

۹ :- په حدیث کښې دی چه دَ الله تعالیٰ خاص بندګان دی چه هغه خاص کړی دی دَ خلقو دَ حاجتونو پوره کولو دَ پاره او خلق مجبورًا هغوی ته دَ خپلو حاجتونو دَ پاره ځی او دغه دَ خلقو حاجتونه پوره کوونکی امن موندونکی دی دَ الله پاک دَ عذاب نه-

۱۰ :- په حدیث کښې دی چه خرچ کوه اے بلاله! او فکرمه کوه دَ عرش دَ مالک نه دَ کمی (یعنې په مناسب موقعو باندے خرچ کوه او دَ الله پاک نه دَ تنګئ فکرمه کوه ځکه چه

هغه د دومره لوئے عرش مالک دے نو که هغه نه د تنګئ فکر نه دے پکار دا سے کمان چرته نه شی کیدے چه دا سے لوئے بادشاه به خپل بنده اوګے پریدی - او که دے حدیث دا مطلب نه دے چه بنده دے یس هرڅه خرچ کړی او بیا دے پریشانه وی مطلب دا دے چه د کومو خلقو زړونه مضبوط وی او د صبر قوت په کښے وی نو هغوی ته دومره چه غواړی په نیکو کارونو کښے دِ خرچ کوی هغوی ته تکلیف نه نه پریشان کیږی - هغوی خه پوهیږی چه څه په قسمت کښے لیک وی هغه به ضرور ملاویږی په خیرات سره په کښے کمے نه راځی - نو دا سے د همت خاوند له پکار دی چه په نیکو کارونو کښے بے دریغه خرچ کوی - او د چا چه زړه کمزورے وی او د صبر طاقت په کښے نه وی چه ټول خرچ او کړی او صبا بیا پریشان وی او نیت ئے خراب وی نو دا سے خلقو له صرف په ضروری موقعو لکه زکوٰة او صدقه فطر وغیره پکار دی چه خرچ کوی چه په دے کښے دے کمی نه کوی - حضرت ابوبکر صدیقؓ یو ځل ټول مال په اسلامی چنده کښے حضورؐ ته پیش کړه نو هغوی ترے تپوس او کړه چه کور د څه پاتے کړه عرض ئے او کړه چه په کور کښے مے د الله او د هغه د رسولؐ نوم پریخود - نو حضورؐ ئے هغه ټول مال قبول کړه ځکه چه ابوبکر صدیقؓ ډیر په زړه مضبوط او با همته او د خدائے په لار کښے جان نثار کونکے وه - د هغوی سره دا فکر نه وه چه پریشانه به شم - او یو بل صحابیؓ لږ شان سره زر پیش کړه نو هغه هم حضورؐ د هغوی نه قبول کړه ځکه چه هغه په زړه کمزورے وه با همته نه وه -

۱۱ - په حدیث کښے دی چه یو سوالګر ښځے له په داسے حال کښے راغے چه د هغے په خوله کښے نمړئ وه نو هغے هغه نمړئ د خولے نه راویسته او هغه له ئے ورکړه ځکه چه نور څه ورسره نه وو) بیا لږه موده پس د دے ښځے یو هلک اوشه نو چه لوئے شه نو شرمخ راغے او دا هلک ئے په خوله کښے واغست او دروان شه ښځه پسے ورپسے وه او چغے ئے وهلے چه څوک م شرمخ یوړه یا خلقو راشئ خلاص ئے کړئ - نو الله پاک یو فرشتے ته حکم او کړه چه لاړه شه او دا هلک د شرمخ نه راخلاص کړه او ښځے ته ئے سلام وایه او ورته او وایه چه دا نمړئ ستا د هغے نمړئ بدله ده واخله - راوګورئ د صدقے څومره برکت دے چه څوئ ئے هم د بلا نه خلاص شه او ثواب ئے هم اوشه - صدقه کوئ چه دین دنیا مو په آرام شی) -

۱۲ - په حدیث کښے دی چه د نیکئ خودونکے پشان د نیکئ کونکی دی په اجر او ثواب کښے (یعنے یوڅوک څه نیکی نه شی کولے مګر ضرورت مند ته داسے ځائے او ښائی یا ورله سفارش او کړی چه د هغه کار اوشی نو د دے خودونکی دومره ثواب اوشه لکه څوک چه پخپله ذات سره د چا مدد او کړی)

۱۳:- په حدیث کښې دي چه دريے تنه وو نو یو سره لس۱۰ روپۍ وے يوه ئے خیرات کړه- او بل سره لس ۱۰ اوقيۀ وے نو يوه ئے صدقه کړه- او بل سره سل ۱۰۰ اوقيۀ وي نو لس ۱۰ ئے صدقه کړے- نو دا درے واړه په ثواب کښې برابر دي- ځکه چه هر يو د خپل مال لسمه خيرات کړے ده او الله پاک نیت ته گوري لهذا وپيژنه چه يو ديناري لس درهمه وي او درهم د څلورو انو ما لږ سوا وي او او قيه څلويښت درهمه وي)

۱۴:- په حدیث کښې دي چه زيات شو يو درهم د يو لاکه درهمونو نه داسے چه د يو سړي سره دوه درهمه دي يو درهم ئے خیرات کړه او د بل سره ډير مال دے- نو هغه د خپل مال نه يو لاکه درهمه خيرات کړه- نو د دواړو په ثواب کښې فرق دا شه چه اول سړي سره د لږ نه په ثواب کښې زيات شه ځکه چه دۀ خپل نيم مال خيرات کړه- او بل اگرچه يو لاکه درهمه خيرات کړه ليکن دا د دۀ د ډير مال په مقابله کښې د نيمے نه کم دے نو ځکه د دۀ ثواب د اولني نه کم شه - د الله تعالی رحمت ته اوگورئ او د رحمت قدر ئے اوکړئ- حضور صلی الله علیه وسلم چرته سوال کونکے تش نه دے ليږلے او نه ئے ورته انکار کړے دے - که به څه وو ورته ئے کړه او که به نه وو وعده به ئے ورسره اوکړه چه کله خدائے پاک څه راکړه تا له به درکړم- او ترڅو نه دوئ او اهل وعيال ئے په مړه خيټه د وربشو ډوډئ نه ده خوړلے څو مره د بے رحمۍ خبره ده چه مونږ سره د فراخۍ د خپل مسلمان رورمد د نه کوو او پخپله ښے مزے کوو-

۱۵:- په حدیث کښې دي چه سوال کونکے د مؤمن په دروازه د خدائے هديه ده راوبشکاره خبره ده چه هديه په مينه قبلول پکار دي او بيا د خدائے پاک والئے- نو د سوال کونکي سره ډيره مينه پکار ده -

۱۶:- په حدیث کښې دي چه صدقه کوئ او په صدقے سره د خپلو مريضانو علاج کوئ ځکه چه صدقه مرضونه او بيمارئ دفع کوي- او زياتي کوي ستا سو عمرونه او نيکئ)-

۱۷:- په حدیث کښې دي چه يو ولي الله پاک نه دے پيدا کړے مگر په سخاوت او ښه عادت سره (يعنے د الله په دوستانو کښې سخاوت او ښه عادت ضروري) -

د حج د فضيلت بيان

باب ۶ حديث ۱:- په حدیث کښې دي چه ملائکے مصافحه کوي د هغه حاجيانو سره چه سواره ځي او معانقه (سينه په سينه بره کړه) کوي د هغے حاجيانو سره چه پيدل ځي-

۲:- په حدیث کښې دي چه سور حاجي لره په هر قدم چه د هغه اوښه کدي (او که بل څه سور لي وي) اوياه نيکئ دي- او د پيدل حاجي د پاره په هر قدم چه دے ئے کدي اوه سوه

نیکیٔ لیکلے شی (یعنی پیا د ه تلو نکی ته په هرقدم اووه سوه نیکیٔ ملاویږی) -

۳:- په حدیث کښے دی چه حج کونکے او جهاد کونکے د الله پاک میلمانه دی که د الله نه دُعا غواړی نو قبلیږی او که مغفرت غواړی نو بخښه ورته کیږی (یعنی بخلے شی) -

۴:- په حدیث کښے دی چه حج کونکے به په قیامت کښے د څلورسوو خپلوانو شفاعت کوی او دے پاک شی د گناهونو نه داسے لکه د موره چه کومه ورځ پیدا اوی - (خو چه حج ئے قبول شی په دے شرط) پس پکار دی چه داسے لویٔ نعمت په حلالو روپو او غوره طریقه سره حاصل شی - (یاالله مونږ ټولو ته حج نصیب کړے چه مقبول وی آمین) او د معافیٔ نه دا مراد نه دے چه کوم اعمال داسے فوت شوی دی چه دے ئے قضا ادا کولے شی. یا په ده قرض دی د هغے نه به هم خلاص شی - د هغے قضا او ورل ضروری دی ځکه چه دا حقوق دی گناه نه دے -

۵:- په حدیث کښے دی چه څوک په حرام مال سره حج کوی او دا دُعا په حج کښے لولی لَبَّیْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیْکَ یعنے ستا په تابعداریٔ کښے حاضریم اے الله زه ستا په تابعداریٔ کښے حاضریم - نو الله تعالیٰ فرمائی - لَا لَبَّیْکَ وَلَا سَعْدَیْکَ وَحَجُّکَ مَرْدُوْدٌ عَلَیْکَ - یعنے نه ستا لبّیکٔ قبول دے او نه سعدیک او ستا حج ستا په مخ وہلے شه - مطلب دا دے چه ته څه په بندگیٔ او فرمانبرداریٔ کښے حاضر نه ئے ځکه چه پلیت مال دے خرچ کړه او څه په پاک دربار کښے ستا پلیت مال قبول نه دے او ثواب ئے نشته اگر که فرض اداشی) -

۶:- په حدیث کښے دی کله چه ته د حاجی سره ملاو شے نو سلام ورته او کړه او مصافحه ورسره اوکړه او درخواست ورته اوکړه چه ستا د پاره د مغفرت دعا او کړی د دینه مخکښے چه هغه خپل کورته داخل شی ځکه چه د ده گناهونه بخلی شوی دی د الله په دربار کښے مقبول دے نو د دُعا قبلیدو ئے خاص اُمید دے او کومه دُعا چه غواړئ هغه په کوه د دین وی او که د دُنیا مگر کورته د ننوتو نه اول - فقط

یاالله ته را باندے خپل فضل او کړے او عین بخپل کرم سره څما مقبول حج نصیب کړے آمین (ابوحنیفه)

دویمه ضمیمه د جنت د کالی دریمے حصّے مسمّیٰ په تصحیح اغلاط

اصل ص۱۹۷ مسئله ۲:- که د دوه رمضانو څه روژے الخ -

تحقیق:- په وجوب د تعین د کال کښے حکم مختلف فیه دے او په د جنت کالی کښے ئے احتیاط مد نظر ساتلے دے نو قول د وجوب ئے اختیار کړے دے پس که چا بلا تعین ډیرے روژے او نیوے او اعاده ئے کړا نه وی نو دفعًا للحرج قول د عدم وجوب به اختیار کړے شی. په دے مسئله سوال او جواب په امداد الفتاوی مبوب ص۸۳ ج۲ کښے درج دی -

اصل ص۲۳۴ مسئله ۶:- که فلانے کار او کړم الخ - اصل ص ــــ د خدائے نه سوا ا-

تحقیق :- په درمختار کښې دی - الاصل ان الایمان مبنیة عند الشافعیؒ علی الحقیقة اللغویة و عند مالکؒ علی الاستعمال القرآنی وعند احمدؒ علی النیة وعندنا علی العرف مالم ینو ما یحتمله اللفظ فلاحنث فی لایهدم بیتا ببیت العنکبوت الا بالنیة فتح (الایمان مبنیة علی الالفاظ لا علی الاغراض فلو) اغتاظ علی غیره وحلف ان لایشتری له شیئا بفلس فاشتری له بدرهم او اکثر شیئا لم یحنث اه شامی لیکلی دی - ان قاعدة بناء الایمان علی العرف معناها ان المعتبر هو المعنی المقصود فی العرف من اللفظ المسمیٰ وان کان فی اللغة او الشرع اعم من المعنی المتعارف ولما کانت هذه القاعدة موهمة اعتبار الغرض العرفی وان کان زائدا علی اللفظ المسمی وخارجا عن مدلوله کما فی المسئلة الاخیرة وکما فی المسائل الاربعة التی ذکرها المص دفعوا ذلک الوهم بذکر القاعدة الثانیة وهی بناء الایمان علی الالفاظ لا علی الاغراض فقولهم لا علی الاغراض دفعوا به توهم اعتبار الغرض الزائد علی اللفظ المسمی وارادوا بالالفاظ الالفاظ العرفیة لقرینة القاعدة الاولی ولولاها لتوهم اعتبار الالفاظ ولو لغویة او شرعیة فلاتنافی بین القاعدتین کما یتوهمه کثیر من الناس حتی الشرنبلالی فحمل الاولی علی الدیانة والثانیة علی القضاء ولاتناقض بین الفروع التی ذکروها ثم اعلم ان هذا کله حیث لم یجعل اللفظ فی العرف مجازا عن معنی اخر کما فی لا اضع قدمی فی دار فلان فانه صار مجازا عن الدخول مطلقا کما سیأتی ففی هذا لایعتبر اللفظ اصلا حتی لو وضع قدمه ولم یدخل لایحنث لان اللفظ هجر وصار المراد به معنیٰ اخر - الخ - د دے تفصیل نه څو خبرے معلومے شوے (۱) د الفاظو په مقابله کښې د نیت څه اعتبار نشته لکه یو سړے دا سے نیت او کړی چه الفاظ ئے اصلاً مساعدت نه کوی نو هیڅ اعتبار به ئے نه وی (۲) که چا داسے معنیٰ مراد کړه چه د الفاظو نه زائده وی یعنې الفاظ جزئی وی او معنیٰ مراد کلی یا معنیٰ مراد کل وی او الفاظ جزو نو دا مراد اعتبار به نه کاروی - او که داسے معنیٰ مراد واخلی چه د الفاظو فرد یا جزو وی نو هغه معتبریږی شی (۳) مجاز عرفی که داسے وی چه حقیقت بالکل پاتے شوے وی نو د مجاز عرفی اعتبار به وی او حقیقت لغویه به معتبر نه وی -

لیکن زما په نزد دا دړے واړه خبرے صحیح نه دی - اول ځکه چه د ایمان تعلق د قصد او ارادے سره هم دے نه چه د طلاق او عتاق په شان صرف د الفاظو سره کما یدل علیه قوله تعالی ولکن یؤاخذکم بما کسبت قلوبکم وقوله ولکن یؤاخذکم بما عقدتم الایمان پس که چا په څه خاص نیت سره څه قسم او خوړلو او دا سے الفاظ ئے او وے چه د هغه د نیت سره مطابق نه دی نو دیانةً به دے قسم لره اعتبار وی اګرچه قضاءً نه دی - ځکه چه دغه وخت به دا د دهٔ خاصه اصطلاح وی او د خاصے اصطلاح مقرر کولو ته اختیار دے - او دویم ځکه چه مجاز عرفی د حقیقت لغوی مبائن وی نو دغه وخت د دهٔ اعتبار کیدے شی لیکن که معنیٰ مجازی عرفی د معنیٰ حقیقی لغوی نه عام وی نو اعتبار

ئے نه شي کیدے په دعاپرو صورتونو کښے وجه ئے فرق نه معلومیږي ځکه چه په دعاپرو صورتونو کښے معنی حقیقي بالکل پاتے شوے ده ۔ مګر په یو صورت کښے معنی حقیقي ته معنی مجازي فرډیا ئے جزو دے ۔ او په دویم صورت کښے ئے مبائن ۔ نو دا فرق څه موثر فرق نه دے که دینه کوډیے خبره مخدوش کیده هم ظاهر شو پس هر کله چه هغه محمل مخدوش شو چه که هغې قواعد وکه پاره علامه شامي وغیره تجویز کړي وو نو اوس ویلے شي چه الایمان مبنیة علی العرف او الایمان مبنیة علی الالفا ظ لاعلی الاغراض دواړه متعلق په قضاء دي او الایمان مبنیة علی الالفا ظ لاعلی الاغراض معنی دا ده چه ایمان قضاءً په الفاظو عرفیو مبني دے نه چه په اغراضو چه خلاف دعرف وي پس په دے دواړو قواعدو کښے څه تناقض نښته پاتے شه دا امر چه بعض جزئیات ددے محاملو تائید نه کوي نو جواب ئے دادے چه دا اعتراض هغه وخت کیدے شي چه کله دوه امره ثابت شي اول داچه هغه جزئیات هغې فقهاؤ ویستلي دي کومو چه دا قواعد جوړ کړي یا کومو فقهاؤ چه دا قواعد قائم کړي د هغوی د دے سره اتفاق دے ۔ دویم داچه د هغې وخت نه تر اوسه پورے عرف نه دے بدل شوے او هغه وخت چه څه عرف وه کوم وخت چه ئے هغه ویستلي دي هغه عرف اوس هم دے لیکن د دے خبرو ثابتیدل مشکل دي نو په دے وجه د بعضے جزئیاتو مخالفت زمونږ د محاملو تردید نه شي کیدے خصوصاً په داسے حالت کښے چه دوي موئید بالدلائل دي او کوم محامل چه د دے بیان شوي دي محض بے دلیل وي نو په داسے حالت کښے مسائل د جنت دکالي متعلق په ایمان سره د زمانه حال د عرف لحاظ سائل د اصولو منکوره وو نه د استخراج ضرورت دے ۔ د دے ضرورت د دینه ظاهریږي چه فقهاؤ ویلي دي که چا قسم اوکړه ان فعله فعلیه غضب الله او سخطه او لعنته او هو زان او سارق او شارب او اکل ربا لایکون قسما لعدم التعارف فلو تعورف هل یکون یمینا ظاهر کلامهم نعم وظاهر کلام الکمال لا وتمامه فی النهر ۔ درمختار ۔ په دے شامي لیکلي دي قوله ظاهر کلامهم نعم فیه نظر لانهم لم یقتصروا علی التعلیل بالتعارف بل عللوا بما یقتضی عدم کونه یمینا مطلقا وهو کو فا علیه غضبه دُعاء علی نفسه ولان الدعاء لا یستلزم الاجابة فلا یقتضی الامتناع عن الفعل فلا یکون یمینا وکون هو زان یحتمل النسخ ای الاباحة فلا یکون حرمته حرمة اسم الله فلا یلحق به) ثم عللوا بعدم التعارف لانه عند عدم التعارف لایکون یمینا وان کان مما یمکن الحلف به فی غیر الاسم فکیف اذا کان مما لایمکن اه بزیادة العبارات المقوسة ۔ د دے عبارتونو نه معلومه شوه چه الفاظ مذکوره هغه وخت د قسم د پاره متعارف نه وو او هغه وخت د دینه معنی وصفي یعني مفهومات تعلیقیه مفهوم کیدل نو په دے وجه ورته هغوی قسم نه وے ۔ مګر

زموږ په زمانه کښې الفاظ که زهٔ ستا سره خوراک اوکړم نو د سُور غوښه به خورم وغیره د قسم د پاره متعارف دی او معنٰی تعلیقی ته مراد نه وی بلکه مراد ئې داوی چه ستا د کور خوراک په ما د سُور وغیره د غوښې په شان حرام دے - او سُور خو دیات حرام دے نو دا په طریق اولیٰ سره قسم شه. نو پس دا د فقهاؤ په جزئیا تو مصرحو قیاس کول او د قسم نه کیدو حکم پرے لږده ول صحیح نه ده - په دے مقام دا هم خودل ضروری دی چه بعض فقهاؤ د یمین معنٰی دا بیان کړے ده . معنی الیمین ان یعلق الحالف مایوجب امتناعه من الفعل بسبب لزوم وجوده ای وجود ما علقه کالکفر عند وجود الفعل المحلوف علیه کدخول الدار وجه ئې دا ده چه هغوی په امر معلق کښې دوه خبرے لازم گڼړی اول دا چه امر معلق د محلوف علیه د پاره لازم وی او دویم امر دا چه ناقابلِ اباحت وی ځکه چه کله دا دواړه خبرے بیا موند شی دغه وخت به امتناع د حالف د محلوف علیه نه متحقق شی ورنه نو نه - او بغیر د امتناع نه حلف نه شی کیدے - په دے بنا باندے هغوی ان فعل فعلیه غضب الله وغیره له قسم نه دے مقرر کړے - لیکن دا صحیح نه ده اول ځکه چه امتناع واقعی خو په یو حلف وی هم نه وهو ظاهر- پاتے شو د امتناع التزام نو هغه ځکه چه په نورو قسمو نو کښې وی دغه شان که په "زه که داسے اوکړم نو په ماد د خدائے قهروی" "د مرګ په وخت م د کلمه نصیب نه شی" وغیره وغیره نه هم ثابتیږی نو په دے وجه په دواړو کښې څه فرق نشته- په دے بانډې کاو ویلے شی چه ګویا د هغه غرض امتناع ده مګر الفاظ ئې مستلزم د امتناع نه وی نو د دے دوه جوابه دی- اول دا چه الفاظ اګر چه د خپلو معانیو وضعیو په لحاظ سره مستلزم د امتناع نه دی مګر د معانی عرفیو په لحاظ سره ضرور مستلزم د امتناع وی ځکه چه معنی ئې عرفا داسے کیدے شی- چه زهٔ وعده کوم چه دا فعل به نه کوم که زه داسے اوکړم نو زه به د دے سزا مستحق شم او په خوشحالئ به ئې قبلوم د دے معنی مستلزم د امتناع کیدل ظاهر دی بلکه عقلاً ئې موجب د امتناع کیدل د حلف بالطلاق والعتاق موجب د امتناع کیدو نه زیات دے ځکه چه لزوم د طلاق او عتاق په تقدیر د وقوع د فعل د محلوف علیه دومره ضرر رسان نه دے څومره چه استحقاق د غضب الهی او په دے رضامندی او التزام ئې- پس دا علے په طریق اولیٰ سره قسم کیدے شی - او دویم ځکه چه د کومو خبرو په بنا چه د یمین دا تعریف کړے شوے دے په دے کښې هم کلام دے - په امر اول کښې ځکه چه د لزوم د امر معلق د محلوف علیه د پاره ضرورت د دے وجې دے چه د دے په سبب فعل ممتنع شی - لیکن کله چه موږ په حلف بالطلاق غور کوو نو دا معلومیږی چه په دے کښې لزوم د طلاق خو موجب د امتناع نه دی- ځکه که چا حلف

بالطلاق او کړه او بیا ئې ښځې له درې طلاقه د خپل طرفه ورکړه یا ښځې ملا وعتق ابن الزوج نه حرمت مؤبده حاصل کړه په داسې صورتونو کښې دا تعلیق د درې فعل د محلوف علیه د کولو نه مانع کیږی۔ نو اوس او خایه چه دا لزوم څه مفید کیږی شی او اوس حقه د هغې د لزوم په وجه د درې فعل نه ځنګه ځان ساتلے شی۔ پس معلوم شوه چه د درې امر ضرورت نشته۔ او په امر دویم ځکه چه ابن همام ویلی دی کون الحرمة تحتمل الارتفاع اولا تحتمله لااثرله فانه ان کان یرجع الی تحریم المباح فهو یمین مع ان ذلک المباح یحتمل تحریمه الارتفاع وان لم یرجع الیه لایکون یمینا ولا معنی زیادة کلام لا دخل له۔ مطلب دا دے چه د یمین حاصل تحریم مباح دے نو کوم ځائے چه تحریم مباح وی خواه مؤقت وی خواه مؤبد یمین به اوشی۔ او کوم ځائے چه تحریم نه وی یمین نه وی۔ پس کله چه حرمت محلوف علیه مؤبد نه دے نو د حرمت امرِ معلق د مؤبد کیدو شرط لږه ول شه معنی۔ مګر زهٔ وایم چه د امرمعلق مؤبد بالحرمت کیدل خو د رکنار خو محرم کیدل هم ضروری نه دی ځکه چه حلف بالطلاق والعتاق کښې امرمعلق مباح بلکه په بعض صورتونو کښې واجب دے پس کله چه سره د وجود د اباحت او وجوب معلق هم یمین کیدے شی نو د حرمت قابلِ ارتفاع په صورت کښې یمین ولے نه وی۔ پس خلاصه د کلام دا ده چه د یمین معنی ده تحریم المباح ای التزام الامتناع عن الامر المباح بلفظ یدل علی ذلک الامتناع عرفا اوفی اصطلاح الحالف۔ فقط

پس ضرورة دے چه د عرفِ حال او تعریف من کور پیش نظر د جنت د کالی په مسائلو غور اوشی او په کوم کښې چه د عرف عرب او عرفِ اهلِ هند کښې اختلاف دے په دے کښې د فقهی جزئیاتو اتباع اونه کړے شی بلکه په اُصُول د استنباط نظر اوکړے شی۔

تنبیه:- دا ځما ذاتی رائے ده د درے د مسئلو د پاره زهٔ څوک مجبوره کوم نه فانی لست بنفسی بفوق ان اخطیٔ الا ان یعصمنی الله۔ او د درے د درج کولو نه مقصود دا دے چه کومو خلقو ته د غور نه پس دا امر حق معلوم شی اُو د رے منی او چا ته چه حق معلوم نه شی پخپله پوهٔ دے عمل کوی۔

اصل ص۲۳۴ د خدائے نه سوا په بل چا قسم خوړو سره قسم نه کیږی۔

تحقیق:- تاسو بره اولوستل چه په قرآن، په کلام الله، په کلام مجید قسم خوړو سره قسم کیږی نو وجه ئې دا ده چه کلام د خدائے صفت دے نو قسم پے خوړل ګویا په خدائے قسم خوړل دی۔ او د خدائے نه سوا په بل چا د قسم خوړو مراد دا دے چه نه د هغه په ذات قسم اوخوری او نه ئې په صفت بلکه په یو بل شی قسم اوخوری لکه په ستر دو سرُ وغیره۔ اوس پاتے شوه دا خبره چه د خدائے په ذات یائې په یو صفت قسم اوخوری نو قسم به اوشی یا نه. نو جواب ئې دا دے چه که د خدائے په ذات قسم اوخوری لکه په

خدائے قسم په الله قسم نو قسم خاځا اوشه اوکه په صفت کے قسم اوخوري نو حکم ئے دادے چه که په داسے صفت ئے خوړلے وه چه رواج ئے وه لکه په کلام الله قسم نو قسم به اوشي لکه چه ذکر دي اوکه په داسے صفت وه چه رواج ئے نه وه نو قسم نه کيږي لکه دخدائے په غضب قسم يادخدائے په رحمت قسم نوداسے قسم څوک نه خوري اودے مسئلے ته ضرورت نشته نوځکه دجنت په کالي کښے ذکر شوے نه ده۔ (حبيب احمد کيرانوي)

ددويمے اودريمے حصے دجنت دکالي دلوستلو طريقه

۱:۔ که يوے جينۍ د دينه د مخکښے حصو مضامين په بل کتاب کښے لوستي وي۔ نو ددے حصے نه دے ورته شروع اوکړي ا خير دے اوکه دحصو تقديم تاخير کوي نو هم کولے شي۔

۲:۔ دا حصه دے هم د لوستو سره ورته په تختۍ يا کاغذ د ليکلو مشق کوي چه مضامين ئے بنۀ ياد شي اوخط ئے هم بنکلے شي۔

۳:۔ مختلف مسائل دے تے د امتحان په طور کله کله تپوسي چه بنه ئے ياد شي اوکه دوه درے جينکي يوځائے سبق وائي نو دوي دے هم د يوے بلے نه تپوس کوي۔

۴:۔ که استاذ ئے سړے وي نو د شرم مسائل دے ورته پخپله نه لولوي يا د خپلے بنځے په ذريعه ورته لولوي يا د ورته وائي چه دا به بيا پخپله اوګوري او اوس دے ورته پاتے کوي يعنے دے دے ورته نه وائي۔

۵:۔ اول ضميمه دے دحصے سره لولوي اودويمے ضميمے د لوُلو ضرورت نشته

۶:۔ ديباچه چه په اول حصه کښے ده کله چه دے د لولو قابله شي نو بيا دے ورته اولولوي پريدي دے نه خو داول حصے سره دے نه لولوي نور ضروري مضمون دے خاځا دے ورته اولولوي۔ دغه شان کوم اشعار چه د ديباچے په ختميد وليکلي شوي دي که هغه ئے نه وي ياد کړي اوس دے ورته ياد کړي۔

۷:۔ په کور کښے چه کومے بنځے اوسي د کلوستو قابل نه وي د هغوي د پاره دے يو وخت مقرر دکړي تهول دے جمع کوي اودا مسائل دے ورته اوروي چه ياد ئے شي او پوهه شي پے۔

۸:۔ استاذ له پکار دي چه چا ته داکتاب لولوي نوچه کومے مسئلو موا فق د عمل کولو ورته خاص هدايت کوي اوتاکيد کوي ځکه چه دعلم نه فائده عمل کول دي ژباني يادول نه دي۔ (محمد اشرف علي عفي عنه)

دَجنت کالے څلورمه حصّه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

باب دَ نکاح بیان

مسئله ۱:- نکاح دَ الله تعالیٰ لوئے نعمت دے دَ دین او دنیا دواړو کارونه پرے برابریږی او ډیرے فائدے او مصلحتونه دی په کښے سرے دَ ګناه نه بچ کیږی زړه ئے په آرام کیږی نیت ئے نه خرابیږی ونه بچ کیږی او لویه خبره داچه دَ فائدونه فائده او دَ ثواب نه ثواب دے ځکه چه دَ ښځے خاوند یو ځائے کیناستل او دَ مینے محبت خبرے کول دَ نفلی عبادت نه غوره دی.

مسئله ۲:- نکاح فقط په دوه لفظونو سره تړلے شی که چا دَ ګواهانو په مخکښے او وے چه ما دَ خپلے لور نکاح ستا سره او کړه او هغه او وے ما قبوله کړه بس نکاح وشوه او دواړه ښځه خاوند شو- البته که لونړه ئے چیرے وے نو بیا چه نوم ئے نه وی اخستے نکاح نه صحیح کیږی- مثلاً ما دَ خپلے قدسیٔ لور نکاح ستا سره او کړه او هغه او وائی چه ما قبوله کړه نو نکاح اوشه-

مسئله ۳:- چا او وے چه ته دَ خپلے فلانۍ لور نکاح ځما سره او کړه او هغه او وے چه ما دَ هغے نکاح ستا سره او کړ نو نکاح وشوه بیا که هغه داسے او وائی چه ما قبوله کړے ده او که اونه وائی نکاح وشوه-

مسئله ۴:- که ښځه حلته موجوده وه او په اشاره سره ئے او وے چه ما دَ دے نکاح ستا سره او کړه او هغه او وے ما قبوله کړه نو هم نکاح وشوه که نوم وا نخلی خیر دے او که ښځه موجوده نه وی نو دَ هغے نوم او دَ پلار نوم به ئے دومره په زوره اخلی چه ګواهان ئے واوری- او که پلار ئے چانه پیژندو او پته نه لریده چه دَ چا نکاح کوی نو دَ نیکه نوم اغستل ئے هم ضروری دی غرض دا دے چه دومره ښکاره کول ضروری دی چه اوریدونکی پوهه شی چه دَ فلانۍ نکاح کیږی-

مسئله ۵:- دَ نکاح دَ پاره دا شرط دی چه کم نه کم دَ دوه سړو یا یو سړی او دوه ښځو په مخکښے اوشی او خلق ځپلو غوږونو سره دَ نکاح کیدل او دَ دے دواړو الفاظ اوریل واوری- نو نکاح وشوه- او که په تنهائی کښے یو او وے چه ما دَ خپلے لور نکاح ستا سره او کړه او هغه او وے چه ما قبوله کړه نو نه ده شوے دغه شان دَ یو ګواه په مخکښے هم نه کیږی-

مسئله ۶:- که سړی نه وو ځولے ښځے وے نو خواه لس دولس ولے نه وی خو نکاح نه کیږی دَ دوه ښځو سره یو سړے ضرور پکار دے-

مسئله:- که دوه سړی وو خو مسلمانان نه وو نو بیا هم نکاح نه کیږی یا که مسلمانان

وو خو یو یا دواړه بالغان نه وو نو بیا نکاح نه کیږي دغه شان که یو سړے او دوه ښځې وے خو یوه یا دواړه ښځې په کښے بالغې نه وے نو هم نکاح نه کیږي -

مسئله ۸:- غوره داده چه نکاح په جومات کښے اوشي لکه د جمعې د مانځه نه پس په جمات کښے یا بل ځائے چه ښه شهرت ئے اوشي لیکن که ضرورت وه چه ډیر خلق نه شو تلے نو کم نه کم دوه سړي یا یو سړے او دوه ښځې خامخا ضروري دي چه ښځې لو غوږ و نو د نکاح الفاظ او نکاح کیدل واوري -

مسئله ۹:- که سړے او ښځه دواړه بالغان وو نو ښځه خپل نکاح کولے شي چه د دوه ګواهانو په مخ کښے یو اووائي چه ما خپل نکاح ستا سره اوکړه او بل اووائي ما قبول کړه بس نکاح اوشه -

مسئله ۱۰:- که چا خپل نکاح پخپله اونه کړه بل ته ئے اووے چه زما نکاح د چا سره اوکړه یا د فلانۍ سره زما نکاح اوکړه او هغه اوکړه نو نکاح اوشه اوس انکار نه شي کولے -

باب ۲ چا سره چه نکاح حرام دے د هغو بیان

مسئله ۱:- د خپل اولاد نمسو کړوسو وغیره سره د پلار نیکه د نیکه د مور پلار د مور د پلار پلار وغیره سره نکاح جائز نه ده -

مسئله ۲:- د خپل رور ماما تره دراره خورئ سره نکاح جائز نه ده او په شرع کښے رور هغه دے چه د پلار او مور نه وي یا یوازې د پلار نه یا یوازې د مور نه وي دا ټول رونړه دي او چه پلار رمورئ جدا جدا اوي هغه رورنه د نکاح ورسره جائز دے

مسئله ۳:- د زوم سره هم نکاح جائز نه ده خواه لور ئے واده شوي وي او دواړه یوځائے پاتے شوي وي او که نه خو چه نکاح قدرے ورسره د لور شوے وي بیا ورسره د مور نکاح جائز نه ده -

مسئله ۴:- د چا پلار مړ شه او مورئے بل نکاح اوکه لیکن مورئے ورسره لا پاتے شوے نه وه چه مړه شوه یا هغه طلاق کړه نو ک دغے پلند رپلار سره نکاح جائز ده البته که مورئے ورسره پاتے شوے وه بیا ورسره نکاح جائز نه دے -

مسئله ۵:- د خاوند د اولاد (بڼزو) سره نکاح جائز نه دے خواه که دا د دے خپل خاوند سره پاتے شوے وي او که نه خو ک بنز وسره نکاح حرام دے -

مسئله ۶:- د سخر او د سخر د پلار نیکه سره نکاح جائز نه دے -

مسئله ۷:- تر څو چه خپله خور د یو نکاح کښے وي د خاوند سره ئے نکاح جائز نه ده البته که خور مړه شوه یا هغه طلاق کړه او عدت پوره شه نو اوس ورسره نکاح جائز دے د عدت پوره کیدو نه مخکښے هم د خور د خاوند سره نکاح جائز نه دے -

مسئله ۸:- که دوه خویندو د یو سړي سره نکاح اوکړه نو اولنۍ نکاح صحیح دے

وَدوېمې نه دے او که په یو ځائې دواړه نکاحونه شوي وو نو دواړه صحیح نه دي۔

مسئله ۹:- دَ یو سړي نکاح دَ یوې ښځې سره اوشوه نو تر څو چې هغه ښځه دَده په نکاح کښې وه نو دَ هغې دَپلار دَ خور او دَ مور دَ خور سره او دَ خوږلې او ورېرې سره دَ ده نکاح جائز نه دے۔

مسئله ۱۰:- دَ کومو دوه وو ښځو په مینځ کښې چه داسې رشته وي چه که یوه سړے اوبله ښځه فرض شي او دَ یو بل سره ئې نکاح نه کېدې نو داسې دوه ښځې یو سړے یو ځائې په نکاح هم نشي اغستے البته که هغه یوه مړه شوه یا طلاقه او عدت تېره شه بیا هغه بله اغستے شي۔

مسئله ۱۱:- یو ښځه او یوه دَ هغې بنګئې دواړه یو سړے په نکاح یو ځائې اغستے شي۔

مسئله ۱۲:- یو هلک ئې پاللے وه او خوئې ئې ورته ویلے وه نو په نکاح ئې اغستے شي دا خوئې ئے دَ

مسئله ۱۳:- سکه[1] ماما نه دے بلکه په رشته سره ماما لګېږي نو نکاح ورسره کېږي۔ دغه شان که په لرې رشته سره تره ورارہ یا خورئې کېده نو هم ورسره نکاح کېږي۔ دغه شان دَ تره دَ ماما دَ ترور دَ خوئې سره هم نکاح کېږي۔

مسئله ۱۴:- دغه شان چه دوه خویندې سکه نه وي دَ ماما دَ تره دَ ترور لونړه وي نو هم ئې یو سړے یو ځائې په نکاح اغستے شي۔ او داسې خورئې که په نکاح کښې وه هم ئې دَ خاوند سره نکاح جائز دے دغه حال دَ ترور وغیره دے چه که په لرې رشته سره لګېږي نو ترور وریره او خورزه یو ځائې یو سړے په نکاح کولے شي۔

مسئله ۱۵:- څومره رشتې چه دَ نسب په اعتبار سره حرام دي هغه رشتې دَ پیو په اعتبار سره هم حرامې دي یعنې دَ رضاعي مور دَ خاوند سره نکاح جائز نه دے ځکه چه دا ئې پلار شه چا له چه ئې پئ ورکړي دَ هغه سره او دَ هغه دَ اولاد سره نکاح جائز نه دے ځکه چه دغه دَ دے اولاد شه دغه شان دَ رضاعي ماما خورئې وراره سره تره سره نکاح حرام دَے

مسئله ۱۶:- دوه رضاعي خویندې هم یو سړے په نکاح نه شي اغستے غرض کوم حکم چه پورته بیان شه هغه دلته په رضاعت کښې هم دے۔

مسئله ۱۷:- یو سړي دَ یوې ښځې سره زنا اوکړه نو دَ هغې مور او اولاد په ده حرام شه۔

مسئله ۱۸:- یوې ښځې دَ ځوانئ په شوق سره یو سړي له لاس وروړه نو دغه شان دَ دغې ښځې مور او اولاد په دے سړي حرام شو۔ او که سړي لاس ورووړه نو دَ هغې په مور او اولاد حرام شه

مسئله ۱۹:- دَ شپې په[2] تیاره کښې ئې خپله بي بي ویښوله نو په غلطۍ سره ئې په لور یا انګور لاس اولږېده او دَ بي بي خیال ئې په راغې دَ ځوانئ په شوق سره ئې لاس وروړه نو داوس

---

[1] سکه ماما چه دَ مور دَ پلار دَ ورور یا دَ مور ورور یا مور او پلار دواړه شوي سکه ماما دے ۱۲ تفهیم الاغلاط [2] په دے مسئله شبه او دَ هغې جواب په امداد الفتاوی صفحه ۲۴۹ ج۲ کښې درج دے ۱۲ چه کوم دے مسئلے تائید دے ۱۲

دا سړي په څیلی جابی د همیشه د پاره حرام شه اوس په هیڅ صورت جواز نه راځي۔ دغه ښځه دے اوس طلاق نه کړي۔

مسئله ۲۰:- یو هلک پخپلې میرے مور په بد نیتی سره لاس اولګاؤ نو دغه ښځه پخپل خاوند بالکل حرامه شوه اوس هیڅ صورت د حلال والی نشته او که د میرے مور دا سے اوکړل نو هم دا حکم دے۔

مسئله ۲۱:- د مسلمانې ښځې نکاح د بل یو مذهب والا سړي سره نه کیږي۔

مسئله ۲۲:- د یوے ښځې خاوند مړ شه یائے طلاق ورکړه نو ترڅو چه ئے عدت نه وی تیر شوے نو د بل سړي سره نکاح نه شي کولے۔

مسئله ۲۳:- د یوے ښځې چه د یو سړي سره نکاح اوشوه نو اوس چه ترڅو ئے طلاق نه کړے نه وی او عدت ئے نه وی تیر شوے د بل سړي سره نکاح نه شي کولے۔

مسئله ۲۴:- د یوے ښځې خاوند نه وی او د بدکارئ نه ئے حمل اوشه نو نکاح ورسره جائز دے لیکن د بچی د پیدا کیدو نه مخکښے ورسره کور والے جائز نه دے البته د چا سره چه ئے زنا کړے وه که هغه ورسره نکاح اوکړه بیا جائز دی۔

مسئله ۲۵:- د کوم سړي په نکاح کښے چه څلور ښځې وی نو د پنځمې سره ئے نکاح جائز نه دے او که یوے له ئے په کښے طلاق ورکړه نو ترڅو چه عدت نه وی تیر شوے د بلے سره نکاح نه شي کولے

مسئله ۲۶:- د سُنی جینئ نکاح د شیعه سړي سره د ډیرو عالمانو په فتوٰی جائز نه دے۔ (او دغه شان د قادیانی سره چه قادیانے د عالمانو د دین د فتوے مطابق کافر دے)

باب ۳ دولی بیان
د جینئ او هلک د نکاح کولو چه چا ته اختیار وی هغه ته ولی وائی۔

مسئله ۱:- د جینئ او هلک ولی د ټولو نه اول پلار دے بیا نیکه بیا د نیکه او که دوی نه وی نو بیا سکه رور او که دے نه وه بیا پلار را وړے رور بیا وراره بیا د وراره ځوئ بیا د وراره نمسے که دوی نه وی نو سکه تره بیا د پلار د میرے مور ځوئ بیا د سکه تره ځوئ بیا ئے نمسے که دا نه وی نو د پلار تره ولی دے بیا ئے اولاد که دا نه وی نو د نیکه تره بیا ئے اولاد که دا نه وی نو بیا مور ولی دے۔ بیا نیا بیا نانی بیا نانا۔ بیا حقیقی خور بیا پلار را وړے خور بیا کوم خور رور چه مور شریک وی بیا تره د بیا ماما بیا د مور خور۔

مسئله ۲:- نا بالغ مجنون پاګل نشي ولی کیدے او کافر د مسلمان نه شي ولی کیدے۔

مسئله ۳:- بالغه ښځه خود اختیاره ده که نکاح کوی او که نه کوی او که د هر چا سره چه کوی څوک پرے زبردستی نه شي کولے که پخپله ئے خپل نکاح او که نو اوشوه که ولی خبر وی او که نه او خوشحاله وی او که نه نکاح شوے ده البته که د ځان نه ئے په کم ذات کښے نکاح او که

او ولی پې خوشحاله نه وو نو فتوی په دے ده چه نکاح جائز نه دے - او که په خپل مناسب کښې ئې نکاح اوکړه لیکن مهر ئې د خپل خاندان نه کم اوتاړه یعنی د مهر مثل نه ئې مهر کم وه نو نکاح اوشوه لیکن ولی ئې دا نکاح ماتولے شی مسلمان حاکم ته دے فریاد اوکړی چه هغه ورله نکاح مات کړی - لیکن د دے فریاد حق هغه ولیانو ته حاصل دے د کوموذکرچه د موروثه څکښې دے یعنی د پلارنه و اخله د تره د ځوئ کړوسو پورے او نورو ته نشته -

مسئله ۴:- یو ولی د ځوانے جینئ نکاح بے د هغې د تپوس او اجازت نه اوکړه - نو دا نکاح د هغې په اجازت پورے موقوف دے که هغې اجازت اوکړ نو نکاح اوشوه او که هغه راضی نه شوه او اجازت ئې اونه کړه نو اونه شه - د اجازت طریقه څکښې راځی.

مسئله ۵:- ځوانه نادانه شوے جینئ ته ولی اووے چه زه ستا نکاح د فلانی سره کوم یام اوکړه نو هغه چپ شوه یا ئې او خندل یا ئې اوجړل نو بس دغه اجازت دے نو او س که ولی نکاح اوکړی صحیح به شی او که کړے ئې وه نو صحیح ده - په ژبه ویلو ته حاجت نشته په زور پے ژبانی ویناکول او قبول والے کول جائز نه دی -

مسئله ۶:- ولی د اجازت اغستو په وخت کښې د خاوند نوم وانه اغستو او نه ئې څکښې نه دے ته معلوم وه نو دا سے وخت په چپ کیدو سره اجازت نه ثابتیږی او اجازت نه شی کنړلے بلکه نوم تخته خودل ورته ضروری دی چه جینئ ته دومره پته اولږی چه فلانے سره دے او دغه شان که مهر ئې ورته بنکاره نه کړه او د مهرمثل نه ئې مهر کم مقرر کړے وه نو بغیر د اجازت د بنځې نه نکاح نه کیږی - بیا به ئې اجازت اغستے شی.

مسئله ۷:- که بنځه پیغله نه وه بلکه یو وار واده شوے وه دا ئې دویم نکاح دے نو که دا د اجازت په وخت کښې چپ شوه نو اجازت نه دے بلکه په ژبه ویل ئې پکار دی که هغې په ژبه اونه وے بلکه په چپ کیدو سره ئې ورله نکاح اوکړه نو نکاح ئې موقوف دے بیا که هغې په ژبه سره منظوری اوکړه نو نکاح ئې اوشوه او که ئې منظوره نه کړه نو اونه شه -

مسئله ۸:- پلار ئې وه او تره یا رور وغیره ولی د پیغلے جینئ نه اجازت اوغوښته نو صرف په چپ کیدو سره اجازت نه صحیح کیږی بلکه چه په ژبه اجازت اوکړی هله به اوشی لیکن که پلار د اجازت اغستو د پاره لیږلے وه نو بیا په چپ کیدو سره اجازت صحیح کیږی خلاصه دا ده چه کوم ولی د تولونه مقدم وی او په شرع کښې د هغه د تپوس حق وه نو کله چه هغه پخپله یا د هغه لیږلے شوے سړے اجازت اخلی نو په چپ کیدو سره اجازت کیږی - او که حق د بل چا وه او تپوس رور کولو نو

شکیږی دغه شان حق د دروره او پتوس تره کولو - نو په چپ کید واجازت نه کیږی-
مسئله ۹:- ولی بے پتوسه او بے اجازته نکاح اوکه بیا د نکاح نه پس پخپله ولی یا د ولی لیږلی شوی سړی ورله خبر ورکړه چه ستا نکاح د فلانی سره اوشوه نو په دے صورت کښے هم په چپ کید وسره اجازت اوشه - او که بل چا خبر ورکړه او دا خبر ورکونکے نیک او معتبر سړے وه یا دوه تنه وو بیا هم په چپ کید وسره نکاح صحیح شوه او که غیر معتبر وه نو نکاح موقوف دے د اجازته پورے په ژبه سره -
مسئله ۱۰:- (د نکاح اطلاع ورته اوشوه) په کوم صورت کښے چه په ژبه سره وینا ضروری وه لیکن او ئے نه وے مگر چه خاوند ورله رالغی نو انکار ئے اونه کړه نو نکاح اوشه
مسئله ۱۱:- دغه حکم د هلک دے که ځوان وه نو زور پے نه شی کیدے او ولی بغیر د هغه د اجازت نه نکاح نه شی کولے که بغیر تپوس نه ئے نکاح اوکه نو په اجازت به موقوف وی که اجازت ئے اوکه نو اوشه ورنه نو نه - خو دومره فرق دے چه د هلک په چپ کیدو اجازت نه کیږی په ژبه سره به وائی -
مسئله ۱۲:- که هلک یا جینئ نابالغ وو نو دوی خود مختاره نه دی بغیر د ولی نه د دوی نکاح نه کیږی که پخپله ئے خپل نکاح اوکه یا ورله بل چا اوکړه نو د ولی په اجازت به موقوف وی که ولی اجازت اوکړه نو اوشه ورنه اونه شه - او ولی ته د دوی د نکاح کولو او نه کولو پوره اختیار دے د چا سره چه غواړی کولے شی او نابالغ جینئ او هلکان دغه نکاح نه شی رد کولے که دغه نابالغ جینئ واده شوے وی یو وار او که نه
مسئله ۱۳:- د نابالغ جینئ یا هلک نکاح که پلار یا نیکه کړے وی نو که ځوانان شی هم دغه نکاح نه شی رد کولے که په خپل مناسب کښے ئے کړے وی او که نه او که په مهر مثل ئے نکاح کړے وی او که په کم - هرشان نکاح صحیح دے بیا دوی هیڅ نه شی کولے-
مسئله ۱۴:- که د پلار نیکه نه سوا بل ولی نکاح کړے وی او د چا سره چه ئے کړے دے هغه ورسره په ذات کښے برابر دے او مهر مثل ئے هم مقرر کړے دے نو په دے صورت کښے دغه وخت خو نکاح صحیح دے لیکن د ځوانید نه پس ئے بیا اختیار دے که دغه نکاح پاتے کوی او که مسلمان حاکم ته فریاد کوی او نکاح ماتوی- او که دغه ولی په کم ذات کښے ورکړے ده یائے ورله مهر کم مقرر کړے دے یا د هلک نکاح چه ئے د کومے ښځے سره کړے دے د هغے د مهر مثل نه ئے مهر زیات مقرر کړے دے نو دغه نکاح نه دے شوے -
مسئله ۱۵:- د پلار او نیکه نه سوا بل چا ورله نکاح کړے وه او جینئ د خپل نکاح نه خبروه - او بیا ځوانه شوه او لا خاوند نه ورسره کور والے نه وی کړے نو فورا انکار اوکړی چه زه راضی نه یم یا ځما دا نکاح قبول نه دے خواه که د چا په مخ کښے او وائی او که یوازے

خو انکار او کړی[1]. لیکن بیا به هم حاکم ته فریاد کوی او نکاح به ماتوی فقط په دے انکار نه ماتیږی
دَ څوانیدو نه پس که ئے فورًا انکار او نه کړه او چپ پاتے شوه لږ ساعت نو اختیار ئے ختم
شه او که دَ خپل نکاح خبره ورته نه وه او دَ ځوانیدو نه پس ورته خبره ورسیده نو
دَ خبرے رسیدو نه سمدستي فورًا که ئے انکار او نه کړه نو بیا ئے اختیار نشته.

مسئله ۱۶:- او که خاوند ورسره کور ولے کړے وه نو بیا چه ځوانه شوه نو فورًا
ئے دَ انکار کولو ته حاجت نشته بلکه ترڅو چه ئے رضا مندی معلومه شوے نه وی تر
هغے ئے دَ قبول کولو او نه قبول کولو اختیار باقی دے خواه هڅومره وخت چه تیر شی.
لیکن کله چه ئے صاف په ژبه سره منظوری او کړه یا ئے دَ منظورئ څه خبره ښکاره
شوه نو اختیار ئے ختم شه. او نکاح لازم شوه.

مسئله ۱۷:- دَ کوم ولی چه دَ قاعدے مطابق دَ نابالغ دَ نکاح حق دے هغه په
سفر کښے دے او دومره لرے دے چه که دَ هغه انتظار کوی نو دا موقع دَ لاس نه
اوځی او پیغام ورکوونکے انتظار نه کوی نو په دا سے صورت کښے په هغه ورپسے ولی هم
نکاح کولے شی. نو که بغیر دَ هغه دَ تپوسه ورله دے ولی نکاح او کړه نو او شه
او که دومره لرے نه وه نو بیا بغیر دَ هغه دَ تپوسه نکاح نشی کولے او که او ئے کړه
نو دَ ولی په اجازت به موقوف وی چه کله هغه اجازت او کړه نو صحیح شه.

مسئله ۱۸:- دغه شان که حقدار ولی وه او بغیر دَ هغه دَ اجازت نه بل ولی دَ نابالغ
نکاح او کړه نو دَ حقدار ولی په اجازت به موقوف وی. لکه حق دَ پلار وه او نکاح ئے او کړه
نیکه یا حق دَ ورور وه او نکاح ئے او کړه تره بغیر دَ دوی دَ اجازت نه.

مسئله ۱۹:- یوه شخه پاګله شوه او عقل ئے لاړ او ځوان ځوئی ئے موجود دے او
پلار ئے هم وه نو که دَ دے نکاح کیده نو ولی ئے ځوئی دے ځوئی دَ پلار نه مقدم دے.

باب کوم خلق دَ یو بل سره برابر دی او کوم نه دی

مسئله ۱:- په شرع کښے دَ دے خبرے ډیر خیال
ساتلے شوے دے چه بے میله او بے جوړه نکاح دے نه شی کولے یعنی دَ جینئ نکاح دَ داسے
سړی سره نه دے پکار چه دَ دے سره دَ برابر درجے او دَ ټکر نه وی او دغه شان
کوم سړے چه په دین کښے دَ ښځے سره برابر نه وی دَ هغه سره دے هم نکاح نه کوی).

مسئله ۲:- برابری په څو قسمه ده. (۱) دَ نسب برابری (۲) دَ اسلام (۳) دینداری
(۴) او مالداری (۵) په پیشه کښے برابری.

[1] دا حکم دَ جینکو دے هلک که ځوان شه نو فورًا ئے انکار ته ضرورت نشته هر وخت انکار کولے شی چه رضا نه دی ۱۲

په نسب کښې دَ برابرئ بيان | **مسئله ۳:-** په نسب کښې برابري[۱] دا ده چه شيخ سيّد انصاري او علوي دَ يو بل سره برابر دي دَ سيّد درجه اګرچه اوچته ده خو که سيّد ه جينۍ په شيخانو انصاريانو علويانو کښې واده شي نو برابر دي -

مسئله ۴:- په نسب کښې اعتبار پلار لره دے دَ مور نسب له هيڅ اعتبار نشته که پلار سيّد وي نو جينۍ او ځوئ سيّد دے وغيره - که سيّد دَ غيرے سيّدے سره نکاح اوکړه نو اولاد ئے سيّد دے دَ سيدانو سره په نسب کښې برابر دے دا ځکه خبره ده چه دَ چا پلار مور دواړه سيدان او دَ اوچت خاندان نه وي هغه زيات عزت مند دے -

مسئله ۵:- مغل پټان ټول يو قوم دے دَ سيدانو برابر نه دي که دَ سيد يا شيخ لوُرِ ئے په نکاح کړه نو بے ميل دي يعنې برابر ئے نه دے -

په اسلام کښې دَ برابرئ بيان | **مسئله ۶:-** دَ مسلمانيد وَ دَ برابرئ اعتبار صرف په مغل پټان وغيره قومونو کښې دے په شيخانو سيدانو علويانو او انصاريانو کښې دَ دے هيڅ اعتبار نشته نو کوم سړے چه پخپله مسلمان شه او پلار ئے کافر وه دے دَ هغې ښځې برابر نه دے چه پخپله هم مسلمانه وي او پلار ئے هم مسلمان وي او دَ کوم سړي چه دے مسلمان دے او پلار ئے او نيکه ئے نه دَ مسلمان دَ هغې ښځې نه دے برابر چه نيکه ئے هم مسلمان وي

مسئله ۷:- دَ چا چه پلار نيکه مسلمانان وي ليکن ورنيکه ئے مسلمان نه وي هغه دَ هغې ښځې برابر دے چه څو پشتو نه ئے مسلمانان وي خلاصه دا ده چه دَ نيکه پورے دَ مسلمانيد و اعتبار رشته دے - په پورته ضروري نه دے

په ديندارئ کښې دَ برابري بيان | **مسئله ۸:-** مطلب دا دے چه څوک دَ دين پابند نه وي لچه، شرابي، بدکار سړے دَ ديندارے ښځې برابر نه دے -

په مال کښې دَ برابري بيان | **مسئله ۹:-** مطلب دا دے چه بالکل مفلس محتاج سړے دَ مالدارے ښځې برابر نه دے - او که بالکل غريب نه وه بلکه څومره مهر چه په اولنۍ[۲] شپه دَ ورکولو دستور دے دومره مهر ورکولے شي او نفقه هم نو دَ ميل او برابر دے اګرچه ټول مهر نه شي ورکولے - او دا ضروري نه ده چه څومره دَ جينۍ کور مالداره وي دومره دے هلک وي يا دِ ورته نژدے وي -

په پيشه کښې دَ برابرئ بيان | **مسئله ۱۰:-** دَ پيشے دَ برابرئ مطلب دا دے چه جولا دَ درزيانو دَ ميل او جوړ نه دے دغه شان دوبي نائي وغيره هم دَ درزي برابر نه دي -

---

[۱] په دے سوال او جواب په امداد الفتاوی مبوب ص ۳۱۴/۲۶۰ کښې درج ده چه دَ دے مسئلے تائيد تے کيږي ۱۲
[۲] مطلب دا دے چه په ټول مهر قدرت شرط نه دے پاتے شوه دا خبره چه په نفقه قدرت هم شرط دے او که نه دلته ئے دا ذکر نه دے کړے ليکن په نفقه قدرت شرط دے په دے سوال جواب امداد الفتاوی ص ۲۶۰/۳۱۲ کښې درج دے ۱۲

مسئله ۱۱:- دیوانه او پاګل سړے د هوښیارے او پوهے ښځے د میل نه دے۔

باب ۵ د مهر[له] بیان

مسئله:- په نکاح کښے که د مهر ذکر او کړی او که نه خو نکاح کیږی لیکن مهر به لازم شی بلکه که څوک په نکاح کښے دا شرط او تړی چه مهر به نه ورکوو بے مهره نکاح کوو بیا هم مهر لازمیږی۔

مسئله ۲:- د کم نه کم مهر پاؤ کم درے[له] روپۍ مقدار چاندی دی او د زیات څه حد نشته هر څومره چه مقرر کوی۔ لیکن د مهر ډیر زیاتول خه نه دی۔ نو که چا فقط په یوه روپۍ چاندی یا یوه روپۍ یا یو آنه آنیز مهر مقرر که نو هم به پاؤ کم درے روپۍ چاندی ورکوی په شریعت کښے د دے نه کم مهر نشته او که د کور ته راوستو نه اول ورله طلاق ورکړی نو د دے نیم به ورکوی۔

مسئله ۳:- چالس روپۍ یا سل یا هزار د خپل حیثیت مطابق مهر مقرر که او ښځه ئے واده کړه رائے وسته کور والے ئے ورسره او که یا حسے دواړه ښځه خاوند یو ځائے داسے ځائے کښے پاتے شو چه د کور والی نه مانع څه نه وو نو پوره مهر ئے واجب شه او که په دے کښے یوه خبره نه وه شوے او هلک یا جینۍ مړه شو نو هم پوره مهر واجب دے او که په دے کښے یوه خبره نه وه شوے او هلک طلاق ورکړه نو نیم مهر واجب دے یعنے چه کور والے یا ځائے والے او شه نو پوره مهر واجب شه او که یو په کښے مړ شه

له بعضے خلق د فاطمه رض مهر مقرر کوی چه مهر فاطمی رض ورته وائی چونکه د هغے په مقدار کښے اختلاف دے نو دلته ئے تحقیق لیکلے شی کوم چه په رساله ارجح الاقاویل د مفتی محمد شفیع صاحب دیوبندی کښے دی او تصدیق ئے حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی او مولانا شبیر احمد عثمانی او نورو لویو لویو علماؤ کړے دے عبارت ئے دا دے:-

فائده:- د درهم شرعی وزن به بیان شه یعنے درے ماشے یوه رتۍ او یوه د رتۍ پنځمه حصه په ټولو احکامو او معاملو شرعیو کښے چه کوم ځائے د درهم ذکر شوے دے دا درهم شرعی به مراد وی۔ نو د ښځے مهر چه کم نه کم د حنفیو په نزد لس درهمه دے۔ دوه تولے او اووه نیم ماشے چاندی شو او مهر فاطمی رض چه مقدار منقول ئے پنځه سوه درهمه دے ځکه په عامو روایتو نو کښے حدیثو کښے) د هغے مقدار د موجوده روپۍ سره (چه د روپۍ وزن یوولس نیم ماشے دے) یو سل شپږ دیرش روپۍ پنځلس آنے درے نیم پائے مقدار چاندی شو۔ او د تولے په حساب (چه تولے دولس ماشے ده) یو سل یو دیرش تولے درے ماشے مقدار چاندی شو انتهیٰ (ارجح الاقاویل صفحه ۱ مطبوعه دیوبند) نو که څوک مهر فاطمی رض مقرر کوی نو د چاندی مذکوره مقدار دے مقرر کړی او د دے چاندی د مقدار قیمت به هغه وخت معتبر وی کوم وخت چه مهر ادا کوی۔ نوټ:- نن صبا په مهر مقرر کولو کښے ډیر افراط تفریط کولے شی بعضے دومره زیات مهر ونه مقرر کوی چه ادا کول ئے د خاوند د طاقت نه باهر وی په حدیثو کښے د دے ممانعت راغلے دے ځان ته مسائل پکار دی او بعضے مهر فاطمی رض ضروری ګڼړی او دا شرعی مهر ګڼړی حالانکه شریعت د مهر څه اندازه نه ده مقرر کړے د خلفاؤ راشدینو او صحابوؤ نه د مهر فاطمی رض نه زیات مقدارونه مقرر شوی ثابت دی۔ دلته دا خبره یاد ساتل پکار دی چه څنګه په مهر کښے زیاته مبالغه بده خبره ده دغه شان د مهر مثل نه یعنے د خاندان د ښځو نه کم مهر مقرر کول هم ظلم او حق تلفی ده چه د دے اختیار صرف د جینۍ او اولیاؤ ته نه دے حاصل۔ البته که جینۍ او اولیا د ټول په مهر کمولو په زړه سره راضی وی نو بیا کمه نشته خو د جینۍ رضا به په خاص طریقه سره معلومول غواړی صرف په سکوت سره کار نه کیږی ۱۲ [۲]له اصل مقدار لس درهم دے او د لس درهمو وزن او ده مثقاله ده او د مثقال وزن (۴½) څلور نیم ماشے دے نو د لس درهمو وزن دوه تولے او ده ماشے څلور سرخ دے عمل ئے دا دے $4\frac{1}{2} \times 7 = \frac{1}{2} \times 63 = \frac{63}{2}$ = $31\frac{1}{2}$ = ۲ تولے $7\frac{1}{2}$ ماشه دا اصل وزن دے ځکه چه تولے دولس ماشے وی او د روپۍ وزن $11\frac{1}{4}$ ماشے دے نو د پاؤ کم درے روپو وزن ۲۰ تولے ۸ ماشے ۵ رتۍ دے چه د شرعی مقدار نه یوه رتۍ یوه ماشه زیات دے ۱۲

هم پوره مهر واجب شه او که کور والے او یواځې والے نه وي شوے او طلاق ئې کړې نو نیم مهر واجب دے

مسئله ۴:- که په دواړو کښې یو بیمار وه یا ئې د رمضان روژه وه یا ئې د حج احرام تړلے وه یا د ښځې حیض وه یا ورته چا کتل او په داسې حالت کښې یواځې والے راغے نو دا نه دے معتبر پوره مهر په نه واجبیږي که طلاق ئې کړه نو نیم مهر به ورکوي البته که د رمضان روژه ئې نه وه نفل یا نذر یا قضا روژه وه او یواځې شو نو بیا به خاوند پوره مهر ورکوي -

مسئله ۵:- که سړے نامرد وه او داسې یواځې والے راغے بیا به هم پوره مهر ورکوي دغه شان که هیجړا نکاح او که او د یو ځائے کیدو او یواځې کیدو نه پس ئې طلاق کړه پوره مهر به ورکوي

مسئله ۶:- ښځه خاوند یواځې شو لیکن جینۍ یا هلک دومره وړوکے دے چه د کور والي نه دے یا نه وه قابل نو هم پوره مهر نه واجبیږي -

مسئله ۷:- که د نکاح په وخت کښې ئې د مهر بالکل ذکر او نه کړه یا ئې اووئې چه بغیر مهر نه نکاح کوو څه نه ورکوو - او بیا په دواړو کښې یو مړ شه یا ئې داسې یواځې والے راغے چه په شرع کښې معتبره وه نو هم به مهر ورکوي او په دے صورت کښې به مهر مثل ورکوي او که په دے صورت کښې د یواځې والي نه اول سړي طلاق کړه نو مهر ئې نشته البته یوه جوړه جامې ورکول به سړي واجب دي -

مسئله ۸:- په جوړه کښې فقط څلور کپړے به سړي واجب دي یو قمیص یو سربند یعنې د سر ټوکرے یو پرتوګ یا پاجامه د څه چه دستور وي یو غټ څادر چه د سر نه د خپو پورې په کښې پټه شي نو رخصت په واجب نه دي -

مسئله ۹:- د سړي د حیثیت مطابق کپړے به ورکوي که چیرې غریب وي نو تاریز ے کپړے او که درمیانه وه نو تسرا او که مالدار وه نو اعلیٰ ریشمي کپړے به ورکوي خو بهرحال داسې خیال به ساتي چه د دے کپړو قیمت د مهر مثل نه زیات نه شي او د یو ے روپۍ شپږ ۱ا نو وزن چاندۍ چه څومره قیمت وي د هغے نه کم نه شي - لیکن که خپله رضا د ډیر قیمت کپړے ورکوي نو بیا خو ابله خبره ده - خو واجب په دغه دي -

مسئله ۱۰:- د نکاح په وقت کښې ئې څه مهر مقرر نه کړه لیکن بیا ښځې خاوند به خپله رضا سره څه مقرر کړه نو اوس به مهر مثل نه شي ورکولے بلکه دواړو چه په رضا سره څه مقرر کړے دے هغه به ورکولے شي - لیکن که دغه سې د یو ځائے کیدو او یواځې کیدو نه مخکښې ئې طلاق ورکړه نو په دے صورت کښې د مهر مستحقه نه ده بلکه هغه جوړه به ورته ملاویږي -

مسئله ۱۱:- سل روپۍ یا زر روپۍ د خپل حیثیت مطابق مهر ئې مقرر کړه بیا ئې

خاوند پخپله خوشحالۍ څه مهر زیات کړ مثلاً د سلو روپو ځائے به یو نیم سل ورکوم نو خومره چه ئې زیات ویلي دے هغه په هم واجب شه که ورنه کړي ګناه ګار دے او که دغه شان د یو ځائے کیدو او یو ځائے کیدو نه اول ورته طلاق ملاؤ شو نو خومره چه اصلي مهر وو د هغې نیمه به ورکوي - زیاتي به پکښې نه شماریږي - دغه شان که بنځې پخپله خوشۍ څه مهر معاف کړ نو خومره چه ئې معاف کړي دے هغه معاف شه او که ټول ئې معاف کړ نو ټول معاف شه اوس ئې نه شي غوښتے -

مسئله ۱۲:- که خاوند په په زور په وهلو وټکولو معاف کړ نو نه معاف کیږي

مسئله ۱۳:- چه مهر کښې ئې روپۍ پیسے سره چاندي مقرر نه کړه بلکه څه کلے باغ یا زمکه ئې مقرر کړه نو هم جائز دي کوم باغ وغیره چه ئې مقرر کړي دي هغه به ورکوي.

مسئله ۱۴:- که په مهر کښې ئې آس یا هاتي یا بل جانور مقرر کړه لیکن داسے ئې اونه وے چه فلانے آس به ورکوم دا هم جائز دي یو درمیانه آس یا د هغې قیمت دې ورکړي البته که داسے ئې او وے چه یو جانور به ورکوم او دا ئې اونه وے چه کوم یو جانور به ورکوم نو دا مهر صحیح نه دے مهر مثل به ورکوي -

مسئله ۱۵:- چا بے قاعدے نکاح تړلے وه نو په بنځه خاوند کښې جدائي راوستے شوه لکه چا خپل نکاح پټ کړے وه ګواهان په کښې نه وو یا دوه ګواهان وُو لیکن کا نړه وُو د نکاح الفاظ ئې نه وو اوریدلي یا د چا خاوند طلاق ورکړه یا مړ شه او عدت ئې نه وه پوره شوے چه دویم نکاح ئې او کړه یا داسے بله څه بے قاعدګي په کښې شوے وه نو په دے وجه ئې د دواړو په منځ کښې جدائي راوسته لیکن تر اوسه دوه کوروالے نه وُو کړے نو هیڅ مهر ئې نشته اګر که یو ځائے پاتے شوي هم وي البته که کوروالے ورسره کړے وه نو مهر مثل به ورکوي - لیکن که د نکاح په وخت کښې ئې څه مهر مقرر کړے وه او مهر مثل د هغې نه زیات وُه نو هغه مقرر شوے مهر به ورکوي مهر مثل نه -

مسئله ۱۶:- که چا د خپلے بي بي په ګمان په غلطۍ سره د بلے بنځے سره کوروالے او کړه نو هم به مهر مثل ورکوي او دیته به زنا نه شي ویلے او نه ئې ګناه شته بلکه که کیږه ئې شوه نو دا بچے هم حرامي نه دے نسب ئې صحیح دے - او که ورته معلوم شو چه دا خو زما بنځه نه وه نو اوس دے د بنځے نه جدا شي اوس ورسره کوروالے کول جائز نه دي - او په دے بنځے هم عدت تیرول واجب دي - اوس بغیر عدت تیرولو نه دا د خپل خاوند سره نه شي اوسیدے[1] او نه ورسره کوروالے کولے شي -

مسئله ۱۷:- کوم ځائے چه په اوله شپه د ټول مهر ورکولو دستور وي هلته په اوله شپه د ټول مهر غوښتو بنځے ته اختیار شته خو که اوس غواړي نو چه کله غواړي

---

[1] د اوسیدو مراد یو ځائے کیدل دي د خاوند سره ۱۲

غو ښتې شي په سړي ئې ورکول واجب دي حصاره ول ئې ګناه دے -

مسئله ۱۸ :- په هندوستان کښې دستور دے چه د مهر لین دین د طلاق قویا د مرګ نه پس وي چه کله ورته طلاق ملاؤ شي نو د مهر دعوی کوي یا سړے مړ شي او څه مال پریدي نو د ښځې نه اخلي یا که ښځه مړه شي نو وارثان ئې د مهر دعوی دار شي - او تر څو چه ښځه خاوند د یو ځل سره اوسي نو نه ئې څوک غواړي او نه ئې څوک ورکوي نو که طلاق ونه شي او مړه شي نو ورکوي نو د طلاق نه اول څوک د مهر دعوی نه شي کولے - البته په اوله شپه چه څومره د پیشګي مهر ورکولو دستور دے هغه مخکښې ورکول واجب دي هاں که په یو قوم کښې داستور نه وي نو د هغوی پاره به دا حکم نه وي -

مسئله ۱۹ :- د څومره مهر چه د اول ورکولو دستور دے دومره که مخکښې ورنه کړی نو د ښځې دا اختیار شته چه تر څومره دومره مهر ورنه کړي خاوند ځان ته نه پریدي او که یوه پیره ورسره کور والے اوکړي هم ئې حق شته چه په دویم یا دریم وار ئې نه پریدي او که د ځان سره ئې په سفر بیائي نو هم ئې حق شته چه نه ځي ورسره تر څو چه ئې دغه هومره مهر نه وي ورکړے - دغه شان که ښځه په دغه حالت کښې د خپل محرم خپلوان سره په سفر ځي یا د خپل پلار کره ځي نو سړے ئې نه شي منع کولے - او کله چه ئې ورله دومره مهر ورکړه نو اوس بغیر د خاوند د اجازت نه هیڅ نه شي کولے بغیر د هغه د رضا نه ئې چرته تلل راتلل هم جائز نه وي او چه خاوند ئې چرته بیائي انکار کول تے جائز نه دي -

مسئله ۲۰ :- د مهر په نیت سره ورله خاوند څه ورکړه نو چه څومره ئې ورکړه دومره مهر ادا شه - د ورکولو په وخت کښې ښځې ته دا خودل ضروري نه دي چه دا مهر درکوم -

مسئله ۲۱ :- خاوند ورله څه ورکړه لیکن ښځه وے چه دا دے هسے راکړی دي مهر نه دے او سړي وے چه په مهر کښې م درکړي دي نو خبره د خاوند معتبره ده - البته که د خوراک سکاک څه شے وه نو مهر به نشي ګنړلے او د خاوند خبره به معتبره نه وي -

باب

د مهر مثل بیان

مسئله ۱ :- د خاندانی مهر یعنے مهر مثل مطلب دا دے چه د ښځې د پلار په کورنۍ کښې څوک بله داسے ښځه او ګوره چه د دے مثل وي یعنے که دا کم عمرے ده نو چه هغه هم د نکاح په وخت کښې کم عمرے وي - که دا ښائسته ده نو چه هغه هم ښائسته وي د دے نکاح په پیغلتوب کښې وي نو چه د هغې نکاح هم په پیغلتوب کښې شوے وي - د نکاح په وخت کښې چه څومره مالداره داوي نو چه دومره هغه وه په کوم ملک کښې چه دا اوسي په هغې کښې هغه وه - که دا دینداره هوښیاره سلیقه داره او تعلیم یافته وي نو داسے هغه وه - غرض کوم وخت کښې د هغې نکاح کیدا او

په څه حالت کښے وه نو چه دا اوس هم په هغې حالت کښے وی نو کوم مهر چه دَ هغې مقرر شوے وه هغه دَ دے مهرِ مثل دے۔

مسئله ۲:- دَ پلار دَ کورنئ دَ ښځو نه مراد لکه دَ دے خویاندے ترورانے دَ تره لونړه وغیره۔ په مهرِ مثل کښے دَ مور مهر نه شی کتے البته که مور ئے هم دَ پلار دَ خاندان نه وه لکه دَ پلار دَ تره لور ئے وه۔ نو بیا دَ هغې مهر ته به هم مهرِ مثل وئیلے شی۔

باب دَ کافرانو دَ نکاح بیان

مسئله ۱:- کافران چه دَ خپل خپل مذهب په اعتبار سره په کومه طریقه نکاح کوی په شریعت کښے هغه معتبر گڼړلے شی او چه دواړه یو ځائے مسلمانان شی نو نکاح دوباره کولو ته ئے ضرورت نِشته هغه نکاح ئے اوس هم باقی دے۔

مسئله ۲:- که په دواړو کښے یو مسلمان شه او بل نه نو نکاح ئے مات شه۔

مسئله ۳:- که ښځه مسلمانه شوه او سړے نه دے نو چه دَ درے حیضه[1] ئے نه وی شوی بل نکاح ورله جائز نه دے۔

باب په ښځو کښے برابری کولو بیان

مسئله ۱: دَ چا چه ډیرے ښځے وی نو په سړی واجب دی چه ټولے برابر ساتی څومره چه یوے ښځے له ورکوی بله هم دَ هغې هومره دعوه کولے شی خواه که دواړه پیغلے وی او که دواړه کونډے اغستے وی او یا یوه پیغله او بله ئے کونډه اغستے وی۔ دَ ټولو یو حکم دے۔ که دَ یوے سره یوه شپه پاتے شه نو دَ بلے سره به هم یوه شپه پاتے کیږی۔ که دَ یوے سره دوه یا درے شپے پاتے شه نو دَ بلے سره به هم دومره شپے پاتے کیږی څومره کالی جامے چه یوے له ورکوی دَ دومره دعوٰی هغه بله هم کولے شی۔

مسئله ۲:- دَ چا چه نوے نکاح اوشی او دَ کومے چه زوړه دے دواړو حق برابر دے۔

مسئله ۳:- برابری صرف دَ شپے په پاتے کیدو کښے ده دَ ورځے په برابری کښے څه ضرورت که دَ ورځے دَ یوے سره زیات پاتے شه او دَ بلے سره کم نو هیڅ باک نِشته او دَ شپے برابرئ واجب دے نو که یوے کره دَ مابنام نه پس لاړه او دَ بلے کره دَ ماسختن نه پس راغے نو گناه گار شه البته که دَ یو سړی دَ شپے نوکری وه دَ ورځے به کور وه دَ شپے به په نوکرئ کښے وه لکه څوکیدار پهره دار نو دَ هغه دَ پاره دَ ورځے دَ برابرئ حکم دے۔

مسئله ۴:- په کور والی کولو کښے برابری واجب نه ده چه دَ دے په وار کښے ئے کور والے کړے دے نو دَ دے بلے په وار کښے به هم کوی دا ضروری نه ده۔

مسئله ۵:- سړے که جوړ وی او که ناجوړه خو په پاتے کیدو کښے به برابرے کوی۔

---

[1] او که دَ دوړ والی یا دَ کوچنوالی په وجه ئے حیض نه کیده نو درے میاشتے به تیره وی او که حامله وه نو چه حمل ئے اوشی ۱۲

مسئله ۶:- د زړه مینه که ئې ډیوے سره ډیره وه او یلے سره که نو په ډکنه دے پښولے۔
مسئله ۷:- په سفر کښے د ټولو د پاره برابری واجب نه ده کومه چه غواړی بو تلے شی خو غوره دا ده چه خسنړے اوکړی نو چه د کومے راوخیژی حقه دے بو ځی چه خفګان نه وی

باب ۹ دَ تی ورکولو بیان

مسئله ۱:- چه بچے پیدا شی نو په مور ورله پئ ورکول واجب دی البته که پلار ئے مالدار وه او څوک دائی ئے پیدا کولے شوه نو بیا دے له په تی نه ورکولو کښے ګناه نشته۔
مسئله ۲:- د بل بچی له بغیر د خاوند د اجازت نه تئ ورکول جائز نه دی۔ البته که یو بچے د لوږے مړ کیده او د ضائع کیده ویره ئے وه نو بیا ورکولے شی بے اجازته۔
مسئله ۳:- د پیو ورکولو د زیاتو نه زیاته موده دوه کاله ده د دوه کالو نه پس پئ ورکول حرام دی بالکل جائز نه دی۔
مسئله ۴:- که بچی خوراک شروع کړه او د دوه کالو نه مخکښے ئے د تی نه پریکړه ګناه نشته
مسئله ۵:- چه بچی د پلے ښځے تے او خوړ نو دغه ښځه د ده مور شوه او د دغے ښځے رپئ ورکولے) خاوند د دے بچی پلار شه او د دوی اولاد ئے رضاعی خویانے رونړه شو او نکاح حرام شه او کومے رشتے چه د نسب په اعتبار سره حرامے دی هغه د رضاعت په اعتبار سره هم حرامے دی لیکن د ډیرو عالمانو په فتویٰ سره دا حکم هله دے چه بچی په دوه کاله کښے دننه تے خوړلے وی۔ او د دوه کالو پس که بچی د یوے ښځے تے او خوړ نو د دے هیڅ اعتبار نشته په دے هیڅ نه کیږی۔ نو که نکاح کوی جائز دے۔ لیکن د امام اعظم ابوحنیفهؒ په نزد که په دوه نیم کاله کښے دننه ئے تے او خوړ نو هم نکاح جائز نه دے۔ او که د دوه نیم کاله نه پس ئے تے او خوړ بیا خو د هغے بالکل څه اعتبار نشته د ټولو امامانو په نزد نکاح جائز دے۔
مسئله ۶:- چه د بچی حلق ته پئ لاړه نو دغه ذکر شوے ټولے رشتے حرامے شوے که پئ لږ وی او که ډیر د لږ ډیر څه اعتبار نشته۔
مسئله ۷:- که په سینه ئے ورله خوله نه وه ایخودے بلکه دے پئ او لوشل او د هغه حلق ته لاړه نو په دے هم ټولے رشتے حرامے شوے که د بچی په پوزه کښے ئے پئ واچول نو هم ټولے رشتے حرامے شوے او که په غوږ کښے دا چول د دے څه اعتبار نشته۔
مسئله ۸:- که د ښځے پئ په اوبو یا دوائی کښے خلط شو او بچی او سکل نو او کوره چه پئ زیات دی او که اوبه یا دوائی او که برابر دی۔ نو که پئ زیات یا برابر وو نو ښځه ئے مور شوه او ټولے رشتے حرامے شوے او که اوبه یا دوائی زیاته وه بیا هیڅ نه کیږی۔
مسئله ۹:- د ښځے پئ د پیزے یا د غوا د پیو سره ملاؤ شو او بچی او سکل نو او کوره چه کوم زیات دی که د ښځے پئ سوا وو یا برابر وو نو ښځه مور شوه رشتے حرامے شوے

او که د بینځې یا غواګانې زیات وو بیا هیڅ نه کیږي بنځه مور نه شوه.

مسئله ۱۱:- که د یوې پیغلې لا واده جینۍ په سینه کښې پۍ راغله او چې او سکل نو په دې سره هم ټولې رشتې حرامې شوې (البته که جینۍ د نهو کالو نه کمه وه بیا په هیڅ نه کیږي)

مسئله ۱۱:- د مړې بنځې پۍ یو چې او خوا پرې نو هم په ټولې رشتې حرامې شوې.

مسئله ۱۲:- دوه بچو د یوې بیږې یا غواګانې او سکل نو په دې نه خور ورور کیږي.

مسئله ۱۳:- ځوان سړی د خپلې بنځې پۍ او سکل نو ښځه په ده حرامه نه شوه البته ډیر ګناه ګار شه ځکه چې د دوه کالو پس د بنځې پۍ سکل حرام دي.

مسئله ۱۴:- یو هلک یوه جینۍ دوه اړو د یوې بنځې پۍ خوړلی دی نو د دوی نکاح نه کیږي خواه که په یوه زمانه کښې ئې سکلي وي او که یو اول بل څو کاله پس یو حکم دے.

مسئله ۱۵:- یوې جینۍ د باقر بنځې ته او خوړ نو د دغې جینۍ نکاح نه د باقر سره کیږي نه د باقر پلار نیکه سره او نه د باقر د اولاد سره بلکه د باقر که د پلې بنځې نه اولاد وي د هغوی سره ئې هم نکاح نه کیږي.

مسئله ۱۶:- عباس د خدیجې ته او خوړ او د خدیجې د خاوند قادر یوه بله بنځه وه زینب چه طلاق ئې ورله ورکړه نو عباس د زینب سره نکاح نه شي کولے ځکه چه عباس د زینب د خاوند اولاد دے او د خاوند د اولاد سره نکاح نه کیږي دغه شان که عباس خپله بنځه پریدی نو هغه بنځه د قادر سره نکاح نه شي کولے ځکه چه دے ئې سخر دے. او د قادر د خور او د عباس نکاح نه کیږي ځکه چه دا دواړه ترور وراره دي خواه که دغه د قادر سکه خور وی او که رضاعي د دواړو یو حکم دے. البته د عباس د خور سره قادر نکاح کولے شي.

مسئله ۱۷:- د عباس یو خور ساجده ده ساجدې د یوې بنځې ته خوړلے دے لیکن عباس نه دے خوړلے نو د دغې پۍ ورکونکې بنځې ساجدې له د عباس سره نکاح کیږي.

مسئله ۱۸:- د عباس لور د زاهدې پۍ او سکل نو د زاهدې نکاح د عباس سره کیږي

مسئله ۱۹:- قادر او ذاکر دواړه رونړه دي او د قادر رضاعي خورده نو د ذاکر سره د دې نکاح کیږي البته د قادر سره نه کیږي. دا سې مسئلې ډیرې مشکلې دي د عوامو د پوهې نه دي نو که دا سې موقع راشي د پوهه عالم نه ځان پوه کول پکار دي.

مسئله ۲۰:- یو سړی یو بنځه په نکاح واغسته بیا بله بنځه راغله هغې او وې چه ما خو دے دواړو له تے ورکړې دے او د دے یوې بنځې نه علاوه بل ګواه په دے پیو ورکولو نشته نو فقط د دے په وینا د پیو رشته نه ثابتیږي نکاح ئې جائز دے بلکه کله چه دوه معتبره او دینداره سړي یا یو دیندار سړے او دوه دینداره بنځې د پیو ګواهي اوکړي نو د رشتې ثبوت به اوشي او اوس به نکاح حرام شي

بغیر د داسے گواهئ نه ثبوت نه کیږی لیکن که فقط دیو سړی یا یوے ښځے په وینا یا د دوه دریے ښځو په وینا زړه گواهی ورکوله چه دوی رشتیا وائی ضرور به داسے شوی وی نو بیا نکاح نه دی کول پکار او که چا اوکړه نو بیا هم خیر دے او شو۔

مسئله ۲۱:- د ښځے پئ په دوائی کښے غوړزول جائز نه دی او که او غوړزه ولے شو نو اوس د هغے دوائی خوړل او لیږل جائز نه دی حرام دی دغه شان د دوائی د پاره ئے په غوږ یا سترګو کښے اچول هم جائز نه دی غرض دا چه د انسانی شو دو نه فائده اغستل او په څه کار کښے راوستل جائز نه دی۔

دَ طلاقو بیان

مسئله ۱:- کوم خاوند چه ځوان وی لیونے او پاګل نه وی د هغه په طلاقو سره طلاق واقع کیږی۔ او د نابالغ لیونی او پاګل طلاق نه واقع کیږی۔

مسئله ۲:- په اوده د چا د خولے نه او وته چه ته طلاقه ئے یا ئما بی بی په ما طلاقه ده نو طلاق نه واقع کیږی۔

مسئله ۳:- که چا په زور په چا طلاق اوغوړزول او ئے واهه او ئے تکاؤ چه که ښځه نه طلاقوے نو مړ کوم دے او ده طلاق اوغوړزه ول نو واقع شو۔

مسئله ۴:- که چا د شرابو په نشه کښے ښځے له طلاق ورکړه او چه نشه ترے لاړه نو خپیا نه شو نو هم طلاق واقع شو۔ دغه شان د غصے نه ئے طلاق ورکړه هم واقع شو۔

مسئله ۵:- د خاوند نه سوا بل چا له د طلاقو ورکولو اختیار نشته البته که خاوند ورته اووے چه ته ورله طلاق ورکړه نو بیا هغه هم ورکولے شی

بابٌ دَ طلاقو ورکولو بیان

مسئله ۱:- د طلاقو ورکولو اختیار فقط سړی له دے چه سړے طلاق ورکړی نو واقع به شی د ښځے په دے کښے هیڅ اختیار نشته که منظوره وی او که نه طلاق اوشو او ښځه سړی له طلاق نه شی ورکولے۔

مسئله ۲:- سړی له فقط د دریے طلاقو ورکولو اختیار دے د زیاتو نشته که څلور پنځه طلاق ئے ورکړه بیا هم دریے واقع شو۔

مسئله ۳:- کله چه سړی په ژبه اووے چه ما خپلے بی بی له طلاق ورکړه او دومره په زوره ئے اووے چه پخپله ئے الفاظ واوریده بس طلاق واقع شو که د چا په مخکښے اووائی او که یواځے که بی بی ئے واوری او که نه۔ طلاق واقع شو۔

مسئله ۴:- طلاق په دریے قسمه دی۔ یو هغه چه نکاح په کښے بالکل ماتیږی او بغیر د نوی نکاح نه ئے خاوند نه شی ښځه کولے نو که پاتے کول ئے غواړی بیا به دوسره نکاح تړی د یته طلاق بائن وائی۔ دویم هغه چه نکاح په کښے داسے مات

شي چه دَ عدت تیریدو نه پس به دَ بل سره نکاح اوکړي او چه خښه ئے بیا طلاق کړي او عدت ئے تیر شي نو هله به ورسره دے دوباره نکاح کولے شي دے ته طلاق مغلظ وائي۔ دریم داچه نکاح پرے نه دے مات په صفا لفظو کښے په یو یا دوه طلاقو ورکولو پس که سړے خپیما نه شه نو بیا نکاح کول ضروري نه دي بغیر نکاح نه ئے هم پاتے کولے شي بیا دَ ښځے خاوند پښتان او سیدے شي۔ البته که سړے ستومان نه شه او په طلاقو قائم وه او عدت تیر شه نو او س طلاق واقع شو نکاح مات شه۔ او ترڅو چه عدت نه وي تیر شوے دَ سړي اختیار دے چه که ساتي ئے او که نه دا سے طلاقو ته رجعي طلاق وائي۔ البته که درے طلاق ورکړي بیا ئے اختیار نشته۔

مسئله ۵:۔ دَ طلاق ورکولو دوه قسمونه دي یو داچه په صفا صفا الفاظو کښے او وائي چه ما تاله طلاق درکړه یا او وائي چه ما خپلے بي بي له طلاق ورکړه غرض دا سے صاف الفاظ او وائي چه دَ طلاقو نه سوا بله معني تے نه شي مراد کیدا ے دا سے طلاقو ته صریح وائي۔ دویم قسم دادے چه صاف صاف الفاظ او نه وائي بلکه کول مول لفظ او وائي چه دَ طلاقو معني تے هم مراد کیدے شي او بله معني هم لکه دا سے او وائي چه ما ته لرے کړے نو دَ دے یو مطلب طلاق دے او بل مطلب ئے دا دے چه دَ ځان سره دے نه ساتم دَ پلار کره کینه ځما دربا ندے څه کار نشته۔ یا دا سے او وائي چه ځما سره ستا سره څه واسطه نشته ځما سره ستا سره څه مطلب نشته۔ ته ځما نه جدا شوے ما ته ځا نله کړے ځما دَ کور ه څه او وځه، په څنګ شه لرے شه۔ دَ خپل مور و پلار ره سر کینه۔ خپل کور ته څه ځما ستا جوړه نه راځي۔ او دا سے نور الفاظ دے ته طلاق کنایه وائي۔

مسئله ۶:۔ که په صافو الفاظو کښے ئے طلاق ورکړه نو دَ ژبے نه دَ وتو سره واقع شو دَ طلاقو نیت ئے وي او که نه او که هسے په خندا کښے ئے ویلي وي په هر شان طلاق واقع شو۔ او په صافو الفاظو سره دَ طلاق ورکولو سره دَ دریم قسم طلاق واقع کیږي یعنے دَ عدت ختمید و پورے ده ته دَ پاتے کولو او نه پاتے کولو اختیار نشته۔ او په یو وار ویلو سره یو طلاق واقع کیږي دوه او درے نه۔ البته که درے پیرے او وائي یا او وائي چه تاله درے طلاق ته دي نو بیا درے واقع شو۔

مسئله ۷:۔ چا یو طلاق ورکړه نو ترڅو پورے چه ښځه په عدت کښے وي دَ دویم او دریم طلاق ورکولو اختیار ئے دے که ورکړي نو واقع به شي۔

مسئله ۸:۔ که چا دا سے او وے چه تاله به طلاق درکوم نو طلاق واقع نه شو که دغه شان دا سے ئے او وے چه که فلانے کار دے اوکړه نو طلاق به درکړم نو بیا هم طلاق نه دي شوي که هغه کار اوکړي او که نه۔ لیکن که دا سے ئے او وے چه که فلانے کار دے اوکړه نو ته طلاق ئے نو دَ هغے کار په کولو به طلاق ته شي۔

مسئله ۹:- که چا طلاق ورکړه او انشاء الله ئې ورسره اووے نو طلاق واقع نه شو۔ دغه شان که داسے ئې اووے چه که خدائے اوغوختلو نو تا له طلاق یه دے هم هیڅ قسم طلاق نه واقع کیږی۔ اوکه د طلاق نه یو ساعت پس ئې انشاء الله اووے نو بیا طلاق واقع شو۔

مسئله ۱۰:- چا خپلے بی بی ته آواز اوکه او طلاق قه ئې ورته اووے نو هم طلاق واقع شو اګر که په خندا کښے وی۔

مسئله ۱۱:- که چا اووے چه که ته لکهنؤ ته لاړے نو طلاق قه ئې نو ترڅو چه لکهنؤ ته نه وی تلے طلاق نه واقع کیږی او چه لاړه نو طلاق واقع شو۔

مسئله ۱۲:- که په صافو الفاظو سره ئې طلاق ورنه کړه بلکه ګول مول الفاظ ئې اووے او په اشاره کنایه سره ئې طلاق ورکړه نو که د طلاق نیت ئې وه نو اول قسم طلاق بائن واقع شو۔ اوس ئې بغیر نکاح نه نه شی ساتلے او که د طلاق نیت ئې نه وه بلکه د څه بلے معنی په اعتبار سره ئې ویلی وو نو طلاق واقع نه شو۔ البته که په قرینه سره معلومیده چه د طلاق نیت ئې وه اوس دروغ وائی نو اوس ورسره ښځه نه شی پاتے کیدے او داسے ګڼړی چه ما ته طلاق ملاؤ شو۔ لکه بی بی د غصے نه اووے چه ستا سره زما ګذاره نه کیږی ما له طلاق راکړه او خاوند اووے ښه ده ما پریخودے نو دا لته ښځه داسے او ګڼړی چه ما له ئې طلاق راکړه۔

مسئله ۱۳:- که چا درے پیرے اووے چه ته طلاق قه ئې طلاق قه ئې طلاق قه ئې نو درے طلاق واقع شو یا په ګول مول الفاظو کښے ئې درے پیرے اووے بیا هم درے طلاق واقع شو۔ لیکن که نیت ئې د یو طلاق وه او د مضبوطئ د پاره ئې درے پیرے ویلی وو چه خبره ښه پخه شی نو یو طلاق واقع شه۔ لیکن ښځے ته د هغه د زړه حال معلوم نه دے نو داسے دِ ګڼړی چه دے ته درے طلاق ملاؤ شو۔

باب ۱۲ دَ واده کیدو نه مخکښے یا پس دَ طلاقو بیان

مسئله ۱:- اوس لا د خاوند کره واده شوے نه وه چه هغه طلاق ورکړه یا واده شوے وه لیکن لا تر اوسه ښځه خاوند نه وه یوائے شوی په داسے یوازے والی سره کوم چه په شریعت کښے معتبر دے او بیا ئې په مهر کښے شوے دے او خاوند ورله طلاق ورکړه نو طلاق بائن واقع شو که په صافو الفاظو سره وی او که په ګول مول داسے ښځے له چه طلاق ورکړے شی نو د اول قسم طلاق بائن واقع کیږی او د داسے ښځے د پاره د طلاق قو عدت هم نشته فوراً د بل سړی سره نکاح کولے شی او داسے

له محو په دے شرط چه دا د دے دوهم نکاح وی او اول خاوند دا طلاق کړے نه وی او که هغه طلاق کړے وی او خاوند فا لی چه ما ورته په هغے وجه طلاق ویلی دی د طلاق نیت م نه دی ویلی نو دیانةً د هغه قول معتبر دے او قضاءً هم په صحیح قول سره ۱۲

ښځې له دیو طلاق د ورکولو پس اوس د دویم او دریم طلاق ورکولو اختیار هم نشته
که ورکړې نو نه واقع کیږي - البته که په اوله پیره ئې دوه طلاق یا درے طلاق
اووے نو واقع شو او که داسے اووائي چه تا له طلاق دی طلاق دی طلاق دی هم یو واقع شه
نوټ :- مسئله ۲ حسب اجازت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی حذف کړے
شویده وجه د حذف او مفصل کلام ئې په ضمیمه صـ باندے اوګورئ -

مسئله ۳ :- د خاوند کور ته د واده کیدو او د ښځې خاوند ته یوائې پاتے کیدو سره
که کوروالے هم اوشه او که هغه نه پس ئې یو یا دوه طلاقه په صافو لفظونو کښې
ورکړه نو طلاق رجعي دی او که په ګول لفظونو کښې وو نو طلاق بائن شو په رجعي
کښې د رجوع حق شته او په بائن کښې نشته - البته که درے طلاق ئې ورکړه
نو د هغې سړي سره نوے نکاح (چه ښځه خاوند دواړه راضي وي) په عدت کښې
دننه هم کیدے شي او د عدت نه پس هم او د بل سړي سره پس د عدت نه کیدے
شي - او عدت به په هر صورت کښې لازم وي او ترڅو چه عدت ختم نه وي دویم
او دریم طلاق هم ورکولے شي - او که یوائې والے ئې داسے اوشه چه د کوروالي
نه طبعي یا شرعي مانع نه وه مګر کوروالے او نه شه نو په دے صورت کښې که په
صافو لفظونو کښې طلاق ورکړه یا په ګول لفظونو کښې په دواړو صورتونو کښې
طلاق بائن واقع شو او عدت به هم واجب وي او د رجوع حق به نه وي
او بغیر عدت پوره کولو د بل سړه نکاح هم نه شي کولے (هاں د هغې سړي سره
رجه طلاق ئې ورکړي) دوباره نکاح په عدت کښې دننه او د عدت په ختمیدو
په هر حال کښې کولے شي - خو شرط دا دے چه درے طلاق ئې نه وي ورکړي -

باب ۱۳ د درے طلاقو ورکولو بیان

مسئله :- که چا خپلے ښځې له درے طلاق ورکړه نو اوس دغه ښځه بالکل
په دے سړي حرامه شوه اوس ورسره بیا نکاح هم نه شي کولے او که ئې اوکړه
نو نه درے شوے که په صافو الفاظو سره ئې درے طلاق ورکړي وي او که په
ګول مول الفاظو سره د ټولو یو حکم دے - (په دے شرط چه درے واړه طلاق
واقع شوي وي - یو وار ئې طلاق بائن ورکړه بیا ئې نکاح اوکړه بیا ئې طلاق بائن
ورکړه بیا ئې نکاح اوکړه بیا ئې طلاق بائن ورکړه اوس نکاح هم جائز نه دے)
اوس که د دغې سړي سره پاتے کیدل غواړي او نکاح کول غواړي نو د هغې
فقط یو صورت دے او هغه دا چه اول به د یو بل سړي سره نکاح او کړي
او کوروالے نو چه بیا هغه مړ شي یا ئې طلاق ورکړي نو د عدت پوره کولو پس د دے اولني
بیا نکاح کولے شي خو بغیر د دویم خاوند کولو نه د دے اولني سره نکاح نه شي کولے او که دویم

خاوند ئې اوکړه لیکن هغه ورسره لا کوروالے نه وه کړے چه مړ شه یا ئې طلاق کړه نو د هغې هیڅ اعتبار نشته د اول سره به ئې هله نکاح کیږی چه دغه دویم وسره په نکاح کوروالے هم اوکړی او بیا عدت تیر کړی۔

مسئله ۲:- درے طلاقه په یو ځائے ورکړی لکه داسے اووائی چه تا له درے طلاق یا تا له طلاق دی طلاق دی طلاق دی یا جدا جدا درے طلاقه ورکړی مثلاً یو نن ورکړی یو صبا یو بل ورځ۔ یا یو په دے میاشت کښے بل په بله میاشت کښے بل په دریمه میاشت کښے یعنی په عدت کښے دننه درے طلاقه ورکړی د ټولو یو حکم دے او په صافو لفظونو کښے ئې طلاق ورکړی نو د پاتے کولو اختیار ئې هله وی چه یو یا دوه طلاق ورکړی درے طلاق ورنه کړی۔ کله چه درے طلاق ورکړی او س هیڅ نه کیږی

مسئله ۳:- چا خپلے ښځے له یو طلاق رجعی ورکړه بیا سرے راضی شه او پاتے ئې کړه بیا دوه څلور کاله پس په څه خبره غصه شه نو یو طلاق رجعی ئې بل ورکړه. چه د پاتے کولو اختیار ئې په کښے وه او بیا راضی شه پاتے ئې کړه دا دوه طلاقه شو او س که ئې د دینه پس ورله کله یو طلاق بل ورکړه نو درے به پوره شی او هغه حکم به ئې وی کوم چه بره په مسئله کښے بیان شه چه بغیر د بل خاوند کولو ئې د ده سره نکاح نه کیږی۔ دغه شان که چا طلاق بائن ورکړه چه په هغې کښے د پاتے کولو اختیار نه وی نکاح مات شوه۔ او بیا خپیا نه شه او ښځه خاوند راضی شو بیا ئې نکاح اوتړه۔ څه زمانه پس بیا غصه شه او یو طلاق بائن ئې ورکړه او بیا راضی شو نکاح ئې اوکړه نو دا دوه طلاقه شو او س که دریم وار ئې طلاق ورکړه نو بیا هغه حکم دے چه بغیر د دویم خاوند کولو د ده سره نکاح نه شی کولے۔

مسئله ۴:- که د دویم سړی سره ئې په دے شرط نکاح اوکړه چه د کوروالی کولو نه پس به بیا ښځه پریدی نو دے اقرار له هیڅ اعتبار نشته د ده اختیار دے که ئې پریدی او که نه او چه کله ئې زړه غواړی او پریدی ئې۔ او د دے اقرار کولو سره نکاح کول ګناه او حرام دی الله تعالیٰ پے لعنت وائی لیکن نکاح کیږی نو د داسے نکاح نه پس که ورسره ده کوروالے اوکړه او پرے ئې خوده نو د اول خاوند د پاره حلال له شوه (د عدت نه روسته بیا نکاح کول)۔

باب ۱۴ په څه شرط د طلاقو ورکولو بیان

مسئله ۱:- د نکاح نه اول ئې یوے ښځے ته او وے که ما ستا سره نکاح اوکړه نو ته به طلاقه ئې نو چه کله ئې ورسره نکاح اوکړه نو یو طلاق

بائن واقع شه اوس ئې په غیر د نکاح کولونه شي پاتې کولې - او که داسې اووائي چه که ستا سره م نکاح اوکړه نو پتا دې دوه طلاقه وي نو دوه طلاق بائن شو او که درې ئې ویلي وو نو درې طلاق واقع شو او اوس طلاق مغلظ شو -

مسئله ۲:- چه د نکاح کولو سره پې طلاق واقع شو او بیا ئې د هغې سره نکاح دوباره اوکړه نو په دې دویم نکاح اوس طلاق نه واقع کیږي - لیکن که داسې ئې ویلي وو چه څو پیرې درسره نکاح کوم نو په هر وار به ته طلاقه ئې نو په هر پیره به طلاق واقع کیږي - او س د دې ښځې د پاتې کولو هیڅ صورت نشته که د بل خاوند سره نکاح اوکړي او بیا د دهٔ سره کوي هم طلاقه کیږي -

مسئله ۳ که چا اووې چه د کومې ښځې سره نکاح کوم هغه دې طلاقه وي نو د کومې سره چه نکاح کوي طلاق به ئې واقع کیږي البته د طلاق قید و نه پس که بیا د دغې ښځې سره نکاح کوي نو طلاق پې نه واقع کیږي -

مسئله ۴:- پردې ښځې ته ئې اووې که تا فلانې کار اوکړه نو ته به طلاقه ئې نو په دې هیڅ نه کیږي - که د دغې ښځې سره ئې نکاح اوکړه او د نکاح نه پس هغې هغه کار اوکړه هم نه طلاقه کیږي حُکم چه د پردئې ښځې سره د طلاق تو صرف دغه صورت دې چه که ستا سره م نکاح اوکړه نو ته به طلاقه ئې په بله طریقه طلاق نه واقع کیږي -

مسئله ۵:- او که خپلې بی بی ته ئې اووې چه که تا فلانې کار اوکړه نو طلاقه به ئې او که څما د خوا نه لاړې نو طلاقه به ئې او که دې کورته لاړې نو طلاقه به ئې یا په بله څه خبره ئې طلاق درکړه نو کله چه هغه کار اوکړي طلاق به واقع شي - او که نه کوي نو نه واقع کیږي او طلاق رجعي واقع کیږي چه بغیر نکاح ئې هم د پاتې کولو اختیار شته البته که کول مول الفاظ ئې ویلي وُه نو بیا به طلاق بائن واقع شي خو په دې شرط که د سړي د دې لفظ نه مراد د طلاق و نیتا وه -

مسئله ۶:- که داسې ئې اووې چه که فلانې کار دِ اوکړه نو تا له دوه طلاقه یا درې طلاقه نو چه څومره ئې ویلي وي هغه به واقع شي -

مسئله ۷:- خپلې بی بی ته ئې اووې که دې کورته لاړې نو طلاقه ئې نو هغه لاړه نو طلاق واقع شو بیا په عدت کښې دننه هغه پاتې کړه یائې ورسره بیا نکاح اوکړه او اوس بیا لاړه نو بیا طلاق نه واقع کیږي البته که داسې ئې ویلي وُه چه که څو پیرې لاړې نو په هر پیره به طلاقه ئې یا داسې چه کله ته دې کورته ځې نو هر وار به طلاقه ئې نو په دې صورت کښې که په عدت کښې دننه یا بیا د نکاح کولو نه پس دویم وار تلو سره به بیا طلاق واقع شي او که په دریم وار بیا داسې اوشو نو دریم طلاق

به واقع شي - او د اوس ئې د ده سره د دويم وار طلاق قيد ونه پس نکاح نه کيږي ليکن
که دويم خاوند کولو نه پس بيا دے سړي په نکاح واغستله او اوس هغې کور ته
لاړه نو طلاق نه واقع کيږي -

مسئله ۸:- که چا خپلې ښځې ته اووے چه فلانے کار دے اوکړه نو ته به طلاقه ئې
هغې لا هغه کار نه وه کړے چه ده ورله د خپل طرفه يو بل طلاق ورکړه او پريښوده
ئې او څه موده پس ئې د هغې ښځې سره بيا نکاح اوکړه او د دے نکاح نه پس دے
هغه کار اوکړه نو بيا طلاق واقع شو - البته که د طلاق او عدت تيريدو نه
پس او د دے نکاح نه مخکښې دے هغه کار کړے وه - نو اوس د دے نکاح نه
پس د هغې کار په کولو سره طلاق نه واقع کيږي - او که د طلاق نه پس په عدت
کښې دننه ئې هغه کار کړے وی نو بيا هم دويم طلاق واقع شه -

مسئله ۹:- چا خپلې ښځې ته اووے که تا له حيض راغې نو طلاقه به ئې نو د وينه
پس هغې وينه اوليده نو اوس د طلاق حکم نه شي لګيدے ترڅو چه درے ورځې
او شپې وينه نه وی راغلې نو د درے ورځو او درے شپو نه پس به حکم لګي چه
د کومے ورځې نه وينه راغلې ده د هغې وخت نه طلاق واقع شوی دی او که داسې
ئې اووے چه کله تا له يو حيض راغې نو تا له طلاق دی نو د حيض په ختميدو به
طلاق واقع شي -

مسئله ۱۰:- که چا خپلې ښځې ته اووے چه که تا روژه اونيوه نو تا له به طلاق وی نو د
روژے نيولو سره به طلاق واقع شي البته که داسې ئې اووے چه که تا يوه روژه اونيوه
نو تا له به طلاق وی نو د روژے په ختميدو سره به طلاق واقع شي او که روژه ئې
ماته کړه نو طلاق به واقع نه شي -

مسئله ۱۱:- ښځه چرته تله کوره با هر نو سړی ورته وے چه اوس مه ځه ښځې
نه منله نو سړی ورته اووے که ته با هر لاړے نو طلاقه به ئې نو حکم ئې دا دے چه که
دغه وخت لاړه نو طلاق به واقع شي او که څه ساعت پاتے شوه بيا لاړه نو نه
واقع کيږي ځکه چه د دے مطلب دا وه چه اوس مه ځه داسې نه چه تول عمر مه ځه -

مسئله ۱۲:- که چا اووے چه کومه ورځ زه ستا سره نکاح اوکړم ته به طلاقه ئې
نو که د شپې ئې نکاح اوکړه هم به طلاقه شي ځکه چه په بول چال کښې ئې دا مطلب دے
چه څه وخت ستا سره نکاح اوکړم ته به طلاقه ئې -

باب ۱۵ د بيمار د طلاقو ورکولو بيان

مسئله ۱:- د بيمارۍ په حالت کښې چا خپلې ښځې له طلاق ورکړه بيا لا د ښځې عدت
نه وه تير شوے چه دغه سړے مړ شه نو د خاوند په مال کښې چه د ښځې څومره حصه وی

دوهمه په دے ښځې ته ملا ویږی که یو طلاق ئے ورکړے وی او که دوه یا درے او
که طلاق رجعی وی او که بائن! او که عدت ختم شه او هغه بیا مړ شه نو بیائے حصه
نشته - او که خاوند ئے د دے بیماری نه جوړ شه بیا ناجوړه شه نو بیائے هم حصه
نشته که عدت ئے ختم شوے وی او که نه وی -

مسئله ۲:- ښځے طلاق غوختلې وه نو خاوند ورله طلاق ورکړه (یعنی بائن) بیا م
د ښځې حصه نشته که په عدت کښے دننه مړ شی او که د عدت نه پس - البته که
طلاق رجعی ئے ورکړی وی (د ښځې په غوښتو وی او که د ځان نه وی) او که رجعی ئے غوختلی وی
او که بائن) او په عدت کښے دننه مړ شو نو حصه به ئے وی -

مسئله ۳:- د بیمارئ په حالت کښے ئے ښځې ته اووے که ته د کوره باهر شوے نو طلاق
بائن به وی ورله نو که ښځه باهر شوه او طلاق بائن واقع شو نو حصه به ئے نه وی ځکه
چه دے پخپله داسے کار ولے کولو - او که داسے ئے اووے چه که تا خوراک او کړه
نو طلاق به ئے په بائنو یا که دے مونځ اوکړه نو طلاق بائن به ئی ورله نو په دے صورت
کښے که په عدت کښے دننه مړ شه نو ښځې ته به حصه ملاویږی ځکه چه طلاق د ښځې
په اختیار نه دی واقع شوی خوراک او مونځ ضروری دی - نه شی پاتے کولے
او که طلاق رجعی ئے ورکړی وه نو په اول صورت کښے به هم په عدت کښے دننه په
مرګ سره حصه بیا موی غرض په طلاق رجعی کښے په هر شان حصه مونده شی په
دے شرط چه په عدت کښے دننه مړ شی -

مسئله ۴:- روغ سړی خپلے ښځې ته اووے کله چه ته د کور نه اُووتے نو طلاق بائن
به وی ورله بیا چه کله دا د کوره اووته هغه وخت هغه ناجوړه وه او په دے
بیماری کښے په عدت کښے دننه مړ شه بیائے هم حصه نشته -

مسئله ۵:- په روغ والی کښے ئے اووے کله چه ستا پلار د مسافرئ نه راشی نو تا له
په بائن طلاق وی نو کله چه هغه د سفر نه راغے نو دغه وخت داسړے بیمار وه او په
هغه بیماری کښے مړ شه نو حصه په ورله نه وی او که په بیمارئ کښے ئے داویلی وو
او په هغے کښے په عدت کښے دننه مړ شه نو حصه به بیا موی -

باب ۱۲ په طلاق رجعی کښے د رجوع کولو بیان

مسئله ۱:- که چا رجعی یو یا دوه طلاق ورکړه نو د عدت
ختم کیدو نه اول اول د سړی اختیار دے چه که پاتے کوی ئے بیا نکاح کولو ته ضرورت نشته
او که ښځه راضی وی او که نه وی د دے هیڅ اختیار نشته او په درے طلاقو کښے دا اختیار نشته -

مسئله ۲:- د رجوع کولو طریقه داده چه یا په ژبه سره صاف صاف اووائی چه زه

تابیا پاتے کوم[1] پریدم دِ نه - یا داسے اووائی چه زهٔ په[2] خپل نکاح کښے تا ته رجوع کوم یا ښځے ته اونه وائی بلکه بل چا ته اووائی چه ما خپله بی بی پاتے کړه د طلاق نه[3] واپس شوم نو پس به وے وینا سره بیا د دهٔ بی بی شوه - د رجوع یوه طریقه دا هم ده چه په ژبه څه اونه وائی بلکه کوروالے ورسره اوکړی یا ئے ښکل کړی یا د ځوانئ په شوق سره ورله لاس وروړی - نو هم ئے بی بی شوه بیا نکاح کولو ته ضرورت نشته -

مسئله۳:- که ښځه پاتے کول غواړی نو غوره داده چه دوه ځلور تنه گواه کړی چه که خلاف راشی نو چه گواهی کوی - که گواهان ئے جوړ نه کړه نو هم رجوع صحیح ده -

مسئله۴:- که د ښځے عدت تیر شه او بیا رجوع کوی نو صحیح نه شی کیدے او س که د ښځے رضا وی نو بیا دِ نکاح اوکړی بے نکاح ئے نه شی پاتے ولے -

مسئله۵:- د کومے ښځے چه حیض کیږی نو د هغے ښځے عدت درے حیضونه دی چه درے حیضه ئے پوره شو نو عدت ئے تیر شه نو که دریم حیض ئے پوره لس ورځے شوے وی او کله چه وینه بنده شوه او س ورځے پوره شوے نو د غه وخت ئے عدت ختم شه او اوس د سړی د پاتے کولو اختیار او س ختم شه که ښځے غسل کړے وی او که نه وی کړے - او که دریم حیض ئے د لسو ورځو نه کم راغلے وه او وینه بنده شوه لیکن لا غسل ئے نه وی کړے او مونځ پے لا نه وی واجب شوے نو لا د سړی اختیار باقی دے که اوس هم سړے رجوع کوی نو کولے شی او بیا به ئے دا ښځه شی لیکن که د وینے بندیدو نه پس ئے غسل او که یا پے د یو مانځه وخت تیر شه یعنے یو مونځ پے قضا واجب شه نو د سړی اختیار ختم شه اوس رجوع نه شی کولے -

مسئله۶:- د کومے ښځے سره چه ئے لا کوروالے نه وی کړے خواه که یوائځے والے راغلے وی ده له په یو طلاق ورکولو سره د رجوع اختیار نه پاتے کیږی ځکه چه داسے وقت طلاق بائن واقع کیږی څه پوهه شه -

مسئله۷:- که دواړه یوائځے پاتے شوی وو لیکن سړے وائی چه ما کوروالے نه دے کړے بیا د دے اقرار نه پس ئے طلاق ورکړه نو اوس د ده د رجوع اختیار نشته -

مسئله۸:- کومے ښځے ته چه یو یا دوه طلاق رجعی ملاؤ شو چه سړی ته په کښے بیا د واپس کیدو اختیار وی نو ښځے له پکار دی چه ښه ډول سنګار کوی چه شاید د سړی زړه ورته مائل شی او رجوع ورته اوکړی - او که د خاوند قصد د رجوع نه وی نو ده له مناسب دی چه کور ته راځی نو اُخ توخ دے کوی نا خاپه دے نه

---

[1] د رجوع سنت طریقه داده چه په ژبه د رجوع الفاظ اووائی او دوه گواهان پے اونیسی ۱۲ [2] که صرف تا نه پریدم ئے اووے نو نه کیږی رجوع بیا تا پاتے کوم الفاظ به ورسره وائی ۱۲ [3] که صرف د طلاق نه واپس شوم ئے اووے نو نه کیږی او که خپله ښځه م پاتے کړه بیا ئے ورسره اووے نو رجوع اوشوه ۱۲

راځي چه دا ځان پټ کړي او په څه ځای موقع ځائے دَ ده نظر اوښ لیږي او چه عدت پوره شي نو ښځه دے بیا چرته بل ځائے ته لاړه شي۔

مسئله ۹:۔ که لا تر اوسه ئے ورته رجوع نه وي کړې نو دا ښځه دَ ځان سره په سفر بوتلل جائز نه دي او دے ښځے له ورسره تلل هم جائز نه دي۔

مسئله ۱۰:۔ کومے ښځے له چه یو یا دوه طلاق بائن ورکړې شوي وي بیا چه دَ پاتے کولو اختیار په کښے نه وي نو که دا ښځه دَ بل چا سره نکاح کوي نو دَ عدت نه پس به کوي دَ عدت تیریدو نه اول نه شي کولے۔ او که دے ورسره نکاح کوي نو په عدت کښے کولے شي

بی بی له دَنه ورتلو قسم کولو بیان

مسئله ۱:۔ چا داسے قسم اوکړو چه پخدائے قسم اوس به کور والے اونه کړم په خدائے قسم ستا سره به چرته کور والے اونه کړم قسم خورم چه ستا سره به کور والے اونه کړم یا داسے نور الفاظ نو حکم ئے دا دے چه که څلور میاشتے ئے کور والے ورسره اونه کړو نو طلاق بائن به واقع شي او بے نکاح کولو ښځه خاوند کیده ے نه شي او که په څلور میاشتو کښے دننه ئے خپل قسم مات کړو او کور والے ئے اوکړو نو طلاق واقع نه شو او دَ قسم کفاره به ورکوي داسے قسم ته په شرع کښے ایلاء وائي۔

مسئله ۲:۔ دَ همیشه دَ پاره ئے قسم نه وه خوړلے بلکه دَ څلورو میاشتو دَ پاره ئے قسم خوړلے وه او داسے ئے ویلي وو چه پخدائے قسم څلور میاشتے به کور والے اونه کړم ستا سره نو ایلاء اوشوه دَ هغے هم دا حکم دے چه که څلورو میاشتو پورے ئے کور والے اونه کړو نو طلاق بائن به واقع شي او که دَ څلورو میاشتو نه مخکښے ئے کور والے اوکړو نو دَ قسم کفاره به ورکوي۔ دَ قسم کفاره مخکښے بیان شوے ده۔

مسئله ۳:۔ که دَ څلورو میاشتو نه دَ کمو دَ پاره ئے قسم اوخوړو نو دَ دے اعتبار نشته که یوه ورځ هم دَ څلورو میاشتو نه کمه وه ایلاء نه ده البته دَ څومره ورځو قسم ئے چه خوړلے دے دَ هغے نه مخکښے که ئے کور والے اوکړو نو دَ قسم کفاره به ورکوي او که دغه ورځے ئے پوره کړے نو کفاره پے هم نشته او طلاق پے هم نه واقع کیږي۔

مسئله ۴:۔ یو سړي فقط دَ څلورو میاشتو دَ پاره قسم خوړلے وه بیائے قسم مات نه کړو او طلاق واقع شو او دَ طلاق نه پس ئے بیا دَ دغه سړي سره نکاح اوشوه نو دَ دے نکاح نه پس که ورسره اوس څلور میاشتے کور والے اونه کړي نو څه نه کیږي او که دَ همیشه دَ پاره ئے قسم خوړلے وه چه قسم خورم چه اوس به چرته ستا سره کور والے اونه کړم یائے داسے اووے پخدائے قسم ستا سره به اوس کور والے نه کوم۔ نو چه قسم ئے مات

لے مګکه چه په شرمګاه باندې په دننه حصه نظر پرے وتو سره رجوع کیږي نو که دَ چا دَ رجوع اراده نه وي نو احتیاط دَ کوي چه چرته په داسے ځائے نظر اوښ لیږي ۱۲

نه کړه او څلور میاشتې تیرې شوې طلاق واقع شو او بیا ئې دویمه نکاح اوکړه دا نکاح نه پس ئې بیا څلور میاشتې کوروالے اونه کړه نو اوس بیا طلاق واقع شو او که اوس ئې بیا نکاح اوکړه نو هم ئې دغه حکم دے چه که دیمه پیره ئې بیا څلور میاشتې کوروالے اونه کړه نو دریم طلاق واقع شه او اوس چه ئې ترڅو بل خاوند نه وی کړے دے ورسره نکاح نه شی کولے البته که د دویم یا دریم نکاح نه پس ئې ورسره کوروالے اوکړه نو قسم مات شه کفاره لازم شوه او بیا چرته طلاق نه واقع کیږی

مسئله ۵:- که دغه شان وېلی دے وروستو په دریو نکاحونو کښې درې طلاق واقع شو او بیا ښځې بل خاوند اوکړه او هغه پریخوده او د دے خاوند اولنی سره ئې بیا نکاح اوکړه نو اوس که دے کوروالے نه کوی ورسره نو طلاق نه واقع کیږی که هر څومره موده کوروالے نه کوی البته که کوروالے کله اوکړی نو کفاره به ورکوی ځکه چه قسم ئې داسے خوړلے وه چه چرته به ورسره کوروالے اونه کړم. نو هغه قسم ئې مات شه کفاره پې لازم شوه.

مسئله ۶:- که ښځې له ئې طلاق بائن ورکړه او بیا ئې ورسره د کوروالی نه کولو قسم اوکړه نو ایلاء نه شوه. اوس که بیا د نکاح کولو نه پس کوروالے نه کوی نو طلاق نه واقع کیږی لیکن کله چه کوروالے اوکړی نو د قسم کفاره به ورکوی او که د طلاق رجعی ورکولو نه پس ئې په عدت کښې دغه داسے قسم اوکړه نو ایلاء اوشوه اوس که رجوع اوکړی او کوروالے نه کوی نو د څلورو میاشتو نه پس به طلاق واقع شی او که کوروالے اوکړی نو د قسم کفاره به ورکوی.

مسئله ۷: قسم ئې په خدائے اونه خوړلو بلکه داسے ئې اووے چه که ستا سره کوروالے اوکړم نو تا به طلاق وی ئې بیا هم ایلاء اوشوه که کوروالے ئې اوکړه نو رجعی طلاق به واقع شی او د قسم کفاره په دے صورت کښې نشته او که کوروالے ئې اونه کړه نو څلور میاشتې پس به طلاق بائن واقع شی. او که داسے ئې اووے چه که ستا سره کوروالے اوکړم نو ما په ذمه به یو حج وی یا یوه روژه یا یوه روپئے خیرات یا یوه قربانی وی نو هم ایلاء اوشوه که کوروالے ئې اوکړه نو کومه خبره چه ئې ویلے ده هغه پې کول لازم شو او کفاره پې نشته او که کوروالے ئې اونه کړه نو څلور میاشتې پس به طلاق واقع شی.

باب ۸ **دَ خُلع بیان**

مسئله:- که د ښځې خاوند په هیڅ شان جوړه نه راتله او سړے طلاق هم نه ورکوی نو ښځې له پکار دی چه څه مالی ورکړی یا خپل مهر ورکړی او که خاوند نه ځان آزاد کړی. یا داسے اووائی چه کوم مهر ځما ستا په ذمه دے د هغې په عوض

ما آزاده کړه۔ او خاوند اووائی چه ما پرېښودے نو په دے وینا په ښځے یو طلاق بائن واقع شه د پاتے کولو اختیار اوس سړی له نشته۔ البته که خاوند په دغه ځائے په ناستے ناستے اونه وے پاسیدے یا خاوند لا ناست وه ښځه پاسیده بیا د هغے نه پس خاوند اووے چه ښه ده ما پرېښودے نو په دے هیڅ نه کیږی سوال جواب دواړه په یو ځائے پکار دی۔ دغه شان ځان ازادی کولو ته په شرع کښے خلع وائی

مسئله ۲:۔ سړی اووی ما ستا سره خُلع اوکړه ښځے اووے ما قبوله کړه نو خلع اوشوه۔ البته که ښځے په دغه ځائے جواب ورنه کړه او دریده اویائے قبوله نه کړه نو هیڅ اونه شو۔ لیکن که ښځه پخپل ځائے ناسته وه او خاوند داسے اووے او پاسید وا او ښځے که هغه د پاسید ونه پس قبوله کړه نو هم خُلع اوشوه۔

مسئله ۳:۔ سړی اووے ما ستا سره خُلع اوکړه او ښځے قبوله کړه د روپو پیسو ذکر نه سړی اوکړه او نه ښځے نو بیا هم کوم حق چه د سړی په ښځه دے او کوم چه د ښځے په سړی دے ټول معاف شو که د سړی په ذمه مهر باقی وه نو هغه هم معاف شو او که ښځے مهر اغستے وه نو اوس ئے واپس کول واجب نه دی البته د عدت ختمیدو پورے به روټئ کپړه او د اوسیدو کور ورکوی لیکن که ښځے ته دا صم نه اغستو نو دا هم معاف شه۔

مسئله ۴:۔ که د دے وینا سره ئے د مال هم ذکر اوکړه لکه اووائی چه د سلو روپو په عوض م خُلع کړے او ښځے قبوله کړه نو خُلع اوشوه او په ښځے سل روپئ ورکول واجب شو۔ که خپل مهر ئے اغستے وی هم به سل روپئ ورکوی او که مهر ئے نه وی اغستے هم به سل روپئ ورکوی او مهر هم نه شی غوختے ځکه چه هغه په خلع سره معاف شو۔

مسئله ۵:۔ په خُلع کښے که قصور سړی ته وی نو سړی له روپئ یا مال اغستل یا کوم مهر چه د ده په ذمه وی د هغے په عوض کښے خلع کول لوئے ګناه او حرام دی که څه مال ئے واغستو د هغے پخپل خرچ کښے راوستل هم حرام دی۔ او که د ښځے قصور وی نو څومره مهر چه ئے ورکړے د هغے نه زیات اغستل نه دی جائز۔ په مهر به خُلع کوی که زیات ئے واغست څه نه دی۔

مسئله ۶:۔ ښځه په خُلع راضی نه وه سړی پے زبردستی اوکړه په وهلو ټکولو او یره ولو ئے راضی کړه او خلع ئے اوکړه نو طلاق واقع شو البته په ښځه مال واجب نه دے او که د سړی په ذمه مهر باقی وه نو هغه هم معاف نه شه۔

مسئله ۷:۔ دا ټولے خبرے هله دی چه د خلع لفظ ئے ویلے وی یائے داسے ویلی وی چه د سلو یا زرو روپو په عوض ما آزاده کړه یا ځان د مهر په عوض ما پریږده او که داسے ئے اونه وے بلکه د طلاق لفظ ئے اووے یعنے داسے اووائی د سلو روپو په

عوض مال نه طلاق دا کړه نو خلع ورته نه شي ویلے که سړی د دے مال په عوض طلاق ورکړه نو یو طلاق بائن واقع شه او هیڅ حق په کښے معاف نه شه نه هغه حق چه د ښځے په سړی دے او نه هغه چه د سړی په ښځه دے که سړی مهر نه وی ورکړے نو معاف نه ښځه ئے دعوه کولے شي او سړے به دا سل روپۍ د ښځے نه اخلي۔

مسئله ۸:۔ سړی اووے چه ما د سلو روپو په عوض تا له طلاق درکړه نو ښځے خه او نه وے که قبول ئے نه کړه نو نه واقع کیږی او که قبول ئے کړه نو یو طلاق بائن واقع شه لیکن که د ځائے نه پاسیده وروستو ئے قبول کړه نو طلاق واقع نه شو۔

مسئله ۹:۔ ښځے اووے ما له طلاق دا کړه سړی اووے ته خپل مهر وغیره ټول حق معاف کړه نو طلاق به درکړم نو ښځے اووے ما معاف کړه نو بیا سړی طلاق ورنه کړه نو هیڅ معاف نه شو۔ او که په هم دے مجلس کښے طلاق ورکړه نو معاف شو۔

مسئله ۱۰:۔ ښځے اووے د دریو سوه روپو په عوض ما له درے طلاق دا کړه نو سړی یو طلاق ورکړه نو سل روپۍ به اخلی او که دوه ئے ورکړه نو دوه سوه او که درے نو درے سوه به اخلی او په ټولو صورتونو کښے طلاق بائن واقع شو ځکه چه د مال په بدله دے۔

مسئله ۱۱:۔ نابالغ هلک او لیونے پاګل سړے د خپلے بی بی سره خلع نه شی کولے۔

باب ۱۹ بی بی ته د مور برابر ویلو بیان

چا خپلے بی بی ته اووے چه ته ما ته د مور برابر ئے یا ته ما د پاره د مور برابر ئے یا ته ما په حساب (یعنے په نزد) د مور برابر ئے۔ یا اوس ته ما په نزد د مور په مثل ئے۔ د مور پشان ئے۔ نو کتے به شي چه د دهٔ خهٔ مطلب دے که دا مطلب ئے وی چه په تعظیم په بزرګئ کښے د مور برابر ئے یا دا مطلب چه ته بالکل بوډۍ ئے په عمر کښے ما ته د مور برابر ئے نو په دے وینا هیڅ اونه شو۔ دغه شان که د دے وینا په وخت ئے هیڅ مطلب نه وه بلکه هسے یکواس ئے کا وه بیا هم څه اونه شو۔ او که په دے وینا ئے د طلاق او پریخودو نیت کړے وی نو یو طلاق بائن واقع شه او که د طلاق ئے هم نیت نه وه او د ښځے د پریخودو مطلب ئے هم نه وه۔ بلکه فقط دومره مطلب ئے وه چه اګرچه ته ما بی بی ئے د نکاح نه دے نه اوباسم لیکن اوس به ورسره چرته کودوالے او نه کړم ستا سره کوروالے ما په ځان حرام که بس روټۍ کپړه اخله او کینه غرض پریخودل ئے مطلب نه وی خو فقط کوروالے ئے په ځان حرام کړی۔ نو دیته په شرع کښے ظهار وائی حکم ئے دا دے چه دا ښځه به اوسی د دهٔ په نکاح کښے لیکن چه ترڅو پورے دا سړے کفاره ورنه کړی تر هغے پورے ورسره کوروالے کول یا د ځوانئ په خواهش لاس لږول یا ښکلول مینه ورسره کول حرام دی ترڅو چه کفاره نه وی ورکړے ښځه حرامه ده که هر څو کاله وی او چه کفاره ورکړی نو بیا دواړه ښځه خاوند شو بیا د نکاح کولو ضرورت

نیشته او کفاره ئے واجب ورکول شي لکه څنګه چه کروټے ما تولو ورکوی۔

مسئله ۲:- که د کفارے ورکولو نه اول ئے ورسره کوروالے اوکړه نو ډیر ګناه اوشه الله تعالیٰ ته دے توبه استغفار کوی او داوس نه پخه اراده اوکړی چه ترڅو کفاره نه وی ورکړے کوروالے به اونه کړم۔ او ښځے له پکار دی چه ترڅو ئے کفاره نه وی ورکړے ځان ته دِ نه پریدی۔

مسئله ۳:- که د خور لور یا ترور وغیره یعنے داسے ښځے برابرئے وړته اووے د چانسره چه نکاح د همیشه د پاره حرام دے نو د دغے هم دا حکم دے۔

مسئله ۴:- که چا اووے چه ته ځما د پاره د سُور برابرئے نو که د طلاق او پریخودو نیت ئے وه نو طلاق واقع شوا وکه د ظهار نیت ئے وه یعنے طلاق نه درکوم لیکن کوروالے دے په ځان حراموم نو هیڅ اونه شو۔ دغه شان که هیڅ نیت ئے وه هم څه اونه شو

مسئله ۵:- که په ظهار کښے څلور میاشتے یا زیاته موده کوروالے اونه کړی او کفاره ورنه کړی نو طلاق نه واقع کیږی۔ په دے سره ایلاء نه کیږی۔

مسئله ۶:- ترڅو چه کفاره نه وی ورکړی نو ترهغے ورته کتل خبرے کول حرام نه دی البته د تشو بولو ځائے ته ئے کتل جائز نه دی۔

مسئله ۷:- که د همیشه د پاره ئے ظهار نه وه کړے بلکه څه موده ئے مقرر کړه لکه داسے اووائی چه یو کال د پاره یا د څلورو میاشتو د پاره ته ځما د پاره د مور برابره ئے نو څومره موده چه ئے مقرر کړے ده ترهغے به ظهار وی۔ که په دغے موده کښے ئے کوروالے کول غواړی کفاره ئے ورکوی او که د دغے مودے نه پس ئے کولو نو بیا کفاره نیشته ښځه به حلاله شي۔

مسئله ۸:- په ظهار کښے هم که انشاء الله اووائی نو هیڅ اونه شو۔

مسئله ۹:- نابالغ هلک لیونے او پاګل ظهار نه شي کولے که اوکړی هیڅ نه کیږی دغه شان د غیر ښځے سره هم ظهار نه کیږی چه بلا نکاح ئے ورسره نه وی کړے که اوکړی او بیا ورسره نکاح کوی نو جائز دے۔

مسئله ۱۰:- د ظهار لفظ که چیرے پیرے اووائی یعنے دوه یا درے پیرے داسے اووائی چه ته ځما د پاره د مور برابرئے نو څو پیرے چه ویلی وی دومره کفارے به ورکوی البته که دویم دریم وار ئے د پخوانی په نیت ویلی وو نوے ظهار ئے مقصود نه وه نو یوه کفاره به ورکوی۔

مسئله ۱۱:- که د یرو ښځو ته ئے داسے اووے نو چه څومره ښځے ئے وی هومره کفارے دی

مسئله ۱۲:- که د برابر یا د مثل یا د شان لفظ ئے اونه وے بلکه داسے ئے اووے چه ته ځما مور ئے یا ځما خور ئے نو په دے هیڅ اونه شو ښځه حرامه نه شوه لیکن

داسې ویل ګناه ده- دغه شان د آواز په وخت کښې داسې ویل چې ځما خور دا فلانے کار اوکړه دا هم ګناه ده لیکن څه پے نه کیږي

مسئله ۱۳:- چا داسې اووے که تا د ګهان سره اوساتم نو لکه مور چې اوساتم یا که ستا سره کوروالے اوکړم نو لکه د مور سره چې اوکړم په دے هیڅ اونه شو-

مسئله ۱۴:- که داسې ئې اووے چې ته ځما د پاره د مور په شان حرامه یې نو که د طلاق نیت ئې وه طلاق واقع شو- او که د ظهار نیت ئې وه یا څه نیت ئې نه وه نو ظهار به اوشي- کفاره دے ورکړي نو کوروالے به جائز شي (او که د ایلاء وه نو ایلاء اوشو)

باب ۲ د کفارے بیان

مسئله ۱:- د ظهار کفاره داسې ده لکه د روژے هیڅ فرق په کښې نشته حلته بیان شوے ده اوئے کوره- اوس داسې خبرے بیانه وو کومې چې حلته نشته دلته دي-

مسئله ۲:- که طاقت ئې وي نو سړے دے شپیته روژے پرلپسې اونیسي په مینځ کښې به یوه روژه نه پاتے کوي او ترڅو چې روژے نه وي ختم شوي د ښځې سره به کوروالے نه کوي که ئې اوکړه نو د سره به بیا روژے نیسي که د ورځې کوروالے اوکړي او که د شپې او قصداً اوکړي او که په هیره د ټولو یو حکم دے-

مسئله ۳:- که د میاشتې د اول تاریخ نه ئې روژے شروع کړے نو پوره دوه میاشتې روژے به نیسي که میاشتې د پوره ورځو دیرش شو دیرشو دا ځي او که کمې دا ځي دواړه شانه کفاره ادا شوه او که د اول تاریخ نه ئې روژے شروع نه کړے نو بیا به شپیته روژے پوره کوي-

مسئله ۴:- که کفاره ئې په روژو سره اداکوله او د کفارے پوره کیدو نه مخکښې ئې د ورځې یا د شپې په هیره کوروالے اوکړه نو د سره به ئې بیا شروع کوي-

مسئله ۵:- که د روژو طاقت ئې نه وه نو شپیته فقیرانو له دے صبا بېګاه خوراک ورکړي یا دے پے اوومه غله تقسیم کړي- که ټول فقیران ئې لا نه وو ماړه کړي او په مینځ کښې ئې کوروالے اوکړه نو ګناه ګار دے شه البته کفاره پے بیا د سره کول نشته او د خوراک ورکولو نوره ټوله هغه طریقه ده چې بیان شوي ده-

مسئله ۶:- د چا په ذمه د ظهار دوه کفارے وے او ده شپیته مسکینانو له څلور څلور سیره غنم ورکړه په دے خیال چې دواړه کفارے م په یو ځائے ادا شوے نو یوه کفاره ادا شوه بله به بیا ادا کوي- او که یوه کفاره د روژے وه او بله د ظهار او په صغو کښې ئې داسې اوکړه نو دواړه ادا شوے

باب ۳ د لعان بیان

مسئله ۱:- که چا په خپله بي بي د زنا تهمت اولګاوه یا چې کوم هلک پیدا شه اوئے وے

چه د ښځې خاوند دې معلومه نه وه چه دَ چا دے نو حکم ئے دا دے چه ښځه به قاضي ته او شرعي حاکم ته فریاد او کړی نو قاضي به دغه ورله قسم ورکړی - اول به دَ خاوند نه دا سې قسم واخلي چه زه خدائے گواه کوم وایم چه کوم تهمت ما په دے ښځه لږه ولے دے زه په دے کښے رشتونے یم خلور ځلې به خاوند دا سې او وائي بیا به پنځم وار او وائي چه که زه دروغجن یم نو په ما دے دَ خدائے لعنت وی - نو بیا به ښځه خلور ځلې دا سې او وائي چه زه خدائے گواه کوم وایم چه کوم تهمت دهٔ په ما لږه ولے دے په دے کښے دۀ دروغژن دے او په پنځم ځل به دا سې او وائي چه که په دے تهمت لږه ولو کښے دے رشتونے وی نو په ما دے دَ خدائے غضب وی چه دواړه قسم او خوری نو قاضي به دَ دواړو په منځ کښے جدائي راولی او یو طلاق بائن به واقع شي او دا بچے به او س مورته حواله شي دَ پلار به نه وی دے قسمو نو ته لعان وائي -

باب ۲۲ دَ خاوند لاپته کیدو بیان

دَ چا چه خاوند لاپته شي او بالکل ئے پته نه وی معلومه چه مړ دے که ژوندے نو دا ښځه بل خاوند نه شي کولے بلکه انتظار به کوی چه شاید راشي نو که په دے انتظار کښے دومره موده تیره شوه چه دَ خاوند عمرئے لس[۱] اتیا کالو ته اورسي نو او س به ئے دَ مرګ حکم لږه ولے شي - نو که دغه ښځه ځوانه وه او بل خاوند ئے کولو نو دَ خاوند دَ عمر لس اتیا کالو ته دَ رسیدو نه پس به عدت پوره کړی نو بیا به نوے نکاح کوی - خو په دے شرط چه دَ دے لاپته خاوند دَ مرګ حکم شرعي حاکم لږه ولے وی -

باب ۲۳ دَ عدت بیان

مسئله[۱]:- چه ښځے له خاوند طلاق ورکړی یا په خلع ایلاء وغیره سره نکاح مات شي یا خاوند مړ شي نو په دے ټولو صورتو نو کښے به ښځه دَ څه وخت پورے په یو کور کښے پاتے کیږی او تر څو پورے چه دغه موده ختم شوے نه وی بل چرته به نه شي تلے او نه دَ بل خاوند سره نکاح کولے شي او کله چه دغه موده ختمه شي نو بیا چه زړه ئے څه غواړی کولے شي دے مودے تیره ولو ته عدت وائي -

مسئله[۲]:- که خاوند طلاق ورکړه نو دَ درے حیضو پورے به دَ خاوند په دے کور کښے په کوم کښے چه ورله طلاق ورکړی وی حلته به ناسته وی دَ دے کور نه به شا او ځي نه دَ شپے او نه دَ ورځے او نه به دَ بل چا سره نکاح کوی چه کله ئے پوره درے

---

[۱] لیکن ننَ صباد سخت ضرورت په وجه علماؤ دَ امام مالک صاحب په مذهب فتوٰی ورکړے ده - دَ هغوی په نزد دومره موده شرط نه ده که چرته ضرورت پیښ شي نو دَ علماؤ نه په کښے پتوس کول پکار دی دلته دَ دومره تفصیل لیکلو گنجائش نشته دا رنګ یو رساله "الحیلة الناجزة للحلیلة العاجزة" کښے دَ دے مسئلے او دا قسم نورو مسئلو چه دَ امام مالک په مذهب په کښے دَ فتوے ورکولو گنجائش شته او که دیوبند دَ علماؤ نو دستخطونه په متفقه طور سره ثبت دی دَ دا سې ضرورت په وخت کښے ئے کتل غوره دی ۱۲ ف

حیضه اوشي نو عدت پوره شه او س چه ئې زړه چه ته غواړې تلې شي کهٔ یو طلاق ئې ورکړے وي او که دوه یا درے ، او طلاق رجعي وي او که بائن یو حکم دے۔

مسئله ۳:- که د یوے جینۍ ته طلاق ملاؤ شو چه لا حیض ئې نه وه راغلے او یا ډیره زړه وه چه حیض ئې تلے ئې بند شوی وو نو د دوائي وعدت درے میاشتے دے۔

مسئله ۴:- نابالغ جینۍ ته طلاق ملاؤ شو او د میاشتو په حساب سره ئې عدت شروع کړه او په دے عدت کښے ئې یوه یا دوه میاشتے پس حیض شروع شه نو اوس به پوره درے حیضو نه کیني۔ چه درے حیضونه ئې نه وی پوره شوی عدت ئې نه دے ختم۔

مسئله ۵:- که د ښځے کیږه وه او طلاق ورته ملاؤ شو نو د بچی پیدا کیدو پورے به کیني دا د دے عدت دے چه بچے پیدا شي نو عدت به ئې ختم شي۔ د طلاق میلاویدو نه پس که ئې بچے یو ساعت پس پیدا شه هم ئې عدت ختم شه۔

مسئله ۶:- که چا د حیض په زمانه کښے طلاق ورکړه نو په کوم حیض کښے چه ئې طلاق ورکړی دی د هغے حیض هیڅ اعتبار نشته د دینه پس به درے حیضه پوره کوی (خو په حیض کښے طلاق ورکول گناه دے)

مسئله ۷:- د طلاق عدت به هغه ښځه دے چا ته چه د کور والي نه پس طلاق ملاؤ شي یائے ورسره یوائے والے شوے وی او بیا ورته طلاق ملاؤ شي که داسے یوائے والے شوے وي چه پوره مهر پے نه واجبیږی او که داسے وی چه مهر پے پوره واجبیږی بهرحال عدت به تیره وی واجب دی پے۔ او که بالکل لا یوائے والے نه وی راغلے او طلاق ملاؤ شي نو په داسے ښځه عدت نشته۔

مسئله ۸:- د پردے ښځے سره ئې په غلطئ کور والے د خپلے بی بی په خیال او کړه بیا معلومه شوه چه دا خو پردے ښځه وه نو دا ښځه به هم عدت تیره وی۔ چه ترڅو پورے چه عدت ختم شوے نه وی خپل خاوند به هم ځانته نه پریدی ورځه دوا به په گناه گار وی او عدت ئې دغه دے کوم چه بیان شه۔ او که د دغے نه ئې کیږه شوه نو د بچی کیدو پورے به انتظار کوی۔ او دغه بچے حرامی نه دے نسب ئې ټهیک ګ چا چه ورسره په دهوکه کور والے کړے دے د هغه بچے دے۔

مسئله ۹:- که چا بے قاعدے نکاح او که مثلاً د یوے ښځے سره ئې نکاح کړے وه بیا معلومه شوه چه د هغے خاوند ژوندے دے او طلاق ئې نه دی ورکړی یا دا معلومه شوه چه دے ښځے خاوند په ورکوتوالي کښے د یوے ښځے تے خوړلے دے۔ نو حکم ئې دا دے چه که دے خاوند ورسره کور والے او کړه او بیا حال معلوم شه او جدائي راغله نو عدت به تیره وی او د کوم وخت نه چه سړے توبه گار شه او جدا شه د هغے وخت نه عدت شروع شه او که کور والے ئې ورسره نه وه کړے نو عدت واجب

نه دے که یو اځې والے هم راغلے وی خو چه کورواله نه وی شوے عدت نشته۔

مسئله ۱۰:۔ په عدت کښے دننه خوراک جامې په هغه سړی واجب دی چا چه طلاق ورکړے

مسئله ۱۱:۔ چا خپلے ښځے له طلاق بائن یا درے طلاقه ورکړه بیائے ورسره په عدت کښے دننه په دهوکه سره کورواله اوکړه نو اوس به کوم دهوکه په وجه بل عدت تیره وی اوس به د دے کوروالی نه پس درے حیضونه تیره کیږی۔ نو چه اوس ئے درے حیضونه پوره شی دواړه عدتونه به ختم شی۔

مسئله ۱۲:۔ سړی ورله طلاق بائن ورکړه نو په کوم کور کښے چه دا عدت تیره وی په هغه کښے دغه سړے هم اوسی نو ښه خبره په پرده به تے کوی۔

باب ۲۳ د مرګ د عدت بیان

مسئله ۱:۔ د چا خاوند چه مړ شه نو څلور میاشتے او لس ورځے به عدت تیره وی او د خاوند د مرګ په وخت چه په کوم کور کښے اوسیده په هغه کور کښے به کیني باهر وتل ئے جائز نه دی البته که غریبه ښځه وه چه د ګذارے خرچ ورسره نه وو او د چاکرے ئے منډ دوری کوله نو بیا ورله وتل جائز دی لیکن د شپے به په خپل کور کښے اوسی که کورواله ورسره شوے وی او که نه او که یو اځې والے راغلے وی او که نه او که حیض ئے کیږی او که نه د ټولو یو حکم دے چه څلور میاشتے لس ورځے به عدت تیره کیني۔ البته که کیږده ئے وه نو بیا به د بچی د کیدو پورے عدت وی اوس د میاشتو عدت نشته که د مرګ نه دوه درے ګهنټے پس بچے پیدا شه هم عدت ختم شه۔

مسئله ۲:۔ په کور کښے دننه ځائے چه کیني یو ځائے خاص کول ورله جائز نه دی۔

مسئله ۳:۔ خاوند ئے نابالغ بچے او چه هغه مړ شه نو که درے کیږده وه بیا به هم د بچی کیدو پورے عدت تیره وی لیکن دا بچے حرامی دے د خاوند به نه وی۔

مسئله ۴:۔ که د چا خاوند د میاشتے په اول تاریخ مړ شه او که ښځے کیږده نه وه نو د میاشتے په حساب سره به څلور میاشتے لس ورځے پوره کوی او که د میاشتے په اول تاریخ نه وی مړ نو د هغے میاشتے د پاره به دیرش دیرش ورځے حسابوی او په دے حساب به څلور میاشتے لس ورځے پوره کوی۔ او دغه طریقه د طلاق د عدت ده که کیږده ئے نه وه او حیض ئے نه کیده او درے میاشتے عدت ئے تیراوه۔

مسئله ۵:۔ که چا بے قاعدے نکاح کړے وه مثلاً بے ګواها نو ئے نکاح کړے وه یا ئے د اوښی سره نکاح اوشه او خورئے لا تراوسه د هغه په نکاح کښے وه بیائے هغه خاوند مړ شه نو دا سے ښځه به څلور میاشتے او لس ورځے عدت نه تیره وی بلکې درے حیضه به کیني او که حیض ئے نه کیده نو درے میاشتے او که حمل وه نو د حمل پورے۔

مسئله ۶:۔ چا خپله بیماری کښے طلاق بائن ورکړه او د طلاق عدت لا نه وه

پوره شوے چه مړه شه نو کتے به شي چه دَ طلاق په عدت کښے ډیاتے ورځے لړ دي او که دَ مرګ په کوم عدت کښے چه زیاتے ورځے لړ دي ے هغه عدت به پوره کوي او که په بیا ړئ کښے ئے طلاق رجعي ورکړی وو او عدت لا ختم نه وه چه سړے مړشه نو ښځه به دَ وفات عدت پوره کوي۔

مسئله ۷:۔ دَچا خاوند مړ شه خو ښځه تے نه وه خبره څلور میاشتے لس ورځے چه تیرے شوے نو دا خبر شوه نو اوس دَ دے عدت ختم دے۔ دَ اوس نه په عدت تیره نه کیني۔ دغه شان که خاوند طلاق ورکړه خو دے ته معلوم نه وو څو مره عدت تیره ول چه په دے لازم وو دومره ورځے پس دا خبر شوه نو دَ دے هم عدت ختم دے اوس به عدت ته نه کیني۔

مسئله ۸:۔ دَ غه کار دَ یاره چه ته تلے وه یا دَ خپلوانو کره تلے او دَ خاوند دَ مرګ نه خبر شوه نو فورًا به دَ هغه ځائے نه راځي کوم ځائے چه اوسیده هلته به کیني عدت ته۔

مسئله ۹:۔ دَ مرګ په عدت کښے ښځے له روټۍ کپړه نشته خپل خرچ به کوي۔

مسئله ۱۰:۔ بعضے ځائے کښے دستور دے چه دَ خاوند دَ مرګ نه پس پوره کال کیني دا حرام دي

باب ۲۵

دَغم کولو بیان

مسئله ۱:۔ کومے ښځے ته چه طلاق رجعي ورکړے شوی وی دَ هغے عدت فقط دغه دے چه دومره ورځے به دَ کوره نه اوځي او نه به دَ بل خاوند سره نکاح کوي خو چه ول سنګار وغیره کول ورله جائز دی۔ او چا ته چه درے طلاق یا یو طلاق بائن ورکړے شوے وی یائے په بله څه وجه نکاح مات شوے وی یائے خاوند مړ شي دَ دے ټولو صورتونو دا حکم دے چه ترڅو پورے په عدت کښے وی۔ نه به دَ کوره اوځي نه به بله نکاح کوي نه به چه ول سنګار کوی دا ټولے خبرے په دے حرامے دی دے سنګار نه کولو او خیرنه ښچنه اوسیدو ته غم (سوګ) وائي۔

مسئله ۲:۔ ترڅو چه عدت ختم نه وی خوشبو لږه ول، کپړے خائسته کول، کالی اچول، ګلونه اچول، رانجه پورے کول، په پان دنداسه خوله سره کول، سرخي لږه ول، سر غوړه ول، منګز کول، نکریزه لږه ول، خائسته کپړے اچول دا ټولے خبرے حرامے دی البته که دَ خائست کپړے نه وی بیا خیر دے۔

مسئله ۳:۔ دَ سر دَ درد په وجه په تیلو بے خوشبویه غوړه ول خیر دے۔ دغه شان دَ دوائي دَ پاره دَ شپے سترګو ته توره ول خو چه صبا لرئے پاکے کړی خیر دے او سر غوړه (رمالش کول) او غسل کول هم جائز دی۔ دَ ضرورت په وخت سر منګز کول چه سپږے پکښے اوشي هم جائز دی خو په غټو غاښو نو والا منګز[1] چه خوبصورتي پے نه راځي۔

---

[1] مطلب دا دے چه دَ خائست دَ پاره به منګز نه کوی او که ضرورت وه بنائست مقصود نه وه بیا خیر دے
لعل هذا هو محصل کلام المبسوط والحدیث فیندفع به بحث الفتح وتقیید الجوهرة فتنبه له ۱۲ تصحیح الاغلاط

مسئله ۴:- سوګند کول بالغې ښځې له واجب دي نا بالغې له نه هغې له دا توله قبرې جائز دي البته د کوره وتل او بل نکاح ورله جائز نه دي.

مسئله ۵:- دچا چه بې قاعدې نکاح شوې وه په هغې هم سوګند واجب نه دي.

مسئله ۶:- دخاوند نه علاوه د بل چا په مرګ سوګند جائز نه دي. البته که خاوند ئې نه منع کوي نو دخپل عزيز رشته دار په مرګ هم درې ورځې ځان سنګارول پرېښودلے شي. د درېنه زيات بالکل حرام دي او که منع کوي نو بيا به درې ورځې هم نه کوي.

باب ۲۶ دخوراک کپړے بيان

مسئله ۱:- د بي بي خوراک جامه په سړي واجب دي ښځه که هر څو مره مالداره وي خو خوراک جامه او د اوسېدو کور د سړي په ذمه دي.

مسئله ۲:- چه نکاح ئې او شوه او لا واده ئې نه وي شوې بيا هم د خوراک کپړې دعوه کولے شي ليکن که سړي واده غوښته خو نه ئې ورکوله بيا ئې نشته.

مسئله ۳:- بي بي چيره وړه ده چه د کور د الي قابله نه ده ليکن سړي د کور د کار روزګار يا دخپل زړه خوشحالولو د پاره خپل کور کښې ساتله نو دوئي کپړه ئې په سړي واجب ده او که نه ئې ساتله د پلار کره ئې پرېښوده نو بيا ئې نشته. البته که خاوند ورکوټے او نا بالغ وه او ښځه لويه وه نو بيا ئې واجب ده.

مسئله ۴:- د څومره مهر چه اول ورکولو دستور دے هغه خاوند نه ئې ورکړے ځکه ئې ښځه کورته نه ځي نو خوراک جامه به ورکوي. او که هسې د خاوند کره نه ځي نو بيا ورله خوراک جامه نشته. چه لا ړه بيا به ورکوي.

مسئله ۵:- څومره زمانه چه د خاوند په اجازت د پلار کره اوسي د هغې ورځو خوراک جامه د خاوند نه اغستے شي.

مسئله ۶:- ښځه ناجوړه وه نو د بيمارئ د ورځو خوراک جامه د خاوند نه اغستے شي که د پلار کره وي او که د خاوند کره البته که خاوند ناجوړه کورته بوتله او نه تله نو بيا ئې نه شي اغستے. او د بيمارئ په حالت کښې صرف خوراک جامه د خاوند نه اغستے شي د دوائي علاج حکيم او ډاکټر خرچ په سړي واجب نه دے خو که ورکړي نو د ده احسان دے.

مسئله ۷:- ښځه چه لاړه نو د دغې ورځو خوراک جامه په سړي لازم نه ده البته که خاوند هم ورسره وه بيا به ورکوي خو د کور د خرچ پيسانې که زيا ټيډيده نو دا په خپل ټيډه وي او د ګاډي جهاز وغيره کرايه هم په سړي لازم نه ده.

مسئله ۸:- په خوراک جامه کښې به د دواړو د حال خيال ساتلے شي که دواړه مالداره وو نو د مالدارو او که دواړه غريبان وو نو د غريبانو خوراک جامه به ورکوي

اوکه سړے غریب وه ښځه امیره یا سړے امیروه ښځه غریبه نو بیا به واسے خرچ ورکوی چه د امیرانو نه کم او د غریبانو نه اوچت وی۔

مسئله ۹ که ښځه ناجوړه وه د کور کار ئے نه شو کولے یا د واسے لوئے کور وه چه پخپله ئے اخل پخول او د کور کار نه کول بلکه عیب ئے گڼڼو (یعنے ځان پے ورته سپک ښکاریده) نو تیار خوراک به ورکولے شي۔ اوکه په دے دواړو وخبرو کښے یوه نه وه نو د کور کار پخپله کول واجب دی۔ دا ټول کار به پخپله کوی د سړی په ذمه صرف د باهرنه هرڅه غله خشاک وغیره لوځی لرګی راوړل دی پخول ئے په دے دی۔

مسئله ۱۰:۔ تیل، صابون، منګز، داودس او لمبلو اوبه د سړی په ذمه دی۔ راغبه سرخی سلائی پان تمباکو د سړی په ذمه نه دی۔ د دهوبی پیسے د سړی په ذمه نه دی پخپله دے جامے وینځی اوکه سړے ئے ورکوی نو احسان ئے دے۔

مسئله ۱۱:۔ تږچی د کیه و د پاره که دائی سړی راوسته پیسے به دے ورکوی او ښځے راوغوخته ښځه به ئے ورکوی او که د ځانه راغله بیا د سړی په ذمه دی۔

مسئله ۱۲:۔ د خوراک جامے خرچ که ئے د کال یا د کم یا زیات پیشګی ورکړه نو اوس ئے خه واپس کولے نه شی۔

باب ۲: **دَاوسیدو دپاره د کور بیان**

مسئله ۱:۔ د سړی په ذمه دا واجب دی چه د بی بی د اوسیدو د پاره هغے له یو داسے ځائے ورکړی چه د خاوند په رشته دارو کښے څوک بل په هغے کښے نه اوسی خالی وی چه ښځه خاوند په کښے په ازادئ سره اوسی۔ البته که ښځه یو ځائے په شریکو کښے په خوشحالئ اوسی بیا خیر دے۔

مسئله ۲:۔ په کور کښے به یو ځائے ښځے ته داسے جُدا کوی چه هغه په کښے خپل مال اسباب په حفاظت سره کدی او پخپله په کښے اوسی او چرنده کنجی ئے د هغے په قبضه کښے وی د بل چا په کښے هیڅ دخل نه وی فقط د ښځے په قبضه کښے وی نو بس د ښځے حق ادا شه د دینه زیاته مطالبه نه شی کولے۔ او دا نه شی ویلے چه ټول کور ماته جدا اکړه۔

مسئله ۳:۔ څنګه چه ښځے ته دا اختیار حاصل دے چه د ځان د پاره جدا کور اوغواړی داسے چه د سړی یو رشته دار په کښے نه اوسی او فقط د دے ښځے په قبضه کښے وی۔ دغه شان سړی ته هم دا اختیار حاصل دے چه پکوم کور کښے ښځه اوسی هلته د دے رشته دارن پرے یدی نه مور نه پلار نه رور نه بل رشته دار۔

مسئله ۴:۔ ښځه د خپل مور و پلار د کلید و د پاره په هفته کښے یو وار تلے شی او د مور و پلار نه علاوه د نور رو رشته دارو کره به کال کښے یو ځل تلے شی۔ د دینه زیات

اختیار ئې نشته - دغه شان دَ ښځې مور و پلار رحم په هغه کښې یو وارے تلے شي او دَ دینه په زیاتو وارو تلو ئې سړی نه اختیار دَ منع کولو شته - او دَ مور و پلار نه سوا نور رشته دار فقط په کال کښې یو ځل. پیره وار تلے شي په زیاتو وارو تلو ئې سړے منع کولے شي او دَ رشته دارو نه مراد هغه رشته دار دي چه دَ همیشه دَپاره ورسره نکاح حرام دے او کوم چه داسې نه وي هغه په شریعت کښې دَ غیرو برابر دي -

مسئله ۵:- که پلار ئې یا مور یا بل داسې چه حقوق ئې دَ پلار مور پیشان وي) چه بیمار وي او څوک ئې دَ خبر اخستو نه وي نو دَ ضرورت موافق روزانه ورځ هلته تلے شي. که پلار بے دینه او کافر وي نو هم دا حکم دے بلکه که خاوند ئې منع کوي هم خو دا به ځي -

مسئله ۶:- دَ غیرو خلقو کور ته تلل نه دي پکار - که دَ واده ښادئ څه ګنړه ګوره وي او خاوند ورته اجازت هم کوي خو تلل ورله جائز نه دي که خاوند اجازت او کړه نو هغه هم ګناه ګار شه - بلکه په داسې ګنړه ګوره کښې دَ محرم رشته دار کره هم تلل جائز نه دي -

مسئله ۷:- کومې ښځې ته چه طلاق ملاؤ شو هغه هم دَ عدت ته پورې دَ خوراک جامې او دَ او سیدو دَ کور مستحقه ده. البته که خاوند ئې مړ شه نو هغه نه ده - لیکن میراث به ورته په هرڅه کښې ملاویږي -

مسئله ۸:- که نکاح دَ ښځې په وجه مات شه لکه دَ بنزی سره او ښکته یا ئې دَ ځوانئ په خواهش لاس ور ته ورو ړو نو خاوند طلاق ته کړه یا بد دینه کافره شوه نکاح ئې مات شه نو په دے ټولو صورتو نو کښې په عدت کښې دے له خوراک کپړه نشته البته دَ او سید دَ کور رشته او که دَ ځا نه لاړه نو حق به -

باب ۲۵ دَ اولاد حلالی کید و بیان

مسئله ۱:- چه دَ شته خاوند دَ ښځې اولاد او شه نو دَ دے خاوند دے به څه شک به ورته دانه وائي چه دا حک دَ دے خاوند نه دے بلکه دَ تلانی دے - او دے حک ته حرامي وئیل هم جائز نه دي - که اسلامي حکومت وي نو دا سے دروغژنے ته به کوړه او وهي -

مسئله ۲:- دَ حمل موده کم نه کم شپږ میاشتے ده او زیاته نه زیاته دوه کاله یعنې په شپږ میاشتے کښې صحیح سالم بچے پیدا کیدے شي او دوه کاله په ګیډه کښې هم پاتے کیدے شي دَ دینه زیات نه شي پاتے کیدے -

مسئله ۳:- دَ شریعت دا قاعده ده چه تر څو پورے کیدے شي بچي ته به حرامي نه وائي خو چه ډیره مجبوري شي نو بیا ورته ویلے شي او ښځه به ګناه ګاره شي -

مسئله ۴:- چا خپلې بی بی له طلاق رجعي ورکړه او بیا دَ دوه کالو نه په کم وخت کښې دَ دے بچے او شو نو دَ دغې خاوند دے نسب ئې په شریعت کښې برابر دے - او که دَ

دوه کالونه یوه ورځ هم کمه وه بچې حرامي نه دے - داسې به ګڼړلے شي چې ګوره کاله په ګیډه کښې وه او د بنځې عدت اوس ختم شو - البته که دے بنځې د دېنه مخکښې اقرار کړے وه چې زما عدت ختم شوے دے نو بیا به مجبوري وي حرامي به ګڼړلے شي - لیکن داسې بنځه چې خپل عدت د ختمیدو اقرار ئې نه وي کړے نو که هرڅومره موده پس ئې بچے اوشي د دغه خاوند به وي که هرڅومره له پس وي - او داسې به ګڼړلے شي چې په عدت کښې ئې ورسره کورولے کړے دے - او که عدت نه پس وه بیا رجوع کړے وه او اوس ئې دا بنځه ده - او نکاح ئې نه دے مات شوے او که سړي تے انکار کاوه نو بیا به لعان کوي -

مسئله ۵ او که طلاق بائن ئې ورکړي وي نو که په دوه کاله کښې دننه دننه بچے اوشه نو د خاوند به وي (خو که دے بنځې د عدت ختمیدو اقرار نه وه کړے) او که د دوه کاله نه پس اوشه نو بیا به حرامي وي - او که د دوه کالونه پس هم خاوند اقرار کاوه چې زما دے نو بیا هم حرامي نه دے او داسې به ګڼړلے شي چې په عدت کښې دننه ئې ورسره په دهوکه سره کورولے کړے دے -

مسئله ۶:- که نا بالغې جینۍ له ئې طلاق ورکړه چې څوان شوے لا نه وه لیکن بلوغ ته نژدے وه - او د طلاق نه پس پوره په نهه میاشت ئې بچے اوشه نو حرامي دے او که د نهه میاشتو نه په کمه کښې پیدا شه نو د خاوند دے - البته که دغې جینۍ په عدت کښې دننه اقرار کړے وي چې زما ګیډه ده نو بیا به بچے حرامي نه وي په دوه کاله کښې دننه که پیدا شه نو د پلار به وي - (دا حکم د هغې بنځې دے چې طلاق بائن ورله ورکړې شوی وي - او که طلاق رجعي وو نو که د اوویشتو میاشتو په کمه کښې پیدا شه نو هم به د پلار وي) -

مسئله ۷:- د بالغې بنځې خاوند مړ شه نو د مرګ نه پس په دوه کاله کښې دننه بچے پیدا شه نو حرامي نه دے بلکه د خاوند دے لیکن که بنځې د خپل عدت ختمیدو اقرار کړے وه نو بیا حرامي دے - او که د دوه کالونه پس پیدا شه هم حرامي دے -

تنبیه :- دے مسئلو ته فکر کول پکار دي او د جهالت په وجه په چا د حرامي نوم پورے کول سخته ګناه ده شریعت چې کوم حدود مقرر کړي وي دا صحیح دي -

مسئله ۸:- د نکاح نه پس که د شپږو میاشتو په کمه کښې بچے پیدا شه نو حرامي دے او که پوره شپږ میاشتې کښې یا زیات کښې پیدا شه نو د خاوند دے البته که خاوند انکار کاوه چې زما نه دے نو بیا د لعان حکم دے -

مسئله ۹:- نکاح اوشه لیکن د رواج مطابق لا بنځه د خاوند کره نه وه تلے چې بچے پیدا شه (او خاوند انکار نه کولو چې زما نه دے) نو دغه بچے حرامي نه دے د خاوند

دے او خوک به ورته حرامی[1] نه وائی - او که دَ خاوند نه وی نو انکار دے اوکړی او بیا به دَ لعان حکم وی -

مسئله :- خاوند په سفر دے او کلونه اوشو چه کور ته نه دے راغلے او دلته بچے اوشه (او خاوند تے انکار نه کوی) نو دے هم دَ شرعی قانون مطابق حرامی[2] نه دے - البته که خاوند انکار اوکړه نو بیا دَ لعان حکم دے -

دَ اولاد دَ پرورش بیان

مسئله :- دَ بچی خاوند جدا کی او شوه طلاق ئے ورکړه او په غیږ کښے ئے بچے وه نو دَ پرورش حق ئے دَ مور دے پلار ئے تے نه شی اغستے البته دَ بچی ټول خرچه به پلار ور کوی - او که مور ئے پرورش نه کولو نو بیا به ئے پلار راخلی - په ښځه زور نه شی کولے شی تے په زور اغستے شی او نه ئے ورته په زور په یخو دے شی -

مسئله[2] :- او که مور نه وی یا ئے مور نه اخلی نو بیا ئے حق دَ نیا (دَ مور دَ مور) دے او بیا دَ نیا دَ مور - او که دوی نه وی نو دَ پلار دَ مور او بیا دَ نیا دے - او که دوی هم نه وی بیا حق دَ سکه خوریانو دے چه دَ خپل رور پرورش اوکړی او که دوی نه وی نو بیا دَ میرے مور دَ لونړو حق دے - لیکن اول حق دَ هغه خوریانو دے چه مور ئے شریکه وی بیا دَ هغوی چه پلار ئے شریک وی - بیا دَ مور خورده او بیا دَ پلار خورده -

مسئله[3] :- که مور ئے دا سے څائے نکاح اوکړه چه هغه سړے دَ بچی محرم رشته دار نه وی - نو او س ئے دَ بچی دَ پرورش حق ختم شه او که دا سے سړی سره ئے نکاح اوکړه چه هغه دَ دے بچی محرم رشته دار وه لکه دَ دے بچی دَ تره وغیره سره ئے نکاح اوکړه نو دَ مور حق دَ پرورش باقی دے - دغه شان که دَ مور نه سوا بله ښځه لکه خور یا ترور وغیره دَ غیر سړی سره نکاح اوکړی نو هم دا حکم دے -

مسئله[4] :- دَ غیر سړی سره ئے دَ نکاح کولو په وجه دَ پرورش حق ختم شوے وه لیکن هغه طلاق ئے کړه یا مړ شه - نو بیا ئے حق واپس شه بچے اغستے شی -

مسئله[5] :- که دَ بچی په رشته دارو کښے څوک ښځه دَ بچی دَ پرورش دَ پاره ملاؤ نه شوه نو او س پلار زیات مستحق دے بیا نیکه وغیره په هغه ترتیب سره کوم چه دَ ولی په بیان کښے ذکر شوی دی - لیکن که نامحرم رشته دار وه او دَ بچی هغه له په ورکولو کښے دَ خرابید و امکان وه نو بیا به ئے روغ سړی ته سپاری -

مسئله[6] :- هلک چه دا وه کالو شوے نه وی تر هغے ئے دَ پرورش حق شته چه

[1-2] دا مطلب نه دے چه واقعی دَ پلار نه دے چه اعتراض پے اوشی ځکه چه دا خبره دَ عقل نه خلاف ده خو مطلب دا دے چه دَ شریعت په رو سره به ورته دَ خاوند وائی - دَ دے دا سے مثال دے چه یو سړے پخوان دَ تاتله اقرار کوی او په دغه تاریخ دے موجود حم نه وی او دماغ ئے هم صحیح وی نو دَ شرع په رو سره دے قاتل دے اګر که په واقع کښے نه وی په دے مسئله بحث په رساله رفع الارتیاب کښے مفصل ذکر دے -

ډاډوه کالوشه نو اوس ئې پلار په زور راغستے شي. او که چیرې د پرورش حق د نهو کالو پورې دے چې د نهو کالو شوه اوس ئې پلار راغستے شي۔

باب ۳ دخاوند دحقونو بیان

الله پاک خاوند له چیر حق ورکړے دے او چیره بندګي ئې ورکړې ده دخاوند راضي کول او خوشحاله ساتل لوئې عبادت دے او خفه کول ئې لوئې ګناه ده ـ حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې کومه ښځه پنځه وخته مونځ کوي او د رمضان روژے نیسي او خپل عزت او ساتي یعنې پاکلمنه اوسي او د خپل خاوند تابعداري کوي نو ورته اختیار دے چې یکومه دروازه جنت ته ننوځي نو ننوځي شي مطلب دا دے چې د جنت اَته دروازے دي او ټولے ورته بیرته دي چې کومه ئې په کښے خوښه وي په هغې دے جنت ته ځي ـ او حضورؐ فرمایلي دي د کومې ښځې مرګ چې په داسے حالت کښے راشي چې خاوند ترے راضي وي نو دا جنتي ده ـ او حضورؐ فرمایلي دي چې که ما په غیر د خدائے نه بل چا ته د سجدے کولو د پاره ویلے نو ښځې ته به م ضرور حکم کړے وه چې خپل خاوند ته سجده کوه ـ که سړے خپلے ښځې ته حکم اوکړي چې څوک دے غر کښے اخله هغې بل غره او د هغې بل هغې دریم غره وړه نو دا دے دا سے کوي ـ او حضورؐ فرمائلي دي چې کله خاوند ښځه د خپل کار د پاره راواویلي نو خامخا دے راځي که چغلي ته ناسته وي هغه دے پاتے کوي یعني که په څومره ضروري کار کښے ولے نه وي مشغوله خو هغه دے پریږدي او راځي دے ـ او حضورؐ فرمایلي دي چې کله خاوند ښځې ته د ځان سره د څملا ستو اوواي او دا رانه شي او خفه شان په غصّه کښے څملاست نو د سحره پورے ټولے فرشتے په دے ښځه لعنت وائي ـ او حضورؐ فرمایلي دي چې په دُنیا کښے کله یو ښځه خپل خاوند آزاره وي نو کومه حوره چې په قیامت کښے د دهٔ بي بي وي هغه ورته وائي خدائے دِ تا میراتے کړے چې مه آزاره وه دے خو ستا سره میلمه دے په لږ ورځو کښے به ستا نه مونږ له راځي او حضورؐ فرمائلي دي چې دریے تنه داسے دي چې نه د هغو مونځ قبول دے (یعني پوره ثواب ورته نه دے حاصل) او نه ئې څه بله نیکي قبلیږي. یو هغه وینځه یا غلام چې د خپل مالک نه اوتښتي ـ دوئم هغه ښځه چې خاوند ترے خوشحاله نه وي. دریم هغه چې په نشه کښے مست وي ـ چا د حضورؐ نه تپوس اوکړو چې یا رسول الله ﷺ د ټولو نه ښه ښځه کومه یوه ده ـ او ئې فرمائیل چې هغه ښځه کله چې خاوند دے ته اوګوري نو خوشحاله شي ـ او چې څه ورته اووائي نو خبره ئې مني او د خپل ځان او مال (یعنې دخاوند په مال) کښے داسے څه کار نه کوي چې هغه پرے خفه کیږي او بد ئې ګڼړي ـ یو حق د سړي دا دے چې هغه یکور کښے موجود وي نو بغیر د هغه د اجازت نه به نفل روژے او نفل مونځ نه کوي ـ بل دا چې خیر نه ځپته او

ورانه ویجاړه به د هغه په مخکښې شا او سپي چرته وړل ننګا دیه کوي تر دې چه خاوند ئې په
دې وهلې هم شي - بله دا چه د خاوند د اجازت نه بغیر به د کوره نه چرته نه اوځي -

باب ۳ د خاوند سره د سلوک طریقه

ده بنځې خاوند داسې سابقه ده چه ټول عمر کې یو بل سره تېره وي غواړي نو چه د یو بل
سره ئې زړه اولګي دا لوئې نعمت دے او که خدائے د نه که څه خلاف راشي نو بیا ترې بله لوئې
مصیبت نشته نو خومره چه کیدے شي د خاوند زړه خپلول پکار دي او د سترګو په
اشاره ئې چلیدل پکار دي که هغه حکم اوکړي چه ټوله شپه به لاس په نامه ولاړه وي
نو د دنیا او اخرت خیګړه په دې کښې ده چه د اندښان تکلیف برداشت کړي - او سرخروئي
حاصله کړي داسې یوه خبره مکوه چه د هغه د مزاج خلاف وي - که هغه ورځې ته شپه
اووائي نو ته هم وایه د ناپوهۍ او بې عقلۍ په وجه بعضې بنځې داسې خبرې اوکړي
چه د خاوند په زړه کښې خیرے پیدا شي کله به بې ځایه خبرې ملامتیا کانې طعنې
کوي او کله به ځان غصه کوي بدې ردې به شروع کړي او خاخا به د هغه زړه
بد وي - او چه د هغه زړه بد شي نو بیا به ژړا فریاد کوي چه بنه راسره نه دے
په دې ځان بنه پوهه کړه چه زړه یو وار بد شي نو بیا هغه زړه کښې مینه نه وي
بیا که هزار عذر ونه او د لاسے کوے خو کار نه کیږي څنګه مینه چه اول وي هغه
بیا نه وي په هره خبره ورته بیا هغه زړه خبره د خفګان ښځې ته کیږي - نو د
خاوند سره بنه په سوچ او فکر اوسیدل پکار دي چه خدائے او رسول هم
خوشحاله وي او ستا دنیا او اخرت هم برابر وي - اوس مونږ بعضې خبرې د
ضرورت بیا نو چه بیبیانې په دې عمل اوکړي - د خاوند نه د ضرورت نه
زیات خرچ مه غواړه د هغه حیثیت ته ګوره د حیثیت مطابق خرچ ترې غواړه - خو چه
په کور کښې او چه لمده موجوده وي په هغې ګذاره کوه که کپړے یا څه کالي د خوښې
شي او د خاوند سره دې پیسې نه وي نو فرمائیش ورته مه کوه او مه د هغه
په مخکښې پیسې افسوس او ارمان کوه - د هغه به درنه زړه بد شي چه دا ما ته
نه ګوري او داسې بې موقع فرمائیشونه کوي بلکه که خاوند دې مالدار هم وي
خو خومره چه درنه کیدے شي د څه خبرے فرمائیش مه کوه - البته که هغه
درنه تپوس اوکړي چه تا له څه راوړم نو بیا ورته وایه - د ځان په فرمائیشونو
سړے په نظرونو کښې غورزیږي او خبره ئې بې وقعته کیږي - په څه خبره
ضد مه کوه چه کیږده مه که څه خبره ستا خلاف هم وي خو د هغه وخت ئې بریده
بیا ئې په بل موقع په مناسب طریقه سره اوکړه - که د خاوند کره دے لنډه تنګه
وي نو بالکل چه کیله قدرئے او نه کړے همیشه د خوشحالۍ اظهار کوه چه خاوند

دې خفه نه شي او ستا په دې سلوک به د هغه زړه ستا په لاس کښې راشي او
که ستا د پاره څه شے راوړي نو که ستا خوښ وي او که نه هميشه په خوشحالي
بکاره کوه دا مه وايه چه دا شے څه نه دے ځما خوښ نه دے په دے سره د هغه
زړه ته صدمه رسي او بيا به ئے زړه څه راوړل نه غواړي او که ته ئے تعريف اوکړې
په خوشحالي ئے واخلې نو د هغه زړه به لوئے شي بيا به په مينه شے راوړي. د غوښې
نه چرته د خاوند ناشکري مه کوه دا چې ته مه وايه چه دے سپيره کور له راغلې
يم نو څه م اونه ليده بس ټول عمر م د سختو او تکليفونو دے دا څه خدائے
پاک په څه بلا گرفتاره کړې يم په اور کښې م ميشته ده په داسے خبرو د هغه
زړه بالکل بد يږي - په حديث شريف دي حضور صلے الله عليه وسلم فرمائي
چه ما په دوزخ کښې ښځې ډيرې اوليدے چاتے پتوس اوکړ چه ښځے ولے په دوزخ
کښې ډيرې دي؟ نو او ئے فرمايل چه دوي په نورو لعنت کوي او د خپل خاوند
ناشکره وي. نو خيال اوکړئ چه ناشکري څومره ناکاره شے دے او په
خلقو لعنت کول يا داسے ويل چه فلانے خدائے لئے وهلے يا د فلانی دا دوزخي ځے
په ځئے لعنت وريږي دا ټولے خبرے ډيرے ناکاره دي - که خاوند په
څه خبره غصه شي نو داسے خبره مکوه چه غصه ئے زياته شي هر وخت د هغه
مزاج ته گوره او خبره کوه - که پوهيږے چه دا وخت په خندا خوشحاله
دے نو خندا او مينه کوه او که نه وي نو بيا مه کوه - مزاج ته ئے گوره او
هغه شان کار کوه - که په څه خبره درنه خفه شي نو ته ورته هم مه بوتيږه
بلکه خوشامنده او عذر معذرت کوه - که گناه د خاوند وي ستا نه وي بيا
هم بوتيږه مه او خوشامنده کول ئے خپل عزت گڼړه - د خاوند او ښځے
مينه او ملاپ په داسے محبت نه دے بلکه د دے سره سره د هغه ادب هم
لازمي دے خاوند د ځان سره برابر گڼړل سخته غلطي ده - په خاوند چرته
خپل څه کار مه کوه که هغه د مينے نه درله لاس يا سر چاپي کوي هم ې مکوه
په ناسته پاسته خبرو اترو غرض په هره خبره کښې د ادب او تميز خيال ساته - او
که چرته په څه خبره کښې ستا گناه وي نو په هغے ځان خفه کول لويه بے وقوفي
ده - چه د سفره راشي نو د خير خيريت پتوس ترے کوه که ستړے وي نو چاپي کړه
که اوږے يا تږے وي نو فورًا ئے د خوراک سکاک بندوبست اوکړه که گرمي وي
نو د پنکے او ږو لو غوره ئے اوکړه - غرض د آرام او راحت ئے هر وخت خيال
ساته - د روپو پيسو خبرے ورسره چرته مکوه چه څومره دے راوړے مال دے
څه راوړه ما ته ئے او خايه او دا پتوس هم ترے مکوه چه ستا څو دومره تنخواه

وه او تا ایله وغه دا وړے په دومره موده کښے - دا ورستئ خبرے دی په
ارام به په قلاره تپوس اوکړے - او که مور وپلار دے ژوندی وی نو بیا
هیڅ حق نشته د دوی په پیسو سره چه هغوی له ئے ورکوی تا پسے مه خفه کیږه
بلکه تا له ئے درهم کړی خو هو بنیا رتیا ستا داده چه ته ورته نه لاس کوے
بلکه وائے ورته چه هغوی له ئے ورکړه - ځکه چه په دے به د مور و پلار زړه ښه
شی او ستا به به نه وائی چه نکور یا نه ځوئے واغسته - ترڅو پورے چه
خوابنے سخر ژوندی وی د هغوی خدمت ځان فرض اوګنړه او به دے کښے
خپل عزت اوګنړه او د خوابنے نند رورا نو نه د جدا کیدو فکر هرګز مه کوه
ځکه چه دا خیال د فسادا و جګړو ذیلی دی - پخپله فکرا وکړه چه مور و پلار
دے پاللے او لوئے کړے دے او اوس د هغوی په زوړ والی کښے دغه آسره
ده واده کو ژوندون ئے ورله اوکړه چه موږه تا ارام شی او چه نکور د دے والي
نه د کوزیدو سره د جدا کیدو په فکر کښے شی نو چه مور تا دا پته او لوی
چه دا خو اوس ځمونږ نه ځوئے جدا کوی نو د دینه فساد جوړیشی- د خاندان
سره یو ځائے اوسه خپله طریقه د ابتدا نه د ادب او د لحاظ جوړه کړه په وړو
شفقت او د لویو ادب کوه - خپل کار نورو ته مه پاتے کوه - او خپل څه شے
بے ځایه مه پریده چه څه بد به ئے را واخلی کوم کار چه خوابنے او نند رورانے
کوی په هغے ته ځان تا عار مه او دروه د هغوی د لاس نه ئے اخله او پخپله
ئے کوه په داسے کولو به د هغوی په زړونو کښے ستا محبت پیدا کیږی - چه په
کور کښے دوه تنه پټے پټے خبرے کوی نو تا ورله مه ورځه او غوږ ورته مه کږه
چه دوی څه خبرے کوی او فضول ګمان نو شه مه کوه چه ځما خبره به کوی - او دا هم ضرور
خیال ساتا چه دا کور او اوس ستا خپل کور دے په دے کښے د میله پښتان یا د پردو پښتان
مه اوسه - د نوی کور او د نوو خلقو په وجه به ستا زړه نه لږی لیکن زړه دے
پوخه کړه چه ستا د پاره اوس دا کور خپل او د پلار د کور پردے دے - هسے نه
چه څوک راضی او تا ناسته جاړے لا راغلے نه ئے او بیا د تلو خیالات په زړه کښے
راولے - په خبرو کښے هم خیال ساتا دومره بے ځایه بکواس نه هم مکوه چه بدنه بکار
شے او دومره چپ حم نه چه په منتونو درنه یوه خبره نه اوځی - که د خاوند په
کور کښے څه داسے خبرے کیږی چه ستا نه وی خوه بنے نو هغه به د پلار به کور کښے چرته
نه وائے - د خاوند د کور ویړه ویړه خبره د پلار رمور کره کول او د مور د لونه د هغے
کور د خبرو تپوسونه کول ډیره ناکاره خبره ده - د دینه سوا د جنګ جګړو
جوړیدو بله هیڅ فائده نشته - د خاوند د کور او د هغه ذاتی سامان ته

خیال ساتۀ او بنه په سلیقه سره ئې کړی وه. ډا وسیدو کمره صفا ساته بستره خیره نۀ پرېښته مه پرېږده. بالخصوص صفا کوه ونیځه ئې. هر کار ته خیال ساته او ډومانه ئې کوه چې ډېل په وینا اوشي هغه کار کښې به څه مزه وی او ستا به څه عزت پاتې شي مزه خو هله وی چې بغیر وینا هر څه ټهیک او برابر وی. کوم څیزونه چې ستا سره پراته وی د هغې حفاظت کوه کپړې قط کوه نو کړه ئې هسې نه په کوټونو او صندوقونو کښې مه ورمنډوه. اخوا دیخوا څه شي یا چاته مه غورزه وه په څه کار کښې حیله حوالۀ مه کوه دروغ خبرې چرته مه جوړه وه په دې سړې بې اعتباره کیږی که بیا رښتیا وائې خو هم بیا څوک یقین نۀ کوی. که په غصه کښې درته څه بد ردوائی نو ته بالکل جواب مه ورکوه غلې کیټه ډ غصې نه پس به هغه پخپله خپیمانه شي. او ستا نه به خوشحاله شي. څوک ته ورسره هم شروع اوکړې نو خبره به ډېره زیاته شي او خدائے خبر چې نوبت به څه ته رسی په لږه لږه خبره شکوه نه کوه چې ته خو د فلانۍ سره ډېر خاندې کښنې ورته ئې راځې ورکړه ځکه چې که خاوند بې ګناه وی نو ګمانته به پخپله جنجال جوړ کړې او که ګناه ګار هم وی خو ستا په دې خبر وهیڅ نه کیږی. خپل ګمان ته ئې د مائله کولو کوشش کوه او په پټه پټه ئې پوهه کوه غیرت ورله ورکوه خو په عقلمندئ سره. او که په دې هم اونه شه نو بیا خیر دے صبر کوه. او د خلقو په مخ کښې ئې مه رسوا کوه ځکه چې په دې سره زیات ضدی کیږی او چې تاته د خلقو په مخ کښې رسوا کوے نو ستا نه ئې هم زړه آوړی او بیا به خفه ئې. دا یادساته چې سړی د بنځو په باره کښې منزری وی د دوی په دبا وونو نه لاندې کیږی د دوی د لاندې کولو آسان تد بیر خوشامند او تابعداری ده دوی ته غصه کول او دباؤ بې غورزه ول لویه غلطی او ناپوهی ده که انجام ئې او س نکاره نه شي خو چې فساد کله مضبوط شي نو خرابه نتیجه به ئې خامخا ظاهریږی. په لکهنؤ کښې د یوې بی بی خاوند ډېر بد چلن دے د بازاری بنځې سره شپه ورځ اوسی کورته بالکل نه راځی. او مزه لا داده چې روزانه دے ته فرمائیشونه را لیږی چې نن مونږ له پلاؤ پوخ کړه را او لیږه نن فلانے شے پوخ کړه را او لیږه او دا عاجزه ساه نه اخلی څه فرمائش چې ئې خاوند را لیږی دائے پوره کوی نو ټول خلق په دے بی بی رحمتونه وائی او صفتونه ئې کوی او د خدائے په نزد چې د دې څومره مرتبه وه هغه لا جدا ده. او که کوم ورځ ئې خدائے پاک دے خاوند ته هدایت اوکړه او د دے بد چلنۍ نه توبه وشه نو د دې غلام به وی.

اضافه دَ جانبه دَ مترجم نه

فاضل مصنف چه دَ خاوند کوم حقوق بیان کړه دا خو تا سو ته معلوم شو خو اوس زهٔ دَ خپل طرفه لږ دَ خپل زړه برباس هم دَ لوستونکو دَ دلچسپئ دَ پاره را اوباسم او هغه دا چه الله پاک په قرآن پاک کښې فرمائي " وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ " - يعنې دَ ښځو هم په سړو داسې حقوق دي لکه څنګه چه دَ سړو په دوی دي په ټهيک طريقه سره - دا خو دَ دے کتاب دَ لوستو نه معلومه شوه چه که نکاح بغير مهر نه اوتړلے شوه نو هم مهر مثل واجب شه مطلب دا دے چه ښځه به هله دَ سړي ښځه شي چه مهر ورکړي - او دا هم په دے کتاب کښې دي چه مهر ښځے ته نه وي ملاو شوے او دا چرته په سفر ځي يا دَ پلار کره ځي نو خاوند ئے نه شي منع کولے وغيره - ليکن دَ کومے ښځے چه دَ نکاح په وخت کښې مهر مقرر شي او دا يادداشت اوشي چه واده به هله کوے چه دا ټول مهر اول ادا کړے او بيا دَ جينئ پلار کور ته هغے واده ورنه کړي چه ترڅو مقرره مهر نه وي ادا شوے او په زور ضابطه پے مقرره مهر چه دَ مهر مثل نه هم کم وي جوړ کړي او دَ واده نه پس دَ جينئ نه هغه مهر دَ خاوند کور ته پس په زور ضابطه داخلې چه زمونږ په ځامن دي هر يو له چه مهر کوو دا گران دَه دا خو دَ شريک کور مهر شه دَ ټولو ورو نه به پکښې کوو دا ستا يوائے نه دے - او بيا بل ورپسې ځوئي له کوژدن او کړي او په دغې جوړه شوي کالي دَ بلے نڅکور مهر وي دَ هغے جينئ نکاح هم او کړي او نه مهر ورله يو سي هغه په کښې واده کړي او دَ واده نه پس ئے دَ هغے نه هم واخلي او بل ځوئي له ئے دَ واده دَ پاره کيدي - دا خو شوه دَ مهر مسئله - او دَ کور دَ لويو وړو رواج دَ دے سره دا وي چه دا يو ورځ ليوروڼه نند روڼا نے او يو خواښې سخر دا ټول دَ دے خاوندان وي دَ هر يو دَ پاره اخلے ځلے ورځي کنډول کينه پاسه به دا غريبه داسې کوي لکه دَ خاوند په دے ټولو کښې به يو تن هم په دے دَ هلواد تکو لو کنځلو وغيره صرف نه کوي او دا به دَ خولے نه اُف قدرے نه او باسي او که بيخي يو تن ته ئے اُف قدرے او کړه نو چه خاوند ئے کورته راشي نو دا ټول به ورته يو خله شي چه دا ښځه دے اوس په مونږ سوريږي په مونږ ئے مه سپوره دا نو خاوند به پسے پاسي او دَ هغه معمولي وهل به دا وي چه دَ سر دَ ويښتو نه به ئے اونيسي او يو څو پيرے به ورله دا سر ديوال له راوتړي او بے هوشه به ئے او غورزوي وي بيا دَ دے خپل جوړه دے چه هر کله ښخوڅ شوه او خوا ښې ائي او ليوروڼه نند روڼا نے به نا سته وي خوشحاليږي به چه دا غسې ښه ده زمونږ په وهلو څپه کيږي چه ښا ئے کړي - او په دے دَ پاسه وينے به پے بهيږي خو دَ خاوند غوجل دَ کوتلوه

لویه وي به د عمرنه د مابنه پورې په یوه خپه کوي او چه شپه شي نو د غې قد ومنې لهوا بنې اې هپو چاپي کو لو ته به کيني ځکه چه هغه ټول ورځ د کلي په کوڅو او دې ته په قدم قدم ګور دیدوا و سپکو سپورو ویلو ستړي شوي ده او ترهغې به ئې چاپي کوي چه اوده شي - نو بیا به د هغې نه وا شي او د قدردا ن چنغول چه مهدځ ته په اول شپه واپس کړې دے او د مور او وروڼو خویا نده وپه لمسو ئې لس اته پيرے . غریب په وهلو او ټکولو ستړي ستو مانه شوي دے خپو ته کيني او تر هغې به ئې چاپي کوي چه دے هم اوده شي - او په دے ټولو خبرو د پاسه به دا د پلار مور په کور بنده او پلار مور د دے په کور بند وي او دا سې نورے ډيرے خبرے وي چه د دے د پاره مایو مستقل کتاب "د مسلمان خاوند" په نوم ترجمه کړے دے که د چا شوق وي نو هغه دے او ګوري داځائے زیات کېدو ګنجائش نشته - ځما مقصد صرف د دا سې خلقو نه دا ښوول دي چه په کمزورو او غریبو ښځو زیاتي کوي او د خپل زور او ظلم کولو حق ئې ورکړے او د خپل نزد ے عالم دین نه په دے باره ځان پوهه کړي چه ځما په ښځه څه حقوق دي او د ښځې په ما څه حقوق دي او دا حدیث د حضور صلی الله علیه وسلم ورته ښوول او خائي چه "د قیامت په ورځ به بې ښکرو بیزه د ښکره ورے بیزے نه خپل بدل اخلي" (مترجم ابومُين)

باب: د اولاد د پرورش طریقه

دا خبره ډیره د غور او فکر قابله ده ځکه چه کوم بنده یا بدعادت په بچپن کښې پوخ شي هغه بیا ټول عمر نه اوځي - نو د ورکو تحالی نه د ځوانۍ پورې ټولې خبرے په ترتیب سره لیکلې شي -

۱:- د نیک بخته او دیندارے ښځې پۍ ورکوه د پیولو ئے اثر دی -

۲:- د ښځو دا عادت وي چه بچي په بُو یا ته سپي پیشو وغیره سره یره وي دا ډیر ناکاره عادت دے په دے د بچي زړه کمزورے کیږي -

۳:- د پیو او خوراک د پاره ورله وخت مقرر که چه صحت ئې ښه وي -

۴:- صاف ستهرائے ساته چه تند رست وي -

۵:- ډیر ورله سنګار ورله مه کوه -

۶:- که هلک وي نو د سر ویښته ئې مه لویه وه -

۷:- که جینۍ وي نو ترڅو چه د ستر شوے نه وي کالي ورته مه اچوه یو ئې په کښې ځان خطره ده بل ئې د ورکو توالي نه د کالو شوق جوړیږي -

۸:- چاغ بیا نو له چه څه ورکوے نو د هغه په لاس ئې لیږه او که په کور کښې څه تقسیموے میوه وغیره نو هم لویو روڼړو خویا ند ولا د هغه په لاس ورکوه

په دے په دوی کښے د سخا خوئ پیدا کیږی - لیکن ته خپل څیزونه د دوی په لاس ورکوه کوم څیزونه چه د دے د پاره دوی ته ورکړے شوی وی - او د دوی څیزونه د دوی په لاس ورکوه (یعنے کوم شے چه د دوی ملک وی)

۹:- د ډیر خوړلو نه کاروالے د دوی په مخکښے بیانوه یعنے داسے وایه چه څوک ډیر خوراک کوی خلق ورته حبشی وائی غوائی ورته وائی - رنځوروی وغیره -

۱۰:- که هلک وی نو د سپینو کپړو سره ئے مینه پیدا کوه - او د رنګینو او زیاتو قیمتی کپړو نه ئے نفرت پیدا کوه -

۱۱:- او که جینئ وی نو د ډیرو پر تکلف کپړو عادت ئے مه جوړه وه -

۱۲:- ټول ضد ونه ئے مه پوره کوه خوئ ئے خرابیږی -

۱۳:- د چغو د جړا نه ئے منع کوه او خاص کر چه جینئ وی نو په چغو ئے ډیره زوره هسے نه چه دا ئے عادت شی -

۱۴:- د کومو بچو چه عادتو نه خراب وی د سبق نه پټیږی او نور خراب کارونه کوی او د بنو بنو کپړو او ډیرو پیسو خرچ کولو عادت وی د هغوی سره ئے مه پریږده -

۱۵:- او د دے خبرونه ئے نفرت پیدا کوه - د غصے نه، د دروغو نه، د بیحیئ وینا د حرص نه - د غلا چغلئ نه - د خپلے خبرے د پاره ولوړ اپه ولوته، د ګناه د خبرو جوړولو نه، د بے ځایه ډیرو خبرو کولو نه - د زیاتے خندا نه - د دهوکے ورکولو نه - د بنه بد د سوچ نه کولو نه - او چه کله په کښے داسے خبره او وینې نو فورًا ئے منع کوه او تنبیه ورته کوه -

۱۶:- که څه شے مات کړی یا څوک او وهی نو مناسب سزا ورکوه چه بیا داسے نه کوی

۱۷:- ډیر د ویخته ئے مه اوده کوه -

۱۸:- د وختی پاسید و عادت ئے جوړه وه -

۱۹:- چه د اوه کالو شی نو په مانځه ئے عادتی کوه -

۲۰:- چه سکول ته د تلو قابل شی اول ورته قرآن او وایه -

۲۱:- څو مره چه کیدے شی په دینداراستا دو ورته سبق وایه -

۲۲:- سکول ته په تلو کښے ورسره چرته نرمی مه کوه -

۲۳:- د نیکو خلقو قصے ورته کله کله وایه ربیا خاص د صحابو قصے) -

۲۴:- د عشق و محبت کتابونه فضول او عبث کتابونه د غزلو وغیره کتابونه ورته چرته مه پریږده -

۲۵:- داسے کتابونه ورته وایه چه د دینی خبرے په کښے وی او د دنیا ضروری خبرے -

۲۶:- چه د سکول نه راشی نو د خوشحالئ د پاره ورله لږ شان د لوبو اجازت ورکړه

لیکن چه لوبې داسې وی چه نه په کښې ګناه وی او نه په کښې خو بدیې ل وی۔

۱۲۷۔ د ر التش بازئ یا د باجو وغیره فضول څیزونو د پاره پیسې ورله مه ورکوه۔

۱۲۸۔ د لوبو او تماشو لیدلو عادت په کښې مه اچوه۔

۱۲۹۔ اولاد ته ضرور داسې څه هنر وخایه چه د ضرورت په وخت کښې پې ځان بیا ساتلے شی۔ او خپله او د خپلو بچو ګذاره پې کولے شی۔

۱۳۰۔ جینکو ته صرف دومره قدرے خط او ښایه چه ضروری خطا و کور حساب کتاب پے کولے شی۔

۱۳۱۔ په بچو کښې دا عادت غورزه وه چه خپل کار پخپله کولے شی شل کوټے مه جوړه وه۔ د شپې کټ دے ځانله پخپله جوړه وی سحر دے پخپله نغاړی۔ د خپلو کپړو صندوق یا پنډوکے دے پخپل حفاظت کښې ساتی۔ څیرے سپړ دے دے پخپله کوی۔ کپړے که ګنده وی او که پاکے خو پخپله دے داسې ځائے کیږدی چه د منګک وغیره نه محفوظ وی دهوبی له دے پخپله ورکوی پخپله دے را اخلی۔

۱۳۲۔ جینکو ته تاکید کوه چه د شپې د خملاستو په وخت کښې او د سحر پاسیدو په وخت کښې د خپلو کالو نګرانی پخپله کوی۔

۱۳۳۔ په جینکو تاکید کوه چه پکو رکښې کوم اخلے پخلے یا ګنډل سکنډل کیږی فکر ورته کوی او ځان پے پوهه کوی ایزده کوی ئے۔

۱۳۴۔ چه کله بچے یو ښه کار او کړی نو ښه شاباشے پے ورکوه او مینه ورسره کوه بلکې انعام پے هم ورکوه چه زړه ئے لوئیږی او چه ناکاره کار ئے او شی نو په هغے ئے ښه پوهه کوه چه دا ناکاره کار دے خلق په دربانډې بد وائی خبردار چه بیا داسې او نه کړے ښه بچی چرته داسې نه کوی او چه دوباره ئے او کړی نو مناسب سزاپے ورکوه۔

۱۳۵۔ مورله پکار دی چه بچے د پلار نه یره وی۔

۱۳۶۔ په بچی بانډې په پټه څه کار مه کوه لوبے وی او که خوراک یا بل څه کار کوم کار چه دے په پټه کوی پوهه شه چه د دے نه ئے منع کوه که ناکاره کار وی نو منع کوه ئے ته او که ښه کار وی لکه خوراک نو ورته وایه چه په ما کښې ئے خوره۔

۱۳۷۔ د محنت څه نه څه کار د ده په ذمه کړه چه صحت ئے هم ښه وی او همت پکښې پیدا کیږی۔ سستی په کښې رانه شی۔ مثلاً د هلکانو د پاره څه ورزش او د جینکو د پاره میچن یا څرخه وغیره چلول ضروری دی۔

۱۳۸۔ د چیرو زرزر تلو نه ئے منع کوه او په تلو کښې د آسمان ته کتو نه۔

۱۳۹۔ د عاجزئ اختیارولو عادت په کښې اچوه په ډبهڼ تلو کښې چه ئے تکبر او لوئی راننه شی تر دے چه د همزولو سره ناست وی نو چه د خپل خاندان جامو کتاب

قلم دوات قد دے تعریف هم نه کوی۔

۴۰:- کله کله ورله څه مناسب پیسے ورکوه چه پخپله چه بهتے خرچ کوی لیکن دا عادت په کښے اچوه چه څه شے هم ستا نه په غلا وانه اخلی۔

۴۱:- دَ خوراک او په مجلس کښے دَ کینا ستو طریقه ورته ښایه - څه موبند دلته لیکو۔

باب ۳۲

دَخوراک طریقه

په ښیٔ لاس خوره په شروع کښے بسم الله وایه - دَ ښپلے مخ نه خوره - دَ نورو نه اول شروع مه کوه خوراک ته په غور مه ګوره - نورو خوړونکو ته مه ګوره ډیر تلوار خوراک مه کوه - شخوند پے ښه وهه - چه یوه نمرے ږتیره کړے نه وی بله مه په خوله کوه - ترکاری په کپړو مه څڅوه - ګوتے دَ ضرورت نه زیاتے مه ورمنړه -

باب ۳۳

په محفل کښے دَ ناستے پاستے طریقه

په ادب ملاویږه خبرے نرے کوه - په محفل کښے لاړے مه توکی پوزه مه سونړه وه که ضرورت شی نولرے څه - او هیر وکی مه تا وهه که اسویلے یا پرنجے درشی په خوله لاس کښا آواز څکته ساته چا ته شا کوه مه چا ته خپه مه غړوه، دَ زنے نه لاس مه لاندے کوه - دَ ګوتو تقارمه او باسه - بے ضرورته هار ها رچا ته مه ګوره - په ادب کینه - ډیرے خبرے مه کوه - په خبره قسم مه خوره، ترڅوچه ممکنه وی پخپله خبرے مه شروع کوه - چه څوک خبره کوی تو په توجه سره ئے آوره او که دَ کښاه خبره وه منع کوه ئے یا دَ هغه ځائے نه ځه ترڅو چه یې خبره نه وی پوره کړے په منځ کښے مه وایه - که څوک را شی او ځائے نه وی ځائے ورته کوه لږ خوه زه چه ځائے ارت شی - دَ چا سره چه ملاویږے یا رخصتیږے نو السلام علیکم وایه او په جواب کښے وعلیکم السلام وایه او نور الفاظ مه وایه -

باب ۳۴

دَحقوقو بیان

دَ مور وپلار حقوق

(۱) تکلیف به ورته نه رسوے - اګرچه هغوی درسره زیاتے کوی۔

(۲) په ژبه په رونو کار کښے به د دوی تعظیم کوے (۳) په جائزو کارونو کښے به ئے منے - (۴) که حاجت ئے وی نو په مال سره به ئے خدمت کوے اګرکه دوی کافروی - دَ مور و پلار دَ مرګ نه پس دا حقوق دی (۱) دعا دَ مغفرت او رحمت به ورله کوے - دَ نفل عبادت او دَ خیرات ثواب به ورته رسوے (۲) دَ هغوی دَ دوستا نو سره به په احسان او خدمت سره مخامخ کیږے (۳) دَ هغوی په ذمه چه کوم قرضه وی یا ئے دَ څه جائز کار وصیت کړے وی او طاقت دے وی هغه به ادا کوے (۴) دَ هغوی په مرګ به دَ خلاف شرع چغا او فریاد نه ځان ساتے دا هغوی ته تکلیف رسوی او دَ دنیا نیکو نو حق به شرع کښے دَ پلار

مورپلار دے دَ ځوی حقوق هم دَمور وپلار دپلار پشان ګڼل پکار دی - دغه شان دَمور خور او ماما پشان دَمور او تره او تره ورپشان دَپلار دی - دَحدیث نه معلومیږی -

دَرضاعی مور حقوق (۱) په ادب به ورسره ملاویږے (۲) که مال ته ئے حاجت وی او ستاسره ګنجایش وی نو دَ هغې خیال به ساتے -

دَمیرے مور حقوق چونکه دَپلار ردوسته ده او دَپلار ردوستانو سره دَاحسان کولو حکم دے نو دَمیرے مور هم څه حقوق دی لکه بره چه بیان شو -

مشر رور دَحدیث په رو سره دَ پلار په مثل دے نو معلومه شوه چه ورکوټے رور په مثل دَاولاد دے نو دَ دوی په مینځ کښے داسے حقوق دی لکه دَمور وپلار او اولاد دغه شان مشره خور او کشره خور دی -

دَخپلوانو حقوق (۱) خپلوان که غریبان وی او دَ ګټے وټے نه وی نو دَ ګنجایش موافق دَ ځوی دَضروری خرچ خبر اغستل لازم دی (۲) کله کله ورسره ملاویدل پکار دی (۳) خپلوی به ورسره نه قطع کوی بلکه که دَ ځوی نه ورته ضرر او رسی صبر به کوی -

دَسخرانے رشته دَسخرانے رشته الله پاک په قرآن کښے په نسب کښے ذکر کړے ده نو دَ دینه معلومه شوه چه دَ خوا ښے سخر 'خینے' او ښځې ' زوم' 'انګور' دَ ښځې دَ ورمبی اولاد او دَ خاوند دَ ورمبی اولاد هم څه قدر رشته نو په دے رشتو کښے دَ نورو خلقو نه زیات رعایت احسان او ښه اخلاق ساتل پکار دی -

دَعامو مسلمانانو حقوق (۱) خطائے معاف کول (۲) په ژړا ئے رحم کول (۳) عیب ئے پټول (۴) عذر ئے قبلول (۵) تکلیف ئے لرے کول (۶) همیشه ئے خیرخواهی کول (۷) محبت ورسره کول (۸) وعده ئے پوره کول (۹) دَ بیمار ئے تپوس ئے کول (۱۰) چه مړشی دعا ورته کول (۱۱) دعوت ئے قبلول (۱۲) تحفه ئے قبلول (۱۳) دَ احسان په بدل کښے ئے احسان کول (۱۴) دَ نعمت شکرئے اداکول (۱۵) دَ ضرورت په وخت کښے ئے مدد کول (۱۶) دَ بال بچو حفاظت ئے کول (۱۷) دَ هغه کار کول (۱۸) خبره ئے اوریدل (۱۹) سفارش ئے قبلول (۲۰) دَ مراد نه ئے نه نا امیده کول (۲۱) چه اوږنجیږی او الحمد لله او وائی نو په جواب کښے یرحمك الله ویل (۲۲) که څه تے ورک شو او تا بیا موندو هغه ته ئے رسول (۲۳) دَ سلام جواب ئے ورکول (۲۴) په نرمئ او خوشخوئ ورسره خبرے کول (۲۵) احسان ورسره کول (۲۶) که په دَه دَ څه خبرے قسم او کړی هغه قسم ئے پوره کول (۲۷) که ظلم پرے کیږی مدد ئے کول او که دے په چا ظلم کوی منع کول ئے (۲۸) محبت ورسره کول دشمنی ورسره نه کول (۲۹) نه ئے رسوا کول (۳۰) کومه خبره چه دَ ځان دَپاره خوښوی دَ هغه دَپاره ئے خوښول (۳۱) دَملاقا په وخت کښے سلام او مصافحه کول دَ سړی دَ سړی سره او دَ ښځې دَ ښځې سره (۳۲) که اتفاقاً ئے څه خفګان پیدا شی

نو د درے ورځو نه زیاتے خبرے نه بندول (۱۳) بدګمانی پے نه کول (۱۴) حسد او
بغض ورسره نه ساتل (۱۵) ښه خبره ورته ښودل او د بدے نه ئے منع کول (۱۶) په
وړو رحم او د لویو ادب کول (۱۷) دوه مسلمانان چه په منځ کښے وران شي صلح ئے
کول (۱۸) غیبت ئے نه کول (۱۹) په مال او عزت کښے ورته نقصان نه رسول (۲۰) هغه
پاسه ول او د هغه په ځائے نه کیناستل ۔

د ګاونډی حقوق (۱) په احسان او رعایت ورسره ملاویږه (۲) د هغه د ښځو او
بچو د عزت حفاظت کول (۳) کله کله ورکره تحفه لیږل او چه اوږے وی نو خامخا ورکره
لږ څیر خوراک لیږل (۴) تکلیف نه ورکول په وړو وړو خبرو ورسره نه ځنګل ۔ او ورغه
شان د سفر ملګرے دے د ده حقوق هم د ګاونډی په شان دي ۔ د ده راحت به پخپل راحت
مقدم ګڼړی بعضے خلق په ریل یا بله سوارۍ کښے د یو بل سره ډیر شوک پاک کوی دا
ډیره بده خبره ده ۔ دغه د یتیم کونډے، شل ګوډ، عاجز ضعیف مسکین بیمار معذور
مسافر سوال ګری (۱) په مال سره خدمت کول (۲) پخپلو لاسو د دوی کار کول (۳) دلجوئ
او تسلی ئے کول (۴) د دوی سوال او حاجت نه رد کول ۔

بعض حقوق صرف د انسانیت په وجه دي اګر که مسلمان نه وي (۱) بے قصوره د چا
جان و مال ته تکلیف نه ورکول (۲) بغیر د شرعی وجه نه د چا سره بد ژبانی نه کول (۳) که څوک
په مصیبت اوګیږه او مرض کښے مبتلا او وینے د هغه مدد کول خوراک ورکول علاج ئے کول
(۴) په کوم صورت کښے چه شریعت د سزا حکم کړے دے په هغے کښے هم زیاتے او ظلم نه کول

د حیواناتو حقوق (۱) د کومو حیواناتو نه چه څه فائده نه وی هغه نه بندیوا
کول خاص کر د چالونه د مرغو بچوړی رااغستل او مور و پلار ئے خفه کول ډیره بے رحمي ده
(۲) کوم جانور چه د خوراک د پاره دی هغه هم محض د خپل زړه خوشحالولو د پاره
نه قتل کول (۳) کوم جانور چه د کار کولو د پاره دي د هغوی د خوراک څښاک آرام
او راحت پوره خیال ساتل د طاقت نه زیات بوجھ پے نه اچول او زیات ئے نه وهل
(۴) کوم جانور چه ذبح کول وی یا د ضرر په وجه ئے قتلول وی په تیره چاړه به
ئے ژر کار ختموے تکلیف به نه ورکوے ۔ د لوږے تندے نه به ئے نه وژنے ۔

باب ۳ ضروری خبره

که د چا په حق کښے څه کمے شوے وی نو
چه د ادا کولو قابل وی ادا ئے کړه او که د
معاف کولو قابل وی معافی ترے اوغواړه مثلاً د چا قرض پاتے شوے دے یا خیانت وغیره
وی ۔ او کوم چه صرف د معاف کولو وی معافی ترے اوغواړه لکه غیبت وغیره ئے کړے وه یا دے
وهلے وه ۔ او که نه په څه وجه د ادا کولو وی او نه د معاف کولو نو د هغے خلقو د

پاره همیشه د بخانے دعا کوه شاید چه په قیامت کښے الله پاک دغه خلق رضا کړی او معافی اوکړی لیکن بیا هم که څه موقع د ادا کولو یا د معاف کولو وی نو بے پرا کیږه ته مه - او کوم حقوق چه ستا چا ته پاتے وی او په نرمئ سره تے نه شی وصولیدے - یا قابل د وصولئ نه وی نو اګرچه په قیامت کښے د دے په عوض نیکئ ملاویږی لیکن په معاف کولو کښے ئے زیات ثواب دے نو معاف کول ئے غوره دی -

تجوید یعنے قرآن شریف صحیح لوستل

مسئله :- کوشش کول په کښے واجب دی - بے پرواهی او سُستی کول پکښے ګناه دے -

فائده :- قاعدے ئے ډیرے دی لیکن ضروری او اسانے تے دلته لیکلے شی -

تنبیه :- په دے حرفونو کښے ښه کوشش او فرق کول پکار دی او په ټهیک طریقه ادا کول غواړی (ا - ع - ء) کښے او (ت - ط) کښے او (ث - س - ص) کښے او (ح - ه) کښے - او (د - ض) کښے او (ذ - ز - ظ) کښے - چه (ت) ډک نه وی (ط) ډک وی او (ث) نرمه وی (س) سخت وی (ص) ډک وی او د (ض) په ادا کښے د ژبے ډډه د کینړ طرف د داړو سره لږی - د صحیح د غاخو نو سره د دے لوستل غلط دی او د دے زیات مشق پکار دے او (ذ) نرم (ز) سخته او (ظ) ډک وی -

قاعده نمبر ۱ دا حرفونه همیشه ډک وی (خ - ص - ض - ط - ظ - غ - ق)

قاعده نمبر ۲ په (ن - م) چه شد وی نو په غنه سره ئے ادا کوه یعنے آواز ئے د پوزے نه لږ او بهٔ د د یو الف په مقدار ار اوباسه -

قاعده نمبر ۳ په کوم حرف چه زبر زیر یا پیش وی او ځکښے ورته الف یا واو یا ئ نه وی نو اوږد دے بیا ئے نه لکه اکثر ئے داسے لولی (اَلْحَمْدُ و) یا (مالِكِ) داسے (مَالِکِی) یا (اِیَّاکَ) (اِیَّا کَا) داسے لوستل ئے غلط دی - او کوم ځائے چه (ا) یا (و) یا (ی) وی هلته ئے لنډ وهه غرض دا دے چه د ولاړ او پروت ډیر خیال ساته -

قاعده نمبر ۴ پیش له د (واؤ) بُوئ ورکوه او زیر له د (ی) بُوئ ورکوه لوله ئے -

قاعده نمبر ۵ کوم ځائے چه په نون جزم (غوړ نسے) وی او د دغے نون نه پس په دے حرفونو کښے یو حرف وی نو هغه نون په غُنّه سره لوستے کیږی (یعنے د دے نون آواز به په دغه حرفونو کښے پټوے) هغه حروف دا دی (ت ث ج د ذ ز س ش ص ض ط ظ ف ق ک) لکه :- اَنْتُمْ - مِنْ ثَمَرَةٍ - فَاَنْجَيْنَاكُمْ - اَنْدَادًا - اَنْذَرْتَهُمْ - اَنْزَلَ - مِنْسَاَتَهٗ - نَنْشُرُ - لِمَنْ صَبَرَ - مَنْضُوْدٍ - فَاِنْ طِبْنَ - فَانْظُرْ - يُنْفِقُوْنَ - مِنْ قَبْلِكَ - اِنْ كُنْتُمْ -

قاعده نمبر ۶ دغه شان که په یو حرف باندے دوه زبرونه یا دوه زیرونه یا دوه پیښونه چه د نون آواز ئے پیدا کیږی او د دے حرف نه روستو د دے پنځلسو حرفونو نه یو حرف

راشي نو بيا هم د دې نون به اواز غنه کوه لکه جَنّٰتٍ تَجْرِي - جَمِيْعًا ثُمَّ اسْتَوٰى - مِنْ نَّفْسٍ شَيْـئًا - رِزْقًا قَالُوْا - رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ - دغه شان نور مثالونه اولټوه -

قاعده نمبر ۷ کوم ځائے چه په نون جزم (غونډ نډے) وي او ورپسے (ر) يا (ل) راشي نو په دے نون کښے د نون اواز بالکل نه پاتے کيږي بالکل (ر) يا (ل) شي لکه مِنْ رَّبِّهِمْ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ط -

قاعده نمبر ۸ دغه شان که په يو حرف دوه زبره يا دوه زيره يا دوه پيښه وي چه د نون آواز کوي او د دے حرف نه پس (ر) يا (ل) وي نو هم به د نون آواز نه کوي په (ر) يا (ل) کښے به مدغم شي لکه غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ - هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ -

قاعده نمبر ۹ که په نون غونډ نډے وي او ورپسے (ب) وي نو دا نون به د ميم پشان لوستے شي او غنه به پے هم کيږي لکه اَنْۢبِئْهُمْ دا به داسے لوستے شي اَمْبِئْهُمْ - دغه شان که په يو حرف بانډِ دوه زبرونه يا دوه زيرونه يا دوه پيښونه وي او ورستو پسے (ب) وي حلته به هم د دغه غنه نون آواز د ميم پشان وي لکه اَلِيْمٌۢ بِمَا دا به اَلِيْمُمْ بِمَا لوستے شي - په بعضے قرآنونو کښے په داسے ځايونو کښے ورکوچے شان ميم ليکي -

قاعده نمبر ۱۰ کوم ځائے چه په ميم جزم (غونډ نډے) وي او ورپسے (ب) وي نو په دغه ميم به غنه کيږي لکه يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ -

قاعده نمبر ۱۱ په کوم حرف چه دوه زبرونه يا دوه زيرونه يا دوه پيښونه وي او به ورپسے حرف بانډِ جزم (غونډ نډے) وي نو حلته به د دوه زبرونو په ځائے يو زبر وائے او کوم الف چه حلته ليک وي هغه به نه وائے او يو زير والا نون به د خپل طرفنه پيدا کړې د غونډ نډي والا حرف سره به ئے ملاؤ کړے لکه خَيْرَا اَلْوَصِيَّةُ به داسے لولے خَيْرَنِ الْوَصِيَّةُ او دغه شان به د دوه زيرونو په ځائے يو زير لولے او دغه شان به نون د ورپسے حرف سره ملاؤ کړے لکه فَخُوْرٍ الَّذِيْنَ به فَخُوْرِنِ الَّذِيْنَ لولے - او دغه شان د دوه پيښونو په ځائے به يو لولے او دغه سے نون به ملاؤ کوے لکه نُوْحٌ اِبْنَهٗ به نُوْحُنِ ابْنَهٗ لولے په بعضے قرآنونو کښے دلته ورکوچے شان نون ليکي -

قاعده نمبر ۱۲ په (ر) که زبر يا پيښ وي نو څکه به لوستے شي لکه رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ اَمْرُهُمْ او که د (ر) لاندے زير وي نو باريکه به لوستے شي لکه غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ او که په (ر) غونډ نډے وه نو بيا تے مخکښے حرف ته گوره که په هغه زبر يا پيښ وه نو (ر) به څکه لولے لکه اَنْذَرْتَهُمْ - مُرْسَلٌ او که تے په مخکښے حرف زير وه نو باريکه به ئے لولے لکه لَمْ تُنْذِرْهُمْ - او په بعض ځايونو کښے دا قاعده نه چليږي نو په هغے ته نه يو هيږے ته ئے هم دغه سے لولے -

قاعده نمبر ۱۳ په اَللّٰهُ او په اَللّٰهُمَّ کښې چه کوم لام دې د دې لام نه په اول حرف کښې زبر یا پیش وه نو دا لام به موټ لوله لکه خَتَمَ اللّٰهُ - فَزَادَهُمُ اللّٰهُ - وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ - او که د ده نه په مخکښې حرف زیر وه نو باریک به ئې لوله لکه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ -

قاعده نمبر ۱۴ کوم ځائې چه ګول (ة) وي که ځا نله جدا وي او که داسې (بة) ملاؤ وي او وقف وې په نو دا (ة) به (ه) لوستې شي لکه قَسْوَةً ط به قَسْوَه لوله - دغه شان په اٰتُوا الزَّكٰوةَ ط او طَيِّبَةً ط کښې به (ه) لوله -

قاعده نمبر ۱۵ په کوم حرف چه دوه زبره وي او وقف وې په نو مخکښې به ئې الف لوله لکه نِدَاءً ط به نِدَاءا لوله -

قاعده نمبر ۱۶ کوم ځائې چه په قرآن شریف کښې داسې (ـــ) نشان لیک وي هلته به لږ راښکو دې شي لکه وَلَا الضَّآلِّيْنَ دلته به الف او رده ولې شي د نورو الفو نو نه - لکه قَالُوْٓا اٰمَنَّا دلته به واؤ د نورو واؤ نو نه زیاتو لې شي - لکه فِيْٓ اٰذَانِهِمْ دلته به (ی) د نورو ی ګانو نه زیاتو لې شي -

قاعده نمبر ۱۷ کوم ځائې چه داسې (م - ط - ۀ - قف - ل) نشان وي هلته اودریږه او کوم ځائې چه (س) یا (سکته) یا (وقفه) وي هلته لږ ساه قدرې بریکړه بیا مخکښې ځه - او کوم ځائې چه په یو آیت کښې دوه ځایه درې نقطې (∴) وي هلته یو ځائې اودریږه او بل ځائې مه اودریږه که په اول ځائې اودریږې او که په دویم - او کوم ځائې چه (لا) لیکلې وي هلته مه اودریږه - او کوم ځائې چه نورې نښې وي که زړه دې غواړي اودریږه او که زړه دې نه غواړي مه اودریږه - او کوم ځائې چه لا نښانې دوه نښانه وي په یا سني عمل کوه -

قاعده نمبر ۱۸ په کوم حرف چه جزم (غوږنی) وي او په وروستې حرف شد وي نو د جزم حرف به نه شي لوستې لکه قَدْ تَّبَيَّنَ کښې دال نشي لوستې او په قَالَتْ طَّآئِفَةٌ کښې (ت) نه شي لوستې او په لَئِنْ بَسَطْتَّ کښې (ط) نشي لوستې او په اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ کښې (ت) نشي لوستې - او په اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا کښې (ت) نه شي لوستې - او په اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ کښې (ق) نه شي لوستې - البته که ما جزم والا حرف نون وه یا که دوه زبره نو یا دوه زیره نو یا دوه پیښو نو نه نون پیدا وه او دا تشدید والا حرف (ی) یا (و) وي نو بیا به هلته په وینا کښې د نون بوئې پاتې کیږي لکه په مَنْ يَّقُوْلُ - ظُلُمٰتٌ وَّرَعْدٌ کښې د نون آواز په پوزه کښې پیدا کیږي -

فائده نمبر ۱ په پاره وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ کښې په څلورم رکوع په شپږم آیات کښې چه مَجْرٖىهَا راغلې دې په دې کښې به د (ر) زیر د نورو زیرو نو په شان نه لوله بلکه سپک باریک به ئې لوله -

فائده ۲ دَ سورة حجرات په دويمه رکوع کښے په اولنی ايات کښے چه بِئْسَ لِاِسْمُ وغيره
په دے کښے دَ بِئْسَ سين دَ بل حرف سره نه دے ملاؤ بلکه وړپسے لام دَ را تلونکی سين
سره ملاؤ دے داسے لوستے شی بِئْسَ لِسْمُ ۔

فائده ۳ په پاره تِلْكَ الرُّسُلُ کښے دَ سورة اٰلِ عمران په شروع کښے چه کوم الٓمّٓ
راغلے دے دَ دے ميم دَ را تلونکی لفظ الله دَ لام سره داسے ملاویږی چه زبر ئے داده
م ی زیر مِیْ ۔ م ل زبر مَلْ مِیْمَلْ ۔ او بعض خلق ئے میم مَدْ لولی دا غلط دے ۔

فائده ۴ دا څو مقامات داسے دی چه ليکلے يو شان شی او لوستلے بل شان شی وادی
مقام ۱ په قرآن مجيد کښے چه لفظ دَ (اَنَا) کوم ځائے راغلے دے دا (اَنَ) لوستے شی ولاړه
مقام ۲ دَ سَيَقُوْلُ دَ شپاړسے رکوع په دريم ايات کښے لفظ دَ يَبْصُطُ راغلے دے دا
ليکلے (ص) شی ليکن ويلے (س) شی داسے يَبْسُطُ ۔ او دغه شان دَ لَنْ تَنَا دَ شپاړسے
رکوع په پنځم ايات کښے بَصْطَةً په (ص) ليکلے شی او ويلے (بَسْطَةً) په (س) سره شی
مقام ۳ دَ لَنْ تَنَا دَ شپږمے رکوع په اول ايات کښے اَفَائِنْ ليکلے شی ليکن دَ ر ف
نه وروستو الف ويلے نه شی داسے ويلے شی اَفَئِنْ ۔
مقام ۴ دَ لَنْ تَنَا دَ اتمے رکوع په دريم ايات کښے لَاَاِلَی الله ليکلے شی يعنے دَ اول لام
نه پس دوه الفونه ليکلے شی ليکن ويلے يو شی داسے لَاِلَی الله ۔
مقام ۵ دَ لَا يُحِبُّ الله دَ نهمے رکوع په دريم ايات کښے تَبُوْٓءَا کښے دَ همزه نه پس الف
ليکلے شی ليکن لوستے نه شی ۔ تَبُوْٓءَ ۔ ويلے شی ۔
مقام ۶ دَ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ دَ ديمے رکوع په څلورم ايات کښے مَلَائِهٖ کښے دَ
لام نه پس الف ليکلے شی خو ويلے نه شی داسے ويلے شی مَلَئِهٖ په ټول قرآن کښے هر ځائے چه
دا لفظ راځی نو ليکلے مَلَائِهٖ شی او ويلے مَلَئِهٖ شی ۔
مقام ۷ دَ وَاعْلَمُوْا دَ ديارلسے رکوع په پنځم ايات کښے لَاَاَوْضَعُوْا دَ لام نه پس
دوه الفونه ليکلے شی ليکن لوستے داسے شی لَاَوْضَعُوْا ۔
مقام ۸ دَ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ دَ شپږمے رکوع په اتم ايات کښے ثَمُوْدَا کښے دَ دال نه پس
الف ليکلے شی او ويلے نه شی دغه شان دَ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ په سورة والنجم کښے دَ دريمے رکوع
په نولسم ايات کښے چه ثَمُوْدَا راغلے دے هم داسے لوستے شی ثَمُوْدَ ۔ الله نه شی لوستے
مقام ۹ دَ وَمَا اُبَرِّئُ نَفْسِیْ دَ لسمے رکوع په څلورم ايات کښے دَ لِتَتْلُوَا دَ واو نه پس الف
ليکلے شی خو لوستے نه شی داسے لوستے شی لِتَتْلُوَ ۔
مقام ۱۰ دَ سُبْحَانَ الَّذِیْ دَ څوارلسمے رکوع په دويم ايات کښے لَنْ نَدْعُوَا کښے دَ واو

نه پس الف نه شي لوستے لَنْ نَدْعُوَ لوستے شي دغه شان د دے پارے د شپاړسمے رکوع د اول ایات په لِشَایْءٍ کښے الف نه شي لوستے دا سے لوستے شي لِشَیْءٍ۔

مقام ۱۱ د سُبْحَانَ الَّذِیْ په اولسمه رکوع په اتم ایات کښے لٰکِنَّا د نون نه پس الف لیکلے شي خو لوستے نه شي لٰکِنَّ لوستے شي۔

مقام ۱۲ د وَقَالَ الَّذِیْنَ په اولسمه رکوع اووم ایات کښے لَاَاذْبَحَنَّهٗ کښے د لام نه پس الف نه شي لوستے دا سے لوستے شي لَاَذْبَحَنَّهٗ۔

مقام ۱۳ د وَمَالِیَ لَا د شپږمے رکوع په اوه څلویښتم ایات کښے لَاِلَی الْجَحِیْمِ کښے د اول لام نه پس یو الف نه شي لوستے لَاِلَی الْجَحِیْمِ لوستے شي۔

مقام ۱۴ د حٰمٓ سورة محمد د اولے رکوع په څلورم ایات کښے لِیَبْلُوَا کښے د واؤ نه پس الف لیکلے شي خو لوستے نه شي لِیَبْلُوَ لوستے شي۔ دغه شان د دے سورة په څلورمه رکوع کښے په دریم ایات کښے نَبْلُوَا لیکلے شي او نَبْلُوَ ویلے شي۔

مقام ۱۵ د تَبَارَکَ الَّذِیْ سورة دهر په اوله رکوع کښے په څلورم ایات کښے په سَلٰسِلَا کښے د دویم لام الف نه شي لوستے سَلَاسِلَ لوستے شي۔ دغه شان د دے رکوع په پنځلسم او شپاړسم ایات کښے دوه ځله قَوَارِیْرَا قَوَارِیْرَا راغلے دے او دواړه ځایه د دویمے (ر) نه پس الف دے نو اکثر لوستونکی په اول قَوَارِیْرَا او دریږی او په دویم نه اودریږی. نو په لوستو کښے دا حکم دے چه په اول ځائے کښے به الف لولی او په دویم کښے نه۔ بلکه قَوَارِیْرَ به ئے لولی۔ نو که څوک په اول ځائے نه اودریږی په دویم ځائے اودریږی نو په دویم ځائے کښے به بالکل الف نه لولی که وقف کوی او که نه۔ او په اول ځائے که وقف کوی نو الف دے او لولی او که نه کوی نو نه دے لولی صحیح داده رجال القرآن

فائده۔ په پاره وَاعْلَمُوْا کښے چه سورة توبه د بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ نه شروع دے بِسْمِ اللّٰهِ په کښے نه ده لیکلے حکم ئے دا دے چه څوک د پورته نه په مخه راروان وی او تلاوت کوی نو دلته چه راشي بسم الله به نه وائی دغه سے به شروع او کړی او که څوک د دے ځایه نه شروع کوی یا ئے په څه ځائے تلاوت بس کړے وی او بیا شروع کوی نو په دواړو صورتو نو کښے به بِسْمِ اللّٰهِ وائی۔

د استاد د پاره هدایت | دا ټولے قاعدے ښوتنه یو یو بنه په غور سره او روزانه په مشق کولو سره خود ل پکار دی چه په بنه شان ئے یاد ے شي۔

اَوّله ضمیمه دَ جنّت دَ کالي دَ څلورَمې حِصّې مسمّٰی په جنتي ملغلره

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دَ نکاح فضیلت اودَ ښځې دَ حقوقو بیان

۱:- په حدیث کښې دي چه دنیا صرف دَ استعمال شے دے اودَ دنیا دَ استعمال په څیزونو کښې یو شے دَ نیکې ښځې نه غوره نشته۔ (یعنې نیکه ښځه دَ دین دنیا راحت او خوشحالي ده) (خو افسوس چه زمونږ بعضې جاهلان پښتانه دَ ښځو سره دَ څناورو نه هم زیات ناروا سلوک کوي او خپل دین او دنیا دواړه تباه کوي الله دې ورته هدایت اوکړي۔)

۲:- په حدیث کښې دي چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چه نکاح زما طریقه او زما سنتِ (مؤکده) دي پس څوک چه زما په دے سنتو عمل نه کوي هغه زما نه نه دي (یعني زما او دَده هیڅ علاقه په مینځ کښې نشته۔) او په یو بل حدیث کښې دي چه نکاح کوئ ځکه چه زۀ به فخر کوم (دَ قیامت په ورځ ستاسو په ډیروالي) په نورو امتونو (یعنې حضورؐ زمونږ په ډیروالي خوشحاله دے ځکه چه امت ئې ډیروي نو نیک عمل کونکي به ډیروي او چه نیکي کونکي ډیروي نو هغوي ته به ئې هم فائده وي ځکه چه دَ هغوي په تعلیماتو به عمل کوي نو چه په تعلیماتو ئې عمل کونکي ډیرشي نو هغوي ته به دَ تعلیم ثواب زیات ملاؤ شي) او په حدیث کښې دي چه دَ قیامت په ورځ به ټول صفونه شپیږ شلے وي څلویښت به پکښې دَ نورو امتونو وي او اتیا به دَ حضورؐ دَ امت وي۔) او کوم سړے چه دَ ښځې دَ ساتلو طاقت په مال سره لري نو نکاح دې اوکړي او څوک چه نه لري نو روژه دې نیسي (چه شهوت ئې کم شي) پس روژه دَده دَ پاره شهوت ختمونکے ده۔ (کۀ دَ سړي ښځې ته زیات خواهش نه وه درمیانه درجه کښې وه او دَ ښځې ضروري خرچ ئې اداکولے شه نو دَ داسې سړي دَ پاره نکاح سنتِ مؤکده ده۔ او چه زیات خواهش ئې وه بیا ورله نکاح واجب او ضروري ده۔ ځکه چه یره ده هسې نه چه په ګناه کښې واقع شي۔ اوکۀ سړه دَ ښځې خواهش نه ښځې ته ئې دومره طاقت نه وه چه دَ ښځې ضروري حقوق اداکړي نو داسې سړي له پکار دي چه په کثرت سره روژے نیسي۔

۳:- په حدیث کښې دي چه اولاد دَ جنت ګلونه دي (مطلب دا دے چه څنګه دَ جنت په ګلونو سړے خوشحالیږي دغسې په اولاد دَ سړي زړه ته خوشحالي رسي)

۴:- په حدیث کښې دي چه په تحقیق سره په جنت کښې به دَ سړي درجه اوچتولے شي نو دے به اووائي چه دا دَ کوم طرفه ده (یعنې دا درجه زما په څه اوچتیږي) نو اوبه ویلے شي ورته چه ستا دَ پاره ستا اولاد په دنیا کښې مغفرت غواړي (نو ځکه دا

درجه ستا د لته او چتیږي دا د هغې ثواب او برکت دے۔
۱۵- په حدیث کښې دي چه په تحقیق هغه بچي چه د حمل نه کچه غورزیږي. د خپل پروردګار سره به جګړه کوي چه مور و پلار ئے دوزخ ته داخل شي (یعنې په مبالغه سره به د خپل مور و پلار د پاره سفارش کوي نو الله پاک به ئے سفارش قبول کړي) پس او به ویلے شي ورته چه اے غورزیدلے تو کړے (نامکمل حمله) د خپل رب سره جګړه کوونکے داخل کړه خپل مور و پلار جنت ته نو را به ئے کاږي دغه بچے دا دواړه په خپل ناف سره (یعنې نوم چه د پیدایش په وخت کښې ورپورے وي) تر دې چه جنت ته به ئے داخل کړي۔
۶:- په حدیث کښې دي چه بے شکه کوم وخت چه کوري سړے خپلے ښځې ته او ښځه خپل خاوند ته نو ګوري الله پاک دواړو ته د رحمت په نظر سره۔ رواه میسرة بن علي في مشیخته والرافعي في تاریخه عن ابن سعید مرفوعا بلفظ ان الرجل اذا نظر الى امرأته ونظرت الیه نظر الله تعالى الیهما نظرة رحمة الخ۔ (لیکن کوم خلق چه د ښځو د پاره وبال جان جوړ شوي وي او کور ته د راتلو سره په معمولي خبره د ښځې ږدے شنے او سرما توی کټے نه اړه وي لته او پیڅ ارتے نه اړه وي او غږ ئے لکه د مرغۍ په پنجره کښې بے او بو او بے دانو بند کړي وي خپل حقوق تے ښه پوره په پوره بلکه د طاقت نه زیات غواړي او د هغې غریبې خود خوراک سکاک حق قدرے هم نه مني او کور ئے پخان او په هغې غریبې دوزخ کړے وي نو چه ده ته به خدائے پاک یکوم نظر ګوري؟)
۷:- په حدیث کښې دي چه په الله پاک حق دے (یعنې خپل رحمت سره ئے دا خبره خپله ذمه کړے ده) مدد کول د هغې سړي چه د پاکدامنۍ د پاره نکاح کوي چه د حرامو نه ئے ځان بچ کړي (یعنې چه څوک د زنا نه د ځان ساتلو د پاره نکاح کوي او نیت ئے د حق اطاعت وي نو خدائے پاک ئے په خرچ وغیره کښې مدد فرمائي)
۸:- په حدیث کښې دي چه د عیالدار سړي دوه رکعته مونځ د ځړه سړي د اتیا [دوه ۱۲] رکعتونو نه غوره دے او په بل حدیث کښې اوویا [۷۰] رکعتونه راغلي دي نو مطلب ئے دا دے چه اوویا د هغې سړي په حق کښې دي چه ضروري حق د اهل وعیال ادا کوي او دوم اتیا د هغه په حق کښې دي چه د ضروري حقوقو نه ئے زیات خدمت کوي په جان مال او ښه عادت سره۔ والحدیث رواه تمام في فوائده والضیاء عن انس مرفوعا بلفظ رکعتان من المتاهل خیر من اثنین و ثمانین رکعة من العزب وسنده صحیح۔
۹:- په حدیث کښې دي بے شکه ډیر لوئے ګناه د خدائے په نزد ضائع کول دا دے څوک په ضروري خدمت کښې کم کول دي د سړي هغې خلقو لره چه خرچ ئے د ده په ذمه دے۔ (الطبراني)
۱۰:- په حدیث کښې دي چه ما نه ده پریخودے د ځان نه وروستو یو فتنه چه د سړو د پاره ضررناکه وه د ښځو د فتنے نه (یعنې د سړو په حق کښې د ښځو د فتنے نه بله فتنه ضررناکه

نشته چه د دوی په محبت کښې د خدائے او د رسول د حکم هم پرواه نه ساتی - نو بيکاره دی چه د دوی په محبت کښې داسې نه ليونی کيږی چه د هغوی د حرص او خواهش پوره کولو د پاره د خدائے د احکامونا فرمانۍ ته جوړ شی او په رشوت وغيره بيا صرفه نه کوی) د ښځو عقل ناقص وی د دوی خاص طور سره اصلاح لازمی ده -

۱۱ :- په حديث کښې دی چه ستاسو يو رور چا ته د واده پيغام ورکړے وی نو په هغه د پاسه تاسو پيغام مه ورکوئ تر هغې چه هغه واده او کړی يا تے قلاړ شی - (يعنې چه يو ځائے چا د نکاح د پاره پيغام ليږلے وی او هغوی لا فيصله د ورکولو يا نه ورکولو نه وی کړی بل سړی له جائز نه دی چه په هغه د پاسه ئے هم پيغام اوليږی البته که هغه پيغام واپس شو نو بيا دے ليږلے شی - او دغه شان معاملهٔ د اغستو خرڅولو ده چه يو سړے د چا سره د يو شی قيمت کوی نو بل له جائز نه دی چه دے ورسره قيمت کول شروع کړی تر هغې چه هغه بل تے واپس شوے نه وی او په دے حکم کښې کافر هم داخل دے چه که کافر د چا سره څه لين دين کوی نو چه ترڅو تے هغه واپس شوے نه وی مسلمان له جائز نه دی چه د دے کافر په قيمت د پاسه خپل قيمت اووائی -

۱۲ :- په حديث کښې دی چه د ښځې سره نکاح کيږی د دينداری په وجه د مال په وجه د ښائست په وجه نو تاسو له لازم دی چه د ښځې دينداری غوره کوئ - (يعنې ښځه په ديندارئ مالدارئ او ښائست سره غوره کولے شی نو حضورﷺ فرمائی چه تاسو ديندار ښځه غوره کوی او نکاح ورسره کوئ - د ليکن که چرته داسې موقع راشی چه ديندار ه ښځه دومره بد شکله وی چه زړه ئے نه غواړی او د ښځې خاوند د موافقت اميد نه وی او د ښځې په حقوقو کښې د کوتاهئ يره وی نو بيا به د داسې ښځې سره نکاح نه کوئ

۱۳ :- په حديث کښې دی چه په بيبيانو کښې غوره بی بی هغه ده چه مهر ئے اسان وی (چه خاوند ئے په اسانۍ ادا کړی نن صبا د زيات مهر رواج جوړ شوے دے دا رسم پريښودل پکار دی)-

۱۴ :- په حديث کښې دی د خپلو نطفو د پاره عمده ځايونه غوره کوئ ځکه چه ښځې بچی راوړی د خپلو رونړو او خوياندو په شان - (يعنې د نيک بخت او شريف خاندان د ښځو سره نکاح کوئ ځکه چه په اولاد کښې د مور د تاثير مثال بهت وی - او د پلار اثر په کښې هم وی خو د حديث نه معلومه شوه چه د مور اثر په کښې زيات وی - نو که مور بد اخلاقه او بے دينو د خاندان نه وی نو اولاد به ئے هم دغه شان وی - (رواه ابن عدی وعاکرعن عائشه ترغيبا)

۱۵ :- په حديث کښې دی چه د تړلونه لوئے حق د خاوند دے په ښځه او په سړی د تړلونه لوئے حق د مور دے (يعنې د الله او رسول د حقوقو نه پس په ښځه د خاوند

حق زیات دے۔ تر دے چه د مور و پلار شپے هم د خاوند حق زیات دے او د سړی په ذمه د الله او د رسول دحق نه پس زیات حق د مور دے نو د مور حق د پلار نه زیات دے)
(رواه الحاکم عن عائشة رض مرفوعاً)

۱۶ :- په حدیث کښے دی چه کله په تا سو کښے یو تن د خپلے بی بی سره د کورو والی اراده اوکړی نو وائی دے بسم الله اللهم جنبنا الشیطن وجنب الشیطن ما رزقتنا نو چې تا به ئے شیطان ضرر او نه رسولے شی که د دغے نطفے نه پیدا شی۔

۱۷ :- په یو او بل حدیث کښے دی چه حضور صلے الله علیه وسلم عبد الرحمان بن عوف رض ته او فرمائیل د اولم ولو بشاة) یعنے ولیمه اوکړه اگر چه په یوه بیزه وی مطلب دا دے چه بیزه دے وی لیکن ورکول پکار دی او دا د ښځے سره د کورو والی نه پس غوره ده اگر چه ډیرو عالما نو دا د نکاح نه پس هم جائزه کړے ده۔ او ولیمه مستحب ده (خو د نوم ناموس د پاره چه نن صبا کوم رواج شوی دی دا ډیر ناکاره دی په حدیث کښے د داسے خوراک بد والے راغلے دے)

د طلاقو د بد والی بیان

۱۸ :- په حدیث کښے دی زیات مبغوض او زیات ناکاره شے په حلالو څیزو نو کښے د الله په نزد طلاق دی۔ مطلب دا دے چه د ضرورت په وخت کښے طلاق جائز شوی دی لیکن بے د ضرورت نه ډیر ناکاره شے دے۔ ځکه چه نکاح خو د ښځے خاوند د یو بل سره د الفت محبت او آرام و راحت د پاره وی او په طلاقو دا ټولے خبرے ختمے شی او د الله تعالی د نعمت ناشکری اوشی۔ یو بل ته پے تکلیف او رسی دشمنی پیدا شی نو څو مره چه کیدے شی چرته دے داسے قصد نه کوی د یو بل سره په برداشت او صبر او سید ل پکار دی۔ لیکن چه هیڅ صورت د جوړیدے نه راځی نو بیا خیر دے۔ (رواه حاکم ابوداؤد ابن ماجه عن ابن عمر رض مرفوعاً)

۱۹ :- په حدیث کښے دی چه نکاح کوئے او طلاق مه ورکوئے (یعنے بے وجه) ځکه چه بے شکه الله تعالی نه خوښوی ډیرے مزه څکونکی سړی او ډیرے مزه څکونکے ښځے (یعنے الله پاک دا خبره نه خوښوی چه بے وجه دے طلاق ورکوی او سړے دِ بله ښځه کوی او ښځه دِ بل خاوند البته که ضرورت وی بیا خیر دے)

۲۰ :- په حدیث کښے دی چه طلاق دے نه ورکوی ښځے له مگر په بد چلنئ سره ځکه چه الله تعالی ډیره مزه څکونکی سړی او ډیره مزه څکونکے ښځے نه خوښوی (نو د دے حدیث نه معلومه شوه چه که ښځه بد چلنه شوه بیا ورله طلاق جائز دی او دغه شان که بل څه سبب وی هم)۔

۲۱ :- په حدیث کښے دی چه نکاح کوئے او طلاق مه ورکوئے ځکه چه په طلاقو سره عرش خوځیږی۔

۲۲ :- په حدیث کښے دی چه د شیطان تخت په اوبو پروت دے او خپل لښکرے لیږی په خلقو کښے د فتنے اچولو او دهوکه کولو د پاره۔ نو په دے لښکریانو کښے

د لوئے مرتبے شاوند هغه وی چه هغه ډیره فتنه په خلقو کښې واچوی (یعنې د شیطان په نزد د ے لښکری مرتبه زیاته وی) نو یو راځی او هغه (شیطان) ته وائی چه ما دا اوکړه او دا (یعنې دا فتنه او دا فتنه م په خلقو کښې واچوله نو شیطان ورته وائی چه تا هیڅ نه دی کړی - او یو راشی هغه وائی چه ما فلانے سړے نه پریښود تر هغې چه د هغه سړی او د هغه د ښځې په مینځ کښې م جدائی راوسته نو شیطان ئے ځانته رانزدے کړی یعنې غاړه ورکړی او ورته وائی چه هاں تا ډیر لوئے کار اوکړه (یعنې د شیطان لویه خوشحالی د ښځې خاوند په جدائی کښې ده نو تر څو پورے چه کیدے شی مسلمان د ے شیطان نه خوشحاله کوی) (رواه مسلم واحمد)

۲۳:- په حدیث کښې دی چه کومه ښځه بچپله طلاق طلب کړی بغیر د سختے مجبورئ نه نو د جنت خوشبو په د ے حرامه ده (یعنې سخت گناه ئے اوشه مگر که د سزا نه پس یا پخته د ایمان او نیکے خاتمے په وجه وروستو داخله شی)-

۲۴:- په حدیث کښې دی چه منتزعات او مختلعات منافقات دی (رواه النسائی) منتزعات هغه ښځے دی چه ځانونه د خاوندانو د قبضے آزاد کړی په شرارتونو او داسے حرکتونو کولو سره چه سړے ترے ناراض شی او طلاق ورکړی - او مختلعات هغه ښځے دی چه بغیر د څه مجبورئ نه خلع اوغواړی د خاوند نه - او د منافقانو نه مراد دا دے چه دا د منافقانو غوندے په ظاهر یوشان وی او باطن بل شان ظاهراً خو نکاح د همیشه د پاره وی او دوی په کښے جدائی طلب کړی - نو گناه گارے شوے اگر که کافرانے نه دی)-

د قرآن مجید د لوستو فضیلت بیان

۲۵:- په حدیث کښې دی چه څه وخت ستاسو نه څوک د خدائے پاک سره خبرے کول غواړی نو قرآن د ے لولی - (یعنې د قرآن تلاوت کول گویا د خدائے پاک سره خبرے کول دی) زیاده غنی په خلقو کښې هغه څوک د ے چه حامل د قرآن وی یعنې د چا په سینه کښې چه قرآن وی) نو مطلب دا د ے چه چا قرآن اولوست او عمل ئے پرے اوکړه د ده نه بلاوئے غنی نشته په د ے د عمل کولو په برکت به ورته حق تعالی د زړه غنا نصیب کړی او ظاهری فراخی به ورته هم حاصله شی - د حضرت امام حسن بصریؒ نه روایت د ے چه یو سړے ډیر ډیر د حضرت عمرؓ دروازے ته راته (د دنیاوی حاجتو نو د پاره) نو حضرت عمرؓ ورته اووے چه لاړ شه او د خدائے کتاب اولوله (یعنی قرآن مجید). نو هغه لاړ او بیا د هٔ له چه تا راشغے نو دوئی د ډیر تلاش نه پس بیا موند او گیلے ئے ورته اوکړه چه داچه تا داسے غیب شوے چه بیا هم درا پیښ نه شوے - نو هغه ورته اووے چه ما د الله پاک په کتاب کښے هغه شے بیا موند چه د عمرؓ د دروازے نه ئے زه غنی او بے پرواه کړم یعنې په قرآن کښے راته داسے ایات ملاؤ شه چه د مخلوق نه ئے ځان نظر اوگرځاوه - او په الله ئے

هم بهروسه پیدا شوه - تال خو به د دنیا وی حاجت د پاره راتلم نو اوس څه له راشم - د دے به غالباً دا سے مضامین مراد وی کوم چه په دے آیات کښے ذکر دی "وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ" یعنے ستاسو رزق په آسمان کښے دے او د کوم شی چه ستاسو سره ئے وعده کیږی (هغه هم په آسمان کښے دے) ستاسو د رزق وغیره بند وبست په آسمان کښے زمونږ د طرف دی نو بل طرفته څله متوجه کیږئے -

۲۵:- په حدیث کښے دی چه افضل عبادت د قرآن لوستل دی (یعنے د فرضونه پس) -

۲۶:- په حدیث کښے دی چه د قرآن یادولرونکو تعظیم کوئے چا چه د دوی تعظیم اوکړو نو هغه ځما تعظیم اوکړو (او د دوی د تعظیم وجوب خو ښکاره دے)

۲۷:- په حدیث کښے دی یعنا ستاسو کښے غوره هغه خلق دی چه قرآن پخپله اووائی او بیائے بل ته لولوی -

۲۸:- په حدیث کښے دی چا چه قرآن اووے او عمل ئے اوکړو په هغې چه په دے کښے دی (یعنے د قرآن په احکامو ئے عمل اوکړو) نو مور و پلار ته به ئے د قیامت په ورځ تاج پسر کړے شی چه رڼا به ئے د دنیا د دے نمر نه ډیره تیزه وی کوم چه د استاسو په کورونو رڼا غورزه وی - پس څه گمان دے ستاسو د دغے سړی د ثواب په باره کښے چه پخپله ئے په عمل کړے وی (یعنے چه د ده د عمل په وجه ئے د مور و پلار دا حال وی نو چه د ده د ځه په خو مره وی) -

۲۹:- په حدیث کښے دی چا چه قرآن اووے او بیائے دا خیال اوکړو چه د خدائے په مخلوق کښے د دینه زیات نعمت بل چا له ورکړے شوے دے نو بے شکه سپک کړو ده هغه شے چه الله تعالیٰ اوچت کړے دے او اوچت ئے کړ هغه شے چه الله تعالیٰ سپک کړے دے نه دی لائق د قرآن پوهیدونکی له تیزی کول د هغه سړی سره چه د ده سره تیزی کوی او نه جهالت کول د هغه چا سره چه د ده سره جهالت کوی - مگر معاف کول به کوی او درگذر به کوی په سبب د عزت د قرآن سره - (یعنے اهل علمو او په قرآن پوهیدونکو له پکار دی چه د دنیا د ټولو نعمتو نو نه د قرآن علم غوره اوگنړی - که بل نعمت ئے تے غوره کړو نو د خدائے د غوره کړی شی سپکا وے ئے اوکړه او کوم شے چه خدائے سپک کړے دے (یعنے دنیا) هغه ئے غوره اوگنړله - او دا ډیر لوئے جرم دے - او اهل علمو له پکار دی چه د خلقو سره جهالت او بد اخلاقی نه کوی که څوک د دوی سره کوی نو دوی دے معاف کوی) -

۳۰:- په حدیث کښے دی چه قرآن الله تعالیٰ ته زیات محبوب دے د آسمانونو او د زمکے او د هغې مخلوق نه چه په دے دواړو کښے دی - (رواه ابو نعیم عن ابن عمر رضی)

۳۱:- په حدیث کښے دی چا چه د خدائے یو بنده ته یوه آیت د خدائے د کتاب اوخودله نو دا خود ونکے د دغه ایزده کونکی آقا شو - نه دی لائق دغه ایزده کونکی له چه مدد او نه کړی د دے استاد په موقع راتلو سره - او نه دی لائق ورله چه غوره کړی په دے استاد باندے

بل هغوي ته چه مرتبه ئې د دے استاد نه زياتة نه وي) نو که دغه ايږده کولي شي او ئې کړي نو دغه د اسلام د حلقو نه يوه حلقه اوشلوله - يعنې په اسلام کښې ئې يو عظيمه فتنه واچوله او د شريعت د حکم تعميل ئې اونه کړو - چه د سزا ئې په دواړه جهانو کښې يره ده) -

۳۲:- په حديث کښې دي چه نه دے زما د امت نه هغه څوک چه عزت اونه کړي زمونږ د مشرانو او شفقت ئې اونه کړي زمونږ په کشرانو زمونږ د عالم حق ئې اونه پيژندو (ريښتيا عالم کښې د قرآن لوستونکي لونکي هم دي) او مطلب ئې دا دے چه دا سړے چه د هغه دا حالت وي زمونږ د جماعت نه خارج دے - نو د مشرانو تعظيم په وړو رحم کول او د عالمانو حق پيژندل او تعظيم او خدمت ئې کول ضروري دي) - (رواه احمد والطبراني في الکبير)

۳۳:- په حديث کښې دي چا چه قرآن اووئيلو او په معنې او تفسير ئې پوهه شو او عمل ئې پرے اونه کړو نو ځان ئې په دوزخ کښې جوړ کړو (يعنې چه قرآن اوئي او عمل پرے نه کوي نو دا ډير لوئي ګناه دے - خو د دے دا مطلب نه دے چه چا نه دے وئيلے او عمل پرے نه کوي نو ګناه به ئې نه وي - بلکه د دوي خو دوچنده ګناه ده يو د نه وئيلو بل د عمل نه کولو) -

۳۴:- په حديث کښې دي چه حضور صلے الله عليه وسلم ته عرض اوکړے شو چه فلانے ټوله شپه قرآن لولي چه سحر شي نو غلا کوي نو هغوي اوفرمائيل چه زر ده چه د قرآن دا تلاوت به ئې د غلا نه منع کړي (رواه سعيد بن منصور عن جابر رض) د حضرت علي رض نه روايت دے چه حضور ع فرمائيلي دي څوک چه قرآن اولولي او ياد ئې کړي او د دے حلال حلال او ګڼي او حرام ئې حرام نو داخل به کړي ده لره الله پاک جنت ته او د لسو تنو په باره کښې به ئې خدائے پاک شفاعت قبول کړي د ده د خاندان والو چه دا ټول به داسے وي چه د دوي د پاره به دوزخ واجب شوے وي -

۳۵:- په حديث کښې دي چه چا د خدائے د کتاب يو حرف وا وريدو په اودا سه کښې نو او به ليکلے شي د ده د پاره لس نيکئ او لرے به کړے شي ترے لس ګناهونه او لس درجے به ورله اوچتے کړے شي - او چا چه اولوست يو حرف د خدائے د کتاب نه په مانځه کښې په ناستے (يعنې چه په ناستے نفل مونځ کوي ځکه چه فرض مونځ بے عذره په ناستے جائز نه دے) نو ليکلے شي د ده د پاره پنځوس نيکئ او لرے کړے شي ترے پنځوس بدئ او اوچتے کړے شي د ده د پاره پنځوس درجے - او چا چه اولوست د الله د کتاب نه يو حرف په ولاړے نو او ليکلے شي د ده د پاره سل نيکئ او لرے کړي شي د ده نه سل ګناهونه او اوچتے کړے شي د ده د پاره سل درجے - او چا چه قرآن اولوست او ختم ئې کړو نو او ليکي الله پاک د ده د پاره يوه دعا چه في الحال مقبوله وي يا لږه پس -

۳۶:- په حديث کښې دي چا چه قرآن اولوست او د رب ثنا ئې اووئيله او درود ئې

او وې په نبي علیه الصلوٰة والسلام باندې او مغفرت ئې اوغوښت د خپل رب نه نو بې شکه ده بهلائی اوغوښته د هغه مقام نه۔ (یعنې د دعا د قبلیدو چه کومه طریقه وه هغه ده بیا موندله چه د زر دعا قبلیدو امکان دې ته) او د خدائے په تعریف کښې که الحمد لله او وائي یا په دې معنی بله کلمه۔ او د تلاوت نه پس په دې طریقه دعا غوښتل خاص اثر لري د قبولیت لکه چه د دې حدیث نه معلومه شوه)

۱۳۷:- په حدیث کښې دي چه خپلو ښځو ته سورة واقعه ایزده کوئ ځکه چه بې شکه دا سورة د توانګرئ دے (یعنې د دې په لوستو سره ظاهري او باطني توانګري حاصلیږي او رزق فراخه کیږي۔ لکه چه په بل حدیث کښې دي چه کوم سړے هره شپه سورة واقعه لولي د رزق د تنګئ نه به په امان وي۔ او ښځې چونکه په زړه کمزورې وي په لږه تنګئ باندې ډیرې پریشانه کیږي نو ځکه د دوی ذکر په خصوصیت سره دے ورنه لوستل ئې د غنا حاصلیدو د پاره ټولو له مفید دي که ښځې وي یا سړي

۱۳۸:- په حدیث کښې دي چه زیات ښه په خلقو کښې د قرآن لوستو په اعتبار سره هغه سړے دے چه قرآن لولي او د خدائے نه یریږي (یعنې چه تلاوت کوي نو ته څوک ګوري او معلومیږي ورته چه دے د خدائے نه یریږي۔ مطلب دا دے چه لوستونکے په داسې اهتمام سره تلاوت کوي لکه چه د حاکم په مخکښې څوک کړیږي نه بې ځایه حرکت نه شي کولے۔ او د قرآن لوستو غوره طریقه دا ده چه په اودسه کښې مخ په قبله په عاجزئ سره کیني او تلاوت کوي او داسې ګڼړي چه د خدائے پاک سره خبرې کوم او چه په معنی ئې پوهیږي نو چه فکر ورته کوي او چه کوم ځائے د رحمت ایات راشي د رحمت دعا اوغواړي او کوم ځائے چه د عذاب ذکر راشي هلته د عذاب نه پناه اوغواړي او چه تلاوت پوره کړي نو د خدائے پاک حمد او په نبي کریم صلی الله علیه وسلم درود اووائي او مغفرت طلب کړي او څه دعا چه کوي نو هغه اوکړي او بیا درود اووائي او څومره چه تې کیدے شي د قرآن لوستو په وخت کښې دے بل خیال نه کوي او که چرته څه خیال ورله راشي نو توجه دے ورته نه کوي نو هغه خیال به ئې ختم شي۔ او د تلاوت په وخت کښې کپړے هم پاکې پکار دي۔

مسئلې

۱:- د طلاق ورکولو (که چه ضرورت پیښ شي) درې طریقې دي۔ یوه ډیره غوره۔ بله ښه او دریمه بدعت او حرامه۔ نو ډیره غوره طریقه دا ده چه سړے ښځې له د پاکئ په زمانه کښې (یعنې چه ښځه د حیض وغیره نه پاکه وي) یو طلاق ورکړي۔ خو په دې شرط چه دا ښځه د کوم وخت نه پاکه شوې وي تر

دے وخته پورے ورسره ده کوروالے نه وي کړے او دعدت تيرېدو پورے ورله بل طلاق ورنه کړي (په عدت تيرېدو سره به پخپله طلاق واقع شي نکاح به ختم شي نو بيا نو طلاقو ورکولو ته حاجت نشته ځکه چه طلاق د سخت مجبورئ نه جائز شوی دی نو په قدر د ضرورت کافي وي نو بيا نو ته حاجت نشته) او څه طريقه داده چه د دريو پاکو په زمانو کښے ورله درے طلاق ورکړي يعنے چه د حيض نه پاکه شي يو طلاق ورکړي بيا د بل حيضه پورے وي چه بل حيض ئے اوشي او بيا پاکه شي نو بل طلاق ورکړي بيا چه بل حيض ئے اوشي او پاکه شي بيا دريم طلاق ورکړي او د درے پاکئ په زمانه کښے ورسره کوروالے اونه کړي - او بدعت او حرام طريقه داده چه د دے دواړو صورتونو نه خلاف وي - مثلاً په يو ځائے درے طلاق ورکړي يا د حيض په وخت کښے طلاق ورکړي - يا په کومه زمانه د پاکئ کښے چه کوروالے کړے وي په هغے کښے طلاق ورکړي - نو په دے ټولو صورتونو کښے طلاق واقع شو خو ګناه دے - خو دا هله چه د ښځے سره کوروالے يا يو ځائے والے شوی شوے وي ورنه د هغے حکم راځي.

۲ :- د کومے ښځے سره چه نکاح اوشه مګر کوروالے نه دے شوے دا سے ښځے له چه هر وخت طلاق ورکوي که په حيض کښے او که پاکئ کښے جائز دي خو يو طلاق دے ورکوي.

نوټ:- د دے حصے د لوستو طريقه د پنځمے حصے په آخر کښے ده -

دويمه ضميمه د جنت د کالي د څلورمے حصے تصحيح الاغلاط

اصل (ص ۲۸۹ د درے طلاقو بيان) خواه په صاف لفظو نو کښے وي الخ تحقيق:- مطلب دا دے چه کله طلاق واقع شي خواه په صاف الفاظو کښے واقع شي يا په ګول الفاظو کښے حرمت مغلظه ثابت شي او دا امر چه د ګول لفظونو په تکرار سره کله طلاق واقع کيږي او کله نه دلته دا بحث نشته نو په دے حقه شبه نه واقع کيدو عا کومه چه چاپ شوے ده - او ش د دے جواب ضرورت شته کوم چه ورکړے شوے دے دغه شبه او د دے جواب په امداد الفتاوى مبوب جلد ثانى کښے په ص ۳۵۳ شائع شوے دے.

اصل ص ۳۰۰ مسئله که چا داسے اووے که ته او ساتم نو مورسه او ساتم الخ - تحقيق :- په عالمگيري کښے دي لو قال ان وطئتك وطئت امي فلا شئ عليه كذا في غاية السراجي (مولوي احمد حسين صاحب پخپله حاشيه کښے ليکلي دي د دے دواړو صورتونو دا حکم چه په دے وينا سره هيڅ نه کيږي په دے حالت کښے دي چه څه نيت ئے نه وي - که نيت ئے د طلاق وو نو طلاق واقع شو او که نيت ئے د ظهار وو نو ظهار دے انتهى - او په امداد الفتاوى مبوب جلد دويم په ضميمه کښے په کتاب الطلاق کښے مولانا عدم وقوع طلاق مطلقا له ترجيح ورکړے ده ليکن د مراجعت الى العلماء مشوره ئے هم ورکړے ده - فليتحقق.

اصل ص ۳۰۱ مسئله ۱۴ که داسے ئے اووے چه ته ما له د مور په شان - تحقيق:- په دے صورت کښے که نيت ئے د ايلاء وه نو ايلاء او شوه في العالمگيرية اذا قال انت على حرام كامي و نوى الطلاق او الظهار او الايلاء فهو على ما نوى وان لم ينو شيئا يكون ظهارا في قول محمد وذكر الخصاف الصحيح من مذهب ابي حنيفة ما قال محمد كذا في فتاوى قاضي خان - عالمگيري -

اصل ص ۳۱۲ مسئله ۹ نکاح اوشه ليکن لا رخصتي نه ده شوے او ص ۳۱۲ خاوند په پرديس کښے دے الخ

تحقيق:- په دے دواړو مسئلو عوام اعتراض کوي نو ضروري وضاحت ئے لازم دے.

توضيح مسئله اول:- نکاح اوشه ليکن لا تر اوسه د رواج مطابق رخصتي (روده) لا نه دے شوے

چه بچي اوشه راوخاوند انکار نه کوي چه بچي ځما نه دے) نو دغه بچي حرامي نه دے د خاوند دے - ځکه چه ممکنه ده چه په څه طريقه خاوند دېته رسيدلے وي او څوک تے خبر شوي نه وي - او ده ته حرامي ويل بغير د شرعي دليل نه جائز نه دي (چه خاوندے د څه شرعي دليل نه دروغژن کول او په ښځه د زنا تهمت لګوه ول دي) البته که خاوند وائي چه ځما نه دے نو انکار دے او کړي او چه دے انکار او کړي نو په ښځه د زنا تهمت لږوي نو که ښځه دا الزام نه مني او د لعان شرائط موجود وي نو لعان دے او کړي او د لعان نه پس به د بچي نسب د خاوند نه قطع کړے شي) د دے وضاحت نه پس د جنت د کالي مطلب صفا شه او د څه شبهې ګنجائش پاتے نه شه -

توضيح مسئله دوم :- خاوند په پرديس کښې دے او کلو نه تېر شو چه کور ته راغے او دلته بچي پيدا شه - نو بيا هم هغه حرامي نه دے بلکه د دے خاوند دے ځکه ممکنه ده چه څه وخت دے په پټه کور ته راغلے وي او څوک تے نه وي خبر شوي لکه اشتهاري مجرمان چه پټ کور ته راځي او چا ته پته نه وي يا د څه عمل په ذريعه لکه د تسخير جن يا کراماتو په ذريعه دے خپلے بي بي ته وارسيدلے وي - يا ئے خپله بي بي ځان ته رابللے وي او څوک تے نه وي خبر شوي - نو چه خاوند د دے بچي نه انکار نه کوي نو ګويا هغه دا دعوه کوي چه ما د خپلے بي بي سره کور والے کړے دے - او دا شک چه دے خو په پرديس کښې وه څنګه ئے کور والے او کړه ځکه صحيح نه دے چه د کراماتو يا پيريانو په ذريعه دا سے ممکنه ده - نو خاوند نه شي دروغژن کيدے او بچي ته حرامي نه شي ويلے - البته که خاوند ته علم وي چه ما کور والے کړے دے يا نه دے کړے نو د انکار حق ورته حاصل دے نو که دے خبر شه او انکار ئے او کړه نو په دے انکار کښې په ښځې د زنا تهمت دے نو که ښځه د زنا نه انکار کوي او نور شرائط د لعان موجود وي نو د لعان حکم دے او که لعان نه پس به د بچي نسب د خاوند نه قطع کړے شي - د دے وضاحت نه پس په دويمه مسئله هم شک پاتے نه شو - ديوبنده او غير متعصب حضراتو تشفي د پاره داپوره وضاحت دے که څوک زيات تفصيل غواړي نو رساله رفع الارتياب مصنفه حضرت مولنا عبد الله صاحب دا او ګوري په هغې کښې زيات تفصيل دے ، دا رنګ په دے مسئلو شبه او د هغې جواب د حضرت مولانا نور الله مرقده د طرف نه په اوله تتمه د امداد الفتاوي ص ٢٨٢ کښې من کوردے هغه هم ئے او ګورئ - په آخر کښې دومره وايو چه اکثر روافض خذ لهم الله د خلقو د دوکه کولو د پاره او د دين اسلام نه د بدظن کولو د پاره دا مسئلے د جنت د کالي د ناپوهه او بے علمه خلقو په مخکښے دا او باسي چه د اسلام نه بدګمانه شي او رافضيان شي او ناپوهه خلق خو په دے نه پوهيږي نه د خپل دين نه خبر وي او نه د رافضيانو نه پريشانه شي او جواب ورله نه ورځي - نو که څوک رافضي درسره په دے مسئلو خبرے کوي نو د جنت د کالي په مطلب ځان پوهه کړئ او جواب ورکړئ - او هغوي ته دا او وائی چه ستاسو په مذهب کښې دا دے مسئلے د جنت د کالي نه ذياتے قابل اعتراض دي او جواب ورکړے ئے :- او له مسئله د بيرا تلونکي مخے او ګورئ)

ك احقر شبير علي عرض کوونکے دے چه دغه مضمون پخپله د حکيم الامة رح تحرير فرمادے نو دلته ئے نقل کوو چه د شک ځائے پاتے نه شي - د امداد الفتاوي نه سوال جواب بجنسه نقل کولے شي ملاحظه ئے کړے ئے -

سوال :- د جنت کالے خلورمه حصه د بچي د حلالي کيدو په بيان کښې آخري دوه مسئلے - (نکاح اوشه ليکن لا رخصتي نه وه شوے الخ - خاوند پرديس کښې دے کلونه تېر شو الخ) په دے مختلف خيال والا خلق اعتراض کوي مهرباني او کړئ د دے دواړو مسئلو مدلل وضاحت او کړئ چه اعتراض کونکي چپ کړو -

جواب :- السلام عليکم ورحمة الله - تاسو سه پوهے چه په دے باره کښې چا زباني يا تحريري څه سوال کړے دے نو د اعتراض په رنګ کښې وو نو جواب ورکول م ورله لره نه غوختل البته ستاسو د الفاظو نه د ځان پوهه کولو قصد معلوميږي نو ځکه درته جواب ليکم - ځان بنه پوهه کړه چه د جنت د کالي د دے مسئلو دا مطلب نه دے چه بغير د کور والي نه حمل کيدے شي او هغه حمل دے بيا د دے سړي وي بلکه مطلب دا دے چه په دے صورتونو کښې د ګرهنه کتونکو لره پخپله د دے يقين کولو څه ذريعه نشته چه د دوي کور والے نه دے شوے نو دوي ته شرعا د اجازت نشته چه محض ظاهري لرے والے د ښځے خاوند او دې ته دا سے دے اووائي چه چونکه ځمونږ په علم کښې د دوي په مينځ کښې کور والے نه دے واقع شوے نو واقعي کور

والې هم نه دے شوے او دا حمل حرام دے او دا بچه حرام کاره ده او دا بچے ولد الحرام دے۔ نو چا کتو نکو ته د دے حکم لپاره د لوحق نشته۔ ځکه چه چا ته حرام کار یا حرام زاده ویل ډیر لوے تهمت دے او عظیم ګناه دے کړ دے خبرے د نولے نه ویستل بغیر د دلیل قطعي نه جا ئز نه دي۔ بلکه تر څو پورے چه د لرے نه لرے احتمال هم د کوروالي واقع کیدے شي نو داسے به ګنړلے شي چه شاید دا بعید صورت به واقع شوے وي او نور خوک به ئے نه وي خبر شوي۔ او دغه بعید احتمال دلته دره کیدے شي۔ یو دا چه د چا بزرګ په کرامت سره دے یو ځائے شوي وي۔ او بل دا چه پیري دے دواړه یو ځائے کړي وي او کوروالے دے شوے وي د څه نه دے حمل شوے وي۔ او د بزرګانو کرامت او پیریانو تصرف د اهل سنت والجماعت په نزد شرعًا عقلًا او وقوعًا ثابت دي۔ او اګر که احتمال بعید وي مګر مونږ د مسلمانے ښځے د تهمت نه د بچ کولو او هم لره د شرم نه د بچ کولو په دا احتمال ممکن ګنړو او وایو چه شاید داسے صورت به شوے وي او په بعضے صورتونو کښے خو ممکنه چه خاوند دے داسے پټ راغلے وي چه څوک ئے نه وي خبر شوي لکه اشتها دي مجمی مان چه د ښځے راځي کورته او بیا د شپے ځي۔ نو دا حمل به صحیح وي او د دے خاوند به ګنړلے شي۔ البته خاوند ته دا قطعي علم کیدے شي چه ما کوروالے کړے دے یا نه۔ نو د ده لپاره د انکار کولو او اثبات اختیار شته۔ لیکن شرعي حاکم ته دا قطعي علم نه شي کیدے چه دا خاوند رشتونے دے یا دروغژن۔ بلکه داسے احتمال شته چه د ځه خفګان په وجه یا د دے دے دا بچه په نا موس غواړي نو که خاوند نفي کوي چه دا بچے ځما نه دے نو په دے به شرعي حاکم سکوت نه کوي بلکه مقدمه به قائمه کړي او د لعان قانون به نافذ کړي نو د لعان نه پس بیا نورو خلقو ته هم شرعًا اجازت دے چه دے بچي ته د دے خاوند نه والد وائي چه په شرعي قانون سره د ده نسب د دے سړي نه قطع شه۔ یعنی شرعًا دا جبر نشته چه او س به ئے هم د خاوند نه ګنړي بلکه شرعًا به ئے منقطع ګنړي۔ او د واقع په اعتبار سره به بیا هم والله د غیبو علم خدائے لره دے او خدائے خبر دے چه بچه رشتونے ده که سرے۔ (۲۷ شعبان ۱۳۹۵ھ)

مسئله اوله:- که چا د خپلے بي بي د شا په لاره کښے صرف حشفه داخله کړه او انزال اوشه او د دے ښځے د دے وخت نه شپږ میاشتے پس او د انتهائي مودے د حمل نه مخکښے بچے پیدا شه نو د خاوند به وي (نو او وایه چه د شا په لاره کښے د کوروالي کولو نه مني رحم ته څنګه لاړه؟)

مسئله دویمه:- که یو سړي د خپلے ښځے د شا په لاره کښے حشفه داخله کړه او انزال هم او نه شه بیا هم بچے د خاوند دے په دے شرط چه د شپږ ومیاشتو نه پس او د انتهائي مودے د حمل نه مخکښے پیدا شه (نو او وایه چه د شا په لاره کښے او بیا بغیر انزال نه حمل څنګه اوشه)

مسئله دریمه:- که یو سړي د خپلے ښځے سره د مخے په لاره کښے کوروالے او کړه او بچے پیدا شه او لیکن کوروالے ئے د مخے په لاره کښے او کړه خو انزال او نه شه) نو دغه بچے به هم د خاوند وي په دے شرط چه د شپږو میاشتو نه پس او د انتهائي مودے د حمل نه اول پیدا شي (نو او وایه چه بغیر انزال نه حمل څنګه کیدے شي)، د دے مسئلو جواب د دوي سره بیا نشته او د فبهت الذي کفر مصداق جوړ شي۔ لیکن که دوي انکار کوي او وائي چه دا مسئلے زمونږ په مذهب کښے نشته نو ورته او وایه چه دا دواړه مسئلے" شرح لمعه ومشقیه کښے موجودي او عبارة ئے دا دے:-

یلحق الولد بالزوج الدائم لکاحه بالدخول بالزوجة ومضی ستة اشهر هلالية من حين الوطی والمراد به علی ما یظهر من اطلاقهم وصرح به المصنف فی قواعده غیبوبة الحشفة قبلا او دبرا وان لم ینزل۔ ولا یخلو ذلك من اشکال ان لم یکن مجمعا علیه للقطع بانتفاء التولد عادة لكثير من موارده ولم اقف علی شيئ ینافی ما نقلناه ویعتمد علیه وعدم تجاوز اقصی مدة الحمل وقد اختلف الاصحاب فی تحدیده فقیل لتسعة اشهر وقیل عشرة وغایته ما قیل ما فیه عند ناسنة ومستند الکل مفهوم الروایات وعدل المص عن ترجیح قول لعدم دلیل قوی علی الترجیح ویمکن حمل الروایات علی اختلاف عادات النساء فان بعضهن تلد لتسعة وبعضهن لعشرة وقد یتفق نادرا بلوغ سنة واتفق الاصحاب علی انه لا یزید عن السنة مع انهم رووا ان النبي

صلی الله علیه وسلم حملت به امه ایام التشریق واتفقوا علی انه ولد فی شهر ربیع الاول فاقل مایکون لبثه فی بطن امه سنة وثلاثة اشهر وما نقل احد من العلماء انه من خصائصه صلی الله علیه واله وسلم ا ه بلفظه۔

په دے عبارت کښے دا درے واړه مسئلے موجود دی او لطف دا دے چه پخپله د صاحب کتاب اقرار دے چه دا مسئلے ضرور قابل اعتراض دی په دے صورت کښې که څوک دا دے سړی نه پیدا کیدل عادتاً ناممکن دی لیکن د یو را فضی عالم قول د دے خلاف موږ ته ملاؤ نه شه۔ هذا ما عندنا والله یهدی من یشاء الی صراط مستقیم ط۔

د خلورمے حصے د مسئلے ۵۲ تصحیح چه سرخی ئے دا ده

د رخصت نه مخکښے د طلاقو ورکولو بیان

جناب مولوی سعید احمد صاحب مرحوم مفتی مدرسه عالیه مظاهر علوم سهارنپور والا ددے سوال د حکیم الامت جناب مولوی اشرف علی صاحب تهانوی رح په خدمت کښے او لیږه نو حضرت که جواب ورا ولیږه چه دا لاندے او لیکلے شه۔

(سوال) مسئله دا سے نیغے ته رخصت کوونکے ورسره نه وی شوے) دا سے او وائی چه که فلانی کار دے او کړه نو ته طلاق ئے طلاق ئے طلاق ئے۔ او هغے او کړه هغه کار نو درے واړه طلاق واقع شو۔

په دے صورت کښے د دریو طلاقو په واقع کیدو کښے تأمل دے ځکه چه هغه وخت شرط مقدم وی او د طلاقو لفظ مکرر وی - نو د هغے دوه صورتونه دی یو تکرار په ذریعه د حرف عطف دویم بغیر د حرف عطف نه - په اول صورت کښے که شرط موجود شه نو د امام صاحب په نزد درے طلاق واقع شه او باقی دوه لغوه کیږی - او د صاحبینو په نزد درے واړه واقع کیږی - او که تکرار بے د حرف عطف نه وی لکه چه مؤلف کړے دے - نو په دے صورت کښے اول طلاق معلق شه او دویم فی الحال واقع شه او دریم لغوه شه - ان علق الطلاق بالشرط ان کان الشرط مقدما فقال ان دخلت الدار فانت طالق وطالق وطالق وهی غیر مدخولة بانت بواحدة عند وجود الشرط فی قول ابی حنیفة رح ولغا الباقی وعندهما یقع الثلاث هذا کله اذا ذکره بحرف عطف فان ذکره بغیر حرف العطف ان کان الشرط مقدما فقال ان دخلت الدار فانت طالق طالق طالق وهی غیر مدخولة فالاول معلق بالشرط والثانی یقع للحال والثالث لغو ثم اذا تزوجها ودخلت الدار ینزل المعلق وان دخلت بعد البینونة قبل التزوج حنث ولا یقع شئ عالمگیری مختصرا ص ۳۹۹ ج ۱ مصری - وفی البحر ج ۳ ص ۲۹۶ وقید بحرف العطف لانه لو ذکر بغیر عطف اصلا نحو ان دخلت الدار فانت طالق واحدة واحدة واحدة ففی فتح القدیر یقع اتفاقا عند وجود الشرط ویلغو ما بعده لعدم ما یوجب التشریک - ا ه - وقال العلامة ابن عابدین علی قوله وقید بحرف العطف فی ایمان البزازیة من الثالث فی یمین الطلاق ان دخلت الدار فانت طالق طالق طالق وهی غیر ملموسة فالاول معلق بالشرط والثانی ینزل فی الحال ویلغو الثالث وان تزوجها ودخلت الدار نزل المعلق ولو دخلت بعد البینونة قبل التزوج انحل الیمین لا الی جزاء ولو موطئة تعلق الاول ونزل الثانی والثالث ا ه - وهذا کما تری مخالف لما نقله هنا عن الفتح الا ان یفرق بین واحدة واحدة وطالق طالق وهو الظاهر ا ه - هذا ما ظهر لی والله اعلم بالصواب۔

که دا اشکال وی او په عبارت کښے د ترمیم ضرورت وی نو ترمیم او فرمائے چه د اصل مسئلے په ځائے او لیکلے شی او په حاشیه کښے نوټ او لیکلے شی - سعید احمد غفرله ۲۱ ربیع الاول سنه ۵۶ھ۔

جواب د حضرت حکیم الامة مولوی اشرف علی صاحب نور الله مرقدهٗ

الجواب :- ومنه الصدق والصواب - په طلاقو ثلاثو معلقو کښے په اعتبار د مطلقه مدخول بها او غیر مدخول بها او په اعتبار د تقدیم د شرط او د تاخیر د شرط او په اعتبار د عطف او عدم عطف

بالواه اته صورتونه دي چه لاندې ئې اول د نقشې په شکل کښې او بیا د عبارت په شکل کښې لیکم او بیا د ټولو احکام نقل کوم د سوال جواب درته عرض کوم۔

نقشه طلاق ثلاثه معلق بالشرط

لغیر المدخول بها				للمدخول بها			
تقدیم الشرط		تاخیر الشرط		تقدیم الشرط		تاخیر الشرط	
مع العطف (۱)	بغیر العطف (۲)	مع العطف (۳)	بغیر العطف (۴)	مع العطف (۵)	بغیر العطف (۶)	مع العطف (۷)	بغیر العطف (۸)

عبارت دا دے:- (۱) لغیر المدخول بها بتقدیم الشرط مع العطف (۲) لغیر المدخول بها بتقدیم الشرط بلا عطف (۳) لغیر المدخول بها بتاخیر الشرط مع العطف (۴) لغیر المدخول بها بتاخیر الشرط بلا عطف (۵) للمدخول بها بتقدیم الشرط مع العطف (۶) للمدخول بها بتقدیم الشرط بلا عطف (۷) للمدخول بها بتاخیر الشرط مع العطف (۸) للمدخول بها بتاخیر الشرط بلا عطف۔

احکام ئې دا دي:- في العالمگیریة الفصل الرابع من الباب الثاني من کتاب الطلاق وان علق الطلاق بالشرط ان کان الشرط مقدما فقال ان دخلت الدار فانت طالق وطالق وطالق وهي غیر مدخولة (دا اول صورة دے) بانت بواحدة عند وجود الشرط في قول ابي حنیفة ولغا الباقي وعندهما یقع الثلاث وان کانت مدخولة (دا پنځم صورة دے) بانت بثلاث اجماعا الا ان علی قول ابي حنیفة یتبع بعضها بعضا في الوقوع وعندهما یقع الثلاث جملة واحدة، وان کان الشرط مؤخرا فقال انت طالق وطالق وطالق ان دخلت الدار و ذکره بالفاء الظن انها ومکان الواو فدخلت الدار بانت بثلاث اجماعا کانت مدخولة او غیر مدخولة (دا صورة دریم او اووم دے) هذا کله اذا ذکره بحرف العطف فان ذکره بغیر حرف العطف ان کان الشرط مقدما فقال ان دخلت الدار فانت طالق طالق طالق وهي غیر مدخولة (دا صورة دریم دے چه ذکر دے د جنت په کالي کښې) فالاول معلق بالشرط والثاني یقع للحال والثالث لغو (وهو الذي ذکره المستفتي) ثم اذا تزوجها ودخلت الدار ینزل المعلق وان دخلت بعد البینونة قبل التزوج حنث ولا یقع شئ۔ وان کانت مدخولة (دا صورة شپږم دے) فالاول معلق بالشرط والثاني والثالث یقعان في الحال۔ وان اخر الشرط فقال انت طالق طالق طالق ان دخلت الدار وهي غیر مدخولة (دا صورة څلورم دے) فالاول ینزل للحال ولغا الباقي۔ وان کانت مدخولة (دا صورة اتم دے) ینزل الاول والثاني للحال ویتعلق الثالث بالشرط کذا في السراج الوهاج وفي الدر المختار باب طلاق غیر المدخول بها في نظیر المسئلة وتقع واحدة ان قدم الشرط وفي رد المحتار هذا عنده وعندهما ثنتان ایضا ورجحه الکمال (في فتح القدیر) واقره في البحر اه۔

اوس د سوال جواب عرض کوم۔ چه د جنت د کالي مسئله مبحوث عنها ظاهرا صورة ثانیه دے چه حکم ئې دا دے چه اولنے طلاق به معلق وی او دویم به في الحال واقع وی او دریم به لغوه وی لکه چه په سوال کښې نقل شوے دے۔ او روایات ئې په جواب کښې هم۔ نو په دے بنا د جنت د کالي په عبارت اشکال صحیح دے او د تصحیح د پاره ئې په عبارت کښې ترمیم کافي نه دے بلکه دا مسئله حذف کول پکار دي لیکن دا امر قابل تأمل دے چه کوم دے حکم بنا تکرار بلا عطف دے لکه د صیغ مفرد مے ظاهر دے او د اردو په محاورا کښې عام اهل زبان په دے صورت کښې د عطف قصد کوی ممکنه ده چه مؤلف د جنت د کالي (چه مولوی احمد علی صاحب دے) دا په عطف کښې داخل کړے وی او چه د دویم صورة نه صورة اولی دے او امام صاحب او یاران په کښې اختلاف کوی او مؤلف د یا نو قول راجح ګڼلے وی لکه په پورته روایا تو کښې په فتح القدیر او بحر کښې ئې کړے راجح والے نقل کړے دے په دے صورة کښې به اشکال رفع شي۔ خلاصه دا ده چه د مذکوره حکم د جنت د کالي صحت په دوه مقدمو موقوف دے یو دا چه عطف او عدم عطف زمونږ په محاوره کښې یو شان دی دویم دا چه د یارانو قول راجح دے پس که دا مقدمات مسلم وی نو حکم صحیح دے ورنه غلط او د جنت په کالي کښې چه ئې د در مختار د کوم مقام حواله ورکړے ده هغه په ډیر تلاش هم ملاؤ نه شو۔ او نه مستفتي دے ته نسخه تعرض کړے دے ممکنه ده چه په لیدو به ئې نور معلومات هم او وی بهر حال که حذف کړے شي نو د څه تکلف ضرورت نشته۔ لیکن احتیاط دا دے چه دا حاشیه

ځکه خو به مسئله اوليکلې شي چه په دې مقام يو مسئله وه چه د ظاهر عبارت د فقهاؤ نه خلاف وه نو د اشرف علي صاحب په اجازت حذف شوه - که دې حاشيې نه به دا فائده وي چه د نورو نسخو په ليد وبه دا شک نه وي چه حيره شوې ده - او که باقي پاتې کړې شي نو يو حاشيه دې په اوليکلې شي چه دا مسئله د ظاهر عبارت د فقهاؤ سره صحيح نه ده ليکن د اردو محاورې په بنا په عطف کښې په حذف د عاطف داخله کړې شي او په دې کښې چه کوم اختلاف دې په هغې کښې د يا راو تول واغستې شي نو په دې توجيه مسئله صحيح کيدې شي - اوس عوامو له پکار دي چه د خپل معتقد فيه عالم نه فتوی په دې کښې واخلي او په هغې عمل اوکړي - والله اعلم -

(اشرف علي ۲۶ ربيع الاول سنه ۵۶ھ)

دِ جنّت کالي پنځمه حِصّه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

باب د اغستو او خرڅولو بيان

مسئله ۱:- که چا اوويل چه ما دا شے په دومره قيمت خرڅ کړه او بل اوويل چه ما واخست نو هغه شے خرڅ شه او چا چه اغستې دې هغه ئې مالک شه - اوس که دے وائي چه زه ئې نه خرڅوم يا هغه بل وائي چه زه ئې نه اخلم نو هيڅ نه شي کيدے دے به ئې خامخا ورکوي او هغه به ئې ضرور اخلي او ديته بيعه وائي -

مسئله ۲:- يو اوويل چه دا شے ما په لسو روپئ پتا خرڅ کړه او هغه بل اوويل چه ما منظور دے يائې اوويل چه په دې قيمت زه راضي يم خو ده ما واغست نو هغه شے خرڅ شه اوس نه ده خرڅونکي دا اختيار شته چه نه ئې ورکوي او نه د اغستونکي دا اختيار شته چه پاتې کړي - ليکن دا حکم چه دواړو دا خبرې اترې په يو مجلس کښې په يو ځائې کړې وي - که يو اوويل چه ما دا شے پتا په څلور روپئ خرڅ کړه او بل دغه وخت هيڅ اونه ويل د هغه ځائې نه پاسيد او دريد يا د چا سره صلاح له لاړ يا بل څه کار ته لاړ او ځائې ئې بدل کړه بيائې اوويل چه خه ده ما په څلور روپئ واغستو نو بيعه نه ده شوې البته د شي مالک بيا اوويل چه خه ده واخله يا ما درکړه نو خرڅ به شي - دغه شان که مالک پاسيد و يا چرته لاړ او ځائې ئې بدل کړو او اغستونکي بيا ورستو اوويل چه خه ده ما واغست نو هم نه دے خرڅ شوے - مطلب دا دے چه د دواړو خبرې په يو ځائې او يو حله به هغه شے خرڅ شي -

مسئله ۳:- که چا اوويل چه دا شے په يوه روپئ راکړه او هغه اوويل چه درم کړه نو په دې بيعه اونه شوه ترڅو چه بيا هغه اغستونکے اونه وائي چه خه ده ما واغست -

مسئله ۴:- که چا اوويل چه دا شے ما په يوه روپئ واغست او هغه اوويل چه واخله نو بيعه اوشوه -

مسئله ۵:- که چا د يو شي قيمت بنکاره کړه او يو سړي هغه قيمت د هغه په لاس کښې کينبودو او هغه شے ئې اوچت کړه او هغه قيمت په خوشحالئ سره واغست او په خوله ئې يو

هم څه اونه وي نو په دے لین دین سره هم هغه شے خرڅ شه بیعه اوشوه۔

مسئله ۶:- تهوکړی مارکوټے له راغے نو چائے د تهوکړۍ نه ځلور امرود اوچتکړه او روپۍ ئے هغه له ورکړه او هغه په خوشحالۍ واغسته نو هم بیعه اوشوه که په ژبه څه اووائی او که نه -

مسئله ۷:- چا د غنمو یوه لړۍ ته اووے چه دام په لس پیسے په تاخرڅه کړه او اغستونکی اووے چه ماتے پنځه واغسته یا رم نیم واغسته نو ترڅو چه خرڅونکے په دے راضی نه وی بیعه نه کیږی ځکه چه هغه قیمت د تهولو په جمع ویلے وے نو چه هغه راضی شوے نه وی اغستونکے ته څه نه شی اغستے چه څه واخلی او څه پریږدی که اخلی نو تهول به په جمع اخلی - البته که هغه ویلی وو چه هر یو منے په پیسه پیسه دے نو هغه اووے چه ماتے پنځه واغسته نو پنځه خرڅ شو۔

مسئله ۸:- د یو سړی سره مختلف قسم ځلور څیزونه دی - کوټ - وائل - پټے منګز او هغه اووے چه دا ځلور واړه په ځلور روپۍ خرڅوم نو بغیر د هغه د رضا نه تے یو شے څوک په آنه نه شی اغستے ځکه چه هغه د تهولو په جمع قیمت ویلے دے - البته که د هر یو شی ئے جدا جدا قیمت اووے نو بیا تے یو دوه اغستے شی۔

مسئله ۹:- په اغستو خرڅولو کښے دا هم ضروری ده چه سودا د هر یو عیبه نه پاکه کړے شی څه خبره دے په کښے داسے نه پاتے کوی چه بیا په کښے جګړه جوړیږی دغه شان قیمت به هم صاف صاف مقرر کوی که په دواړو کښے یو شے هم صاف اوواضح نه وه بیعه نه صحیح کیږی -

مسئله ۱۰:- که چا یو شے په روپو یا پیسو واغستو او بیا خرڅونکے وائی چه ته اول قیمت راکړه بیا به زه دا څیز درکړم او اغستونکے وائی ته اول دغه شے راکړه بیا به زه قیمت درکړم نو خرڅونکی ته دا اختیار شته چه اول قیمت وصول کړی او بیا هغه شے ورکړی - او که دواړه طرفته یو شان شے وی مثلاً روپۍ په پیسو اخلی یا کپړه په کپړه اخلی او داسے جګړه ئے جوړه شوه نو دواړو ته به ویلے شی چه ته خپل څیز د هغه په لاس کیده او هغه به خپل شے ستا په لاس کیدی -

باب د قیمت معلومیدو بیان

مسئله ۱:- چا موټے بند کړه او اوئے وے چه څومره قیمت ځما په دے لاس کښے دے په دے دا فلانے شے راکړه او معلومه نه وه چه د دے په لاس کښے څه دی او څومره دی نو داسے بیعه صحیح نه ده

مسئله ۲:- که په یو ښهر کښے دوه قسمه پیسے چلیږی نو دا به هم ښائی چه د فلانی قسم پیسو په بدل کښے دا شے اخلم - او که چا داسے اونه وے خو اوئے وے چه دومره

دا شے په دومره پیسو خرڅوم او بل او وے چې زه ئې په دغې قیمت اخلم - یعنې دا م غستو نو بیا به کیدے شي چې کومې پیسې زیاتې چلیږي هغه پیسې به ورکوي او که دواړه رواج یو شان وه نو بیا بیعه نه ده شوې - فاسده ده -

مسئله ۳:- که د چا په لاس کښې څه پیسې وې او موټے ئې بندکاره کړه چې په دے پیسو دا شے را کړه او هغه ورکړه لیکن دا نه وه معلومه چې دا څو آنې دي نو بیا هم بیعه اوشوه دغه شان د پیسو ډیرے مخکښې پروت دے او چا ته معلومه نه وه چې څومره دي او په هغې ئې څه شے خرڅ کړو نو هم بیعه اوشوه - غرض چې پیسې په سترګو او وینې نو که شمار ئې معلوم نه وي خو بیعه به کیږي او چې په سترګو ئې نه وي لیدلي نو بیا ئې مقدار خودل ضروري دي لکه او وائي چې په لس آنې ما دا شے واغست نو که په دا سے حالت کښې ئې مقدار مقرر نه کړه بیعه فاسده ده -

مسئله ۴:- که چا دا سے او وے چې ته دا شے واخله د قیمت مقرر کولو ضرورت نشته څه چې مناسب وي هغه به درنه اخلم ستا نه زیاتي خو زه نه اخلم - یائې او وے چې ته دا شے واخله او زه به کور ته تپوس اوکړم چې څه قیمت وه تا ته به او وایم - یائې اووے چې دا سے شے فلانی هم اغستے دے چې څه پیسې هغه ورکړي وي هغه به ته ورکړے یائې او وے چې څه دے زړه غواړي هغه به را کړے ځه چې را کوے زه انکار نه کوم یائې دا سے او وے چې په بازار کښې تپوس اوکړه چې څه قیمت وي هغه به را کړے یائې او وے چې د فلانی نه تپوس اوکړه چې هغه څه قیمت اووے هغه به را کړے نو په دے ټولو صورتونو کښې بیعه فاسده ده - او که په دغه ځائې قیمت معلوم شه نو بیا صحیح ده او که بیا وروستو معامله صفا شوه نو اول بیعه نه ده شوې اوس به نوے بیعه کوي -

مسئله ۵:- یو دکاندار مقرر دے او څه شي ته چې ضرورت کیږي د هغه نه راوړي او د قیمت تپوس نه کوي او دا سے ګڼړي چې څه کله حساب کوو بیا چې څه قیمت وي ورکوم به نو دا جائز دي - دغه شان د دواخانې نه دوائي راوړي او د قیمت تپوس نه کوي او وائي چې جوړ شم نو بیا به ورسره حساب اوکړم چې څه قیمت وي ور به کړم نو دا هم جائز دي -

مسئله ۶:- د چا په لاس کښې یوه روپئ یا پیسه وه او وائې وے چې په دے روپئ م دا شے واغست نو که دغه روپئ ورکوي او که بله - مګر چې هغه بله کوټه نه وي -

مسئله ۷:- چا په یوه روپئ څه شے واغست نو اوس که روپئ ورکوي که دوه آنه ایزه یا څلور آنیزه یا اته دوه آنیزه - او که ماتې پیسې ورکوي نو بیا د اغستونکي اختیار دے چې اخلي ئې او که نه - که هغه ماتې پیسې نه اخلي نو دغه روپئ به ورکوي -

مسئله ۸:- که چا صندوق وغیره خرڅ کړه نو کنجي ورسره خرڅه شوه د کنجئ ځانله قیمت نه شي اغستے او نه تے کنجي پاتے کولے شي۔

باب

د سودا معلومیدو بیان

مسئله ۱:- په دانو غله وغیره تولو کښے دا اختیار دے چه په تول ئے اخلي چه په روپۍ ئې دوه سیره غنم واغسته۔ او که دغه سے ئے اخلي چه د غنمو دا ډیرے م په یوه روپۍ واغست نو بیا که په دے ډیری کښے هر څو مره غنم وي د ده دي۔

مسئله ۲:- کندیرې آم، امرود، وغیره کښے هم اختیار دے چه په شمار ئے اخلي که ډیرے قیمت کوي (او که په تول) که تو کرئ ئے تول واغسته په دوه روپۍ او شمار وغیره ئے معلوم نه وه نو بیعه جائزه ده څومره چه وي تول د ده دي۔ که کم خیژي او س او که زیات۔

مسئله ۳:- چا بیرے وغیره خرڅولو له راوړے او ده ورته اووے چه په روپۍ را له د دے کټي په تول راکړه او هغه راضي شه او د دے کټے وزن معلوم نه وه چه څومره دے نو دا بیعه هم جائزه ده

مسئله ۴:- د آمو یا امرودو وغیره پوره توکرئ ئے په دے شرط واغسته چه په دے کښے څلور سوه ام دي بیا چه شمار شو نو درے سوه اوختل نو اغستونکي له اختیار دے چه اخلي ئے او که پاتے کوي ئے خو که اخلي ئے نو دولس آنے به ورکوي د یو سینکړے پیسے به پاتے کوي او که درے نیم سوه اوختل نو څوارلس آنے به ورکوي۔ او که زیات شو د څلورو سوو نه نو هغه زیات د خرڅونکي دي د اغستونکي د څلورو سوو نه د زیاتو اغستو حق نشته۔ البته که تول توکرئ ئے اغستے وه او دا ئے مقرر نه وه کړے چه په دے کښے څومره ام دي نو هر څومره چه اوختل تول د اغستونکي دي که کم اوخیژي او که زیات۔

مسئله ۵:- بنارسي دوپټه یا د چکن دوپټه یا د کټ څادر وغیره داسے کپړا ئے واغسته چه که څه تو کړه تے خیرے کړے شي نو خرابیږي۔ او د اغستو په وخت کښے ئے دا شرط کړے وه چه دا درے ګزه ده۔ بیا چه ناپ ئے کړه نو کمه اوخته نو څومره چه کمه شوه د هغې په بدله کښے پیسے کمے نه شي ورکولے۔ بلکه څومره قیمت چه مقرر شوے دے هغه به پوره ورکوي هاں دومره رعایت شته چه هر دواړه طرفه پخه بیعه شوے ده خو بیا هم اغستونکي ته اختیار دے چه که اخلي ئے او که پریدي ئے۔ او که زیاته اوخته نو هغه هم د ده ده د هغې په بدله کښے زیاتي پیسے نه شي اغستے۔

مسئله ۶:- د شپے چا دوه ریشمي څادرے په یوه روپۍ مثلاً واغستے نو سحر معلوم

شوه چه یو په کښې تار یز دے نو دواړه بیعه فاسده شوه د ریشمو هم او د تار یز هم. دغه شان که چا دوه ګوتۍ په دے شرط واغستے چه په دواړو کښې غمی فیروزه دی بیا معلومه شوه چه د یوے غمے فیروزه نه دے بل څه دے نو دواړه بیعه فاسده شوه. که یو په کښې اخلی یا دواړه نو بیا به د سره بیعه کوی.

باب د قرض اغستو بیان

مسئله ۱:- که چا قرض سودا واغستله نو دا هم جائز دی لیکن دومره خبره ضروری ده چه څه موده مقرر کړی مثلاً پنځلس ورځے میاشت څلور میاشتے وغیره کښے به پیسے درکړم که څه موده ئے مقرر نه کړه نو داسے ئے اووے چه کله پیسے اوشوے درته به کړم اوس نشته. نو که داسے ئے ویلی وی چه په دے شرط ئے اخلم چه پیسے به بیا درکوم نو بیعه فاسده شوه. او که په اغستو کښې ئے دا شرط اونه لګاؤ د اغستو نه پس ئے اووے چه پیسے به بیا درکړم نو هیڅ باک نشته. او که په اغستو کښے ئے هم اونه وے او بیا ئے هم اونه وے نو هم بیعه اوشوه خو په دے دواړو صورتو نو کښے به قیمت فی الحال درکول وی. البته که خرڅونکے ورته څه ورځے مهلت ورکوی نو دا بله خبره ده. لیکن که مهلت نه ورکوی او اوس قیمت غواړی نو ورکوی.

مسئله ۲:- که چا د اغستو په وخت کښے داسے اووے چه فلانے شے ماله راکړه کله چه پیسے اوشی نو درته کړم. یا چه روزم راشی نو درته کړم یا چه فصل واخلم نو درته کړم. یا خرڅونکی اووے چه زه داشے واخله او کله چه دے زړه اوغوختل پیسے به راکړے. نو دا بیعه فاسده شوه. بلکه څه نه څه موده به مقرر کړی نو اخلی به. او که د اغستو نه پس ئے داسے خبره اوکړه نو بیعه اوشوه او د سودا والا اختیار دے چه اوس پیسے اوغواړی. البته د فصل کټ کو لو په صورت کښے د فصل اغستو نه مخکښے نه شی غوختے.

مسئله ۳:- په نقد پیسو د روپۍ شل سیره غنم خرڅیږی. لیکن د قرض اغستو په وجه ئے چا لس پنځلس سیره ورکړه نو بیعه اوشوه مګر دغه وخت معلومول پکار دی چه قرض اخلی (یعنے که په دغه مجلس کښے د قرض یا نقد معامله معلومه کړے شوه نو جائز دی او که دا هیڅ معلومه نه شوه خبره کول مول پاتے شو نو جائز نه دی)

مسئله ۴:- دا حکم هغه وخت دے چه د خرید ارنه اول تپوس شوے دی چه نقد اخلی که قرض. نو که هغه نقد اووے شل ئے ورکړه او که قرض ئے اووے نو پنځلس ئے ورکړه. او که معامله ئے داسے اوکړه چه خرید ارته ئے اووے که نقد اخلے نو د روپۍ شل سیره او که قرض اخلے نو پنځلس سیره داجائز نه دی.

مسئله ۵:- د میاشتې په وعده ئې یو شے واغستو نو چه میاشت پوره شوه نو اوس تے پنځلس ورځے میعاد نور غواړي نو که خرخونکے راضي شه بنه ده او که راضي نه وه نو اوس ئې غوختے شي۔

مسئله ۶:- چه پیسے ورسره موجود وي نو ناحق ئې حصاره ول چه نن نه صبا راشه دا وخت نه هغه یل وخت راشه۔ لا روپۍ م نه دي ماتے کړي چه ماتے کړم بیا به درکړم دا ټول خبرے حرامے دي کله چه هغه او غواړي ورکول ئې پکار دي۔ البته که خه نیته په کېنے مقرر شوے وه نو چه هغه وخت راشي فوراً ئې ورکول واجب دي حصاره ول او بوتلل راوستل ئې جائز نه دي۔ لیکن بالکل ورسره نه وي او نه ئې پیدا کولے شي نو بیا مجبوري ده چه څه وخت اوشي بیا دے نه حِصاره وي۔

باب د واپس کولو د شرط بیان چه په شرع کښے ورته خیار شرط وائي

مسئله ۱:- د اغستو په وخت کښے ئې داسے اووے چه یو ورځ یا دوه یا درے ورځے پورے ماته د اغستو او نه اغستو اختیار دے که زړه م خوښ شه واب ئې خلم او که نه وي نو واپس به ئې کړم۔ نو دا جائز دي د څو ورځو اقرار چه ئې کړے دے د هغې پورے ئې د واپس کولو اختیار شته که غواړي نو واپس دے کړي او که غواړي نو وا دِ خلي۔

مسئله ۲:- که چا درے ورځے خیار کېښو دا او درے ورځے تیرے شوے او دوه نه څه جواب ورکړه او نه ئې هغه شے واپس کړه نو اوس به ئې اخلي خیار ختم شه۔ البته که خرخونکے ئې په خوشحالۍ واپس کوي نو واپس دے کړي بے رضا منه ئې ئې نه شي واپس کولے

مسئله ۳:- د درے ورځو نه زیات شرط ایښودل جائز نه دي۔ نو که چا څلور یا پنځه ورځے شرط ایښودے وه نو کتے به شي چه په درے ورځو کښے دننه ده څه جواب ورکړے دے یا نه۔ که په درے ورځو کښے ئې دننه شے واپس کړه نو بیعه واپس شوه او که او ئې وے چه ما واخستو نو بیعه اوشوه او که درے ورځے تیرے شوے او حال معلوم نه شه چه اخلي که نه۔ نو بیعه فاسده شوه۔

مسئله ۴:- دغه شان که خرخونکے درے ورځے شرط اوکړي چه که په درے ورځو کښے دننه ما واپس کړه نو څه او که واپس م نه کړه نو ستا به شي دا هم جائز دي۔

مسئله ۵:- د اغستو په وخت کښے ئې درے ورځے شرط کېښود خو په دویمه ورځ راغے چه هغه شے تما شه نه ئې واپس کوم نو اختیار ئې ختم شه اوس ئې نه شي واپس کولے۔ بلکه که کور ته راغے او او ئې وے چه ما دا شے واغست او س ئې نه واپس کوم نو هم ئې اختیار ختم شه۔ او د بیعے ماتول یا واپس کول غواړي نو د خرخونکي په مخکښے ئې ماتول په کار دي پسے شا ئې ماتول جائز نه دي۔

مسئله ۶:- که چا اووې چه درې ورځې ماته د مورا اختیار دے که واخلے غستو او که واپس ئے کړه نو دا هم جائز دی - او س په درې ورځے کښې دننه ئے دے یا د ده مور واپس کولے شي - او که ده یا د ده مور اووې چه وا م غستو او س ئے نه واپس کوم نو د واپس کولو اختیار ئے ختم شه -

مسئله ۷:- دوه یا درې تها نوشه ئے واخسته او اوئے وے چه د درې ورځو پورې موږ ته اختیار دے چه کوم په کښې مونږ خوښ شه نو یو به تے په لس روپئ واخلو نو دا جائز دی په درې ورځو کښې وے په کښې یو تها ن خوښ کړي - او که څلور پنځه تها نه ئے یو په او اوئے وے چه یو به په کښې خوښ کړو نو دا بیعه نا سده ده -

مسئله ۸:- یو سړي د درې ورځو د واپس کولو په شرط یو شے واخسته - بیا ئے په کور کښې د هغې شي استعمال شروع کړه لکه د اغوستو شے وه نو اغوسته ئے یا د خوړه ولو شے وه خوړلو ئے - یا د پسره کولو وه پسره وه ئے نو اوس ئے د واپس کولو اختیار ختم شه نه شي واپس کولے -

مسئله ۹:- البته که دا استعمال ئے صرف د کتو د پاره شوے دے نو اختیار ئے لا شته مثلاً کنډلے قمیص یا څادر یا درې ئے واخسته نو یو پیره ئے صرف د دے د پاره واغوسته قمیص چه برابر دے که نه او بیا ئے فوراً اوویسته یا ئے د څادرا و درے لمبائ او که والے په پسره ولو غوړه ولو او کوت - نو واپس کولے شي -

باب د نالیدلي څیز د اغستلو بیان

مسئله ۱:- که چا یو شے نالیدلے واغست نو دا بیعه جائز ده - لیکن کله چه ئے اوویني نو اختیار ئے شته که خوښ ئے شه وا ئے خلي که خوښ ئے نه شه واپس ئے کړي اګر چه هغه عیب په کښې نه وي او څنګ چه ئے مقرر کړے وه هم هغه شان وه خو د اغستو او نه اغستو اختیار ئے شته -

مسئله ۲:- که چا خپل شے نالیدلے خرڅ کړو نو د لید ونه پس بیا د واپس کولو اختیار د ده نشته - دا اختیار صرف د اغستونکي دے -

مسئله ۳:- که تهوکرۍ مارد مترو تهوکرئ را وړه او پاس پے ښه ښه متروه نو ده چه هغه او لیده تهول تهوکرئ ئے تے واخسته نو لاندے خراب او خاتنا نو اوس ئے دے واپس کولے شي - البته که تهول ښکلي یو شان وي نو چه لږ تے اووینی دا کافي دي که تهول اووینې او که نه د واپس کولو اختیار ئے نشته -

مسئله ۴:- امرود یا آنار وغیره داسے څیز وشي ئے واغسته چه تهول یو شان نه وي نو ترڅو پورے چه ئے تهول نه وي لید لي ترهغه ئے د واپس کولو اختیار شته -

مسئله ۵:- که د غوړو کاک څه شے ئے واغست نو په دے کښې صرف په لید وسره

اختیار نه ختمیږی بلکې څکل ئې هم پکار دی که ئې څکلو نه پس ئې خوښ نه شه واپس کولې شي.

مسئله ۶:- د یره زمانه شوې وه چه یو شے ئې لیدلے وه - او س ئې بغیر لیدونه واخست نو چه کور ته ئې راوړو څنګه چه ئې لیدلے وه هم هغه شان وه نو اوس ئې د واپس کولو اختیار نشته البته که فرق پکښې راغلے وه نو د لیدو نه پس ئې واپس کولې شي.

باب په سودا کښې د عیب راوتو بیان

مسئله ۱:- چه کله څه شے خرڅوی نو چه عیب پکښې وی یا څه خرابی وی خود له ئې پکار دی. د عیب نه خودل او په دهوکه ئې خرڅول حرام دی.

مسئله ۲:- چه یو شے ئې واخست نو چه اوئې کوت عیب وه پکښې مثلاً دوشاله منګکو وهلے وه یا تهان منګکو وهلے وه یا چینجو څه کپړه وغیره وهلے وه یا بل څه عیب پکښې نښکاره شه نو اوس د اغستونکی اختیار دے چه واپس کوی او که پاتې کوی - خو که پاتې کوی نو د عیب په وجه دے قیمت کم نه شي ورکولے البته که هغه خرڅونکے په قیمت کمولو راضي وی نو جائز دی.

مسئله ۳:- چا تهان واغست کیخود نو وار ه تے یو کوت څیرے کړه یائې په تینچۍ پریکړه نو بیا چه ده اوکوت د ننه خراب وه منګکو وهلے وه یا هسې ځائے په ځائے څیرے وه نو اوس ئې دے نه شي واپس کولے ځکه چه یو عیب پکښې ده کړه او لهذیس را (البته که خرڅونکے رضا وی بیا واپس کولې شي) البته د هغې عیب په بدله کښې مناسب قیمت کموه لے شي کوم عیب چه د خرڅونکی د کور دے.

مسئله ۴:- دغه شان که کپړه قطع کړے شوه بیائې عیب معلوم شه نو هم ئې نه شي واپس کولے البته د عیب مناسب قیمت کمولے شي - خو که خرڅونکے قیمت نه کموی او وائی چه ځما قطع شوے کپړه واپس کړه زه قیمت نه کموم نو اختیار ئې شته اغستونکے تے انکار نه شي کولے - او که د قطع کولو نه پس ئې ګنډلے هم وه بیائې عیب معلوم شه نو د عیب مناسب قیمت به کموی البته خرڅونکے خپله کپړه نه شي واپس کولے او که دے اغستونکی هغه کپړه خرڅه کړه یائې تے خپل نابالغ اولاد له د اغستو په نیت جامې کټ کړے په دے شرط چه بالکل هغه له ئې د ورکولو نیت کړے وی او بیا پکښې عیب را اووت نو اوس ئې قیمت نه شي کمولے او که بالغ اولاد له ئې قطع کړے او عیب پکښې را اووت نو اوس ئې قیمت کمولے شي.

مسئله ۵:- که چا د یوے اګۍ په سر کړیوے پیسے په قیمت په حساب سره اګۍ واغستے نو چه ماتے کړے تهولے خرابے او ختے نو تهول قیمت واپس کولې شي او دا

له خو حلله په څکلو کښې د مالک نقصان نه وه که د مالک نقصان وه لکه خربوزه نڼکے وغیره بیا نه شي څکلې ۱۲

بې کنهلې شي چې ده هغې واغستې نه دي - او که څه خرابې او څه ښې اوختې نو د خرابو قيمت واپس کولې شي - او که چا د شلو پنځو پيشتو اکو سته قيمت او کړه واغستې مثلاً دا ټولې اکئي ما پې پنځه آنې واغستې کو که په سلو کښې پنځه شپږ خرابې اوختې نو خير دے او که زياتې خرابې اوختې نو د خرابو قيمت په حساب سره واپس کولې شي -

مسئله ۶:- ختکې بادرنګ خربوزه هندوانه کدو بادام غوزان وغيره څه ئې واغستل نو چې مات ئې کړه ونو بالکل خراب وُه نو او کوره چې څه پکار راتلې شي يا بالکل د غورزه ولو دي نو که بالکل د غورزه ولو وي نو دا بيعه کسره نه ده شوے خپلې ټولې پيسې به واپس واخلي او که څه پکار راتلې شو نو چې په بازار کښې د دغ خرابو څه قيمت لږ يي نو هغه به ورکړي باقي قيمت به واپس واخلي -

مسئله ۷:- که په سلو با دامو کښې د شپږو پورے خراب او ختل نو دا خير دے او که زيات خراب او ختل نو څومره چې خراب دي د هغې قيمت واپس کولې شي -

مسئله ۸:- د روپۍ ئې پنځلس سيره غنم يا يونيم سير غوړي واغستل نو څه خه او څه خراب نو دا جائز نه دي چې ښه به واخلي او خراب به واپس کړي بلکه يا به ټول اخلي يا به ټول واپس کوي البته که خرڅونکے راضي شه چې ښه واخله او خراب واپس کړه نو جائز دي -

مسئله ۹:- د عيب راوتو په وخت کښې د واپس کولو اختيار د هغه وخته پورے دے چې د عيب دار شي په قبلو لو ئې د څه قسم رضامندي ثابته نه شي او که په اغستو ئې راضي شوے وي نو بيا ئې واپس کول جائز نه دي - البته که خرڅونکے ئې په خوشحالۍ واپس کوي نو بيا جائز دي - لکه چا يوه بيزوه يا غوا واغسته نو چې کور ته ئې راوسته نو معلومه شوه چې ناجوړه ده يائې څه ځائے زخمي دے - پس که د عيب ښکاره کيدو نه وروستو ئې خپله رضامندي ظاهره کړه چې خير دے عيب داره اخلم نو د واپس کولو اختيار ئې ختم شه او که په ژبه ئې اونه وے ليکن داسے کار ئې او کړه چې د رضامندي ئې معلوميده لکه علاج ئې ورله شروع کړه بيائې هم د واپس کولو اختيار پاتې نه شه

مسئله ۱۰:- د بيزوے غوبنه ئې واغسته بيا معلومه شوه چې د کښې ده نو واپس کولې ئې شي -

مسئله ۱۱:- د ملغلرو هار ئې واغستو يا بل څه کالي ئې واغستو او څه وخت ئې واچول و يائې پيدا ر واغستو او پخپو ئې کړه او ورله رشه په کښې نو اوس ئې د واپس کولو اختيار نشته که عيب وه په کښې - ليکن که د کتلو د پاره ئې هار يغاره کړے وه او پيدار ئې پخپو کړے وه چې پخپو کښې څنګه دے نو که دے ازمائش د پاره په لږ ساعت

استعمال ئې د واپس کولو اختيار نه دے ختم شوے - دغه شان که کټ يا تخت ئې واغستو او د څه ضرورت په وجه ئې استعمال کړه نو اوس ئې د واپس کولو اختيار نه دے پاتے ختم شه - دغه شان نور څيزونه[له] دی -

مسئله ۱۲ :- د خرڅولو په وخت کښې ئې ورته اووے چه بنده ئې اوګوره دغه شے دے که څه عيب په کښې وی نو بيا ئې زه ذمه وار نه يم او ده سره ګډ دينه واغستو نو اوس که په کښې څه عيب وی د واپس کولو اختيار ئې نشته او دغه شان خرڅول هم جائز دی که دے ويناله پس د عيب خودل واجب نه دی -

باب د بيعے باطلے او فاسدے وغيره بيان

مسئله ۱ :- کومه بيعه چه په شرع کښې بالکل غير معتبره او لغوه وی او داسے ګڼلے شی چه ده بالکل اغستے نه دے او هغه بالکل خرڅ کړے نه دے دے ته باطله وائی او حکم ئې دادے چه اغستونکے ئې هډو مالک شوے نه دے دغه شے لا تراوسه د خرڅونکی په ملک کښې دے نو اغستونکی له ئې نه خوړل جائز دی او نه چا له ورکول په هيڅ شان ئې څه کار کښې راوستل جائز نه دی - او کومه بيعه چه شوے وی ليکن څه خرابی په کښې راغلے وی نو دے ته بيعه فاسده وائی حکم ئې دادے چه ترڅو د اغستونکی په قبضه کښې رانه شی ترهغے د اغستونکی ملک کيدے نه شی او چه قبضه ئې کړی نو دے ئې مالک شه ليکن حلال او پاک نه دے نو په دے وجه ئې خوړل يا په څه کار کښې راوستل جائز نه دی بلکه د داسے بيعے ماتول واجب دی - که ئې اخلی نو بيا دے بيعه اوکړی او واد خلی - که دا بيعه ئې ماته نه کړه او په بل چا ئې دغه شے خرڅ کړو نو ګناه او شه - او دغه بل اغستونکی له ئې خوړل سکل او استعمال کښې راوستل جائز دی او دا دويمه بيعه اوشوه - که په نفع ئې خرڅ کړے وی نو دغه نفع ئې خيرات کول واجب دی نخپل کار کښې راوستل ئې جائز نه دی -

مسئله ۲ :- د زمينداړو دا دستور چه په تالاب کښې مهی خرڅوی دا بيعه باطله[له] ده - په تالاب کښې چه څومره مهی وی ترڅو چه نيولی شوی نه وی ترهغے پورے ئې څوک مالک کيدے نه شی - چه څوک ئې په ښکار سره اونيسی هغه ئې مالک دے - نو چه دا زميندارانئې مالکان نه دی نو بيعه ئې څنګه جائز شوه - البته که زميندار په خپله مهی نيسی او خرڅوی نو جائز دی - که په بل چائے او نيول نو هغه ئې مالک شه د زميندار په دغے مهو کښے هيڅ حق نشته دغه شان د مهو د نيولو نه د خلقو منع کول هم جائز نه دی -

له دا مسئله د هغې صورت متعلق ده چه تالاب ته مهی په خپله راغلی وی يا په خپله پيدا شوی وی مالک ئې د ادستو يا هډوول و غيره څه تدبير نه وی کړے که دے پوره تفصيل امداد الفتاوی جلد ۳ صفحه ۲۰ کښې دے ۱۲

مسئله ۳:- دچا په زمکه کښې دځمکې واخه را اوخاتته نه ده کړلی دی او دوئي او به کړی دی نو دا د ابشه هم دچا ملک نه دے دچا په زمکه غواړی رودلے شی نه دے وځو خرڅول جائز دی او نه یې د رود لو نه څوک منع کولے. البته که او به یې ور کړی وی او خدمت یې کړے وی نو بیا یې دے مالک د خلق نه هم منع کولے شی او خرڅولے یې هم شی

مسئله ۴:- دچا نور په کیده کښې چه کوم بچے دے د پیدا کیدو نه اول د دغه بچی خرڅول جائز نه دی باطل دی - او که ټول جانور یې خرڅ کړه نو جائز دی - لیکن که داسے یې وویل چه زه دا بیزه خو خرڅوم لیکن د کیده دا بچے یې نه خرڅوم چه پیدا شه ځما به وی نو دا بیعه فاسده ده -

مسئله ۵:- د څاروی په غولانځه کښې چه کوم پئ دی تر څو چه لوشلی شوئ نه وی تر هغې یې خرڅول باطل دی - دغه شان دګډے بیزے وړئ چه تر څو قینچی شوی نه وی خرڅول یې باطل دی -

مسئله ۶:- کوم بشوش لرګی چه په کوټه کښې لږیدلی وی تر څو چه د کوټے نه رالویستلی شوی نه وی خرڅول یې جائز نه دی -

مسئله ۷:- د بنی آدم ویښته هډوکی وغیره خرڅول نا جائز او باطل دی او دا په کښې کار کښې راوستل هم جائز نه دی -

مسئله ۸:- بغیر د خنزیر نه د نورو مردارو هډوکی ویښته او ښکرونه پاک دی کار ته راوستل او خرڅول یې جائز دی -

مسئله ۹:- یوه بیزه یا بل شے دے په پنځه روپئ واغسته او قبضه دې پرے او کړه کور ته دے راوسته لیکن لا پیسے دے نه دی ورکړی - او س اتفاقاً یې یا پیسے نه شے ورکولے یا دے څوه بله نه شوه نو تا ورته اووے چه زه او س دا بیزه وغیره په څلور روپئ واپس واخله یوه روپئ به زه درکړم نو دا اغستل خرڅول جائز نه دی تر څو چه دے هغه له روپئ نه وی ورکړی په کم قیمت یې نه شے خرڅولے واپس په هغه بانډ -

مسئله ۱۰:- چا په دے شرط خپل مکان خرڅ کړه چه یوه میاشت به پکښې لا زه اوسم یا په دے شرط چه دومره روپئ ته ما له قرض را کړه - یا یې کپړه په دے شرط واغسته چه ته یې قطع کړه او او یې ګنډه - یا په دے شرط چه ځما کور ته یې او رسوه یا بل داسے شرط چه په شریعت کښې واهیات او ناجائز دے نو دا بیع فاسده ده

مسئله ۱۱ په دے شرط یې غوا واغسته چه دا څلور سیره پئ کوی نو دا بیع فاسده

له ومن اشترى حارية الا حملها فالبيع فاسد ۱۲ هدايه ص ۴۳ ج ۳

ده البته که مقدار ئے نه وه مقرر کړے خود اسے ئے او وے چه دیره پیږوره ده نو
بیا بیع جائز ده۔

مسئله ۱۲:- د خاوروو یا چونے خیز ونه کولو بوئے د یو ولو وافسته یا تصویرونه
نو وابیعه باطله ده په شرع کښے د دے لوبو د خیز ونو هیڅ قیمت نشته نو پیسے به
په نه ورکوی او که چا دا خیزونه مات کړه نو تاوان په نشته۔

مسئله ۱۳ څه دانے غوړی تیل وغیره ئے د دوکان سیره یا څه نرخ ئے مقرر کړه
وائے غنسته کوکنے به شی چه د دے بیع کید ونه پس هغه ستا یا ستاد لیږلی شوی
سړی په مخ کښے ئے تول کړی دی۔ یا که ستا یا ستاد لیږلی شوی سړی په مخکښے نه دی
تول کړی۔ بلکه اوئے وے چه ته زه موبږ به ئے تول کړو ودر ادبه ئے لیږو۔ یا د مخکښے
نه تول شوی پراته وو۔ او دغه شان ئے درا اوچت کړه بیائے تول نه کړه۔ دا دریے
صورتونه شو۔ د اول صورة حکم دا دے چه کورته ئے راوړی نو اوس ئے تلل ضروری
نه دی بغیر تول کولو ئے خوړل سکل خرڅول هرڅه جائز دی۔ او په دوئیم او دریم
صورت کښے دا حکم دے چه ترڅو ئے بیچله تول نه کړی ترهغے ئے خوړل سکل خرڅول
وغیره هیڅ جائز نه دی۔ که د تول نه اول ئے خرڅ کړه نو دا بیعه فاسده شوه
که بیائے خرڅ کولو نه پس تول هم کړی خو بیعه صحیح نه ده۔

مسئله ۱۴:- د اغستو نه مخکښے هغه تول کړه تا ته ئے او خودل بیا تا واغستل او
دوباره ئے تول نه کړه نو په دے صورت کښے هم اغستونکی له بیا تلل ضروری دی
بغیر تللو نه ئے خوړل سکل او خرڅول جائز نه دی۔ د اولنی تول اعتبار نشته۔

مسئله ۱۵:- د زمکے کلی مکان وغیره نه علاوه نور چه څومره خیزونه دی د اغستو
نه پس چه ترڅو پورے په قبضه نه وی کړی اغستل ئے جائز نه دی۔

مسئله ۱۶:- یوه بیزه یا بل شے ئے واغسته څه ورځے پس یو بل سړے راغے چه دا
بیزه خو زما ده چا راوستے ده او خرڅه کړے ئے د ده نو که د هغه دعوی د مسلمان قاضی
په مخکښے په دوه گواهانو ثابته کړی نو د قاضی د قضی نه پس به بیزه د هغه ورکړے
شی او د بیزے قیمت د ده نه نه شی اغستے بلکه هغه خرڅونکے چه ملاو شی دے
به د هغه نه خپلے پیسے وصولوی۔

مسئله ۱۷:- چرګ بیزه غوا وغیره مړه شو نو بیعه ئے حرامه ده بلکه دا مړه شے بګی
وغیره له د خوراک د پاره ورکول هم جائز نه دی۔ او که هغوی د غوزره دلو د پاره
اوچت کړه او بیائے او خوری نو پتا څه الزام نشته۔ او څرمن ئے ویستل او د جوړه دلو
او هابره ولو نه پس ئے پکار دراوستل یا ئے خرڅول جائز دی (په اولی حصه کښے دا بیان تیر شو)

مسئله ۱۸:- که یو تن د شی تول او قیمت مقرر کړه اخر څونکے په راضی ده۔ نو بل له

بې قيمت سوا کول او ځانله ئې اخستل جائز نه دي. دغه شان داويل هم جائز نه دي چې دَ دهٔ نه داشې ماخلم دا به درله زه دَ دهٔ نه په کم قيمت درکړم.

مسئله ۱۹:- يو تو کړی مار تالې په روپۍ پنځه امرود درکړه او بل ورسره تکرار اوکړه شپږ ئې واغستله نو اوس ستا حق نشته چې بل تې اوغواړې او زور ورسره کول حرام دي په زور زبردستۍ به تې نا خلې.

مسئله ۲۰:- څوک څه خرڅوی خو پتا ئې نه خرڅوی نو ته تې په زور نه شې اغستې هغه دَ خپل شي مالک دے که خرڅوي اوکه نه او په هر چا چې ئې خرڅوي. پوليس والا اکثر په زور څيزونه اخلي دَ خلقو نه دا بالکل حرام دي.

مسئله ۲۱:- په روپۍ سير الو کان دے واغسته بيا تې درے څلور الوکان په زور اخلې نو دا جائز نه دي که هغه ئې په خوشحالۍ درکړي خير دے. دغه شان کوم قيمت چې مقرر شو کړے شو دَ شي اغستو نه پس اوس کم قيمت ورکول جائز نه دي.

مسئله ۲۲:- دَ چا په کور کښې چې دَ کبين چرګ دے دے ئې مالک دے بل څوک تې کبين نه شي وېستے. او که مرغۍ دَ چا په کور کښې بچي راوړه نو دے ئې مالک نه دے چا چې اونيو او راوائې غسته دَ هغه دي. البته دَ مرغو بچي نيول او ازاره ول جائز نه دي.

په نفع يا سر بسر خرڅولو بيان

مسئله ۱:- يو شے مونږ په يوه روپۍ واغست اوس دَ دے خپل شي زمونږ اختيار دے چې که په يوه روپۍ ئې خرڅوو او که په لس شل روپۍ به دے کښې هيڅ ګناه نشته ليکن که معامله داسے اوشوه چې هغه اووے په آنه روپۍ منافع ئې را باندې راخرڅ کړه او تا اووے چې په آنه روپۍ منافع ئې درخرڅوم. نو اوس دَ آنه روپۍ نه زياته نفع اغستل جائز نه دي. يا داسے اوشوه چې هغه اووے په هر څو چې دے اغستے دے په هغې څلور آنے نفع واخله نو اوس هم ټهيک قيمت خودل واجب دي او دَ څلورو آنو نه زياته نفع اغستل جائز نه دي. دغه شان که تا اووے چې داشے درله پخپل سر يعنې په څو چې رم اغستے په هغې درکوم نو اوس هم نفع اغستل ئې جائز نه دي.

مسئله ۲:- که دَ سودا قيمت ئې داسے اوکه چې په آنه روپۍ نفع ئې راخرڅ کړه او تا اووے چې بس په دغې نفع رم درخرڅ کړه. يا هغه اووے چې په څو رے اغستے نے په هغې قيمت ئې راخرڅ او تا اووے چې بس په هغې رم درخرڅ کړه هيڅ نفع مه راکوه. او لا تر اوسه تا دَ اغستو قيمت نه دے خودلے چې په څو رم اغستے دے نو که په دغې مجلس کښې دَ پاسيدو نه اول تا هغه قيمت او خوده نو دا بيع صحيح ده او که په دغه مجلس کښې تا قيمت اونه خوده بلکه داسے دے او وے چې ته دا يوسه زه به بيا قيمت اوګورم او به وايم يائې بل څه اووے نو دا بيع فاسده ده.

مسئله ۳:- د اغستو نه پس معلومه شوه چه چالاکئ ئې کړې ده قیمت ئې غلط خوړلے دے او نفع ئې د وعدې نه زیاته اغستې ده. نو اغستونکی لره اوس د کم قیمت ورکولو اختیار نشته بلکه کۀ ئې اخلي نو هم هغه قیمت به ورکوي کوم چه مقرر شوے دے البته د واپس کولو اختیار ئے شته- او کۀ اقرار په سرپسر سودا شوے وه یعنې په څومره اغستې په هغې ئې درکوم لفع نه اخلم او بیا ده د قیمت خرید نه قیمت زیات او خوره نو څومره چه ئې زیات خوړلے دے د هغې د اغستو حق ئې نشته- د اخستونکي اختیار دے چه فقط هغه قیمت ورکړي کوم چه ده اغستے دے او زیاتي ورنه کړي-

مسئله ۴:- کۀ یو شے تا قرض اغستے وه نو اوس تر څو پورے چه بل اغستونکی ته دا ښکاره نه کړې چه دوره دا شے ما نسیا اغستے دے تر هغې پورے دغه شے په نفع خرڅول یا سرپسر خرڅول جائز نه دي- بلکه دا به ورته ښکاره کړې چه دا شے ما نسیا اغستے دے نو بیا ئې په نفع یا سرپسر خرڅول جائز دي- البته کۀ د قیمت خرید ذکر اونه کړے بیا چه ئې په هر څومره خرڅوے جائز دي-

مسئله ۵:- یو کپړا دے په روپۍ واغسته بیا دے په څلور انې رنګ کړه یا وینځله یا اوګنډلې نو اوس به د دے د اغستو قیمت پنځه پاوه ګڼړلے شي- نو اوس چه پنځه پاوه قیمت ښکاره کړې نفع اغستل په جائز دي- خو دا سے به نه وائې چه په پنځه پاوه م دا سے اغستے دے بلکه دا سے به وائې چه په پنځه پاوه دا ته پریوتے دے-

مسئله ۶:- یوه بیزه دے په څلور روپۍ واغسته بیا دے او ساتله یوه روپۍ ئې دانه او طویله نو اوس د دے اصلي قیمت پنځه روپۍ چه ښکاره نه کړے کتبه اغستل به جائز دي- البته کۀ پۍ ئې کول نو څومره پۍ چه ئې کړي دي هغه په تے کوے مثلاً آته آنو پۍ ئې کړي دي نو اوس به ئې قیمت څلور نیمے روپۍ ښکاره کوے او دا سے به وائې چه په څلور نیمے روپۍ ما ته پریوتې ده-

باب د سودي لین دین بیان

د سود لین دین کول ډیر لوئې ګناه دے په قرآن مجید او احادیثو کښې ئې ډیر ناکاره والے بیان شوے دے او د دینه د ځان ساتلو ډیر تاکید راغلے دے. حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه سود ورکونکي اغستونکي دلال لیکونکے او ګواهان ټولو دے لعنت وي- او فرمایلي ئې دي چه سود ورکونکي اغستونکي دواړه په ګناه کښې برابر دي- نو ځان ترے ساتل پکار دي- د دے مسئلے ډیرے نازکے دي په معمولي خبره د سود ګناه کیږي او نا پوهه خلق هډو پوهه نه شي چه څۀ ګناه اوشه- مونږ ضروري مسئلے دلته بیانوو د لین دین په وخت کښې ورته خیال پکار دے-

فائده ۱:- د هند (و پاکستان) په رواج سره ټول څیز ونه څلور قسمه دي.

(۱) یو ځیله سره سپین او کَدے جو ځیزونه - (۲) دویم دَ دینه سوا او هغه ځیزونه چه په تول سره خرڅیږی لکه دانے "غله" او سپینه، تانبا، مالوچ، ترکاری وغیره (۳) دریم هغه ځیزونه چه په ګز سره ناپ کیږی او خرڅیږی لکه کپړه (۴) څلورم هغه چه دَ شمار په حساب سره خرڅیږی لکه اګۍ، آم، امرود، مالټے، غوا، بیزے اسونه وغیره - دَ دے ټولو حکم جدا جدا واورئه -

نوټ :- دَ جنت کالے چه تالیف کیده هغه وخت کښے روپۍ او ماتے پیسے دَ چاندۍ رائج وے نو په دے وجه ئے په روپو وغیره سره دَ چاندۍ وغیره اغستو مسئلے لیکلے وے - او س چونکه روپۍ پیسے د بل دهات دی نو په موجوده روپۍ سره دَ هغې دَ وزن نه کم و زیات اغستے شی البته لاس په لاس کیدل او س هم شرط دی او دا مسئلے باقی ځکه پاتے کړے شوے چه شاید که بیا چرته سکے دَ چاندۍ رائج شی نو مسئلے به معلومے وی - شبیر علی -

سره سپین او دَ هغې دَ ځیزونو بیان

مسئله ۱:- دَ سرو سپینو دَ اغستو څو صورتونه دی - یو دا چه سپین زر په سپینو زرو او سره زر په سرو زرو سره اخلی - لکه دَ یوے روپۍ چاندی اخلی - یا دَ آته آنیو چاندی ئے واغسته او په قیمت کښے ئے آته آنیز ورکړه - یا په اشرفۍ ئے سره زر واغسته - غرض دواړه طرفته یو قسم شے دے نو په داسے وخت کښے دوه خبرے واجب دی - یو دا چه دواړه طرفته چاندی یا دواړه طرفته سره برابر وی - دویم دا چه دَ جدا کیدو نه اول دواړه طرفته لین دین ختم شی څه نسیا په کښے پاتے نه شی که په دے دواړو خبرو کښے دَ یوے خلاف او شه نو سودا و شه مثلاً دَ یوے روپۍ چاندی دے واغسته نو په وزن کښے دَ روپۍ سره برابر پکار ده - که دَ روپۍ نه کمه یا زیاته وه نو سود دے - دغه شان که تا روپۍ ورکړه لیکن هغه لا چاندی نه دی ورکړی دَ جدا کیدو نه یو ساعت پس به ئے درکوی - یا تا لا روپۍ نه ده ورکړے نسیا دے واغسته نو دا هم سود دے -

مسئله ۲:- بل صورت دا دے چه دواړه طرفته یو قسم شے نه دے بلکه یو طرفته چاندی او بل طرفته سونا ده - نو حکم ئے دا دے چه په وزن کښے برابرے ضروری نه دے دَ یوے روپۍ چه هرڅومره سونا ملاؤ شی جائز دی - دغه شان دَ یوے اشرفۍ چه هرڅومره چاندی ملاؤ شی جائز دی - لیکن دَ جدا کیدو نه مخکښے لین دین ختمول او څه نسیا نه پاتے کول دلته هم واجب دی - لکه چه اوس بیان شو -

مسئله ۳:- په بازار کښے دَ چاندۍ بهاؤ چیر دے یعنے په آتلس انے دَ روپۍ جوک چاندی ملاویږی - په روپۍ دَ روپۍ جوک هیڅوک نه ورکوی - یا دَ چاندۍ کالے

ډیر بنګلي جوړ شوي دي او د لسو روپو چوک ئې وزن دے لیکن د دولسو نه
په کمه نه ملاویږي نو د سود نه د بچ کیدو ترکیب ئې دا دے چې په روپو ئې مه
اخله بلکه په پیسو ئې واخله او که زیات اخلې نو په اشرفو ئې واخله - یعنې د اتلس
روپو د پیسو په عوض کښې د یوې روپۍ چوک چاندي واخله او یا څه ماشې د روپۍ
نه کم او څه پیسې ورکړه واخله نو ګناه به نه وي - لیکن یوه نقد روپۍ او دوه
آنې پیسې به نه ورکوې سود ئې جوړیږي - دغه شان که د اتلس روپو چوک
چاندي په نهٔ روپو اخلې نو اتۀ روپۍ او دوه روپو پیسې ورکړه نو د اتۀ روپو
په عوض کښې د اتۀ روپو چوک چاندي او باقي د پیسو په عوض کښې راغله - که دوه
روپو پیسې نه ورکوې نو د اتلس آنو پیسې خو خامخا ورکول غواړي یعنې اوه روپۍ
د څوارلس آنو مات او د اتلس آنو پیسې نو د چاندي په مقابله کښې چاندي د هغې
په وزن او پاتې د پیسو په عوض کښې شو - که اته روپۍ او د یوې روپۍ پیسې ورکوې
نو ګناه نه به کیږي - ځکه چې د اته روپو په عوض کښې خو د اته روپو چوک
چاندي شو نو دا پیسې په کښې د کوم طرف نه راغلې - غرض دومره خبره ضرور یاده
ساته چې څومره چاندي وي د هغې برابر روپۍ به نه ورکوې کمې به ورکوې نور به
ورسره پیسې شاملوې - او دا هم یاده ساته چې داسې به نه وائې چې د نهٔ روپو
دومره چاندي راکړه بلکه داسې به وائې چې د اوه روپو او د دوه روپو د پیسو په
عوض کښې دومره چاندي راکړه - که داسې دې اونه وې نو سود شه -

مسئله ۴:- او که دواړه اغستونکي او ورکونکي رضا وي نو اسانه خبره دا ده چې کوم
طرفته چاندي په وزن کښې وي هغې طرفته دې پیسې شاملې کړي -

مسئله ۵:- او که دینه بله اسانه خبره دا ده چې دواړه سړي څومره چې غواړي
نو روپۍ دې کیدي او څومره چې غواړي چاندي دې کیدي او دواړه د ورسره یوه یوه
پیسه شامله کړي او داسې دې وائي چې مونږ دا چاندي او دا پیسه د دې روپو
او دې پیسې په عوض کښې اخلو نو د تولو بکهیړو نه به بچ شي -

مسئله ۶:- که چاندي ارزان وي او د یوې روپۍ د یوې نیمې روپۍ چوک ملاویږي
په روپۍ د روپۍ چوک اغستو کښې خپل نقصان وي نو د سود نه د بچکیدو ئې دا صورت
دے چې په قیمت کښې به څه نه څه پیسې ضرور شاملوي کم نه کم دوه آنې یا یوه آنه یا یوه
پیسه - مثلاً د لسو روپو چاندي د پنځلسو روپو چوک وي نو نهٔ روپۍ او د یوې
روپۍ پیسې ورکړه یا دوه آنې پیسې باقي روپۍ او نوټات ورکړه - نو داسې به ګڼلې
شي چې د روپو برابر چاندي د روپو په عوض شوه او باقي ټوله چاندي په پیسو کښې
راغله - نو ګناه او نه شه او هغه خبره به دلته هم کوي چې د نهٔ روپو او د یوې

روپۍ ترپیسو په عوض کښے دا چاندی واکړه ـ د شاملو پیسو ذکر به د روپو سره کوی۔
مسئله ۷:- کوټه او خراب چاندی ورکوی او ښه چاندی اخلی او ښه چاندی د دے په برابر نه ملاویږی ـ نو کوټه به خرڅ کړی په پیسو به ئے هغه ښه چاندی واخلی خو دغه بره ذکر شوے معامله به کوی۔
مسئله ۸:- بنځے اکثر د بنجاریانو نه د سرغاړے وغیره د یاره څه څیزونه اخلی په دے کښے هم دے مسئلو ته خیال پکار دے ځکه چه چاندی په کښے وی او د چاندی روپۍ پے ورکوی۔
مسئله ۹:- که د چاندی یا سوزنے جوړ څه شے ئے اَغستو دا سے چه خالص چاندی یا خالص سونا وه ـ بل څه شے په کښے نه وه ـ نو هم ئے دغه حکم دے ـ که د سوزنے څیز ئے په چاندی یا د روپو اَغستو یا د چاندی څیز ئے په اشرفو اَغستو نو په وزن کښے هرڅومره چه وی خو چه معامله په دغه ځائے غوڅه شی نسیا په کښے و ی۔ او که د چاندی شے په روپو او د سوزنے په اشرفو اخلے نو په وزن کښے برابرے واجب دے که کوم طرفته کمے وی نو بیا په پورته لیکلے طریقه عمل کوه۔
مسئله ۱۰: دا سے شے دی چه د چاندی نه علاوه په کښے بل څه شے هم لګیدلے وی لکه په کالو کښے لاکه یا غمی وغیره وی نو که دا شے څیزونه په روپو اخلے نو اوګوره چه څومره چاندی په کښے دی په وزن کښے د دے روپو برابر دی په کو موچه تا اغستی دی یا کم دی یا ترے زیات دی که د روپو د چاندی نه د دغے شی چاندی یقینا کم وی نو دا معامله جائز ده او که برابر یا زیات وی نو سود او شه او د دے نه د بچ کیدو هم دغه طریقه ده کومه چه بره بیان شوے ده او معامله په دغه وخت ختمول په دے ټولو مسئلو کښے هم شرط دی۔
مسئله ۱۱:- خپله کوټه دے د بل د کوټے سره بدله کړه نو که په دواړو کښے غمی وو بیا هم څنګ جائز دی که د دواړو وزن برابر وی او که کم یا زیات ـ البته لاس په لاس به وی او که دواړه ساده وی نو برابری ئے شرط دے که یوه ذره کمے زیاتے وه سود دے ـ او که په یوه کښے غمے وه او بله ساده وه نو که د ساده لږ زیات وه نو بیا جائز دے ورنه حرام او سود دے ـ دغه شان که په دغه وخت لین دین نه وه نو بیا هم سود دے۔
مسئله ۱۲:- په کومو مسئلو کښے چه لین په دغه وخت شرط دے مطلب ئے دا دے چه دواړه لا د یو بل نه جدا شوی نه وی او دواړه طرفته ورکړه راکړه ختم کړی که یو په کښے پاسید او لږ ساعت پس ئے معامله خلاصه کړه نو دا هم سود دے۔ مثلاً تا د زرګرنه د لسو روپو زر یا د زرو کالے واغستل نو پکار دی چه روپۍ دغه وخت ورکړے او هغه له پکار دی چه هغه شے تاله په دغه وخت ورکړی که زرګر او وئ

چه زه به ئې اوس دکوره دراوړم نو ته روپۍ راکړه زه نو دا جائز نه دی هغه شې دې دغه ځائې ته را اوغواړی او اوغستو دې هم دهغې پورې ده دغه ځائې نه نه خوځي او نه دې نزکړه د ځان نه لرې کوي که هغه او وې چه ځما سره ځا چې دکوره نه ئې را واخلم دوئې کړم نو دې دې ورسره ځمنت ځي که دې یا هر او دریږ او هغه کورته درنه شه نو هم ګناه اوشوه او بیعه حرام شوه۔ کسره دے بیا اوکړی

مسئله ۱۳:۔ د رااغستو نه پس ته کورته د روډ پاره راغلې یا هغه دکان ته درنه لاړه یا تشو بولو ته اووت نو هم معامله د سود شوه۔

مسئله ۱۴:۔ که ستا سره داوخت روپۍ نه وی او نسیا اخلې نو تدبیر ئې دا دے چه څومره قیمت ته ورکوے هغه روپۍ د هغه نه قرض راواخله او د اغستو نکي څیز قیمت په ادا کړه او د قرض ادائیګی به ستا په ذمه باقی پاتې شي۔ نو بیا به قرض ادا کړے چه درسره اوشي۔

مسئله ۱۵:۔ یو تهیلدار دوپټه یا ټوپۍ وغیره دے په لس روپۍ واغسته نو او کو چه په دے کښې به د څورو پونزر او خیژي۔ د څومره روپو زر چه په کښې وی دومره روپۍ به دغه وخت فی الحال ورکول واجب وی باقی چه هر کله ورکوے او دغه حکم د جړاؤ کالو وغیره دے مثلاً په پنځه روپۍ دے یو کالے واغست او د دوه روپو زر په کښې دی نو دوه روپۍ به دغه وخت ورکول وی باقی هر کله چه ورکوے۔

مسئله ۱۶:۔ د یوے روپۍ یا څیرو روپو پیسے دے واغستے نو په دے کښې دواړو طرف لین دین په دغه وخت خلاصول ضروری نه دی بلکه د یو طرفه چه اوشي کافی دی مثلاً تا روپۍ دغه وخت ورکړے لیکن هغه پیسے وروستو بل وخت درکړے۔ یا پیسے هغه دغه وخت درکړے او تا روپۍ بیا وروستو بل وخت ورکړے نو دا جائز دی البته که د پیسو سره مات کوم (راته آنیز څلور آنیز) هم وو نو بیا ئې لین دین دغه وخت خلاصول پکار دی۔ چه ته روپۍ ورکړے او هغه مات کوم۔ لیکن یاد ساته چه د پیسو دا حکم هغه وخت دے چه د دوکاندار سره پیسے موجود وی لیکن په څه وجه سره ئې نه شي درکولے فی الحال۔ یا کور وی را وړل غواړی۔ او که پیسے نه وی خو داسے ورته او وائي چه ته روپۍ راکړه او چه سودا خرڅه شي پیسے راشي بیا به درکړم یا څه پیسے اوس درکړی او څه چه سودا خرڅه شي او پیسے راشي بیا واخله دا جائز نه دی او چونکه اکثر پیسو نه موجود کیدو په وجه دا نسیا ولے راځي نو مناسب دا دی چه پیسے به بالکل نسیا شو نه یدی۔ او که داسے ضرورت راشي نو داسے کوه چه څومره پیسے ورسره موجود وی هغه ئې قرض واخله او ته خپلے روپۍ د هغه سره امانت کیده او چه کله ټولے پیسے درکړی نو بیا ورسره بیعه او کړه۔

مسئله ۱۷:۔ که اشرفۍ ئې ورکولے او روپۍ ئې اغستے نو دواړه طرفه لین دین په دغه ځائې ختمول واجب دی

مسئله ۱۸:- د سرو سپینو څه شے په روپو یا اشرفو اخلی نو په دے کښے درے ورځے خیار کیخودل جائز نه دی په داسے معامله کښے دا اقرار نه دی کول پکار۔

کوم څیزونه چه په تول خرڅیږی د هغے بیان

مسئله ۱۹:- اوس د هغے څیزونو حکم وا وره کوم چه په تول سره خرڅیږی لکه دانے، غوړه بنه، او سپنه، تانبا، ترکاری وغیره دا قسم څیزونه که د خپل جنس سره بدلول یا خرڅول وی مثلاً غنم په غنمو یا شولے په شولو یا وړه په وړو یا بل داسے شے غرض دواړه طرفته یو قسم شے وی نو په دے کښے هم د دے دواړو خبرو خیال ساتل واجب دی یو دا چه دواړه طرفته بالکل برابر وی یوه ذره کے زیاتے په کښے نه وی ورنه بیا سود دے۔ دویم دا چه دغه وخت لاس په لاس په وی سودا او قبضه به دواړه طرفته په یو وخت وی۔ او که داسے نه وی نو کم نه کم داسے دے او کړی چه دواړه طرفته غنم تول شی او جدا جدا ډیرے شی چه د غنم ستا او دا ځما او د هغے ځوړه بنه ده چه خپل غنم هر وخت او چتوی که داسے ئے هم اونه کړه او یو خپل وا غستل او بل د ځه اکیده ونه پس قبضه کړه نو سودا وشه۔

مسئله ۲:- خراب غنم ورکوی او ښه غنم اخلی او خراب وړه ورکوی ښهٔ اوړه اخلی۔ نو دا خو هیڅوک برابر برابر نه ورکوی نو د سود نه د بچ کیدو طریقه ئے دا ده چه دغه خراب دے په قیمت ورکړی مثلاً خراب ئے په روپئ سیر ورکړه او س د دغه روپئ دے ښهٔ وا خلی هرڅومره چه ورکوی۔ دا جائز دی۔

مسئله ۳:- او که په دے څیزونو کښے چه په تول سره خرڅیږی یو شان څیزونه نه وی مثلاً په غنمو شولے اخلی یا په وربشو چڼړه وغیره غرض دا چه یو طرفته یو شے دے او بل طرفته بل شے نو په دے صورت کښے دواړه طرفته د وزن برابرے واجب نه دے په سیر غنمو لس سیره شولے اخلی یا یوه چهټاکئ هرشان جائز دی البته هغه دویمه خبره دلته هم واجب ده چه دواړه طرفته معامله به لاس په لاس وی یعنے په یو وخت په یو مجلس کښے یا کم نه کم داسے چه دواړه طرفته غله وغیره په دغه وخت تول شی چه دا ستا او دا ځما اوس ئے هر وخت چه او چتوی۔

مسئله ۴:- په سیر غنمو ئے د توکری ماره څه ترکاری وغیره وا غسته بیا د غنمو بادړو د پاره کور ته دننه لاړه د توکری ماره چه لاشوه نو دا ناجائز او حرام شو چه غنم راوړی اوس دے بیا معامله د سره اوکړی۔

مسئله ۵:- که دا قسم د تول شے ئے په روپو پیسو اغستو یا په کپړے وغیره داسے شی سره ئے بدل کړه چه په تول نه خرڅیده په گز ناپ کیده یا په شمار خرڅیده مثلاً په کپړه ئے غنم وا غسته یا غنم چه ئے ورکړه امرود نا شپاتی، مالټے، آلوگی

داسې خیزونه ئې اغستنه چې په شمار خرڅیده ه غرض یو طرفته داسې شې وه چې په تول خرڅیده ه او بل طرفته داسې شې وه چې په شمار یا کز سره خرڅیده نو بیا دې صورت کښې په دې دواړو خبرو کښې یوه هم واجب نه ده - په پیسه که هر څومره غنم ترکاری وغیره واخلې دغه شان په کپړه چې هر څومره غنم چنې دغیره واخلې او غنم چنړې ورکړې هر څومره امرود مالټې وغیره چې واخلې - او لاس په لاس په دغه ځائې سودا اوکړې او که د چا اکیدو نه پس هر څنګ چا ئزدی -

مسئله ۲۴:- یو طرفته چا نړا اوړه دی بل طرفته بې چا نړه یا یو طرفته ز اکه اوړه دی بل طرفته میده ه نو د بدل په وخت کښې د دواړو برابر والې واجب دې کمې زیاتې جائزنه دې - او که ضرورت پیښ شه نو ترکیب ئې دادې کوم چې بیان شوې دې - او که یو طرفته د غنمو اوړه دی او بل طرفته د چنې یا د جوارو وغیره نو اوس په وزن کښې برابر والې واجب نه دې مګر دویمه خبره بهرحال واجب ده -

مسئله ۲۵:- غنم په اوړه وسره بدلول په هیڅ حال جائزنه دی اګر که سیر غنم په سیر اوړه وی یا کم یا زیات بهرحال نا جائزدی البته که غنم د چنې یا د بل شي په اوړه ورکوی نو جائز دی مګر لاس په لاس -

مسئله ۲۶:- شرشم ئې ورکړه د شرشمو تیل ئې واغستنه یا کونځلې ورکړې د کونځلو تیل ئې واغستنه نو کتې به شي که دا تیل کوم چې تا اغستی دی یقینا د هغې تیلو نه زیات دی کوم چې د دې شرشمو یا کونځلو نه اوځې نو دا بدلول لاس په لاس صحیح دی او که د دې برابر یا کم دو یا په کښې شک وه نو جائز نه دی بلکه سود دې -

مسئله ۲۷:- که د غوا غوښه د بیزې په غوښه ورکوی نو د دواړو برابروالې واجب نه دې کمې زیاتې په کښې جائزدې مګر لاس په لاس به وی او که د غوا او مېښې غوښه یا د بیزې او ګډې غوښه بدلوی نو برابر والې په کښې واجب دې

مسئله ۲۸:- خپله لوټا د بل د لوټې سره یا لوټه په پیتلو وغیره بل لوښی سره بدلوی نو په وزن کښې د دواړو برابر وَل او لاس په لاس شرط دی که یوه ذره کمې زیاتې وه نو سود دې ځکه چې دواړه خیزونه د تانبې دی نو د یو قسم کنړلې شی - دغه شان که په وزن کښې برابر وی مګر لاس په لاس نه وی نو بیا سود دې - البته که یو طرفته د تانبې لوښې وی او بل طرفته د اوسپنې یا د پیتلو وغیره وی نو بیا په وزن کښې برابر واجب نه دې البته لاس په لاس واجب دی -

مسئله ۲۹:- د چا نه دې سیر غنم قرض واغستنه او هغه ته دې اووې چې ځما سره خو غنم نشته خو زه به درله دوه سیره چنې درکړم نو دا جائزنه دی ځکه چې که دې مطلب داشه چې ته خو غنم په چنو بدلوې او د بدل په وخت کښې سودا

لاس په لاس په کار ده نسیا یې کښې جائز نه دی. که داسې ضرورت پیښ شي نو غنم به قرض واخلي او دغه وخت به داسې نه وائي چې په بدل کښې به زه چنې درکوم خو بل وخت به بیا چنې راوړي چې د غنمو په بدل کښې چنې واخله دا جائز دی.

مسئله ۳۰:- دا څو مره مسئلې چې بیان شوې په دې ټولو کښې سودا لاس پلاس په کار ده یا دومره چې دواړه څیزونه حاضر کړې شي په دغه وخت کښې. که داسې ئې اونه کړه نو معامله د سود او شوه.

مسئله ۳۱:- کوم څیزونه چې په تول نه خرڅیږي بلکه په ګز سره ناپ کولې شي یا په شمار سره خرڅولې شي نو د هغې حکم دا دې چې که دواړه طرفته یو قسم څیزونه وي مثلاً امرود ئې ورکول امرود ئې اغستل. یا په مالټو مالټې یا په کپړه بله داسې کپړه. نو برابرې په کښې شرط نه دې البته لین دین په دغه وخت ختمول شرط دی او که یو طرفته یو شې دې بل طرفته بل شې دې مثلاً په مالټو ئې امرود اغستل یا په غنمو ئې امرود اغستل. یا جاپانې ئې ورکاوه لټه ئې اغستله نو دا بیا هر شان جائز دی نه په کښې برابرې واجب دې او نه په دغه وخت لین دین.

مسئله ۳۲:- د ټولو خلاصه دا شوه چې علاوه د چاندی او سو رو نه که دواړه طرفته یو شې وه او هغه په تول خرڅیده لکه د غنمو په عوض غنم د چنې په عوض چنه وغیره نو په وزن کښې برابرې او لاس په لاس سودا دواړه په کښې واجب دي. او که دواړه طرفته یو شې وي لیکن په تول نه خرڅیږي لکه په امرود امرود په مالټو مالټې په کپړه د هغې پشان کپړه. یا یو طرفته یو شې دې بل طرفته بل لیکن دواړه په تول خرڅیږي لکه په غنمو چنه یا د چنې په بدل جوار نو په دې دواړو صورتو نو کښې په وزن کښې برابر والې واجب نه دې کمې زیاتې په کښې جائز دې البته لاس په لاس لین دین واجب دې او کوم ځائې چې دا دواړه خبرې نه وي یعنې دواړه طرفته یو شې نه وي دې طرفته یو شې دې او هغې طرفته بل او دواړه په تول هم نه خرڅیږي هلته کمې زیاتې هم جائز دې او لین لین لاس په لاس کول هم واجب نه دی لکه مالټې ورکوي امرود اخلي وغیره.

مسئله ۳۳:- یو چینې لوخې ئې د بل چینې لوخي سره بدل کړه یا چینې لوخې د تام چینې سره بدل کړه نو په دې کښې برابرې واجب نه دې که یو په بدل کښې دوه واخلي هم جائز دی. دغه شان په یوه ستن کښې دوه یا درې څلور یا لوې هم جائز دی لیکن که دواړه طرفته چینې یا دواړه طرف ته تام چینې وي نو بیا لاس په لاس سودا په کار ده او که قسم بدل وه لکه په چینې سره ئې تام چینې بدلاوه نو بیا لاس په لاس هم واجب نه دی.

مسئله ۳۴:- کما ونړئ ورته راغله چه تا کوم سیر او یا څه کړي دي هغه روپئ موږ له راکړه مونږ کره میلمانه دي او سیر یا پنځه پاوه او یا غنم ځما نه واخله یا اوس ته مال روپئ راکړه بل وخت ځما نه او یا غنم واخله داجائز دي۔

مسئله ۳۵:- که نوکر یا دائي (خادمه) په سودا پسې بازارته لیږدے نو څه ئے پوهه کوه هسې نه چه هغه بے قاعدے خریداوکړي او سود په کښے راشي او بیا به تاسو حرام خوري او ګناه به کیږي۔ نو په سودا کښے احتیاط کوئ۔

باب ۱۱ دَ بیع سَلَمْ بیان

مسئله ۱:- دَ فصل ریبلو نه اول یا پس ئے چالس لسٹی روپئ ورکړے چه دوه میاشتے یا درے میاشتے پس په فلانئ میاشت کښے په فلانی تاریخ به زه ستا نه دَ دے لسو روپو غنم اخلم او نرخ ئے په دغه وخت اوکړه چه دَ پنځلسو یا شلو سیر و په حساب سره به دَ روپئ راکوے۔ نو دا بیعه جائز ده دَ کومے میاشتے چه وعده شوے ده په دغه میاشت کښے به په دغه بهاؤ غنم ورکوی۔ که په بازار کښے ګران خرڅیږی او که ارزان دَ هغے هیڅ اعتبار نشته او دے بیع ته سَلَمْ وائي۔ لیکن دَ دے دَ جائز کیدو څو شرطونه دي په غور سره ئے ځان پوهه کړه اول شرط دا دے چه دَ غنمو وغیره کیفیت به بلنه صاف صاف داسے اوخائی چه بیا دَ اغستو په وخت کښے دَ دوا په وجګړه رانشي۔ مثلاً فلانی قسم غنم به راکوے چه ډیرنړی نه وي عمده قسم وي خراب نه وي چه دَ چنے مټرو وغیره دانے په کښے ملاؤ نه وي او اوچ وي لامده نه وي۔ غرض څه قسم غنم چه اخلی دَ هغے وضاحت ټهیک اوشي چه بیا دروستو بکهیړه نه وي۔ که صرف داسے ئے اووے چه دَ لسو روپو غنم به راکوے نو دا جائز نه شوه۔ یائے اووے چه کَ دے لسو روپو به شولے راکوے یا به وریجے راکوے قسم ئے هیڅ اونه خوده نو دا قول ناجائز دي۔ دوئم شرط دادے چه نرخ به هم دا وخت مقرر کوی چه دَ روپئ به پنځلس یا شل سیره راکوے۔ که داسے ئے اووے چه هغه وخت څه نرخ وه په هغے به راکوے یا به دَ هغے نه سیر دوه زیات راکوے نو دا جائز نه دي دَ بازار دَ بهاؤ هیڅ اعتبار نشته دغه وخت به نرخ مقرر کوی۔ او چه وخت راشي نو په هغه مقرر کړی نرخ به اخلی۔ دریم شرط دا دے چه دَ څومره روپو اخلی هغه وخت به ئے ښکاره کوی چه مثلاً دَ لسو روپو غنم به راکوے یا دَ شلو روپو۔ او که داسے ئے اونه کړه بلکه ګول مول خبره ئے اوکړه داسے چه دَ لږ ورو روپو به واخلم۔ نو دا صحیح نه ده۔ څلورم شرط دا دے چه په دغه وخت به په ناستے ناستے ټولے روپئ ورکوی که دَ معاملے کولو نه پس پاسیده او بیائے ورو ستو روپئ ورکړے نو دغه معامله باطله شوه۔ او س

بیا دَ سره معامله کوي- دغه شان که پنځه روپۍ ئې دغه وخت ورکړې او پنځه روپۍ ئې بل وخت ورکړې نو په پنځه روپۍ کښې بیع سلم اوشوه او په پنځه کښې باطله ده- پنځم شرط دا دے چه دَ اغستو موده به کم نه کم یوه میاشت مقرر کوي چه یوه میاشت پس په فلانۍ تاریخ به زه غنم اخلم دَ میاشتې نه کمه موده مقرر کول صحیح نه دي او دَ یا نه هر څو مره چه مقرر کوي جائز دي لیکن ورځ تاریخ میاشت ټول به مقرر کوي چه وروستو بیا جګړه نه وي- که میاشت تاریخ او ورځ ئې مقرر نه کړه بلکې داسې ئې اووے چه کله فصل اوُریبلے شي نو بیا دا کړه نو دا صحیح نه دي- شپږم شرط دا دے چه دا به هم مقرر کوي چه غنم به په فلانۍ ځائې کښې راکوے یعنې به دے کلي کښې یا به بل کلي کښې غرض چه کوم ځائې ته ئې رسول غواړي هغه ځائې به مقرر کوي یا دے داسې او وائي چه ځما کور ته به ئې رارسوے- که ځائې ئې مقرر نه کړه نو دا صحیح نه ده- البته که څه سپک شے وه نو دَ ځائې خودل بیا ضروري نه دي- که په دې شرطو نو اوشوه نو بیع سلم ده ورنه نه ده

مسئله ۲:- دَ غنمو وغیره غلې نه علاوه کوم څیزونه چه داسې وي چه دَ هغې کیفیت بیا تولے او مقرر کولے شي چه دَ اغستو په وخت کښې بیا دَ جګړې یره نه وي دَ هغې بیع سلم هم جائز ده لکه اګۍ، بنځتې، کپړه مګر ټولې خبرې به اول مقرر کړي چه بنځتې به دومره لوئې دومره او پړدے دومره پلنې وي- کپړه به تاریزه وي دومره به لړئې وي دومره به پیړه وي دیسي به وي ولایتي به وي غرض ټولې خبرې خودل پکار دي چه بیا جنجال جوړ نه شي-

مسئله ۳:- دَ روپۍ ئې پنځه ټوکرئې یا پنځه پنډه بوس په حساب سره بیع سلم اوکړه نو دا جائز نه دي ځکه چه دَ ټوکرئې او پنډې په مقدار او نو کښې ډیر فرق دے البته که په څه طریقه ئې هر څه مقرر کړه یا په تول نو بیا جائز دي-

مسئله ۴:- دَ سلم په صحیح کیدو کښې دا هم شرط دے چه کوم وخت معامله وشي دَ هغې وخت نه دَ وصولۍ دَ وخته پورې هغه شے په بازار کښې ملاویږي ورک نه شي که په دے مینځ کښې هغه شے بالکل نایاب شه چه دَ دغه ملک په بازار و نو کښې نه ملاویده او دَ بل ځائې نه په ډیر مصیبت راغوښتے شه نو بیع سلم باطله شوه-

مسئله ۵:- دَ معاملے کولو په وخت کښې ئې دا شرط مقرر کړه چه فصل کټ شي نو په فلانۍ میاشت کښې به زه نوي غنم اخلم یا دَ فلانۍ پټي غنم به اخلم نو دا معامله جائز نه ده نو دا شرط مقرر کول نه دي پکار- په مقرر وخت دَ هغه اختیار دے چه نوي غنم ورکوي او که زاړه البته که نوي غنم کټ شوي وي نو بیا دَ نوو شرط جائز دے-

مسئله ۶:- تا دَ لسو روپو دَ غنمو اغستو معامله کړے وه هغه موده تیره شوه

بلکه زیاته لیکن تر اوسه نه هغه غنم ندکړه او نه ئې د ورکولو اُمید شته نو اوس داوېل جائز نه دي چه څه ده پارې دومره شولې راکړه یا دومره چڼې یا دومره فلانئ شئ د غنمو په بدل کښې ته بل شئ نه شې اغستې یا به ورله نور مهلت ورکوې او غنم به اخلې یا به خپلې روپئ واپس اُخلې۔ دغه شان که بیعه سلَم تاسو د واړه وماته کړه چه دا معامله مونږ ما تو و غنم نه اخلو روپۍ را کړه واپس۔ یا هغه معامله پخپله ماته شوه مثلاً هغه شئ نایاب شه نو په دې صورت کښې ته صرف خپلې روپۍ واپس اغستې شې بل هیڅ شئ نه شې اَغِستې۔ روپۍ تې واخله او بیا تې هغه بل شئ قیمتاً واخله

باب ۱۲ دَ قرض اَغِستو بیان

مسئله ۱:۔ کوم شئ چه داسې وي چه د هغې پشان شئ ته ورکولې شې د هغې قرض اغستل جائز دي لکه دانې، اَګۍ، غوښه وغیره او کوم چه داسې وي چه ته بیا د هغې پشان شئ نه شې ورکولې نو د هغې قرض اغستل جائز نه دي لکه امرود، مالټې، بېړه چه کله وغیره۔

مسئله ۲:۔ کوم وخت چه د روپۍ لس سیره غنم خرڅیده تا هغه وخت پنځه سیره غنم قرض کړه۔ بیا غنم ارزان شو شل سیره شو نو ته خو به هم هغه پنځه سیره ورکوې۔ او که ګران شو بیا به هم هغه پنځه سیره ورکوې۔

مسئله ۳:۔ خټکه غنم چه تا ورکړي وه هغه د هغې نه ښه غنم تاله درکړه نو اغستل ئې جائز دي دا سود نه دې لیکن د قرض ورکولو په وخت کښې داوېل جائز نه دي چه زۀ به د دینه ښه غنم اخلم۔ البته په وزن کښې زیاتوالې نه دې پکار که زیات دې واغسته نو ګناه ده لیکن که هغه تول لږ سر ټیټې او کړه نو خیر دې۔

مسئله ۴:۔ د چا نه د روپۍ یا غله په دې وعده قرض کړه چه میاشت پس به ئې درکوم او هغه منظوره کړه بیا هم د دې موده بیا نول لغو بلکه ناجائز دي که د هغه مخکښې ضرورت شه او یا بې ضرورته ئې اول غواړي هم به ئې ورکوې۔

مسئله ۵:۔ تا دوه سیره غنم یا وړه وغیره قرض کړه نو کله چه هغه او غوښته تا ورته اووې چه غنم خو اوس نشته ته د هغې په بدل کښې دا دوه انې پیسې واخله او هغه اووې ښه ده۔ نو په دغه وخت به مخامخ دا پیسې ورکوې که کوټه په پیسو پسې نو تې او که هغه نه جدا شوې نو دغه معامله باطله شوه او س به بیا ورسره د سره دغه معامله کوې چه دا پیسې واخله غنم را سره اوس نشته۔

مسئله ۶:۔ د یوې روپۍ پیسې دې قرض کړې بیا پیسې ګرانې شوې پنځلس پیسې آنې د روپۍ شوې نو اوس به ته شپاړس آنې پوره نه ورکوې بلکه په بدله کښې به روپۍ ورکوې۔ هغه داسې نه شي ویلې چه زه روپۍ نه اخلم پیسې به راکوې۔

مسئله :- په کورونو کښې دستور دے چه د بل کور نه دوتي قرضوي او بيا ورله د خپله کوره دوتي ليږي دا جائز دي -

باب ۳۱ دچا د ذمواري کولو بيان

مسئله ۱:- د نعيم په ذمه د چا څه روپۍ يا پيسے وغيره وے تا ئے ذمواري اوکړه چه که دۀ درنه کړے نو ځما نه ئے واخله يا دے اووے چه زه ئے ذمواريم او دغے حقدار ستا ذمواري منظوره هم کړه نو اوس ئے پيتا ادا کول واجب شو که نعيم ورنه کړے نو ته به ئے ورکوے - او حقدار ته دا اختيار شته چه که ستا نه ئے غواړي او که د نعيم نه اوس چه ترڅو نعيم خپل قرض ادا نه کړي يائے هغه معاف نه کړي ته ئے برابر ذموار ئے البته که هغه حقدار ستا ذمواري معاف کړي چه ستا سره ځما څه کار نشته ستا نه ئے نه غواړم نو ته معاف شوے او که حقدار د ذموارۍ په وخت کښے ستا ذمواري قبوله نه کړه نو ته ذموار نه شوے -

مسئله ۲:- تا د چا ذمواري کړے وه او د هغه سره اوس روپۍ نه وے نو تا ورکړې نو که تا د دے قرضدار په وينا ذمواري کړي وي نو دغه رقم تے ته اغستے شے - او که تا په خپله خوشحالۍ ذمواري کړي وي نو کتے به شي چه ستا دا ذمواري اول چا قبوله کړے ده که اول قرضدار منظوره کړي وي نو دا سے شوه لکه چه تا د دۀ په وينا سره کړے وي نو خپلے روپۍ د ده نه اغستے شے - او که اول حقدار منظوره کړے وي نو تا چه کومے روپۍ ورکړي دي هغه د قرضدار نه نشے غوختے بلکه دا ورسره تا احسان کړے دے چه قرضه دے ورله هسے ادا کړه - او که د ځان نه ئے ورکړي نو دا بله خبره ده -

مسئله ۳:- که حقدار قرضدار ته د مياشتے يا د پنځلسو ورځو مهلت ورکړه نو تر هغے ئے اوس د ذموار نه هم نه شي غوختے -

مسئله ۴:- او که تا د خپل طرفه د ورکولو ذمواري نه وي کړي بلکه د دے قرضدار روپۍ ستا سره امانت پرتے وے او تا ويلي وو چه زۀ به ئے د هغے نه ورکړم بيا هغه روپۍ غلا شوے يا په څه بله طريقه لاړے نو اوس ستا ذمواري ختمه شوه - نه ئے پيتا ورکول واجب دي او نه ئے هغه ستا نه غوختے شي -

مسئله ۵:- څه ځائے ته د تلو د پاره تا ټانګه يا ټيکسي کرايه کړه او چا د ټيکسي والا ذمواري اوکړه چه که دۀ بو نه تلے نو زۀ به خپل ټيکسي يا ټانګه درکړم دا ذمواري جائز ده که هغه بو نه تلے نو دا ذموار به دے بيائي -

مسئله ۶:- تا چا له خپل څه شے ورکړه چه دا پلوسه خرڅ کړه هغه خرڅ کړه خو قيمت ئے را نه وړه او ئے وے چه قيمت چرته ځي نه زه ئے ذمواريم که هغه درنه که نو ځما نه ئے واخله نو دا ذمواري صحيح نه ده -

مسئله ۱:- که چا او وے چه خپله چرګه ذلته او تمه که پیشو یو په نوزهٔ ئے ذمواریم ځما شئ وا خله یائے دَ بیزے په باره کښے او وے که شوهم مالـ کره نو ځما شئ واخله دا ذمواری هم صحیح نه ده۔

مسئله ۲:- نابالغ هلک یا جینئ که دَ چا ذمواری کوی دا هم صحیح نه ده۔

باب ۳۸ دَ خپلے قرضے په بل دَ ورَارَه ولو بیان

مسئله ۱:- دَ شفیع ستا په ذمه څه قرضه ده او د رابعه ستا قرضدارے ده شفیع ستا نه مطالبه او کړه نو تا ورته او وے چه رابعه ځما قرضدارے ده ته خپله قرضه دَ هغې نه واخله نو که شفیع او رابعه په دغه وخت دا خبره منظوره کړه نو دَ شفیع قرضه ستا نه ختم شوه اوس دا ستا نه نه شی غوختے دَ رابعے نه به غواړی که هر څله ئے ورکوی او خو مره چه دَ شفیع قرضه ده دومره قرضه اوس ته دَ رابعے نه هم نه شے غوختے البته که په رابعه ستا قرضه دَ شفیع دَ قرضے نه زیاته وی نو هغه زیاتی ته غوختے شے بیا که رابعے شفیع له قرضه ورکړه خو بنه او که ورئے نه کړه او مړه شوه نو دَ مال نه به ئے شفیع له قرضه ورکولے شی۔ او که مال ئے نه وی پاتے کړے یا په ژوند کښے منکره شوه او قسم ئے او کړه چه ستا دَ قرضے ځما سره څه واسطه نشته او ګواه هم نه وه نو اوس په دے صورت کښے بیا شفیعه ستا نه غوختے شی۔ او که ستا او وینا شفیعے دَ رابعے نه اغستل منظور نه کړه یا رابعے دے له ورکول منظور نه کړه نو قرضه ستا په ذمه باقی ده۔ ته به ئے ورکوے۔

مسئله ۲:- رابعه ستا قرضدارے نه وه تا هسے په هغې خپله قرضه ورواړه وله او رابعے اومنله او شفیعے هم قبوله او منظوره کړه نو بیا هم ستا ذمه دَ شفیع دَ قرضے نه خلاصه شوه رابعه ذمه واره شوه نو دغه حکم ئے ده کوم چه اوس بیان شه او خومره روپئ چه رابعه ورکړی هغه ستا نه غوختے شی او دَ ورکولو نه مخکښے ئے ستا نه نه شی غوختے۔ چه ورکړی هله به ئے درنه غواړی۔

مسئله ۳:- که دَ رابعے سره ستا روپئ امانت پرتے وے ځکه تا خپله قرضه په رابعے ورواړه وه له۔ بیا په څه وجه هغه روپئ ضائع شوے نو اوس رابعه ذمواره نه ده بلکه اوس به شفیعه ستا نه غواړی دَ رابعے نه ئے دَ غوښتو اوس حق نشته۔

مسئله ۴:- په رابعه دَ قرضے ورَارَه ولو نه پس که تا بیا خپله هغه قرضه ادا کړه نو دا هم صحیح ده۔ شفیعه دا سے نه شی ویلے چه ستا ئے نه اخلم دَ رابعے نه به ئے غواړم۔

باب ۳۹ دَ وکیل نیولو بیان

مسئله ۱:- کوم کار چه یو سړے خپله کولے شی په هغې کښے دا هم اختیار دے چه بل چا ته او وائی چه ته ځما دا کار او کړه۔ لکه خرڅول اغستل، په کرایه ورکول

اغستل نکاح کول وغیره - مثلاً خدمتګاره ئے بازار ته په سودا پسے او لیږله یا ئے
په څه شے خرڅ کړه یا په تانګه وغیره پسے ئے او لیږله - او په چا چه کار کوی په شریعت
کښے هغه ته وکیل وائی -

مسئله ۲:- تا په خادمه غوړه بنه را او غوښته او هغے قرض راوړه نو قصاب
ستا نه پیسے نه شی غوښتے د خادمے نه یه غواړی او خادمه به ستا نه - وغه شان
که په خادمه تا څه شے خرڅ کړو نو قیمت ته د اغستو نکی نه نشے غوښتے خادمه به
تے غواړی او ته به ئے د خادمے نه غواړے - او که هغه ئے پخپله ورکړی خیر دے -

مسئله ۳:- تا په نوکر څه شے را او غوښته او هغه راوړه نو اوس د ده اختیار
دے چه تر څو ئے ستا نه رقم نه وی وصول کړے تال ئے نه درکوی که هغه ئے پیسے د
خپل طرفه ورکړی وی او که نه - البته که هغه د څلورو پنځو ورځو په وعده راوړے
وی قرض نو اوس د دغے نیتے نه اول ستا نه شی غوښتے پیسے -

مسئله ۴:- تا سیر غوړه بنه غوښتلے وه هغه یو نیم سیر راوړه نو پوره یو نیم سیر
اغستل په تا واجب نه دی که ته ئے نه اخلے نو نیم سیر به هغه ځان له اخلی -

مسئله ۵:- تا چا ته اووے چه د فلانی سره چه کومه بیزه ده لاړشه په دوه روپئ
ئے راوله نو اوس دغه وکیل دغه بیزه ځان له نه شی اغستے - البته کوم قیمت چه
ورته تا خودلے دے که د هغے نه په زیات قیمت ئے واغسته نو ځان له ئے اغستے شی
او که تا ورته څه قیمت نه وی خودلے نو بیائے په هیڅ شان ځان له نه شی اغستے -

مسئله ۶:- که تا څه خاص بیزه نه وه خودلے بلکه داسے دے اووے چه یوه بیزه
ته ضرورت دے مال واخله نو اوس د هغه خوښه ده چه کومه بیزه ځان له اخلی او
کومه تاله اخلی که د ځان په نیت ئے واغسته نو د هغه شوه او که ستا په نیت ئے واغسته
نو ستا شوه او که ستا په پیسو ئے واغسته نو که په هر نیت ئے اغستے وی ستا ده -

مسئله ۷:- ستا د پاره ئے بیزه واغسته نو لا تاله ئے نه وه درکړے چه مړه شوه
یا چا پټه کړه نو د دے بیزے قیمت به ته ورکوے - نو که تا اووے چه دا تا د ځان د
پاره اغستے وه ځما د پاره نه وه - نو که تا ورله مخکښے پیسے ورکړی وی نو ستا لاړه
او که پیسے دِ اول نه وی ورکړی اوس هغه پیسے غواړی نو که تا قسم اوکړه چه دا
تا ځان له اغستے وه نو د هغه لاړه او که قسم دے او نه کړه نو د هغه خبره معتبره ده -

مسئله ۸:- که نوکر یا خادمے څه شے ګران راوړه نو که لږ فرق وه نو ته به ئے
اخلے او قیمت به ورکوے او که ډیر فرق وه چه په دغے قیمت چا نه اغستو نو
تاله ئے اخستل واجب نه دی که ته ئے نه اخلے نو هغه به ئے اخلی -

مسئله ۹:- تا چاله څه شے د خرڅولو د پاره ورکړه نو هغه له نه دی پکار چه په

خپله ئې واخلي او تاله قیمت درکړي - دغه شان که تا ورته اووئے چه فلانے شے ماله د بازاره راوړه او هغه تاله خپل درکړي - که خپل شے درکوي یائې بچپله اخلي نو صاف صاف وئے او وائي چه ځما دا شے واخله یا دا شے زۀ بخپله اخلم -

مسئله :- تا خادمه د بیزے په غوره بنے پسے اولیږه له هغې د مزارا وړه نو ستا اختیار دے چه اخلے او که نه - دغه شان تا آلوګا نو له اولیږه له هغې بینډ ئې وغیره راوړے نو اغستل ئې ضروري نه دي -

مسئله :- تا د یوے روپۍ شے غوختلے وه هغې د دوه ۂ راوړه نو ستا اختیار دے چه د پیسے موافق تے اخلے او نور ورته واپس کړے -

مسئله۲ :- تا دوه تنه اولیږل چه لاړ شئ فلانے شے راوړئ نو د اغستو په دخت کښے د دواړو موجودګیده ضروري دی یو تن له ئې یوازے اغستل جائز نه دی که یو تن هغه شے واغست نو دا بیعه موقوف ده چه تا منظوره کړه صحیح به شي -

مسئله۳ :- تا چا ته اووے چه ماله یوه غوا یا بیزه یا بل څه فلانے شے راوړه او تا ئې واخله - هغه په بل بانه ے واغستو نو د دے اغستل په تا واجب نه دي -

باب ۲ د وکیل برطرف کولو بیان

مسئله :- د وکیل د موقوف او برطرف کولو تا ته هر وخت اختیار دے - مثلاً تا چا ته ویلي وو چه ماله یوه بیزه واخله کوم ځائے چه دے بیا مونده - بیا دے منع کړه چه اوس ما اخله نو اوس د هغه د اغستو اختیار نشته که ئې واغسته نو د ده دۀ

مسئله۳ :- که بخپله دے منع نه کړه بلکه خط دے اولیږه یا دے سړے اولیږ خبر دے ورکړه چه اوس مه اخله نو هم هغه برطرف شه - او که تا خبر نه دے ورکړے خو چا ورته د ځانه اووے چه ته ئې برطرف کړے ئے - نو که دوه تنو یا یو تن اطلاع ورکړه مګر هغه معتبر او پابند شرع وه (داسے چه ګواهي ئې په شریعت کښې معتبره وه) نو برطرف شه او که داسے نه وو نو نه دے برطرف که وائے غسته نو ته به ئې اخلے -

باب ۳ د مضاربت بیان یعنے د یو روپۍ او دبل کار

مسئله :- تا د تجارت د پاره چاله روپۍ ورکړے چه تجارت پے کوه نفع به ئے نیمو نیم وي دا جائز دی او دیته مضاربت وائي - لیکن د دے څو شرطونه دي - که د دے موافق وه نو صحیح دے ورنه فاسد دے - یو دا چه څو مره روپۍ ورکوے نو هغه به او خاني او د تجارت د پاره به ئې ورکړے د ځان سره به ئې نه یاتے کوے که روپۍ دے حواله نه کړے د ځان سره دے ایښودے وے نو دا فاسد دے - دویم دا چه د نفع صورت د تقسیم به مقرر کړے چه ما ته به څو مره ملاویږي او تا ته به

څومره که داسې ئې اوښودې خو صرف دا ئې او وې چه نفع به تقسیمو نو دا فاسد ده - دریم داچه نفع به داسې نه تقسیموی چه څومره نفع وی لس به پکښې څماوی او باقی به ستاوی غرض څه خاص رقم به پکښې نه مقرر کوی چه دومره به پکښې څماوی یا دومره به پکښې ستاوی بلکه داسې به مقرر کوی چه نیمه کټه به څماوی او نیمه به ستاوی - یا یوه حصه د ده دوه حصې د هغه یا یوه حصه د یو باقی دوې حصې د بل غرض د نفع تقسیم به د حصو په اعتبار سره کولے شي ورنه نو بیا معامله فاسده ده - که څه نفع اوشوه نو کارکونکے به پکښې خپله حصه اخلی - او که څه نفع اونه شوه نو هیڅ به نه اخلی - او که دا شرط ئې اوکړه چه که نفع اونه شوه هم به زه تا له د اصل مال نه دومره درکړم نو دا معامله فاسده شوه دغه شان که دا شرط ئې اوکه چه که نقصان اوشه نو د کارکونکی په ذمه به وی یا به د دواړو په ذمه وی دا هم فاسد دے - بلکه حکم دا دے چه که نقصان اوشه د مالک دے

مسئله ۲:- ترخو پورې چه د هغه سره روپئ موجودې وی او هغه اسباب نه وی اغستی ترهغې تا ته د هغه د موقوف کولو او د روپو واپس اغستو اختیار شته او چه کله هغه مال واغست بیا ئې ته موقوف کولے نه شے -

مسئله ۳:- که دا شرط ئې اوکه چه ستا سره به زه یا څما فلانے سړے کار کوی نو (معامله) فاسده ده

مسئله ۴:- حکم ئې دا دے که معامله صحیح شوے وی او څه عبث شرط پکښې نه وی ایښودے شوے نو په نفع کښې دواړه شریک دی څنګه حصې چه مقرر شوی وی هغه شان ئې تقسیموی - او که نفع اونه شوه یا نقصان اوشه نو دغه سړی ته به هیڅ نه ملاویږی او د نقصان تاوان هم په ده نشته - او که دغه معامله فاسده شوے وه - نو بیا دا کارکونکے په نفع کښې شریک نه دے بلکه د یو منزله د نوکر دے د رواج مطابق به ورته تنخواه ملاویږی - که نفع شوی وی او که نه وی شوے خو ده ته به تنخواه ملاویږی او نفع ټوله د مالک ده او که تنخواه ډیره جوړیده او په نفع کښې حصه کمه راتله نو بیا به په نفع کښې خپله حصه اخلی

تنبیه:- د داسې مسئلو ضرورت پښتو ته ډیر کم پیښیږی نو نورې نه لیکو -

باب ۱۲ د امانت کیښودو بیان

مسئله:- چا ستا سره څه شے امانت کیښود او تا واغست - نو اوس د دے حفاظت پتا باندې واجب شه - که ستا د بے فکرئ په وجه هغه شے ضائع شه نو تاوان به ئې ورکوے - البته که تا ئې پوره حفاظت کاوه خو بیا هم ضائع شه مثلاً غلا شه یا په کور اور اولږید او سه نو ستا نه تاوان نه شی اغستے - بلکه که د امانت کیښودو په وخت کښې دے دا اقرار کړے وه چه که ضائع شه نو زه به ئې تاوان درکوم هم ئې

نه شي اغستې او که ته یې په خوښئ ورکوې نو دا بله خبره ده۔

مسئله ۲:- که چا او وے چه زه لږ په څه کار یم و رځم څما داشے کیده نو تا او وے چه بنه ده کیده۔ یا تا هیڅ او نه وے هغه دغه شان کیخود لاړ۔ نو دا آمانت شه البته که ته صاف منکر شوے چه بل ته ئې کیږده زه تا نه پیژنم یا دے بل څه او وے خو انکار دے او کړه بیا هم هغه کیخوده لاړ نو دا شے ستا په آمانت کښے نه دے۔ البته که د هغه د تلو نه پس تا او چت کړه کیخود و دے نو او س آمانت شه۔

مسئله ۳:- که چیرے بنځې (یا سړي) ناستې وے هغوی ته ئې څه شے کیخود و نو په ټولوئې حفاظت واجب دے۔ که دوی ته لاړے هغه شے ئې پریخود او ضائع شه ټولې به تاوان ورکوي۔ او که ټولې په جمع لاړنه ړے بلکه یوه یوه تله نو کومه چه په اخیر کښے پاتې شوه په هغې ئې حفاظت واجب دے۔ نو که هغه ته هم لاړه او هغه شے ئې پاتې کړو او ضائع شه تاوان ئې په هغې دے۔

مسئله ۴:- د چا سره چه څه آمانت وي نو د دے اختیار دے چه د ځان سره ئې ساتی او که خپلے مور یا خور یا خاوند یا بل داسے رشته سره ئې بد دي چه د دے سره په ئې کور کښے اوسي۔ چه داو رسره خپل څه هم د ضرورت په وخت کښے بږدي لیکن که څوک دیانتدار نه وي د هغه سره ئې کیخودل جائز نه دي۔ که د داسے غیر معتبر سره ئې قصداً کیخوده او تاوان شو نو تاوان به ئې دا ورکوي۔ او د داسے رشته دار نه سوا د بل چا سره پردي آمانت کیخودل جائز نه دي په غیر د هغه د اجازت نه۔ نو که د داسے غیر و سره ئې کیخوده او تاوان شو هم به ئې تاوان ورکوي۔ البته که هغه غیر داسے وه چه د ورسره خپل څیزونه هم کیخودل بیا جائز دي

مسئله ۵:- چا در سره څه شے کیخود او ستا هیر شه یا سیئے هغه د ئې په هغه ځائے پریخود نو چه ضائع شه تاوان به ئې ورکوے۔ په کوټه یا صندوق کښے دے کیخو د خو تالی دے او نه لږه ولا او هلته هرڅوک خپل پردے تللو راتله او په غیر د تالے نه ئې حفاظت ممکن نه وه نو هم چه نقصان شه تاوان به ئې ورکوے۔

مسئله ۶: که په کور کښے اور اولږید نو داسے وخت د غیر سره هم پردی آمانت کیخودل جائز دی خو چه عذر ختم شه فوراً به ئې را اخلي که حصار د کړه او تاوان شو نو تاوان به ئې ورکوے۔ دغه شان د مرګ په وخت کښے هم که څوک خپل موجود نه وي نو کما وتړی ته ئې حواله کول واجب دي۔

مسئله ۷:- که چا درسره څه روپئ پیسے آمانت کیخودے نو بعینه د دغه روپو پیسو حفاظت دربا ندے واجب دے۔ نه ئې د خپلو روپو سره یوځائے کول جائز دی او نه ئې

خرچ کول دا سے بہ نه وائي چه دا به اولېږه وم تعولے پوشان روپۍ دی هغه ته به خپلے روپۍ بیا ورکړم - البته که هغه اجازت کړے وي نو بیائې خرچ کولے شي - لیکن د دے حکم دا دے چه که دغه روپۍ دے مخالله ایښودے وے او ضائع شوے نو تاوان ئې ورباندې نشته او که د هغه په اجازت دے خرچ کړے نو اوس دا ستا په ذمه قرض شوے امانت نه دی - په هرحال بهٔ ئې ته ورکوے - که د خرچ کولو پس دے بیا هم د هغې هومره روپۍ کیښودے د هغه په نوم نو دا بیا هم امانت نه دی ستا روپۍ دی که غلا شوے نو ستالاړے هغه له به روپۍ ورکوے - غرض د خرچ کولو پس چه ترڅو پورے دے هغه له نه وی ورکړی ستا په ذمّه دی -

مسئله ۸:- شل روپۍ درسره چا امانت کیښودے نو پنځوس تے تا د هغه په اجازت خرچ کړے نو پنځوس روپۍ ستا په ذمه قرض شوے او پنځوس امانت - اوس چه ستا سره خپلے روپۍ اوشي نو خپلے پنځوس روپۍ به د دغې امانتو د پنځوسو روپو سره نه یوځائې کوے که دے ورسره ملاؤ کړے نو هغه پنځوس هم امانت نه شوے پوره شل به ستا په ذمه شي که تاوان شوے نو ته به بیا پوره سل هغه له ورکوے ځکه چه د امانتو روپۍ د خپلو روپو سره چه ملاؤ شوے نو دا امانت پاتے نه شو بلکه قرض شوے او په هرحال به ئې بیا ورکوے -

مسئله ۹:- که تا د هغه په اجازت خپلے سل روپۍ د هغه د سلو روپو سره ملاؤ کړے نو دغه ټولے روپۍ ستا سو د دواړو د شرکت شوے که غلا شوے نو د دواړو ولاړے په تا تاوان نشته او که څه غلا شوے او څه پاتے شوے نو هم په نیمه لاړے نیمے ستا نیمے د هغه - او که سل د یو وی او دوه سوه د بل نو د حصے موافق به ئې - مثلاً که دولس تے ضائع شوے نو د سلو والا څلور ولاړے او د دوه سوه والا اته لاړے - خو دا حکم هله دے که په اجازت ئې یوځائې کړی وی او که بغیر اجازت نه ئې یوځائې کړی وی نو حکم ئې هغه دے چه بیان شوے دے چه د امانت روپۍ چه د خپلو روپو سره ملاؤ شوے نو قرض شوے - نو اوس که ضائع شوے ستا ضائع شوے هغه له به خپلے روپۍ پوره ورکوے -

مسئله ۱۰:- چا بېزه یا غوا امانت کیښوده نو د هغې پئ خو پړل یا بدکار تے اخستل جائز نه دی البته که اجازت ئې کړے وه بیا جائز دی او که اجازت نه وه نو د پیو پیسے به ورکوے -

مسئله ۱۱:- چا درسره کپړه یا کالے یا کټ وغیره امانت کیښود نو بے اجازت ئې استعمال جائز نه دے که بغیر اجازت نه دے استعمال کړه او په دے استعمال کښے کپړه خیرے شوه یا کالے او کټ مات شو یا غلا شو نو تاوان به ئې ورکوے - البته که تو دے او کړه او بیا دے په حفاظت کیښوده او ضائع شو نو تاوان ئې نشته -

مسئله ۱۲ :- دَ آمانتو کپړه دے دَ صندوق نه را ویسته چه مابنام چرته حُم دا به واچوم او دَ اچولو نه اول هغه ضائع شوه نو هم به ئے تاوان ورکوے۔

مسئله ۱۳ :- دَ آمانتو غوا یا بېزه ناجوړه شوا و تا ئے علاج او کړه او دَ هغې دوائی نه هغه مړه شوه نو تاوان به ئے ورکوے۔ او کـه دوائی دِ او نه کړه او مړه شوه نو تاوان نشته۔

مسئله ۱۴ :- چا دَ ایخوودو دَ پاره روپۍ درکړے تا بټوے ته واچولے یا دے جیب ته واچولے خو هغه جیب یا بټوے ته لاس نه دے خکته پریوتے او ستا دا خیال شه چه په بټوه یا جیب کښے م واچولے۔ نو تاوان ئے درباندِ نشته۔

مسئله ۱۵ :- کله چه هغه خپل آمانت او غواړی نو فوراً ئے ورکول واجب دی بے دَ څه عذر نه ئے حصاره ول جائز نه دی۔ کـه چا خپل آمانت اوغوختو نو تا ورته اووے چه اوس رَم لاس وزګار نه دی صباح ئے واخله او هغه راضي شو نو خیر دَے۔ او کـه هغه ئے په پاتے کولو خفه شوا ولاړ او دغه آمانت اوس ضائع شو نو تاوان به ئے ورکوے۔

مسئله ۱۶ :- چا خپل سړے دَ آمانتو غوختو دَ پاره را اولیږه نو اوس ستا اختیار دَے چه کـه ده له ئے نه ورکوے او ورته وائے چه مالک را اولیږه زه ئے بل چا له نه ورکوم۔ او کـه تا دے رشتونے او کنړه ور دے کړه او بیا مالک راغے چه ما خو هغه نه دَے رالیږلے تا ولے وَلے ځما آمانت ورکول نو دے ئے ستا نه اغستے شی۔ او بیا ئے دَ هغه نه بیا واپس کولے شے۔ او کـه دَ هغه نه ضائع شو نو ته ئے تاوان نه شے اغستے۔ او مالک ستا نه اغستے شی۔ (یعنے دَ هغه نه ته تاوان نه شے اغستے خو مالک ستا نه خپل آمانت اغستے شی)

باب ۱۹ دَ غوختلی څیز بیان

مسئله ۱ :- دَ چا نه دے کپړه۔ کالے یا کټ وغیره لو ښے لږ کے څه او غوختل دَ څه ورځو دَ پاره نو دَ ضرورت ختمیدو سره به ئے فوراً ورکوے دَ دے مثال دَ آمانتو دے اوس به ئے خه حفاظت کوے کـه سره دَ حفاظت نه ضائع شه نو تاوان درنه نشی اغستے بلکـه کـه تا اقرارهم کړے وه چه کـه ضائع شه تاوان به درکوم هم درنه نشی اغستے البته کـه بے فکره شوے تے او ضائع شه نو تاوان به ئے ورکوے او مالک چه ئے څه وخت ستا نه غواړی نو غوختے شی کـه هغه او غوختا او تا ورنه کړه نو بیا به تاوان ورکوے چه ضائع شه

مسئله ۲ :- دَ څنګه استعمال اجازت چه مالک کړے وی هغسے استعمال ئے جائز دے دَ هغې نه خلاف استعمال ئے جائز نه دے کـه خلاف دِ او کړه نو په ضائع کیدو به ئے تاوان ورکوے لکـه چا دَ بستر دَ لوګ دَ پاره چادر درکړو تا لاندے خور کړه نو ضائع او یا خراب شه یا په کټ کښے دومره سړی کیناسته چه مات شه۔ یا دَ شیشے لوخے دَ پاره او رکیخو د مات شه یا بل داسے څه خلاف خبره دے او کړه نو تاوان به ئے ورکوے۔ یا دے یو ځے او غوختا او بیا دِ دَ بد نیتۍ نه ئے ورکولو او ضائع شه نو تاوان به ورکوے۔

مسئله ۳:- د یوے یا دوه ورځو د پاره دے یو شے اوغوښت نو اوس به ئے د یوے یا دوه ورځو نه پس ورکول ضروری وی که ورئے نه کړه او ضائع شه نو تاوان به ورکوے.

مسئله ۴:- کوم شے چه درے غوښتلے دے نو کتے به شی چه مالک په ډېره سره صفا ویلی دی چه که پخپله ئے استعمالوے او که بل له ئے ورکوے. نو غوښتونکی له جائز دی چه بل له ئے هم د استعمال د پاره ورکړی. او که صاف ئے نه وی ویلی خو کول مول خبره ئے کړی وی خو داتے په یقین سره معلومیده چه د بل په ورکولو نه خفه کیږی نو هم دا حکم دے. او که مالک صاف منع کړے وی چه پخپله ئے استعمالوه خو بل له به ئے نه ورکوے. نو په هیڅ شان ئے بل له د استعمال د پاره نه شی ورکولے او که ده هم دغه سے غوښتلے وی مالک ورته هیڅ نه وی ویلی نو بیا به کتے شی چه دا شے څنګه دے. هرڅوک ئے هم دغه سے یو شان استعمالوی په استعمال کښے ئے څه فرق نه وی نو بیا ئے بل له هم ورکولے شی د استعمال د پاره. او که داسے وه چه هرچا یو شان نه استعمالولو چا به ښه استعمالولو او چا نا کاره. نو داسے شے بل له د استعمال د پاره نه شی ورکولے. او که داسے ئے غوښتلے وه چه څما فلانے رشته دار یا ملاقاتی به ئے استعمالوی او مالک هیڅ ذکر او نه کړه نو په دے صورت کښے هم دغه حکم دے. چه د اول قسم شے ته هم استعمالولے شے. او د دویم قسم شے ته نه شے استعمالولے بلکه هغه څوک به ئے استعمالوی د چا په نوم چه غوښتے شوید ے او که تا د غسے راغوښتلے وی چه نه دے د خپل استعمال ذکر کړے وی او نه د بل او مالک هم څه نه وی ویلی نو حکم ئے دا دے چه د اول قسم شے ته هم استعمالولے شے او بل له ئے هم ورکولے شے. او په دویم قسم شی کښے دا حکم دے چه که پخپله دے ورله استعمال شروع کړه او س ئے بل له نه شے ورکولے. او که بل له دے استعمال له ورکړه نو اوس ئے پخپله نه شے استعمالولے.

مسئله ۵:- مور و پلار د خپل نابالغ اولاد شے چا له نه شی ورکولے او که ورئے کړه او په هر طریقه چه ضائع شه نو دا ورکونکی به ئے تاوان ورکوی. دغه شان که نابالغ خپل شے پخپله چا له ورکوی خو هم ئے اغستل جائز نه دی.

مسئله ۶:- که د چا نه دے څه شے اوغوښت او بیا ئے مالک مړ شه او س د دے شی نه کار اخستل جائز نه دی. دغه شان که دا غوښتونکے مړ شه نو وارثانو ئے ته کار نه شی اخستے

باب ۷: هبه یعنے چاله د څه ورکولو بیان

مسئله ۱:- تا چا له څه شے ورکړه او هغه منظور کړه یا په خوله څه او نه وے خو تا د هغه په لاس کښے کیخودو هغه واغست نو اوس دا شے د هغه شه ستا نه ئے هغه ئے مالک شه. دیته په شرع کښے هبه وائی. لیکن د دے څو شرطونه

دی یو هغه ته حواله کول او د هغه په قبضه کول۔ که تا اووے چه دا ثمه ما تاله درکړه او هغه اووے چه ما واغست لیکن لا اوسه دے ورته حواله کړې نه ده نو دا ورکول صحیح نه دی بلکه دا لا ستا ملک دے البته که قبضه ئے کړه بیا ئے هغه مالک شه

مسئله ۲:- تا د ورکولو هغه شے د هغه په مخکښې داسے کیښود چه که هغه ئے اُوچتوی نو اوچتولے شی او ورته دے اووے چه دا واخله ستا شه نو هم ئے هغه مالک شه

مسئله ۳:- په بند صندوق کښې دے کپړے ورکړے لیکن کنجی دِ نه ده ورکړے نو هغه ئے مالک نه دے او نه دا قبضه ده۔ قبضه او مِلک به هله شی چه کنجی ورکړے۔

مسئله ۴:- په بوتل کښې تیل یا بل څه دی او تا هغه بوتل چاله ورکړه لیکن تیل دِ ورنه کړه۔ نو دا ورکړه نه دی صحیح که هغه ئے قبضه هم کړی خو مالک ئے نه دے کله چه تے ته خپل تیل لرے کړے هله به ئے هغه مالک شی۔ او که تیل دے ورکړه او بوتل دے نه دے ورکړے او هغه قبضه کړه چه خالی بوتل به بیا تاله درکړم نو دا صحیح دی د قبضے کولو نه پس به ئے مالک شی۔ مطلب دا دے چه کله څه لوښے وغیره ورکوے نو خالی کوے به ئے هله به ئے ورکوے بغیر خالی کولو نه ئے هبه صحیح نه ده۔ دغه شان که چا خپل مکان چاله ورکړه نو خپل ټول مال اسباب به تے او باسی بیا به تے حواله وکړی۔

مسئله ۵:- که چاله نیم دریمه یا څلورمه برخه شے ورکوے نو کتے به شی چه د څه قسم شے دے د تقسیم کولو نه پس به هم د څه کار وی او که نه۔ که د تقسیم نه پس تے بیا هغه د کار نه شه اغستے لکه مېچن چه په مینځ ئے نیمه کړے نو بیا او په ول په نه کیږی او لکه پلنګ، چوکی، پتیله، لوټا، کټورے، پیاله، صندوق، جانور وغیره داسے څیز وَ نه هم د تقسیم نه بغیر نیم یا دریمه حصه ورکول جائز دی که هغه قبضه کړه نو څومره حصه چه تا ورکړے ده د هغے مالک شه او هغه شے د شریکے شه۔ او که دا شے وه چه د تقسیم نه پس هم د کار وه لکه زمکه کور د کپړے تهان، خشاک، دانے غله په ماسته وغیره نو بغیر د تقسیم کولو نه د دے هبه نه صحیح کیږی۔ که تا چاته اووے چه ما د دے لوښی نیم غوړی تاله درکړه او هغه اووے ما واغسته نو دا ورکول صحیح نه دی۔ بلکه که هغه په لوښی قبضه هم اوکړی خو مالک ئے نه شو ټول غوړی لا ستا دی۔ البته که د دینه پس دے نیم هغه ته جدا کړه او ورئے کړه نو اوس به ئے مالک شی۔

مسئله ۶:- یو تهان یا یو مکان یا باغ وغیره دوه تنو په شریکه واغستو نیم نو تر څو چه ئے تقسیم نه کړی تر هغے یو تن خپله نیمه حصه چاله نه شی ورکولے۔

مسئله ۷:- آته آنے یا دولس آنے پیسے دے دوه تنو له ورکړے چه دواړه ئے نیمے کړئے نو دا صحیح نه دی، ته به ئے په نیمے کړے۔ البته که هغه دواړه فقیران

وو نو بیا ئے تقسیم ته ضرورت نشته - او که یوه روپئ یوه پیسه دے دوه تنو له ورکړے هم صحیح دی -

مسئله ۸:- دغوا یا بیزے وغیره په ګیډه کښے بچے دے نو ترڅو چه دا پیدا شوے نه وی چا له ئے ورکول صحیح نه دی - بلکه که د پیدا کیدو نه پس ئے هغه قبضه هم کړی خو دے ئے مالک نه دے - که ئے ورکوے نو د پیدا کیدو نه پس ئے ورکړه -

مسئله ۹:- چا بیزه ورکړه چا له او ورته ئے اووے چه د ګیډے دا بچے ئے ځما دے نو بیزه او بچے دواړه د هغه شو د پیدا کیدو نه پس ئے دے ته نه شی اغستے -

مسئله ۱۰:- ستاسو شے د چا سره امانت پروت دے نو تا هغه له ورکړه نو چه هغه صرف دومره او وائی ما واغست نو د هغه شه او س تله او قبضه په دوباره کول شرط نه دی ځکه چه دغه شے خو هسے هم د ده په قبضه کښے دے -

مسئله ۱۱:- نابالغ هلک یا جینئ که خپل څه شے چا له ورکړه نو دا ورکول صحیح نه دی او شائے اغستل جائز دی دے مسئلے ته فکر او کړئ ډیر خلق په کښے مبتلا دی -

باب ۲ بچوله د ورکولو بیان

مسئله ۱:- په سنتو وغیره کښے چه بچو له څه ورکولے شی دا خاص دے بچی له ئے ورکول مقصود نه وی بلکه مور و پلار له ئے ورکول مقصود وی نو د غه تول صرف ئه د بچی ملک نه دے بلکه مور و پلار رئے مالکان دی ځکه چه ورسره کوی کولے شی البته که چا خاص بچی له څه شے ورکړه نو بیا ئے هغه بچے مالک دے که بچے پوه وه او بچپله ئے هغه شے قبضه کړه نو دے ئے مالک شه او که دے د قبضے لایق نه وه نو که پلار وی د هغه په قبضه کولو سره او که نیکه وه نو د هغه په قبضه کولو سره ُبچے مالک شه او که پلار نیکه ئے نه وی نو دا بچے چه د چا په پرورش کښے وی د هغه قبضه پکار ده او که پلار نیکه موجود دوو نو د مور او نیا قبضه معتبره نه ده -

مسئله ۲:- که پلار یا چه پلار نه وی نیکه خپل ځوئی یا نمسی له څه شے ورکول غواړی نو بس په دومره وینا سره به هبّه صحیح شی چه ما دا شے ورکړه - او که پلار نیکه نه وی نو دغه وخت که مور یا ورور وغیره بچی له څه ورکول غواړی او بچے د دوی په پرورش کښے وی نو هم په دغے ویلو سره ئے بچے مالک کیږی قبضے ته ضرورت نشته

مسئله ۳:- هر شے چه وی خپل ټول اولاد له برابر برابر ورکول پکار دی هلک جینئ له به یو شان حصه کوی که چا له ئے په کښے کم ورکړه او چا له زیات نو خیر دے رخودا سے بے وجے کول مکروه دی٬ لیکن چا له چه ئے کم ورکړی وی د هغه نقصان کول ئے مقصود نه وی نو بیا خیر دے ورنه کم ورکول جائز نه دی -

مسئله ۴:- کوم شے چه د نابالغ بچی ملک وی حکم ئے دا دے چه د دے بچی په کار کښے

بسه ئے بنږه وی پخپل کار کښے راوستل ئے جائز نه دی مور و پلار به ئے هم پخپل کار نه راولی او نه به ئے بل چا ته پکار وی۔

مسئله ۵:۔ که په ظاهر کښے ئے څه چا ته ورکړه خو یقیناً دا معلومه وه چه مور و پلار له ئے ورکوی خو شے معمولی دے نو د بچی په نوم ئے ورکوی نو د مور و پلار ملک دے هغه چه په څه کول غواړی نو کولے شی او دیته یه هم کتے شی چه که د مور علاقه دارو ورکړے وی نو د مور دے او که د پلار نو د پلار دے

مسئله ۶:۔ خپل نابالغ بچی له دے جامے جوړے کړے نو هغه ئے مالک شه یا نابالغ لور له دے کالے وغیره جوړ کړه نو هغه ئے مالک شوه او بس دا بل چا له ورکول جائز نه دی چاله چه ئے جوړ کړی هغه له به ئے ورکوی۔ البته که د جوړه ولو په وخت کښے ئے ویلی وو چه دا ځکه دے د سوال په طور ئے ورکوم نو بیا د جوړه ونکی دے۔ اکثر دستور دے چه مشرانے خویانو ته د کشرانو خویانو ته وښایا میندو د لونو ونه څه دوپټه وغیره غواړی نو دا هم جائز دی د څه وخت د پاره۔

مسئله ۷:۔ څنګه چه نابالغ بچے خپل شے چاله نه شی ورکولے دغسے د پلار هم دا اختیار نشته چه د نابالغ اولاد څه شے چاله ورکړی۔ که مور و پلار د بچو څه شے چاله بالکل ورکړه یائے د څه وخت د پاره ورکړه نو اغستل ئے جائز نه دی۔ البته که مور و پلار ته ئے سخت ضرورت پیښ شه او دغه شے بل ځائے نه پیدا کیده نو د مجبورئ او لاچارئ په وخت کښے مور پلار د خپل اولاد شے اغستے شی۔

مسئله ۸:۔ مور و پلار وغیره د بچی مال چاله قرض نه شی ورکولے او نه ئے پخپله قرض اغستے شی۔ بنه پوهه شه۔

باب ۲۲ **د ورکولو او بیا اغستو بیان**

مسئله ۱:۔ څه ورکول او بیائے واپس اغستل لوئے ګناه دے۔ لیکن که څوک ئے واپس اخلی او چاله چه ئے ورکړے وی هغه ئے ورکوی په خوشحالئ سره نو دے ئے بیا مالک کیدے شی۔ لیکن بعضے خبرے داسے دی چه په هغې کښے د واپس کولو اختیار بالکل نشته۔ مثلاً تا چاله بیزه ورکړه او هغه بنه څر به کړه یا دے چاله زمکه ورکړه هغه په کښے کور یا باغ جوړ کړه یا دے کپړه ورکړه هغه او ګنډ یائے رنګ کړه یائے او و نیځله نو او س دا شا یو نه ته په هیڅ شان نشے واپس کولے۔

مسئله ۲:۔ تا چاله بیزه ورکړه او هغې یو یا دوه بچی راوړه نو اوس ته دا بیزه واپس کولے شی۔ لیکن که واپس کوی نو صرف بیزه به واپس کوی بچی نشی واپس کولے۔

مسئله ۳:۔ د ورکولو پس که ورکونکے یا اغستونکے مړشه نو هم نشی واپس کولے۔

مسئله ۴:۔ تا چاله څه شے ورکړه بیا هغه تاله په بدل کښے څه شے درکړه او در ته

ئې او وې چه دا د هغې ځېنې شي په بدل کښې واخله نو اوس تا هغه شې نه شې واپس کولې
البته که دا ئې نه وو ويلي چه په بدل کښې واخله نو ته هم ځېنې شې واپس کولې شې او هغه هم -

مسئله ٥ :- بنځې ځېنې خاوند له يا خاوند خپلې بنځې له څه شې ورکړه نو د واپس کولو اختيار د يو ښته - دغه شان که چا داسې رشته دار له څه ورکړه چه نکاح ورسره د هيشه د پاره حرام دے او هغه رشته د وينې ده لکه رور خور خوری ورارہ وغيره نو د د وی نه ئې بيا واپس نه شي اخستے - او که رشته وه ليکن نکاح ورسره حرام نه وه لکه د تره ځوئی د ترور ځوئ خور وغيره يا ورسره نکاح حرام دے ليکن د نسب په رشته سره نه بلکه د پيو رشته ده يا بله رشته ده لکه رضاعی رور خور وغيره يا زوم خوابنے سخې وغيره نو د دے ټولو نه د واپس کولو اختيار شته .

مسئله ٦ :- په دے ټو مره صورتونو کښې چه د واپس کولو اختيار شته او واپس کولے شي د دے مطلب دا دے چه هغه ئې هم په واپس کولو راضی وی يعنې چا له چه ئې ورکړے وی هغه ئې په خوشحالئ واپس کوی نو حلال ئې دے واپس کولے شي. ليکن ګناه په دے کښې هم دے - او که هغه راضی نه وی او نه ئې واپس کوی نو بغير د قضا د قاضی نه ئې ته په زبردستئ نه شي اخستے او که په زور ئې تے واخست مالک ئې نه دے.

مسئله ٧ :- د هبې چه دا څو مره احکام بيان شو د خدائې په لار کښې د خيرات کولو هم دغه احکام دی - يعنې بغير د قبضې کولو نه د فقير ملک ته څه شې نه شي تلے او که د کوم څيز چه د تقسيم نه پس ورکول شرط دی هغه دلته هم دی - د کوم شي چه خالي کول او بيا ورکول شرط دی هغه دلته هم دی - البته په دوه خبرو کښې فرق دے - يو دا چه په رضامندئ سره هبه واپس کولے شي او خيرات نه شي دويم په خيرات کښې آنه يا لس آنے پيسے يا آته لس روپئ دوه فقيرانو له ورکولے شي چه ځانله ئې تقسيم کړي ليکن په هبه کښې داسے کول جائز نه دی .

مسئله ٨ :- فقير له دے پيسه ورکوله نو په غلطئ سره آنه آنيز لاړه نو اوس ئې ته نه شې واپس کولے -

باب ٢٣
په کرايه د اغستو بيان

مسئله ١ :- کورته د مياشتے د پاره په کرايه کور وا غست او قبضه دے کړو نو د مياشتے نه پس به کرايه ورکوے که خالي پروت وه او که ته په کښې اوسيدے -

مسئله ٢ :- درزی کپړه او ګنډله يا دهوبی او وينځله يا رنګی رنګ کړه نو د هغه اختيار دے چه ترڅو پورے تا مزدوری نه وی ورکړې تا له ئې نه درکوی - بغير مزدوری ورکولو ئې ته په زور نه شے اغستے - او که په مزدوری دے په آنه يا روپئ بوری او چته کړه نو اوس هغه ستا بوری د مزدورئ ورکولو پورے نه شي حصاره ولې

ځکه چه په دے راوړ وسره په غله کښے څه نوے شے نه دے پیدا شوے او حلته په کښې هم کښې نوے خبره پیدا شوے ده۔

مسئله ۳:۔ که چا داشرط مقرر کړه چه ځما دا کپړے به خاص ته گنډے یا ته ونیسے یا ته رنگ کوے نو دا کار او س په بل ته نه شے کولے او که دا شرط نه وه کړے نو بیا کولے شے۔

باب ۲ دَاجارے فاسدے بیان

مسئله ۱:۔ که دَ مکان په کرایه اغستو په وخت کښے څه مُوده بیان نه کړه چه دَ څو ورځو په کرایه دے۔ یا ئے کرایه مقرر نه کړه دَ غسے ئے واغستو۔ یا ئے دا شرط په کښے او کړو چه که څه په کښے وران شو نو ژه به ئے جوړه وم او یا ئے کور چالو په دے وعده ورکړه چه مرمّت به ئے کوے او دائے کرایه ده۔ نو دا ټول اجاره فاسده ده۔ او که داسے ئے او وے چه ته په دے کور کښے اوسه او مرمّت ئے کوه کرایه ئے هیڅ نشته نو دا عاریّت دے او جائز دی۔

مسئله ۲:۔ که چا داسے او وے مکان ئے په کرایه واغست چه دوه روپئ ماهانه کرایه به درکوم۔ نو دَ یوے میاشتے دَپاره کرایه صحیح شوه (یعنے اجاره صحیح شوه) دَ میاشتے نه پس ئے تے مالک بیا پورته کولے شی۔ بیا که په کښے یوه میاشت نور پاتے شه نو دَ بلے میاشتے دَپاره صحیح شوه دغه شان به هره میاشت نوے نوے اجاره کیږی البته که داسے ئے هم او وے چه ځلور میاشتے یا شپږ میاشتے به په کښے اوسم نو څومره موده چه ئے مقرر کړے ده دَ هغې پورے اجاره صحیح شوه۔ دَ دے نه مخکښے ئے مالک نشی او چتولے۔

مسئله ۳:۔ دَ اوړه کولو دَپاره ئے چالو غنم ورکړه چه دَ دینه پاؤ وزن دَ اوړه کولو مزدوری واخله یا پنځه ئے په او ربیلو چه دومره غله ئے ته مزدوری واخله دا ټول فاسد دی۔

مسئله ۴:۔ دَ اجارے فاسدے دا حکم دے چه څه مقرر شوی وی هغه به نه ورکوی بلکه دَ دومره کار دَپاره چه څه مزدوری وی یا دَ دومره کور دَپاره چه څومره کرایه وی هغه به ورکوی لیکن که دستور زیات وه او مقرر شوی کم وَه نو بیا به مقرر ده ورکوی دَ دستور موافق مزدوری یا کرایه به نه ورکوی۔ کوم چه کم وی هغه به اخلی۔

مسئله ۵:۔ دَ ګکانے بجانے، ناچ ګډیدو، شادو ګانو لو بولو وغیره څومره عبث چه دی دَ هغې اجاره صحیح نه ده بلکه بالکل باطله ده۔ نو هیڅ به نه شی ورکولے۔

مسئله ۶:۔ حافظ ئے مقرر کړه چه دومره ورځے دَ فلانی په قبر قرآن لوله او ثواب ئے بخه تنخواه به دومره درکړم دا باطله ده۔ نه دَ لوستونکی ثواب او شه نه دَ مړی او مه کڅه تنخواه اغستو حقدار هم نه دے۔

سلے دَ اجارے معنی په کرایه ورکول دی او فاسد خراب او ناجائز ته وائی لهذا دَ اجارے فاسدے نه مراد داسے چه دَ اجارے دَ شرائطو لحاظ په کښے نه وی شوے داسے اجاره به مات وی بیا به دَ سر اجاره کوی ۱۲

مسئله ۷:- د لوستو د پاره ئې کتاب په کرايه واخست نو دا باطل ده -

مسئله ۸:- دا ستور چه د چا غوا ميخه يا بيزه مال کيږي نو د چا چه غوايه سنډا پيسه وي هغه کرايه اخلي دا بالکل حرام دي -

مسئله ۹:- غوا بيزه ميخه د پيو د پاره په کرايه اغستل جائز نه دي

مسئله ۱۰:- څه جا نور په نيمه ورکول جائز نه دي يعني چرګه ئې چاله ورکړه چه دا ساته بچي به ئې نيم ځما او نيم ستا وي دا جائز نه دي -

مسئله ۱۱:- د کور ښائسته کولو د پاره جهاړ فانوس وغيره په کرايه اغستل جائز نه وي که رائې وړه هم خو کرايه دارئې کرايه اغستو حقدار نه دے البته که د رڼا کولو د پاره ئې راوړي او وئې بيا جائز دي -

مسئله ۱۲:- تانګه يا ټيکسي دے کرايه کړه نو د معمول نه زيات خلق په کښې کينول جائز نه وي دغه شان په دوی کښې هم بغير د ورونکو د اجازت نه دوه دوه کينول جائز نه دي -

مسئله ۱۳:- څه شئې ورک شه او ده اووئې که چا راته او خوده يوه روپۍ به ورکړم نو که چا اوخوده هم د روپۍ اغستو مستحق نه دے ځکه چه دا اجاره صحيح شوے نه ده او که يو خاص سړي ته ئې اووے چه که ته اوخوده روپۍ به درکړم نو که هغه في الحال په دغه ګاځې او خوده نو هيڅ ئې نه دسي او که لاړ بيائې او خوده نو ورکوي به -

باب ۲۵ د تاوان اغستو بيان

مسئله ۱:- رنګي، دهوبي، درزي وغيره کسب ګر سړي له ئې څه شئے ورکړے دے د څه کار د پاره نو دغه شئے د هغه سره آمانت دے - نو که غلاشي يا په څه بله مجبوري ضائع نو د هغه نه تاوان اغستل جائز نه دي البته که د هغه نه په بے احتياطۍ کښې څيرے شوه يا اوسوه يا خرابه شوه نو تاوان اغستل ئې جائز دي - دغه شان که به لاسئې کړه هم ئې تاوان اغستے شي - او که ورکړئې کړه او هغه وائې چه معلومه نه ده چه دا څنګه ورکه شوه نو هم ئې تاوان اغستے شي - او که هغه وائي چه بس ودرے ګاځنه چرته لاړه چا پته کړه نو بيائې تاوان نشي اغستے -

مسئله ۲:- او څوک چه کسب ګر نه دے بلکه خاص ستا د کار د پاره دے مثلاً نوکر وغيره يا هغه مزدور چه د يوے ورځے دوه د پاره دے او د هغه نه څه شئے ورک شه نو تاوان ئې اغستل جائز نه دي - البته که قصداً ئې نقصان کړي بيائې تاوان اغستے شے

مسئله ۳:- د بچي د لوبولو د پاره چا کوم نوکري د هغه د غفلت نه که د بچي کالي وغيره ورک شو نو تاوان ئې اغستل جائز نه دي -

باب ۲۶ د اجارے ماتولو بيان

مسئله ۱:- کور دے په کرايه واخست نو هغه چيرته خاځي يا څه حصه ئې ولويدو ته

یا بل څه عیب په کښې را اووت چه اوس په کښې اوسیده مشکل دی نو کرایه ماتول جائز دی. او که بالکل ط پریوت نو بغیر له اجاره ماته شوه ورته پکښې څه حاجت پاتې نه شو.
مسئله ۲:- که په کرایه اغستو نکی او ورکونکی کښې یو تن مړ شی نو اجاره ماته شوه.
مسئله ۳:- که څه داسې عذر پیښ شی چه اجاره ماتول غواړی نو د مجبوری نه ئې ماتول صحیح دی. مثلا تا ګډی دے کرایه کړه بیا کې نیت بدل شه پاتې شوے نو ماتول ئې صحیح دی.
مسئله ۴:- داچه کوم دستور دے چه څه شے کرایه کړی نو څه پیسے پکښې اول ورکړی چه کلا پېوتو بیا به نوره کرایه ورکړو او که پاتې شو نو دابه ستا شی- دا جائز نه دی دغه رقم به بیا واپس کوی که لاړ شی.

باب ۲ بے اجازته دچا د شی اغستو بیان

مسئله ۱:- دچا نه په زور یا پټه شا څه شے اغستل بغیر اجازت نه ډیره لویه ګناه ده بعضې ښځې د خپل خاوند یا د بل رشته دار شے بے اجازته اخلی دا هم جائز نه دی. که بے اجازته دے څه شے اغستے وی نو که بعینه هغه شے اوس موجود وی نو هغه واپس کول پکار دی. او که خرچ شوے وی نو حکم ئے دادے چه که د هغے مثل په بازار کښې مه نه کیده لکه غله دانه، غوړی، تیل، سبزی روپئ پیسے وغیره نو د هغې پشان شے به واخلے او ورله به کړے او که مثل ئے نه مونده کیده نو قیمت به ئے ورکوے. لکه چرګ، بیزه، امرود، ناشپاتۍ، مالټے وغیره.
مسئله ۲:- دکټ خپه ماته شوه یا په کښې لرګی یا پیاله ماته او شلیده یا بل څه شے دے اغستے وه خراب شه نو څومره نقصان چه شوے دے هغه به ورکوے.
مسئله ۳:- په پردو روپو دے تجارت اوکړه بے اجازته نو څه نفع چه شوی ده هغه تاله اغستل جائز نه دی- اصل روپئ به مالک ته ورکړے او نفع به ئے خیرات کړے.
مسئله ۴:- دچا کپړه دے څیرے کړه نو تاوان به ورکوے څومره چه نقصان شوے دے د هغے مناسب او که تول دے خراب کړه چه اوس د کار نه ده مثلا چادر دے داسے څیرے کړه چه اوس نه شی پسریدے نو چاچه خراب کړے ده کپړه د هغه شوه او مالک له به ئے قیمت ورکوی.
مسئله ۵:- پردے غمے دے په کوټ کښې کیخود نو قیمت به ئے ورکوے کوټ ماتول او غمے ته راویستل واجب نه دی.
مسئله ۶:- دچا کپړه دے بے اجازته رنګ کړه نو اوس د هغه اختیار دے چاد غه رنګ کړے کپړه اخلی او تاله د رنګ کولو قیمت درکوی او که د خپلے کپړے قیمت اخلی.
مسئله ۷:- د تاوان ورکولو پس که هغه شے بیا مونده شه نو که تے به شی چه څه

تاوان ئې د مالک د وینا مطابق ورکړے وی نو هغه اوس څېل شے نه شي اغستے او د هغه د وینا نه ئې کم ورکړے وی نو هغه به څېل شے واخلي او تاوان به واپس کړي۔

مسئله ۸:۔ پردۍ بیزه یا غوا ورکړه دا غله نو ئې اغستل تے جائز نه دی کنه که واغسته قیمت ئې به ورکوي

مسئله ۹:۔ ستن تار، د کپړے ریخه، مزے، پان، تمباکو وغیره څه شے پردۍ اغستل جائز نه دی که دے واغسته (او ضائع شو) تاوان به ئې ورکوي یا به ئې پے معاف کوے ورنه په قیامت به ئې ورنه اخلي (او هلته خو دا نه وی نو نیکۍ به ورنه اخلي او که نیکۍ د نه وی نو د هغه ګناهونه به په تا بار کیږي او تا به ئې عذاب ځکے)۔

مسئله ۱۰:۔ خاوند ځانله جامے راوړے او د قطع کولو په وخت کښے تے ښځے ځانله څه ټکړه پټه کېښوده او هغه ته ئې او نه وے نو دا جائز نه دی پټوس به تے کوی که ورکړي نو ښه دے کنې نو نه دے اخلي (د خاوند مال ښځه بے اجازته نه شي خرچ کولے)

باب ۲۸

دَ شرکت بیان

مسئله ۱:۔ یو سړے مړ شه او مال ئې پاتے شه نو د ده ټول مال اسباب د ټولو حقدارانو شریک دے یو تن په کښے بغیر د هغې نورو د اجازت نه تصرف نه شي کولے که او کړي نو ګناهګار دے۔

مسئله ۲:۔ دو ښځو په شریکه څه لوښي واغسته نو دا دواړو شریک دی په غیر د بلے د اجازت نه ئې یوه نه استعمالولے شي نه ئې خرڅولے شي او نه پے بدل څه کولے شي۔

مسئله ۳:۔ دوه ښځو په شریکه د بازار نه امرود، مالټے، بیرے، آم، وغیره په شریکو پیسو راوغوختل نو چه راغله او س یوه ښځه نو دا ورسره ملګرې دا سے نه شي کولے چه خپله نیمه حصه تے واخلي او خوري او هغې له نیمه حصه پریدي۔ تر څو چه دواړه موجود نه وی تقسیم ئې جائز نه دے که او ئې کړه نو ګناه دے۔ البته که غنم یا بل څه غله ئې په شریکه راوغوخته۔ او تقسیم ئې کړه او خپله حصه ئې کیښوده او هغې چه دا غله د هغې حصه ئې هغې له ورکړه دا جائز دی لیکن که د دے بلے دا حصه هغې له د ورکولو نه مخکښے غلا شوه نو نقصان به د دواړو شریک وی د دے په حصه کښے به اخلي۔

مسئله ۴:۔ دوه تنو سل سل روپۍ راواغستے او تجارت ئې پے او کړه او اقرار ئې او کړه چه نفع به نیمه نیمه وی نو دا صحیح ده۔ او که او ئې وے چه دوه حصے به ځما او یوه ستا وی هم صحیح ده اګر که روپۍ د دواړو برابر یا کمے زیاتے وی هر څنګ جائز دی۔

مسئله ۵:۔ لا ئې ځه ئې اغستي نه وو چه هغه روپۍ ټولے غلا شوے۔ یا د دواړو روپۍ جدا جدا پرتے وے او د یو مال په کښے غلا شه نو شرکت ختم۔ بیا به د سره کوي۔

مسئله ۶:۔ دوه تنو شرکت او کړه چه سل روپۍ ځما او سل خپلے ملاو کړه او تا د کپړے تجارت کوه نفع به نیمه نیمه تقسیم کوو۔ بیا په کښے یو تن څه کپړه واغسته نو

بیا که هغې بل هغه پوره سل روپۍ غلا شوې نو څومره مال چې ئې اغستې دې هغه د دواړو شریک دې نو نیم قیمت به دې نه اغستې شي۔

مسئله:۔ په سوداګرۍ کښې دا شرط کول چې په نفع کښې به لس روپۍ زما وي باقي نور ستا (یعنې باقي نفع به ټوله ستا وي) دا جائز نه دې۔

مسئله:۔ د سوداګرۍ د مال نه څه غلا شه نو د دواړو نقصان اوشه۔ دا سې به نه وي چې ټول نقصان به د یو په سر پریوځي۔ که دا سې شرط ئې کړے وه چې نقصان به ټول زما وي او نفع به نیمه وي نو دا هم جائز نه دی۔

مسئله ۹:۔ چې کله شرکت ناجائز شه نو اوس د نفعې په تقسیم کښې د قول او قرار هیڅ اعتبار نشته۔ بلکه که د دواړو مال برابر وه نفع به نیمه وي او که کم زیات وه نو نفع به هم کمه زیاته وي خواه اقرار چې ئې هر څه کړے وي۔ اقرار هغه وخت معتبر دې چې شرکت صحیح وي۔

مسئله ۱۰:۔ دوه ښځو شرکت او کړه چې څه ګنډل راځي په شریکه به کوو او مزدوري به نیمه نیمه تقسیموو نو دا جائز دی۔ که دا سې اقرار ئې کړے وه چې کار به په شریکه کوو او دوه حصې پیسې به زما وي او یوه ستا نو دا هم جائز دی۔ او که دا سې اقرار ئې کړے وه چې روپۍ یا دوه به زما وي باقي ټولې ستا نو دا جائز نه دی۔

مسئله ۱۱:۔ په دے دواړو ښځو کښې که یوې د ګنډلو د پاره څه کپړه واغسته نو دویمه دا نه شي ویلے چې دا تا اغستې ته به ئې ګنډې بلکه په دواړو ئې ګنډل واجب شو۔

مسئله ۱۲:۔ د چا چې کپړه وه هغه پسې راغے د وړو د پاره او کومې ښځې چې اغستې وه هغه دا وخت نه وه نو د دے بلے نه ئې هم غوختې شي او ورته دا سې نه شي ویلے چې زما سره دے څه کار دے چا له چې دے ورکړے وي د هغه نه ئې غواړه۔

مسئله ۱۳:۔ دغه شان هر یوه ښځه د دے کپړے مزدوري غوختې شي کپړے والا ورته دا نه شي ویلے چې تا له ئې نه درکوم بلکه چا له چې ما کپړه ورکړے هغې له به ئې ورکوم۔ چې دواړه کار شریک کوي نو هر یوه مزدوري چې واخلي د هغه نه به ادا شي۔

مسئله ۱۴:۔ دوه ښځو شرکت او کړه چې دواړه به د غره نه یو ځائے خشاک راوړو ویابه د کڼو یو ځائے ټولوو نو دا شرکت صحیح نه دے د چا پلاس چې څهٔ وراغلل هغه ئې مالکه ده۔

مسئله ۱۵:۔ یوې ښځې بلے ته اووے چې زما دا ګرګې خپلے چرګې ته کیده بچي به ئې نیم کړو نو دا جائز نه دی۔

باب ۲۹ **د شریک شي تقسیمولو بیان**

مسئله ۱:۔ دوه تنو په شریکه د بازار نه غنم را او غوختل نو د تقسیم په وخت کښې د دواړو موجود والے ضروري نه دے دا یو دے ټیک ټیک تول او کړي او خپله حصه دې تر چې اګړي او خوري سکي دے او که چا له ئې ورکوي هر څه ور سره کولے شي اګر

که هغه بل موجود نه وي دغه شان د غوړو تیلو اکو وغیره حکم دے۔ غرض دا چه دا سې شے وي چه څه فرق په کښے نه وي لکه اګي چه ټولے یو شان وي یا غنم چه دوه حصے شي نو دواړه طرفته یو شان غنم وي د داسے ټولو څیزونو دا حکم دے چه که هغه بل شریک نه وي نو هم تے ته خپله حصه جدا کولے شي۔ لیکن که هغه بل لاخپله حصه نه وي اغستے او په څه وجه نو نقصان شوه نو نقصان به د دواړو شریک وي او په کوم څیزونو کښے چه فرق وي لکه امرود مالټے وغیره حکم ئے دادے چه تر څو دواړه حصه دار موجود نه وي یو تن ئے نه شي تقسیمولے۔

مسئله ۲:- دوه تنو په شریکه آم، امرود وغیره را اوغوښته او یو چه ته تلے وه نو د هغه د حاضریدو نه اول تے که ده څه اوخواړه ګناه دے چه هغه راشي نو د هغه په مخکښے به خپله حصه جدا کړي بیا به ئے خوري۔

مسئله ۳:- دواړو په شریکه چنے وُریتے کړے نو اوس ئے په اندازه تقسیمول جائز نه دي بلکه ټیک په تول به ئے نیمو ی که کمے زیاتے راغے نو سود دے۔

باب ۳ د ګانړے ایخودو بیان

مسئله ۱:- تا د چا نه روپۍ قرض کړے او د اعتبار د پاره دے ورته خپل څه شے کیخود چه دا وخله چه کله روپۍ در کړم دا به را کړے دا جائز دي او دیته ګانړه وائي لیکن سود ورکول په هیڅ شان جائز نه دي لکه نن صبا چه بیوپاریان سود اخلي ګانړې کول دا جائز نه دي سود اغستل او ورکول دواړه حرام دي۔

مسئله ۲:- چه لو شے دے ګانړه کړو نو چه تر څو دے قرض نه وي ادا کړے نو ئے شے غوښتے۔

مسئله ۳:- چه ستا سره چا څه شے ګانړه کیخود نو شئ په څه کار را وستے شے نه تے نفع اغستے شے۔ د داسے باغ میوه خوړل یا لے روپۍ خوړل یا د زمکے غله خوړل یا په دا سے کور کښے اوسیدل دا ټول جائز نه دي

مسئله ۴:- که بیزه غوا وغیره دے ګانړه کړه نو د هغے پۍ بچی وغیره هر څه چه دي ټول د مالک دي ته تے هیڅ نه شے خوړے پۍ وغیره به ئے خرڅوے او رقم به ئے په ګانړه کښے شاملوے چه کله هغه ستا قرضه در کړه دا هر څه به ور کوے او څه چه ئے درنه خوړلي وي دا د هغے قیمت به ئے کټ کړے۔

مسئله ۵:- که څه روپۍ دے ادا کړے او څه لا پاتے دي هم تا ګانړه شے نه شے غوښتے چه ټولے روپۍ ورکړے هله به درته ملا ویږي۔

مسئله ۶:- که تا لس روپۍ قرض واغستے او د لسو روپو یا پنځلسو شلو روپو شے د ګانړه کړه او هغه شے د هغه نه ضائع شه نو اوس نه هغه ستا نه قرض غوښتے شي او نه ته د هغه نه ګانړه شے غوښتے شے ستا ګانړه لاړه او د هغه قرضه۔ او که د پنځو روپو

شے دے کا نره کړے وه نو پنځه روپئ به ورلی ته ورکړے پنځه روپئ مُجرا شوے۔

باب ۱۳

دَ وصیّت بیان

مسئله ۱:- دا ویل چه څما د مرګ نه پس څما دومره مالِ فلانی سړی له یا په فلانی کار کښے ورکړے۔ دا وصیّت دے که په روغه کښے اووائی او که په بیمارئ کښے او بیا که په روغه بیمارئ کښے مړشی او که جوړشی۔ او کوم چه پخپل لاس چا ته ورکړی یا د چا قرضه معاف کړی نو حکم ئے دا دے چه په روغوالی کښے خو شان جائزدی او روغه شان دَ کومے بیمارئ نه چه جوړشی په هغے کښے هم جائز دی۔ او په کومه بیمارئ کښے چه مړشی هغه وصیّت دے حکم ئے وروستو راځی۔

مسئله ۲:- که دَ چا په ذمه مونځونه یا روژے یا زکواة یا دَ قسم او د روژے وغیره کفاره باقی پاتے شوے او دومره مال ئے هم وو چه دوه نو دَ مرګ په وخت کښے دَ هغے دَ پاره وصیّت کول ضروری او واجب دی۔ دغه شان که د چا په قرضه وی یا ورسره دَ چا امانت وی دَ دے وصیّت کول هم واجب دی۔ که او ئے نه کړه نو ګناهګار به وی۔ او که داسے رشته دار غریب وه چه په شرع کښے ورته میراث نه ملاویږی او دَ ده سره مال دولت ډیر وی نو ده له څه ورکول او وصیّت کول مستحب دی او دَ نورو خلقو دَ پاره دَ وصیّت کولو او نه کولو دَ ده اختیار دے۔

مسئله ۳:- دَ مرګ نه پس به دَ مړی په مال کښے اول دَ هغه کوروکفن کولے شی بیا به ئے قرضه ادا ورکولے شی که دَ مړی ټول مال په قرضه کښے لاړ نو څه به۔ وارثانو ته به نه ملاویږی نو دَ قرضے په وصیّت به په هرحال عمل کولے شی۔ او که وصیّت هم او نه کړی بیا به هم قرضه اول ادا کولے شی او دَ قرض نه بغیر په نورو څیزونو کښے به وصیّت صرف په دریمه حِصّه کښے قبول وی۔ یعنے څومره مال ئے چه پریښو دا اول به ئے کوروکفن اوشی بیا به ئے قرضه اداشی بیا که مثلاً درے سوه روپئ پاتے شوے او په سلو روپو کښے ئے وصیتونه پوره کیدے نو پوره به کړی۔ او دَ دریمے حِصے نه زیات لره ول په وصیّت کښے په وارثانو لازم نه دی۔ په دریمه حِصّه چه څومره کیدے هغه به پوره کړی باقی به پاتے کړی۔ البته که ټول وارثان به خوشحالئ سره راضی شی چه مونږ خپله خپله حِصّه نه اخلو نو بیا جائز دی چه زیات او لره وی خو که نابالغ وارثان په کښے وو دَ هغوی حصه به ئے جدا کړی که هغوی اجازت هم کوی خو اعتبار ئے نشته۔

مسئله ۴:- کوم سړی ته چه په میراث کښے مال ملاویږی لکه مور پلار خاوند ښځه وغیره دَ هغوی دَ پاره وصیّت صحیح نه دے۔ او کوم رشته دار ته چه نه ملاویږی یا رشته دار نه وی غیر سړے وی دَ هغه دَ پاره وصیّت کول جائز دی لیکن دَ دریمے حِصے نه زیات نه شی ورکولے۔ که چا چیل وارث ته وصیّت اوکړه چه څما نه ورلی فلانے شے ورکړے

یا دومره مال ورکړه نودا وصیّت به هم ته هله رسی چه ټول وارثان راضی شی- دغه شان که چا د دریمے حصے نه زیات وصیت کړے وه د هغے هم دغه حکم دے چه که ټول وارثان په خوشحالئ راضی شی نو د دریمے حصے نه زیات به ملاؤشی ورنه فقط دریمه حصّه به ملاویږی. او د نابالغو د اجازت په هیڅ حال اعتبار نشته خیال به ورته ساتی۔

مسئله ۵:- اگرچه په دریمه حصه مال کښے وصیّت جائز دے لیکن غوره داده چه د دریمے حصّے نه په کم کښے وصیّت اوکړی بلکه که زیات مالدار نه وی نو وصیّت دِ نه کوی وارثانو ته دے پاتے کړی چه هغوی ته په ارام سره اوفراغت سره خرچ کړی ځکه چه وارثانو ته فراغت او اسائش کښے پرېښودل هم ثواب دے البته د مانځه روژے وصیت به خامخا کوی

مسئله ۶:- که چا اووے چه ځما د مال نه سل روپئ خیرات کړئ نو که د گورکفن او قرضے نه پس درے سوه یاتے زیاتے پاتے کیدے نو پوره سل به خیرات کوی او که کم پاتے شوے نو صرف دریمه حصه به خیرات کړی البته که ټولو وارثانو په خوشحالئ منظوره کړه نو بیله خبره ده۔

مسئله ۷:- که د چا څوک وارث نه وی نو هغه له د ټول مال وصیت هم جائز دے او که صرف ښځه ئے وه نو په څلورو کښے د دریو حصو وصیّت کولے شی دغه شان که د ښځے صرف خاوند وه نو د نیم مال وصیّت کولے شی۔

مسئله ۸:- د نابالغ وصیّت جائز نه دے۔

مسئله ۹:- که دا وصیّت ئے اوکړه چه ځما د جنازے مونځ دے فلانے اوکړی یا فلانی ښهر یا فلانی قبرستان یا د فلانی د قبر څوا کښے ما دفن کړئ یا فلانئ کپړه راله کفن کړئ قبرم پوخ جوړ کړئ- قبّه پے جوړه کړئ- په قبر به مے حافظ کینوئ چه سبق راته ښئ نو د دے پوره کول ضروری نه دی بلکه آخری درے خو بالکل نا جائز دی- پوره کونکے به ئے گناهگار شی۔

مسئله ۱۰:- که چا وصیّت اوکړه او بیا ترے واپس شه نو هغه وصیّت باطل شه۔

مسئله ۱۱:- لکه څنگه چه د دریمے حصے نه په زیات کښے وصیّت جائز نه دے دغه شان د بیمارئ په حالت کښے (چه د مرگ بیماری وی) د خپل مال د دریمے حصے نه زیات بغیر د خپل ضروری خرچ نه مثلاً خوراک سکاک دوائی نه خرچ کول هم جائز نه دی که زیات ئے خرچ کړه او د وارثانو اجازت نه وه نو جائز نه دی- او د نابالغو اجازت معتبر نه دے او وارثانو له هم په دریمه حصه کښے دننه بغیر د ټولو وارثانو د اجازت نه جائز نه دی چه ورکړی- او دا حکم هله دے چه په ژوند ئے ورکړی او هغه پے قبضه اوکړی که ورکړی خو هغه پے قبضه نه وی کړے نو د مرگ نه پس ئے ورکول بالکل جائز نه دی دغه ټول مال د وارثانو دے- او دا حکم په بیمارئ کښے د خدائے په لار کښے د خیراتِ کولو

دے او په نیک کار کښے دَ لږه ولو دے چه دَ دریمے نه زیات په هیڅ شان نه شي صرف کولے.

مسئله ۱۲ :- دَ بیمار دَ تپوس دَ پاره څوک راغله او دلته څه ورځے پاتے شو دَ بیمار دَ مال نه خوړی سکی نو که دَ بیمار دَ خدمت کولو ضرورت وه ورته خیر دے او که نه وه نو دَ دریمے حصے مال نه زیات په دوی خرچ کول جائز نه دی ـ او که ضرورت هم نه وه او دغه وارثان وی بیا ورله هیڅ خوړل جائز نه دی او که ټول وارثان اجازت او کړی بیا خیر دے.

مسئله ۱۳ :- په کومه بیمارئ کښے چه مریض مړ شي په هغے کښے دَ خپل قرض نه شي معاف کولے که معاف ئے کړه وارث نو نه دے معاف شوے او که ټول وارثان ئے منظور کړی نو معاف به شي خو چه نابالغ په کښے نه وی ـ او که غیر وارث وه نو دَ دریمے حصے نه چه څومره زیات وه هغه معاف نه دے ـ دستور دے چه بی بی مړی نو خپل مهر معاف کړی دا نه معاف کیږی.

مسئله ۱۴ :- دَ بچی کید و درد چه شروع شي نو که چا لس څه ورکړی یا مهر معاف کړی نو مهر معاف کیږی او نه هغه ورکول صحیح دی دَ دریمے حصے نه په زیات کښے که مړه شوه او که جوړه شوه نو هغه هرڅه صحیح شو ـ مهر معاف شه او څه چه ئے ورکړی دَ هغه شو.

مسئله ۱۵ :- دَ مرګ نه پس به ئے په مال کښے اول کور کفن او شي بیا قرضه دَ هرڅه نه اول ده که وصیت ئے کړے وی او که نه او دَ بی بی مهر هم قرضه کښے دے ـ نو که دَ قرضے نه څه پاتے شو او س وصیت دے په دریمه حصه کښے به جاری شي او که وصیت ئے نه وی کړے یا دَ وصیت نه پس څه پاتے شو هغه دَ وارثانو حق دے دَ شریعت مطابق به تقسیمیږی دا دستور چه ټول مال جائداد چا ته پاتے شي که څوئی وے یا رور پلار وغیره نو ځانله ئے قبضه کړی دا په ګناه دے که دلته ئے ورنه کړی نو په قیامت کښے به بیا تے اغستے شي ـ دَ جینکو حصه هم شته.

مسئله ۱۶ :- دَ مړی په مال کښے دَ میلمنو میلمستیا کانے دَ خلقو خوړل سکل خیرات نه په کښے کول ټول ناجائز دی ـ دغه شان دَ مرګ نه پس او دَ دفن کولو نه اول چه دَ مړی په مال کښے کوم ویشل او د سقاط نه کوی دا هم حرام دی مړی ته ئے هرګز ثواب نه رسی ځکه ټول مال اوس دَ وارثانو دے نو دَ بل حق وهل او چا له ئے ورکول غلا کول دی ـ ټول مال به تقسیم شي بیا دَ وارثانو خوښه ده چه دَ شریعت مطابق ئے کوی نو خپله خوښه ئے ده ـ په دغه وخت کښے دَ هغوی نه اجازت اغستل هم جائز نه دی ځکه چه دا اجازت دَ زړه نه دے ـ صرف دَ شرم په وجه وی نو دا سے اجازت هیڅ اعتبار نشته.

مسئله ۱۷ :- دغه شان دا چه کوم دستور دے چه دَ هغه دَ استعمال کپړے خیرات ورکوی دا هم بغیر دَ وارثانو دَ اجازت نه جائز نه دی او که نابالغ وارثان په کښے وی نو بیا خو بالکل نه جائز کیږی ـ اول به ټول مال تقسیم کړے شي نو بیا دَ بالغانو خوښه ده چه دَ خپل مال نه څه ورکوی ور دے کړی ـ دَ تقسیم نه اول څه ورکول بالکل جائز نه دی

●—●—●—●—●

دجنت ملغلره ضميمه دجنت د کالي د پنځمې حصې

باب ۳ دحلال مال طلب کولو بيان

(۱) په حديث کښې دي چه دحلال مال طلب کول فرض دي پس د نورو فرضو نه يعنې د ارکانو د اسلام نه چه په بنده فرض دي پس په بنده دحلال مال طلب کول فرض دي يعنې د ارکانِ اسلام د فرضونه دے مرتبه دويمه ده- او دا د هغې سړي په ذمه دي چه ضروري خرچ ته محتاج دي دخپل ځان او دخپل اهلو عيال د ضرورت رفع کولو دپاره- او د کوم سړي سره چه د ضرورت مطابق موجود وي نو د هغه په ذمه فرض نه دي ځکه چه مال خو الله پاک د حاجت رفع کولو دپاره پيدا کړے دے چه بنده په خپل ضروري حاجتونه پوره کړي او د الله پاک په عبادت کښې مشغول شي ځکه چه په لوږه او لغړه عبادت نه کيږي- نو پس مال مقصود لذاته نه دے بلکه مطلوب لغيره دے نو چه په قدر د ضرورت حاصل شه نو خواه مخواه د حرص په وجه ئې طلب کول او زياتول نه دي پکار ځکه چه د مال حرص د خدائے تعالىٰ نه غافل کوئي او په گناهونو کښې مبتلا کوئي دے- او دا خيال ضرور پکار دے چه مال حلال وي د دې نه پلاس راشي د حرام مال طلب د مسلمان شان نه دے حرام مال بے برکته وي او حرام خور په دين دنيا ذليل او د الله پاک په لعنت کښې گرفتار وي او د بعضې جاهلانو دا خيال چه نن صبا حلال مال کوم حلال مال څوک کټلې شي دا سراسر غلط او د شيطان دهوکه ده دا ياد ساته چه په شريعت څوک عمل کوي نو د هغه د غيب نه مدد کيږي کچا چه نيت د حلالو وي او د حرامو نه د ځان ساتلو وي نو خدائے پاک ورله هم حلال مال ورکوي دا په تجربه سره ثابته شوے خبره ده چه چا خپل نفس د حرامو نه ساتلے دے نو هغوي له خدائے پاک بنه حلال مال ورکړے دے او دغه خلق د حرام خوروني زيات په راحت او عزت کښې وي او دا په قرآن او حديثو سره ثابته ده او خلق ئې د ديني خوصلې چه څوک د حق او صداقت په نظر سره او گوري نو هغه به چرته د شيطان په دې دهوکه او نه غوله ليږي چه حلال مال موندل نن صبا گران دي- خلق د مال په باره کښې ډير کم احتياط کوي ناجائزے نوکرئي کوي د خلقو حقونه وهي دا ټول حرام دي- او دا يادساتئ چه د الله پاک سره د هيڅ شي کے نشته څه چه په تقدير کښې وي هغه به ملاويږي نو بد نيتي کول او د ورځ نه د تلو تيارى کولو ته ضرورت څه دے او دا کومه داسے د عقل خبره ده- دحلال مال طلب چيرکم خلق کوي- ک الانسان اوبيري د پيدائش نه په دنيا کښې اصل مقصد د الله تعالىٰ عبادت کول دي او خوراک سکاک خومرئې د دے دپاره دے چه په بدن کښې د عبادت کولو طاقت پيدا شي دا مطلب نه دے چه شپه او ورځ دے په لټ توتو کښې مشغول دي او الله تعالىٰ دے هير کړي او نا فرماني دے کوي-

۲:- په حدیث کښې دي چه غوره خوراک دَ خپلو لاسو ګټه ده - او بې شکه دَ خدائ پاک نبي حضرت داؤد په دَ خپلو لاسو ګټه خوړه - مطلب دا دے چه دَ خپلو لاسو ګټه ډیره غوره خبره ده مثلاً څه کاروکسب کول او ځان په بل نه بارکول - او پیشه سپکه ګڼل نه دي پکار ځکه چه کسبونه پیغمبرانو کړي دي نو دَ پیغمبرانو نه زیات څوک دے بلکه دَ هغو برابر خو هم یو کس نه دے - په یو حدیث کښې دي چه یو نبي داسے نه دے تیرشوے چه هغه بیزے نه وي څرولي او دَ بعضے خلقو دا خیال وي چه که حلال مال ورسره وي لیکن دَ خپل لاس ګټه نه وي په میراث کښې ورته پاتے شوے وي یا په بل څه ذریعه ئے لاس ته راغلے وي نو بیا هم خامخا دَ خپلے ګټے په فکر کښې وي او دا په عبادت کښې دَ مشغولیدو نه غوره ګڼړي دا سخته غلطي ده بلکه دَ داسے سړي دَ پاره په عبادت کښې مشغولیدل غوره دي چه څه په اطمینان سره ورته رزق حاصل وي چه الله دَ رزق دَ فکر نه بے غمه کړے او دے ئے نور فکر کوے نو دا ناشکري ده چه اوس عبادت نه کوے او دَ مال په زیاتي کولو کښې اخته ئے - بلکه حلال مال چه په نیکه طریقه په لاس ورغے نو دا دَ الله پاک نعمت دے قدرئے کوه او په انتظام ئے خرچ کوه فضولیات او عیاشۍ پسے مکوه - او دَ حدیث مطلب دا دے چه څوک دے په چا ځان نه بارکوي او خیرات دے نه غواړي کله چه داسے خاصه مجبوري نه وي کومه چه شریعت مجبوري ګڼړي او پیشه دِ سپکه نه ګڼړي - او حلال مال دِ طلب کوي کمائي دے عیب نه ګڼړي - دَ حدیث غرض دا نه دے چه سوا دَ خپل لاس دَ ګټے نه که په حلال بل طریقه مال په لاس راشي خو هغه حلال نه دے یا دَ لاس دَ ګټے برابر نه دے بلکه بعضے مال دَ لاس دَ ګټه نه هم زیات وي - او بعضے ناپوهان دَ خدائے په خاصو بندګانو چه متوکلین وي طعن کوي او په دلیل کښې دا حدیث پیش کوي کوم چه ذکرشه چه دوي له دَ خپلو لاسو ګټه په کار ده محض په توکل کیناستل او په نذرانو ګذاره کول ښه نه دي - دا دوي سخته ناپوهي ده او دا اعتراض خو دَ حضور صلے الله علیه وسلم پورے رسي یزید ل پکار دي چه په داسے بزرګانو لعن طعن کولو سره او بے ادبي سره پے آفت نازل نه شي - هلکه دَ اولیاؤ الله په بے ادبي سره خو دَ ایمان دَ تلو یره ده - الله تعالی دے داسے سړے دَ هغې ورځے نه ورک کړي په کومه ورځ چه په بزرګانو اعتراض کوي - زه دا وایم چه په قرآن او حدیثو دَ غورکولو نه دا صاف معلومیږي خو په دے شرط چه په انصاف او حق سره ورته فکر او شي چه په کوم سړي کښې دَ توکل شرطونه موند بے شي دَ هغه دَ پاره توکل دَ ګټے دَ تے نه په هزار درجے غوره دے او دا اعلی مقام دے دَ مقاماتو دَ ولایت نه - حضور صلے الله علیه وسلم پخپله متوکل وه او کومه آمدني چه دَ متوکل ده هغه دَ لاس دَ ګټے نه ډیره غوره ده - او په دے کښې خاص برکت او نور دے چا ته چه الله تعالی دا مرتبه ورکړے ده او بصیرت او فهم او نور ئے ورته عطا کړے

دے هغه ئے په ښکاره سترېږ و برکت وینې - د نور تفصیل دا مقام نه دے خو صرف دومره ځان پوهه کول پکار دی چه دا قول سراسر غلط دے کوم چه بیان شه او ډیره د بے انصافۍ خبره ده چه یو څپله د نیک کار نه محرومه وی او بل په دا نیکانو لعن طعن کوی خدائے تا به پکوم مخ مخامخ کیږی چه په دوستانو ئے ورپسے وی - او علاوه د دے فائدے نه کومه چه بیان شوه په توکل کښے نورے ډیرے دینی فائدے وی - او هغه متوکلین چه د خلقو تعلیم کوی نو د هغوی خدمت کول په قدر د ضروری خرچ پوره کولو فرض دی او څپل حق د دنیا دارانو نه اخستل کومه بدی شوه - حالانکه غیرمتوکلین خوئے په جنګ جدل او زور د خلقو نه وصولوی - او متوکلین خوئے ډیر په تهذیب او شکریو سره څپل حق قبلوی - او په نن راننه قبلولو کښے چه ذلت نه وی او په استغناء او بے پروائۍ سره ئے اخلی او خصوصًا چه په واپس کولو کښے ئے د ورکونکی دل شکنی وی نو په دے کښے غوره والے او غوره والے دے - حقیقت دا دے چه متوکلینو حضراتو ته خو ډیره په عزت روزی ملاویږی مګر چه د هغوی نیتونه او توجه محض د خدائے په بهروسه وی - مخلوق ته ئے نظر نه وی - او څوک چه د مخلوق نه طمع ساتی او د هغوی په مال ئے نظر وی هغه دهوکه باز دے هغه د دے خبرے ځونږ دے هم ډېر دے مونږ د رشتونو متوکلینو حال بیان کړے دے - چالره سپک کتل خصوصًا بیا خاصانو د خدائے لره خو ډیر سخت ګناه دے - او د هغوی خو په دے کښے څه نقصان نشته بلکه فائده ده ځکه چه د قیامت په ورځ به د دے بد ویونکو نیکۍ هغوی ته ملاویږی تباهی خو د هغوی ده چه بدئے وائی - او دا هم یادساته چه شریعت هرچاته د توکل اجازت نه ورکوی د توکل شرطونه پوره کول ډیر ګران دی نو داسے کسان ډیر کم دی بلکه معدوم دی - او ډیر خه شے همیشه کم وی - الله تعالی دے تاسو او مونږ له د عمل توفیق راکړی - بس -

۳ ! - په حدیث کښے دی چه الله تعالیٰ پاک دے او پاک قبلوی - یعنی الله تعالی پاک مال قبلوی حرام مال هلته نه قبلیږی - بلکه عالمانو فرمایلی دی چه حرام مال خیرات کول او د ثواب امید ئے لرل کفر دے - او الله پاک حکم کړے دے پیغمبرانو ته د هغه څیز د کوم چه ئے حکم کړے دے پیغمبرانو ته - پس فرمایلی ئے دی چه اے پیغمبرانو خورئ پاک څیزونه یعنے حلال او عمل کوئے ښه - او فرمایلی دی الله تعالی اے ایمان والو خورئ پاک څیزونه کوم چه مونږ تاسو له ورکړی دی - بیا او فرمائیل حضور د هغه سړی چه اوږد سفر کوی (د حج یا د طلب د علم د پاره) په دے حال کښے چه پراګنده حال او ګرد آلود وی (د سفر د وجهٔ نه) او لاس اوچت کړی آسمان ته او وائی چه اے ځما ربه اے ځما ربه (یعنے بار بار سوال کوی چه رحم او کړه او مقصود م حاصل کړه) حالانکه د ده خوراک حرام وی

څکاک ئې حرام وي لباس ئې حرام وي او پالل شوے وي په حرامو کښې یعنې په حرام
گذاره کوي او په حرامو پاللے شوے وي- البته چا له چه مور وپلار په ورکو توالي کښې
په حرامو لوئے کړے وي او بیا دے لوئے شي د خپلے کښے شي او ځان د حرامو نه ساتي هغه کوے
حکم نه با هرجے د نا بالغ والي ښه او ل گناه ئې د مور و پلار دے - نو پس ځنګه به قبوله کړے
شي د ده دُعا (مسلم) یعنې سره د دومره مشقتو نو نه د حرام مال د استعمال په وجه
د ده دُعا نه شي قبلیدے - او که سره د دے ئې هم مقصود حاصل شي نو هغه د دُعا وجه
به نه وي بلکه دا به د تقدیر وجه وي لکه د کافر نو مقصود ونه چه پوره کیږي
او د دعا د قبلید و معنی دا ده چه الله پاک به ده د رحمت نظر اوکړي او د دے رحمت په
وجه د ده مقصد پوره شي او په دے طلب ورته ثواب حاصل شي - نو دا هغه چا ته حاصل
کیږي چه د شریعت پا بند وي او د الله پاک نه مقصود طلب کړي - نو معلومه سوه چه
د حلال خوراک لوئے برکت دے او دا قعي لوئے تاثیر ئے دے او د حلال مال په خوراک
نیکۍ قوت پیدا کیږي او انداموته د عقل تابعدار کیږي - حضرت امام غزالیؒ د حضرت سهیلؒ
نه نقل کوي چه څوک حرام خوري د ده اندامونه د عقل تابعداري پریدي - یعنې عقل ورته
نیکۍ حکم کوي او دوي ئې اطاعت نه کوي لیکن دا خبره هغه حضرات ته معلومیږي چه د هغه
د زړه سترګے روښانه وي او د چا چه د زړه سترګے ړندے وي په هغوي هیڅ اثر
نه وي- الله تعالیٰ دے مونږ ته د زړه حس او نظر او بینائي نصیب کړي - آمین -
۴:- حضرت عبد الله بن مبارک (د حضرت امام اعظمؒ شاګرد) فرمائي چه ما ته د شکنے یوے روپۍ
واپس کول (چه ما ته په څه ذریعه ملاؤ شي) زیات محبوب دي د شپږ لکه روپو خیرات کولو نه
نو د دینه دا اندازه کول پکار دي چه شکمن مال څومره بے قدره دے - افسوس چه خلق خو
بنکاره په بنکاره حرام کوي مال غواړي د هر طرفه چه وي - د حرام مال نه ځان ساتل هر چا له
ضروري دي ډیر احتیاط ئے کول لازم دي د حرام مال نه د نفس بیشماره خرابئ پیدا کیږي
دا د انسان هلاکونکے دے -
۵:- په حدیث کښے دي چه حضورؐ فرمایلي دي حلال ښکاره دي او حرام ښکاره دي او د دوئ
دواړو په مینځ کښې د شک څیزونه دي (چه په حلت او حرمت کښې ئې شک وي) چه په
بعضے اعتبار سره حلال وي او په بعضے اعتبار سره حرام وي چه ډیر خلق ئے نه پیژني او
ډیر کم داسے خلق دي چه هغوي ئې پیژني چه لوئي عالم او متقي او پخپل علم عمل کونکي دي
پس چا چه ځان او سا ته د شُبه د څیزونو نه بچ کړو هغه خپل دین له ربیعے د دوزخ
د عذاب ورته پناه ملاؤ شوه) او او ئې سا ته خپل عزت (ځکه چه خلاف شرع خلقو ته خلق
بد ردوائي) او څوک چه واقع شه د شُبه په څیزونو کښے هغه واقع شه په حرامو کښې (ځکه
چه د شُبه د څیزونو نه څوک پرهیز نه کوي هغه اخر په حرامو کښے واقع کیږي - نو څوک چه

دَ مال په باره کښې احتیاط نه کوی هر څه قبلوی هغه عنقریب په حرامو کښې واقع کیږی نفس همیشه دَ شریعت قیدی جوړه ول پکار دی چرته ورله ازادی ورکول نه دی پکار اوګوداسے مال خوښول چه په دے کښې حرام څومره دی او حلال څومره جائز دی لیکن مکروه دی۔ او رفته رفته دَ شبهه دَ څیزونو په خوراک په حرامو کښې دَ مبتلا کیدو سخته یره ده نو پکار دی او دَ حمت خبره داده چه دَ شبهه دَ څیزونو نه ځان بچ کړی) مثال ئې دَ هغه شپونکی دے چه څروی دَ هغه چراګاه په خوا کښې چه بادشاه منع کړے وی نو قریبه ده چه دے هم دغه چراګاه ته داخل شی۔ (نو لکه څنګه چه جانوران دَ داسے چراګاه په خوا کښې څرول چراګاه ته ئې دَ اوختو یره ده دغه شان دَ نفس هم دَ شبهه په څیزونو کښې داخته کولو نه دَ حرامو په واقع کیدو کښې یره ده۔ (او دا خبره یاده ساتل پکار دی چه خود رو وابنه دَ ځان دَ پاره خاص کول او دَ نورو څاروی ته منع کول زمینه ارول جائز نه دی نو دلته فقط دَ مثال په طور بیان شوی دی)۔ او خبردار شئ چه دَ هر بادشاه یو چراګاه وی (چه حفاظت ئې کولے شی) او دَ خدائے پاک چراګاه (چه حفاظت ئې کولے شی) دَ هغه محارم دی (یعنې کوم څیزونه چه هغه حرام فرمایلی دی۔ نو څوک چه دَ هغه په حرامو کښې واقع کیږی هغه دَ الله پاک خیانت کوی او دَ بادشاه خیانت بغاوت دے او الله پاک خو دَ ټولو نه لوئے بادشاه دے نو دَ هغه خیانت دَ ټولو نه لوئے خیانت دے او اعلیٰ درجه بغاوت دے نو سزائے هم ډیره لویه ده) خبردار چه دَ انسان په بدن کښې یو بوټئ ده چه هغه روغه وی ټول بدن به روغ وی او چه هغه فاسده او خرابه شوه ټول بدن به فاسد او خراب شی خبردار هغه بوټئ زړه دے (رواه البخاری) (یعنې زړه دَ ټول بدن بادشاه دے نو چه زړه ټهیک وی ټول اندامونه به ټهیک وی او دَ زړه ټهیک والے په طاعت سره دے (دَ الله په عبادت سره) په ګناه کولو زړه توریږی حاصل دا شو چه دَ نیکو وجود موقوف دے دَ زړه په روغ والی او صفائی او دَ زړه صفائی په حلال خوراک سره راځی نو په دے کښې ترغیب شو حلال خوراک ته) ۔

۱۶- په حدیث کښې دی چه حضور ﷺ فرمایلی دی هلاک دے کړی الله پاک یهود حرام شوه وے په دوی بانډې چربیانے نو دوی به ویلی کولے او بیا به ئې خرڅولے (متفق علیه) (یعنې دا حیله به ئې کوله چه چربی به ئې نه خوړه خو دَ هغې پیسے به ئې خوړے او دا به ئې ګنړله چه مونږه خو چربی نه خورو حال دا دے چه دَ دے مطلب دا شو بلکه مطلب دا وه چه کرو به په هیڅ قسم نفع نه اخلئ۔ نن صبا هم زمونږ بعضے سود خوره دوا قسم حیلے پیدا کړی دی چه په ظاهره دَ سود نه بچ شی او په حقیقت کښې سود خوری لیکن الله پاک عالم الغیب دے دَ زړه رازونه هم ورته معلوم دی)

۱۷:- په حدیث کښې دی چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی نه ده دا خبره چه پنډ؟

حرام مال او ګټي او بیا صدقه کړي د هغې نه او قبوله شي او نه دا چه خرچ کړي د هغې نه برکت په کښې او شي. او نه دا چه د ځان نه ئې وروستو پریدي او دا د ده توښه شي بلکه شي ده لره دا مال دوزخ ته رسونکے (بلکه علماء فرمائي چه حرام مال صدقه کړي او د ثواب امید لري نو دا کفر دے. او حرام مال کسانو ئې فقیرانو د ثواب په نیت ورکړے وي او هغه ته معلوم وي چه دا حرام مال ئې ماله راکړه او دعا ئې ورته او کړه نو دے هم کافر شه د دعا ئې او ته په تول. او که د ځان نه ئې وروستو پاتے کړے نو مړے به پے میراث خواره کوي او عذاب به دے څکي. غرض دا دے چه په حرام مال کښې بغیر د ضررا و ضررونه هیڅ نفع نشته) بے شکه الله تعالیٰ نه لرے کوي بدائي په بدائي سره (چه حرام مال خیرات کول ګناه دے نو په ګناه سره به ګناه څنګه لرے شي) لیکن لرے کوي بدائي په نیکئ سره (یس حلال مال صدقه کول د ګناهونو کفاره ده خو چه د شریعت موافق خیرات شي) په تحقیق سره خبیث (یعنے مال حرام) نه لرے کوي خبیث (یعنے ګناه) لره. (رواه احمد)

۸:- په حدیث کښے دي چه جنت ته به هغه غوښه بنه داخله نه شي چه پاللے شوے او لویه شوے ده په مال حرام سره او د داسے غوښه پسے لایق جهنم دے. (رواه احمد) یعنے حرام خوربه بغیر د سزا څکلو جنت ته داخل نه شي ځکه چه که مسلمان مړه وي نو د کفارو پشان همیشه به دوزخ کښے نه شي پاتے کیدے. د سزا څکلو نه پس به جنت ته ځي. او که حرام خور د مرګ نه مخکښے توبه کړي وي او د چا حقوق چه ئې په ذمه وه هغه ئې ادا کړه نو بیا بے شکه چه الله پاک به ئې دا ګناه معاف کړي او د دے عذاب نه به خلاص شي.

۹:- په حدیث کښے دي چه بنده تر هغې پورے پوره پرهیزګار نه شي جوړیدے چه پرے نه دي هغه شے چه په هغې کښے هیڅ ډیره نه وي په سبب د هغې شي چه په هغې کښے ډیره وي. (ترمذي و ابن ماجه) یعنے یو شے بالکل حلال دے او یو کار مباح او جائز دے مګر په دے کښے د متوجه کیدو او د داسے مال د خوړلو د څه ګناه کیدو ډیره وي نو دغه حلال مال هم نه خوري او دغسے جائز کار هم نه کوي ځکه چه د دے په ذریعه د څه ګناه کیدو ډیره وي. او د ناکاره کار ذریعه هم ناکاره وي. مثلاً په خه خوراک او جامو کښے مشغولیدل جائز او حلال دي مګر د حد نه په زیاتو لذتونو کښے د مشغولیدو نه د ګناه صادریدو ډیره ده نو کمالِ تقویٰ او پرهیزګاري دا ده چه د داسے کارونو نه ځان او ساتي. یا د شبهه مال خوړل مکروه دي لیکن د نفس بے قابو کیدو ډیره په کښے ده، نو ځان ترے ساتل پکار دي).

۱۰:- د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه د حضرت ابوبکر صدیقؓ یو غلام وه چه هغه به ئې خراج ورکاوه (مطلب دا دے چه یو غلام څه محصول مقرر کړي چه ته به مالک ته هره میاشت کښے دومره روپئے ورکوے دغه ته خراج وائي) پس حضرت ابوبکرؓ به د غلام هغه محصول خوړلو.

یوه ورځ هغه غلام یو شے د خوراک راوړه وحضرت ابوبکرؓ له ئې ورکړه او هغه او خوړه
نو غلام ورته اووے چه تاته معلومه وه دا شے تا چه اوخوړه تا لاس له څنګه راغلے
وه؟ نو حضرت ابوبکرؓ ورته اووے چه دا څه شے وه؟ نو هغه غلام اووے چه په
جاهلیت کښې به ما د کاهنانو پیشان کار کولو (یعنې لکه کاهنان چه خلقو ته د غیبو
خبرونه ورکوی داسے به ما هم ورکول) خوزه په دے فن پوره پوهه نه وم نو یو
سړی ته ما دهوکه ورکړے وه (یعنې څه خبره مې ورکړے وه په دهوکه سره) او هغه ما ته
ملاؤ شه نو دا شے چه تا اوخوړ هغه ما ته راکړه د هغے په ذریعه (یعنې د هغې خبرے
په عوض کښې کومه چه ورته ما خوړلے وه) نو هغهٔؓ خپله مرئی کښې لاس ورننه کړه
او څهٔ چه ئې خوړلی وو هغه ئې قے کړه (یعنې هر څه ئې را او غورزه ول) حالان دا دے
کاده قے کړی نه وے نو هم ده لره هو څه ګناه نه وه (لیکن کمال تقوٰی داسے وی)۔
۱۱:- په حدیث کښې دی چه که چا په لس روپۍ کپړے واخستے او یوه په کښې حرامه
وه نو ترڅو ئې چه دغه کپړه په بدن پورے وی الله پاک د ده مونځ نه قبلوی او دغه
سے نور اعمال۔ (د خدائے نه یره پکار ده چه اول خو د خلقو عبادت څه عبادت نه وی
او کوم چه وی هغه دغسے ضائع شی نو د قیامت په ورځ به څه جواب وی)
۱۲:- په حدیث کښې دی چه حضورؐ فرمائی څه داسے څه شے نه وینم چه تاسو جنت ته
نژدے کړی او د دوزخ نه مو لرے کړی مګر ما ئې تاسو ته حکم کړے دے (یعنې جنت
ته د داخلید او د دوزخ نه د بچ کید و ټول اعمال م تاسو ته خودلی دی) او څه داسے
شے نه وینم چه تاسو د جنت نه لرے کړی او دوزخ ته مو نژدے کړی مګر تاسو تے
مامنع کړی ئې (یعنې د جنت نه د لرے کونکو او دوزخ ته د داخلونکو کارونو نه م
تاسو منع کړی ئې۔) او بے شکه جبرائیل آمین ما په زړه کښې غورزه ولے ده
چه یو نفس به تر هغے پورے مړ نه شی چه ترڅو خپل رزق پوره نه کړی۔ اګر چه
پس ورته ملاؤ شی (یعنې په تقدیر کښې چه ئې کوم رزق مقرر دے که ذر وی او که پس
خو چه ترڅو ئې هغه نه وی ختم کړے مړ به نه شی) یعنې خپل رزق به خامخا پوره
کوی نو په نیت خرابولو او حرامو خوړلو سره دے زیاتولے نه شی۔ د خدائے نه
یره کوه او په هغه بهروسه کوه او په وعده ئې یقین کوه او د حرامو نه ځان ساته
او اختصار کوه په طلب د رزق کښې (یعنې بے حده په دنیا پسے مه ورپسے کیږه حرص مه کوه)
او د رزق پس ملاویده دے تا دے ته هرګز تیار نه کړی چه ته ئې طلب کول شروع کړے
په ګناه سره (یعنې د رزق په ملاوید و کښې دے ورستی والے راشی نو ته ئې په حرامو طریقو
سره حاصلول شروع کړے د وخت نه مخکښې چرته نه ملاویږی) ځکه چه د الله تعالیٰ دا
شان دے چه نه شی حاصلولے هغه شے چه د هغه سره دے رزق او یا بل څه شے چه وی

دَ هغه په ثنا فرمائي سره (رواه ابن ابی الدنیا فی القناعة والبیهقی فی المدخل)

۱۳:- په حدیث کښې دي چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چه په لسو حصو کښې نهٔ حصې رزق په تجارت کښې دے (یعنې دَ ډیر آمدنۍ ذریعه تجارت دے)

۱۴:- په حدیث کښې دي چه حق تعالیٰ دوست لري هغه مؤمن لره چه محنتي او پیشوَر وي پرواه نه کوي چه څهٔ ئې اغوستي دي (یعنې دَ محنت مشقت په وجه ئې جامې کنده خیرنې خچنې وي او دومره وخت ورته نه وي چه صافې ئې کړي- لیکن کوم سړے چه مجبور نه وي نو دَ صفائۍ سره سره ورلره سادګي ضروري ده)

۱۵:- په حدیث کښې دي چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چه ما ته داوحیٔ نه ده شوے چه زه مال جمع کړم او زهٔ دَ تجارت کونکو نه یم لیکن وحیٔ کیږي ما ته چه دَ الله پاکی بیان وم دَ هغه دَ ثنا سره- او شم دَ سجده کونکو نه (یعنې دَ هغې خلقو نه شم چه همیشه مونځ کوي) او دَ خپل رب عبادت کوم ترهغې چه تا له مرګ راشي (یعنې دَ حاجت نه زیات په دنیا کښې مه مشغولیږه) البته چه متوکّل وي نو هغه ځانله خبره ده

۱۶:- دَ حضرت جابرؓ نه روایت دے چه نبي کریم صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي رحم دِ دے اوکړي الله تعالیٰ په نرمي کونکي سړي کوم وخت چه څه اخلي، او کوم وخت چه څه خرڅوي او کوم وخت چه خپل قرض غواړي (سبحان الله څومره لوئي درجه ده دَ نرمي کونکي په وخت دَ اغستو او خرڅولو کښې او دَ قرض غوختو کښې چه حضور ورته خاصه دُعا فرمائیلې ده او دَ هغوئ دعا یقینا مقبوله ده) که دَ دے نرمۍ او رعایت فقط دا ثواب وے نو دا هم لوئے غنیمت دے لیکن دَ معاملې په وخت کښې نرمي کونکو ته به نور ډیر ډیر ثوابونه ملاویږي) نو تاجرانو له پکار دي چه په دے حدیث عمل اوکړي او دَ حضورؐ دَ دعا مستحق شي- نو کوارګک په دنیا کښې ئې هم ډیره نفع ده خلق دَ داسے خلقو په معامله بانِ خوشحاله وي او تجارت ئې ډیرخه چلیږي. خلق ورته رامات وي او دَ ډیرے خوشحالۍ په وخت کښې ورته کله کله دعا کانےم کوي واقعي خبره ده چه په شریعت عمل کونکے په دین دنیا بادشاه وي او ژوند ئې بشهٔ په آرام وي او خوشحالۍ وي (رواه البخاری)

۱۷:- په حدیث کښې دي چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چه تاسو ځان او ساتۍ دَ ډیرو قسمو نو دَ خوراک نه په خرڅولو کښې (په دے خیال سره چه دا شي په ځهٔ قیمت خرڅ شي ځکه چه په ډیرو قسمو نو کښې به څه نه څه خامخا دروغ وي او په دے بے برکتي او دَ الله دَ نوم بے ادبي کیږي البته که چرته داسے اوشي نو خیر دے) ځکه چه په تحقیق سره دغه قسمونه هغه مال اعتباري کوي او بیا دے سره بے برکتي راځي چه دَ دین او دنیا دَ نفعو نه محرومي ده-

۱۸:- په حدیث کښې دی چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه رشتونی تاجر په خبرو او معامله کښې به د قیامت په ورځ د انبیاؤ علیهم السلام صدیقانو او شهیدانو سره وی (یعنې رشتونی تاجر به د قیامت په ورځ د انبیاؤ علیهم السلام او صدیقانو او شهیدانو په ملګرتیا کښې وی او د دوزخ د عذاب نه به په امن وی- او د ملګرتیا نه دا مراد نه دے چه د دوی هومره درجه به ورته ملاویږی بلکه یو خاص قسم بزرګی ته مراد ده کومه چه د لویو خلقو سره په اوسیدو حاصلیږی- لکه یو سړے په دنیا کښې یو بزرګ له دعوت اوکړی نو خادمان به خامخا ورسره وی لیکن کومه درجه چه د میلمستیا کومکی په نقل کښې د هغې بزرګ ده د خادمانو ئے نه ده لیکن بیا هم د غه خادمان د دغې بزرګی په وجه په دغه دعوت کښې یو شان شریک دی او بیا خاص کر د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتیا خو یو لوئے دولت دے هیڅ دے نه وی خو چه د هغوی دیدار او د هغوی په خواکښې ناسته یو لوئے نعمت دے- نو مسلمانانو له پکار دی چه ځان د دے مستحق کړی (الله پاک دے پخپل فضل سره مونږ د هغوی په تعلیماتو عمل کونکی او د هغوی د ملګرتیا په اخرت کښې مستحق کړی- آمین یارب العلمین) مترجم

۱۹:- په حدیث کښې دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی اے د تاجرانو ټولګیه بے شکه بیعه دا سے شے دے چه اکثر په کښې لغوه خبرے کیږی او قسمونه په کښې خوړے شی پس ملاؤ کړئ په دے کښې صدقه (ځکه چه صدقه به د دغه لغویاتو او قسمونو چه بلا قصده د رنه خوړلی شوی وی کفاره شی او په زړه کښې چه کوم خیرے پیدا شوے وی هغه به لرے شی- او د لغوه نه مراد بے کاره خبرې دی)

۲۰:- په حدیث کښې دی چه تجارت کونکی به د قیامت په ورځ فاجر او ګناهګار پورته کړے شی مګر څوک چه اوویریدو او رشتیا ئے اووے (او په اغستو خرڅولو کښې ئے څه ګناه اونه کړه نو هغه به د دے وبال نه بچ کړے شی) -

دویمه ضمیمه د جنت د کالی د پنځمے حصے

بسم الله الرحمن الرحیم

باب ۳ د بے ضرورته قرض اغستو بدوالے

حدیث (۱):- د ابو سعید خدری رضی الله عنه روایت دے چه ما حضور صلی الله علیه وسلم په دے ویلو لیدلے دے او ریدلی م دی تے (اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْکُفْرِ وَالدَّیْنِ) ترجمه:- زه پناه غواړم په خدائے پاک سره د کفر او د قرض نه- یو سړی ورته اووے یارسول الله تا سو قرض د کفر سره برابر وی اوئے فرمایل هاں - (نسائی، حاکم)

ته وا تو د احادیث د ترغیب ترهیب د حافظ منذری نه را اغستے شوی دی ۱۲

حدیث (۲) دَ عبد الله ابن عمرؓ نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمائلی دی چه قرض دَ خدائے جهنډا دہ په زمکه کښے کله چه هغه یو بنده ذلیل کول غواړی نو په گردن ئے دَ قرض بوجه کیدی (حاکم علی شرط مسلم)

حدیث (۳) دَ ابن عمرؓ نه روایت دے چه ما دَ حضور صلے الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه یو سړی تهٔ ئے داسے وصیت فرمایه چه گناه کم کړه مرگ به در باندے اسان شی او قرض مه اخله چه ازاد ژوند تیره وے (بیهقی)

حدیث (۴) دَ حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه کوم سړے دَ خلقو مال دَ ادا کولو په نیت سره واخلی نو حق تعالیٰ دَ هغه قرض ادا کوی او کوم سړے چه دَ خلقو مال دَ ضائع کول او وهلو په نیت سره واخلی نو خدائے تعالیٰ هغه تباه کوی (بخاری ابن ماجه وغیره)

حدیث (۵) دَ حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه څما په امت کښے کوم سړے دَ قرضو نو څه شی بیائے دَ ادا کولو پوره کوشش کوی بیا دَ ادا کولو نه اول مړ شی نو زهٔ ئے مددگار یم (احمد ابویعلیٰ الطبرانی) (مطلب دا دے چه دَ ضروری اخراجاتو نه علاوه نور خرچ بالکل بند کړی او په ضروری طرح کښے هم کفایت کوی او چه څه باقی پاتے کیږی لږ یا ډیر قرض تهٔ ئے ځیلمه کوی او په کور کښے دَ ضروری حاجت نه سوا نور سامان هم نه ساتی او سره دَ دے کوشش نه ئے قرض ادا نه شی نو دَ هغه دَ پاره دا وعده ده)

حدیث (۶) میمون کردیؒ دَ خپل پلار نه (چه صحابی دے) روایت کوی چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چا چه دَ یوے ښځے سره په لږ یا ډیر مقدار مهر نکاح او کړه او په زړه کښے ئے دَ مهر ورکولو نیت نه وه بلکه دهوکه ئے کوله او بیا بغیر دَ ادا کولو نه مړ شه نو دَ قیامت په ورځ به زناکار جوړ شی دَ خدائے مخے ته به حاضریږی او چا چه دَ چا نه قرض واخست او دَ ادا کولو نیت ئے نه وه بلکه په دوکه ئے مال واخست او بیا بغیر ادا کولو نه مړ شه نو دَ خدائے مخے له به دَ غل په جوړ راځی (رواه الطبرانی فی الصغیر ورواته ثقاة) (دَ فکر مقام دے چه دَ ښځے سره نکاح په دهوکه او کړی نو چه اولاد وے او شی هغه به ځنگه وی ځکه چه دے خو ناکاره شه نو اولاد به څه ادائی) نن صبا زمونږه اکثر پښتانه دَ نوره دَ نکاح په وخت کښے مهر مقرر کړی خو ورکوی ئے نه او بیا په دهوکه سره په پردی کالی کښے به واده او کړی هغه به تے بیا واخلی او بیځه غریبه که بیا دَ مهر مطالبه کوی نو مرگی ئے په سر کړ پاسه ولاړ وی او بیا دَ دے وجه هغه بیا رټله قدرے هم نه شی کولے دَ هغے غریبے حق به هم ومنی نه او دَ خپل خدمت او حق په معمولی کوتاهئی به دَ غریبے نه لوړے تنبوی په کتا نو به لگی دَ لکتو او خپلو غریب به پے جوړ وی او دَ طاقت نه سوا کار و نه به تے لکه دَ کراے

د ابنې اَخلې اوچې به تې هم را وړی چه داځماځی دی افسوس دے په دا سے مسلمان چه تش د مهر په نه اداکولو خوبه د خدائے مخے له زنا کار ځی نو چه دا ظلم او زیاتے ئے کړے دے د دے په وجه به ئے څه حال وی) (مترجم)

حدیث[۷] عمر بن شرید د خپل پلار نه (چه صحابی دے) روایت کوی چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د شته مند قرضه حصاره ول د ده مال او آبرو حلالوی (ابن حبان و حاکم) یعنے کوم سړے چه په قرض اداکولو باندے قادر وی او نه ئے اداکوی نو قرض خواه د ده ابرو ریزی کولے شی او په ردورته ویلے شی او په خلقو کښے ئے بد معاملګی مشهوره ولے شی او خپل حق تے په ښکاره یا په پټه وصول کولے شی)۔

حدیث[۸] د ابوذر رض نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه الله پاک د درے تنو نه ډیر نفرت کوی۔ یو بوډا زناکار۔ دویم مفلس متکبر۔ دریم مالدار ظالم نه (چه په قرضه اداکولو کښے ټال مټول کوی او ظلم کوی) (عن ابن خزیمه، ابوداؤد، نسائی، ترمذی وغیره)

باب[۳] دَقرض اَداکیدو دُعا

حدیث[۹] حضرت علی رض له یو مکاتب راغے چه زه د کتابت د رقم اداکولو نه عاجزه شوے یم ځما مدد او کړه نو هغوئ ورته او وے چه زه به درته یو څو کلمے او ښایم چه ما ته رسول الله صلے الله علیه خودلے دی۔ که په تا باندے د خیبر د غر هومره قرض وی نو الله پاک به ئے اداکړی دا دی[۱]۔ اَللّٰهُمَّ اکْفِنِیْ بِحَلَالِکَ عَنْ حَرَامِکَ وَاَغْنِنِیْ بِفَضْلِکَ عَمَّنْ سِوَاکَ۔ (رواه الترمذی وقال حسن غریب۔ والحاکم وقال صحیح الاسناد)

حدیث[۱۰] د انس بن مالک رض نه روایت دے چه حضور صلے الله علیه وسلم معاذ بن جبل رض ته او فرمایل چه زه تا ته داسے دُعا ولے او نه ښایم چه که په تا د غر هومره قرضه وی هغه به هم الله تعالیٰ معاف کړی هغه دا ده[۲]۔ اَللّٰهُمَّ مَالِکَ الْمُلْکِ تُؤْتِی الْمُلْکَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْکَ مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِیَدِکَ الْخَیْرُ اِنَّکَ عَلٰی کُلِّ شَیْئٍ قَدِیْرٌ رَحْمٰنَ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ وَرَحِیْمَهُمَا تُعْطِیْهِمَا مَنْ تَشَآءُ وَتَمْنَعُ مِنْهُمَا مَنْ تَشَآءُ اِرْحَمْنِیْ رَحْمَةً تُغْنِیْنِیْ بِهَا عَنْ رَّحْمَةِ مَنْ

---

[۱] دا ډیره مجربه دُعا ده بار بارا زموده شوے ده خو اعتقاد او په الله تعالیٰ باندے بهروسه شرط ده۔ [۲] دا هم ډیره مجربه ده ډیرو خلقو آزمائیلے ده بحمد الله د ټولو حاجتونه پوره شوی دی۔ د دے دُعا او دے مخکښے دُعا د پاره په حدیث کښے څه شمار یا وخت نه دے مقرر شوے لهذا کم نه کم د هما ځه نه پس دوه دوه پیرے لوستل پکار دی او زیات د هر سړی د خپل فرصت او طاقت مطابق چه هر څومره لوستے شی مقدار او وقت دے ورله مقرر کړی۔ شبیر علی۔

سوا تی (رواه الطبرانی باسناد جید فی الصغیر)

د شلورمے او د پنځمے حصے د لوستو طریقه

۱- په دے دواړو حصو کښے د نکاح طلاق خرید فروخت معاملاتو وغیره مسئلے اجمالاً د فقهِ د کتابونو نه ذکر شوې دی او احکام ئے هم ذکر دی۔

۲- د دے دواړو حصو مسئلے ډیرے باریکے دی نو وړو ته د دے لوستل نه دی پکار ځکه چه دا وخت دا مسئلے د هغوی په ذهن کښے نه کینی نو پکار دی چه د دریمے حصے د لوستو نه پس ورته شپږمه حصه شروع شی او بیا چه د دے قابلے شی نو او دے لولی۔

۳- د مسئلو د وینا سره لیکل او کومے مسئلے په شلورمه حصه کښے چه شرمناکے دی هغه پاتے کول چه بیا بوهه شی نو ځان له به ئے پخپله کوری یا ورته بیا ورستو د خپلے بی بی په ذریعه ایزده کول- او امتحان ته اغستل او کومے مسئلے چه ئے لوستے وی د هغے خلاف کولو ورته زور نه اوتوکنه کول مناسب دی۔

۴- نکاح خوان قاضی له پکار دی چه هغه دا مسئلے یاد کړی نو په نکاح لوستو کښے به غلطئ نه کوی۔ او کومے ښځے چه په دے مسئلو پوهه شی هغوی دے خپلو ناپوهه خاوندانو ته هم زبانی دا مسئلے ایزده کړی چه دواړه ښځه خاوند په نکاح کښے د فرق پریوتو نه بچ شی او ګناهګار کیږی۔

۵- د قرآن مجید د صحیح لوستو قاعدے دے ښه په کوشش سره ایزده کړی چه د غلط لوستو د ګناه نه بچ شی۔

۶- د حقد ارو د حقوقو هم ډیر کم خیال ساتلے شی دیته ډیره توجه پکار ده۔

۷- د معاملاتو په اکثرو مسئلو کښے د بے احتیاطئ کولو نه مؤاخذه کیږی او حرام والے په راځی حلال رزق په حرامیږی او د هغے په خوراک سره بیا په نیکو کارونو کښے سستی او د بد و خواهش پیدا کیږی نو د دے مسئلو په ایزده کولو کښے ډیر کوشش پکار دے۔ په کور محله کښے چه کوم خلق ان پړه وی کله هغوی ته هم دا مسئلے اوره ول او هغوی په پوهه کول پکار دی (اشرف علی عفی عنه)

(مترجم ابو حسین سواتی غفرالله له ولوالدیه آمین)

جوړه ۹ ګنټه رمضان ۱۴۰۵ هجری

دَ جنّت کالے شپږمه حصّه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

دَ رسمونو[1] په بیان کښے

دَ بدو رسمونو[2] بیان - او په دے کښے څو بابونه دي:- اوّل باب دَ هغے رسمونو بیان دے چه کونکی ئے هم ګناه ګڼړی لیکن سپک ئے ګڼړی او په دے کښے دَ څو خبرو بیان دے ۱- په واده بنادی کښے ډمے ډمان راوستل - ډاُډلوبے کول ډیچو سر په مینځ کښے خړیل او چاپیره پرېښودل - تصویر ونه ساتل - سپے ساتل. اوس به دا رسمونه یو یو ځان ځانله بیا نوو -

دَ ناچ (ګډا) بیان

په واده بنادئ کښے دوه قسمه ډمان راوستے شي یو ځړے دیرے لے چه سړو تسکیږی دویم کور ته ښځو له چرته ډمه وغیره راولی چه ښځو تسکیږی - دا دواړه حرام او ناجائز دي - دَ ډنډئ په کیدو کښے چه کومے خرابئ دی هرسړے پے پوهیږی چه پر دے ښځے ته پردی سړی ګوری دا دَ سترګو زناده سندرے ئے اوریدل دَ غوږونو زناده - خبرے ورسره کول دَ ژبے زناده دَ زړه شوق ورته راځی دا دَ زړه زناده - او چه لاس ورسره لږه وی دا دَ لاسو زناده او چه پسے ورځی دا دَ خپو زناده او بعضے خو په کښے اصل زنا هم کوی - په حدیث شریف کښے دا صاف بیان دے چه څنګه بدکاری زنا ده - دغه شان ورته په کتلو، اوریدلو خپو تلو وغیره ټولو خبرو باندے دَ زنا څومره ګناه کیږی - او بیا ګناه ښکاره په ښکاره کول دوچتن ګناه ده - په حدیث شریف کښے دي چه کله په یو قوم کښے بے حیائی او فحاشی دومره خوره شي چه ښکاره په ښکاره کیږی نو ضرور به په دوی کښے طاعون او داسے بیمارئ خوریږی چه کروی په مشرانو کښے به چرته نه وی پیدا شوی - نو فکر اوکړه چه دا دومره لوئے ګناه ده نو چه څوک ئے راولی او خلق پسے راغواړی او هغوی له انتظام کوی نو چه کروی به څومره عظیم ګناه کیږی - دا محفل والا چه څومره خلق دے ته را اوغواړی یا راشی نو دَ هغوی چه کوم یو ځان ځانله څومره ګناه اوشه دَ هغے ټولو دَ ګناه هومره دَ ده یو ځائے اوشه - او بل چا چه کوم نه زده کړه او کړه او هغه هم داسے محفل جوړ کړه نو دغه ګناه هم دَ ده

[1] دا سلسله دَ اصلاح الرسوم نه راغستے شوی دی ۱۲ [2] رسم دَ شریعت نه خلاف کار ته وائی چه رواج شی ۱۲

اوشه- بلکه دَ دَه دَمرګی نه پس هم که دغه سلسله داسې چلیده نو ګناه به ئې رَه لَګي- او دَ دې مودَ کښې به د نه علاوه په دې مجلس کښې باجې دو کړئ هم وهلې شي چه دغه لا جدا ګناه دے - حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ما ته خما رب دَ دے باجو دو کړو دَ ماتولو حکم کړے دے - نو دَ فکر خبره ده چه دَ کوم شی دَ ماتولو دَ پاره حضورؐ را لیږلے شوے دے په هغې دَ محفل خائسته کونکو به څومره ګناه وی- او بنځو له په دے کښې څومره دنیاوی نقصان دے چه دَ خاوند انوړَ په رنځ وا و بدکارو بنځو نظر او بړی او روی ورته بیا بد ے بنکاری هر وخت ئے ورسره جنګ جګړه جوړه کړے وی- او په دے دَ پاسه خلق دا دواده بنادئی د ولی ګنړی او فخر پرے کوی او په ګناه فخر کول او نه کول ئې بے عزتی ګنړل په دے سره ایمان رخصت شی نو اوګوره تاوان تاوان او ګناه ګناه او دَ ایمان به کښې زیان او دَ واده بنادئی نه پس داسې سړے دَ مال څخه چه دَ ایمان هم کنګال پاتے شی۔ بعضے خلق دا بهانه کوی چه دَ جینئ کور ډولۍ نه راکوی یا دَ دَ هلکانو کار ګډونو نه پے لاس نه رسی نو ته خان ته مسلمان څنګ وائے چه دَ یوے بنځے دَ پاره یا دَ هلکانو دَ پاره خان دَ مال او ایمان نه ورکاره وے او دَ خدائے او دَ رسول دشمنی په سر اخلے؟- دَ مسلمان دا فرض دی چه شریعت کوم کارونه حرام کړیدی دَ هغې نه داسې نفرت کوی لکه څنګه چه دے دَ خپل طبیعت دَ خلاف کارونو نه کوی مثلاً که څوک ده ته او وائی ته به پیشوازه اغوندے ګډیږے به نو دے به هرګز دیته تیار نه شی څکه چه دا دے خپل شرم ګنړی نو پکار دی چه صاف جواب دے ورکړی چه څه ستاسو دَ پاره خان دَ ایمان نه شم ورکاره ولے که واده کوئے او کنه خو دے ډمانو پکښے شادی پاتے شه په کور کښے دَ بنځو مجلس او تماشے نو دا هم دغسے ناجائز دی- په کتابونو کښې خو ئے دَ شادو کانو ګډه ول منع کړی دی نو دَ بنی ادمو ګډه ول څنګه منع نه شو او بیا په داسې موقع خو په کور کښې خپل پردی هر قسم سړی موجود وی دَ هغوی په نظر لګیږی او دغه خرابئ دلته هم وی کومې چه بیان شوے نو ګډه ول ونکے بنځه هم ګناه ګاره شوه او ورنږئے هم ګناه ګار کړه - او بعضے خو په کښې توپئ پیسر ګډیږی او دَ سړی وشکل جوړه ول حرام دی او که باجے ډمامے ورسره وی نو دَ هغې ګناه هم اوس بیان شه- او بد په دے کښې اکثر به خائسته آوازونو سره داسې بے باکه سندرے وائی چه سړی خولا څه کړے بنځے لیونئ کوئی- غرض دا هرڅه منع او حرام دی-

دَ سپو او تصویرونو ساتلو بیان

حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه نه دا خلیږی فرښتے دَ رحمت هغې کور ته چه سپے او تصویر په کښې وی- او حضورؐ فرمایلی دی چه دَ الله په نزد دَ ټولو

نه زیات عذاب د تصویر جوړوونکی دے - او فرمایلی دی حضور صلی الله علیه وسلم چه څوک بغیر د دے دریو غرضونو نه د بل غرض د پاره سپے ساتی یعنے د ښکار د حفاظت د پاره، د پټی د حفاظت د پاره، د ښکار د پاره - د دینه سوا د پلے فائدے د پاره سپے ساتی نو د هغه د ثواب نه هره ورځ یو قیراط کمیږی - او په بل حدیث کښے دی چه د الله پاک په نزد قیراط د اُحد غر برابر دے - د دے حدیثونو نه د تصویر جوړه ول ساتل او د سپی ساتلو حرام والے معلوم شه نو ځان تے ساتل پکار دی - بعضے خلق د ړوجینکو له تصویردارے ننیکے جوړه وی او د بازار نه ئے ورله راوړی او د لوبو څیزونه او د خوراک څیزونه تصویردار راوړی دا ټول منع دی خپل بچی تے منع کول او دا سے څیزونه ماتول پکار دی او سیزل -

د اَتش بازئ بیان

په شب قدر کښے یا په واده بنادئ کښے چه د اُور کوم څیزونه جوړیږی او الوزه ولے کیږی سخته گناه ده - یو د مال فضول خرچی ده او په قرآن شریف کښے الله تعالیٰ فضول خرچ تهٔ د شیطان رورولی دی او په بل ایت کښے فرمائی چه د فضول خرچ نه الله تعالیٰ ویزاره دے - دویم د لا سو ځپو د سوزیدو ویره ده د کورا و نورو څیزونو د سوزیدو خطره ده او خپل ځان یا مال دا سے په خطره کښے غورزه ل هم شرعاً گناه دے - دریم اکثر لیکلی شوی کاغذونه د ا اتش بازئ په کار کښے راوستے شی دا هم ډیره بے ادبی ده - نو پکار دی چه خپل بچی د دا سے کارونو نه منع کړے شی -

د شطرنج، تاش، کنجفه، چوسر، پتنګ وغیره بیان

په احادیثو کښے د شطرنج ډیر ممانعت راغلی دے او تاش، کنجفه، چوسر، وغیره هم د شطرنج په شان دی او په دے کښے زړه دا سے اولږی چه سړی بیا د هیڅ کار نه وی او د دا سے سړی د دین او دُنیا ډیر کارونه وران پاتے شی نو دا سے کارونه بے شکه ناکاره وی - او دغه حال د پتنګ الوزه ولو دے او په دے کښے خواکش بچی د چتونو نه او غورزیږی مړه شی - نو دا سے لوبے نه دی کول پکار -

---

له نن صبا د تصویرونو عام رواج دے کو بعضے بے خاشته کولے شی او هلکان چیکی د چلو وستا نوا و خپل تصویرونه د کا نو لو سره ساتی او دیته تصویرونه وائی یا فوٹو گرافی دا دیره غلط خبره ده د جاندار تصویر بغیر د سخت ضرورت نه ویستل او ساتل حرام دی کو رپا کیږه خاشته کول غوا یعنی نو که غیر جاندار تصویرونه جائز دی ۱۲ (شبیر علی)

له او په حدیث کښے چه د حضرت عائشهؓ د نیځکو ذکر دے هغه تصویر دارے نه وے - او بعضے عالمان دا هم وائی چه کیدے شی هغه هم و تصویر دارے وے خو هغه حکم بیا منسوخ شه ځکه چه ورو ستو بیا حضور صلی الله علیه وسلم د تصویرونو جوړه ولو نه منع او فرمایله ۱۲ شبیر علی ۱۲

دَ بچو بابړی سر جوړه ولو بیان

په حدیث شریف کښې راغلی دی چه منع فرمایلې ده رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ قزع نه - او قزع په عربۍ کښې دیته وائی چه دَ سر څهٔ ځائے کټ کړی او څه پرېږدی.

دویم باب دَ هغے رسمونو بیان چه خلق ئے جائز گنړی

څومره رسمونه چه په دنیا کښې دَ پیدا کیدو وخت نه دَ مرګه پورې کولے شی په دې کښې اکثر بلکه تمام رسمونه داسے دی چه ډیر پوهٔ او هوښیار خلق ئے کوی او دا خیال کوی چه په دے کښې دَ ګناه څه خبره نه ښکاری - بښځے او سړی جمع شی خوړو سکوا وکړی څه ورکړه راکړه او کړی څه کیدوه وغیره خو نه وی باجے دو کړئ شوی نو په دے کښې دَ شرع نه خلاف څه دی چه منع شی - نو په دے شان عام رواج جوړ شی او اوس په عقل پردے پریوتی دی ځکه چه په دے رسمونو کښې دننه چه کومے باریکے بُرائیانے دی هغے ته عقل نه رسی لکه ده واړه پښان چه نظرئے دَ میتهائی په خوږد والی وی او چه داخو ډیر خوږ ښئے دے لیکن کوم خرابوالے چه په کښې دے هغه خودے نه وینی او عقل ئے ورته نه رسی لیکن مور و پلار ځوئی پے پوهیږی نو ځکه ئے منع کوی او هغه بچے دغه خپل خیر خواه خپل دشمن ګنړی - لیکن په دے رسمونو کښې څومره باریکئ ښکاری چه څوک پے نه پوهیږی بلکه هر یو سړے دَ دے رسمونو تنګ دے او هر څوک غواړی چه دا رسمونه نه وے لیکن دَ رواج کیدو وجه ئے هر څوک په خوشحالئ کوی او دا همت په هیچا کښې نشته چه یو دم ئے پریدی - بلکه مزه خو دا ده چه کړه پوهٔ کوے ئے نو خفه کیږی - دلته مونږ دَ هر یو رسم خرابئ تا بسوته بیانوو چه ګناه ئے هم معلومه شی او دَ قوم نه دا بلا لرے شی هر مسلمان سړی او ښځے له پکار دی چه دَ دے عبثو رسمونو د پرېښودو همت او کړی او کوشش اوکړی چه بیخی دا رسمونه ورک شی او دَ حضور صلی الله علیه وسلم دَ زمانے پشان ساده ګی خپله کړی - څوک چه دَ دے رسمونو دَ ورکولو کوشش او کړی ډیر ثواب به ورته ملاؤ شی په حدیث شریف کښې دی چه دَ سُنتو ورکه شوے طریقه چه څوک ژوندئ کړی هغه ته به دَ سلو شهیدانو ثواب ملاؤ شی.

---

[1] ځکه چه بابړی (یعنے دَ مینځه یا یو طرفه کټ کول او څو نورے پریښودل) سر جوړه ول منع دی دغه شان انګریزی ویښته جوړه ول هم حرام دی نن صبا خو په تعلیمیافته ښځو او سړو کښې ویښته جوړه ول عام فیشن دے بعضے ښځے دَ چلو بچو ویښته انګریزی جوړه وی دا ټول فیشنونه ناجائز دی کوم طرز چه دَ بې دینو مسلمانانو کښې وه هغه جائز دی ډیره دَ شرم خبره ده چه مسلمان خپله وضع قطع پریږدی او دَ بې دینو اختیار کړی او فخر پے هم کوی ۱۲ ف لا او نن صبا خو دَ ښځو او دَ سړو ویښتو او نور فیشن کښې بالکل تمیز ورک شوے دے ښځه او سړے نه شی پیژندے الله پاک دے مسلمان قوم دَ دے غفلت نه بیدار کړی آمین (مترجم) ۱۲

د بچي پیدا کیدو د رسمونو بیان

۱:- دا ضروري ګڼل شي چه اول لنګ بچي دے د پلار په کور پیدا شي او د بچي د پیدا کیدو وخت چه نزدے شي نو د پلار کره ئے ضرور بیائي دا ډیر خراب رسم دے داسے وخت کښے د بنځے د پاره تلل راتلل اکثر حمل ته نقصان رسوي د داسے بنځے د پاره آرام پکار وي۔ د حمل په زمانه کښے ډیر احتیاط پکار وي اکثر بیمارئ په دے وخت کښے بنځے ته لګي او بچي هم اکثر د حمل په زمانه کښے د بے احتیاطئ په وجه په بیمارو کښے مبتلا کیږي۔ غرض دواړه طرفته نقصان دے۔ او بیا دا یو ضروري خبره ګڼل د ځانه شریعت جوړه ول دي او چه بیا دا عقیده ورسره وي چه داسے نه کول بد دي۔ نو دا عقیده لرله خو شرک دے ځکه چه نفع نقصان د الله پاک سره دي او په حدیث شریف کښے دي چه بد فالي په اسلام کښے نشته او کوږنے توکے کول خو شرک دے۔ او د بد نامئ فکر کول تکبر دے او تکبر حرام دے۔ (خو دا رواج په پښتنو کښے نشته)

۲:- په بعضے ځایونو کښے دا دستور دے چه څه دانے غله یا پنځه پاره وغیره د پیدا کیدو وخت مخکښے د مشکل کشا په نوم نذر کوي نو دا خو ښکاره شرک دے او په بعضے ځایونو کښے د ځلو یعني بنځے ته لور چاړه وغیره سر ته کیدي چه نه ویریږي او د بلا نه په امن وي دا هم محض توکے او شرک دے۔

۳:- د بچي د پیدا کیدو نه پس د چم کا وننړا او د عزیزو لے بنځے راجمع کیږي او نایئے ته لږ هره یوه پنځه څه پیسے وغیره ورکوي هغه په هر یوه پیسے څه لوبنے د نظرماني د پاره ګرزه وي او ورو په هغے کښے پیسے کیدي او د چا که زړه غواړي او که نه خو دے له به خامخا پیسے ورکوي او دے ځائے ته به راځي۔ او په بعض ځایونو کښے رواج دے چه مبارکو له به بنځے راځي او څوک به کپړه او څوک به پیسے راوړي دا د ادل بدل رواج نه به دا راوړي صباح په دے وانه بنادي (الشي) یا بچي او شي هغه به دوي نو خیال کول پکار دي چه بچي د چاشوے دے او پیسے څوک تولوي۔ او د ادل بدل دا فضول رواجونه د اسلام دي دا خو صرف د شیطان په رواج تاوانونه او شونه وا خداے ویلي دي او نه رسولؐ۔ او دا تول د نوم او نمائش د پاره کیږي چه نه ئے ثواب شه او نه خیرات۔ په حدیث شریف کښے دي چه څوک د شهرت د پاره او د ځان خودو د پاره کپړے واغوندي نو د قیامت په ورځ به ورته الله پاک د ذلت کپړے واغوندوي۔ نو دلته خو هم دا تول کار د شهرت او ځان خودو د پاره کیږي۔ پیسو ورکونکي هم ګناهګار دے ځکه چه دهٔ د نوم د پاره ورکړے او اخستونکے هم ګناهګار دے ځکه چه دهٔ په زور واخستے۔ په حدیث کښے دي چه حضورؐ به چرته

د نوم ناموس دعوت نه قبول کولو- ځکه چه د داسې دعوت ورکونکي او خوړونکي دواړه مجرمان دي- او بله خرابي په کښې دا ده چه دې خلقو چه دا څه ورکړه دا د کور په خاوند قرض شو دې به هم د حقوي په داسې موقعه دومره څه ورکوي- انصاف وکړئ پیسې د چا تاوان شوې او فائده د چا او شوه- او علاوه دواړه مجرمان شو دا ټول غلط رسمونه دي د دینه ځان ساتل پکار دي-

۴ :- دومه به په کورونو کښې کرځي او د بچي کید ومبارکي به ورکوي او ځې یو به دې له پیسې او ودې ورکوي دا هم د کور والو په ذمه قرض کنړلې شي دا خومره ناجائزه او ناروا رسم دې- بچي د چا شوې دې او پیسې څوک تولوي او ذموار کیږي ئې څوک-

۵ :- په کوم کور کښې چه بچي اوشي نو خومره خدمتګاران یا نور لوئې واړه واړه چه وي ځې یو به خپل خپل حق غواړي او داسې به ئې غواړي چه په جبر او په زور- که خدمتګارانو له په طور د انعام څه د طاقت مناسب ورکړې شي نو غوره ده خو که په زور وي او د طاقت نه باهر وي او یا د نوم نمایش او فخر غرور په نیت وي نو بیا صریحًا ګناه ده- او د خدمتګارانو نه علاوه نوردا سې خواران غریبان هم وي چه په داسې موقع د بچي د کور نه جبرًا څه وصولوي دا هم چه د طاقت نه باهر یا په زور او جبر سره وي ګناه دې که د انعام او اکرام په طور وي نو هغه د کور واله خوښه ده چه ورکوي او که نه ورکوي لږ ورکوي او که ډیر خو په زور او جبر ئې غوختل حرام دي-

۶ :- د بچي کور ته خوندې تروراڼي وغیره راجمع کیږي او دوي به هم څه غواړي او دا د رواج مطابق ډیره ضروري ګنړلې دلته هم که جبرًا قهرًا وي یا د ناموس او فخر غرور او لوئې په وجه وي نو دغه ذکر شوې خرابۍ په کښې موجودې او چونکه دا د هندوانو رسم دې د کافروسره په کښې مشابهت دې نو په دې وجه هم ناجائز دې- او بل دا عامه قاعده ایزده کړه چه کوم رسم دومره ضروري شي چه خامخا جبرًا او قهرًا به ئې کوي او چه نه کوي نو شرمیږي- او یا محض د لوئي او فخر د پاره کولې شي هغه حرام دې- نورا دس ته هم په دې خبره په دې قیاس کوه نو پخپله به درته معلومیږي-

۷ :- او بیا به نائي د جینئ د پلار کور ته د خبر د پاره لاړ شي او هلته به ده له انعاموته ورکولې شي او دا انعاموته په دومره ضروري وي چه دې واپس راشي نو د هلک کور واله به تې تپوسونه کوي چه څومره ئې درکړه او چا چا درکړه- نو دا د نائي انعام به دومره ضروري وي چه د خدائې فرض خو د دې په مقابله کښې هیڅ نه

که هغه پاتې شي نو پروا نشته خو دې له که سود سلم کوي او که قرض دار خو مجرم شوې دې لوړې څوڅې را وړې چې که نا ئي ماما خفه لا رېشه نو لوړله ئې د غم پېغور جوړېشه او د به اوس هرځائې شرميږي. نو نپوهيږم چې دا کوم انصاف او کوم دين دې.

۱۸:- د خلو بختۍ د اوبو اچولو په وخت کښې بيا د ښځو مبارکۍ شروع شي دا ځې به او خيتې به بې ويځې کوي او لکه د نا بللې ميلمه به د کور په خلقو په زور ګران ميلمه کوي (دا رواج البته په پښتنو کښې ډير نشته)

۱۹:- د خلو بخت ورځې به دا ښځه بالکل غسل نه کوي مونځ روژه به نه نيسي او حالانکه د شريعت خو دا حکم دې چې د بچي د کيدو نه پس چې کله وينه بنده شوه فورًا به غسل کوي او مونځ روژه به کوي. البته که څه داسې عذر وه چې غسل ئې نقصان ورکولو نو تيمم به کوي خو مونځ روژه به نه پاتې کوي دا سخت ګناه دې

۱۰:- بيا به د جينۍ پلار کور د زوم کره د دا تلو د پاره سامان تيار کړي. چې په دې کښې به د ټول کور د لوښو وړو هر يو د پاره څه نه څه چالۍ ضروري او د جينۍ د د خوابنې او نند د ورانو د پاره خو جوړې لازمي دي د جينۍ (لوڼ) د پاره د خلوبختۍ د وتو د پاره جوړه د بچي د پاره درې څلور جوړې سره د ټړلو د ټوکو د ټوپۍ او د لوښو وغيره سامان نو قاشوغه پياله وغيره وغيره. زانګو ټولائي بالښت او کټ، انډيرې، غوړي، ګوړه، چينې، چائې. سوګوره ملغوزې وغيره. د غوړو تيل، مارچې غرض د کومو کومو څيزونو چې مورا وچي ته د استعمال او خوراک ضرورت وي دا به ټول لازمًا فرضًا او واجبًا راوړي که نه راوړي نو لوړې څوڅې راوړې ملامت دي شرم دې او پېغور ورته. افسوس په داسې مسلمانۍ او داسې غيرت څوڅې د چا او شه او مجرمان څوک شو دا ګناه نه دې نو نور څه دي خدائې ويلي او که رسولؐ ويلي چې داسې به کوئ دا ټول ناجائز او منع دي ځکه چې يو جبر دې بل نمود او نمائش دې او دريم د فرضونه زيات اهميت ورکوي (مترجم په اضافه)

۱۱:- د خلو بختۍ ښځه بالکل نجسه او پليته ګنړل خوراک ورسره نه ګډ لوښې ئې نه استعمالول بالکل عبث او لغوه خبره ده.

۱۲:- د خلو بختۍ د ښځې جامې وغيره د دائي حق ګنړل دا هم عبث او لغوه دي.

۱۳: بعضې ځائې کښې د خلقو دا هم دستور دې چې د خلو بختۍ د ښځې پښو ا هم د غاړو نه تير يدل بد ګنړي او بعضې خو دومره احتياط کوي چې د پلار سورې قدرې هم په بچي او نه شي په خلوبختۍ کښې تا جوړه به شي دا ټول مره عبث خبرې دي څوک څه او شه چې اوس ښځه غاړه نه د يو بل نه جدا شو. د بې عقلۍ هم څه حد وي.

۱۴:- په بعضې ځايو نو کښې د بچي غوږ يا پوزه سورئ کوي او په ځينې ځايو نو کښې ورله

دَ کور خوراک چاره نه ورکوی خیرات ورله تول وی کړے کړیا ره چه اوګیایی دا بالکل ناجائز او شرک دے ځکه چه بد فالی ده په کښے (مترجم په تبدیلیٔ سره)۔

۱۵:- په بعضے ځایونو کښے په شپږمه ورځ ستوری دَ بچی مور ته خالی یعنے غسل ورکړے شوې کیږے ورته واچوی او په تړلو سترګو دَ غوټی منځ له راولی په کټ کښے کینوی بیا ورله اسمان ته کړی او ستر ګے ورله پرانزی چه اول نظر ئے په ستورو اولګی۔ داخو مره دَ بے عقلیٔ خبره ده او دَ بد فالیٔ ګناه ئے لا سوا۔ او بیا ئے دَ هر قسم خوراکونو ته ډک تالے او خوره وی چه په بچی بیا څه قسم خوراک بند شوے دے۔ دا هم منع دی (او بعضے ځایونو کښے دا رواج دے چه دَ ځلو یختیٔ ښځه او به واچوی نو نیغه په باهر میدان ته راووځی او په وُنه یا سپی وغیره به اول اوازه وکړی او دا به وائی چه اے وُنے ستا دا روغ وجود ځما او ځما دا رنځور وجود ستا۔ او دا هم یقین ساتی چه دَ ځلو یختیٔ ښځه دَ غسل نه پس اول په چا اوازه وکړی نو په هغه مرے رنځ لګی نو ځکه دا به اول اوازه په کانړو بوټو کوی چه خلق ترے بچ شی دا خومره واهیات او ناپوهی ده۔ مترجم)

۱۶:- په بعض ځایونو کښے زوم هم دَ خواښے سخر ته کیږے لازمًا غواړی چه ځما ځوئی شوے دے مالہ به جوړه کوئی۔ دَ فکر مقام دے شرم او حیا بالکل نشته۔

۱۷:- په بعضے ځایونو کښے دَ ځلو یختیٔ ښځے له درے پیرے غسل کول لازمًا او ضروری ګنړی۔ په شپږمه ورځ په وړه ځلو یختیٔ او بیا په لویه ځلو یختیٔ (تو په شریعت کښے خو صرف دا حکم دے چه کله وینه بنده شی نو غسل به کوی که په پوره ځلو یختمه بنده شی او که په کمه رخو چه دَ لسیٔ ورځے نه پس کله وینه بنده شوه غسل به کوی۔ دا پابندی په شریعت کښے کړے ورځو نشته دا دَ ځای نه جوړه شوے رواج دے۔ که صفائی مطلب وی نو دَ هغے دَ پاره ورځ مقرر کول نشته خو چه کله زړه غواړی غسل کولے شی۔ دا خو صرف رسم دے نوره هیڅ وجه نه ده۔ چه نفاس ئے بند شی هغه وخت خو غسل نه کوی ځکه چه ځلو یخت ورځے پوره کوی او دَ رسم دَ پاره غسل کوی نو دا ښکاره ګناه ده او که ناوے دَ بچی دَ پیدا کیدو په وخت کښے دا خبره سنت دی چه غسل وغیره به ورکړی یعنے پاک به ئے کړی په ښیٔ غوږ کښے به ورته بانګ او په کینړ غوږ کښے اقامت اووائی او په یو دیندار بزرګ به چواره او جوئی په خولے کښے به ورته اوږ وهی۔ دَ دینه سوا دا باقی ټول رسمونه او بانګ ویونکی له پیسے یا میټهائی وغیره په پابندی سره کول ټول فضول او خلاف شرع او منع دی۔

له یعنی ورته په اصل کتاب کښے دَ هند وستان رواج وه مترجم دَ پښتنو رواج دَ هغے په ځائے ولیکه ۱۲ منه

دَ عقیقې دَ رسمونو بیان

په دغه ورځ دَ هلک دَ پاره دوه کله وری او دَ جینۍ دَ پاره یو ذبح کول او دَ هغې غوښه بنه کچه یا پخه تقسیمول او دَ ویښتو سره سپین زر تلل او هغه خیراتی ورکول او دَ سر خریلو نه پس زعفران په سر کښې پورے کول بس دا خبرے دَ ثواب دی او باقی نور ټول فضولیات دی چه دَ غور قابل دی۔

۱:- دَ عزیز و لوۓ خلق راجمع کیږی او دَ سر خریلو نه پس په لوښی کښې څه نقد پیسے غورزه وی چه دا دَ نائی حق گڼړلے شی۔ او دا بیا دَ دے کور والو په ذمه قرض وی په داسے موقعو بے بیا دَ هغو نائی له ورکوی دَ دے خرابی اوس تاسو محکښې او لوستے۔

۲:- خویانه نے ترورانے وغیره دلته هم خپل حق غواړی دا دَ کافرو سره مشابهت دے۔ دَ دوی حق نشته۔ او دا داسے په زورا و جبر سره غواړی چه که ورنه کړی نو دوی تے مره ورے وی او په اولس کښې شرمنده وی او په مجبورۍ ئے ورکوی دے ته ریا او نمائش وائی او دا جائز نه دی فکر اوکړه چه دومره مجبوره کول چه هغه ته تکلیف رسی دا کومه دَ پوهے خبره ده۔ او دغه شان دَ اغستونکو دا خرابی چه دا انعام او اکرام گڼړی او په احسان کښې زبردستی حرام ده۔

۳:- دَ دے رسمونو په پابندۍ سره دَ پوره کولو دَ پاره کله کله عقیقه درستۍ کولے شی او دَ مستحب طریقے نه خلاف ئے بیا کوی۔

۴:- دا هم یو رسم دے چه کله دَ بچی په سر چاړه کیدی نو سم دغه وخت که ذبحه کوی دا هم محض لغوه خبره ده که محکښے وی او که وروستو خو ذبح پکار ده۔ خو چه په دغه ورځ وی نو که دَ سر خریلو نه اول وی او که بیا وروستو۔

۵:- سر ئے نائی له اپتون ئے دائی له ورکول ضروری گڼړی دا هم لغوه دی۔ ستا خوښه ده که ورکوے او که نه۔ دَ شریعت نه سوا دَ ځان نه خبرے جوړه ولو نا ئده نه ده۔ غوښه بنه ورله ورکړه پتون یا سر خو ضروری نه دے۔

۶:- په ځینے ځایونو کښے دا دستور دے چه دَ عقیقے هډوکی ماتول بد گڼړی بنخول ئے ضروری گڼړی۔ دا هم فضولیات دی۔ او دغه خرابی په هغه رسم کښے دی کوم چه دَ بچی دَ غا بنونو بنکاره کیدو په وخت کښے کوی چه کونګڼړی تقسیم کوی او ناغه کول ئے دَ فرضو او واجبو دَ ناغے نه زیا ته گڼړی۔ دغه شان چه دَ شپږو میاشتو شی نو کیږ وغیره پے خوره وی دَ دغ ورځے نه ئے خوراک ورکول شروع کوی په دے کښے هم ډیره پابندی ساتی چه بد والے ئے معلوم شوے دے۔ دغه شان دَ تی پریکو لو رسمونه چه دَ مبارکۍ دَ پاره دَ ښځو راجمع کیدو او ریا

خاصګا هغوی له دعوت کول ضروری ګنړل - د کجورو تقسیم کول د دے تولو یو حکم دے. او بعضے ځائے کښے په کتوری کښے په او بو کښے طاق کجورے واچوی چه بچے تے ځوا وچتے کړی نو دومره ورځ به په تی پسے ضد کوی - دا څومره کو بند فالی علمِ غیب او ګناه خبره ده - دغه شان د سال ګیرے په رسم کښے د پیدایش په ورځ کال په کال جمع کیدل خامخا پابندی ګنړی - دغه شان د شونډے د شنے کیدو رسم چه صند پکښے ترے او سوّیان رمئی چے) پخوی په دغه ورځ چه د ه منی چو پشان او ګنړ او ګده وکیتنه ئے او شی ټول فضولیات دی او بد فالی نیول دی چه یعنی دا کارونه او نه کړو نو بد دی بنکاره ګمراهی ده.

دَ سُنتو دَ رسمونو بیان

په دے کښے هم ډیر خرافات رسمونه خلقو راو یستلی دی چه خلاف عقل او عبث دی

۱:- په خلقو پسے سړی او خطونه لیږل او راجمع کول ئے دَ سُنّت نه بالکل خلاف دی - یو وار دَ حضور صلے الله علیه وسلّم. یو صحابی دَ سنتو دعوت ته را اوبللو نو دوئ دَ تشریف وړلو نه انکار اوکړه - خلقو تے دَ وجهٔ تپوس اوکړو نو دوئ جواب ورکړه چه دَ حضور په زمانه کښے به مونږ نه سنتو له تللو او نه به مو را بلل خلک - دَ دے حدیث نه معلومه شوه چه دَ کوم شی تشهیر ضروری نه وی دَ هغے دَ پاره خلق راجمع کول دَ سنتو نه خلاف دی او ډیر رسمونه په دے حدیث کښے راغلی دَ کوم دَ پاره چه خلق لوئے لوئے پر وګرامونه کوی -

۲:- بعضے وخت دَ سنتو دَ دے پروګرامونو پوره کولو دَ پاره په سنتو کښے دیر تاخیر راشی او بچے لوئے شی او بیا ئے بے پردګی کیږی چه ډیر ګناه دے -

۳:- دَ کاسے دَ پیسو جمع کولو رسم دلته هم دے چه قباحت ئے معلوم شوے دے.

۴:- دے بچی له به دَ مور دَ پلار په کور ډیر خرچ کول وی مثلاً د ه کټ پالنګ جوړے جامے دَ سنتو ټول ضروری اسباب بالښت تولاق وغیره وغیره دَ بچی دَ نیا او ترورانو دَ پاره جوړے جامے وغیره غرض دَ پوره واده هومره سامان به کوی او دا په دوی دَ فرضو او واجبو نه زیات ضروری ګنړلے شی او دا دَ لور خور حق ګنړلے شی او دا اصل رسم دَ هندوانو دے دَ هندوانو نه مسلمانانو خپل کړے دے هندوان په میراث کښے لور خور له حصه نه ورکوی نو بیا په داسے موقعه ورله څه جوړے جامے اسباب وغیره ورکوی بس دغه دَ لور خور حق ګنړی نو مسلمانانو هم دَ هغوی نه دا رواج خپل کړه او دَ کوم حق اروچه الله پاک حق مقرر کړے دے هغه نه ورکول او ځانله ورله په طور دَ احسان څه ورکول او دَ هغوی حق ئے ګنړل او ځان تے په دے خلاصول سراسر ظلم او زیاتے دے یو خو

دَ دے رسم داده بله خرابي ئے داچه کښ څه ورسره وي او کنه خو قرض داربه کوی سود سلم به کوی خو دا سامان به خامخا نیا نیک کوی نو فکرا وکړه چه یو شے یو غیرضروري او گناه وي او بیا ئے په دومره زور شور سره اهتمام وي نو دا دَ شریعت نه باهر قدم ایخودل شو او کنه - او بله خرابي ئے شهرت او بړائي چه حرام والے ئے بیان شوے دے - بعض وائي چه دا خو دَ خپلوانو سره سلوک او احسان دے نو په سلوک او احسان کښے چه جبر راشي حرام شي په بله موقع ورسره ولے احسان نه کوی - خو د ځان خودلو او نوم نمائش ته دا احسان نوم ورکوی -

۵: ورلته هم دَ خویانو ته دوا نوهغه حقونه غوښتل وي دَ کوموچه ناکاروالے مخکښے بیان شوے دے او دَ چم کلی ونه او دَ عزیزولی ښځے دلته هم څه راوړي چه په کوروالو یا قرض وي چه دوی ته بیائے په دا سے موقعو بیا واپس کوی - او خویانه دے تروانے به هم خپل خپل حقونه غواړي دا ټول غیرشرعي رسمونه دي ځان تے ساتل پکار دي بغیر دَ گناه او تاوان او فضول خرچۍ نه نور هیڅ په کښے نشته -

۶: او بعضے خلق په دے موقع هم څه سرودونه او باجے غیره وي او دا مے گناه وي چه نا کاروالے ئے بیان شوے دے - سنت طریقه داده چه بچے دَ سنتولو شي نو په پته دے نائي راولي سنت دے کړي او چه کله بنه شي نو پابندي او نمود نمائش دے نه کوی او څومره چه طاقت وي خیرات دے او کړي -

مکتب یعنې دَ بِسم اللہ دَ رسمونو بیان

په دے رسمونو کښے یو رسم دَ سبق شروع کولو دے چه په ډیره پابندۍ سره په خلقو کښے جاري دے او ډیرے خرابۍ دي په کښے -

۱:- څلور کال څلور میاشت څلور ورځ په بعضے ځایونو کښے رواج دے چه خامخا به ئے په دے ورځ سبق ته کینوی او بسم اللہ به پے کوی - دا محض فضول او لغوه رواج دے - جائز کنړل ئے دَ عقیدے خرابي ده -

۲:- بله خرابي میتهائی ویشل دي چه جبرًا قهرًا او دَ غود نمائش دَ پاره وي -

۳:- بعضے مالداران دولے دَ سپینو قلم دوات جوړه وي دَ سپینو استعمال حرام دے

۴:- بعضے خلق بچوته خلاف شرع جامے اغوندوي ریشمي یا زري دا هم گناه دے -

۵:- دلته هم دَ خدمت گارو وغیره حقونه ورکول فرض گنړلے شي دا هم جائز نه دي - غرض داچه کله بچے خبرے او کړي نو کلمه ورته ایزده کول په کار دي او چه دَ سبق ویلو قابل شي نو یو دیندار عالم ته ئے او ل کینول په کار دي چه دین ورته او ښائي او بیا چه دَ سکول دَ تللو قابل شي سکول ته دے کینوي - خو دَ سکول دَ سبق سره سره ورله دَ دیني سبق هم پوره

انتظام پکار دے نن صبا اکثر ښځې د سکول سبق ته ښه په مینه کینولے شي او د دینداري او دیندارو ورو ولوئې هیڅ خیال نه شي ساتلے دا ډیره بده ده۔ ډیرا وچت اوچت تعلیمیافته کسان نن صبا داسې دي چې قرآن نه پوهیږي۔ دا د مور و پلار ذمه واري ده چې ته خیال پکار دے۔

په اکثرو کورونو کښې چې ښځې ډیرې او سپرې نو او ل ورته اټبا اتې وظیفه ایږده کوي ورته په خلئې که ورته الله الله ایږده شي نو ځو مره خه به وي۔ او دغه شان بیا د قرآن شریف د ختم رسمونه وي او په دے کښې هم غیر ضروري رسمونه په پابندئ سره کولے شي او ډیرے خبرے په کښې د ناموری د پاره کولے شي لکه د خلقو جمع کول او چاچاله جوړے ورکولے شي چې ناکاروالے ئې بره بیان شوے دے۔

په تقریباتو کښے د ښځو تلو او جمع کیدو بیان

د خپلوئ ښځې په کنډره کوره کښې جمع کیږي چې څه تے بره بیان شوا وخصاً پاتے دي بیان ئې اوس راځي۔ دا ټول ناجائز دي۔ او د کنډرے کورے نه علاوه نور هم چه کله ئې زړه او غواړي چې فلانئ ډیرے ورځې نه ده لیدلے بس فوراً به روانه شي۔ څوک بیمار وي تپوس له ئې ځي چرته مبارکئ له او چرته عذرخواهئ له ځي۔ او بعضې خو په کښې دو مره ازادے وي چې بس سیل ته ئې زړه اوشي نو بس د کوره به اوځي۔ غرض د ښځو د کوره وتل د ډیر و خرابو په وجه په هیڅ شان جائز نه دي۔ بس دومره اجازت دے چې کله کله د مور و پلار لید ولو تلے شي او د محرم رشته دارو کره هم تلے شي خو د رشته دارو کره په کال کښې یو پیره۔ د دے نه سوائې بل طرفته تلل جائز نه دي۔ نه د رشته دار کره نه د بل چا کره۔ نه په غم ښادئ کښې او نه په بیمار پرسئ کښې نه په مبارکئ کښې او نه په بل تقریب کښې۔ او کله چې د محرم رشته دار کره محفل او مجمع وي نو د محرم رشته دار کره هم نه شي تلے که د خاوند په اجازت سره لاړه۔ نو هغه هم ګناه ګار شه او دا هم۔ دے ته هیڅوک هم خیال نه کوي او دا ټولے خرابئ د دینه پیدا کیږي د دینه توبه کول پکار دي دا خو د شریعت حکم دے او اوس ئې خرابئ واوره۔ کله چې چرته د ښادئ خبر واوري نو د هرے بي بي سره د قیمتي کپړو او کالو فکر شي او خاوند ته به فرمائیشونه شروع کړي۔ کله به د دے د پاره قرض دار کوي او کله سود۔ که خاوند غریب وي خو بیا هم د هغه عذر نه شي قبلیدے۔ او ښکاره خبره ده چې دا جوړے جامے او کالي د فخر او تکبر د پاره وي او په حدیث کښې دي چې داسې بنده ته به د قیامت په ورځ د

له په درمختار او شامي باب النفقه ص۷۴۵ او باب المهر ص۳۶۵ مطبوعه هند کښے دا مسئله مذکور ده ۱۲

ذلت چاره واغوستولے شي نو یو دا گناه شه - او بیا د داسے څیزونو دپاره پیسے خرچ کول فضول خرچي ده دا دویم گناه شه - او خاوند ته د طاقت نه سوا فرمایش کول هغه ته ضرور رسول دي دا دریم گناه شه - کپړو والا دروازے ته رابلل او څیرے ورسره کول لاس ورته ښکاره کول د غیرت او عفت نه خلاف ده دا څلورم گناه شه - او بیا که بغیر د ضرورت نه تے قرض سودا اوکړی دا پنځم گناه شه - او که خاوند ئے د دے بے ځایه خرچونو دپاره حرامه آمدنی حاصله کړه ځکه چه اکثر دلسے فرمایشونه په حلال آمدن نه پوره کیږی نو دا شپږم گناه شه - او اکثر د داسے جوړو جامو دپاره کو ته تهپه وغیره هم اغستے شي چه اکثر د سپینو زرو وی او د سپینو زرو په خرید فروخت کښے اکثر سود لازمیږی دا اووم گناه شه - او بیا غضب دا دے چه یوه جوړه په یوه بنادئ کښے استعمال کړی نو هغه بیا د بلے دپاره کافی نه وی او س به بله جوړه اغستے شي ځکه چه خلق به وائي چه د دے هم دغه یوه جوړه ده - نو دومره گناهونه بیا دوباره جمع شي او گناه بار بار کول هم بد او گناه دے دا اتم گناه شه - دا خو د جامو تیارے وه او س د کالو بیان واوره - که خپل ئے نه وی نو غواړی به او بیا به وائي چه دا زما دے - د غو ختو څیزه به پته ساتی نو دا یو قسم فریب او دروغ دی او په حدیث کښے دی چه څوک داسے پردی شي ته خپل وائي نو دا داسے لکه څوک چه د دروغو او فریب دوه کپړے واغوندی دا نهم گناه شه - او بیا کالی هم داسے اچوی چه شرنګارے ترلرے پورے ځی د دے دپاره چه په محفل کښے د خلقو نظر ښه پریوزی - د شرنګاری کالے منع دے - په حدیث کښے دی چه د هرے باجے سره شیطان دے دا لسم گناه شه - او د تلو او ځان تیارولو وخت شه نو په دے ځان سنبالولو کښے اکثر مونځ وغیره هم څه پاتے شي نو یولسم گناه شه - او س تیکسی وغیره په دروازه کښے ولاړ دے او دلته د بی بی کو ده واته نه کیږی او تیکسی والا او سوارلئ ورته کنځل وغیره کوی دا دولسم گناه شه - او س چه تیکسی وغیره ته خیژی نو که د سړو سره او چنګیده او که بے پردے شوه هیڅ پرواه نه ساتی او د عطرو وغیره خوشبوئی به ئے ترلرے پورے ځی په حدیث کښے دی چه کومه ښځه ځان خوشبویه کړی د کوره او ځی هغه ډیره ناکاره ده دا دیارلسم گناه شه - او ښځه چه د بنادئ کور ته ورسی نو داسے بے پروا به ورکښے ننوځی چه هیڅ خیال نه کوی چه په کور کښے به څوک نامحرم وی او همیشه داسے کیږی چه په داسے موقعو د محرم او غیرمحرم څه فرق نه شي کولے لیکن دلبے تمیزه ښځے حیا و شرم نه کوی نو دا څوارلسم گناه شه - او س چه کور ته دننه شي نو که ښځو به یو لوئی جوړه شي د سنتو مطابق د سلام کولو او وعلیکم السلام طریقه نشته خو د تول

کور د لویو وړو تپوسونه به شروع شي نو دا د سنتو طریقې خلاف کول نهلسم ګناه شه او س کپونه شروع شي د چا نه ګیله د چا غیبت د چا چغلي په چا بهتان تړل چه دا ټول بالکل حرام او سخت ګناه دے دا شپاړسم ګناه شه - او په خبرو خبرو کښې به هره یوه دا کوشش کوي چه ځما په جامو او کالو د هر چا نظر اوبړي په لاسو خپو ژیبه غږ هرڅه به د دے اظهار کولے شي - چه دا ټوله ریا ده او حرام والے ئې په قرآن او په حدیثو سره ثابت دے دا اولسم ګناه شه او لکه څنګه چه هره ځایې نوروته د خپل سامان د فخر خوده نه کوي دغه شان هر یوه د بلے د ټولو حالاتو لید لوهم کوشش کوي او چه کومه ورته د ځان نه لاندے ښکاره شي نو سپکه او ذلیله ئې ښیا ګنړي او ځان یه پے بډ ګنړي - او بعضے خو په کښې بیا د غرور نه ورسره په سمه خوله خبرے هم نه کوي دا ښکاره تکبر او ګناه دے دا اتلسم ګناه شه او که یله د ځان نه او چته بیا موصي نو بیا حسد[له] او ناشکري او حرص اختیار کړي دا نولسم ګناه شه او شلم یو یشتم ګناه شه - او اکثر بیا په عبثو او بے فائده خبرو کښے مشغولے وي د مانځه هیڅ خیال نه کوي دا دویشتم ګناه شه - او اکثر چه دا عبث رسمونه د بل کره اوویني نو دا بیا کوشش کوي چه خپل کور کښے هم دا سے اوکړي دا دریشتم ګناه شه - او بیا په دا سے کنړه کوره کښے خپل پردے هرڅوک خه په آزادئ سره دننه راځي او هیڅ شرم او حیانه وي او د لته ځائے کښې ناستل قصدًا خو بالکل حرام دي نو دا څلیر یشتم ګناه شه - او د بعضے ښځو سره خو خه هو ښیا ر هلکان راغلي وي هغوي د ښځو په منځ کښے د مور خواله ځي راځي او څوک ورته خه ویلے هم نه شي او د اکثر وخا وندان او رونړه وغیره هم د خپلو ښځو او خو یا نډ و خوا له د ښځو په منځ کښے ورننو ځي دا ټوله بے تمیزي او بے باکي ده دا پنځو یشتم ګناه شه - او س د خوراک په وخت کښے دا سے طوفان جوړ شي چه د هرے یوے سره به بیشماره بچي راغلي وي او د هر یو د پاره به د خوراک هر یو شے راغوختے شي د کوروالو د مال یا عزت هیڅ پروا نه ساتي دا شپږ ویشتم ګناه شه - بیا چه کورته واپس کیږي نو چه د تهکیۍ وغیره آواز په دروازه کښے وا وري لکه د یا جوجوما جو جو پیشان به ټولے دروازے ته یو دم راځي او د غیر و سړ و سره به او ګس په او ګس او ځه ځه په ځه ځه کیني - دا اوویشتم ګناه شه او چه د هر چا سره که ضامخ شوه هم خه پروا نه ساتي او یو ه به ښځه سوره شي پنځه شپږ به ئے بچي وي او پیسے به د یوے سوارئ ورکوي دا اته ویشتم ګناه شه او چه د چا نه په دے کنړه کښے څه شے ورک شي نو بے وجهٖ به په یوے بلے تهمتونه

له حسد د بل په مال او عزت سوزیدلو او د حقه د ذلیل کید و آرزو کولو ته وائي ۱۲

لېږه وی دا یو کم دیرشم ګناه شه - او د کور د دے سړو نه خو بالکل پرده نه کوی کہ محرم وی او کہ غیر محرم دا دیرشم ګناه شه - او بیا د واده د هلک لیدل او تماشه کول خو فرض او ضروری ګڼړلے شی دا یو دیرشم ګناه شه - او بیا چه کور ته را شی نو د بنا دئ د کور غیبتونه به تر ډیرو پورے کوی او دغه شان نور نقصانونه به پکښے را او باسی دا دوه دیرشم ګناه شه - دغه شان نورے ډیرے خرابئ او د ګناه خبرے د بنځو به جمع کیدو وکښے دی نو چه دا دومره خرابئ او ګناهونه په کښے وی دا سے کار به څنګه جائز شی نو دا رسم د ټولونه اول بندول ضروری دی -

د کوژدے د رسمونو بیان

په کوژد نو کښے هم بے شماره خرابئ او رسمونه دی چه بعضے تے دلته بیانه وو د ترجمے په وخت مونږ لږ تبدیل په دے وجه کړو چه بعضے رسمونه د هندوستان متعلق په اصل کتاب کښے لیک دی او د پښتنو رسمونه څه لږ د هغوی نه مختلف دی خو نا کار والے ئے یو شان دے په دے وجه د اصل نه په ترجمه کښے هرځائے څه نه څه تغیر شته - مترجم)

ا :- کله چه کوژدن کیږی نو نائی به پئ مالګه د هلک د کورنه د جینئ کورته یوسی - او هلته چه دا نائی اورسی نو د روپئ مالګه او د پنځه روپو به ئے پئ وړی وی لیکن د ده په خوراک او خوشامنده به د هغوی د شلو دیرشو روپو نه زیاتے او لږی او چه دا رخصتیږی نو د سلو روپو د لوټې نه کم خو هیڅ وسوال نه پیدا کیږی چه نائی تے واخلی او کہ نائی تے خفه شه نو دا د کوژدے د پاره بد فالی او د عمر د پاره شرم جوړ شی دا څومره فضول خرچی او ګناه خبره ده اخر نائی دے کالن له څه ورکړه چه دومره تا وان ئے ورله ورکړه - مالږه او پئ خو هم د ده نه وه -

۱۲- او دا ټول کاروته د نوم نمائش د پاره کوی ځکه څومره روپئ چه د جینئ کو ر والا د نائی له ورکړے نو دومره یا زیاتے به د هلک کور والا د جینئ د کور نائی له ورکوی او د دے د پاره به قرض دار کوی خو رسم دے او رسم پریخودل شرم دے او فخر او غرور بیانه شی کولے افسوس چه ډیر ډیر عقلمند به دے ریا او فضول خرچو کښے مبتلا دی نو یو خو د ریا ګناه دے او بل چونکه عبث او بے هوده کار دے نو دا هم ګناه دے په حدیث شریف کښ دی چه د بنده د اسلام خو بی داده چه بے مطلبه خبرے پاتے کړی - دا د حضور رصلے الله علیه وسلم د طریقے نه خلاف کارونه دی چرته په اسلام کښے د دے ثبوت نشته - او بعضے ځایونو کښے خو دا رواج دے چه نائی خوراک اوکړی نو سل روپئ به په مخمه کښے کیدی نو کور والو له بسته یو ده واخلی نورے به بیا واپس کړی دا هم ریا او فخر دے او دا دوپئ به نائی له د جینئ کور والا ورکړی وی دا څومره عبث رسم دے -

۳:- بیا به جینۍ کوروالا نائی له یوه جوړه سره دخه نقد رقم ورکړی او دلته به هم د دغه روپو نه یوه روه واغستے شی باقی به واپس شی دا رواج واقعی عجیبه شے دے اګرکه د عقل نه خلاف خبره وی خوکوی ئے -

۴:- د نائی د واپس کید و نه په مخکښې بنځے جمع شی او ډول باجے به غږوه وی چه د دے خرابۍ هم بیان شوی دی -

۵:- د کوژدنے د نکاح په وخت کښې د هلک د کورنه څه سړی او بنځے راشی چه د ځان سره به میتهائی میوے وغیره څیزونه او د چایو ټول سامان چینی چائے پتۍ غرض هرڅه راوړی چه نکاح اوتړلے شی نو نائی به شربت تقسیم کړی او خومره خلق چه راغلی وی ټول به د جینۍ د کور نائی له نقد پیسے ورکوی او دا به جبرًا او قهرًا نائی د دوینه ټولوی او که څوک نه ورکوی نو شرموی به ئے چه دا سراسر زیاتے دے اوظلم دے شریت د کوروالا دے او پیسے په نائی اخلی دا کوم انصاف دے او که بالفرض شربت د نائی هم شی لو ضرورت ورته څه دے معامله خو خو د هلک او د جینۍ د کوروالو په مینځ کښې ده نائی په کښې د کوم طرفنه راغے بعضے خلق داوائی چه نائی منی دوردے او دا د ده مذدوری ده - نو د ده سره دا یاداشت د مخکښې نه کلے شوے دے او کومه مزدوری چه د اول نه مقرر شوے نه وی چه مثلاً ته به دا کار کوے او دومره روپۍ به درکوم نو هغه د شرع نه خلاف ده - او دا دومره میتهائیانے وغیره چه راوړی شوی وی هغه به تقسیم شی او دومره خرچ به په کوژدن او کړی چه د اکثر و د طاقت نه به بهر وی خو صرف د نمائش او فخر د پاره به قرض دار را اخلی خو دا رسم به پوره کوی - غرض ډیرے داسے خبرے دی چه په مختلفو علاقو کښې به مختلفو طریقو سره رواج شوی دی او خلق ئے صرف د ریا او فخر د پاره کوی دا ټول غلط او غیر شرعی رسمونه دی ځان ئے ساتل پکار دی یو طرفته د مال تاوان دے او بل ځایه خرچ او بل طرفته د الله او د هغه د رسول ناراضه کول دی

د واده د رسمونو بیان

د ټولونه لوئے تقریب چه بنده په ارت مټ په کښې خرچ کولے شی او بے انتها رسمونه په کښې ادا کیږی هغه دا د واده خوشحالی ده چه په واقع کښې ورته بربادی ویل لائق دی - او بربادی بیا داسے چه هم د دین وی او هم د دنیا -

۱:- د ټولونه مخکښې د خپلو لی سړی جمع شی او د واده تاریخ مقرر کړی او خط او لیکی نائی له ورکړی او رخصت ئے کړی - دا رسم دومره ضروری دے چه خامخا نائی لیکی اګرکه دا کار د بل معتبر سړی په ذریعه هم کیږی - شریعت چه یو څیز ضروری کړے نه وی هغه ضروری ګنړل د شریعت سره مقابله ده - او

نور هم داسې خلاف شرعه کاروَن په کښې کوي چه هیڅ جواز نه لري۔

۱۲۔ په کور کښې د خپلو خپلوانو توله ښځې جمع شي جینۍ به په یو کوټ کښې کینوي په دې موقع په مختلفو علاقو کښې مختلف رسمونه وي په بعضې ځایونو کښې هلک په پالنګ خیجوي او په بعض ځایونو کښې ئې په اس سوره وي او خیره ورله جوړه دي وغیره وغیره خو دا ټول رسمونه خلاف شرع او ناجائز دي او دا ټول رسمونه داسې په پابندۍ سره کوي چه د فرضونو ئې زیات ضروري ګڼړي۔ او ډیر خرافات او نقصانات په کښې دي چه پرېښودل ئې ضروري دي۔

۱۳۔ کله چه نائي د خط سره حلته اورسي نو د واده په کور کښې ښځې جمع شي او دوه خوانچې د شکرانې تیارې کړي چه یوه د دې نائي او بله د لاړې وی نائي ته هغه خپله راویستې شي او نا ئېږه هغه خپله کور ته یوسي په دې موقع هم ډیر زیات رسمونه په مختلفو ځایونو کښې په مختلفو طریقو سره رواج دي چه ټول واهیات او عبث دي۔

۱۴۔ سحرله د دې کور خلق جمع شي او نائي سره د خط د جواب او قیمتي جوړې واپس کړي او ډیر رقم ورکړي۔

۱۵۔ اوس نائي واپس راشي او خپلې جامې د خود لو د پاره ورا ولیږي چه هغوی ئې په ټولو کورونو کښې د نمائش د پاره اوګرځوي۔ او د چم کلاونه ټولې ښځې ورته راجمع شي او نمائش ریا او دکهاوه اوشي۔

۱۶۔ د دې تاریخ نه د خپل ولي او چم کلاونه ټولې ښځې جمع شي او د واده د ورځې پورې د کور په تیارۍ کښې لګیا وي او د جینۍ په کور کښې هم ښځې جمع شي د جهیز په تیارۍ کښې مشغولې وي۔ او په دې میاشت کښې چا کوم میلمانه په دې دواړو کورونو کښې کوم یو کور ته راځي نو کرایه به خامخا ورکوي اګر چه دوی نه وي راپلي د ځان نه راشي خو کرایه ئې په دوی لازمه ده۔ یو خوا د ښځو جمع کیدل او بل خوا کرایه ورکول که زړه ئې غواړي او که نه خو دا رسم به خامخا پوره کوي او دا ټول د نمو داو نمائش او شان شوکت د پاره وي او د فرضونو ئې زیات ضروري ګڼړي۔ او د دې ټولو نه زیاته قصه بیا د جهیز ده چه د حقیقي جهیز نه ئې اوس بل شکل اختیار کړې دې چه محض د نامونې شهرت او د رسم د پابندۍ په نیت سره کولې شي۔ او داسې حد ته رسیدلې دې چه او س په کوم چا طاقت وس به هغه نه راځي او خلقو ته د خودلو د پاره ئې نمائش کوي۔ غرض حسب توفیق د لورسره د احسان په طور که څه اوشي نو هغه جائز دي خو هغه داسې نه چه د طاقت نه باهر وي ځان پې قرضدار کړي او سود سلم پې اوکړي او بیا ئې خلقو ته نمائش کوي دا په هیڅ شان جائز نه دي۔

٧:- او په بعضې ځایونو کښې دې چه د دې هرڅه د پاره به پېسې د هلک د کور نه اخلي یو طرفته به مهر رقم ادا کوي او بل طرفته به د سامان د پاره ته د جینۍ کور جبراً او قهراً وصول کوي - او نوره سم چه د جینۍ په کور کښې څه خرچ اخراجات کیږي ورکوي به او د وادۀ د پاره چه څومره سامان د جینۍ کور غواړي هغه به کوي. که دې سامان ته د هغوی ضرورت وي او که نه او که پیدا کولے شي او که نه خو چه هغوی ئې غواړي د وی به ئې خامخا کوي او پیدا کوي - دا څومره ظلم دے -

٨:- د وادۀ نه یوه ورځ دوه مخکښې به د هلک د کور نائي نکریزه وغیره او د جینۍ د کور نائي چوړه راواخلي او راوړي به او په دواړو کورونو کښې به ښځې جمع کیږي او په دغه طریقه به دا ناروا رسمونه هم په ډیر شان شوکت کوي -

٩:- چوړه راوړونکي نائي ته په انعام هم ملا ویږي او بیا به دا چوړه په ټول محله او خپل ولې کښې د نمائش د پاره ګرځولے شي او دا ناجائز رسم به پوره کوي -

١٠:- سحر وختي به ښځې لهٔ غسل ورکړي چوړه به وروا غوندہ وي او نیمه چوړه به سره د پیڅاره نائي ته حواله شي او د سړه حق به هم په خادمانو تقسیم شي دا رسم د کافرانو دے نو ځکه حرام دے -

١١:- او س به د چم کونو ښځې راغونډې شي او ښځول به په پالنګ خیژ وي او سهره به ورله چوړه وي په دے وخت کښې ډیره بے احتیاطي وي خپلے پردے ټولے ښځې به ورله راځي او هیڅ پروا به نه کوي ډیرے پرده دارے ښځې به هم په دے موقع څه پروا نه ساتي - او پیسے وغیره به پے نو سنته شي نو دا څومره د شرم خبره ده او څوک چه په دے کار کښې شریک وي هغوی به ته خپل حق غواړي نو دا څومره فضولیات دي -

١٢:- جنج روان شي ډیر په شان شوکت سره ښځې ور روان وي د فکر مقام دے چه په یوه ښځه پسے دومره خلقوله تکلیف ورکول ته څه ضرورت دے او بیا په دوی کښې خو د خپل پردي دوست دشمن بللي نا بللي هیڅ فرق نه وي او داسے شور فوغا به جوړه وي چه یو قیامت به برپا وي او اکثر په کښې ډیر خلق خفه هم شي ډیر په کښې بے عزته هم شي او قسما قسم وران ویان حالات په کښې رابیخ شي او اکثر خلق په کښې آسونه تانګے موټرے وغیره هم زغلوي چه خطرناک واردات په کښې پیښیږي نو بے ضرورته ځان په دومره جنجال اخته کول څه معنی لري -

١٣:- نکریزه چه کوم نائي راوړے وي هغه له هم دومره انعام اکرام ورکولے شي چه د نورو ټولو انعامونو اتمه حصه به وي چه نورو خلقوله ئې ورکړي وي دا هم زبردستي جهانه اغستل دي چه په هیڅ شان جائز نه دي -

۱۴:- څه نکریزه نا وي او لېږه وي او باقي تقسیم شي دا هم نا جائز دي -
۱۵:- په هر کار بانډې به حق غوښتې شي مثلاً ناوې دیګ له نغرې جوړ کړې حق غواړي د کټ جوړه ولو حق غواړي د ډولۍ جوړه وَلو حق غواړي نا وي ته دا وبواېو لو حق غواړي غرض دا په معمولي کار به هر سړے د خپل حق مطالبه کوي - دا حقوق نه د دوی د کوم طرفه راغلي دي که ناوې دے نو هغه خو خپل حق په ها پرمني اخلي یا ماهوار تنخواه اخلي - او که خادمان نوکران دي نو هغوی خو هم خپل خپل حقوق د ماه وار تنخواه په شکل کښې یا په فصل کښې وصولوي او که خور ترور وغیره دي نو د هغوی خو هم خپله مقرر حصّه وه چه چپل وخت ورته رسي خو خدلے خیر چه کړے وخت دا حقوق په کښے د کوم طرفه فرض شو خو بس یو تالان طوفان دے چه د چا په کوم راشي نو ستر بړے ئے داسے پیټي شي چه نه په سود سلم صرف کوي نه په قرض دار خو چه د شیطان په نوم د خرچ کولو په وخت کښے او نه شرمیږي او چه کله دا کنړه کوره خوره شي نو بیا ئے اېله ستر بړے او غې پړی او چه پچان پو هیږي نو په قرضو نو کښے د مرئ پورے ډوب شوے د باغ باړئ کوټه پټي وغیره نه په کښے یے غمه شوے وي - او بیا په کلو نوکلو نو هم ځائے له د راتلو نه وي او په دے حرڅه د پاسه ئے الله او رسول هم دومره ناراضه کړي وي چه ځان لئے په دوزخ کښې څه اعلیٰ مقام حاصل کړے وي نه دین شي او نه دُنیا ځکه چه په دے دومره خرچ تے بیا هم اکثر خلق خفه وي او هر سړے ورته کمله کوي څوک به وائي څه د راغو ختے نیم او څوک چه ئے راغوختلي وي هغه به وائي ځما دے قدر نه دے کړے د دهغه وسته خدا ئے ناراضه " والا معامله وي خلق مره وړا وا الله او رسول نا راضه او د مال جائداد نه کنګال - فائده څه او شوه ؟
۱۶:- چه جنج ځائے ته او رسي نو هلته به داسے شورا وغوغا پورته شي چه قیامت به قائم شي د کور مالک به یو وی او دوی به سوؤنو د کور د مالک نه به سم لیونے جوړ شي او اکثر په کښے بے عزته هم چیر شي نو دا خو مره بده خبره ده -
۱۷:- جنج یو طرفته کیني او د واده سامان راویستل شروع شي دا کړیا او د نجړ د وختي او دا حرڅه د نما ئش د پاره کوي - اکثر سامان په کښے غیر ضروري وي او د نمائش د پاره به ئے د چا نه غوختلے وي - او بعضے خپل هم کوي خو دا ټول حرڅه د تکبر او ځان خودلو د پاره وي چه په شریعت کښے د دے حرمت بیان شوے دے
۱۸:- او د دے سامان د وړو د پاره ډیر خلق راغلي وي چه هر یو له یو یو څیز ور کوي او هغه ئے په سر اخلي وړي - اګر چه ډیر سامان په کښے یو سړے هم وړے شي لیکن نو یوئ کړي چه قافله تے جوړه شي او ډیر ښکاره شي دا ښکاره مکر او تکبر دے -

۱۱۹- دَ خاندان او چم ګاونډ ټول خلق دَ دے سامان سره دَ کور ګوټ تر ننوځي په دے موقع اکثر د پردے احتیاطي کیږي او غیر سړي هم په کښے دَ ښځو مینځ ته ورشي او ښځے سړي سره اریک شریک شي معلومه نه ده چه په دے ورځ دا دومره ګناه او بے غیرتي دَ کوم طرفنه جائز شوه۔

۲۰:- په دے سامان کښے اکثر داسے وي چه هغه بیا واپس کیږي - نو دا کوم عقل دے چه یو شے دَ واپس کولو وي او دَ هغے په وړو راوړو خواه مخواه خلقو له تکلیف ورکړے شي غرض دا ټول لغویات او دَ شرعے نه خلاف دي لیکن بیا هم خلق ئے کوي او خرابو ته ئے فکر نه کوي

۱۲۱- په دے موقع هم بعضے داسے رواجونه دي چه دَ مور پلار نو دَ ناوے دي او دوي په کښے دَ خپل حق مطالبے خے په چیر سره کوي - او پریدي ئے نه -

۱۲۲- په دے موقع دا هم رواج دے چه ناوے کوزه کړي نو ځوک به ورته تر دے نه پریدي دَ خپل کور ته نه به ورسره داخلے وي هغه به تے چا پیره وي او دَ دے کور یو ه ژنانه ورته تر دے نه پریدي - او دَ ټولو نه اول به ورته په غیږ کښے ورکوي ماشوم کینوي او ناوے به ورله څه پیسے ورکړي او بیا به ورته قرآن شریف په جولۍ کښے کیدي او هغه له به هم شکرانه ورکړي - او بیا ئې کښے به ورسره خوابنے او کورۍ او داسے نور ډیر خرافات وي چه دَ شرک او کفر سره برابر دي خو خلق ئے دَ رسم په حوږ کوي او فرض ئے ګنړي -

۱۲۳:- یو رسم دا هم دے چه جینۍ د دلۍ ته خیژوي نو مُلا به راولي چه په غوږ به نو کښے ورته با ئلئي او وائي سبحان الله چه دا دَ کوم مُلائے نه جائز شو او بیا پردے سړے را وستل او دَ ښځو په مینځ په هغه دَ ناوے په غوږ کښے با ئلئي ویل افسوس دے په داسے نامي مسلمانانو -

۱۲۴:- دَ نکاح دَ پاره په دَ چم ګاونډ او عزیز ولي خلق کور ته را ونته کړي خیر غنیمت دے خطا خو معاف شوه خو اکثر په دے خرافاتو کښے ټوله شپه یا ډیره حصه دَ شپے او لږي - خواب په کښے اونه شي هد هظمي په کښے ډیر وته اوشي او دَ سحر مونځ په دے وجه قضاشي دَ ډیر ونه نو دا کوم یو انصاف دے -

۱۲۵:- ادبو والا اوُبه راوړي نو هغه اسه به پنځه پاوه ورکړي که زړه ئے غواړي او که نه خو بالازمي دي داحرام دي او دَ کفار و رسم دے -

۱۲۶:- نائي به شربت ویشي دا رسم دَ کوژدنے په بیان کښے تیر شوے دے.

۱۲۷:- بیا به مُلا نکاح تړي هس په دے ټولو خرافاتو کښے دا یوه خبره دَ شریعت ده خو اوس هغے هم داسے شکل اختیار کړے دے چه دَ شریعت دَ حدونو په کښے

څه خیال نه شي ساتلی - اکثر په کښې داسې نکاح خوان راشي چه د نکاح د مسائلو نه خبر نه وي - او داکثر نکاح غلط شي او بیا تول عمر د بدکارئ ژوند تیره وي او بعضې خو په کښې داسې حریصان او لالچي وي چه د پیسو د پاره چه څومره ورته وائي هم هغه کوي خواه که نکاح کیږي او که نه - که مړے جنت ته ځي او که دوزخ ته خو د هغه کار د خپلې حلوا سره وي - نو پکار دي چه نکاح خوان بنهٔ عالم وي او نکاح په شرعي طریقه سره او تړي - او په بعضې ځایو نو کښې دا رواج دے چه د نکاح نه اول به هلک د ښځې راوستے شي او د ناوے په ورغوي کښې څه کیدي او په دې ئې خوره وي څومره د شرم خبره ده چه نکاح ئې لا نه دے شوے او د ناوے لاس بے ضرورته چنغول ته ښکاره کوي - د نکاح نه پس به اول شربت او بیا میټهائیانے خې په پابندئ سره خوره ولے شي - او نکاح خوان ته په دے موقع هم څه نقد پیسے ورکولے شي لازما چه دا هم حرامے دي -

۲۸ :- نائي به خلقو ته او به اچوي چالاس او وینځي د خوراک د پاره او انعام به اخلي نو دا کوم داسے کار دے چه بغیر د ده نه ئې بل څوک نه شي کولے او د دې به ئې کوي او بیا به جبرا قهرا پیسے غواړي او حق ئې کنړي دا هم حرام دي -

۲۹ :- او بیا د خوراک نه پس تول جنجیان رخصت شي او د هلک د پاره به پالنګ جوړیږي غریب به اول تول شپه په مزکه تیره کړي او او س به ئې قدر پیدا شي - او د دے پالنګ جوړه ونکے به تے هم خپل حق غواړي -

۳۰ :- په بعضې ځایو نو کښې به اول شپه یا ترد دے ورځو پورے به جینئ له د پلار د کوره خله ځي او تول ملګري یعنې سهیلۍ به ئې ورسره خوري - دا هم د شریعت نه خلاف ده - او ناجائز دي او د دے غلے راوړونکے نائي به دلته خپل حق غواړي - او جینئ ته دا وبه اچولو پیسے به هم نائي ره غواړي او دا تول ناجائز دي -

۳۱ :- د واده په کور کښې به چه ماے وهلے شي او سند رے به ګوانے او پیغلے ښځے وائي چه دا تول حرامے او ناجائزے طریقے دي - د کوژدے یا واده د شهرت د پاره خو ډهامه کول جائز وي خو هغې هم او س د حرامو شکل اختیار کړے دے د کوژدے په سر یا یو بل ورځ به مقرر کړي او تولے ښځے به دے کور ته راواوغوښتے شي نائي به ددوی له ډهامه راوړي ډهامه به وهي او په کور کښې به ورته تولے ښځے کښیږي او بیا به تولے ښځے نائي له څوک دوبته څوک شاندڅوک جوړه او څوک روپئ پیسے ورکړي چه حرامو الے ئې د مخکښے نه معلوم شوے دے -

۳۲ :- په دے واده ښادئ کښې به نائیږے ښځو ته لوګی هم کوي او پیسے به تے غواړي غرض په هر قدم د شریعت نه خلاف ورزئ دي چه کیږي -

۲۳:- چه دَ واده په ورځ زانګوراوړی لوډنا وے پلار او وروڼه به راځی او په سر به ورله لاس راکاږی او اکثر ښځے نرپه دغه موقع اریک شریک شی۔ بیا جینۍ د ولۍ ته او خیژه وی او جړاکاڼے به جوړے شی که چالِه جړا ورځی او که نه ورځی خو خامخا به ځان جړه غوڅے کوی دا تول مکر او فریب دے۔

۳۳:- په بعضے ځایونو کښے دارواج دے چه نا وے به د ولۍ ته خپل چنغول خیچوی او دا کار به دَ ټولو ښځو نرو دَ وړاندے کوی دَ دے تماشے ته به ډیر خلق راغونډ شوی وی دا خو مره بے حیا رسم دے او اکثر په کښے خاوند کمزورے وی نو خویاندے ورسره امداد کوی او په دے غوبل کښے اکثر خوبند هم شی۔

۳۴:- او دَ ناوے په یو پلو دَ ښځا درکښے پیسے په بل کښے مالېده په یل کښے مثال او په ځلورم کښے وریجے تړی چه دا ټوټکے او دَ شریعت نه خلاف دی۔

۳۵:- او په د ولۍ کښے به ورسره میتا ئی کس ی چه دا به ئے دَ خاوند کورته را غوختلے وی او دَ جیب ایځو دو دَ پاره به تے پیسے هم راغواړی چه دا به بیا حلته دَ ناوے نه خلق غواړی او چه د ولۍ او چته شی نو دَ هلک دَ طرفه به په دَ حخه خپلوان او یاران دوستان دَ پیسو باران جوړکړی او دا سے غوبل به نے جوړ شی چه اکثر واړه به پکښے دَ خپولا ندے شی۔ او په ټول لاره به دا د ولۍ دَ سرو په اوګو پرته وی او مخلوق سرې به ورپسے وی او دا سے بے شرمه او بے باک خبرے به په زوره زوره کوی چه شیطا ن به تے آمان غواړی ټوک به پسے لاس د ټه کوی دَ فکر مقام دے چه دا کومه حیا او غیرت دے چه خپله پیغله ښځه به پردو لوټو ته په اوګو سوره کړی او زغلوی به ئے او دا یته به جائز وائی او فخر به پرے کوی۔

۳۵:- نائی به دَ جینۍ دَ پلار دَ کوره غله راوړی او بیا به خپل حق غواړی او دَ ئے به نه غواړی دا دَ ده مشرانو دوی له قرضه ورکړے وه او س ئے تے ځکه دا سے په زور سره غواړی۔

۳۶:- سحرله به دَ برات سره راغلی بهنګیان دَ ډَف غبږه وی او دا نغاره خو دَ نکاح دَ شهرت دَ پاره جائز وه چه شهرت ئے اوشی لیکن اوس ئے حاجت ځکه نشته چه یو خو هسے هم په کښے ډیره ګڼره وی تول دنیاته خبر شی او بل په کښے ناروا رسمونه جوړ شوی دی یوائځے نغاره خو نه وی باجے وغیره ورسره هم وی چه بالکل ناجائز دی۔

۳۷:- دَ هلک دَ کورنائی به دَ جینۍ دَ کورنه خپل حق غواړی او دَ جینۍ دَ کورنه دَ هلک دَ کورنه او دا به دا سے په زور او جبر سره غواړی چه ترڅو دَ دوی حق

نه وي اداشوې نو نه څوک په ولې اوچتولے شي او نه نوکار کولے شي۔
۳۸:- د جینۍ د کوزدنائۍ د فاده هلک ته د پان ورکولو د پاره راځي او خپل حق په غواړي دا عاجزه نه کیوتے دے خه ئے لوټ کړي ځکه چه بیا داسے د نه کیوزي نه هرڅه چه تے غواړي په مینه ئے ورکوي۔
۳۹:- نائیره ناوے له سر غواړي او منګز کوي او خپل حق غواړي او وَلے نه غواړي قرضه ئے ده په۔
۴۰:- د نوکرانو او خادمانو د پاره به هم حقونه غوښتے شي او دا به وائي چه دا حقونه ورکول جائز دي ځکه چه دے غریبانو خدمت کړے دے او د داسے موقع په انتظار وو نو جواب ئے دا دے چه چا له ئے خدمت کړے دے د هغوی نه دے خپل حق غواړي دا کوم انصاف دے چه خدمت د یو او کړي او حق د بل نه غواړي
۴۱:- چنغول کورته را دننه کړے شي او دغه وخت پوره بے پردګي وي او د بعضے بے باکو خبرو تپو سوده تے کولے شي۔ چه ګناه او بے غیرتي ئے ظاهره ده۔ او بعضے خو هلک ته وائي چه ته داسے ناوے ته وایه چه زه ستا غلام یم۔ ته شیره ئے او زه ګیدړ۔ توبه خدایه توبه الله پاک خاوند ته سردار ویلي وي او دوي ئے غلام او تابعدار جوړه وي نو دا خو بنکاره د قرآن نه خلاف کول دي۔
۴۲:- او که چیرې د غیرت نه کار واخلي نو روماله ئے کورته را اوغوښتے شي او د سلامۍ روپے کومے چه په ښو ته کښے راغلے وي جمع کړي او هلک له ئے ورکړي چه ګناه دے۔ او بیان ئے د ګناه مخکښے ذکر شوے۔
۴۳:- او د دینه هم د چمانو او نایانو حق ویستے شي د خدائے پاک د زکوٰة خلوېښتمه حصه دومره فرض نه ده لکه څومره چه د دوی دا حصه فرض ده۔ دا بے حده پابندي څومره لغوه او عبث ده۔ بیا دا چه نائیره خو خدمتي هم ده۔ نو دا د کوم مرض دارو ده چه په هر ځائے کښے د دے حق دے۔ او دا تول چه په واده خادۍ کښے د چمانو د مجلس کولو حق د خدمت دے نو چه کانا بجانا حرام شو نو په هغې انعام اکرام ورکول د کومه حلال شو او منه دوري بیا داسے چه کوروالو خورا غوښتلي دي نو ځکه ورله څه ورکوي لیکن میلمنو څه ګناه کړے دے چه په زورا و جبر تے غوښتے شي او څوک چه نه ورکوي نو شرموي ئے نو داسے حق څنګه حلال شو۔ او د دے حراموالے مخکښے بیان شوے دے۔ او خرابۍ ئے هم ذکر شوي دي۔
۴۴:- او بیا د جهیز ټول سامان به یا هرته راویستلے شي او یو یو شے به خلقو ته ښودلے کیږي او د سامان او جوړو جامو کالو وغیره فهرست به هم خلقو ته

خو دلې شي نو دا تحل فخر او دِ کِلاوه ده - او دغه وخت ئے ورسره بعضې خلق نه ورسره کوي بيائے پيسے وروستو وړي خو نمائيش او خودنه ئے ضرور کوي -

۴۵ :- د نايا نو وغيره حصه په جهيز کښې هم وي چه حرام والے ئے بيان شوے -

۴۶ :- او س چه جينۍ د ولۍ ته خيژه ولوته اول به د جينۍ پلار رور وغيره کوز د ئته رااوبللے شي او دغه وخت به هم بنځے نه تهول کړه وړشي چه نا کاروالے او حراموالے ئے مخکښې بيان شوے دے -

۴۷ :- بيا جينۍ رخصت کړي په د ولۍ کښې کينوي او د کور لوئے واړه چغار شروع کړي که د چا زړه غواړي او که نه خو د خلقو د مخے به خامخا ځان له چغار او ولې چه کوي نه زه پسے خفه يم - چه دا تول مکر فريب او د شرع نه خلاف او گناه دے -

۴۸ :- په بعضے ځايو نو کښې به ناوے د ولۍ ته چنغول خيژوي او د تولو خلقو په مخکښې به داسے کوي - په دے کښې د بے غيرتۍ او بے حيائۍ نه علاوه څومره بے عزتي ده چه پردئ او خپلے تولے بنځے ئے تماشے ته ولاړے وي او اکثر په کښې ناوے د زنه وي نو خو کيږي په کښې هم چړے نو دا هم جائز نه دي -

۴۹ :- د ناوے په يو پکو کښې څه نقد پيسے په بل کښې نکريزه په ديم کښې جانقل په څلورم کښې وريځے او د وښو پانړے او تړي دا بدفالي او تو تهکاده چه علاوه د خلافِ عقل نه د شرک خبره ده -

۵۰ :- او په د ولۍ کښې ورسره د ميوے پنډ وکے کدي چه د خرڅ موقع به ئے وړاندے بيان شي - او عبث والے ئے بنکاره دے -

۵۱ :- اول به د ولۍ د پلار د کور خلق او چته کړي او د هلک خلق به پے نوښتل شروع کړي نو دا هم د نوم نمائيش د پاره کوي نو دا هم بے ځايه او فضول خرڅ دے او واړه وغيره په کښې اکثر هم خوږ شي نو دائے هم خرابوالے دے -

۵۲ :- او په دے نوښتلو کښې به هم د زانکو وړونکو او خدمت کارانو حق وي چه جبر او زور زياتے ئے بنکاره ناروا والے دے -

۵۳ :- او چه د ولۍ د کلي نه او باسي نو کيدي به ئے او وړونکي به خپل حق غواړي دا هم زبردستي او زور دے -

۵۴ :- او د ناوے خلق به دلته رخصت شي او هغه مېتهائي ميوه به د ناوے نه را او خلي تالان به پے جوړ کړي په دے کښې هم چړے خرابۍ دي اکثر پردي سړي د ولۍ ته لاس د ننه کوي او ميوه را او باسي او کپړه دے هغه وخيال نه کوي او د اکثرو خو په کښې د ناوے سره لاس او لږي او اکثر په کښې جنګ جګړه هم او شي خو سره د دے هم دا منحوس رسم څوک نه پريدي - تولو بے شرمي

اوبے عزتی ئے قبولہ دہ خو دَ رسم پرېښودو تہ جوړ نہ دی۔
۵۵:- په لاره کښې چه اولہ ندئ راشی نو هم بہ زانګو وړونکی خپل حق غواړی
۵۶:- چه کور ته د ولئ اورسی نو د ولئ وړونکی ترهغې د ولئ نه کدی چه حق ورته
نه وی ملاؤ شوے نو کہ دا العام وی نو دا جبر په کښې دَ کومہ دے او کہ منہ دوری
وی نو دَ منہ دورئ خو اولی مقرر تیا کولے شی او چه تنګ ست وی نو صبر ورته کولے
شی خو دا بغیر دَ رسم نہ نور هیڅ نہ دی۔
۵۷:- په بعضے ځایو نو کښې دا دستور دے چه دَ جینئ رشته دار هلک راشی او د ولئ
په دروازه کښې او درَوی او حق غواړی چه ترڅو حق نہ وی مقرر شوے نو ئے پرېږدی۔
۵۸:- دَ د ولئ دَ پاره دَ کور په غولی کښې یو ځائے برابر کړی او د ولئ اول په هغے کښې
کیدی او رسم پے کوی بیائے دننه بیائی په دے کښې علاوه دَ بے حد پابندئ نہ سراسر
بد فالئ او دَ کافرانو سره موافقت دے چه ناروا دی۔
۵۹:- کله چه د ولئ کېخودے شی نو کوزه وُنکی ئے ترهغې پورے دَ د ولئ نہ نہ
کوزه وی چه حق ورله ورنہ کړے شی او اکثر خو دروازه بنده کړی چه ترڅو
پورے څو ښد فیس یا جرمانه نه وی ادا شوے ناوے به را نه په دے کور کښې قدم
کینږدی۔ دا هم زبردستی او ناروا دی۔
۱۶۰:- او بیا چنغول راولی دَ د ولئ سره ئے اودره وی او دا یو قسم شګون دے چه
دَ عقیدے دَ خرابئ سره په کښې بے شرمی او بے حیائی ده۔
۱۶۱:- ښځے صندل او نګریزه میده کړی او دَ ناوے په ښئ خپه او تندی تے
تهیکہ لیده وی۔ دا ښکاره تو تهکا او شرک دے۔
۶۲:- تیل او ماش صدقه کړی ښکن لہ ئے ور کړی او دَ ناوے دَ کټ په څلورو
خپو تیل چنړ کاؤ کړی دا هم دَ عقیدے خرابی او عبث حرکت دے۔
۶۳:- او دغه وخت دَ کټ په نه یو پیسه را او غواړی او دَ ناوے او چنغول
دَ سر صدقه ئے کړی او بیائے دغه کټ بہ ته سره دَ څه شکرانې واپس کړی
نو دا خو مره عبث حرکت دے ځکه چه پردے پیسه خیرات کول کوم عقل دے
او بیا دَ صدقے مصرف کټ بہ کوم طرفته مقرر شه۔ غرض ټول لغوه او عبث حرکت
دے او دَ شریعت نہ بالکل خلاف دے۔
۶۴:- او بیا ناوے کوزه کړی او په یوه بورئ ئے مخ په قبله کینوی او اووه وادہ شوے
ښځے جمع شی لږ لږ کیر دَ ناوے په ښئ لاس کښې کدی او یوه یوه ئے تے بیا څتی۔
دا رسم بالکل شګون او دَ فالونو ډک دے چه منشائے دَ عقیدے خرابی او مخ په قبله کول
خو یو ښه کار دے خو دا اوس رسم جوړ شوے که بیا ټول عمر چرته مخ په قبله نه کړی خیر دے

خو دا وخت به خامخا په قبله کوی۔ او پابندئ ئے د فرضونو ذیاته گنړی۔

۱۶۵:- او دا کېږی په دوه تالو کښې راکوزه وی چې یو به د چا مے او بل د نائی وی او د دغه انعام نه به ئے ورته ورکوی۔ دا هم محض رسم او خرافات دی۔

۱۶۶:- او بیا یومن یا دوه منه کېږی په عزیزو ولئ کښې تقسیم کوَلے شی۔ چه محض رسم دے۔

۱۶۷:- او بیا د ناوے د مخ کتو رسم دے د ټولو نه اول به ئے خوابنے یا بله مشره ښځه مخ گوری او څه به ورکوی او دغه شان به بیا نورے ښځے د مخ کتو د پاره راځی او څه به ورکوی که د چاسره پیسے وغیره نه وی هغه ئے مخ نه شی لید ے۔ غرض دا د واجبا تو نه دی چه د شرعی حد نه صاف تجاوز دے۔ او که دا معلومه نه ده چه دا کار د کوم طرفنه فرض شه او فرض بیا داسے چه څوک ئے او نه کړی نو به ټوله برادرئ کښې بے حیا بے شرمه او بے غیرته مشهور شی بلکه داسے تعجب پے کوی لکه څوک مسلمان چه کافر شی نو دا د شریعت د حد نه وتلی دی او که نه او ناوے به په دغه ځائے ناسته وی خوه زی به نه که موخے تے قضا کیږی خیر دے خو دا به خوزی نه خوراک سکاک به نه وی ځان کړه وَلے نه شی خواب نه شی کولے تش بول او دک بول که ورشی حال نه شی ویلے په ناوے دا ټولے خبرے د ښځو په مذهب کښې حرامے دی او ناوے عاجزه د دے وجه نه د رے څلور ورځے د مخکے نه خوراک سکاک بند کړی خدائے خبر چه د دے عاجزے کوم جُرم کړے دے چه اوس داسے په توره کوټه کښې بنده شوه۔ فکر او کړئ چه دا بے وجه یو مسلمانے له تکلیف ورکول دی او که نه دی۔ او په دے چل ول کښې یوه ښځه هم موخے ته خیال نه کوی او موخو نه قضا کوی نو دا ټول رسمونه ختمول پکار دی او په بعض ځایونو کښې دا رسم د خپو پریوتو په نوم کوَلے شی ناوے به د هر یو سړی او ښځے په خپو پریوځی او دوی به روپئ ورکوی دا خو ښکاره شرک او کفر دے۔

۱۶۸:- بیا به ورته ښځے په غیږ کښې یو کینوی او دا به ورله میوه ورکوی او وائی به ئے تے د دے د پاره چه اولادے اوشی نو دا هم شگون او ناروا رسم دے۔

۱۶۹:- بیا ناوے په کټ کښې کینوی او نا ئنړه ورله د ښئ خپے کټه کوی او دوئی د ناوے په پلو کښې چه کومے پیسے غوټه وی هغه به دا نائنړه د لاس اینځلو په بدله کښې اخلی نو دا هم یو شگون دے۔

۱۷۰:- او د ناوے د خوراک د پاره مُخَمَّد جوړه کړی هغه به په کښې کوتے او د هی او بیا به ئے نائنړه کورته یوسی دا هم شگون یعنے بد فالی ده۔

۱۷۱:- بیا د هلک د کورنائی د جینئ د کورنائی ته او یه اچوی د لاس اینځلو د پاره او په دے کښې هم بے حده پابندی او جبری انعامونه وی چه ناروا دی۔

۷۲:- دَ خوراک پہ وخت کښې دِ مے دَ کنځلو سند دے وائی او دَ دے نائیزے نہ بہ انعام اخلی ماشاءاللہ کنځل بہ هم خوری او انعام بہ هم ورکوی دَجهالت هم څہ حد وی اللہ دے امان راکړی۔

۷۳:- پہ جهیز کښې بہ یوه جوړه دَ نائیزے وی او یوه یوه جوړه بہ نورے خویندے ترورانے تقسیم کوی۔ داخو مره زبردستی ده" مان نہ مان میں تیرامهمان" کہ خوک او وائی چہ دا خوشحالی ده زبردستی نہ ده۔ نو جواب ئے دا دے چہ خوک داسے او نہ کړی نو وَلے شرموَلے شی دا خو زور دے او پہ زور چہ دَچانہ څہ شے اخستے شی هغه حرام وی۔

۷۴:- دَ شپے وخت دَ تنهائی دَپاره وی لیکن بعضے بے حیا ښځے پہ کښې دَ دوی دواړو خبروتہ غوږ کږدی او ځان پہ لعنتیانو کښې راولی۔ پہ حدیث کښې پہ داسے خلقو لعنت ویلے شوے دے چہ پہ پټه دَچا خبروتہ غوږ کږدی۔

۷۵:- پہ بعض ځایونو کښې سحر لہ دَ دوی دَ بسترے تماشے کولے شی او ځینے خو ئے دَ نائیزے پہ لاس پہ ټول خاندان کښې دَ لیدو دَپاره ګرځوی۔ داخومره بے غیرتی ده اللہ دے آمان راکړی۔

۷۶:- دَماز یګرا و ماښام پہ مینځ کښې دَ ناوے سر خوره وَلے شی او دِ مے بہ سند رے وائی او انعام اکرام بہ ورکوَلے شی دا هم خرابی او ناروادی۔

۷۷:- دَ ناوے دَ راتلو پہ دریمہ څلورمه ورځ بہ دَ هغے خپلے خپلوانے راځی او ورتہ اُووَمه وائی پہ دے کښې هم دِیره پابندی او ناروا رسمونہ نوردی او دا دَ کافرانو رسم دے نو پہ دے وجه هم منع دے۔

۷۸:- دَناوے رونړه وغیره بہ کورتہ دننه راوستے شی او دَ ناوے سره بہ یوائے پہ مکان کښې کینی اکثر بہ دوی کښې نامحرم هم وی لیکن دَ دے هیڅ باک نہ کوی چہ دَ نامحرم سره یوائے کیناستل څومره ګناه دے او دوی بہ ناوے لہ څه نقد ورکوی او ناوے بہ په دوی میتهائی خوره وی او بیا بہ ځی دا ټول دَګناه کارونہ دی۔

۷۹:- چہ نائی دَ لاس وینځلو دَپاره راشی نو خپل حق بہ غواړی۔ او نائیزه بہ هم دَ اُووَمے ښځوته دَ لوګی شربت او لاس اینځلو حق غواړی۔ اللہ دے آمان راکړی کوم حقونہ چہ اللہ پاک پہ بندګانو دَ پیړیل مقرر کړی دی هغه ټول موتوف وی لیکن دَ دے مَن ګړت رسمونو او حقونو دَ فرضونہ هم زیات لحاظ ساتلے شی۔ استغفراللہ دَمیلمنو نہ پہ خوراک پیسے اغستل څومره دَ عقل سره دشمنی ده چہ ځپله بہ ئے راو غواړی او بیا بہ تے پیسے غواړی۔

۸۰:- دَ خوراک پہ وخت کښې بہ دَ اوومے سره دِ مے راغلے وی او هغوی بہ دَ کنځلو

سند نه ورکوی او انعام به اخلی په کښلو انعام ورکول ځومره بې عقلی ده الله دے
پوهه کړی چه حاجتمند و او غریبا نو له په دعا کانو یوه پیسه نه ورکوی او د بندانو
ته په کښلو روپۍ بخښی - دا رواج ځومره ناکاره شے د الله دے ورک کړی -

۸۱ :- د اجوړے جامے او میتابیانے به د یو کور نه بل کور ته ځی او بیا به واپس بے
کور ته راځی رسم داسے شے دے چه ګناه په کښے هم اوشی او مال هم برباد شی -

۸۲ :- او د ناوے سره به چنغول هم ځی او د رخصت په وخت کښے به ورسره هغه
غلو رخیزونه په پلوونو کښے تړلے شی -

۸۳ :- د ناوے چنغول چه خپل کور ته بیا راشی نو سهیلئ به تے پیډ اربت کړی او بغیرد
پیسونه به ئے نه ورکوی - آفرین چه یوه غلا او شوه او الټا به انعام هم غلا له
ورکولے شی او پېر دې بنځے او پېرودے سړے به د یو بل سره دا مذاق او ټوقے
کوی دا څومره د بے حیائی خبره ده -

۸۴ چه د ناوے چنغول راشی نو ناوئ به ورله د بنځئ خپے کښه کوے او ونیځی او خپل
حق به غواړی -

۸۵ :- او د دینه علاوه د کورخادمانو نوکرانو له به هم خپل خپل حق ورکوی

۸۶ :- په دے ټولو ځائیونو کښے د ناوی حق ضروری ګنړلے شی چه دا د هندوانو
رسم دے - د هندوانو په رواج کښے د ناوی اختیارات ډیر زیات دی نو بے علمه
مسلمانانو د هندوانو دغه رسمونه خپل کړه -

۸۷ :- چه د خوراک وخت راشی نو ناوئ به خفه کینی خوراک به نه کوی چه اول ځما حق
راکه بیا به خورم سبحان الله څومره بے عقلی ده چه په احسان کښے دومره زبردستی

۸۸ :- درے څلور ورځے پس بیا د چنغول کور والا هلک او جینئ واپس کور ته
بیائی په دے کښے هم هغه رسمونه وی کوم چه په اوومه کښے وی -

۸۹ :- د دوی د بوټلو د پاره بنځے راځی د ځان سره کجورے راوړی هغه دلته
تقسیم شی او د دے ځائے نه یوسی هغه هلته تقسیم شی -

۹۰ :- او دا کجورے د ریا او ښائش د پاره په ټولو خیلو له کښے تقسیم شی -

۹۱ :- او چه د دے ځائے نه رخصت شی نو نورے کجورے د ځان سره یوسی

۹۲ :- او چه د پلار کره لاړه شی نو دا کجورے هلته تقسیم شی -

۹۳ :- د دینه پس بیا چه اخترا دینه راضی نو د پلار کره به ځی نو دا پابندی
په کوم حدیث سره ثابته ده خو بیا به دا ورځے بدے ګنړلے شی نو ځکه به په دے
ورځو د خاوند کره نه وی - او بیا دا چه دا د خوشحالئ ورځے ګنړلے شی نو ځکه به
دا ورځے د پلار کره تیره وی - آخر دا کوم انصاف دے خاوند کوم داسے ګناه

کړے دے چه د خوشحالۍ په ورځو کښے به د وه کورورانه وَلے شي؟

۱۹۴:- او په روژه (رمضان) کښے به هم دا سے کوی - دا ټول ناروا رسمونه دی الله پاک دے تے امان راکړی آمین -

۱۹۵:- او د پلار د کوره چه بیا راځی نو د خوراک د دوه دریے منه سامان نه علاوه به خاوند له ځواښے له ننداورا نو لیورو نو سخ وغیره له جوړے جامے رومالونه امیلونه د کو پروچو او رو ځامخا د ځان سره راوړی دا داسے لازمی او فرض دی چه که قرض دار ورله کوی پلار کورا وکه په سود ورله پیسے راخلی خو دا سامان به خامخا پوره راوړی ورنه ځان دے بیا د ټولو لو یو وړو پیغورو نو او بد وردو ته جوړ کړی سبحان الله څومره ظلم او زیاتے دے

۱۹۶:- او دا به ټول عمر د اخره پورے جاری وی کله چه دا د پلار کره راځی نو څه نه څه سامان به خامخا راوړی او دغه ویشونه او تقسیمونه به وی او دلته به هم بے ځایه دعوتونه او هلته هم بے ځایه دعوتونه وی - او ټول تالان کونکی او خوشحالی کونکی به خواره شی او د واده خاوند به د زړه په رنځ اَخته پاتے شی - هیڅوک دا سوچ او فکر نه کوی چه د کوژدے نه د واده پورے چه دا کوم بے ځایه او د شیطان په نوم خرڅونه شوی دی که په دے څه جائداد اخستے شوے وے یا پے تجارت شروع کړے شوے وے نو نن به ئے څومره نفع کړے وه او نن به څومره په آرام او راحت وو - افسوس او صد افسوس په دے نامی مسلمانانو -

۱۹۷:- دوا ړه طرفته چه څه خوابه وغیره راځی نو په ټوله خپلولۍ کښے به تقسیم کړلے شی او که کمے زیاتے نو د کوره به ورسره کوی دا هم یو قسم جهانه ده -

۱۹۸:- په بعضے ځایونو کښے به جینۍ د واده په ورځ سیل ته او باسی دا هم د کافرانو رسم دے -

۱۹۹:- بعضے ورسره په ځوځ ولۍ کښے قرآن شریف ګډ ی دا هم ګناه دے ځکه چه د قرآن بے ادبی او شګون دے -

۲۰۰:- په واده نو بنا دو کښے اکثر بے ځایه آتش بازۍ او ډز ے وغیره کیږی چه دا هم فضول مال خرڅ کول او ریا او تکبر دے چه حراموالے ئے معلوم شوے دے -

۲۰۱:- او بعض خلق په ځ ولۍ پسے باجے دو کړئ وغیره وکړی او کړا اپسے کوی چه کوم دے د حراموالی ذکر هم مخکښے شوے دے -

۲۰۲:- بعضے خلق د واده خادۍ د پاره بنګه نا بنګه تاریخو نه معلومو ی چه فلانۍ میاشت یا فلانے تاریخ د واده بنادۍ د پاره بنګه نه دے دا هم د شرع نه خلاف دی -

۳۰۱۰۳- بعضې خلق د واده د کټ ځپې او سرمه دانۍ سلائۍ کټورے وغیره د چاندۍ جوړه وی چه د دے استعمال حرام دے - په حدیث شریف کښې ئے صاف ممانعت راغلے دے - دا ټول رسمونه د سلونه درے د پاسه شمار شو په بعضو کښې یو ګناه په بعضو کښې دوه په بعضو کښې څلور پنځه او په بعضو کښې دوه ویرش ګناهونه جمع دی نو که په هر یو کښې اوسط درے شمار کړے شی نو د درے سوو نه د پاسه ګناهونه په یو واده کښې جمع شو نو چه په کوم نکاح کښې درے سوه پیرے د خدائے د حکم نه مخالفت اوشی نو په هغه کښې به خیر و برکت د کوم طرفه راشی - غرض دا ټولے واقع د دے ګناهونو نه ډکے دی۔

(۱) د مال عبث برباد ول (۲) ریا او فخر نمود او شان (۳) بے حده پابندی (۴) د کافرانو مشابهت (۵) سودی قرض یا بے ضرورته قرض اغستل (۶) انعام اکرام په زبردستۍ اغستل (۷) بے پردګی (۸) شرک او د عقیدے خرابی (۹) د مونځونو قضا کول یا ئے په مکروه وخت کښې کول (۱۰) په ګناه کښې د یو بل مدد کول (۱۱) په ګناه باندې قائم او برقرار پاتے کیدل او بیا ئے ګنړل چه بد والے او ناکاروالے ئے په قرآن او په حدیث سره ثابت دے چه لږ ئے دلته بیا نول شی - الله تعالیٰ فرمائی چه عبث مه برباده وئ بے شک الله تعالیٰ عبث مال برباد ونکی نه خوښوی - او بل ځائے فرمائی چه عبث خرچ کونکی د شیطان ورونړه دی او شیطان د خپل رب ناشکره دے - او په حدیث کښې دی چه کوم سړے د ځان خود نے د پاره کار کوی نو الله پاک به د ده رسوائی ښکاره کړی او څوک چه د آوره ولو د پاره څه کار اوکړی نو د قیامت په ورځ به الله پاک د ده عیبونه خلقو ته واوړه وی - په قرآن شریف کښې دی چه د الله پاک د حدونو نه وړاندې مه ځئ - نو د دینه معلومه شوه چه کوم شے په شریعت کښې ضروری نه وی هغه ضروری ګنړل او بے حده پابندی ئے کول ئے ناکاره دی ځکه چه په دے کښې د خدائی حد نه وړاندې کیدل دی - او په حدیث شریف کښې دی چه لعنت فرمائلے دے رسول الله صلے الله علیه وسلم په سود اغستونکی او سود ورکونکی او فرمائلی ئے دی چه دواړه په ګناه کښې برابر دی - او د قرض اغستو په باره کښې هم په حدیثونو کښې ممانعت فرمائلے دے نو بے ضرورته ئے اغستل هم ډیر ګناه دے - او په حدیث شریف کښې دی چه د یو سړی مال حلال نه دے بغیر د هغه د خوشحالۍ نه نو په زبردستۍ او په مجبوره کولو د چا نه مال اغستل حرام دی - او په حدیث شریف کښې دی چه لعنت د او کړی الله پاک په ناجائز کتونکی د دینه د بے پردګۍ ناکاروالے معلوم شه او حرام والے - چه څوک کتونکی دی په هغه هم لعنت دے او څوک چه بے پردے راځی په هغه هم - او چه سړے

پردی بنځې ته کوری او بنځه پردی سړی ته کوری دا دواړه ګناه ګاردی۔ او په حدیث کښې دی چه د حضور ؐ اصحابو به یو عمل پریښودل کفر شمارلو بغیر د مانځه نه۔ نو د دینه د مانځه د قضا کولو ګناه او د ایمان نه وتل معلوم شو۔ الله پاک فرمائی چه په ظلم او ګناه کښې د یو بل مدد مه کوئ۔ او په حدیث کښې دی چه کله ستا زړه په نیکئ سره خوشحاله شه او په بدئ سره خفه شه نو ته مؤمن ئې۔ د دینه معلومه شوه چه ګناه بنه ګنړل او په هغې قائم او برقرار پاتې کیدل د ایمان ورانه ونکې دی۔ او په حدیثو کښې خاص کر د دې رسمونو د بدوالی ډیرې سختې زورنې راغلې دی۔ حضور ؐ فرمایلی دی چه د ټولو نه زیاته غصه د الله پاک په دریو سړو باندې ده چه یو په کښې هغه سړې دې چه په اسلام کښې د جاهلیّت رسمونه جوړه وی۔ او د دینه علاوه نور ډیر حدیثونه دی چه مونږ ئې زیات نه شو بیانولې۔ پس په مسلمان باندې فرض او واجب دی او د ایمان او عقل خبره داده چه هرکله د دې رسمونو بدوالی د شریعت او عقل په وجه سره معلوم شه نو پکار دی چه د ټولونه انکاری شی او خیرباد ورته او وائی او د قوم او ناموس پروا او نه کړی۔ بلکه د الله پاک په اطاعت کښې عزت او نیک نامی ده۔ او په اتفاق سره د دې رسمونو پاتې کول ضروری دی او که نه وی نو ځینه خوتې خامخا ځان بچ کول پکاردی۔ او چه د دینه عبرت واخلی نو نور خلق به تې هم عبرت واخلی ځکه چه هرڅوک د دینه تنګ دی نو انشاء الله تعالیٰ چه اثر به ئې ډیر زر خورشی۔ او د ابتدا کولو ثواب به ئې د قیامته پورې تا ته ملاویږی بعضې خلق وائی چه د چا طاقت کیږی نو کوی دې او د چا چه نه کیږی نه دې کوی نو چه ناکاروالې ئې معلوم شه نو په ګنجائش سره ئې جواز د کومه راغې۔ او بلهذا چه ګنجائش والا ئې کوی نو غریبان به ئې بیا کوناچارئ نه کوی۔ نو ضروری داده چه ټول ئې پاتې کړی۔ او بعضې خلق وائی چه دا خو د مینې او محبت زیاتیدو ذریعه ده۔ نو جواب ئې دادې چه د ګناه په خبره کښې محبت د کوم طرف دې او د محبت د پاره نورې ډیرې طریقې دی بغیر د رسمونو نه دې د یو بل کره ځی راځی ورکړه راکړه دې کوی۔ او د دې رسمونو په وجه خو نفرت او عداوت سوا کیږی اکثر په کښې یو بل ته بدې ردې او ویلې شی جنګ جګړې په کښې اوشی د یو بل سپکا وې په کښې اوشی۔ نو تاوان هم اوشی او خفګانونه هم په کښې پیدا شی۔ نو دا ټول خرافات بند ول پکاردی۔ په کوژدنه کښې زبانی وعده پوره ده۔ نه نائی ته ضرورت شته نه جوړې جامو او میوو او میټائیانو ته او چه د نکاح وخت راشی نو جانبین دې ځپله یو وخت مقرر کړی

او دوه درے کسان دَ هلک دَ طرفه دے راشی او نکاح دے اوکړی بس دا کافی ده دَ خلقو را ټولولو او بے ځایه خرڅونو ته هیڅ ضرورت نشته - او دَ خپل طاقت په مطابق چه څه په جهیز کښے ورکولے شی ور دِ کړی دِ کښا وسے او نمائشو ته هیڅ حاجت نشته - (خوره بړ و خا نکو او جوړ و جاموته هیڅ حاجت نشته او ن اُووه مے وغیره ته حاجت شته) او ن کَ نایانو وغیره پیسو او جامو ته او څه ورکولو ته حاجت شته - او نو ستلو او ویشلو ته حاجت هم نشته که څه ورکوی نو دَ خدائے په نامه دے چا له ورکړی چه ثواب ئے اوشی - دَ څه کار دَ پاره دَ چا نه قرض اغستل نه دی پکار - البته ولیمه سنّت ده خو په خلوص دَ نیت او په مختصره طریقه سره پکار ده نه په فخر او شهرت سره په حدیث کښے داسے ولیمے ته شرّ الطعام ویلے شوے دے یعنے خیرنا کاره طعام نو داسے ولیمه جائز هم نه ده او قبول کول ئے هم جائز نه دی - نو دَ دینه معلومه شوه چه اکثر دعوتونه چه خلق کوی نو دا تول دَ نوم او نمائش دَ پاره وی نو خوړل ئے په هیڅ جوړ جائز نه دی - پکار دی چه پخپله هم داسے رسمونه نه کوی او کوم ځائے چه داسے رسمی دعوتونه وی هغے له هم نه ځی او نه شریک کیږی په کښے او صاف انکار تے کوی - الله تعالیٰ دے ټولو مسلمانانو له داسے توفیق ورکړی چه دَ داسے بے ځایه او دَ گناه دَ رسمونو نه ځان اوساتی -

دَ مهر زیاتولو بیان

په دے رسمونو کښے یو رسم دَ مهر زیاتولو دے چه دَ سنّت نه خلاف دے -

په حدیث کښے دی چه حضرت عمرؓ فرمائیلی دی چه خبردار مهر زیات مه مقرر کوئے که دا دَ عزت او تقوای خبره وے نو ستاسو نه زیات حقدار به دے حضور صلے الله علیه وسلم وه - تاسو ته معلومه نه ده چه حضورؐ دَ خپلے یوے بی بی او یوے لور مهر دَ دولس اوقیو نه دے زیات کړے - او په بعضے روایتو نو کښے دولس نیمے اُوقیے[له] راغلے دے - او بعض وائی چه محض څکه زیات مقرر کوو چه خاوند ئے بیا پریخودے نه شی او قد رمنه وی پے - خود ا عذر بالکل عبث دے چه څه تقدیر وی هغه ورِرَسی - چه دَ طلاق قسمت ئے وی هغه مهر ته نه گوری او څوک چه ئے دَ زیات مهر په وجه نه شی پریخودے هغه ورسره بیا خیر بد سلوک کوی نه ئے طلاقوی او نه ئے بچه کوی او څوک به درسته څه اوکړی - خو اصل خبره دا ده چه دا هرڅه دَ فخر دَ پاره کوی - او دَ فخر دَ پاره

له چه دَ دننه وغیره تفصیل ئے په ځلورمه حصه کښے دَ مهر په بیان کښے موجود دے دلته صرف دومره پوهه شه چه یوه اوقیه څلویښت درهمه وی نو مهر فاطمیؓ یو سل یو دیرش تولے دے مثلاً چاندی کا چه دَ قیمت اعتبار به ئے هغه وخت کیږی چه کله مهر ادا کولے شی ۱۲

داسې کول حرام دي. سنت دا دی چه د حضورؐ د بیبیانو او لونړو هومره مهر مقرر کړی او که د زیات مقرر کولو شوق ئې وی نو بیا د مهر د حیثیت مطابق مقرر کول پکار دي زیات والے نه دے په کار.

دَ حضورؐ دَ بیبیانوؓ او لونړو دَ نکاح بیان

دَ حضرت فاطمۂ دَ نکاح بیان

اول حضرت ابو بکر صدیق رضا او بیا حضرت عمرؓ حضورؐ ته د دے لوئے دولت د حاصلولو د پاره درخواست اوکړو خو حضورؐ لږ د کم عمرئ عذر وړاندے کړو. بیا حضرت علیؓ پخپله حاضر شو او په شرم کښے الفاظو سره ئې زبانی عرض اوکړو نو فی الحال د الله پاک د طرفه حکم راغے او دوئی ئې عرض قبول کړو (د دینه معلومه شوه چه په کوټو نه کښے دا تولے بکیړے چه نن صبا رواج دی ټول لغوه او د سنتو نه خلاف دي بس زبانی پیغام او زبانی جواب کافی دے) دغه وخت د حضرت فاطمےؓ عمر پنځلس نیم کاله او د حضرت علیؓ یویشت کاله وه (د دینه معلومه شوه چه د دے عمر نه پس په نکاح کښے توقف کول بنه نه دی او دا هم معلومه شوه چه د دواړو په عمر کښے د برابری لحاظ پکار دے او غوره دا دی چه خاوند دے څه قدرے مشر وی) حضورؐ ارشاد اوفرمایه چه اَنَسؓ لاړ شه او ابو بکرؓ عمرؓ عثمانؓ طلحهؓ زبیرؓ او یو جماعت د انصارو را اوله (نو د دے نه معلومه شوه چه د نکاح مجلس ته خپل خاص خلق رابلل څه بد نه دی او حکمت په دے کښے دا دے چه د نکاح شهرت اوشی خو په دے کښے دے تکلف او کوشش نه وی بس چه د خوا وشا ورے څلور تنه بلا تکلف جمع شی پوره دی) نو دا ټول صاحبان حاضر شو او دوئی یوه خطبه اولوسته او نکاح ئې اوکړه (د دینه معلومه شوه چه غوره دا ده چه پلار پخپله د خپلے لور نکاح اوتړی) او څلور سوه مثقاله چاندی مهر مقرر شه چه د مقدار اندازه ئې په صفحه ۳۸۶ حاشیه کښے بیان شوے دے (د دینه معلومه شوه چه زیات مهر مقرر کول خلاف سنت دی بس مهر فاطمیؓ د خیر او برکت باعث دے. او که د چا طاقت نه وی نو د دینه هم کم مناسب دے) بیا ئې په یو تالی کښے خرمے راوړے حاضرینو ته ئې کیښودے ربیا حضورؐ حضرت فاطمۂ د حضرت ام ایمنؓ سره د حضرت علیؓ کور ته اولیږله) خویا نده! او کوری واده دواړو جهانو د شاه زادګئ واده دے چه نه په کښے څه دهوم دهام شته نه ډولی او نه پالکی شته نه ئې د حضرت علیؓ د خدمت کارانو او نایانو وغیره د پاره انعام او غوښته او نه د کلی او محلے د ودئ وغیره. نو مونږ له هم پکار

دي چه د شیطان تابعداري پریدو) د خپل پیغمبر ؐ طریقې خپلې کړو او خپل عزت د حضور ؐ د عزت نه زیات نه کنړو۔ (نعوذ بالله منها) بیا حضور ؐ د ماښام نه پس تشریف راوړو او د حضرت فاطمې رض نه ئې اوبه اوغوښتې هغې د لرګي په کونړۍ کښې اوبه راوړې (د دینه معلومه شوه چه نوې ناوې له دومره شرم نه دی کول پکار چه پته به نه لګي چه څه ده او کار او کړي نه کوی او عیب به ئې ګنړي) حضور ؐ په اوبو کښې چونګ خکته کړو۔ او حضرت فاطمې رض ته ئې اوفرمائیل چه دیخوا مخ کړه او په سینه مبارکه او سر مبارک ئې ورله لوړې اوبه چنړکاؤ کړې او دعا ئې اوکړه چه اے خدایه د دې دواړو اولاد د شیطان مردود نه ستا په پناه کښې ورکوم۔ او بیا ئې ورته او فرمایل چه دیخوا اشا کړه او دواړو اوګو ته ئې ورله هم اوبه او نوستې او بیا ئې دغه دعا اوفرمائیله۔ بیا ئې په حضرت علي رض اوبه را اوغوښتې او دغه شان ئې د حضرت علي رض سره هم اوکړه لیکن شا ته ئې ورته اوبه اونه نوستې۔ مناسب دی چه هلک جینۍ دواړه را اوغوښتې شي او دغه شان ورسره اوکړې شي دا موجب د برکت دے) زمونړ په دے ملک کښې دا یو ناکاره رسم دے چه د نکاح کیدو باوجود به هم ښځه سړے د یو بل نه پرده کوی بیا ئې ارشاد اوفرمایل چه بسم الله په برکت سره خپل کور ته ځئ۔ او په یو روایت کښې دي چه د نکاح په ورځ حضور صلی الله علیه وسلم د حضرت علي رض کور ته د ماسخوتن نه پس تشریف راوړو او په لوخي کښې ئې اوبه اوغوښتې خپلې لاړې مبارکې ئې په کښې واچولې او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ئې اولوستل دعا ئې اوکړه او بیا ئې هغه اوبه په حضرت علي رض او حضرت فاطمې رض اوسکولې او په هغې اودس کولو حکم ورته اوکړه او بیا ئې د دواړو د پاره د پاکۍ او د یو بل سره د محبت او په اولاد کښې د برکت او د خوش نصیبۍ دعا اوفرمائیله او بیا ئې ورته اوفرمایل چه ځئ آرام اوکړئ (نو کوم د زوم کور ته نږدے وی نو دا سے کول هم غوره دی خیر او برکت دے په کښې) او د حضرت فاطمې جهیز دا وو۔ دوه یمنی آسمانی رنګے څادرے۔ دوه بنګړے (تولا یانې) چه د اَلسي د پانړو نه ډکے وے او څلور ګدۍ۔ دوه د سپینو زرو د لاس کړے۔ او یو درکوتے کمبل یوه تکیه او یوه پیاله۔ او یوه میچن او یوه مشکیزه او د اوبو یو منګے۔ او په بعضے روایتو نو کښې یو پلنګ هم راغلے دے (یعنې کټ) د جهیز کښې د درے خبرو لحاظ ساتل پکار دی اول اختصار چه د طاقت نه سوا نه وی دویم د ضرورت لحاظ ساتل چه کوم څیزونو ته فی الحال ضرورت وی هغه ورکول پکار دی۔ دریم اعلان او نمائش چه په کښې نه وی ځکه چه دا د خپل اولاد سره

احسان او سلوک دے نور وته د خو دَ دے څه ضرورت دے - دَ حضور صلے الله علیه وسلم دَ فعل نه چه اوس بیان شه دا درے واړه خبرے ثابتے دی - او حضور دَ دوئ کار دا سے تقسیم کړو چه دَ باهر کار دَ حضرت علیؓ په ذمه به وی او دَ کور کار به دَ حضرت فاطمےؓ په ذمه وی زموږ په ملک کښے دا سے خلق هم دی چه اکثر دَ باهر کار به هم دَ ښځو په ذمه وی - او دا سے خلق هم دی چه اکثر دَ کور په کار هم ښځو ته ځان بد ښکاری - بیا حضرت علیؓ ولیمه اوکړه چه دا سامان وه په کښے دَ وړبشو دَ یو څو اُوګو نه ځو ډوډئ پخے کړے وے او څه خرمے وے او څه چوره وه - پس دَ ولیمے مسنونه طریقه داده چه دَ ناوے شپه پسے کور کښے اوشی یعنے دَ واده په صباله به وی او بلا تکلفه او بغیر دَ فخر او نمائش نه به وی او په مختصره طریقه به وی هر څه چه په دغه وخت کښے موجود وی په خپلو خاصو خلقو دے اوخوره وی - (دَ نن صبا دا تکلفات او دا اکثرے کوړے دَ شریعت نه بالکل خلاف دی او دَ مال بے ځایه تاوان دے) -

دَ حضرت دَ بیبیاؓ نو نکاح

دَ حضرت خدیجےؓ مهر پنځه سوه درمه یا دَ دے قیمت اوښان وو چه ابو طالب په خپله ذمه مقرر کړے وه - او دَ حضرت اُمِّ سلمےؓ مهر دَ استعمال څه شے وه چه دَ لسو درمو وه - او دَ حضرت جویریےؓ مهر څلور سوه درمه وه - او دَ حضرت اُمِّ حبیبےؓ مهر څلور سوه دیناره وه چه دَ حبشے بادشاه پخپله ذمه کړے وه او دَ حضرت سودهؓ مهر څلور سوه درهمه وه - او دَ حضرت اُمِّ سلمےؓ دَ ولیمه دَ وربشو ډوډئ وه او دَ حضرت زینبؓ بنت جحش په ولیمه کښے یو پسه ذبح شوے وه او غوښه او ډوډئ ئے په خلقو خوره کَړی وه - او دَ حضرت صفیهؓ په ولیمه کښے دَ صحابوؓ سره چه څه وو هغه ئے راجمع کړه دا ولیمه وه - او دَ حضرت عائشےؓ ولیمه هغه پخپله فرمائی چه نه او بن ذبح شه او نه پسه دَ سعد بن عبادهؓ دَ کوره یو پیاله پئ را غلی وو بس هغه ولیمه وه -

دَ شریعت موافق دَ واده یو نوے قصّه

دا قصه په دے غرض لیکلے شی چه اکثر خلق وائی چه دا رسومات نه وی نو ځنګه به واده بنا ذی کیږی - نو دَ دے بیان خو لږ مخکښے موږ بیان کړے دے او بیا دَ حضور صلے الله علیه واله وسلم دَ لونړو او بیبیانو دَ ودونو بیان هم اوشه هوښیار لره دغه هم پوره دی - خو بیا هم بعضے خلق وائی چه هغه زمانه جدا وه او س څوک دا سے نه شی کولے - او که چا اوکړه نو او به لیدے شی - نو دا قصّه نه

دَ مُلایانو او فقیرانو ډَله نه ده او نه د چا غریب سړی او نه د یو ورکوټي
قوم د سړی ده بلکه دواړه طرفونه څه پته ماړه او شریفه کوره نۍ دی.
دَ دے کال خبره ده چه د مظفر نګر په ضلع کښے د دوه کلو په مینځ کښے چه په یو کلی کښے
د هلک کوره نۍ ده او په بل کښے د جینۍ. د مودونه د دواړو کورنو په زړونو کښے
لوئے لوئے منصوبے وے لیکن په عین وخت وینا خدائے تعالیٰ هدایت اوکړو چه د
شریعت حکم ئے واوریده نو ټول خیالات ئے د زړونو نه اوویستل د خدائے او
د رسول د حکم مطابق تیار شو. نه ئے د واده د تاریخ مقرر کولو د پاره یا د نکریزو
اوچا مو د پاره وک پاره نائی اولیږه او نه ئے پکښے څه نور رسمونه اوکړه. نه په کښے فضول
د بنجو تله را تله اوشو او نه څه په دواړو کورو نو کے یو بل د میلمنو کولو څه بوج راغے
او نه په کښے خبرونه او اطلاع کانے اوشوے. د واده نه پنځه شپږ ورځے مخکښے د خط
په ذریعه ورځ مقرر شوه. او په مقرر تاریخ باندے دوه درے کسان د واده
د هلک سره د جینۍ کور ته راغله او یو نوکر او یو ورکوټے هلک ئے د ځان سره کړے
د پاره راوستل چه نوکر د خدمت د پاره او ورکوټے هلک د ننه کور ته د سوال جواب
او خبرے وړو د پاره وک پاره. او په یوه تانګه کښے په کرایه راغله د جمعے په ورځ باندے
د نا وے د پاره جوړه هم کډوی سره وه. او هلک د خپل کور جوړه اغوستے وه او چه
حلته اورسیدل نو د جینۍ کور ته ئے خبر اوکړه چه د جمعے د مانځه نه پس به نکاح وی
د جمعے مانځه ته ټول راغونډ شو او مولوی صاحب په خطبه کښے د رسمونو د خرابئ
بیان اوکړه او بیائے د مانځه نه پس نکاح اوتړله او چوهارے تقسیم شوے او
ټول کار د مازیګر نه مخکښے ختم شه ماښام د هلک کور والا ټول د جینۍ کور میلمانه
کړه او شپه ئے بنځۀ په آرام اوکړه او سحر ئے جینۍ ورسره په یوه تانګه کښے رخصت کړه
او یوه خپله دننه او یوه نائنړه ئے ورسره د خدمت د پاره ورسره کړه. او د خپل طاقت
مناسب جهیز ئے ورسره کړه نور ضروری انتظام اګرامونه هم یو د خپل طرف
نه خپلو خپلو نوکرانو او خدمتګارانو له ورکړه. او نور چه څه طاقت ئے کیده هغه
روپۍ پیسے ئے په غریبانو او فقیرانو تقسیم کړے. ماسپخین ناوے خپل کور ته اورسیده
نه پکښے د هیڅ کتو پیسے وے او نه نور فضول او عبث رسمونه او په صبا ولیمه اوشوه
میټهائیانے او غلے په کور کښے تیار شوے او خپلو خپلو یارانو دوستانو او غریبانو
فقیرانو او خوره ولے شوے. د اوګوړے رسمونه پکښے هم اونه شو په دریمه ورځ
هلک جینۍ دواړه د جینۍ کور ته لاړه او هلته ئے یوه هفته تیره کړه بیا واپس
خپل کور ته راغله. غرض بنه په آرام او په خوشحالئ واده اوشه نه په کښے چا ته
څه تکلیف ورسیده او نه په کښے فضول خرچ نه اوشو. زۀ هم د اول نه تر آخره

پورے په دے واده کښے شریک وُم دومره خوند او رونق وه پکښے چه په بیا ن کښے نه راځی۔ هر سړے دَ خدائے په فضل سره خوشحاله وه او ډیرو خلقو چه دا اولیدل نو ویل به ئے چه مونږ به هم داسے کوو۔ نو دغه شاګردے نا وے په خاندان کښے یو بل واده اوشه چه هغه دَ دینه هم زیات ساده وه۔ نو څومره چه کیدے شی خراب رسمونه پریښودل پکاردی۔ الله تعالیٰ دِ مونږ ټولو له توفیق راکړی آمین

دَ کونډے دَ نکاح بیان

په دے خرابو رسمونو کښے یو رسم دا دے چه دَ کونډے نکاح شرم او بد ګنړلے شی خاص کر په شریفو کورنو کښے ډیر خلق په دے بلا کښے ګرفتار دی۔ شرعًا او عقلًا څنګه اول نکاح دے دغه شان دویم۔ په دے دواړو کښے فرق کول بے وقوفی ده۔ دا دَ هندوانو رسم دے چه دَ کونډے نکاح شرم ګنړی۔ دَ ایمان او دَ عقل خبره خو دا ده چه څنګه اول نکاح کولے شی دغه شان دویم نکاح هم کول پکار دی چه اولنے نکاح شرم نه ګنړی نو دویم ولے شرم ګنړلے شی۔ په بعضو کښے دا سے بد عادت دے چه کومه ښځه دویم نکاح اوکړی نو په سپک نظر سره ورته ګوری او بدے ردے ورته وائی۔ هندوانو کافرانو دا پورے کوی۔ نو دا ډیره ګناه ده بلکه دویم نکاح عیب ګنړل دَ کفر خبره ده ځکه چه دَ شریعت حکم عیب ګنړل کفر دے۔ دَ فکر کولو مقام دے چه دَ حضور صلے الله علیه وسلم چه څومره بیبیانے وے دَ حضرت عائشے رضؓ نه علاوه ټولے کونډے وے یعنی دوه دوه نکاحونه ئے ورپسے شوی وو۔ نو کوم کار چه حضورؐ کړے دے هغه ته څوک بد ویلے شی۔ یا دَ هغوی دَ شرافت نه دَ بل چا شرافت (نعوذبالله) زیات دے۔ چه کوم کار هغویؓ کړے دے او دَ کوم چه خدائے او رسولؐ حکم کړے دے دَ هغے په کولو ستاسو عزت کمیږی۔ نو دا خو داسے شوه چه مسلمانیدل بیا ستاسو په نزد دَ بے عزتۍ خبره شوه۔ ترڅو پورے چه دا خیال دَ زړه نه اونه باسئ او اول او دویم نکاح یو شان اونه ګنړئ ستاسو ایمان ټهیک کیدے نه شی۔ نو دا خیال په سختۍ سره دَ زړه نه ویستل پکار دی۔ او دا سے بے هوده شرم او عار دَ زړه نه چه ترڅو پورے نه وی ویستلے شوے او رسم و رواج له لته نه وی ورکړے شوے خدائے او رسولؐ نه شی خوشحالیدے۔ کونډو له دَ نکاح ترغیب ورکوی او کوشش کوئ۔ دبا ؤپه غور زه وئے ځکه چه کډوی دَ انکار صرف دَ رواج په وجه وی۔ که دا رواج نه وی نو بیا څوک انکار نه کوی نو دا دَ کونډے نکاح عام رواج کول پکار دی او دا خدشه دَ زړه نه ویستل پکار دی۔

په حدیث شریف کښے دی چه څوک ځما پریښودے شوے طریقه بیا راژوندئ او جاری

کړی هغه ته به د سلو شهیدانو هومره ثواب ملاؤ شی - نو چه د کونډو ونجونو په نکاح کېښے څوک کوشش کوی او رواج کوی ئے او کومه کونډه د حضور ﷺ د خوشحالولو د پاره خپل نکاح او کړی هغې ته به د سلو شهیدانو هومره ثواب ملاؤ شی - نو ستاسو په دوی ترس نه راځی د دوی په بے اسرے ورځے ستاسو زړه نه خوږیږی چه د دوی عمر هسے برباد یږی او خاورے کیږی -

دریم باب د هغې رسمونو بیان چه خلق ئے ثواب او دینی کار ګڼړی

د فاتحے بیان

اوّل په دے پوهه شه چه فاتحه یعنے مړی ته د ثواب رسولو طریقه څه ده؟ نو د دے حقیقت په شرع کښے فقط دومره دے چه مثلاً څوک څه نیک کار او کړی او د هغې چه څومره ثواب دۀ ته رسی هغه چا ته او بخی چه یا الله څما د دے کار ثواب فلانی ته او رسوه - لکه چه یو سړے د خدائے په لاره کښے څه خوراک میتهائی روپئ پیسے وغیره ورکړی او خدائے پاک ته سوال او کړی چه یا الله د دے چه تا مال څه ثواب را کړے دے هغه فلانی ته او رسوه - یا څه تلاوت د قرآن شریف او کړی یا ټول قرآن ختم کړی او ثواب ئے چا ته او بخی - او دا کار دے اوس او کړی یا ئے څو ته مخکښے کړے وی د دواړو ثواب رسی - نو دا دومره خو د شریعت نه ثابت دی - لیکن اوس په دے کښے دے جاهلانو څومره بکیړے شامل کړی دی - اول بر شان څائے برابر کړی او بیا هغې کښے خوراک کیدی بیا یو سړے دے خوراک ته مخامخ او دریږی او څه سورتونه لولی او نوم په نوم ټول مړی یا دوی او هغوی ته ئے بخی - په دے من ګهړت طریقه کښے دا څیرے خرابئ دی -

ا:- لویه خرابی په دے کښے داده چه د ټولو جاهلانو دا عقیده ده چه بغیر د دے طریقے نه ثواب نه رسی نو کیو یو خوشامندے به کوی او کرزی به پسے. نو ترڅو چه په دے طریقه فاتحه او نه شی تر هغې پورے دغه خوراک چاله نه شی ورکولے څکه چه د دے کارکولو نه بغیر ثواب نه رسی نو څنګه ئے چاله ورکړی - بعضے وخت غریبان هم کور ته د فاتحے د پاره راونه کولے شی چه شرعاً ناجائز دی - خوراک د کور خاوند تیار کړی او بیا د ثواب رسولو د پاره د فاتحه خوان خوشامنده کوی او ترڅو چه هغه نه وی ویلی ثواب نه رسی دا ټول د عقیدے خرابی ده - د ثواب رسولو اختیار د خوراک ورکونکی دے د خوره پرونکی نه دے - او بعض کم عقله دا سے وائی چه ثواب خو بغیر د دینه هم رسی خو سورتونه لوستل په دے وخت کښے څکه څۀ دی چه یو د خوراک ثواب شی او بل د سورتونو - نو جواب ئے دا دے چه که مقصد دا وی نو

دا خو دَ بل وخت په لوستو هم پوره کیږي - یل وخت چه ئې کوم تلاوت کړے وی هغه دے اوبخي یا ورستو یه اوکړی او یه ئې بخي - نو دا خو هیڅوک نه مني - خو بس دَ دغې وخت دا تلاوت ضروري گنړي - او بله دا چه دَ بل په لوستو به څه اوشي هغه ئې بخي او کړ نه - په هغه کوم حرج دے چه دَ خپل تلاوت ثواب ستا مړی ته بخي خپل تنے وَلے نه بخي - ستا خو فقط دَ خوراک ثواب دے او دَ هغې دَ بخلو حق ستا دے دَ هغه نه دے -

۲ :- خلق دا هم گنړي چه په دے طریقه سره ثواب رسي په بله طریقه نه رسي او چه دا سے طریقه اوشي نو ثواب اورسید او س که دا خوراک تقسیم او خیرات کړے شي او که نه خو ثواب اورسید - نو چه دَ حضور م یا دَ بل چا بزرگ فاتحه اوکړے شي نو بچیله ئې خوري - دَ یوسے وغیره میټهائي چه تقسیمولے شي نو نواب صاحب تحصیلدار صاحب وغیره یارانو دوستانو ته دَ تبرک دَ پاره لیږلے شي فقیرانو مسکینانو ته نه شي ورکولے - نو معلومه شوه چه دا خو خیرات نه دے دا خو صحبت دے - او که مقصد دَ تلاوت ثواب رسول وی نو دا خوراک وَلے تقسیم شه - غرض دا دے چه دا ټول رسمونه دی په شریعت کښے دَ دے هیڅ ثبوت نشته - دا ټول لغو او عبث فعل دے

۳ :- او که مونږ دا اومنو چه دَ فاتحے نه پس دا خوراک فقیرانو له ورکولے شي نو بیا دا وایو چه دَ خوراک نه اول ثواب بخل څه معنیٰ لري . ثواب خو به هله ملاؤ شي چه فقیر له ئې ورکړی یلیه او خوره وی - نو دَ خوراک او ورکولو نه اول خو لا ثواب ملاؤ شوے نه دے نو مړی ته څه بخي - دا هم دَ عقل خبره ده ؟

۴ :- دَ بعضو دا عقیده ده چه کوم شے ورکوو نو هم دغه شے ورته رسي نو چه کوم شے دَ هغه خوښ وه په ژوند کښے هم هغه شے په فاتحه (شکرانه) کښے کدی - دَ ډېرو ځاخوښ وی نو ئې ویشی - اکئ او پیالے وغیره څیزونه پے شکرانه کوی - او بوے بوځئ دَ شب برات په فاتحه کښے شړشتۍ ایښودے وے او دائے وے چه دَ دهٔ دَ آتش بازئ سره شوق وه - نو فکر او کړی چه دا دَ عقیدے خرابي ده او که نه -

۵ :- دا هم گنړي چه په دې وخت کښے هغه بچیله هم حاضریږي نو دَ لوبانو وغیره لوګے دَ خوشبوئ دَ پاره کوی په دے خیال سره -

۶ :- او بیا دَ پانجشنبے دَ ورځې قید ئې پکښے هم دَ خپل طرفنه راویستلے دے په شریعت کښے خو ټولے ورځې برابر دی نو دا خو بنکاره په بنکاره دَ شریعت حکم بدلول دی - او بیا په دے قید کښے یوه خرابي دا هم ده چه خلق دا گنړي چه دَ مړو روحونه دَ پانجشنبے په ورځ خپل خپل کورته راځي او بعضے وائي چه دَ جمعے

په شپه راځي او ځينې وائي چه هر ماښام راځي - نو چه څه ثواب ورته ملاؤ شي د ځان سره يې يوسي ورنه خالي لاس ورنه ځي - دا محض غلط خيال دے او د ګناه خبره ده دغه شان يو وخت يا ورځ او تاريخ مقرر کول محض د ګناه عقيده ده -

۷ :- د اکثر عوامو دا عادت دے چه کوم خوراک يې د فاتحې د پاره پوخ کړے وي د هغې نه به لږ شان په تالي کښې را واخلي او په هغې به فاتحه وائي په دے کښې هم د دغې تولو خرابو نه يوه خرابي داده چه ثواب خو د ټول بخلے شي نو د ټولو نه خو ډلو ته کوم ضرورت دے - د دے خو دا مطلب شه چه خدائے پاک ته تے نو نه خوړلے شي چه او کوره داسے خوراک پوخ شوے دے د دے ثواب ورته او رسوه نعوذ بالله منها د بے وقوفۍ هم څه حد دی -

۸ :- بيا که د ثواب رسولو د پاره د دے خامخا مخکښے ايښودل ضروري وي - نو چه د روپو پيسو يا کپړو وغيره ثواب بخي او د د کوي نو په هغې ولے فاتحه نه کوي او مخامخ يې ولے نه کدی - نو که په دے کښې ضروري نه وي نو په خوراک کښې د کوم طرفه ضروري شه -

۹ :- بيا موږ دا ليدلي دي چه په کوم ځائے فاتحه کوي د هغے لپوه حلوا راخلی په کولو ته کوم ضرورت دے - دا ځائے پليت وه او که پاک - که پليت وه نو په لپوه حلوا خو پاکيږي نه څه پليت شه ځکه چه اول خو اوچ وه د لوښي وغيره د پليتو لويه يې نه وه او س خو چه پې څه کدی هغه به هم پليت کړي - او که پاک وه نو دا ليوه حلوا يې هسے عبث او فضول کار شه - دا خو د هند وانو چوکا شوه - نو نعوذ بالله سړی د هند وانو په چو کې کښې کينوی او خوراک ورکوي - لاحول ولا قوة الا بالله -

۱۰ :- د بزرګانو په فاتحه کښې ټول لوښي داسے به وي چه استعمال شوي نه وي - نوي لوښي به راوړاغستے شي او د کوم نه په نوے او به راوړے کړے شي - د کوم اوبه چه په کښې اوښه لګي او چه څوک ورله لاس هم ورنه وړی لوښي به ورله هم شوره کړي - غرض د کوم ټول څيزونه پليت دي - دا هم د عقل خبره ده - که په رښتيا پليت وي نو په کوم کښې يې ولے استعمالوي - او که پليت نه وي نو دے دومره بکيړو ته څه ضرورت دے - د کوم شي چه په خپله خوړل جائز دي هغه فقيرانو له هم ورکولے شي او چه فقيرانو له يې ورکوي نو اوس يې ثواب بخل جائز دی - نو دا ټولے خبرے د عقل نه خلاف او لغوه شوے او که نه - که دا وائي چه هغه لويے خلق او بزرګان دي هغوی له شے په احتياط سره ليږل پکار دي - نو جواب يې دادے چه اول خو د الله پاک په نزد د دے ظاهري احتياط او پاکۍ څه قدر نشته - د هغه په نزد د حلال او پاک قدر دے که مال حلال وي نو هيڅ ته ضرورت نشته او که حرام وي نو دا هر څه عبث

دي. حلال هسې هم قبليږي - دويم دا چه که عقيده داوي چه دا شئ هوبهو هم دغسې د دې بزرګ دربار ته رسي نو دا حرام او شرک شه - ځکه چه د دې خوراک د الله تعالی په لار کښې ورکول مقصود دي نه پخپله هغوی ته ليږل او د دوی په لار کښې ورکول - که دا عقيده وي نو بيا خو دغه خوراک هم حلال شه نو که الله په لار کښې ئې ورکول او ثواب رسول مقصود وی نو ځکه چه نور خيزونه د الله تعالی په لار کښې ورکوی مثلاً فقيرانو له چه پيسې ورکوی نو ولې ئې نه غله دانې يا نورشته خوراک چه ورکوی نو د ومره احتياط ئې نه کوی نو دا دې هم دغه شان ورکوی - ځکه چه دا خو هم د الله پاک صفت لوئې دربار ته ځي - او هغه هم - نو فرق په کښې څه شه - او بيا دې ته هم خيال اوکړئ چه په دې سره خو تاسو نعوذ بالله سبحانه د دې بزرګانو دربار د الله پاک د دربار نه لوئې اوګڼلو او دا خو ښکاره شرک دې -

۱۱۱:- يو ناپوهي ناکاره دستور دا هم دې چه د هر يو فاتحه په جدا جدا کوي - دا د خدائے پاک، دا د محمد صلى الله عليه وسلم - دا د حضرت بی بی - نو د دې خوصاف دا مطلب دې چه دومره خدائے پاک له ورکوي او دومره دې دې خلقو له نو دا خو ښکاره شرک دې - او په قرآن شريف کښې کوم ځه به وائي بيان شوې دې توبه ويستل ئې پکار دی - او هغه چه ورکوي نو د الله په لار کښې ئې ورکول پکار دي او بيا چه ثواب ئې چا چا ته بخښي او دې ته ځي - او بيا يوه بله مزه داده چه د معمولي مړو فاتحه د ټولو په يو ځائې کوي د بزرګانو او نورو خلقو جدا جدا کوي نو د دې خو دا مطلب شه چه هغه نه بيانان کمزوري دي که په يو ځائې ئې فاتحه اوشي نو خير دې - او دا لوئې خلق دي که د دوی په شريک اوشي نو د يو بل سره به پې بيا مشت وګريبان وی - لا حول ولا قوة الا بالله -

۱۱۲:- د حضرت بی بی په فاتحه کښې يو قيد دا هم دې چه خوراک به پټ ورکوي چه ښکاره نه شي ځکه چه هغه پرده داره وه - نو چه خوراک ئې هم غير محرم اونه وينی دا خومره عبث او لغوه خبره ده -

۱۱۳:- د حضرت بی بی په فاتحه او نذرانه کښې يو دا قيد هم دې چه سړي ئې نه شي خوړې او که خوري نو مخامخ به ورته نه کوري - او هره ښځه به ئې هم نه خوري - ټوک يا که صافه دينداره ښځه به ئې خوري - او که مې ښځې چه دويم نکاح کړې وی هغه به ئې هم نه خوري - نو دا خومره د ګناه خبره ده - په قرآن مجيد کښې ئې به وائي بيان شوې دې -

۱۱۴:- د بزرګانو او اولياؤ په فاتحه کښې يوه خرابي داده چه خلق ئې حاجت روا او مشکل کشا ګڼړي او په دې نيت سره ورله نذرانې ورکوي چه زمونږ حاجتونه

پوره کړی او لاد دا کړی، مال او رزق دا له زیات کړی۔ نو دا خو هر یو مسلمان ته معلومه ده چه دا سے عقیده لرل شرک دے خدائے دے آمان را کړی ۔ نو دا تول رسمونه او عادتونه پریښودل پکار دی۔ که چاته ثواب رسول او بخل غواړی نو د شریعت مطابق په ساده او آسانه طریقه سره عمل کول پکار دی چه الله هم رضا شی او ثواب هم اورسی ۔ پس د رواج او پابندئ نه بغیر چه څهٔ طاقت وی او ل دے هغه شے محتاج له ورکړی او بیا دے د هغی ثواب اوبخی ۔ بعضے خلق په قبرونو باندے پیسے غلے وغیره کدی دا بالکل حرام دی او د دغی شی خوړل هم جائز نه دی۔ او د دے بیان نه د یولسمو دولسمو وغیره حکم هم معلوم شه پوهه شه ۔

۱۵ :- بعضے خلق مزارونو ته د خوره ولو د پاره څادرونه او غلافونه لیږی او نذرانے لے منی دا منع دی او په کومه عقیده سره چه خلق دا کوی شرک دے ۔ او په نورو خیراتونو او صدقو کښے هم جاهلانو ډیر ناروا رواجونه راویستلی دی یو رواج دا دے چه د څه بیمارئ د لرے کولو د پاره مارغانو ته غوړیته اچوی او دلته عقیده وی چه بیمارئ په دے غوړیته پورے اوښته نو اوس دا د خلقو د خوراک قابله ده نو دا هم د شریعت نه خلاف خبره ده ۔ یو رواج دا هم دے چه یو څاروے په واخلی او بیا په ئے خوشے پریږدی د مریض د سر نه د تاوهلو نه پس ۔ او دا په عقیده لری چه موږ د الله د پاره یو جاندار آزاد کړه نو الله پاک به هم زموږ مریض د مرض نه آزاد کړی نو د دے خبرے هم په شریعت کښے څه سند نشته نو عقیده په لرل گناه دے ۔ یو بل رواج دا دے چه د خوراک سکاک څه شے په یه لاره کښے خوشے کیدی دا بالکل د کافرانو رسم دے څوک چه دا سے کوی د کفر یره ده په کښے ۔ او د اکار په دے عقیده کوی چه په دے مریض د پیری وغیره سورے شوے دے نو چه د هغه په نوم دا سے په لاره کښے څه شے کیخودے شی نو هغه رضا شی او د مریض نه تلا رشی نو دا خو بالکل شرک دے ۔ او د رزق بے ادبی او گناه دے ۔ یو رواج دا هم جوړ شوے دے چه څه خاص خوراک یو خاص سړی له ورکولے شی نو اول خو په شریعت کښے د یو خاص شی یو خاص سړی له ورکول څه سند نه لری او بیا یو مسلمان محتاج پریښودل او غیر محتاج یا بهتکی له ئے ورکول د شریعت مقابله کول دی ۔ او بیا د دے سره دا عقیده هم لرل چه بیمارئ د دے سره نخښے ده نو دا هم بے سنده ده او د بے سنده خبرے عقیده لرل گناه دے ۔ نو دا طریقه پریښودل پکار دی او د خیر و خیرات د پاره د شریعت طریقے اختیاره ول پکار دی ۔ د طاقت مطابق پټ په پټه یو محتاج له خاص د خدائے د رضا د پاره څه ورکړی نو الله پاک به هم رضا شی او د دے په برکت سره به بلا کانے اد

مصیبتونه هم الله پاک دفع کړی- او دا خوړے فضول بکیږے عبث او ګناه دے- یو رواج دا هم دے چه یو خاص خوراک پوخ کړی او وزنا ئے یوسی په جمات کښے په ممبر یا دَ لوهار په دکان کیدی یائے په روضه دَ چا بابا کدی او دا ثواب او بلا دفع کونکے ګنړی- نو دا هم ټول واهیات دی دَ بنځو خودماغئ دَ پاره جمات ته تلل جائز نه دی او نه ئے دَ ذیارتونو وغیره دَ پاره دَ کوره وتل جائز دی نو دا څومره دَ ګناه او شرک خبره ده- او په بعضے ځایونو کښے بنځے دَ فال نیو لو دَ څه نذر منلو یا دعا کولو دَ پاره جمات ته ځی دا هم ټول دَ شریعت نه خلاف دی توبه ویستل تے پکار دی- ځکه چه ورکوی یا دعا کوی نو کور دے کوی-

دَ هغے رسمونو بیان چه په مړی کولے شی

اوّل :- دَ غسل او کفن سامان ئے ز رپه ز ر نه کوی او مړے بے وجهِ حصار دی او زړه ئے نه غواړی چه مړے دَ کوره اوځی- او حضور صلے الله علیه وسلم ډیر تاکید فرمایلے دے چه مړے ډیر ز ر په ز ر کفن دفن کوئے-

دوئیم :- دَ جنازے سره څه پیسے صابون وغیره لیږی چه تقسیم کړے شی- په دے کښے ذیات نیّت دَ ناموریٔ وی چه هیڅ ثواب پے نه حاصلیږی بل دا چه غریب او محتاج پاتے شی او پیشه ورو ته (یعنے په اسقاط پسے ګرځید ونکو ته) ملاؤ شی. کۀ دَ ثواب دَ پاره څه ورکول وی نو هغه دا سے خلقو ته په پټه ورکول پکار دی چه محتاج شل کوهه دینداره غریب او باعزته محتاج وی-

دریم :- دا چه دَ مړی کپړے جو ړے قرآن شریف وغیره دَ خدائے په نامه باندِ ورکولے شی په کور کښے ئے نه پاتے کوی- خو په دے خبره ځان بنهٔ پوهه کول پکار دی چه څوک مړشی نو دَ دهٔ ټول لوئے واړه بنځے نر میراث خواره دَ دے مړی په هر یو لوئے وړو کی اعلیٰ ادنیٰ شی کښے حقدار دی- او دا هر څه دَ دوی په شریکه دی. نو دَ یو تن یا دوه تنو کله دا اختیار شته چه دَ شریکے شے بغیر دَ شریک دَ اجازت نه را واخلی او ورکړی- او بیا چه نابالغ په کښے وی نو کۀ هغه اجازت هم کوی خو په شریعت کښے دَ هغه اجازت معتبر نه دے- او هغه شان کۀ ټول بالغان وی او دَ شرم دَ وجهِ نه اجازت اوکړی نو هم دَ دا سے شی ورکول جائز نه دی- نو چه کله دا سے موقع راشی نو اول دے دَ مړی ټول لوبه وړه میراث دَ یو یو حصه دار په مخکښے دَ شریعت موافق تقسیم کړی بیا دَ هر یو سړی خپله خوښه ده چه خپله چاله ورکوی او څهٔ ورسره کوی- البته کۀ ټول وارثان بالغ وی دَ ټولو په خوښه ئی سره څه کوی نو بغیر دَ تقسیم نه هم خیر دے-

څلورم :- په بعضې مقررو تاریخو نو څه خوراک وغیره پخوي او تقسیموي (چه دې ته ډیرې ماښامونه او څه جمع، څلویښتمه او تلین وائي) نو په دې کښې خو اول نیت ټیک نه وي د شرم او ناموس د پاره کولې شي نو دا خو د ثواب په ځائې الټه وبال دې. بعضې د دې رسمونو پوره کولو د پاره قرض دار کوي- او د داسې غیر ضروري کارونو د پاره قرض اغستل هم گناه او بده خبره ده- او دومره پابندي ئې کول د شریعت د حکمونو نه تجاوز کول هم گناه دې- او اکثر دا رسمونه د مړي په مال کولې شي چه د کونډې و یتیمانو حق پکښې وي- او د یتیمانو مال خو د ثواب په کارونو کښې خرچ کول هم جائز نه دي- نو د گناه په کار کښې خوئې خرچ کول زیات ناکاره شو- البته د خپل مال نه چه په پټه حاجتمند ول ورکوي نو داسې خیرات خدائے پاک قبلوي. بعضې خلق جماتونو ته پوخ خوراک لیږي بعضې تیل لیږي- بعضې د بچو په مرګ بانړې لیږي د دې هډو څه شرعي سند نشته- د خپل ځان نه په دین کښې نوې طریقې جوړه ول ډیر سخت گناه دې- داسې کارونو ته بدعت وائي او حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه بدعت گمراهي ده او دوزخ ته رسونکې څیز دې- بعضې داسې هم گنړي چه په دې تاریخو او د زیارت په ورځ په شب برات وغیره کښې د مړو روحونه کورونو ته راځي د دې هم په شریعت کښې څه ثبوت نشته ځکه چه د هغوي را تلو ته ضرورت څه دې څه ثواب چه ورته څوک بخي یا ورته دعا کوي هغه پخپله هغوي ته رسي نو د هغوي کور څیدو ته څه حاجت دې- بیا دا هم ده چه که دا مړي جنتي وي نو د داسې خوشالو ځائې ځنګه پریدي او راځي او که دوزخي وي نو د فرشتو نه به ځنګه را خلاصیږي چه راځي به د عذاب نه به ځان را خلاص کړي او ګرځي به سیلونه به کوي- غرض دا خبره بالکل بې جوړه ده که چرته داسې په اغه وغه کتاب کښې ئې او وینې نو عقیده پې مه ساته- د بې سنده کتاب او عالم په خبره یقین مه کوه-

پنځم :- د مړي په کور کښې په بنځې بار بار جمع کیږي چه مونږ ه غم خورکې له راځو لیکن دوي خوراکونو له راجمع کیږي که په خوراک سکاک کښې ئې قدرې کمې راشي نو ټول عمر به بیا بدرې رخته وائي او شرموي به ئې چه هسې ئې د خپه نه راغکوده او هیڅ ئې پسې او نه کړه او بعضې خوب په میاشتو دیره وي چه څلویښتمه ئې نه وي خو پورې کټ او نوم نا اخلي یو د غم تکلیف او بل د دې حلوا خورکو تکلیف متل؟ چه هم سزمات او هم کور لوټ- او د مړي خوب په کښې هم و څوک نوم نا اخلي خو دوه دوه او څلور څلور په پنډې شوې وي او خپل خپل مجلسونه به ئې گرم کړي وي- داسې کیږې به ځې بونه اچولې وي چه ته به وائي واده پهادئي له راغلي دي

آخره کوې جمع کېنډ وته فائده څه ده- بلکه کومې چه په کښې د اصل غم خوړکئ د پاره راغلي وي د هغوی نه هم هر څه پاتې شي او کومه طریقه چه د غم خوړکئ ده د هغې په ځائے بېلې مانې شروع شي- او اکثر په کښې بناوټي ځان جوړونے کړي او ځینې به پکښې خپل خپل مړي یادوي چاړې به او احسان به په دوی کوي -او څوک چه پکښې په رشتیا خفه وي او چاړې هغوی به په خبره کولو کښې چاړې او د داسې ژړا نه حضور منع کړې ده بلکه په داسې ژړا کونکو ئے لعنت ویلے دے- او بل د دوی په دے ژړا د کوروالو زړه بیا بیا راخکېږي او په زخم ئے مالګه دوړېږي او لا د زړه غم سوا کوي او که څه لږ ډېر صبر ورله راځي هغه ئے ختمېږي- نو د دوی د راتلو فائده څه شوه- رشتیا خبره خو داده چه د غم والو د غم کمولو د پاره څوک نه راځي بلکه نور غم زیاتولو او الزام لږولو له راځي- نو چه د ښځو په جمع کېدو کښې دومره خرابئ دي نو دا جمع کېدل کله جائز شو- او په دوی کښې بعضې د لرې لرې ځایونو میلمنې وي او بیا په ورځو ورځو دلته پاتې وي او په کور والو یو طرفته خپل غم وي بل طرفته د دوی د خوشامندے ټول بوجهـ که کور والا هر څه کوي خو دوی به خامخا تکلیف کوي- حالانکه په حدیث شریف کښې دي چه میلمه له پکار دي چه کور والا نه تنګوي- او د بعضو سره به پکښې څلور او پنځه پنځه بچي وي او څلور پنځه وخته به هغوی د خوراک وینا کوي او هر یو به د خپلې خپلې خوښې فرمائشونه کوي- او دا ټول فرمائشونه به کور والا خامخا پوره کوي ورنه په کور کښې به ورته جلي کاڼے او کور پنچامانے جوړېږي او په دوو دوو به دا سلسله جاري وي- نو دے واهیاتو ته ضرورت څه دے چه دا دومره خلق دے راجمع کېږي او دومره بے ځایه خرچونه دے کولے شي- او اکثر دا هر څه د مړي په مال کولے شي چه د ټولو وارثانو حصه وي په کښې- چه بعضې په کښې د کور نه باهر په بل ځائے کښې وي او بعضې نابالغ وي چه د هغې باهر والو نه چا اجازت نه وخستلے دے او د ډېرو د اجازت خو په شرع کښې اعتبار نشته- دا یاد ساته چه چا دا خرچونه اوکړه ټول ذمواري د هغه په سر ده او ټولو وارثانو له به دے بیا دا حق ورکوي- غرض د دے ټولو بے ځایه خرچو نو ذموار خرچ کونکے دے او د چا په وجه چه دا خرچونه کېږي یعنې راځي او خوراک ئے هغه ورسره هم ذموار دي- نو پکار دي چه کومې ښځې او سړي راشي په ولاړه ولاړه دے لاس پنوه کوي او ځي دے- د وخت او تاریخ مقرر کولو ته هم ضرورت نشته نو چه کله خبر شي او موقع بیا موسی را دې شي او فوراً دې ځي- او که د ډېر لرې ځائے وي نو هم دے داسې انتظام کوي د راتلو چه په دے کور والو ئے بوجهـ رانه شي او یا دے صرف خط رالېږي هم کافي دے که راتلل ئے ډېر ضروري نه وي-

شپږم دستور دا دے چه د مړی کورله نژدے خپلوان او چم گاونډ د دوئ انتظام کوی نو دا خو یو ډیر غوره کار دے لوا وس په دے کښے ډیرے خرابئ جوړے شوی دی چه د هغے نه ځان ساتل واجب دی۔ اول خرابئ ئے دا ده چه دا ډ وډئ اوس د ادل بدل شوے ده د دیه داچه څنګه ده لیږلے وی هم هغے به دا بل لیږی که طاقت ئے وی او که نه خو هو بهو هغه شان ډوډئ به لیږی۔ او د دے د پاره به اکثر قرض دار هم کوی نو دا پابندی او بیا د دے د پاره قرض اغستل دواړه منع دی نو د طاقت مطابق پکار ده بغیر د څه پابندئ نه۔ بله خرابی ئے دا ده چه کله به دومره ډوډئ ورته جمع شی چه د خوراک به ئے څوک نه وی او کله به د نمړئ درک ورکره نه لږی۔ او بل د دے خدا کونو د پاره به ورته خپل خپلوان ټول د ننداره ناست وی چه دا خوراکونه خوری۔ حالانکه دا ډوډئ د هغے خلقو د پاره ده چه د غم او مصیبت په وجه پخپله ځان له څه پخولے نه شی۔ نو چه د چا کره خپله ډوډئ پخیږی ها هغه وړله دا خوری حان که دله د څه کار د پاره یا د دے خلقو د تسلئ د پاره ناست وی نو د خپله کوره دے راغواړی او دلته دے خوری لوږغه ډوډئ نه شی خوړے۔ بله خرابی دا ده چه په دے ډوډئ کښے خلق ډیر د تکلف سامان کوی دا هم نه دی کول پکار بس چه څهٔ په دغه وخت په اسانئ سره تیارے دے شی هغه دے لیږی۔

اووم دستور دا دے چه حافظان او قاریان به راجمع کړی او پیسے به ورکړی چه قران مجید ختم کړی او ثواب مړی ته اوبخی۔ چونکه دا سے خلق د روپو پیسو یا خوراک په لالچ قرآن شریف لولی نو دوی ته پخپله څه ثواب نه ملا ویږی نو مړی ته به څه اوبخی۔ دا ټول لوستل خوړل او ورکول هسے بے کاره لاړه۔ او که څوک ئے د پیسو او خوراک په لالچ نه لولی بلکه په لحاظ ملاخذه ئے او لولی خو هم عبث لاړ څکه چه په دے کښے هم دنیا وی نیت راغے۔ البته کوم سړے چه ئے پټ پناه بغیر د څه لالچ او لحاظ نه او لولی او ثواب اوبخی نو بے شکه دغه ثواب ورسی۔

د رمضان شریف د بعضے رسمونو بیان

په بعضے ځایونو کښے ښځے په رمضان شریف کښے قاری کورته راولی او تراویح په کوی نو که دا حافظ خپل محرم رشته داروی خو خیر دے هله چه دا حافظ فرض مونځ په جماعت سره په امام پسے اوکړی او تراویح بیا کورکوی بیا څه پرواه نشته لیکن نن صبا په دے کښے ډیرے بے احتیاطئ کیږی چه دا جائز نه دی۔

اول دا چه بعضے ځایونو کښے نامحرم حافظ کورته راوستے شی او اګرچه د نوم د پاره

څه پرده هم کړے دي لیکن ښځے هیڅ پے احتیاط وي اکثر په کښے ورسره خبرے شروع کړي- یا ښځو کښے په زوره زوره خبرے کوي چه هغه ئے آوري او دا جائز نه دي.

دریم کوم سړے چه قرآن شریف لولي هغه د خوش آوازئ کوشش کوي- او د بعضے خلقو آواز خوږ وي خلق ئے ځان ته مایله کوي نو په دا سے صورت کښے د نامحرم سړي آواز د پردئ ښځے غوږ ته رسیدل څومره بد خبره ده-

دریم د ټولے محلے ښځے روزانه جمع کیږي نو اول خو بغیر د سختے ناچارئ نه د ښځے د کوره وتل منع دي- او په دے کښے خو څه ناچاري نشته ځکه چه شریعت د دوي د پاره څه تاکید نه دے کړے- او بیا هم یوه دوه ورځے نه بلکه روزانه وتل ډیر بده خبره ده- او بله دا چه په وا پسئ کښے شپه څه تیاره شوے وي نو د مال او عزت د نقصان خطره په کښے هم عجیبه نه ده- نو خامخا ځان په نقصان کښے اچول کومه د عقل خبره ده-

یو دستور په رمضان شریف کښے د څوارلسے روژے ما تو لو د پاره (یا په دریشتمه شپه د قرآت لوستلو د پاره) خاص اهتمام کوي او دا د ثواب خبره ګنړي نو په شریعت کښے چه کوم شے ته ثواب نه وي ویلے شوے هغه ثواب ګنړل پخپله د ګناه خبره ده- نو دا پریښودل پکار دي- یو دستور دا هم دے چه کله بچے اوله روژه اونیسي نو خواه کشر یے هم وي خو قرضدار به کوي او د دے ماشوم د روژه ماتي رسم به پوره کوي- کومه خبره چه په شریعت کښے ضروري نه وي هغه ضروري ګنړل هم ګناه دے-

اختر د رسمونو رواجونو بیان

د اختر په سحر مېنځے چکول چه بیر ضروري ګنړي حالانکه په شریعت کښے داخل ضروري نه دي که زړه دے غواړي نو ځکه کړه خو دا سے مه وایه چه دا ثواب دے- بل د خپلو خپلوانو بچو له څه ورکول یا ورکره کور ته څه لیږل او بیا دا هر څه په ادل بدل سره کول او چه څه ورسره نه وي نو د دے د پاره قرضدار کول دا پابندئ ټولے فضول دي او تکلیف په کښے هم دے نو دا ټول قید ونه پریښودل پکار دي-

د لوئے اختر د رسمونو بیان

دغه اغستل ورکول د لته هم دي نو پریښودل ئے پکار دي- بل دا چه په ډیرو خلقو په دے کښے قرباني واجب وي او نه ئے کوي دا ډیره لویه ګناه دے- بل په قربانئ کښے ئے د خپل طرفه ډیرے خبرے شاملے دي لکه سرئے د اوبو وهي دے او خپے د نائ دي- (یا دا چه دا غوښه بسخا ورکے حصے کوي یوه او مه ویشل بله بخه ویشل او دریمه حصه ځان ته پاتے کول ضروري ګنړي) دا ټول واهیات او د شرع نه خلاف خبرے دي دا پابندئ پاتے کول پکار دي- چه چالہ د خوه بنه وي هغه له ئے

وړکوه او دغو مره چه دے ذړه غواړی هومره تے ورکوه -

دَ ذی القعدے او دَ صفر دَ رسمونو بیان

جاهلے ښځے ذی القعدے ته دَ خالی میاشت وائی او واده خادی په کښے منحوسه ګڼړی دا عقیده ساتل هم ګناه ده توبه تے وِیستل پکار دی او صفر دَ ته میاشت ګڼړی او نامبارکه ورته وائی او په بعضو ځایونو کښے ئے په دیار لسمه کونګړی پخه وی چه دَ نحوست نه ئے په امان شی او بعضے ښځے په آخره شپه لخته را داخلی او دَ کور دَ کوټو نه صفره او باسی دا هم یو غیر شرعی رسم دے او ګناه ده -

په وړمبی خور یا بل وخت کښے دَ مولود شریف بیان

په بعضو وختونو کښے او ځینو ځایونو کښے ښځے هم مولود شریف کوی او دا ئی صبا چه کیږی په دے کښے دا خرابئ دی -

۱:- کمه ښځه لوستونکے وی نو اکثر دَ دے آواز نارینو ته رسی او دا ډیر سخت ګناه ده -

۲:- او که سرے لوستونکے وی نو دَ ده آواز هم ښځو ته رسی - او چه دوی شعرونه په خوش آوازی سره لولی که نن صبا چه ویلے شی نو دَ سړو دَ پسند دو آواز ښځو له اوریدل او دَ ښځو سړو له ډیر سخت ګناه دے او منع دی -

۳:- دو ایتونه او کتابونه اکثر دَ مولود دَ بیان دَ غلطو روایتو نو نه ډک دی دَ دے لوستل او آوریدل ټول سراسر ګناه ده -

۴:- بعضے داسے ګڼړی چه حضور صلے الله علیه وسلم پخپله دے محفل ته تشریف را وړی نو په دے وجه دَ پیدائش دَ بیان په مینځ کښے ټول او دریږی - دَ دے هم په شریعت کښے څه دلیل نِشته او دَ کومے خبرے چه په شرع کښے دلیل نه وی په هغے یقین کول ګناه ده - او بعضے دا عقیده نه لری لیکن اودریدل دومره ضروری ګڼړی چه څوک او نه دریږی هغوته بد ردوائی - او که ورته وائے چه اودریدل خو په شرع کښے ضروری نه دی نو په دے مولود کښے مه اودریږئ نو دا خبره نه منی او داسے ګڼړی چه که او نه درید و نو مولود نه کیږی - نو دا هم ګناه دے -

۵:- دَ میتهائی یا خوراک تقسیمول داسے ضروری او په پابندئ کوی چه په ناغه کولو کښے ئے بد نامی او دَ حضور خفګان ګڼړی - نو دا هم ګناه دے -

۶:- دَ دے دَ سامان په تیارئ یا په لوستو کښے یا په ویش او تقسیم کښے اکثر مونځ قضا شی

لے دَ حضور صلے الله علیه وسلم دَ پیدائش حالاتو بیانولو ته مولود یا میلاد وائی نو دَ هغوی حالات بیانول خو ثواب دے لیکن نن صبا په کښے ډیر خرافات را دننه شوی دی نو داسے کول جائز نه دی - او ګوره رساله طریقه مولود شریف ۱۲

یا ئے وخت تنګ شي دا هم ګناه دے -

۷، ۱۰- که د چا عقیده خرابه نه وي او د ګناه خبرے ته هم اوباسي خو بیا هم که دے ظاهري پابندي ئے نه جاهلان خلق ناجائز لا تړه داخلي نو د کومے خبرے چه په شریعت کښے تاکید نه وي او عوام پے خرابیږي که هغے نه ځان ساتل پکار دي - نو د رواج مطابق دے دا کار نه کوي خو که د چا د حضورؐ د حالاتو او ستو سره شوق وي نو چرته معتبر کتاب دے داخلي او ځان له دے لولي یا چه څوک ئے اوریدل غواړي هغوي ته دے بغیر د جمع کیدو او د دے رسمونو نه بغیر لولي - او که حضورؐ ته د څه شي ثواب رسول غواړي نو په بله یوه غیر مقرره ورځ دے فقیرانو مسکینانو له څه ورکړي یا دے پے او هوره وي د نیک کار نه هیڅوک منع کول نه کوي خو دا سے بے ډ ډبه کارونه ناکاره او بد دي -

د رجب د رسمونو بیان

د ېته عام خلق د مریم روژے میاشت وائي او د دے په او ویشتمه ورځ روژه نیول بنه ګڼړي چه د زرو روژو ثواب پے ملاویږي په شرع کښے د دے څه قوي دلیل نشته که نفل روژه نیول ئے زړه غواړي نو نیولے شي او اختیار د خدائے پاک دے چه څومره ثواب پے ورکوي د چا ځان د طرفه دے زر یا لاکه ثوابونه نه مقرروي - په بعضو ځایونو کښے په دے میاشت کښے د تبارک روټئ پخوي دا هم د ځانه جوړه شوے خبره ده نه ئے په شریعت کښے څه ثبوت شته او نه پے د ثواب وعده شوے ده - نو د ځانه جوړه شوے خبره د دین خبره ګڼړل ګناه ده -

د شب برات حلوه او د محرم کونګړي او شربت

د شب برات دومره ثبوت شته چه د دے میاشتے پنځلسمه شپه او ورځ ډیر بزرګ او د برکت دي. حضور صلے الله علیه وسلم د دے شپے د عبادت او د ورځے د روژے ډیر ترغیب ورکړے دے - او په دے شپه حضورؐ د مدینے قبرستان ته تلے دے او د مړو د پاره ئے د مغفرت دعا غوښتلے ده - نو که په دے ورځ مړو ته څه او بخلے شي مثلاً تلاوت او کړي یا خوراک غریبانو له ورکړي یا نقد پیسے ورکړي او ثواب ئے او بخي یا هسے د بخښے دعا ورته او کړي نو دا د سنت مطابق دي - د دینه سوا چه نورے څومره بکیړے خلق کوي لکه د حلوا پخولو قید ئے په کښے جوړ کړے دے او په دے طریقه ئے څه کوي دا ټول واهیات دي - د دے بد والے ځکښے بیان شوے دے او دا هم معلومه شوے ده چه د کومے خبرے په شریعت کښے دلیل نه وي هغه ضروري ګڼړل او پابندي ئے کول ناکاره خبره ده - دغه شان د محرم رسمونه او ګڼړه - په شریعت کښے ئے صرف دومره اصل شته چه حضورؐ دومره فرمائيلي دي چه کوم سړے په دے ورځ پخپلو اهلو عیال خوراک سکاک فراخه کړي

نو ټول کال به کوره کښې په رزق کښې برکت وي۔ او چه کله پکور کښې دومره خوراک پوخ
شي نو که خدائے په نامه تے محتاجانو او فقیرانو له ورکړے شي نو ښه خبره ده۔
کو دینه زیات چه څه کوي نو دغه بدے او ګناهونه دي په کښې کوم چه بره بیان شو
او د دینه سوا د شربت تقسیمولو رسم دے۔ دوي پخپل ګمان د کربلا شهیدانو ته
ثواب بخي۔ خدایا دسا تل پکار دي چه هغوي ته شربت نه رسي بلکه ثواب رسي او په
ثواب کښې یخ شربت او ګرم خوراک برابر دي نو د شربت په پابندۍ کښې سوا د غلطے عقیدے
نه چه په دے به د هغو تنده مړه شي بله څه خبره ده۔ نو داسے غلط عقیده خو ښکاره
ګناه ده۔ او بعضے جاهلان په شب برات کښې د اور لوبے او په محرم کښې د تعزیت
سامان کوي۔ د آتش بازۍ بد والے په اول باب کښې بیان شوے دے۔ او د تعزیت بد
والے به د دینه نور څه وي چه په دیکښې داسے کار روښ کوي چه په شریعت کښې بالکل
شرک او ګناه ده۔ نذرانے ورکړي سروښه ورته خکته کوي۔ عریضے ورته زوړندوي
مرثیے ورته وائي، چاړې کوړنې او د دے سره سره باجے وهي۔ د دفن کولو ځائے ئے
د زیارت ځائے ګنړي۔ سړي ښځے د یو بل سره بے پردے کیږي۔ مونځونه تے برباد شي
نو دے خبرو ته څوک بد نه وائي۔ او بعضے خلق صرف شهادت نامے لولي نو که په دے
کښې غلط روایتونه وي نو بیا خو ښکاره خبره ده چه منع دي۔ او که صحیح هم وي خو
بیا د خلقو نیت داوي چه دا اوري او اوچاړې او په شریعت کښې خو په وخت د
مصیبت کښې هم د چاړو اراده کول او جهل منع دي۔ نو په دے شان سره دا شهادت
نامے لوستل هم جائز نه دي۔ دغه شان په محرم کښې رنګدارے پوښاک پریښودل د ماتم
او سوګ وضع قطع جوړه ول خپلو بچو ته خاص قسم د ماتم کپړے اچول دا ټول بدعت
او ګناه دے۔ او په بعضے ځایونو کښې د محرم په لسم تاریخ ټول خلق په خپلو خپلو قبرونو
اوبه او خاوره اچوي او دا د ثواب کار ګنړي او خاص ځائے کوي۔ او په دے ورځ کونګړه
پخوي او تقسیموي۔ دا ټول کار روښه د بدعت او ګناه دي۔ د دے خلقو دا عقیده وي
چه دا اوبه مړو ته رسي داسے بے عقل دي چه اوبه په خاورو واچوي او وائي چه دا دوي
ته اورسیدے افسوس دے په داسے عقل۔ د دے واهیاتو نه ځان ساتل پکار دي!۔

دتبرکاتو د زیارت په وخت جمع کیدل

کله کله د حضور ﷺ د جبے مبارکے یا ویښتو مبارکو یا د بل یو بزرګ چه مشهور دی
د زیارت د پاره په هغه ځائے کښې خلق جمع کیږي یا ئے کورونو ته راغواړي او زیارت
ئے کوي۔ او په دے زیارت کولو کښې ښځے هم وي۔ اول خو هغه ځائے کښې د دے
تبرکاتو سند نشته او که سند هم وي نو بیا په دے جمع کیدلو کښې ډیرے خرابۍ دي

چیرے خرابئ د واده ښادئ د پاره په جمع کید وکښې لیکلے شوے دی - او بیا دلته هغه شور زوګ او بے پردګی او بیا د زیارت والوکانے چه تولے ښځئے اوری دا ټول داسے دی چه هرسړے ئے په بد والی پوهیږی - البته که یواځے زیارت اوکړی او د زیارت په وخت کښے څه خلاف شرع کاراونه کړی نو بیا خیر دے رخو دا حله چه د دغ تبرکا تو څه سند وی -اوکه سند ئے نه وی نو بیا هغه قابل برکت ګنړل او تعظیم ئے کول هم ګنړ په کار نه دی) او د رسمونو پوره حال په "اصلاح الرسوم" کښے رچه یو کتاب دے) لیکلے دے - مونږ دلته تاسوته صرف یو مثال ښایو دیته خیال ساتئ نو د ټولو رسمونو حال به درته معلوم شی او چرته به نه دهوکه کیږئ - هغه ګمردادے - چه کومه خبره شرعے ناجائزه کړے وی هغه جائز ګنړل ګناه دے اوکومه چه ئے جائزه ویلے وی خو ضروری کړے ئے نه وی - هغه ضروری ګنړل او پابندی ئے کول یاد نوم د پاره ئے کول هم ګناه دے - دغه شان چه شریعت یوکارته ثواب نه وی ویلے هغه ثواب ګنړل ګناه دے - اوکوم ته چه ئے ثواب ویلے دے مګر ضروری کړے ئے نه وی هغه ضروری ګنړل ګناه دے - اوکوم چه ضروری نه ګنړی خو د خلقو د ملامتے نه ئے کوی دا هم ګناه دے - دغه شان یو شے منحوس ګنړل ګناه دے دغه شان بغیر د شرعی سند نه یوه خبره جوړه ول او په هغے یقین کول ګناه دے - دغه شان د خدائے پاک نه سوا د بل چانه دعا غوښتل - یا هغه د نفع نقصان مالک ګنړل دا ټولے د ګناه خبرے دی - الله تعالیٰ دے مونږ ټول مسلمانان د دے رسوما تو نه او د دے د ګناهونو نه بچ کړی - امین

اوله ضمیمه د جنت کالی مسمّٰی په جنتی ملغلره شپږمه حصه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

په دین کښے د نوو خبرو پیدا کولو بدی او د جاهلیت د رسمونو د ګناه بیان

په حدیث کښے دی چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کوم سړے چه زمونږ په دین کښے نوے خبره پیدا کړی چه د هغے د دین سره تعلق نه وی نو هغه خبر رد ده (بخاری ومسلم) یعنی د دے خبرے هیڅ اعتبار نشته - او د نوے خبرے نه مراد دادے چه هغه خبره د شریعت په هیڅ دلیل سره ثابته نه وی - او داسے خبرو ته چه په دین کښے داخلے کړے شی بدعت وائی او دا ډیر لوئے ګناه دے - ځکه چه څوک داسے کوی هغه ګویا د حق تعالیٰ سره مقابله کوی ځکه چه شریعت الله پاک رالیږلے دے په دے کښے هیچا ته د کمی زیاتی حق نشته نو چا چه په کښے داسے خبره داخله کړه چه په دین کښے نه وه نو ده ګویا دین نیمګړے

او کار نه وو اول خو دا ډیر لوئے جُرم دے چه د حق تعالیٰ تجویز شوے دین نیمګړے او ګڼړی بیا چه ئے په کښے نوے خبرے داخلے کړے نو دا ئے یو نوے شریعت د ځان نه جوړه کړه دا دوېم جُرم شه - نو حاصل دا شه چه بدعتی د الله تعالیٰ مقابله کوی او د هغه سره د برابرئ مُدّعی دے نو سخت ګمراه دے - اګرچه په ظاهره ځان تابعدار او فرمانبردار ښکاره کوی - بیا چونکه بدعت د عبادت په رنګ کښے وی یعنے عبادت ئے ګڼړی او د خدائے پاک د نزدیکت ذریعه ئے ګڼړی نو دا سړی ته توبه هم نصیب نه شی ځکه چه توبه خو هغه څوک اوباسی چه ځان ګناه ګار ګڼړی او بدعتی خو ځان ګناه ګار نه ګڼړی بلکه ځان فرمانبردار ګڼړی نو توبه به څنګه او کړی - نو بدعت ډیر جا خه مار ګناه دے الله پاک دے ترے موږ په خپل امان کښے اوساتی او موږ ته دے خدائے پاک نیغه لار اوښائی - او په نورو ګناهو نو کښے خو دومره خبره ده چه کونکے ئے ځان ذلیل او نا فرمانه ګڼړی او چه کله ئے توفیق اوشی نو توبه اوباسی - نو مسلمانانو له د دا سے سختو ګناهو نو نه پرهیز پکار دے او د بدعتونو ظاهری چول چال ته دے نه ګوری - د یو بزرګ قصه ده چه د کشف خاوند وه په یوه مقبره تیریده او دوه مړی ئے په عذاب کښے ګیر اولیده - او د بخانے دعائے ورته اوکړه - چه خپل ځائے ته لاړ او بیا په هغې لارے واپس شو او ئے لیده چه د دوه هغه دُعا د یو مړی په حق کښے کافی شوے وه او هغه دے د عذاب نه خلاص شوے وه - او په دوېم هغه شان عذاب وه - د الله پاک نه ئے سوال اوکړه چه یا الله دا څه وجه ده چه د یو مسلمان په حق کښے زما دعا قبوله شوه او د بل په حق کښے قبوله نه شوه نو الهام ورته اوشه چه دا سړے بدعتی وه - الله دے موږ د بدعاتو نه امان کړه امین.

په حدیث کښے دی چه په درے وګړو الله پاک ډیر غصه کیږی - بیا حضور صلے الله علیه وسلم د هغې قولو ذکر اوکړه چه د یو هغې سړی ذکر ئے په کښے هم اوکړه چه په اسلام کښے د جاهلیت طریقه اختیاروی - (بخاری) یعنے د حضور د زمانے نه چه مخکښے کوم رسمونه وو هغه اختیاروی او د هغه شان واهیات رسمونه او د غیر قومونو طریقے اختیار کونکی باندے الله پاک ډیره غصه نازلوی او دا خو ښکاره خبره ده چه د الله پاک د ادنیٰ غصه هم د برداشت نه ده نو لویه غصه به ئے څوک برداشت کړی.

په حدیث کښے دی چه حضور صلے الله علیه وسلم یو کار اوکړه او نورو خلقو ته ئے هم د هغې کار د کولو اجازت اوفرمایه - نو یو قوم هغه کار اونه کړه او پرهیز ئے ترے اوکړه او دا سے ئے اوګڼړل چه حضور که د دے کار اجازت کړے دے خو غوره ئے نه کول دی او ځپله هغوی د اکار د بیان د جواز په واسطه کړے دے چه خلق پوهه شی چه دا فعل جائز دے چه هغوی ئے قولاً او فعلاً اجازت فرمائیلے دے مګر دا محض د ده خپل خیال

ده۔ څه شرعي دليل پې قائم نه وه نو منل موم شمار کړے شه) پس هغوئ خطبه اوفرمائيله او د الله پاک ثنا صفت ئې بيان کړل بيائې اوفرمايل چه څه حال دے (يعنے بد حال دے) د هغې قومونو چه ځان ساتي د هغې کار نه چه زه ئې کوم (پس که دوی د الله تعالیٰ د عذاب د يرينه دا سے کوی) نو زه د دغې خلقو نه چير زيات الله تعالیٰ او هغه عذاب پيژنم۔ او د دغې خلقو نه زيات د خدائے پاک نه يريږم (بخاری و مسلم) ر نو چه داحال دے نو دا خلق ولے ځما خلاف کوی۔ صاحبانو! لږ غور اوکړئ چه حضور صلے الله عليه وسلم چه کومه خبره د دين نه وه، هغه دين گڼړل او پخپل مخالفت کولوئے څومره زورنه اوفرمايل۔ حالانکه صحابهؓ په هغوئ عاشقان وو او د هغوی په سنتو چير عمل کونکی وو ليکن چه د دے حکم په کولو کښے او ځان پوهه کولو کښے ئې د پوهے نه کار واخستو خو زورشئے پے ورته اوکړه نو مونږ په کوم شمار کښے يو۔ نه مونږ ته د حضورؐ صحبت د هغوی هومره حاصل دے او نه د هغوی هومره فهمانږ دا ری۔ نو بيا خومونږ په دا سے کارونو کښے د هغوی نه زيات د عتاب او زورنے لائق يو ځکه چه (مونږ نيت د هغوی د نيت هومره پوخ نه دے الله تعالیٰ دے مونږ په امان کړی۔ او خصوصا چه بيا په دا سے کارونو کښے دنياوی غرض هم وی نو بيا خو د بدعت گناه چير سخت دے۔ او په دے زمانه کښے خو چيردا سے رسمونه خواره شوی دی چه د لالچ او د طمع په وجه ئې خلق د عبادت په رنګ کښے کوی د دے ټولو نه چير پرهيز لازم دے او د دے د جاری ساتلو سره چه د خلقو مے لفع تړلے شوے دی دغه ټولے د اللهؐ د رضاحاصلولو د پاره پريخودل پکار دی څوک چه د اللهؐ رضا طلب کوی الله تعالیٰ پخپله د هغه حاجتونه پوره کوی۔ ځان بنه پوهه کړه۔

په حديث کښے دی چه څوک د الله پاک طرفته بلنه کوی (يعنے نيکئ لاربنائی) نو د ده ته د دے ټولو خلقو د ثواب هومره ثواب ملاويږی کوم چه د ده په خبره کوی او د هغې خلقو په ثواب کښے څه کمے نه راځي۔ (يعنے د دوی د دغې نيک عمل کولو چه کوم ثواب دے هغه په دوی ته پوره پوره رسی او دے هدايت کونکی ته به د دے هدايت کولو په وجه د دے ټولو عمل کونکو د ثواب هومره ثواب ځانله رسی ځکه چه ده د دغې نيک کار خورنه کړے ده) او څوک چه د ګمراهۍ لارا وښائي نو په ده به د دے ټولو خلقو د بد عملونو وبال پريوځي کوم چه د ده په وينا او خورنه سره کوی او خپله به د دغې خلقو د ګناهونو نه څه کمے نه شی کولے۔ (يعنے چا چه د ده په وينا او خورنه ناکاره کارکړے وی د هغوی به د دغه ناکاره کار خپل ګناه پوره په پوره وی خو څومره خلقو چه د ده په وينا کړے وی د هغوی ټولو د ګناه هومره ګناه به يوائې د ده په سربا ره ولے شي ځکه چه ده ئې خورنه کړے ده۔ فکر اوکړئ

چه یواځے د خپل ګناه وبال او عذاب د برداشت نه باهر وی نو چه د نورو هغه
ورسره جمع شی نو خدائے پوهیږی چه څومره به وی - نو داسے کار وش او رسمونه
چرته جاری کول نه دی پکار - چه خپل ګناه ئے خپل وی او د نورو د ګناه وبال په هم
پریوځی - البته نیک کار د ځنځله هم کول پکار دی او نورو ته ئے هم ترغیب ورکول
پکار دی چه د خپل عمل ثواب هم وی او د نورو خلقو د ترغیب به هم ډیر ثواب
ملاویږی - ځکه چه د قیامته پورے څومره خلق چه ئے کوی تا ته به ثواب رسی)

د حضرت عرباض بن ساریه رض نه روایت دے چه یوه ورځ مونږ د حضور صلے الله
علیه وسلم سره مونځ اوکړو بیا مخوی مونږ ته مخ کړو او داسے نصیحت ئے اوکړو چه
په مونږ ئے ډیر اثر اوکړو او زمونږ زړونه پے ډیر نرم شو او د اوښکے موروانے شوے
او په زړو نو مویږه خوره شوه - بیا یو سړی عرض اوکړو چه یارسول الله ۴ داخو
داسے نصیحت دے لکه چه یو رخصت کونکے ئے رخصت کونکو ته کوی (ځکه چه د ده دا
خیال وی چه خدائے خبر بیا ورسره ملاویږم او کنه نو د زړه د اخلاصه نصیحت
ورته اوکړی - د دے صاحب دا خیال وه چه شاید تاسو آخرت ته روانیدونکی ئے
نو ځکه مو داسے نصیحت اوفرمایه -) (نو که نورے څه مفید خبرے وی نو هم
ئے راته اوفرمایئ چه مونږ پوهه شو او ستاسو نه پس زمونږ پکار راشی ځکه
چه بیا به خو ستاسو پشان څوک خوږونکے نه وی -) نو حضور ۴ اوفرمایل زه تاسو
وصیت کوم او حکم کوم د الله تعالیٰ نه د یریدلو چه د ټولو نیکو او د دواړو جهانو
د کامیابی زیلے دی - او د حکم آوریدو او فرمانبرداری کولو د خلفائے - (یعنے چه
په تاسو څوک مسلمان حاکم وی او بادشاه وی د هغه اطاعت کوئے ترڅو پورے چه
هغه د شریعت مطابق حکم کوی) اګرچه هغه حاکم حبشی غلام ولے نه وی - او د دے
کارونو وصیت ورته په تاکید سره ځکه کوم چه کوم سړے ځما نه پس په تاسو
کښے ژوندے پاتے شی نو ډیر اختلاف به اووینی (یعنے د خلقو حالت به بدل شی نوے
نوے خبرے به پیدا شی او فتنے به راپورته شی نو په داسے وخت کښے د تقویٰ او اتحاد
د یو موټے کیدو ډیر ضرورت دے - چه د خدائے نه یره وی نو د ناجائزو نه به بچ
وی او چه اتحاد وی نو په مسلمانانو کښے بے اتفاقی نه راځی - او چه د بادشاه مخالفت
کولے شی نو په مسلمانانو کښے اتحاد نه شی راتلے - نو د اتحاد صورت دا دے چه د حاکم
اطاعت اوکړے شی - او س د تقویٰ طریقه فرمائی چه) تاسو لازمه اولرئ په خپل
ځان ځما طریقه او ځما د طریقے تابعداری، او د خلفاء راشدینو د طریقے تابعداری
اوخه مضبوط او نیسئ دے طریقے لره او ځان ساتئ په دین کښے د نوو خبرو د
جاری کولو نه ځکه چه هره نوے خبره په دین کښے پیدا کول بدعت دے او هر بدعت

ګمراهي ده او بېکاره ده چه ګمراهي د شيطان لاره او دوزخ ته بوتلونکې او د دنيا هم تباه کونکې څيز دے۔

په حديث کښې جناب رسولِ اکرم صلے الله عليه وسلم د بدعت او د اختلافاتو نه د ځان ساتلو ډير تاکيد فرمايلے دے او د يې کېد وطريقه ئې هم خودلے ده او هغه د هغوی او د خلفاء راشدينو په سنتو عمل کول دی۔ نو مسلمانانو له پکار دی چه په هر کار کښې که د دُنيا وی او که د دين چه د رسولِ اکرم صلے الله عليه وسلم طريقه اختيار کړی او د رسمونو پابندی هرګز نه کوی او د خپلوانو او عزيزانو د خفګان پرواه هرګز نه ساتی د الله تعالیٰ حق د ټولو نه اول دے او نفع نقصان ټول د هغه په قبضه کښې دی نو چه د چا نه هغه راضی شی هغه هيڅ چا ته حاجت نشته او د چا نه چه هغه ناراضه شی بيا هيڅ څوک ئے مددګار نشته۔ د خلقو زړونه هم د هغه په قبضه کښې دی چا له چه غواړی د چا نه ئے ناراض کولے شی او چا له چه غواړی د چا نه ئے راضی کولے شی۔ او دا ډيره د ذلت او بے شرمئ خبره ده چه د مخلوق تابعداری غوره کړے شی او د مالک حقيقی د حکم پرواه نه شی کولے افسوس دے نن صبا په خلقو کښې عقل هم پاتے نه شه۔

امام احمدؒ روايت کوی چه نبی کريم صلے الله عليه وسلم فرمايلی دی کله چه يو قوم يو بدعت جاری کړی نو د غه شان په دوی کښې په يو سنت د عمل کولو توفيق پاتے نه شی (او کله چه دا خبره معلومه شوه چه د بدعت نه علاوه د ګناه نه زيات د دے دا هم بدبختی ده چه د بدعت په وجه يو سنت پاتے کيږی نو په معمولی سنت پابندی عمل کول غوره دی د يو لوئے بدعت راويستلو نه ځکه چه په معمولی سنت په عمل کولو ډير ثواب ملاويږی او که ډير لوئے بدعت هم جاری کړی نو بغير د دردناک عذاب نه نوره هيڅ فائده ئے نشته پس د سنتو اختيارول په هرحال غوره دی اګر چه ډير معمولی ولے نه وی۔ او بدعت په هيڅ حال کښې غوره نه دے اګر چه ډير لوئے وی۔ او چه هرکله په يو عظيم الشان بدعت راويستو کښې غوره والے نشته نو په معمولی بدعت کښې به څه خير وی۔ حاصل دا دے چه لوئے واړه ټول بدعتونه د دين او دنيا د بربادئ اسباب دی او په سنتو عمل کول په هرحال د ثواب باعث دی۔ نو په سنتو عمل کول پکار دی۔

په حديث کښې دی چه څوک د بدعتی تعظيم کوی هغه د اسلام په نړولو کښې مدد کوی حا بيهقیؒ په شعب الايمان کښې روايت کړے دے۔ مطلب دا دے چه بدعتی چونکه د سنتو د طريقے نه خلاف عمل کوی چه دا د دين د اسلام د ضعف سبب دے نو څوک چه د داسے سړی تعظيم کوی هغه هم د دغه مددګار دے او د ګناه

مدد کول ګناه ده نو دے هم ګناه ګار شه او د بدعتي تعظیم کول په ګناه د مدد کولو باندے ځکه شمار شه چه کله د دا سے سړي توهین (سپکوالے) او کړے شي او د ده نه تعلق قطع کړے شي نو امید دے چه دے به د خپل حرکت نه واپس شي او اسلام ته به تے بیا ضرورنه وی۔ او چه تعظیم ئے کیدے شي نو دے خپل حالت برقرار پاتے کولے شي چه د اسلام د ضعف باعث دے او ګناه دے۔ نو په دے وجه په ګناه مدد کول ثابت شو۔ دویم دا چه بدعتي د خدائے پاک دشمن دے او د خدائے تعالیٰ د دشمن تعظیم په شریعت کښے منع دے۔ نو کوم سړے چه د خدائے تعالیٰ د دشمن تعظیم کوی نو ګویا ده د دینِ اسلام لوئی اونه پیژندله نو د ده د حکم نه ئے مخالفت اوکړه۔ او دا وجه اګرچه په ټولو ګناهونو کښے جاری ده۔ مګر په بدعت کښه په خصوصیت سره جاری ده ځکه چه د دے د ګناه لوئے والے او د دینه د لوئے ضرر پوره تفصیل مخکښے ذکر شوی دی۔

په حدیث کښے دی چه حضور صلے الله علیه وسلم فرمائلی دی چه کوم سړے ځما په سنتو عمل اوکړی په هغه زمانه کښے چه ځما په امت کښے فساد خور شی۔ (یعنے بدعتونه ایجاد شی او جهالت خور شی) نو ده ته به د سلو شهیدانو ثواب ملاؤ شی۔ دا حدیث بیهقی روایت کړے دے۔ نو په دے وجه مسلمانانو له پکار دی چه د دا سے ښکلے عمل نه منع نه شی چه د دومره عظیم ثواب نه محروم پاتے نه شی۔ او چونکه په دے زمانه کښے د سنتو سخت مخالفت کیږی پس دا ثواب ضرور حاصلول پکار دی دا سے چه خپله هم عمل اوکړی او نورو ته هم ترغیب ورکړی۔ لیکن د جنګ جګړے نه ځان ساتل پکار دی کوم ځائے چه د څه فتنے احتمال وی هلته دے خپله عمل کوی او نورو ته دے څه نه وائی۔ او کوم ځائے چه د فتنے احتمال نه وی نورو ته دے هم څه ترغیب ورکوی۔

(ختم شوه او له ضمیمه د شپږم حصے د جنت د کالی ۱۰- استمبر ۱۹۸۳ء روز خالی)

دویمه ضمیمه د جنت کالی شپږم حصے چه مسمیٰ ده په

ډیر غوره جهیز

دیباچه د حضرت اقدس مولانا شاه اشرف علی صاحب تهانوی رح نه

احقر اشرف علی عفی عنه ښکاره کوي چه د مدعا دے چه کوم وخت رسالہ اصلاح النساء مرتب کیده۔ نو یو مضمون چه د ښځو د پاره ډیر فائده مند وه د نظر نه تیر شه چه مولانا عبدالحق صاحب (ممبر مدرسه عالیه دیوبند) لیکلے وه چه د لیکلو وجه ئے د مولانا صاحبزاده په

تمهید کښې لیکلے ده - په لیدو سره ئې بے ساخته د اشاعت خواهش او شه چنانچه دا آرزو احقر د دے په تقریظ کښې ښکاره کړے ده - مولانا صاحب د دے یو نقل سره د اجازت نه د چهاپ کولو د پاره را کړه - په دغه وخت کښې رساله اصلاح النساء طبع شوے او شائع کیدو نکے وه - نو مناسب دا معلومه شوه چه دا مضمون د رسالے مذکورے ضمیمه جوړه شی- مولانا ورله لقب "ډیر غوره جهیز" ایښو دے دے - په دے کښې د یو څو خاصو خاصو څا یونو نه علاوه چه خاص خطاب دے په کښې نور ټول مضامین د عامو د فائدے دی- اول تمهید بیا هغه مضمون او په آخر کښې ئې تقریظ دے- الله پاک دے دے نافع جوړ کړی

تمهید د جانبه د نذر الحق صاحب ابن مصنف رساله هذا (مولوی عبد الحق)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط - پس د حمد د الله تعالیٰ او د نعت د حضرت صلے الله علیه وسلم نه احقر عرض کوی چه ئې پلار (مولنا عبد الحق صاحبؒ) ئې د خور عزیزے د عقد نکاح په وخت کښې چه په طریقه د سنتو شوے وه - یو څو هدایات په وخت د رخصت کښې لیکلی ورکړه چه په دے د عمل کولو سره په دنیا کښې آرام او په آخرت کښې نجات وی- ما په دے خیال چه که د دے یو څو نقلو نه خپلو نورو رشته دارو جینکو له او لیکلے شی او ورکړے شی نو غوره به وی عرض او کړه- او د دینه پس دا تحریر د حضرت مولانا شاه اشرف علی صاحب د نظره تیر شه - د هغوی په لوئے خیال کښې هم د دے د اشاعت فکر پیدا شه - نو جناب والد صاحب ورله د اشاعت اجازت ورکړه ځما په علم کښې دا اول مثال دے په هندوستان کښې چه د یوے جینۍ د جهیز سره د داسے قسم نافع تحریر ورکړے شه - زه د الله تعالیٰ نه سوال کوم چه د دینه مسلمانو ښځو او جینکو ته دینی او دنیوی فائده اورسی - (کتبه احقر نذر الحق عفی عنه)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

ډیر غوره جهیز

خاوندا د مُصَلِّیَا خو بنے لور د زړه ټکړے نیک بخته دے کړی تا لره الله تعالیٰ په دواړه جهانو کښې نیک فالی نیسم ستا په مبارک (نیک بخت) نوم سره (اسعدی بیګم نوم ئې ده) ترا وسه تا د خپلے مشفقے مورا و مهربان پلار په سوری کښې پرورش موندے - ستا مور و پلار ستا د آرام او راحت خیال د حد څخه نه او ل کنټرلو - ستا د تعلیم او تربیت او د اخلاقو د برابری او د هر قسم بهبود ذمه وار وو - ننه ته په یوه نوے دنیا کښې قدم کدے - چه هلته به ستا د ټولو اخلاقو او عادتو نو او هر کار تو سکنا تو ذمه واری په تا وی - نو په دے وجه زه تا ته یو څو هدایتونه کوم که ته په هغے باندے او چلید ے نو انشاء الله تعالیٰ چه د دین او دنیا کامیابی به درته نصیب شی- هغه هدایتونه دا دی ا-

د تولو نه اول د الله تعالیٰ او د هغه د رسول مقبول صلے الله علیه وسلم فرمان
بردارې ده د دے همیشه په زړه سره خیال ساتئ۔ د الله او رسول خلاف کار ته
څوک څه کارا اووائی ویونکے خواه هرڅوک چه وی د هغه خبره هرګز مه منه۔ د
مور و پلار د فرمان بردارئ په قرآن شریف کښے ډیر زیات تاکید راغلے دے او جنت
د مور و پلار د قد مونو لاندے دے۔ لیکن که د الله تعالیٰ او رسول خلاف خبره درته
مور و پلار هم اوکړی نو منے به ئے نه۔ الله تعالیٰ په قرآن مجید کښے فرمائی (ترجمه) او که
مور و پلار تا ته مجبورا سره په څه شی شریک نیولو حکم اوکړی چه تا ته ئے علم نه وی نو
د هغوی فرمان بردارئ په دے خبره کښے مه کوه او په دنیا کښے ورسره ښه سلوک کوه
مونږ چه کوم ځلویښت حدیث ستا د پاره تصنیف کړی دی او تا هغه سره د ترجمے یاد
کړی هم دی په هغے کښے دا حدیث هم دے چه (ترجمه) د خالق په نافرمانئ کښے د چا مخلوق
فرمان بردارې نه ده پکار۔ پس چه ستا په زړه سره د الله د فرمان بردارئ
خیال وی نو ته به خود بخود د خدائے پاک د احکامو پابنده ئے۔ د الله پاک ډیر
احکام دی چه څه تے تا په دینی رسالو کښے او خاص په د جنت کالی کښے لوستی دی۔ د
هغے تولو دلته بیا د بیا نولو ضرورت نشته دے۔ البته کوم چه په کښے ډیر ضروری
دی په مختصره طریقه دلته ذکر کولے شی۔

پس د عقیدے د توحید د الله پاک او د رسالت د محمد صلے الله علیه وسلم
چه کوم شے ډیر اهم دے او په قرآن مجید کښے ئے ځائے په ځائے تاکید راغلے دے هغه مونځ
دے۔ مونځ د اسلام یو داسے رکن او ضروری فرض دے چه د عاقل بالغ نه په هیڅ
وقت نه ساقطیږی۔ پس پنځه وخته مونځ په ډیره پابندئ سره همیشه په وخت
په کوه او په سفر کښے برابر ادا کوه۔ اکثر ښځے په سفر کښے د مانځه خیال نه ساتی خو
ته هر وخت خیال ساته دا سفر که د ریل وی او که د ګاډی وغیره وی۔ که د ګاډی
یا ټیکسی وغیره سفر وی نو هغه خو د خپل اختیار وی د مانځه په وخت ئے او دروه
او د لارے نه یو طرفته شه په بورقعه یا لوئے څادر کښے مونځ اوکړه۔ او که او دس
نه وی نو هم یو پناه ځائے تاکید شی۔ او که د ریل سفر وی نو بیا هم په ګاډی کښے د
مانځه د پاره ځائے ملاویږی۔ اکثر په ستیشن ګاډے دومره او دریږی چه دوه
رکعته فرض په کښے اداکیږی۔ او په سفر کښے خو هسے هم فرض دوه رکعته وی یا
درے رکعته۔ که سنت او نفل په سفر کښے اونه شی نو خیر دے (او په روان ګاډی کښے هم
کیږی) غرض فرض واجب (او د سحر سنت) په هیڅ حالت کښے پاتے کول نه دی پکار۔ او په
دے سفر کښے به ستا خاوند یا محرم ستا سره ضروری وی نو بیا خو د هغه په کفالت کښے
خامخا کیدے شی۔ غرض چه د چا قصد د مانځه وی نو هیڅ بندیز ورته نه شی راتلے

کې سپړې وي او که ښځه خو چې د مانځه پابندي ساتي هغه ئې په سفر کښې هم ادا کولې شي. د ریل سواري خو د خپل اختیار نه وي مګر د مانځه پرېښودو د پاره هیڅ عذر نشته. مونږ په دې ډېر خوشحاله یو چې ته خه په اطمینان سره مونځ سره د برابرې ډاډ کانو ادا کوې الله تعالیٰ دې تا له زیات توفیق د نیکو ورکړي. د فرضونه سوا د مؤکده وسنتو هم ډېر خیال ساته او که کیدې شي نو نور سنت او نفل چې په حدیث سره ثابت دي هم ادا کوه. د تهجد د مانځه ډېر ثواب دے او حضور صلے الله علیه وسلم همیشه د تهجد مونځ ادا کړے دے که چرته د سپي په پاتے شه خو د ه ورځ به ئے کولو. د حضورؐ بیبیانوؓ به هم د تهجد مونځ ادا کولو. د تهجد وخت د دعا د قبلید و او د رحمت د نزول وخت دے. چرته د یو مانځه نه پس د قرآن تلاوت هم کوه. که د سحر د مانځه نه پس د تلاوت وخت مقرر کړے نو غوره دے. تا قرآن شریف سره د ترجمې نه لوستلے دے د تلاوت په وخت کښې ترجمې ته هم خیال ساته. او کوم ځائے چې پوهه نه شې تپوس ئے کوه. دا ډیره د خوشحالۍ چې ته د قرآن شریف تلاوت په صحیح طریقه سره کولے شې او حروف په خپلو مخارجو کښې ادا کولے شې ورنه اکثر ښځې د حروفو په ادا کولو کښې ډیره غلطي کوي او حروف پخپلو مخارجو کښې نه شي ادا کولے. اکثر د ح په ځائے ه او د ع په ځائے همزه ادا کوي. د روژے په باره کښې تا ته د تاکید ضرورت نشته ته پخپله د رمضان نه علاوه نورے نفلي روژے هم نیسے لکه د اکثرو ښځو عادت دے او خاص په دے باره کښې د ښځو همت د سړو زیات دے. لیکن د وینا ضرورت دا دے چې روژه پاکه صافه نیسه. د غیبت نه خو په هر حالت کښې ځان ساتل پکار دي ځکه چې غیبت ګناه کبیره دے. په قرآن شریف او احادیثو کښې د دے په باره کښې سخته زور ته راغلے ده. لیکن په روژه ئے خاص خیال ساتل پکار دي چې د چا غیبت او نه شي په غیبت سره د روژے ثواب ختمیږي د الله پاک په دا سے روژه هیڅ پرواه نه وي په کومه کښې چې بنده په غیبت او دروغو کښې مبتلا وي. زکوٰة فرض دے لکه چې تا په دیني رسالو کښې لوستلي دي او د هغې د شرطونو تفصیل او د سرو سپینو د مقدار د نصاب حال او د زکوٰة مصارف چې کوم په قرآن کښې ذکر دي تا ته معلوم دي. د بیا ذکر کولو ئے دلته ضرورت نشته خو خبره دلته د وینا صرف دا ده چې ښځې د زکوٰة طرف ته ډیره توجه نه ورکوي اول خو مال ډېر خوږ وي د بنده زړه نه کیږي چې ورئے کړي دویم په سستۍ او بے پرواهۍ سره زکوٰة نه ادا کوي. د دے کا ادا کولو ډېر خیال ساتل پکار دي. تا ته چې مونږ کوم کالي درکړیا دي هغه د نصاب حد ته رسیدلي دي د هغې زکوٰة همیشه ادا کوه. که خاوند د بي بي د طرفه زکوٰة ورکړي نو جائز

دي دخوچه هغې ته معلومه اطلاع ورکړي) که په یوه بنځه زکوٰة فرض وي نو دخپل مال نه دې ورکوي او که خاوند ئې منع کوي نو په دې کښې د د هغه خبره نه منې دا مسئله صرف دخبردارۍ دپاره اوليکلې شوه ورنه تاته به ان شاء الله څخه لرلا نه شي بلکه زیات تاکید به درته دقرانصوځ ادا کولو کيږي۔ مناسب ده چه دلته د آسانۍ د پاره یوه نقشه دزکوٰة ورکولو د زرو ۱۰۰۰ نه تر لسو روپو پورې اوليکلې شي۔ اګرچه لس شل روپوچه نصاب ته نه رسي زکوٰة نشته ليکن د نصاب پوره کيدو نه پس به د کسراتو نه په زکوٰة ورکولو کښې دا نقشه مدد کوي۔ (مثلاً د یو سړي سره دوه سوه روپۍ دي نو په دې کښې څلويښتمه روپۍ ده يعنې پنځه روپۍ به ورکوي۔ ليکن که د دې سړي سره په دې دوه سوو باسه نورې روپۍ د څلويښتو نه کمې راغلې نو هم به د دوه ۲۰۰ سوو زکوٰة ورکوي او که پوره څلويښت روپۍ په زیاتې شوې نو بیا به په دې هم یوه روپۍ بله زکوٰة راشي نو پنځه او یوه یوه شپږ روپۍ به ورکوي) د سرو سپينو د نصاب نه پس چه پنځمه حصه زياته شي نو په زياتي به زکوٰة ورکوي ورنه نه به ورکوي۔ ^له^

تعداد د روپو			مقدار د زکوٰة واجبه		تعداد د روپو			مقدار د زکوٰة واجبه	
یوزر	۱۰۰۰	لـ۱۰۰۰	پنځویشت روپۍ	صـعـ۲۵ـه	درې سوه	۳۰۰	سار(۳۰۰)	اوه روپۍ اته آنې	معہ ۸ر
نه سوه	۹۰۰	لعار(۹۰۰)	دوويشت روپۍ آته آنې	عـ۲۲ـه	دوه سوه	۲۰۰	سار(۲۰۰)	پنځه روپۍ	صر
اته سوه	۸۰۰	لهار(۸۰۰)	شل روپۍ	عـ۲۰ـه	یوسل	۱۰۰	مار(۱۰۰)	دوه روپۍ آته آنې	عا ۸ر
اوه سوه	۷۰۰	معمار(۷۰۰)	اولس روپۍ آته آنې	معـ۱۷ـه	پنځوس	۵۰	ضـ۵۰ـه	یوه روپۍ څلور آنې	عہ
شپږ سوه	۶۰۰	سمار(۶۰۰)	پنځلس روپۍ	صـ۱۵ـه	پنځویشت	۲۵	صـ۲۵ـه	لس آنې	۱۰ر
پنځه سوه	۵۰۰	صمار(۵۰۰)	دولس روپۍ آته آنې	عـ۱۲ـه	شل	۲۰	عـ۲۰ـه	آته آنې	۸ر
څلور سوه	۴۰۰	للعار(۴۰۰)	لس روپۍ	عـ۱۰ـه	لس	۱۰	عـ۱۰ـه	څلور آنې	۴ر

درمياني رقمونه او کسرات د دې نه په آسانۍ سره معلوميدې شي مثلاً د یو نیم سل ۱۵۰ روپو زکوٰة معلوموې نو په نقشه کښې د سلو او د پنځوسو زکوٰة معلوم کړه دغه د یو نیم سل روپو زکوٰة شوه یا د پنځه آویا ۷۵ روپو زکوٰة معلوموې نو په نقشه کښې د پنځوسو او د

له د زکوٰة په ادا کولو کښې اکثر خلق ډیرې غلطۍ کوي چه تفصيل ئې مولانا اشرف علي صاحب په رساله (القاء) کښې ليکلې دے دلته يوه غټه غلطي په ګوته کولې شي او هغه دا چه اکثر خلق د سپينو قيمت په روپو سره کوي او د سپينو سلو تولو قيمت اتيا روپۍ دے نو د اتيا روپو په حساب دوه روپۍ ورکوي نو دا جائز نه دي بلکه سپين دې د روپو سره تلې شي د سلو تولو نه دے دوه نيمې روپۍ ورکوي علیٰ هذا القياس ۱۲ (خو اوس روپۍ کمه ده نو که قيمت ئې اوکړي او د قيمت نه زکوٰة اوباسي خير دے۔ مترجم ۱۲) له په زکوٰة کښې دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چه د سرو سپينو نه علاوه که څوک چرګې که تهيلداراو سوچه وي او نصاب ته رسي نو هم په کښې زکوٰة فرض دے ۱۲ او بله دا خبره ده چه که خپل رشته دار مستحق د زکوٰة وي نو هغه ته زکوٰة ورکول کښې دوچند ثواب دے يو د زکوٰة بل د صله ۱۲

پنځو بیشتو زکوٰة او کوره نو دغه ئې زکوٰة شه - حج فرض[1] دے چه طاقت ئې وي او په پاچا حج فرض شي او او ئې نه کړي نو د داسے سړي د پاره په حدیث کښې سخته زورنه راغلې ده د داسے سړي د نامسلمان مړکیدو ورور نه حضور فرمائیلے ده - موږ ته معلومه ده چه اوس خوپتا په ګشته مال حج فرض نه دے - د ښځې د پاره د لاس د تو ښئے نه علاوه د محرم یا خاوند ملګرتیا هم شرط ده کله چه تا په دیني رسالو کښې لوستے ده - لیکن که الله پاک درله طاقت درکړه چه حج ته باندِ فرض شه نو بغیر د څه سُستۍ او تأمل نه حج اداکول پکار دي -

اوس یو څو خبرے موږ ستا د معاشرت متعلق ذکر کوو

د خاوند فرمان برداري په ښځه باندِ واجب ده او په حدیث کښې د دے ډیر تاکید راغلے دے - حضور صلے الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه که ما یو انسان ته د سجدے حکم کولے نو ښځے ته به م حکم کاوه چه خپل خاوند ته سجده کوي - مګر ځکه په شریعت کښې د تعظیم سجده هم حرامه ده - نو ځکه مخلوق چا ته د سجدے کولو اجازت نه دے کړے - د دے حدیث نه معلومه شوه چه د خاوند د فرمان بردارۍ څومره زیات تاکید دے - او د کومے ښځے نه چه د دے د نافرمانۍ په وجه خاوند ناراضه وي هغه ښځه د الله تعالیٰ د رحمت نه لرے وي تر څو چه خاوند رضا نه کړي خودا یا د ساتل پکار دي چه که خاوند د ښځې نه د فرائضو په آدا ئیګۍ باندے خفه وي نو د هغے هیڅ پرواه نه دي کول پکار ځکه چه د الله تعالیٰ حق د هر چا نه وړمبے دے - او په دے باره حدیث مخکښې تیر شوے دے - ورته صفتونه چه په کومه ښځه کښې وي د دینه چرته خاوند نه شي خفه کیدے - کوم چه سعدي د بوستان په دے شعر کښې جمع کړي دي ؎

زنِ خوب و فرمان بر و پارسا — کند مرد درویش را بادشا

(ترجمه) ښائسته فرمان برداره او پرهیزګاره ښځه - فقیر له بادشاه جوړه وي - په دے کښې دا آخري دوه صفتونه اختیاري دي که دا اولنے صفت په ښځه کښې وي هم نه خو چه داورستي دوه په کښې موجود وي نو د ښځے خاوند تعلقات به به مزیدار وي - او که اولنے صفت په کښې موجود وي خو چه داورستي دوه په کښې نه وي نو داسے ښځه په دنیا کښې بدنامه او په آخرت کښې د دے د پاره سخت عذاب دے - د بد مزاجه او نا فرمانے ښځے په باره کښې هم سعدي بابا" فرمائي ؎

---

[1] د حج ډیر مسائل دي خو فرض په کښې درے دي احرام (۱) وقوف عرفات (۲) او طواف زیارت - په دے کښې احرام شرط دے او وقوف او طواف دواړه ارکان دي که په دے درے وو کښې یو پاتے شي حج اونه شه (لیکن که طواف زیارت پاتے شي تو تلافي ئې کیدے شي او که وقوف عرفات پاتے شي نو بیا به کال له دوباره حج کوي حج ئې اونه شه - او که واجبات پاتے شي نو داسے جانور به ذبح کوي چه قربانۍ په کیږي - د وقوف عرفات په حق کښې هغه شپه کومه چه د عرفې د ورځے نه پس راځي هغه مقصود ده نو په دغه شپه که چا د صبح صادق نه اول په عرفات کښې قیام او کړو حج ئې اوشه ۱۲ کتاب ابو حُسین سراج ۱۲

زنِ بد در سرائے مرد نکو ... همدرین عالم است دوزخ او

(ترجمه) بد ژبه ښځه د نیک سړي په کور کښې - هم په دے دنیا کښې د هغه د پاره دوزخ ده او دا واقعي خبره ده چه په کوم کور کښې د ښځې خاوند تعلقات ښه نه وي هغه کور په مثل د دوزخ وي خلق پورے خاندي او د ښځې خاوند ژوند یو دیال وي او دا انداز ه موږ ځینې ځینې ځایونو کښې لیدلے ده - او په کوم کور کښې چه د ښځې خاوند تعلقات ښه وي هغه کورا که څه غریب او مفلس وي لیکن هغه کور د باد شاهي محل نه غوره بلکه د جنت نمونه جوړه وي - دا هم ممکنه ده چه بعضې وخت به د خاوند خفګان په نه څه خبره وي او تا ته به په هغې کښې څه ګناه نه وي خو بیا هم ته دغه حالت ډیر په صبر او وقار سره برداشت کوه حتّٰی چه ستا د ژبے نه څۀ چه د اشارے نه هم دا ظاهره نه شي چه دا غصه بے ځایه وه - ستا صبر او تحمل به آخر کار هغه پوهه کړي چه دا غصه جائز نه وه او د دے انجام به ډیر ښه او ستا د یاده د ذیاتے مهربانۍ سبب شي - ځکه چه په دا سے سلوک سره دشمن هم دوست کیږي نو خاوند خو خاوند دے - او دا سے صبر او تحمل کوه چه نه دے کوټې ته ریو شي او نه دے څه په خبرو او حرکتونو کښې د خفګان اظهار اوشي بلکه خه خنده رویه او خوشحاله ښکاره دے - د خاوند سره په خبرو کښې د خاوند د مرتبے ضرور لحاظ ساته - چه په بے تکلفۍ کښې هم دره بے ادبي اونه شي - په خبرو کښې دا سے ټکے چه بے ادبي په کښې وي هرګز مه استعمالوه - چه خاوند څه وائي نو اول ئے په غور سره آوره - بیا په ادب سره مناسب جواب ورکوه - مه په زوره خبره کوه او مه دا سے روکوه چه اوریدے نه شي - که د څه واقع علم خاوند ته نه وي یا په غلط فهمۍ کښې وي نو ډیره په ادب سره ئے دغه غلط فهمي لرے کوه چه دا سے الفاظ استعمال نه کړے چه د دے واقع د نه خبرېدو وجه په کښې د هغه سپکوالے وي - او که چرے د انساني تقاضا په وجه ستا نه څه غلطي یا قصور اوشي په څه کار کښې نو د هغې اقرار کوه او معافي غواړه د هغې به ډیر ښه اثر وي - او که د دُنیا یا د دین متعلق څه مسائل وغیره ځان پوهه کول غواړے - نو خه په رونړ تندي تپوس کوه او ځۀ ځان پوهه کوه خپل اطمینان کوه ؎

درطلب کردنِ حقیقت کار ... از خدا شرم دار و شرم مدار

(ترجمه) د یوے مسئلے په اِرزده کولو کښې شرم نه دے پکار - شرم د خدائے نه پکار دے چه ګناه اونه شي د ښځو عادت وي چه په هره خبره کښې د خاوند ناشکري کوي دا ډیر ناکاره عادت دے د خاوند یا سخر د طرفه چه د خوراک سکاک څه ملاؤ شي نو سره د شکر ئے قبلول پکار دي - اګر که ډیر لږ وي خو شکر پے ویستل پکار دي - په لاکهو نو به دا سے ښځے وي چه ستا په

شان خوراک سکاک او کپړے به ورته ملاؤ نه وي او نه به ستا په شان په آرام وي په خوراک سکاک او مالدارۍ کښې چرته حرص مه کوه که حسد او بغض نه وي نو ته ځان ساته چه په دے کښې انسان د سخت گناه نه علاوه په ډیر عذاب کښې مبتلا وي - د دُنیا په اسباب کښې همیشه د ځان نه لاندے ته او د دین په کارونو کښې د ځان نه بانډې ته نظر کوه په دے سره به تا ته په دنیا کښې راحت او د نیکۍ توفیق حاصلیږي -

هدایت د سخرانے سره د ژوند تیرولو طریقے

د خواښے ادب په هرحال کښې د خپلے مور پشان کوه - او په هر کار کښې د هغې رضامندۍ اوّل گڼره - خواه که تا ته په کښې تکلیف وي او که راحت - مگر یو قدم هم د هغې د رضا نه مه ځه - د ژبے نه چرته داسے لفظ مه اوباسه چه هغې ته پے تکلیف ورسي چه خبرے ورسره کوے نو په داسے طریقه ورسره چرته خبرے مه کوه لکه چه ته ئے د خپلے هم زولے سره کوے - بلکه په داسے الفاظو ورسره خبرے کوه لکه چه د مشرانو سره کولے شي چنانچه دغه طریقه مونږ د خاوند په آدابو کښې بیان کړے ده - که خواښے درته په څه خبره باندې خبردارے درکوي نو ځه په خاموشۍ سره ئے آوره اگر که ترخے او د غصے خبرے وَلے نه وي خو د خو بشریت د کوتاه پشان ئے تیره وه او هرگز په سختۍ جواب مه ورکوه - او د خپلے مور پشان ئے خدمت کوه - که بل چا ته د څه کار او وائي خو ته ئے کوه - د سخر ادب د خپل پلار پشان کوه - او د خبرو اترو د ادب بیان چه څنگه مونږ د خواښے او کړو دغه طریقه دلته کوه - مثلاً که څوک درنه تپوس اوکړي چه هغه چرته تلے دے نو ته وایه چه فلانۍ ځائے ته ئے تشریف وړے دے - که څوک تپوس درنه اوکړي چه د فلانۍ کار په باره کښې هغوی څه ویلي دي نو ته په جواب کښې وایه چه داسے ئے فرمایلي دي - هغه ته په آرام رسولو او خدمت کولو کښې چه څومره دے وَس رسي کوشش کوه - که چرته ئے نو د خپل سخر او خاوند نه اجازت اخله او که دوی موجود نه وي بیا د خواښے نه اجازت غواړه - که اجازت درته اوکړي نو ځه ورنه مه ځه - او که څه تقریب ته درته د تلو ووائي نو ځه - اگر که ستا زړه تله نه غواړي - داسے چرته نه شي کیدے چه دوی به تا داسے ځائے ته بیائي چه هلته به تله شرعاً جائز نه وي - کوم ځائے کښې چه د شریعت نه خلاف کارونه کیږي هلته تله منع دي - که یوه بي بي ستا نه په مرتبه او عمر کښې لویه وي لکه د خاوند د مشر رور بنځه د هغې سره په خبرو اترو او ناسته پاسته کښې د هغې د مرتبے لحاظ ساته او داسے په خوږ والي او مینه ورسره اوسه لکه چه سکه خویا ندے ئے - چه ته ورسره داسے سلوک کوے نو شاید چه هغه به هم درسره دغسے کوي -

او که په مرتبه او عمر کښے درنه وړه وی نو د مینے او محبت سلوک ورسره کوه او ډیر په نرمئ او مینه ورته د نیکو نیکو خبرو خوړنه کوه - او چه هغه څهٔ کار کوی نو ته ورسره هم مدد کوه - دغه شان د خاوند د خویاندو خورزو وغیره سره د مرتبے او عمر په لحاظ سره سلوک کوه خو په دے ټولو کښے د اعتدال حد ضرور په خیال کښے ساته ځکه چه د حد د اعتدال نه زیات خاطر مدارکول اکثر خراب اثر کوی - د خپل کور یا د د نورو کورو نو د بیبیا نو په باره کښے پسے شاه چرته دا سے خبره مه کوه چه که هغے ته او رسی نو بد ه به ئے اوګنړی - دیته غیبت وائی او غیبت کول سخت ګناه دے - اکثر خلق داوائی چه مونږ خو څه دروغ نه وایو دا خبره په فلانی کښے موجود ده - خو یا د ساته دا د نفس یو مکر دے - د غیبت د پاره دا ضروری نه ده چه کوم عیب د چا بیا نولے شی هغه په هغه کښے نه وی بلکه چه کوم عیب په چا کښے وی د هغے بیا نول غیبت دے او که دغه عیب په هغے سړی کښے نه وی نو دا خو دوچنده ګناه شه یو د تهمت او بل د غیبت - په کورکښے چه څو مره واړه وی که هغه ستا د سخرانے اولاد وی او که د نورو دا سے رشته دارو وی چه په دے کورکښے اوسی د هغوی سره ډیر شفقت او مهربانی کوه - په حدیث شریف کښے دی چه کوم سړے د مشرانو ادب نه کوی او په وړو شفقت نه کوی هغه څمونږ نه نه دے - څمونږ د حضور اقدس صلے الله علیه وسلم د وړوسره ډیر محبت وه - تر دے چه یوه پیړه یو بچی د دوی په غیږه کښے تش بول هم کړی وُو - بعضے ښځے چه د بچو سره ئے محبت وی اکثر بچی په دے بهانه راغواړی چه راشه څه درکوم حالانکه څهٔ ورله نه ورکوی صرف راغوختل ئے مقصود وی - لیکن دا سے ویل یو قسم دروغ دی، دا سے چرته مه کوه - یو وار حضور صلے الله علیه وسلم په مخکښے یو بی بی یو بچے د څهٔ ورکولو په بهانه را وغوختو خو دے ورله څه وُرهم کړه هسے ئے نه وه راغوختلے - نو حضور ورته او فرمایل چه که تا ورله دا نه ورکولے نو دا په دروغ وُو - که په کورکښے خادمه وی نو د هغے نه د طاقت نه سوا کار مه اخله که څه کار په هغے باندِ درووند وی نو یخپله ئے مدد کوه - په سختئ او سختو خبرو ورسره خبرے مه کوه - که نا جوړه وی یا ورته څه تکلیف وی نو پوره همدردی ورسره کوه دا سے همدردی ورسره کوه لکه ستا مورچه تا لیدلے ده - چه که چرے معمولی درد ئے په سر راشی نو یخپله ئے کارکوی - خو دا سے هم نه دی پکار چه نوکره بالکل آرام طلبه شی او کام چوره شی - دا سے کول هم د نوکرے سره دشمنی ده - ځکه چه بیا دا هر ځائے آرام طلبه وی او خلق ئے په ملامته کوی - چه د خود ا ک څښتنه شے کورته راشی نو دے له په کښے هم حصه کوه - تابرتاو تا د نیلے مود

لیدلے دے۔ مونږ په دے ډیر خوشحاله یو چه د ایثار جذبه په تا کښے ډیره ده (یعنے پخپله ځان بل مخکښے کوے) الله پاک دے دا جذبه په تا کښے نوره هم زیاته کړی د خپل خاوند او د کور د ټولو خلقو سره دغه سلوک کوه۔ په کور کښے بنځے او باهر سری چه میلمانه شی نو د خاوند د رضا مطابق ئے بنه په رونړ تندی سره میلمستیا کوه۔ د میلمه د پاره د خپل کور په معمولی خوراک کښے تکلف هم جائز دے۔ خو چه د اسراف حد ته او نه رسی۔ که میلمه نیک او پرهیزګار وی نو د هغه میلمستیا خو سبب د خیر و برکت ګنړل پکار دی۔ او حسبے خوبه یو میلمه هم خفه کیدل نه دی پکار۔ حضورﷺ صلے الله علیه وسلم کافرهم میلمه کړے دے۔ میلمه ته سُت کول او پاتے کول ئے بنه دی۔ خو دومره زورپے راوستل نه دی پکار چه هغه ته پے تکلیف رسی۔ چه د میلمه څه ضروری کار په مخکښے وی او دے ئے خامخا په زور او په قسمونو پاتے کوی دا څه کار نه دے۔ حضرت مولانا رشید احمد صاحبؒ به دا سے منت او سُت چرته نه خوخو لو۔ د میلمه سره چه هر څومره دارمدارا وکړے دا د خپل طرف نه احسان مه ګنړه بلکه دا خو هغه په تا احسان او کړه چه د خپل قسمت رزق ئے ستا سره او خوړه او تا سوئے په ثواب کښے داخل کړے سه

شکر بجا آر که مهمان تو ؛ روزئ خود می خورد از خوان تو ؛ (ترجمه) شکر ادا کړه چه ستا میلمه خپل رزق ستا په دسترخوان باندے خوری۔

دغه شان که د چا سره سلوک کوے نو احسان پے مه ا یږه وه۔ په قرآن شریف سره ثابته ده چه په احسان ا یږه ولو باندے د سلوک ثواب باطلیږی۔ پس داخالص د الله پاک د رضامندئ د پاره کول پکار دی۔

د کور انتظام

د کور د خلقو سره د ښه سلوک او دارمدار او ښه ژوند تیره ولو پس د کور د ترقئ او انتظام او ښائست د پاره کوشش کول یو نهایت ضروری شے دے۔ د کور انتظام چه په بنه طور سره وی نو که د ژوند سامان ئے کم هم وی خو کور ډیر ښائسته ښکاریږی او دا سے کور غریب نه ښکاری۔ او که دا انتظام ټهیک نه وی نو که ډیر دولت مند کوروی خو د نیستئ او بدبختئ باران پے وریږی۔ مونږ پخپلو سترګو ډیر دولت مند کورونه لیدلی دی چه په بنځو کښے ئے د کور د انتظام سلیقه نه وی نو د هغے کورونو حالت د مفلسانو د کورونو نه هم بدتر وی۔ لو یه خبره په دے کښے د خرچ انداذه او د هغے د موقع لحاظ ساتل دی۔ په خرچ انداذه کول او په موقع ئے استعمالول پکار دی۔ د انداذے نه مراد دا دے

چه د آمدنۍ نه خرچ زیات نه وي او نه دومره کم چه کنجوس ئې ښکاري. د
الله اندازې نه د زیات خرچ کونکو او د کنجوسي کونکو دواړو بد والې په قرآن
کښې بیان شوې دے. د مال او پیسې داسې محبت چه بنده پیسه پیسه جمع کوي
او کنز ئې په کښې شروع شي شرعًا هم بد دے او ژوند ئې هم خرابیږي. البته
میانه روي یو داسې شے دے چه نه ئې سړے کنجوس کیږي او نه اسراف کونکے
او په وخت د ضرورت کښې هم حاجت مند نه وي. د خرچ د موقع لحاظ ساتل
پخپله د خرچ کونکي کار دے چه دے خیال ساتي چه پکومه موقع څومره خرچ کول
پکار دي. نو په دے شان د وړو وړو خبرو او خرچونو یادښت ګران دي. البته که
د خاوند په رضا د روزانه خرچ لیکل اوشي او په هفته پس د خاوند د نظر نه
اوړه وَلے شي نو دا به غوره وي. حساب یو داسې څۀ شے دے چه د دنیا او دین دواړو
د پاره به کار راځي. غله وغیره اجناس چه کور ته راځي هغه تَلَل او دغه شان د روپو
پیسې شماره. او که چاله قرض ورکوے یا د چانه قرض اخلې نو هغه هم لیکه. او چه واپس
شي نو هم ئې لیکه. دغه شان دهوبي له چه کوم کپړے ورکړے بغیر لیک نه ئې مه
ورکوه. او د ټولو نه زیاته ښه خبره داده چه ستا سره څومره کپړے کالي وغیره
وي دا ټول لیکه. دا ډیره د فائدے خبره ده. او د ټولو نه زیات د کور انتظام او
د کور سامان په ترتیب سره ایښودل دي. چه د کوم شي کوم ځائے د ایښودو دے هغه
په هغه ځائے ایښودل پکار دي. کټ، بستر، لوښے لرګے وغیره ټول پخپل خپل ځائے باندې
ایښودل او ځائے ته رسول. او کوم شے چه د ضرورت د پاره راواغستے شي او کار ترې
اوشي نو بیا ئې خپل ځائے ته رسول مناسب دي. دغه شان د کور ټول لوښي وړوکي
لوښي ته خیال ساته داسې نه چه لوښي یو طرفته په خپو کښې رغړي تاشوغ بل ځائے
د خپو لاندې کیږي. پلیټونه بل ځائے کښې وهړا ته وي. دیګچې پتیلے او تالي وینځلي
نا وینځلي کښې وهړوي پچان پې بنډیږي. منګي ځانله سرتور پراته وي. چرګان وغیره
ئې جوته کوي. او کپړے همیشه نغښتے کړه داسې نه چه یو خوا بل خوا کښې وړے
پرتې وي. که ریښمي یا وړینے کپړے وي نو د هغې همیشه وخت ناوخت خیال ساته خاص کر
د برسات په موسم کښې ورته دیدفام کوه چه کوهړي یا چینجي پکښې اونه شي. اګر چه په بنده
کښې د وخت نه د انتظام قوت وي لیکن کوشش او سعي هم کول پکار دي. په کور کښې
چه کومه بي بي هنرمنده او قابله وي همیشه د هغې نه د کور انتظام اُزده کوه او
د هغې کارونو ته په غور سره ګوره او بیا د هغې پښان کوه. اوس مونږ دا بحث ختموو
او ملګرو ته دا نصیحت کوو چه که چرے تاسو دے هدایاتو عمل اوکړه نو انشاء الله
تعالیٰ چه په دین دنیا کښې به دے کامیابي نصیب شي او په دنیا کښې به دے کور د جنت نمونه

جوړه شي - او دا زمونږ د پاره ستا د واده د پاره دا یو ډیر فوره جهیز دے دا ته په هفته کښې یو ه پیړه دوه ضرور لولہ - مونږ الله تعالیٰ ته سوال کو و چه الله پاک دے ستا په دین دنیا کښې برکتونه نصیب کړي او سره ستا دا دعا کو وچه " رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ط مونږ ستا نه صرف دا غواړو چه تو څو پورے ستا مورو پلار ژوندی وی د هغوی د پاره د ایمان د سلامتیٔ او د خاتمے بخیر کید و دعا کوه او چه د دے دنیا نه رخصت شي بیا ورته د مغفرت دعا کوه - وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ وَاَهْلِ بَيْتِهٖ اَجْمَعِيْنَ ط -

بنده ناچیز عبدالحق عفی الله عنه قصبه پور قاضی ضلع مظفرنگر

تقریظ د حضرت مولوی حافظ شاه اشرف علی صاحب تهانوی رح

پس د حمد او درود نه احقر اشرف علی عرض کو نکے دے چه ښما دا تقریر لطیف سعادت نصیب په ډیر شوق سره او لوستا په حرف حرف م زړه دو خانه کیده سبحان الله رشیادی چه دریاب ئے په کوزه کښې بند کړے دے د الله تعالیٰ نه دعا او د دعا سره اُمید دے چه د جینکو د پاره ډیر نافع دے ځما دا خواهش دے چه دا مستقلاً یا د یو رسالے سره چهاپ کړے شي او تولو کورونو ته او رسولے شي - وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ط

اشرف علی عفی عنه مقام تهانه بهون - ۳ صفر سنه ۱۳۳۰ھ

د لوستو طریقه او اجمالی حالت د شپږمے حصے

۱- په دے حصه کښے د غم ښادیٔ او د نورو مروّجه رسمونو متعلق بیان دے -

۲- کله د دریمے حصے د ختم نه پس په جینیٔ کښے د څلورمے یا پنځمے حصے د پوهے استعداد شه معلومیږی نو دا حصه ورته او لوستے شي -

۳- د دے خیال د ساتلے شي چه څوک په دے رسمونو کښے پریشانه او نقصانی کید و نکی وینی نو فوراً د دے لوستونکے ته دغه نقصانونه په کوته کوی او خراب یانے ئے ورته خائی چه نفرت ئے تے پیدا کیږی

۴- اکثر جینکی د کټو یا نو په لوبو کښے هم دا رسمونه کوی نو د دینه ئے منع کول پکاردی چه عادت ئے جوړ نه شي -

۵- کله لیکل ضروری کنړی نو دا حصه دے هم د لوستو سره لیکی چه خط ئے صفا شي - او مضامین ئے هم بنه یاد شي -

۶- جینکو ته دے تاکید کولے شي چه د دے مضامینو دے ډیر یل سره ذکر کوی -

۷- او نورے هم چه اُن پړے نښے په محله کښے وی هغوی ته د اوره وی -

(ختم شوه شپږمه حصه)

محمد اشرف علی عفی عنه

دَجنّت کالے اُووَمه حصَّه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

باب: اَدبونه خویونه اودَ ثواب او عذاب په بیان کښے

عبادتونه ښائسته کول دَ اودس او پاکۍ بیان

عمل ۱:- اودس په کامله طریقه کوه اګر که بعضے وخت نفس ته تکلیف وی -
عمل ۲:- دَ تازه او داسه ثواب زیات دے -
عمل ۳:- دَ لویو او دړه وبولو په وخت کښے قبلے ته مخ یا شا مه راوله -
عمل ۴:- دَ تشو بولو دَ داروڅان ساته دَ قبر عذاب دَ دینه جوړیږی -
عمل ۵:- په څه سُوری کښے تش بول مه کوه چرته مار لرم بہ تے را اوځی -
عمل ۶:- کوم ځائے چه غسُل کوے هلته تش بول مه کوه -
عمل ۷:- دَ لویو بولو او تشو بولو په وخت کښے خبرے مه کوه -
عمل ۸:- چه دَ خواب پاڅے نو تر څو چه دے لاس څهٔ ونیځلی نه وی په او بو کښے مه منډه
عمل ۹:- کومے اُوبه چه په غرمه کرے شوے وی هغه مه استعمالوه - دَ دینه دَ برګی بیماری جوړیږی -

دَمانځه بیان

عمل ۱:- مونځ په غوره وخت کښے کوه، رکوع سجده صحیح کوه او په شوق مونځ کوه -
عمل ۲:- چه بچے دَ اوو کالو شی نو دَ مانځه تاکید ورته کوه او چه دَ لسو کالو شی بیائے په وهلو وهٔ
عمل ۳:- په داسے کپړو یا داسے ځائے کښے مونځ کول ښه نه دی چه په نقش ونګار ئے توجه بد لیږی -
عمل ۴:- دَ مونځ کونکی مخے ته څه او دره ول پکار دی که نور څه نه وی نو یو لرګے او دره وه یا یو رنګ شے کیده خو چه لږ کمځے ستر ږے ته برابر وی -
عمل ۵:- فرض چه اوکړے نو غوره دی چه سنّت په بدل ځائے اوکړے -
عمل ۶:- په مانځه کښے اخوا دیخوا مه ګوره مه څکته پورته ګوره او چه کیدے شی اسویلے بند وه -
عمل ۷:- چه تش بولو یا لویو بولو در باندِ زور راوستے وی نو دَ دے سره مونځ مه کوه - دَ دے ځان فارغ کړه او دس وکړه نو بیا مونځ کوه -
عمل ۸:- نفلونه او وظیفے دو مره شروع کوه چه پابندی ئے کولے شے -

باب ۳ د مرګ او مصیبت بیان

عمل ۱:- کله چې څوک ته مصیبت در ته پادشي نو إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ط لوله څومره ثواب چې درته اول ملاؤ شوے وُه دومره به اوس هم ملاؤ ویږی۔

عمل ۲:- د غم که څومره سپکه خبره هم وی خو إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ط لول ثواب دے۔

باب ۴ زکوٰة او خیرات بیان

عمل ۱:- زکوٰة څومره چې کیدے شی داسے خلقو له ورکوه چې سوال نه کوی او باعزته پسکور ناست وی

عمل ۲:- په خیرات کښې د لږښتی نه شرم مه کوه څومره چې طاقت وی ورکوه۔

عمل ۳:- داسے مه ګنړه چې زکوٰة م ورکړه اوس خیرات ته څهٔ حاجت دے د ضرورت په موقعو د طاقت مناسب خیرات کوه۔ (خیرات هم بعضے وخت واجب او بعضے وخت مستحب وی)

عمل ۴:- خپلو رشته دارو ته په ورکولو کښې دوچند ثواب دے یو د خیرات او بل د خپل ولئ۔

عمل ۵:- د غریبو کونډو یا نو خیال سا ته۔

عمل ۶:- د خاوند د مال نه دومره خیرات مه ورکوه چې هغه ئے بد اوګنړی۔

باب ۵ د روژے بیان

عمل ۱:- په روژه کښې عبث خبرے کول جنګ جګړے کول ډیره بده خبره ده او د چا غیبت کول خو په کښې ډیره لوے ګناه ده۔

عمل ۲:- نفل روژه هله نیسه چې د خاوند نه اجازت واخلے هله چې هغه کور وی۔

عمل ۳:- چې د رمضان آخیرنۍ لس ورځې پاتے شی نو بیا عبادت زیات کړه۔

باب ۶ د قرآن مجید د تلاوت بیان

عمل ۱:- کله د قرآن مجید تلاوت اوزده شے کولے نو قلاریږه تے مه لوله دوچند ثواب به درته رسی۔

عمل ۲:- که قرآن شریف دے اُودے نو بیائے هیره وه مه ډیره سخت ګناه ده هیره ول ئے۔

عمل ۳:- قرآن شریف خه په شوق سره او د خدائے نه په یرید وسره لوله۔

باب ۷ د دعا او د خدائے یادولو بیان

عمل ۱:- په دعا غوښتو کښې د دے خبرو خاص خیال ساته۔ په شوق او جړا یا په جړغونی صورت کښې دعا غواړه۔ د ګناه د یسے سوال مه کوه۔ که د څه سوال کوے او قبلیږی نه نو نا اُمیده کیږه مه سوال بریده مه د قبلید و امید ئے لره۔

عمل ۲:- د غصے په وخت کښې ځان او مال او اولاد ته خیرے مه کوه کیدے شی چې قبولے شی۔

عمل ۳:- کوم ځائے چې دنیا وی خبرو اترو ته ناست یئ هلته د خدائے ذکر او د رسول ۴ ذکر هم ضرور کوه ورنه دغه ټولے خبرے به درله وبال جوړے شی۔

عمل ۴:- استغفار ډیر لولئ په دے مشکلات اسانیږی او په رزق کښے برکت راځی۔
عمل ۵:- که د نفس په رضا درنه ګناه اوشی نو فوراً توبه اوباسه۔ او که بیا اوشی بیا هم ژر توبه اوباسه دا خیال مه کوه چه توبه ما ته ټټی نو بیا نه کیږی۔
عمل ۶:- بعض دعاګانے په خاص خاص وقت لوستے شی:- مثلاً۔
(۱) د اوده کیدو په وخت کښے لوله:- اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْیٰی (اے الله ستا په نوم مرم او ژوندے کیږم
(۲) چه د خوب نه بیدار شے نو لوله:- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ ط (شکر دے د هغه الله پاک چه پس د مرګ نه یې بیا ژوندی کړو او هغه ته بیا راغونډیدل دی)
(۳) د سحر په وخت کښے لوله:- اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ اَمْسَیْنَا وَبِكَ نَحْیٰ وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَیْكَ النُّشُوْرُ (یا الله ستا په قدرت سره موږ صبا کړو او ستا په قدرت سره موږ ماښام کړو ستا په قدرت سره ژوندی یو او ستا په قدرت سره به مرو او ستا طرفته به بیا راپاڅو) ماښام
(۴) چه خوراک او خوړے نو دا دعا لوله:- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ وَکَفَانَا وَاٰوَانَا (شکر دے د هغه الله پاک چه موږ له یې خوراک څکاک راکړه او موږ یې مسلمانان کړو او زموږ پوره والے او حفاظت یې کړے)
(۵) د سحر او ماښام د مانځه نه پس لوله:- اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِیْ مِنَ النَّارِ اووه ځله (اے الله ما د اور نه اوساتے) او بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ط درے ځله لوله (د الله په نوم سره شروع کوم چه د هغه د نوم سره په زمکه او اسمان کښے څه شے ضرر نه شی رسولے او هغه اوری او پوهه دے)
(۶) چه سواری ته خیژے نو لوله:- سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا کُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ وَاِنَّا اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ط (پاکی ده هغه ذات لره چه زموږ په قبضه کښے یې کړه دا او موږ دا نه شو قابو کولے او موږ خپل رب ته واپس کیدونکی یو)۔
(۷) د چا کره چه خوراک او خوړے نو دا دعا لوله:- اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِیْمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ (اے الله برکت واچوے دوی ته په هغه څه کښے چه تا ورله ورکړے دے او اوبخښه دوی لره او رحم پرے اوکړه)
(۸) چه میاشت اووینے نو دا دعا لوله:- اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَیْنَا بِالْاَمْنِ وَالْاِیْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ رَبِّیْ وَرَبُّكَ اللّٰهُ (اے الله دا میاشت په موږ په برکت او ایمان او خیریت او اسلام سره ښکاره کړے (اے میاشتے) رب زما او رب ستا الله دے)
(۹) چه څوک په مصیبت کښے اووینے نو دا دعا لوله:- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِیْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِیْ عَلٰی کَثِیْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِیْلًا ط (شکر دے د هغه الله پاک چه څه یې بچ کړم د دے مصیبت نه چه ته یې په کښے مبتلا کړے یې او فضیلت یې راکړه ما لره په ډیر مخلوق

فضيلت بنکاره) - ليکن پته ئے وايه چه هغه ئے واله وري -

(۱۰) چه څوک رخصتوي نو دا دُعا لولي :- اَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَكُمْ وَاَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِمَ اَعْمَالِكُمْ (الله پاک ته سپارم ستاسو دين او ستا قابلِ حفاظت څيز ونه او ستا انجام د عملونو)

(۱۱) د نکاح مبارکي چه ورکوي نو دا دعا لولي :- بَارَكَ اللّٰهُ لَكُمَا وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ (الله پاک دې تاسو دواړو له برکت درکړي او پتاسو دې برکت نازل کړي او جمع والے دې را ولي په تاسو دواړو کښے)

(۱۲) چه څه مصيبت دربانديٰ راشي نو دا دُعا لولي :- يَاحَيُّ يَاقَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ (اے خدايه ته ژوندے او قائم ئے ستا په رحمت سره فرياد کوم) -

(۱۳) د پنځو وختونو پس او د او ده کيدو په وخت کښے دا لولي :- اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ (زهٔ د الله پاک نه معافي غواړم نشته بل معبود سوا د ده نه ژوندے او قائم دے او ده طرف ته رجوع کوم) او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. يو واړے (نشته بل معبود سوا د الله پاک نه هغه يو دے د هغه څوک شريک نشته ټول حکومت د هغه دے هغه لره ثنا ده او هغه په هر څه قادر دے) او سُبْحَانَ اللّٰهِ ۳۳ پيرے اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۳۳ پيرے او اَللّٰهُ اَكْبَرُ ۳۴ پيرے - او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ يو يو وار او اٰيَةَ الْكُرْسِي يو وار - او د سحر په وخت کښے سورة يٰسٓ يو وار او د ماښام نه پس سورة واقعه يو وار او د ماسختن نه پس تَبَارَكَ الَّذِيْ يو وار او د جمعے په ورځ سورة کهف يو ځيرهٔ لولي او د او ده کيدو په وخت کښے اٰمَنَ الرَّسُوْلُ هم د اخره پورے لولي - او د قراٰن شريف تلاوت روزانه کوه څو مره چه درنه کيدے شي - او دا يا دساته چه د دے څيزونو لوستل ثواب دے او که نه لولے نو څه گناه نشته -

باب - دَقسم خوړلو بيان

عمل ۱ :- د الله تعالیٰ نه سوا په بل څه باندې قسم مه خوره لکه پنځپل پلار ، پنځپل بچي ، پنځپل صحت پنځپلو سترګو د داسے قسم خوړل ګناه دے او که په هيڅ او شي نو فوراً کلمه وايه -

عمل ۲ :- داسے قسم چرته مه خوره چه که زهٔ دروغجن يم نو بے ايمانه به يم او که په رشتيا وي - يعنې که په رشتيا خبره وي نو هم داسے قسم مه خوره -

عمل ۳ :- که په غصه کښے چرته داسے قسم او خورے چه پوره کول ئے ګناه وي نو فوراً ئے مات ته وه او کفاره ئے ورکوه (د قسم کفاره په دريمه حصه کښے او ګوره) لکه داسے قسم اولخورے چه د مور و پلار سره به خبره او نه کړم يا په بل داسے قسم او خورے -

باب - معاملے بنے کول د اغستو ورکولو بيان

معامله ۱ :- که د يو پيسو د و مره حرص مه کوه چه

د حلال او حرام تمیز پاتې نه شي. او کوم حلال مال چه الله پاک درکړے دے هغه عبث مه الوزه وه په اندازه خرچ کوه. د ضرورت خیال ساته کوم ځائے چه ضرورت وي هلته ئې لږه وه.

معامله ۲:- که څوک د ضرورت او مصیبت په وجه څه شے خرڅوي نو د هغه د ضرورت نا جائزه فائده مه اخله او قیمت ورله د څیز مه کوه یا ورسره امداد کوه یا تې هغه شے په پوره قیمت اخله.

معامله ۳:- که ستا قرضدار اړے غریب وي نو پریشانه کوه ئې مه یا مهلت ورکوه یا ورته معاف کړه.

معامله ۴:- که ستا د چا قرضه وي او هغه ئې غواړي او ستا سره وي نو نه ورکول ئې ظلم دے.

معامله ۵:- ترڅو پورې چه کیدے شي د چا نه قرض مه اخله او که په چیره مجبورئ کښې واخلې نو د اداکولو خیال ئې ساته بے پروا کیږه ته مه. او چه د چا د باندے قرضه وي او هغه درته غټه اووائي نو الټه جواب مه ورکوه چه ناراضه نه شي.

معامله ۶:- په څند اکښې د چا نه څه شے پټول چه د پریشانه شي چیره بده خبره ده.

معامله ۷:- په مزدور چه کار اوکړے نو په مزدوري ورکولو کښې کوتاهي مه کوه.

معامله ۸: د قحط په ورځو کښې خلق خپل یا پردي بچي خرڅوي د دوی غلامان جوړول حرام دي.

معامله ۹:- که ده پخلي د پاره دے چالاو ورکړه یا دے لږه مالګه ورکړه نو دومره ثواب دے لکه چه دغه ټول خوراک تا دوی ته ورکړه.

معامله ۱۰:- او به چالاو ورکول چیره ثواب دے. کوم ځائے چه اوبه چیرے ملاویږي هلته د اوبه ورکولو دومره ثواب دے لکه غلام چه آزاد کړي. او کوم ځائے چه اوبه نه ملاویږي هلته دومره ثواب دے لکه مړے چه ژوندے کړي.

معامله ۱۱:- که ستا په ذمه د چا څه وي چه ورکول غواړې یا درسره امانت وي د چا نو د درې څلورو تنو په مخکښې ئې ذکر اوکړه یا ئې اولیکه شاید چه که مرګ درله راشي نو چه په ذمه دے د چا څه پاتے نه شي.

باب ۱۰

د نکاح بیان

معامله ۱:- د خپل اولاد په نکاح کښې زیات خیال د دیندارئ کورنۍ ساته. مال دولت ته زیات خیال مه کوه. نن صبا چیر داسې دولت مند او مغربي تهذیب والې دي چه د کفر خبرے کوي د داسې سړي سره نکاح نه کیږي او ټول عمر د بدکارئ ګناه کیږي.

معامله ۲:- اکثر د ښځو عادت وي چه د پردو ښځو خبرے د خپل خاوند په مخکښې کوي او شکل او صورت ئې ورته بیانوي دا چیره ناکاره خبره ده داسې کول څه نه دي.

معامله ۳:- که یو ځائے کښې چا د نکاح پیغام لیږلے وي نو داسې ځائے کښې ته د خپل اولاد د پاره پیغام مه لیږه ترڅو پورې چه هغوي یو بل له جواب ورنه کړي.

معامله ۴:- د ښځے خاوند د خپلو تنهائۍ د خبرو اترو ذکر د خپلو دوستانو او سهیلو سره کول د خدائے په نزد ډیر ناکاره دي. اکثر ښځه خاوند د دے پروا نه کوي.

معامله۵:- که د نکاح په معامله کښې ستاسره څوک صلاح مشوره کوي نو د عیب ښکاره کول جائز دي.. که خرابي یا بد والے کښې وي او دا معلوم وي نو ښکاره کول به یې د غیبت حرام نه دے. البته بې وجې د چا بد والے مه وایه - مشوره او صلاح ټهیک ورکوه -
معامله۶:- که خاوند مالدار وي او ښځې له د ضرورت مطابق خرچه نه ورکوي نو ښځه تې پټ اخستل شي- لیکن د فضول خرچې یا د دنیا د رسمونو پوره کولو د پاره ترې پټول جائز نه دي -

باب۲: چالاکۍ د تکلیف ورکولو بیان

معامله۱:- څوک چې پوره ډاکټر یا حکیم نه وي او ځان چالاک داسې دارو ورکوي چې د نقصان یره پکښې وي نو دا جائز نه دي که ورئې کړه نو ګناه کار دے -
معامله۲:- په تیره شي لکه چاړه چاقو وغیره یا په ټوپک نما چې څوک یره ول که په ټوقو کښې هم منع دي شاید چې نقصان تے او شي -
معامله۳:- بېرته چاقو چاله په لاس کښې مه ورکوه یا ئې بند ورکړه یا ئې کیده نو هغه به ئې نیغه او چت کړي -
معامله۴:- سپي پیشو وغیره جانداره شے داسې بند سا تل چې د لوږې تندې نه کوي ایچې ګناه دے -
معامله۵:- یو ګناه کار ته ملامتے ویل بده خبره ده البته په طور د نصیحت خیر دے -
معامله۶:- بې وجه چا ته بد بد کتل چې هغه او یریږي جائز نه دي - نو په خندا کښې یو سړے ناڅاپه یره ول ضرور بده خبره ده -
معامله۷:- که جانداره ذبح کوې نو چاړه خه تیره کړه بې وجه تکلیف مه ورکوه -
معامله۸:- چې سفر کوې نو څاروي له تکلیف مه ورکوه مه پې بار درنه وه او مه ورمنډې ورکوه او چې ځائے ته اورسې نو اول د څاروي د خوراک او د اوبو غور کوه -

باب۳: بنه عادتونه د خوراک سکاک بیان

ادب۱:- په بسم الله سره خوراک شروع کوه او په ښي لاس خوره او د ګیڼلے مخ نه خوره البته که په دے لوښي کښې ډیر قسم څیزونه وي لکه درے خلور قسمه میوې یا میټا یانے نو بیا چې دے کوم قسم زړه غواړي نو د هر ځائے نه ئې اوچتوه -
ادب۲:- کوتے څټه او که په لوښي کښې سالن ختم شي نو هغه هم صفا کوه -
ادب۳:- که نمرئے دے د لاس نه ارتاوه شي نو را اوچته ئې کړه او صفائے کړه او ئې خوره - (لیکن که په داسې ځائے کښې ارتاوه شي چې زړه ئې بیا خوړل نه غواړي نو خیر دے)
ادب۴:- که د خرما یو نے په یو کړے وي یا د انګور وغیره دانے وي یا د میټائي ټوکړے وي نو یو یوه او چتوه دوه دوه دے په یو ځائے مه اوچتوه -
ادب۵:- که څه بوئي لاک شے او خورے لکه کچه پیاز اوګه وغیره نو خوله صفا کړه حله په مجلس کښې کینه - چې بوئي دے د خولے نه نه خیژي -

ادب ۶:- د روزانه خرچ د پاره ورځ وریځے په میچ راخله بے حسابه کار مه کوه۔
ادب ۷:- چه خوراک سکاک او کړے نو د الله تعالیٰ شکر ادا کړه۔
ادب ۸:- د خوراک نه اول او وروستو لاس او خوله وینځه۔
ادب ۹:- ډیر ګرم شے مه خوره (البته که سوړ بیا بے مزے کیده نو خیر دے خوره)
ادب ۱۰:- د میلمه خاطرداري کوه۔ او چه ته میلمه شے نو دومره مه پاتے کیږه چه بوجه شے۔
ادب ۱۱:- په جمع یو ځائے خوراک کښے برکت وی۔
ادب ۱۲:- چه خوراک او خورے نو د پاسیدو نه اول دسترخوان او چتوه اول ته پاسیدل د خوراک بے ادبی ده۔ او د ملګری نه چه مخ کښے مو ښے نو هم ته مه پاڅه لګ لګ خوره چه هغه د شرم نه او ګے پا نه شی۔ او که په څه ضرورت سره پاڅے نو عذر ورته کوه۔
ادب ۱۳:- میلمه تو دروازے پورے بوتلل سنت دی۔
ادب ۱۴:- اوبه په یوه ساه مه سکه په دریے اینډ وتے سکه او د ساه اخستو په وخت کښے لوښے د خولے نه بیرته کوه۔ او بسم الله وایه۔ او چه او سکے نو الحمد لله وایه۔
ادب ۱۵:- د کوم لوښی نه چه اوبه پیتے راځی او پته ئے نه لږی چه چینجے وغیره څه به پکښے وی او که نه نو په داسے لوښی خوله مه لږه وه چه اوبه سکے۔ بنکاره لوښی نه سکه۔
ادب ۱۶:- بے ضرورته په ولاړه اوبه مه سکه۔
ادب ۱۷:- چه اوبه او سکے او نورو له ئے ورکوے نو ښی طرف والا له ئے اول ورکوه۔ دغه شان که څه سے تقسیمه وے نو هم ئے اول ښی طرف والا له ورکوه۔
ادب ۱۸:- د کوم طرفه چه لوښے مات وی د هغے طرفه اوبه مه سکه۔
ادب ۱۹:- د ماښام وایه باهر ته مه پریده او د شپے بسم الله وایه دروازے بنده وه او بسم الله وایه لوښی پټوه۔ او ډیوه د اوده کید و په وخت کښے مړه کوه او د نغری اور مړ کوه۔ یا ئے پټوه۔
ادب ۲۰:- د خوراک شے چه چالا لیږے نو پټوه ئے۔ بنکاره مه لیږه۔

باب ۳ د اغوستلو بیان

ادب ۱:- په یو پیڅ ارکښے مه ګرځه برستن وغیره داسے مه اغونده چه په لاس را ویستلو کښے تے تکلیف وی۔
ادب ۲:- کپړه چه اغوندے نو د ښی طرفه شروع کوه مثلاً ښئ یا ټخته ښئ لستو نړے ښئ پیڅ ار اول پخپو کوه او او باسه ئے د کینړ طرفه۔
ادب ۳:- چه کپړه واغوندے نو دا دعا لوله ګناه به دے معاف شی۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ (شکر دے د الله تعالیٰ چا چه مونږ ته دا کپړه واغوستوله او بے د څه محنت او مشقت نه ئے را کړه)

ادب ۴:- داسے کپړے مه اغوندہ چه بے پردگی وی پیدا کیږی۔
ادب ۵:- مالدارے بنځے چه قیمتی کپړے او کالی اغوندی د هغو سره مه کینه د دنیا حرص پے سوا کیږی۔
ادب ۶:- کنډلے جامے ذلت مه گنړه۔
ادب ۷:- مه ډیرے د تکلیف جامے اغونده او مه ډیرے کمزورے بلکه درمیانه کپړے اغونده او د صفائی خیال ډیر ساته۔
ادب ۸:- ویښته غوړه وه منګز کوه لیکن هر وخت په دے شغل کښے مه اوسه او نکریزه په لاسو لوره او رکوس او له نکریزه لبره ول په لاسو او خپو بغیر عذره منع دی)
ادب ۹:- رانجه دړے دړے سلایان په دواړو سترګو کښے پورے کوه۔ د کور صفائی کوه۔

باب ۱۴

د بیماری او علاج بیان

ادب ۱:- بیمار له په زور خوراک سکاک مه ورکوه۔
ادب ۲:- په بیماری کښے بے فامی (بد پرهیزی) مه کوه۔
ادب ۳:- د شریعت نه خلاف تعویذونه بندونه تو ټکے هرګز مه کوه۔
ادب ۴:- که چا ته بد نظر او لږی نو چه په چا شک وی چه د ده نظر ورته لګیدلے دے نو هغه دے دواړه لاسونه ترڅنګلو او دواړه خپے او دواړه زنګونان او د استنجی ځائے او وینځی او به دے جمع کړی او د هغه سړی په سر دے واچوی چه نظر شوے دے انشاء الله تعالیٰ جوړ به شی۔ (رد لته داخبره یاده ساتل پکار دی چه خامخا په چا شک کول نه دی پکار البته که په یقین سره معلومه وی نو بیا هم که او به ورکول بد ګنړی نو شه دے وائی ورته او که بد ئے نه ګنړلی نو بیا دے ورته د اوبو او وائی۔ دا حکم د شک کونکی د پاره دے او پاتے شه هغه سړے یا ښځه چه په هغه شک وی هغه له پکار دی چه که چا د داسے او بو ضرورت وی نو انکار دے نه کوی بلکه فوراً دے ورکوی په حدیث کښے دی چه د چا نه د دے کار خواست اوشی نو انکار دے نه کوی او خپل مذکوره اندامو نه دے او وینځی او به دے ورکړی۔ د ده ته څه نقصان په نه رسی او بل ته فائده وه)۔
ادب ۵:- د کومو بیمارو نه چه خلق نفرت کوی لکه خارخ یا نور داسے مرضونه نو داسے بیمار له پکار دی چه د خلقو نه ځان له اوسی چه چا ته تکلیف نه وی۔

د خواب لیدلو بیان

ادب ۱:- که ډیرے خواب او وینے نو کیڼ طرفته دړے پیرے توکه او دړے پیرے
اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط او لوله او د دے بدله کړه او چا ته ئے ذکر مه کوه انشاء الله تعالیٰ څه نقصان به درته او نه رسی۔
ادب ۲:- که خواب ویل غواړے نو داسے چا ته ئے وایه چه هوښیار او ستا خیر خواه وی

چه ناکاره تعبیر ئے اوښه باسی۔
ادب۳:۔ دَدروغو خواب جوړه ولو کښے لوئے گناه دے۔

دَ سلام کولو بیان

ادب۱:۔ دَ یو بل سره په ملاوید وکښے سلام کوئے داسے چه "السّلام علیکم" او جواب کښے داسے ورکوئے چه "وعلیکم السّلام"۔ دَسلام نه بغیر نورے ټولے طریقے عبث دی۔
ادب۲:۔ څوک چه اول سلام اوکړی هغه ته ډیر ثواب ملاویږی۔
ادب۳:۔ څوک چه دَبل سلام راوړی هغه ته داسے جواب ورکوه "علیهم وعلیکم السلام۔
ادب۴:۔ که دَډیر وخلقونه یو تن سلام اوکړه نو دَ ټولو دَطرفه اوشه۔ دغه شان که دَ محفل نه یو تن دَسلام جواب ورکړی نو دَ ټولو دَطرفه اداشی۔ دَلاس په اشاره سره دَ سلام کولو په وخت کښے ځکته کیدل منع دی۔ که یوسړے لرے وی او ته هغه ته سلام کوے یا هغه تا ته سلام کوی نو بیا دَلاس اشاره جائز ده۔ لیکن په ژبه هم دَسلام الفاظ ویل پکاردی۔ دَمسلمانانو بچی کوم چه په انگریزی سکولونو کښے سبق وائی دوی له هم پکاردی چه په انگریزی یا هند وانی طریقه سلام نه کوی بلکه خپلو استاذانو ته دے په اسلامی طریقه سلام کوی۔ که استاد کافر وی نو هغه ته دے صرف سَلَامٌ یا اَلسَّلَامُ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی وائی۔ ټولو مسلمانانو ته داحکم دے چه کافرو ته دے دغه شان سلام کوی۔ ۱۳ دی

باب۱۷ دَکیناستو څملاستو اوگرځیدو بیان

ادب۱:۔ اُلټه مه څمله۔
ادب۲:۔ په شان شوکت او غرور تکبر سره مه گرځه۔
ادب۳:۔ په داسے ځت مه گرځه چه څوک آمدورفته نه وی را او په دغه ے تے۔
ادب۴:۔ څه په سوری او څه په غرمه مه څمله اومه کیته۔
ادب۵:۔ دَسړک په غاړه غاړه ځه دَلارے او سړک په مینځ کښه تلل ښځے له بے شرمی ده۔

باب۱۸ په جمع دَ کیناستو بیان

ادب۱:۔ یوسړے پاڅه ول او وچله په هغه ځائے کیناستل نه دی پکار۔
ادب۲:۔ دَمحفل نه چه یوتن پاسی او بیا راځی نو بل له ئے په هغه ځائے کیناستل منع دی۔
ادب۳:۔ چه دوه تنه په محفل کښے یو ځائے ناست وی نو ته ئے په مینځ کښے مه کینه البته که هغوی دے کینوی نو بیا خیر دے۔
ادب۴:۔ څوک چه ستا دَملاقات دَپاره راشی نو ته ورته لږ دَخپل ځائے نه خوزه چه دَهغه قدر دے۔
ادب۵:۔ په محفل کښے دَسردارانو په شان مه کینه کوم ځائے چه ځائے وی هلته دَغریبانو شان کینه۔
ادب۶:۔ چه پرنجے درشی نو بیا خوله لاس یا کپړه کیده او په کم آواز پرنجی کوه۔
ادب۷:۔ اُسویلے چه ترڅو پورے کیدے بنده وه ورنه پکو له لاس کده۔

ادب ۸:- ډیر په زوره مه خانده -

ادب ۹:- په محفل کښې په تربوتندی پرسید لوانګومه کینه - په عاجزئ سره کینه - چه د خبرې موقع درله راشي نو خبره کوه - البته د ګناه خبره مه کوه -

ادب ۱۰:- په محفل کښې په غږ یدلو خپو مه کینه -

د ژبې ساتلو بیان

ادب ۱:- بې سوچه خبره مه کوه اول خبرې ته ښه سوچ کوه بیائې کوه -

ادب ۲:- چاته بې ایمانه ویل یا چاته داسې ویل چه ګلانې دې خدائې او وهي یا دې په خدائې غضب او لعنت اوکړي یا دوزخي دې شي که بني آدم وي او که ځناروې وي ټول ګناه ده - که په هغه کښې ئې ځائې نه وي نو دا ټولې خبرې ویونکي ته واپس کیږي -

ادب ۳:- که څوک درته بده خبره اوکړي نو په برابر ورته ته ویلې شې که لږ زیاتې دې اوکړه ګناه ګار به شې -

ادب ۴:- مخامخ دورنګه خبره مه کوه چه یوته یو شان او بل ته بل شان وي -

ادب ۵:- چُغلي چرته مه کوه او مه د چا چغلي اوره -

ادب ۶:- دروغ چرته مه وایه -

ادب ۷:- خوشامندې هم مه کوه او پس شا هم د چا ډیر تعریف مه کوه -

ادب ۸:- د چا غیبت چرته مه بیانه وه او غیبت دا دې چه پسې شا داسې خبره د چا اوکړې چه مخامخ پې هغه خفه کیږي اګر که هغه خبره رښتیا وي - او که هغه خبره دروغ وي نو بیا خو هغه بهتان دې په دې کښې خولا ډیر زیات ګناه دې -

ادب ۹:- په چا خپله خبره اوچته وه مه - او بحثونه مه کوه -

ادب ۱۰:- ډیره خندا مه کوه په دې د زړه او مخ رونق ورانیږي -

ادب ۱۱:- د چا چه دې غیبت کړې دې که د هغه نه معافي نه شې غوښتې نو د بخانې دعا ورته کوه - امید دې چه په قیامت به دې معاف کړي -

ادب ۱۲:- د دروغو وعده چرته مه کوه -

ادب ۱۳:- داسې خندا چرته مه کوه چه د بل په کښې ذلت وي -

ادب ۱۴:- په خپل څه څیز یا یو هنر باندې بړائي مه کوه او مه پې فخر کوه -

ادب ۱۵:- د شعرونو اشعارو سره شغل مه ساته - البته که د شرع نه خلاف نه وي او په درواوز سره کله کله د دعا یا نصیحت شعرونو شغل د لوستو کوې نو خیر دې -

ادب ۱۶:- او ریدلې خبره چرته مه کوه ځکه چه اکثر داسې خبرې دروغ وي -

باب ۲۳

د متفرقو خبرو بیان

ادب ۱:- زمانې ته بد مه وایه -

ادب ۲:- خبرې ډیرې په شخوند مه کوه

او مه خبره چیره اوګده وه او مبالغه په کښې هم مه کوه - په قدر د ضرورت خبرې کوه -

ادب ۳ :- د چا سندرې ته غوږ مه کده -

ادب ۴ :- د چا د ناکاره شکل یا ناکاره خبرې پېغور مه کوه -

ادب ۵ :- د چا عیب چه او وینې نو پټه وه ئې - ښکاره کوه ئې مه - (البته که خلقو ته نقصان وی نو بیائې ښکاره کول ثواب دې) -

ادب ۶ :- کوم کار چه کوې نو فکر په کښې کوه او انجام ته ئې ګوره - په جلدئ کښې اکثر کار خرابیږی -

ادب ۷ :- شرک چه دوی صلاح اخلی نو داسې مشوره ورکوه چه غوره ئې ګڼړې -

ادب ۸ :- ترڅو پورې چه کیدې شی غصّه بنده وه

ادب ۹ :- د خپلو خبرو د خلقو نه معافی غواړه ورنه په قیامت کښې به تاوانی راشی -

ادب ۱۰ :- نورو خلقو ته هم نیکه خبره ښایه د بد وشه ئې منع کوه - البته که بالکل ئې نه قبلوی - یا تې د ضرر یره وی نو خاموشی جائزده - لیکن په زړه سره به بده خبره بده ګڼړې او بغیر د ډیرې ناچارئ نه د داسې سړی سره مه ملا دیږه -

باب ۲۱ د زړه ښائسته کول د زیات خوراک بد والې او علاج ئې

ډیر ګناه د کیدې په پاللو سره کیږی - په دې کښې د ډیرو خبرو خیال ساته - د مزیدار خوراک پابندی مه کوه - د حرام رزق نه ځان ساته - ډیر ځان مه مړه وه بلکه د درې خلورو نمړو ځائے پریده - په دې کښې ډیرې فائدې دی - یو زړه صفا وی چه د خدائے تعالیٰ نعمتونه پے پیژندے شی - او د الله تعالیٰ محبت په زړه کښې پیدا کیږی - او په زړه کښې نرمی او رقت پیدا کیږی چه په دې سره په دُعا او ذکر کښې خوند حاصلیږی - او په نفس کښې سرکشی او بیهائی نه راځی - او په دې سره نفس ته تکلیف رسی او د الله تعالیٰ عذاب پے یادیږی او نفس د ګناهونو نه بچ کیږی - او بل په دې سره د ګناه رغبت کمیږی - او بل طبیعت بانې بوجه نه راځی - او خوب پے کمیږی په تهجّد او نورو عباداتو نو کښې ته سُستی نه راځی - او بل په اوګو او په عاجزانو رحم راځی - او رحمدلی پے پیدا کیږی -

باب ۲۲ د زیاتو خبرو بد والې او د هغې علاج

نفس په زیاتو خبرو هم خوشحالیږی او په دې وجه په سوونو ګناهونو کښې بندیوان کیږی - دروغ، غیبت، بدې ردې ویل، خپله لوئی په خلقو ثابتول - خامخا د چا سره بحث مباحثه کول - د امیرانو خوشامندې کول - داسې خندا کانې کول چه د بل زړه پے آزار شی - د دې علاوه نور آفتونو نه هله خلاصیدې شی چه ژبه بنده

کړي- او د ژبې بنده ولو طريقه داده - چه کومه خبره د خولې نه ويستل وي په زړه کښې د را تلو سره دې د خولې نه نه اوباسي- بلکه اول ورته فکر پکار دې چه په دې خبره کښې هو څه ګناه نشته او که شته- يا په کښې نه ګناه شته او نه ثواب- نو که هغه خبره داسې وي چه لږه ډېره ګناه په کښې وي نو بالکل ئې ويل نه دي پکار- او که زړه ورته د ويلو خواهش کوي نو داسې ورته وايه چه د دې وخت د دې خبرې کولو د مزې نه د اٰخرت عذاب ډېر ګران دے- او که نه په کښې ګناه وي او نه ثواب نو بيا ئې هم ويل مناسب نه دي او که د ثواب وي نو وايه ئې- په هره خبره کښې داسې سوچ کوه نو په لږ ورځو کښې به د بدو خبرو د ويلو نه دې نفرت پيدا شي- او د ژبې بند ساتلو د دا تدبير هم دے چه بې ضرورته د چا سره مه ملاوېږه - نو ځپله به دې ژبه بنده وي-

باب ۲۳ غصې بد والے او د هغې علاج

په غصه کښې عقل په ځائے نه وي او د انجام سوچ نه وي نو په دې وجه د ژبې نه بې ځايه خبرې اوځي- او د لاسونه هم زياتې کيږي- نو په دې وجه د غصې بندول ډېر ضروري دي- او د دې د بنده ولو طريقه داده - چه د ټولو نه اول داسې اوکړه چه چا ته غصه شوې ئې هغه اول د مخې نه لرې کړه او که يا ځپله د هغه ځائے نه ځنګړ شه بيا داسوچ اوکړه چه څومره دا سړې ځما قصور دار دے د دې نه زيات زه د خدائے قصور دار يم- او څنګه چه زه غواړم چه خدائے دې ځما قصور معاف کړي د غسې ما له هم پکار دي چه زه د ده قصور معاف کړم او په ژبه اعوذ بالله څو ځلې اووايه او اوبه اوڅکه يا اودس اوکړه غصه به دې ختمه شي او بيا په قلاره که په هغه قصور باندې سزا ورکول مناسب وي مثلاً په سزا ورکولو کښې د هغه فائده وي مثلاً خپل اولاد دے او سمول ئې ضروري وي- يا د هغه له په سزا ورکولو کښې د بل فائده وي مثلاً په چا ئې ظلم کړے وي او اوس د مظلوم مدد کول ضروري دي - نو سزا ورله ضرور ورکول پکار دي- نو اول ځان څه پوهه کړه چه په دومره ګناه څومره سزا پکار ده نو د شريعت مطابق سزا ورله ورکړه- او يو څو ورځې دغه شان په غصه بنده ولو سره به دې ځپله په غصه قابو راشي- او کينه هم د غصې نه پيدا کيږي چه د غصې اصلاح اوشي کينه به هم د زړه نه اوځي-

باب ۲۴ د حسد بد والے او د هغې علاج

څوک چه موړ او يا په عزت ترقۍ سره ليدل او په زړه کښې په سوزيدل او غم کول او د هغه په زوال خوشحاليدل د ته حسد وائي دا ډېر ناکاره شے دے په دې کښې ګناه هم دے او داسې سړي ژوند ډېر تريخ تيريږي غرض دا داسې سړي دنيا او دين څکه بې خونده وي چه په بل سوزي دنيا ئې هم خرابه شي او ګناه ئې هم اوشي- نو د دې آفت نه د تو ډېر

کوشش پکار دے۔ او علاج ئے دادے چه اول دے دا سوچ اوکړي چه ځما په حسد سره نه نقصان او تکليف ما ته دے هغه ته خو هيڅ نقصان نشته۔ او ځما نقصان دادے چه نيکۍ مې به باديږي ځکه په حديث کښے دي چه حسد نيکۍ داسے خوري لکه اور چه خشاک خوري۔ او وجه ئے داده چه حسد کونکے ګويا په الله تعالیٰ اعتراض کوي چه فلانے دَ دے نعمت لائق نه وه تا ورله دا نعمت وَلے ورکړه نو توبه توبه دَ الله تعالیٰ مقابله کوي نو دا څومره لويه ګناه ده ۔ او دنيا وي تکليف ئے دادے چه حسد کونکے هميشه په رنځ او غم کښے وي او په چا چه حسد کوي دَ هغه څه نقصان نه وي۔ بلکه دَ هغه دا نفع ده چه دَ دے حسد کونکي نيکۍ هغه ته جمع کيږي۔ نو چه دا خبرے په سوچ کښے راولے نو بچيل زړه زورا وکړه او په چا چه حسد کوے دَ خلقو په مخکښے دَ هغه صفت کوه او داسے وايه چه دَ الله پاک شکر دے چه دهٔ له ئے داسے نعمتونه ورکړي دي خدائے دے ورله دوچند کړي۔ او چه دَ هغه سره چرته ملاو شے نو تعظيم ئے کوه او په عاجزۍ ئے ورسره ملاويږه۔ اول اول به دے نفس ته ډيره ګرانه وي خو روروبه آسان راشي او حسد به دے دَ زړه نه اوځي۔

باب ۲۵ دَ دنيا او دَ مال دَ محبت بد والے او دَ هغے علاج

دَ مال محبت داسے ناکاره شے دے چه کله دا په زړه کښے راشي نو دَ الله تعالیٰ ياد او محبت دَ زړه نه اوځي۔ ځکه چه دَ داسے سړي هميشه دا فکر وي چه مال به څنګه راځي او څنګ به جمع کيږي۔ دومره کالي پکار دي۔ داسے ئے سامان پکار دے دومره لوښي لوګي پکار دي چه دا دومره شي۔ داسے کور جوړه ول پکار دي۔ باغ لږه ول پکار دي جائيداد اغستل پکار دي۔ چه شپه او ورځ ئے دا خيالونه وي نو خدائے پاک به کله ياد کړي۔ يو ناکار والے په دے کښے دادے چه کله په زړه کښے دا محبت ځائے اونيسي نو په مرګ سره خدائے پاک ته تله ورته بد معلوميږي ځکه چه دا ټول عيش تے پاتے کيږي او کله ورته دَ مرګ په وخت کښے دنيا پاتے کيدل بد معلوميږي او کله چه ورته معلومه شي چه الله تعالیٰ دے اوس دَ دنيا نه اوچت کړے دے نو توبه توبه کا الله تعالیٰ سره ئے دشمن جوړه شي او خاتمه ئے په کفر اوشي۔ يو بد والے په کښے دادے چه کله سړي ته دَ دُنيا په غونډه ولو پسے ورپيے شي نو بيا دے دَ حلال و حرام خيال پريدي نه دَ خپل حق او نه دَ پردي حق خيال کوي او نه دَ دروغو او رشتيا و پرواه کوي او نه دَ دهوکے پرواه ساتي بس دا خيال ئے وي چه دَ هر طرفه چه وي خو چه مال راشي۔ په دے وجه په حديث کښے راغلي دي چه دَ دنيا محبت دَ ټولو ګناهونو جرړه دے ۔ نو چه دا داسے ناکاره شے دے نو هر مسلمان له پکار دي چه دَ دے بلا نه ځان اوساتي او دَ دنيا محبت دَ زړه نه باهر

کړی. نو دَ دے یو علاج دا دے چه مرګ ډیر یادوی او هر وخت دا سوچ کوی چه دا ټول سامان به یوه ورځ پاتے کیږی نو په دے پورے زړه تړه ول څه فائده ده- بلکه څومره چه پورے زیات زړه اولګی دومره به کړاتے کیګ وبه وخت کښے افسوس وی- دویم دا چه دَ ډیرو خلقو سره دے تعلق نه پیدا کوی او دَ ضرورت نه زیات سامان مکان جائداد دے نه جمع کوی کاروبار او تجارت دے ډیر نه فراخه کوی دَ ضرورت نه زیات سامان مختص کړی- دریم چه فضول خرچی نه کوی- ځکه چه په فضول خرچی سره دَ آمدنی زیاتوالو حرص پیدا کیږی او دَ دے حرص نه ټولے خرابئ پیدا کیږی څلورم چه عادت دَ ساده خوراک او ساده جامے جوړه کړی- پنځم چه دَ غریبانو سره زیات ناسته پاسته کوی- دَ امیرانو سره ډیر کم ملاویږی ځکه چه دَ امیرانو سره په دے ملاویدو دَ حرص هوس پیدا کیږی- شپږم چه کوم بزرګانو دنیا پریخودے ده دَ هغوی قصے اُوری- اوم چه دَ کوم شی سره ئے زیاته مینه وی هغه خیرات کړی یائے خرڅ کړی- انشاء الله تعالیٰ په دے کارونو سره به ئے دَ دنیا محبت دَ زړه نه اووزی او دَ دُنیا جمع کولو کومے لوئے لوئے منصوبے چه ئے وی هغه به ئے دفع شی-

باب ۲۳ دَ کنجوسئ بد والے او دَ هغے علاج

ډیر حقونه چه اداکول ئے فرض او واجب دی لکه زکوٰة قربانی دَ محتاج مدد کول دَ خپلو خپلوانو رشته دارو سره سلوک کول په کنجوسئ کښے دا حق نه ادا کیږی نو ګناه کیږی او دَ دین نقصان دے- او کنجوس سړے دَ هر چا په نظر کښے ذلیل او بے قدره وی دا دَ دُنیا نقصان دے نو دَ دینه زیات به څه بد والے وی- علاج ئے یو دا دے چه دَ مال او دُنیا محبت دَ زړه نه اوباسی- نو کله چه دَ دے محبت په زړه کښے نه وی. کنجوسی بیا په هیڅ شان نه شی کیدے- دویم علاج ئے دا دے چه کوم شے دَ خپل ضرورت نه زیات وی هغه دے چالره ورکړی اګرچه نفس ته تکلیف وی خو همت دے اوکړی او دا تکلیف دے برداشت کړی- تر هغے چه دَ کنجوسئ اثر ئے بالکل دَ زړه نه اوځی دا عمل دے کوی-

باب ۲۴ دَ نوم او تعریف غوختو بد والے او علاج ئے

کله چه دَ سړی په زړه کښے دَ دے خواهش وی نو دَ بل سړی په نوم او تعریف سره سوزی او حسد کوی- او دَ دے بد والے بره بیان شو یدے- او دَ بل سړی بدی او ذلت چه آوری خوشحالیږی دا هم ډیره دَ ګناه خبره ده- چه بنده دَ بل بد غواړی- او په دے کښے دا بد والے هم دے چه کله په ناجائز و طریقو سره نوم پیدا

کوړلے شی۔ مثلاً دَ نوم پیدا کولو دَ پاره په واده بنادئ کښے مال بښه والوزه وی فضول خرچ اوکړی او حغه مال کله په رشوت سره جمع کړی کله په سود دا خلی دا ټول گناه کړے نوم کړپاره اوشه۔ دنیاوی نقصان په دے کښے دادے چه کداسے سړی دشمنان او حاسدان ډیر وی اوکه هیشه کده په ذلیل کولو او بد نام کولو ا و نقصان او تکلیف رسولو پسے وُرپسے وی۔ علاج کدے یو دادے چه دا سوچ اوکړی چه دَکومو خلقو په نظر کښے ناموری او تعریف غواړی نه په دوی پاتے شی او نه به زهٔ لږ ورځ پس به څوک دَ تپوس هم نه وی۔ نو په داسے بے بنیاده شی باندې خوشحالیدل ناپوهی ده۔ دویم علاج ئے دادے چه څه داسے کار اوکړی چه دَ شرعے نه خلاف نه وی البته دَخلقو په نظر کښے ذلیل او بد نام شی۔ مثلاً دَ کور پاتے سړے دوه دوئ په غریبانو خرڅول شروع کړی په ارزان قیمت په دے به بښه رسوا شی۔

دَ غرور او براۍ بد والے او علاج ئے

غرور او براۍ دیته وائی چه بنده ځان په علم یا عبادت یا دیند ارئ کښے یا په حسب نسب کښے یا په مال او سامان کښے یا په عزت او اٰبرو کښے یا په عقل یا په بله خبره کښے دَ نورو نه لوئے گنړی او نور خلق دَ ځان نه کم او سپک گنړی دا لوئے گناه دے۔ په حدیث کښے دی چه دَچا په سینه کښے که اوری دَ دانے هومره تکبر وی حغه به جنت ته نه ځی۔ او په دنیا کښے هم خلق کداسے سړی نه ډیر نفرت کوی او دشمنی ورسره کوی۔ اګرچه دَ ډیرے نه په ظاهر کښے راشه درشه کوی۔ او دا بد والے په کښے هم دے چه داسے سړے دَچا نصیحت نه آوری۔ حقه خبره هم دَچا په وینا نه قبلوی بلکه بد ئے گنړی۔ او دے نصیحت کونکی ته تکلیف رسول غواړی۔ علاج ئے دادے چه دے خپل حقیقت غور اوکړی چه زهٔ دَ خاورو نه پیدا یم او دَ پلیتو اوبو نه۔ دا ټول خوبئ خو الله تعالیٰ راکړی دی که حغه او غواړی نو اوس ټول اغستے شی بیا دا لوئی او تکبر په څه خبره کوم۔ او دَ الله تعالیٰ لوئی زیاده کړی۔ نو خپله لوئی به تے هیره شی۔ او چا لره چه دے سپک گنړی دَ حغه سره په عاجزئ مخے لډ راځی او تعظیم ئے کوی لوئی به ئے دَ زړه نه اوځی۔ که زیات همت ئے نه وی نو دومره پابندی خو دے په ځان اوکړی چه دَ ځان نه کم سړے او وینی نو په سلام دے مخ کښے کیږی انشاء الله تعالیٰ عاجزی به ئے په نفس کښے راشی۔ رپه ډیر و نقلونو باندی هم تکبر او لوئی دَ زړه نه اوځی)۔

باب ۲۹ دَ ځان خودوا او ځان غوره گنړلو بد والے او علاج ئے

که څوک ځان غوره گنړی یا په چا موکیږدِ ځان ځانی اګرچه نور خلق بد نه گنړی

خو دا هم ناکاره خبره ده - په حدیث کښې دي چه دا خوئ دین بربادوي او دا خبره هم ده چه دا سې سړے خپل بد والے نه وینی نو د ځان بښه کولو فکر ورسره هم نه وي - علاج ئې دا دے چه خپل عیبونو ته دے فکر کوي او دا سې دے گڼړي چه کوم خبرے په ما کښې ښې دي دا د خدائے تعالیٰ نعمت دے ځما خپل څه کمال نه دے او د الله پاک شکر دے کوي او دُعا دے کوي چه یا الله دا نعمت دا با تِل همیشه لرے -

باب ۳ د نیک کار د ځان خودو د پاره کولو بد والے او علاج ئې

دا ځان خودل په څو قسمه سره وي یا صاف په ژبه سره وي - چه ما دومره قرآن او لوستے ذۀ د شپے پا سیدلے وَم - او کله د نورو خبرو په مینځ کښې وي لکه د مې بود بد وا نو خبرے کیدے نو دے او وائي چه نا دا تعلے خبرے غلطے دي مونږه خو دا سې نه دي لیدلي - نو خبره د بند وانو کیده خوده په کښې د خپل ځ اظهار هم او کړه چه گونې ذۀ هم ځ له تلے یم - کله په کار کولو سره لکه د خلقو په مخکښې تسبیح را واخلي او اړه وي یا د قرآن شریف تلاوت په خوش آوازئ سره د خلقو په مخکښې شروع کړي - او کله په صورت او شکل سره لکه د خلقو په مخ کښې سترګې بندے کړي او سر ځکته کړي خاموش کیني چه خلق او وائي چه دے خو بزرګ دے - هر وخت په فکر کښې ډوب ناست وي ټول شپه بید اروی نو د ورځے ئې سترګې نه او چتیږي او دغه شان په نورو ډیرو طریقو سره خلقو ته ځان خائي - نو دا ځان خودنه په هره طریقه چه وي بد ه ده - په قیامت کښې به د دا سې ځان خودو په عبادت د ثواب په ځائے اُلټه عذاب ملاویږي - علاج ئې هغه دے کوم چه د نوم او تعریف غوختو علاج دے چه بره مونږ لیکلے دے ځکه چه دا هم د نوم د پاره کیدے شي -

باب ۳ ضروري د خودنے قابله خبره

د دے ناکارو خبرو چه کوم علاجونه او خودلے شو دا په یو یا دوه ځل کولو سره مطلب نه حاصلیږي او دا بدي نه لرے کیږي مثلاً دوه درے پیرے غُصّه بنده کړی نو په دے سره دا بیماري نه لرے کیږي یا یو پیره دوه درے غُصّه را نغله نو په دے مه دهوکه کیږه چه زۀ د غصے نه خلاص شوم بلکه د ډیرو ورځو پورے په دے علاجونو عمل کوه او چه کله درنه غفلت اوشي او خطائي راشي نو خپیماني او افسوس کوه او د بیا د پاره خیال کوه ډیره موده چه دا سې او کړے نو انشاء الله تعالیٰ چه د دے بیمارئ جړے به پریکړے شي -

باب ۳ یوه بله ضروري د کار خبره

په نفس کښې د دنه چه څومره بدئ دي او د لاسو ځپونه چه څومره گناهونه کیږي د دے د علاج یوه اسانه طریقه دا هم ده چه کله د نفس نه څه شرارت یا د گناه

کار اوشی نو چه دۀ له څه سزا ورکړی او دوه سزا ګانے اسانے دی چه هر سړے
ئے کولے شی یو دا چه پټان څه روژے دوه جړ اشا اولیږه وی او چه کله تے څه ګناه
اوشی نو هغه جړاشا په غریبانو تقسیم کړی که بیا تے اوشی نو بیا دے داسے اوکړی۔ او
دویمه سزا داده چه یو وخت دوه دے روژے یعنے خوراک پټان بند کړی۔ نو کۀ
الله پاک نه دا اُمید دے چه څوک داسزا ګانے پټان لازمی کړی نو انشاء الله تع
چه د ګناه کولو نه به خلاص شی۔ اوس وړاندے د بنو خبر و بیان دے۔

باب ۳۳ **توبه او د هغے طریقه** توبه داسے ښۀ عمل دے چه ټول ګناهونه
پے معاف کیږی او کوم سړے چه پخپل
حالت غور کوی چه هر وخت څۀ نه څۀ خبره د ګناه کیږی نو توبه به خامخا هر وخت
ضروری ګڼړی۔ طریقه د دے د حاصلولو داده چه په قرآن او حدیث کښے په ګناهونو
کوم کوم عذابونه راغلی دی هغه را یاد کړی او فکر و ئے اوکړی نو په ګناه کولو به
ئے زړه او د زړه دردیږی نو دغه وخت پکار دی چه په ژبه سره هم توبه اوباسی۔ او
کوم مونځ روژه چه تے قضا شوی وی د هغے قضا هم را اوګرځوی۔ او که د بندګانو
حقوق ئے ضائع شوی وی د هغوی نه ئے معافی اوغواړی یا ئے ادا کړی۔ او کوم
چه نور حسے ګناهونه وی په هغے بنۀ اوجاړی او د جړا په شکل کښے د خدائے پاک
نه په زارئ او عاجزئ سره معافی اوغواړی۔

باب ۳۴ **د خدائے پاک نه یریدل او د هغے طریقه**

الله تعالیٰ فرمایلی دی چه څما نه اویریږئ۔ او یره داسے ښۀ عمل دے چه بنده د دے
په وجه د ګناهونو نه بچ وی او طریقه ئے هغه ده کومه چه د توبے ده چه د الله تعالیٰ
عذاب ته فکر کوی او یا د وی ئے۔

باب ۳۵ **د الله پاک نه اُمید لرل او د هغے طریقه**

الله پاک فرمایلی دی چه تاسو د الله تعالیٰ د رحمت نه مه نا اُمیده کیږی۔ او اُمید داسے
ښۀ شے دے چه په دے سره نیکو کارو ته زړه لوئیږی او د توبے همت پے پیدا
کیږی۔ طریقه ئے داده چه د الله پاک رحمت یادوی او سوچ ورته کوی۔

باب ۳۶ **صبر او د هغے طریقه** نفس د دین په خبره پابند ساتل او د
دین خلاف څه کار تے نه کول دیته صبر
وائی او د دے ډیرے موقعے دی۔ یوه موقع داده چه بنده د آرام او راحت په حالت
کښے وی۔ خدائے پاک ورله صحت ورکړے وی، مال، دولت، عزت، نوکر چاکر، آل اولاد

کور او ساز و سامان ورکړے وي۔ د دا سے وخت صبر دا دے چه دماغ ئے خراب نشي خدائے هیر نه کړي، غریبانو سیک او شاګنړي نړمي او احسان ورسره کوي۔ دویمه موقع د عبادت وخت وے۔ چه په دغه وخت نفس سُستي کوي یعنے په سُستئ مانځهٔ ته پاڅي۔ یا کنجوسي کوي لکه د زکوة خیرات ورکولو په وخت کښے۔ په دا سے موقع درے قسمه صبر پکار دے یو د عبادت نه اول چه نیت درست لري۔ د الله د پاره دغه کار کوي د نفس څه غرض په کښے نه وي۔ دویم چه د عبادت په وخت کښے کم همتي نه وي څنګه چه د دے عبادت حق دے هغه شان ادا شي۔ دریم د عبادت نه پس چه د چاپسے ئے کښے ئے ذکر او نه شي۔ دریمه موقع د ګناه وخت وے۔ د دغے وخت صبر دا دے چه نفس د ګناه نه منع کړي۔ څلورمه موقع هغه وخت دے چه دے سړي ته څوک تکلیف رسَوي بد ئے ردے ورته وائي نو د دغے وخت صبر دا دے چه بدله وانه خلي او خاموش شي۔ پنځمه موقع د مصیبت او د بیماري ده یا د مال د نقصان یا د یو عزیز د مرګ د دے وخت صبر دا دے چه په ژبه د شریعت خلاف خبره او نه کړي او په خبر وسره او نه جاړي۔ او طریقه د دے ټول قسم صبر و نو دا ده چه د دے ټولو موقعو ثواب را یاد کړي او دا سے او ګنړي چه دا ټولے خبرے زما د فائدے د پاره دي۔ او دا سوچ او کړي چه په بے صبرئ خو تقدیر نه شي واپس کیدے نو ناحقه د ثواب نه ولے ځان محرومه کوم۔

باب ۳۷ **شکر او د هغے طریقه** د خدائے تعالیٰ په نعمتو نو خوشحالیدل او د خدائے تعالیٰ محبت په زړه کښے پیدا کول او په دے محبت سره ئے دا شوق کیدل چه هغه مالک دا سے نعمتونه راکوي نو چه د هغه بنده عبادت او کړم۔ او د دا سے نعمت ورکونکي نافرماني کول ډیره د شرم خبره ده۔ دا خلاصه ده د شکر۔ دا خو ښکاره خبره ده چه په بنده هر وخت د الله تعالیٰ په زرګونو نعمتونه وي که څه مصیبت هم دے نو په هغے کښے هم د بنده فائده ده نو هغه هم نعمت دے (ځکه چه په دے په صبر کولو سره ثواب هم ملاویږي او د نفس اصلاح هم کیږي او ګلے بشکلے بدله هم ملاویږي) نو چه هر وخت نعمت دے نو هر وخت په زړه کښے دا خوشحالي او محبت را وستل پکار دي چه چرے هم د خدائے تعالیٰ په حکم پوره کولو کښے کمي نه ده پکار۔ طریقه ئے دا ده چه د خدائے ته نعمتونه یادوي او سوچ ورته کوي۔

باب ۳۸ **په خدائے پاک بهروسه کول او طریقه ئے**

دا هر مسلمان ته معلومه ده چه بغیر د خدائے تعالیٰ د ارادے نه نه څه نفع حاصلیږي او نه نقصان رسیدے شي نو دا خبره ضروري شوه چه بنده کوم کار کوي پخپل

تدبیر دے بهروسه نه کوی (یعنے تدبیر دے کوی ځکه چه تدبیر کول دَ الله پاک حکم دے لیکن دغه چل تدبیر دے مستقل نه گنړی بلکه داسے دے گنړی چه کار پوره کول دَ الله تعالیٰ په قبضه کښے دی که هغه اوغواړی نو تدبیر به کارا وکړی ورنه نه شی کیدے) نظر به په خدائے تعالیٰ ساتی او دَ چا مخلوق نه به زیات اُمید نه لری نه به دَ چا نه یریږی داسے به گنړی چه بغیر دَ خدائے پاک دَ رضا نه څوک هیڅ نه شی کولے۔ دیته بهروسه او توکّل وائی۔ طریقه ئے داده چه دَ الله تعالیٰ قدرت او حکمت ته او دَ مخلوق ناچیزوالی ته بنه فکر کوی او یادوی ئے۔

باب ۲۹ دَ خدائے پاک سره محبت کول او دَ هغے طریقه

دَ الله پاک طرفته زړه راښکل او دَ الله تعالیٰ خبرے آوریدل او دَ هغه کارونو ته کتل او دَ زړه له مزه راتلل دا محبت دے۔ طریقه ئے داده چه دَ الله تعالیٰ نوم په کثرت سره یادوی او صفتونه ئے یادوی او دَ بنده سره چه ئے څومره محبت دے هغے ته فکر کوی۔

باب ۳۰ دَ خدائے تعالیٰ په حکم راضی او سیدل او دَ هغے طریقه

چه مسلمان ته دا معلومه ده چه دَ الله تعالیٰ دَ طرفه چه څه کیږی ټول دَ بندهٔ دَ فائدے او ثواب دَ پاره دی نو په هرڅیز ئے راضی اوسیدل پکاردی نه یریږی او نه دَ گیله کوی طریقه ئے دَ دے خبرے سوچ کول دی چه څه کیږی ټول غوره دی۔

باب ۳۱ رشتینے نیت او دَ هغے طریقه

دَ دین څهٔ کار چه کوی په هغے کښے دَ دنیا هیڅ مطلب نه وی نه په کښے ځان خودل وی نه داسے څه مطلب وی لکه دَ یو سړی کیده بنه نه ده او ده اووے چه راشه روژه اونیسه۔ روژه به دے روژه اوشی او کیده به دے هم سپکه شی۔ یا دَ مانځهٔ دَ پاره ئے دَ ځکښے نه اودس وی لیکن کړی هم ده نو اودس نوے کړی چه اودس به هم اوشی او لاسو څپے به هم یخ شی۔ یا سوال کړی له څه ورکړی چه دَ دهٔ دَ سوال کولو نه به هم خلاص شم او دا آفت یا بلا به هم دفع شی۔ دا ټولے خبرے دَ رشتینی نیت نه خلاف دی طریقه ئے داده چه دَ نیک کار کولو نه اول به ورته فکرا وکړی چه که دَ زړه څه میلان په دے کښے وی نو چه دَ هغے نه زړه بنه صاف کړی۔

باب ۳۲ په زړه سره دَ الله تعالیٰ خیال لرل او دَ هغے طریقه

په زړه کښے دے هروخت خیال ساتی چه الله تعالیٰ ځما د ټولو کارونو نه خبر دے ښکاره ورته هم معلوم دی او دَ زړه هم۔ که بد کار یا بد خیال م او کړه نو شاید چه الله تعا

په دنیا یا په اخرت کښې سزا ورکړي. دویم د عبادت په وخت کښې دا خیال لرل چې هغه ځما عبادت ویني په بنه شان ئې کول پکار دي. طریقه ئې داده چې هر وخت دا سوچ په کثرت سره کوي په ځو ورځو کښې به ئې خیالات بند شي بیا به انشاء الله تعالیٰ د ده نه هیڅ خبره هم د الله تعالیٰ د رضا نه خلاف او نه شي.

باب ۴۳ په قرآن لوستو کښې د زړه لږه ولو طریقه

قاعده ده چې کله څوک چا ته اووائي چې ما ته لږ قرآن واوره وه ځه گورم چې ته څنګه ئې لولې نو دغه وخت چې څومره کیدے شي بنه په غور او فکر سره لوستے شي. نو اوس دا گوره چې کله د قرآن لوستو اراده اوکړې اوّل په زړه کښې دا سوچ کوه چې گویا الله تعالیٰ ما ته فرمائش کړے دے چې ما ته ئې واوره وه چې ته څنګه لولې. او دا سے گڼړه چې الله تعالیٰ ئې بنه آوري. او دا سے خیال کوه چې د بنده په ځکښې ئې په غور سره لولم نو چې د الله تعالیٰ په ځکښې خو ئې زیات په غور او فکر سره لوستل پکار دي. چې دا تول خبرے په خیال کښې راولې اوس تلاوت شروع کړه. او تر څو پورے چې لولې دا خبرے په خیال کښې ساته او چې کله په لوستو کښې ورته شي یا دے زړه اخوا دیخوا شي نو کل لږ ساعت د پاره لوستل بند کړه او کو دے خبرو په یاد ولو سره بیا خپل سوچ تازه کړه انشاء الله تعالیٰ په دے طریقے سره به صحیح او صاف اولوستے شے. او کو زړه توجه به دے هم دے طرف ته وي. کله لږ موده به دے طریقه سره کوشش د لوستو اوکړے نو بیا به دے په اسانئ سره زړه اولږي.

باب ۴۴ په مانځه کښې د زړه لږه ولو طریقه

دومره خبره یاده ساته چې په مانځه کښې څه کار او څه لوسته بے ارادے نه وي بلکې هره خبره په اراده او په سوچ سره وي مثلاً چې اَللهُ اَکْبَرُ او وائي او دریږے نو اوس دا سوچ کوه چې اوس به زۀ سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وایم. بیا خیال کښې راولې چې اوس به وَبِحَمْدِکَ لولم. بیا خیال کښې راولې چې اوس به وَتَبَارَکَ اسْمُکَ په ژبه اداکوم. دغه شان هر یو لفظ ته جُدا جُدا خیال ساته او اراده ئې کوه. بیا په اَلْحَمْدُ او سورت کښې هم دغه شان فکر کوه بیا په رکوع او سجده کښې هم تسبیحاتو ته دغه شان فکر ساته. غرض کومه کلمه چې د خولې نه اداکوے فکر هم هغې ته ساته چې اوس به کومه کلمه اداکوم په ټول مانځه کښې دا طریقه کوه انشاء الله تعالیٰ په دا سے کولو سره به په مانځه کښې خیال بل طرفته نه ځي او بیا به په لږ ورځو کښې په اسانئ سره زړه په مانځه کښې اولږي او مزه به په مانځه کښې راشي. (او کله د مانځه معنیٰ درځي نو معنیٰ ته هم خیال ساته نو ثواب به هم زیات شي او خیال به هم نه بدلیږي. او کو د مانځه معنیٰ چرے ده زده یاد دے شي کوشش پکار دے).

باب ۵ م

دَپیرئ مریدئ بیان

په مرید جوړیدو کښے څه څه فائدے دی۔

(۱) یوه فائده داچه دَ زړه په صفا کولو کښے چه کومے طریقے بره بیان شویدی په دے کښے اکثر غلطئ کیږی پیر به ورته نیغه او برابره لار ښائی۔

(۲) دویمه فائده داچه دَ کتاب په لوستو سره بعضے وخت دومره اثر نه کیږی څومره چه دَ پیر په خوله نه بانڼ کیږی۔ یو دَ هغه برکت وی بیا دا هم یره وی چه که په نیک کار کښے ئے کمی یا بده خبره اوکړی نو دَ پیر په مخکښے به شرمندګی راشی۔

(۳) دریمه فائده داچه دَ پیر سره اعتقاد او محبت وی او زړه داغواړی چه کومه طریقه دَ پیر ده هغه په ځان کښے پیدا کړی۔

(۴) څلورمه فائده داده چه که پیر په نصیحت کولو کښے سختی یا غُصّه کوی نو بده ئے نه لږی او په دے نصیحت دَ عمل کولو کوشش هم زیات کوَلے شی۔ او نورے هم بعضے فائدے دی چه په چا دَ الله تعالیٰ فضل وی هغه ته حاصلیږی او په حاصلیدو سره پته لږی۔ که دَ مرید جوړیدو اراده دے وی نو اوّل په پیر کښے دا خبرے کوره او په چا کښے چه داخبرے نه وی دَ هغه مرید کیږه مه۔ یوه دا چه هغه پیر دَ دین مسئلے پیژنی۔ دَ شریعت نا واقفه نه وی۔ بله داچه په ده کښے دَ شریعت نه خلاف څه خبره نه وی۔ کومے عقیدے چه تا دَ دے کتاب په اوّله حصّه کښے لوستے دی۔ دغه شان دَ هغه عقیدے وی کومے مسئلے او دَ زړه صفا کولو طریقے چه تا په دے کتاب کښے لوستے دی څه خبره دَ دینه په هغه کښے خلاف نه وی۔ دریم چه دَ خوراک او ګټے دَ پاره پیری مریدی نه کوی۔ څلورم چه دَ چا داسے بزرګ مرید وی چه اکثر خه خلق ورته بزرګ وائی۔ پنځم چه هغه پیر ته هم ښه خلق ښه وائی۔ شپږم چه دَ هغه په تعلیم کښے دا اثر وی چه دَ دین محبت او شوق پے پیدا شی او دا خبره دَ هغه دَ نورو مریدانو دَحال په لیدو سره معلومیږی۔ که په لسو مریدانو کښے ئے پنځه شپږ هم ښه وی نو پوهه شه چه دا پیر تاثیر والا دے۔ او یو نیم مرید به بد والی سره ئے شک مه کوه۔ او تا چه کوم آوریدلی دی چه په بزرګانو کښے تاثیر وی هغه تاثیر داده۔ او نور تاثیر و نو ته مه ګوره چه څه به وائی هغه به کیږی۔ هغه به لاس ونه وهی او بیماری به لرے کیږی، چه دَ څه کار دَپاره تعویذ ورکړی هغه کار به دَ مرضی مطابق کیږی۔ هغه داسے نظر کوی چه په یو نظر سره ئے بنده بد لیږی۔ په دے تاثیرونو چرته مه دهوکه کیږه۔ او وم په دے پیر کښے دا خبره وی چه دَ دین په نصیحت کولو کښے دَ مریدانو لحاظ ملاحظه نه کوی۔ دَ بے ځایه خبرے نه ئے منع کوی۔ نو که چرته داسے پیر ملاؤ شی نو که ته واده شوے نه ئے نو دَ مور و پلار نه په اجازت او که واده شوے ئے نو دَ خاوند نه په اجازت سره ئے په ښه نیّت یعنے خالص دَ دین ټهیک کولو په نیت سره ئے مرید ه شه او که دا خلق ورته اجازت نه کوی نو مرید کیدل څه فرض نه دی مه مرید ه کیږه۔ البته په دین باندې

چلیدل فرض دی بغیر مرید کیدو نه په دین برابر چلیږه -

باب اوس دَ پیرئ مریدئ متعلق دَ بعضے خبرو تعلیم کیدے شی

تعلیم ۱:- دَ پیر ه ډیر ادب کوه . دَ الله پاک دَ نوم کومه طریقه چه هغه اوخائ په هغه شان ئے ذکر کوه - دَ هغه په نسبت داسے عقیده لره چه کومه فائده دَ صفائی دَ زړه ما ته دَ دے پیر نه رَسی د ومره په دے زمانه کښے دَ بل نه نه شی رسیدے (خو دَ بل پیر سپکوالے په نه کوے)

تعلیم ۲:- که مرید ته دَ زړه صفائی لا پوره نه وی حاصل شوے چه دَ پیر انتقال ئے اوشی نو دَ دویم کامل پیر چه دا بره خویونه په کښے وی مرید دِ شی -

تعلیم ۳:- په یو کتاب کښے څه وظیفه یا دَ فقیرئ څه خبره ورته معلومه شی نو پخپل عقل سره دے څه نه کوی دَ پیر نه دے تپوس کوی - او چه کومه نوے خبره ښه یا بده دے په زړه کښے راشی یا دے دَ څه خبرے اراده اوشی نو دَ پیر نه تپوس کوه -

تعلیم ۴:- دَ پیر په مخکښے بے پردے کیږه مه او دَ مریدے کیدو په وخت کښے په ورله لاس نه ورکوے خالی په ټوټه هم مریدی جائزه ده او یا په کپړه کښے په پټ لاس -

تعلیم ۵:- که په غلطئ سره دَ شریعت نه دَ خلاف پیر مرید ه شوے یا مخکښے هغه سړے ښهٔ وه او اوس ناکاره شه نو مریدی ئے ماته کړه - او دَ چا بل متشرع پیر مرید ه شه - لیکن که چرته وړه شان غلطی کله دَ پیر نه اوشی نو داسے گنړه چه اخر ها هم بنی آدم دے فرشته خو شوے دَ ده نه غلطی اوشوه په توبه به معاف شی - په لږه لږه خبره اعتقاد مه خرابوه البته که هغه پیر په دغه ناکاره خبره ټینګ شی نو بیا تے مُریدی ماته کړه -

تعلیم ۶:- پیر داسے گنړل گناه دے چه هغه ته هر وخت زما حال معلوم وی -

تعلیم ۷:- دَ پیرئ داسے کتابونه چه دَ هغے ظاهری مطلب دَ شریعت نه خلاف وی داسے کتابونه چرته مه گوره - دَ غسے کوم شعرونه اشعار چه دَ شریعت نه خلاف وی هغه چرته په ژبه سره مه وایه -

تعلیم ۸:- بعضے پیران وائی چه دَ شریعت لار جُدا ده او دَ پیرئ لار جُدا ده - دا پیر گمراه دے دَ ده لره دروغژن گنړل فرض دی -

تعلیم ۹:- که پیر څه خبره خلافِ شرع او وائی نو په هغے عمل جائز نه دے که هغه پے اړ وی نو مریدی تے ماته کړه -

تعلیم ۱۰:- که دَ الله پاک دَ نوم اخستو په برکت سره په زړه کښے څهٔ څهٔ حالت پیدا شی یا څهٔ خواب اووینی یا په ویښه څه آواز یا رڼا معلومه شی نو بغیر دَ خپل پیر نه چا ته ئے ذکر مه کوه - نه دَ خپلو وظیفو او عبادت چا ته اظهار کوه ځکه چه په ظاهره ولو بیا ختمیږی -

تعلیم ۱۱:- که پیر څه وظیفه یا ذکر اوخوده او دَ څه موده پورے دَ هغے اثر یا مزه په

زړه کښې معلومه نه شوه نو زړه تنګے یا د پیر نه بد اعتقاده کیږه مه بلکه دا سے ګنړه چه لوئے اثر دا دے چه د الله د نوم اغستو په زړه کښې اراده پیدا کیږی او د دے نیک کار توفیق کیږی - او د دا سے اثر چه په زړه کښې خیال مه راولې چه پخواب کښې دِ د نیکانو زیارت او کړم - او کید و نکے خبرے دے راته معلومے شی - ما له دے ینه جړاړئی - په عبادت کښې دے په ما دا سے بے هوشی راځی چه د هر څه نه نا خبره کیږم - کله کله دا خبرے هم کیږی او کله نه کیږی - که اوشی نو د خدائے تعالیٰ شکر ادا کړه او که نه وی یا اوشی او بیا کمے یا ورکے شی نو غم دے نه کوی - البته خدائے دے نه کړی که د شریعت په پابندئ کښے څه کمی راشی یا ګناه اوشی نو دا خبره البته د غم ده - همت دے او کړی چه دیر زر خپل حالت برابر کړی او پیر دے خبر کړی او چه هغه څه خودے نه او کړی په هغے دے عمل کوی.

تعلیم۲ :- د نورو بزرګانو یا د نورو خاندانو د پیرانو په شان کښې دے ګستاخی نه کوی نه دے د بل ځائے د مرید انو سره داوائی چه ځمونږ پیر یا ځمونږ پیر خانه ستاسو د پیرانه نه زیاته بنه ده د دے فضول خبرو نه په زړه کښې تیاره پیدا کیږی -

تعلیم۳ :- که بچیله یوه پیر خوری باندے د پیر مهربانی زیاته وی یا هغے ته د وظیفو ذکرنه زیاته فائده وی نو حسد دے پے نه کوی -

باب د مرید له یعنے بلکه هر مسلمان له شیه ورځ دا سے او سیدل پکار دی

۱ :- د ضرورت مطابق دے د دین علم حاصلوی که په کتابونو لوستو وی او که په تپوس کولو.

۲ :- د ټولو ګناهونو نه دے ځان ساتی -

۳ :- که څه ګناه اوشی نو فوراً توبه ویستل پکار دی -

۴ :- د چا حق دے ځان نه پاتے کوی په ژبه یا لاسو دِ چا ته تکلیف نه ورکوی د چا سره دے بد نه کوی.

۵ :- د مال محبت او د نوم خواهش دے نه کوی - د ډیر وخوکپړو یا خوراک خواهش دے نه کوی.

۶ :- که خطا تے اوشی او خوک ئے او توکی نو خبره دے نه جوړوی فوراً دِ اقرار او توبه او کړی -

۷ :- بغیر د سخت ضرورت نه دے سفر نه کوی - په سفر کښې ډیرے بے احتیاطئ کیږی - ډیر نیک کارونه پاتے کیږی - په وظیفو کښې خلل راځی - په وخت څه کار نه کیږی -

۸ :- ډیره خندا او ډیرے خبرے دِ نه کوی - خاصکر د نامحرم سره آزادے خبرے دِ نه کوی -

۹ :- د چا سره جګړه تکرار دِ نه کوی -   ۱۰ :- د شریعت دِ هر وخت خیال ساتی -

۱۱ :- په عبادت کښې دے سُستی نه کوی -   ۱۲ :- زیات وخت دِ په تنهائی کښې تیره وی -

۱۳ :- چه د چا سره ملاویږی نو په عاجزئ دِ ملاویږی د ټولو خدمت دِ کوی لوئی دِ په ځان نه ښوی

۱۴ :- او د امیرانو سره دے ډیر کم ملاویږی -

۱۵ :- د بد دین سړی نه دے لرے تختی -

۱۱۶:- د نورو عیب دِ نه لټوي - په چا دے بدګماني نه کوي - خپلو عیبونو ته دے ګوري او خپله اصلاح دے کوي -

۱۱۷:- مونځ دے په بنهٔ وخت په ښهٔ طریقه په پابندۍ سره کوي او د کولو خیال ساتي -

۱۱۸:- په زړه یا په ژبه دے هر وخت د الله په یاد کښے اوسي یو وخت دے نه غافل کیږي -

۱۱۹:- که د الله په نوم اغستو سره ورله مزه راشي زړه ئے ښه شي نو شکر دے کوي -

۱۲۰:- خبره دے په نرمۍ سره کوي -

۱۲۱:- د ټولو کارونو د پاره دے وخت مقرر کړي او په پابندۍ سره دے کوي -

۱۲۲:- څه غم او نقصان چه ورله راشي د الله پاک د طرفه دے ګڼړي پریشانه کیږي دے نه او دا دے ګڼړي چه په دے کښے به ما ته ثواب ملاویږي -

۱۲۳:- هر وخت دے په زړه کښے د دنیا حساب کتاب او د دنیا د کارونو ذکر مه کوه نه ساتي بلکه خیال دے هم د الله پاک لري -

۱۲۴:- څومره چه کیدے شي نور و ته دے فائده رسوي که د دُنیا وي او که د دین -

۱۲۵:- په خوراک سکاک کښے دے نه دومره کے کوي چه کمزورے یا ناجوړه شي - نه دے دومره زیاتے کوي چه په عبادت کښے سُستي راشي -

۱۲۶:- د خدائے پاک نه سوا دے د چا نه طمع نه کوي، نه دے د چا طرفته خیال کوي چه د فلانی ځائے نه به ماته دا فائده اورسي -

۱۲۷:- د خدائے تعالیٰ په تلاش کښے دے بے آرامه اوسي -

۱۲۸:- نعمت لږ وي او که ډیر شکر دے پے کوي او لوږے او فقر نه دے تنګ زړے کیږي نه -

۱۲۹:- څوک چه د دهٔ ماتحت وي د هغوي خطا او قصور دے معاف کوي -

۱۳۰:- د چا عیب چه ورته معلوم شي پټوي دے - البته که څوک چا ته نقصان رسول غواړي او دهٔ ته معلوم شي نو هغه ته دے وائي -

۱۳۱:- د میلمنو و مسافرانو د غریبانو او عالمانو او درویشانو خدمت دے کوي - (یعنے د خدائي فقیرانو خدمت دے کوي او نن صبا چه ډیر و خلقو د سوال کولو پیشه جوړه کړے ده او ښهٔ زوغ موټ او مالدار وي دوي له څهٔ ورکول نه دي پکار دا سے فقیرانو له څه ورکول جائز نه دي)

۱۳۲:- د نیک خلقو مجلس دے اختیاره وي - ۱۳۳:- مرګ دے یاد ساتي -

۱۳۴:- هر وخت دے د خدائے پاک نه یریږي - ۱۳۵:- دروغ دے هرګز نه وائي -

۱۳۶:- په ورځ کښے دے یوه پیره د خپلے ټولے ورځے کارونو ته سوچ کوي چه کوم نیک وي په هغے دے شکر کوي او په ګناه دے توبه اوباسي -

۱۳۷:- کوم مجلس چه د شریعت نه خلاف وي هلته دے هرګز نه ځي -

۱۳۸:- په شرم حیا او برُد بارۍ سره دے اوسي -

۳۹:- په دے خبره دے شرمنده کیږی چه په ما کښه دومره خوبئ دی۔
۴۰:- د الله پاک شه دے سوال کوی چه په نیکه لاره قائم کړے۔

د رسول الله صلے الله علیه وسلم د حدیثونو د بعضے نیکو کارونو ثواب او د بدو د عذاب بیان چه نیکو ته مینه او د بدو نفرت پیدا شی

باب ۱ نیت خالص لرل

۱:- یو سړی په چغه چغه پوښتنه وکړه چه یا رسول الله ایمان څه شے دے حضور او فرمائیل چه نیت خالص لرل۔ ف:- مطلب دا دے چه څه کار کوی د خدائے د پاره ئے کوی

۲:- حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د کارونو مدار په نیت سره دے۔

ف:- مطلب دا دے چه نیت بنه وی نو په نیک کار ثواب ملاویږی او ورنه نو نه۔

باب ۲ د ځان خود د پاره کار کول

۳:- حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی چه څوک د ځان خودو د پاره کار کوی۔ الله تعالیٰ به په قیامت کښے د د هٔ عیبونه ښکاره کړی او څوک چه د خودنے د پاره کار کوی الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د دهٔ عیبونه اوښائی۔

۴:- او فرمایلی دی حضور صلے الله علیه وسلم چه لږ شان دکهاوا هم یو قسم شرک دے۔

باب ۳ د قرآن او حدیث په حکم تلل

۵:- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه کوم وخت څما په امت کښے د دین واړانے پریوځی په هغه وخت کښے چه کوم سړے څما په طریقه مضبوط شی هغه ته به د سلو شهیدانو هومره ثواب ملاویږی۔

۶:- او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه زهٔ په تاسو کښے دا سے شے پریدمه چه که تاسوئے مضبوط ونیسئ نو چرته به بے لارے نه شئ یو د الله پاک کتاب او بل خپل سنت۔

باب ۴ د نیک کار لار ویستل یا د بد کار بنیاد ایښودل

۷:- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړے چه نیکه لار او باسی بیا نور خلق په دغه لار چلیږی نو دے سړی ته به پخپله د هغے ثواب هم ملاویږی او څومره خلقو چه د دهٔ پیروی کړے ده د دے ټولو هومره ثواب به ورته هم ملاویږی او د هغوی په ثواب کښے به هم کمے نه وی۔ او کوم سړے چه بده لار را وباسی او بیا نور خلق په دغه لار چلیږی نو دغه سړی ته به پخپله هم د دغے کار گناه ملاویږی او چا چه د ده پیروی کړیده د هغوی هومره گناه به هم دهٔ ته ملاویږی او د هغوی په گناه کښے به هم کمے نه وی۔

ف:- مثلاً چا د خپل او لاد په واده کښے رسمونه بند کړه یا یوے کونډے نکاح او کړه او د دے په لید ونورو خلقو هم همت او کړه نو دے شروع کونکی ته به همیشه ثواب ملاویږی۔

باب ۵۲ دَ دین علم حاصلول

۸:- فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ کوم سړی سره چه الله پاک خیګړه کول او غواړی نو دَ دین پوهه ورله ورکړی -

ف:- یعنی دَ دین دَ مسئلو تلاش او شوق ئې پیدا شی - (ایزده کوی ئې او عمل پې کوی)

باب ۵۳ دَ دین مسئله پښتول

۹:- فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ چا نه چه دَ دین دَ خبرے تپوس اوشی او هغه ئې پټه کړی نو دَ قیامت په ورځ به دَ هٔ ته دَ اور واګے واچولے شی -

ف:- که څوک درته دَ مسئلے تپوس اوکړی او تا ته خه یاده وی نو انکار مه کوه په ښهٔ شان سره ئې ورته ایزده کوه - (او که نه درځی نو په اټکل پسے مه ځه)

باب ۵۴ مسئله ایزده کول او عمل پې نه کول

۱۰:- فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم څو مره چه علم وی دُومره دَ علم والا وزرے ځانګوته وی بغیر دَ هغه سړی نه چه دَ هغې موافق عمل نه کوی -

ف:- او کوره چرته حم دَ عزت دَ ولئ په خیال سره یا دَ نفس په پیروئ سره دَ مسئلے خلاف فمه کوه -

باب ۵۵ دَ تشو بولونه احتیاط نه کول

۱۱:- فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ تشو بولونه ځهٔ احتیاط کوئ ځکه چه اکثرۀ قبر عذاب دَ دینه وی -

باب ۵۶ په اودس او غسل کښے اُوبه هر ځائے ته رسول

۱۲:- فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه یکو مو حالتو نو کښے اُوبه بدے لږی په داسے حالتو نو کښے اودس په ښه شان سره کول لو ګناه ونځلے کیږی - (دلته دَ ګناه نه مراد صغیره ګناه دے چه په اودس کولو سره معاف کیږی)

ف:- اُوبه بدے لږیدل کله دَ سستئ نه وی او کله دَ یخنئ نه -

باب ۵۷ مِسواک کَول

۱۳:- فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دوه رکعتو نه دَ مسواک وهلو سره کول دَ هغے اویا رکعتو نو نه غوره دی چه بغیر مسواک وهلو وی -

باب ۵۸ په اودس کښے اُوبه ښے نه رَسَوَل

۱۴:- رسول الله صلی الله علیه وسلم بعضے خلق اولیدل چه اودسونه ئې کړی وُو لیکن پوندے ئې اوچے پاتے شوے وے نو اوئے فرمایل

لوئے عذاب دے پو نه ولره د دوزخ -

ف :- کوتے بنکری وغیره خه خونړه وی اواوبه ورته رسوئے او په پخنی کښے اکثر خپے خټکے وی یعنے سختے شی نو په اودس کښے لوندے وی -او بعضے د مخ حصه ونیمی غوړه نو ته اوبه له رسوی -او کړے لا ندے هم اوبه رسول پکار دی -دے ته لوخبر او خیال ساتی -

باب ۵۹ **دښځو د مانځه دپاره باهر ته وتل** ۱۵ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم

د ښځو دپاره د ټولو بنه جماعت د دوی د کور د ننه درجه ده -

ف :- معلومه شوه چه جماعت ته د ښځو تلل بنه نه دی -د دینه دا هم معلومه شو چه د مانځه نه بل غوره شے نشته نو چه د هغه دپاره د کوره وتل بنه نه شو نو د فضول کمځید و یا رسمونو پوره کولو د وتو کښے به څومره ګناه وی -

باب ۶۰ **د مانځه پابندی کول** ۱۶ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه د پنځه مونځونو مثال داسے دے لکه د چا د دروازے په مخ کښے چه نهر بهیږی او دے په کښے پنځه وخته لامبی -

ف :- مطلب دادے چه څنګه چه د هغې سړی په بدن باندے ذراخیرے نه پاتے کیږی دغه شان چه څوک پنځه وخته مونځ کوی د هغه ټول ګناهونه معاف شی -او وړکی ګناهونه -

۱۷ :- او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه د قیامت په ورځ به د بنده نه اول پوښتنه د مانځه کیږی -(یعنے د هرڅه نه به اول حساب کتاب د مانځه وی)-

باب ۶۱ **اوّل وخت مونځ کول** ۱۸ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه په اول وخت کښے مونځ کولو سره الله تعالیٰ خوشحالیږی -

ف :- نو ښځے خو جماعت ته له ځی پکار دی چه مونځ په اول وخت کښے کوی -

باب ۶۲ **مونځ په ناکاره طریقه سره کول**

۱۹ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړے چه بے وخته مونځ کوی او اودس هم ښه نه کوی او په زړه لږه ولوسره ئے نه کوی او رکوع سجده برابر نه کوی نو هغه مونځ تور او بے نوره ځی او داسے وائی چه خدائے پاک دے تا برباد کړی لکه څنګه چه تا زه برباد کړم تردے چه څپل خاص ځائے ته اورسی کوم ځائے چه الله پاک ته منظور وی نو د زړے کپړے پشان او نغښتے شی او د مونځ کونکی په مخ را او ویشتلے شی -

ف :- بیبیانو! مونځ خو دے د پاره کوئے چه ثواب وی نو چه الله عذاب جو پېږی داسے ئے ولے اداکوئی۔ (مونځ په ټهیک طریقه سره اوهر یو رکن غلهٔ پوره پوره ودا کول پکار دی۔ اکثر خلق مونځ ډیر په جلتئ سره کوی رکوع سجده نه پوره کوی دا ډیره بده خبره ده۔ مترجم)

باب ۶۳ **په مانځه کښے پورته یا اَخوا دیخوا کتل**

۲۰ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه تاسو په مانځه کښے پورته مه ګورئ چرته ستاسو نظر او نه تختولے شی۔

۱۲۱ :- او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه کوم سړے په مانځه اودرېږی اخوا دیخوا ګوری الله تعالیٰ د دهٔ مونځ دهٔ ته اُلټه را اوغورزه وی۔

ف :- یعنے نهٔ قبلوی (مطلب دادے چه پوره ثواب ورته نه ملاوېږی۔ مرقاة)۔

باب ۶۴ **دَمونځ کونکی په مخ کښے تیریدل**

۱۲۲ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم که دَمونځ کونکی په مخ کښے تیریدونکی ته خبر وے چه دا خومره ګناه دے نو څلوېښت کاله اودریدل به ئے دَ تیریدلو نه خوښ وو۔

ف :- لیکن که دَمونځ کونکی په مخ کښے د یو لاس برابر یا تر زیات څه شے ولاړ وی نو بیا تیریدلو کښے ګناه نشته۔

باب ۶۵ **قصداً مونځ قضا کول**

۲۳ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړے چه مونځ پاتے کړی نو کله چه دے د خدائے تعالیٰ مخے له ځی نو هغه به غضبناک وی۔

باب ۶۶ **قرض ورکول**

۲۴ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه ما د معراج په شپه دَجنت په دروازه لیکلی اولیدل چه دَخیرات ثواب لس چنده ملاوېږی۔ او دَ قرض ورکولو ثواب اتلس حصّے (یعنے اتلس چنده) دے۔

باب ۶۷ **غریب قرضداری له مهلت ورکول**

۲۵ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم ترڅو چه دَ قرض دَ اداکولو وَخت نه وی راغلے دَ هغے وخته پورے که یو غریب ته مهلت ورکړی نو روزانه ورته دومره ثواب رسی لکه چه روزانه دَ هغه قرض دَ رو پو هومره روپئ خیرات کوی۔ او چه کله ئے

وخت راشي او بيا مهلت ورکړی نو دومره ثواب ورته رسي لکه چه روژه اوکړي
روپۍ دوچند څومره خيرات کوي۔

باب ۶۸ **قرآن مجيد لوستل**

۱۲۶:- فرمايلي دی رسول الله صلے الله عليه وسلم کوم سړے چه د قرآن شريف يو حرف لولی هغه ته په يو حرف يوه نيکي ملاويږي او د نيکۍ قاعده دا ده چه لس چنده يوه نيکي ملاويږي۔ او زه الٓمٓ ته يو حرف نه وايم بلکه الف يو حرف دے لام يو حرف دے او ميم يو حرف دے نو په دے حساب سره په دريے حرفو نو ديرش نيکۍ ملاويږي۔

باب ۶۹ **خپل ځان يا اولاد ته خيرے کول**

۱۲۷:- فرمايلي دی رسول الله صلے الله عليه وسلم چه مه ځان ته خيرے کوئ او مه خپل اولاد ته او نه خپلو خدمتګارانو ته او نه خپل مال متاع ته هسے نه چه ستاسو د خير وهغه وخت د قبوليت وخت وي چه د الله نه څه غواړئ او هغه اوشي۔

باب ۷۰ **حرام مال ګټل او د هغے خوړل اغوستل**

۱۲۸:- فرمايلي دی رسول الله صلے الله عليه وسلم کومه غوښه بنده اووينه چه په حرام مال چيره شي هغه به جنت ته نه ځي دوزخ د هغے لائق دے۔

۱۲۹:- فرمايلي دی رسول الله صلے الله عليه وسلم کوم سړے چه په لسو درهمو يوه کپړه واخلي او يو درهم په کښے حرام وي نو ترڅو چه دغه کپړه د ده په بدن وي الله تعالیٰ د ده مونځ نه قبلوي۔

باب ۷۱ **دهوکه کول**

۱۳۰:- فرمايلي دی رسول الله صلے الله عليه وسلم کوم سړے چه زمونږ سره دهوکه کوی هغه زمونږ نه نه دے۔ ف:- خواه په اغستلو خرڅولو کښے دهوکه وي يا په بله معامله کښے ټول ناکاره دي۔

باب ۷۲ **قرض اغستل**

۱۳۱- فرمايلي دی رسول الله صلے الله عليه وسلم چه څوک مړ شي او په هغه د چا يو درهم يا دينار قرضه پاتے شي نو هغه له به د ده د نيکو نه ورکولے شي دغه هورے حلته به نه دينار وي او نه درهم۔

ف:- دينار لس درهمه وي او درهم د څلويښت آنو نه بره زيات دے۔

۱۳۲:- فرمايلي دی رسول الله صلے الله عليه وسلم چه قرض دوه قسمه دی کوم سړے چه مړ شي او د ده نيت د ادا کولو وي نو الله تعالیٰ فرمائی چه زه د ده مدد ګار يم او

سوم سړے چه مړشی او خدائے نیت کا ادا کولو شا وی نو کړدوه د نیکونه به اخستے شی. او هغه ورځ به دینار او درهم هیڅ نه وی.

ف :- کومه دکار مطلب داد ے چه زه به ئے بدله ورکړم.

باب ۳۳ **سره دطاقته دچا حق حصارول**

۳۳ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه سره دطاقته پر ځحق حصارول ظلم دے.

ف :- لکه چه د بعضے خلقو عادت وی چه قرضداری لری او یا مزدور لری نو منډه راونډے بے وجهِ ورکوی. دَدروغو وعدے کوی چه صبا راشه بله ورځ راشه خپل توان خرچونه به پوره کوی مگر دَپر دی حق ورکولو پرواه به نه ساتی.

باب ۳۴ **سود اغستل ورکول**

۳۴ :- رسول الله صلے الله علیه وسلم په سود اغستونکی او سود ورکونکی لعنت فرمایلے دے (دغه شان دَسود په کاغذ لیکونکی اوکواهی کونکی هم)

باب ۳۵ **دچا زمکه لاندے کول**

۱۳۵ :- فرمائلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړے چه په ناحقه دچا یوه لویشت زمکه لاندے کړی نو دَاوُ مے زمکے پورے به دغه دَه په مرئ کښے طوق شی.

باب ۳۶ **مزدوری فورًا ورکول**

۳۶ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه مزدور له دَهغه دَخولے اوچیدو نه اول مزدوری ورکوئ.

۱۳۷ :- الله تعالیٰ فرمائی چه په درے کسانو به زهٔ پخپله دعویٰ کوم دَهغوی نه یو هغه سړے هم دے چه یو مزدور په کار او لږه وی کار تے پوره واخلی او مزدوری نه ورکوی.

باب ۳۸ **داولاد مرکیدل**

۱۳۸ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم دوه بنځه خاوند چه مسلمانان وی او دَهغوی درے بچی مړه شی نو الله تعالیٰ به دوی پخپل فضل او رحمت سره په جنت کښے داخل کړی. چاتے تپوس او کړه یا رسول الله او که دوه مړه وی نو هغوی او فرمایل که دوه وُو هم دا ثواب دے. بیائے تے دَیو تپوس او کړه نو هم ئے دا ثواب او فرمایه. بیائے او فرمایل چه قسم خورم په هغه پاک ذات چه دَهغه په اختیار کښے محمد روح دے چه کوم حمل غورزیدلے وی هغه به هم خپله مور دَنال نه اونیسی او جنت ته به ئے راکا بزی (نال هغه کولمه ده چه دَمور په کیده کښے په بچی پورے نښتے وی او دَ پیدا کیدو نه پس ئے تے پریکړی) خو هله چه دَ مور ئے نیت دَ ثواب وی.

ف :- یعنے په درد و نو او پیدا کیدو ئے دَ ثواب په نیت صبر کړے وی.

باب ۷۸ **دَ پردو سړو په مخ کښې دَ ښځې عطر لګول**

۱۳۹:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم چه کومه ښځه عطر ولګوي او د پردو سړو په مخ کښې تیره شوه نو دا سې ده یعنې بدکاره ده -

ف:- کوم ځائې چه لیوروڼه دَ تره او تروړ او ترځامن دَ ماما ځوئي دَ خورځا ونه ځي داځي هلته به عطر نه لګوي- (ځکه چه دا ټول نا محرم دي شرعًا تے پرده ضروري ده)

باب ۷۹ **دښځې باریکې کپړے اغوستل**

۱۴۰:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم بعضې ښځې خو په نوم کپړے اغوندي او په واقع کښې لغړے وي دا سې ښځې به جنّت ته نه ځي او نه به دَ جنّت خوشبوئي کړي-

باب ۸۰ **ښځې چه دَ سړو پشان صورت جوړه وي**

۱۴۱:- فرمائلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم چه لعنت دے په هغه ښځو چه دَ سړو پشان جامے اغوندي -

ف:- زمونږ په دے ملک کښې خو اکثرا اوس ښځې دَ سړو پشان پیدا را او جامه اغوندي او سړو نه هم دَ سړو پشان جوړه وي دا احرام دي- (او اکثر سړي هم اوس دَ ښځو لباس اغوندي دا هم په دے حکم کښې داخل دي) -

باب ۸۱ **دَشان خود لو دَ پاره کپړے اغوستل**

۱۴۲:- رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چه څوک په دنیا کښې دَ نام نمود دَ پاره کپړه واغوندي خدائے تعالیٰ به ده ته په قیامت کښې دَ ذلت جامے واغونده وي او بیا به ورله دَ دوزخ اور ورته کړي-

ف:- مطلب دا دے چه څوک په دے نیت سره کپړه واغوندي چه ځما شان خلق اُو وینې او خلق راته اُو پښخیږي- په ښځو کښې دا مرض ډیر زیات دے -

باب ۸۲ **په چا ظلم کول**

۱۴۳:- رسول الله صلے الله علیه وسلم دَ خپلے خواته ناستو خلقو نه تپوس اوکړو چه تاسو ته معلومه ده چه مُفلس څوک دے - هغوی عرض اوکړو چه مونږ مُفلس هغه چا ته وایو چه مال متاع ورسره نه وي - نو هغوي ته او فرمایل چه ځما په اُمت کښې لوئے مفلس هغه دے چه دَ قیامت په ورځ کو مانځه روژے زکوٰة هر څه سره راځي لیکن دا هم ورسره وي چه چا ته ئے بد رَد ویلي وَه - په چائے تهمت لږه وي

وه- دچا مال ئې خوړلے وه، څوک ئې قتل کړے وه، او څوک ئې وهلے وه- نو بس دده هغه نيکئ څه يو ته لاړے څه بل ته لاړے او دا حقوق نه لا پوره نه وی اَدَا شوی چه دده نيکئ ختمے شوے نو دپاتے حقدارو ګناهونه ئې په ده واچول او دے به دوزخ ته واچولے شی-

باب ۸۳ رحم او شفقت کول

۴۴۴:- فرمايلی دی رسول الله صلے الله عليه وسلم کوم سړے چه په بنی آدمو رحم نه کوی الله تعالیٰ په ده رحم نه کوی-

باب ۸۴ بنه خبره خلقو ته خودل او د بدو نه منع کول

۴۴۵:- فرمايلی دی رسول الله صلے الله عليه وسلم کوم سړے چه پتا سو کښې د شريعت نه خلاف خبره او وينی نو په لاس دے منع کړی او که دا طاقت ئې نه وی نو په ژبه دے منع کړی او که د دے طاقت ئې هم نه وی نو په زړه کښې دے ئې بد ګڼړی- او دا په زړه سره بد ګڼړل کمزورے ايمان دے-

ف:- بيبيانو! په خپلو بچو او خدمت ګارانو خوستا سو لاس بر دے په ذوړے موږ ئې کوئے- او که دوی سره څه تصوير د کاغذ وغيره وی يا ورسره څه عبث کتاب او وينئ نو فوراً ئې ورله شلوئے- دوی له که دا سے څيزونو يا د آتش بازو باذيا وَه وغيره چه ته هم اجازت مه ورکوئے او مه ورله که دے څيزونو د پاره پيسے ورکوئے-

باب ۸۵ د مسلمان عيب پټول

۴۴۶:- فرمايلی دی رسول الله صلے الله عليه وسلم کوم سړے چه د خپل مسلمان رور عيب پټ کړی- الله تعالیٰ به په قيامت کښې د ده عيب پټ کړی- او کوم سړے چه د مسلمان عيب ښکاره کړی الله تعالیٰ به د هغه عيب ښکاره کړی تر دے پورے چه په کور کښې به ناست وی او شرمنده او رُسوا به شی-

باب ۸۶ د چا په ذلت يا نقصان خوشحاليدل

۴۴۷:- فرمايلی دی رسول الله صلے الله عليه وسلم د خپل مسلمان رور په مصيبت د خوشحالئ اظهار مه کوئے- الله تعالیٰ به په هغه رحم او کړی او تا سو به پکښے اُونښلوی-

باب ۸۷ چا له په څه ګناه بدے ردے ويل

۴۴۸:- فرمايلی دی رسول الله صلے الله عليه وسلم څوک چه يو مسلمان رور ته په څه ګناه باندے پيغور ورکړی نو تر څو پورے چه دا پيغور ورکونکے دغه ګناه اونه کړی تر هغے به مړ نه شی-

ف ؛- یعنې د کوم گناه نه چه هغه توبه ویستلې وي په هغې پېغور ورکول او شرمنده کول لې
بد خبره ده- لیکن که توبه ئې نه وي ویستلې نو بیا د نصیحت په طور خیر دې- لیکن
ځان پاک کنړل یا د هغه د رسوا کولو د پاره ئې ویل ډیره بده خبره ده-

باب ۸۸ **واړه واړه گناهونه کول**

۱۴۹- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم اې عائیشې د وړه وړه گناهونو نه هم ځان ډیر ساته ځکه چه د الله تعالیٰ د طرفنه په دې مؤاخذه کونکي هم موجود دي-

ف ؛- یعنې فرښته دا هم لیکي بیا به په قیامت کښې حساب وي او که عذاب پرې ده-

باب ۸۹ **مور و پلار خوشحاله ساتل**

۱۵۰- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د الله تعالیٰ خوشحالي د مور و پلار په خوشحالئ کښې ده او د الله تعالیٰ ناراضگي د مور و پلار په ناراضه کولو کښې ده-

باب ۹۰ **د رشته دارو سره بد سلوک کول**

۱۵۱- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د هرې جمعې په شپه د ټولو بني آدمو عمل او عبادت د الله تعالیٰ په دربار کښې پیش کیږي- کوم سړے چه د رشته دارو سره بد سلوک کوي د ده هیڅ عمل هم نه قبلیږي-

باب ۹۱ **د بې پلاره بچو پالنه کول**

۱۵۲- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه زه او کوم سړے چه د یتیم بچي پالنه کوي په جنت کښې دغه شان یوځائے یو- په مسواکئ گوته او د مینځ په گوته ئې اشاره او کړه او دواړه ئې په لږه فاصله نیغې ودرولې-

۱۵۳- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه څوک د یتیم په سر لاس راکاږي محض د الله د رضا د پاره نو په څومره ویښتو چه د ده لاس راشي نو د ومره نیکئ به ور ته ملاؤ شي- او څوک چه د یتیم هلک یا جینئ سره احسان او کړي چه د ده سره اوسي نو ځه او دے به په جنت کښې داسې یوځائے او سو لکه د شهادت او مینځنئ گوتې چه یوځائے دي-

باب ۹۲ **ګاونډي له تکلیف ورکول**

۱۵۴- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سړے چه خپل ګاونډي له تکلیف ورکوي دے ما له تکلیف راکوي او څوک چه ما له تکلیف راکوي دے خدائے پاک له تکلیف ورکوي- او چا چه د ګاونډي سره جنګ او کړه ده ما سره جنګ او کړه او چه ما سره ئې جنګ او کړه د خدائے سره ئې جنګ او کړه-

ف :- مطلب دا دے چه بے وجهِ یا په معمولی خبرو ورسره خفګان اوجنګ جړید کار دے -

باب ۹۳ **دَ مسلمان کار کول**

۱۵۵ :- فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړے چه دَ خپل مسلمان رور په کار کښے وی نو الله تعالیٰ دَ دهٔ په کار کښے وی -

باب ۹۴ **شرم او بے شرمی**

۱۵۶ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم شرم دَ ایمان خبره ده او ایمان جنت ته رسوُنکے دے - او بے شرمی دَ بد خوئی خبره ده او بد خوئی دوزخ ته رسوُنکے ده -

ف :- لیکن دَ دین په کار کښے شرم هرګز مه کوه لکه دَ سفر یا واده بنادئی په موقع نیغ اکثر موڼږ نه کوی (او دَ دین دَ خبرے په پټوس کولو کښے هم اکثر شرم کوی) داسے شرم دَ بے شرمئی نه ناکاره دے -

باب ۹۵ **ښهٔ خوئی او بَدْ خوئی**

۱۵۷ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه ښهٔ خوئی ګنا هونه داسے ویلے کوی لکه اوُبه چه دَ ماګے کټه ویلے کوی - او بد خوئی عبادت داسے خرابه وی لکه سرکه چه ګبین خرابوی -

۱۵۸ :- او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه پټاسو تولو کښے ما ته زیات خوښ او په اخرت کښے دَ ټولو نه زیات ما ته نزدے هغه سړے دے چه اخلاق ئے ښهٔ وی او په تاسو کښے دَ ټولو نه زیات په ما بَدْ لږید ونکے او په اخرت کښے مَا نه زیات لرے اوسید ونکے هغه سړے دے چه دَ هغه اخلاق ناکاره وی -

باب ۹۶ **نرمی او ساده ګی تُو**

۱۵۹ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه بے شکه الله تعالیٰ مهربان دے او غوره کوی نرمی او په نرمئی داسے نعمتونه ورکوی چه په سختئی ئے نه ورکوی

۱۶۰ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم څوک چه محروم پاتے شه دَ نرمئی نه هغه دَ ټولو خیګړ و نه محروم پاتے شه -

باب ۹۷ **دَ چا کور کے ننداره کول**

۱۶۱ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم ترڅو چه اجازت وانه خلئ دَ چا کور مه سائی کوئ (یعنے کور ته ئے مه ګورئ ننداره مه کوئ) او که داسے اوکړی نو داسے ګڼړئ چه دے کور ته ننه لاړ شه -

ف :- دَ بعضے ښځو دا بد بختی وی چه دوی دَ واده ناوے او خلقو ته کوری ننداره ے کوی دا ډیره دَ بے شرمئی خبره ده - په حقیقت کښے ننداره کول او ننه ورتلل

يو شي دغه فرق په کښې نشته - دا ډېره د ګناه خبره ده -

باب ۹۸ د چا خبرو ته غوږ ايښودل يا ورته پټ او درېدل

۱۶۲:- فرمايلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم چه کوم سړي د چا خبرو ته غوږ کېښودی او هغه يې بد ګڼړی - د قيامت په ورځ به د ده په غوږونو کښې ويلې کړې سيسه اچوه دي -

باب ۹۹ غصّه کول

۱۶۳:- يو سړي حضور صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړه چه ما ته څه داسې عمل اوښايئ چه ما جنّت ته داخل کړي نو حضوریٔ اوفرمايل غصّه مه کوه - او ستا د پاره جنت دے - (روحاني طبيب ورته د غصې بنده ولو علاج اوخوده)

باب ۱۰۰ خبرې بندول

۱۶۴- فرمايلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم چه حلال نه دي يو مسلمان له چه د خپل رور مسلمان سره د درې ورځو نه زياتې خبرې پاتې کړي او په دې حالت کښې چه مړ شي نو دوزخ ته به ځي - (يعنې په دنيا دي وجه سره خبرې بندې کړي)

باب ۱۰۱ چا ته بې ايمان ويل يا پې لعنت کول

۱۶۵- فرمايلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم چه څوک خپل مسلمان رور ته اووائي چه "اے کافره!" نو داسې ګناه دے لکه چه هغه قتل کړی -

۱۶۶:- فرمايلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم چه په مسلمان لعنت کول داسې دي لکه چه هغه قتل کړي (په دے دواړو احاديثو کښې مطلب دا دے چه د مسلمان قتل کول او يا هغه کافر ويل يا پې لعنت کول يو شان ګناه دے)-

۱۶۷:- او فرمايلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم چه کله يو سړے په څه شي باندې لعنت کوي نو اوّل هغه لعنت آسمان ته خېژي د آسمان دروازے بندې کړے شي - بيا زمکې ته راکوزيږي هغه هم بنده کړے شي بيا ښئ او ګڅ طرفته ځي چه چرته هم ځائے بيا نه مومي نو هغه ته لاړ شي چه په چا لعنت شوے وي که هغه يې لائق وي نو خير او که نه وي نو په ويونکي پړيوځي -

ف ۱- د بعضو ښځو عادت وي چه هرچا ته به خدائے دے اُووهه - خدائے دې د باللہ لعنت اوکړه او چا ته به بې ايمانه وائي دا ډېر ګناه دے که بني آدم يا جانور يا بل شي ته وي۔

باب ۱۰۲ يو مسلمان لره يره ول

۱۶۸:- فرمايلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم چه حلال نه دي يو مسلمان لره چه بل مسلمان اوېره وي -

۶۹:- او فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کوم سړے یو مسلمان ته ناحق په داسے نظر سره اوګوري چه هغه اویره وي نو الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ دے اویره دي راوکړي. (په خطا او قصور وي نو د ضرورت مطابق جائز دي)

باب ۱۰۳ ## د مسلمان عذر قبلول

۷۰:- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کوم سړے خپل مسلمان رور ته عذر وړاندے کړي او هغه ئے قبول نه کړي نو داسے سړے به ځما خواله حوضِ کوثر له رانه شي- ف:- یعنے چه څوک ستا څه قصور اوکړي او بیا هغه معافي اوغواړي نو معافي کول ئے پکار دي-

باب ۱۰۴ ## چغلي کول

۷۱:- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چغلخور به جنت ته نه ځي-

باب ۱۰۵ ## غیبت کول

۷۲:- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سړے چه په دنیا کښے د خپل مسلمان رور غوښه بنے او خوري یعنے غیبت ئے اوکړي الله تعالیٰ به په قیامت کښے د هٔ ته مردارے غوښے وړاندے کړي او دهٔ ته به او ویلے شي چه څنګه تا ژوندی خوړلے وی او س ئے د مړی هم اوخوره پس هغه سړے به دغه خوري او مخ پوزه به ترو ځي او چغے به اوباسي-

باب ۱۰۶ ## په چا بهتان لګول

۷۳:- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سړے چه په یو مسلمان پورے داسے خبره جوړه کړي چه په هغه کښے نه وي نو الله تعالیٰ به دهٔ ته د دوزخیا نو د وینو زوٴو د جمع کید وځائے د اوسید وډپاره ورکړي- تر څو چه د خپلے وینا نه واپس شي او توبه اوکړي-

باب ۱۰۷ ## کم خبرے کول

۷۴:- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سړے چه چُپ اوسي د هٔ یو و افتو نو نه محفوظ وي-

۷۵:- او فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم بغیر د الله د ذکر نه نورے خبرے زیاتے مه کوئے ځکه چه بغیر د الله تعالیٰ د ذکر نه ډیرے خبرے کول زړه سختوي- او په خلقو کښے د ټولو نه زیات د خدائے تعالیٰ نه لرے هغه سړے دے چه د هغه زړه سخت وي-

باب ۱۰۸ ## خپل ځان د ټولو نه کم ګنړل

۷۶:- فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سړے چه د خدائے د پاره تواضع اختیاره وي الله تعالیٰ د هغه مرتبه زیاته وي او کوم سړے

چه تکبر کوی الله تعالیٰ ئې دَ هغه کردنه ماتوی۔ ف:- یعنې ذلیل کوی ئې۔

باب ۱۰۹ **خپل ځان دَ نورو نه لوئے ګنړل**

۷۷:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم داسې سړے به جنت ته لاړنه شي دَ چا په زړه کښې چه ذرې دَ دانې هومره تکبر وي۔

باب ۱۱۰ **رښتیا وئیل او دروغ وئیل**

۷۸:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم چې تاسو رښتیاؤ پابند شئ ځکه چه رښتیا وئیل دَ نیکئ لار ښائي او رښتیا او نیکي دواړه جنت ته بوتله کوي۔ او دَ دروغو ویلو نه ځان ساتئ ځکه چه دروغ وئیل دَ بدئ لار ښائي او دروغ او بدي دواړه دوزخ ته بوتلونکي دي۔

باب ۱۱۱ **دَ هغه يو په مخ کښې دَ هغه خبره کول**

۷۹:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم چه دَ کوم سړي دوه خولې وي په قیامت کښې به دَ هغه کاور دوه ژبې وي۔

ف:- دَ دوه مخونو مطلب دے چه دَ دۀ په مخکښې دَ ده خبره او دَ هغه په مخکښې دَ هغه خبره کوي

باب ۱۱۲ **دَ الله نه سوا په بل چا قسم خوړل**

۸۰:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړي چه دَ الله تعالیٰ نه سوا په بل چا قسم او خوړ نو دۀ کفر او کړه یائې داسې او فرمایل چه دۀ شرک او کړه۔

ف:- لکه چه دَ بعضې خلقو عادت دي چه داسې قسمونه خوري ستا په روح مې دے قسم وي ستا په سر قسم، په خپل بچي، دا ټول منع دي او په یو حدیث کښې دي چه کۀ چا داسې قسم او خوړ نو فوراً دے کلمه اووائي۔

باب ۱۱۳ **داسې قسم خوړل چه کۀ دروغ وايم ایمان مې دِ نصیب نه شي**

۸۱:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړے چه په قسم کښې داسې اووائي چه ایمان مې دِ نصیب نه شي نو کۀ دے دروغژن وي نو ځنګه چه دۀ ویلي دي دغه شان به شي۔ او کۀ رښتونے وي نو بیا ئې هم ایمان پوره نه پاتې کیږي۔

ف:- دغه شان داسې ویل چه کلمه مې دے نصیب نه شي یا دوزخ مې دے نصیب نه شي داسې قسمونه خوړل منع دي داسې قسم خوړلو نه ځان ساتل پکار دي۔

باب ۱۱۴ **دَ لارے نه داسې شے لرے کول چه خلقو ته تکلیف وي**

۸۲:- فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم چه یو سړے په لارے ته او په لارے کښې

یوازې دا رخاخ پسرت وه اوده لرې کې الله تعالیٰ دده دے عمل چېرته راوکړه اودے ئې اوبا خهٔ -
ف :- د دینه معلومه شوه چه داسې شئ په لاره کښې غورزه ول نا کاره خبره ده د بعضې بې تمیزه ښځو داعادت وی چه په غولی کښې به کنګې واچوی کینی به پې او چه دا پاڅی ګنګې به هم په هغه ځائې پریږدی او بل څوک چه راځي ځخلی به ورته اواز تا وبه به پې - دغه شان په لاره کښې بل لوښے کټ یا لرګے وغیره پاتې کول نه دی پکار -

باب ۱۵ **وعده او آمانت پوره کول** ۱۸۳ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه په چاکښې آمانت نشته په ده کښې ایمان نشته (یعنې د داسې خلقو ایمان او دین ناقص دے) او څوک چه د وعدے خیال نه ساتی په ده کښې دین نشته -
ف :- (نو د وعدے او آمانته پوره کولو خاص خیال ساتل پکار دی) -

باب ۱۶ **فال کتونکی یا لاس کتونکی ته تلل** ۱۸۴ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کوم سړے چه د غیبو خبرے خودونکی ته لاړشی او د څه خبرو تپوس تې اوکړی او په هغې یقین اوکړی د دے ځلو یخت ورځو مونځ نه قبلیږی -
ف :- دغه که په چا د پیر یا نوښک وی نوا کثر بیخ ورله ځی او تپوس نه تې کوی چه د خاوند نوکری به م کله اوشی یا ځوئې به م کله راشی وغیره دا تول ګناه دے -

باب ۱۷ **سپے ساتل یا تصویر ساتل** ۱۸۵ :- فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم په کوم کور کښې چه سپے یا تصویر وی دے کورته فرښتې نه راځي -
ف :- یعنې د رحمت فرښتې ورته نه راځي د پیچو هغه د لوبو څیز وته چه تصویر دار وی نو هم منع دی (یعنې د څه جاندارشی تصویر ساتل منع دی) -

باب ۱۸ **بغیر لاچارئ نه پړمخے څملاستل** ۱۸۶ :- رسول الله صلے الله علیه وسلم په یو سړی راغلو چه هغه پړ مخے ملاست وه نو په خپلو خپوئے ورته اشاره اوکړه او اوئے فرمایل چه داسې څملاستل الله تعالیٰ نه خوښوی -

باب ۱۹ **څهٔ په سوری او څهٔ په غرمو څملاستل او کیناستل**

۱۸۷ :- رسول الله صلے الله علیه وسلم د داسې څملاستو او کیناستو نه منع فرمائیلے ده - چه څهٔ په سوری او څهٔ په غرمو وی -

باب ۱۳ **بد فالی او ټوټکے کول**

۸۸ :- فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه بد فالی نیول شرک دے۔

۸۹ :- او فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه ټوټکا کول شرک دے۔

باب ۱۲ **د دنیا حرص نه کول**

۹۰ :- فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه د دنیا په حرص نه کولو سړه زړه ته هم آرام وی او بدن ته هم آرام ملاویږی۔

۹۱ :- او فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه که په چیړو بیزو کښے دوه خون خوار شرمخان پریخودے شی چه هغه یکښے په هر قسم ماتے او کړی نو دومره بربادی د دے بیزو وشا نه رسی لکه څومره بربادی چه د دهٔ دین ته د دے خبرے نه رسی چه د مال حرص کوی او ناموری غواړی۔

باب ۲۲ **مرګ یاد ساتل او بزده او بزده امید ونه تړل او د نیک کار د پاره وخت غنیمت ګڼل**

۹۲ :- فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم هغه شے ډیر یادوئے چه ټول خوندونه قطع کوی یعنے مرګ۔

۹۳ :- او فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه کله د سحر وخت په تا سوراشی نو د ماښام د پاره سوچ مه کوئے۔ او چه کله د ماښام وخت پتا سوراشی نو د سحر د پاره سوچ مه کوئے۔ او د بیمارئے نه اوړل د خپل روغوالی نه څه فائده واخلئ۔ او د مرګ نه مخکښے د خپل ژوند نه څه میوه حاصله کړئ۔

ف :- مطلب دادے چه روغوالے او ژوند غنیمت اوګڼړئ او په نیک کار کښے ئے او لږه ورش په بیمارئ کښے او په مرګ کښے بیا هیڅ نه کیږی۔

باب ۲۳ **په بلا او مصیبت صبر کول**

۹۴ :- فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم مسلمان ته چه کوم درد بیماری مصیبت یا غم رسی تردی چه په څه فکر کښے معمولی پریشانی دی پسے تو لوئے الله تعالیٰ ګناه معافی کوی۔

باب ۲۴ **د بیمار تپوس کول**

۹۵ :- فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه یو مسلمان د بل مسلمان بیمار پرُسی د سحر په وخت کښے او کړی نو تر ماښامه پورے به د دهٔ د پاره اویا زره فرشتے دُعا غواړی او که ماښام او کړی نو د سحره پورے به ورله اویا زره فرشتے دُعا غواړی۔

باب ۲۵ **د مړی لمبول کفن کول او کور والو ته تسلّی ورکول**

۹۶ :- فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه کوم سړے مړی له غسل ورکړی نو د

ګناهونو نه به داسې پاک شي لکه د مور د ګېډې نه چه پیدا شي (یعنې د صغیره ګناهونو نه) او څوک چه په یو مړي کفن واچوي نو الله تعالیٰ به د ګه ته د جنّت جوړه واغوندي وي او څوک چه د یو غم زده تسلّي اوکړي نو الله تعالیٰ به ورته د پرهیزګارۍ جامې ورته واغوندي او په روح به ئې رحمت نازل کړي - او څوک چه چا مصیبت وهلي له تسلّي ورکړي الله تعالیٰ به ده ته د جنّت د جوړو نه داسې قیمتي دوه جوړې واغوندي چه دا ټوله دنیا به ئې هم د قیمت برابر نه وي -

باب ۱۲۶ **په چغو او خبرو سره ژړل**

۹۷ :- رسول الله صلے الله علیه وسلم په بیان کونکے او ژړا کونکے ښځې (یعنې چه په بیان کولو سره ژړا کوي) او د دې په آوریدونکو لعنت فرمائیلے دے -

ف :- بیبیانو! د خدائے په خاطر د داسې ژړا کولو نه توبه اوباسئ -

باب ۱۲۷ **د یتیم مال خوړل**

۹۸ :- فرمائیلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم چه په قیامت کښې به بعضې خلق داسې د قبرونو نه پاڅي چه د دوي د خولو نه به د اور شغلې خیژي چا تپوس اوکړه چه یا رسول الله ص هغه به کوم خلق وي! نو هغوي اوفرمائیل چه تاسو ته معلومه نه ده چه الله تعالیٰ په قرآن مجید کښې فرمائیلي دي چه کوم خلق د یتیمانو مال په ناحقه خوري دغه خلق په خپلو ګېډو کښې د اور سکروټې اچوي -

ف :- د ناحق مطلب دا دے چه د دوي د حقوي د مال د خوړلو حق نشته - نو بیبیانو! او هر یو ئې په هندوستان کښې دا رواج دے چه خاوند مړ شي نو په ټول مال ئې ښځه قبضه اوکړي را او ورلته په پښتون خواه کښې خومشران ئې من ټول مال قبضه کړي) او ماشومان یې محرومه وي را او پښتانه خولونه او ښځې هم ورته په میراث کښې حقه اړ نه کنړي) او بیا د دغه شریک مال نه د میلمنو خرچ او د چا تونو تیل او د چا تونو ته د وړے هر څه پے کوي حالانکه په دغې کښې د یتیمانو او کونډو حق وي - او ټول خرچ په شریکه کنړي او دغه شان روزانه خرچ - او بیا دغه شان د دغې یتیمانو په واده بنا دئ کښې چه څنګه د دوي زړه غواړي خرچ کوي - د شریعت سره خوئ څه کار هم نه وي - دغه شان د شریک مال نه خرچ کول سخت ګناه دے - د هر یو حصّه (د وخت نه) جدا کړئ او د هغې نه خاص د دوي په خرچ کښې چه کله چرته ناچاره شي نو لږه وشئ - که میلمستیا کانے یا خیر خیرات کوئ نو د خپلې خاصې حصّے نه کوئ خو چه د شرع نه خلاف نه وي - دا یا دساتئ ورنه د مرګ نه پس به مو سترې بدے رنړا شي -

باب ۱۲۸ **د قیامت د ورځې حساب کتاب**

۹۹ :- فرمائیلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم چه د قیامت

په ورځ به یو سړے هم د خپل ځائے نه او نه خوزیدے شي۔ تر څو چه د څلورو خبرو د تپوس نه اونه شي (چه د دے څلورو خبرو حساب نه خلاص هم کړے شي) یو دا چه عمر دے په څه کښے ختم کړے دے۔ دویم دا چه کومے مسئلے تا ته معلومے وے په هغے دے کوم عمل کړے دے دریم دا چه مال دے څنګه ګټلے او څنګه دے ختم کړے (لږده ولے دے) څلورم دا چه بدن دے په څه کښے سُو لولے دے۔ (ځوانی دې څه کے خرچ کړے)

ف :- مطلب دا دے چه دا قول کاروښ دے د شرع موافق کړی دی یا د نفس موافق۔

۱۰۰۱- او فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په قیامت کښے به حقوق ادا کول وی۔ تر دے چه د ښکرَ ورے بیزے نه به د بے ښکرو بیزے بدل اخستے شي۔

ف :- یعنے کۀ دے په نا حقه په ښکرو وهلے وی۔

باب ۱۲۹ ۱۰۱- رسول الله صلی الله علیه وسلم په خطبه کښے او فرمایل چه

جنت او دوزخ یاد ساتل

دوه خیزونه هیر لوئے دی دامه هیره وئ۔ یعنے جنّت او دوزخ۔ بیا ئے دا او فرمایل او ویې ئے او ژړل دومره چه په اوښکوئے ګیره مبارکه لونده شوه۔ بیائے او فرمائیل چه قسم دے په هغه ذات چه په قبضه کښے ئے زما روح دے د آخرت کومے خبرے چه ما ته معلومے دی کۀ تا سو ته معلومے شي نو ځنګلو نو ته به اوځئ او په سرونو به خاورے اچوئ او ګرځئ به۔

ف :- بیبیانو! دا یو تسل[۱۰۱] یو حدیثونه دی او خو ځایه په دے کتاب کښے نورحدیثونه هم راغلی دی حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه څوک څلویښت حدیثونه یاد کړی او زما اُمّت ته ئے اورسوی نو د قیامت په ورځ به د عالمانو په صَف کښے پورته کیږی تا سو همّت او کړئ دا حدیثونه نو نورته هم آوره وئ ان شاء الله تعالیٰ د قیامت په ورځ به تا سو هم د عالمانو سره پورته شئ۔ څومره لوئے نعمت په آسانی ملاویږی

باب ۱۳۰

لږ شان حال د قیامت او د هغه د نښو

د قیامت ورے ورے نښے د حضور صلی الله علیه وسلم په احادیثو کښے داسے فرمایلے شوی دی۔ خلق به د خدائے مال خپل ملکیت او ګنړی۔ او زکوٰة به یو درونه بارا و ګنړی۔ او امانت به خپل مال او ګنړی۔ او سړے به د ښځے (په خلاف شرع کارونو کښے) تابعدار شی او د مور نا فرمانی به کوی۔ او پلار به پردے ګنړی۔ او دوست به خپل ګنړی۔ او د دین علم به د دُنیا ګټلو د پاره حاصلوی۔ سرداری او حکومت به داسے خلقو ته ملاؤ شی چه

---

[۱] د قیامت نامے د شاه رفیع الدین رحمة الله تعالیٰ علیه دهلوی نه ۱۲ ز مترجم ابوحسین سواتی (۱۲)
[۲] دا احادیث مسلسل نه دی بلکه شاه رفیع الدین صاحب راجمع کړی دی ۱۲ [۳] صلیب د نصاراؤ یو خاص نښان دے چه دوی ئے تعظیم کوی ۱۲

په تولو کښے به کم اصله وی - یعنے بد ذات، للږلی او بد اخلاقه او کوم چه د یو کار لائق نه
وی هغه کار به هغه ته او سپاره لے شی - او خلق به د ظالمانو تعظیم او خاطر په دے
یره کوی چه تکلیف را نه او نه رسوی - او شراب به په ښکاره سکلے شی او د کښینه ډنکو
سند ربولو ښځو رواج به جوړ شی - او ډولکی، سریندے، دو پړی او نور دا سے
څیزونه به ډیر شی - او وروستی خلق به د امت اوّلنو بزرګانو ته بَدْ رَدْ وَیل شروع
کړی - رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمائی چه په داسے وخت کښے د داسے عذابونو
منتظر اوسئ چه سره سیلئ را شی - او بعضے خلق په زمکه کښے ننوَیستے شی - او د آسمان
نه کانړی او وریږی - او صورتونه بدل شی - یعنے بنی آدم به خنزیران او سپی شی - او
ډیر فتنو نه به وړاندے وروستو زر زر داسے را تلل شروع شی لکه د ډیرو پیلوشو
دانو مزے چه او شلیږی او توله دانے په یو بل د پاسه زمکے ته غورزیدل شروع شی
او دا ښنے هم په احادیثو کښے راغلے دی چه د دین علم به کم شی او دروغ وَیل به هُنر
گنړلے شی - او د آمانتو خیال به د زړو نونه اوځی - او حیا شرم به لاړ شی - او هر طرف
ته به د کافرانو زور شی او دروغ دروغ طریقے به را پیدا شی - چه دا توله نښے ښکاره
شی نو بیا دغه وخت کښے به په تولو ملکونو کښے د نصاری خلقو (عیسایانو) عملدا ری شی
او بیا دغه زمانه کښے به د شام په ملک کښے یو سړے د ابوسفیان د اولاد نه داسے پیدا
شی چه ډیر سیدان به قتل کړی او په شام او مصر کښے به د ده حکم او احکام چلیدل
شروع شی - بیا دغه زمانه کښے به د روم د مسلمان بادشاه د نصاراؤ د یو جماعت
سره لړائی او شی او د نصارا ؤ د یو جماعت سره به صلح اوشی - دشمن جماعت به په
قسطنطنیه ښهر باندے را او خیژی او قبضه به ئے کړی دغه بادشاه به خپل ملک
پریدی شام ته به لاړ شی او د نصاراؤ د دغه جماعت سره به صلح او روغه شی - دا
جماعت به د ځان سره شامل کړی د دشمن جماعت سره به ئے غټ جنګ اوشی او د اسلام
لښکر به فتح او کړی - یو ورځ به د نصاراؤ د موافق لښکر یو سړے د یو مسلمان په
مخکښے او وائی چه څونږد د صلیب په برکت سره فتح اوشوه مسلمان به په جواب کښے
او وائی چه د اسلام په برکت سره فتح او شوه په دے کښے به خبره زیاته شی تردے
چه دواړه به د خپل خپل مذهب خلق راجمع کړی او جنګ به شروع شی او په دے
کښے به د اسلام بادشاه شهید شی او د شام په ملک کښے به هم د نصاراؤ قبضه شی
او دا نصارا به د هغے دشمن جماعت سره صلح اوکړی - او پاتے لږ ډیر مسلمانان چه
[1]وی هغوی به مدینے منوّرے ته لاړ شی - او د خیبره پورے به د نصاراؤ عمل
دخل شی - دغه وخت به د مسلمانانو سره فکر شی چه حضرت امام مهدی علیه السلام
تلاش کول پکار دی چه د دے مصیبتونو نه خلاص شو - دغه وخت به حضرت امام

[1] د مدینے نه څوا کښے یو ځائے دے چه خیبر ئے نوم دے ۱۲

مهدي ؑ په مدینه منوره کښے وي او د دے یوے نه چه حسے نه حکومت ځما سر له
راشي مکے مکرّمے ته به د مدینے منوّرے نه لاړشي۔ او د دغه زمانے اولیاءُ چه د
ابدالو درجه به لري ټول به د حضرت امام مهدي ؑ په تلاش کښے وي۔ او بعضے خلق
به د مهدیت د دروغو دعوه هم اوکړي۔ غرض امام مهدي ؑ به د خانه کعبے طواف
کوي او د حجر اسود[1] او مقام ابراهیم[2] په مینځ کښے به وي چه بعضے نیک خلق به ئے او پیژني
او په زور به ئے اونیسي او خپل حاکم به ئے کړي بیعت به ئے اوکړي او په دے بیعت کولو کښے
به د آسمان نه یو آواز راشي چه حلته موجود ټول خلق به ئے داوري آواز به داوي چه دا
د الله تعالیٰ خلیفه یعنے حاکم جوړ شوے امام مهدي دے۔ او د حضرت امام د ظهور نه
لوئے لوئے نښے د قیامت شروع شي۔ غرض چه د دهٔ د بیعت قصه مشهوره شي نو په
مدینه منوره کښے چه د مسلمانانو کوم فوجونه وي هغه به مکے مکرّمے ته راشي او د
شام عراق او یمن د ملکونو ابدال او اولیاء ټول به د دهٔ په خدمت کښے حاضر شي او نور
به هم د عربو ډیر فوجونه جمع شي۔ کله چه دا خبر په مسلمانانو کښے مشهور شي۔ نو
یو سړے به د خراسان نه د حضرت امام د مدد د پاره یو لوئے فوج رادوان کړي
د دے لښکر د مخکښے تلونکے حصے د سردار نوم به منصور وي۔ او په لاره کښے به د ډیرو
بدِ دینو صفایا کوي او ځي به۔ او د کوم سړي چه بره ذکر راغلے دے چه د ابو سفیان
د اولاد نه به وي او د سیّدانو دشمن به وي۔ نو چونکه امام مهدي به هم سیّد وي
دغه سړے به د امام د مقابلے د پاره یو فوج اولیږي کله چه دا فوج د مکے او مدینے
د مینځ ځنګل ته اورسي او د یو غره لاندے ډیره شي نو دا ټول به په زمکه کښے
ننوځي صرف دوه سړي به ترے بچ شي چه یو به لاړ شي حضرت امام به خبر کړي او
بل به دغه سفیاني ته خبر اورسوي۔ او نصارا به د هر طرفه فوجونه جمع
کړي او د مسلمانانو سره به د جنګ تیاري اوکړي۔ په دے لښکر کښے به دغه
ورځ اتیا جهنډے وي او د هرے جهنډے سره به دولس زره سړي وي نو
ټول خلق به نهٔ لکه ۹۶۰۰۰۰ شپیته زره وي۔ حضرت امام به د مکے نه مدینے ته تشریف
یوسي۔ او د حضور ﷺ د روضے مبارکے زیارت به اوکړي شام ته به روان شي او د
دمشق ته په رسید وسره به د نصارا فوج مقابلے ته راشي۔ د حضرت امام فوج
به درے حصے شي۔ یوه حصه به او تختي او بله حصه به شهیده شي او یوه حصه
به فتح اوکړي او قصه به داسے وي چه حضرت امام به د نصارا وسره د جنګ د پاره
لښکر تیار کړي۔ او ډیر مسلمانان به د یو بل سره قسمونه اوخوري چه بغیر فتح
به نه واپس کیږو۔ پس ټول به شهیدان شي صرف لږ سړي به پاتے شي چه د

[1] حجر اسود د خانه کعبے په دیوال کښے یو کاڼے دے ۱۲ [2] د ابراهیم یو کاڼے دے ۱۲

هغوی سره به حضرت امام خپل لښکرته راشي - بیا وروځ به بیا دغه شان قصه وی په قسم به اوخوړی او لاړبه شي او لښ به تې بیخ شي او وا پس به شي - او په دریمه ورځ به هم داسې اوشي - آخر په څلورمه ورځ به دا لښ شان بشری مقابله اوکړی او الله تعالیٰ به فتح ورکړی - او بیا به د کافرانو په دماغو کښې د حکومت کولو حوصله پاتې نه شي - نو اوس به حضرت امام د ملک بند وبست شروع کړی او هر طرفته به فوجونه روان کړی او بخپله چه د دې تولو کارونو نه وزګار شي نو د قسطنطنیه د فتح کولو د پاره به روان شي چه د دریائے روم غاړې ته اورسی نو د بنو اسحٰق اویا زره سړی به په کشتو کښې سواره کړی د دې ښهر د فتح کولو د پاره به ئے مقرر کړی - چه دا خلق د ښهر دیوال ته اورسی نو اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ به په اوچت آواز سره اووائی - د دې نوم په برکت سره به د ښهر د دیوال مخکښې حصه راوغورزیږی او مسلمانان به حمله اوکړی ښهرته به ورننوځی او کفار به قتل کړی - او په ښه انصاف او قاعدې سره به د ملک بند وبست کوی - او د حضرت امام د بیعت نه د دې فتح پورې به شپږ یا اووه کاله موده تیره شي - حضرت امام به د دې ځائے په بند وبست کښې وی چه یو دروغ خبر به مشهور شي چه د لته نه پس ستا په حلته په شام کښې دجّال راغے او ستاسو په خاندان کښې فتنه او فساد کوی - د دې خبر سره به امام شام ته په سفر شي او د حال معلومولو د پاره به نهه یا پنځه سواره مخکښې اولیږی - نو د هغوی نه به یو سړے واپس راشي چه هغه خبر محض غلط وه - تر اوسه لا دجّال نه دے راوتے حضرت امام به په آرام شي او په تلاره به سفر شروع کړی په لارے به د ملکونو د انتظام بند وبست کوی شام ته به اورسی او بیا به لږ ورځې پس دجّال هم راوځی - دجّال به د یهودیانو د قوم نه وی اول به د شام او عراق په مینځ کښې ښکاره شي - او د نبوّت دعوه به اوکړی - بیا به اصفهان ته اورسی او د هغه ځائے اویا زره یهودیان به ئے ملګری شي او د خدائے دعوٰی به شروع کړی دغه شان په ډیرو ملکونو به تیر شي د یمن سرحد ته به اورسی او د هر ځائے نه به ورسره ډیر بد دینه ملګری کیږی تر دې چه مکے معظمے ته به رانزدې شي لیکن د فرشتو د حفاظت په وجه به ښهرته دننه نه شي تلے - بیا به د هغه ځائے نه د مدینے اراده اوکړی هلته به هم د فرشتو پهره وی چه دننه به ئے نه پریدی - لیکن د دې پیرے به په مدینه باندې زلزله راشي او خومره خلق چه په دین کښې کمزوری او سست وی د زلزلے په وجه به اوویریږی او د ښهر نه به راووځی او د دجّال په دام کښې به اونښلی - دغه وخت به په مدینه کښې یو بزرګ وی چه د دجّال سره به خه بحث اوکړی - دجّال به غصّه شي قتل به ئے کړی او بیا به ئے ژوندے کړی او دورته به اووائی چه اوس خو خدائے الٰهٔ

دے او منله - هغه به ورته اووائی چه اوس م بنه یقین شه چه ته دجال یې او بیا به ئ دجال مړ کوی خو مړ به ئے نه کړے شی او هیڅ شے به په اثر نه شی کولے - دغه ځائے نه به دجال شام ته روان شی کله چه دمشق ته نزدے شی نو حضرت امام به هلته د مکځنے نه رسیدلے وی او د جنګ په سامان کښے به مشغول وی چه د مازیګر وخت شی او مؤذن آذان اوکړی خلق به د مانځه تیاری کوی چه په دے کښے به ناڅاپه حضرت عیسیٰ علیه السلام د دوه فرښتو په اوږو لاس ایښودلی د آسمان نه راکوزیدونکے او لیدے شی - او د جامع مسجد په مشرقی مناره به راشی او درېږی او آنډز پایه به ورته کیدی لاندے به راکوز شی - حضرت امام به د جنګ ټول سامان هغه ته سپارل اوغواړی لیکن هغوی به او فرمائی چه د جنګ سامان پخپله کوه زه خو خاص د دجال د قتل د پاره راغلے یم - غرض چه سحر شی حضرت امام به لښکر برابر کړی - او حضرت عیسیٰ علیه السلام به یوازې یوه نیزه اوغواړی دجال طرفته به روان شی او مسلمانان به د دجال په لښکر حمله اوکړی او سخت جنګ به اوشی او دغه وخت به د حضرت عیسیٰ علیه السلام په ساه کښے دا تاثیر وی چه کوم ځائے ته نظر د سی هغه ځائے ته به د هغوی د ساه هوا رسی او چه کوم یو کافر ته دغه هوا رسی فوراً به هلاکیږی - دجال چه حضرت عیسیٰ علیه السلام اوویني نو په تېخته به شی - او دوئ به ورپسے شی تردے چه باب لُد یو مقام دے هلته اورسی نو په نیزه به ئے کار تمام کړی - او مسلمانان به د دجال لښکر قتلول شروع کړی - بیا به حضرت عیسیٰ علیه السلام په ټولو ښهرونو اوګرځی او خو مره خلق چه دجال آزار کړی وی د هغو ټولو تسلّی به اوکړی او د خدائے تعالیٰ په فضل سره به یو کافر هم پاتے نه شی دغه وخت - بیا به حضرت امام وفات شی او ټول انتظام به د حضرت عیسیٰ علیه السلام په لاس کښے راشی - بیا به یاجوج ماجوج راوځی - د دوی د اوسیدو ځائے شمال طرفته کوم ځائے چه آبادی ختمیږی د دینه هم وړاندے اوده ولایته یا صحرے او د دغه ځائے سمندر د زیاتے یخنئ په وجه دائم جام شوے دے چه جهاز به کښے هم نه شی چلید ے - حضرت عیسیٰ علیه السلام به مسلمانان د خدائے تعالیٰ د حکم مطابق طور غرته بوځی - او یاجوج ماجوج به تباهی جوړه کړی آخر الله تعالیٰ به دوی هلاک کړی او عیسیٰ علیه السلام به د غره راکوز شی - او خلو یښت کاله پس به حضرت عیسیٰ علیه السلام وفات شی - او د حضور صلے الله علیه وسلم په روضه مبارک کښے به دفن شی - او د دوی په ځائ به د یمن یو سړے کښی چه نوم به ئے جهجاح وی او د قحطان د قبیلے نه به وی او ډیر په دینداری او په انصاف سره به حکومت اوکړی د ده نه پس به پرلپسے نور ډیر بادشاهان وی -

بیا به ورو ورو نیکے خبرے کیدل شروع شی او ناروا خبرے به روزیاتیږی دَغه وخت به په آسمان یو لوګے خور شی او په زمکه به راؤ وَریږی چه مسلمانان به تے یخنی او وهی او کافران به پرے بے هوشه شی غلوینځت ورځے پس به آسمان صاف شی ادغے زمانے ته به نزدے دَ لوئے اختر میاشت وی۔ دَ لسم تاریخ نه پس به ناڅاپه یوه شپه دومره اوږده شی چه مسافر به اوږیږی او چی به په خواب ستړی شی او ښاروی به دَ باهر و تو دَ پاره نعرے جوړے کړی خو په هیڅ شان به نهٔ سحر کیږی تردے چه ټول خلق به دَ یرے نه او دَ هیبت نه بے قراره شی۔ چه دَ درے شپو برابر شپه تیره شی نو دغه وخت به نمر دَ لږ رڼا سره لکه چه تند رنیولے وی دَ مغرب دَ طرفنه را اوچت شی۔ دغه وخت به بیا دَ چا ایمان یا توبه نه قبلیږی هرکله چه نمر دَ غرمے ځائے له راشی نو بیا به دَ خدائے تعالیٰ په حکم سره مغرب طرفته واپس شی او په زړه طریقه به بیا پریوځی او راخیژی، او دَ ځکینے پښان به رونړ او صفا وی۔ دَ دینه لږ ورځے پس به دَ صفا غره نه چه په مکه کښے دے یو ځناور په ډیر عجیبه شکل او صورت سره رابهر شی دَ خلقو سره به خبرے کوی او ډیر په تیزئ سره به په ټوله دُنیا کښے اوګرځی او دَ ایماندارو په تند وبه دَ حضرت موسیٰ علیه السلام په عَصَا سره یوه نورانی کَرښه راکاږی چه دَ هغے په وجه به ئے ټول مخ روښانه شی او نورانی به شی۔ او دَ بے ایمانو په پوزه یا مړئ دَ حضرت سلیمان علیه السلام په ګوتئ تو د مُهر او وهی چه په هغے سره به ئے ټول مخ تور شی۔ او چه دا کار او کړی بیا به وُرک شی دَ دینه پس به دَ جنوب دَ طرفنه یوه ډیره خوشحالونکے هوا راوالوزی او دَ ټولو مؤمنانو په ترخو نو کښے به دَ دے په وجه څهٔ راوخیژی چه دوی به پرے مړه شی۔ چه ټول مسلمانان مړه شی نو دغه وخت به دَ کافر و حبشیانو په ټوله دنیا کښے عمل دخل شی۔ او دغه خلق به خانه کعبه شهیده کړی او حج به بند شی او قرآن مجید به دَ زړونو او کاغذونو نه اوچت شی۔ او دَ خدائے پاک نه یره او دَ مخلوق نه شرم ټول به پورته شی او هیڅوک الله الله ویونکے به پاتے نه شی۔ دغه وخت به دَ شام په ملک کښے ډیره ارزانی وی خلق به په اوښانو او په سوارلو پیدل هغے طرفته روان وی او کوم چه پاتے شی یو اور به پیدا شی او ټول خلق به شړی شام ته به ئے اوُرَسوی او حکمت په دے کښے دادے چه دَ قیامت په ورځ ټول مخلوق په دغه ملک کښے جمع وی بیا به هغه اور ورک شی او دغه وخت به دنیا ډیره ترقی اوکړی درے څلور کاله به په دے حال تیر شی چه ناڅاپه به دَ جمعے په ورځ دَ محرم په لسم تاریخ دَ سحر په وخت کښے ټول خلق په خپل خپل کار کښے لګیا وی چه شپیلئ به اوُ وَهلے

شي اول به نرے آوازوي بيا به روروړو مره زيات شي چه د هيبت نه به ئے
ټول مړه شي ځمکه آسمان به خيرے شي او دنيا به فنا شي۔ (بعضے وائي چه دا اته
څيزونه د فنا نه مستثنىٰ دي عرش کرسي لوح قلم جنت شپيلۍ دوزخ ارواحان۔ او بعضے
وائي چه د لږ وخت د پاره به دا هم فنا شي) او کله چه نمر د مغرب نه راختلے وه د هغے
وخت نه د شپيلۍ پورے به د شپږ شلے کالو زمانه وي۔ اوس به د دينه د قيامت ورځ
شروع شي۔

باب ۱۳

خاص د قيامت د ورځے ذکر

چه په شپيلۍ سره ټوله دنيا فنا شي نو څلويښت کاله به د دے خاموشۍ په حالت
کښے تير شي بيا به د الله تعالىٰ په حکم سره په دويم وار شپيلۍ اووهلے شي او بيا به
ځمکه آسمان دغه شان قائم شي او مړي به د قبرونو نه راپورته کړے شي او په
ميدان د قيامت کښے به راجمع کړے شي او نمر به ډير نزدے شي چه د ګرمۍ نه به
ئے مازغه د خلقو خوټ کيږي او د حسرۍ نه به د ګناه په مقدار خوله اوځي
او خلق به په دے ميدان کښے د لوږے او تندے نه پريشانه شي۔ کوم خلق چه
نيکان وي د هغوي د پاره به د دغے ميدان خاورے د ميدے پشان جوړے کړے
شي چه دوي به ئے خوري او لوږه به ئے مړه وي او چه تږي کيږي نو حوض کوثر له به ځي
نو کله چه په اودريدو وستړي شي نو ټول به په جمع حضرت آدم عليه السلام ته او بيا
نورو پيغمبرانو ته د دے خبرے د سفارش د پاره ځي چه ځمونږ حساب کتاب او فيصله
دے ژر اوشي ټول پيغمبران به عذر اوکړي او د سفارش وعده به نه کوي د ټولو
پس به ځمونږ نبي کريم صلے الله عليه وسلم ته راجمع شي او درخواست به اوکړي دوي به
ئے د خدائے تعالىٰ په حکم سره منظور کړي مقام محمود ته (چه د يو مقام نوم دے) تشريف
به يوسي شفاعت به کوي۔ د حق تعالىٰ نه به ارشاد اوشي چه مونږ ستا سفارش قبول کړو
اوس به زه دنيا ته تجلّي اوکړم حساب کتاب به شروع کړم۔ اول به د آسمان نه فرښتے ډيرے
په کثرت سره راکوزيدل شروع شي او ټول بني آدم به د هر طرفه ګيره کښے اونيسي بيا
به د حق تعالىٰ عرش راکوز شي چه د حق تعالىٰ تجلّي به وي په او حساب کتاب به شروع شي
او اعمالنامے به راوالوزولے شي د ايماندارو به ښۍ لاس کښے او د بدعملو به ګيڼ لاس
کښے به خوربخود را شي او د عملو نو تللو د پاره به تله اودروے شي چه په هغے به
ټولے نيکۍ او بدۍ معلومے کړے شي۔ او په پُل صراط به د تللو حکم اوشي۔ د چا چه نيکۍ
په تول کښے سوا شي هغه به په پُل پورے وځي جنت ته به لاړ شي۔ او د چا چه ګناهونه
زيات شي نو که الله تعالىٰ ئے معاف نه کړي هغه به دوزخ ته اوغورځيږي۔ او د چا
چه نيکۍ او بدۍ برابر شي نو د جنت او دوزخ په مينځ کښے يو ځائے دے چه اعراف ورته

داڼې هلته به پاتې شي - دَدینه پس به حمو نبي پیغمبر صلی الله علیه وسلم او نور پیغمبران علیهم السلام او عالمان اولیاء او شهیدان او حافظان او نیک بندګان دګناهګارو شفاعت کوي - ځوي شفاعت به قبول وي او دچا په زړه کښې چه ذراشان ایمان هم وي کَه دوزخ ته به لاړ او څما او جنت ته به داخل شي - دغه شان دَاعراني خلق به هم اخر کار جنت ته داخل شي او په دوزخ کښې به صرف کافران او مشرکان پاتې شي - او داسې خلقو ته به چرته دَدوزخ نه وتل نصیب نه شي - چه کله ټول جنتیان او دوزخیان په ځپل ځپل ځائې شي نو دغه وخت به الله تعالیٰ دَجنت او دوزخ په مینځ کښې مرګ دَ یو ګډ په شکل کښې حاضر کړي او ټولو دوزخیانو او جنتیانو ته به ئې او ښائې دَدوي په مخ کښې به ئې ذبحه کړي او او به فرمائي چه اوس به جنتیانو او دوزخیانو ته مرګ نه راځي ټول به اوس په ځپل ځپل ځائې دَهمیشه دَپاره اوسي - نو دغه وخت به نه دَجنتیانو دَخوشحالۍ څه حد وي او نه دَدوزخیانو دَغم او تکلیف څه حد وي -

باب ۳۲

دَجنت دَنعمتونو او دَدوزخ دَمصیبتونو ذکر

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي - الله تعالیٰ فرمائي چه ما دَخپلو نیکو بندګانو دَپاره داسې نعمتونه تیار کړي دي چه نه چا سترګو لیدلي دي او نه چا غوږ ونو اوریدلي دي - او نه دَچا بني آدم په زړه کښې دَهغې خیال راغلے دے - او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه دَجنت دَآبادئ یوه څخته دَسپینو او بله دَسرو ده او ختّه ئې دَخالصو مشکو ده او دَجنت کیتئ ملغلرے او یاقوت دي او خاوره ئې زعفران دي څوک چه جنت ته لاړ شي په آرام او راحت به وي غم او تکلیف به او نه وینی او همیشه همیشه به په کښې اوسي چرته به نه مري - نه به ئې کپړے خیرنیږي او نه به ئې ځواني ختمیږي - او فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په جنت کښې دوه باغونه داسې دي چه دَهغه ځائې لوښي او ټول سامان به دَسپینو وي - او دوه باغونه داسې دي چه دَهغه ځائې لوښي او ټول سامان به دَسرو وي - او فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په جنت کښې سل درجې دي لاندې باندې او دَیوے درجې نه دَبلې درجې پورے دومره فاصله ده لکه دَزمکے او آسمان فاصله چه ده - یعنې پنځه سوه کاله او په ټولو درجو کښې لویه درجه دَفردوس ده - او دَدې نه دَجنت څلور واړه نهرونه وتي دي یعنې دَپیو، شهدو، شرابو او اوبو نهرونه - او دَدے نه پورته عرش دے - تاسو چه دَالله پاک نه غواړئ نو جنت فردوس ترے غواړئ او دائې هم فرمایلي دي چه په جنت کښې یوه یوه درجه دومره لویه ده چه که دَټولے دُنیا مخلوق په دے یوه کښې کینولے شي نو راباسي په کښې - او فرمایلي دي

رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په جنت کښې څومره وُنې دی د ټولو ونې د سرو دی - او دا سې ئې هم فرمايلي دی چه کوم خلق چه د ټولو نه اول جنت ته ځي د هغوی مخونه په دا سې رو ښانه وی لکه د څوار لسمې سپوږمۍ - بيا چه کوم دوی نه وروستو ځي د هغوی مخونه په د تيزې رنړا والا ستوری پشان وی - نه به هلته د تشو بولو کولو ضرورت وی او نه د چو بولو نه د لاړو توکلو او نه د پوزې سونړه د لو - منګزې به د سرو وی او خوله به د مشکو پشان خوشبويه وی چاتې تپوس اوکړه چه بيا دا خوراک به چرته ځي - اوئې فرمايل چه يوا ګړقې به کوی چه د مشکو خوشبو به وی په کښې - او فرمايلي دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په جنتيانو کښې د چادرجه د ټولو نه کمه وی الله تعالی به تې تپوس اوکړی چه که تا ته د دنيا د يو بادشاه د ملک برابر درکړے شي نو ته به راضي شې هغه به اووائي اے پروردګاره زه راضي يم. نو ارشاد به اوشي چه زه تا ته د هغه پنځه چنده درکړے شه - هغه به اووائي اے ربه زه راضي شوم بيا به ارشاد اوشي چه زه تا ته دومره درکړے شوه اوکړ دے لس چنده نور او د دينه علاوه چه څه شے ستا زړه غواړی او په څه چه ستا سترګې خوه بديږی هغه به درته ملاؤ شي - او په يو روايت کښې دی چه د دنيا او د د دے د لس چنده زيات به ورته ملاؤ شي - او فرمايلي دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه الله تعالی به د جنتيانو نه تپوس اوکړی چه تا سو خوشحاله هم يئ - هغوی به عرض اوکړی چه ولې به خوشحاله نه يو تا مونږ له هغه څيزونه راکړی دی چه کو نه پورے دے چا مخلوق له نه دی ورکړی - ارشاد به اوشي چه زه به تا سو له دا سې شے درکړم چه د دے ټولو نه زيات وی - دوی به عرض اوکړی چه دا به څه شے وی - ارشاد به اوشي چه هغه شے دا دے چه زه به ستا سو نه هميشه خوشحاله يم چرته به نا راضه نه شم - او فرمايلي دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله جنتيان جنت ته لاړ شي - الله تعالی به ورته او فرمائي چه تا سو نور زيات څه غواړئ چه زه ئې درکړم دوی به عرض اوکړی چه ته مونږ مخونه دے روښانه کړه جنت ته دے داخل کړو د دوزخ نه دے خلاصے راکړه نور مونږ څه غواړو - دغه وخت به الله تعالی پرده پورته کړی دومره خوږ به بل نعمت نه وی څومره چه د الله تعالی ديدار دے او خوښ ئې دے - او فرمايلي دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دوزخ د زرو کالو پورے بل کړے شه تر دے چه رنګ ئې سور شه بيا زر کاله بل کړے شه تر دے چه سپين شه بيا زر کاله نور بل شه تر دے چه رنګ ئې تور شه او س هغه بالکل تک تور دے - او فرمايلي دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه ستا سو دا اور چه تا سو ئې بلوئ د دوزخ د اور نه اويا درجې کم دے هغه د دے اور نه اويا درجې زيات تيز دے - او فرمايلي دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم چه که یو ګټه د دوزخ په غاړه پریخودې شي او اویا کاله برابر روانه وی نو پس د اویا کلو نو به د دوزخ ویخ ته اورسي- او فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دوزخ به راوستې شي اویا زره واګې به ئې وي او هره یوه واګه به اویا زره فرښتو نیولې وي چه په هغې به ئې راکاږي- او فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د ټولو نه سپک عذاب به د یو سړي وي چه د هغه په خپو کښې به نقط د اور دوه پیزار وي لیکن د دینه به د ده مازغه د کټوئ په شان خوټکیږي او دے به داسې ګڼړي چه په ټولو کښې ما عذاب ډیر زیات دے- او فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه چه په دوزخ کښې دومره لوئے ماران دي لکه اوښان چه یو وار دوزخي اوچیچي نو څلویښت کاله به ئې زهر خیژي او لړمان د کته شو وغیره نو هومره دي که دوی ئے او چیچي نو څلویښت کاله به ئې چیچے د زهرو په بدن روانې وي- او یوه پیره حضور صلی الله علیه وسلم او که په ممبر تشریف راوړه نو اوئے فرمایل چه ما نن په مانځه کښې د جنت او دوزخ هُوبهو نقشه اولیدله- د ننه پورې ما نه د جنت نه زیات خه شے لیدلے دے او نه د دوزخ نه زیات د تکلیف ځائے۔

باب ۲۳ دَهغې خبرو بیان چه بغیر دهغې نه ایمان نیمګړے وي

په حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه څه د پاسه اویا خبرې د ایمان متعلق دي د ټولو لویه خبره خو کلمه طیبه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ده- او د ټولو وړه خبره دا ده چه په لاره کښې څه ازغے کټه یا لرګے پروت وي چه خلقو ته تکلیف وي او هغه لرې کړي- او شرم حیا هم د ایمان د دې خبرو نه یو لوئے ښے دے- د دے ارشاد نه معلومه شوه چه دومره خبرې هر څله د ایمان سره تعلق لري نو پوره مسلمان هغه دے چه دا ټولې خبرې په کښې وي او په چا کښې چه څه خبرې وي او څه نه وي هغه نیمګړے مسلمان دے او په دے خو هر څوک پوهیږي چه مسلمان پوره پکار دے نو په دے وجه هر یو له لازمه شوه چه دا ټولې خبرې پیژان کښې پیدا کړي او کوشش کوي چه د څه خبرې نیمګړتیا په کښې رانشي نو په دے وجه اوس مونږ دغه خبرې لیکوو خایو ئې- هغه ټولې خبرې اوه د پاسه اویا دي د ټیرش د زړه سره تعلق لري ۱- په الله تعالیٰ ایمان راوړل ۲- دا عقیده لرل چه د خدائے نه سوا چه څه دي دا ټول اول پیدا نه وو بیا خدائے تعالیٰ پیدا کړل ۳- په فرشتو یقین لرل چه شته دے ۴- دا یقین کول چه څومره کتابونه خدائے پاک په پیغمبرانو نازل کړي دي ټول رښتوني وو البته اوس د قرآن نه سوا د نورو احکام منسوخ شوي دي- ۵- دا یقین کول چه ټول پیغمبران رښتوني

دی البته او س فقط د حضور صلے الله علیه وسلم په طریقه د چلیدو حکم دے ۶-۱ دا
یقین کول چه الله تعالیٰ د هر څه نه مخکښے خبر دے او څه چه هغه ته منظور وی هغه کیږی.
۷- دا یقین کول چه قیامت راتلونکے دے ۸- جنّت منل ۹- دوزخ منل ۱۰- د الله
تعالیٰ سره محبت ساتل ۱۱- د رسول الله صلے الله علیه وسلم سره محبت ساتل ۱۲- د
بل چا سره هم چه محبت او دوستی یا دُشمنی کوی نو د الله تعالیٰ په واسطه کول
۱۳- په هر کار کښے نیّت د دین کول ۱۴- په ګناهونو پښیمانی کول ۱۵- د خدائے
تعالیٰ نه یریدل ۱۶- د خدائے تعالیٰ د رحمت امید لرل ۱۷- شرم کول ۱۸- د
نعمت شکر کول ۱۹- وعده پوره کول- ۲۰- صبر کول ۲۱- ځان د نورو نه
کم ګنړل ۲۲- په مخلوق رحم کول ۲۳- څه چه د خدائے د طرفه وی په هغې راضی
کیدل ۲۴- په خدائے بهروسه کول ۲۵- په خپله څه خوبئ ځان نه خودل
۲۶- د چا سره کینه بغض نه ساتل ۲۷- په چا حسد نه کول ۲۸- غصّه نه
کول ۲۹- د چا بد نه غوختل ۳۰- د دنیا سره محبّت نه ساتل-
او اوږه خبرے د ژبے سره تعلق ساتی- ۳۱- په ژبه کلمه ویل ۳۲- قرآن
شریف لوستل ۳۳- علم ازده کول ۳۴- دُعا کول ۳۵- علم خودل ۳۶- د
الله ذکر کول- ۳۷- لغوه او د ګناه خبرے اترے لکه دروغ غیبت کنځل خبرے
خلاف شرع سندرے د دینه ځان ساتل- او ځلویښت نه خبرے د ټول بدن سره
تعلق ساتی- ۳۸- او دس کول، غسل کول، د کپړو پاک ساتل ۳۹- د مانځه
پابندی کول ۴۰- زکوٰة او سرسایه ورکول ۴۱- روژه نیول ۴۲- حج کول
۴۳- اعتکاف کول ۴۴- کوم ځائے چه په او سید و کښے دین خرابیږی د هغې ځائے
نه تلل ۴۵- نذر د خدائے پاک پوره کول ۴۶- کوم قسم چه د ګناه په خبره
نه وی د هغې پوره کول ۴۷- د مات کړی قسم کفاره ورکول ۴۸- څومره بدن
پټول چه فرض دی هغه پټ ساتل ۴۹- قربانی کول ۵۰- د مړی کفن کول
۵۱- د چا چه پے قرض وی هغه ادا کول ۵۲- په معاملو کښے د خلاف شرع خبرو نه
ځان ساتل ۵۳- د رشتینی ګواهی نه پټول ۵۴- که د نفس خواهش وی نو نکاح
کول ۵۵- څوک چه تے ماتحت وی د هغوی حق ادا کول ۵۶- مور و پلار ته
آرام رسول ۵۷- د اولاد پرورش کول ۵۸- د رشته دارو او تعلق دارانو سره
بد سلوک نه کول- ۵۹- د مالک تابعداری کول ۶۰- انصاف کول ۶۱- د مسلمانانو
د جماعت نه ځان له څه طریقه نه جوړول ۶۲- د حاکم تابعداری کول مګر په خلاف
شرع کارونو کښے ئے نه کول ۶۳- د جنګیدونکو په مینځ کښے صلح کول ۶۴- په نیک
کار کښے مدد کول ۶۵- نیکه لار ښودل د بدے نه منع کول ۶۶- که حکومت وی نو
د شرع موافق سزا ورکول ۶۷- چه وخت راشی نو د دین د دشمنانو سره جنګیدل

۶۸- آمانت ادا کول ۶۹- ضرورتمند له قرضه ورکول ۷۰- د کمزوري خاطر مدارکول ۷۱- پاکه آمدني اغستل ۷۲- خرچ د شریعت موافق کول ۷۳- د سلام جواب ورکول ۷۴- که څوک پرنجي او کړي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او وائي نو په جواب کښې يَرْحَمُكَ اللهُ ويل ۷۵- چا ته ناحق تکليف نه ورکول ۷۶- د خلاف شرع لوبو تماشو نه ځان بساتل ۷۷- په لاره کښې کتهه لوته غټه لرګي وغيره پروت وي هغه لرې کول- که څه اګر ادَ تو لو خير و ثواب معلومول غواړې نو "فروغ الايمان" يو کتاب دے هغه او ګوره-

باب ۳۴ دَخپل نفس او عامو خلقو خرابي

بره چه څومره بنے او بدے خبرے او د ثواب او عذاب ځيزونه بيان شو په دے کښې دوه ځيزونه خپل دام خوره وي او بنده راګيره وي يو خپل نفس چه هرو خت په غيږ کښې ناست قسم قسم خبرے سوچ کوي په نيکو کارونو کښې بهانے راوباسي او په ناکاره کارونو کښې خپل ضرورتونه مخے ته کوي- او د عذاب نه ډيرے په مقابله کښې د خدائے غفور او رحيم نوم راياد وي او د بره پے شيطان پانے تکوي- او بل دا م کيږدونکے هغه خلق دے چه څه قسم واسطه ورسره ساتي يا خپل خپلوان وي يا يار دوست دے- يا د ځن نز ولي او دور ولي خلق دے يا د کلي خلق دے- بعضے ګناه خو په دے وجه کيږي چه د دوي سره ناست پاست وي، او اثر پے کيږي او بعضے د دوي د خاطره کيږي- او بعضے په دے وجه چه د دوي په نظر کښې سپک راته شي- او بعضے ګناه ځکه کيږي چه دغه خلق ورسره بد کوي نو څه وخت د دوي د بدي په غم کښې او څه وخت د دوي په غيبت کښې او څه وخت د دوي نه د بدلے اغستو په فکر کښې خرچ کيږي او بيا د دينه قسم قسم ګناهونه پيدا کيږي غرض تعل ګناهونه د دے نفس په تابعدارئ او د خلقو سره د رواج ساتلو نه دي نو د دوي د خرابونه د بچ کيدو دوه خبرے ضروري شوے- يو خپل نفس قابو کول او د دين په لاره کښې بيده ول دويم د خلقو سره زيات لګاؤ نه ساتل او د دے خبرے پروا نه کول چه خلق به بنه وائي او که بد نو په دے وجه اوس دا دواړه ضروري خبرے جدا جدا ليکلے شي-

باب ۳۵ نفس سره دَرواج بيان

په پابندئ سره لږشان وخت د سحر او لږشان وخت د ماښام ياد او دهٔ کيدو په وخت کښې مقرر کړئ او دغه وخت يواځے کينه او خپل زړه ترڅو پورے چه کيدے شي د تو لو خيالونو نه خالي کړه- د خپل زړه سره دا سے خبرے کوه او نفس ته داسے وايه

چه اے نفسه خۀ پوهه شه ستا مثال په دنیا کښې دَ یو سوداګر په شان دے عُمر دے پانګه ده او نفع ئې داده چه دَ آخرت نجات حاصل کړے که دا دولت دے حاصل کړه نو په سوداګرئ کښې دِ نفع اوکړه- او که عُمر دے دغه شان برباد کړه او نیکی او دَ آخرت نجات دے حاصل نۀ کړه نو په سوداګرئ کښې دے ډیر تاوان او شوه پانګه دے هم لاړه او نفع دے هم حاصله نۀ کړه- او دا پانګه دومره قیمتی ده چه دَ دے یوه یوه ګهړئ بلکه یو یو ساه بے انتها قیمت لری او هر څومره لوئ خزانه چه وی دَ دے برابری نۀ شی کولے ځکه چه خزانه که ختمه شی نو په کوشش بیا بیا حاصلیدے شی او دا عُمر چه څومره تیر یږی نو دَ دے یو سیکنډ بیا نۀ شی واپس کیدے او نۀ بل عُمر بیا ملاویدے شی- بلکه دا چه په دے عُمر څومره لوئ دولت ګټلے شی یعنے دَ همیشه دَ پاره جنت او دَ خدائے تعالیٰ خوشحالی او دیدار دومره لوئے دولت په بله یوه خزانه څوک نۀ شی ګټلے- نو په دے وجه دا پانګه دَ ډیر لوئے قدر او قیمت شو او اے نفسه دَ الله تعالیٰ احسان اُومنه چه اوس لا ستا مرګ نۀ دے راغلے چه دا عُمر دے ختم کړی خدائے تعالیٰ دا نن ورځ دَ ژوندیه درکړه که مرګ دے راغے نو که بیا په زرګله په ژړه او دوه سره آرزو ګانے کوے چه یوه ورځ بله ملاؤ شی او زۀ په کښې رشتونی توبه اوباسم او پخه وعده دَ الله تعالیٰ سره اوکړم چه بیا به داګناهونه کوم او هغه ټوله ورځ به دَ الله تعالیٰ په یاد او تابعدارئ کښې تیره کړم- نو چه دَ مرګ په وخت کښې ستا دا حال وی نو داسے اوګڼړه چه دا ګما دَ ژوند آخری ورځ ده او زۀ مړ کیدم خو ګما په سوال الله تعالیٰ دا یوه ورځ راکړے ده- او دَ دے ورځے نه پس معلومه نۀ ده چه بله ورځ ژوندی شے او که نه- نو دا ورځ داسے تیره ول پکار دی لکه چه دا دَ ژوند آخیری ورځ وی- او ټول ګناهونه توبه اوکړه او ټوله ورځ په توبه او استغفار کښې تیره شی- او یو حکم هم دَ الله تعالیٰ پاتے شوے چه هغه ورځ تیره شی نو بله ورځ بیا داسوچ اوکړه چه شاید دا دَ ژوند آخری ورځ وی او اے نفسه په دے دهوکه کښې مه راځه چه الله تعالیٰ به معافی اوکړی- ځکه چه اول خو دا نۀ ده معلومه چه الله تعالیٰ به معافی اوکړی او سزا به نه راکوی- نو که سزا درکړی نو بیا به څه کوے- او څومره به خپیما نۀ ئے- او که معافی هم اوکړی نو بیا هم نیک کارکونکو ته چه کومے مرتبے او انعامونه ملاویږی هغه به درته ملاؤ نۀ شی- او چه دَ نورو مرتبے او انعامونه پخپلو سترګو اووینے نو څومره آرمان او افسوس به کوے- نو په دے خبر وکه درته نفس دا سوال اوکړی چه خۀ نو زۀ څنګه کار کوم او څنګه کوشش کوم نو ته جواب ورکړه- چه داسے کار کوه چه کوم شے ستا نه په مرګ پاتے کیږی یعنے دُنیا او بَدَ عادتونه نو هغه دَ اوس نه پریده او دَ کوم سره چه ستا

سابقه پرېوځي او بغیر د هغې نه ستا ګذاره نه کیږي یعنې الله تعالیٰ او د هغه د راضي کولو خبرې هغه د اوس نه اختیار کړه او د هغه په یادولو تابعدارۍ کښې شروع شه او د بد وعادتونو بیان او د هغې د پرېښودو علاج او د خدائے تعالیٰ د راضي کولو د خبرو تفصیل او د هغې د حاصلولو تدبیر دا ټول هرڅه پوره تا لیکلي شوي دي ددې موافق په کوشش او برتاؤ کولو سره د زړه نه بدۍ اوځي او نیکۍ ځائے نیسي - او خپل نفس ته او وایه چه اے نفسه ستا مثال د بیمار دے او بیمار له پرهیز لازم وي او ګناه کول بدپرهیزي ده نو په دے وجه د دینه پرهیز کول ضروري شو او دا پرهیز الله تعالیٰ د ټول عمر د پاره خوړلے دے - د فکر مقام دے چه کله د دُنیا یو معمولي ډاکټر د یوے سختے بیمارۍ په باره کښې او وائي چه فلانے مزیدار څیز دے بیمارۍ له نقصاني دے که او دے خوړو نو سخت نقصان به او کړي او بیماري به دے لا علاجه شي او که فلانے ترخ او بے مزے شے خوړے نو جوړ به شے او تکلیف به درته نه وي نو یقیني خبره ده چه د خپل ځان د پاره به د ډاکټر په دے وینا هغه مزیدار شے د ټول عمر د پاره پرېږدے او دوائي چه ترخه او بے مزے ده په پټو سترګو به ئے روزانه خوري - نو مونږ دا منو چه ګناه ډیر مزیدار دے او نیک کار ډیر ترخ لیکن چه الله تعالیٰ د دغه مزیدار و څیزونو نقصان خودلے دے او د دغه ترخو څیزونو فائدے ئے خودلي دي - او بیا نقصان او فائده دا سے چه د همیشه د پاره دي چه د یو نوم دوزخ او د بل نوم جنت دے - نو دے نفسه د تعجب او د افسوس خبره ده چه د خپل روح د محبت د پاره خو د ادني ډاکټر او حکیم په وینا خو یقین کوے او پابند کیږے ئے او د خپل ایمان په محبت کښې د الله تعالیٰ په وینا هیڅ خیال نه کوے او د ګناهونو د پرېښودو همت نه کوے او د نیکو کارونو نه بیا هم څه کوے نو ته څنګه مسلمان ئے چه د الله تعالیٰ وینا د یو ادني حکیم او ډاکټر په مقابله کښې هم څه نه ګڼړے - او څومره بے عقله ئے چه د همیشه د آرام ځائے چه جنت دے د دنیا د لږو ورځو د آرام برابر قدر هم نه کوے - او دوزخ چه دومره سخت او همیشه تکلیف دے د دنیا د دے لږو ورځو د تکلیف برابر د بچ کیدو کوشش هم نه کوے - او نفس ته دا سے وایه چه اے نفسه دُنیا د سفر ځائے دے او په سفر کښې پوره آرام چرته هم وي د هر قسم تکلیفونه برداشت کول وي لیکن مسافر څنګه دا تکلیفونه برداشت کوي چه کورته به او رسم او بیا به مزے او آرام وي. لیکن که مسافر د سفر تکلیفونو نه اوبیریږي او په لاره کښې په یو سرائے کښې دیره شي هغه خپل کور او ګڼړي او ټول د آرام سامان هلته جمع کړي نو په ټول عمر کښې به ئے هم کورته رسیدل نصیبیا نه شي نو دغه شان په دنیا کښې چه څومره عمر دے په محنت مشقت سره تیره ول پکار دي

په عبادت کښے هم محنت دے او په ګناهونو پرېښودو کښے هم مشقت دے او نور هم قسم قسم مصیبتونه دی لیکن آخرت څوک نه کوردے هلته په رسید وي به ټول مصیبتونه ختم شی - د دنیا داټول محنتونه او مشقتونه برداشت کول پکار دی کله دلته آرام لټوے نو کورته په رسید وې د آرام سامان مونډل مشکل دی بس دا او ګڼړه چه چرته هم د دنیا د لذت او راحت خواهش نه دے پکار او د آخرت برابره ولوی د پاره د هر قسم محنت په خوشحالۍ برداشت کول پکار دی - غرض داسے داسے خبرے د نفس سره کول او هغه په لارے کول پکار دی - او ورزانۍ دا سے پوهه کول پکار دی - او دا یاد ساته که ته همیشه دغه شان د ځان د بده کولو او برابرولو کوشش نه کوے نو بیا به څوک راشی چه ستا خیر خواهی به او کړی او ستا پوهه او ستا کار

باب ۳۶ د عامو خلقو سره د رواج بیان

عام خلق په درے قسمه دی - یو هغه چه د هغوی سره د دوستۍ او خوږولۍ او ملګرتیا علاقه وه - دویم هغه چه صرف پیژند ګلو ده ورسره - دریم هغه چه د هغوی سره پیژند ګلو نشته - او د هر یو سره د رواج طریقه جدا ده - نو د کوم سره چه پیژند ګلو نشته - که د دوی سره ملاویدل او کیناستل وی نو د دوی خبرو خیال ساته چه دوی کومے اخوا دیخوا خبرے او خبرونه بیا نوی هغے ته غوږ مه کده او د ځشه عبث خبرے چه کوی ځان په کو نړ کړه - چرے ورسره مه ملاویږه د دوی نه څه امید او آرزو مه ساته - او که څه خبره په دوی کښے د شریعت نه خلاف او وینے نو که دا امید وی چه نصیحت به او منی نو په نرمۍ سره ئے پوهه کړه - او د چا سره چه دے دوستی او زیات راه و رسم دے نو په دے کښے د دے خیال ساته چه اول خو د هر چا سره دوستی او راه و رسم مه پیدا کوه ځکه چه هر سړے د دوستۍ قابل نه وي البته په چا کښے چه دا پنځه خبرے وی د هغه سره په دوستی کښے څه باک نشته -

اول دا چه عقلمند وی ځکه چه د بے عقله سره اول خو دوستی جوړے د نه شی او دویم کله داسے کیږی چه هغه به تاته د فائدے رسولو پکار ئے کله کله د نا پوهۍ نه نقصان د رسوی - لکه یو سړی یږ ساتلے وه او یوه پیره دے او ده وه هغه به تے پهان شړل نو یو ځل به بار بار ده په مخ کیناستو نو دا یږ غصه شه او یو غټه کته ئے د مچ د وهلو د پاره را اوچته کړه او مچ لرے را خلاصه کړه مچ د ږغ نه والوت او د هغه سړی کړی ...

دویم دا چه اخلاق ئے ښه او عادتونه ئے برابر وی د چل مطلب د پاره دوستی نه کوی او د غصے په وخت بے خوده کیږی نه او په لږه لږه خبره لکه د طوطی په شان سترګے نه بدلوی -

دریم دا چه دیندار وی ځکه چه څوک دیندار نه وی د خدائے حق نه

اداکوی نو ته به تے څه امید وکړے چه وفا به اوکړی- دویمه خرابی ئے داده چه کله ته بار بار هغه په ګناه وینے او د دوستۍ په وجه ورسره نرمی کوے نو بیا به ستا هم د ګناه نه نفرت نه پاتے کیږی- دریمه خرابی داده چه کوم د بد مجلس اثر به پتا هم کیږی او دغه سے ګناه هوښ به بیا ته هم کوے-

څلورمه خبره دا چه د دنیا حرص ئے نه وی ځکه چه د حارص سره په کیناستو د دُنیا حرص زیاتیږی- چه ته هر وخت هغه په دے مشغولا کښے وینے چه کله د کالو ذکر وی کله د جامو کله د کور د سامان نو اخر به ته هم په دے کښے نخلے- او که چا چه حرص نه وی ساده جامے ساده خوراک هر وخت د دُنیا د بے وفائۍ خبرے کوی نو چه ته ورسره ناست ئے که لږ ډیر حرص دے وی هغه به هم ختم شی-

پنځمه خبره دا چه دروغ وئیل ئے عادت نه وی ځکه چه دروغژن سړے د هیڅ اعتبار نه وی- معلومه نه ده چه کوم وخت به یوه خبره رښتو نے اوکنړی او سړے دهوکه نه شی- کوم دے پنځه خبرو خیال د دوستۍ پیدا کولو نه اول پکار دے- او چه کله په چا کے دا پنځه خبرے اووینے او دوستی دے ورسره پیدا کړه اوس ئے حق بنده اداکوه- هغه حق دادے چه په ضرورت کښے ئے پکار راشے او که خدائے درله طاقت درکړے وی نو چه مد دِ ئے اوکړے- راز ئے چاته مه وایه که څوک ورته بد وائی دے په مه خبره وه- چه خبره کوی نو اوره ئے- چه عیب په کښے اووینے نو په نرمۍ او خیر خواهۍ سره ئے یوائے پوهه کوه- که خطائے اوشی نو درګذر کوه- او د ده د پاره کیده وکړه د الله تعالیٰ نه سوال کوه- اوس پاتے شو هغه خلق چه صرف پیژند ګلو ده ورسره- د داسے خلقو نه ډیر احتیاط پکار دے ځکه چه کوم دوست دے هغه خو ستا په خیګړه کښے دے او که چا سره چه دے پیژند ګلو نشته هغه دے که د ښے نه دے نو د بدے دے هم نه دے او کوم چه هغه دے چه نه ئے ورسره دوستی شته او نه ناآشنا دے بلکه د پیژند ګلو دے زیات تکلیف او بدی اکثر د داسے خلقو نه رسی چه په ژبه څوک خیر خواهی او د دوستۍ خبرے کوی او په پته ژیلے پریکوی- او حسد کوی او هر وخت عیبونه لټوی او که بدنام کولو په فکر کښے وی نو څو مره چه کیدے شی د چا سره بلا ضرورته او ملاقات مه پیدا کوه او د هغوی دنیا دارۍ ته په کتو حرص مه کوه او د دوی د پاره خپل دین مه برباده وه- که څوک ستا سره دشمنی کوی نو ته ورسره دشمنی مه کوه- ځکه چه هغه به درسره بیا ډیر بد کوی چه ته به ئے او نه زغملے شے او ته به هم ورپسے شے نو دین او دُنیا دواړه به دے برباد شی نو په دے وجه درګذر ډیر غوره دے- او که څوک ستا عزت خاطر او مدارکوی او محبت درسره ښکاره کوی نو ته پے مه دهوکه کیږه ځکه چه ډیر کم خلق داسے وی چه د هغوی ظاهر او

باطن یو شان وی او دا څه یقین دے چه د دوی دا رواج په صدق سره دے د دے اُمید نے چرته مه ساته - او که څوک ستا غیبت او کړی او ستا ئے وا وُرے نو غصه کیږه مه - او دا تعجب هم مه کوه چه د ځما سره دا سے معامله او کړه او یا ځما د حق یا ځما د احسان یا ځما د لوئے والی یا ځما د علاقے ئے څهٔ خیال او نه کړه ځکه چه که په انصاف سره او کورے نو ته هم د نورو خلقو سره ورپاندے ورستو یو شان نه شے کیدے مخامخ یو شان سلوک وی او پسے شاپل شان - نو چه په کومه بلا کښے چپله کرفتار یئے د نورو شه ګیله کوے - خلاصه دا ده چه د هیچا نه د هیڅ خیګړے اُمید مه ساته، او نه د څه فائدے رسید و او نه د چا په نظر کښے د خپل عزت زیا تو لو او نه د چا په زړه کښے د محبت پیدا کید و - هرکله چه د چا نه هیڅ اُمید نه ساتے نو بیا که څوک ستا سره هر څنګه سلوک کوی ته به نه غم جن کیږے - او چپله چه د څو پورے کیدے شی تو لو ته فائده رسوه - که د چا د څه خیګړے په خبره دے فکر راشی او یقین د دوی چه اُدیه منی نو ورته ئے اوخایه او که نه وی نو چپ اوسه - او که د چا نه درته څه فائده اورسی نو د الله تعالیٰ شکر ادا کړه او دغه سړی ته دعا کوه او که د چا نه درته څه نقصان یا تکلیف اورسی نو دا سے گنړه چه دا ځما د گناه سزا ده الله تعالیٰ ته توبه او باسه او د دغه سړی نه مه خفه کیږه - غرض مه د مخلوق بڼو ته کوره او مه بد وته بلکه هر وقت نظر په الله تعالیٰ لره او د هغه سره کار لره او د هغه تابعداری کوه او د هغه په یاد وکښے مشغول اوسه الله تعالیٰ دے د نیکو توفیق راکړی او که بد و نه دے په آمان کړی ختم شو اوومه حصه بفضله تعالیٰ

اوّله ضمیمه د جنت کالے اوومے حصے چه مسمّٰی ده په جنتی ملغلره سره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

باب[۱] د زړه د صفائی او د باطن د برابری ضرورت

د حضرت ابو هریره نه روایت دے چه فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه بے شکه الله تعالیٰ نه کوری ستا سو جوسو ته او نه ستا سو صورتو نو ته لیکن کوری ستا سو زړونو ته - (مطلب دا دے چه الله تعالیٰ فقط دا سے عملونه نه قبلوی چه په ظاهره اګرانوګ سره وی او که زړه توجه او اخلاص په کښے نه وی مثلاً یو سړی په ظاهره خو په عبادت مشغول وی او زړه ئے غافله وی او دا تمیز ئے په زړه کښے نه وی چه خدائے ته ولاړ دے که بل څه کار کوی نو دا سے اعمال نه قبلیږی او دا غرض نه دے چه ظاهری اعمال بالکل بے اعتباره دی بلکه اعتبار ئے شته لیکن په دے شرط سره چه اخلاص او توجه

دَ زړه هم ورسره وی لکه په حدیث او قرآن کښې چه ثابت دی ځکه چه زړه خاص دَ الله پاک دَ نظر محل دے او لکه څنګه چه ده ته په ظاهرې بلې تشریح کښې دَ بدن دَ بادشاه شرف حاصل دے دغه شان په روحانی او باطنی تشریح کښې ورته هم دَ اندامونو دَ بادشاه فخر حاصل دے نو چه ترڅو دَ دهٔ حالت درست نه وی دَ فلاح او نجات هیڅ صورت نه حاصلیږی. مثلاً یو سړے په ظاهره مسلمان وی او په زړه کښې نه وی نو دَ الله تعالیٰ په نزد دَ دهٔ دا اسلام معتبر نه دے. او بنا په دے یو سړے محض دَ ځان خودویا دَ بل فاسد غرض دَ پاره مونځ صدقه یا خیرات کوی نو دغه په هیڅ کښې شمار نه دے. پس معلومه شوه چه دَ دواړو جهانو کامیابی او مقبولیت په نزد دَ الله په اصلاح دَ زړه سره دی. نن صبا خلق په دے کښې ډیره کوتاهی کوی فقط ظاهری اعمال لږ ډیر کوی او علم ئې هم حاصلوی مګر دَ باطن اصلاح او دَ زړه صفائی ته هیڅ خیال نه کوی. بلکه داسے ګنړی چه دَ باطن اصلاح او دَ ریا حسد کښې وغیره علاج ته هیڅ ضرورت نشته فقط ظاهری اعمال واجب ګنړی او دَ نجات دَ پاره ئې کافی ګنړی حالانکه اصل مقصود دَ زړه اصلاح ده لکه چه دَ دے حدیث نه صافه معلومه شوه او ظاهری اعمال ذریعه ده دَ زړه دَ برابرئ او په ظاهر او باطن کښې نه داسے قدرتی علاقه ده چه بغیر دَ ظاهری حالت درست کولو نه باطنی حالت نه برابریږی او ترڅو چه په ظاهری اعمالو همیشوالے نه وی دَ باطن اصلاح همیشه نه شی پاتے کیدے او کله سړے دَ باطن اصلاح اوشی نو ظاهری اعمال ډیر په ښه طریقه اداکیږی. او دَ دینه دے څوک بے عقله دا نتیجه نه اخلی چه ظاهری عملونو ته دَ هغې وخته پورے حاجت وی چه باطن برابر شی او چه باطن برابر شی نو بیا ظاهری عملونو ته حاجت نشته که کوے او که نه کوے نو که څوک دا عقیده ساتی دا کفر دے او وجه ئې دَ باطلیدو دا ده چه کله باطن برابر شی نو هغه حق المقدور هر وخت دَ الله تعالیٰ په اطاعت کښې مصروف وی. او دا علامت دے دَ هغې دَ درستئ. ځکه چه مقصود اصلاح دَ زړه دے او دَ زړه دَ اصلاح نه مقصود دا دے چه دَ الله تعالیٰ اطاعت وی او دَ هغه شکر اداکړی. او دَ الله تعالیٰ ناشکری او نافرمانی نه وی. او مونځ روژه خو په طاعت دَ خدائے کښې داخل دی نو چه دا پاتے کړی نو زړه ئې څنګه برابر پاتے شه. که برابر دے نو شپه او ورځ به دَ اولیاوٴ پشان او دَ انبیاءٴ علیهم السلام پشان په طاعت کښې ضرور مصروف وه. لودلے نعوذ بالله منها یو بے عقل او احمق ته دا وسوسه کیدے شی چه دَ چا زړه به دَ جناب رسول الله صلے الله علیه وسلم دَ زړه مبارک نه زیات صاف او صالح دے چه دهٔ ته دَ ظاهری عبادت حاجت نشته حضور صلے الله علیه وسلم خو سره دَ دے چه دَ کاملینو نه کامل او غوره دَ مرسلانو

وه په ظاهري اعمالو کښې به دومره مصروف وه چه د کتو نکي به په رحم راتله. او ترڅو نه اشائې دا حالت وه. او د هغوئ دا طريقه په احاديثو کښې په بنه شان سره ذکر ده. نو مسلمانانو ته ځان پوهه کړئ چه څنګه ظاهري اعمال لکه روژه مونځ وغيره ادا کول او د هغوئ دا داکولو طريقه زده کول واجب دي. دغه شان باطني عملونه لکه مونځ روژه وغيره د ريا او نمائش نه محفوظ ساتل يا د کينه حسد او غضب وغيره نه زړه صاف ساتل او د دغه اعمالو دا داکولو پيژندل واجب دي. چه په دے کښې بعض اعمال د زړه سره تعلق لري لکه د ګناه قصد کول کينه يا حسد کول او اخلاص پيدا کول او په بعضو کښې زړه او نور اندامونه هم شريک دي لکه مونځ روژه حج زکوٰة وغيره (صرح به الامام الغزالي وأقره عليه العلامة ابن عابدين)

په يو حديث کښې دي چه دوه رکعته مونځ د دا سے پرهيزګار چه د شک د ځيزونو نه ځان ساتي د هغه سړي د زرو رکعتو نو د مانځه نه غوره دے چه د شک د ځيزونو ځان نه ساتي. نو دا غوره والے بغير د زړه د صفائي او باطن د درستئ نه نه حاصليږي. څوک چه د باطني امراضونه روغ نه وي هغه خو واجبات هم په ټهيک طور سره نه شي ادا کولے او څوک چه د حرام ځيزونو نه ځان ساتلو پوره قادر نه وي هغه به د شک د ځيزونو نه څنګه بچ شي چه دا فضيلت به حاصل کړي. د تقوىٰ او د باطن د صفائي سره چه کوم عبادت کيږي هغه با قاعده او مقبول وي. اګرچه لږ ولے نه وي نو مسلمانان له لازم دي چه د ظاهر او باطن په کامل طور سره اصلاح اوکړي چه دا ذريعه د نجات ده - او فقط ظاهري اعمال دے بغير د باطن د صفائي نه د نجات د پاره کافي نه ګنړي. ګوره که يو سړے ډير مونځونه کوي او نيّت ئے دا وي چه خلق دا نه بزرګ او واﺋي او صفتونه م اوکړي نو دے به د عذاب نه بچ شي رهٔ ګرنه. حالانکه مونځ داسے شے دے چه که څوک ئے با قاعده او په اخلاص سره محض د الله تعالیٰ د پاره ادا کوي نو د هغے عذاب نه به هم بچ وي چه په مانځه نه کولو سره وي او د ثواب به ئے هم کيږي. مګر افسوس چه دے سړي محض د ځان خودلو او د صفت کولو د مرض په وجه دغه مونځ برباد کړو. نو دے له پکار دي چه د خپلو دے مرضونو علاج اوکړي ورنه ډير ژر به په سخت عذاب کښې مبتلا شي. ځکه چه مرض کله زياتيږي او علاج ئے نه کيږي نو ښکاره خبره ده چه انجام ئے هلاکت وي. رونړو چه کله تاسو ناجوړه ئے او ستاسو جسم مريض وي او تاسو به دا غوره کوئے چه په مرض کښې مبتلا ئے او سره د قدرت نه علاج نه کوئے. تر دے چه هغه مرض تاسو هلاک کړي هرګز نه. حالانکه د دے مرض نه چه کوم تکليف وي هغه جسماني وي او بيا هم يو څو ورځے په دنيا کښې وي. نو پس چه تاسو دا نه شئ برداشت کولے نو په روحاني امراضو کښې مبتلا

کیدلو له چه انجام ئې دا سې تکلیف وي چه همیشه وې برداشت کول ځو ک روغ عقل
نه خلاف خبره ده. نو په دې وجه هر یو انسان له لازم دي چه د جسم زړه ظاهر
او باطن ځه اصلاح اوکړي او د روغ عقل نه کار واخلي د دواړو جهانو خلاصې خپله
قبله د مقصود اوګرځي. څه څه ئې ویلې دي سره (ترجمه)
هغه دنیا ښه ده چه د دین کوشش پکښې شوي. تول هر څه د دې ځائې د پاره کوي نو د هغې د پاره۔
(عن انس قال الشیخ حدیث حسن۔ کذا في العزیزي شرح الجامع الصغیر)

په حدیث کښې دي چه فرمایلي دي رسول الله صلے الله علیه وسلم خبردار د دې
خبرې نه چه په بدن کښې یو جز دې کله چه هغه روغ وي نو ټول بدن روغ وي
او کله چه هغه فاسد او خراب شي نو ټول بدن خراب شي او خبردار شئ چه هغه
جز د زړه دې (متفق علیه) مطلب د دې حدیث دا دې چه د انسانانو د روغوالې
او د الله تعالی اطاعت بجائې راوړل موقوف دي د زړه په روغوالي پورې ځکه
چه زړه د بدن بادشاه دې او د رعیت اصلاح موقوفه وي د بادشاه په اصلاح
پورې. نو انسانانو په نیک کار هله کوي چه زړه نیک وي. نو د زړه په اصلاح
کښې کوشش کول واجب شو ځکه چه د خدائې تعالی اطاعت واجب دې خواه دغه
اطاعت یو ازې د زړه سره تعلق لري او که انسانانو په کښې ورسره هم شریک وي
او د اطاعت صحیح کیدل او مقبول کیدل موقوف دي په صلاحیت د زړه. نو نتیجه
دا راووته چه اصلاح د زړه واجب ده. اوګورئ شریعت په داسې حالت کښې
چه کله انسان اوږې وي نو په دغه حالت کښې په مونځ کولو کښې طبیعت پریشانه وي
نو دا حکم ئې کړې دې چه په داسې حالت کښې مونځ کول مکروه دي بلکه اول خوراک
خوړئ بیا مونځ کوئ. خو هله چه د مانځه وخت نه فوت کیږي. په دې کښې دا حکمت
دې چه د مانځه نه او عبادت نه مقصود د الله تعالی په مخکښې حاضري او د بندګئ اظهار
دې داسې چه ظاهر او باطن د هغه په کار کښې مشغول وي او غیر الله طرف ته
د ممکن حده پورې توجه رانه شي نو چه اوږې وي ظاهر به په مانځه کښې مشغول
وي لیکن زړه به ئې پریشانه وي او زړه به ئې غواړي چه زر د مانځه نه فارغ
شوې چه خوراک اوکړي. نو څنګه حاضري چه الله تعالی ته پکار ده په هغې کښې
به خلل راشي نو ځکه ئې په داسې حالت کښې مونځ مکروه ویلې دې. نو د دینه دا
معلومه شوه چه اصل محل خدائې ته د نظر زړه دې او شریعت د دې د
اصلاح ډیر لوئې انتظام کړې دې. د دین بزرګانو د زړه د صفائئ د پاره په کلونو
مجاهدې او ریاضتونه کړي دي په دې وړه رساله کښې د هغې د لیکلو ګنجائش نشته
ځکه دې ډیر لوئې لوئې کتابونه لیکلي شوي دي۔

په حدیث کښې دي چه فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دوه رکعته په درمیانه حالت کښې اداکول غوره دي د ټولې شپې د مانځه نه په داسې حالت کښې چه زړه غافل وي - دا حدیث ابن ابی الدنیا په تفکر کښې روایت کړے دے (مطلب دا دے چه یو سړے دوه رکعته مونځ په درمیانه حالت کښې اداکړي چه فرائض واجبات او سنت ئې په حضور د زړه سره اداکړي اګرکه اوږد قرأت وغیره په کښې نه وي داسې دوه رکعتونه ډیر مقبول دي د ټولې شپې د مانځه نه چه په غفلت د زړه سره وي - د دې حدیث نه معلومه شوه چه حضور د زړه په مانځه کښې ډیر اهمیت لري او ډیر تاکید ئې معلومیږي وجه دا ده چه في الحقیقت د کار کیفیت کتے شي چه څنګ کار شوے او که چرې غوره والے نه شي کتے چه غوره ئې اوکړه - اګرچه لږ کار وي مګر چه باقاعده وي او ښه وي نو هغه د الله تعالی په نزد غوره او محبوب دے او مقبول دے . او که ډیر وي خو چه بے قاعده بے ضابطه او په غفلت وي هغه غوره او مقبول نه دے - سوالیات ترجمه)

تما په ذمه نصیحت کول او رسوه ل ده - او که څوک ئې آوري او که نه -

دا په ضمیمه د جنت د کالي د دے اُوَمے حصے

د تسهیل قصد السبیل نه

باب۳

عامو ښځو ته نصیحت

د شرک خبرو ته مه نزدے کیږئ - د بچو د کیدو یا د پایښو د پاره ټوټکې منترے مه کوئ (او نزیارتونه مه نیسئ) فالونه مه کوئ - د ولیانو نذرانے وغیره مه کوئ - د بزرګانو منځے مه نیسئ - د شب برات، محرم، عرفه، یولسے دولسے وغیره مه نیسئ. د کوم سړو نه چه په شریعت کښې پرده وي خواه پلیروي او خواه هر څوک چه وي اګرکه ډیر نزدے رشته داروي لکه لیورونه د تره زامن ماماګانو یا اوخے یا د منډ ورخاونه یا چه چا ته خدائے رور یا پلار او وائي د دے ټولو نه پرده کوئے - د شریعت نه خلاف جامے مه اغوندئ لکه لنګ یا داسې قمیص چه سینه یا ګیډه یا لیچ څنګلے ته ښکاریږي یا داسې نرئ چه به یا د سر ویښته ته ښکاري - ښه کوړاو پیړه کپړه اغوندئ او سر د هیشه د پاره پټ ساتئ - البته که په کور کښې ټولے ښځے وي یا د خپل مور و پلار رورونو وغیره محرمو سړو نه علاوه په کور کښې بل څوک نه وي نو که پیا سر ښکاره وي خیر دے د چا ماغه ننداره مه کوئ. واده ښادئ ستنتو او د دے وغیره لوچښه مه ځئ او مه خپل کورته څوک رابلئ - خندا د د ذخوم د پاره مه کوئے - د خیرو طعنو او غیبت نه ډیر به ښه ساتئ پنځه وخته مونځ په اول وخت کښې کوئے - او ښه په حضور د زړه سره ئې کوئے - رکوع سجده په ښه طریقه اداکوئے - چه ځمکې مو ښد شي نو خه خیال ساتئ چه غسل ئې د

او کړي او مونځ ورته که نور بند یدونه پس پاتې نه شي - که کالي پټري وغیره ورسره وي نو چه زکوٰة تې او باسۍ بشنه په حساب سره - د جنت کالي لولي او وئي او عمل پې کوئي - د خاوند تا بعداري کوئي - د خاوند مال د حفظ نه په پټه مه خرچ کوئي سند دې چرته مه آوروئ - که قرآن دې ویلې وي نو روزانه تلاوت کوه - کوم کتاب چه د ویلو یا لوستلو د پاره اخلې نو د عالم په مشوره ئې اخله د ځانه ئې مه اخله کوم ځائې چه رسمونه رواجونه کیږي هلته مه ځه - او مه د رسمونو رواج د خیزونو په تقسیم کښې شاملیږه - او مه ئې ته بچیله کوه -

خاص ذکر او شغل کونکو ته نصیحت

باب ۱۲۹

دا بره لیکلې شوي نصیحتونه کوره او د حضور صلی الله علیه وسلم په طریقه د تللو کوشش کوه - په دې سره په زړه کښې نور پیدا کیږي. که څوک ستا د طبیعت خلاف څه خبره او کړي نو صبر کوه په تلوار سره خبرې مه شروع کوه خاص کر د غصې په حالت ځان ډیر سنبالوه - چرته ځان کمالي مه ګڼره - کومه خبره چه د خولې نه را او باسې اول پې سوچ کوه چه خرابي په کښې نه وي هلته ئې وایه - د دین یا دنیا د فائدې خبره کوه - د چا لوئې سړي هم لوئي مه وایه او مه ئې آوره د چا د اسې پیر فقیر چه د درویشۍ حال پې غالب وي او ستا په خیال د دین نه څه خلاف خبره کوي طعنې پې مه کوه بلکه د داسې سړي نه بالکل جدا اوسه دوستي یا دشمني هیڅ ورسره مه کوه - که ګناه ګار دیا د وړې درجې سړی وي هم ئې سپک مه ګڼړه د مال او عزت طمع او حرص مه کوه - د تعویذ و نو تو تکو وغیره شغل مه کوه - عام خلق په دې کیر یږي - د ذکر کونکو سره اوسه - دنیاوي کاروبار ډیر مه زیاته وه - بې ضرورته سامان مه جمع کوه - څومره چه درته کیدې شي یوازې اوسه - بې ضرورته او زیات د خلقو سره مه ملاویږه - او چه ملاویږې په ښه خوئې سره ملاویږه او خاصکر د آشنا خلقو نه ډیر ځان ساته - یا د خدائي خلقو مجلس له ځه یا چرې نه پیژنې او معمولي خلق وي د هغو سره ملاویږه د داسې خلقو نه نقصان کم وي - که په زړه کښې دې څه کیفیت پیدا شي نو خپل پیر ته وایه - او د ذکر نه چه کوم اثر در په کښې پیدا شي د خپل پیر نه سوا بل چا ته ئې مه وایه - د خبرو جوړه ول مه کوه - بلکه چه کله درته خپله غلطي معلومه شي فوراً اقرار کوه - په هر حال کښې په الله پاک بهروسه کوه - او خپل ټول حاجتونه تې غواړه او په دین د قائم پاتې کیدو سوال تې کوه - والسلام -

د دے اوومے حصے اجمالی حالت او د لوستو طریقه ئے

۱:- په دے حصه کښے څه مضامین د عملونو د آدابو متعلق دی -
۲:- زیات مضامین د زړه د صفائی دی چه تصوف ورته ویلے شی او دا هم د شریعت د نورو حکمونو پشان ضروری دی بے پرواهی تے نه ده پکار -
۳:- که په څلورمه یا پنځمه حصه جینکئ نه پوهیږی نو د دریمے حصے نه پس ورته دا اوله او شپږمه حصه که د دیته مخکښے لولے او کړ وروستو -
۴:- لوستونکے که څه کار د دے حصے د مضمون نه خلاف اوکړی نو فوراً ئے ټوک که چه لوستی دے دا سے دی او اوس تے خلاف کوے چه یادشی ورته -
۵:- او پنځله لولونکے دے هم په دے عمل کوی چیر ثواب دے -
۶:- که دا حصه هم د شروع نه په تختئ لیکی نو خط به ئے هم صفا کیږی او مضامین به ئے هم ښه یادیږی - که په کوم ځائے کښے لیکل د جینکو د پاره د مصلحت نه خلاف وی نو هلته دے ورته لیکل نه اِزده کوی لیکل ازده کول د عزت نه غوره نه دی
۷:- که ان پړه ښځو ته زبانی دا حصه اوره وَلے شی نو د هغوی د پاره هم ډیره فائده ده او چالره چه لوستل ورځی هغوی دی همیشه لولی - چه نصیحت ورته تازه کیږی.
۸ :- مناسب دی چه یو وخت مقرر کړی او په کور کښے ټول را جمع کیږی او یو ته ورته دا رساله لولی چه ان پړه وته هم نفع رسی - اشرف علی عفی عنه -

ختم شوه اوومه حصه د جنت د کالی

د جنت کالے اتمه حصه

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د نیکو بیبیانو په حال کښے

(۱) د لوستونکو د دین د همت زیاتولو د پاره

د دے بیان نه مخکښے د برکت د پاره د پیغمبر صلے الله علیه وسلم ذکر کولے شی چه لوستونکی د خپل پیغمبر او د هغوی د عادتونو نه هم خبر شی چه محبت ئے ورسره پیدا شی او پیروی ئے اوکړی - او دا خبره هم ده چه دے ټولو ته کومے نیکئ دولت د دوی په برکت سره ملاو شوے دے - که د اولو امتونو بیبیانو ته د دوی په نور سره دکه چه د مخلوق وجود د دوی په وجه شوے دے) او د دے امت بیبیانو ته د دوی په شریعت سره نو په دے وجه اول د دوی حال لیکلے شی او بیا به د بیبیانو شروع شی.

(۲) د حضور صلی الله علیه وسلم د پیدائش او وفات وغیره بیان

د دوی مشهور نوم مبارک محمد (صلی الله علیه وسلم) دے د پلار نوم ئے عبد الله او د نیکه نوم ئے عبد المطلب او د ورنیکه نوم هاشم او د غور نیکه نوم عبد مناف دے د مور نوم آمنه د مور د پلار نوم وهب او د وهب د پلار نوم عبد مناف دے او د عبد مناف د پلار نوم زهره دے. او دا بل عبد مناف دے - د ربیع الاول د میاشتے په دولسم تاریخ د پیر په ورځ (مطابق ۲۰ اپریل ۵۷۱ء) په هغه کال چه یو کافر بادشاه ابرهه نوم د خانه کعبے د ورانولو د پاره هاتیان راوستی وو پیدا شوے وه. د دوی د پیدا کیدو نه اول د دوی والد صاحب وفات شوے وه او دوی د پنځو کالو او دوه ورځو وو چه د دوی رضاعی مور حلیمے دوی خپلے مور ته حواله کړل چه د شپږو کالو شو نو خپلے مور د ځان سره د خپل پلار کور ته بوتلو بنی نجار قبیلے ته او یوه میاشت پس په واپسئ کښے د ابواء په مقام کښے ئے مور بی بی وفات شوه ام ایمن ورسره وه هغه دوی مکے ته راوستل او نیکه عبد المطلب ئے پالنه شروع کړه بیائے نیکه وفات شه او تره ابوطالب ئے پرورش کاوه. دوی د ځان سره شام ته په سفر بوتلو د تجارت د پاره په لاره کښے بحیرا نوم راهب چه د نصاراؤ عالم وه دوی اولیدل او په تره ئے تاکید اوکړو چه د دهٔ حفاظت کوه دا نبی دے او دے ئے مکے ته واپس کړو. بیا دوی د خدیجهؓ مال د تجارت د پاره شام ته یوړو په لاره کښے نسطورا نوم راهب د دوی د نبوت ګواهی اوکړه - او چه دوی واپس شو نو د خدیجهؓ سره ئے نکاح اوشو. دغه وخت د دوی عمر پنځویشت کاله او د خدیجهؓ څلویښت کاله وه. بیا د څلویښتو کالو په عمر کښے ورته نبوت ملاؤ شه او د دوه پنځوس یا درے پنځوس کالو په عمر کښے معراج ته لاړو. د نبوت نه پس دیارلس کاله په مکه کښے پاتے شه بیا چه کافرانو ډیر تنګ کړو نو د خدائے پاک په حکم سره ئے مدینے ته هجرت اوکړه او د هجرت په دویم کال د بدر جهاد اوشه او بیا نور ډیر جنګونه اوشو چه ټول لوئے واړه پنځه ویشت ۲۵ دی - او مشهور نکاحونه د دوی د یوولس بی بیانو سره شوی دی چه دوه په کښے د دوی نه مخکښے وفات شوے وے یوه حضرت خدیجهؓ او بله حضرت زینبؓ د خزیمه لور. او نهٔ د دوی نه وروستو پاتے شوے وی. حضرت سودهؓ. حضرت عائشهؓ حضرت حفصهؓ حضرت ام سلمهؓ حضرت زینبؓ د جحش لور. حضرت ام حبیبهؓ حضرت جویریهؓ حضرت میمونهؓ حضرت صفیهؓ او اولاد ئے څلور جینکۍ وے د ټولو نه لویه حضرت زینبؓ بیا پسے حضرت رقیهؓ بیا پسے حضرت ام کلثومؓ او د ټولو وړه حضرت فاطمهؓ دا ټولے د حضرت خدیجےؓ شوی او درے یا څلور یا پنځه هلکان وو. حضرت قاسمؓ حضرت عبد اللهؓ حضرت طیبؓ

حضرت طاهرؓ دا قول د حضرت خدیجېؓ نه دی او یو حضرت ابراهیمؑ دا د حضرت ماریهؓ نه دے چه د حضورؐ وینځه وه. او په مدینه کښې د تي خوړو په وخت کښې انتقال شوے وه. دا سے خو دا پنځه شو او بعضے وائي چه د عبدالله نوم طیب هم وے نو دا سے شلور شو. او بعضے وائي چه د عبدالله طیب هم نوم وه او طاهر هم نو دا سے درے شو. او عبدالله د نبوت نه پس پیدا شوے وه او په مکه کښې ئے انتقال شوے وه. او باقي هلکان د نبوت نه اول وفات شوی وُو. او دوئي په مدینه کښې لس کاله پاتے شوی وُو. بیا د چهارشنبې په ورځ د صفرې د میاشتې دوه ورځې پاتے وے چه بیمار شو. او د ربیع الاول د زوړ مېنې خور په دولسم تاریخ د غا بنت په وخت کښې د درې شپیته کلو نو په عمر کښې ئے انتقال او فرمایا او د منګل په ورځ د غرمے نه پس دفن کړے شو او بعضو ویلي دي چه د منګل ورځ تیره شوے وه شپه راغلے وه او دا دومره ځکه ناوخته شه چه صحابه د غم او صدمے نه دومره پریشانه شوی وو چه د چا هوش په ځائے نه وُه. او د حضورؐ په لونړو کښې د حضرت زینبؓ یو هلک پیدا شوے وه علي او یوه جینۍ امامه د دواړو نسل نه دے چلیدلے. د حضرت رقیهؓ یو هلک عبدالله شوے وه چه په شپږم کال ئے انتقال شوے وُه. او د حضرت ام کلثومؓ هیڅ اولاد نه وے شوے او د حضرت فاطمےؓ حسنؓ او حسینؓ شوی دي چه اولاد ئے شوے دے او نسل ئے چلیدلے دے.

(۳) د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مزاج او د عاداتو نو مبارکو بیان

دوی په زړه ډیر سخي وو سوال کونکي ته ئے چرے "نشته" نه دی ویلي که به څه دو نو ورته ئے کړه او که به نه وُو نو په نرمۍ به ئے پو هه کړو د بلے ورځے د ورکولو وعده به ئے او کړه. د خبرے ډیر رشتونے وه. طبیعت ئے ډیر نرم وه. په تړلو خبرو کښې به ئے اسانۍ او آسانتیا کوله. د خپلو خوا وشا کیناستونکو به ئے خیال ساتلو چه د دوی نه ورته څه تکلیف او نه رسي. تر دے چه که د شپے به پاسید او باهر به تلو نو پیزار به ئے ډیر غلے پڅپو کولو، قدم به ئے ډیر ورو لوے کاوه. ډیر ورو به تلو او چه کوټه به راغلو او کور والا به اوده وو نو هم به ئے تعول کا دلے غلے کاوه. چه د اوده خواب نه شي. نظر به ئے همیشه لاندے زمکے ته کاوه چه په کتره کښې به بعان وُه نو د نورو نه به ورستے پاتے کیده. چه مخے له به څوک راغے په سلام به وړ مبے کیده. چه کیناستو به نو ډیر په ماجنۍ. چه خوراک به ئے خوږ نو ډیر د غریبانو پښان به کیناستو ځان به ئے پوره نه مړاوُ. چپ چپ به ئے نه کول. د تکلف په لوخو کښې به ئے خوراک نه کولو. هر وخت به د الله د یرے نه

غمګين شان وه - هميشه به په دې سوچ کښې وه په يوه ځړه به آرام نه ورتلو زيات وخت به خاموشه وه - بغير ضرورت نه به ئې خبرې نه کولې - چې خبرې به ئې کولې نو داسې صاف چې بل سړي به ښه پوهه شي - خبره به ئې نه دومره اوږده وه چې د ضرورت نه زياته اوشي نه دومره لنډه چې په مطلب به ئې څوک نه پوهيدل په خبره کښې ئې ذرا سختي نه وه نه په رواج کښې څه سختي وه - چې څوک به ورله راغې د هغه به ئې ډير قدر کولو - د چا په خبره کښې به ئې نه وردننګل - البته که د شريعت نه خلاف خبره به چا کوله يا به ئې منع کولو يا به د هغه ځائې نه پاسيدو - د خدائې نعمت که به ډير ورکوټې ولے نه وو خو ډير لوئې به ئې ګڼړلو - چرته به ئې يکښې عيب نه راويستو چې بې مزې دې يا بد بويه دې البته چې زړه به ئې څه شي نه غوښتو هغه به ئې پرېښوده نه خوړلو او عيب به ئې په کښې هم نه راويستو او صفت به ئې ورله هم نه کولو - په دنيا وي خبره به ورله چرته غصه نه ورتله مثلاً که د چا نه به څه نقصان اوشه يا به ئې کار روان کړو - تر دې چې حضرت انس فرمائي چې ما لس کاله د دوي خدمت اوکړو او په دې لس کاله کښې چې ما څه کړي نو ما ته ئې دا نه دي ويلي چې دا دې ولې اوکړو او څه چې ما نه دي کړي دا ئې را ته نه دي ويلي چې دا دې ولې اونه کړو - البته که څه خبره به د دين خلاف کيده نو بيا به ئې د غصې حد نه وه - په خپله ذاتي معامله کښې چرته نه دې غصه شوې - او که د چا نه به ناراض شه نو صرف مخ به ئې واړاوه - په ژبه به ئې هيڅ نه فرمائيل او چې خوشحاله به شه نو نظر به ئې ښکته کړو - شرم ئې دومره وه لکه د پيغلې شرم به څه وه - چې به ډيره خندا اوراغله نو صرف مسکے به شو په آواز ئې چرته نه ده خندلې - اړيک شريک به اوسيده - داسې نه چې خپل شان به ئې په خلقو کښې اوچتاوه - کله کله به ئې د چا د خوشحاله کولو د پاره ټوقې او خندا هم کوله - خو په دې کښې به ئې هم هغه خبره فرمائيله چې رښتيا به وه - نفلونه به ئې دومره کول چې په ولاړې به ئې پښې اوپړسيدې - چې قرآن شريف به ئې لوسته يا به ئې آوريده نو د خدائې پاک د يرې او محبت نه به ئې ژړل - عاجزي ئې په مزاج کښې وه چې خپل اُمت ته ئې حکم فرمائيلے چې ما به ډير نه لويه وئ - او که څوک غريب خدمتګار به راغې چې ځما ستا سره ځانله خبره ده نو فرمائيل به ئې چې څه کوم ځائې ته چې به ئې ځانله کولو تلو به ورسره او خبره به ئې ورله اوريده - که څوک به ناجوړه وه که امير به وه يا غريب پوښتنې له به ئې تلو - که د چا جنازه به وه تشريف به ئې وړو - که غلام او غريب به هم دعوت ورکړو قبول کاوه به ئې - که چا به د وربشو ډوډۍ او بې خونده سپينه خوروا پيش کړه هم به ئې عذر نه کولو - د ژبې نه ئې چرته بې کاره

خبره نه ده ویستلې - که هر چا زړه ورته سا تلې شو داسې سلوک ورسره نه کولو چه
څوک او وریدلې - د ظالمانو او شرارت یانو به ئې خپل بچاؤ په ډیر ښه تدبیر سره
هم کاوه او د هغوی سره به په روڼ تندي او خوش اخلاقۍ سره ملاویده هم
د خپل په کسانو کښې چه به یوتن رانه غے د هغه تپوس به ئې کولو - هر کار به ئې په
یوه قاعده سره کولو داسې نه چه کله به ئې یو شان څه کولو او کله بل شان - چه
پاسیده به نو خدائے پاک به ئې یاده ولو او چه کیناستو به نو خدائے به ئې یادولو
چه یو مجلس ته به راغے نو د خلقو به غاړې ته کیناستو - داسې به ئې نه کولو چه په
خلقو به ئې خپې اړه ولے او ځان به سم ځائے ته رسولو - که د خبرې کولو په وخت
کښې به خلق ډیر وو نو په وار وار به ئې هر یو ته مخ کولو او خبره به ئې کوله - د هر چا
سره به ئې داسې سلوک کاوه چه هر یو به داګمان کولو چه ما سره ئې زیات محبت دے - که
څوک به پسې راغے او د خبرې کولو د پاره به ورسره کیناستو نو چه تر څو به هغه
نه وه پاسیدلے دوی به نه پاسیدل - د عامو خلقو سره ئې یو شان سلوک وه کور ته
به چه راغلو نو په تکیه به ئې څه وه او وهله آرام به ئې کولو - د کور ډیر کار به ئې په
خپله کولو - کله به ئې بیزه لوشله - کله به ئې ځان له کپړې صافولے خپل کار به ئې
اکثر پخپلو لاسو کولو - که ډیر ناکاره سړے به ورله راغلو خو هم به ئې ورسره مهربانی
کوله - غرض د ټولو خلقو سره ډیر زیات خوش اخلاق وه - که کچا نبه چرته څه
بده خبره اوشوه نو مناسب به ئې نه ټوکه - او نه ئې په طبیعت کښې سختي وه او نه به
ئې چرته ځان سخت ښکاره کولو - لکه د اکثرو خلقو عادت وي چه د چا ډیر د لو د پاره
ځان غصه کړي - او نه ئې په عادت کښې شور وه - چا که به ورسره بد او کړه
دوی به ورسره چرته بد نه کول بلکه حد کښې به ئې کولو - او معافي به ئې کوله - پخپل
لاسو ئې چرته نه یو خدمتګار، غلام، ښځه بلکه ځاروے هم وهلے نه دے - او د
شریعت په حکم سزا خو بله خبره وه - که چا به په ډیاتے او کړه نو بدله به ئې
چرته نه اغسته هر وخت به خنده ګل او سیده - پوزه او چولے به ئې نه
تروهلو - خو دا مطلب نه دے چه بے غمه وه ځکه چه بره او ویلے شو چه هر وخت
به په سوچ او غم کښې وه - مزاج ئې ډیر نرم وه نه ئې په خبره کښې سختي وه
او نه په معامله کښې - او نه پکښې بے باکي وه - نه به ئې د چا عیب بیانولو او نه
به ئې د څه شي په ورکولو کښې منع فرمائیله - نه به ئې خپله برائي بیانوله په بے
فائدے خبرو کښې به نه مشغولیده - نه به ئې د چا سره بدګوئ - نه به ئې د چا عیب کولو
هغه خبره به ئې کوله نه ویسته چه ثواب به وه - که څوک به د باهر نه مسافر ناشنا
راغے او په خبرو اترو یا تپوس پخته کښې به ئې څه بے ادبي یا بے تمیزي کوله نو دوی به صبر

کولوا او برداشت کولو به ئې- څوک به ئې خپل صفت کولو ته نه پریښودل - نورې هم ډیرې خبرې په احادیثو کښې دي چه خو د عمل کولو کپاره دا لږې هم پوره دي - او س د ښځو بیبیانو حالات واورئ -

(۱) ## دَحضرت حواء علیها السلام ذکر

دا دَحضرت آدم علیه السلام بی بی او دَ ټولې دنیا دَ بنی آدمو موروره - الله تعالیٰ دا پخپل کامل قدرت سره دَحضرت آدم علیه السلام دَ کینړې پښتۍ نه پیدا کړه او بیائې دَ هغه سره ورله نکاح اوکړه او په جنّت کښې ئې ورله ځائې ورکړه - او هلته یوه وُنه وه دَ هغې دَ خوراک نه ئې منع کړل - دوی په غلطۍ سره دَ شیطان په لمسه کښې راغله هغه اوشوئې اوخوړه - نو الله پاک ورته حکم اوکړه چه دَجنّت نه دنیا ته لاړ شئ - دنیا ته چه راغله پخپله خطائې ډیر اوژړل - نو الله تعالیٰ ئې خطا معاف کړه - نو اول دَ آدم علیه السلام نه چه اشوې وه بیا ورسره الله پاک ملاؤ کړه - بیا دَ دوا ړو بے شماره اولاد اوشه - ف :- بیبیانو! فکر اوکړئ چه حضرت حوا دَ خپلې خطا اقرار اوکړه او توبه ئې اوویسته نو الله تعالیٰ پرې رحم اوکړه - بعضې ښځې به غلطي اوکړي او بیا به هم خبرې جوړه وي او چرته به هم خپله غلطي نه مني - او داسې ډیرې ښځې دي چه ټول عمر به گناه کوي او پرېدي به ئې نه - خاص کر غیبت او دَ رسمونو پابندي - نو داسې کارونه خامخا پریښودل پکار دي - او توبه کول پکار دي -

(۲) ## دَحضرت نوح علیه السلام دَ مور ذکر

په قرآن شریف کښې دي چه حضرت نوح علیه السلام دَ خپل ځان سره خپلې مور ته هم دعا اوکړه - په تفسیرونو کښې لیکلي دي چه دَ دوي مور و پلار مسلمانان وو - ف :- اوګورئ دَ ایمان څومره برکت دے چه دَ ایماندارو دَ پاره پیغمبران هم دُعا کوي - نو په ایمان مضبوط طے او سئ -

(۳) ## دَحضرت ساره علیها السلام ذکر

دا دحضرت ابراهیم علیه السلام بی بی او دَحضرت اسحاق علیه السلام مورده - دَ دے دَ فرښتو سره خبرے او دَ فرښتو ورته دا ویل چه ستا سو ټولو کوروالو دَ خدائے رحمت او برکت دے په قرآن کښے ذکر دی - دَ دے دَ پرهیزګارۍ او دُعا قبلیدو یوه قصه په حدیثو کښے راغلې ده - چه کله حضرت ابراهیم علیه السلام شام ته په هجرت تلو نو دا هم ورسره وه په لاره کښے یو ظالم بادشاه وه چا خبر کړه چه ستا ملک ته یوه ښائسته بی بی راغلې ده هغه حضرت ابراهیم علیه السلام را اوغوښتو او تپوس ئې تے اوکړه چه ستا سره دا بی بی ستا څۀ ده - هغه او فرمائیل چه دا زما دَ دین خور ده - ښځه ئې ځکه او نه وے چه دے ظالم به دَ ښائسته ښځې خاوند وژلو - نو چه دے واپس راغے نو حضرت ساره

ته کے او وے چه ځما خبره به نه دروغ کوے ته هسے هم ځما د دین په نسبت سره خور یې۔ نو چه کله دغه ظالم حضرت ساره بوتلو۔ او هغې ته پته او لږیده چه د دے ظالم نیت بد دے نو اودس ئې اوکړو او مونځ ئې اوکړو او دعائې اوکړه چه اے الله که زه ستا په پیغمبر ایمان لرونکے او همیشه خپل عزت ساتونکے یم نو د دے کافر لاس په ما برَ مه کړې۔ (مطلب دا دے چه زه ضرور مسلمانه یم پس د اسلام او ایمان په برکت سره ما د دے بلا نه اوساته) نو بس د هغه دا حال شه چه لاس وخپې ئې شروع شو۔ خو دے ته په منت شه چه دعا اوکړه چه زه بنه شم نو وعده کوم چه تا ته به هیڅ نه وایم۔ دے هم فکر اوکړه چه که مړ شي نو خلق به ئې په ما داوابه وي۔ نو دعائې ورته اوکړه او هغه بنه شه۔ لیکن بیا ئې د شرارت اراده اوکړه او بیا هغه شان شه او بیا ئې منت اوکړه دے ورته بیا دعا اوکړه او بنه شه غرض درے پیرے دا سے اوشوه او بیا ئې چغې کړے چه دا څه بلا تاسو په ما پسے راوستے ده۔ دا لرے کړئې۔ او حضرت هاجره رضی چه د قبطیانو د قوم نه وه او ده به ظلم سره راوستے وه ورنځه ئې ته جو بره کړے وه لیکن هغه هم الله پاک د غه شان د دے ظالم نه بچ ساتلے ده۔ د دے سره ئې کړه او بنه په عزت سره ابراهیم ته راغلے۔ ف :- بیبیا نو او کوري د پرهیزګارئ څومره برکت دے د نیکانو الله خنګه حفاظت کوي۔ او په ساغشه او نظلو نو کښې څومره اثر دے چه دعا په قبلیږي۔

(۲) # د حضرت هاجره علیها السلام ذکر

له از بخاری شریف ۱۲

اوس په دے وړاندے قصه کښې تیر شو چه حضرت ساره رض له حضرت هاجره دغه کافر بادشاه د خدمت د پاره ورکړه او دے چه راوسته نو حضرت ابراهیم علیه السلام له ئې ورکړه۔ او د دینه حضرت اسمٰعیل علیه السلام پیدا شو۔ حضرت اسمٰعیل ع لاتے لوړ لو چه الله پاک حضرت ابراهیم علیه السلام ته حکم اوکړه چه حضرت اسمٰعیل ع او مور ئې دواړه بوزه او کوم ځائے چه خانه کعبه ده او اوس ورانه شوے ده او هغه ځائے غالي میدان دے او ځنګل دے هلته ئې پریده مونږ به ئې ساتنه کوو۔ نو د الله تعالی په حکم سره ئې دا دواړه مور او ځوئ دغه میدان له راوستل کوم ځائے چه اوس مکه ده او هلته ئې پریخودل او یو مشک د اوبو او یوه تهیلئ د خرما وُ ئې ورته پاتے کړه چه درومئې پریښودل او حضرت ابراهیم ع ته واپس شه نو حضرت هاجره ع پسے راملنډه کړه او تپوس ئې ترے اوکړه چه مونږ دلته یواځې پریږدے۔ ده جواب ورنه کړه۔ بیا ئې ترے تپوس اوکړه چه ولے خدائے پاک درته دا حکم کړے دے حضرت ابراهیم ع او فرمائیل چه هاں۔ نو هغې اُوے هیڅ غم نشته هغه به بچهله زمونږ خبر اخلي

اولاً په پنځه ځلې کینا سته چوارے بالے خوړے اوبه به ئے سکے او حضرت اسمٰعیل ؑ
له به ئے تے ورکولو۔ چه دَ مشک اوبه ختمے شوے نو په مور او ځوئي بد حال
شروع شه او اسمٰعیل علیه السلام خو به دَ تندے نه تاویده۔ مور ئے چه دا
حال اولید نو دَ صفا غونډئ ته او ختله او چار چاپیره ئے او کتل خو اوبه ئے چرته
په نظر را نغلے نو کوزه شوه او دَ مروه طرفته روانه شوه دَ
دواړو غونډو په مینځ کښے لږه ځائے جوړ شان وه نو چه دا په هواره زمکه
تله بچے به ئے لیده او چه دغه جوړ ځائے ته به شوه نو بچے به ترے پناه شه نو په دغه ځائے
کښے به دا په منډه تله غرض هغه بلے غونډئ ته او ختله او چار چاپیره ئے او کتل هلته
هم اوبه په نظر را نغلے او بیا دَ هغے نه راکوزه شوه صفا ته روانه شوه غرض اوه پیرے
دغه شان صفا او مروه غونډو ته او ختله او کوزه شوه۔ او دَ دغه مینځ جوړ
ځائے نه به په منډه وته۔ دغه عمل دَوے دَ الله پاک دومره خوښ شه چه اوس
دَ دغه تلو راتلو حکم حاجیانو ته دَ همیشه دپاره دے۔ غرض په آخیری وار چه
په مروه غونډئ باندے وه په غوږ کښے ئے یو آواز راغے غوږ ئے ورته کیښود هغه
آواز بیا راغے خو آواز کونکے په نظر نه راتلو۔ حضرت هاجره ؓ چغه کړه چه ما آواز واوریده
که څوک مدد کولے شی نو او دے کړی نو کوم ځائے چه اوس دَ زمزم کوهے دے دغه ځائے
ورته یو فرشته په نظر شوه او خپل بازو ئے په زمکه اووا هه اوبه راوخوټیدے
او دے ته خلور طرفته خاورے چاپیره کړے اوبه ئے بندے کړے او مشک ئے ته هم
ډک کړه پنځله ئے هم اوسکے او بچی له ئے هم ورکړے۔ فرشتے ورته اووے چه فکر
مکوه دلته دَ خدائے کور یعنے کعبه ده۔ دا هلک به دَ خپل پلار سره په شریکه دا
کور آبادوی او دلته به آبادی جوړیږی۔ نو یو څو ورځے پس یو قافله په دغه
طرف راغله هغوی چه اوبه اولیدے نو پاتے شوا و هلته آباد شو او دَ حضرت
اسمٰعیل علیه السلام واده او شو۔ بیا حضرت ابراهیم علیه السلام دَ خدائے تعالیٰ
په حکم سره راغلو او دواړو پلار و ځوئي خانه کعبه جوړه کړه او هغه دَ زمزم
اوبه بیا څه موده پس کوهے جوړ شه۔

فائده ۱:- او ګورئ دَ حضرت هاجره ؓ په خدائے پاک څومره یقین وه چه ورته
معلومه شوه چه په دے ځنګل کښے پاتے کیدل دَ خدائے په حکم دی نو څومره بے
غمه شوه او بیا ورته دَ دے یقین او توکل څومره برکتونه ښکاره شو۔ نو تاسو
هم دغه شان په خدائے پاک یقین او بهروسه کوئ انشاء الله تعالیٰ قول کار ته
به مو برابر وی۔ ۲ او ګورئ چه هغے منډے کا او بو دپاره وهلے او الله ته څومره
ښه ښکاره شوے چه دَ حاجیانو دپاره اوس عبادت شه۔ څوک چه الله ته مقبول

دي دَ هغوي معامله بل شان وي۔ نو تاسو هم کوشش کوئ او دَ خدائے تعالیٰ حکم منئ چه تاسو هم مقبولے شئ نو بيا به ستاسو دَ دنيا کار هم په دين کښے شامل شي۔

(۵) دَ حضرت اسمٰعيل عليه السلام دَ دوئي بي بي ذکر

از بخاري شريف ۱۲

دَ خانه کعبے دَ جوړه دلو نه اول هم دوه پيرے نور حضرت ابراهيم عليه السلام مکے ته راغلي دے ليکن په دواړه پيرے ئے حضرت اسمٰعيلؑ په کور نه دے موندلے اول پيره چه راغلو نو دَ حضرت اسمٰعيلؑ په کور کښے يوه بي بي وه تپوس ئے ترے اوکړه چه گذاره څنگه ده هغے ورته اووے ډير مصيبت دے۔ نو ورته ئے اووے چه خاوند دے راشي نو زما سلام ورته وايه او داورته اووايه چه دَ دروازے دا درشل دے بدل کړه۔ نو چه حضرت اسمٰعيلؑ کورته راغے نو ټول حال ورته معلوم شه نو ورته ئے اووے چه هغه خوزما پلار روه او درشل ته ئے هغه داسے ويلي دي چه تا پريدم نو هغے له ئے طلاق ورکړه او دَ بلے بي بي سره ئے نکاح اوکړه۔ کله چه حضرت ابراهيم عليه السلام دوباره راغلو نو دابله بي بي په کور کښے وه دے ئے ډير خاطرداري اوکړه دَ دينه چه ئے دَ حال تپوس اوکړه نو دے اووے چه دَ خدائے شکر دے ډير ښه آرام دے هغه ورته دعا اوکړه او ورته ئے اوفرمايل چه خاوند دے راشي نو زما سلام ورته وايه او ورته وايه چه دَ دروازے دا چوکاټ (درشل) دے ښکائے پاتے کړه نو چه حضرت اسمٰعيل عليه السلام کورته راغلو او حال ورته معلوم شه بي بي ته ئے اووے چه دا زما پلار وه او دا سے ئے ويلي دي چه تا به دَ ځان سره ساتم۔

فائده:- اوگورئ اولے بي بي ته دَ ناشکرئ ميوه څه ملاؤ شوه يو بنيا ته حقه شه او بل بني دَ ځان نه جدا کړه او دَ شکر او صبر ميوه بلے بي بي ته څه ملاؤ شوه يو بني ورته دعا اوکړه او دَ بل بني په خدمت کښے ئے پاتے کيدل نصيب شو۔ نو چه ته ناشکري مه کوئ په هر حال کښے چه ئي صبر او شکر کوئ۔

(۶) دَ نمرود کافر بادشاه دَ لور ذکر

از عجائب القصص ۱۲

نمرود هغه ظالم بادشاه دے چه ابراهيم عليه السلام ئے اور ته غورزه ولے وه دَ هغه دے لور چه نوم ئے رعضه وه بره ولاړه وه کتل ئے دے چه اوليدل چه اور په حضرت ابراهيم عليه السلام څه اثر اونه کړه نو تپوس ئے ترے اوکړه چه داڅه دَ جه دَ حضرت ابراهيم عليه السلام ورته اووے چه خدائے تعالیٰ دَ ايمان په برکت سره زه دَ اور نه بچ کړم۔ دے ورته اووے چه که اجازت وي نو زه هم دے اور ته درُدَ انگم هغه ورته اوفرمايل چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمُ خَلِيْلُ اللّٰهِ اُووايه او وراز هغے داکلمه اووے او اور ته ئے ور او دنګل په دے هم اور څه اثر اونه کړه

او ډېرې ځایونو ته نه راتلو او هغوي ته خپل پلار دوي د غمه ډېره لويه ډوډۍ بدې رحمه او ويلې او هغه پې ډېره سختۍ اوکړه ليکن هغه پخپل ايمان قائم پاتې شوه.

فائده:- سبحان الله څومره همت ناک بي بي وه چه په تکليف کښې ئې هم ايمان پاتې نه کړو نو تاسو هم د مصيبت په وخت کښې همت مضبوط ساتئ او د ويخته هومره هم د دين خلاف مه کوئ.

(۷) **دَحضرت لوط عليه السّلام دَ لونړو ذکر**

هرکله چه الله پاک لوط عليه السلام ته فرښتې راوليږلے او دا خبره ئې ورکړه چه اوس مونږ ستا دا قوم چه ته ئې اونه منلے هلاکوو نو دا ئې ورته هم اووے چه ته خپل عيال تول د شپې د دې کلي نه او باسه په دې عيال کښې د هغوي لونړه هم وے دوي هم د عذاب نه بچ شوے وے.

فائده:- اوګورئ د ايمان څومره برکت دے چه په دنيا کښې کله د خدائے قهر نازليږي نو ايمان والا ته د ايمان په برکت بچ کيږي. نو خپل ايمان ډېر مضبوط کړئ او مضبوطيا ئې دا ده چه تول احکام پخائے کوئ او د ګناه هو نو نه ځان ساتئ.

(۸) **دَحضرت ايوب عليه السّلام دَ بي بي ذکر**

د دې نوم رحمت دے هرکله چه د حضرت ايوب عليه السلام تول بدن زخمي شه او ټولو خلقو ورسره تګله راتله ينډ کړه نو دا بي بي ورسره تر آخره پورې وه او د هر قسم تکليفونه ئې برداشت کړه يو وار چرته حصاره شوے وه حضرت ايوب ع په غصه کښې قسم اوخوړه چه کله جوړ شوم نو سل لرګي به ئې وهم هرکله چه دے جوړ شه او د قسم پوره کولو اراده ئې اوکړه نو الله تعالیٰ پخپل رحمت سره دا آسان حکم اوکړه چه يوه داسے جارو راواخله چه سل څکي وي په کښې او دا يې اوُ وهه نو ستا قسم به پوره شي.

فائده:- اوګورئ څومره صبر ناک بي بي وه چه په داسے حالت کښې ئې هم برابر د خپل خاوند خدمت کولو او په بيمارئ کښې چه ئې قسم خوړلو د دينه دا هم معلوم شوه چه طبيعت ئې د مرض په وجه نازک شوے وُه ليکن دے دغه هم زغملو د دے خدمت او د صبر برکت وه چه الله پاک دا د لرګو وهلو بچ کړه نو د دينه معلومه شوه چه دا د خدائے پاک څومره خوښه وه چه حکم ئې ورته آسان کړو. اوس دا حکم نشته که چا داسے قسم اوکړه نو قسم به ماتوي او کفاره به ورکوي. په جارو وهلو سره ئې قسم نه پوره کيږي. نو بيبيانو! د خاوند تابعداري او د هغه نازک مزاجي خه زغمئ تاسو به هم داسے د الله پاک خوښه شئ.

(۹) دَ حضرت یوسف علیه السلام دَ ترور حضرت لیّا ذکر

دَ دے ذکر په قرآن شریف کښې راغلی دے۔ چه کله حضرت یوسف علیه السلام دَ مصر بادشاه شه او دَ قحط په ورځو کښې دَ ده رونړه دَ غلې دپاره مصر ته راغلل نو ده ورته ځان او خوده او خپل قمیص ئې دَ خپل پلار یعقوب علیه السلام په سترګو دَ غورزه ولو د پاره ورکړه او دا ئې ورته او وے چه دلته راځئ۔ نو په قمیص دَ حضرت یعقوب علیه السلام نظر ټهیک شه او مصر ته دَ یوسف علیه السلام خواله راغلو نو حضرت یوسف علیه السلام خپل پلار او دغه ترور په تخت کینول او دا دواړه او دَ ده ټول رونړه دغه وخت یوسف علیه السلام ته په سجده پریواته۔ (دغه وخت دَ سلام په ځائے سجده جائز ده) او س جائز نه ده) الله تعالی د یوسف علیه السلام ترور ته په قرآن کښې دَ یوسف علیه السلام مور ویلی دی۔ دَ ده مور وفات شوے وه او پلار ئې د دے ترور سره نکاح کړے وه۔ او بعضو ویلی دی چه دا قصه ئې دَ مور ده۔ خمر راحیل ئې نوم وه۔ حضرت یوسف علیه السلام او فرمائیل چه ځما د ورکوتوالی دَ خواب دا تعبیره ده ځکه خواب لیدلے وه چه نمر، سپوږمۍ او یوولس ستوری ماته سجده کوی۔

فائده:۔ او کوری څومره لوئی ده چه بنی ئې تعظیم او کړه۔

(۱۰) دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دَ مور ذکر

دَ دے نوم یوخاند دے په کوم وخت کښې چه فرعون نجومیانو او ویل او وه چه دَ بنی اسرائیلو په قوم کښې به یو داسے هلک پیدا شي چه ستا بادشاهي به ختمه کړي۔ او فرعون دا حکم او کړه چه په بنی اسرائیلو کښې کوم وړوکے پیدا کیږی هغه قتلوئی نو په زرګونو واړه قتل شو په داسے نازک وخت کښې موسیٰ علیه السلام پیدا شه نو الله تعالی ئې دَ مور په زړه کښې دا خبره واچوله چه الهام ورته واؤئی۔ چه ته ده له تے ورکوه او فکر مه کوه۔ او کله چه پوهه شوے چه څوک به پرے خبر شي نو په صندوق کښې ئې بند کړه او دریاب ته ئې واچوه بیا چه څنګه موږ ته منظوره وه تا ته به ئې واپس کړو۔ نو هغے داسے او کړه او الله تعالی خپلے ټولے وعدے پوره کړے۔

فائده:۔ او ګورئ په الله تعالی ئې څومره یقین او بهروسه وه۔ او دَ دے یقین څومره برکتونه حاصل شو۔ تاسو هم په خدائے پاک یقین او بهروسه ساتئ۔

(۱۱) دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دَ خور ذکر

دَ دے نوم بعضو مریم ویلے دے او بعضو کلثوم۔ هرکله چه موسیٰ علیه السلام

مور دریاب ته واچاوه نو دیته ئې وے چه ته پسې څه چه څه چل ورسره کیږی هغه صندوق په نهر کښې د فرعون محل ته اورسیده نو دوی را واغسته او چې پرته ئې کړو نو یو ښکلے هلک په کښې وه ـ فرعون قتل کولو لیکن د فرعون بی بی چې نیک بخته او خدا ترسه وه ـ د ده قتل خوښ نه کړه او دوا ړو په خوئی سره اوبیوه لیکن اوس موسیٰ علیه السلام د چاتے نه اخِستو تول حیران وو چه څه چل اوکړو دغه وخت د موسیٰ علیه السلام خور هلته رسیدلے وه او ئې وے چې زه به درته یوه ښځه اوښایم چه ډیره خیرخواه او مشفقه ده او پئې ئې هم ډیر صاف دی نو د موسیٰ علیه السلام مور ئې ورته اوخوده هغه ئې راوغوښته او موسیٰ علیه السلام ئې ورته اوسپاره ـ او الله تعالیٰ خپله وعده پوره کړه چه مونږ به ئې تا ته بیا واپس کړو ـ

فائده :ـ اوګورئ عقل څومره ښه شے دے د خپلے مور ئې څومره خیرخواهي په سخت وخت کښې اوکړه او دشمنان پے پوهه هم نه شو ـ د مور و پلار تابعداری او عقل تمیز ډیر لوئے نعمت دے ـ

۵۲) د حضرت موسیٰ علیه السلام د بی بی ذکر

د دے نوم صفوارا دے او دا د حضرت شعیب علیه السلام مشره لور ده کله چه موسیٰ علیه السلام د لاسه په مصر کښې یو کافر بے ارادے مړ شه او فرعون خبر شه نو سرداران ئې د مشورے د پاره راجمع کړه او دے ته چه خبر شه نو په پټه د ښهر نه اووت او مدین ته لاړ ـ هر کله چه هلته اورسید نو د کلی نه باهر ډیر خلق جمع وو او په یو کوهی ئې خپل څاروی اوبه کول ـ او دوه جینکئ خپل څاروی د اوبو نه شړی ـ په دے دواړو جینکو کښې یوه د حضرت موسیٰ علیه السلام بی بی وه او بله خینه ـ ده ترې تپوس اوکړو چه تا سو ولے خپل څاروی اوبو ته نه پریدئ نو دوی ورته اووی چه زمونږ په کور کښې نارینه کارکو نکے نشته نو په دے وجه مونږ کار کوو ـ او مونږ زنانه یو نو د دے سړو تلو ته په انتظار یو چه دوی لاړ شي نو بیا به مونږ خپلے بیزے اوبه کړو ـ د ده په رحم راغے او خپله ئې اوبه را وایستے بیزے ئې ورله اوبه کړے ـ دوی دواړه چه لاړے نو خپل پلار ته ئې دا قصه بیان کړه نو هغه ورپسے هغه مشره را اولیږله چه لاړه شه او ماله دغه ځوان راوله هغه شرم کونکے شان راغله او موسیٰ علیه السلام ته ئې د خپل پلار پیغام اوکړو ـ هغه ورسره شه او حضرت شعیب علیه السلام له راغلو ـ هغه ورله تسلي ورکړه او ورته ئې اووے چه نه د راغوا ړم چه په دے دواړو کښې یوه

تا ته په نکاح کړم لیکن شرط دا دے چه اته کاله یا لس کاله به ما بیا ے څرئے ده منظوره کړه او د مشرے لور سره ئے ورله نکاح اوکړه - بیا چه دوی واپس وطن ته راتله په لاره کښے د یخنئ په وجه ئے او ر ته ضرورت راغے په کوه طور ئے اور په نظر شه هلته چه لاړ نو څخه کا الله تعالیٰ نور وه او هلته ورته پیغمبری ملاؤ شوه -

فائده :- اوګورئ د خپل کور کار ئے څنګه په محنت سره کاوه او د غیر سړی سره چه په لاچارئ خبرے کوی نو څومره شرمیږی - تا سو هم د کور کار په محنت او مینه کوئ ارام طلبی مه کوئ او شرم حیا د ځان سره لازمه ګڼړئ -

(۱۳) **د حضرت موسیٰ علیه السلام د ښځے ذکر**

د دے ذکر هم اوس اوشه د دے نوم صفیرا دے، دے به هم د خپلے خور سره د کور کار په مینه کولو او د پلار تابعداری او خدمت به ئے کولو -

فائده :- تا سو هم د مور و پلار خدمت او د کور کار په محنت او مشقت کوئ کله څنګه چه غریب خلق کار کوی د خپل کور کار کول ذلت مه ګڼړئ د پیغمبر د لونړو نه خو تا سو زیاتے نه ئے چه څخه د کور کار کوی نو تا سو ولے نه کوئ -

(۱۴) **د حضرت آسیهؓ ذکر** فرعون د مصر بادشاه کوم چه د خدائے دعوه کړے وه - دا د څخه بی بی وه د خدائے قدرت چه خاوند دومره شیطان او بی بی دومره بزرګه چه صفت ئے په قرآن کښے کیږی او د کومے چه بزرګی حضور صلے الله علیه وسلم دا سے فرمائی چه په سړو کښے ډیر کمال ته رسیدلی دی لیکن په ښځو کښے یوه هم دومره کمال ته نه ده رسیدلے سوا د حضرت مریمؓ او آسیهؓ نه - چه دے آسیهؓ د حضرت موسیٰ علیه السلام روح د ظالم فرعون نه په ورکوتوالی کښے بچ کړے وه - د دے په قسمت کښے په موسیٰ علیه السلام ایمان راوړل لیکلی شوی وو - نو په ورکوتوالی کښے ئے ورسره محبت پیدا شوے وه چه کله موسیٰؑ پیغمبر شه نو فرعون خو پے ایمان رانه وړو لیکن دے پے ایمان راوړو - فرعون چه ترے خبر شه نو ډیره سختی ئے ورسره اوکړه او قسم قسم تکلیفونه ئے ور ته اورسول لیکن دا د ایمان نه واپس نه شوه او د ایمان په حالت کښے د دنیا نه لاړه -

فائده :- اوګورئ څومره مضبوط ایمان ئے وه چه په دینه خاوند ئے بادشاه وه هر څه څخه اوکړه لیکن دائے ځان ته راونه ګرځوله - بیبیانو! ایمان لوئے دولت دے که هر څومره تکلیف درسی خو د دین خلاف څه کار مه کوئ که د چا خاوند د

له دا د اولنو امتونو متعلق خبره ده ځکه چه حضرت فاطمهؓ د جنت د ښځو سرداره ده خو دا چونکه په دے امت کښے ده نو ځکه ئے ذکر نه دے کړے

بې دینۍ کار ونه کوي نو ملګرتیا ئې هیڅ هم مه کوئ۔ او په هغه زمانه کښې کافره سړي
سره نکاح جائز وه لیکن اوس څو نه په شریعت کښې جائز نه دے۔ او که کافر
کیدو نو اول ورسره نکاح شوې وي نو په کفر ئې نکاح ماتیږي۔

فرعون د لور د خاصدارې ذکر

په روضة الصفا کتاب کښې لیکلي دي
چه د فرعون د لور یو خاص نوکره وه
چه د دې ډیره خاصداره وه او سر به ئې ورله هم منګز کولو یوه ورځ ئې ورله په
سر کښې منګز کوله منګز ترې ارتا وه شوه نو دې بِسْمِ اللهِ او وې را اوچته ئې کړه
دې په موسیٰ علیه السلام پټ ایمان راوړے وه۔ نو د دې جینۍ ترې تپوس او کړه
چه راتاخه او وې داد چا نوم دے دے خواصې ورته او وې داکه هغه چا نوم
دے چه ستا پلار ئې پیدا کړے او بادشاهي ئې ورله ورکړې دا جینۍ حیرانه شوه
چه ځما د پلار نه هم څوک لوئے شته په منډه فرعون له راغله او ټوله قصه ئې ورته
بیان کړه فرعون ډیر غصه شه او هغه خواصه ئې راوغوښته ډیره یره ئې په تیره
کړه لیکن هغې صفا او وې چه هرڅه چه کوې او کړه او زه ایمان اوس نه پریږدم۔ نو
اول ئې ورله په لاسو خپو میخونه ټکوهل او سکروټې او کړمې ایرې ئې ورواچولې چه په
دے څه اونه شو نو په غاړه کښې ئې یو ماشوم وه هغه ئې ترې اورته واچولو هلک د اورنه
مورته آواز او کړو چه مور صبر کوه خبردار چه ایمان پرے نه دې او دا هم هغه شان
پخپل ایمان ولاړه وه تر دې چه دا عاجزه ئې هم بل کړې تنور ته واچوله۔ په دیرشم
سپاره کښې په سورة بروج کښې چه کومه قصه بیان شوې ده په هغې کښې هم دغه شان
د یوے بنځې او د هغې د بچي ذکر دے۔

فائده:۔ او کوره څومره مضبوط ایمان ئې وه۔ بیبیانو! ایمان لوئے نعمت دے د خپل
نفس د خوشحالولو د پاره یا په څه لالچ یا د څه مصیبت په وجه چرته هم پخپل ایمان
او دین کښې خلل مه راولئ د خدائے او د رسول ؐ خلاف یو کار هم مه کوئ۔

(۱۶) د حضرت موسیٰ علیه السلام د لښکر د یوے بوډۍ ذکر

هر کله چه فرعون په مصر کښې بني اسرائیلو له ډیر تنګول شروع کړه او د دوی
به ئې قسم قسم بیګارونه اغستل او وهل به ئې او تکلیف به ئې ورته رسولو حضرت
موسیٰ علیه السلام ته د خدائے د طرفه حکم اوشه چه ټول بني اسرائیل شپه په شپه
د مصر نه اوباسه چه د فرعون د ظلم نه خلاص شي حضرت موسیٰ ؑ چه ټول روان کړه
او دریائے نیل ته اورسیده لار ترې ورکه شوه او هیچا ته هم د لارې درک نه وه
نو موسیٰ علیه السلام په لښکر کښې اعلان او کړه چه چا ته دا راز معلوم وي هغه دې

داشي اودے خائې يوه بوډۍ حاضره شوه عرض ئے اوکړه چه کله د حضرت يوسف علیه السلام انتقال کيده نو هغه خپلو رونړو او وريرونو ته وصيت کړے وه چه کوم وخت تاسو مصر پريږدئ نو زما تابوت چه زما لاش په کښے وي د ځان سره دړئ که زما تابوت درسره نه وي لاړ بيا نه موځئ - نو هغهٔ د تابوت تپوس اوکړه چه کوم ځائے دفن دے د هغے حال هم د دې بوډۍ نه علاوه بل چا ته معلوم نه وُه چه د هغې نه ئے تپوس اوکړه هغې عرض اوکړه چه زما سره اول د يو خبرے اقرار اوکړه نو بيا به درته اووايم تپوس ئے ترے اوکړه چه څهٔ خبره ده هغې اووے هغه اقرار دا دے چه زما خاتمه په ايمان اوشي او په جنت کښے چه يکومه درجه کښے ته ئې هلته ما ته ځا او سيده ځائے ملاؤ شي۔ هغهٔ الله تعالیٰ ته عرض اوکړه چه اے الله دا خبره خو زما په اختيار کښے نه ده حکم ورته اوشه چه ته ورسره اقرار اوکړه او زهٔ به ئے پوره کړم نو اقرار ئے ورسره اوکړه هغې ورته د تابوت ځائے اوخوده چه د دريا ب په مينځ کښے دفن وه - د تابوت ويستل وه او لار فوراً ملاؤ شوه -

فائده :- اوګورئ دا شومره بزرګه بي بي وه چه د دُنيا څه دولت ئے نه غوختهٔ خپل آخرت ئے برابر کړه - نو تاسو هم د دُنيا هوس پريدئ څه چه قسمت وي هغه به ملاويږي خو د دين غم کوئ چه دين مو برابر شي -

(۱۷) **دَ حيسور دَ خور بي بي ذکر** په قرآن شريف کښے دَ حضرت موسیٰ عليه السلام او حضرت خضرؑ عليه السلام دَ قصے ذکر دے چه حضرت خضرؑ يو وړوکے بچے دَ خدائے پاک په حکم سره مړ کړه او حضرت موسیٰؑ ترے تپوس اوکړه چه دے بچي څهٔ ګناه کړے وه چه مړ دے کړه حضرت خضرؑ ورته اُووے چه دا هلک ځوان شوے وے نو کافر به وه او مور وپلار ئے ايماندار وو دَ اولاد په محبت کښے دَ دوي هم دَ خرابيدا ويره وه نو مصلحت دا وه چه دے قتل شي اوس به الله پاک دوي له يوه لور ورکړي چه ډيره نيکه به وي او مور وپلار ته به ډيره نفع اورسوي نو په نوروکتابونو کښے ليکلي دي چه يوه جينۍ ئے هم دغه سے پيدا شوه او يو پيغمبر سره ئے نکاح اوشه - او اويا پيغمبران د دے په اولاد کښے اوشو او کوم هلک نوم حيسور وُه - او دا جينۍ دَ هغه خور وه -

فائده :- دَ چا صفت چه الله پاک اوکړي چه نيکه به وي او مور وپلار ته به فائده رسونکے وي هغه به څومره ښوره وي - اوګورئ دَ ګناه نه پاک او سيدل او مور وپلار ته نفع رسول څومره غوره کار دے چه الله تعالیٰ ئے بيا صفت کوي -

(۱۸) **دَ حيسور دَ مور ذکر** حيسور هغه هلک دے چه ذکر ئے بره راغلے

دے او دا هم معلومه شوے ده چه په قرآن شریف کښے ئے دَ ده مورو پلار ته ایماندار ویلی دی. چا ته چه الله تعالیٰ ایمان دارا ووائی هغه به څومره پخه ایماندارې وی وَ دینه معلومه شوه چه دَ حیسور مور هم لویه بزرګه وه۔

فائده:- اوګورئ ته ایمان پوخوالے دا سے دولت دے چه الله تعالیٰ ئے تعریف کوی۔ نو بیبیانو ایمان مضبوط کړئ او هغه دا سے مضبوطیږی چه په شریعت پوره عمل او شی۔

(۱۹) دَ حضرت سلیمان علیه السلام دَ مور ذکر

په قرآن شریف کښے دی چه سلیمان علیه السلام په دعا کښے دا سے اُووے چه اے الله تا څما په مور و پلار رحم کړے دے (انعام کړے دے) معلومه شوه چه دَ دوی مور هم بزرګه وه ځکه چه لوئے انعام ایمان او دین دے۔

فائده:- اوګورئ ایمان دا سے شے دے چه دَ ایماندار ذکر دَ پیغمبرانو په ژبه هم په ښهٔ والی سره راځی۔ نو بیبیانو خپل ایمانونه ځهٔ خائسته کړئ۔

(۲۰) دَ حضرت بلقیس ذکر

دا دَ سَبا دَ ملک بادشاه وه۔ حضرت سلیمان علیه السلام ته ملا چرګک خبر کړے وه چه ما یوه ښځه بادشاه لیدلے ده او هغه دَ نمر عبادت کوی۔ نو دوی یو خط اولیکه هُدهُد (ملا چرګک) لاسے ور کړو چه هغے ته ئے او غورزه وه په دے خط کښے ئے لیکلی وو چه تاسو مسلمانان شئ او ما ته حاضر شئ دا خط چه ئے او لوستو نو دَ امیرانو سره ئے مشوره اوکړه او دَ دیرو خبرو نه پس ئے په خپله دا صلاح اوکړه چه ځهٔ ورته څه څیز ونه دالئ لیږم که ئے واغستے نو معلومه به شی چه دنیادار بادشاه دے۔ او وائے نه اَغستے نو پیغمبر به وی۔ کله چه دغه دالئ حضرت سلیمان ع ته اورسیده ئے نو تحفے ئے واپس کړے او دائے ورته اووے چه تاسو مسلمانان نه شوئے نو دَ جنګ دپاره فوج را ولم دا پیغام چه ئے واوریده نو یقین ئے اوشه چه بے شکه پیغمبر دے او دَ مسلمانیدو په اراده دَ خپل ښهر نه را اووته دَ دے کوروانیدو نه پس حضرت سلیمان ع په معجزه سره دَ هغے قیمتی او لوئے تخت خپل دربار ته را اوغوخته۔ چه بلقیس معجزه هم اوو یني او ځان لږ ر دو بدلا ئے پکښے اوکړه هرکله چه بلقیس دلته را اورسیده نو دَ حضرت سلیمان علیه السلام په حکم سره دَ دے دَ عقل معلومولو دَ پاره ترے پتوس اوشه چه اوګوره دا خوستا تخت نه دے چه فکر ئے ورته اوکړه نو ورته ئے اووے چه ګویا که لکه چه دا هغه وی نو په دے خبره ئے عقل معلوم شه چه ډیر هوښیاره ده۔ بیا سلیمان علیه السلام دیته دا خبره خودله چه مال خدائے پاک کومه بادشاهی راکړے ده دا ستا دَ دُنیا دَ بادشاهئ نه هسے هم زیاته ده نو دَ حضرت سلیمان علیه السلام په حکم یو حوض دَ او بو نه ډک کړے

شه او دپاسه کيږي د شيشې داسې صفا فرش جوړ کړه چه او به به ښکاريدې او شيشه به نه ښوده ليده او سليمان عليه السلام په داسې ځائي کښې کيناستو چه څوک به ورله ورتله نو داحوض به په لارې راتلو ده به پورې کولو - او بلقيس ته ئې دغه ځائي ته د حاضريدو حکم او کړه بلقيس چه حوض ته او رسيده نو دا خيال ئې او کړو چه اوس به په او بو پورې وځم نو فورًا ئې پائڅې را او چتې کړې نو ورته او ويلې شو چه په دې خو د شيشې فرش دې دغسې دا څه بلقيس چه دا هرڅه او ليدل فورًا مسلمانه شوه - نو بعضې عالمان وائي چه سليمان عليه السلام ورسره پخپله نکاح او کړه او بعضې وائي چه د يمن بادشاه ته ئې په نکاح کړه والله اعلم چه څه اوشو -

فائده :- او کورئ څومره بې نفسه وه چه سره د اميرئ او سردارئ چه د دين رشتونې خبره ورته معلومه شوه نو فورًا ئې عمل او وې منلې تکبر او کړه او نه ئې ځان لوئې او ګاڼه - او نن ئې د خپل پلار نيکه رسم خوښ کړه - نو بيبيانو! تاسو چه هم د دين خبره درا ورسي نو شرم په کښې مه کوئ او مه د پلار نيکه او خاندان په رسم کلکيږئ بلکې هيڅ شے به موپکار نه شي صرف دين به درسره قبر له ځي -

(۲۱) **د بنی اسرائيلو د يوې ونځې ذکر** له بخاري شريف ۱۲

په حديث کښې يو قصه ده چه په بني اسرائيلو کښې يوې ښځې خپل بچي له تے ورکا وه چه يو سُور په ډير شان شوکت سره په لارې تيريشه نو دې ښځې او وې خدايه ځما دابچې داسې کړې نو بچي د تي نه خوله ويسته او ئې وې يا الله مادا سې مه کړې - او بيا ئې په تي شروع او کړه بيا نو رخلق په لارې تيرو شو چه يوه ونځه ئې نيولې په ذلت او خوارئ ئې بوتله - نو دې ښځې او وې خدايه ځما دابچې داسې مکړې بچي د تي نه خوله ويسته وې خدايه ما داسې کړې - نو مور ئې تپوس او کړه چه دا څه وجه ده! بچي مور ته او وې چه دغه په اس سور سړے ظالم دے - او په دې ونځه خلق تهمت لږ وی چه داغله ده يد چلنه ده او هغه غريبه پاکه ده -

فائده :- مطلب دا دے چه د دے سور د مخلوق په نزد قدر دے مګر د الله په نزد ئې هيڅ قدر نشته - او دا ونځه د مخلوق په نزد بې قدره ده مګر د الله په نزد ئې ډير قدر دے - نو د مخلوق په نزد قدر نه دے پکار قدر د الله په نزد پکار دے - چه د الله تعالى په نزد قدر نه وي نو د مخلوق قدر هيڅ پکار نه راځي - او کورئ دا د دے ونځې کرامت وه چه د تي بچي د هغې د پاکئ ښکاره کولو د پاره خبرے کوي - بيبيانو! د بعضې ښځو دا عادت وي چه غريبانان سپک ګڼړي او په بې شان شک عيب پې د غلا لږه وي دا ډير

ناکاره عادت دے شايد چه هغه د الله تعالیٰ په نز دستا سو نه غوره وي -

(۲۲) د بنی اسرائیلو د یو عقلمندې دینداره بي بي ذکر

از تيسير ۱۳

د محمد بن کعب بيان دے چه په بني اسرائيلو کښې يو لوئے عالم او عابد سړے وه د خپلې بي بي سره ئې ډيره محبت وه نو هغه مړه شوه په دے عالم داسے غم اباره شه چه دروازه ئې بنده کړه کينا ستو او د خلقو سره ئې ملاويده پاتے کړل نو په بني اسرائيلو کښې يوه ښځه وه هغې دا قصه واؤريده او ده په ورله او د کور دننه تلو نکو ته ئې اووے چه زه د يو مسئلے تپوس له راغلے يم او د عالم سره ملاويدم زباني تپوس تے کوم هغه ورته د دننه راتلو اجازت ورکړه نو دا راغله ورته ئې اووے چه ما د خپلے ګاونډۍ نه کالي غوختلي وو او ډيرے ورځے م اچولي وو بيا هغې سړے را اوليږه چه خما کالي راکړه نو دا اوس خما نه دا کالي اغستے شي عالم ورته اووے چه بے شکه هغې له ئې ورکول پکار دي دے ښځې ورته اووے چه دا خو ډيره موده خما سره وه نو اوس ئې څنګه ورکړم نو عالم ورته اووے چه اوس خو ئې بنه په خوشحالۍ ورکول پکار دي او احسان ئې منل پکار دي چه ډيره موده ئې در ته پاتے کړے وه - نو ښځې ورته اووے چه خدائے دے ستا سره خه اوکړي بيا ته د ولے په غم کښې پروت ئې خدائے تعالیٰ يو شے تا له په سوال درکړے وه بيا چه ئې اوغوختله نو وائے غستو د هغه شے وه - چه دا ئې واوريده نو د عالم سترګے اوغړيدے او د دے خبرے نه ورته ډيره فائده اورسيده -

فائده :- اوګورئ څنګه ښځه وه چه يو لوئے عالم سړي ته ئې عقل ورکړه - بيبيانو تاسو له پکار دي چه بل هم په مصيبت کښې داسے پوهه کوئ او پخپله هم داسے کنړئ -

(۲۳) د حضرت مريم عليها السلام د مور ذکر

د دے بي بي نوم حنا دے عمران ئې د خاوند نوم دے چه د حضرت مريم پلار دے د دے حمل شه نو د الله پاک نذر ئې اومنلو چه خما اېچے که اوشه نو د بيت المقدس د خدمت د پاره به ئې وقف کړم يعنې د دنيا کار به تے نه اخلم د دے ګمان داوه چه هلک به پيداشي ځکه چه د جمات خدمت هلک کولے شي - په هغه زمانه دا سے منځته جائز وه چه بچے ئې اوشه نو هغه جينئ وه - افسوس ئې اوکړه چه يا الله دا خو جينئ اوشوه حکم اوشه چه دا جينئ به د هلکانو نه هم ډيره ښه وي - او خدائے پاک هغه قبول کړه غرض حضرت مريم ئې ورله نوم کېښود (يعنې عبادت ګذاره ښځه) او هغې د دے د پاره دا دعا اوکړه چه دے لره او د دے اولاد لره د شيطان نه اوساتې - چنانچه حضور صلے الله عليه وسلم فرمايلي دي چه شيطان هر يو بچې د پيدا کيدو په وخت کښې جيړي

لیکن مریمؑ او دَدے خوئی حضرت عیسیٰ علیه السلام کے ندی چیرلی - (اود غسے حضور صلے الله علیه وسلم ئے هم ندے چیرلے)

فائدہ:- ادکورئی چه دَدے نیت پاک وه نو خومره برکت پے اوشه چه خدائے پاک ورله خومره پاک اولاد ورکړه او دعائے هم قبول شوه نو معلومه شوه چه خدائے پاک ئے څومره خاطر کولو - بیبیانو! دَ پاک نیت دا سے برکتونه وی نو همیشه خپل نیت خالص لرئی کوم نیک کار چه کوئی خالص دَ خدائے دَپاره ئے کوئی - نو دَ الله پاک په دربار کښے به ستا سو قدر روی -

(۲۴۲) دَحضرت مریم علیها السلام ذکر

دَدے دَپیدا کید وقصه اوس تیره شوه - کله چه دا پیدا شوه نو خپلے مور دَخپلے منختے مطابق دا واغسته او بیت المقدس ته لاړه او هلته اوسیدونکو بزرگانو ته ئے اووے چه دا دَ نذر جینئ ده دا واخلئ - چونکه دا دَ لوئے خاندان وه - نو ټو لو دا غو ښته چه زه ئے پالنه او کړم په دوی کښے حضرت زکریا علیه السلام هم وه دے دَحضرت مریمؑ دَ تره دخاوند وه نو هسے هم دَدهٔ حق زیات وه لیکن بیا هم خلقو ورسره جګړه شروع کړه او بیا یوه فیصله ټول راضی شو نو په حقه کښے دهٔ او کتله او حضرت زکریا علیه السلام دا یوړه پالنه ئے ورله شروع کړه نو دَدے دَ لوئیدو داحالت وه چه دَ نورو بچو نه به دا زیاته زر زر لوئیده تر دے چه په لږه ورځو کښے بیا هوښیاره معلومیده او هسے هم دَ درکوتوالی نه خاندانی بزرګه وه الله تعالی په قرآن کښے دَ وَلی په نوم یاده کړے ده - او کرمات ئے ورله بیان کړی دی چه بے موسمه میوے به دَ غیبو نه دے له راتلے حضرت زکریا علیه السلام به تے تپوس کاوه چه دا دَ کوم طرفنه راځی نو دے به وے چه دَ الله دَ طرفنه - غرض دَدے ټولے خبرے نا آشنا غوندِ دے تر دے چه ځوانئ ته اورسیده نو محض دَ خدائے تعالیٰ په قدرت سره بغیر دَ سړی نه دَدے حمل شه او حضرت عیسیٰ علیه السلام پیغمبر تے پیدا شه - یهودیانو به بے پلاره بچی پیدا کید و دیرے واهی تباهی خبرے شروع کړے (حالانکه دا څه دَ تعجب خبره خو ځکه نه وه چه حضرت آدم علیه السلام خدائے پاک بے پلاره او بے موره نه وه پیدا کړے نو دَحضرت عیسیٰؑ پیدا کید وکښے څه تعجب وه) الله پاک حضرت عیسیٰؑ علیه السلام له دَ پیدا کید وسره دَ خبرو طاقت ورکړے وه حغه به داسے بنکلے خبرے کولے چه انصاف کونکو ته دا معلومه شوه چه دَدهٔ پیدائش دَ خدائے پاک دَ قدرت نمونه ده بے شکه بے پلاره پیدا شوے دے او دَ دهٔ مور پاک صافه ده - حضور صلے الله علیه وسلم دَدے بزرگی بیان کړے ده چه په

ښځو کښې څوک نه ده کامله شوې بغير د دوه وو ښځو نه يو ه حضرت مريمؑ او بله اسيهؓ د فرعون ښځه۔

فائده :۔ اوګورئ چه د دې مور د خدائې په نوم کړه نو څومره بزرګه شوه او بچله به د الله پاک په دې تابعدارئ کښې مشغوله وه چه بنده په د ولې کيږي۔ د دې په برکت سره خدائې پاک د څومره لوئې تهمت نه بچ کړه۔ بيبيانو د ذن لئې تابعدارئ کوئې د تعلوا فتو نو نه به پچ شئ او خپل او لاد د دين په لار روان کړئ۔ د دنيا بند کلان تے مه جوړه وئ۔ (د بند ارلن تے جوړه کړئ چه د دوئ هم فائده وه او ستاسو هم۔)

(۲۵) <u>د حضرت زکريا عليه السلام د ښځې ذکر</u>

د دې نوم ايشاع دې دا د حضرت حنه خور او د حضرت مريمؑ ترور ده د دې په باره کښې الله تعالیٰ دا سے فرمائي چه مونږ د زکريا بي بي صالحه کړې ده د دې مطلب بعضې عالمانو دا سے ليکلې دے چه د دې عادتونه مونږ ښائسته کړي دي۔ حضرت يحيیٰ عليه السلام د دې نه پېدا شوے وه۔ نو حضرت عيسیٰ عليه السلام په رشته کښې د حضرت يحيیٰ عليه السلام د ترور زمے دے۔ نو سے هم د کوئي په ځائې وي په دے د چه حضور صلی الله عليه وسلم يو تنا د بل د ترور ځوئي فرمايلی دی۔

فائده :۔ اوګورئ ښه عادتونه داسې ښه شے دے چه الله تعالیٰ ئې هم تعريف فرمائي۔ بيبيانو! خپل عادتونه ښائسته کړئ چه طريقه ئې مونږ په اومه حصه کښې ليکلې ده۔ دا پنځوويشت قصے د مخکينو امتونو د نيکو بيبيانو وے۔ اوس لږ شان د دے امت د نيکو بيبيانو هم واورئ۔

(۲۶) <u>د حضرت خديجه رضي الله عنها ذکر</u> (۱)

دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ټولونه اوله بي بي ده۔ د دے ډير لوئے لوئے کرامتونه دي۔ يو وار حضورؐ د ته او فرمائيل چه حضرت جبرئيل عليه السلام د خدائے پاک سلام تا له را وړے دے۔ او دا ئے هم فرمايلي دي چه د ټولے دنيا په بيبيانو کښې د ټولونه غوره څلور بيبيانے دي۔ حضرت مريمؑ۔ حضرت اسيهؓ د فرعون ښځه۔ حضرت خديجهؓ حضرت فاطمهؓ۔ او پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره چه به کافرانو خه بد سلوک اوکړه يا تکليف به ئے ورته اورسا وه نو دوئ به دے ته بيان کړه او دے به ورته داسې تسلي ورکړه چه د حضورؐ پريشاني به ختمه شوه او د حضورؐ د دے سره دومره مينه وه چه د دے د انتقال نه پس چه به حضورؐ څه بيزه وغيره

ذبحه کړه نو د دې ملګرو سهيلو له به ئې هم ضرور غوښه بنه ليږله. د حضور ﷺ نه وړاندې د دې يو بل نکاح شوې وه د دې د اولنی خاوند نوم ابو هاله تميمي دې.

فائده:- د الله او د رسول ﷺ په نزد د دې قدر په ايمان او تابعدارئ سره وه بيبيانو تاسو هم په دې کښې کوشش کوئ. او دا هم معلومه شوه چه د خاوند په پريشانئ کښې د دې دلجوئی او تسلی کول نيک خصلت دې. او س بعضې ښځې د خاوند څه بنه نا څه ذره نور هم پريشانه کوی کله به فرمائيښتونه کوی او کله تکرارونه دا عادت ډير خراب دې.

(۲۷) د حضرت سوده رضی الله عنها ذکر (۲)

دا هم حمونږ د حضور صلی الله عليه وسلم بی بی وه د دې د خپل نمبر ورځ حضرت عائشې رض ته ورکړې وه. او د حضرت عائشې رض وينا ده چه يوې ښځې ته زه نه يم پښخيدلې سوا د حضرت سودې رض نه چه دا به م اوليده نو ما به دا خوښ پيدا شه چه زه هم داسې وې. د دې د اول خاوند نوم سکران بن عمرو وه.

فائده:- او ګورئ د حضرت سودې همت ته چه خپل نمبر خپلې بنې ته ورکړه. نن صبا خو خامخا به د جوړ د ښځې سره به بن په جنګ وی او حسد به کوی او د حضرت عائشې رض انصاف ته او ګوره چه د ښځې تعريف کوی نن صبا خو بن په بنه کښې عيبونه لټوی. بيبيانو! تاسو له هم داسې همت او انصاف اختيارول پکار دی.

(۲۸) د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها ذکر (۳)

دا حمونږ د نبی کريم صلی الله عليه وسلم ډيره د مينې بی بی وه د دې سره په ورکوتوالي کښې د حضور نکاح شوې وه. ډومره لويه عالمه وه چه د حضور صلی الله عليه وسلم لويو لويو صحابو به د دينه د مسئلو تپوس کول. يو وار د حضور ﷺ نه يو صحابي رض تپوس اوکړه چه د ټولو نه زيات ستاسو کوم سره محبت دې او ئې فرمائيل چه د عائشې رض سره څخوی بيا تپوس اوکړه چه په سړو کښې او ئې فرمائيل چه د دې د پلار سره يعنې د حضرت ابوبکر رض سره. نورې هم ډيرې خوبئ د دې بيان شوی دی.

فائده:- او ګورئ يوه ښځه وه چه لويو لويو عالمانو به تې د دين مسئلې تپوسلې. ياد دی چه د عالمانو نه د مسئلې تپوسلو يا د دين د کتاب لوستلو شوق نشته. بيبيانو! د دين علم څه په ځنګ او شوق سره زده کړئ.

(۲۹) د حضرت حفصه رضی الله عنها ذکر (۴)

دا هم حمونږ د حضور صلی الله عليه وسلم بی بی او د حضرت عمر رض لور ده. حضرت

په خه خبره دے لسے طلاق ورکړے وه. بیا د جبرئیل علیه السلام په وینا ئې ورته رجوع اوکړه حضرت جبرئیل داسے ورته اوفرمائیل چه ته حفصےؓ ته رجوع اوکړه ځکه چه داډیره روژه نیسي او که شپے بیداره وي عبادت کوي او دا به په جنت کښے ستا بي بي وي دے خپل ورور عبدالله بن عمرؓ ته وصیت کړے وه چه ځما دومره مال خیرات کړه او څه زمکه هم هغې وقف کړے وه د هغې د بند وبست وصیت ئې هم کړے وه. د دے د اولنی خاوند نوم خنیس بن خذافه وه -

فائده :- د دینداری برکت ته اوګورئ چه الله پاک ئې طرفداری کوي او د فرښتے په لاس ئې د طرفداری حکم رالیږي چه خپل طلاق واپس کړه او د هغې سخاوت ته اوګورئ چه د الله په لاره کښے ئې څه رنګ د خیرات بند وبست اوکړه او زمکه ئې هم وقف کړه - بیبیانو! دینداری اختیار کړئ او د مال حرص او محبت د زړه نه اوباسئ -

(۳۰) **د حضرت زینب رضي الله عنها لور د خزیمه ذکر** (۵)

داهم ځمونږ د حضور صلی الله علیه وسلم بي بي ده او دا دومره سخی وه چه د غریبانو د مور په نوم مشهوره وه - د دے د اولی خاوند نوم عبدالله بن جحش وه

فائده :- اوګورئ د غریبانو خدمت څومره د بزرګئ شے دے -

(۳۱) **د حضرت ام سلمه رضي الله عنها ذکر** (۶)

داهم ځمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بي بي ده - یوه بي بي قصه بیانوي چه څۀ یو وار د حضرت ام سلمهؓ سره وومه - په دے کښے څیرحاجتمند راغله چه سړی په کښے هم وو او ښځے هم راغله او ورته ئې ډیر ټینګار کړو حضرت ام سلمهؓ او وے مونږ ته داحکم نشته اے جینئ - تو لوله څه نه څه ورکول پکاردي یوه یوه چوهاره دے وي - د دے د اولی خاوند نوم حضرت ابو سلمهؓ دے -

فائده :- اوګورئ د حاجتمند ډیر ورډیاو نه تنګیږي - او س خو ورته بدے ردے ویلے شي - بیبیانو! دا بیے چرته مه کوئ رچه طاقت موږي نو څه نه څه ضرور ورکوئ او که څه نه ورکوئ نو خه په نرمئ او د لاسه ئې رخصتوئ سوال ګرې او حاجتمند ته بدے ردے وئیل خه خبره نه ده) -

(۳۲) **حضرت زینب د جحش لور رضي الله عنها ذکر** (۷)

داهم ځمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بي بي ده - حضرت زیدرضؓ حضورؐ پخپل ځوئ والې سره نیولے وه - او ل په شریعت کښے ځوئ نیول جائز وو - چه ځوان شه د حضورؐ

سره ئے دَ واده غم شه نو دَ دے زینب دَ پاره ئے دَ دے رورته پیغام اولیږه - دے دواړو رور خور دا زیده، حسب نسب کښے دَ ځان سره برابر نه ګنړلو - نو اوّل ئے تے انکار اوکړه لیکن بیا الله پاک آیا تونه رااولیږل چه دَ پیغمبر په تجویز کښے مسلمانانو لره عذر کول نه دی پکار - نو بیا دواړو دغه پیغام منظور کړه او نکاح اوشه - لیکن دَ بنځے خاوند دَ یو بل سره موافقت رانغے او اَخر چه حضرت زید رضی الله عنه دَ طلاق قواراده اوکړه خو حضور ﷺ راغلو او دواړو ئے دلاسه شان کړل لیکن دا ورته معلومه شوه چه دَ دواړو جوړه راتلل ګران دی خو دا فکر ورسره شه چه دوی خواول هم نه منله لیکن ځما په وینا ئے دا کار اوکړه اوس که په مینځ کښے طلاق راشی نو دا خو بیا ډیر دَ دوی خوراو رور سپکا وے دے او دَ دوی خو به ډیر زړه مات شی - اوس خو دَ دوی دَ دلاسه کولو هم څه تدبیر پکار دے - اَخر اخیره ئے په خیال کښے راغله چه که زهٔ ورسره پخپله نکاح اوکړم نو دَ دوی تسلّی به اوشی او بل دَ دے خبرے هیڅ تدبیر نه جوړیږی لیکن دَ دنیا خلق به اوس خبرے شروع کړی چه ګوره دَ ځوئ بنځه ئے واخسته اګرچه په شریعت کښے خو پردے بچے په تش ځوئ ویلو سره حقیقی ځوئ کیږی نه مګر دَ خلقو ژبه به څوک بنده کړی او بے ایا نه خلقو له خو بره نکته هم پوره ده. دوی په دے سوچ کښے وو چه اخوا حضرت زید رضی الله عنه طلاق هم ورکړه دَ عدت تیریدو نه پس دَ دوی زیات خیال داوه چه پیغام ورته اولیږم - نو پیغام ئے ورکړه - خو هغری اووے چه مونږ خپل رب ته وابه پخپل عقل سره هیڅ نه کوو هغه ته چه څه منظوره وی پخپله به انتظام اوکړی - دائے اووے او دَرس ئے اوکړه او په مانځه شروع شو - او دَ مانځه نه پس ئے دُعا اوکړه - الله تعالیٰ پخپل پیغمبر آیتونه نازل کړه چه مونږ دَ دے نکاح ستا سره اوکړه - نو حضور ﷺ دَ دوی کره تشریف راوړه او آیاتونه ئے ورته واوره ول - دے به په نورو بیبیانو فخر کاوه چه ستاسو نکاح مور و پلار کړے دے او ځما الله پاک کړیدے او اوّل اوّل چه دَ پردے حکم راته نو هغه دَ دے په واده کښے اوشه - او دا بی بی ډیره سخی وه دَ دستکاره هم وه دَ خپلو لاسو په آمدنی به ئے خیراتونه کول - یو وار ټولے بیبیانے جمع شوے او دَ حضور ﷺ نه ئے تپوس اوکړه چه ستاسو نه پس به اوّل څوک بی بی دَ دُنیا نه درځی ستاسو سره به ملاویږی هغوئ او فرمائیل دَ چا چه لاس اوږد وی - په عربی بول چال کښے اوږدو لاسو نو والا سخی ته وائی لیکن بیبیانے په دے پوهه نه شوے نو دَ ناپ یو لرګے ئے راواخستو او خپل خپل لاسونه ئے ناپ کړل نو دَ ټولو نه زیات اوږده لاسونه دَ حضرت سوده رضی الله عنها اوختل لیکن دَ ټولو نه اول حضرت زینب رضی الله عنها وفات شوه نو دغه وخت دوی ټولے پوهه شوے چه مطلب دَ اوږدو

لاسو نه سخاوت وه - غرض د دے سخاوت د الله اورسول په نز د هم منلے شوے وه. د حضرت عائشه رض د وينا ده چه ما د حضرت زينب نه بنځه بله بنځه نه ده ليدلے په دين کښے ډيره کامله، د خدائے نه ډيره ويريدونکے، د خبرے ډيره رشتينے. د خپلوانو سره ډير ښه سلوک کونکے، ډير خيرات کونکے، د خيرات کولو د پاره د لاسو په مزدورئ کښے ډيره محنت کونکے - حضور د دے په حق کښے فرمايلي دي چه په زړه کښے ډيره عاجزي لرونکے خدائے ته ډيره جهيدونکے وه -

فائده:- بيبيانو! تاسو اوکتل د سخاوت بزرگي او د لاسو کار غوره والے او په هر کار کښے خدائے پاک ته رجوع کول - کورئ چرته پخپل لاس سره کار کول ذلت او خواري مه گڼرئ هسے او کسب چرته عيب مه گڼرئ -

(۳۳) **دَحضرت اُمِّ حبيبه رضی الله عنها ذِکر** (۸)

دا هم څو بي د حضور صلے الله عليه وسلم بي بي ده هرکله چه په مکه کښے کافرانو مسلمانان ډير آزار کړه او مدينے ته د تللو حکم نه وه شوے دغه وخت ډير مسلمانان حبشے ته تلي وو د هغے ځائے بادشاه چه نجاشي ورته وائي نصراني مذهب ئے وه مگر د مسلمانانو د تلو نه پس هغه مسلمان شه په دغے حبشے ته تلونکو کښے يوه دا ام حبيبه رض هم وه دا کوندئ شوه نو نجاشي بادشاه يو خاص نوکر چه ابرهه نوم ئے وه ديته او ليږه چه زه تاته د حضور صلے الله عليه وسلم د پاره پيغام درکوم هغے منظور کړه او په انعام کښے ئے ابرهه ته دوه د سپينو کنگڼړا و څو گوتځلي ورکړه د دے د اولني خاوند نوم عبيدالله بن جحش وه -

فائده:- څومره ديندار وه چه د دين د حفاظت د پاره د کور ه يے کوره شوه آخر د دے د محنت په بدله کښے الله تعالیٰ څومره راحت او عزت ورکړه چه د حضرت سره ئے نکاح اوشه او بادشاه ورله بند وبست اوکړه - بيبيانو! کله چه د دين موقع راشي نو د دنيا د مال يا کور يا نوم يا راحت ته حرص مه کوئ ټول په دين قربانوئ -

(۳۴) **دَحضرت جويريه رضی الله عنها ذکر** (۹)

دا هم څو بي د حضور صلے الله عليه وسلم بي بي ده دا په يو جنګ کښے چه د بني مصطلق په جنګ سره مشهور دے د کافرانو د ښځو سره په قيد کښے راغلے وه او د يو صحابي ثابت بن قيس رض يا د ده د تره د ځوئ په حصه کښے رسيدلے وه - د دے خپل مالک ته اووے چه زه به تا له دومره روپۍ درکوم ته ما د غلامئ نه آزاده کړه هغه منظوره کړه دا حضور له راغله چه کد روپو څه امداد را سره اوکړی

هغوئ دَ دوی په دینداریٔ او غریبیٔ رحم اوکړه او اُوئې فرمائیل چه که ته والې
نو روپئ به ټولے زهٔ ورکړم او ستا سره به نکاح اوکړم هغې ډیره په مینه دا
قبوله کړه - غرض نکاح اوشه - کله چه خلقو ته دَ نکاح حال معلوم شه نو دَ
هغې دَ خاندان او قبیلے نور هم ډیر قیدیان دَ نورو مسلمانانو په قبضه کښے وو ئې
ټول خپل قیدیان دَ غلامئ نه آزاد کړه چه دَ قبیلے خواوس څومره دَ حضور ﷺ
سخر کښے شوه - اوس دَ دوی نه غلامان جوړه ول بے ادبی ده - حضرت عائشه رضی
فرمائی چه داسے یوه ښځه مونږ نه ده لیدلے چه دَ هغې خاندان ته دَ هغې نه
دومره فائده رسیدلے وی - دَ دے دَ اوّلنی خاوند نوم مسافع بن صفوان وه -

فائده :- او گورئ دینداریٔ څومره لوئے نعمت دے چه دَ دینداریٔ په وجه که
وینځه وه خو دَ حضور ﷺ بي بي شوه - نو بیبیانو! دَ حضور ﷺ نه څوک زیات عزتمند
نشته چه هغه وینځه ځیله بي بي جوړه وی نو تاسو هم بلا غریبه سپکه مه گنړئ

(۳۵) دَ حضرت میمونه رضی الله عنها ذکر (۱۰)

دا هم څونږ دَ حضور صلی الله علیه وسلم بي بي ده دَ حدیثو بولوئے عالمه
داسے وائی چه دَ دے نکاح دَ حضرت سره داسے شوے وه چه دے عرض اوکړه چه ځه خپل ځان
تاسو ته بخښم - یعنے بغیر مهر نه ځان ستاسو په نکاح کښے داوستل غواړم او حضور ﷺ قبوله
کړے وه دغه شان نکاح خاص دَ حضور دَ پاره جائز ده - او بل یو لحت مفسر عالم وائی
چه یه کوم آیات کښے دَ داسے نکاح حکم دے هغه اوّل دَ دے بي بي دَ پاره نازل شوی دے
دَ دے دَ اوّلنی خاوند نوم حویطب وه -

فائده :- او گورئ څومره په دین عاشقے بیبیانے وے چه دَ حضور ﷺ خدمت ئے عبادت
گانړه دَ مهر پرواه ئے هم نه کوله حالانکه په دغه زمانه به ... لاس په لاس
میلاو یده - زمونږ دَ دے زمانے پیشان دَ مرګ یا قیامت ته پورے قرض ... ده -

(۳۶) دَ حضرت صفیه رضی الله عنها ذکر! (۱۱)

دا هم څونږ دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلم بي بي ده خیبر مدینے منورے ته نژدے
یو کلے دے دَ غلته دَ مسلمانانو دَ یهودیانو سره جنګ شوے وه دا بي بي په دغه
جنګ کښے په قیدیانو کښے راغلے وه او دَ یو صحابی رضی په حصه کښے رسیدلے وه حضور ﷺ
دَ هغه نه واخستله آزاده ئے کړه او دَ هغې سره ئے نکاح اوکړه دا بي بي دَ حضرت
هارون علیه السلام په اولاد کښے ده او ډیره بردباره عقلمنده وه او دَ خوبونه چکه وه
دَ دے بردبارئ دَ یوے قصے نه معلومیږی چه دَ دے یوے وینځے حضرت عمر رضی ته په دروغه

زده خبره چغلي اوکړه - يعنې داچه کوم لا تر اوسه پورې د سينې (خالي) د ورځې سره محبت دے دا ورځ په يهوديانو کښې ډير تعظيم وه. نو مطلب دا دے چه په دې کښې لا تر اوسه پورې د يهوديت اثر باقي دے. او بله دا چه يهوديانو له ورکړه راکړه ډير کوي. حضرت عمرؓ د حضرت صفيهؓ نه تپوس اوکړه نو هغې جواب ورکړه چه اوله خبره خو بالکل دروغ ده د کله نه چه زه مسلمانه شوې يم او د جمع ورځ الله پاک راليږلې ده نو ځما د خالي د ورځې سره مينه نه ده پاتې شوې. پاتې شوه دويمه خبره نو دا البته صحيح ده او وجه ئې دا ده چه د هغه خلق ځما رشته دار دي او د رشته دارو سره سلوک ښه کول د شريعت نه خلاف نه دي. بيا ئې د دې وينځې نه تپوس اوکړه چه تا ته د دې دروغو چغلئ کولو چا ويلي دي؟ هغې اووې چه شيطان نو هغې اوفرمايل چه زه تا ما آزاده کړې ده. اولنې خاوند کنانه بن ابي الحقيق و.

فائده:- بيبيانو! اوګورئ بردباري د يته وائي تاسو لره هم پکار دي چه د خپلو خادمانو نوکرانو قصور معاف کوئ په خبره خبره کښې تې به له اپستل کم حوصلګي ده. اوګورئ! رشتونې دومره وه چه څه خبره وه نو صفائي اووې د ځان نه جوړه ول ئې او نه کړه کنن صبا چه د اکثرو ښځو عادت دے چه چرته په ځان بانده خبره نه راولي هيڅ پيده کوي او ځان به د خبرې نه او الزام نه بچ کوي. دا ډير بد عادت دے.

(۳۷) د حضرت زينب رضی الله عنها ذکر (۱۲)

دا بي بي ځمونږ د حضور صلی الله عليه وسلم لور ده او د حضورؐ ورسره ډير محبت وه. د دې نکاح د حضرت ابو العاص ابن الربيع سره شوې وه. (په اول د اسلام کښې د کافرو مسلمانو نکاح جائز وه) کله چه دا مسلمانه شوه او خاوند ئې د مسلمانئ نه انکار اوکړه نو علاقه ئې تې قطع کړه او مدينې ته ئې هجرت اوکړه لږه ورځ پس ئې خاوند هم مسلمان شه مدينې ته راغے حضورؐ ئې ورسره بيا نکاح اوکړه او کله چه دے هجرت کاوه مدينې ته راتله په لاره کښې يو بله قصه اوشوه چه په لاره کښې يو دوه کافر يو ځائې شو خيو دا تيله وهله او په يوه ګټه راپريوته او حمل ئې وه هغه ئې ارتاؤ شه او دا سے صدمه ورته اورسيده چه د مرګ پورې د دينه جوړه نه شوه. آخر په دے کښې ئې انتقال اوشه.

فائده:- اوګورئ څومره همت او ديندارئ ده. چه د دين د پاره ئې خپل وطن او خاوند پريښود د کافر نو د لاسه ورته څومره تکليف اورسيد چه روح ئې پکښې لاړه شه ليکن په دين قائمه پاتې شوه. بيبيانو! د دين د پاره هر څه پاتې کول پکار دي که څه تکليف در رسي هغه برداشت کوئ د بے دينه خاوند ملګرتيا مه کوئ.

(۳۸) **دحضرت رقيه رضي الله عنها ذکر** (۳)

دا هم حضور صلی الله علیه وسلم لورده ده دے اول نکاح دعُتبه سره شوے وه چه د ابولهب کا فر ځوئی وه۔ نو کله چه دا دوا ړه پلار ځوئی مسلمانان نه شوا و د پلار په وینائی دا بی بی پاتے کړه نو حضور د دے نکاح د حضرت عثمان رض سره او کړه کله چه حضور د بدر جنګ له تلے وه دغه وخت دا بیماره وه نو حضور حضرت عثمان رضی الله عنه د دے د خبر اغستو د پاره پاتے کړے وه په مدینه منوره کښے او فرمائیلی ئے وو ورته چه تا ته به هم د جهاد والو په شان ثواب ملاویږی او د جهاد والو سره ئے د ده حصه هم مقرر کړه او په کومه ورځ چه فتح او شوه مدینے ته دوی واپس شو په دغه ورځ د دے انتقال هم او شه۔

فائده ۱:- او کورئی خومره بزرګی ده چه د دے خدمت کول ئے د جهاد برابر کړه دا بزرګی د دے د دیند اری په وجه ده۔ بیبیانو! د خپل دین د پخولو هر وخت خیال ساتئ۔

(۳۹) **دحضرت اُم کلثوم رضي الله عنها ذکر** (۱۴)

دا هم د مونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لورده د دے اولنے نکاح د عتیبه سره شوے وه چه د دغه ابولهب دویم ځوئی وه۔ لا واده شوے نه وه چه حضور ته پیغمبری ملاؤ شوه نو ده هم د پلار په وینا دا پاتے کړه هر کله چه د دے د خور حضرت رُقیے رض انتقال اوشه نو د دے نکاح د حضرت عثمان سره او شه او کله چه د حضرت رُقیے رض انتقال اوشه نو اتفاقاً په دغه زمانه کښے حضرت حفصهٔ هم کونډه شوے وه د دے پلار حضرت عمر رض د دے نکاح د حضرت عثمان رض سره کول غوختل نو حضور خبر شه او ئے فرمائیل چه حفصهٔ ته د عثمان رض نه غوره خاوند خائم او عثمان رض ته د حفصے رض نه غوره بی بی خائم۔ نو د حضرت عثمان رض سره ئے د اُم کلثوم رض نکاح او کړه او حفصه رض ئے پخپله په نکاح واغسته۔

فائده:- غوره والے د ایمان په وجه دے بیبیانو تاسو هم ایمان او دین برابر کړئ۔

(۴۰) **دحضرت فاطمه زهرا رضي الله عنها ذکر** (۱۵)

دا په عمر کښے د ټولو خویاندو نه کشره او په محبت کښے د ټولو زیاته خوږه لور وه د حضور صلی الله علیه وسلم۔ حضور ورته د خپل روح ټکړه ویلے ده او د ټول جهان د ښځو سرداره ئے ورته ویلے ده۔ او دائے هم فرمائیلی دی چه په کومه خبره فاطمه رض خفه کیږی په هغے ما ته هم خفګان رارسی۔ او په کومه بیماری

کښې چه حضورؐ وفات فرمائیلے دے په دے بیمارئ کښې دوئ د ټولو نه پټ صرف دینه د دے خبرے خبر ورکړے دے چه ځما وفات نژدے دے نو په دے خبره د او جبرئیل حضورؐ ورته بیا په غوږ کښې اوفرمائیل چه غم مه کوه یو ته به د ټولو نه اول په ما پسے راشے اوبل تا به د جنت د ښځو سردار ه ئے۔ چه دائے واوریدل نو اوئے خندل۔ د حضورؐ بیبیانو کومرو د دینه پوښتنه کول خودے د حضورؐ د وفات نه پس داراز ښکاره کړه۔ او د حضرت علیؓ سره د دے نکاح شوے دے۔

فائده ۱:- د حضورؐ دا ټول محبت او خصوصیت ورسره ځکه وه چه دا د ټولو نه زیاته دینداره شاکره اوصابره وه۔ بیبیانو! دین او صبر شکر اختیار کړئ نو تاسو به هم د خدائے او رسولؐ محبوبے جوړے شئ۔

فائده ۱:- بیبیانو! یوه بله خبره د سوچ ده چه تاسو د حضورؐ د یولس بیبیانو او څلورو لوڼو وحال اولوستو د دینه به تاسو ته دا هم معلومه شوے وی چه په بیبیانو کښے بغیر د حضرت عائشےؓ نه د ټولو بیبیانو د حضور سره دویم نکاح شوے دے او په لوڼو کښے بغیر د حضرت زینبؓ او حضرت فاطمےؓ نه د باقی دوه و د حضرت عثمانؓ سره دویم نکاح شوے ده دا دولس حقه بیبیانے دی چه په دنیا کښے یوه ښځه په عزت او مرتبه کښے د دوی برابر نه دی۔ که دویم نکاح د عیب خبره وے تو دے بیبیانو به توبه توبه د عیب خبره کوله افسوس دے چه بعضے ناپوهه دا عیب ګڼړی نو چه د حضورؐ د کورنئ خبره څوک عیب ګڼړی نو ایمان به ئے څنګه پاتے شی۔ د کونړے د کینو لو طریقه د هند وانو ده۔ او بله دا چه ښځو نو کونړه وکښے ایمان اُغیرت د دے زمانے د کونړو نه زیات وه ښځوا شرم او حیا وه اوس شرم او حیا نشته دے او نه اوس څوک د کونړو د پالنے او خبر ګیرئ خیال ساتی نو اوس خو بالکل د کونړے د کینو لو زمانه نه ده۔ او س د هغے بیبیانو ذکر دے چه د حضورؐ د زمانے وے او د بعضو پکښے د حضور سره خاص تعلق وو۔

(الف) ## د حضرت حلیمه سعدیهؓ ذکر له رزمانه القصص (۱)

دے بی بی حضور صلی الله علیه وسلم له تے ورکړے دے او کله چه حضورؐ په طائف شهر جها د اوکړه دا بی بی د خپل خاوند او ځوئ سره د حضورؐ په خدمت کښے حاضر شو حضورؐ ئے ډیر تعظیم اوکړه او خپل څادر ئے خورکه دائے پے کینوله او دوی ټول مسلمانان شو۔

فائده:- اوګورئ چه سره د دے چه د حضور صلی الله علیه وسلم سره ئے لویه علاقه وه لیکن پادے پوهه وه چه بغیر د دین ایمان نه یوائے په دے علاقه کار نه کیږی نو ځکه

داغله او دین ئے قبول کړه نو تاسو هم په دے خبره پوهه وسه مه کوئ چه د چا پلار فقیر او لادیو چه ستاسو سره ځیل ایمان وی نو بیا داخلق ستاسو د پاره د الله په حضور کښے څه خبره کولے شی لیکن که ایمان درکښے نه وی نو بیا هیڅوک علاقه پکار نه راځی.

(۴۲) دَ حضرت اُمّ ایمنؓ ذکر (۲)

نه از مسلم د نووی ۱۲

حضور صلے الله علیه وسلم به کله کله د دے سره د ملاوید د پاره ته یو وار حضورؐ تشریف راوړو نو دے ورله په پیاله کښے د سکلو څه شے راوړه خدائے خبر چه دغه وخت د حضورؐ زړه نه غوښته یا به ئے روژه وه چه د سکلو شئے عذر اوکړو نو دے به د پاللو ناز ولو ضد ئے اونیوو او دریده چه خامخا به ئے سکے. او حضورؐ به واسے هم فرمائیل چه تما د حقیقی مور نه پس ام ایمنؓ خما مور ده. د حضورؐ د وفات نه پس به حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ هم کله کله د دے زیارت له تللو چه دوی به ئے اولیدل نو حضورؐ به ئے یاد کړه په ژړا به شوه او دوی به هم اوژړل.

فائده:- اوګورئ د څومره بزرګئ خبره ده چه حضور صلے الله علیه وسلم ورله ځی او داسے لوئے بزرګان ئے خاطر کوی دا بزرګی ئے په دے وجه وه چه دے د حضورؐ خدمت کړے وه او به دین کښے کامله وه. بیبیانو! اوس د حضور صلے الله علیه خدمت دا دے چه د دین خدمت ئے اوکړئے او نیکے خبرے بنځو ته اوخایئ او ځیل اولاد ته د دین او نیکئ تعلیم ورکړئ او پخپله هم په دین مضبوط شئ انشاء الله تعالیٰ تاسو ته به هم د بزرګئ حصه ملاؤ شی. او د زیارت کولو واسے مه ګرځئ چه دا به د دے تولو په مخ کښے بے پردے کیدل وو - بلکه پرده به په مینځ کښے وه -

(۴۳) دَ حضرت ام سلیمؓ ذکر (۳)

دا د حضور صلے الله علیه وسلم صحابیه ده او د ابو طلحهؓ صحابی بی بی ده او د حضرت انسؓ چه د حضورؐ خاص خدمتګار وو مور ده - او بیا یو طرف د حضورؐ تروره ده - او د دے یو صحابیؓ رور وه چه د حضورؐ سره په جنګ کښے شهید شوے وو د دے تولو خبرو په سبب به حضورؐ د دے ډیر خاطر کولو او کله کله به ئے د دے کور ته تشریف وړلو - او حضرتؐ دا په جنت کښے هم لیدلے وه - او د دے یوه عجیبه قصه ده چه د دے یو بچے ناجوړه شوے وه او یوه ورځ مړ شو او د شپے وخت وه اوس د دے صبر ته ګوره داخیال ئے اوکړو چه که خاوند خبره وومه نو تموله شپه به بے آرامه وی خوراک به اونه خوری چه خاوند ئے راغے او پوښتنه ئے اوکړه چه بچے څنګه دے دے اووے اوس په آرام شوے دے او دروغ ئے هم نه وے د مسلمان د پاره

ددينه ديات به څه آرام وي چه هغه اصلي ځاۍ ته لاړشي او هغه په کې پوهه نه شه. لږ ډاک ئې ورله راوړ هغه ئې اوخوړه بيائې ديته خواهش اوشه اود خدائې بندې په دې کښې هم څه عذر او نه کړه چه ځ ته لږ خبر ورله فارغ شو نو خاوند ئې تپوس اوکړه چه کنځوک چالره سوالي څه شې ورکړي او بيا ئې غواړي نو انکار ورته کولې شي هغه اووې هيڅ نه شي کولې نو دې ورته اووې بيا د بچي نه زړه صبر کړه هغه ډېر خفه شه چه زه دې اول ولې خبر نه کړم اولاړ دا ټول قصه ئې حضورؐ ته بيان کړه - حضورؐ ورته دعا اوکړه دخدائې قدرت وه په هغه شپه ئې حمل شه او بچې ئې پيدا شه عبد الله نوم ئې ورله کېښود اودا عبد الله ډېر لوئې عالم شه او په اولاد کښې ئې لوئې لوئې عالمان پيدا شو-

فائده :- بيبيانو! صبر د دينه ازده کړئ او خاوند ته د آرام رسولو سبق ددينه واخلئ او دا د غوختلو شي څنګه ښکلې مثال ئې ورکړه کنه سړې په دې ګمان پوهه کړي نو چرته يه بې صبري اونه کړي- او د صبر برکت ته اوګورئ چه الله پاک ورله څومره زر بدله ورکړه او دا سې بدله چه ډېره غوره -

(۴۴) د حضرت اُمِّ حرامؓ ذکر (۴)

له از مسلم ۱۲

داهم صحابيهؓ ده او د حضرت اُمِّ سليمؓ خورده داهم د حضور صلى الله عليه وسلم د يو طرفه ترورده د دې خوا ته به هم حضورؐ تشريف وړو يوه ورځ حضورؐ د دې کره ډوډۍ او خوړه او خواب ورله راغلو او ده شه بيا په خندا راويښ شو دې تپوس اوکړه حضورؐ اوفرمائيل چه ما دا وخت په خواب کښې خپل اُمّت خلق اوليدل چه د جهاد د پاره په جهازونو سواره ځي او په سامان جامو کښې اميران او بادشاهان معلوميږي - دې عرض اوکړه چه يا رسول اللهؐ سوال اوکړئ چه خدائې تعالیٰ ما هم د دوي ملګرې کړي نو دعائې ورته اوکړه - بيا ورله خواب راغې او دغه شان په خندا راويښ شه او دغه شان خواب ئې بيان کړه چه په دې خواب کښې دفه شان نور خلق هم اوليده دې عرض اوکړه چه دعا اوکړئ چه الله تعالیٰ ما د دوي ملګرې کړي حضورؐ اوفرمائيل چه ته د اولنو سره ئې- چنانچه د دې خاوند چه نوم ئې عباده وه د درياب په سفر جهاد له تلو او دا هم ورسره وه چه په درياب پورې وتل دا په يو خاروي سوره شوه هغه ليتې او دې ځلې دا ارتا وه شوه او وفات شوه -

فائده :- د حضورؐ دعا قبوله شوه ځکه چه د جهاد په سفر کښې وفات شوه او د جهاد په سفر کښې چه هر څنګه مړ شي خو د شهيد ثواب ورته ملاويږي اوګورئ څومره دينداره وه چه د ثواب حاصلولو په شوق کښې ئې د ګمان هيڅ

پروا نه کوله پخپله ئے په دُعا اوکړه چه دا دولت دا ته ملاؤ شی - بیبیانو تاسو هم دا سے شوق کوئ او د دین په کار کښے تکلیف زغمئ چه ثواب اوګټئ -

(۵) دَحضرت اُمِّ عبدؓ ذکر (۵م)

دا دَحضرت عبد الله ابن مسعودؓ صحابی موردہ او پخپله هم صحابیهؓ ده دَحضور صلے الله علیه وسلم په کور کښے دَدے دومره دخل وه په کار ونو کښے چه خلقو به دا سے ګڼړله چه دا هم دَدے کور ده -

فائده :- دا دومره خصوصیت دَدے دَحضور صلے الله علیه وسلم په کور کښے فقط دَدین په وجه وه - بیبیانو! که تاسو هم خپل دین خائسته کړئ نو په قیامت کښے به درته دَحضورؐ نزدے والے حاصل شی -

(۶) دَحضرت ابوذر غفاریؓ دَمور ذکر (۶م)

دا یو صحابیؓ دے هر کله چه دَحضور صلے الله علیه وسلم دَپیغمبرئ خبر مشهور شه او کافرانو دے دروغجن کړه نو دا بزرګ دَخپل وطن نه مکے ته دَدے خبرے دَتحقیق دَپاره راغلو دلته چه ئے حال معلوم کړه مسلمان شه چه کورته واپس شه نو مورته ئے دا ټول قصه بیان کړه نو هغه هم فوراً مسلمانه شوه -

فائدهؔ :- او ګورئ دَطبیعت پاکی داده چه کله ورته رشتیا خبره معلومه شوه نو دَ هغے په منلو کښے ئے دَپلار نیکه طریقے ته خیال اونه کړه - بیبیانو! تاسو ته هم چه کله دَشریعت خبره معلومه شی نو دَ هغے په مقابله کښے دَخاندانی رسمونو نوم مه اَخلئ دَدین خبر منئ -

(۷) دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه دَمور ذکر (۷م)

دا یو صحابیؓ دے یو وارئے خپله مور دَدین قبلولو دَپاره پوهه کوله یو وارئے مور دین ایمان ته څه دا سے خبره اوکړه چه دَه ته ډیره صدمه اورسیده - نو په ژړا حضورؐ له راغے چه ځما مورته دعا اوکړئ چه خدائے پاک ورته هدایت اوکړی حضورؐ دُعا اوکړه چه یا الله دَابوهریرهؓ مورته هدایت اوکړے - دے په خوشحالئ خوشحالئ کورته راغے نو دروازه بنده وه او دَاوبو غورزیدو آواز راته لګه چه څوک غسل کوی - دَ دَه دَراتلو په کشارئے مور پوهه شوه ورته ئے اووے چه لږ او دریږه چه غسل ئے اوکړه ورئے لرے کړه او اوئے وے اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ - دَ دَه دَډیرے خوشحالئ نه دا حال شه چه بے اختیاره په ژړا شه او په دغه حال کښے لاړ شه ټول قصه ئے حضورؐ ته بیان کړه حضورؐ دَالله پاک شکر

ادا کړه - اوده اووې یارسول الله دعا اوکړې چه دمسلمانانو سره ځمونږ مینه و
ځامنو محبت شي او دمسلمانانو ځمونږ دواړو سره نوهغوی دعا اوفرمایله -
فائده :- اوګورئ د نیک اولاد دا څومره لویه فائده ده - بیبیانو! خپل اولاد ته
هم د دین علم اوزده کړئ چه ستاسو دین په خائسته شي -

(۴۸) دحضرت اسماءؓ بنت عُمیس ذکر (۸)

دا بی بی صحابیه ده هرکله چه په مکه کښې کافرانو مسلمانانو ډیر آزار کړه دغه وخت
ډیر مسلمانان دحبشو ملک ته تلي وو- په هغوی کښې یوه دا هم وه بیا چه حضورﷺ
مدینې ته تشریف یوړو نوهغه مسلمانان مدینې ته راغله اودا ورسره هم راغله
حضورﷺ دیته خوشخبري ورکړې وه چه تا دوه هجرتونه کړي دي ستا ډیر ثواب دے -
فائده :- اوګورئ د دین دپاره دوه ځایه دکوره بې کوره شوه نو ثواب به یې
ولې کم وي - بیبیانو! که د دین په باره کښې څه تکلیف راشي نوبرداشت کوئ ئې -

(۴۹) دحضرت حذیفهؓ دمور ذکر (۹)

حضرت حذیفهؓ یو صحابی دے فرمائي چه ځما مور یو وار ځمانه تپوس اوکړه چه څومره
ورځې کیدي چه ته دحضور صلی الله علیه وسلم خدمت له تلې نئې - ما ورته اووے چه
دومره ورځې شوي دي نو به دے ردے ئې راته اووے - ما اووے چه اوس حکم اوماښام
مونځ به ورسره کوم او عرض به ورته اوکړم چه ځما او ستا دپاره د بخښنې دعا اوکړي
نو زه لاړم ماښام مونځ م ورسره اوکړه دماسخېن م هم اوکړه چه دماسخېن مانځه نه
پس دوی روان شو زه ورپسې شوم ځما آواز چه ئې واوریده او ئې فرمایل حذیفه
دے؟ ما اووے جی هاں - او ئې فرمایل خدای کار دے الله دے تا او ستا مور اوبخي -
فائده :- اوګورئ څومره نیکه بی بی وه چه دخپل اولاد دپاره ئې د دې خبر و خیال ساته
چه دحضورﷺ خدمت له تلې ئې او که نه - بیبیانو! تاسو هم خیال ساتئ او بچلو
بچو تاکید کوئ چه د نیکانو او بزرګانو خوا له ځي د دین خبرې ترې اِزده کوي او د
نیک صحبت برکتونه حاصلوي -

(۵۰) دحضرت فاطمهؓ بنت خطاب ذکر (۱۰)

دا د حضرت عمرؓ خور ده دحضرت عمرؓ نه اول مسلمانه شوې ده د دې خاوند
سعیدؓ بن زید هم مسلمان شوے وه دوی به دحضرت عمرؓ د ډیرے نه خپل اسلام پټ
ساته - یو وار د دوی د قرآن لوستو آواز حضرت عمرؓ واوریده او راغې د دے دواړو

سره ئې ډيره سختي اوکړه ليکن دے خو رلې ورته صاف اوويے چه بے شک موږ مسلمانان يوا و قرآن مولوستو که ته موږ وژنې اوکه پريږدے - نو دغه ورته او ويے چه ما ته قرآن اوخايئ بس که قرآن ليدل او اوريدل وو چه دغه په زړه کښې د ايمان نور داخل شو او د حضور ص په خدمت کښې حاضر شو مسلمان شو -

فائده :- بيبيانو! تاسو له هم په دين داسے مضبوط او سيدل پکار دي داسے نه چه د لږ شان دنيائي فائدے د پاره د شريعت نه خلاف کار وشو کوئ - او کوم خبره چه د شريعت نه خلاف وي په هيڅ شان هغې ته نږدے کيږدئ - د عزيزو لي او خپل ولئ خيال د دين په باره کښې مه ساتئ -

(۵۱) **د يو انصاري بي بي ذکر** (۱۱)

د ابن اسحاق نه روايت دے چه د حضرت صلے الله عليه وسلم سره د احد په جنگ کښې د يو انصاري بي بي خاوند پلار او رور ټول شهيدان شو چه دے واوريدو نو اول ئې دا تپوس اوکړو چه حضور ص څنګه دے خلقو اوويے هغه په خيريت سره دے - اوئې ويے چه هغه روغ جوړ دے نو نور هيڅ غم نشته -

فائده :- سبحان الله د حضور ص سره ئې څومره محبت وو - بيبيانو! د دينه عبرت واخلئ

(۵۲) **د حضرت ام فضل لبابه بنت حارث ذکر** (۱۲)

دا څوک د حضور صلے الله عليه وسلم ترور ده او د حضرت عباس رض بي بي او د عبد الله ابن عباس رض مور ده - په قرآن کښې چه کوم راغلي دي چه کوم مسلمان د کافرانو په ملک کښې د خدائے پاک عبادت نه شي کولے هغوي له پکار دي چه هغه ملک پريږدي او بل ځائے ته لاړ شي که داسے اونه کړي نو ډير ګناه دے البته کوم ټيټ او بنځے چه د بل ځائے ته لار ورته معلومه نه وي او نه دومره زړه ور او همت ناک وي هغه معاف دي - نو حضرت ابن عباس رض فرمائي چه په دغه کم همتو کښے يو زه او ځما مور وو - زه ورکوټے وم او هغه زنانه وه -

فائده :- اوګورئ چه نيتونه ئې څومره صفا وو په کافرانو کښے اوسيدل ئې زړه نه غوښتل ليکن ناچاري وه - نو په دے وجه الله پاک د ګناه نه بچ کړه -

(۵۳) **د حضرت ام سليط رض ذکر** (۱۳)

يوه پيره حضرت عمر رض د مدينې په بيبيانو څه څادرونه تقسيمول يو څادر پاتے شو نو د خلقو نه ئې صلاح اوغوښته چه داچا له ورکړو - خلقو اوويے چه د حضرت

علي رض او ام کلثوم رض له چه ستا په نکاح کښې ده - ده او فرمایل چه نا دا د ام سلیط رض حق دے دا بي بي د انصارو ښځه ده او د حضور ص سره ئې بیعت کړے دے حضرت عمر رض او فرمایل چه د اُحد په جنګ کښې به دے په مونږ مشکونه ډکول او مسلمانانو له به ئې راوړل - دغه شان یوه بي بي وه خوله رض - هغې به په جهاد کښې تورې ویستلې وه جنګ به ئې کولو

فائده ۱- او کورئ د دے ښځو همت ته چه په خدائي کار ونو کښې ئې وه نو حضرت عمر رض ئې دومره قدر راوکړو - او س همتونه دومره کمزوری شو چه هغه وخته مونږ هم نه کوو -

(۱۴) **دَحضرت هاله رض بنت خویلد ذکر** (۵۴)

دا خور د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم خښنه او د حضرت خدیجه رض خور ده - دا یو وار د حضور ص په خدمت کښې حاضره شوه او په دروازه کښې ئې د دننه راتلو اجازت اوغوښتو د دے آواز د خپلې خور پشان وه نو حضور ته خدیجه رض را یاده شوه او چت شه وے یا الله چه دا هاله رض وی -

فائده د دے د عا نه معلومه شوه چه د حضور خوښه وه د خپن واله رشته ئې ورسره هم وه نکو لویه وجه ئې د محبت ویند اری وه -

(۱۵) **دَحضرت هند رض بنت عتبه ذکر** (۵۵)

دا حضرت معاویه رض مور ده - دے یوه ورځ حضور ص ته عرض اوکړو چه د اسلام راوړو نه مخکښې زما دا حال وه چه ستا سو نه زیات د چا ذلت به م نه غوښته او اوس دا حال دے چه ستا سو نه زیات د چا عزت نه غواړم د وئی او فرمایل زما هم دا حال دے -

فائده ۱- د دینه خو یو د دے رشتو نوالے معلوم شه دویم دا معلوم شه چه د حضور ص سره د دے محبت وه او د حضرت د دے سره محبت وه - بیبیانو تاسو هم رشتیا وائي او د حضور ص سره محبت ساتئ او دا سے کار کوئ چه حضور ستا در سره محبت شي -

(۱۶) **دَحضرت اُمّ خالد رض ذکر** (۵۶)

حبشو ته چه خلقو هجرت کړے وه په هغوی کښې یوه دا هم وه دغه وخت وړه وه - کله چه د هغه ځائے نه واپس مدینې ته راغله نو پلار ئې د حضور ص په خدمت کښې حاضر شه او دا هم ورسره وه یو زیړ قمیص ئې اغوستے وه د دوی سره یو ورکوټے شان کمبل ارخا در وه ورپسې ئې کړو ورته او او وئې فرمایل ډیر ښه دے ډیر ښه دے او بیائې ورته دعا اوکړه چه خدائے دے ډیر عمر درکړي - د خلقو بیان دے چه څومره عمر د دے شوے وه دومره د یو بل ښځې مونږ نه دے

اَوریدي لے۔ خلقو به ئے خبرے کولے چه دَ فلانئ بي بي دومره عمر اُوشه۔ دا وړه وه دَ حضورؐ دَ مهر نبوّت سره به ئے لوبے کولے پلار ورته تهرشه نو حضورؐ وے کوی به خیږے
فائده :- ډیره خوش قسمته وه۔ بیبیا نو دَ دین خادرغه دَ بنیؐ خادر دے لکه چه په قرآن کښے ئے پرهیزګارئ ته لباس ویلے دے۔ که دا دولت حاصلول غواړئ نو دین او پرهیزګاری اختیار کړئ۔

(۵۷) **دَ حضرت صفیهؓ ذکر** (۱۷)

دا دَ حضور صلے الله علیه وسلم ترور وه هرکله چه دَ حضرتؐ تره حضرت حمزهؓ دَ اُحد په جنګ کښے شهید شه نو او ئے فرمایل چه ما سره دَ صفیےؓ دَ صدمے خیال دے ورنه حمزهؓ به مې نه وه دفن کړے۔ ورنه ځناور به خوړلے وه او په قیامت کښے به دَ ورنده ګانو دَ ګیډو ونه راوتے وه۔
فائده :- دَ دے نه معلومه شوه چه دَ حضور سره دَ دے دَ غم ډیر خیال وه چه خپله اراده ئے دَ دے دَ خاطر پاتے کړه۔ او بیبیانو دا دَ دیند ارئ په وجه وه

(۵۸) **دَ حضرت ابوالهیثم دَ بي بي ذکر** (۱۸)

دا یو صحابیؓ دے حضورؐ یو ورځ او وږے وه نو دَ دوی کور ته ئے تشریف یوړو داخاوند ئے کورنه وه او بوله تلے وه دے بي بي ئے ډیر خاطرداری وکړه بیائے دا خاوند راغے هغه هم ډیر خوشحال شو او دَ دعوت سامان ئے ورته تیار کړه۔
فائده :- که دَ دے بي بي اخلاص ورته معلوم نه وے نو چه خاوند ئے نه وه وایس شوے به وه نو معلومه شوه چه دا دَ حضورؐ په راتلو ډیره خوشحاله وه او چه حضورؐ چالوه خه ګنړی نو دا څومره لویه بزرګی وه۔ نو تاسو هم دَ میلمنو قدر کوئے۔

(۵۹) **دَ حضرت اَسماء بنت ابی بکرؓ ذکر** (۱۹)

دا دَ حضور صلے الله علیه وسلم خینه او دَ حضرت عائشےؓ خور وه کله چه حضورؐ هجرت اوکړه مدینے ته تللو په کومه تیلئ کښے چه خوراک وه دَ هغے دَ تړلو څه نه وه نو دے خپل کمربند نیم کړو په نیم ئے تیلئ او تړله او نیم ئے کمربند کړو
فائده :- داسے محبت دَ لوئے دیندارئ کیدے شي چه دَ خپل کار شے دَ بل دَ پاره ناقص کړی۔ بیبیانے داسے وی او داسے دَ دین مینه پکاره وه۔

(۶۰) **دَ حضرت اُمّ رُومانؓ ذکر** (۲۰)

دا دَ حضور صلے الله علیه وسلم خواښے او دَ حضرت عائشےؓ مور وه په حضرت

عائشهؓ یومنا فق تهمت لږه وَلے وه چه په دے کښے بعضے بوله مسلمانان هم شریک شوی وَه - او حضرت تے هم غلے شوے شان وَه - بیا الله تعالیٰ په قرآن شریف کښے دَدے پاکی رااولیږله او حضورﷺ حضه ایا نو نه راغے په کور کښے او لوستل - دغه وخت حضرت رومانؓ حضرت عائشےؓ ته اُووے چه پورته شه او دَ حضورﷺ شکر ادا کړه او دَ دینه ملکښے هم اگرچه داپه لوره دیره خفه وه لیکن څه معمولی شان خبره ئے هم داسے دَ خولے نه نه ده وتلے چه دَ حضورﷺ نه پکښے دَ شکایت بوئی وَه -

فائده :- دَ بدخوئ داسے برداشت او همان تهینکول دیره دَ تعجب خبره ده ورنه پداسے وخت کښے خامخا دَ خولے نه څه نا څه ضرورا وځی - او بیا چه پاکی ئے ظاهره شوه نو بیا خو خامخا څه نه څه غصه او خفگان وی - نو دَ دینه سبق اغستل پکار دی دَ خفگان او تکرار په وخت کښے دَ لوره مه لویه وئ او طرفداری ئے مه کوئ - په دے قصه کښے دَ یوے پلے بی بی اُم مسطح ذکر هم دے چه دَدے ځوئ دَنا پوهئ نه په دے تهمت لږه ونکو کښے شامل شوے وه او دے دیر ذوره لے وه او دَ بی بی عائشےؓ طرفداره وه - حق پرستی داسے وی - چه دَ حق ملګرتیا کوی -

(۶۱) دَ حضرت اُمّ عطیهؓ ذکر (۲۱)

دا بی بی صحابیه ده او دَ حضور صلی الله علیه وسلم سره شپږ وجنګونو له تلے ده - او هلته به ئے دَ زخمیانو او بیمارانو مرهم پټئ او علاج کولو او دَ حضورﷺ سره ئے د ومره محبت وه چه هله به ئے دَ دوئی نوم مبارک اغستو نو دا به ئے ورسره ضرور وئیل چه "زما پلار دے په تا قربان شی"۔

فائده :- بیبیانو دَ دین په کار ونو کښے محنت کوئے او دَ حضور صلی الله علیه وسلم سره داسے محبت ساتئ -

(۶۲) (۲۲) دَ حضرت بریرهؓ ذکر

دا دَ یو سری وینځه وه بیا حضرت عائشےؓ وانغسته آزاده ئے کړه - دا به دَ دے کره اوسیده او دَ حضرت عائشےؓ او دَ حضورﷺ خدمت به ئے کاوه - یو وار دے له دَ چرګ نه غوښه راغلے وه حضور تے پخپله اوغوختله اوئے خوړه -

فائده :- دَ حضورﷺ خدمت کول څومره خوش قسمتی ده او دَ هغے په محبت دَ حضورﷺ پوره یقین وه - ځکه خوئے دَ هغے شے خوړه او دائے گنړله چه دا به خوشحاله شی -

۶۳ ۶۴ ۶۵ فاطمه بنت ابی جیشؓ او حمنه بنت جحشؓ او عبدالله ابن مسعودؓ دَ بنځے زینبؓ ذکر ۲۳ ۲۴ ۲۵

دَا بیبیانے به حضور صلی الله علیه پسے راتلے او دَ مسئلو تپوسونه به ئے کول تے په

دے وجه موږ دا دریواړه ونوموښیو ګانے او لیکل چه حال ئے یو شان دے. اول ئے بی بی
دا ستحاضے د مسئلے تپوس کړے - دویمه د حضور ﷺ خینه د حضرت زینبؓ خورده ده چه هم د
استحاضے د مسئلے تپوس کړے - او دریمے بی بی د صدقے ورکولو د مسئلے تپوس کړے
وه - دا د عبد الله ابن مسعودؓ چه ډیر لوئے صحابی دے بی بی ده -
فائده :- بیبیانو! د دین شوق داسے وی تا سو ته هم چه کومه مسئله معلومه
نه شی ضرور د پرهیزګارو عالمانو نه تپوس کوئے او که د شرم خبره وی نو د دے
عالمانو بنځو ته ئے وائے هغوی به تپوس کوی - تر دے ځائے پورے دا پنځویشت
بیبیانے شوے چه د حضور ﷺ په زمانه کښے وے نورے هم داسے ډیرے بیبیانے دی
خو د کتاب لوئے کیدو په وجه موږ پاتے کړے - او س د هغے بیبیانو ذکر کیږی
چه د حضور ﷺ د زمانے نه پس وے -

(۶۶) دامام حافظ ابن عساکرؒ استاذانے بیبیانے (۱)

دا امام د حدیثو ډیر لوئے عالم دے د کومو استاذانو نه چه ده علم
حاصل کړے دے په هغے کښے د اتیا وو نه زیاتے بنځے دی -
فائده :- افسوس چه اوس یا دا زمانه ده چه بنځے د دین په علم حاصلولو
کښے د شاګردئ درجه هم حاصله نه ده -

(۶۷-۶۸) د حفید بن زهرؒ طبیب خور او خوږه (۲-۳)

دا یو مشهور طبیب دے د ده خور او خوږه هم د حکمت په علم کښے ماهرانے وے
او د خلیفه منصور د محلاتو علاج معالجه د دوی په ذمه وه -
فائده :- دا علم د بنځو نه اوس بالکل وتلے دے (یعنے علم طب) په دے علم کښے هم که
په خه نیت سره وی لالچ دوکه نه کوی حرامه دوائی نه ورکوی د دین په کارونو
کښے غفلت نه کوی نو ډیر ثواب دے او د مخلوق فائده ده -

(۶۹) دامام یزید بن هارون وینځه (۴)

دا د حدیثو ډیر لوئے عالم دے په آخر عمر کښے ئے نظر ډیر کمزورے شوے و کتاب
به ئے نه لید و - د هغه دے وینځے به د ده مدد کولو کتابونه به ئے کتل حدیثو نه
به ئے یادول او ده ته به ئے ویل -
فائده :- سبحان الله په دغه زمانه کښے به وینځے خادمانے هم عالمانے وے اوس بیبیانے
اکثر جاهلانے دی - که خدائے د پاره علم حاصل کړی -

(۷۰) د ابن سماک کوفی وینځه (۵)

دا بزرګ د خپلے زمانے لوئے عالم دے۔ دۀ یو وار د خپلے وینځے نه تپوس اوکړو چه زما تقریر څنګه دے هغې اووے تقریر خۀ دے مګر عیب دومره دے چه یوه خبره بار بار کوے۔ دۀ اووے زۀ ئے بار بار ځکه کوم چه ناپوهه خلق پرے خۀ پوهه شی اوئے وے چه ترڅو نا پوهه پوهیږی پوهه به یریدلی وی۔

فائده:- د یو عالم په تقریر کښے په دومره جوړه خبره پوهیدل د عالم نه بغیر نه شی کیدے۔ نو معلومیږی چه دا وینځه عالمه وه۔ بیبیانو! د وینځو نه خو ځان مه کموئ کوشش اوکړئ علم حاصل کړئ۔ په کور کښے که سړے عالم وی نو همت اوکړئ عربی هم او لولئ پوره مزه د علم په دے کښے وه او جینکو ته خو د هلکانو نه زیاته آسانه ده ځکه چه څه کار روزګار ئے په ذمه نه وی کلا کنټرول خو په لږ وخت کښے ازده کیږی نو ټول عمر په دے کښے ولے برباد وئ۔

(۷۱) د ابن جوزی ترور (۶)

دا بزرګ ډیر لوئے عالم دے د دۀ ترور (د پلار خور) به دے په وړوکوالی کښے د عالمانو خوا له د سبق د پاره بوتله د وړوکوالی نه چه ئے کومے د علم خبرے به غوږ بډو نو کښے لږیدے نو ماشاء الله د لسو کالو په عمر کښے دومره عالم شوے وه چه وعظونه[1] به ئے کول۔

فائده:- اوګورئ د خپل اولاد د پاره ئے د علم حاصلولو څومره شوق وه چه دے به په بوړئ والی کښے پخپله وړو۔ تاسو خو دومره کولے شئ چه ترڅو ئے علم نه وی حاصل کړے په انګریزئ ئے مه ورپسے کوئ۔ د خدائے د پاره بو فیلسونو ئے منع کوئے د سبق طرفته ئے مائل کوئے سکول مدرسے ته په تلو پسے تاکید کوئے۔ اوس خو خلق د اولاد نه تحصیلداران کمشنران پټواریان وغیره جوړه وی د دین شوق نشته خواه که په قیامت کښے دوزخ ته لاړشی او مور و پلار هم د ځان سره راکاږی خو چه انګریزی ازده کړی او حرام خورے جوړشی۔

(۷۲) د امام ربیعة الرائے مور (۷)

دا هم ډیر لوئے عالم تیرشوے دے امام مالک او حسن بصری چه ډیر زیات مشهور دی د دۀ شاګردان دی۔ د پلار نوم ئے فروخ دے د بنو امیه د بادشاهئ په ورځو کښے دے په فوج کښے نوکر وۀ۔ د شاهی فرمان مطابق دے ډیرو جنګونو

[1] په وعظ کښے دۀ ته لوئے کمال حاصل وه او شل زره کافران د ده په لاس مسلمانان شوی وه۔ ۱۲

ته لیږلے شوے وه - او دغه وخت دے د مور په کیږه وه - دے پلار ئے اوینشت کاله په صحرا په جنګونو کښې تیر کړه او دے په دے ورځو کښې پیدا شوے او عالم شوے وه د تلو په وخت کښې ئے پلار دیرش زره اشرفئ مورته پریخودے وے دے حضرت نا کے بابا دغه ټولے اشرفئ د دهٔ په سبق او لوږه ولے - چه پلار ئے اوینشت کاله پس راغے نو د بی بی نه ئے د اشرفو تپوس اوکړه دے ورته اُووے ټولے محفوظے پرتے دی - دغه وخت حضرت ربیعه په جمات کښې د حدیثو په درس مشغول وه پلار ئے چه دا تماشا اولیده چه څما ځوئ خو د جهان پیشوا جوړیږی د خوشحالئ نه په ځا موکښې نه ځائیده - چه کورته د جمات نه راغے نو بی بی تے تپوس اوکړه چه دیرش زره اشرفئ غوره دی یا که دا نعمت - هغه اووے اشرفئ دے نعمت ته هیڅ نه دی - کله چه ورته هغې اُووے چه ما هغه اشرفئ د دهٔ په تعلیم خرچ کړی دی نو هغه ډیر په خوشحالئ اووے چه اے قسم چه تا اشرفئ نه دی ضائع کړی -

فائده :- اوګورئ څنګه بیبیانے وے د علمِ دین څومره قدر وه ورسره چه دیرش زره اشرفئ ئے د ځوئ په دینی تعلیم خرچ کړے - تا سو هم د دینه سبق واخلئ -

(۳۷-۷۷) **د امام بخاریؒ مور او خور** (۸-۹)

د امام بخاریؒ پښان بدیو د حدیثو عالم نښته د دهٔ عمر څوارلس کاله وه چه ده د علم حاصلولو د پاره سفر اوکړه او د دهٔ مور او خور ئے د خرچ ذمه وار وو -

فائده :- اوګورئ مور خو ذمه واره ده لیکن معلومیږی چه په دغه زمانه کښې بیبیانو سره د علم دین ډیر قدر وه ځکه خو خور ئے هم د خرچ ذمه واری اغستے وه -

(۵۷) **د قاضی زاده رومیؒ خور** (۱۰)

دا ډیر لوئے مشهور عالم دے چه د روم د استاذانو نه ئے علم حاصل کړو نو د با هر عالمانو نه ئے هم د علم حاصلولو شوق پیدا شه او پټ پټ ئے د سفر سامان تیاره ول شروع کړه د دهٔ خور ته پته اولږیده نو څپل ډیر کالی ئے پټ د رود په سامان کښې کیښودل او دهٔ ته ئے هیڅ او نه وے -

فائده :- څومره ښے بیبیانے وے د نوم کولو سره ئے څه غرض نه وه خو دائے غوښته چه په څه وجه سره علم قائم پاتے شی - د علم قائم ساتلو ډیر لوئے ثواب دے څومره چه دینی مدرسے دی نو د ممکن حده پورے ورسره مدد کول ضروری دی - دا د هغې بنځو قصے بیان شوے چه د علم حاصلولو شوق ئے وه او س د هغې بیبیانو حال بیانولے شی چه د صفوی زړه فقیرئ طرفته مائله وه -

(۷۶) دَ حضرت مُعاذه عدویه ذکر (۱)

دَدې عجیبه حال وه چه ورځ به شوه نو دې به وې چه شاید دا هغه ورځ ده چه زهٔ به پکښې مرم او دَ ماښامه پورې به نه اُوده کیده چه هسې نه دَ مرګ په وخت کښې دَ خدائے دَ یاد و نه غافله مړه شم دغه شان چه به شپه شوه نو دَ سحره پورې به نهٔ اُوده کیده لو دغه به ئے وې - که دَ خواب غلبه به پرې راغله نو په کور کښې به ئے منډې وهلې او نفس ته به ئے وې چه دَ خواب ځائے وړاندې راځی مطلب دا دې چه مړه شے بیا به دَ قیامته پورې اوده ئے به شپه ورځ کښې به ئے شپږ سوه نفلونه کول - چې ته به ئے آسمان ته نه کتل چه دَ کله نه ئے خاوند مړ شه بیا په بستره نه ده ملاسته - دا دَ حضرت عائیشے رض سره ملاؤ شوې ده او دَ هغې نه ئے احادیث آوریدلی دی -

فائده :- بیبیانو دَ خدائے محبت او یاد دا سې وی ستړے او غم وغ ئے -

(۷۷) دَ حضرت رابعه عدویه ذکر (۲)

دې به چیر چرې کښ دَ دوزخ ذکر به ئے وا وُریده نو بې هوشی به پرې راتلې چه چاپه ورله غټه ورکړه نو واپس کول به ئے او وې به ئے چه دُنیا ته م حاجت نشته - دا تیا کالو په عُمر کښې ئے دا حال شوې وه چه په تلو کښې به معلومیده چه اوس راغورزیګی کفن به همیشه ورسره وه دَ سجدې ځائے به ئے په اوښکو لُوند وه او دَ دې ډیرې عجیبه اونا آشنا خبرې مشهورې دی - او دیته رابعه بصریه هم وائی -

فائده :- بیبیانو دَ خدائے یره او مرګ تاسو هم په زړه کښې پیدا کړئ -

(۷۸) دَ حضرت ماجده قرشیه ذکر (۳)

دې به فرمایل چه کوم قدم چه دم وایم اوس به مرم او فرمائیل به ئے تعجب دې دَ دُنیا په دې خلقو چه دَ کوچ خبر ورکړې شوې دې او بیا هم دا سې غافل دی لکه چا چه دَ کوچ خبر نه وی آوریدلے نه وی او دلته پاتے وی - او فرمائیل به ئے چه یو نعمت دَ جنّت او دَ خدائے تعالیٰ دَ رضا مندئ بغیر محنت نه نه ملاویږی -

فائده :- بیبیانو ! خو مره دَ کار نصیحتونه دی عمل پرې اوکړئ -

(۷۹) دَ حضرت عائشهٔ رض بنت جعفر صادق ذکر (۴)

دَ دې مرتبه دَ ناز وه دې به وئیل که زهٔ ئے دوزخ ته واچولم نو ټولو ته به وایم چه ما الله یو منلو، بیا ئے ما له عذاب راکړه - په ۱۴۵ھ کښې وفات شوې ده مزار ئے باب قرافه مصر کښې دې

له از طبقات شعرانی تا آخر ذکر حضرت نفیسه نو

راو پوره کمال دا دے چه د سنتو مطابق د خدائے د فضل امید وارووي پخپل عمل یقین نه کوي (م)
فائده :- بیبیانو! دا مرتبه بعضو بعضو ته نصیب کیږي او چاته چه نصیب کیږي نو
په پوره پوره تا بعداري سره نصیب کیږي - او الله پوهه کنږي لو مطلب دا دے چه نه د بل
چا عبادت کوي نه د بل نه امید لري نه د چا نه یریږي نه د چا نه د خوشحالۍ امید ساتي نه د
چا د خفګان پرواه کوي که څوک خه والې خوشحالیږي پرې نه او که څوک بد والې ناراضه کیږي
پرې نه که څوک ئے آزار کوي نو پرواه پرې نه کوي دا هر څه د الله نه کنړي چه هغه ته
به دا سے منظوره وه زه بنده یم په هر حال کښے مالک راضي کیدل پکار دي نو کوم سړے
چه په دے شان سره خدائے پاک یواځې کنړي د هغه سره د دوزخ څه کار دے. دا
مطلب وه د دے بي بي نو کویا دائے یو قسم د الله پاک د یومنلو برکت او لوئي بیانول -

(۸۰) د رباح قیسي د بي بي ذکر (۵)

دے به تول شپه عبادت لو چه یو یا رشپه به تیره شوه نو خاوند ته به ئے وے
چه پاڅه چه پا به نه څیدو نو یو ساعت پس به ئے بیا پورته کولو - بیا به ئے د شپے به
آخر کښے وے اے رباحه! پاڅه شپه تیریږي او ته اُوده ئے - کله به ئے د ژمکے نه
یو خسړے را اوچت کړه وئے به ئے چه په خدائے قسم دُنیا ځما په نزد د دینه هم
بے قدره ده - د ما سختي موږ چه به ئے او کړه نو خاشته جا مے به ئے واغوستے او
خاوند ته به ئے وے چه ستا څه حاجت شته که هغه به انکار او کړه نو هغه جامے
به ئے ویستلے او د سحره پورے به په نفلو نو کښے مشغوله وه -
فائده :- بیبیانو! تا سو اولیدل چه د الله تعالیٰ به ئے څنګه عبادت کولو او د دے
سره به ئے د خاوند خومره حق ادا کولو او خاوند ته به ئے د دین رغبت هم ورکولو

(۸۱) د حضرت فاطمه نیساپوریؒ ذکر (۶)

یو کامل بزرګ دے ذوالنون مصريؒ دے فرمائي چه ما ته د دے بي بي نه فیض حاصل
شوے دے - دے به فرمائیل کوم سړے چه د الله تعالیٰ هر وخت خیال نه لري د ګناه
هرے کندے ته لوئیږي څه چه خولے له راشي بکواس کوي او څوک چه هر وخت د الله تعالیٰ
خیال ساتي هغه د فضول خبرو نه ګونګے وي او د الله تعالیٰ نه شرم او حیا لري - او حضرت ابو
یزیدؒ فرمائي چه ما د فاطمےؒ برابر یوه ښځه نه ده لیدلے د یته چه به د کوم ځائے څه خبره کړه شته
هغه به دیته د مخکښته معلوم شوے وه - مکے معظمے ته عمرے له تلله په لاره کښے ئے په سنه ۲۲۳ھ
کښے انتقال او شه - فائده :- اوګورئ د فکر کولو څنګه بنګلے خبره ئے او خوړ د له
که دا معمول شي نو د تولو کنا هونو نه به بچ شي - او دا هم معلومه شوه چه کشف

ہم ورتہ کیدہ ۔ اگرچہ دا څه لویه مرتبه نه ده خوچه نیک بندګان ته وی بیا بنه ده۔

(۸۲) ## دَحضرت رابعه شامیه بنت اسمٰعیل رح ذکر (۷)

دے بہ تولہ شپہ عبادت کاوہ او همیشه بہ روژه وه او فرمائیل به ئے چه کله آذان اورم نو د قیامت د ورځے د آواز کوم چه فرښتے آواز را ته یاد یږی او چه کرمی وینم نو د قیامت د ورځے ګرمی را ته یاد یږی او د دے خاوند هم لوئے بزرګ دے ابن ابی الحواری نومی دے۔ دے بہ څه ته ویل چه ستاسره د روږلیشان محبت دے یعنے ستا د نفس خواهش نشته - او فرمائیل به ئے چه څوک عبادت کوی نو الله تعالیٰ دے ته د ده عیبونه ښکاره کړی او چه چا ته خپل عیبونه ښکاره شی نو څه بیا د بل عیبونه نه وینی - او فرمایل به ئے چه زه پیریان په تلو را تلو کښے وینم او حورے را ته په نظر راځی -

فائده ۱- بیبیانو ! عبادت دیته وائی او کوری تاسو چه هر وخت د بل عیبونه شماری د هغے تے ځنګه ښکلے علاج او خود لو چه خپلو عیبو نو ته کوری نو بیا به د بل عیبونه نه وینئ او کشف به ورته هم کیده -

(۸۳) ## دَحضرت اُمِّ هارون ذکر (۸)

په دے د خدائے یره ډیره غالبه وه او ډیر عبادت به ئے کولو او سره وو ډوډی به ئے خوره او فرمائیل به ئے چه په شپه راتلو سره زړه خوشحالیږی او په ورځ راتلو خفه کیږی تولہ شپه به بیداره وه او دیرش کاله ئے سر نه وه غوړ کړے لیکن چه سر به ئے او سپړه نو غوړ او صفا به وو - یو وار بازار ته تله او چا بل څوک ښځه کړے وه آواز ئے او کړه چه "نیسئ ئے" نو دے ته د قیامت ورځ را یاده شوه او بے هوشه او غورزیده - یو وار د ځنګل نه منزرے ځے له راغے دے ورته او وے که زه ستا رزق یم نو خوره م هغه تے واپس روان شه -

فائده ۱- سبحان الله د خدائے په یاد کښے څو مره مشغوله وه او د خدائے نه څومره ویریده - او د منزری خبره د دے کرامت دے - بیبیانو تاسو هم د خدائے نه یره په زړه کښے پیدا کړئ قیامت را تلونکے دے څه سامان ورله پکار دے -

(۸۴) ## دَحبیب عجمی بی بی حضرت عمرة ذکر (۹)

دے به تولہ شپه عبادت کاوه چه آخره شپه به شوه نو خاوند ته به ئے وے قافله مخکښے لاړه ته ورو ستو او ده پاتے شوے - یو وارئے ستړے خوږ شو یوے پاتے تپوس او کړه وے ځما د زړه درد د دیته زیات دے -

فائده :- بیبیا نو! دَ خدائے دَ محبت داسے درد پیدا کړی چه نور درد ونه ورته هیر وی

(۸۵) ## دَ حضرت امة الجلیلؒ ذکر (۱۰)

دا ډیره عابده زاهده وه یو وار دَ ډیرو بزرګانو په مینځ کښے خبرے اترے وے چه دَ ولی څنګه وی تولو وے راشئ چه دَ امة الجلیلؒ نه تپوس اوکړو. دَ دے نه ئے تپوس اوکړو دے اووے دَ ولی یو ساعت داسے نه وی چه په هغځ کښے دَ خدائے دَ یاد نه سوا بله مشغله وی. څوک چه بله مشغله کښے وی هغه دروغجن دے.

فائده :- څومره دَ لوئے شان بی بی وه چه بزرګانو به تے دَ داسے خبرو تپوس کول.

(۸۶) ## دَ حضرت عبیدهؒ بنت کلاب ذکر (۱۱)

مالک بن دینار یو لوئے کامل بزرګ دے دا بی بی به دَ ده خدمت ته راتله بعضے بزرګان دَ دے مرتبه دَ رابعه بصریه نه زیاته وائی. دَ یو سړی نه ئے داخبره واورېده چه سړے هله پوره متقی شی چه ده ته خدائے پاک له تلل دَ تولو څیز و نه غوره شی داچه ئے واورېده نو بے هوشه اوغورزېده.

فائده :- خدائے ته دَ تلو ئے څومره شوق وه چه ذکر ئے واورېد نو بے هوشه شوه اوس داحال دے چه دَ مرګ نوم آورېدل خوښ نه دی دا دُنیا سره دَ محبت وجه ده.

(۸۷) ## دَ حضرت عفیره عابدهؒ ذکر (۱۲)

یوه ورځ ډیر عابدان دے له راغلل او دعائے ته ئے اوغوختله دے اُووے زهٔ دومره ګناه ګاره یم چه که دَ ګناه کولو په وجه سړے چا راګیدے نو ما به خبره هم نه وه کړے یعنے چا به ومه. لیکن دُعا کول سنت دی نو کوم ئے. بیائے تولو ته دُعا اوکړه.

فائده :- اوګورئ دومره عابده زاهده او بیا هم ځان ګناه ګاره ګنړی. اوس خو به لږ شان عبادت ځانته پرهیزګار او عبادت ګذار ویلے شی لوئ دَ الله په نزد ډیره ناغوره ده.

(۸۸) ## دَ حضرت شعوانهؒ ذکر (۱۳)

دے به ډیر ژړل او وے به ئے چه زهٔ داغواړم چه دومره اوژاړم چه اوښکے م ختمے شی. بیا به وینو دومره اوژاړم چه په بدن کښے م وینه پاتے نه شی. دَ دے دَ خاطے بیان دے چه دَ کله نه دا مالیدلے ده نو داسے فیض ما ته حاصل شو یدے چه دَ دنیا نه م زړه موړ شوے دے او یو مسلمان ته سپک نه ښکاری. حضرت فضیل بن عیاضؒ یو لوئے بزرګ وهٔ او دے له به تلو چه ما ته دُعا اوکړه.

فائده:- د خدائے د یرے یا محبت نه چرې لوئے غنیمت دے اولوے دولت دے که چرا
د درځی نو د چرا صورت جوړه وځ الله پاک په عاجزانو رحم کوی -

(۸۹) دحضرت آمنه رملیه ذکر (۱۴)

یو بزرګ دے بشرؒ بن حارث دے په دَدے زیارت له تلو - یو وار حضرت بشرؒ
بیمار شو دائے تپوس له راغله احمد بن حنبلؒ چه یو لوئے امام دے هغه هم تپوس
له راغے ورته معلومه شوه چه دا آمنهؒ ده د رمله نه راغلے ده امام احمدؒ بشرؒ ته
اُووے چه دے ته اُووایه چه ما ته دعا اوکړی بشرؒ ورته د دعا د پاره اُووے
هغې دُعا اوکړه وے خدایه بشرؒ او احمدؒ د دوزخ نه پناه غواړی دوارو
له پناه ورکړے - امام احمدؒ وائی چه د شپے یوه پرچه د بره نه را ارتاوه شوه په
هغې کښے د بسم الله نه پس لیکلی وُو چه مونږ منظوره کړه او زمونږ سره نور نعمتونه هم دی -
فائده:- سبحان الله څنګه ئے دعا قبول له شوه بیبیانو! دا قبول برکت د تابعدارئ
دے څوک چه د خدائے احکام پوره کوی الله تعالیٰ د هغه سوال قبلوی - پس د حکم
منلو کوشش په کار دے - (نن صبا د خدائے د احکامو پروا څوک نه کوی او
فریاد کوی چه سوال مو نه قبلیږی) -

(۹۰) دحضرت منفوسه بنت زید ابی الفوارس ذکر (۱۵)

کله چه په د دے بچے مړکیده نو سر به ئے ورله په غیږ کښے کیخوده او وے به ئے
چه ستا مونږ مخکښے تلل د دینه غوره دی چه مونږ نه وروستو پاتے شے مطلب دا چه
ما به او بنځ په خدائے پاک او بخپله هم بچ به ئے او به بخلے شے - او چه مونږ نه روستو
پاتے شے نو په سوو نو ګناهونه به دے کول خدائے خیر چه د ژمانے به وے او که نه-
اوفرمایل به ئے چه مونږ صبر غوره دے د بے قرارئ نه او فرمائیل به ئے چه اګرچه
د جدائی افسوس دے لیکن د ثواب د دینه زیاته خوشحالی ده-
فائده:- بیبیانو! که د چا د مړګ په وخت کښے صرف دا خبرے اوکړی نو ډیره غوره ده-

(۹۱) دحضرت سیده نفیسه بنت حسن بن زید بن حسن بن علی رضی الله عنهم ذکر (۱۶)

دا د حضور صلے الله علیه وسلم د خاندان نه ده څکه چه دا د حضرت علیؓ د
نمسی زیدؓ نمسئ ده په ۱۴۵ھ کښے په مکه کښے پیدا شوے ده ډیره عبادت ګذاره
وه هرکله چه دا مصرته راغله نو امام شافعیؒ به ئے خدمت ته راتلو-
فائده:- بیبیانو علم او بزرګی داسے شے دے چه دومره لوئے امام ئے خدمت ته راځی-

(۹۲) ## دَحضرت میمونه سوداءٔ ذکر (۱۷)

یو بزرګ دے عبدالواحد بن زیدؒ دے وائی چه ما دَ خدائے نه سوال اوکړه چه یاالله په جنّت کښے چه ځما څوک ملګرے وی هغه ماته اوخایه حکم اوشه چه ستا ملګرے په جنت کښه میمونه سوداءؒ ده ما تپوس اوکړه چه هغه کوم ځائے ده جواب ملاؤ شه چه په کوفه کښے په فلانئ قبیله کښے ده زهٔ هلته لاړم تپوس مې اوکړه خلقو اووے چه هغه خولیونئ ده بیزے څرې وی زه ځنګل ته لاړم نوځه کوم چه دا په مانځه ولاړه ده او بیزے اوشرمخان یوځائے کرځی چه سلام مې اوکړه ځما وُه نو اوئے فرمایل اے عبدالواحدؒ اوس نهٔ دَ ملاویدو وعده په جنّت کښے ده زه حیران شوم چه ځما نوم دیته څنګه معلوم شه اوئے وے چه تا ته معلومه نه ده دَ کوم ورونوچه هلته پیژند ګلو شوې په هغوی کښے اُلفت شوے دے۔ ما اووے چه زهٔ دا بیزے او شرمخان یوځائے وینم دا څه خبره ده؛ هغے اووے زهٔ خپل کار کوه ما خپله معامله دَ الله تعالیٰ سره برابر کړه نو الله تعالیٰ ځما دَ بیزو معامله دَ شرمخانو سره برابر کړه[1]۔

فائدهٔ :- دَ دے بی بی کشف وکرامات ټول دَ دینه معلوم شو او دا ټول دَ مکملے تابعدارئ برکتونه دی۔ بیبیانو دَ خدائے تابعداری کوئ۔

(۹۳) ## دَحضرت ریحانه مجنونهٔ ذکر (۱۸)

ابوربیعؒ یو بزرګ دے فرمائی چه زهٔ او محمّد بن المنکدرؒ او ثابت بنانیؒ چه دا دواړه هم بزرګان دی یو وار ټول دَ ریحانےؒ کره میلما نه شو۔ دا دَ نیمے شپے نه اول پاخیده او اوئے وے چه محبت کونکی دَ خپل محبوب طرفته ځی او دَ زړه دَ خوشحالئ نه دا حال دے چه دَ سینے نه وتلے روان وی۔ چه نیمه شپه شوه نو اوئے وے دَ داسے شی سره زړه لږه وَل نه دی پکار چه په لیدو سره ئې دَ خدائے په یاد کښے فرق راځی او دَ شپے په عبادت کښه څهٔ محنت پکار دے نو بیا سحرے دَ خدائے دوست شی چه شپه تیره شوه نو چغے ئې کړے چه هائے لټ شو ما وے څه اوشو اوئے وے شپه لاړه چه دَ خدائے سره په کښے بنهٔ زړه لږیدے شی۔

فائدهٔ :- اوګورئ دَ شپے ورسره څومره قدر دۀ چا له چه عبادت مزه ورکوی دَ هغوی سره دَ شپے قدر دوی۔ بیبیانو! تاسو هم دَ شپے لږه حصّه دَ عبادت دَپاره مقرر کړئ۔

---

[1] از روض الریاحین تا آخر ۱۲

(۹۴) ## دَحضرت سری سقطیؒ دَ یو مرید ذکر (۱۹)

دَ دے بزرگ یو مرید بیان کوی چه زمونږ دَپیر یو مرید وو دَ دے ځوئ په مدرسه کښے سبق وے استاد په څه کار پسے اولیږه او دے په او بو کښے ډوب شه مړ شه استاد چه خبر شو نو هغه حضرت سریؒ پسے لاړ او هغه ئے خبر کړه دے پاسید او دَ مرید کور ته لاړ او دَ صبر نصیحت ئے ورته شروع کړه هغے مرید ورته اووے چه حضرت تاسو دَ صبر بیان وَلے کوئے هغه اوفرمایل چه ستا ځوئ ډوب شوے دے او مړ دے هغے په تعجب سره اووے چه زما ځوئ هغوی اوفرمایل هاں ستا ځوئ هغے اووے زما ځوئ چرته نه دے ډوب شوے او پاسیده هغه ځائے ته اورسیده او دَ ځوئ نوم ئے واخست آواز ئے اوکړه اے ظار! هغه جواب ورکړه چه وَلے مور او دَ او بو نه ژوندے را اووت راغے۔ حضرت سریؒ دَ حضرت جنیدؒ نه تپوس اوکړه چه دا څنګه خبره ده هغه اوفرمایل چه دَ دے ښځے یو خاص داسے مقام او درجه ده چه په دے ښځه کوم مصیبت راتلونکے وی نو دا خبره وَلے شی او دَ دے خبرے دیته خبر نه وه شوے نو څنګه هغے اووے چه چرته داسے نه دی شوی۔

فائده:- هر یو ولی ته چه اودرجه ملاویږی نو څوک دے داسے نه وائی چه دا درجه لویه ده دَ هغے ولی نه کوم ته دَ هغه خبر نه کیږی۔ دا دَ الله تعالیٰ اختیار دے چه دَ چا سره څه سلوک کوی او چا له څنګه درجه ورکوی بهرحال دا یوه لویه درجه ده۔ او دا ټول څه دَ الله او رسولؐ په تابعداری کښے دی۔

(۹۵) ## دَحضرت تحفه رحؒ ذکر (۲۰)

دَ حضرت سری سقطیؒ بیان دے چه زه یو وار هسپتال ته لاړم څه ګورم چه یوه ځوانه جینئ په زنځیرونو کښے بنده ده چا ړی او دَ محبت اشعار وائی ما دَ هغه ځائے دَ څوکیدار نه تپوس اوکړه هغه اووے دا پاګله ده چه دائے واوریدې نو هغے نورا وجړل او اوئے وے زه پاګله نه یم عاشقه یم ما تپوس اوکړه دَ چا عاشقه ئے دے چا چه مال نعمتونه راکړی او زما سره هر وخت دے یعنی الله تعالیٰ۔ په دے کښے دَ دے مالک راغے دَ څوکیدار نه ئے تپوس اوکړه تحفهؒ کوم ځائے ده هغه اووے دننه ده او حضرت سریؒ ورسره دے هغه زما تعظیم اوکړ ما ورته اووے چه زما نه زیاته دا جینئ دَ تعظیم لائقه ده او تا ئے دا حال کړے دے هغه اووے چه زما ټول دولت په دے لږ ید لے دے په شل زره اشرفئ رام اغستے ده زما دا امید وه چه په ډیره نفع به ئے خرڅه کړم مګر دا نه څه خوری نه سکی شپه او

ورځ جاری ماورته اُووے په ماشې راغوځه کړه هغه اووے ته خو فقیرسړے یئے ته به دومره روپئ مالس دکومه راکړے - زۀ کورته لاړم الله تعالیٰ ته ډیره په زاری سره دعا اوکړه چه یو سړی دروازه او ټکوله چه زۀ وراغلم څه گورم چه یو سړے سره د روپو ولاړ دے ماورته اُووے ته څوک یئے هغه اُووے زۀ احمدؔ بن المثنیٰ یم ما ته په خواب کښې حکم اوشه چه تاله روپئ راوړم زۀ خوشحاله شوم او سحر شفاخانې ته لاړم په دے کښې دهغې هغه مالک هم په جړا راغې ماورته اُووے جاړه مه ما درله روپئ راوړی دی که په دوچنه نفع ئے خرخوے هم به ئے درنه واخلم - هغه اُووے که ټوله دُنیا هم څوک راکړی خوخرخوم ئے نه زۀ ئے دخدائے درضا دپاره آزاده وم - ماورته اووے دا ولے؟ هغه اووے په ما باندې په خواب کښې خفگان راغلے دے او ته گواه شه چه ما خپل ټول مال دخدائے په لاره کښې خیرات کړه - په دے کښې څه گورم چه احمدؔ بن المثنیٰ هم جاړی ماورته اووے په تا څۀ اوشو؟ هغه اووے ما هم خپل ټول مال د الله په لاره کښې خیرات کړه ما اووے سبحان الله دبی بی تحفهؒ برکت دے چه دومره خلقو ته هدایت اوشه - تحفهؒ د هغه ځائے نه پاسیده او په جړا رواں شوه مونږ پسے هم رواں شو چه لږ لاړو نو خدائے خبر چه هغه چرته لاړه او مونږ ټول مکے ته رواں شو د احمد بن المثنیٰ خو پُلاره کښې انتقال اوشه او زۀ او مالک مکے ته اورسیدو - مونږ طواف کاوه چه یو دردناک آواز مې واورید چه وراغلم تپوس مې اوکړه چه ته څوک یئے هغې اووے سبحان الله هیره دے شوم زۀ تحفهؒ یم ماورته اووے دا څه درته ملاؤ شو وے ځما زړه ئے دځان سره اولګاؤه او دنوروښځے اوچت کړه ماورته اووے احمد بن المثنیٰ خو وفات شوے دے، وے هغه ته لوئے لوئے درجے ملاؤ شویدی ما اووے ستا هغه مالک خو هم راغلے دے هغې پټ څه اووے او بیا څه گورم چه هغه مړه ده - مالک چه ئے دا حال اُولید بے هوشه راپریوت او بیا مړه وه او ما دغه دواړه کفن دفن کړه -

فائده :- خنگه د الله تعالیٰ عاشقان وو- دا قصه زمونږ پیر حاجی امدادالله صاحب مهاجر مکی قدس سره په خپل کتاب "تحفة العشاق" کښې په زیات تفصیل سره لیکلے ده -

(۹۶) (۲۱) **دحضرت جویرهؒ ذکر** دا د یو بادشاه وینځه وه هغې بادشاه آزاده کړه او بیا چه ئے د ابو عبدالله ترابیؒ چه یو بزرگ دے عبادت اولیده نو نکاح ئے ورسره اوکړه او عبادت به ئے کولو- یوه پیره ئے په خواب کښې ډیرے ښے ښے خیمے لږیدلے اولیدے تپوس ئے اوکړه چه دا دچا دپاره دی معلومه شوه چه څوک په تهجد کښې قرآن لولی-

دَدينه پس ئې دَ شپې خواب پريښودا و خاوند بسيې وِيخاوه ويل بسيې چه قافلې لاړې -
فائده:- بيبيانو پخپله هم عبادت کوئ او خاوند ته هم وائی -

(۹۷) دَ حضرت شاه بن شجاع کرمانیؒ دَ لور ذکر (۲۲)

دے بزرګ بادشاهی پريښوده فقير شوے وه دَ دۀ يوه لور وه يو بادشاه ورته پيغام ورکړه خو منظور ئې نه کړه يو غريب نيک بخت هلک ئې په ښه شان په مانځه کولو اوليده دَ هغه سره ئې نکاح اوکړه چه دَ خاوند کور ته راغله نو يوه اُوچه ډوډئ ئې په منګی اوليده تپوس ئې اوکړه چه دا څۀ دی هلک ورته اووے چه دا دَ شپې نه پاتې شوے وه دَ روژے ماتولو دَ پاره مې پريښو دے وه چه دا ئې واوريده نو واپس شوه - دے هلک اُووے چه ما خو اوّل ويلې وو چه دَ بادشاه لور به څما دَ غريب په کور کښې څنګه خوشحاله شي هغې اووے چه دَ بادشاه لور په غريبئ نه ده خفه بلکه په دے خفه ده چه ستا په خدائې توکل نِشته - او څما پخپل پلار باندے تعجّب دے چه ما ته ئې وے چه يو پرهيزګار هلک دے نو چه کوم چا پخدائے باندے بهروسه نه وی هغه پرهيزګار څنګه وی - هغه ځوان ورته څه عذر اوکړه خو دے اووے چه په عذرونو نه پوهيږم خو يا به دا چ وډوډئ وی په کور کښې اويا څه - هغۀ ځوان فورًا هغه چ وډوډئ خيرات کړه نو دا بيبيا پاتے شوه -
فائده:- بيبيانو! دا هم بنځه وه تاسوله هم پکار دی چه صبر ازده کړئ اوکالو جامو او لو خولو کو هوس پريدئ ئې داهرڅه پاتے دی -

(۹۸) دَ حضرت حاتم اصمؒ دَ يوې وړې لور ذکر (۲۳)

دا يو بزرګ دے يوا مير په لاره تلو او تږے شه دَ دۀ کور په لاره کښې وه اوبه ئې اُوغوختے چه اُوبه ئې اوسکے نو څۀ پيسے ئې ورکنارے کړے لاړ شو دَ دے ټولو په توکل کناره وه ټول خوشحاله ؤو - او په کور کښې يوه وړوکے شان جينئ وه هغه په ژړا شوه دَ کور خلقو تپوس اوکړه هغې اووے چه يو ناځيزه بنده څمونږ حال اوليده نو مونږ غنيان شوا و الله تعالیٰ چه هر وخت مونږ وينی نو مونږ خپل زړه نه شو غنی کولے - فائده:- خومره پوهه جينئ وه افسوس چه اوس خو په بوډئ کانو کښې هم دومره پوهه نِشته - په مخلوق نظر ساتی پخدائے نه ساتی -

(۹۹) دَ حضرت ست الملوکؒ ذکر (۲۴)

دا دَ مصر بو دَ ملک وه دَ دے په زمانه کښې به ټول عالمان او وليان دَ دے تعظيم له

راتله يو وار د بيت المقدس زيارت له راغلے وه په دے زمانه کښے يو بزرګ وه علي بن مليس يماني" هغه فرمائي چه زۀ په دے جمات کښے ؤمه ما اوليده چه د آسمان نه د جمات د ګنبد ه پورے د نور يو تار راغلے وه چه ما اوکاتو نو د ګنبد لاندے دے بابلي موخ کا وه او دا تار ورسره ملاؤ وه۔

فائده :- دا د پرهيزګارئ نور وه کوم چه پرهيزګار په زړه کښے داوي الله تعالیٰ ئے کله ظاهر وي هم۔ ليکن اصلي ځائے د دے نور زړه دے۔

(۱۰۰) د ابوعامر واعظ د وينځے ذکر (۲۵)

دے فرمائي چه ما يو وينځه په ډير کم قيمت خرخيده وتلے اوليده چه د رنګ ئے زيړ شوے وه اوښا کيږه ئے يو شوي وه۔ او ويخته ئے د خيرې نه نختي وو ما پے ترس راغے وام اخستله۔ ما ورته اووے چه لاړه شه د بازار نه د رمضان د پاره څه سودا را وړه هغے اووے د خدائے شکر دے ما ته خو دولس واړه مياشتے برابر دي۔ او د ورځے به ئے هميشه روژه وه۔ او د شپے به ئے عبادت کولو چه اختر شه نو ما ورله د سامان اخستو اراده اوکړه۔ هغے اووے ستا په مزاج کښے د دنيا ډيره بکيړه ده بيا په مانځه شروع شوه يو آيات ئے اولوستو چه د دوزخ ذکر وه په کښے بس يو چغه ئے اوويسته پريوته او مړه شوه۔

فائده :- اوګورئ د خدائے يره داسے وي۔ خير داسے حال خو د اختيار نه بهر دے خو دومره ضرور پکار ده چه د ګناه نه منع شي۔

فائده :- په دے حصه کښے ټولے شل قصے د نيکو بيبيانو ذکر شوے داسے نورے هم ډيرے قصے په کتابونو کښے ذکر دي خو د عبرت د پاره دا پوره دي۔ (ختم شو)

(کاتب ومترجم :- ابوحسين سواتي چنداخوري۔ روز جمعه ۳۰ ذي الحجه سنه ۱۴۰۳ھ وقت صبح)

رِسَالہ کِسْوَۃُ النِّسَآءِ

يعنے د ښځو جامے د پرهيزګارئ

لږه د جنت د کالي د اتمے حصے نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

پس د ثنا او درود نه دا مختصره رساله ده چه اکثره حصه ئے د ښځو نيکو ته په ځنګه کول او په هغے د عمل کولو په فضيلتونو مشتمله ده سبب د دے د جمع کولو دا دے چه د رمضان سنه ۱۳۳۵ھ په اول کښے د بعضے دوستانو په خواهش په مقام ډيک ريا ست بهرت پور کښے ميلمه شوم۔ د ميلستيا په کور کښے يوه ورځ ښځو ته د وعظ موقع راغله

نوزیات بیان په کښې دَ ښځو دَ کوټا هو متعلق او شه پس دَ تقریرنه دَ یوے نیکې بي بي پیغام راغې چه دَ ښځو بدئ خوموننز چیرے واوریدے لیکن که په دوی کښې څه ښځه والی او حقوق ئې هم وی نو دَ هغې علم هم ضروری دے ځما په زړه کښې فوراً ا خیال راغې چه واقعي څه رنګ چه دَ یره ولوخیرے اثر کوی دغه شان دَ په مخه کولو خبرے دی او چه حقوق ورسره هم دی - بعض وخت کدینه هم زیا ته تائید رسی او زړه پے لوئیږی - او نیک عمل کولو ته مینه زیا تیږی او په یره ولو سره خو بعضے وخت زړه کمزورے کیږی - او نا امیدی پے راځي - نو اراده م او کړه چه په دے مضامینو یوه جدا رساله او لیکم کدے واقعے نه دوه میاشتے پس م په کنزالعمال" کښې په دے مضمون یو مستقل سرخي په نظر شوه او هغه خیال م پے تازه شه - او مناسب معلومه شوه چه کدے ترجمه او کړم او دَ لیکلو په وخت کښې که څه نورا حادیث په خیال کښې راشي نو چه او لیکم ورسره - بیا راته یاد شو چه دَ جنت په کالي کښې په اتمه حصه کښې هم داسے حدیثونه او آیاتونه جمع کړی شویدی نو مناسب معلومه شوه چه اول په یو فصل کښې دَ جنت دَ کالي مضمون پوره راواغستے شي بیا په دویم فصل کښې دَ کنزالعمال روایات سره دَ زیادت نه جمع کړے شي او چونکه دَ جنت دَ کالي په اتمه حصه کښې دَ ترغیبي مضمون نه پس دَ ترهیب ریره ولو) مضمون هم دَے نو په دریم فصل کښې هغه ترهیبي مضمون او لیکلے شي پس په دے رساله کښې اصل مضمون ترغیب او فضائل دے لیکن دَ ترهیب سره شریک او لوم ئې دَ ښځو دَ تقوٰی جامے دی - الله توفیق ورکونکے دے

اَوّل فصل دَ جنت دَ کالي دَ ترغیب په مضمون کښې

دَ نیکو بیبیانو خوبئ تعریف او درجے دَ قرآن او حدیث نه

تردے پورے دَ نیکو بیبیانو نقل قصے او لیکلے شوے . اصل مطلب کدے قصو نه ښځو ته خودل دی نو مناسب ده چه لږ شان دَ داسے آیاتونو او حدیثونو خلاصه او لیکلے شي چه الله ؟ ورسول ؟ په کښې دَ نیکو بیبیانو خویونه بیان کړی دی او دَ هغوی درجے ئې خودلی دی او صفتونه ئې ورله کړی دی - ځکه چه بیبیانے خبر شي چه په دے کښې الله ؟ او رسول ؟ خاص ځمونږ بیان فرمائیلے دے نو ضرور به ئې په دے زړه لوئے شي او نیکو خویونو ته به ئې زیات شوق پیدا شي او کړان کار به ورته آسان شي -

دَ آیاتونو مضمون

فرمائي الله پاک کومے ښځے چه داسے دی چه دَ اسلام کار کوی یعنے دَ مونځ او روژے پابندی کوی دَ ګناه او ثواب دَ کارونو خیال ساتي - او کومے چه ایمان برابر ساتي یعنے

د قرآن او حدیث نه خلاف په څه خبره کښې زړه نه لګېږه وی او کومې ښځې چه تا بعد ارې اوسی یعنې ځان نه خاوند اوکومې ښځې چه خیرات او زکوٰة ورکوی او کومې ښځې چه روژه نیسی او کومې ښځې چه خپل عزت او آبرو ساتی یعنې د غیرو سره نه مخامخ کیږی او خپل آواز ورته نه آوره وی، او که شریعت نه خلاف کپړې نه اغوندی او بې ضرورته د چا سره خندا خبرې نه کوی او دغه شان د هر قسم بې شرمئ نه پرهیز کوی او کومې ښځې چه الله پاک ډیر یادوی یعنې په زړه کښې هم د الله پاک خیال لری - او په ژبې هم یادوی د داسې ښځو د پاره الله تعالیٰ خپل بخشش او لوئ ثواب تیار کړې دے - او فرمائی الله پاک کومې ښځې چه نیک بختې وی په خاوند کښې دا خبرې وی چه خاوند تا بعد ارې وی او که خاوند ئې کورنه وی هم خپل عزت ساتلی لری - او الله پاک فرمائی داسې بیبیانې ښې وی چه د شریعت د کارونو پابندی کوی او عقیده ئې ټهیک وی او دوی تا بعد اری کوی او کله چه ترې خلاف شرع کار اوشی فوراً توبه کوی او د خدائے تعالیٰ په عبادت کښې مشغوله وی او روژې نیسی -

د حدیثونو مضمون

له او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم په داسې ښځو د الله رحمت وی چه د شپې پاسی تهجد کوی او خپل خاوند هم ویخوی چه مونځ اوکړی - او فرمائی رسول الله صلے الله علیه وسلم کومه ښځه چه په پېغلتوب کښې یا د حمل په وخت کښې یا د بچی پیدا کیدو په وخت کښې یا د ځلو ښځې په ورځو کښې مړه شی دیته به د شهادت درجه ورکړې شی - او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه د کومې ښځې درې بچی مړه شی او دا د ثواب په نیت صبر اوکړی نو جنت ته به داخله شی یوې ښځې اووے که دوه ئې مړه وی او ئې فرمایل د دوه ځه هم دا ثواب دے - په یو روایت کښې دی چه یو صحابئ ته د یو بچی د مرګ تپوس اوکړه نو حضور د هغه هم ډیر ثواب بیان کړه - او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم کومه حمل چه او غورزیږی هغه به هم خپله مور جنت ته راکاږی خو چه د ثواب په نیت صبر اوکړی - او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه د ټولو نه غوره خزانه نیک بخته ښځه ده چه خاوند ئې وینی نو خوشحالیږی او چه خاوند ورته د څه کار او وائی نو حکم ئې بجائے کوی - او چه خاوند ئې کورنه وی نو خپله حیا او عزت ساتلی لری - او فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه د عرب په ښځو کښې د قریشو نیکې ښځې په دوه ځه خبرو کښې د ټولو نه غوره دی یو په بچی شفقت کوی بل د خاوند د مال حفاظت کوی -

له از مشکوٰة شریف ۱۲

فائده:- معلومه شوه چه داخوئونه په ښځو کښې پکار دي نو ښځې د خاوند مال
په پېټه بې دردۍ سره الوزوي - او په اولاد چه څنګه د خوراک څکاک او جامو
شفقت وي دغه شان په د ګډو د عادتو نو خاوندانو لو شفقت پکار دے هغه ښځه
نو دا شفقت ښکاره کړے دے - او[٧] فرمائیلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د
پېغلو جینکو سره نکاح کوئ ځکه چه د دوي د خلے وینا نو سره خبرې اتېرې نرمې وي
یعنې د شرم او حیا په وجه بې مخه او بې لحاظه نه وي - او لږ خرچ ورکړے
نو خوشحاله لیږي په (رخوکن صبا تعلیمیافته جینکۍ نه چه نه په کښې حیا او نه لږ خرچ اخلي)
فائده:- معلومه شوه چه په ښځو کښې شرم لحاظ او قناعت ښه خوئونه دي - او د دے
دا مطلب نه دے چه د کونډې سره نکاح مه کوئ بلکه د پېغلې یو صفت دے - او په یو
حدیث کښې حضور ؐ د کونډې سره په نکاح کولو دعا کړے ده - او[٨] فرمائیلي دي رسول
الله صلی الله علیه وسلم ښځه چه پنځه وخته مونځ کوي او د رمضان روژې نیسي
او د خپل عزت حفاظت کوي او د خپل خاوند تابعداري کوي نو داسے ښځه چه جنت
ته په کوم دروازه داخلیدل غواړي داخله به شي -
فائده:- مطلب دا دے چه د دین د ضروري خبرو پابندي کوي نو د نورو ډېرو لویو
لویو عبادتونو کولو ضرورت ورته نشته کوم درجه چه د محنت په عبادتونو ملاویږي
هغه ښځې ته د خاوند په تابعدارۍ د اولاد په خدمت او د کور په بند وبست ملاویږي
او[٩] فرمائیلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم د کومے ښځې مرګ چه په داسے حالت
کښې راشي چه د دے خاوند د دینه خوشحاله وي نو دغه ښځه جنتي ده - او[١٠] فرمائیلي دي
دي رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سړي ته چه څلور څیزونه نصیب شي هغه
ته د دُنیا او اخرت دولت ملاؤ شه یو داسے زړه چه په نعمت شکر کوي او دوېم
ژبه داسے چه د خدائے نوم پے اخلي دریم بدن داسے چه په بلا او مصیبت صبر
کوي څلورم بي بي داسے چه د خپل عزت او د خاوند په مال کښې دهوکه او فریب نه کوي -
فائده:- یعنې نه خپل عزت برباد کړي نه د خاوند مال بې مرضۍ خرچ کړي - او[١١] فرمائیلي
دي رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه ښځه چه کونډه شي او خاندانی هم او
مالداره هم وي لیکن د خپلو بچو په خدمت او پالنه شي خپل ځان ناوړه کړي تردے
چه هغه بچي د خپلو کورونو خاوندان شي یا مړه شي نو داسے ښځه به په جنت کښې ځما
سره داسے نزدې وي لکه د شهادت ګوته او مینځنۍ ګوته -
فائده:- د دے دا مطلب نه شه چه د کونډې کینا ستل زیات ثواب دے بلکه
مطلب دا دے چه کومه کونډه دا او ګڼړي چه په نکاح سره به ځما بچي کړه وړه شي
او د دے ښځې د نفس خواهش نه وي نو د هغې دا درجه ده - او[١٢] یو سړي حضور ؐ

ته عرض اوکړه یا رسول الله ﷺ فلانۍ ښځه نفل مونځونه ډیر زیات کوي او روژے او خیرخیرات ډیر زیات کوي لیکن په ژبه سره ګاونډیانو ته تکلیف رسوي حضور ﷺ او فرمایل دغه ښځه به دوزخ ته ځي بیا یو سړي عرض اوکړه چه فلانۍ ښځه نفل مونځونه او روژے او خیرخیرات څه زیات نه کوي لیکن ګاونډیانو ته په ژبه سره هیڅ تکلیف نه رسوي حضور ﷺ او فرمایل چه دغه به جنت ته ځي - او د حضور ﷺ په خدمت کښے یوه ښځه حاضره شوه چه دوه بچے ورسره وو یو په غیږ کښے او بل ئے د کوتے نه نیولے وو حضور ﷺ چه اولیده نو او ئے فرمایل چه دا ښځے اول په ګیډه کښے بچي ساتي بیا ئے زیږوي او بیا ورسره څه رنګ محبت ساتي او مهرباني ورسره کوي که د دوي سلوک د خاوندانو سره بد نه وے نو کومه چه په کښے د مانځه پابندي کوي هغه به بس جنت ته تله -

دویم فصل د کنز العمال په ترغیبي مضمون کښے

حدیث ۱:- حضور صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي (ښځو ته) د لے تاسو په دے خبره راضي نه ئے (یعني راضي کیدل پکار دي) چه کله ستاسو یوه د خپل خاوند نه حامله شي او هغه خاوند د دینه راضي وي نو دیته داسے ثواب ملاویږي لکه د الله په لاره کښے د روژه نیونکي او د شپے عبادت کونکي ته چه ملاویږي او کله چه په دے د تکلانه درد راشي نو د آسمان او زمکے اوسیدونکو ته چه کوم د ستر ګو یخوالے (یعني راحت) پټ ایخودے شوے دے د هغے خبر نشته - بیا چه ئے بچے او شي نو د هغې د تیونو یو ګوټ د پیونه وي د تلے او بچي یو وار د دے تے نه وي رودلے چه دیته به هر ګوټ او هر وار رودلو سره یوه نیکي ملاویږي نه شي (ریلکه شي) او که د بچي په وجه دیته د شپے یخیدل پکار پیدا شي نو د خدائے په لار کښے د اویا غلامانو آزادولو ثواب ورته ملاویږي اے سلامت! (دا نوم دے د حضرت ابراهیم صاحبزاده د حضور اقدس صلے الله علیه وسلم د دائي چه هغه دا حدیث بیانوي دیته فرمائي چه) تا ته معلومه ده چه تما د دینه کومے ښځے مرادي کومے (چه سره کړے) چه نیکے دي په ناز پالله شوے دي (مګر) د خاوندانو فرمانبرداره دي د خاوند بے قدري نه کوي (الحسن بن سفیان - وابن عساکر عن سلامة حاضنة السید ابراهیم)

حدیث ۲:- فرمائي رسول الله صلے الله علیه وسلم کله چه ښځه د خاوند په کور کښے د الله په لار کښے خرچ کوي مګر کور نه برباده وي (یعني د مناسب مقدار اجازت نه زیات نه خرچ کوي) نو دے ښځے ته هم ثواب ملاویږي په سبب د دے د خرچ کولو او خاوند ته هم د هغے ثواب ملاویږي په سبب د ګټلو سره او ساتونکي ته هم ثواب ملاویږي

دَ هغې هومره او کچاپه وجه کَ بل کَ ثواب نه نه شي کمولے (ق عن عائشةؓ)

ف:- پس ښځه دے دا نه کنړی چه گنټه کَ خاوند ده ما ته په څه ثواب ملاوُ شي -

حدیث۳ فرمایلي دی حضور صلے الله علیه وسلم اے ښځو ستاسو جهاد حج دے (خ عن عائشةؓ)

ف:- او کوری په حج ورته دَ جهاد ثواب ملاویږی چه دَ ټولو نه گران دے -

حدیث۴ فرمائی رسول الله صلے الله علیه وسلم په ښځو نه جهاد شته رتر څو چه فی ض کفایه وی) نه جمعه او نه جنازه (طص عن ابی قتادةؓ)

ف:- او بیا کوری چه په کور ناستے وی او ثواب ورته څومره ملاویږی -

حدیث۵ رسول الله صلے الله علیه وسلم چه کله دَ بیبیانو سره حج ؛ دَ کړه نو ارشاد ئے او فرمایه چه بس دا حج څومره او که دَ دینه پس په کَ کوره نه او ځئ - (حم عن ابی هریرةؓ)

ف:- مطلب دا چه بغیر دَ سخت ضرورت نه په سفر نه کوئ -

حدیث۶ فرمائی رسول الله صلے الله علیه وسلم الله خوه خوی دا سے ښځه چه دَ خپل خاوند سره مینه او محبّت کوی او دَ غیر سړی نه خپل حفاظت کوی (فر عن علیؓ)

ف:- مطلب دا چه دَ خاوند سره محبت کول او دَ هغه منت زاری کول دَ خپل شان خلاف نه گنړی لکه مغروره ښځے چه وی -

حدیث۷ فرمائی رسول الله صلے الله علیه وسلم ښځے دَ سړو اجزاء دی (حم عن عائشةؓ)

ف:- دَ حضرت آدم علیه السلام نه دَ حضرت حوا علیها السلام پیدا کیدل خو مشهور دی (مطلب دا چه دَ ښځو احکام هم دَ سړو دَ احکامو په شان دی بغیر دَ یو څو خاصو احکامو نه - نو په کومو عملو نو چه دَ ثواب دَ سړو سره وعده ده هغه دَ ښځو سره هم ده

حدیث۸ فرمایلي دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه په تحقیق سره الله پاک دَ ښځو په حصه کښے غیرت بانده ثواب لیکلے دے - او په سړو ئے په جهاد بانده ثواب لیکلے دے - پس کومه ښځه چه دَ ایمان او دَ ثواب دَ طلب کولو په وجه دَ غیرت په خبره لکه چه خاوند ئے بله ښځه او کړی - صبر او کړی نو دیته به دَ شهید هومره ثواب ملاوُ شي - ف:- او کوری په لږ شان ځان صبره ولو څومره ثواب رسی -

حدیث۹ فرمایلي دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه دَ خپلے بابی په کار و بار کولو بانده هم تا سو ته ثواب ملاویږی دَ خیرات کولو هومره (فر عن ابن عمرؓ)

ف:- او کوری ښځو ته دَ راحت رسولو شریعت څنگه سامان کړے دے چه دَ ثواب وعده ئے په کښے فرمایلے ده چه په دے طمع به هر مسلمان خپلے بابی ته راحت رسوی -

حدیث۱۰ فرمایلي دی رسول الله صلے الله علیه وسلم په ټولو ښځو کښے بهتره هغه ښځه ده چه کله خاوند دیته او گوری او خوشحال شي او چه کله ورته څه حکم او کړی او دا ئے پوره ئے کړی او په خپل ځان او مال کښے دَ خاوند مخالفت او خفگان او نه کړی (حم ک عن ابو هریرةؓ)

حدیث فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم الله پاک د رحمت اوکړی په پرتوګی اغوستونکی ښځه (قط فی الافراد ک فی تاریخه هب عن ابی هریرة)

ف :- اوګوری حالانکه پرتوګ اغوستل خو د ځان پټولو د پاره یو طبعی امر دے لیکن حضور په دے کښے هم دُعا فرمایلے ده داپه ښځو څومره مهربانی ده۔

حدیث ۱۲ فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم د بد کارے ښځے بدکاری د زرو بدکارو سړو برابر ده او د نیک کارے ښځے نیک کاری د اویا اولیاؤ د عبادت برابر ده (ابو الشیخ عن ابن عمرؓ) اوګورئ په لږ عمل څومره لوئے ثواب ملاؤ شه۔

حدیث ۱۳ فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوے ښځے چه خپل کور کښے د کور کار کول د جهاد مرتبے ته رسی انشاء الله تعالیٰ (ع عن انسؓ) انتها ده د مهربانئ۔

حدیث ۱۴ فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاسو په بیبیانو کښے د ټولو ښه هغه ښځه ده چه د خپل عزت په باره کښے پرهیزګاره وی چه خپل خاوند باندے عاشقه وی۔ (فر عن انسؓ) اوګورئ د خاوند سره محبت د نفس خوشحالی ده یو قسم مګر په دے کښے ئے هم ثواب مقرر کړے دے۔

حدیث ۱۵ یو سړی عرض اوکړه یا رسول الله زما یوه بی بی ده چه زه ورله ورځم نو هغه وائی مرحبا د ه زما سردار له او زما د کور والو سردار له او کله چه هغه ما خفه او وینی نو وائی د دُنیا څه غم کوے ستا د آخرت کار برابر شوے دے څه. حضورؐ چه دا اواوریده و چه ت د الله په کار کونکو کښے د هغه ښځه یوه کار کونکے ده او دیته به د جهاد کونکو نیم ثواب ملاویږی۔ (الخرائطی عن عبدالله الوساحی)

حدیث ۱۶ د اسماء بنت یزید انصاریه نه روایت دے چه هغے عرض اوکړه یا رسول اللهؐ زه د ښځو استازے تاله راغلے یم (ښځے وائی) چه سړی جمعه امامتی او د مریض پوښتنه او جنازے ته حاضریده او حج او عمره او د اسلامی سرحدونو حفاظت کوی نو په دے وجه په مونږ غوره والے لری. حضورؐ اوفرمایل چه لاړه شه او ښځے خبر کړه چه ستاسو خپل خاوند ته ښه ول سنګار کول یا د خاوند حق ادا کول او د خاوند رضامندی لټول او د خاوند د رضا مطابق ئے تابعداری کول دا د دغے ټولو عملونو برابر دی (کر عن اسماء)

حدیث ۱۷ :- فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځه د حمل د وخت نه واخله د بچی پیدا کیدو او د تی نه د پریکو د وخته پورے (په فضیلت او ثواب کښے) داسے ده لکه د اسلام په لاره کښے د اسلامی سرحد حفاظت کونکے سړے (چه هغه هر وخت د جهاد د پاره تیار وی) او که په دے مینځ کښے مړه شی نو د شهید برابر ثواب به ورته ملاویږی (طب عن ابن عمرؓ)

حدیث ۱۸ فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم (هغه مضمون دے کوم چه د دے فصل په اولنی حدیث کښے دے بس فرق دومره دے چه په تی ورکولو فرمائیلی) کله چه هغه

ښځه ته ورکوی نو په هغو ټې سکو لوباندے داسے اچی ملاویږی لکه یو جاندار چه
ژوند ورکړی بیا چه ئے دقی ته پریکړی نو فرښته ورله په اوګو لاس (دشاباسی) کیدی
او وائی ورته چه تیر ګناهونه دے ټول معاف شو اوس وړاندے چه څه کوے
نو کوه (کوم چه اوس د ګناه کار کوے نو د نوی سره به لیکلے کیږی او د دینه مراد
واړه ګناهونه دی خو واړه ګناهونه معاف کیدل هم وړه خبره نه ده) -

حدیث[19] فرمائیلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم اے بیبیانو! یاد ساتئ چه په
تاسو کښے کومه نیکه ره ښځه به ده نیکو خلقو نه اول جنت ته ځی بیا چه ئے خاوندان
جنت ته راشی نو دے ښځو له به غسل ورکړے شی خوشبو به پرے او لږه ولے شی او
خاوندانو ته به حواله کړے شی په سرو او زیړو سوارلو باندے او کډ دوی سره
به داسے بچی وی لکه خورے شوے ملغلرے (ابو الشیخ عن ابی امامة)

ف:- بیبیانو! نور څه فضیلت غواړئ جنت ته د سړی وند مخکښے اورسیدئ
البته نیک جوړیدل شرط دی او دا څه ګران نه دے -

حدیث[20] د حضرت عائشه رض نه روایت دے دا فرمائی چه د کومے ښځے خاوند باهر
وی او دا پخپل ځان کښے د ښځه په دے حالت کښے ساتنه کوی چه ول سنګار پاتے
کړی او ځان خپله قید کړی (یعنے د کوره نه او نه وځی) او د بناؤست سامان او خوږزه وی
او د مانځه پابندی کوی دا به د قیامت په ورځ پیغله راپورته کړے شی پس که
د دے خاوند مؤمن وی نو په جنت کښے به د دغه ښځه بی بی وی او که خاوند ئے مؤمن نه وی
(یعنے خدائے ئے نه کړی) بے ایمانه د دنیا نه تلے وی نو الله تعالیٰ به د دے نکاح د چا شهید سره او کړی

حدیث[21] د ابو درداء رض نه روایت دے دغه وائی چه ما ته وصیت او کړو ځما خلیل ابو القاسم صلے
الله علیه وسلم پس اوئے فرمائیل چه خرچ کوه د خپل طاقت مناسب په خپل اهل خانه (ابن جریر)

ف:- کوم خلق چه سره د فراخئ نه د بی بی په خرچ کښے تنګی کوی هغه دے د دے حدیث ته او ګوری۔

حدیث[22] د مدائنی رح نه روایت دے چه حضرت علی رض فرمائیلی دی چه سړے د خپل کور سربراه
نه شی جوړیدے ترڅو چه هغه داسے نه شی چه نه د دے پرواه کوی چه څه ئے واغوسته
او نه د دے خیال کوی چه څه ئے او خوړل (الدینوری).

ف:- کوم خلق چه پخپله خپل تن پروری کښے او د ځان په هر ول چال کښے وی او د کور
والو پرواه نه ساتی هغه دے د دینه عبرت واخلی - بقول د شیخ سعدی رح
ترجمه:- د بے حمیته ته او کوره چه چرته به د نیک بختئ مخ او نه وینی - چه د خپل ځان د پاره
تن آسانی اختیاره وی او د اهلو عیال په سختئ کښے ساتی -

اضافات د مشکوٰة نه

حدیث ۲۳- د ابو هریره رض نه روایت دے چه
رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د

بنځو په باره کښې ځما نصيحت د خيګړے په جوړ قبول کړئ ځکه چه دا د پُښتئ نه پيدا ده (متفق عليه)

ف يعنې د دينه د پوره رشتيا وَ او برابر والي طمع مکوئ او د دے په کوږ فکر باندِ صبر کوئ - او کوري د بنځو سره ښو مره د رعايت حکم دے -

حديث[24] د ابو هريرهؓ نه روايت دے چه مؤمن سړي له د مؤمنې بنځې (يعنې خپلے ښځې) سره بغض ساتل نه دي پکار ځکه چه که کوم يو عادت ئے خوښ نه شي نو بل به ئے ضرور خوښ شي (مسلم) ف :- يعنې دا سوچ دے او کړي او صبر دے کوي -

حديث[25] د عبد الله بن زمعهؓ نه روايت دے چه حضور صلے الله عليه وسلم فرمائيلي دي خپله ښځه د غلام پشان (په بے دردئ سره) مه وهئ چه بيا ورسره د ورځے په ختميدو جماع کوئ الخ (متفق عليه) ف :- يعنې دا خو ځوا غوردي نه ده -

حديث[26] حکيم بن معاويه د خپل پلار نه روايت کوي چه ما عرض او کړه يا رسول اللهؐ په ما ځما د ښځې څه حق دے؟ او ئے فرمائيل چه حق دا دے چه ته خوراک خورے نو دے له هم ورکوے او چه ته کپړه اغوندے نو دے ته هم اغوندوے او په مخ ئے نه وهے او د دے خبرے اترے د کور نه باهر نه را او باسے (احمد ابوداؤد ابن ماجه)

ف :- يعنې کرتے خفه شے نو د کوره به نه اوځي -

حديث[27] :- د ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله صلے الله عليه وسلم فرمائيلي دي تر ټولو مؤمنانو دي مګر کامل مؤمن هغه دے چه اخلاق ئے ښه وي او په تاسو ټولو کښې ښه هغه سړے دے چه د خپلے ښځې سره ښه وي - (ترمذي)

دريم فصل د جنت کالي د ډيره ولو په مضمون کښې

بنځو ته په بعضے عيبونو نصيحت د قرآن او حديث نه

د نيکو بيبيانو خويونه مونږ بيان کړه نو معلومه شوه چه بعضے عيبونه چه په بنځو کښې وي او په هغې سره په نيکو کښې کے راځي په دے عيبونو باندِ چه الله او رسولؐ خاصکر بنځو ته انتظام يا نصيحت فرمائيلے دے د دے خلاصه هم او ليکو چه د دے عيبونو نه نفرت ئے پيدا شي او ځان تے او ساتي چه په نيکو کښے ئے کے نه راځي -

د آيتونو مضمون

فرمائيلي دي الله تعالیٰ په کومو بيبيانو کښې چه تاسو ته معلومه شي چه دا خبره نه مني نو اول ورته نصيحت کوئ او که په دے او نه مني نو کيناستل پاسيدل ورسره پاتے کړئ او که په دے هم او نه مني نو او ئے وهئ (خو د دينه معمولي وهل مراد دي) نو که تابعداري کونکے شي نو بيا دے له د تکليف ورکولو کپاره بهانے مه لټوئ -

ف:- د دينه معلومه شوه چه د خاوند خبره نه منل بده خبره ده- او فرمائيلي دي الله تعالىٰ چه په تلو کښې خپه ځمکې له په زوره مه واېږدئ چه د کالي وغيره نه پردے سړے خبر شي- ف:- آواز کونکے کالے اچول خو بالکل جائز نه دي او په کوم کښې چه آواز نه وي د بل کالي سره په لمديد و آواز کوي په هغې کښې دا احتياط دے- او پوهه شه چه هر کله د خپو په آواز کښې دومره احتياط دے نو ښځې له د ښځې په آواز او د هغې په بدن ښکاره کېدو کښې به څومره تاکيد وي- (يعنې ښځې له پکار دي چه د غير وسره ويه مخ کښې کړدے زينت وغيره ښکاره نه شي)

د حديثونو مضمون

سلـ فرمائيلي دي رسول الله صلے الله عليه وسلم اے ښځو ما تاسو په دوزخ کښې ډيرے ليدلے ئې- يوے ښځې تپوس او کړو څه وجه ده؟ حضورؐ او فرمائيل چه تاسو لعنت او خېرے ډيرے کوئ او د خاوند ناشکري ډيره کوئ، او چه څه درکړي نو په ترپو تندي ئے اخلئ- او د حضورؐ په مخکښې يوے ښځې تپے نه بدے ردے او ويلے هغوي او فرمائيل چه تپے نه بدے ردے مه وايه په دے گناه معاف کيږي- او فرمائيلي دي رسول الله صلے الله عليه وسلم چه بخبر وکښې جريد ونکے ښځه که توبه او نه باسي نو د قيامت په ورځ به په داسے حالت کښې راپورته شي چه په بدن به ئے د تيلو پشان قميص دي چه اور به چير زر اخلي او کړدے قميص په وجه به ئے په ټول بدن خارښت هم وي يعنے دوه تکليفونه به وي يو به د خارښت په وجه بدن راشو کوي او بل به په دوزخ اور بليږي- او فرمائيلي دي رسول الله صلے الله عليه وسلم اے مسلمانو ښځو يوه گاونډئ دے د بلے گاونډئ ليږلے شے سپک نه گڼړي اگرکه د بيزے سوو وي
ف:- د بعضے ښځو داعادت وي چه څوک ورله څه راو ليږي نو پوزه ورته تروهي او بدي به ئے بيانوي- او فرمائيلي دي رسول الله صلے الله عليه وسلم چه يوه ښځه د پيشو په وجه عذاب شوے وه- دا پيشو ئے تړلے وه او تهلے ئے وه خوراک سکاک به ئے نه ورکولو او پريخوده ئے نه د غيسے تره قيد چه مړه شوه-
ف:- دغه شان جانور پالل او د هغه د خوراک سکاک فکر نه کول د عذاب خبره ده- او فرمائيلي دي رسول الله صلے الله عليه وسلم بعضے سړي او ښځې د شپيته ده کالو پورے د خدائے عبادت کوي او بيا چه د مرگ وخت ئے راشي نو د شريعت نه خلاف وصيّت اوکړي او د دوزخ قابل شي-
ف:- لکه د بعضو عادت وي چه مري نو وائي چه زما دا فلانے شے به زما نمسي له ورکړئ زور له نه- يا فلاني ځوئ له فلانے څيز د فلاني ځوئ نه زيات ورکړئ دا ټول حرام دي (مفيد الوارثين شرح اردو ميراث المسلمين اوگورئ) د وصيّت او ميراث مسئلے

له از مشکوٰة شريف

د چا عالم شا ازده کوه او د هغې مطابق عمل کوه خلاف ئې چرته مه کوه - او فرمايلي دي رسول الله صلے الله عليه وسلم يوه ښځه دے د پلے ښځې سره دا سے نه ملاويږي چه د خپل خاوند په مخکښې کړے حال دا سے بيانوي لکه چه دے ئې ويني - او د حضورﷺ سره پوار د هغوي دوه بيبيانے ناستے وے يو روند صحابي راغلو نو دوئي دواړه وته د پردے حکم اوکړه دواړه وپه تعجّب سره عرض اوکړه چه دا خو روند دے حضورؐ اوفرمائيل تاسو خو روندے شئے تاسو ئې وينئ - اورسول الله صلے الله عليه وسلم فرمايلي دي چه کله يوه ښځه په دنيا کښې خپل خاوند ته تکليف ورکوي نو په جنّت کښې چه کومه حوره ده ته ملاويږي هغه وائي خدائے دے تا هلاک کړي دا خو ستاسره ميلمه دے ډير زر موږ ته راتلونکے دے - اورسول الله صلے الله عليه وسلم فرمايلي دي ما دا سے دوزخي ښځې او ليدلے - يعنے ځما د زمانے نه وروستو به دا سے ښځې پيدا اشي چه کپړے به ئې اغوستے وي او لغړے به وي - يعنے په بدن به ئې د نوم د پاره کپړه وي ليکن دومره به باريکه وي چه ټول بدن به ئې تے ښکاريږي او په نخره او بدن او چتولو سره به ځي او ويښته به د سر دا سے جوړ کړي چه ډير به ښکاريږي لکه د اوښ کوهان چه وي - دا سے ښځې به جنت ته داخلے نه شي بلکه د جنّت خوشبويه هم بوئي نه کړي -

ف :- يعنے د پرهيزګارو بيبيانو سره به ئې جنّت ته تله نصيب نه شي بيا که د سزا ختلو نه پس د ايمان په برکت لاړے شي نو وي به - او فرمايلي دي رسول الله صلے الله عليه وسلم کومه ښځه چه د سر وکالي (يا د سپينو يا نورو کپړے) خلقو ته د ځو د لو د پاره واغوندي نو په دے به د ے له عذاب ورکولے شي - اورسول الله صلے الله په يوسفر کښې تشريف فرما وه يو آوازئے واوريد لکه چه څوک په چا لعنت کوي تپوس ئې اوکړه چه دا څۀ خبره ده خلقو عرض اوکړه چه دا فلانئ ښځه ده د خپلے سوارلئ په اوښے باندې لعنت کوي دے اوښے به په تلو کښې سستي ياڅۀ لټ وهلے وي دے ښځې به ورته په چغه دا سے ويلي وي چه لعنت دے وي درباندے يا خدائے دے او وهه لکه چه د ښځو دستور دے - حضورؐ خلقو ته حکم ورکړه چه دا ښځه او د دے اسباب د دے اوښے نه کوز کړئ دا اوښه خو د ے ښځې په نزد د لعنت قابله ده نو کار پے ولے کوي -

ف :- ښۀ سزائے ورکړه - تمامه شوه رسالۀ د کسوة النساء -

ورانډې پاتے د مضمون د جنت کالي د اتمے حصے نه

په دے دواړو مضمونونو يعنے تعريف او نصيحت کښې دلته پنځه اياتونه او نهۀ حديثونه شو - (يعنے په اصل حصه کښې ورته د رسالۀ کسوت روايات چه ورسره يو ځائے شي نو بيا خو دوه پنځوس حديثونه شو) او د دے حصے په شروع کښې مونږ د خپل

پیغمبر صلی الله علیه وسلم مبارک عادتونه چه لیکلی دی چه هر څوک په هغې عمل کولو ته ضرورت دا ځکه او دکو دینه مخکښې په او وه د حصو کښې هر قسم نیکۍ او نصیحتونه په تفصیل سره لیکلی دی چه خیال ورته ساته او عمل پې کوه - انشاءالله تعالیٰ په قیامت کښې به لوئے درجې بیاموې ورته خدائے دے په امان کړی د نا کاره بنځو به بد حالی وی کوچه کله درته په قرآن او حدیثو نو پوهه حاصل شوه نو ډیرے قصے به د داسے بد دینو او بدو ذاتو او بد عقیده ؤ او بد عملو بنځو تا سو ته معلومے شی الله پاک دے موږ او ستاسو په نیکو کښې کړلان او په دے خاتمه او په دے کښې حشر کړی آمین (تمام شو)

اوله ضمیمه دجنت کالی د اتمے حصے مسمیٰ په جنتی ملغلره

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دحضور صلی الله علیه وسلم خوا بزه او پاکیزه خویونو او عادتونو بیان

۱ :- بهیقی د حضرت براء بن عازب رضه نه روایت کړے دے چه دوی د ټولو نه زیات ښائسته وو - او د ټولو نه زیات ښه خویه ؤ - او نه ډیر دنګ وه او نه ټیټ قد وه -

۲ :- ابن سعد د اسمٰعیل بن عیاش نه په مرسل طریقه روایت کړے دے چه دوی به د ټولو نه زیات د خلقو په آزار رسولو صبر کولو -

۳ :- ترمذی د هند بن ابی هاله نه یو لوئے حدیث په غوره سند سره د دوی په شمائلو کښې روایت کړے دے چه دا په کښې هم دی چه حضور به کله د تلو د پاره قدم او چتولو نو په قوت سره به ئې خپه او چته کړه او قدم به ئې داسے ایښوده چه مخے ته به خکته کیده - او به تواضع سره به ئې قدم مخکښې کولو په تلو کښې به داسے وه چه کویا د او چت ځائے نه خکته راکوزیږی - چه په چا به ئې څه ښی ته کتل نو ټول به راګرځیده وکتل به ئې یعنے د ستر ګو په کونو د کتو عادت ئې نه وه) نظر به ئې خکته زمکے ته ساته د آسمان په نسبت به ئې زمکے ته نظر ډیر زیات پاتے کیده - او د صحابو و نه به ورو ستو تلو عموماً عادت ئې په خکته سترګو سره د کتلو وه - (مطلب دا دے چه د ډیرے حیا نه به ئې پوره سترګو په وخته کښې نه او چه تا وه) څوک چه به ورسره ملاویده اول سلام به دوئی کولو -

۴ :- ابوداؤد د حضرت جابر رضه نه روایت کړے دے چه کله دوئی په خبرو کښې ترتیل وه (یعنے خبرے به ئې ورو ورو کولے چه اوریدونکے په ښه پوهه شی) لیکن د و مره په دمه دمه نه چه اوریدونکے اودیږی - او په یو حدیث کښې راغلی دی چه دوئی به یوه خبره درے

ـــــــــــــــــ
له دا اول شمائل د عزیزیه شرح جامع صغیر نه نقل کړی شوی دی ۱۲ منه

پیرے کول غرض داسے چه خبره بهٔ څیره واضحه کولهٔ د موقع لحاظ بهٔ ساتلو بعضے وخت اوریدونکے پوهه وی نو هلته خبره دوباره کول مناسب نه وی. او بعضے وخت اوریدونکے ناپوهه وی هغه ته بار بار خبره کول مناسب وی. او کوم ځائے چه هر قسم خلق وی هلته درے واره خبره کول مناسب وی. ځکه چه بنهٔ پوهه به په اول وار پوهه شی او د اوسط درجے خلق به په دویم وار او غبی خلق به په دریم وار هغه پوهه شی او کوم ځائے چه د دینه هم زیات حاجت وی نو د خوش اخلاقیٔ خبره داده چه د دینه هم منع او نه کړے شی خو پوهه شه. اصل خبره داده چه د خوش اخلاقیٔ او د قواعدو د پابندیٔ اعلیٰ مرتبه کومه چه حضورؐ ته ورکړے شوے وه نه څوک بل چا ته ورکړے شوے وه او نه به آئینده ورکړے شی. او سره د انتظامی قواعدو د پابندیٔ د خوش اخلاقیٔ سلوک څیرلوئے کمال دے. او د حضورؐ داعادت مبارک وه چه کوم کار بهٔ پخپله کولو خهٔ د قواعدو په پابندیٔ سره بهٔ کولو او د نورو چه به په دے کارونو کښے غلطی او کوتاهی کیده نو زور نه بهٔ نه فرمائیلو لیکن د دوی د اصلاح په غرض سره بهٔ باقاعده او په نرمیٔ نصیحت فرمایه. دا طریقه د سنتو تابعداری کونکو اختیاره ول پکار دی چه د انتظامی قواعدو پابندی او د خوش اخلاقیٔ عادت اختیار کړی او نورو ته رغبت ورکوی مگر محض د خپل نفس او غضب د شفاء د پاره د نورو په کوتاهو گرفت نه کوی البته که د دوی د اصلاح په غرض سره که ضرورت وی نو سختی هم غوره ره وه.

۵ :- ابوداؤدؒ د حضرت عائشےؓ نه په صحیح سند سره روایت کړے دے چه د حضور صلے الله علیه وسلم خبرے به جُدا جُدا وے چا چه به اوریدے پوهیدۀ به.

۶ :- بهیقیؒ د حضرت عائشےؓ نه په غوره سند سره روایت کړے دے چه د حضورؐ په تعلوید وعاتو نو کښے دروغ زیات بد ے شو.

۷ :- بهیقی، ابوداؤد، او نسائی د حضرت انسؓ نه روایت کړے دے چه د حضورؐ په توله کپړو کښے یمنی څادر ډیر خوښ وه چه څیړه نکوښ به پکښے وُو. (ادعزیزی کابن رسلان نه د دے کپړے د غوره والی دا حکمت نقل کړے دے. چه دا څیره د خائست کپړه نه ده یعنے ساده دهٔ او څیره کمه خیر تیږی. سبحان الله څه مبارک شان وه د حضورؐ چه خپل پاک ذات ئے په دنیا کښے مسافر گڼرلو نه ئے د دُنیا د خائست سره تعلق وه او نه ئے د دے د خرافاتو طرفته خیال وه. مسلمانانو تا سوله هم دا طریقه اختیاره ول پکار دی چه د ضرورت مطابق داسے کپړے اغوندئی چه ستر پے پټ شی او ساده وی او خیرنے کیبدی کم چه د دے خائست موکخد ائے طرفته د توجه کولو نه را اوښکرځوی او د دنیئے د صفا کولو حاجت نه وی چه په دے کښے وخت زیات خرچ

کیږی. او په بعضے روایتونو کښے د سپینو کپړو هم تعریف راغلے دے۔

۸:- بخاری او ابن ماجه د حضرت عائشه نه روایت کړے دے چه د حضورؐ به هغه عبادت ډیر خوښ وه چه همیشه به کیده ر یعنے نوافل وغیره دومره کول پکار دی چه همیشه ئے کولے شی داسے نه چه یوه ورځ خو هرڅه اوکړی او بله ورځ بیا هیڅ نه وی لږ عبادت چه همیشه وی هغه د هغے عبادت نه غوره دے چه یوه ورځ دی ډیر زیات وی او بله ورځ نه وی لکه چه په صحیح سند د حضورؐ نه نقل دی۔

۹:- ابن السنیؒ وغیره مرسل په سند غوره سره د مجاهدؒ نه روایت کړے دے چه د دوی د بدن په غوښه کښے مکښے حصه ډیره خوښه وه۔

۱۰:- حاکم وغیر په سند غوره د حضرت عائشےؓ نه روایت کړے دے چه د سکلو په خیزونو کښے د هغوی یخے او خوږے او په زیاتے لخوښے وے۔ ابونعیمؒ د حضرت ابن عباسؓ نه په سند حسن لغیره سره روایت کړے دے چه د حضورؐ ډیر خوښ وو۔

۱۱:- ابن السنیؒ او ابونعیمؒ د حضرت عائشے رضؓ نه په سند حسن لغیره سره روایت کړے دے چه د حضورؐ د سکلو په خیزونو کښے د کبین شربت ډیر خوښ وه۔

۱۲:- ابونعیمؒ د حضرت ابن عباسؓ نه په سند حسن لغیره سره روایت کړے دے چه د حضورؐ په ټولو سالنونو کښے سرکه ډیره خوښه وه۔

۱۳:- مسلم د حضرت انسؓ نه روایت کړے دے چه په حضورؐ به خوله ډیره راتله او په عرینزی کښے دی چه حضرت امّ سلیمؓ به د حضورؐ خوله جمع کوله او په لوره خوشبو کښے به ئے یوځائے کوله ځکه چه دا به ډیره خوشبویه وه او دا روایت په مسلم کښے دے۔

۱۴:- حضرت جابرؓ نه مسلم روایت کړے دے چه د حضورؐ د کیډے مبارکے ویښته زیات وو۔

۱۵:- ابن عدیؒ وغیره د حضرت عائشےؓ او ابوهریرهؓ نه روایت کړے دے چه په میوجاتو کښے د حضورؐ خورمے ډیرے خوښے وے۔

۱۶:- ابونعیمؒ د حضرت ابن عباس نه روایت کړے دے چه د حضورؐ د منګرے غوښه ډیره خوښه وه۔ دا نو رځائے د غوښه نه ښه نه۔

۱۷:- امام احمدؒ او نسائیؒ په سند صحیح سره د حضرت ابوواقد نه روایت کړے دے چه کله به دوی امامتی کوله نو مونځ به ئے ډیر مختصر کاوه او چه یوازے مونځ به ئے کاوه نو ډیر اوګد به ئے کاوه۔ د مقتدیانو سره به ئے ځکه مختصر مونځ کولو چه دوی تکلیف نه وی او یوازے به ئے ځکه اوږد مونځ کولو چه مونځ د دوی د سترګو د یخ والے وه په دے کښے به ورته آرام وه او د دینه به زیات څه آرام وی چه د محبوب حقیقی په مخکښے په عاجزئ ولاړ وی سوال تے کوی او د لنه اوګد تفصیل په نورو احادیثو کښے سره د مقتدا ارشاد وارد دے۔

۱۸:- امام احمدؒ او ابوداؤدؒ په غوره سند سره د حضرت عبد الله بن بسرؓ نه روایت کړي دے چه حضورؐ به کله د چا دروازے ته تشریف یوړو نو دروازے ته مخامخ به نه اودریدو بلکې ښئ خوا ته به ولاړ وو یا کیڼ خوا ته. او فرمائل به ئې السلام علیکم (دا سنت طریقه ده چه د چا دروازے ته ورشے نو ښئ یا کیڼ خوا ته اودریده ل پکار دي مخامخ نه. داسے په اودریدو د چا د بے پردے کیدو یره نشته البته که دروازه بنده وی نو بیا مخامخ هم اودریدے شي خو چه بے پردګي پکښے نه وی. او کور والو ته د اطلاع د پاره دے السلام علیکم وائی که په یو وار ئې وانه وری بیا دے او وائی خان بنه پوهه کړی)

۱۹:- ابن سعدؒ په طبقات کښے د حضرت عکرمهؓ نه مرسلاً روایت کړے دے چه د حضورؐ دا عادت وه چه کله به ورله خوک راغے او حضورؐ به ورله په مخ خوشحالی او ښکاله او لیده نو لاس به ئې ورله په چل لاس کښے واخستو (یعنے خوخ به ئې وه)

۲۰:- ابن منده د عتیهؓ نه روایت کړے دے چه حضور له به کله څوک راغے او نوم به ئې داسے وه چه د دوئ به خوښ نه وه نو د غه نوم به ئې بدلولو.

۲۱:- امام احمدؒ وغیره روایت کړے دے چه کله به دوئ ته چا د خپل مال زکوٰة راوړه (چه په موقع ئې صرف کړی) نو حضورؐ به فرمائیل چه اے الله په دے سړی رحمت نازل کړے (مونږ له هم پکار دی چه څوک راله د صدقے وغیره شے د تقسیم یا خرچ کولو د پاره راکړی چه دعا ورته او کړو)

۲۲:- حاکم د حضرت عائشےؓ نه په غوره سند سره روایت کړے دے چه کله به حضورؐ له څه خوشحالی راغله نو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصّٰلِحٰتُ به ئې وے. او چه کله به ورته څه خفګان راغلو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ به ئې وے.

۲۳:- امام احمدؒ او ابن ماجهؒ د حضرت ابن مسعودؓ نه په صحیح سند سره روایت کړے چه کله به ونیځه غلام (په جهاد کښے) د حضورؐ په حصه کښے راتله نو په ټول کور والو به ئې تقسیمول چه دوی په کور کښے په یو بل خفګان نه کوی (نو مونږ له هم پکار دی چه څه شے کورته راوړو نو چه په ټولو ئې یو شان تقسیم کړو.)

۲۴:- خطیبؒ د حضرت عائشےؓ نه په ضعیف سند سره روایت کړے دے چه حضورؐ له به خوراک راوړے شه او نور خلق به ورسره هم په خوراک شامل وو نو دوئ به د خپلے مخے نه خوراک کاوه او چه چوهارے به ورله راوړے شوے نو د هر طرفه به ئې خوړے

۲۵:- ابن السنی وغیره په صحیح سند سره د حضرت انسؓ نه روایت کړے دے چه کله به حضورؐ له میوه راوړے شوه په داسے وخت کښے چه اول به لیدلے وه نو اول به ئې د دواړو سترګو سره او بیا د شونډو سره او لګوله او فرمائیل به ئې اَللّٰهُمَّ کَمَا اَرَیْتَنَا اَوَّلَهٗ فَاَرِنَا اٰخِرَهٗ. بیا به ئې چوته ورکوله کوم چه به ورسره دغه وخت ناست وو.

۱۲۶ - ابن عساکرؒ دَ حضرت سالم بن عبد الله بن عمرؓ او حضرت قاسم بن محمدؒ نه پخپل ثقه مرسله سره صحیح روایت کړے دے چه کله به حضورؐ ته خښه لوښے راوړے شه چه خوشبویه تیل به ورپکښے نو په دغه تیلو کښے به ئے ګوتے لمدے کړے او استعمال به ئے کړه

۱۲۷ - طبراني دَ حضرت ام المؤمنین حفصهؓ نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله دَ اوده کیدو دَپاره خپلا ستو نوغښې لاس به ئے دَ ښي اننګي لاندے کړو.

۱۲۸ - شیرازيؒ په القاب کښے دَ حضرت عائشےؓ نه په سند حسن لغیره روایت کړے دے چه حضورؐ به کله په سر کښے تیل لږه ول نو دَ ګڼ لاس په ورغوي کښے به ئے اچولو او بیا به ئے دَ وروځو نه لږه ول شروع کړه یعنے په وروځو به ئے اوّل لږه ول بیا په سترګو او بیا به ئے په سر لږه وّل. - او په عزیزي کښے دي چه مناوي فرمائلي دي چه په یو روایت کښے دي چه حضورؐ به کله ګیره مبارک غوړه وَله نو اوّل به ئے په دواړو سترګو لږه ول (بیا په ګیره) احقر وائي چه دا روایت ځما دَ نظر نه دے تیر شوے.

۱۲۹ :- ابو داؤد ترمذي او طیالسي دَ حضرت انسؓ او حضرت جابرؓ نه په صحیح سند سره روایت کړے دے چه حضورؐ به کله تشو بولو یا پا خانے ته کیناستو نو خپلے کپړے به ئے نه اوچتولے ترهغے چه هغے زمکے ته به نزدے شوے نه وُو کوم ځائے چه به کیناستو یعنے چه کیناستلے به نه وو ترهغے به ئے ستر نه بربنډه ولو.

۱۳۰ :- ابوداؤد نسائيؒ او ابن ماجه دَ حضرت عائشےؓ نه په صحیح سند سره روایت کړے دے چه حضورؐ به کله دَ جنابت په حالت کښے (بغیر غسل کولو نه) اوده کیدو نو اودس به ئے کولو بیا به اوده کیدو. - او که په داسے حالت کښے به ئے دَ خوراک سکاک قصد اُو کړه نو فقط دواړه لاسونه به ئے دَ مروندو نو پورے وینځل نو بیا به ئے خوراک کولو حائضه او نفاس والا ښځه کله چه پاک وي نو دَ هغے دَ پاره هم دا سنت دي.

۱۳۱ - حاکم او ابو داؤد په سند صحیح سره دَ حضرت عبد الله بن زید نه روایت کوي چه کله به حضورؐ لښکر رخصتولو نو دا دعا به ئے کوله اَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكُمْ وَ اَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيْمَ اَعْمَالِكُمْ (مناسب دي چه څوک رخصتوي نو دا دعا دے ورته کوي.

۱۳۲ :- خطیبؒ دَ حضرت انسؓ نه په سند ضعیف روایت کوي چه حضورؐ به نوے کپړه دَ جمعے په ورځ اَغوُستله.

۱۳۳ :- حکیم ترمذيؒ دَ حضرت عبد الله بن کعب نه په نوادر الاصول کښے په غوره سند سره روایت کړے دے چه حضور به کله مسواک او کړه نو مشر ته به ئے بیا ورکاوه او چه اوبه وغیره به ئے سکے نو چه څوک به ئے ښئ ځړے ته وه هغه له به ئے ورکولے یا تے اوبه (او دا دواړه خبرے به حضورؐ دَ سخاوت او خلقو ته دَ برکت رسولو په وجه کولے) -

۱۳۴ - ابن السنيؒ او طبراني په غوره سند سره دَ حضرت عثمان بن ابي العاصؓ نه روایت

کہے دے چہ کلہ بہ شمالی هوا راتله نو حضورؐ بہ دا دُعا کوله اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اُرْسِلَتْ فِیْهَا - او وجه دا وه چه دا سے هوا کله په یو قوم دَعذاب کپاره رالیګلے شوه - کذا فی العزیزی - نو حضورؐ په دعا کوله چه یا الله زه تے پناه غوارم -

۳۵ :- امام احمد او حاکم په صحیح سند سره دَحضرت عائشےؓ نه روایت کړے دے چه کله به حضورؐ ته دَ خپلو اهلِ بیتو دَ یو تن په نسبت دا اطلاع اورسیده چه دهٔ یوه پیره دروغ هم ویلی دی نو تر هغے به تے حضورؐ خفه او ناراض وه چه هغه به توبه اُوِیسته او چه توبه به ئے اوویسته بیا به تے خوشحاله شه - وجه دا وه چه دروغ په اسلام کښے یو لوئے ګناه ده او دَ ګناه ګار سره بغض ساتل لازم دی -

۳۶ :- شیرازیؒ په القاب کښے په سند حسن لغیره سره دَحضرت ابو هریرهؓ نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله خفه شو نو ګیره مبارک به ئے په لاس کښے اونیوه او کتل به ئے ورته - (او دا یو طبعی امر وه کوم ثواب کپاره نه وه)

۳۷ :- ابن السنی او نعیم دَحضرت عائشےؓ نه او ابو نعیم دارنګ دَحضرت ابو هریره نه هم په سند غوره سره دا مضمون نقل کړے دے چه حضورؐ به کله خفه شو نو ګیره مبارک به ئے ډیره ډیره مسَه کوله (یعنے په لاس کښے نیوه) -

۳۸ :- امام احمد په سند صحیح سره دَحضرت عقبه بن عامرؓ نه روایت کړے دے چه کله به حضورؐ دا نجه لیده دَل نو طاق سلایان به ئے په سترګو کښے پورے کول په بل حدیث کښے چه ترمذی نقل کړے دے دا مضمون دے چه په هره سترګه کښے به ئے درے درے سلائی پورے کول -

۳۹ :- مسلمؒ او امام احمدؒ وغیره دَحضرت انس بن مالکؓ نه روایت کړے دے چه کله به حضورؐ خوراک اوخوړو نو خپلے دَخوراک درے واړه ګوتے به ئے او څټلے لکما فی روایة الحاکم (رچه دَحق تعالیٰ رزق ضائع نشی)

۴۰ :- ترمذی دَحضرت ابو هریرهؓ نه روایت کړے دے چه کله به حضورؐ ته څه سختی رابیخه شوه نو سر مبارک به ئے آسمان ته اوچت کړو او سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِیْمِ به ئے وے -

۴۱ :- ابو داؤد او ابن ماجه په صحیح سند سره دَابو موسیٰ اشعریؓ نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله څوک دَځان دَطرفه په څه کار پسے لیږه نو فرمائیل به ئے ورته چه خوشخبری ورکوئ او خلقو ته یعنے خوشحاله کونکے خبرے ورته کوه په دینی او دُنیاوی کارونو کښے او تره وه ئے مه چه دوی ستاسو نفرت نه کوی لیکن شرعی حد به هرځائے دَنظر لاندِ ساتے داسے دَخوشحاله کولو خبرے نه چه دَدین نه خلاف وی او آسانی کوه په خلقو سختی مه کوه -

۴۲ :- ابو داؤد او ترمذی دَحضرت صخر بن وداعهؓ نه روایت کړے دے په غوره

سند سره چه حضورؐ به کله لښکر لیږه نو په اوّل وخت کښې ئې ورځ کښې به ئې لیږه (ځکه چه دا د برکت وخت دے حاجت روائی د پاره په دے وخت تلو کښې زیات امید دے) -

۴۳:- ابوداؤد د حضرت عائشهؓ نه په صحیح سند سره روایت کړے دے چه د حضورؐ دا عادت وُه چه کله به ورته په چا کښې څه بد خبره معلومه شوه نو د نصیحت په وخت کښې به ئې دا نه فرمایل چه فلانی ته او کوریږي څه حال ئې دے داسې کار کوی - بلکه فرمایل به ئې چه د خلقو څه حال دے چه داسې داسې کار و نه کوی (سبحان الله څومره ښهٔ اخلاق ؐ وو - نصیحت به ئې داسې کولو چه مقصود تے هم حاصل شی او مجرم هم رسوا نه شی -

۴۴:- ابونعیمؒ په حلیة الأولیاء کښې د حضرت ابوسعید خُدریؓ نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله د سحر خوراک او خوړلو ما ښام به ئې نه خوړلو او چه ما ښام به ئې او خوړو نو سحر به ئې نه خوړ - ف :- یعنے په شپه ورځ کښې به ئې یو وار خوراک کولو -

۴۵:- ابن ماجهؒ د حضرت عائشهؓ نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله اُودس اوکړو نو دوه رکعته نفل (چه تحیة الوضوء ورته وائی) به ئې کول چه مکروه وخت به نه وه - بیا به جمات ته فرض مانځه له تلو -

۴۶:- خطیبؒ او ابن عساکرؒ د حضرت ابن عباس نه په سند حسن لغیره روایت کړے دے چه د حضور عادت وه چه څے به شو نو د جمعے په شپه به اول کوټے نه نتو تو د خلاستو د پاره او چه اوړے به شو نو د جمعے په شپه به د کوټے نه اول د خلاستو د پاره را وتلو او چه نوے کپړه به ئې واغوستله نو د الله پاک ثنا به ئې اووے او دوه رکعته نفل شکرانه به ئې اوکړه او زړه کپړه به ئې محتاج له ورکړه -

۴۷:- بیهقی او خطیبؒ په غوره سند سره د حضرت حسن بن محمد بن علیؓ نه مرسلاً روایت کړے دے چه حضورؐ له به کله مال راغے نو که سحر به راغلے وه غرمے ته به ئې نه پاتے کولو او که ما ښام به راغے شپے ته به ئې نه پاتے کولو (فوراً به ئې خرچ کولو)

۴۸:- محدّث بغوی د حضرت والدمره نه په ضعیف سند سره روایت کړے دے چه حضورؐ له به کله زیاته خندا راغله نو په خوله به ئې لاس ایخو دو ه

ف :- او داسے به کله کله اتفاق پیښیده چه زیاته خندا به ورله راتله ورنه دوی به صرف مسکے کیده (کما ورد بسند صحیح)

۴۹:- ابن السنی د حضرت ابوامامه نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله په مجلس کښې کینا ستو او خبرے اترے به ئې اوکړے نو چه پاسیده وبه استغفار به ئې لسں پنځلسں پیرے لوستو ف په بل حدیث کښې راغلی دی چه هغه استغفار داده - أَسْتَغْفِرُ اللهَ الْعَظِيْمَ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّوْمُ وَ اَتُوْبُ اِلَيْهِ -

(كذا فى العزيزى لكن لم اقف على سنده)-

۵۰ :- ابوداؤد د حضرت عبدالله بن سلام رضه نه په غوره سند روایت کړے دے چه حضور ﷺ کله کیناستو او خبرے به ئے کولے نو آسمان طرفته به ئے نظر کاوه ډیر زیات- (د عالم بالا سره د محبت په وجه او بل دا چه د قدرت عجائب او غرائب په نظر راځی)

۵۱ :- امام احمد او ابوداؤد د حضرت حذیفه رضه نه په صحیح سند سره روایت کړے دے چه په حضور ﷺ به کله څه سختی راغله نو نفل مونځ نه به ئے کول په دے عمل سره ظاهری او باطنی دنیوی او اخروی نفع حاصلیږی او پریشانی لرے کیږی-

۵۲ :- ابن السنی د حضرت سعید بن حکیم نه په سند حسن لغیره سره روایت کړے دے چه حضور ﷺ ته به څه شے ښه ښکاره شه او د خپل نظر لږید ویره به ئے پیدا شوه نو دا دعا به ئے کوه له- اَللّٰهُمَّ بَارِکْ فِيهِ وَلَا تَضُرَّهُ - فائده :- د حضور ﷺ د نظر نه خو بغیر د فائدے نه د نقصان رسید و هیڅ ویره نه وه خو دا به ئے امت ته د تعلیم د پاره کول چه د امت خلق بیا دا سے کوی (کذا فی العزیزی)

۵۳ :- ابن سعد د مجاهد نه په طریقه غوره مرسله سره روایت کړے دے چه حضور ﷺ به کله یوے ښځے ته د نکاح پیغام او لیږه او هغه به منظوره شه نو بیا به ئے د هغے خبرے ذکر نه کولو (یعنے بار بار به ئے پیغام نه ورکاوه) او یوے ښځے ته ئے د نکاح پیغام ورکړے وه هغے منظور نه کړه- بیا هغے پخپله د دوی سره نکاح کول غوښته لیکن دوی او فرمایل چه اوس ما حاجت نشته د بلے سره م نکاح کړے ده-

۵۴ :- ابن سعد او ابن عساکر د حضرت عائشه رضه نه په سند حسن لغیره روایت کړے دے چه کله به حضور ﷺ د پاکو بیبیانو سره خلوت فرمایه نو ډیر په نرمی او خاطرداری او خندا خنده اوس به ورسره ملاویده-

۵۵ :- ابن سعد د حبیب بن صالح نه مرسلاً روایت کړے دے چه حضور ﷺ به کله پاخانے ته تللو نو پیزار به ئے پخپو کولو او سر به ئے پټولو نو تلو به-

۵۶ :- بخاری د حضرت ابن عباس رضه نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ به کله د یو مریض تپوس له لاړشو نو فرمائیل به ئے ورته- لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللهُ (هیڅ پرواه نشته انشاء الله د گناه کفاره ده) -

۵۷ :- طبرانی د ابو ایوب انصاری رضه نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ به کله دعا کوله نو اول به ئے د ځان د پاره کوه له بیا د نورو د پاره)-

۵۸ :- نسائی د حضرت ثوبان رضه نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ ته به څه پریشانی راغله نو دا کلمه به ئے فرمایله- اَللّٰهُ اَللّٰهُ رَبِّي لَا شَرِيكَ لَهُ -

۵۹ :- ابن منده د حضرت سهیل رضه نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ به کله په یوه خبره راضی کیده نو چپ به شه-

۶۰:- ابو نعیمؒ دَ حضرت اُمّ سلمهؓ نه روایت کړے دے چه کله به دَ حضورؐ دَ پاکو بیبیانو دَ یوے ستړے خوږ شوے نو تر جو ړیدو پورے به ئے وسره هم بستری پاتے کړه

۶۱:- ابن مبارکؒ او ابن سعدؒ مرسل روایت کوی چه حضور به کله جنازے ته تشریف یوړو نو خاموش به وه او پخپل زړه کښے به ئے دَ مرګ متعلق خبرے کولے (ځکه چه جنازه دَ عبرت مقام دے دَ دے په لید و مرګ یاد و ل پکار دی او دَ هغے بے کسی خیال کول پکار دی چه پس دَ مرګه ورسره ځه کیدل دی)-

۶۲:- حاکم ابوداؤد او ترمذی دَ حضرت ابو هریرهؓ نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله پرنجیده نو لاس یا کپړه به ئے پخوله ایښوده او آواز به ئے کمه کولو-

۶۳:- مسلم او ابو داؤد دَ حضرت عائشےؓ نه روایت کړے دے چه کله به حضور صلے الله علیه وسلم څه نیک کار شروع کړه نو بیا به ئے همیشه کولو-

۶۴:- ابن ابی الدنیاؒ دَ حضرت ابو هریرهؓ نه روایت کړے دے چه کله به حضورؐ له په ولاړه غصه راغله نو کیناستو به او چه به ناست وُه نو څملاستو به (حالت بدلول علاج دے دَ غصے کمَولو)

۶۵:- ابو داؤد دَ حضرت عثمانؓ نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله دَ مړی دَ ښخولو نه فارغ شو نو په قبر به لږ ساعت او دریده او ملګری به ئے هم حصار شو او فرمائیل به ئے چه دَ خپل مړی دَ پاره دَ بخښنے سوال دَ الله نه او کړئ او دَ ثابت قدم پاتے کیدو دعا ورته او کړئ ځکه چه اوس به دَ دهٔ نه سوال کولے شی (یعنے منکر نکیر به ترے تپوس نه کوی نو په جواب دَ ثابت قدمئ دُعا ورته او کړئ)

۶۶:- ترمذی دَ حضرت ابو هریره نه روایت کړے دے چه حضورؐ به کله قمیص اَغوستو او ول به ئے دَ ښئ طرف نه شروع کولو (یعنے ښئ لاس به ئے اول ننویستو- کذا فی العزیزی)

۶۷:- ابن سعد دَ حضرت انسؓ نه روایت کړے دے چه دَ حضورؐ دا عادت مبارک وه چه دَ صحابوؓ نه به ورسره څوک ملاویده او هغه به حصاریده نو دوی به ورسره هم حصاریده او تر څو چه به هغه سړے نه وُه تلے دوی به ورسره برابر ناست وُو او کله به چه یو صحابی ورسره ملاقات کولو او دَ دویؐ لاس به ئے پخپل لاس کښے نیوَ لو نو دویؐ به ورله لاس ورکولو او تر څو چه به تے هغه لاس نه وُه لرے کړے دوی به ترے لاس نه ویستو (او دَ ابن المبارک په روایت کښے دا هم دی) دویؐ به خپل مخ دَ هغویؓ دَ مخ نه نه کرځاوه تر څو چه به تے هغه مخ نه وه کرځولے- او دویؐ چه به کله دَ یو صحابیؓ سره ملاقات کولو او هغه صحابی به دَ دویؐ غوږ ته نزدے کیده (دَ غوږ دَ خبرے دَ پاره) نو دویؐ به ورته خپل غوږ نزدے کولو او خپل غوږ به ئے ترهغے نه بیرته کولو چه ترڅو به هغه بیرته شوے نه وه-

۶۸:- نسائي د حضرت حذیفه رض نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ به کله د یو صحابي سره ملاویدو نو مصافحه به ئې فرمایله او د هغه د پاره به ئې دعا کوله.

۶۹:- طبراني د حضرت جندب نه روایت کړے دے چه کله به حضور ﷺ د صحابو سره ملاویدو نو ترڅو چه به ئې سلام نه وه کړے مصافحه به ئې نه کوله.

۷۰:- ابن السني د یو انصاري د ونیځې نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ به کله چاته اواز کولو او نوم به ئې ورته یاد نه وه نو یا ابن عبد الله به ئې ورته وے (یعنې د خدائے د بنده ځویه)

۷۱:- حاکم د حضرت جابر رض نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ به په تلو کښې اخوا دیخوا نه کتل.

۷۲:- ابوداؤد د بعضې آل سلمه نه روایت کړے دے چه د حضور ﷺ لاند یستوے (تولائي) د کفن د ټوټې وه (یعنې معمولي وه) او چاته ئې سرته وه (یعنې چه اوده کیدو به نو چاته به ئې سرته راتلو - کذا في العزیزي-)

۷۳:- او په بل حدیث کښې چه ترمذي د حضرت حفصه رض نه روایت کړے دے داسې دي چه تولائي (لاند یستوے) ئې د ټاټ وه.

۷۴:- حاکم د ابن عباس رض نه روایت کړے دے چه د حضور قمیص د مړو کوناو چت وه (یعنې د ختکې د نیمې پورے) لکه چه په نورو روایاتو کښې راغلي دي - کذا في العزیزي) او د قمیص لستوڼي ئې د ګوتو پورے وو او په بل حدیث کښې چه ابو داؤد او ترمذي روایت کړے دے د لستوڼو وګډ والے ئې د څنګلو پورے وه - رغرض دوا په قسمه ثابت شو د ګوتو پورے او څنګلو پورے)۔

۷۵:- امام احمد ترمذي او ابن ماجه د حضرت عائشه رض نه روایت کړے دے چه د حضور ﷺ تکیه د څرمنې وه چه د کجورو په پوستکو ډکه وه.

۷۶:- طبراني د نعمان بن بشیر نه روایت کړے دے چه حضور ﷺ ته معمولي قسم چوهارے هم دومره نه ملاویدے چه موړ شوے وے په - د ټولې دنیا خزانې ئې د خپو لاندې وے خو خدائے اختیار کړے وه او د دنیا لذتونه ئې سپک او ذلیله ګڼړلي وو د داسې فقیرئ حالت ئې اختیار کړے وه او څه چه به راتلل بې دریغه به ئې خیرات کول او چوهارے د عرب معمولي خوراک دے ځکه چه هلته ډیر دي۔

۷۷:- ترمذي د حضرت انس رض نه روایت کړے دے چه دوی د راتلونکې ورځې د پاره به څه نه څیز نه جمع کول.

۷۸:- طبراني د حضرت ابن عباس رض نه روایت کړے دے چه کله به دوی تلل نو خلق به د دوی د مخې نه نه شو لرے کولے او نه به وهلے شو - لکه چه د متکبرانو عادت دے چه نوکران د لارې نه خلق بیرته کوي چه لار ورته خالي شي.

۷۹:- ابن سعد دَ حضرت عائشے رض نه روایت کړے دے چه دوی به دَ درے ورځو نه په کم کښے قرآن نه ختمولو۔

۸۰:- ابن سعد دَ محمد بن حنیفه نه روایت کړے دے چه دَ حضور ﷺ دا عادت وه چه کوم کار کول به په شریعت کښے جائز وه خو کے تے نه منع کول۔ پس کله چه به دَ دوی نه سوال اوشه او که دے سوال دَ پوره کولو قصد به ئے اوکړه نو "هاں" به ئے فرمایل۔ او که به څه مجبوری سره به ئے هغه نه شو پوره کولے نو خاموش به وه۔ صلی الله علیه واله وسلم۔

(خلاصه شوه اول ضمیمه دَ جنت کالی)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دویمه ضمیمه دَ جنت کالی دَ اتمے حصے نه

راغستے شوے دَ اصلاح النساء نه

پس دَ حمد او درود نه عرض دے چه کله دَ جنت دَ کالی اتمه حِصّه لیکلے شوه دَ دے دَ حصے جوړه ولو به غرض سره څنګه چه دَ نیکو بیبیانو څه قصے جمع کړے شوے وے دغه شان دَ پاره دَ عبرت او مصلحت دَ بعضو بدکارو او بعضو توبه کونکو ښځو قصے هم جمع کړے شوے وے لیکن دَ اوږد والی په سبب صرف دَ اول قسم قصے ئے حصه جوړه کړے شوه او دَ دویم قسم دَ قصو په ځائے بالکل په آخر کښے په مضمون ښځو ته په بعضے عیبونو په نصیحت اکتفا اوکړے شوه او دَ دویم قسم قصے په مسوده کښے پاتے شوے او دَ اشاعت دَ پاره ئے دَ موقع انتظار وه۔ اتفاقاً ځما دَ یو محله دار تجربه کار صاحب سره په دغه وخت کښے یو یادداشت دَ ښځو په بعضے عیبونو باندے لیکلے شوے وه او ځما دَ نظر نه تیر شه نو دَ هغے مناسبت دَ دے قصو سره بیا مو ته خیال م پیدا شه چه که دا جمع کړے شی او دَ ضمیمے په طور دَ اتمے حصے سره چهاپ کړے شی نو امید دے چه دَ ښځو دَ پاره به دَ عبرت سبب شی او دَ دے عبرت نه امید دے چه دَ توبے توفیق اوشی۔ او دغه یادداشت چونکه دَ غصے په حالت کښے لیکلے شوے وه نو څه قدر تیزی او مطلق په کښے وه نو دَ تیزئ او اطلاق دَ تلافئ دَ پاره دَ دے په شروع کښے په عنوان دَ تنبیه سره یو منصفانه فیصله ما زیاته کړه او دے مجموعے لره دا سے ترتیب ورکړه چه اول قصے دَ شریرو ښځو او بیا دَ توبه کونکو ښځو بیا هغه تنبیه چه ما زیات کړے دے بیا هغه یادداشت او لیکلے شه پس ګویا دا مجموعه دَ جنت کالی دَ موجوده اتمے حصے آخری او دَ جامع مضمون مذکوره بالا

شرح ده او نوم ئې اصلاح النساء کیښودے شه فقط اشرف علی تحریر تاریخ ۱۵ محرم ۱۳۳۰ھ

۱۔ دَ عنق ذکر

دا ښځه دَ آدم علیه السلام په زمانه کښې وه دَ ټولو نه اول دے بدکاری کړے وه او خدائے پاک دے له په دنیا کښې دا سزا ورکړه چه دَ هاتیانو هومره مارانو او بنانو هومره شرمخان او لوئے لوئے کرکسان چه دَ خرو هومره وُه دَ غیب نه پیدا کړه او کړدنه تاؤ شوا و دا ئے او خوړه ما تې ئې کړه۔

ف اوګورئ دیته دَ بدکارئ څه نتیجه اُوَرسیده۔ او دا سے دے څوک نه کنړی چه اوس خو داسے سزا کانې چا ته نه ملاویږی نو یا دساتۍ چه دا خو فقط دَ حضور صلے الله علیه وسلم برکت دے چه په دُنیا کښې داسے سختې سزا ګانې نشته لیکن په آخرت کښې به ټول حرڅه په جمع وی۔ او چه دَ آخرت دا تلل یقینی دی نو بیا داسے بے فکره کیدل نه دی مناسب دَ خدائے تعالیٰ دَ قهر او غضب نه یریدل پکار دی۔

۲۔ دَ واعله ذکر

دا دَ حضرت نوح علیه السلام ښځه وه لیکن ایمان ئې را نه وړو هر کله چه طوفان شروع شه او دَ ډوبیدو نه اُو به را اوُختلې او نوح ع ایمانداروله په کشتئ کښې کینول نو خپل ځوئ او دا ښځه ئې ډیر پوهه کړه چه ایمان قبول کړئ او کشتئ له راځئ لیکن دوی نه ایمان قبول کړه او نه کشتئ له راغله بلکه په طوفان ئې یقین نه وه لیکن کله چه طوفان زیات شه نو دوا په ډوب شو۔

فائده:۔ دَ دے ښځې ذکر په قرآن کښې داسے راغلې دے چه سره دَ دے چه دَ پیغمبر ښځه وه لیکن چه مسلمان نه وه نو دَ هغه ښځوالئ ورله هیڅ فائده ورنه کړه او دوزخ ته لاړه. بیبیانو! ښه پوهه شئ دَ خپل خاوند یا پلار رور ځوئ په بزرګئ نه پورے وځئ ترڅو پورے چه ستا سو خپل ایمان او دین برابر نه وی۔

۳۔ دَ حضرت لوط ع دَ ښځې ذکر

دا هم کافره وه او په بد وکارو نو کښې به ئې دَ کافرا نو مدد کو لو هر کله چه دَ حضرت لوط علیه السلام په قوم دَ خدائے پاک عذاب راتلو نو خدائے پاک فرشتے را اولیږلے چه ته خپل مؤمنان دځان سره کړه او شپه په شپه دَ دے کلی نه اوزه سحر به په دے قوم عذاب راځی او چه ځې نو څوک دے پتا سو کښې بیرته نه ګوری نو چه حضرت لوط ع د خدائے دَ حکم مطابق سره دَ ملګرو دَ کلی نه اُووت نو دا ښځه ورسره وه خو کله چه په کلی کانړی وریدل شروع شو او شور جوړ شه نو ټول مؤمنان دَ یرے نه په مخه روان وُو او خوا ډیخوا ئے نه کتلو۔ او دے ښځې چه دَ کافرانو سره ئے مینه وه په شا وُکتل چه څه پے او شوا و یو کانړے پے برابر شه کار ئې ورله تمام کړه۔

ف ۱- په قرآن شریف کښې د دې ښځې ذکر هم راغلې دے چه د پیغمبر ښځوالی د دے پکار نشوه ځکه چه دا ښځه بې دینه او بې ایمانه وه - بیبیانو! په دې خبره ځان خه پوهه کړئ چه خپل دین او ایمان په کار دے -

۴، د صدوف ذکر

د حضرت صالح علیه السلام په زمانه کښې دا یوه کافره ښځه وه د دے چال چلن ښه نه وه. او دغه شان یوه بله هم وه - او د دے په کور کښې بېڼې وغیره ډیر د پېیو څاروی وو. د حضرت صالح علیه السلام په معجزه سره الله پاک د کمرې نه او ښه راویسته او په دے کلی کښې د او بو یو کوهے وه ټول څاروی به په هغې کوهی او به کیده کله چه دا اوښه پیدا شوه نو د خدائے په حکم سره دا سے نمبر مقرر شه چه یوه ورځ به دا اوښه په دے کوهی او به کیده او یوه ورځ به نور ټول څاروی او به کیده. دا اوښه دومره زبردسته وه چه کوم دے په نمبر به نور څاروو تا او به نه پاتې کیدے په دے خبره ټول کافران خفه وو. نو یوه ناکاره قصه په کښې دا او شوه چه د ا بد چلنه دوه ښځې چه وے د دوه بد چلنه سړو سره د دوی خبرے وے دے ښځو هغوی ته شکایت او کړه چه څو نږ څاروی کمزوری او یوه ورځ ټول دوی تږي وی د دوی څه علاج او کړئ نو موږ به ستاسو نه خوشحاله شو او ستا سو تابعداري به شو. دوی دواړو خپل نور ملګری د ځان سره کړه او دے اوښې ته په لاره کښې پټ شو په راتلو کښې ئے په توره په دے اوښه حمله او کړه او د دے ښپے ئے پرې کړے نو اوښه راپریوته او بیا دوی په توره یا نه حلاله کړه نو الله تعالی په دوی غضب نازل کړه په اوله ورځ د ټولو کافرانو مخونه زیړ شو په بله ورځ سره شو په دریمه ورځ تور شو. په څلورمه ورځ په جبرائیل علیه السلام یوه چغه او ویسته چه ټول مړه شو او د اور په باران ایره شو-

ف ۱- او ګورئ د دوه ښځو د بد ذاتئ وبال په ټولو خلقو پریوتو- او دا ټول شرارت د دوی د مال سره د محبت په وجه وه -

۵، د ازبیل ذکر

د حضرت الیاس علیه السلام په زمانه کښې دا د یو بت پرست بادشاه ښځه وه او دا ښځه هم ډیره ظالمه وه او بې رحمه وه او د دے ډیر پیغمبران وژلي وو- او د دے په کاونډ کښې یو نیک بخت سړے او سیده د هغه یو باغ وه او دا به په دے طرف تیریده چونکه دا باغ ډیر ښائسته وه هرچا به ئے تعریف کولو نو دا ښځه به په سوز یده او په دے فکر کښې وه چه په څه جوړ دا باغ د دے سړي نه واخلي او دا سړے قتل کړي اتفاقاً د دے خاوند یو وار په سفر لاړ او دلته چه به دے تلو نو د بادشاهئ

له از عجائب ۱۲

ټول کار به دے ښځے ته حواله وُه دا بېره هم داسے اوشوه - هغې دا شرارت اوکړه
چه یو څو تنه ئے تیار کړه چه تاسو په دربار کښې د دروغو ګواهي اوکړئ چه دے سړي بادشا
ته کنځل کړي دي - او د دے بادشاه قانون وُه چه په چا باندے به دا خبره ثابته شوه چه
دهٔ بادشاه ته کنځل کړي دي نو هغه سړے به قتل کولے شه - دے ښځے دغه نیک بخت
سړے ګرفتار کړه او ورته ئے اووے چه ما آوریدلي دي چه تا بادشاه ته کنځل کړي
دي هغه انکار اوکړه دے هغه سړي را اوغوختل هغوي ګواهي اوکړه چه دهٔ
بادشاه ته کنځل کړي دي - نو دے ښځے دغه عاجز قتل کړه او د هغه هغه باغ ئے
ضبط کړه - چه بادشاه د سفره واپس راغے نو الله تعالیٰ حضرت الیاس ؑ ته وَحي را
اُولیږله چه دے بادشاه ته اووایه چه په یو بےګناه مسلمان ظلم شوے دے
او دے ئے وژلے دے او باغ ئے ترے اخستے دے که دواړو ښځے خاوند توبه اوُیسته
او باغ ئے اصل وارثانو ته واپس کړه نو بنه ورنه دواړه به هلاک کړم - هرکله
چه ورته حضرت الیاس ؑ دا خبره اوکړه نو توبه خو څهٔ کوے اُلټه د دهٔ دشمن
شه آخر حضرت الیاس علیه السلام د خدائے نه حکم د هغے ځائے نه لاړ شه او
په لبنان غرونو کښې د بادشاه یو ځوئ بیمار شه او مړ شه دا غم لا ختم نه وُه چه
یو بل بادشاه پرے حمله اوکړه ملک ئے ترے واخستو او دے او د دهٔ ټول قوم
ئے د تورے نه تیر کړه - ف :- او ګورئ د ظلم څه نتیجه شوه -
بیبیانو! د چا شي ته نیت کول، چا ته په ناحقه څه وئیل، یا ئے په ناحقه وژل،
تکلیف ورته رسَول، په بد ورد و د چا ذکر کول، د چا غیبت کول ټول ظلم دے
او د ظلم وبال تاسو اوُریدلو د دے ټولو خبرو نه همیشه ځان ساتئ -

۶ ر د نائلهٔ ذکر

جرهم یو قوم وه چه د ټولو نه اوّل د حضرت اسمٰعیل علیه السلام د ورکوټوالی
په زمانه کښې راغلي وُه او په مکه کښې آباد شوي وُه - په دوي کښې یوه ښځه وه چه نوم
ئے نائله وه دے کم بختے په خانه کعبه کښې دننه بدکاري اوکړه نو د خدائے تعالیٰ
غضب په دواړو ښځه او سړي نازل شه او دواړه ګټے شو د دے سړي نوم اِساف
وه - خلقو دواړه اوچت کړه او یو ئے په صفا او بل ئے په مروه چه په مکه کښې دوه
غرونه دي کیښودل چه خلق ته عبرت اُخلي او د خدائے د غضب نه یریږي چه څه
زمانه پرے تیره شوه نو جاهلانو خلقو د ناپوهئ نه د هغوي عبادت شروع کړه
بیا حضور صلی الله علیه وسلم دغه دواړه د هغه ځائے نه لرے کړه مات ئے کړه -
ف :- د خدائے تعالیٰ د غضب نه آمان پکار دے دا د خدائے پاک د نافرمانئ انجام
دے - که په دے دنیا کښې څوک بچ شي نو په آخرت کښې به څنګه بچ شي - او دا

له از روضه ۱۲

هم معلومه شوه چه په پاک ځائے کښې ګناه کول زیات ګناه دے دغه شان په پاک وخت کښې ګناه کول زیات ګناه دے بعضې خلق په رمضان وغیره کښې هم ګناه ۵پاتے کوی نو کړے ډیر زیات ګناه او وبال پرېوځی۔

۱۷۔ دَ بلعمؓ باعور دَ ښځې ذکر

داشیخ ډیرعابد زاهد وه دَ شام په ملک کښې اوسیده هرکله چه دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دَ امت مسلمانان دَ خدائے تعالیٰ په حکم سره دَ حضرت یوشع علیه السلام سره دَ بیت المقدس دَ کافرانو دَ لاس نه دَ آزاده ولو دَپاره شام ته لاړه - نو دَ دغه ځائے خلق دهٔ له راغله چه ته دے مسلمانانو ته خیرے اوکړه چه دوی واپس شی دغه انکار اوکړه او اوئے وے چه دَ پیغمبر او دَ دغه دَ ملګرو دَپاره بده دعا (خیرے) کول ډیره سخته خبره ده زهٔ هرګز داسے نه شم کولے۔ خلقو دَ دهٔ ښځې ته ډیر مال ورکړو اووئیل چه ته په څهٔ طریقه خپل خاوند خیروته راضی کړه دے ناپاکے دَ حرص په وجه خپل خاوند خیروته تیار کړه۱ ۵وچه دَ خیرو کولو اراده ئے اوکړه نو ایمان ترے لاړشه او ژبه ئے راغله په سینه راښکاره شوه او چه مسلمانانو فتح اوکړه نو دے ئے هم قتل کړه۔

ف :- اوګورئ لالچ څومره ناکاره شے دے کمال او زر و په حرص کښے دَ ښځې خپل دین هم خراب کړه او خاوند ئے هم برباد کړه چه ایمان ئے هم لاړه او روح هم۔

بیبیانو! اوس هم ډیرے ښځې په لالچ کښے ګرفتارے دی خپل خاوندان رشوتونو او حرامو ته لمسوی او خوشحالیږی چه دومره کالی او دومره روپئ دی راسره او دانه ګنړی چه ښځه خاوند دواړه دوزخیان جوړیږی۔

دَ حضرت یحییٰ علیه السلام قتل کوونکے ښځې ذکر

په دغه زمانه کښې یو بادشاه وه دَ دغه دَ ښځې یوه لور دَ بل خاوند نه وه کله چه دا ښځه بوډئ شوه نو دا خیال ئے شه چه شاید دَ بادشاه بلے ښځې ته زړه اوشی نو دا خیال ئے اوکړه چه دا خپله لور دَ دے بادشاه ښځه جوړه کړم او دَ په ذاتے دا خپله لور هم دے خبرے ته تیاره کړه نو دغه بے حیا هم په دے فکر کښې شوه او دَ بادشاه زړه ئے خپل ځان ته په مائله کولو شروع کړه - نو دَ دے کم بخت ورته هم زړه اوشه - چه حضرت یحییٰ علیه السلام خبرشه دغه دے منع کړه او دا تعل پلیتان دَ دهٔ دشمنان شو ترڅے چه دے ئے ګرفتار کړه راځے وستو او سرئے ورله دَ تنے نه جدا کړه او دَ ګناه اراده ئے اوکړه - دَ حضرت

یحییٰ علیه السلام پرې یکړی سر به آواز کاوه چه اے کم بخته تا لوه دا حلاله شوه مکر وے بد ذاتے یو ه هم نه آوریده د حضرت یحییٰ علیه السلام د سره وینې جوش شروع کړه او په هیڅ شان هغه جوش نه کمیده د دغه زمانے عالمانو اووے چه ترڅو د دۀ قتل کونکي قتل نه کړے شي او وینه ئے اونه بیولے شي نو د دے وینې جوش به کم نه شي۔ په دغه زمانه کښې بل یو نیک بادشاه وه هغه چه خبر شه هغه خپل لښکر راوست او حمله ئے په اوکړه او دا څومره چه په قتل کښې شریک وو دا او اوویا زره کافران ئے قتل کړه نو دغه وینه بنده شوه

ف :- الله پاک دے د شیطانی کارنه آمان راکړی او کوره د نفس د تابعدارۍ کولو نه خبره د کوم ځائے نه کوم ځائے ته اورسیده۔ یو پیغمبر قتل کړے شه بیا دوئیم د گناه کار او شه او بیا هم نفس ته خوشحالی نصیب نه شوه ظرور ته د ظلم نتیجه ملاؤ شوه۔ او څوک چه په دے ظلم خاموش شوی وو هغه هم په دے وبال کښې گرفتار شو

۹، د شمسون د ښځې ذکر

هرکله چه حضرت عیسیٰ علیه السلام آسمان ته اوچت کړے شه په دغه زمانه کښې دا شمسون یو عابد زاهد سړے وه او خدائے پاک ورله ډیر زور ورکړے وۀ دغه وخت یو کافر بادشاه د دۀ دشمن وه۔ هغۀ د دۀ ښځې ته اووے چه کۀ تا شمسون په څه جوړ گرفتار کړه نو دۀ به تا په خپل نکاح کښې راولم دے بد بختې په اودو د هغه لاس او خپے اوتړل او کافرانو ته ئے حواله کړه خلقو بادشاه له بوتلو بادشاه دې اوکړه چه شمسون به په سولۍ کولے شي څوک چه ئے تماشے کوی را دې شی په زرگونو خلق جمع شو دغه وخت شمسون خدائے پاک ته سوال اوکړه د هغې بادشاه مکان راپریوت او بادشاه ئے لاندے مړ شه خلق د بادشاه په راویستو شو او شمسون صحیح سلامت خپل کور ته راغے۔ او هغه ښځه ئے طلاقه کړه۔

ف :- دے بد بختے ښځې د دنیا په حرص کښې څنگه د خپل نیک خاوند سره بے وفائي اوکړه لیکن مراد ئے هم پوره نه شه او د خاوند نه هم خلاصه شوه په عملی او لالچ دا سے ناکاره شے دے۔

۱۰، په جریج د تهمت لږونکے ښځې ذکر

د حضرت عیسیٰ علیه السلام او زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په درمیانی زمانه کښې یو بزرگ وۀ جریج ئے نوم وه د لږ عمرنه هغه د الله تعالیٰ په عبادت کښې لږیدلے وه او د خلقو نه جگ او په ځنگل کښې ئے یوه عبادتخانه جوړه کړے وه یو وار هغه په نفل مانځه کښې مشغول وۀ په دے کښې ئے مور دروازے له

بالله آواز ئې ورته اوکړه ښځهٔ دَ ماښځه په وجه دے له جواب ورنه کړه و مور ئې خبره وه چه دے په ماښځه دے. نو خيرے ئې ورته اوکړے چه خدائے دے دربانږ بدې چلنه ښځې وا ړه وي- دَ مور و پلار ډير حق وي او په دې وجه دا مسئله ده چه نفل مونځ کوي او مور يا پلار ورته آواز اوکړي او ځغوي کړدهٔ دَ دے لله مانځه نه خبره وي نو دے به مونځ ماتے کوي او جواب به ورکوي - ليکن جريج عالم نه وه نو دا ورته معلومه نه وه- نو دَ مور خيرے پرے اولږيدے اوپه عاجز دا مصيبت راغے چه حاسدانو ورته يوه بده چلنه ښځه اولمسوله چه په ده شان سره جريج بد نام کړی - نو دَ دے چرته دَ اخوا ديخوا نه کيږه شوے وه نو چه بچے ئې اوشه دے دا دَ جريج نه دے خلق ئې په عبادت خانه را اوخا ته او ډيرے وهلے ئې کړه اوبيا جريج ئې راکيخوده چه اوګوره دا ښځه څهٔ وائي جريج دَ ښځے دَ تي هغه بچی ته ګوته کړه چه وايه ستا پلار څوک دے. هغه دَ يو ګړه په نوم واخستو بيا ئې تول خلق زيات معتقد شو او لاس خپے ئې ورله ښکلول او خلق را تول شو چه اوس مونږ ستا عبادتخانه دَ زرو نه جوړه وُو خوده اُو وے چه نا بس دَ هغے زړے پشان ئې جوړه کړئ - او هم دغه شان ئې جوړه کړه-

ف:- اوګورئ دے ښځے چه په نيک سړي تهمت اولږده ولو نو څومره ذليله شوه او څومره رسوا شوه نو ګورئ چرته په يو بے ګناه تهمت مه لږده وئ - دَ بعضو ښځو عادت وي چه په لږه شان شبه به په چا کښے چلتي اوپه چا دَ خلا تهمت لږده وي دا تول خيرے دَ ګناه دي- او اولادته هم هره خته خيرے کول نه دي پکار معلومه نه وي چه کوم ساعت دَ قبوليت وي- او دَ مور و پلار حق هم معلوم شه-

۱۱. دَ بني اسرائيلو دَ يوے بے رحمے ښځے ذکر

په بخاری شريف کښے يو حديث دے چه حضور صلے الله عليه وسلم دَ بني اسرائيلو دَ يوے بے رحمے ښځے قصه بيان کړه - چه يوه ښځه وه هغې يوه پيشو ساتلے وه او ئې تړلے نه ئې ورله خوراک ورکولو او نه ښکاک اوشئے پريښوده چه پخپله ئې څه بيولے او ګذاره ئې کولے هغه پيشو په دغه حالت کښے په تړ قيد و مړه شوه الله تعالیٰ دغه ښځه دوزخ ته واچوله او په يو روايت کښے دي چه حضور دغه ښځه په دوزخ کښے اوليده چه دغه پيشو ئې په سينه ناسته ده او په پنجو ورله سينه او مخ را شوکوي -

ف:- دَ بے رحمئ څومره ناکاره انجام دے په هيچا بے رحمي مه کوئ البته سپے پيشو کښے تکليف ورکوي نو مرګ ئې جائز دے خو ليکن آزاره ول ئې نه دي پکار-

له از بخاری شريف ۱۲

۱۲۔ د مخکینیٔ امتونو د یوے بد ذاتے ښځے ذکر

حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائی چه په مخکینیو امتونو کښے یو عابد زاهد سړے ؤ یو بد ذاته ښځه پے درپسے شوه او خپله یوه وینځه ئے پسے اولیږله چه ستا ځنے معامله ده او چیرته لویه ده د ګواهۍ نو په مخکینے کول غواړی د الله تعالیٰ د پاره په کښے تهٔ ګواه شه د ثواب کار دے۔ دا عاجز ساده وو لاړ شه چه کور ته لاړ شه نو ونئے پسے ټولے دروازے بندے کړے دے ځهٔ ګوری چه هغه بد ذاته ښځه ناسته ده او شراب هم ورته پراته دی او یو هلک هم موجود دے۔ دغه وخت ورته دے خبره ښکاره کړه چه ما د ګواهۍ د پاره نه ئے راغلے بلکه ستا د پرهیزګاری ما توقع ته یا خو سره بدکاری اوکړه یا شراب اوسکه یا دا هلک قتل کړه۔ عابد عاجز حیران شه او شراب ئے ښکلی ئے په دے نورو خبرو سپک ګناه اوګنړلو او شراب ئے اوسکل د شرابو سکلو سره ئے عقل لاړ او په دغه حالت کښے ئے هغه نور دواړه ګناهونه هم اوشو۔

ف:- د ګناهونو د یو بل سره ځه داسے علاقه ده چه کله یو ګناه اوشی نو بیا بل هم کیدی شی نو په دے وجه که ګناه لوئے وی او که وړوکے د ټولو ځان ساتل پکار دی۔ او یو ګناه که څه سپک او وړوکے هم وی خو چه اونه شی۔

۱۳۔ د بنی اسرائیلو د یوے مکارے ښځے ذکر

حضرت موسیٰ علیه السلام یو حوض تیار کړے وو او داسے دعائے ورته کړے وه چه په هغے ئے بوښکے داسے اثر شوے وو چه یوے بدکارے ښځے به هغه اوبه اوسکے نو فوراً به ئے مخ تور شو او مړه کیده به۔ د موسیٰ علیه السلام نه پس هم په دے حوض کښے دا تاثیر وو۔ یو وار د یو سړی په خپلے بی بی باندے شک راغے او هغه شک ئے رشتونے وه۔ چه خاوند ئے د دغه زمانے حاکم ته فریاد اوکړه نو هغوی د دغے اوبو فیصله تجویز کړه او دا ښځه ئے را اوغوښته د دے ښځے یو خور وه چه بالکل د دے په شکل وه نو د دے ښځے په چالاکۍ سره دغه خپله خور په ځائے اولیږله۔ هغه لاړه د ټولو په مخکښے ئے هغه اوبه اوسکے نو دا خو پاکه وه هیڅ پے اونه شو خلق حیران شو۔ غرض چه دا کور ته راغله او کوم دغه ناپاکه خور سره ملاؤ شوه نو چه د دے ساه په هغے اولږیده ټول مخ ئے تور شه او فوراً مړه شوه۔ نو هغه وخت خلقو ته د دے د چالاکۍ حال معلوم شه۔

ف:- دهوکه او فریب پټ نه پاتے کیږی آخر ئے الله تعالیٰ رسوا کوی۔ بیبیانو!

له ارشاد ۱۲ ۲ له ازعجائب ۱۲

په خبرو او معامله کښې نه به صاف او نه به رښتونې پکار ده۔

۱۴۔ د اُمِ جمیل ذکر

دا د ابولهب کافره ښځه ده په قرآن مجید کښې هم د دې بد والې بیان شوی دې

د حضور صلی الله علیه وسلم سره ئې دومره دشمنی لرله چه ځنګل نه به ئې اغزې جاړې راوړې د شپې به ئې د حضورؐ په لاره کښې خورې ورې کړې چه په تلو کښې ئې په خپو کښې لاړې شي۔ یو وار ئې د خشاک پنډ په سر وړو او یو پنډ رسۍ ئې د ځان نه راوسته کلک کړې وه چه پنډ ئې په سر کښې ږدي وي نا څاپه هغه پنډ ئې پښه لاړ شه او هغه رسۍ ئې د دې مرۍ ته او نښته او مړه شوه۔

ف ۱۔ الله پاک دې آمان راکړي د دین او د دینداره د دشمنۍ کولو او د دې د بد انجام نه چه په دنیا کښې هم بد دې او په آخرت کښې هم بد دې۔ بعضې ښځې د مولویانو مسئلې د رو غږنې کوي او خاندي پورې او خاص بیا د غم ښادۍ په موقع چه د شریعت موافق ورته کولو وائي هغه بیا ډیره بد ګنړي دا هم د دین سره دشمنی کول دي او ډیال ئې په دواړه جهان کښې تباهی ده۔

۱۵۔ کومې ښځې چه د مکې د فتح په ورځ مړې کړې شوې د هغو ذکر

مکه مکرمه اول د کافرانو په قبضه کښې وه حضور صلی الله علیه وسلم ته کافرانو وویستل د یته فتح مکه وائي۔ په دې کافرانو کښې ډیرې ښځې داسې وې چه د دین اسلام سپکوې او بدۍ به ئې په سندرو کښې بیا نو لې حضورؐ حکم کړې وه چه د دغه ښځې کوم ځائې مومئ قتلوئې ئې په دوی کښې څلور مړې کړې شوې قریبه فرتنه ارنب او ام سعد۔

ف :۔ حضور صلی الله علیه وسلم ډیر رحیم کریم وه او د بل په جنګ کښې به ئې د ښځو قتل هم منع کولو۔ لیکن دې ښځو دومره بې دیني کړې وه چه د خدائے پاک د طرفه د دوی د قتل حکم شوې وه۔ ځکه چه حضورؐ به بغیر د خدائے د حکم نه یو کار هم نه کولو او هغه بې دیني د دوی دا وه چه د دین بد والې به ئې وې او سندرې به ئې پورې جوړې وې۔ او س هم د بعضو ښځو دا شغل دې چه شریعت به بد روې وائي او بعضې په مولویانو پورې سندرې هم جوړه وي دوی لره پکار ده۔ چه ځېنې نه د خدائے پاک په غضب کښې ګرفتار دې شي۔

۱۶۔ د زینب بنت حارث ذکر

خیبر یو کلې وه هلته کافران یهودیان اوسیدل د حضور صلی الله علیه

وسلم ورسره جنګ اوشه او مسلمانانو فتح اوکړه د فتح نه وروستو حضور
حلته حصار شوے وه - یوے یهودی ښځے چه نوم ئے زینب وه د حضور صلے
الله علیه وسلم په خدمت کښے څه خوراک په طور د تحفے پیش کړه دے کم بختے
په دے کښے زهر لګولی وه - حضور او بعضے صحابوؤ او خوړه بیا د الله تعالیٰ
په قدرت سره حضور ته پته اولګیده لاس ئے تے را ټکو دل او تولو ئے
تے منع کړل لیکن یو صحابی پے ختم شه او حضور ته هم چیره موده پس اثر
اوشه او د وفات بیماری ئے د دے زهرو د اثره وه - په بعضے کتابونو
کښے لیکلی دی چه کله دغه صحابیؓ وفات شو نو د دغے ښځے نه تپوس اوشه
او هغے اقرار اوکړه او په سزا کښے هغه هم قتل شوه -

ف :- دا کم بخته هم د اسلام د دین دشمنئ ختم کړه - بیبیانو د اسلام د دین
او د شریعت چیرته هم بد مه وایئ - خه په خوشحالئ ئے منئ -

۱۷ ، د لبید یهودی د لونړو ذکر

دے تولو صلاح اوکړه او د حضور صلے الله علیه وسلم د هلاکت د پاره ئے
پے جادو اوکړه - د هلاکت د صدمے نه خو بچ شو لیکن دومره اثر پے شوے
وه چه په مزاج کښے ئے هیر پیدا شو خو دا د دین په خبره کښے نه بلکه د خوراک
څښاک او ناستے پاستے په خبره کښے - بیا الله تعالیٰ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ - اَوْ
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ الخ دا دوه سورتونه نازل کړه نو د دے په برکت سره د جادو اثر ختم شه

ف :- دوی لره هم د دین دشمنئ خراب کړه -

۱۸ ، سلمیٰ بنت مالک ذکر

دا اول د حضور صلے الله علیه وسلم په زمانه کښے مسلمانه شوے وه - حضور فرمائیلی وو
چه دا مسلمانه نه شی پاتے کیدے - نو دا سے اوشوه - کله چه حضور وفات شو نو د دے
د حکومت خیال پیدا شه او د دین نه واپس شوه - چیر ګمراهان ئے ملګری شو آخر چه
د مسلمانانو لښکر حلته اورسیده نو د دے ښځے او د ملګرو خاتمه ئے په توره اوکړه -

ف :- لکه څنګه چه د مال محبت ناکاره دے دغه شان د سرداری جوړیدو هوس
هم سړے لوټ کوی - لکه د سرداری هوس چه د دے ښځے دین او دنیا تباه کړه -

۱۹ ، د قطامه ذکر

یو تولے دے چه خارجیان ورته وائی هسے خو دوی ځان ته مسلمانان وائی مګر
د دوی عقیدے چیرے د دین نه خلاف دی - دا خلق د حضرت علیؓ د وخت نه شروع
شوی دی - او د حضرت علیؓ سره د دوی لوئے لوئے جنګونه شوی دی نو د دوی د

حضرت علی رض عنه دشمنان وو. د دې قبیلې درې کسان یو وار په مکه کښې راجمع شو. حضرت علی رض په دغه زمانه کښې په کوفه کښې اوسیده. دې درې واړو دا صلاح اوکړه چې حضرت علی رض او دوه نور صحابه رض قتل کول غواړي. د حضرت علی رض د قتل دپاره یو سړے تیار شه چې نوم ئے عبدالرحمٰن ابن ملجم وه. دے په دے اراده کوفې ته راغے هلته ورسره دا کم بخته ښځه ملاو شوه. ده چې اولیده د نکاح پیغام ئے ورکړه ښځې وے که ما ته مهر اداکولے شې نو نکاح به درسره اوکړم. هغه ته د مهر تپوس اوکړه وے اووے چې ځما مهر دا دے چې حضرت علی رض قتل کړې. دا ښځه خارجي وه او د حضرت علی رض د لاسه د دې پلار رور تره او خاوند په جنګ کښې وژلي شوي وو. دا ټول خارجیان وو. نو دې سړي دا خبره قبوله کړه او د سحر د مانځه نه اول د جمات په دروازه کښې پټ شو چې حضرت علی رض د مانځه دپاره جمات ته راغے نو ده وژل په سر د توره ګذار اوکړه او اوتختیده. حضرت علی رض د دغے زخم نه وفات شه. او دے ګرفتار کړے شه او قتل شه.

ف:- اوګورئ چې کله د دے ښځے د دین سره محبت وے نو د حضرت علی دشمنی به ئے نه کوله

۳۰. د جعده بنت اشعب ذکر

دا د حضرت امام حسن رض ښځه وه. دا داسې بد بخته شوه چې یزید کوم چې د حضرت امام حسن رض دشمن وه دا اوغولوله چې زه به دے په نکاح واخلم او یو لاکھ درهمه به درکړم چې تقریباً شل زره روپۍ تے جوړیږي خو ته امام حسن رض زهر کړه. دے ورله زهر ورکړه او د دے زهرو د تیزۍ په وجه د حضرت امام حسن رض کولمے خس خس شوے او په ستونو کښې راوبهیدے او د څلویښت ورځو د تکلیف نه پس وفات شو. نو دے ښځے یزید ته جواب اوکړه چې اوس وعده پوره کړه. هغه صاف جواب ورکړه چې زه تا د ځان سره نه شم ساتلے. ظرض د دے بد بختې ګناه هم اوشوه او د دُنیا مراد ئے هم پوره نه شو. دا ټوله خرابي د دنیا د لالچ نه وه. بیبیانو! د دُنیا لالچ او حرص مکوئ په دے دین او دُنیا دواړه تباه کیږي.

داشل قصے د ناکاره ښځو وے. اوس څو قصے د هغې ښځو لیکو چې اول ناکاره وے او بیا ورته الله تعالیٰ هدایت اوکړه.

۳۱. د بي بي زلیخا ذکر-۱

د دې واده اول د مصر د وزیر سره شوے وه. هغه یوسف علیه السلام واخستو او دیته ئے اوسپاره چې د اولاد په شان ئے ساته د دے ورته خیال بد شه. لیکن یوسف علیه السلام ته خدائے پاک اوساته. بیا دغه وزیر د

مصلحت په طور یوسف علیه السلام قید کړه. بیا څه موده پس د مصر بادشاه دے د قید نه آزاد کړه نو یوسف علیه السلام بادشاه ته اووے چه اول ځما د حال د دغ ښځو نه تپوس اوکړه. نو چه تپوس ئے اوکړه زلیخا اووے چه ټول ګناه ځما دے هغه پاک دے. اخر چه یوسف علیه السلام د مصر بادشاه شه او هغه وزیر مړ شه نو حضرت یوسف علیه السلام د دے سره نکاح اوکړه او د دینه ئے دوه هلکان هم پیدا شو چه افرائیم او میشائیم نومونه ئے دو۔

ف:- اوګورئ رشتیا خومره څه شے دے کوم وخت چه دے په حضرت یوسف م باندے د دروغو تهمت اولګاؤ نو وبال ئے داشه چه د دے پریشانی او مصیبت زیات شو. او چه رشتیائے اووے نو الله پاک ئے مصیبت ختم کړو او مراد ئے هم حاصل شه۔

۲۲- د قارون د لسو لے ښځے ذکر - ۲

د حضرت موسیٰ علیه السلام په زمانه کښے قارون یو مالدار او بخیل سړے وه. چه حضرت موسیٰ ته د زکوٰة مطالبه اوکړه نو په دهٔ ډیره بده او لږیده او دشمن ئے شه او د حضرت موسیٰ د بدنام کولو اراده ئے اوکړه. یو بد چلنه ښځے له ئے ډیر مال دولت ورکړه او ئے غولوله چه په حضرت موسیٰ علیه السلام تو به تو به د خپل ځان سره تهمت اولږده داورته تیاره شوه. او یوه ورځ چه حضرت موسیٰ علیه السلام وعظ فرمایه دا خبره ئے په کښے هم اوفرمایله چه څوک بدکاری اوکړی نو دا سے دا سے سزا به ئے وی. کم بخت قارون پسے پورته شه وے که تاسو دا سے کار اوکړی نو څهٔ به وی؟ هغوی اوفرمایل چه ځما به هم دا سزا وی. نو قارون هغے ښځے ته آواز اوکړه چه راشه وایه هغه چه راغله نو حضرت موسیٰ ورله قسم ورکړه چه رشتیا وایه. هغه ښځه د ضد ائے نه اوویره اواؤ ئے وے چه اے د خدائے بنیٰ ته پاک ئے. او دهٔ مالدو مره روپئ اوکالی راکړی دی زهٔ ئے غولولے یم چه پتاسو د ځان تهمت اولږدوم. او س زهٔ توبه کوم او مسلمانیږم. دغه وخت هغوی له زیات غصه راغله او قارون ته ئے خیرے اوکړه قارون د مال دولت سره په زمکه کښے ننوت او جهنم ته لاړ شه۔

ف:- الله پاک چه چا ته هدایت کوی نو د توبے او د نیکئ اختیار ولو سامان ور ته تیاره وی او د هدایت او توبے ځنګ د الله تعالیٰ نه یره وه۔

۲۳- یو خپل ګناه د اقرار کولے ښځے ذکر - ۳

د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے یوه ښځه حاضر شوه د شیطان په لمسه تے بدکاری شوے وه. په شریعت کښے دا مسئله ده چه د ښځے یا سړی نه دا سے کار راوشی نو

به کښې به تر هغې ويشتې شي چه مړه شي - هغې ښځې ته دا مسئله معلومه وه چه زۀ به مړم لېکن د آخرت يېره پې دومره غالبه وه چه راغله او حضور ته ئې مخامخ دا قصه بيان کړه چه سزا راکړې او پاک مې کړې حضور ورسره هيڅ تال متول او کړه چه دا منکره شي ليکن داسې همت ناک بي بي وه چه بار بار به ئې اقرار کاؤه او غوښتل ئې چه سزا راکړې شي حامله وخت ئې کيده وه نو د بچي کيدو پورې ورله مهلت ورکړې شه - د بچي کيدو نه پس بيا راغله او آخر سنگسار کړې شوه او مړه شوه - چا ورته څه بد وخيل وه او کړه حضور اوفرمائيل چه ديته څۀ مۀ وائې دې خو داسې توبه او ويسته چه که په اوويا گناه گارو ويشلې شي نو ټولو به اوبخلې شي - ددې نه زيات نور څه کيدې شي چه د الله د رضا د پاره خپل روح ورکړي -

ف :- به حقيقت کښې د خدائ تعالى يره داسې عجيبه نعمت دے چه بيا د لوئې نه لوئې تکليف برداشت کول هم آسان وي الله پاک دې مونږ له هم داسې توفيق راکړي آمين - او دا هم معلومه شوه چه څوک د گناه نه توبه او باسي بيا هغه سپک گنړل نه دي پکار او په تيرو خبرو ورته بيا طعنې کول لوئې گناه دے -

۲۴- د غلا نه د توبه کونکې ښځې ذکر - ۴

حضرت عائشه رض فرمائي چه حضور صلی الله عليه وسلم د يوې ښځې لاس په غلا کښې پرېکړې وه بيا به هغه ښځه مونږ کره راتله او چه څۀ خبره به ئې حضور ته کول غوښته ما به ورته د هغې د طرفنه وئې - غرض دے ډيره ښه توبه کړې وه -

ف :- او گورئ څومره ښه زړه ئې وه چه دومره لوئې تکليفې برداشت کړه او د شريعت او حضور نه ئې زړه بد نه شه نو ايمان او توبه داسې پکار دي -

۲۵- د سجاح ذکر - ۵

دے د حضور نه پس د نبوت دعوای او کړه او ډيرې وقوفه ورپسې شو اخر د مسلمانانو د لښکر سره ئې مقابله اوشوه او بيا مسلمانه شوه توبه ئې او ويسته -

ف :- توبه څومره ښۀ شے دے چه د پيغمبرئ د دروغو د دعوے کولو نه بل غټ گناه به څه وي ليکن هغه هم په توبه معاف شه - د توبه کونکو ښځو دا پنځه قصے شوے او شل د بدو ښځو شوے او س مخکښې تنبيه سره د يادا شت نه چه مخکښې ئے ذکر شوے دے ليکلے شي -

تنبيه

دا حال کوم چه په دے يادا شت کښې ليکلے شوے دے د ټولو ښځو نه دے بلکه د شريرو ښځو دے - د دوي په مقابله کښې د الله تعالى په فضل هغه ښځې هم دي چه د دے

ایات مصداق دی. مُؤمِنَاتٍ مُسْلِمَاتٍ قَانِتَاتٍ تَآئِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَآئِحَاتٍ الآیة.
دغه شان بعضې سړی ظالمان، سنګدله حقوق نه پوره کونکي آواره ګرد او په عیبونو ککړې بې مثله دی - او کمزوري ښځې په پاکه امنه سره صبر کوي او بالکل خاموش وي غرض دا دې چه (ترجمه) نه هره ښځه ښځه ده او نه هر سړې سړې دې. خدائې پنځه ګوتې یوشان نه دي پیدا کړي - (د فارسۍ د بیت ترجمه ده "نه هر زن زن است و نه هر مرد مرد: خدا پنج انګشت یکسان نه کرد")
مقصود د تجربه کار د تحریر نقل کول دا دې چه که په کومه ښځه کښې داعیب وي نو چه هغه خبر شي او خپله اصلاح اوکړي یا ئې سړې په غوره تدبیر سره اصلاح اوکړي ځکه چه د اصلاح د پاره د مرض خبر ضروري دې - والله اعلم - تحریر دا دې -

یادداشت

د ښځو د بې عقلۍ متعلق چه کومې ذیاتې شوې ده او ما ته ئې خپله تجربه شوې ده په طور د نصیحت د هغوی غوښتنه د رسولو د پاره لیکم - ذیاتې پردې ئې په دې وخت کښې خپره وله نه غواړم خو صرف د نمونې په طور ئې ورته آوره وُم -
۱:- داسې ښځو په شریکه دا طریقه اختیار کړې ده چه ترڅو پورې کیدې شي د سړي د عزت او آبرو په خپله مقابله کښې کمه کړي او خپل دومره زور په سړي غورزه وي چه کو یا د سړي نه ښځه او د ښځې نه سړې جوړ شوې دې -
۲:- ښځې دا اراده د دواړه کوشنې مضبوطه کړې چه د تلوسره به جُدا کیږم او د راتلو سره د خوابنې سخر ننداور وغیره سره د فساد تخم اوکړي او شپه ورځ به دا فکر ونه کوي چه په څه شان به دې کور کښې جنګ جګړه پیدا شي -
۳- خواران خوابنې سخر چه په زړګو تو آرزوګانو او خوشحالو سره د ځوئې چوولي کور ته راوړي هغه هرڅه ورله دا خاورې ایرې کړي او تیر زړهتو ته یې ځان د سختو تیره ولو او د واده کولو مزه او څکوي -
۴:- دا نیک بخته نګوردیته صبر نه کوي چه یوه وخت یه خپله یو وار دا جه کیدل راولي - که په دنیا کښې جه اکیدل نه وې نو دا ښهر ونه او کلي به د ځه نه جوړیده خو دومره صبر نه کوي بس دا هر څه نن او نن کول غواړي -
۵:- سړې به په داسې داسې طور سره تنګوي او قسم قسم خبرې به ورته کوي چه ترڅو به په سړي اثر نه کوي هره وخت به ورته د خوابنې سخر ننداور لیور ځوک چه په کور کښې دي قسم قسم ناکاروالي بیانوي او خامخا به جګړه جوړه وي چه په هر شان چه وي خپله د رضا موافق جدا ئې اوشي - او بیا د ښځې په رضا جدا ئې اوشي ځکه چه د ونا نه نساد ونه ختمول هر سړې غواړي چه ختم شي -
۶:- سړي ته ښځه هره وخت داسې داسې الفاظ وائي چه په آوریدو ئې خو له راځي مګر

سوا دخاموشۍ نه نور څه اوکړی - که په ژړه، سترېزه یا لاسوسره د بنځې په شان کېنی څه او وائی نو بیا داشه که ځې کوډ کوردا لو محلے والو ته پاره تماشا جوړه شی او بنځه به دمکر او فریب پیچلې محله او کلے به یو ځای را غونډ کړی چه کورسری تماشے اوکړی -

۷:- بنځې که د واده دوړمبی نه دکور دخلقو دخاوند رضامندی دخوا ښې سخې فرمانبرداری قبول کړی نو کومه دعیب خبره ده - مګر دوی بے وجې سرے تنګوی او چه سرے دمصلحت د پاره دکور او ځی دیته څه اوشوائی نو دا ئی چه ځمانه او بړ ئی نو نورے زیاتے خپے او باسی -

۸:- سړے مرحوم میدان تورے او توپک ته مخامخ کید و نکے جوړے دځغه د بنځې کله یرېدی لیکن خبره شاته غورزه وی دشرنه کولو به وجه لیکن بنځې کله دا پرواه ساتی دوی خود واده دوړمبی نه چه کوم فسا دا و جګړه شروع کړے وی هغې له څه ترقی ورکوی -

۹:- بیرحمه بنځې چرته خیال نه کوی چه سړے به څومره مشکل سره ګټه کوی او ما له ئے راوړی چه ذه ئے تد را وکړم هم ګټه په حیره ئے هم دا سے خیال به زړه کښې نه راځی -

۱۰:- اکثرسړی د بنځو د بے عقلۍ او بے ځایه فرمائشونو نه تنګ شی نو مسافری اختیار کړی - بیا په هیره هم په کلونو د کورنوم نه اخلی که بنځې د طرفه خود ده زړه د کیږې شوے وی او به پردیس کښې چه کوم ځائے کړه نو کری وغیره وی هغه ته ځانله د طبیعت دخوشحالۍ کولو سامان او ذریعه پیدا کړی او س بنځه به کور کښې دخوا ښې سخې سره جنګ جګړے شروع کړی او دا جګړے صرف په دې وجه کوی چه ما خاوند ته اوړسوئی او دا په دے پښو هیږی چه هغه خوځائے لا سه د کوره وتے ذے -

۱۱:- که بنځې د واده د وړمبی نه دخاوند په ځان کښې ځان ملاؤ کړی او دخوا ښې سخې فرمانبرداره شی او هغوی ته دا معلومه شی چه ښکوریځه هم ټوبر نه نه چه اکیږی نو قول کوربه کو دے غلامانه نه شی - او که فرض کړه خاوند یا خوا ښې سخې کښې څه عیب د دې دمزاج نه خلاف وی نو بیا دا سے نرمۍ او خوشامند سره د هغې اصلاح اوکړی چه هغوئیته پته هم اونه لږی نو خامخا به هغه عیب او ځی او په زور غورزه دلو او ضد کولو سره به ئے دا چرته هم دوغ نه کړی بلکه هغوی به زیات ضد شروع کړی دے بنځو له د سړی د ذړه د تا بوکولو چل نه ورځی نو بیا قصور د چا دے -

۱۲:- بعضے کم بختے بنځې دا هم ګنړی چه ذه د لوئے کورنۍ د کورنۍ ده ده جهیز را وړے دے - د خاوند خوا ښې سخې وغیره خوشامندې د دې دشان سره لائقه نه دی تر دے چه بعضے خو د خاوند سره سمه خبره هم نه کوی خدمت کول خو لا پریږده تول ورځ به ناسته وی یا اوده وی یا به په تریو تندی سره وی او څه کار به نه کوی -

۱۳:- یوه دا هم د دے زمانے بنځو د نزاکت او امیری طریقه راویستلے ده چه د بیمارۍ بهانه به جوړه کړی د بالخت نه به سر نه اوچتوی وائی به سردا با ندے

مګر څو اېښے سخي به تنګوي په سوونو روپۍ به په دوايانو خرچ شي او د سردرد
به څه نه شي او کله به د نظره کېږي - او کله به په پېريان راځي -

۱۱۴- دا ښځې سړي داسې ګڼړ وي چه اګر که ان ئے ته جوړ کړي وي د هيڅ کار نه وي
بغير د دے چه د ښځې خبرے ته جي ځان اجي ځان به کوي يا به ګے ته د قار وے کتوے
جوړ کړے وي هر طرفته به ئے په لاس کېنے کړ ځوي يا چه څۀ د دے رضامندي وي فوراً
به ئے تعميل کوي او ملا ترلے ورته ولاړ وي نو بيا خير دے -

۱۱۵- داکم عقلے ښځې د خپلے تنګ خوئی په وجه او د روزانه جګړو او فسادونو په وجه د کور
خير او برکت والوزه وي د خاوند سره خو د دشمن پشان سلوک کوي - د دے زمانے د
بعضے ښځو نه خو سړي بغير د ښځو نه هم په آرام نه شي تېره ولے - چه د کوره خط
راځي نو سوا د جګړو قصو او خوا اېښے سخي او کورو الو د شکايت نه به پکښے بل څه
نه وي - او بيا به د خرچ را ليکلو فرمايښتونه وي او داسے داسے د تکليف الفاظ به ئے
ليکلي وي که دروغو چه دېرے ورځے به بيا د سړي ډوډۍ هم خوا ته نه کېږي
او خط فوراً خېرے کړي چه پل شوک ئے او نه وېني او وي به هم بے رنګه -

۱۱۶- په لږو نورو پېسو به سړے کتي راليږي به ليکن ښځه به هميشه وائي چه قرضدار ئے يم
او کړ دروغو حساب کتاب به په خط کېښے ليکي چه نورے روپۍ را اوليږه - ليک بخته دومره خيال
هم نه کوي چه دا روپۍ سړي په څومره تکليف ګټي ئے کور د خرچ د هغه سره فکروي نو
ځکه خامخا ولے په پرديس کېښے څه کوم هغه کښ عيش کوي نو ما ته به دومره روپۍ د کوم
هغه راليږلے چه روزانه پارسلونه او مني آرډرے او نور سامانونه راليږي -

۱۱۷- دا بے قدره ښځې چرته په هيره هم د خاوند شکريه په ذيشاره د سړي د خپلو
خپلوانو دوست دشمن په مخکښې د سړي صفت چرته نه کوي البته په زړګو نو د دروغو
الزامونه او تهمتونه کوي د کور د ښتو والي او د تنګ سختۍ ګلے به کوي او د غيرو او خپلوانو
په مخ کښې به ئے شرموي غرض سړے به هر وخت بے عزته کوي - يوه ښځه داسے نشته چه د
ضرورت مطابق خرچ او کړي او چه سړے راشي دا ورته بقايه رقم هم او خائي چه دام
ستا د راليږلو روپو نه بچ کړي دي -

۱۱۸- خو د دينه برعکس به سره د راتلو نه په هغه د قرضونو انبارونه ورواړه وي
او د سړي کيد وسره به ورته قرضداري لګه د دشمنانو په کور څه کښې او دره وي چه سړے
به په خپلو راتلو خپيمان نه کړي -

۱۱۹- بلکه اکثر ښځې خوځانله د خاوند نه په غلا پېسے جمع کوي او د دے د پاره به په
سړي غريب ټول عمر به پرديس کښې تيره وي -

۲۰:۱- اوس خو بنځو عام طور دا طریقه اختیار کړې ده چې په هرڅه جوړې چې وي روپۍ جمع کړي او د خپلو لوڼو کره ګې لیږدي د هغو د دې پې سره وي چې د خاوند کور ته هيڅ وخبر هم نه وي غرض سړي بټکا نړې د غوائې پښان توول عمر په پردیس کېدو پې تکلیف کېږي وي او مېړه به شي خو دا به ورله چرته په کور کېدو پې ارام سره ورنه کړي -

۲۱:۱- سړي ته خو د مسافرۍ په وجه معلومه نه وي چې ځما په کور کښې جامې کپړې کمانۍ او نقدیت څو مره دې ځکه چې دې خو په صحرا وي کله چې د میله په طور کور ته راشي، نو بنځې به د کور سامان کپړې نقدیت وغیره په خپلو لوڼو ویشلې وي او مېال شته چې ځوک غلا اوکړي-

۲۲:۱- کومې کپړې وغیره سامان چې سړي د پردیس نه راوړي نو دا به پکښې په تروه پوزه لس لس عیبونه دا او باسي او بغیر د څه شکرګې او خوشحالۍ بکاره کو لوشه به ګې فوراً چندره کړي او ځوک به ګې اونه وینې بیا چې ګې څه خوره بنځوې کوي په ورسره -

۲۳:۱- د خاوند او سخر کنۍ د شرمولو د پاره غوره موقع د بنځې دا وي چې کله ورکره د خپلولۍ بنځې یا نور راجمع وي نو دا به خامخا په څه نه څه بهانه جګړه جوړه کړي او د خپلو پردو په مخ کښې به ګې بنځه او شرموي ګکو یا دا بنځې دغه وخت دښمنانې شي -

۲۴:۱- سړي که چرته د پردیس نه خپل دور خپلوان وغیره له څه شي راوړي نو بنځه ګې هرګز نور کوي او که سړي ګې چرته په زور ضابطه ورهم کړي نو بیا راشه که ګې کورې هروخت به په کور کښې غوبل جوړه وي او کلي اولس به سخرا وما پنام تماشې کوي -

۲۵:۱- سړي به د کور د خرچ د پاره روپۍ راولیږي بنځه به په کرار رسید وسره به حغه ورځ جامې کپړې او خوراکونه کېدا امیرانو اوکړي او په میاشته ګې بل خط ورخوشې کړې وي چې حغه روپۍ خو د قرضدارو پوره نه شوې موږ بیا او کی ګی پاتې شو نورې روپۍ راته ژر راولیږه او بیا به خاوند په غم اخته کړي - یو خوا پردیس او بلخوا د دې دا بې ځایه او که درو غو فرمایشونه سړي پخپل ژوند پورې تنګ وي -

۲۶:۱- د دې زمانې د بنځې یو دا عادت دې چې د خواښې سخر معمولي شان خبره به هم پلار مورته رسوي او مور به ګې بیا د یوې نه لس جوړه وي په توول تام کښې به ګې لحوره وي او همیشه به د مقابلې جوړه ید ویې وخت کښې د لوړ خوانیسي جنګ به جوړه وي-

۲۷:۱- ځوک به د دې بنځو نه دا تپوس هم اوکړي چې پتا سوچ ته د دې خاوند خدمت حق او خاطرمدار کول شته؟ یا نه؟ هرګز هرګز نشته ددې خو د خاوند انو تا چدارې حکمرانې دې دا خو ممکنه نه ده چې د بنځې حکم دې پرځای ګې نه شي یا د دې په رضا دې یو کار اونه شي سړي خو دې پخپله رضا څه کار اوکړي بیا کوره چې ډنګه تماشې جوړې وي-

۲۸:۱- بنځې د سړو نه د دوي د زړه د نو حال خامخا معلوموي او سړي ګې خپلې رازدارې

ګنړی نږدوائ ورته او که دغه نه بیا بنځه په سړی ږوره آوره شي او سړے خپل وقار بالکل ختم کړی په هرشان چه وی بنځې سړو له د خپل پیښه ارلا نده کول ضروری ګنړی۔

۲۹:- دا بنځې د سړی د خپلوانو خور رور وغیره نه خواه مخواه نفرت کوی او د دوی په سر به دروغ رشتیا شکایتونه کوی او اصل مطلب ئے دا وی چه سړے د دوی سره رازهاز یو نه کړی او همیشه تے تعلق قطع کړی۔

۳۰:- داسے بنځو د سړو نه الوګان جوړه کړی دی پیژوا نو نه ګے ورته په پوزو کښه اچولی دی څنګه چه غواړی په پردیس کښے پیسے لګه د لکۍ ور پیسے وی۔ او د باهر دنیا سلو ته تمامے کول خولا پریږده چه سړے به په پردی وطن مڼ دوری کوی او پیسے به تے دا عیشو نو ألوزه وی۔ سړی دے بنځو بالکل د کاره ایستلی دی۔ او بغیر د بنځو نه اوس باهر نوکری هم سړی نه شي کولے حرګاۓ چه وی خو داسے ورسره وی داسے جادو منترے بنځو په سړو کړیے دے چه قول سړی د بنځو په جال کښے نخښتی مرید ان ئے دی۔

۳۱:- کله چه په غم بناوی کښے بنځې جمع شي نو هره یوه به د خپل خاوند عیبونه بیانوی او چه بیا کورته لاړے شي نو خپلو خپلو خاوندانو ته به دغه د پردو بنځو د خاوندانو داخبرے اوکړی او هغه به کے بیا خپلو دوستانو ته کوی او خاندی به پورے غرض نه شوے خبره به بنځې را اوباسی۔

۳۲:- دا بنځې په خپلو خپلو خاوندانو تعویذونه اوکوه ے کوی۔ او کومے بنځې چه په کور نو کښے کړمې حغوی ته به هم درخواستونه کوی چه په دے خاوند را له چرته تعویذ وغیره اوکړه او د خواښے سخر نه په غلایه ورله د کور و پره دالے ورکوی۔

۳۳:- سړو چه خپل وقار ختم کړے بنځې پے سورے شو یدی کدے اصل سبب دا دے چه دوی اول د سړو په مزاج قابو بیاموی او شپه ورځ ورسره په سفر کښے هم وی نو په دے وجه زړه ورے شي او چه زړه ئے کیږی دوه دے پیسے کور ځے سړی ته بکا ے ردے هم وائي او دے ورته جي هان! کوی بلکه خاندی او خوشحال شي۔

۳۴:- کدے بره لیکلو شو و خبرو کړلو په غریبو خلقو او کلو بانڼ وکښے کمه ده ځکه چه په حغوی کښے دومره عقل او بوجه نشته او نه حغوی د کور د کاروبار د ے فضول جګړو ته وزګار یګی۔ خو چه په چا کښے غورلائی خودپسندی غوښ خورائی عیش او آرام ماده وی او هر قسم سامان ورته حاصل وی حغوی قسم قسم جګړے راپور ته کوی ځکه چه د دوی لوزګار وی نه نوچه جګړے نه کوی نو څه به کوی۔

۳۵:- کم داسے بنځه تعلیمیافته هم وی نو بیا خو بعضے وخت د دے چال چلن هم خراب وی د نن زمانے خلق د زنانه وو په تعلیم زور اچوی چه بیا تے هم دغه آواره کړده جوړه شي۔

۱۳۶:- یو بنځه به داسے نه وی الا ماشاء الله چه خپل خاوند ته به نصیحت کوی چه مال به حلال رزق ګټے که داسے وے نوبیا به چرته هم سړی رشوت او ناجائز آمدن کولو ته نه وه راوړے - بلکه بنځے ئے خواهش کوی او ملامته کوی ئے او ترغیب ورکوی بلکه داسے الفاظ هم وائی چه پتا کښے دګټے کولو لیاقت نشته فلانے سړے ستا سره یو شان په تنخواه کښے دے لیکن ستا سره هیڅ هم نشته د هغه سره هرڅه شته وغیره وغیره خبرے ورته کوی۔ د داسے بنځو د لاسه اکثر ځیر خاوندان جیلخانو ته رسیدلی دی -

۱۳۷:- د بنځو سره اکثر کالی او سامان د زکوٰة قابل وی او بیا هم زکوٰة نه ورکوی او د خدائے نه نه یریږی - او که سړے ئے د دا کولو خه اراده کوی نو دائے نه ورکوی چه زمونږ پنګه کمیږی - هرڅومره چه ئے لا ورکوے خو کم وی۔

۱۳۸:- سړی همیشه په پردیس کښے وی بنځے چه په کور و نو کښے وی نو دوی دومره آرام طلبه شی چه بیا خاوندانو له په وخت خوراک هم نه شی تیاره ولے بلکه دا ئے هم وائی چه سړی د پردیس د پاره وی چه دوی کورته ولے راځی -

۱۳۹:- افسوس چه اوس د دے زمانے په سړو کښے غیرت او مردانګی د دے زمانے د بنځو په څخ کښے هیڅ پاتے نه شوه او څومره کمزوری شو۔

۱۴۰:- که داسے بنځے تعلیمیافته وی او څوک ورته خه خطا ولیږی په پته باندے لو د ابه ئے جواب نه ورکوی؟ او که جواب ورنه کړی نو پردے خط خو به په غور سره او کوری او کیدے شی چه بیا مخے له د خط کتابت سلسله شروع شی -

۱۴۱:- نن صبا د دے زمانے بنځے کومے چه تعلیم یافته دی هغوی د بازارنه لوئے لوئے ناولے راغواړی او کوری ئے او په دے شوق کښے شپه او ورځ مبتلا وی چه څه ناول په لاس راشی او اوئے کورم فقط

التماس:- د دے یاداشت په شروع باندے په عنوان د تنبیه یو مضمون زیات کړے شوے وه هغه په آخر کښے دوباره ملاحظه کړئ چه خلاصه ئے دا ده ۔

نه هر زن زن است و نه هر مرد مرد   خدا پنج انګشت یکسان نه کرد

ترجمه:- نه هره بنځه ده او نه هر سړے سړے دے - خدائے پنځه ګوتے یو شان نه دی پیدا کړی -

ختم شوه اتمه حصه

(په ورځ د زیارت ۱۳ اکتوبر سنه ۱۹۸۳ء بمطابق ۶ محرم الحرام سنه ۱۴۰۴ھ)

- کاتب و مترجم:- ابو حسین سواتی چند اخوړی کبل سوات -

دَ جنت کالے نهمه حصّه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

پس دَ ثنا او درود نه دا ناچیز بنده غلام محمد مصطفٰی بجنوری مقیم میرټه محله کرم علی عرض رسان دے چه احقر دَ مولنا اشرف علی صاحب تهانوی دَ ارشاد مطابق په دے نهمه حصّه دَ جنت دَ کالی کښے دَ ښځو او دَ بچو دَ صحت متعلق ضروری خبرے او ډیر واقع کیدونکی مرضونه او دَ هغے علاجونه او لیکل او په دے کښے دَ ځو خبرو زیات لحاظ ساتلے شوے دے۔

۱:- دَ هغه مرضونو علاج په کښے ذکر شوے دے چه دَ هغے پیژندل او علاج آسان دے او ډیر لیاقت او پوهے ته پکښے ضرورت نشته۔ او کوم مرضونه او دَ هغے علاج چه زیاته پوهه او تجربه غواړی هغه نه دی لیکلی شوی۔ بلکه ډیر ځایه دَ هغے دَ پاره وضاحت شوے دے چه دَ داسے مرضونو علاج پخپله نه دی کول پکار بلکه پوهه ډاکټر او حکیم ته تلل پکار دی

۲:- نسخے مجربے او په آسان پیدا کیدونکے لیکلے شوے دی۔ او دا لحاظ په کښے هم ساتلے شوے دے چه که په تجویز کښے غلطی او شی نو چه نقصان نه کوی۔

۳:- عبارت داسے آسان دے چه معمولی لیکونکے لوستونکے پے پوهیږی۔

۴:- په نظر ثانی کښے څه نسخے زیاتے کړے شوے دے او څه په نظر ثالث کښے نو دا تولے پخپل خپل ځائے په حاشیه کښے او لیکلے شوے۔

مقدمه:- په دے کښے دَ تندرستئ حاصلو او دَ دے دَ قائم ساتلو ضروری تدبیرونه دی چه دَ دے په اراده کولو سره به ښځے خپل او دَ بچو حفاظت او احتیاط او کړے شی۔ تندرستی داسے شے دے چه دَ سړی زړه پے خوشحاله وی۔ نو په عبادت او نیک کار کښے زړه څهٔ لږی دَ خوراک سکاک مزه ورته حاصلیږی نو په زړه سره دَ خدائے شکر کوی۔ چه په بدن کښے طاقت وی نو نیک کار او دَ نور وخدمت ښهٔ کولے شی۔ دَ حقدار و حق څهٔ ادا کولے شی۔ نو په دے وجه دَ روغ صحت تدبیر کول په داسے نیت سره عبادت او دَ دین کار دے۔ خاص کر ښځو له په داسے خبرو ځان پوهه کول ډیر ضروری دی ځکه چه دوی دَ بچو پالنه کوی چه هغوی پخپله نفع نقصان هیڅ نه پوهیږی۔ کومے ښځے چه په دے خبرو نه پوهیږی دَ هغوی بچی بیماره وی ځکه چه دوی بے احتیاطه وی[1]۔ نو چه کله دغه بیمار بچی دَ سبق قابل شی نو په علم حاصلو کښے ورته تکلیف

---

[1] نن صبا په ښځو کښے بیمارئ ډیرے زیاتے دی دَ کال دوس میاشتے ناجوړه وی او پیسے پے ډیرے خرچ کیږی خو احتیاط او پرهیز ورله ډیر لازمی دے ۱۲

دي. او بيا د بچو په بيمارو کښې او يا پخپله د ښځو په بيمارو کښې سړو ته هم ډير تکليف وي
په دارو درملو بيشماره روپۍ خرچ کيږي او په هر څه نقصان وي. او حضور صلے
الله عليه وسلم دوائي او علاج کول او پرهيز کول غوره فرمائيلي دي. نو او س لږ لږ
بيان د داسې ضروري خبرو ليکلې شي.

د هوا بيان

۱:- د نمرختو د طرفنه چه کومه هوا راځي
دا زخم او تکيف لې ځائي له نقصان ورکوي
او کمزوري سړي له هم سستي راولي. چه دستو نه وي پچا يا زخمي وي د دينه دې ځان ساتي.
۲:- کومه هوا چه د جنوب نه راځي دا مسامو[1] ته اثر ته وي ځکه چه د بيمارۍ نه نوې
پاسيدلې وي د دې هوا نه دې ځان ساتي. ورنه با ويهې يه او کړي. يعني دوباره به مريض شي.
۳:- په کور کښې ځائي ځائي خټې مه جوړه وئي په دې سره هوا خرابيږي. او دا هم
خيال ساتل پکار دي چه د پاخانې غسل خانې او لوخو ويځلو ځائي د ناستې پاستې د ځائي
نه لرې وي - بعضې ښځې ځائي ځائي دا په بولو ته کينوي او احتياط نه کوي دا ډيره
د بد تميزۍ او نقصان خبره ده. او ل خو د دې د پاره چرته جدا ځائي مقرر کول پکار دي
او يا ورله يو خاص لوښے د بولو د پاره ساتل پکار دي او بيا ئي فورًا صا فول پکار دي.
۴:- کله کله په کور کښې خوشبودار څيز لوگي کول پکار دي. لکه لوبان. اگر - کافور وغيره
او د مرضونو په موسم کښې خو گند هک يا لوبان د کور په ټولو کمرو کښې لوگي کوئ او دروښ
بند وئ چه څه اثر ئي په کښې پاتې شي[2]
۵:- د او ده کيدو په وخت کښې ډيوه بله مه پريږدئ او خاص کر د خاورو د تيلو په ډيوه بلولو
او بلو ئي ساتل ډير نقصان کوي - په هوا کښې خشکي زيا تيږي او دماغو او ستر ګو ته نقصان
رسوي. او بعضې وخت مرگ ته هم نوبت رسوي[3]
۶:- په بند ه کمره کښې په لوگي کښې مه کينه اکثر په دې سره ساه بنديږي او سړے تے مري
او فورًا ئي و ډلې د باهر را وتو موقع هم سړي له نه ورکوي -
۷:- د يخنۍ په موسم کښې د يخنۍ نه ځان ساته که چرته اُو لا چيے نو ويخته فورًا او ُچوَ ه
او که په مزاج کښې د يخني وي نو چائي پسے سگه - يا دوه تولے کبين او پنځه ماشے کلونجي
(يو قسم توره تورے دانه تخم دے چه په آچار کښې اچولے شي)[4] او خوره -
۸:- خنک چه د يخنۍ نه ځان ساتل پکار دي دغه شان د گرمۍ نه هم ځان ساتل پکار دي

[1] مسامونه د بدن هغه باريک باريک سوري دي چه يخني او گرمي په دې رسته بدن ته ننوځي او خولې په باهر راوځي -
[2] صرف د نيم پانځې لوگي کول هم ډيرے زيات او ښه اثر لري ۱۲ [3] که په بند مکان کښې د خاورو تيل چرته مه بلوئے
الکه لالټين يا ليمپ وي دا پيپيچړې خرابوي ۱۲ [4] په يخنۍ کښې چه غسل کوئ نو سړے به وار د يخنۍ او چه هغه ښه او چ
کړله بيا نو غسل او کړئ او بل وخت ليکن به عذره دے واسے نه کوي ۱۲ د گرمۍ نه د بچ کيدو د پاره پياز په جيب کښې د ځان
سره ساتل ضروري دي د گرمۍ اثر نه کوي ۱۲ او سپے د گرمۍ د ځلونه بچ کيږي ۱۲

غبرګی پیړه کیږه اغوندہ - په ګرمۍ کښې په آنولی سره سر دیځه زآنولی لیداره میوه - آملی)

دخوراک بیان

۱:- خوراک همیشه د لوږې نه کم خوره دا یو داسې تدبیر دے چه په دے سره به د ډیرو بیمارو نه محفوظ شے۔

۲:- د بهار په موسم کښې خوراک کم خوره او کله کله روژه نیسه - د بهار موسم صفه دے چه یعنی ختمیږی او ګرمی راځی -

۳:- د ګرمۍ په موسم کښې نرم خوراکونه خوره لکه بادرنګ، ختکې، خربوزه، هندوانه وغیره او که کیدے شی نو خه یخه دوائی هم تیاره ساته او یخواو لویولي ئې د ضرورت په وخت کښې ورکوه لکه د نیلوفر شربت. د عناب شربت وغیره فالوده هم ډیره ښه دے په دے سره ګرمی هم بدن ته نه رسیږي. او صرف تخم ریحان په تلی خوړل هم فائده مند وی- په دے موسم کښې ګرم او خشک خوراکونه ډیر کم خوره لکه د ارهر دال آلو وغیره -

۴:- د خزان په موسم کښې داسې څیزونه ډیر کم خوره چه سودا ترې پیدا کیږی لکه تیذ، توربا تنګنړ د غوا غوښه وغیره او خزان برسات ته وائی-

۵ د ژمی په ورځو کښې چه طاقت کم وی نو طاقتور خوراکونه دے استعمالوی او دوائی هم طاقتور دے استعمالول پکار دی چه تول کال د ډیرو آفتونو نه محفوظ وی- لکه نیم پخته اګۍ د نمک سلیمان سره - او د ګاجرو حلوا - او نیم پخته اګۍ هغې ته وائی چه زیړ ئې پوره جم نه شی- ترکیب ئې دا دے - چه اګۍ په یوه نرۍ کپړه کښې بنده کړئ او سل پیسے ورله په جوشیدلو او بو کښې غوپے ورکړی - یا اګۍ په جوشیدلو او بو کښې درے منټه حصاره کړئ او بیا ئے درے منټه په یخو او بو کښې داچوی - ریا ئې په ګرمو غوړو کښې واچوی چه زیړ ئې جم نشی ماکوزه ئې کړی- یا ئې زیړ د خوږ سره ملاؤ کړی د پاسه ئې ګرم پئ واچوی) نو نیم پخته به شی خو صرف زیړ ئې خوړل پکار دی سپین ئې دومره فائده مند نه دی-

۶:- ترڅو چه زیات ضرورت نه وی دوائی خوړل عادت جوړه ول نه دی پکار- په لږو لږو مرضونو کښې خوراک کمول یا بدلول سره کار کیږی -

۷:- نن صبا په خوراکو نو کښې ډیره بے ترتیبی جوړه شویده چه قسم قسم نقصانونه ترے پیدا کیږی نو په دے وجه ځۀ او نا کاره خوراکونه لیکو -

ښۀ خوراکونه نیم پخته اګۍ- د کونترے د بچو غوښه - د غوا د بچو غوښه - د بیزے غوښه - د ګډ غوښه - زرکۍ - مرزه تیتر، چرګ، اکثر ځنګلی مرغۍ، هوسۍ، نیل غوایه، او د نورو ښکاروو غوښه ښه، مهی، د غنمو ډوډۍ، انګور انځر، انار، منړه، تمبیر، پالک، خرفه، دودهء زلوبی، سرخپے، لیکن سرخپے د ینه تهیکوی

خراب خوراکونه توربا تینګنړ، مولۍ، د اورې ساګ۔ د زړې غوا غوائی غوښې سمازرے، اوچه شوے غوښه۔ د بطې غوښه۔ لوبیا، مسور نل بهړه، ترشي۔ او د دے خوراکونو د خرابید و مطلب دا نه دے چه بالکل دِ نه خوری بلکه چه ناجوړه وی نو نه دے خوری او چه روغ وی نو د مزاج مطابق دے لږ شان خوری البته د چا مزاج چه قوی وی او څه نقصان ورله نه ورکوی او عادت وی ورسره نو خوری دے۔ په بعضے ځایونو کښے دا دستور دے چه د غلو بچتی بنځے له مختلف قسم خوراکونه د ماش دال د غوا غوښے او ثقیل ثقیل ترکاریانے په زور ورکوی دا ډیر نا کاره رسم دے ردا بے دے نه کوی د غلو بچتی د بنځے ډیر احتیاط پکار دے اکثر په لږه بے احتیاطئ سره د مرګ خطره وی او اکثر دا سے کیږی۔ نو کوم خوراک چه ورکوی ضرور دے د حکیم دا کټر په مشوره ورکوی۔ (ن صا به دے موقع ډیرے بنځے خرابیږی نو احتیاط پکار دے) او س لږ شان بیان د هغے خوراکونو په باره کښے کولے شي چه نما میتو نئے معلوم شي۔

توربا تینګنړ:۔ ګرم خشک دی غذائیت په کښے ډیر کم دے وینه خرابه پیدا کوی۔ بواسیر والو او سودائی مزاج والوله نقصانی دی که غوړی ورته زیات وا چولے شي او د سرکے سره ئے خوری نو څه لږه شان اصلاح ئے کیږی۔

مولی:۔ ګرم خشک ده په پانړو کښے ئے زیاته ګرمی وه سر، حلق، او غاښونو ته نقصان رسوی۔ زر نه هضم کیږی۔ لیکن نور خوراک زر هضم کوی۔ بواسیر والو ته فائده رسوی لیکن ګرمه ده۔ که په سرکه کښے خوشته شوے زیره ورسره ملاو کړے شي نو نقصان ئے کمیږی د توری د پاره فائده کوی خاصکر په سرکه کښے۔

د اوری ساګ:۔ ګرم دی د ګرُدے مریض له نقصانی دی او د حمل په حالت کښے د بچی د مړکید و خطره ده په کښے۔ د زړے غوا غوائی غوښے هم ګرمے دی په دے سره نا کاره وینه او تینګه پیدا کیږی رخو د غوا د بچی غوښه د تولو نه غوره ښه ده سودا زیاته پیدا کوی۔ خارښ والو، بواسیر والو، توری والو له زیات نقصان ورکوی که په یخو لو کښے ورته د خر بوزے پوستکے او تور مرچ وا چوی نو نقصان ئے کمیږی البته محنت او کار کونکو له زیات نقصان نه ورکوی بلکه د بیزے د غوښے نه ئے هم زیات خوربنئ او تازه کوی۔ لیکن په بیمارئ کښے تے احتیاط لازم دے۔

د بطې غوښه:۔ ګرمه خشکه ده زر نه هضمیږی مګر چه پودینه ورته وا چوی نقصان ئے کمیږی او دریائی بطه دومره نقصانی نه ده لکه څومره چه د کورونو ده۔

ګازره:۔ ګرم تر ده زر نه هضمیږی البته تبخیر[2] خته کوی او فرحت راولی په دے

---

[1] او ډیره قوت پیدا کوی ذهن او عقل له قوت ورکوی غوښه د ټولو خوراکونو سردار ده د ګم عمر سخي غوښه زیباوره وی ۱۲ [2] د معدے بیماری ده چه په سینه کښے سوے او په سر کښے زنے زنے درد وی ۱۲

وجه ورته خلق یخه وائي - چه په غوړه بنه کښې یخه شي نقصان ئې کمیږي - او مربا ئې ډیر خه شے دے - بلغم قوي کوي - او حاملې ښځې دې کله زړے نه خوري وینه جاري کوي.

لوبیا :- ګرم تردي زر نه هضمیږي - په خوراک ئې ناکاره خوبونه لیدلې کیږي په سرکه او دارچیني ملاوولو سره ئې نقصان کمیږي لیکن حاملې ښځې دې نه خوري.

مسور :- خشک دي بواسیر والا دې نه خوري او د چا چه معده کمزورے وي او سوداوي والوله نقصان ورکوي - په زیاتو غوړو او سرکے سره ئې نقصان کمیږي.

تیل :- ګرم دي سودا پیدا کوي او په سوداوي بیمارو کښې نقصان کوي په غوړو ترکارو سره ئې ضرر اصلاح کیږي.

کُکړ :- ګرمه ده سودا زیاته پیدا کوي رنګ صفا چه کوم قارا کښې ئې د دېګړه ډیر ه نقصان ده.

ترشي :- زیات خوراک ئې پښتو له نقصان ورکوي او زړه چاکول کوي او ښځې دے ته ځان ځیر ساتي رخصن او حافظې له نقصان ورکوي او خاص کر سپولو ډیر نقصاني دي) د حمل او شلو ځوځي په حالت کښې او په زکام کښې تې ډیر احتیاط پکار دے - که په ترشي کښې خوږ شے ملاو شي نو نقصان ئې کمیږي.

٨ :- بعضې داسې خوراکونه دي چه جُدا جُدا ئې خوړے نو خیر دے لیکن چه یوځائې ئې خوړے نو نقصان کوي - یعنې ترڅو چه په دے کښې یو شے په معده کښې وي بل شے به نه خوړے - اکثر د درې ګهنټو فاصله پکښې پکار وي - حکیمان وائي چه د پیو سره تریو شے مه خوره - او دغه شان په پیو پسې پانړ مه خوره په دے سره د پیو او به په معده کښې جدا کیږي (او نقصان کوي) پئ او مهې یوځائې مه خوره فالج او جُذام پې پیدا کیږي - په غوړو پسې اوبه مه سکه (زړګي خرابیږي او په سینه کښې درد پیدا کوي) تیل یا غوړي په داسې لوخي کښې چه قلعي پې نه وي مه ساته (د تانبې یا پیتلو زهر یلي اثرات په کښې راځي) چه سوړ شوے او رنګ ئې بدل شوے وي داسې خوراک مه خوره (او دغه شان چه خوراک او خوړے فوراً دماغي کار مه کوه که معدے د خرابید و یره ده کم نه کم دوه ګهنټې صبر کوه) د خاوړو په لوخي کښې پوخ شوے خوراک زیات غوره دے - په امرود بادرنګ - ختکي، خربوزه وغیره شنو میوو پسې فوراً اوبه مه سکه.

٩ :- خوراک چه ډیر ګرم مه خوره په ګرم خوراک پسې اوبه سکل غاښونو ته نقصان رسوي.

١٠ :- ژاګه ډیره د میده وړه ونه زیات خوره دي - او نمړئې باندے شو خوږنه ډیر د خُل پکار دي او خوراک ژر کول پکار دي په دمه دمه خوراک سره هاضمه خرابیږي.

١١ :- د ډیرے لوږے په حالت کښې مه اوده کیږه او نه په خوراک پسې فوراً اوده کیږه چه کم نه کم دوه ګهنټې تیرے شي بیا اوده کیږه.

۱۲:- ترڅو چه خوراک هضم شوے نه وي دوباره مه خوره ترڅو چه دوه ګنټے نه وي تيرے شوي او خه قدرے لوږه نه وي محسوس شوي۔
فائده:- که قبض دے شي نو فوراً ئے تدبير کوه خاځا- آسان تدبير ئے دا دے چه په ډوډۍ مه خوره يو وخت دوه صرف شوربا لږه شان چکنائي (غوړ) اوسکه اوخوره که په دے سره دفع نه شه نو د بازار نه ګلاسئے حَبِ ترطم او يوه نيمه تولـه ولايتي ګلهر راوغواړه په نيم پاؤ اوبو کښے جوش ورکړه دوه تولے کبين ورسره ملاؤ کړه اوسکه په دے کښے غذائيت هم دے۔
۲:- که پاخانه د معمول نه زياته نرمه راشي نو د بنده ولو تدبير ئے کوه۔ غوړه ګړه وُرته غوښه (تليدلے غوه بنه) خوره۔ او که دستونه دے شروع شي يا دے ډير قبض شي نو چا اکټرحکيم له لاړ شه۔
۳:- چه خوراک او خورے نو فوراً پاخانے ته مه ځه څو که ډير حاجت وي بيا خير دے۔
۴:- د تشو بولو يا لو يو بولو حاجت چه دے راشي نو حصاره وه ئے مه۔ د دے نه قسم قسم بيمارۍ پيدا کيږي۔ (فوراً تے ئمان خلاصوه)

د اوبو بيان

۱:- چه د خوابه بيدار شے فوراً اُوبه مه سکه (او خاص کر د يخنۍ په زمانه کښے چه يخے اوبه سکے نو په دے ترکيب ئے سکه ورنه زکام به دے شي) او مه يکدم هواته او زه که ډير تکړه ئے نو خځه تدبير دا دے چه پوزه اُوسته او به سکه او په کوټ کوټ ئے سکه- او د اوبو سکلو نه پس هم لږ ساعت پوزه نيولے ساته ساه په پوزه مه اخله- دغه شان چه په ګرمۍ کښے لاړ شے نو فوراً اوبه مه سکه خاص کر څوک چه ګرمۍ وهلے وي چه فوراً ډيرے اوبه اوسکي نو في الحال مري دغه شان په نهاره هم اوبه سکل نه دي پکار او چه د پاخانے نه راوځے هم فوراً اوبه سکل ښۀ نه دي۔
۲:- که څوپورے چه کيدے شي د جوړ کوهي اُوبه سکه- تروے او ګرمے اُوبه مه سکه- د باران اوبه ډيرے ښے دي خو چه څوک يخنۍ وهلے وي يا ئے د دے مرض وي هغه دے نه سکي- په ځنے ځنے اوبو تيل شان ښکاريږي دا اُوبه ډيرے ناکاره وي- که خړے اوبه ښے کول غواړے نو دومره ئے پخے کړه چه سيد اوبه درے پاوه پاتے شي بيا ئے يخے او چاڼ کړه او سکه ئے۔
۳:- منګي هر وخت پټ ساته بلکه د اوبو سکلو په لوخي نرۍ کپړه بنده ساته چه چاڼ اوبه ورته سکلو له ملاويږي۔

۴:- واده کښې دوه نقصان رسوی - خاص کر ښځې ده واده سکل عادت نه جوړه وی -

۵:- دخوراک سکاک په موقع چرته مه خاندئ یعنې چه خوراک کوې یا اوبه سکې خاندئ په کښې مه اکثر په دابسې وخت کښې خندا سره ساه بندیږی او مرګ ته نوبت رسی (رسول الله صلی الله علیه وسلم وغیره چه سکې نو په کوټ کوټ ئے سکه په یو ساسکلو سره اکثر ساه بنده وی)

داٰرام او محنت بیان

۱:- مه دومره آرام کوه چه بدن دې او په سیږی او سُست شی - چه هر وخت پرته ئے او کوکار دو بار دې بل ته پاتې کړې وی - په ډیر آرام کولو سره دکور هم نقصان دې او ډیرې بیمارئ تے هم پیدا کیږی - او دومره محنت هم مه کوه چه بیمار ه شې - بلکه دخپلو لاسو خپو او بدن نه هم کار اٰخستل پکار دی او ښځې نه ښځې محنت کار کول پکار دی - طریقه ئے داده چه هر یو کار ښځې په چستئ سره کوه د سستئ عادت پخان کښې مه پیدا کوه او په کور کښې لږه ډیره ګرځه راګرځه دوه خلور پیرې که ېنائی وی او بے پردګی نه راځی نو کوټې ته خیژه کوزیږه - دګرځې او میچن شغل هم لږ ډیر کوه - مونږ داسې وایو چه پلیسې پے ګټه (خوک ورزش په طریقه ئے کوه) ځکه چه داځه دعیب خبره هم نه ده او دخپل صحت دقائم ساتلو دپاره دا ضروری شے دے - بدن پے تند رست کیږی - اوګوری کومے ښځے چه محنت کوی خومره قوی مضبوطے او تکړه وی - او کومے چه آرام طلبې وی همیشه ئے د دارو پیاله خولې ته نیولے وی - داسے محنت ته ریاضت وائی او ورزش ورته وائی د بدن د صحت دپاره ورزش ډیر ضروری شے دے - کومے ښځے چه محنت مزدوری کوی د خوورزش کیږی نو بدن ئے تکړه او روغ وی او چه د ښځے بدن تکړه او روغ وی نو د ځځ اولاد هم صحت مند وی) - په خوراک پسے فوراً ورزش کول نه دی پکار ترڅو چه درے ګهنټے نه وی تیرے شوی - او چه خوله په بدن راشی او ساه لنډولنډه شی بیا ورزش بنده ول پکار دی -

۲:- دبچه دپاره په تال یا زانګو ځنګل ځځ ورزش دے -

۳:- سحر وختی پاسیدل عادت جوړ کړه - بلکه همّت کوه چه تهجّد ته پاڅے په دې سره بدن تکړه کیږی -

۴:- دغمے بے وجهِ مه اوده کیږه او که سترې شی یا خواب درشی بیا خیر دے -

۵:- ددماغونه هم ځه کار اخستل ضروری دی که بالکل کار تے نه اخلے نو رطوبت پکښې زیا تیږی او بنده ګی کیږی - او چه ډیر زیات اچوے هر وخت په فکر او سوچ کښې ئے نو خشکی او کمزوری په کښې پیدا کیږی نو په انداز سره تے کار اخستل پکار دی د لوستو او لولو لو شغل کوه - روزانه قرآن شریف لو له - کتاب کوره

ښکو خبرونه سوچ کوه مه دومره غصّه کوه چه بے اختیاره کیږے او مه دومره زمی کوه چه چاته هیڅ وخت ورائی شه۔ دومره خوشحالی هم مه کوه چه د خدائے پاک شُپے پرواشے او مه دومره غموشه کوه چه د خدائے پاک د رحمت نه نا امیده شے کۀ څه زیات غم درلېږاشی نو څنګ فکر یک طرفته کوه د دېنځو زړه کمزورے وی چیرے بنځے د اولاد د روپو د چاټکا د پسه غم کښے لیونئ کیږی چه هر وخت دا قسم غمونه مخے مخ ته کوی نو دماغ ئے خراب شی نو پکار دی چه دا سے غمونه نۀ کوی او چه چرته دا سے غم ورله راشی نو فورًا دے پسه څه کار کښے لګیا شی او خدائے دے یادوی چه الله پاک دے دالدۀ د دینه غوره بدله ورا کړی) په دا سے غمونو کولو او سوچو نو فکرونو بدنن بیمار کیږی او اکثر په دے کښے کِ هلاکت بدره وی۔ کله چا ته د خوشحالئ څه خبره کوے او د هغه زړه کمزوری وی نو یکدم مړے ورته مه کوه۔ اول تے پتوس او کړه چه کیں ستا دا کار اوشی نو څنګه به وی۔ بیا ورته وایه خۀ ده باره زه کوشش کوم شاید چه اوشی۔ او امید دے چه او به شی بیا څه درے ښلو رګهنټے دغسے د تال متول شپس ورته او وایه چه ستا هغه کار اوشه۔ دغه شان که د غم خبر دی نو هم یکدم ورته مه وایه بلکه دا سے وایه چه فلانے ناجوړه دے خو نه وه هسے د مرګ په لار روان دے صیحوک هم نه پاتے کیږی پخپل وخت هر سړے مری د هغه هم وخت پوره شه او مړ شه۔

فائده:۔ د بیمارئ په حالت کښے او چه په کیږه کښے بچے ساه واخلی بیا د خاوند سره ځملاسته نقصان کوی۔

په علاج کښے د دے خبرو خیال ساته

۱:۔ په لنږه ورېږه مره بیمارئ کښے علاج کول نه دی پکار په خوراک سکاک کرحید و را کرحید و هوا بدلولو سره ئے تد بیر کول پکار دی۔ لکه د ګرمے هوا نه په سر درد شی نو په یخه هوا کښے کینا ستل پکار دی۔ یا په خوراک سره کیږه درنه شوه نو یو وخت دوه فاقے پکار ده۔ یا د خواب د کمی نه په سر درد شی نو خواب کول پکار دی۔ په ډیر خواب بدن کښے سُستی راغله نو خواب کمول پکار دی۔ یا په دماغو د کار په وجه بوجه راغی نو کار کمول پکار دی چه دماغ په آرام شی او راحت ورته اورسی۔ لیکن که په دے تد بیرونو کار اونه شه نو بیا علاج کوه۔

۲:۔ مرض که هر څو مره سخت وی خو بیړه مه په دے سره د علاج انتظام خرابیږی څۀ په اطمینان سره علاج کوه۔

۳:۔ د کجاوو او دستو نو عادت ځانله مه جوړه وه۔ چه ډیر سخت ضرورت

شوي نو د دستو دوائي مه خوره- خوراک کموه او ورزش زيات کوه او څه داسې دوائي د ضرورت په وخت کښې استعمالوه چه قبض کشا وي خو په سخت ضرورت کښې.

نمبر ۱- تېزې دوايانې بغير د سخت ضرورت نه مه استعمالوه په داسې دوايانو کښې داخرابي ده چه که موافق رانشي نو نقصان ډير زيات کوي (او خاص کر انګريزي دوايانې ډير نقصان کوي نو پکار دي چه هر يوه دوائي چه استعمالوې د ډاکټر د مشورې نه بغير ئې چرته مه استعمالوه- نن صبا د علاج معالجې په باره کښې خلق ډيره بې احتياطي کوي او هم دغه وجه ده چه هر سړے ناجوړه دے او د هر يو سړي د کور نه هسپتال روغ شوے دے دا هر څه د دوائي د غلط استعمال په وجه دي- (په انګريزي دوايانو کښې که يو طرفته علاج دے نو بل طرفته په کښې نقصان هم دے مثلاً اسپرين که يو طرفته د سر درد ختم کوي نو بل طرفته په معده کښې زخم جوړه وي او دغه شان هر يوه دوائي ده که يو طرفته د يو مرض علاج کوي نو بل طرفته په بدن کښې د بل مرض د پيدا کولو اسباب تياره وي- نو پکار دي چه د علاج معالجې په باره کښې ډير د احتياط نه کار اخستے شي- دا ټولې دوايانې په يو خاص اندازه سره د يو خاص مرض د پاره تيارې شوې وي او د مرض پېژندل او د هغې د پاره دوائي تجويز کول د يو پوهه او ماهر ډاکټر کار دے- چه هغه ته د دوائي څه اثر او بد اثر هر څه معلوم وي او په يو خاصه اندازه د يو خاص وخت پورې د دوائي د استعمال تجويز اوکړي- د ځانه چرته دوائي استعمالول نه دي پکار او نه په هر چا علاج کول پکار دي- بلکه د خپل ځان او خپل کور د لويو وړو د پاره يو ديندار او ماهر ډاکټر يا حکيم منتخب کول پکار دي چه هغه په دے پوهه وي چه د دوی د علاج معالجې ذمواري ځما په سر ده دوی بل طرفته بغير ځما د وېناش نه ځي او که مرض ګران شي او ځما د قابو نه باهر شي نو هم زه به ورته ځائے خاص هلته به ځي بغير ځما د خو د نه دوی هيڅ قدم بل طرفته نه اخلي- داسې حکيم يا ډاکټر به د رلړ علاج په خلوص سره کوي- هر وخت په نوي نوي حکيم او ډاکټر علاج نه دے پکار- او د يو مرض علاج هم په ډيرو ډاکټرانو نه دے پکار په دے کښې اکثر مرض ورانيږي او د فائدې ځائے ته نقصان جوړيږي- دلته زه يو خبره د خپلې تجربې ليکم اميد دے چه فائده مند به وي-

د دې وجې په بيماري کښې د ډيرو تېزو دوايانو نه پرهيز پکار دے نن صبا اکثر ډاکټران د خپل شهرت د پاره سم د واره تېزه دوائي اولګي او دا خو اګر که په دغه مرض کښې کار اوکړي خو د آئنده د پاره بيا کمزورے دوائي په دغه ماشوم اثر نه کوي نو ډير ګرانه ته جوړه شي- په دے باره کښې ډير احتياط پکار دے- په کور کښې يو دينه کا بڼه (کاړنے ويلنے) لاچي- د پياز پوستکے هر وخت تيار ساتل پکار دي چه کله په وړو ماشومانو

رستو نه یا تې او لېږي نو دا څلور دانه خېژونه ورله او خوټکوه چانړې کړه او که ګبین وي نو د غوړو ولو د پاره پکښې واچوه او د ډېنه ورله ساعت په ساعت ورکوه انشاء الله تعالی چه د دوه درې خوراکو نو سره به ښه شي - او که خوټکوې نه نو اوړئ تکوه اوړئ به نې اوباسه ګبین پکښې واچوه او ورکوه ئې - او که ګبین نه وي بیا پکښې چیني وغیره واچوه - دا ډیر مجرب دارو دی خو که پدې او نه شو نو بیا ئې ماهر او پوهه حکیم یا ډاکټر ته اوخایه -

دغه شان د سر د درد د پاره اسپرین وغیره یا نورې تیزې دوایانې وخت د سرنه مه استعمالوه د سر درد پخپله څه خاص مرض نه دې دا په بدن کښې د بل څه نقصان را تللو پوچه ده او زیات تر د دې اصل وجه د ګېډې خرابي وي نو اول د دې هغه وجه معلوموول غواړي د کومې پوچه چه دا درد راغلې وي. نو چه د هغې اصلاح اوشي د سر درد به پخپله ختم شي - که د ګېډې نقصان وي نو په ډیر وا ډبوسکلو او فاقې کولو سره هم ښه کیږي -

غرض دا دې چه نن صبا مرضونه هم ډیر زیات شوي دي او علاج کونکي هم بې شماره دي هرسړي به سیرنج په لاس کښې نیولې وي او د نیوروبیا یا نور او پر دکینو بوتلګی به ئې د ډسټلو اترو نه ځک کړې وي کور به ګرځي ستنې به د اوګیو وهي اسپرین به را سټیپامال د اې فران پریشان کولې به د هرمرض د پاره ورکوي او پیسې به اخلي - او بل خوا چه لوئې ډاکټرانو له شې نو پنځه سوه روپۍ فیس دوه سوه روپۍ د ایکسرې پنځه شپږ سوه روپۍ د نورو ټیسټونو او چه بیا دوائی اولیکي نو پنځه شپږ سوه روپۍ به په ادنی حساب د معمولي مرض د دوائی قیمت وي او که خدانخواسته چرته ده پیچیده بیماري وي نو بیا خو دې خدائې مل شه -

البته نن صبا یو بل قسم طریقه علاج چه په دې ملک کښې رو رو ترقي کوي هغه ډیر کامیاب علاج دې خو لا اکثر عوام د هغې نه نا آشنا دي او ډاکټرانو ئې هم لا ډیر نشته او که څه لږ ډیر شته هم نو هغوی لا مشهور نه دي. چه هغې ته هومیو پیتهک علاج، یا علاج بالمثل وائي ډیر کامیاب هم دې او خرچ ئې هم ډیر کم دې -

او دریم قسم چه طب یوناني یا اسلامي طب دې دا هم ډیر کامیاب دې خو چه په سمه سینه او په ټهیک طریقه بې علاج اوشي ځما پخپله یوه لور ډیره نا جوړه وه چه دوه ویشت [۲۲] ورځې په هسپتال کښې زیر علاج وه دوه درې سوه روپۍ خرچ به پې روزانه د دوایانو کیده خو هیڅ فائده ئې نه کوله او آخر کار چه د هسپتال نه مو را ویسته او د یو حکیم صاحب د دوه [۲۰۰] سوه روپو په دوائي په یوولس [۱۱] ورځې

کښې مکمل طور صحتیاب شوه۔

مطلب م دا دے چه علاج کول د هر کس ناکس کار نه دے هر سړے طبیب او ډاکټر نه شي جو ړیدے که مرض معمولي وی او که سخت خو علاج په پوهه او تجربه کار حکیم او ډاکټر پکار دے په اخوا دېخوا علاج سره مرض خهٔ وران شي او بیائے علاج ګران وی۔ مترجم)

په دے کتاب کښې په دے نهمه حصه کښې فاضل مصنف رح د ډیرو مرضونو دپاره آسان آسان علاجونه خودلی دی۔ لیکن ننصبا مرضونه داسے پیچیده شوی دی چه اوس د مرض پیژندل هم آسان کار نه دے۔ او بله دا چه ننصبا هر قسم دوایانے تیار په بازار کښې خو معیاری په بنګلے طریقه سره تیارے شوے میلاؤ ویږی۔ پخوا به طبیبانو تولو درځ تکول کول او مختلف قسم دارو به ئے جمع کول او نسخے به ئے تے جوړه وَلے چه ډیر محنت به پرے کیدو او اوس چه کوم قسم نسخه غواړے تیاره په بازار کښې په آسانه میلاویږی خو ګران کار د مرض پیژندل دی او صحه اوس د پخوا نه ډیر ګران شوے دے۔ لکه څنګه چه ننصبا یو شے اصلي نه ملاویږی په هر شے کښې ملاوټ ضروروی۔ په پیو کښې ملاوټ په اوړو کښې ملاوټ په غوړو کښې ملاوټ په مصالحو کښې ملاوټ غرض یو شے داسے نشته چه د ملاوټ نه خالي وی نو دغه شان مرضونه هم اوس صحه پخوانی مرضونه نه دی په دوی کښې ملاوټ دے۔ که یو سړے تبے نیولے وی او حکیم یا ډاکټر ورله د تبے د علاج دپاره دا شي نو کیدے به ورته د تبے سره لس اتیا نور مرضونه هم پیچیل بدن کښې او خائي۔ نو په دے وجه زهٔ دلته دغه نسخے او مرضونه نه لیکم ځکه چه لکه ما عرض او کړو چه نسخو تکولو ته خو اوس د سړی ضرورت پاتے نه دے هر قسم نسخه تیاره معیاری په بازار کښې ملاویږی او د مرضو نو پیژندل اوس ګران شوی دی نو هسے نه چه د نا پوهئ په وجه تے مرض خهٔ وران شي نو په دے زهٔ د مصنف رح او عوامو نه معذرت غواړم امید دے چه دوی به هم ما سره متفق شي) (مترجم ابوحسین)

دَ دم تعویذ بیان

لکه څنګه چه د بیمارئ علاج په دارو سره کیږی دغه شان په دم تعویذ هم بعضے موقع کار کیږی نو په دے وجه اوس دغه بیان کوم درود کوؤ۔ او بل دا چه بعضے جاهلے ښځے د بچو په بیمارئ کښې یا د اولادکیدو په خواهش کښې ډیر خلاف شرع کارونه کوی کله به فالونه کوی کله به په بابا ګانو نن رانے کړی او کله به ډیر د شرک او کفر تعویذونه رے کوی کله به لا سونه فال ګر وته خائي۔ پس بے دینو او

چکو خلقو به تعویذونه کنډے او دم وغیره کوی بلکه بعضے جاهلانے خو په کینے با با
کمانو ته زانګوکانے او سجدے هم کوی چه دین ئے هم خراب شی او ګناه ئے هم او شی
بلکه په بعضو خبرو سره خو بنده مشرک او کافر شی۔ او داسے خلق د بنځو نه روپئ پیسے
کپړے دانے چرګ وغیره هم په ټګئ وصول کوی۔ او کله کله داسے خلقو له چه بنځے
راځی نو نیت ئے ورته هم بدیږی۔ او ډیر نقصان تے جوړیږی۔ غرض په هر طرف
نقصان او نقصان دے۔ او بیا هم کیږی هغه کوم چه خدائے پاک ته منظور وی
نو په دے وجه م دا خیال پیدا شه چه څهٔ لږ ډیر دم درود هم داسے اولیکم
کوم چه د شریعت نه خلاف نه وی چه د خدائے پاک د نوم په برکت سره شِفا
هم وی او دین هم برباد نه شی او مال او عزت ته پکښے هم نقصان نه وی۔

د سرَغاخ او بادو درد

په یوه پاک تخته پاکے خاورے یا شګے خورے که او په یو میخ سره پے اولیکه اَبْجَدْ هَوَّزْ حُطِّیْ او بیا میخ په زور سره په آلف ټک وهه او درد والا به خپله ګوته د درد په ځائے کلکه کیږدی او ته یوه پیره اَلْحَمْدُ الخ اولوله او بیا د هغه نه د درد تپوس کوه نو که اوس هم درد وه بیا په ب میخ ټکوَهه الحمد وایه او د هغه نه تپوس د درد کوه په یو یو حرف دغسے کوه انشآء الله تعالیٰ چه درد به ختم شی او تړکی به لا نه وی ختم شوی۔

هر قسم درد

خواه په هر ځائے چه وی دا لاندے ایات سره د بسم الله درے پیرے اولوله دم کړه پے۔ او په څه تیلو وغیره ئے اولوله مالش ئے کړه پے۔ یا ئے په او داسه کښے اولیکه او ئے تړه پے۔ وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۥ وَمَآ اَرْسَلْنٰکَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّ نَذِیْرًا ۝

دماغ کمزوری کیدل

د پنځه وخته مانځه نه پس په سر لاس کیږده او یولسْ پیرے یَا قَوِیُّ لوله۔

دَ نظر کمزوری

د پنځه وخته مانځه نه پس یَا نُوْرُ یولسْ پیرے لوله د دواړو لاسو نو د ګوتو سرونه پے دموه او په سترګو ئے مږده۔

دَ ژبے تتوالے یا دَ ذهن کمزوری

د سحر مونځ چه او کړے یوه پاک کپتي په خوله کښے او نیسه دا آیات یویشت پیرے او لوله۔
رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ وَیَسِّرْلِیْٓ اَمْرِیْ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ یَفْقَهُوْا قَوْلِیْ۔ او روزانه په یو بلکټ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ لیکه او خوره خلویښت ورځے چه ئے او خورے نو هم به دے ذهن تیز شی۔ (او دا ایات چه اولیکلے شه دا د ژبے او ذهن دواړو دپاره دے)۔

زړه درزیدل

دا ایات د بسم الله سره او لیکه او پښا ډه ئے کړه د ومره او که چه په زړه د پاسه راشی او زړه ئے طرفته وی۔ اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ

قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ -

دَ کیڼاړے درد دا آیات درے پیرے په اوبو اولوله او اوسکه یا او لیکه او په کیڼاړه ئے اوتړه- لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّ لَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ط -

هیضه او دَ هر قسم وَبا طاعون وغیره په داسے درځو کښے چه هغه خورے یا سکے نو اوّل پے درے پیرے سورة اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ لوله دَمَوه نو انشآء الله تعالیٰ محفوظ به ئے او په چا چه اوشی نو هغه له پے څه شے دموه او ورکوه دَ خوراک او سکاک هر یو شے انشاء الله تعالیٰ شفا به مومی -

تورے غتیدَه دا ایات دَ بسم الله سره او لیکه او په توری او تړه نو خه به شی انشاء الله تعالیٰ - ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ رَحْمَةٌ ط -

نوم پریوتل دا ایات دَ بسم الله سره او لیکه دَ نامه ځائے ئے اوتړه نوم به ځائے له راشی او که تړلے پے ساتے نو بیا به نهٔ پریوځی - اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا وَ لَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ط اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ط -

تبه که په غیر یخنیٔ نه وی نو دا ایات او لیکه پغاړه که ورته او په درے ئے دموه - قُلْنَا يَا نَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ - او که دَ یخنیٔ سره وی نو دا ایات او لیکه پغاړه یا په مټ ئے ورته اوتړه - بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَ مُرْسٰىهَا اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ط -

دانه ماشه یا پړسوب پاک خاورے را واخله که لوته وی او که مید ه خاوره او دا دعا او لوله لا ړے پے توکه - بِسْمِ اللّٰهِ بِتُرْبَةِ اَرْضِنَا بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفٰى سَقِيْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا - او لړے اوبه پے واچوه هغه خاورے دَ تکلیف په هغه ځائے یا ئے په خواؤ شا دَ ورځے دوه درے پیرے لړه وه -

مار لړم یا مچیٔ وغیره چه اوچیچی په لړه شان او بو کښے مالګه واچوه په هغه ځائے ئے اومږه او قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ یا قُل سورت لوله دموه پے تر ډیر ساعته پورے دم کړه -

دَ مار پکور کښے بنکاره کیدل یا څه آسیب کیدل. دَ او سپنے څلور میخونه را واخله او په یو یو باندے دا ایات پنځویشت پنځویشت پیرے او لوله دم کړه او بیا ئے دَ کور په څلورو ګوټو نو کښے په زمکه کښے ښخ کړه انشآء الله تعالیٰ په دغے کور کښے به مار یا تے نه شی - ایات دا دے - اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا وَّ اَكِيْدُ كَيْدًا فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ط دَ آسیب اثر به هم په دغه کور کښے پاتے نه شی -

دَ لیونی سپی چیچل دغه ایات کوم چه بره لیکلے شوے دے دَ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ

شو تر ژوندا پورے دَ دِے دِ حُوتی یا بسکټ پہ ځلو غټو ټکو واولیکہ یوہ ټکړہ روزانہ دَ غرمې نہ مخکې ورکوہ انشاء اللہ تعالیٰ صحت بہ او موسمی دَ اثر نہ بہ محفوظ شی۔

شنډے کیدل غلو ځټ لونګین اوګورہ او پہ هر یو اوګہ اوګہ پړے داایات او لوُلہ او کوم وخت چہ ښځہ دَ پاکئ غسل اوکړی دَ دغہ ورځے نہ دے روزانہ یو یو لونګین ریعنی لونګ) دَ اوده کیدو پہ وخت کښے خوری او او بہ دے پسے نہ سکی او دَ خاوند سرہ دے کینی پاتی۔ آیات دا دے۔ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِىْ بَحْرٍ لُّجِّىٍّ يَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ۔ انشاء اللہ تعالیٰ اولاد بہ ئے اوشی۔

حمل غورزیدل یو مزے دَ ښځے دَ قد برابر پہ کسم رنګ شوے را واخلہ ئہ غوټے پکښے اولږہ وہ او پہ هرہ غوټہ دا ایات لولہ پوکہ انشاء اللہ تعالیٰ حمل بہ ټینګ شی او کہ مزے نہ ملاویږی نو پہ کاغذ ئے اولیکہ پہ خیټہ ئے او تړہ ایات دا دے۔ وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِىْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ۔

دَ بچی کیدو درد دا ایات پہ پرچہ اولیکہ پہ پاک کپړہ کښے او نغاړہ دَ ښځے پہ ګنځ ورون پورے او تړہ۔ یا پہ خوا یوځے دم کړہ او خورہ وہ پہ انشاء اللہ تعالیٰ بچے بہ پہ آسانئ پیدا شی۔ ایات دا دے۔ اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ۝ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ۝ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ۝ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝۔

بچی ژوندے پاتے کیدل اجوائن او تور مرچ نیم نیم پاؤ را واخلہ دَ پیر پہ ورځ دَ غرمے پہ وخت ځلویښت پیرے سورۃ والشمس دا سے اولولہ چہ دَ هرے پیرے سرہ درود شریف هم اولولے او چہ ځلویښت پیرے پورہ شی بیا یو ځل پیرہ درود شریف اولولہ او اجوائن او تور مرچ پے دم کړہ او دَ حمل شروع کیدو نہ یا چہ کلہ ئے فکر شی دَ ټی پریکو لو پورے روزانہ لږ لږ دَ دے دوائی وخیږہ ونوښه دے خوری نو انشاء اللہ تعالیٰ اولاد بہ ئے او پاتی۔

همیشہ جینئ کیدل دَ دے ښځے خاوند یا بلہ یوہ ښځہ دے دَ دے ښځے پہ ګیډہ اوویا پیرے دائرہ جوړہ وی او پہ هرہ پیرہ دے یَا مَتِيْنُ وائی انشاء اللہ تعالیٰ هلک بہ ئے اوشی۔

دَ بچی پخواب کښے پریدل یا نظر کیدل یا جرل یا پہ بل څہ چل کیدل قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ درے درے پیرے لولہ او دموہ ئے پرے اچوا دُعا اولیکہ پغاړہ کړہ ورتہ انشاء اللہ تعالیٰ دَ هر بلا نہ بہ محفوظ شی دعا دا دہ۔ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْطٰنٍ وَّهَامَّةٍ وَّعَيْنٍ لَّامَّةٍ۔

چیچک رنځ (غوټۍ) د اووه شنو تارونو یوه کنډه را واخله او بیا اوویشتمه سپاره کښې
چه سورة رحمٰن دے داپسې لوله او چه دے ایات فَبِاَيِّ آلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ته راسې
نو پُف کوه او غوټه ورکوه چه سورة ختمیږی نو یوویشت غوټې به شي بیا هغه
کنډه د بچي پغاړه کړه که د چیچک نه مخکښې ئې ورته پغاړه کړې نو انشآء الله
چه د چیچک نه به محفوظ شي او که په چیچک کښې ورته پغاړه کړے نو ډیر
تکلیف به ورته نه وی۔

هر قسم بیماری په چینی پلیټ الحمد او دا ایاتونه اولیکه روزانه ئې په
بیمار سکوه ډیر د تاثیر شے دے۔ ایاتونه د شفا دادی۔ وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ
وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ۔ وَنُنَزِّلُ
مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا۔ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ۔ يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ۔

محتاج او غریب کیدل پس د ماسختن د مانځه نه دیرانیز وروستو تے یولس یولس
پیرے درود شریف او په مینځ کښې څوارلس سوه څوارلس پیرے یَا وَهَّابُ لوله او
دُعا کوه انشآء الله تعالیٰ مالدار به شے او په رزق کښې به دے برکت شی۔

د پیریانو ضرر دا ایاتونه اولوله د بیمار په غوږونو کښې پُف کړه او اوبه پے دم
کړه او سکوه پے۔ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ۝ فَتَعٰلَى اللّٰهُ
الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهٗ
بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ۝ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ
خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ۝ او سورة وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ اووه پیرے په غوږ کښې دم کړه
او په بنۍ غوږ کښې بانګ او وایه او په ګینړ کښې اقامت نو دا هم پیریان لرے کوی۔

څه کار بندیدل دولس ورځې متواتر دا دعا روزانه دولس زره پیرے لوله
او روزانه دعا کوه انشآء الله تعالیٰ هر څومره مشکل کار چه وی پوره به شی
يَا بَدِيْعَ الْعَجَائِبِ بِالْخَيْرِ يَا بَدِيْعُ۔

د دیو یا پیری اثر کیدل قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ درے درے پیرے
په اوبو اووایه دم کړه او په مریض ئې اوسکوه او په زیاتو اوبو
ئے اووایه او چه هغې اوبو مریض اولمبوه او دا دُعا د څلویښتو ورځو پورے روزانه
د چینی په پلیټ لیکه او سکوه پے يَا حَيُّ حِيْنَ لَا حَيَّ فِيْ دَيْمُوْمَةِ مُلْكِهٖ وَبَقَآئِهٖ يَا حَيُّ انشآء
الله تعالیٰ د جادو اثر به لاړ شی ختم به شی۔ او دا دعا د هر څه بیمار کپاره هم
ډیره مفید ده چه حکیمانو ورله جواب ورکړے وی۔

دخاوند ناراضه یا بې پروا کیدل

پس دما سختن دماخته نه یونس دانې تورمرچ راواخله او وهٔ اندې ورو ستو یونس پړې درود شریف او لوله او په منځ کښې یونس سوه پړې یَا لَطِیْفُ یَا وَدُوْدُ لوله او دخاوند د مهربانه کیدو خیال په زړه کښې راوله او چه دا تعل او لولې نو دغه تورمرچ پې دم کړه او کرم اورته ئې واچوه او د الله تعالیٰ نه سوال او کړه انشاء الله تعالیٰ خاوند به مهربانه شی۔ دکم نه کم خلویښت ورځې دا سې او کړه۔

پئ کمیدل

دا دوا یره آیا تونه په مالګه اوه پړې او لوله دما شو پیه دال کښې ئې ورکړه اوّل لنې آیات۔ وَالْوَالِدَاتُ یُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَیْنِ کَامِلَیْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ یُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ۔ دویم آیات۔ وَاِنَّ لَکُمْ فِی الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُسْقِیْکُمْ مِّمَّا فِیْ بُطُوْنِهٖ مِنْ بَیْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِیْنَ۔ دا دویم آیات که داوړه وپیه پیږه بانڼ او لولی او فوایا میځ له ئې ورکړی نو پئ به ئې ډیر زیات شی۔ که څوک د نور وډیرو دموتو درهو شوق لری نو هغه دې حما کتاب اعمالِ قرآنی (قرآنی عملونه) او شفاء علیل او ظفر جلیل اوګوری۔ او دا خبره همیشه یاد ساتنه چه د قرآن آیات په اودسه مه لیکه او چه غسل دربانڼ او څتې وی نو هم ئې وایه مه او په کوم کاغذ چه د قرآن آیات او لیکې تعویذ چه تې جوړه وی نو دپاسه پې یو ساده کاغذ هم تا وُکړه چه کله تعویذ اغستو نکې بې اودسه وی نو چه لاس ئې ور سره اونه لګی۔ او په چولی لوخی چه آیات او لیکې نو هم ئې بې اودسه په لاس کښې مه اخله۔ او چه کله په تعویذ کار ختم شی نو په او به کښې ئې ویلی کړه او ولې یا نهر یا کوهی ته ئې واچوه۔

نوے اضافه

د دے ځائے پورے چه دا څومره طریقے د دم درود لیکلے شوے وے دا ډیرے مختصرے وے نو مولانا شبیر علی صاحب مخدوم او معظم حکیم الامة مولانا مولوی محمد اشرف علی صاحب رو حانه دے کړی الله پاک قبر کدهٔ ته عرض اوکړه چه کوم عملیات د جناب معمول وی دا کیږې او لیکلی شی او په جنت کالی کښې اضافه کړے شی نو حضرت رح ډیر په خوشحالۍ سره منظوره کړه۔ او خاص کر صغه عملیات کوم چه د حضرت اقدس معمول او د روزمرّه ضرورت دواؤ ئې لیکل نو کوعامے فائدے د پاره اوس دلته لیکلے شی۔

خاص عملیات د جناب حکیم الامة محمّد اشرف علی صاحب رح

١۔ د حمل حفاظت
که د ښځې حمل غورزیږي او یا که څه صدمې په وجه چې د دې خطره پېښه شي نو دا لاندې آیات تونا او لیکه او حاملې ښځې ته دې په غاړه کښې واچوي چې تعویذ ئې په سینه راشي۔ آیات تونا دا دي۔
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَیْهِمْ وَلَا تَكُ فِیْ ضَیْقٍ مِّمَّا یَمْكُرُوْنَ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِیْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ۝ فَاللّٰهُ خَیْرٌ حَافِظًا وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ۝ اَللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰی وَمَا تَغِیْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ وَكُلُّ شَیْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ۝ رَبِّ اِنِّیْٓ اُعِیْذُهَا بِكَ وَذُرِّیَّتَهَا مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ۝۔

٢۔ د بچو حفاظت
بچي به د اکثرو مرضونو نه د خدای په حکم سره محفوظ وي دا لاندې کلمات او لیکه او بچي ته ئې په غاړه کړه۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَیْطٰنٍ وَّهَامَّةٍ وَّعَیْنٍ لَّامَّةٍ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ۔ او که په خواب کښې ویرېږي نو دا په هم زیات کړه۔ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ سُوْٓءِ الْاَحْلَامِ وَمِنْ اَنْ یَّتَلَاعَبَ بِیَ الشَّیْطٰنُ فِی الْیَقْظَةِ وَالْمَنَامِ۔

٣۔ بد نظر
که د بد نظر یره وي نو دا آیات او لیکه په غاړه کړه ورته۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ وَاِنْ یَّكَادُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ۔۔۔ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِیْنَ ۝ پورې۔

ایضًا
دا لاندې کلمات هم د بد نظر د اثر لرې کولو د پاره په خصوصیت سره لیکه او په غاړه کړه ئې ورته۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَیْطٰنٍ وَّهَامَّةٍ وَّعَیْنٍ لَّامَّةٍ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۝۔

٤۔ حفاظت د وبا او هر قسم طاعون نه
د داسې مرضونو په وخت کښې چې څه شی خورې سکې نو د دې پېرې په سورة اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ لوله دم دې کړې او خوره سکه ئې که د مریض د پاره په دې پېرې او یا دم کړې نو که په مرض مبتلا شوې وي هم به انشآء الله تعالٰی شفا بیا مومي۔

٥۔ د سر درد
که د چا سر درد وي یا بل قسم دا لاندې آیات او لیکه د درد په ځائې ئې او تړه۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ (ټوله سورت) لَا یُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا یُنْزِفُوْنَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَّعَّارٍ وَّمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ ۝

۶۱: د بچي کيدو درد د الاندې کلمات او ايا تونه په کږه او ولولئ او خوره وه په
پاڼه او ليکه په سپينه کږه کښې او تړه او د حاملې په کيڼه ورون پورې او تړه
او چه بچې او شي فوراً ئې تې لرې کړه انشاء الله تعالیٰ په بچي کيدو کښې به ډيره
آساني وي ورته - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ۝ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا
وَحُقَّتْ ۝ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ۝ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ۝ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ اٰهِيًا
شَرَاهِيًا اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْهَا الْوِلَادَةَ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ -

۶۲: آسيب که په چا د آسيب (د پريانو وغيره) شک وي نو د الاندې ايا تونه
او ليکه او د مريض په غاړه کښې ئې واچوه او اوبه په دم کړه په مريض ئې او نوله
او که په کور کښې اثر وي نو په اوبو ئې او لوله د کور په څلور وواړو کونجونو کښې ئې
چنړکا ؤ کړه ايا تونه دا دي -
۱:- بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ تر وَلَا الضَّآلِّيْنَ پورې -
۲:- الٓمّٓ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ تر هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ پورې -
۳:- وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ط -
۴:- اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ج (يعني ايات الکرسي او ورسره لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ
تر هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ پورې)
۵:- د سورة بقره آخري رکوع د لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ نه د فَانْصُرْنَا عَلَى
الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ (يعنې د ختم د سورة) پورې -
۶:- شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ لَآ اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ -
۷:- اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ
يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍ بِاَمْرِهٖ اَلَا لَهُ
الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ط
۸:- فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ۝ وَمَنْ يَّدْعُ
مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ۝
وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ۝
۹:- وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا تر اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ۝ پورې -
۱۰:- هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ تر هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ پورې (د سورة حشر آخري درې
واړه ايا تونه) - ۱۱:- وَاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ۝ -
۱۲:- قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (يعني سورة اخلاص)

۱۳:- قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ تر اخره پورے -
۱۴:- قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ تر اخره پورے -

ایضًا | دالاندے کلے او لیکہ او مریض تہ ئے پغاړه کړه رد دے عمل نوم حرز ابی دُجانه دے) د بیر مجرب دے - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ہ بِسْمِ اللّٰهِ هٰذَا كِتَابٌ مِّنْ مُّحَمَّدٍ رَّسُوْلِ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ اِلٰى مَنْ طَرَقَ الدَّارَ مِنَ الْعُمَّارِ وَالزُّوَّارِ وَالسَّآئِحِيْنَ اِلَّا طَارِقًا يَّطْرِقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمٰنُ اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ لَنَا وَلَكُمْ فِي الْحَقِّ سَعَةً فَاِنْ تَكُ عَاشِقًا مُّوْلِعًا اَوْ فَاجِرًا مُّقْتَحِمًا اَوْ رَاعِيًا حَقًّا مُّبْطِلًا هٰذَا كِتَابُ اللّٰهِ يَنْطِقُ عَلَيْنَا وَعَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ اِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ اُتْرُكُوْا صَاحِبَ كِتَابِيْ هٰذَا وَانْطَلِقُوْا اِلٰى عَبَدَةِ الْاَوْثَانِ وَالْاَصْنَامِ وَاِلٰى مَنْ يَّزْعَمُ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ تُغْلَبُوْنَ حٰمٓ لَا تُنْصَرُوْنَ حٰمٓ عٓسٓقٓ تَفَرَّقَ اَعْدَآءُ اللّٰهِ وَبَلَغَتْ حُجَّةُ اللّٰهِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ہ

ایضًا[25] | کہ د آسیب اثر په کور کښے معلومیږی نو دالاندِ ایا تونه پنځو لیشت پیړے په خلورو میخو نو اولوله او د کور په څلورو واړو کونو کښے یو یو میخ ټک وهه - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا وَّاَكِيْدُ كَيْدًا فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ط -

ایضًا | دا نقشه سره د لاندے عبارت نه درے تعویذ ونه او لیکه او په دا سے طریقه ئے فلیته جوړه کړه چه د دُوه هند سه لاندے راشی او د آتهٔ هند سه پره راشی بیائے په پاکوما لو چو بے : نغاړه په نوے ډیوه کښے او د مه تیل دا چوه او د مریض په خوا کښے د آته د هند سے د طرفه یعنے د ... طرفته او درکه اول ورځ یوه فلیته اوسوه نه وه (بله کړه) بیا یوه ورځ ترمنځ کړه بله فلیته اوسوه نه وه بیا یوه ورځ ترمنځ بله دریمه فلیته او لبزه وه - نقشه دا ده :-

۶	۱	۸
۷	۵	۳
۲	۹	۴

فرعون ، قارون ، هامان ، شداد ، نمرود ، ابلیس علیه اللعنة واتباع ایشان اگر نگریزند سوخته شوند -

د دفع د سحر د پاره | دالاندِ ایا تونه اولیکه او د مریض په غاړه ئے کړه او په اوبو ئے دم کړه په مریض ئے اوسکوه - او کہ لیل ورله خهٔ وونویه دے ایا تونو او به دم کړه او مریض ئے او لمبوه -
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ه فَلَمَّآ اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ ط اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ - وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ دواړه سورتونه تر اخره پورے -

د پاره د دفع د مرګو دا لاندې آیا تونه او لیکه او مریض ته ئې پغاړه کړه-
بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط رَبِّ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّ عَذَابٍ ط رَبِّ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ - رَبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ وَ اَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ۝

د زړه د درزید و د پاره دا لاندې آیا تونه او لیکه او داسې پغاړه کړه چه تعویذ په زړه کې پاسه راشي - بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ تَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللهِ اَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ وَ رَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ لَوْلَا اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ لِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ -

د ښځې خاوند د محبت د پاره که په ښځه خاوند کښې یو د بل نه نفرت کوي او محبت ئې نه وي نو دا لاندې آیا تونه دې او لیکي او د ګان سره دې او ساتي او مالېزه یا خواګه دې په دم کړي ورحې کړي ورله د فلانۍ ځائې به د محبوب نوم او د فلانا ځائې به د محب نوم او لیکي - بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط وَ اَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ وَ لِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيْ اِذْ تَمْشِيْ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ يَّكْفُلُهٗ فَرَجَعْنٰكَ اِلٰى اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَ لَا تَحْزَنَ وَ قَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَ فَتَنّٰكَ فُتُوْنًا يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ وَ يَا مُسَخِّرَ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَ الْاَرَضِيْنَ السَّبْعِ قَلِّبْ لِفُلَانَةَ قَلْبَ فُلَانٍ بِالْخَيْرِ لِاَدَاءِ الْحُقُوْقِ يَا وَدُوْدُ حَبِّبْ يَا وَدُوْدُ -

د غائب واپس کولو د پاره که د چا څوک یا بل څوک ورک شوے وي نو د هغه د واپس راتلو د پاره دا لاندې آیا تونه او لیکه تعویذ ته به توره یا شنه کپړه کښې جوړه کړه او په کور کښې چه کومه کوټه زیاته تیاره وي په هغې کښې ئې د دوه کټو په مینځ کښې د لے کیده وچه د چا خپے پرې نه راځي. که کټې نه وي نو د میچنې د دوه پلونو په مینځ کښې ئې کیده او د فلان په ځائې د هغه ورک شوي نوم او لیکه - بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط
اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ظُلُمٰتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا وَ مَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ط اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ فَرَدَدْنٰهُ اِلٰٓى اُمِّهٖ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَ لَا تَحْزَنَ وَ لِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ وَّ لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ط يٰبُنَيَّ اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللهُ اِنَّ اللهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ط حَتّٰٓى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَ ضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَ ظَنُّوْٓا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللهِ اِلَّآ اِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا اِنَّ اللهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ط اَللّٰهُمَّ يَا هَادِيَ

الضَّآلِّ وَيَا رَآدَّ الضَّآلَّةِ اُرْدُدْ عَلَيَّ ضَآلَّتِيْ فُلَانٍ۔

تش بول بندیدل یاکیتئ جوړیدل دالاندې کلمې به اولیکې او په نامه به اوتړي۔ رَبُّنَا اللّٰهُ الَّذِيْ فِي السَّمَآءِ تَقَدَّسَ اسْمُكَ اَمْرُكَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَآءِ فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي الْاَرْضِ وَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَخَطَايَانَا اَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِيْنَ فَاَنْزِلْ شِفَآءً مِّنْ شِفَآئِكَ وَرَحْمَةً مِّنْ رَّحْمَتِكَ عَلٰى هٰذَا الْوَجْعِ۔

غنا یَا وَهَّابُ پس د مانځه د ماسختن نه داسے لوله چه اول او اخر ئے یو لس یو لس پیرے درود شریف او په منځ کښې څوارلس سوه ۱۴۱۴ څوارلس پیرے دا مذکوره اسم او په اخر کښې دا دعا او لوله تل پیرے۔ یَا وَهَّابُ هَبْ لِيْ مِنْ نِّعْمَةِ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ۔ (دے عمل ته به حضرت مولنا محمد یعقوب صاحب کیمائے درویشان وے)

حاجت پوره کیدل د ټولو مشکلاتو د حل د پاره اسم یَا لَطِيْفُ پس د مانځه د ماسختن نه یو لس د بره یو لس سوه ۱۱۱۱ پایرے لوله اول اخر تے یو لس یو لس پیرے درود شریف لوله او بیا دُعا کوه۔

بِسْمِ	اللّٰه	الرَّحْمٰن	الرحیم
الله	الرحمن	الرحیم	لبسم
الرحمن	الرحیم	لبسم	الله
الرحیم	لبسم	الله	الرحمن


د هرقسم تبے د پاره دا نقش اولیکه او مریض ته ئے په غاړه کړه۔

د ماهوارئ کمے که په ماهوارئ (د ښځو نمری کیدل) کښې کمے وي یا په درد سره وي (د تکلیف وي نو دالاندې آیاتونه اولیکه او داسے دے په غاړه کړي چه تعویذ په رحم د پاسه راشي۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ ۝

د ماهوارئ زیاتے که چا ماهوارئ زیاته راځي او تکلیف وي ورته نو دالاندے آیاتونه داسے اولیکه چه تعویذ تے جوړ شي او داسے ئے په غاړه کړي چه تعویذ په رحم د پاسه راشي۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝۔

د توری تعویذ ترکیب ئے لن د بکیږي دے. او هغه دا دے چه دا تعویذ به د غشا ن بیرته وي یو ښته کیږه به دوه غبرګ کړے د تعویذ نه او په منځ کښې به ئے دا تعویذ

دغه شان کلاوٗ کیدے داسے چه دَ تعویذ هغه طرف چه په هغے دَ بسم الله عدد د
دے دَ کپړے بند جانب ته راشی - بیا به یوه ورځ دَ سحر دَ مانځه نه پس مریض ۷۸۶
په نهاره ستونی ستغ څملوے اولاس ئے به دَ ډډے وسره اوږد وی او په کږ
درغوی کښے به ورله تعویذ سره دَ کپړے کیدے داسے چه بند طرف ئے کوم ته
چه دَ بسم الله عدد دے کو طرفته راشی او بیا به په دے تعویذ او کپړے دَ پاسه
پونړے ورکوته لوښے خاورین کیدی او په دغه لوخی کښے به ورکوتے شان سکروټه
کیدی دومره چه لوښے گرم نه کړی او دَ مریض گیډے طرفته به یو څو بنیا رسړے
کښی او توږے به ورله په گوتو راکاږی څیل اصلی ځائے ته به ئے راولی په کوم
ځائے چه دغه توږے دَ روغوالی په وخت کښے وی (جامع) دغه شان به باربار
تقریبًا دَ شلو منټو پورے کوی او کله چه په توری کښے سوے پیدا شی نو دَ
سکروټے هغه لوښے دے لرے کړی چه کله سوے ورک شی بیا دے کیدی
بیا دے شل منټه پس مریض ته اووائی چه پاخه تش بول او کړه بیا دے
یوه ورځ ناغه او کړی او په دویمه ورځ
دے بیا دغه عمل او کړی او بیا دے یوه ورځ
دَ ناغے نه پس په دریمه ورځ دریمه پیره
دغه عمل او کړی او بس - نقش دا دے -



دَ خاروی پیونزیا تولو دَ پاره

که غوا مینخه وغیره پئ نه کوی نو دا او لیکه او په یوه پیږه
دالانده ایاتونه او لوله چف کړه هغه خاروی له ئے ورکړه - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ
الرَّحِيْمِ ؕ وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهٖ مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ
لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ؕ وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا
سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ؕ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ
يَبْغُوْنَ وَلَهٗۤ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ۝ سُبْحٰنَ
الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ۝

ئے خوگیده

بعضے وخت دَ بنځو تے دَ بیو دَ زیاتی پوجه یا په بله وجه خوږ شی
نو درد او تکلیف وی - نو دا دعا په ایره یا خاوره اوده پیړے داسے او لوله چه دَ چړے
پیړے سره په کښے لا ہے تو کے او بیا ئے په او بو سره پسته کړے او دَ درد په ځائے
پورے ئے لیوے کړے - که په دا نو تنکوئے پورے کړے نو هم ښه دی - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ
الرَّحِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفٰى سَقِيْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا ؕ
اوس نور تعویذ ونه او تمونه هغه لیکلے شی چه دَ نور وحضراتو نه نقل دی -

دَ اسیب زده دَ پاره (دَ قطب عالم مولنا گنگوهی صاحبؒ نه) دَ اصحاب کهفو نومونه په لاندینی عبارت سره په کاغذ او لیکه په کوم مکان کښې چه مریض یا مریضه وی دَ هغې په دیوالونو باندې ځائے ځائے چسپان کړه او دَ بیشتر دا نقشه لاندې چه لیک دے په یو کاغذ او لیکه مریض ته ئے اوخایه هغه به انکار کوی نه به کوری ورته خو په زور به ورله نظر په دے نقشه غورزوے او بیا به ته تعویذ جوړ کړے به زور به ئے ورته پخاره کړے - دَ اصحابو کهفو نومونه دا دی - اِلٰهِیْ بِحُرْمَتِ یَمْلِیْخَا. مَکْسَلْمِیْنَا. کَشْفُوْطَطَ- طَبِیُوْنُسْ - کَشَافَطِیُوْنُسْ- اَذَافَطِیُوْنُسْ- یُوَانِسْ بُوْنُسْ وَکَلْبُهُمْ قِطْمِیْر وَعَلَی اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِیْلُ

۸	۶	۴	۲
۲	۴	۶	۸
۶	۸	۲	۴
۴	۲	۸	۶

وَمِنْهَا جَآئِرٌ وَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىکُمْ اَجْمَعِیْنَ وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلٰنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَبَارِکْ وَسَلَّمْ -

دَ بچو بیماری (دَ حضرت مولنا خلیل احمد صاحبؒ نه) دَ شین تار یو خلویښت تاروښا دَ بچی دَ قد برابر او کړه را واخله او دَ بسم اللّٰه سره اَلْحَمْدُ یو خلویښت پیرے په او لو له او په هر پیره لوستو سره چُفا کوه او غوټه ورکوه - دَ حمل په زمانه کښې دے کمو ربا گیډه او تړی او چه بچے اوشی بیا دے هغه ته پخاره کړی او که دَ حمل په وخت کښې اونه تړی او بچے پیدا اشی هغه ته ئے پخاره کړی نو هم غوره ده -

کنڼ دَ پاره دَ آسیب زده یو لش شنه یا تور تاروښا واخله دَ کچه پښې ریښې دَ پښې کچه تاروښا یو نیم گزاو ده یو خلویښت پیرے دا لاندے ایات لوله او په هر وار چُف کوه او غوټه ورکوه - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اِنَّهُمْ یَکِیْدُوْنَ کَیْدًا وَّاَکِیْدُ کَیْدًا ۞ فَمَهِّلِ الْکٰفِرِیْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَیْدًا ۞

کنڼ دَ پاره دَ اسانۍ دَ پاغونو دولس گوره او که د تاروښا کچه شنه یا تور را واخله سورة اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا الخ به اوه پیرے اولولے او دَ هرے پیرے لوستو سره به چُف کوے او غوټه به ورکوے بیا به کومه آخری غوټه چه دے ورکړے ده دَ هغې نه شروع شے او په یوے یوے غوټه به اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ وَاَلْقَتْ مَا فِیْهَا وَتَخَلَّتْ یو یو وار لولے او چُف کوے به چه اولنے غوټے ته واپس را اوره سے نو بیا به دَ دغې اولنۍ غوټے نه شروع او کړه او په هره یوه غوټه به یوه یوه پیره قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ الخ دَ آخره پورے لولے او چُف کوے به چه آخرے غوټے ته اورسے نو بس به کړے -

کنډه دپاره د حفاظتِ حمل
یو لسّ تاروُنه شنه یا تور یو نیم گزا وږده را واخله او سورة یٰسٓ شروع کړه چه مُبِین ته رسے نو پُف کړه او غوټه ورکړه بیائے دحاملے په ګیډه پورے او تړه - کا اسقاط نه به حمل انشاء الله تعالیٰ محفوظ شی -

دیبو دپختو بیماری
چه د دے نوموړه چیرِ دی - یو پاک ښځه به په چاقو سره اوده کړے بنے ۱۱۱۱۱۱ داسے را کا ږے او د یبی خیټه به خپل طرفته کړے کیږه بتے او چته کړے په بنیٔ لاس کښے به چاقو واخلے د یبی خیټے طرفته به اشاره کوے په دے کرخو به چاقو را ولے اوۀ پیرے به دا ایات او لولے بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ه اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ط او د یبی ګیډه او سینه به پے دمو ے او کله کله به چاقو روغو نه دے هغے پُښتیٔ طرفته چه چلیږی او خیټه مسه کوے زمکے ته به ئے را ولے اوه پیرے به دعا لولے او یوه کرښه به کړ دے او ه کرخو نه کټ کوے بیا به دغه شان اوه پیرے لولے او دویمه کرخه به کټ کوے دغه شان به هرام وار به یوه یوه کرخه کټ کوے چه شکل ئے دا دے ......
چه اوۀ کرښے پوره شی نو بچے به پورته کړے او د تشو بولو به ورته او وائے سحر ماښام دے ورځے داسے او کړه انشاء الله تعالیٰ ښهٔ به شی -

دیبو دورے را تلل
کله چه په بچی دوره راشی نو اوۀ پیرے اَلْحَمْدُ تول او اوۀ پیرے اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ تول سورة او اوۀ پیرے د ماښځه درود شریف لولو او دموه ئے او دموه لو سره د بنیٔ لاس د شهادت ګوته ورله په سینه او په ګیډه باندے ګرزوه -

کنډه دپاره د خونی بواسیرو
کچه تار سُور رنګ یو نیم ګز را واخله چه یو ویشت تاروُنه وی او سورة تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ یو ویشت پیرے لولو او په هر وار چف کړه او غوټه ورکړه بیا د هغے طرف نه یعنے د آخری غوټے نه واپس راځه او په هره غوټه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ط رَبِّ اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ط یوه یوه پیره لولو چه اول سر ته را اورسے نو بیا د دے سره شروع او کړه او په هره غوټه وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِیْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِیْ وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِیَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَی الْجُوْدِیِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ه یوه یوه پیره لولو او چُف کړه او بیائے د بواسیر واله په ملا او تړه انشاء الله تعالیٰ چیر زر به آرام بیا موهی -

د مار لړم او موذی ځناورو نه د حفاظت دپاره
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ه سَلٰمٌ عَلٰی نُوْحٍ فِی الْعٰلَمِيْنَ یو لسّ پیرے سحر او ماښام لولو اول او آخر تے نه یو لس یو لس پیرے درود شریف لولو او عقیده کامله ساته -

ایضًا بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِی لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ ط درے پیرے سحراو ما بنام لولہ -

د پاره د شنهے (منقول از قول الجمیل) د هوسئ په څرمن په زعفرانو او ګلابو سره دا ایت اولیکه. وَلَوۡ اَنَّ قُرۡاٰنًا سُیِّرَتۡ بِهِ الۡجِبَالُ اَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ الۡاَرۡضُ اَوۡ کُلِّمَ بِهِ الۡمَوۡتٰی بَلۡ لِّلّٰهِ الۡاَمۡرُ جَمِیۡعًا بیا دا تعویذ د ښځې په غاړه کړه -

ایضًا د خلویښتو لونګو دا طریقه مخکښې تیره شوې ده - او ګوره ئې -

د مرې غوټے د کړے بیزے د کولے د پوستکي تسمه د و مره اوګوره چه د مریض د قد برابر وي بیا خلویښت غوټے ورله ورکړه او په هره غوټه دا دُعا اوله چف کوه - بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط اَعُوۡذُ بِعِزَّةِ اللّٰهِ وَقُدۡرَةِ اللّٰهِ وَقُوَّةِ اللّٰهِ وَعَظَمَةِ اللّٰهِ وَبُرۡهَانِ اللّٰهِ وَسُلۡطَانِ اللّٰهِ وَکَنَفِ اللّٰهِ وَجِوَارِ اللّٰهِ وَاَمَانِ اللّٰهِ وَحِرۡزِ اللّٰهِ وَصُنۡعِ اللّٰهِ وَکِبۡرِیَآءِ اللّٰهِ وَنَظَرِ اللّٰهِ وَبَهَآءِ اللّٰهِ وَجَلَالِ اللّٰهِ وَکَمَالِ اللّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ مِنۡ شَرِّ مَآ اَجِدُ - بیائے د مریض په غاړه کښې واچوه - ختم شوه نهمه حصه بتاریخ ۲ صفر المظفر سنه ۱۴۰۳ھ

طبي جوهر ضمیمه دویمه د جنت د کالی نهم حصے

پس د ثنا او درودو عرض کوي بنده ناچیز احقر مخلوقاتو محمد مصطفی بجنوری مقیم میرټه محله کرم علی چه خاکسار د حضرت مولانا مولوي محمد اشرف علی صاحب تهانوي په اشاره سره کتاب اصلاح الطب لیکلے وه چه په هغې کښې د طبي مسائلو چه متعلق دي د طبیب او مریض سره خواه د عبادتو سره ئے تعلق وي یا د عاداتو سره یا د اخلاقو سره او د علاجونو د حرمت او حلت بحث په کښې په تفصیل سره شوے وه - بلکه هره یوه دوائي په کښې د حروف تهجي په ترتیب سره لیکلے شوے او د هغې شرعي حکم لیکلے شوے وه - او د ناجائزو دارو په بدل کښې نورے ډیرے د کار خبرے هم لیکلے شوې وے - خو چونکې دغه کتاب لیو شان غټ شوے دے په دے وجه د حضرت والا دا رائے غوره شوه چه د دینه د معالجاتو بحث په اختصار سره منتخب کړے شي او جدا رساله تے جوړه کړے شي - ځکه چه د طب د مسائلو هغه حصه چه د طبیب او مریض دواړو سره تعلق لري او د کوم پابندي چه عام مسلمانانو له ضروري ده هغه دغه د معالجاتو برخه ده - نو د ارشاد د تعمیل په وجه په کښې دا یو څو باټونه منتخب شوے چه ناظرینو ته وړاندے کولے شي او حضرت والا دا هم غوره کړه چه دا رساله دے د جنت د کالی ضمیمه جوړه کړے شي ځکه چه په جنت کالی کښې یو طبي جز د مخکښې نه هم موجود دے او په دے کښې څه مضامین داسے هم چه عام طور سره ښځې په هغې نه پوهیږي (دلیلونه) وغیره هم

کوم چه په عربئ لیک دی لکه چه وړاندے راغلی) په دے وجه ورکړے الحاق دجنت د کالی د آخیرے حصے سره چه کوم سره واحکام په کښے لیک دی او نوم ئے دجنت ملغلره ده پیوست شوه - په هرحال د مضامینو په لحاظ سره دجنت د کالی سره هم ورکړے الحاق کیدے شی او دجنت د ملغلرے سره هم - او دا رسالی د ښځو سره و د بولوک پاره ضروری او کارآمد ده ښځے هم دا کتے شی - او په دے وجه چه دا د بولوئے کتاب خلاصه ده او خلاصے ته لُبّ لباب یا جوهر وائی د جوهر او زیور دواړه په وزن سره ورکړے نوم طبی جوهر (طبی ملغلره) کیخودے شه - د عامو خاصو تولوک پاره کړے رسالے عبارت آسان او لیکلے شه چه په عوامو مشکل نه وی

فائده جلیله :- د بعضے خلقو دا خیال دے چه د علاج معالجے په باره کښے جائز ناجائز کتو ته ضرورت نشته گویا مریض مرفوع القلم دے - او په دے باره کښے طبیب ته هم خاطرخواه آزادی ده - دا خیال غلط دے دوی له پوهیدل پکار دی چه مریض د حق تعالیٰ د حکومت نه خارج نه دے د حق تعالیٰ ته په جان مال او هرشی باندے مالکانه حق حاصل دے او په دے معنیٰ کښے ئے فرمایلی دی - وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ۭ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۔ ترجمه :- که مونږ په خلقو فرض کړی وے چه خودکشی کوئے یا وطن پریدے نو دے شاذونادر نه سوا به چا دا حکم نه وُه منلے حالانکه کوم خبره چه دوی ته ښودے شی د هغے موافق کول به د دوی د پاره غوره وُو - معلومه شوه چه حق تعالیٰ ته دا اختیار هم حاصل دے چه قصداً د ځان هلاکو لو حکم اوکړی لیکن دا د الله پاک کرم دے چه سره ورکړے اختیار نه دا سے تکلیف چا له نه ورکوی ځان مختار مطلق ئے هم نه دے کړے بلکه د علاج معالجے د پاره ئے څه قاعدے مقرر کړی دی - او هغه قاعدے داسے دی چه که په غور او انصاف ورته اوکتے شی نو خاطرخواه گنجائش په کښے دے دومره تنگی په کښے هم نشته لکه د یو معمولی حاکم په احکامو کښے وی - کرده کرم او احسان قدردا دے چه انسان د گناه نه د ځان ساتلو د پاره په زړه د جان سره تیار وی او په خلاف شرعه طریقے سره بچ ته هم علاج نه کوی - او د مرض په حالت کښے د علماؤ د فتوے نه ځان نه اوباسی - بلکه د دروغ د مریض دیته زیات ضرورت په دے وجه دے چه دروغ خو د څه مهلت اُمید لری او مرض خو د مرگ مقدمه ده - او په ظاهری اسبابو چه نظر واچولے شی نو د فنا کیدو وخت نزدے وی - نو دا ډیره عقل مندی ده چه گناه گار نه شی - بعضے د خدائے بندگانو د مرگ پوخت کښے هم سره د تکلیف نه بعضے مستحبات هم نه دی پاتے کړی - دوستانو ورته ویلی دی چه په دے حالت کښے د تکلیف په

وجه مستحبات ساقط دی نو جواب ئے ورکړے دے چه تکلیف خو لږ ساعت پس بلل دے نو څه ضرورت دے چه د مرګ په وخت کښے د مستحبو ثواب ضائع کړم - مریض د مرض په سختو کښے مبتلا وی او د نورو په قبضه کښے وی نو خدمت کونکو له پکار دی چه د هغه د مانځه او د نورو ضروریاتو د دین خیال ساتی او که هغه څه حیله بهانه کوی نو همت دے کوی او هغه دے د ګناه نه بچ کوی که د مریض خدمت کونکی متشرع وی نو بیا د خاتمے په وخت کښے د مریض د ایمان سلامتی چیرته امید دے - ورنه ګناه صرف په مریض نه وی بلکه خدمت کونکی پکښے هم ټول شریک وی بلکه زیاته حصه د وبال په خدمت کونکو پریوځی - ځکه چه مریض خو دوی په اختیار کښے وی مریض او خدمت کونکو له پکار دی چه څنګه د مانځه روژے د نورو مسئلو تپوس کوی نو هغه شان د هغے دوائی په باره کښے هم تپوس کوی پکومه کښے چه شبه وی او شک په کښے وی نو هغه دے د عالمانو نه پوښته کوی-

اوس دا خبره ازده کړه چه کوم څیزونه په علاج کښے پکار راځی هغه څلور قسمه دی - جمادات، نباتات، حیوانات، او د دوی نه مرکب څیزونه - او پوهه شه چه د دے څیزونو د استعمال طریقے دوه دی - او د دواړو شرعی حکم جدا جدا دے - یو استعمال خارجی او بل داخلی - استعمال داخلی صرف حلق او کیده ته رسیدو ته وائی یعنے استعمال داخلی د خوړو او څکلو نوم دے د دینه سوا نورے چه د استعمال څه طریقے دی ټولے خارجی دی ترڅو چه په پوزه کښے اچول او چه او لګوه دوائی او په غابونو دوائی مږل یائے په خولے کښے چوپل یائے په پوزه بوټول یا په غرغره کول ټول خارجی استعمال دے خو په دے شرط چه دوائی حلق ته ونه رسی - لیکن سوا د بوټولو نه په دے نورو ټولو کښے دا خطره شته چه حلق ته ورسی نو احتیاطاً دا هم د استعمال داخلی په حکم کښے دی - احتیاط ضروری دے - چه د کومو څیزونو داخلی استعمال جائز نه وی هغه دے په دے طریقو نه استعمالوی - ورنه که لږ شان هم حلق ته او رسیده نو د حرام شی د خوړو ګناه کیږی - لکه مرداره چه اوخوری - او که څوک احتیاط کولے شی نو په فتوی کښے ګنجائش شته -

د داخلی او خارجی استعمال حکم

دا دے چه کوم شے نجس العین دے یعنے بلکل ناپاک دے لکه لوئے بول، تش بول، شراب، مرداره، د سور غوښه وغیره - نو د دے استعمال نه خارجی جائز دے او نه داخلی - او کوم شے چه د بل شی په ملاویدو سره پلیت شوے دے - د هغے داخلی استعمال جائز نه دے او خارجی جائز دے لکه پلیتے اوبه یا هغه رانجه چه د ترخی په اوبو کښے جوړه وی خو چه د دوائی نه

په کښې دغه اُوبه زياتې نه وى (د دے کُلِ مرارات مفصل بيان مخکښې راغے) دا سے دوايانے چه شراب په کښې خلط وى خو چه شراب کم او نوره دوائى پے غالبه وى. ليکن د ما نځه په وخت کښې ئے ونيځَل او باقاعده پاکول ضرورى دى - او کله د ا سے ناپاکو څيزونو دخارجى استعمال نه هم پرهيز او کړے شى نو ډيره غوره ده - ځکه چه بعض وخت د مرض د زياتى په وجه سړے بے فکره کيږى او په کپړو پليتى لږى يا لاس بغير د وينځلو نه لوڅى ته رسى - او هغه اوبه يا لوڅے پليت شى او ټول کور ته هغه پليتى تجاوز کوى - او د ډيرو مونځونو خرابيږى پے - د بل شى په وجه د پليتيدو دا معنى ده چه دغه پليت شے په پاک شى غالب نه وى ورنه اکثر لوه حکم د کُل دے غالب لوه به بيا اعتبار روى - مثلاً په يوه لوټه تشو بولو کښې يوه لپه او يه واچوى نو بيا داسه شى ويلے چه دا اوبه دى خو په تشو بولو پليتے شوى دى بلکه د دے ټولو بيا حکم د تشو بولو دے - او که په لوټه او بو کښې يوه لپه تش بول واچولے شو نو بيا ئے حکم د او بو دے او دا ويلے شى چه اوبه دى خو په تشو بولو پليتے شوى دى - او پوهه شه چه په شريعت کښې د استعمال د منع کيدو څلور وجه دى - پليتُ والے - يعنے تش بول لوئے بول وغيره - ضرر يعنے سنکيا - او گرکه يعنے چه طبيعت سليمه ترے کرکه کوى لکه چينجى وغيره - او نشه راوستل -

د جماداتو بيان :- د جماداتو نه مراد هغه څيزونه دى - چه د جرو بوټو او حيواناتو او د حيواناتو د فضلاتو او د حيواناتو د ابڼ او نه علاوه وى لکه خاورِه سره زر، سپين زر، جستال، تانبه، زهر مهره، سنگ يشب وغيره - جمادات ټول پاک او حلال دى مگر هغه نه چه مُضِر وى - يا نشه راوستونکى وى - د کرکے نشے په جماداتو کښے مطلقاً نشته - او که د مضر شى نقصان په څه وجه لاړ شى يا د نشے په څيز کښے نشه پاتے نه شى نو بيا نخت پکښے هم بيا نه پاتے کيږى - د دينه د خاورے خوړو، يا چونه په پان کښے د خوړو، او گِلِ ارمنى، گيرو، ملتانى، او سنگ يشب وغيره حکم هم معلوم شه چه که نقصان کوى نو جائز نه دى او که نقصان نه کوى نو جائز دى - مثلاً په پان کښے چونه زياته خوړل چه غاخونه خرابه کړى يا بل څه نقصان کوى جائز نه دى او په قدر د ضرورت او نفع جائز دى - په زياته چونه خوړو کښے دا هم نقصان دے چه په غاخونو پټوونه جوړيږى او په غسل کښے اوبه اُو روته بيا پوره نه رسى او غسل نه ادا کيږى - (مسئله د منجنو يعنے مسّى چه ښځے د غاښ د پاره په شونډو لګوى) دا ده چه په غاښونو باندے پټ او ټيکلى او دا سے وى چه په اسانئ سره لرے کيدے شى نو غسل بغير د هغے د لرے کولو نه ادا کيږى

اوکه داسے وی چه په آسانۍ سره نه لرے کیږی یا ئے په لرے کولو کښے د تکلیف او نقصان یره وی نو د هغې لرے کول بیا ضروری نه دی۔ یا تے شو داسے منجن چه پیتا چه یرشی اوخهٔ کلک وی لرے کیدے نه شی جائز دی یا نه؟ نو جواب ئے دادے چه جائز دی ځکه چه دا د زینت دپاره لږه ولے شی البته سره وله داسے کول جائز نه دی ځکه چه تشبیه ده د ښځو سره۔ او که غاښو نو مضبوطولو دپاره سره وله هم لږه ول جائز دی لیکن کوم ځکه به ئے نه لږه وی د شپے به ئے لږه وی او سحر به ئے لرے کوی غاښو نه به صفا کوی او پیتو نه پورے جوړه ول سره وله جائز نه دی ځکه چه محض زینت او تشبیه ده د ښځو سره دوائی نه ده۔ دومره چونه خوړل چه پیتو نه تے او نخلی جائز نه ده۔ نه سره وله نه ښځو له ځکه چه مضره ده لیکن که څوک عادت شوے وی او پیتو نه تے په غاښو نو پورے جوړ شوی وی نو که په اسانۍ سره لرے کیدے شو نو په غسل کو لو کښے ئے لرے کول ضروری دی او که نه لرے کیده نو معاف دی) او د دینه حکم د کشتو او زهری دوا یا نو هم معلوم شه چه بغیر د رائے د طبیب حاذق او معتمد نه ئے استعمال جائز نه دے او که حاذق او معتمد ډاکټر یا طبیب ئے تجویز کړی نو بیا جائز دی ځکه چه فائده به وی پکښے (نو بنا په دے صنفه تیزے ډاکټری دوایانے خوړل چه تیزے وی او زهری وی لکه استهنکنیا (جوهر کچله) مارفیا وغیره بغیر د معتمد او ماهر ډاکټر د تجویز نه ئے خوړل جائز نه دی)

دا مشهوره ده چه خاورے خوړل حرام دی مګر په دے کښے تفصیل دادے چه کوم ځائے نقصان وی جائز نه دی او کوم ځائے چه نقصان نه وی جائز دی۔ لکه په حالت د حمل کښے لږے شان خاورے خوړل چه ښځه طبعًا په دے مجبوره وی البته دومره به نه خوری چه نقصان تے کیږی۔ یا چه په روټۍ پورے لږ پدلے ایره خوړل یا سوے روټۍ خوړل۔ بعضے خلق په دے کښے ډیر وهم کوی او سوی ګایونه د روټۍ نه خس خس شو کوی د دے ضرورت نشته لږ قدرے هیڅ نقصان نه کوی بلکه کومه ټوکره چه د روټۍ بالکل کوټله شوی نه وی او صرف لږه شان توره شوے وی د هغې خوړنه ول جائز نه دی ځکه چه روټۍ ده کوټله نه ده۔

مسئله:- سره زر او سپین زر هم جمادات دی لیکن دا په نورو جمادا تو قیاس کول نه دی پکار نور جمادات صرف د دوائی په کار راځی او دا د زینت دپاره هم پکار زا ځی شریعت د دے دواړو استعمال د کالی نه علاوه د اغوستلو دپاره منع فرمائلے دے او ظاهره خبره ده چه کالے صرف د ښځو دپاره وی نو د ښځو دپاره ئے په طور د کالی استعمال جائز دے او د دینه سوا جائز نه دے۔ بیان ئے دادے چه د سرو سپینو

سلائي دَجُرُومه استعمالول يائې لو بنې استعمالول يا څهٔ معجون وغيره دَسرو سپينو په لوخي کښې ايخودل جائز نه دي نه سړي له نه ښځې له نو بنيا په دې دَسرو سپينو دَ کمائي والا چشمې لېږه ول يا دَسرو سپينو دَکيس کهړئ استعمالول يا په دَکهړی چين دَسرو سپينو جوړه ول يا آئينې ته دَسرو يا سپينو غاړې جوړه ول دا ټول استعمال کول جائز نه دي - دغه شان دَکوتو سلئ (چه شيشه پکښې لږيدلې دی) په طور دَ کالي استعمالول جائز دي ليکن څخ کتل په کښې منع دی -

مسئله[۲]:- دَسرو سپينو ورق خوړل يائې په رنځو کښې اچول يا دَسپينو تهو کړه په دوائي کښې ويلې کول (دَزړه دَطاقت دَپاره داسې کولې شي) يا دَسپينو اُوبه په کښې اچول - په دوائي کښې جائز دي - غاښ دَسرو سپينو په تار تړل دَ دفع دَحرج دَپاره جائز دي ځکه چه په بل دهات سره دا کار نه شي کيدې - په دې بنا دَسرو پوزه لږول يا دَبدن په څهٔ ځائې کښې دَسرو نلئ ايخودل جائز دي ځکه چه بل دهات داسې کار نشي کولې - دَ رنځو حکم هم دَسرو پشان دې - مګر دا چه ښځو له دَ رنځو استعمال په هره طريقه جائز دې - او سړو له په طريقه دَاغوستو ناجائز دې او په طريقه دَ غير اغستو ناجائز دې -

مسئله[۳]:- ځلورګوتې دَ رنځو ګوتې لږه ول سړو له هم جائز دی -

مسئله[۴]:- په بدن کښې سپېړې کيږي نو په طريقه دَعلاج دَ رنځو اغوستل جائز دی دَدفع دَحرج دَپاره - او په جنګ کښې هم اغوستې شي ځکه چه توره ئې نه پرېکوی -

سوال:- په کوم معجون خميره وغيره مرکب دوائي کښې چه دَسرو سپينو ورق وی دَهغې خوړل اخستل قرض اخستل جائز دی اوکه نه؟ دغه شان پکومه نسخه کښې چه مذکوره ورق وی هغه دَعطار نه اخستل او قيمت ئې نسيا کول جائز دی اوکه نه؟ دغه شان په کوم رنځو کښې چه ورق داسې حل کړی شوی وی چه مطلق په نظر نه راځي نو دَهغې اخستل خوړل جائز دی اوکه نه؟ که چرې دا جائز نه وی نو په دې کښې او په ملمع شوی کالي کښې څهٔ فرق دې ځکه چه دَملمع شوی کالي نه سره سپين جدا کول مشکل دی دغه شان بلکه دَدينه زيات دَرنځو يا مرکب دوائي نه دَورق جدا کول مشکل دی دغه شان په ميټهائي اوغوره بنه باندې چه کوم دَچاندی ورق لږه ولې شي په دې کښې نسيا جائز دی اوکه نه؟ او په داسې معجونو او رنځو زکوٰة واجب دې اوکه نه؟

جواب:- که ورق چاندی يا دَسرو په معجونو کښې داسې حل کړې شي چه تهول دَ دوائي سره يو ذات شي نو په دې صورت کښې هغه پشان دَملمع مستهلک او تابل اعتبار نه دی اوکه پوره حل شوی نه وی نو بيا په مثل دَکپړې دَګوتې محض تابع دی ځکه چه ديته دَسرو سپينو معجون څوک نه وائي بلکه په جزء غالب سره ئې مسمیٰ

کوی - البته که په معجو نو کښے غالبه حصّه دَ در قو وی لکه محض په کښېن کښے د ر ق حل کړے شی نو دیته معجونِ ذهب او معجونِ فِضّه (یعنے دَ سرو سپینو معجون) وائی او دے حکم به دَ سرو سپینو دَ تارو نو دَ او دلی شوی شی وی او په دے کښے به دَ بیعِ صرف احکام هم وی او وجوبِ دَ زکوٰة به پکښے هم وی - او په مخکښے دواړه صورتو نو کښے به دَ بیعِ صرف احکام دی او نه وجوبِ زکوٰة - او په میټائی او غوړه بنه چه کوم ورق لګوی دَ هغے حکم دَ کپړے دَ ګوټه پشان دے دومره فرق دے چه دلته دَ دے ورقو څلورګوټے یادَ دینه کم کیدل ضروری نه دی - ځکه چه په قدرِ دَ څلورو ګوټو قید صرف دَجامو سره خاص دے او دَ نشے دَ څیزونو حکم دا دے چه کوم څیزونه او چې وی هغه ټول پاک دی او په وخت دَ سخت ضرورت کښے مثلاً دَ چا دَ علاج دَپاره دَ طبیب په رائے سره دومره قدرے خوړل کَدے او چو څیزونو هم جائز دی چه نشه نه راولی او دَ نشے په قدرے خوړل په هیڅ حالت کښے جائز نه دی لیکن حتیّ الامکان ترے ځان سائل. او احتیاط اولی او لائق دے - ځکه چه اکثر په لږ سره چیرته نوبت ضرور رسی او دَ ضرورت او نه ضرورت خیال بیانه پاتے کیږی - لکه په شامیؒ کښے دی ص۵۳ج۵ وَ اَمَّا القلیل فان کان للّهوِ فهو حرام :- دَ دے او چو منشیاتو کم مقدار (دَ نشے دَ قدر نه کم) استعمالول که په قصد دَ لهو لعبو وی نو حرام دی - مفرد او مرکب په دے کښے راغلو لکه افیم، بنګ، ګانجه، چرس، معجون فلک سیر وغیره چه دَ حاجت په وخت کښے دومره قدر چه نشه نه راولی دَ جواز ګنجائش شته او بغیر دَ حاجت نه صرف دَ لهو لعبو دَ پاره ئے خوړل جائز نه دی - دَ افیمو پهه کول یا دَ بنګو تپ اَغستل او تکیه ئے ټول جائز دی افیم دَ نزلے بنده ولو دَ پاره په دومره قدر چه نشه نه راولی خوړل یا فلک سیر په غرض دَ امساک حلال په دومره قدر چه نشه نه راولی جائز دی - او کوم دَ نشے څیزونه چه بهیدونکی دی یعنے نرم او ولاړونده دی کوم ته چه شراب وائی دَ دے یو اجمالی حکم خو هر یو مسلمان ته معلوم دے چه شراب او دَ سور غوښه او مردار او سود ټول داسے څیزونه دی چه دَ اسلام نه بالکل خلاف او ضد دی او شریعت ورته مال هم نه وائی - که دَ یو مسلمان سره دا څیزونه وی او بل ئے ترے هلاک کړی نو ځنے تاوان په نه راځی او عقد ئے هم صحیح نه دے - او دَ تفصیلی حکم لیکلو دا موقع نه ده ځکه چه کتاب لوئیږی نو په قدرِ ضروری سره اکتفا کولے شی -

پوهه شه چه څلور قسم شراب نه چه دی هغه داسے دی چه په اتفاق دَ علماؤ سره ناپاک او حرام دی هغه څلور دا دی - دَ انګورو دَ کچه شراب - او دَ انګورو دَ پاخه شراب او دَ منقی شراب - او دَ کجورو شراب - چه دَ دے یو قطره هم سکل یا په کور کښے

ایخودل یا په خه کار کښې را وړل جائز نه دی - او که دے اغستل خوخول هم جائز نه دی - او که دے خلو روښه سوا که نور وشرابو په بیان کښې ډیر اوګډ والے دے چه لته ئے که لیکلو ګنجائش نشته - دلته مونږ صرف د هغه شرابو حکم لیکو چه د هغې نه مباحه ان پورې کول مشکل شوی دی - او هغه شراب اسپرټ دی چه قریب قریب په انګریزی ټولو دوایانو کښې شامل دی - او قطع نظر د دوایانو نه د استعمال په ټولو څیزونو کښې شامل دی - قلم، پنسل، سیاهی، رنګ، برش، چوکی، پرستی تولائی د هر شی په رنګ روغن یا نفس ماهیت کښې د دے څه نه څه دخل ضرور شته تک چه پته نه ده - حکم ئے دا دے چه د یو روایت په رو سره دا هم حرام او پلیت دی او د یو روایت په بنا سره پاک دی او په دوائی کښې د نشے نه را وستو په قدر سره داخلاً هم استعمال کولے شی - لیکن د سلیم الطبع مسلمان طبیعت د دا سے شی نه چه د هغې په پاکی او حلت کښې اختلاف وی نفرت کوی - ګویا دا اسے دی چه لکه په یو لوښی کښې اُوبه پرتے وی او یو سړے خبر ورکړی چه دا اُوبه دی او بل سړے خبر ورکړی چه دا تش بول دی نو د پاک طبع سړی طبیعت به خامخا د هغې نه کرکه کوی - لیکن عموم بلوی داسے شے دے چه د هغې په بنا په داسے موقع په فتوی کښې ضرور ګنجائش کیدے شی - نو په دے بنا په دے کښې زیات زور نه دے پکار - او د چا نه چه کیدے شی احتیاط دے کوی نو غوره خبره ده - د دینه د انګریزی دوایانو او خصوصاً د ټنکچر و حکم دا دوے د اکثرو دوایانو په جوهر حاصلولو کښې اسپرټ ټولو ضرور دخل شته او د ټنکچر و خو حقیقت دا دے چه دوائی په اسپرټو کښې خوشتوی او صاف کوی ئے - په دے سره په دوائی کښې د ذر نفوذ پیدا کیدل په زیاته درجه سره کیدے شی - د حضرت علامه تهانوی رحمة الله علیه په ملفوظاتو کښې دی چه په سره پونډی سره د الله یا محمد (صلی الله علیه وسلم) نوم نه لیکل ځکه په نزد دخه نه دی ځکه چه په دے پونډی کښې د اسپرټو شبه ده - او اګرچه بعض اسپرټ د شیخینو په نزد پاک دی لیکن د امام محمد صاحبؒ په نزد مطلقاً پاک نه دی او د اختلافی مسئلو نه حتی الوسع ځان ساتل غوره دی - او خاص کر چه بیا د اکثرو فتوی هم د امام محمد صاحبؒ په قول ده - دا رنګے بل ځائے حضرت والاؒ فرمائیلی چه حضہ اسپرټ د اشربه اربعه نه نه دی - نو پس د دا سے اسپرټو د شیخینو په نزد

له د اسپرټو تحقیق دا دے چه دا ډیر تیز شراب بلکه د شرابو جوهر دی د ډیر تیزوالی په وجه دا سے دنشی د سخت ضرورت په وخت کښې د دے یو څو قطرے په او بو کښې اچولے شی او د شرابو کار ورکوی - اسپرټ د هر ملائم شی نه جوړیدی لکه بیره، آلو، مهوا، وربشے، غنم وغیره حتی چه د انګورو او کجورو او منقی نه هم جوړیږی - نو کوم اسپرټ چه د دے دے څیز ونو نه جوړ شی حضہ د څلور اربعه متفق علیها نه دی او ناپاک او حرام دی استعمال ئے په هیڅ شان جائز نه دے او کوم چه د دینه علاوه د نورو څیزونو نه دی په دے کښې د یو روایت په بنا د دا رو د پاره د استعمال ګنجائش شته بنا په حضہ اختلاف چه موجوده ذکر کړے دے - کوم اسپرټ چه د بلولو یا رو غانو جوړیږی او په کار کښے یا په نورو معمولی کارونو کښې ما ئی غالبه دا ده چه دا د څلور اربعه نه دی ځکه چه ډیر کم قیمته دی - د اسپرټو د د علم کیمیا په ذریعه خاص د نځے څیز جدا کولے شی چه الکحل ورته

استعمال جائز دے لیکن فتوی د امام محمد صاحبؒ په قول ده - چه د عامو خلقو جرأت زیات نه شی - نو چونکه دا فتوی د فتنے د بند ولو د پاره ده نو مبتلی ته ئے د استعمال حکم کنجائش شته - لیکن تقوی دا رولو د اسپرټو د استعمال نه (د تنکیږ و د استعمال نه) پرهیز پکار دے اوکوم عوام چه پکښے مبتلا دی په حقوی دے سختی نه کوی - البته که په اسپرټو کښے سړک وا چولے شی نو پس د انقلاب نه به د سړکے په حکم کښے شی - او د دے او په حکم شی کښے چه اچولی شوی دی استعمال ئے جائز کیږی ختم شه قول د مولانا - دارنګے په امداد الفتاوی کښے یو سوال او جواب دا دی -

سوال :- انگریزی دوائی کومه چه د سکو وی په دے کښے اکثر اسپرټ ملاؤ وی دا قسم دے د اعلی درجے د شرابو یعنے د شرابو ست وی نو چه کله د مسلمان په دے یقین راشی نو د انگریزی هسپتال دوائی سکل جائز دی او که نا جائز -

جواب :- اسپرټ که د انګورو او ځکو خرما او کجورو نه ویستلے شوی نه وی نو په دے کښے کنجائش شته بنا په اختلاف او که وی نو کنجائش په کښے نشته بالاتفاق - ۲۱ محرم ۱۳۳۴ھ (نقل از رسالۃ الامداد تهانه بهون مورخه ربیع الثانی ۱۳۳۴ھ)

د ډاکټری کتاب په کتلو سره معلومه شوه چه اسپرټ تیز قسم شراب دی چه د شرابو مقطر کولو نه تیاریږی - او لیکلی دی چه په هندوستان کښے کهټیا قسم شراب نه جوړیږی مثلاً آلو، بیر، وربشو، غنمو وغیره نه - او بیا دا په کښے بهڅیا شرابو نه تیاریږی - مثلاً د انګورو، انارو، منهو و ځکو وغیره نه - او د اسپرټو درے قسمونه دی، میتهو لیټڈ اسپرټ - او پروف اسپرټ، او ریکټی فائڈ اسپرټ چه د دوایانو په کار کښے راځی - هغه بهڅیا قسم دی د کومو نو م چه ریکټی فائډ اسپرټ دے دا په قیمت کښے هم د نورو قسمو نو نه ډیر زیات دی نو که دا د ولایت نه راغلی وی نو په ولایت کښے اکثر بهڅیا شراب جوړیږی نو په دے واسطه دا احتمال د قوت په درجه کښے دے چه دا اسپرټ به هم د انګورو یا د ځکو یا چوارو نه د جوړ و شرابو مقطر وی که دا سے وی نو حرام او نجس دی - او په کومه دوائی کښے چه دغه ملاؤ شوی وی هغه به هم نجسه او حرامه وی - نو ګویا که په دے احتمال سره په هره دوائی بانډ د عدم جواز فتوی نه شی ورکیدے - لیکن دا ضرور ویلے شی چه غوره دا ده چه بغیر ضرورته د داسے دوایانو استعمال اونه کړے شی - د دینه حکم د هومیو پیتهک دوایانو هم دا او و چه غوره دا ده چه دا بغیر ضرورته استعمال نه کړے شی ځکه چه د دوی اصل جزء اسپرټ وی او د نورے دوائی جز په کښے برائے نام وی -

مسئله :- کلوروفارم بویول او د اپریشن د پاره بے هوشه کول جائز دی -

د نباتاتو بیان: نباتات ټول پاک او حلال دي مګر هغه نه کوم چې مُضِر یا نشه راوستونکي وي د نشو بیان اوشه او په مُضِر کیدو ممانعت په وجه د ضرر دے چه ضرر پکښې پاتې نه شي نو په استعمال کښې ئې هیڅ حرج نشته لکه چا لکو تمباکو وغیره چه د طبیب په رائے سره د دے استعمال بلا تکلف جائز دے.

د حیواناتو بیان: حیوان او انسان او اجزا د حیوان او فضلات حیوانیه او نور متعلقات حیوانیه ټول به په دے بیان کښې وي.

انسان سره د خپلو ټولو اجزاؤ محترم دے خواه کافر وي او که مسلمان ژوندے یا مړ سوزه ول لاش ئې خړخول اغستل د مړي چانچه په غرض د تشریح په مطب کښې ایښودل بېچ ترخو پورے چه مړه نه وي د کېږے نه پرېکول او اوبستل - د بنځې پئ سوا د بچي نه په ورځو د رضاعت کښې سکل یا خارجا استعمالول مثلاً په سترګو کښې یا په غوږ کښې ئې غورزول ټول ناجائز دي (د بنځې پئ پاک دي لیکن څه قسم استعمال ئې بغیر د بچي نه په ورځو د رضاعت کښې جائز نه دے) د موم یا د ربړ تصویرونه د تشریح د مشق په غرض سره ایښودل جائز دي په دے شرط چه صریح انداموئې جدا جدا اوي چه د تصویر په حکم کښې نه وي په برق آله سره د ژوندي انسان د جسم دننه حالات کتل جائز دي.

مسئله (۱): ژوندے جانور سیزل یا د ضرورت نه زیات تکلیف ورکول لکه ژوندے جانور په تیلو کښې غورزول او سیزل یا په شیشه کښې چینجي جمع کول په کرمو اوبو یا کهچري کښې ایښودل تیل ئې جوړ ول جائز نه دي چه مړ شي بیائې تیلو ته اچون پکار دي د دینه په اثر کښې دومره فرق نه راځي - د پتنګان سره چینجي په شیشه کښې بند وي او څه ورځې کسی کا چه مړه شي دا هم بے رحمي ده - کس د نورا مهکولو بل څه ترکیب کولے شي نو هغه دے کوي مثلاً په تیلو کښې غورزول - او که نه والو بیا د مجبوري په وجه جائز دي لکه فقهاؤ چه د ریښمو د چینجو په غرموځه ورځې ایښودل جائز کړي دي د دے د پاره چه د دوي د مړه کولو بله هیڅ طریقه نشته چینجي د مهو په کښې ه کښې ژوندے پېښ د ضرورت نه سوا عن ایږ د مړ د کړي نو بیا د اوڼي ئې.

مسئله (۲): د ژوندي جاندار نه څه حصه پرېکول چه جس پکښې وي او پکار را وستل جائز نه دي لقوله علیه الصلوة والسلام ما ابین من الحی فهو میت - یعنې د ژوندي جاندار نه چه څه حصه پرېکړے شي هغه مردار ده لکه د ژوندے بېزے غوږ یونه پرېکول یا د ژوندي آس پر (د ایو سخته چربي ده چه د آس د زنګون نجوا کښې وي) پرېکول او پکار را وستل - او دا بې حصه ئې پرېکول چه جس په کښې نه وي لکه د ژوندي حاتي غا خوښه پرېکول یا د بېزے ګېڼے ورځې ویښته نو دا پاک

دی کہ دَحلال جانوروی نو بیائے خوراک هم جائز دے۔ او کہ دَغیر ماکول جزوی نو بیائے خارجًا استعمال جائز دے (پہ دے بنا دَمارغا خونہ پہ زخمو کینے غورزه ول جائز دی کہ دَمړه دی او کہ دَژوندی خو دَخوراک پہ دوائی کینے ئے اچول جائز نہ دی ځکہ چہ دَحیوان غیر ماکول جز دے)

مسئله۳:- سوا دَخنزیر نہ دَژوندو ټولو جانورانو نه غوړی اغستل دَ خپ فائدے دَپاره جائز دی کہ دریائی وی او کہ دَوچے لوئے وی او کہ ورکوټی حتیٰ چہ دَسپی شرمخ مار وغیره هم۔ او دَمړو دغو حیوانانو تو بیعه جائز ده کوم چہ پاک وی لکہ دَدریاب حیوانات یا حشرات (چینجی مینجی چہ بهیدونکے وینه پکښے نہ وی) چہ غیر ذی دم وی۔ یا چہ وینه پکښے وی پس دَذبحے نه۔ ځکہ چہ پہ ذبحے سره هر یو جانور پاکیږی سوا دَسوُر نه۔ نو دَخارجی استعمال دَپاره ئے غوړی وغیره اغستلے هم شی۔ لکہ چہ مخکښے راغئ۔

مسئله۴:- دریائی جانوران ټول پاک دی وا هر وی کہ لوئے ذبح شوی وی او کہ نه۔ لیکن خوراک دَیو هم بغیر دَمهی نه دَحنفی مذهب پہ بنا جائز نه دے نو خارجی استعمال دَټولو دریائی جانورانو جائز شه او هم ئے دَټولو اجزاؤ و۔ مګر دَچندخ مړه کول دَکراهت نه خالی نه دی ځکہ چہ نص پکښے وارد دے البته کہ پخپله مړه وی نو بیائے خارجی استعمال جائز دے۔ دا حکم دَدریائی چندخ دے او دَوچے پہ چندخ کښے وینه وی نو پہ دے وجه نجس دے نو مړه دَمرداسے پہ حکم کښے شه۔ البته کہ ذبح شه نو بیا پاک دے او یا چہ ډیر وړوکے وی چہ پہ هغه کښے وینه نه وی۔ دَدریائی چندخ دَغوټو پہ منځ کښے خرهن وی لکہ دَبطے پښان۔ دَامام شافعی صاحبؒ پہ مذهب یا نه دے سوا دَصدف، کونچا بخر، چیندخ، ناکے، مار، او شمشتی نه ټول دریائی جانوران حلال دی، او دَامام مالکؒ پہ نزد ټول دریائی جانوران حلال دی۔ دَکونچا بخر (سرطان) اثر دَسوُزه ولونه پس هم وی۔ نو طبیبا نو له پکار دی چہ سوے سرطان استعمالوی چہ دَنا جائز فعل نه بچ شی (جنه بید ستر داخلا دَ هیچا پہ نزد هم جائز نه دے دَ حنفیه وَ نو پہ نزد پہ دوه وجهو سره یو دا چہ دَدریائی حیوان جز دے دویم دا چہ خصیه ده چہ ممانعت ئے پہ حدیث سره ثابت دے۔ او دَنورو اماما نو پہ نزد صرف پہ آخری وجه او پوجه دَپاکوالی خارجًا جائز دے۔ پہ عطرو کښے ئے اچول جائز دی

مسئله۵:- چونکہ دَمهی ذبح کولو ته ضرورت نشته نو دَکافر دَلاس مهی بغیر دَخه شک او شبهے نه حلال دے او دغه شان ملخ۔

مسئله۶:- چینجی مینجی او دَوچے ټول هغه جانوران چہ بهیدونکے وینه پہ کښے

شوي پاک دي (د هیر دیره وړوکے مچے سره د کولمو وغیره نه خوړل جائز دي په اتفاق سره سوا د اصحابو د شافعیؒ نه) اکثر حشرات الارض لړم، موچي، چرمکي، چه وینه بهیدونکے په کښے نه وي پاک دي - وړوکے مارچه وینه بهیدونکے په کښے نه وي - خارجاً د دیو استعمال هرشان جائز دے او داخلاً تول حرام دي سوا د ملخ نه - نو د ننګو (چیچک) د پاره چنګان ورکول یا د قوت باه د پاره سرې چینجي خوړل جائز نه دي - د چینجو خوړلو د اثر د پاره دا تدبیر کول پکار دي چه واچه ګوړو له ورکړے شي او بیا هغه چرګوړي پخپله او خوري - لکه وړاندے په تفصیل سره راغلي -

مسئله ۷: د چینجو د لعابونه بعضے پیدا شوي څیزونه چه کوکسته نه کیږي حلال دي لکه ابریشم شکر تغال وغیره - للنص علی حلة العسل -

مسئله ۸: کولر (یو قسم د دنے میوه ده) سره د دننه چینجو خوړل جائز نه دي دغه شان سرکه سره د چینجو خوړل - یا مچهوړي چه چینجي پکښے شوي وي سره د چینجو یا میتهائي سره د میکو خوړل جائز نه دي - او چه چینجي تے لرے کړي بیا خیر دے - او که په ګبین (پچوړه د لوکیښ) ښه چي پکښے هم ملاو شوي او مړ نه شو) چه لا روح په کښے نه وي راغلي نو د هغے ګبین خوراک جائز دے - ځکه چه دغه مرداره نه دے نه حیوان دے - هم دغسے حکم دے کله چه په ادویه کښے یا په هغه دوائي کښے جالے اوشي او لا جاندار چینجي په کښے نه وي پیدا شوي نو د هغه جالو سره ئے خوړل جائز دي - سرکه چه چانړشي نو بیا داشک مه کوه چه هغه چینجي به پکښے کول مول شوي وي -

مسئله ۹: د مردارے اغستل خرڅول تول باطل دي او مرداره پلیته هم ده داخلاً او خارجاً ئے په هیڅ شان سره استعمال جائز نه دے - چوره او چینجي او تول حشرات د زمکے چه وینه پکښے نه وي چونکه د مرګ نه پس هم پلیت نه دي په دے واسطه د دوی اغستل خرڅول (او دغه شان د ملس و) هم جائز دي او خارجاً ئے استعمال هم جائز دے -

مسئله ۱۰: سوا د خنزیر نه تمام هغه جانوران چه بهیدونکے وینه په کښے وي خواه غوښه ئے خوړل ئے حلال وي او که حرام په باقاعده ذبح کولو سره تول پاک کیږي (لفظ د باقاعده ذبح اختیاري او اضطراري ذبح د مسلم او کتابي تولو له شامل دے) یعنے تول اجزا د هغے غوښه، چربي، کولے، سنګرانه، پیته، اعصاب تول پاکیږي - سوا د وینے نه یعنے د وینے بهیدونکے نه - نتیجه ئے دا ده چه خارجي استعمال ئے په هرشان جائز دے لکه په سر تړل وغیره هاں خوړل ئے جائز نه دي سوا د حلالو جانورانو نه - د دے مسئلے نه طبیبان ډیرکار اغستے شي کولمو او لړو سپړو له وغیره له ئے د نجاست ظاهري نه پاکول ضروري دي - (د شیر او ریچھ وغیره چربي

سوا د سورلی په ذبح کولو پاکیږي - د شیر وغیره د ذبح کولو طریقه داده چه اول ئے په کولی
او ولی او بیائے په توره او د هی په مرئی باندے او بسم الله الله اکبر ېے او وائی نوچه بیا
او غوښه منه هم څه ئے پاک شو خو صرف خارجي استعمال ئے بیا جائز دے)

مسئله: مردار په پلیته ده سوا د لاندے اجزاؤ نه ویښته او هډوکی چه غوښه بنه او غوړ والی پے نه وی - خو منے ئے کله چه رنګ کړے شی - د څرمنے په حکم کښے هغه اجزاء هم شامل دی چه جلدی اعضاء ورته وائی لکه مثانه لری سوپری، پېته، پوست، سنګدانه، کولمے وغیره دا هم د څرمنے په شان په رنګ کولو پاکیږي - پېتے کله چه رنګ شی، نوکونه، سوے، څکرونه، وزرونه، د مردار دے د دے اجزاؤ د پاکوالی مطلب دا دے چه د دے څیزونو سره مونځ کیږي اغستل خرڅول ئے جائز دی خارجي ئے په هم شان استعمال جائز دے - لیکن خوړل د هیڅ جزء د مردار ے جائز نه دی خواه دا هر جانور د ځو پاک وی او که نه - او د خنزیر دا ټول اجزاء هم ناپاک دی - او د رنګ کولو معنی داده چه د خرابیدو نه محفوظ شی -

مسئله۱۲: د هاتی غاښ نه پاک دی خواه د مردار هاتی وی او که د ژوندی لیکن د حلال ئے استعمال منع دے خارجا هم شان استعمالیدے شی (د استعمال داخلي او خارجي تعریف په شروع کښے تیر شوے دے) -

مسئله۱۳: د کوم جانور نو چه غوښه بنه خوړل حرام دی د هغوی پئ هم حرام او پلیت دی او د حلال جانور پئ حلال او پاک دی که حلال جانور مړ هم شی نو د غولانځے نه ئے وتلی پئ حلال او پاک دی - د خرے پئ په دق سل مرض کښے سکل په حرامو دوائی کول دی - د اس پئ حلال او پاک دی ځکه چه اس حلال دے مصلحةً منع دے -

د اګئ بیان - د هر جانور اګئ د هغه د غوښه بنه په حکم کښے ده - حلال جانور که مردار شی نو اګئ چه ئے د کیږے نه را او ځی پاک او حلال ده لکه د پیو مسئله چه اوس تیره شوه - د پاسه چه پے کوم رطوبت وی هغه د ګ تے او وینځئ -

مسئله۱۴: حرام جانور چه غوښه بنه ئے خوړے نه شی او بهیدونکے وینے والا وی نو که ذبح شه سره د دے چه غوښه بنه وغیره ئے پاک دی لیکن اګئ ئے ناپاکیږي -

مسئله۱۵: که ده اګئ د حلال جانور چه کله وینه شوه نو حرامه او پلیته ده او چه د وینے نه بیا بچے جوړ شه نو حلال او پاک دے - او که بچے تے جوړ شه او لا ساه په کښے نه وی اچولے شوے بیا هم پاک دے او خوړل ئے هم جائز دی (او دا بچے مردار نه ده ځکه چه لا حیوان شوے نه دے بلکه د اګئ یو جزء دے) ځکه چه غوښه بنه ده - او د حرام جانور اګئ په اول او دریم صورت کښے حرامه او نجسه ده او په دویم صورت کښے چه بچے ژوندے شه نو پاک او حرام دے - (چه ګنده

شوه او وینه شوه نو بیا خوښکاره ده۔ او چه هګۍ جوړه شه او لا روح په کښې نه وي ننوتلې نو ګنګس حرام او نجس دے چه کړکې یوجن رد دے۔ او چه ژوندی دے شه نو حیوان دے او په ژوندي حیوان د نجاست حکم نه شي لګیدلے)۔

د حیوان د فضلاتو بیان:- بهیدونکے وینه پلیته ده ټوله او خاصه حصه ئے۔ استعمال ئے داخلا او خارجا په هیڅ شان جائز نه دے۔ د ذبحه شوي جانور په مړئ پورے چه د ذبح کولو نه کومه وینه پاتے وي هغه پلیته ده بغیر ونځلو نه پاکیږي البته کومه وینه چه په رګو نو کښې دننه یا په غوښه وغیره کښې پاتے شي هغه بهیدونکے نه ده او دفعًا للحرج پاکه ده خوړے هم شي۔ او د وینه سوا بله وینه چه بهیدونکے نه دي پاکه ضرور ده خو داخلًا استعمال ئے جائز نه دے لکه د کتمل وینه څوک خوړل غواړي۔ د کوترے وینه په پروال لږه ول جائز نه دي ځکه چه بهیدونکے ده او د کتمل جائز دي ځکه چه بهیدونکے نه ده۔ حشرات غیر ذي دم مسفوح منلي شوي دي دا رنګه دریابي ټول جانوران کس لوئے وي او کس واړه ټول غیر ذي دم منلي شوي دي۔ او خو مکۍ مار چه د لویښتے نه کم وي هغه هم غیر ذي دم مسفوح منلي شو یدي نوونه او زوے او ټول هغه چه د زخمونو نه او ځي هرکله چه زودس پرے ماتیږي نو د وینے په حکم کښې دي په هیڅ شان ئے استعمال جائز نه دے تردے چه په زخم ماسته واچوي او په سبب ئے ختمي را په دوه وجهو جائز نه دي یو دا چه د هغه لا پرے پلیتے دي۔ او د نجس العین استعمال خارجًا هم جائز نه دے دویم وینے او نوونه پلیت دي په جانورهم د دے ختمل جائز نه دي۔

مسئله [16]:- کومه وینه چه جوړے او سکه هغه مسفوحه (بهیدونکے) او ناپاکه ده البته چه د جوړے د بدن جز جوړ شي نو د ماهیت د تبدیلۍ په وجه پاک شوه علامه ئے دا ده چه په را خکو د وسره ریخوړه ولوسره) تے وینه نه او ځي۔ د حلالو مرغو ټول فضلات سوا د وینے نه پاک دي مګر داخلا په وجه د ګنده ګۍ ئے استعمال جائز نه دے۔ د حلالو مرغو معده پاکه ده مګر حال چه ګنده ګي تے او وینځي د چرګ، بطے او مرغابۍ ګنګۍ هم پلیته ده۔

مسئله [17]:- محل مرارات (هغه را نجه چه د تریخو او به پکښې وي) کښې که د حلالو مرغو د تریخو او به وي نو بیا بلا تکلف جائز او پاک دي (سوا د مرغابۍ چرګے او بطے چه د هغے د تریخو حکم هم د هغوي د ګنګۍ پشان دے) او که د حرامو مرغو د تریخو او به په کښې وي او که د مرغو نه علاوه د بل ذي دم جانور د تریخې او به پکښې وي نو پلیت دي۔ او که په نسبت د تریخو د او بو نور ادویات پکښې سوا وي نو بیا جائز دي لیکن د ما نځه په وخت کښې به سترګے وینځي ر د دننه سترګو ته ئے حکم د ګیډے پشان دے

یعنې د دغه وینځل ئې ضروري نه دي) خو هله که او به ئې په ستړه د کړ پاسه بهیدلې وي او که دارو په کښې زیات نه وي بلکه اوبه پکښې غالبې وي نو بیا جائز نه دي ځکه چه نجس العین دی لکه تش بول۔

مسئله:[18]- د بیړې تریخې سره د اوبو د کوتې د سَر په دانه لړه ول د امام محمد رحمة الله په قول جائز دی ځکه چه د ده په نزد د ماکول اللحم جانور تش بول پاک دی۔ (د کوتې د سر په دانه ئې تریخې اولګاوه او لړې کول ئې مضر وو نو اوبه به پرې بهوي او که اوبه ورله نقصان وے بیا به پرې مسح کوي او که مسح هم مضر وه بیا به ئې پاتې کړي مونځ ئې کیږي)

مسئله:[19]- لوئې بول د ټولو جانورو سوا د حلالو مرغونو پلیت دی لیکن د کومو چه ځان ساتل ګران وي عفوه دی لکه د چم یا رېخمو د چینې بول چه د ډیر کوشش نه پس هم په رېخمو پاتې کیږي او د عامې بلوے په وجه ئې د خاپیرک بول هم پاک ویلی دی یعنې عفوه دی حتّٰی چه بعضې فقهاؤ د پیشو متیازو هم په کپړے پاک ویلی دی (یعنې عفوه دی) او په اوبو کښې پلیت لان المدار علی البلوٰی نو بنا په دے د مار غوګل او جورے غوګل به هم نجس وي۔ او شیانو مکس ر په ستړن وکښې د لړه ولو یو د وائي ده چه د مکښ غول پکښې اچوي) به پلیت وي ځکه چه عامه بلوٰی په کښې نشته۔ لیکن په ستړه وکښې اچول به ئې جائز وي ځکه چه د نورو دوایانو غلبه ده پکښې نجس العین نه دی البته د مانځه په وخت کښې ئې اینځل ضروري دي او چه بیا کستړه وښا هرا بهیدلی وي۔

مسئله:[20]- د حرامو مرغو غوګل هم پلیت دی لیکن نجاست خفیفه دے البته د کوهي په باره کښې ئې ورته عفوه ویلی دی د عامې بلوٰی په وجه۔ د نجاست د خفیفه کیدلو اثر په حرمت د استعمال نه پریوځي غلیظه او خفیفه یو شان دي صرف د مانځه په باره کښې فرق دے چه د غلیظ مقدار قدر د روپۍ دے او د خفیف څلورمه د جامې کومې اوبه چه په نجاست خفیفه سره پلیتې شوې وي هغه به هم خفیفه پلیتې وي او کومې چه په غلیظه پلیتې شوې وي هغه به غلیظې پلیتې وي۔

مسئله:[21]- د خاپیرک تشو بولو ته ئې پاک ویلی دی چا د عموم بلوٰی په وجه او چا په دے وجه چه خاپیرک حلال ګڼړي۔ (نو عفوه به ورته ویلې شي)

مسئله:[22]- د مرغونو سوا د حلالو حیوانانو فضلات لا پرے او څه چه ئې په کیده کښې وي په دے کښې فضلات یعنې څه چه ئې په کیده کښې وي او پا خانه او مني وغیره ټول نجس دي په نجاست غلیظه سره او تش بول ئې نجاست خفیفه دے۔ او د لاړې خولے او خیټے ئې پاک دي (لیکن خوراک ئې جائز نه دے)

مسئله ۲۳:- دَ مرغوښو علاوه دَ حرامو جانورانو ټول فضلات لکه چې اوخته چه په کیږه کښې وی پاخانه تش بول، منی، خوله، او خیرې ټول نجاستِ غلیظه دی نو هغه په دې دَ هاتی دَ غوږ خیرې هم پلیت دے۔ په بل شی کښې چه ملاؤ شی نو خارجاً ئې استعمال جائز دے (خو په مانځه کښې به ئې وینځی) خو چه خیرې پې غالب نه وی او یو ائځے یا په بل شی غالب بیا جائز نه دے۔ دَ خره او قچر خوله خلافِ قیاس پاکه ده نو دَ دوی خیرې هم پاک شه خارجاً ئې استعمال جائز دے۔

مسئله ۲۴:- دَ منګک تش بول پلیت دی مګر دَ دفع دَ حرج دَ پاره عفوه دی دغه شان دَ دهٔ دَ بچو دَ عفوِ حکم به دَ حرج دَ موقعو پورې محدود وی مثلاً بچې ئې په خه دوائی یا عرقو کښې پریوتے په دے شرط چه ماتے نه شی او خلط نه شی یا په مقدار کښې زیاتے نه وی۔ او قصداً به ئې استعمال جائز نه وی لکه په کیږه پورې تیل یا سپی خوږلی لوئے ورکول مګر که بله دوائی نه وی بیا خیر دے ځکه چه دا ډیر مجرب دی۔ (ترکیب ئې دا دے چه دَ منګک بچی یوه توله او یوه کوه دَ ماش په پوخ دال کښې مِلا وهه او هٔ ورځے پے او خوره وه دَ تولو لیونو جانورو دَ بچولو دَ پاره مجرب دے۔ بله نسخه داده دَ کهرے یا بیزے وَ بهئ یوه توله تورے په یوه توله کره کښې چه زېره کړه وی دوا په دومره او تکوه چه مرهم تے جوړ شی بیائے شپږ خوراک کړه او یو خوراک دوزانه ورکوه)۔

مسئله ۲۵:- دَ انسان خوله، خیرے، اوښے، کرنګک، لاړے پاک دی لاړے په سجوپی لبزه ول یا په سترګو کښې لبزه ول او دَ غوږ خیرے په خارجی استعمال کښې را وستل جائز دی داخلاً هم په وجه دَ خباثت جائز نه دی۔ دَ دینه علاوه نور ټول انسانی فضلات نجس دی نه داخلاً جائز دی نه خارجاً۔ او لبز تے چه اودس په شماتیږی ناپاک نه دے مګر خبیث دے داخلاً جائز نه دے۔ (پٔ دَ هر ے بنځے پاک دی خو دَ بچی دَ خوراک دَ پاره دی نورے استعمال په هیڅ شان جائز نه دے۔ تفصیل ئې تیر شویدے)۔

متفرّقات

په دے کښې دَ جمادات او نباتاتو دَ مرکبو اشیاؤ او دَ متفرقو مسئلو بیان دے بره بیان شوی دی چه په اسلامی شریعت کښې دَ یو شی دَ حرمت وجهٔ څلور دی نجاست یا مضرت یا کرکه (خباثت) یا نشه۔ چه پاک او پلیت یو ځائے شی نو حکم به دَ پلیت وی هان دومره تفصیل دے چه که پلیتی په بل شی غالبه وه نو حکم به دَ نجس العین وی یعنے استعمال به ئې خارجاً او داخلاً جائز نه وی مثلاً په یوه لوته تشو بولو کښې چا یو چونګ اوبه واچولے او خارجاً ئې استعمالوی نو جائز نه دی۔ او که بل شے په پلیتئ غالب وه نو پلیت دی لیکن خارجاً ئې استعمال

جائز دي مګر د مانځه په وخت کښې به ئې ضرور پاکوي او احتیاط خو دا دے او که پاک پلیت یو ځائے شو او بیا ئې ورله پاکوالے د اوست یعنې په معتبره شرعي طریقه سره ئې ورله پاکوالے راوست نو د پاکوالي حکم به ورله واپس راشي ورنه هغه شے به ناپاک وي۔ او چه ماهیت ئې بدل شي نو هم پاکوالے راځي۔ او چه مضر او غیر مضر شے یو ځائے شي نو که په دے ملاوهلو ئې نقصان ختم شه نو ممانعت هم ختم شه۔ لکه د سنکیا سره د دے اثر ختمونکے شے ملاؤ شي یا زهري شے مد برکړي بقدر د غیر مضر ئې او خوري۔ او چه خبیث او غیر خبیث ملاؤ شي نو که خباثت (رک رک) باقي وه نو د حرمت ورنه د حلت حکم به وي۔ مثلاً په دیګ کښې چې پریوت نو که په بشور واکښې حل نه شه نو د هغه چې خوړل جائز نه دي او که خلط ملط شه پکښې یعنې ورک شه نو په تحول کښې ئې کښې یو چې ملاوید عرفاً خباثت نه دے نو هغه بشوروا حلال ده حالانکه د چې اجزا په کښې یقیني موجود دي۔

دماهیت بدلید و بیان :- د ماهیت په بدلید و سره احکام هم بدلیږي مثلاً د انګورو اوبه پاکې دي لیکن چه یو بل شے یعنې شراب تے جوړ شو نو پلیتے شوے او د شرابو نه چه بیا بل شے یعنې سرکه جوړه شوه نو پاکه شوه د ماهیت بدلیدو دا معنیٰ ده چه د یو شي نه بل داسے شے جوړ شي چه حکم ئې د هغه نه بالکل خلاف وي مثلاً د پلیت شي نه یو داسے شے جوړ شه چه هغه شے پاک دے نو هغه پلیت شے پاک شه۔ مثلاً سوره پلیته ده خو چه خاورے شوه نو خاورے خو یو پاک شے دے نو پاکه شوه۔ یا اګئ پاکه ده لیکن وینه تے جوړه شوه او وینه یو پلیت شے دے نو پلیته شوه او کله چه د دغے وینے نه د غوښې ټکړه جوړه شوه نو غوښه بنه پاک شے دے بیا پاکه شوه او که انقلاب داسے شي طرفته او شه چه حکم ئې هم هغه وه کوم چه د انقلاب نه مخکښې وه نو هم هغه حکم به وي که پاک وه نو پاک او که پلیت وه نو پلیت۔ مثلاً پاک هډوکے او سوه زیده ایره شه نو انقلاب راغے خو حکم ئې هم هغه دے ځکه چه ایره هم پاکه ده۔ او که د نطفې نه وینه جوړه شوه نو انقلاب راغے خو د ناپاک نه ناپاک طرفته نو حکم نېچل ځائے دے هان کله چه تے د غوښې ټکړه جوړه شوه نو پاکه شوه ځکه چه غوښه بنه پاکه ده۔ او که انقلاب پوره رانغے یعنې دا دویم شے تے جوړ شو نو ماهیت ئې بدل نه شه صرف یو قسم تبدیلي پکښې راغله نو بیا احکام نه بدلیږي لکه د ناپاکو غنمو نه چه وړې چنه شوه نو ځائے د غنمو خونے شکل که چه وړے جوړه شه لیکن دا دویم شے جوړ بدل نه ګڼلے کیږي۔

مسئله ۱:- که حشرات د زمکې ئې په شیشه کښې بند کړه او کا او د ګرمۍ ورکولو په ذریعه ئې تې تیل جوړ کړه نو د دے خوړل جائز نه دی دا صرف دا سے استعمال راغلی لکه د نا پاکو غنمو نه چه نسا سته او باسی یا د پلیتو او بو نه عرق ز د دینه د مار د تریا ق حکم را اووت (تریاق الافاعی یو مرکب دے چه د مار غوړه پکښې وی) داحرام دی کذا فی کتب الفقه)

مسئله ۲:- لوګے د هر شی پاک دے ځکه چه لوګے د هغې سیز لو شوو اجزا وَه نوم دے چه د چیر ورکو توالی او سپکوالی په وجه د ګرمۍ د اثر نه اَلوَزی یا د کوټلے باریکے ټکړے دی او بنکاره خبره ده چه کوټله (سکاره) د سوه زیده لو نه پس وی او سوَزیدل د ماهیت تبدیلی ده.- او بخار یعنې تَپ د پلیت شی پلیت دے ځکه چه په تَپ کښې (ریزا س کښې) سوه زیدل نه وی بلکه هغه اُو به وی چه د حرارت (ګرمۍ) په وجه اَلوَزی ګویا څوک چه اُو به غوزاری او که لوګے او تپ یو ځائے شو نو پلیت به وی ځکه چه پاک او پلیت خلط شو د لوګی او تپ د ملاویدو علامه دا ده چه یو ځائے جمع شی او ځاځی د لوند شی نه که توررنګ تپ او چت شی نو هغه تپ او لوګے ملاؤ دی.

مسئله ۳:- که ماء اللحم ئې جوړ کړه او په هغې کښې وینه یا بل پلیت شے پریوت نو عرق به بیا نجس او حرام دی او که په ماء اللحم کښې د ختو چینجی وغیره غیر ماکول پاک شے او غورزه وَلے شه نو سکل ئې بیا حرام دی (اګر که ناپاک نه وی) ځکه چه په دواړو صورتو نو کښې ماهیت نه دے بدل شوے.

مسئله ۴:- د خرګوش اُوچے پچے ئې په چیلم کښې پکے کړے نو د بادو د پاره د دے سکل جائز دی ځکه چه لوګے پاک دے اګرچه په اوبو کښې راغلے دے ځکه چه په اوبو کښې د را تلو نه اول پاک وَه - او که لوندے پچے ئې په کښې وا چولے یا ئې اُوچے په شیره کښې ملاؤ کړے نو د دے لوګے د تپ سره خلط شه په دے وجه پلیت دے او چلم خو له اُو به هر څه پلیت شو-او سکل ئې حرام دی-

مسئله ۵:- پلیت شے په اوبو کښې پخول او تپ ئې اَغِستل یعنې په تپ ئې کینا ستل بائے تپ کېږ و له ورکول د پلیت شی د پو دے کولو په حکم کښې دے یعنې فی نفسه جائز دے مګر بدن یا کپړه به پلیته شی په دے شرط چه دومره تپ واخلی چه څاڅکی تے او څاڅی او صوف په ګرمید و د نجاست حکم نه شی لږه وَلے-

مسئله ۶:- نوشادر د خره په مُتیَازو کښې یا په بل پلیت شی کښې یو ځائے کړی او په لوخی کښې کیدی او د پاسه پے بل لوښے کیدی عرق تے او باسی نو څو مره عرق (جوهر) چه په پورته لوخی کښې جمع شو هغه پاک نه وی ځکه چه د دغه

پلیتو نوشادرو بخارات دی - او په بخارا تو سره دَ ماهیّت تبدیلی نه راځی -

مسئله ۷:- ایره دَ هر شی پاک ده ځکه چه ماهیّت ئے بدل شه نو په دے بنا دَ انسان دَ هډوکی او دَ خنزیر دَ هډوکی ایره هم پاک ده او حلال ده داخلاً وخارجاً ئے لبزه وله شی - (دَ څه نقصان پوچه که مضره وه هغه بیا بل خبره ده که مُضره وی نو بیا دَ خاورے په حکم کښے ده) لیکن دَ انسان هډوکی سوزه ول مسلمان له جائز نه دی که څه ضرورت وی نو دَ هند وانو دَ مړو سیزولو دَ ځائے نه دے ایره را وړی - (رفاسفورس خوړل جائز دی ځکه چه دا دَ هډوکو دَ ایرے نه جوړیږی او ایره دَ هر شی پاک ده پوچه دَ تبدیلئ دَ ماهیّت)

مسئله ۸:- که په تیلو کښے ئے دَ زمکے حشرات او سوزول سکاره ئے کړه نو دَ دے تیلو خوړل لبزه ول یا دَ رنغے سکاره شوی څیز خوړل او لبزه ول ټول جائز دی ځکه چه دَ ماهیت بدلیدو پوچه خباثت ختم شه او که غوښان یا بل دا سے پلیت شے ئے په تیلو کښے او سوزاوه تسکاره ئے کړو نو هغه شے دَ ماهیّت دَ تبدلئ پوجه پاک او حلال شه دَ تیلو نه به ئے بنۀ پاک کړی پکار به ئے راولی او تیل پلیت دی ځکه چه پلیت شے ئے په کښے اچولے وَه نو پلیت شوی دی او بیا په څۀ طریقه سره پاک شوی نه دی - نو خارجاً ئے استعمال جائز دے خو دَ ماځه پوخت کښے به ئے وینځی او داخلاً جائز نه دے -

مسئله ۹:- دَ پلیتو او بوصهے پاک او حلال دے ځکه چه کو ے اوُیه هغه سکلی دی هغه ئے دَ بدن جُز جوړ شوے دے او ماهیت ئے بدل شوید ے البته کو ے او به چه پورے دَ پا سه نختے وی هغه به تے او وینځی - او که په دے مهی کښے دَ پلیتو او بو بدبوئی موجوده وه نو بیا مکروه دے دَ دے وریځ دے په پاکو او بو کښے پریدی بیائے استعمال کښه دا وستےشی - مګر دَ ده کراحت دَ کند کئ خوړ ونکے غواښکم دے ځکه چه هغه عینِ نجاست خوری او دے په بل شی پلیتے شوے او به سکی -

مسئله ۱۰:- په چرګړ ئے څه پلیت شے چینجی یا دَ شیر چړی وغیره او خوره وله څۀ ئے څر به کړه نو دَ دے چرګے خوړل جائز دی البته که دَ غوه بنے نسئے دَ دغه شی بوئی راتلو نو مناسب ده چه درے ورځے ئے بند ه کړی پاک شے پے او خوره وی او بیا ئے اوخوری - دا سے جانورته جَلّاله وائی جلّاله ته ئے په فقه کښے مکروه تحریمی لیکلی دی مګر مراد تے هغه دے چه صرف نجاست خوری تردے چه دَ هغه په غوه بنه کښے دَ هغے نجاست بوئی وی او که یوائے نجاست نه خوری نو بیا مکروه تحریمی نه دے البته غوره دا ده چه دے هم درے ورځے بند کړی

بیا ئې او خوری۔ کہ پلیت شی جا نورلہ دَ ورکولو ترکیب دادے چہ یو ځائے هغه شے اوغو رزه وی اوجا نور ورته راتئ کاری هغه ئې پخپله اوخوری او پخپل لاس دے دَ هغه په مخ کښې نه اچوی - دغه شان کله چه دَشرابونه سرکه جوړه وی نوسرکه دے را وړی په شرابو کښې دے واچوی داسے نه چه شراب ئے په لاس کښې راغستی وی اوکر ځی -

مسئله ۱۱:- که دَ ناپاکو اوبو تپ بدن ته اورسید نو بدن ته به هله ناپاک ویلے شی چه دومره تپ په بدن جمع شی چه اویه ئې اوڅاڅی یعنی یو څاڅکے دوه - ورنه صرف په تپ رسید و سره دَپلیتئ حکم نه شی لږه وَلے کله دَ نجاست بوئی چه دماغو ته اورسی نوپه دے هیڅ حکم نه شی لږه وَلے بنا په دے که بدن یا کپړے ته دَ نجاست بوئی اورسی په لوګی یا تپ سره نو دَ نجاست حکم پے نه شی لږیدے -

مسئله ۱۲:- که منګئے دَ څه شی نه چک کړه او دَاَسِ په خړشتو یا بل پلیت شی کښے ئې بنځ کړه او دوه میاشتے پس ئې مثلاً را اوویسته نو که دَ نجاست اثر دَمنګی دننه ته رسیدلے وَه او دَ دغه شی یا منګی دننه دَ نجاست بد بوئی محسوسه کیده نو هغه شے به پلیت وی ورنه نه دے - مناسب دا ده چه دَ منګی دَ پاسه کولتار یا رال وغیره داسے روغن اولږه وی چه نجاست ئے دننه جذب نه شی ځکه چه په خړشتو کښې دَ دفن کولو نه دا مقصود نه دے چه نجاست اجزاء شمول اوکړی دَ ته بلکه مقصود صرف حرارت رَسَوَل دی چه دَخړشتو سره خاص دی۔ که دَ اوسپنې لوخے داخلی او دَخاورو لیو ورله ورکړی نو بیا هم مقصودی حرارت حاصلیدے شی۔

مسئله ۱۳:- دَ بهیړئ یا خانه کښې وتلے هډوکے فی نفسه پاک دے دَپاسه نجاست بہ تے ورے پریږے او وینځئ او دَهډو ارو ینځلو سره پسے ئے دومره پاتے کوی چه اوبه تے بنے او څاڅی - لیکن خوراک ئے جائز نه دے ځکه چه معلومه نه ده چه دَ حلال جانور دے او که دَ حرام -

مسئله ۱۴:- پنیر مایه پاک او حلال دے خواه دَشتراءاَبی وی یا دَ بل ماکول اللحم جانور- ماهیت ئے دادے چه شید خوارِ بچی ته پئ اوسکوی فوراً ئے ذبح کړی او دَ هغه دَ کیډے نه هغه پئ را اوباسی چه تمدرے منجمد شوی وی په دے کښې دا اثر وی چه سیال سے جامد هی او جَمَ شے ویلے کوی او نو رهم دیرخواص دی په کښې او دَ دینه جبن یعنی پنیر جوړه وَلے شی دَ دے حلت خلاف قیاس دے ځکه چه ما فی المعده دَخړشتو غوښا نو په حکم کښې دی لیکن دَ جبن حلت او طهارت ثابت بالنص دے د رپه پے شماره احادیثو سره ثابت دے) او متفق علیه دے پودے وجه دَ دَه ته هم حلال او پاک او ویلے شو- ځکال په دے نه شی قیاس

کړلے ۔ (ځاروی چه د معدے نه خوراک را اوباسی او شخوند پے کوی دیته جګال وائی)

سوال ۱۵ :۔ مسلمان طبیب غیر مسلم کو پلیته دوائی ورکولے شی یا نهٔ؟ که ورکولے شی نو چه مردار او شراب هم په دے کښے داخل دی یا که نه دی؟

جواب :۔ جائز دی په دے شرط چه هغه غیر مسلم مریض د خپل مذهب په روسره هغے له نجس یا ناجائز نه گنړی او بیا د اطلاع نه هغه مریض پخپله استعمال کړی نو خواه هغے له نجس یا غیر نجس څنګه چه گنړی جائز دی او شراب هم په دے حکم کښے داخل دی په دے شرط چه دا طبیب نے صرف زبانی خائی یا ورله لیکلے نسخه ورکوی او که خپله دوائی ورکوی نو دا دوائی که نجس العین وی لکه شراب یا تش بول وغیره نو ناجائز دی۔ مسلمان له د نجس څیز قیمت اخستل په هیڅ شان جائز نه دی لکه بعضے سوداګر شراب یا بعض اقسام د ولایتی غوړه بنے خرڅوی کړے قیمت د غیر مسلم نه هم اخستل جائز نه دی۔ د شرابو نه مراد هغه څلور قسمه شرابونه دی کوم چه کرسالے په اول کښے لیکلے شوی دی او حرمت ئے په نص سره ثابت دے۔

سوال ۲ :۔ فاسفورس خوړل جائز دی او که نه؟

جواب :۔ جائز دی ځکه چه فاسفورس د هډوکو ایرے نه جوړیږی او ایره د هډوکی پاک ده په وجه د تبدیلئی د ماهیت۔

خاتمه :۔ د دیه ځکښے چه څهٔ بیان شو د ے تعلق د هغه اشیاؤ سره وُه چه په علاج کښے استعمالیدلے چه جمادات حیوانات او نباتات وُه او د دے سره د هغے افعال ذکر هم کوم چه د علاج کولو په وخت کښے رواج دی او شرعًا ممنوع دی۔ مناسب دی چه د دینه هغه ذکر شی کوم چه ډیر واقع کیږی و نکی دی نو هغه دلته بیانیږی۔ هغه د مریض د عورت پټو لو متعلق دی چه بے احتیاطی په کښے کیږی۔ د خوش قسمتئ نه دا مضمون د حضرت مولانا د قلم نه وتلے په پرچه القاسم کښے ماه جمادی الثانی ۱۳۳۱ھ کښے د نظره تیر شوے وه نو د تبرک د پاره دلته بجنسه نقل کړلے شی۔

مولنا صاحب فرمائلی دی :۔ یوه بے احتیاطی دا کیږی چه د مریض د ستر پټولو احتمام نشی کولے که ډنګون ئے ښکاره شی نو څه پرواه نه شی کولے که ورون ښکاره شی نو څه خیال نه شی کولے ۔ که د علاج د غرض د پاره د څه موقع د ښکاره کولو ضرورت وی او که تنه حاجت وی نو احتیاط نه کوی چه په قدر د ضرورت د ومره بدن ښکاره کړی د څومره چه ضرورت دے یا ئے صرف د هغے خلقو په مخ کښے ښکاره کړی د کوموچه د علاج سره ضرورتًا وتعلق دے۔ خو علاج کونکی ورته هم کوری او نور

حاضرين او بيمارپرسي کونکي ورته هم ګوري بلکه دا هم ردي ګڼړي. غرض دا دے
چه نورو له کتل جائز دي او د علاج کونکو له د قدر د ضرورت نه زيات ته کتل جائز
دي. تر دے چه که د بچي کيدو په وخت کښې کافره دائي دا شي نو که ضرورت وي نو د
ټول مقام ته ئې کتل جائز دي ليکن په دے وجه چه دا کافره ښځه ده نو دا د نامحرم
سړي په حکم کښې ده د دے په مخکښې د مسلمانے ښځې سر ښکاره کيدل حرام دي ځکه چه د
ته ضرورت نشته - دغه شان که ښځے له رګ وهونکے رګ وهي (يا ستن ورله وهي)
نو ناس هغه ځائے د رګ (يا د ستنې) ته ئې کتل جائز دي ليکن نور حاضرين به د هغه ځائے
نه پټ کوي چه نور څوک ورته او نه ګوري نورو ته اجازت نشته چه د دے د لاس
دغه ځائے ته او ګوري (او نه ئې دغه علاج کونکي بل ځائے ته کتے شي نور به ښځه بالکل
پټه وي مخ سر وغيره هر ځائے به ئې پټ وي) دغه شان که په سنت کولو کښې بچے پوهه
وه (يعنې ځان ښکاره کول ئې بد ګڼړل) او که ده بدن ته په ښکاره کتل جائز نه وُو-
نو سنت کونکي ته بغير د ځائے د سنتو نه بے له ضرورته بل ځائے ته کتل جائز نه دي (د کوم
حکم چه په وجه د ضرورت وي هغه د ضرورت د حده پورے محدود دي) - او نورو خلقو
له ورته کتل جائز نه دي - دغه شان که په پټ اندام دانه وغيره وي او په هغې
پهه کول يائے څيرل وي نو د علاج کونکي نه سوا د بل چا ورته کتل جائز نه دي-
(حضرت والا عبارت ختم شه - د دينه د دے اوسني نوي رواج په طريق اولې سره
ترديد اوشه چه نن صبا په خلقو کښې شروع شوے دے چه د ښځې بچي کيدي سړے
ډاکټر به ورله راولي (او ډاکټر خو پريده بابوګان وغيره ورله راولي چه هغه
هم په دے چل پوهيږي هم صرف ستن وهل به ئے ايزده کړي وي) نو چه ستر
د عورت د جنس ځنې نه ضروري دے او بغير ضرورت نه جائز نه دے نو غير جنس ته
څنګه جائز شه - او په غير جنس کښې چه څومره لرے والے راځي دومره سختي به نهي
ممانعت او حرمت کښې زياتيږي. د مسلمانے ښځې هم جنس نزدے مسلمانه ښځه ده
اول خو به د ضرورت پوخت کښې ښځې ته رجوع کوي د دينه پس بيا کافره ښځه ده
چه د اجنبي سړي په حکم کښې ده - بيا مسلمان سړے دے يعنې ډاکټر خو چه ضرورت
پيښ شي- بيا کافر سړے دے - داسے نه چه په اول قدام کښې کافر سړي ته اوور شو-دا
سخته بے حيائي او ګناه دے - او ضرورت ئے قابل تسليم نه دے - چه دا رواج نه وُه
شروع شوے هم به برابر بچي کيدل - اوس هم چه کوم موکورونو کښې حيا او غيرت
دے بچائے خۀ په حيا او عزت سره کيږي - او دائي ګانے په پرده سره ورکار کوي
او په رواج غورزه ولو سره ډير مشکلات مخ له راځي - ګوري د يورپ خلق چه ته
ديسي علاج نه کوي حالانکه دا خبره تسليم شويده چه په بعضے علاجونو کښې ډاکټري

علاج ناکامیابه دے او دیسي علاج خاطرخواه کامیاب دے لیکن دوی د بعضے دنیاوی مصلحتونو په وجه ځان د دیسي علاج سره نه عادت کوی نو کوم کار د هغو بند دے - دغه شان که د شرعي مصلحتونو په وجه مونږ د ډېر کېد و د پاره ډاکټر غوره نه کړو او رائے نه ولو نو هیڅ کار نه شی بند پاتې - ز د ډېر پېد اکېد وخت او خومره تکلیف چه د ډېر کېد و په وخت کښې وی هغه ډاکټر کمولے نه شی او نه ئے د خپل وخت نه مخکښې زېږولے شی - ځکه چه ډاکټران نه وو نو د ډېر به نه پېد اکېدل خو اوس اکثر ښځے وائی چه، اوس ډېر ګران شوی دی بغیر ډاکټر نه کېږی خو دا خبره صحیح نه ده ځکه هم په هغه خپله زړه طریقه کېږی به دے نظام کښې هیڅ تبدیلی نه ده راغلے خو ځکه اخلاق حیا ناک نه او صبر ناک وو اوس صبرا و حیا لاړه هر سړے دا غواړی چه د ورځے کار په ګینټه کښې د ګینټے په منټ کښې او د منټ کار په سیکنډ کښې اوشی خیر دے که حیا او پرده ما تېږی شی - او اکثر خو په کښې وائی د ډاکټر نه پرده نه کېږی - داولے ډاکټر څه پلار رور یا خاوند خو نه دے پردے سړے - چه اجل مقرر وی هغه د ډاکټر په تجویز نه شی وا پس کېدے ډېرے ښځے داسے هم لیدلے شوی دی او لیدے شی چه ډاکټر لسئے یوسی او مړه ئے را وړی - او ډېرے حیا ملکے او صبر ناکے ښځیدل کورکښې خدٔ په حیا او عزت سره ډېر را وړی - او په ډاکټر را وستو سره یا ډاکټر نه بوتلو سره څه تکلیف چه وی د ډېر کېد و هغه یوه ذره کم نه شی کولے نو ځان ګناه ګاره ول نه دی پکار - مترجم) د حضرت ولا په تحریر کښې د نامحرم لفظ راغلے دے په دے هم ځان پوهه کول غواړی چه محرم څوک دے - محرم شرعی هغه دے چه په ټول عمر کښې په هیڅ شان د هغهٔ سره نکاح جائز کېد و څه امکان نه وی - مثلاً پلار، خوئے، حقیقي رور، یا علاتی رور، یعنے چه پلار د دواړه یو وی، یا اخیافی رور، چه مور د دواړه یوه وی، یا د دغے رونړ و اولاد، یا دغه شان د دے درے طریقو د خوېند و اولاد، او د دے پشان نور چه د کومو سره همیشه نکاح حرام وی - او د چا سره چه په ټول عمر کښې هم چرته د نکاح صحیح کېد و احتمال وی هغه شرعاً محرم نه دے بلکه نامحرم دے - او کوم حکم چه په شریعت کښې محض د اجنبی او غیر سړی دے هغه د هغهٔ دے خواه که هر څومره نزدے رشته دار وی لکه د ترونو تروړا نو ماماګا نو ځامن، یا لیوروش، یا د خور خاوند، یا د نند رور خاوند وغیره ټول نامحرم دی د دوینه داسے پرده پکار ده لکه څنګه چه د پردی سړی نه - بلکه په داسے موقعو د زیاتے فتنے احتمال دے نو د نامحرم رشته دارانو نه به پرده د غیر و خلقو نه هم زیاته کوی -

مسئله ۱۷:- د ښځې جسم شرعي محرم ته هم د نامه نه د زنګونو نو د لاندې پورې او ملا او ګیډه ليدل يا مَسَه کول حرام دي، باقي سر، مخ، لاس، ليچې، ختګې په وخت د ضرورت کښې ښکاره کیدل خیر دے۔ او بغیر ضرورت د دے ليدل هم ګناه دے۔ او نامحرم (يعنې هغه رشته دارانو ته کوم چه د پردې په حکم کښې دی لکه چه اوس بیان شو۔ او پردی ته) هیڅ حصه د جسم هم ليدل جائز نه دی البته په ډیر سخت ضرورت کښې د مرونډ پورے لاس او د ښپې کی پورے ښپے جائز دی۔ دامضمون په دے وجه اولیکلے شه چه طبیب او ډاکټر د ښځو په علاج کښے ډیره بے احتیاطي کوي او بغیر د څه ضرورته به ورلی په ګیډه وغیره لاس وهي يا د کسبيانو تلدراتلل مطب ته د مطب رونق او فروغ ګنړي۔

ختم شوه ضمیمه د نهمے حصے

اطلاع :- د دے رسالے ټول مسائل کوم چه دقيق او غور طلب وه د حضرت والا په کوشش او مرسته سره د کتابونو نه حل شوی دی او د مدرسه مظاهر العلوم نه دستخط شوی په اصلاح الطب کښې ټول درج دی دا د هغه خلاصه ده چه د لته او ليکلے شوه الله پاک دے زمونږ ګناهونه معاف کړی آمين۔

کاتب ومترجم:- ابوحسین سواتی۔ (رتمت) ۱۳ نومبر ۱۹۸۳ء روز اتوار

دجنت کلے لسمه حِصّه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

په دے کښے دا سے خبرے زیاتے دی د کومو نه چه په دنیا کښے ښځله خپل ځان ته هم آرام دے او نورو ته ئے هم تکلیف نه وی۔ او دا خبرے خو په ظاهر کښې د دنیا معلومیږی لیکن پیغمبر صلے الله علیه وسلم فرمائلی دی چه پوره مسلمان هغه دے چه د هغه د لاس او د ژبے نه چا ته تکلیف اونه رسی۔ او دائے هم فرمائلی دی چه مسلمان له مناسب نه دی چه په سخت تکلیف کښے اونغلی ځان ذلیل کړی۔ او دا هم راغلی دی چه پیغمبر صلے الله علیه وسلم به په وعظ کښے د دے خبرے خیال ساته چه او ریدونکی ستړی نه شی او دائے هم فرمائلی دی چه میلمه دے دومره نه حصاریږی چه کوروالا تنګ شی۔ د دینه معلومه شوه چه تکلیف برداشت کول يا چا له تکلیف ورکول یا داسے سلوک کول چه بل پے ستړے شي یا تنګ شي دا هم د دین نه خلاف ده۔ په دے وجه د دین د خبرو سره داسے خبرے هم په دے کتاب کښے لیکلے شوے دی چه په نے سره ځان ته او نورو ته آرام رسی۔

بعضې خبرې د سليقې او د آرام

۱:- چه د شپې د کور دروازه بندَ وې نو اوّل څهٔ او ګوره چه څوک سپي پيشو خو دننه نه ده پاتې شوې ځکه چه د شپې بيا څه شي ته نقصان ورسوي يا تول شپه درته ګړ ګړ کوي او د خوب به دې اوباسي۔

۲:- خپلو کپړو او کتابو نو له کله کله غارمه (نمر) ورکوه۔

۳:- کور صاف ساته او هر شے په خپل ځائے کده۔

۴:- او که خپله تند رستي غواړې نو د ځان نه ډير آرام طلب مه جوړه وه د محنت څه کار په خپلو لاس کوه د تولونه ښهٔ کار کول د ښځو د پاره ميچن کول دي يا تيکول يا څرخه کول په دې سره بدن تندرست کيږي۔

۵:- که د چا سره ملا ويد ولے نو هلته د ومره مه کينه يا د ومره خبرې ورسره مکوه چه هغه تنګ شي يائے څه کار پاتے شي۔

۶:- تول د کور خلق دے د دې پابند وي چه د هر يو شي د پاره يو ځائے مقرر شي نو چه د هغه ځائے نه ئے را واخلي او کار ئے اوکړي چه بيائے هغه ځائے ته اورسوي چه بيا ورته د بيا حاجت پيښ شي نو چه ګرځي پسے نه۔ او په ځائے بد ليد وسره بيا ډيرے پلرے هغه نه موندے کيږي نو هر چا ته تکليف وي۔ او کوم شے چه خاص ستا د استعمال دي هغه له هم ځائے مقرر کړه چه د ضرورت په وخت پسے بيا ګرځے نه۔

۷:- په لاره کټ يا کټهرے يا بل لوښے کته ښخته لرګي وغيره مه غورزه وه۔ اکثر په تياره کښے يا بعضے وخت د دسځے بے خياله څوک را روان وي او هغه ورسره ټکر خوري او کله کله خوږ هم شي۔

۸:- کله چه درته څوک د څه کار او وائي نو غوږ ورته کده آوره ئے او هان يا نا په ژبه خامخا وايه چه د ويونکي زړه يو طرفته شي ځکه چه هغه وائي او کنړي چه دهٔ وا وريده او ته آوريدلي نه وي۔ او يا هغه دا سے او ګنړي چه دا کار به او کړي او ته ئے نه کوے نو بيا حقه به هغه ستا په طمعه شي۔

۹:- مالزه په خوراک لږه کمه اچوه ځکه چه د کے علاج کيږي او که زيا ته شي نو بيائے علاج نشته۔

۱۰:- په دالو ساګو کښے مرچکے دړو کے دړو کے مه اچوه بلکه ميده کوه ئے ځکه چه کله پټ او تخم د غاښو په مينځ کښے را شي نو خولهٔ ورته وي۔

۱۱:- که د شپے اوبه سکے نو که رڼا وي ښے ئے ورته ګوره او که رڼا نه وي نو په لوښي کپړه وغيره کده چه څه شے ورسره او نه سکے۔

۱۲:- چې په خند اخيستلو اوچت مه ږغېږه او د کهرکۍ وغيره نه هم مه زوروړه ده هسې نه چې کله سوښه دې خلاص شي او کله ټوخې نه ټوقه جوړه نه شي. دغه شان په خند اخيستلو نغله مه هسې نه چې ملا چرېونۍ او خوږ شي.

۱۳:- چې لوښې خالي شي نو فوراً يې اينجه او الټه يې کړه او چې دوباره يې استعمالوې نو بيا يې اول اينجه او هله يې استعمال کړه.

۱۴:- چې لوښې په زمکه کېږدې او ساڼي پکښې واچوې نو بيا چې په دسترخوان يې کېږدې نو اول يې وينځه او کوره هله يې کېږده.

۱۵:- د چاکره چې ميلمانه شي نو د خپله شي فرمائش ورته مه کوه. کله کله هغه شي د ډېر معمولي ليکن د وخت خبره وي موندې کېږي نه نو ناحقه شرمنده وي.

۱۶:- کوم ځای چې نور خلق ناست وي هلته چې کېنې نو لا پرې مه توکه پوزه مه سوړوه، او که ضرورت شي نو يو طرفته لاړه شه او ځان فارغ کړه.

۱۷:- د خوراک په وخت کښې د داسې څيز ونو نوم ماخله چې خلق تري کرکه کوي د بعضې خلقو مزاج نازک وي هغوي ته ډېره تکليف وي.

۱۸:- که بيا ريا د هغه د کورو الو په مخکښې داسې خبرې مکوه چې نا اميدي پکښې دې ده وجه نه زړه غور نيږي بلکه د تسلۍ خبرې کوه چې انشاء الله تعالیٰ خه به شي.

۱۹:- که د چا پټه خبره کوې او هغه هم هلته موجود وي نو په سترګو يا لاس سره هغه ته اشاره مه کوه ـ بې وجه شک مند کېږي. ـ خو دا هله که د دې خبرې کول په شرع کښې جائز وي او که ناجائزه وي نو بيا خو د داسې خبرې کول ګناه دي.

۲۰:- د خبرو کولو په وخت کښې چرې لاس مه وهه.

۲۱:- په لمنه لستوڼي د ځادر په پيڅکي پوزه مه پاکوه.

۲۲:- د لويو بولو په ځای کښې اودس مه کوه. بل ځای ته کېږه. (اودس ولو د لويو بولو ځای له اوبه نه دي وړل پکار بلکه لوټې دې وړي او دس دې بيا بل ځای کوي).

۲۳:- پينځه هميشه ټکوهه نو بيا يې په خپو کوه هسې نه چې څه موذي شي جانور پکښې وي. دغه شان کپړې او بستره هم.

۲۴:- د پردې ځای چې د چا دانه نکۍ وغيره دي نو هغوي ته مکوه چې پکوم ځای دي. بر ناحقه يې مه شرمنده کوه. (ځکه چې د پردې د ځای پټو سبب کاره دي)

۲۵:- د خلقو د اوختورا او ختو ځايۍ کښې مه کېنه تا ته به هم تکليف وي او نورو ته هم.

۲۶:- په يوه ن او کپړ وکښې بد بويي مه پيدا کوه. زر زر يې وينځه او لاومبه.

۲۷:- چې خلق ناست وي نو جارو مه کوه.

۲۸:- خاورې خزلې په خلقو د پاسه مه غورزوه.

۲۹:- د چاقو قینچۍ تا ستنې وغیره سره لوبې مه کوه خوږ به شې پې -

۳۰:- کله چه میلمه راشي نو د هغوئ اول ورته د پاخانې ځائې اوخایه او د هغه د سورلۍ رچه پکښې راغلے وي) د آس خاروي د خوراک سکاک بند وبست اوکړه - او دومره په خوراک کښې تکلف مه کوه چه هغه ته په وخت خوراک ملاؤ نه شي خوراک په وخت پخوه آکر که ساده او معمولي وي - او کله چه هغه ځي نو د وخته او زر ورله خوراک تیار ه وه - غرض داسې چه د ده په آرام او مصلحت کښې خلل مه غورزه وه -

۳۱:- په تومکاخ په غسل خانه یا پاخانه کښې د ننه تړه نو بیارا اوځه -

۳۲:- چه کله درنه څوک د څه خبرې تپوس اوکړي نو اول هغه له جواب ورکړه بیا حله په خپل کار کښې لګیا کیږه -

۳۳:- چه کله څه خبره کوے یا چاله جواب ورکوے نو په واضحوا الفاظو کښې خبره ورته کوه - چه هغه پے بنۀ پوهه شي -

۳۴:- چاله چه په لاس کښې څه شے ورکوے نو د لرے نه ئې ورته مه غورزا ره که د هغۀ لاس ته اونه رسي نو نقصان به اوکړي نږدے ورشه او په لاس کښې ئې ورله ورکړه -

۳۵:- چه دوه تنه د یو بل سره سبق وائي یا خبرے کوي نو ته ئې منځ له مه راځه خپله خبره په کښې مه شروع کوه - (بلکه داسے وخت سلام هم مه کوه کله چه هغوي فارغ شي او تا ته ئې فکرشي نو حله سلام کوه)

۳۶:- که څوک په څه خبره یا کار کښې لګیا وي نو د ورتلو سره ورته خپله خبره مه شروع کوه بلکه موقع ته انتظار کوه چه تا ته ئې فکرشي نو بیا کوه -

۳۷:- چه په لاس کښې چاله څه شے ورکوے نو چه ترڅو ئې هغه په لاس کښې کلک اُو نه نیسي ته ئې د خپلو لاسونه مه پریږده - کله کله د هغه بل لاس ته ورنه شي او دے ئې پریږدي نو نقصان اوشي -

۳۸:- که چا ته پیوزے د هے نو خیال کوه چه د هغۀ سر یا بل ځائے پے اُو نه وهے - او دومره په زوره ئې هم مه وهه چه بل پے پریشانه کیږي -

۳۹:- چه خوراک خورے نو هغه د کې یو ځائے ته جمع کوه دغه د څۀ سي پوستکي هم ځائے په ځائے مه غورزه وه - چه ټول یو ځائے ته راجمع شي نو بیا ئې یو طرفته اوغورزه وه -

۴۰:- ډیر په منډه یا په سر پورته نیو لو سره مه زغله خسے نه چه پریوځې -

۴۱:- کتاب ډیر په احتیاط او غور سره بنده وه اکثر ئې د اول او آخر پاڼے راتلولیږي

۴۲:- د خپل خاوند په مخ کښې د چا نامحرم سړي صفت مه کوه اکثر دا خبره په سړ وبد ه لږي

۱۴۳:- دغه شان د پردو ښځو صفتونه هم د خاوند په مخکښې مه کوه. هسې نه چه زړه ئې په هغې ورشي او ستا نه واوړي -

۱۴۴:- د چا سره چه دې آزادي نه وي نو د ملاقات په وخت کښې تې د هغه د کور کالو او جامو پتوسونه مه کوه او مه تې د مال دولت تپوس کوه -

۱۴۵:- په میاشت کښې درې یا څلور ورځې خاص د دې کار د پاره مقرر کړه چه په هغې کښې د کور صفائي ښه په کامله طریقه سره کوې - جالې لرې کوه - فرش صفا کوه هر څه په ترتیب او قرینه سره برابره وه -

۱۴۶:- د چا د مخې نه لیکلې کاغذ یا کتاب را اوچتول او کتل خه کار نه دې - که هغه کاغذ قلمي وي نو شاید چه څه پټه خبره به ئې په کښې لیکلې وي - او که چاپ شوې کتاب وغیره وي نو شاید چه په دې کښې چرته داسې لیکلې شوې کاغذ وي -

۱۴۷:- په پوړ د خه پسه احتیاط خیژه کوزیږه بلکه غوره دا ده چه پکو هم پوړئ او له خپه کیدې نو چه روڼه هم په هغې کیدې بیا په بله پوړی دغه سې خپه کیدې داسې نه چه په یوه پوړئ یوه خپه او په بله بله خپه - جینکو او ښځو له خو بالکل داسې مناسب نه دی - او واړه هم د دینه منع کول پکار دی -

۱۴۸:- کوم ځائې چه څوک ناست وي هلته کتاب یا کپړې یا بل څه داسې څنډل نه دی پکار چه په هغه د وړه ورشي بلکه د هغه ځائې نه لرې تلل او څنډل ئې پکار دي -

۱۴۹:- د چا د غم خفګان درد یا بیمارئ خبر چه واورې نو ترڅو پورې چه دې پوخ یقین نه وي را غلې چا ته ئې ذکر مه کوه - او خاص کر د دغې سړی د خپلوانو او دوستانو په مخ کښې خو ئې هرګز مه وایه ځکه چه که غلطه شی نو بې وجې به هغو له تکلیف ورکړې او بیا به تا ته بدې ردې وائي -

۱۵۰:- دغه شان د لرې او معمولي بیمارئ او تکلیف خبر مسافرو او لرې رشته دارانو له مه ورکوه د خط په ذریعه -

۱۵۱:- دیوال ته لاړې مه توکه او مه ورته د پان وغیره پوستکي غورزه وه - دغه شان غوږ لاس په دیوال یا ونو وغیره پورې مه راکاږه -

۱۵۲:- که د نورو ښانې ضرورت شي نو د خوراک کونکو د مخې نه لوښې مه اوچتوه بلکه په بل لوښي کښې راوړه -

۱۵۳:- که څوک په تخت یا کټ کښې ناست وي یا ملاست وي نو خوزه وه ئې مه که په خوائې آوړې نو داسې آدرېږه چه ټکر ورسره اوشه خوږې او نه د ورسره ځنګون او لېڅې که څه شې د کټ نه اوچتوې یا کیدې نو په قلاره ئې اوچتوه او په قلاره ئې کده -

۱۵۴:- د خوراک سکاک څه شې ښکاره مه کده تردې چه که څه شې په دسترخوان

کړے نو هم ئې پته کړه.

۱۵۵:- میلمه له پکار دی چه کله موږ شی نو لېږ شان سالن اوچ وډئ دې پاتې کړی چه د کور والو دا شک رانه شی چه په میلمه خوراک کم شه- شرمنده به شی.

۵۶:- کوم لوښے چه بالکل خالی وی او په الماری یا تاخ کېښے ئې کړے نو اُلټه ئې کړه.

۵۷:- په تلو کښے چیر لنډ لنډ قدمونه مه اخله په ساز وار و قد موښو زه چه بده نه ښکاری.

۵۸:- چه په لاره ځې نو ښادر وپتے ته خیال ساته چه پلیتکی در پسے په لاره نه راځی کو دے کیږی.

۵۹:- کله څوک درنه مالېزه یا بل د خوراک شے غواړی نو په لوښی کښے ئې راوړه په لاس کښے مه راوړه.

۱۶۰:- د وړه وجینکو په مخ کښے د بے شرمئ خبرے او بے باکے خبرے مه کوه بے شرمه کیږی (او اخلاق ئې خرابیږی).

د عیب او تکلیف خبرے

۱:- په بچو کښے یو عیب دا دے چه د خبرے پوره جواب نه ورکوی چه د پتوس کونکی تسلی پے اوشی- د اخوا دېخوا نه په کښے بے شماره خبرے اترے یو ځائے کړی او اصلی خبره به بیا هم معلومه نه شی- همیشه دا یاد ساته چه څوک د کمے خبرے تپوس اوکړی نو په مطلب ئې ځان ښه پو هه کړه او بیا ئې جواب د ضرورت په مطابق ورکړه.

۲:- یو عیب په بچو کښے دا دے چه د څهٔ کار ورته او ویلے شی نو دائې وُری او چپ به شی- د کار ویونکی دا شک راشی چه خدائې خبر دائې وریدل او که نه- بعضے وخت په غلطئ سره هغه دا سے اوګنړی چه دائې وریدل او په واقع کښے ئې آوریدلی نه وی نو هغه کار پاتے شی او چه تپوس ترے اوشی نو دا وائی چه مانه دی آوریدلی غرض هغه کار پاتے شی- او بعضے وخت په غلطئ سره دیوٹکے دا سے اوګنړی چه دائې نه آوریده نو بیا بیا ورته وائی چه وادے وُریده وادے وُریده نو بے وجه ته خفګان جوړ شی که دے په اوّل وار دومره قدرے ویلے چه ځا نو بل به ته خبریده او اوروغه خبره به وه.

۳:- یو عیب په بچو کښے دا دے چه نو کوے ته یابل چاته د څهٔ کاروائی په کور کښے نو د لرے نه به چغے اوُباسی په دے کښے دوه خرابئ دی یو ه خو بے حیائی او بے پرد ګی ده چه د لاړے اوکس په کله پو ہے ئې آواز رسی او بچو له د آواز

پرده هم که نو بے پردے پشان واجب ده نو ګناه ګاره شي) بله خرابي داده چه د لرے نه څه خبره هغه واوري او څه وانه وري نو څومره چه واوري هغه کار اوکړي او س بي بي خفه شي چه تا خو دا کار او نه کړه - هغه وائي چه ما کسره اوریدلي نه وي نو په تو تو میں میں کښے کار خراب شي - دغه شان نوکرانے وغیره وي چه د کومے خبرے جواب د باهرنه راوړي نو په دروازه کښے به په چغو وانئوي نو په څه خبره به ئے پوهه شي او په څه نه - د تمیز خبره داده چه د چا سره خبره کول وي نو د نزدے - نه څه په آرام او وضاحت سره ئے هغه پوهه کول پکار دي - چه وروستو بیا خفګان او نقصان نه وي -

۱۴:- یو عیب په ښځو کښے دا دے چه کله څه شي تائے ضرورت وي او که نه وي لیکن چه خوخ ئے شي نو بیائے په اخستو کښے صبر نه کوي - که ئے قرض دار وي نو هم خیر دے خو چه هغه شے د لاسه کړي - لیکن که قرض نه وي نو بیا هم خپلے پیسے عبث کول کوم عقل دے فضول خرچي ګناه هم دے - د خرچ کولو د پاره اول ځائے کتل پکار دي چه په دے ځائے کښے به خرچ کولو سره دیني فائده یا دنیاوي ضرورت هم شته او که نه - که ضرورت او فائده ئے معلومه وي نو بیا خرچ کړه او که نه وي نو پیسے عبث مه ضائع کوه - او قرض خو ترڅو پورے چه کیدے شي هرګز مه راخله خو که لږ شان تکلیف درته هم وي - خو د قرض نه ځان ساته -

۱۵:- یو عیب په ښځو کښے دا دے چه چرته د کوره اوځي نو که په کلي کښے اوځي او که لرے اوځي نو په یو یو شي پسے به وړګرځي او د کوره به تر هغے نه اوځي چه نا وخته شي او بیا به ئے حله هیبت جوړه کړي وي او چه کوم ځائے له ځي هلته به بے وخته اورسي او که پلاره کښے پے شپه راشي نو څومره تکلیف وي او که ګرمي وي نو په غرمه به هم بیا به غرمو کښے روانه وي او بچي به هم د ګرمئ نه تکلیف کښے وي - او که د باران ورځ وي نو د باران یره په یوه او د خټو تکلیف جدا - او چه د وخته اوځي نو د هرڅه ګنجائش په کښے وي - او بل دا دے په نا وخته کولو د نورو خلقو هم ډیر وخت خراب شي او د دے هم ډیر کار روښ وران شي - نا وخته اورسي نا وخته راواپس شي د کور ټول کاروبار ئے وران شي د اخلي پخلي انتظام ورله څوک نه جاړې ډوډئ غواړي خاوند ئے خوراک غواړي او د ډینه به کله ترکاري خرابیږي او کله ډوډئ - نو که په وخت لاړه شي او په وخت راشي یو مصیبت به هم بیا نه وي -

۱۶:- یو عیب په ښځو کښے دا دے چه د ځان سره به د ضرورت نه سوا سامان واخلي چه وړونکي ته به ئے هم تکلیف وي او په سوارلۍ کښے ورته ځائے هم تنګ وي او د ټولو زیات تکلیف چه کوم سړي ور سره وي هغو ته وي ځکه چه هغه ئے سنبالوي او خیژوي

او کوزه وي ئې - او د منډو دا نو پيسې پې هم ورکوي - او دوی خو به بې غمه ناست وي اسباب هيشه د ځان سره په سفر کښې کم وړل پکار دي چه په آرام وي او بيا د رېل په سفر کښې خو ډير زيات اسباب ډير تکليف وي -

۷ :- يوه خرابي په ښځو کښې داده چه سوارلۍ ته ختلو نه پس د دوی په سر د پاسه اوږي او کله په سر پړي په دوی د پاسه اوړي را اوړي او کښېږي دنګه ته به خيال نه کوي اکثر خو د بس د ختو چغائي کښې به ناست وي او سړي به پي آوړي را اوړي دا څومره د بې شرمۍ خبره ده - او په سوزه کو او رکشو کښې خو به د سړو سره مخامخ ناست وي او ونګونان به ئې د سړو سره جنګيدلي وي دا ډيره بده خبره ده ښځو له پکار دي چه يا په يو اځې سوارلۍ کښې ځي او يا په حيا او پرده سره د سړو نه جُدا بيرته کيني -

۸ :- يوه خرابي په ښځو کښې داده چه په سړک به ئې سوارلۍ او درولي وي چه دغه ده راغلم او دا به لا ګيا وي په کور کښې به ځان سنبالوي - او بې وجې به د خدائې مخلوق له تکليف ورکوي هغوی به ئې او دروَلي وي -

۹ :- يو عيب په ښځو کښې دادې چه د چا کره ځي نو بس سمدستي به د ځنګوځي اکثر داسې کيږي چه پکور کښې به پردي سړي ناست وي او دوی به ورسره مخامخ شي - نو پکار دي چه اول د چا کره چه ځي نو خوک دې ورلو ليږي چه پکور کښې خبر او کړي چه که پردي سړي پکور کښې وي چه لرې شي - او چه پته او لږي چه پکور کښې څوک ښځه نو بيا دې ورځي -

۱۰ :- يو عيب په ښځو کښې دادې چه دوه ته خبرې کوي نو يوه بله له به وار نه ورکوي يوه به لا خبره ختمه کړې نه وي چه بله به شروع شي - او اکثر خو داسې اوشي چه دواړه به په جمعه لږيا وي يوه به خپله وائي او بله به خپله نه به دا د هغې واوري او نه به هغه د دې - نو د داسې خبرو نه فائده څه ده - دا ضرور يادساته چه يو خبره نه وي ختمه کړې بل له شروع کول نه دي پکار -

۱۱ :- يو عيب په ښځو کښې دادې چه روپۍ پيسې وغيره به ځائې ته نه رسَوي کله به ئې په تاخ کښې کېږي کله د بالښ لاندې کله په بيرته او بې تالې صندوق کښې هيڅ څه حفاظت به ئې نه کوي او چه ضائع شي نو بيا به ئې کله په يو او کله په بل ورا اړوي -

۱۲ :- يو عيب په ښځو کښې دادې چه ته به ئې د يو کار د پاره او ليږې او دا به په بل کار کښې مشغوله شي چه دواړه ختم کړي هله به واپس کيږي په دې کښې هغې ليږونکي ته ډيره پريشاني او تکليف وي ځکه چه هغه خو د هغې يو کار حساب لږه وَلې وي چه په دومره وخت کښې به ئې او کړي او د هغه سره به بيا غم وي او دا ښځه نه به دائي چه راشه او س راغلې يم چه دا بل کار ورسره هم ختم کړم - داسې نه دي کول په کار

اول هغه فرمائش پوره کول پکار دی او بیا دے هغه خپل دویم کار ورو ستو خهٔ په آرام سره او کړی -

۱۲:- یو عیب په بنځو کښے د سُستۍ دے چه د یو وخت کار به دویم وخت ته پاتے کوی د دینه اکثر ډیر خرچ او نقصان جوړ شی -

۱۳:- یو عیب په کښے دا دے چه په مزاج کښے ئے اختصار نشته او موقع ته نه گوری چه دا د تلوارے وخت دے په مختصره طریقه سره کړے کار شان فارغ کول پکار دی بس هر وخت به دا بنځه په اطمینان او تکلف سره د هر کار د پاره سوچ کوی - او په دے کښے تے اکثر اصل کار پاتے او وران شی او موقع ئے د لاسه اُوځی -

۱۵:- یو عیب په کښے دا دے چه څهٔ شے تے ورک شی نو بے تحقیقه به په چا تهمت لګوی یعنے که بځو اچرته چا څهٔ شے پټ کړے وی دا به فوراً په هغه تهمت لګوی چه دا هم دهٔ کړے دے حالانکه دا خوځه ضروری نه دهٔ چه ټول عیبونه دے په یو تن کښے وی - دغه شان په نورو ناکاره خیر وکښے دا سے پوخ یقین په لګوشان شک با ندِ کوی چه خاص هم دا دهٔ کړے دے -

۱۶:- یو عیب په کښے دا دے چه د پان تمبا کو خرچ ئے هم غریب سړے نه شی برداشت کولے او د امیرا نو خو صرف په دے خرچ باندے د ځلو رو بنځو وغیرہ بیا نوغیکړه کیږی - دا کول پکار دی خرابی ئے داده چه بے ضرورته ئے شروع کړی او بیا ئے عادت جوړ شی -

۱۷:- یو عیب ئے دا دے چه کم چرته دوه تنه خبرے کوی نو د دینه به نهٔ چا تپوس کړے وی او نه په ئے د دے سره څه تعلق وی خو دا به په کښے خا مخا د خل کوی او خو د ئے به ورته شروع کړی - چه ترڅو پورے در شا چا صلاح نه وی اغستے تر هغے د چا په خبره کښے مه ور ګډیږه -

۱۸:- یو عیب دا دے چه چرته د کنړے کورے د ځائے نه راشی نو د ټولو بنځو د صورت شکل جامو او کالو بحث به د خپل خاوند په مخکښے کوی نو که د دے خبر ونه د خاوند زړه په چا ورشی نو دا څومره نقصان دے -

۱۹:- یو عیب ئے دا دے چه چرته چا ته څهٔ خبره کوی نو هغه بل سړے که د چا سره په خبره کښے وی یا په څهٔ کار کښے مشغول وی دا چرته هم دیته صبر نه کوی چه هغه خپله خبره د هغه بل سره خلاصه کړی یا د هغے کار نه فارغه شی خو د دا تلو سره به سر د ولا ړے خبره را خلاصه کړی او د دواړو د خبرے په مینځ کښے به ورا ودانګی - دا ډیره بده خبره ده صبر کول پکار دی چه هغوی خپله خبره خلاصه کړی او تا ته وزګاره شی نو بیا ورته خبره کوه -

۲۰:- یوعیب پکښې دادے چه همیشه به خبره نیمګړے کوي سوال جواب به نیمګړے رسَوي چه مطلب به تے غلط اغستے کیږي ـ کله په دے وجه کار وران شي اوکله په دَ دوه تنو زړونه بد شي۔

۲۱:- یوعیب پکښې دادے چه خبره ورته کوے نو پوره غوږ به ورته نه کیږدي کله به پکښې په څه کار شروع شي اوکله به پکښې دَ بل سره خبره اوکړي - نو دَ خبرے کونکي زړه به هم خوشحاله نهٔ شي او نه به ئے پے دَ هغې کار دَ کولو پوره بهروسه وي۔ چه پوره خبره وانه وري نو او به ئے کړي څنګه -

۲۲:- یوعیب پکښې دادے چه چرته به دَ خپلې غلطۍ یا خطا اقرار نه کوي څومره چه تے کیدے شي خبره به جوړه وي که جوړیږي او که نه -

۲۳:- یوعیب پکښې دادے چه کله دَ چرته نه ورله لږ شے راشي یا دَ معمولي درجے شے ورله راشي نو پوزه به تروه کړي چه کور ئے وران شه راشے ئے رالیږه شرمیده هم نه دے شي په رالیږلو بانِدے - نو داهیره بده خبره ده دَ هغهٔ به دغه وَئي وَه نه پے ستاځه زوروه او نه ئے ستاځه نقصان اوکړه - او دَ خاوند سره ئے هم دَ غه معامله وي چرته به تے په خوشحالئ څهٔ شے وَانه اخلي عیبونه او نقصانونه به پکښې ځانګړا اوباسي او ردونه به پکښې پیدا کوي -

۲۴:- یوعیب ئے دادے چه دَ څه کار ورته اووے نو ښهٔ به چرته اونه وائي هغه کار به اوکړي خو ستا زړه به خفه کړي -

۲۵:- یوعیب پکښې دادے چه کپړه به ئے اغوستے وي او ګنډي به ئے اکثر پکښې سُتَنْ لاړه شي نو بر ناحقه ځان خوږ کړي۔

۲۶:- یوعیب پکښې دادے چه دَ راتلو او دَ تللو په وخت کښې به خامخا په ملا ویده و کښې جاړي که چرا ورځې او که نه خو په زور به ځان جوړوي چه څوک داسے او نه وائي چه مینه ئے نشته نه خفه کیږي۔

۲۷:- یوعیب ئے دادے چه اکثر به په بانړ تو لائي وغیره کښې سُتَنْ او تومبي او بیا به ئے هیره کړي او په هغه ځائے به ئے پریږدي نو چه ناخبره څوک پے کیني په هغه کښې به نهال شي او بل له تکلیف ورکړي -

۲۸:- یوعیب پکښې دادے چه بچي به دَ ګرمۍ یخنۍ نه له بچ کوي نو اکثر بچي به ئے بیمار شي بیا به ورله تعویذونه کنډے علاجونه وغیره کوي او دَ بیا دَ پاره به ئے هم څه احتیاط نه کوي -

۲۹:- یوعیب پکښې دادے چه بچو له به وخت بے وخته خوراک ورکوي په میله به په زور خوراک خوره وي او بیا به دَ دغے بے وخته خوراک سزا ورته ملا ویږي (ځکه چه په دے بے وخته او ډیر خوراک سره معده خرابیږي)۔

دَ تجربے او دَ انتظام خبرے

۱:- دَ خپلو دوه لونړو یا دوه ځامنو دوؤ په یو ځائے خومره چه کیدے شی مه کوه ځکه چه په ننګورانو او زوما نو کښے ضرور فرق وی پخپله دَ جینکو او هلکانو په صورت شکل کپړو رنګ روایت نورُ صبور، حیا شرم کښے خا مخا فرق وی او په نورو هم څیزو خبرو کښے فرق وی او دَ خلقو دَ ذکرمن کور کولو عادت وی او دَ یو غوره کولو او بل ناغوره کولو- نو په دے سره برناحقه دَ هغه بل زړه بد یږی۔

۲:- په هرچا بانډِ بهروسه مه ساته- دَچا په بهروسه کور مه خوشے پاتے کوه- غرض چه یو سړے دے په هرشان سره آزما ئیلے نه وی اعتبار پے مه کوه- خاص کر په کالو بینهرو نو کښے اکثر ښځے دَدم درود تعویذ ونو ناللونو کتلو وغیره په بهانو په کورونو کښے ګرځی او اکثرے په کښے دَخیرات اوسوال کولو غوختلو په بهانو هم ګرځی دوی څرته کورته ونته یریګو دل شوی یکار دَ دروازے نه ئے واپس، کوه- داسے ښځو اکثر څیر کورونه لُوټلی دی- په داسے ښځو هیڅ اعتبار مه کوه-

۳:- داسے صندوق وغیره چه روپئ پیسے کالی جامے په کښے پرتے وی چرته هم بیدِ ته مه پریږده تالا ورته ضرور لږه وه یائے دَځان سره ساته۔

۴:- ترڅو پورے چه کیدے شی قرض سوداګه راغواړه او که څیز ه ناچاری وی نو بیائے قیمت او تاریخ دَځان سره ضرور لیکه- او چه پیسے درله راشی نو بیائے فوراً ورکوه-

۵:- دَ دهوبی کپړے دَ دوکاندارسوداغله وغیره دَهرشی حساب کتاب دَځان سره لیکه په یاداشتو اعتماد مه کوه-

۶:- خومره چه کیدے شی دَکورخرڅ په کفایت او انتظام سره چلوه- بلکه خومره خرڅ چه درته ملاویږی بچت په کښے کوه-

۷:- کومے ښځے چه دَ باهرنه کورته راځی دَ هغوی په مخ کښے داسے څه خبره مه کوه چه دَ هغے بل ځائے کښے ویل ستا خوخ نه وی- ځکه چه داسے ښځے دَ یو کورخبره په لسو کورونو کښے کوی-

۸:- اُوړه او وریجے په اټکل مه پخوه دَ خرڅ اندازه کوه دَ دواړو وختونو څیزونه په ناپ تول سره خرڅ کوه- که په دے کښے درباندِ څوک بد وائی پرواه ئے مه کوه-

۹:- کومے جینکۍ چه باهر کوځۍ هغوی ته کالی چرته مه اچوه. په دے کښے
دجان ومال دواړو خطره ده۔

۱۰:- که څوک سړے زړوانړے له راشی او ستا دخاوند یا پلار دورسره د
ملاقات یا دوستۍ یا دځه قسم رشته داریٔ دتعلق اظهار او کړی هرګز ئے
کورته مه راولئ یعنے د پردے نه باهرئے هم مه کینوه او مه څه قیمتی شے
دهغه په قبضه کښے ورکوه. دپردی سړی پیشان که دخوراک سکاک وخت
وی ورله اولیږه چیرد ارمړ ورسره مه کوه. ترڅو پورے چه ستا کورڅوک
سړےئے اُونه پیژنی ترهغے دداسے سړی دلاس رالیږلے شے مه استعمالوه
که هغه ئے به ه کنړی نو هم څهٔ پرے وامه کوه۔

۱۱:- دغه شان که یو نا آشنا ښځه درپسے راشی چه فلانی کورته ئے ته غوختلے ئے
ځا سره لاړه شه هرګز دهغے په وینا ورسره دکوره مه اُوځه. غرض د نا
آشنا خلقو په وینا هیڅ کارمه کوه او مه ورله دخپل کورڅهٔ شے ورکوه
که ښځه وی او که سړے. او که پیچل نوم ئے غواړی او که د بل۔

۱۲:- په کورکښے دننه داسے ونه چرته مه نهالوه چه ازغی داره وی یا بل
څه نقصان ئے کیږی۔

۱۳:- په یخنۍ کښے کیپړے لړے زیاتے اغوندہ چه یخنی درے نه وهی او نا جوړه کیږئے نه

۱۴:- بچوته دمور وپلار نیک نوم یاده او کله کله ئے تپوس هم کوه چه یا دوی ورته
پدے کښے دا فائده ده چه خدائے دِ نه کړی که بچے چرته ورک شی نو که څوک ئے تپوس
او کړی چه پلار مور دے څوک دی نو چه نوم نه ورته یاد وی او به خائی ورته. او
څوک به ئے درته راورسوی او چه نوم نه ورته یاد نه وی نو ابۍ بابا کوی او څوک
ئے پیژنی نه. او دغه شان به هغهٔ ته هم تکلیف وی او تاسو ته هم۔

۱۵:- یو ے ښځے خپل بچے یو ځائے پاتے کړے وُه داتے په څهٔ کارپسے تلے وه. یوه پیشو
راغله او بچے ئے د وهره په پنجو نو کارے کړه چه هغه تے مړ شه. نو په دے وجه
درکوتے بچے یوازے نه دی پریخود ل پکار او نه په شپی پیشو وغیره جانورځه
اعتبار پکار دے. بعضے ښځے خو لا داسے بے وقوف کوی چه پیشو کا ن دګمان سره
څملوی نو په دوی څه اعتبار په کار دے که د شپے درے په پنجو او وهی یا درے او چیچی
نو بیا به څه کوے۔

۱۶:- دوائی همیشه اول ډاکټر حکیم ته ښایه هله ئے استعمالوه بعضے وخت ناپوهه
دوکاندار دیو ے دوائی په ځائے اکثر بله ورکوی او کله زهر ورکړی چه اثر ئے
ختم شوے وی. او کومه دوائی چه پیچل چړبی یا بوتل کښے نه وی په بل چړبی بوتل

یا کاغذ کښې ئې کړه ے نو د پاسه یې د دوائي نوم ضرور لیکه ځکه چه اکثر دغه دوائي ګډې وډې قیمتي او د کار هم وي نو د نه پیژندو په وجه هسې ارتاوه کړے شي او بعضې وخت په غلطۍ سره په بدله بیمارۍ کښې استعمال شي او نقصان اوکړي۔

۱۱۷:- د لحاظ په ځائے کښې چرته قرض مکوه او زیات قرض هم مه ورکوه۔ دومره ورکوه چه که وصول ترې نه شي نو چه بوجه درباندې شوي۔

۱۱۸:- چه څهٔ لوئے یا نوے کار کوے نو اول د پوهه او دیندارو سړي سره په کښې خه مشوره کوه۔ چه ستا خیرخواه وي او خه صلاح درکړي۔

۱۱۹:- خپلې روپۍ پیسے مال متاع پټ ساته هر چا ته ئې ذکر مه کوه۔

۱۲۰:- چه چا ته خط لیکے نو خپله پته صاف او واضحه لیکه۔ او کله چه دغه ځائے ته دوباره خط لیکے نو داسے مه وایه چه په اول خط کښې مو پته لیکلې ده۔ او س ئې حاجت نشته ځکه چه څهٔ پته لرې چه او لئے خط ورسره شتے او که نه که نه وي نو د خط جواب به څنګه درکړي۔

۱۲۱:- که په ریل وغیره کښې سفر کوے نو خپل ټکټ څهٔ په حفاظت سره ساته او په ګاړي کښې ډیر غافله مه اوده کیږه او نه د خپل راز خبرے بل مسافر ملګري ته کوه او نه ورته د خپل اسباب روپو او کالو ذکر کوه۔ او که څوک درله څه درکړي مثلاً پان، میټائي وغیره نو خوره ئې مه۔ او په ریل وغیره کښې چه ځے نو کالي مه اچوه بلکه په صندوق وغیره کښې ئې د ځان سره محفوظ ساته۔ چه ځائے ته اورسے نو بیائے کله چه درے خوه بنه وي واچوه۔

۱۲۲:- په سفر کښې د ځان سره ضرور خرچ ساته۔

۱۲۳:- لیونۍ چرته مه چیړه او مه ورسره خبرے کوه۔ ځکه چه عقل ئې نه وي نو کیدے شي چه څه کړے و درے او وائي۔ او بیا ناحقه به بیا شرمنده شے۔ او خفه به شے رخځان ولې په لیونۍ په وجه شرموے)۔

۱۲۴:- په تیاره کښې چرته خپے آبله مه کرځه او مه څه شي ته لاس وراچوه۔ اول رڼا اوکړه بیا لاس وراچوه او کرځه۔

۱۲۵:- خپل راز هر کس ناکس ته مه وایه۔ بعضې خلق خپل راز بل ته او وائي او بیا پے تاکید کوي چه تا ته دے امانت وي چا ته ئې مه وایه او په دے هغه چرته منع کیږي بلکه خامخا ئې بیا وائي۔

۱۲۶:- ضروري دوایانې همیشه په کور کښې تیارے ساته۔

۱۲۷:- د هر یو کار اول په انجام سوچ کوه بیا ئې هله شروع کوه۔

۱۲۸:- د چوړو او شیشے لوښي بے ضرورته زیات مه اخله په دے ډیرے روپۍ برباديږي

او پائد ارحم نه وی۔

۲۹:- په ریل کښې چه ښځې دَ خپلو سړو سره سفر کوی - او په جُدا جُدا ډبي کښې وی نو چه ترڅو پورې ئې خپل سړے نه وی راغلے ترهغې دے دَ ډبي نه نهٔ راکوزیږی اکثر داسے او شی چه سړے په کوزیدو کښې ورستے شی او ښځه مخکښې شی نو بیا دواړه ګډوډ شی او ورک شی۔ او نه دے دَ بل چا په وینا راکوزیدی چه هغه ورته اووائی سړے دے راکوز شوے دے ته راکوزه شه دغه سړے دهوکه باز وی۔ مطلب دا دے چه په سفر کښې چه چرته هم دَ خپل ځائے نه بغیر دَ خپل ناریته دَ را تلو نه نه خوزی۔ په دے کښې اکثر ښځې ورکیږی او بیا تکلیف وی۔

۳۰:- په سفر کښې دے تعلیمیافته ښځې دَ ځان سره دا څیزونه هم ساتی۔ یو کتاب دَ مسئلو پنسل کاغذ لږ شان کار دوشه، دا ودس لوښے۔

۳۱:- په سفر چه څوک ځی نو ترڅو چه کیدے شی فرمائشونه ورته مه کوه، چه دَ فلانی ځائے نه دا راوړه په فلانی ځائے کښې دا شے دے هغه راوړه دا سامان واخله فلانی ځائے ته ئے فلانی ته ئے اورسوه۔ داخط فلانی ته ورکړه۔ په دے فرمائشونو سره اکثر هغه سړی ته ډیر تکلیف وی۔ که هغه سړے بے فکره وی نو ته به دَ هغه په طمع ئے او دغه به تاله هم نقصان جوړ شی۔ خط په ډاک لیږه او سامان هم په ریل یا بله څهٔ ذریعه لیږل پکار دی۔ او بل دا چه که هغه شے هلته موندے شی نو دَ دے ځائے نه ئے لیږلو ته څهٔ ضرورت دے ګران دے واخلی دَ خپل لږ شان بچت په وجه بل له تکلیف ورکول نه دی پکار۔ بعضے کار دی معمولی مګر دَ هغې په بندو بست کښې ډیر اُلجن وی۔ څوک چیرته ناچاری شی نو بیا خیر دے۔ خو چالله چه څه شے دَ وړو دَپاره ورکوے نو پیسے ورسره هم ورکول پکار دی ځکه چه پکاره په ټ کرایه او محصول هم لیږی نو دوه تکلیفونه یو سړی له نه دی ورکول پکار چه یو به درله سامان وړی او بل به ئے کرایه او محصول هم ورکوی۔

۳۲:- په ریل یا بله سوارلئ کښې دَ نا آشنا سړی دَ لاسه څهٔ خوړل نه دی پکار بعضے شریر خلق بنده له څهٔ نشه وغیره بخوراک کښې ورکړی دے بے خوده شی او سامان اسباب تے لوټ کړی۔

۳۳:- چه دَ ریل ګاډی په ختو کښې تلوار وی نو خیال ساته چه دَ کومے درجے ټکټ دے اخستے وی په هغې درجه کښې کینه دَ ټکټ نه به اُوچته درجه کښې کیناستل نه دی پکار۔

۳۴:- دَ کنډو په وخت کښې که ستن او نخلی په کپړه وغیره کښې نو په خوله ئے را ویستل نه دی پکار بعضے وخت ماته شی او په تالو کښې او نخلی۔ او یا په ژبه کښې لاړه شی۔ (نو په بله طریقه ئے را اوباسه)۔

۱۳۵:- ناخن کاټ ضرور د ځان سره چه وړه ولئ او ځان له په وخت په وخت نوکونه پریکوے او لوئیږی نه-

۱۳۶:- د بل د لاس جوړه دوائی چرته مه استعمالوه ترڅو چه د هغې پوره نسخه دے تجربه کار پوخ حکیم ته خودلے نه وی او د هغه نه دے په اجازت نه وی اخستے- خاص کر په ستر ګو کښې چرته هغه دغه دوائی مه اچوه-

۱۳۷:- په کوم کار چه دے پوره یقین نه وی بل ئے مه په طمع کوه ورنه بیا به در ته تکلیف او رنج وی-

۱۳۸:- د چا په مصلحت کښې خپل ځان خلت او اصلاح مه ورکوه البته که ستا په اختیار کښې وی یا ورنه تپوس اوکړی نو بیا خیر دے-

۱۳۹:- د چا په پاتې کولو یا په خوراک ورکولو ډیر اصرار مه کوه- په دے کښې اکثر بل ته نقصان او الجن جوړیږی- د داسے محبت نه څهٔ فائده چه انجام ئے نفرت او الزام وی- او بل ته پے تکلیف اورسی-

۱۴۰:- دوه دروند بوجهه چرته مه اوچتوه چه په مشکله ئے او چتولے شے اکثر ډیرے ښځے په دے کښې د عمر بیمارے شی- د ښځو او جینکو د بدن جوړوښت او پښے او رګونه ډیر کمزوری او نرم وی نو دوی له ډیر احتیاط پکار دے-

۱۴۱:- ننګئ یا بل داسے تیره شے په ځائے مه پاتې کوه هسے نه چه څوک راشی او کینی پے او خوږ شی- ځائے ته ئے رسوه-

۱۴۲:- د چا د سر د پاسه بل له څه دروند شے یا د خطرے شے مه ورکوه او خوراک اوبه هم د چا د پاسه مه ورکوه- هسے نه چه د لاسه دے پریوځی-

۱۴۳:- بچی یا شاګرد له چه سزا ورکوے نو په غټ لرګی لتو یا سوکو نو ئے مه وهه خدائے دے نه کړی که چرته بد ځائے ئے او لږی نو نقصان به درته جوړ شی- په مخ او سر ئے هم مه وهه-

۱۴۴:- چه چرته میلمنه شے او زړهٔ دے خوړلی وی نو د تلو سره ورله اطلاع ورکړه- هغه به درنه د شرمه تپوس نه شی کولے- او په پټه به ورله غوږ کوی که وخت وی او که نه وی- او چه هغه تکلیف اوکړی خوراک پوخ کړی او تاله ئے راوړی او ته ورته او وائے چه ما خو خوړلے ده نو هغه به خومره خفه شی او افسوس به کوی چه محکښې دے وَلے نه وے- دغه شان که دغه ځائے درله بل څوک دعوت درکړی یا تا پاتې کړی نو کوروالا ضرور خبره وه اجازت تے اخله او که ته ئے دعوت منظور کړے نو دوی له اطلاع ورکړه چه دوی ستا انتظام نه کوی-

۱۴۵:- کوم ځائے چه د لحاظ ملا ذے وی هلته اغستل خرڅول څهٔ نه دی ځکه چه

په داسې ځائې کښې نه خبره صفا کېږي او نه خواهش پوره کېږي بلکه په زړه کښې پوښان سوچ کوي او بل بل شان اوانجام ئې ښه نه وي.

۴۶:- په چاقو وغیره سره غاښ نه ښکاره وه.

۴۷:- کوم وارې چه سبق وائي هغوي له د دماغو طاقت د پاره څه ورکوه.

۴۸:- څومره چه کیدې شي د شپې په کمره یا کور کښې یوائځې مه پاتې کېږه څه معلومه ده چه څه کیږي او که ناچاري هم نو بیا خو بله خبره ده. ډیر خلق دغه شان مره دي او ډیرې ورځې پس تې بیا خلق خبر شوي دي.

۴۹:- وارې بچي د کوټې غاړې ته مه پریده او که په کور کښې کوټې وي نو تخته یې همیشه بنده ساته. او وړې وتاکاو بوراوړه وهم مه وایه چرته کوټې له به لاړشي او پچیله به بوک را او باسي نو هسې نه چه پریوځي.

۵۰:- کتهه، لوګې، بنځته وغیره چه ډیرې ورځې په یوځائې پرته وي یکدم ئې مه اوچتوه احتیاط کوه اکثر تې لاندې لړم وغیره وي

۵۱:- چه بسترې ته څیژئ نو اول ئې څه ټکوه هسې نه چه جانور ورته ختلې وي. بې فکره مه ورځیژه.

۵۲:- په ریشمي او وړینو کپړو کښې تمباکو کافور یا د نیم پانړې کېده چه چینجي په کښې نه کیږي. او خراب بیږي نه.

۵۳:- که په کور کښې روپۍ پیسې پټې چرته کېدې نو د کور ټیټو دوه چه اعتباري هغوي ته ئې هم ځائې خایه. یوې ښځې د خپل خاوند د کټې پنځه سوه روپۍ چرته ښخې کړې وې او دا مره شوه بل چا ته ئې ځائې معلوم نه وه ټول کور ئې پسې او کنستو خو هیڅ پته ئې او نه لګیده خاوند ئې غریب سړې وه نو دا څومره بده خبره ده.

۵۴:- بعضې خلق تال او بیره وي او کښې هلته چرته په خواؤشا کښې کیدي دا ډیره د غلطۍ خبره ده داسې کول نه دي پکار.

۵۵:- د خاورو تیل ډیر نقصان کوي بله ول ئې نه دي پکار په ډیوه لالټین کښې باقي په اند ازه سره اچول پکار دي چه بې وجه تیل نه نقصانیږي او د بتۍ د اوچتولو یا صافولو د پاره د سیمو تار ضرور تیار ساته. او د ډیوې مړه کولو د پاره د لاسونه کار مه اخله بلکه په پوکي وغیره سره ئې مړه کوه.

۵۶:- د شپې په وخت که روپۍ وغیره شمارې نو ډیرې روروئې شماره کړه د دې دشمنان ډیر زیات دي. چه څوک پرې خبر نه شي.

۵۷:- بله ډیوه په کور کښې یوازې خوشې مه پریده او هغه شان بل کنړکې هم اخوادیخوا مه غورځه وه. مړ کوه ئې یا پې ځپه راکاږه.

۱۵۸:- بچولړه په کنټو یا بل څه سره د اور په لوبو مه پریږده اکثر ئې تې جامې اور واخلي او او سوځي.

۱۵۹:- پاخانې وغیره لکه څېره بله یو سے نو احتیاط کوه چه کپړې دے اُو نه سوځي - ډیر خلق دغه شان سوی دي - او خاص کر د ښاورو د تیلو ډیوه خو یو ډیر لوئے غضب دے -

د بچو د احتیاط بیان

۱:- روزانه بچولو ته لاس مرئ غوږ پزه وغیره په لمده چیره صفا کوه په خیری جمع کیږ وسره ئې په بدن زخم جوړیږي -

۲:- چه تشی بول یا لوئے بول او کړي فوراً ئې په اوبو ونیځه په خالی چیره ئې مه پاکوه - په دے سره د بچی په بدن خارښ او سوزش لږېږي - او که موسم یخ وي نو اوبه نیم ګرمے استعمال کړه -

۳:- بچے چه جدا ځملوے نو د حفاظت د پاره ئې د کټ دوا ړه غاړو ته دوه کټونه نور پیوست کوه یا ئې دواړه وډې ډوته بالختونه کړه - چه او ښغور زیږي د ځان سره په ځملو لوکښه ئې دا یږه ده چه هسے نه په خواب کښې د ځان لاندې شي او مړشي ډیر بچي داسے مړه دي نو د بچي ځانله ځملول پکار دي -

۴:- د زانګو سره بچے ډیر عادت کول نه دي پکار ځکه چه هر ځائې زانګو نه وي او شي په غیږ کښې ډیر عادت کول پکار دي په دے سره بچے کمزورے کیږي -

۵:- واړه بچي عادت کوئ چه هر چا له ورځي د یو تن سره ئې ډیر عادت نه دے پکار چه بیا چرته هغه نه وي نو د بچي تلاره ول ګران وي -

۶:- کوم بچي له په دائې پئ ورکوئے نو داسے دائې ورکورئے چه پئ ئې ښه وي او ځوانه دي او پئ ئې تازه وي - یعنې د ښځه شپږ و میاشتو نه زیات نه وي - او خوئ خصلت ئې ښه وي دیندار ه وي - احمقه، بے شرمه، بد چلنه، کنجوسه او لالچي نه وي -

۷:- چه بچے د خوراک شي نو په دائې یا نوکر ورله خوراک مه ورکوه بلکه پخپله یا پخپل پوهه او لائق سړي ورله خوراک ورکوه چه بے اندازے او نه خوري او ناجوړه نه شي - او په بیمارۍ کښې ورله دوائي هم پخپل لاس ورکوه -

۸:- چه بډ هو ښیار شي نو پخپل لاس ئې په خوراک عادت کوه او د خوراک نه مخکښې ورله لاس وینځه - او د ښي لاس په خوراک ئې عادت کوه - او په کم خوراک ئې عادت کوه چه د بیمارۍ او حرص نه بچ شي -

۹:- مور و پلار دے هم خیال ساتي او خوک چه په بچي مقرر وي هغه دے هم

خیال ساتی چه بچے هر وخت صاف سُترا وی چه لاس مخ ئے گنده شی فورًا دے ورله وینځی چه دَ صفائی سره عادت کیږی۔
۱۰:- که ممکنه وی نو هر وخت دے دَ یو بچی سره وی دَ لوبو په وخت کښے دے ورته خیال ساتی چه چیرے منډے تو پونه نهٔ وهی۔ په اوچت ځائے دے لوبو ته نه پریدی۔ دَ نیکو خلقو دَ بچو سره دے لوبے کوی دَ کمینه ؤ دَ بچو سره دے لوبو ته نه پریدی۔ په چیر و بچو کښے دے هم لوبو ته نه پریدی۔ په کوڅو او سړکو نو کښے دے لوبو ته نه پریدی۔ په بازار وغیره کښے په غیږه کښے نکړځوی هرے خبرے ته دے ورله کوری او دَ موقع مناسب دے ورته قاعدے او آداب ایږده کوی۔ دَ بے ځایه خبرو نه دے منع کوی۔
۱۱:- په قلاره ونکی دے تاکید کوی چه په غیر ځائے کښے دے ورله چرته خوراک نه ورکوی۔ که څوک ورله دَ خوراک سکاک څه شے ورکړی نو کور ته دے راوړی دَ مور و پلار په مخ دے کیدی پخپله دے ورله نه ورکوی۔
۱۲:- بچی له دے دا عادت جوړه کړی چه بغیر دَ خپلو مشرانو نه دَ بل چانه څه شے نه غواړی۔ او نه دے بغیر دَ دوی دَ اجازت نه دَ چا نه څه شے اخلی۔
۱۳:- دَ بچی سره دے چیره مینه او خوږ والے نه کوی او تر به شی۔
۱۴:- چیرے تنګے کپړے دے بچی ته نه اغوندوی او چیرے کھلے ارے هم نه۔ البته که اختر اَدینه وی بیا خیر دے۔
۱۵:- بچے دَ خولے او غاخو نو دَ صفا کولو سره په مسواک او منجنو عادت کوئے۔
۱۶:- دَ دے کتاب په اوُومه حصّه کښے چه کومے قاعدے او آداب دَ خوراک سکاک دَ خبرو اَترو، ملاوید و، ناستے پاستے لیکلے شوی دی دَ دے تولو عادت دَ په بچی کښے واچوی۔ دا دے نه وائی چه لوئے شی پخپله به ایږده کړی او یا به ئے ورته بیا هغه وخت او وایو۔ دا یادساته چه دَ ځانه څوک ایږده کولے نه شی۔ او په لوستو سره عادت نه شی بدلیدے۔ او تر څو چه دَ نیکو خبرو سره عادت نه دی که هر څومره تعلیمیافته شی خو دَ بے تمیز ئی نالائقئ او زړه دَ زده وَلو خبرے به تے ظاهریږی۔ او څه خبرے په څلورمه حصه کښے او څه په نهمه حصّه کښے دَ بچو متعلق لیکلے شوے دی دَ هغے هم خیال ساتی۔
۱۷:- په سبق کښے دے په بچی چیر محنت نه غورزه وی په شروع کښے دے ورله یو ه گهنټه دَ سبق دَ پاره مقرر کړی بیا دُوه بیا درے او دغه شان دے دَ هغه دَ طاقت او برداشت مطابق دَ هغه نه محنت اخلی داسے نه چه تول ورځ دے په سبق وائی یو خو به دَ ستړی والی دَ وجه نه دَ بچی زړه

کیږي او بل به زیات محنت سره به ئې زړه او دماغ خراب شي او د بیمار انو پشان به پکښې سُستي راشي او د سبق سره به ئې بیا زړه نه لګي.

۱۸:- د معمولي چهټیا نه علاوه دې بار بار چهټیانې بغیر د سخت ضرورت نه نۀ ورکوي په دې سره د سبق نه زړه اوچتیږي.

۱۹:- تر څو پورې چه کیدې شي کوم علم او کوم فن چه ورته ایزده کوي پکار دے چه هغه ورته ایزده کوي چه پکار دي کښې پوره عالم او کامل وي. بعضې خلق اوزان استاذکوري بچو ته په سبق وائي نو د شروع نه ئې طریقه ورانه شي بیا ئې برابرول ډیر مشکل شي.

۲۰:- آسان سبق دې همیشه د غرمې نه پس مقرر کوي او مشکل سبق د سحر په وخت کښې ځکه چه په اخیر وخت کښې دماغ ستړې وي د کوم ان سبق نه پریږدي.

۲۱:- بچو ته او خاص جینکو ته ګنډل او ګنډل ضرور ایزده کوه.

۲۲:- د واده په وخت کښې د ناوې او چنغول په عمر کښې زیات فرق د ډیر وخرابو باعث دے.

۲۳:- او په ډیر کم عمر کښې ورله هم واده مه کوئې په دې کښې ډیرخت نقصان دے.

۲۴:- هلکان پوهه کوئې چه د خلقو په مخ کښې اودس نه اوچوي.

دنیکو او د نصیحتونو خبرے

۱:- د تیرو خبرو طعنه ورکول ډیره بده خبره ده. د ښځو عادت وي چه د زړې زمانې تیرو شوو خبرو چه یوه پیره به د هغې صفائي او معافي هم شوي وي خو چه بیا څه خبره راشي نو دوي به ئې ذکر کوي دا ګناه هم دے او په زړونو کښې تے دوباره خفګان پیدا کیږي نو د پیغورکولو نه ځان سا تل پکار دي.

۲:- د خاوند د کور د کلي چرته خپل مور وپلار ته نه دي کول پکار بعضې شکایت ګناه هم وي او د بے صبرئ خبره هم ده. او اکثر د دینه دوا به طرفه خفګان زیاتیږي. دغه شان د خاوند پکور کښې د پلار کور ډیر بهائي او صفتونه ئې نه دي کول پکار. د دینه د فخر او غرور ګناه هم کیږي او خاوند کور داسے ګنړي چه موږ دے خپلې ننګور ته بے قدره ښکارو. نو هغوي هم بیا د دے قدر نه کوي.

۳:- ډیر بکواس او ډیرے خبرے ځان له عادت مه جوړه وه په ډیرو خبرو کښې اکثر نامناسبه خبره د خولې نه اوځي چه د هغې انجام په دنیا او اخرت کښې د غم او د ګناه وي.

۴:- څومره چه ورته کیدے شي خپل کار په بل مه کوه پخپل لاس ئې کوه بلکه د بل کار هم ته کوه په دے به یو ستا ثواب کیږي او بل به د دسره د خلقو مینه پیدا کیږي.

۵:- چه د اغوا ديځوا خبرونه کوړته را وړي او بيا نوي کړ داسے بنځو سره ځای ځي کيږه هم مه او خبرو ته ئے غوږ هم مه کږده - د داسے خبرو آوريده ګناه هم دے او فساد ته هم جوړيږي -

۶:- که د خپلے خواښے نندرور، يور وغيره لرے نژدے رشته دارے څه شکايت واورے نو په زړه کښے ئے مه کږده - غوره داده چه دروغ ئے اوګڼړے او د زړه نه ئے اوباسے او که دومره همّت دے نه وي نو چه د چا نه دے آوريدلے وي د هغه په مخامخ ورسره صفائي اوکړے چه فساد ته جوړ نه شي -

۷:- په نوکرانو هروخت سختي او تنګي مه کوه او خپلو بچوته قام کوه چه د نوکرانو اوځ بيا نو بچي نه آزاره وي ځکه چه دوي به په ژبه د لحاظ نه څه نه وائي ليکن په زړه کښے به ضرور خپه شي او ګنځل کوي او که هيڅ هم اونه کړي نو د ظلم وبال او ګناه خو به خامخا وي -

۸:- خپل وخت په فضول خبرو کښے مه تيروه او څه وخت د دے خبرے د پاره هم مقرر کوه چه جينکو ته کښے قرآن او د دين کتابونه وائي - که چيرته وي نو د قرآن نه پس خو دا کتاب د جنت کالي ورته خامخا وايه - که خپلے جينکۍ وي او که پردۍ - د دے ته لو د پاره دا هم خيال ساته چه ضروري هنرونه ورته ايزده شي - ليکن د قرآن ختمولو پورے تے پل کار مه اخله - او چه قرآن ختم کړي او صاف ئے کړي بيا پے د سحر په وخت کښے سبق وايه - د غرمے د ډوډئ نه پس پے خط ليکل بيا پے نوره ورځ د اخلي پخلي کل کتنو لو کار ايزده کوه -

۹:- کومے جينکئ چه درله سبق له راشي د خپل کورکار پے مه کوه او مه پے خپل بچي قلاره وه - بلکه د خپلو بچو پشان ئے ساته -

۱۰:- د نوم د پاره چرته هم څه فکر او بوجه پخان مَه غورزه وه د ګناه نه ګناه او د مصيبت نه مصيبت دے -

۱۱:- چرته د تلو راتلو په وخت کښے دا پابندي مه جوړه وه چه خامخا دے جوړه بدلوے کالي دے هم تول پټان واچوے - ځکه چه په دے کښے دا نيت وي چه ليده ونکے رم لويه اوګڼړي داسے نيت ګناه هم دے او په تلو کښے به هم درباندے ناوخته کيږي چه چيرے حرج به دي درته - په مزاج کښے عاجزي او سادګي ساته - چه کومے جامے دے اغوستے وي هم په هغوي کښے زه - ا د که چرته کپړے دے ډيرے خيرنے وي يا داسے څه موقع وي نو په مختصر طور سره کومے چه په آسانئ بدليدے شي بدلے کړه بس -

۱۲:- د چا نه د بدل اغستو په وخت د هغه د خاندان يا د سړو عيبونه

مه را لګوه په دے کښے ګناه هم دے اوخا مخا بل خفه کول دی۔
۱۳:- په دے شے چه استعمال کړے یا لوښے خالی شی نو فوراً ئے واپس کوه۔ او که دغه وخت خوک ورته ونه وی نو د خپلو لو خونړ ئے جدا تیار کیده چه ضائع نشی هسے هم بے اجازته د چا شے استعمالول ګناه دے۔
۱۴:- د بنده خوراک سکاک عادت مه جوړه وه۔ همیشه پوشان وخت نه وی نو بیا به درته ډیر تکلیف وی۔
۱۵:- احسان د هیچا هم که چیرته لږ وی مه ئے هیره وه۔ او خپل احسان که ډیر زیات هم وی پچا ئے مه ږباته۔
۱۶:- کله چه بل کار نه وی نو د تولونه بنه شغل د کتاب دے۔ د دے کتاب په خاتمه کښے بعضے بنه بنه کتابونه ایکو هغه کوره۔ او د کوموکتابونو چه اثر بنه نه وی هغه چرته هم مه کوره۔
۱۷:- په چغه خبره چرته مه کوه یا هرته آواز او چی خومره د شرم خبره ده۔
۱۸:- که د شپے پاڅے او د کورخلق اوده وی نو کړکړ مه کوه په زوره زوره مه ګرځه ستا خو ضرورت دے نو پاڅیدلے ئے د ولے نور خلق د خوابه او باسے۔ کار د ورو کوه و ورو لوے کوه۔ او به په قلاره را اخله لاړے په قلاره توکه۔ رورو ځه، غلے منګے پته وه۔
۱۹:- د مشرانو سره خندا مه کوه د بے ادبئ خبره ده۔ او د بے حوصلے خلقو سره بے تکلفی مه کوه بے ادبه کیږی۔ بیا به درباندے بده لږی۔ او یا به دغه خلق بیا بل ځائے ګستاخی او کړی د لیله به دے کړی۔
۲۰:- د خپل خاندان یا د خپل اولاد تعریف د چا په مخ کښے مه کوه۔
۲۱:- که په یو محفل کښے تول او حدیږی نو ته هم پاڅه په ځ کښے تکبر راځی۔
۲۲:- چه د دوه تنو په مینځ کښے خفګان وی نو ته ئے په مینځ کښے داسے خبره مه کوه چه که هغه دوانړه بیا یو شی نو ته به ئے په مینځ کښے شرمنده شے
۲۳:- ترخو پورے چه په روپو پیسو یا نرمئ سره کار کیږی نو په سختئ او په خطره کښے ځان مه غورځه وه۔
۲۴:- د میلمه په مخ کښے چا ته غصه مه کوه۔ په دے سره د میلمه زړه تنګیږی او بد ګمان کیږی رچه ګوندے په ما خفه ده)۔
۲۵:- د دشمن سره هم په خه خوئ مخامخ کیږه چه دشمنی ئے نه زیاتیږی۔
۲۶:- د روټئ ټکړے وغه شان غورزیدلے مه پریږده کوم ځائے چه ئے او وینے نو اوچت کړه او صفا ئے کړه او ئے خوره او که ته ئے نه خورے نو چا چا نورلته ئے ورکړه۔

او که دسترخوان پورته دا سې ځای کې مه غوړوه وه چه ګپاچپې پرې راځي.

۱۲۷:- چه خوراک اوخورې نو چه ترڅو پورې دسترخوان نه وي اوچت شوې مه پاڅه داکښې بې ادبي ده.

۱۲۸:- په جينکو تاکيد کوه چه د هلکانو سره لوبې نه کوي په دې سره د دواړو عادت خرابيږي او چه پردي هلکان کورته راشي نو که وا ړه هم وي خوجينکۍ تې بيرته ساته چه ترمخه کيږي ورته نه.

۱۲۹:- دچا سره د لاسو خپو ريښې د لاسونولبزه ولوړ توتې مه کوه اکثر په کښې خفګان جوړيږي اوکله په کښې خوګيدل هم کيږي - اوزباني توتې هم زياتې مه کوه - په دې کښې هغه بل زړه ورکيږي هم او تکرار په کښې هم کيږي اوخاص کړ د ميلمه سره توتې کول ډيره عبث خبره ده.

۱۳۰:- دخپلو مشرانو نه سرته مه کينه ليکن که هغه درته په څه وجه حکم اوکړي نوبيا ادب په دې کښې دې چه حکم ئې اومنلې شي.

۱۳۱:- که دچا نه څه شئ اوغواړې دڅه کارد پاره نو ډيرا حتياط ئې کوه او چه خالي شي نوفوراً ئې ورته رسوه ديته مه ګوره چه هغه به پسې پخپله راشي هغه به خبر نه وي چه څنګه رسوې دې او بل د لحاظ د وجه به هم څه نه شي وېلې - او يا به ئې هيرشوې وي - نو چه بيا د هغه ورته پخپله ضرورت پيښ شي څومره به پريشانه وي - دغه شان که دچا درته څه قرضه وي نو د هغې هم خيال ساته چه کله درسره اوشي نوفوراً ئې اداکوه.

۱۳۲:- که چرې په ناچارئ سره چرته د شپې بيا ده ځې نو د شرنګ پرنګ کالي يا پيزارمه اچوه چه څوک دربانده نه پوهيږي.

۱۳۳:- که څوک بالکل يوازې په کمره کښې وي او دروازه بنده وي نوناڅاپه پرې مه ورننوځه - کيدې شي چه هغه بربنډ وي يا اوده وي اوبرناحقه پريشانه شي - بلکه په اندازه سره ورته اول آواز اوکړه د دننه تلو اجازت ترې اوغواړه که هغه درته اجازت اوکړي نو دننه ورځه او که نه وي نومه ورځه - البته که د ډيرضرورت خبره وي او هغه اوده وي نو بيائې په آواز سره راويخ کړه - او ترڅو چه هغه راويخ شوې نه وي او آواز ئې درته نه وي کړې ترهغې پورې ورته دننه مه ورننوځه.

۱۳۴:- کوم سړې چه نه پيژنې د هغه په مخ کښې د يو کلي يا قوم بد مه وايه شائد چه دا سړې د هغې کلي يا قوم وي - نو ته به شرمنده شې.

۱۳۵:- دغه شان چه د يو کار د کولو درته معلوم نه وي نو دا سې مه وايه چه دا کوم بې

بې وقوفه کړې دې شايد چه دا دلسې سړی کړې وی چه ته ګی لمانځه کوې نو چه درته معلومه شی بيا به شرمنده شې ـ

۱۳۶ـ کهٔ ستا څوک بچي کچا څهٔ نقصان اوکړی او څهٔ خطا اوکړی نو چرته هم دَخپل بچي طرفداری مه کوه ـ او بيا خاصکر دَ بچي په مخ کښې داسې کول دَ بچي عادت خرابول دی

۱۳۷ـ چه لور خور چالہ ورکوې نو دَ هلک په مزاج کښې اول دا خبره ګوره چه دَ خدائے نه ويريږي دينداری په کښې وی داسې سړی هميشه خپله بی بی په آرام سره ساتی ـ کهٔ مال دولت ئې ډير وی خو چه ديندار نه وی نو هغه سړے دَ خپلې بی بی حق نه پيژنی او وفاداری په کښې هم نه وی او روپئے پيسې اول ورکوی نه او کهٔ ورکړی نو اول ئې په ډيره اوسوزه وی ـ

۱۳۸ـ دَ بعضې ښځو عادت وی چه پردے ته څوک راغواړی نو دَ هغه ځائے له ئې په کيتيؑ اووَلی دا ډير بد عادت دی بعضې وخت هغه په چا او بدی نو خوبدشی داسې نه دی کول پکار بلکه په خپل ځائے دې څه اوتکوی ـ

۱۳۹ـ ځپلو کپړو په ستن تار سره څهٔ نخه کوه يا پے ټکل جوړه وه چه دَ دهوبی سره نه بدليږی ـ اکثر په غلطئ کښې دَ يو کپړے بدل له او دَ بل بل له ورکوی دا ګناه هم دے او دنياوی نقصان هم ـ

۱۴۰ـ په عربو کښې دستور دے چه څوک دَ چا بزرګ نه دَ تبرک د پاره څهٔ شے غواړی نو هغه شے ورله دَ خپل طرفنه اول ورکړی چه دا يو څو ورځے استعمال کړئ بيا ئے ماله راکړئ ـ نو په دے کښې په هغه بزرګ څهٔ پريشانی نه راځی ـ ورنه کهٔ هر يو راځی او دَ بزرګ نه يوه يوه کپړه غواړی نو دَ هغه سره خو به يوه څيز هم پاتے نه شی ځکه چه دَ ملک خلق په هغه دَ بزرګانو نه غواړی نو هغوی ته پريشانی وی کهٔ دا خلق هم دَ عربو دستور شروع کړی نو ډيره غوره به وی ـ

۱۴۱ـ کهٔ يو سړے دَ خپل طرفه څهٔ خبره اوکړی نو کهٔ دَ هغے خلاف مناسب جواب ورکول وی نو دَ خپل طرفه جواب ورکړه دَ بل نوم مهٔ اخله چه ته داسې وائی او فلانے داسې وائی ځکه چه کهٔ دے سړی هغهٔ ته څه او وے نو چه هغه ئې واوری نو خفه به شی ـ

۱۴۲ـ محض په اټکل او په ګمان سره بغير تحقيق نه چا الزام مه لږه وه په دے سره ډير زيات زړه ته خفګان او درد رسی ـ

دَ لاس دَ هنر او پيشے لږ شان بيان

بعضې لاوارثه او غريب ښځے چه دَ خوراک او کپړو څهٔ سهارائے نه وی په داسې

ډیره پریشانئ او مصیبت کښې اخته وی چه الله پاک دے تے امان را کړی۔ دَ دے علاج په دوه خبرو سره کیدے شی۔ یا دے نکاح اوکړی۔ یا دے څه هنر ایزده کړی۔ لیکن دَ دے ملک جاهلے بنځے نکاح او هنر عیب گنړی۔ او دَ نورو خلقو هم دومره توفیق نه وی چه دَ داسے غریبا نو خرچ پوره کړی۔ نو دَ داسے خلقو گنډ اره ډیره گرانه وی۔

بیبیانو! په نورو خو دَ چا زور نه وی نو خپلو لاسو خپو او زړه خو خدائے پاک اختیار در کړے دے۔ چا ته بدے ردے مه وائی او مه په چا الزام لږ وئ که دَ چا عمر دَ نکاح قابل وی نو نکاح دے اوکړی او که قابل دَ نکاح نه وی یائے زړه نه غواړی او دَ جنجال نه یریږی نو په دے صورت کښې دے له پکار دی چه خپله گنډ اره په یو پاک هنر سره کوی۔ که څوک درپورے خاندی یائے سپک گنړی نو څه گنړئے پرواه مه کوئ۔ دَ نکاح بیان په شپږم حصه کښې تیر شوے دے او دَ لاسو دَ هنر بیان اوس کوو۔

بیبیانو! که دَ لاسو پیشه او هنر دَ بے عزتئ خبره وے نو پیغمبرانو به ولے دا کارونه کول۔ دَ دوی نه زیات عزت مند څوک دی۔ په حدیث شریف کښې دی چه حضور صلے الله علیه وسلم بیزے ساتلی دی۔ او دائے[۲] فرمایلی دی چه یو پیغمبر داسے نه دے تیر شوے چه هغه بیزے نه دی څرولی۔ او دائے هم فرمائیلی دی چه دَ ټولو نه غوره گټه دَ خپلو لاسو گټه ده۔ او حضرت داؤد علیه السلام به دَ خپلو لاسو دَ هنر نه خوړه۔ دا ټولے خبرے حضور صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ او دَ نورو پیغمبرانو[۴] دَ داسے کارونو بیان په قرآن شریف کښې دے او بعضے کارونه ئے په داسے کتابونو کښې لیک دی چه په هغے کښې دَ پیغمبرانو حالات دی دَ دے ټولو دَ لږ ونوموُنه لیکو۔

دَ بعضے پیغمبرانو[۴] او بزرگانو[۲] دَ لاسو دَ هنر بیان

حضرت آدم علیه السلام به زمینداری کوله۔ او دانے به ئے اوړه کولے او ډوډئ به ئے پخولے۔ حضرت ادریس علیه السلام به دَ لیکلو (کتابت) او درزی توب کار کولو حضرت نوح علیه السلام به لرگی تراشل کشتئ ئے تے جوړه کړے ده۔ چه دَ ترکانړئ کار دے۔ حضرت هود علیه السلام به تجارت کولو۔ حضرت صالح علیه السلام به هم تجارت کولو۔ حضرت ذوالقرنین چه ډیر لوئے بادشاه وه ټوکرئ به ئے جوړه ولے۔ حضرت ابراهیم علیه السلام زمینداری کړے ده او دَ تعمیر کار ئے کړے دے خانه کعبه ئے جوړه کړے وه۔ حضرت لوط علیه السلام به زمینداری کوله۔ حضرت

اسمٰعیل علیه السلام به غشی جوړه ول او نخې به ئې ویشتې - حضرت اسحاق علیه السلام حضرت یعقوب علیه السلام او ټول اولاد به ئې بیزې څرولې او بچې به ئې ورله څرځول او ویجته به ئې تې څرځول - حضرت یوسف علیه السلام د غلې تجارت کړې دې - کله چه قحط راغلې وه - حضرت ایوب علیه السلام به د اوښانو او بیزو بچې ساتل او زمینداری به ئې کول - حضرت شعیب علیه السلام به بیزې څرولې حضرت موسیٰ علیه السلام ډیر کاله بیزې څرولي دي - او د هغه د نکاح د امهر وه (اوس د اسې مهر مقرر کولې شي او که نه د امسئله تفصیل غواړي د ضرورت په وخت کښې د علماؤ نه تپوس پکار دې - شبیرعلي) حضرت هارون علیه السلام تجارت کړې دې - حضرت الیسع علیه السلام به زمینداري کوله - حضرت داؤد علیه السلام به زغرې جوړه ولې چه د لوهار کار دې - حضرت لقمان ع ډیر حکیم عالم وه - بعضې خلق ورته پیغمبر وائي بیزې ئې هم څرولي دي - حضرت سلیمان علیه السلام به زنبیلونه جوړه ول - او حضرت زکریا علیه السلام به ترکاڼي کوله - حضرت عیسیٰ علیه السلام به د یو د کاندار سره کپړې رنګ کولې - زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د نورو ډیرو پیغمبرانو بیزې څرې ول او س بیان شو - اګرچه د دې پیغمبرانو کسب ان په دې کاروبار نه دې نه وه خو بیا هم کړي ئې دي شرم ئې ترې نه دې کړې او لویو لویو عالمانو او بزرګانو چه د هغوی د کتابونو مسئلې سند دي په دوی کښې ډیر کپړې او دلې دي چا د څرمنې کار کړې دې چا پیزار ګنډلې دې چا میتهایانې جوړې کړې دي خو بیا داسې څوک دې چه د دې ټولو نه توبه توبه زیات عزت مند دې -

بعضې آسانه طریقې د ګټې ان کولو

په کور کښې ټوکرۍ نه کول - څادرونه پروني کل کول - کمر بندونه جوړه ول، جورابې موزې، بنیونه جوړه ول، کلو بندونه جوړه ول، ټوپۍ جوړه ول جامې کپړې ګنډل کپړې رنګ کول، لرګي رنګ کول، کرسۍ بنړل، ټوپۍ په تیله کول، د ګنډلو یا د کلونو مشین کول، چرګان ساتل د هغوی اګۍ او بچي څرڅول - راحلونه، چوکۍ صندوقونه وغیره رنګ کول - مالوچ په څرخه ورېښل، دړۍ ورېښل، په آلاچۍ مالوچ او پنډانه جدا جدا کول، پر توګا خونه جوړه ول او څرڅول، د کتابونو جلد ونه تړل، کټونه کټ کي بنړل، میزرې غټه ټکل رسۍ تې جوړه ول، لوخې غټه ټکل رسۍ تې جوړه ول - انځیرۍ، ټوکرۍ د میزرونه جوړه ول - ببوزي تې جوړه ول په ببوزو کلونه کول، بچوکي جوړه ول، د کور ټوټو نو تجارت کول، کپړې چاپ

کول، تهوپۍ، جاناموزونه، رومالونه، چادرونه برسیرنه تولیانې بالختونه وغیره بهل کول - په موسم ګلي دانې اغستل او بیائې خرڅول، رانجه او پره کول یا دارو په کیپے اچول او بیائې خرڅول، او دغه شان نور هم ډیر کارونه دي لکه ورو وجینکو ته سبقونه ویل او څه حصونه ورته خودل وغیره او په دے کارونو کیپې څه کارونه داسے دي چه حقه بغیر د بل د خودلو نه ایزده کیږي نو حقه دے د چانه ایزده کړی - او بعضے آسان دي - نن صبا تهوپۍ کول مشین کول بهل کنډل کول د بنځو د پاره ډیر د فائدے کارونه دي او دغه شان بینونه -

(روس په اصل کتاب کیپې نور هم ډیر داسے حصونه لیکلي شي چه حقه نن صبا په بازار کیپې ډیر په آسانۍ موندے شي او پیچلي جوړول ئې ګران پرهوجي نو حقه مونږ پاتے کوو - مترجم) -

ضمیمه د جنت د کالي د لسمے حصے

په دے کیپې هغه مسئلے دي چه ورو ستو یادے شوے

مسئله ۱:- کوم څائے چه حرام څیز زیات وي حلته بے تپوسه خوراک جائز نه دے البته که په تپوس سره معلومه شوه چه دا خاص شے حلال دے نو که حال ویونکے نیک دیندار وي نو بیائے خوړل جائز دي او که هغه سړے نیک نه وي او یا حال معلوم نه شي چه بنځه دے او که بد نو حکم ئے دادے چه که زړه ئے ګواهي کوي چه داسړے څه دے نو عمل په جائز دے او که زړه ئے ګواهي نه کوي نو بیا عمل جائز نه دے - لکه د آمو نو د راتلو نه اول چا فصل خرڅ کړه نو دا خو تا لوستي دي چه حرام دي نو په کوم کلي کیپې چه د دے زیات رواج وي او د میوے نیو و نه اول خرڅیږي حلته دا مسئله چلیږي کومه چه مونږ بیان کړه - نو د کوم آم چه حال معلوم شي چه دا د میوے نیو و نه پس خرڅ شوے دے هغه جائز دے - او بے تپوسه ئے خوړل جائز نه دي -

مسئله ۲:- بیمارۍ ته بد ویل منع دي -

مسئله ۳:- که یو کافر بنځه تالره په خوشحالۍ سره مسلمانیدو له راشي او د دے په مسلمانولو کیپې د څه جګړے فساد یره نه وي نو مسلمانه ئے کړه او د مسلمانولو طریقه ئے داده چه (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) (د عبادت لائق بل څوک نشته مګر یو الله پاک دے او محمد ﷺ رښتونے رسول د خدائے پاک دے) او ټول پیغمبران رښتونی منم او د خدائے پاک ټول کتابونه، او فرښتے او تقدیر او قیامت منم دے ورته او وائي او دا چه ما خپل اول دین پریخوده او د مسلمانانو دین م قبول کړه - او پنځه وخته مونځ به کوم، او د رمضان روژے به نیسم او که مال م او شه نو

زکوٰة به تے ورکوم او که زیات مال م او شه نو حج به هم کوم او د الله او رسول[۲] قول احکام به منم[۱] او ادا کوم به ئے - او که کوم څیز ونو شه چه الله پاک او رسول[۲] منع کړے ده د هغې قول لوښه یه ځان ساتم اے الله ما په دین او ایمان ثابت قدم مه وساته - او که دین په کار دو نو کښې ځان ورا و کړے - بیا چه څومره خلق هلته موجود وی هغه دے ټول په جمع د الله پاک نه سوال او کړی چه اے الله د دے اسلام قبول کړے او مونږ هم په اسلام قائم کړے او خاتمه مو په ایمان کړے -

مسئله[۴]:- چغلی غیبت او تهمت وغیره مکوه -

مسئله[۵]:- په آوریدلے خبرے اعتبار مه کوه -

مسئله[۶]:- بعضے ښځے داسے ګنړی چه پلیته کپړه تر څو پورے چه د اینځلو نه پس اوچه شوے نه وی پلیته دی - مونځ پے نه کیږی دا بالکل غلطه خبره ده بعضے ښځے د ناپوهۍ نه مونځ قضا کوی او په لنده جامه مونځ نه کوی دا غلطه کوی مونځ قضا کول نه دی پکار په لنده جامه هم مونځ کیږی -

مسئله[۷]:- د بعضے ښځو دا عقیده ده چه د کومے ښځے ماشوم پیدا شی نو یوه چرخه بخیراتی ورکوی ورنه ښځی ته به خطره وی دا عبث او واهیات خبره ده -

مسئله[۸]:- بعضے ښځے چیچک (ننکۍ) د آسیبا و پریا نو اثر ګنړی او په دغه کور کښې دیوے بکیږے کوی دا ټول عبث خیال ونه دی توبه تے کول پکار دی -

مسئله[۹]:- په کومه کپړه کښې چه څڼکلے یا د سرو ښځته یا ښته مرئی ښکاریږی په هغې سره مونځ نه کیږدی -

مسئله[۱۰]:- کوم فقیر چه محنت مزدوری کولے شی او بیا هم خیرات غوښتل ځان له پیشه جوړه کړی هغه له خیرات ورکول جائز نه دی -

مسئله[۱۱]:- د ریل په سفر کښې که اوبه نه وی نو تیمم کوه خو مونځ مه قضا کوه -

مسئله[۱۲]:- بعضے ښځے د منډ دور نو کرنه پرده نه کوی دا لوئے ګناه ده -

مسئله[۱۳]:- پردے شے که هر څو کم قیمته وی مګر بغیر د مالک د اجازت نه ئے هرګز مه استعمالوه او چه استعمال ئے کړے نو بیائے دغه شان مه پاتے کوه مالک ته ئے سپاره چه واخله خور داستا قینچی یا ستن وغیره ده -

مسئله[۱۴]:- د ریل په سوارلۍ کښې د کرائے محصول او اسباب وړلو قاعده د ریل والو د طرف مقرر ده د هغې خلاف کول یا دهوکه کول یا اصل خبره پټول جائز نه دی مثلاً هلته دا قاعده ده چه کوم مسافر په لاندے درجه کښې سفر کوی چه د ریمه درجه ورته والئ هغه له نا شته خوراک او لاندیستو نے بالندیستو نے او د دینه علاوه د پنځو یشت سیره بوج اسباب وړلو اجازت دے په دے محصول نه راځی فقط څله

کرایه به ورکوی او که د دینه لږ هم زیات شی نو بیائے ریل والا تلی او څومره چه پے محصول راځی هغه به ورکوی - نو که یو سړے د ځان سره شپږ ولیشت او ویشت سیره اسباب بے تولیو سی محصول ئے ورنه کړی نو که کاړی واله ورته څه او نه وائی لیکن د خدائے تعالیٰ په نزد به گناه گار وی - او بعضے داسے کوی چه اسباب ډیرش سیرهٔ شی بابو ورته او وائی چه ذه به ئے شل سیره او لیکم مال دومره پیسے راکړه نو په دے کښے دوچند گناه دے یو د زیات سامان بغیر کرائے وړ وا او دویم د رشوت ورکولو - دغه شان دا قاعده ده چه کوم بچے د درے کالو نه کم وی د هغه محصول معاف دے او چه د درے کالو وی یا زیات وی د هغه نیمه کرایه ده - او چه د دولسو کالو پوره شی بیائے کرایه پوره ده - نو که د چا سره د دریو کالو بچے وی او بے کرائے ئے بیائی چه دا د دریو کالو نه کم دے نو گناه گار شه دغه شان که د دولسو کالو بچے کم او خائی او په نیمه کرایه ئے بیائی دا هم گناه دے - او په دے ټولو صورتو نو کښے به د قیامت په ورځ د دریو پیسو په ځائے نیکئ ورکوی - یا به د دغے ریل والو گناه د دهٔ په سر بار کیږی -

مسئله ۱۵ :- نن صباچه کومه داسے انگریزی لوستے کیږی چه بعضے خبرے په کښے د دین نه خلاف وی او دغه لوستونکی د دین نه نا خبره وی نو ډیر هلکان په دے سره داسے کیږی چه ایمان ئے په زړه کښے نه پاتے کیږی او په خولے سره هم داسے خبرے کوی چه په هغے سره ایمان ځی نو که د داسے هلکانو سره د مسلمانے جینئ نکاح اوکړی دا نکاح نه صحیح کیږی په شریعت کښے - او چه نکاح ئے اونه شی نو ټول عمر به بدکاری کوی نو وبال به ئے په مور و پلار په دنیا کښے هم پریوځی او په اخرت کښے به هم عذاب وی - نو پکار دی چه د جینئ د کوژدنے په وخت کښے ښهٔ تحقیق کوی چه دیندار دے او که نه - د حسب نسب او مال دولت تحقیق هر سړے کوی لیکن د دینداری نه کوی دا ډیره غلطه خبره ده او انجام ئے وبال او گناه دے - غریب دیندار د امیر بے دینه نه په هزار درجے غوره دے - او دا خبره هم معلومه شوے ده چه کوم سړے دیندار نه وی هغه د بی بی حق هم نه پیژنی - او رغبت ورسره هم نه ساتی بلکه د بعضو خو دا حال وی چه په پیسه کاسیره سره ئے تنگ ساتی - نو چه آرام په کښے نصیب نه شی نو آمیری خو د ختلو شے نه دے -

مسئله ۱٦ :- دا چه مشهوره ده چه د قطب ستوری ته خپے غځوول نه دی پکار دا بالکل غلط ده په شریعت کښے د دے ستوری څه ادب نشته -

مسئله ۱۷ :- دغه شان دا چه خبره چه مشهوره ده چه د شپے اوُنے خواب کوی دا بالکل غلطه خبره ده -

مسئله ١٨:- دغه شان دا چه مشهوره ده چه څوک په کټ کښې مونځ کوي نو شاړه کیږي دا بالکل واهیات خبره ده که کټ څه راخکو دے وي مونځ پرې جائز دے او که پلیت وي نو پاکه کپړه پرې خوره کړه لیکن بے ضرورته دے پرې مونځ نه کوي۔

مسئله ١٩:- دغه شان دا چه مشهوره ده چه د مخکښې امتونو څه خلق شادوګان شوي وو۔ او دا شادوګان د هغوي نسل دے دا بالکل غلطه ده په حدیث شریف کښې دي چه هغه تول شادوګان مړه شوي وُو د هغوي نسل نه دے پاتے شوے دا شادوګان د مخکښې نه هم موجود وو داسې نه چه د هغوي نه شروع شو۔

مسئله ٢٠:- که په قرآن شریف کښې څه غلطي (د کتابت) او وینې نو فوراً ئے پخپله یا په بل صحیح کوه بیا حیدرشي او غلط تلاوت ئے کیږي۔ او بنده پرے ګناه ګار کیږي۔

مسئله ٢١:- دا دستور دے چه قرآن شریف د چا د لاسو نه ارتاؤشي نو غله ورسره اوتلي او ورئے کړي دا څه شرعي حکم نه دے ښځو انو مشرانو شاید چه دا د تنبیه د پاره یو قاعده مقرر کړے وي چه خیال ئے ساتلے شي دا ډیر ښه مصلحت دے لیکن بے ضرورته قرآن شریف په تله کښې ایخودل هم د ادب نه خلاف خبره ده نو که غله ورکوي دغه سے دے ورکوي څومره چه ئے طاقت وي قرآن شریف دے نه تلي۔

مسئله ٢٢:- کومه مسئله چه درته ښه یاده نه وي چرته ئے چا ته مه وایه۔

مسئله ٢٣:- بعضې ښځې داسې کوي چه په ډولۍ کښې دوه جینکۍ کینوي او وائي چه یوه ده دا ډیر ګناه دے ځکه چه په بعضې ځایونو کښې ډولۍ په سړو وړي هغوي له پیسے ورکوي نو پیسے د یوے ورکوي او وړي ئے دوه۔ یا دے پیسے زیاتے ورکوي او یا دے هغو ته حال وائي۔

مسئله ٢٤:- اکثر ښځې صندوق په سر کړځوي په دے صندوق کښې نقشے او تصویرونه وي او شیشه ورته لږېدلے وي خلقو ته ئے ښائي او پیسے پرې اخلي نو په کوم صندوق کښې چه د جاندارو تصویرونه وي د هغې تماشے کول منع دي او دغه شان د جاندارو تصویرونه اخستل او د هغې تماشه کول منع دي۔ دغه شان بعضې خلق هغه باجے کورته راوړي او غږه وي ئے چه د هغې اواز په کښې بند وي۔ نو دا یاد ساته چه د کوم آواز حسبے آوریدل منع دي په باجه کښې ئے آوریدل هم منع دي لکه ګانا بجانا۔ او بعضې په کښې قرآن شریف لوستل بنده وي نو د قرآن شریف آوریدل خو ډیره ښه خبره ده مګر په دے کښې ئے د بنده ولو مطلب فقط لوبه او تماشا وي نو دا هم منع دي جینکو او ښځولو د داسې څیزونو حرص نه دی کول په کار۔

مسئله ٢٥:- بعضې خلق داسې کوي چه کوته روپئ ورسره وي او چلیږي نه

نو په دهوکه سره يے چالان ورکړی او يا ئے په شپه کښے په تياره کښے اوچلوی دا ډير ګناه دے چاچه ورله ورکړے وی هغه له ئے ورکړه که يا د دے يے ورته اوکه په بله څه طريقه سره ئے ورکوے هرڅنګه جائز دی خو کله چه څۀ په يقين سره ورته معلومه وی چه دۀ را کړے ده او که ذرا شک وی نو بيا هم جائز نه دی او که چا ته اووائے چه دا کوته ده او هغه ئے په خوشحالئ سره قبوله کړی چه خير دے رائے کړه نو هم جائز دی۔

مسئله ۲۶ :- بعضے وخت يو سړی ستر بڅے پټے کړی وی او پروت وی او دوه کسان هغه اُوده او ګڼړی خبرے شروع کړی پټے خبرے داسے چه که دوی ته پته اولږی چه دے ويخ دے نو بيا به داخبرے نه کوی۔ په داسے موقع کښے په دے ملاست واجب دی چه خبرے اوکړی او د هغوی خبرے په دهوکه سره وانه وری ځکه چه دا ډير ګناه دے

مسئله ۲۷ :- د بعضے ښځو داعادت وی چه نذرانے منختے کوی چه که خُما فلانے مراد پوره شه نو جمات ته به لاړه شم سلام به اوکړم يا د جمات تاخ به ډک کړم او بيا جمات ته ځی خپل نذر پوره کوی۔ نو دا يا دساتئ چه د ښځو جمات ته تلل ښۀ نه دی نه د ځوانے او نه د بوډئ۔ څۀ نه څۀ بے پردګی ضرور کيږی۔ د الله پاک سلام دا دے چه څۀ نفلونه اوکړی په ذړه په ژبه ئے شکر ادا کړی نو دا به کور کښے هم کيدے شی۔ او تاخ ډکول دا دی چه څۀ ئے توفيق وی په محتاجانو ئے تقسيم کړه نو دا هم په کور کښے کيدے شی۔

مسئله ۲۸ :- نو ټونه په کمه بيا ذيا ته به لول ټيک نه دی مثلاً د پنځو روپو نوټ په پاؤ با ندے پنځه روپئ به لول جائز نه دی او خير په کمی کښے څه نا چاری هم وی اګرچه ګناه دے مګر په ذياته سره په به لولو کښے خو ئے څۀ ناچاری هم نشته يا په کمی سره په اغستو کښے ئے ذيات ګناه دے۔

مسئله ۲۹ :- د چا خط لوستل بغير د هغه د اجازت جائز نه دی۔

مسئله ۳۰ :- په منګز کښے چه کوم ويښته راوځی هغه د غسے مه غورزه وه او مه ئے په ديوال کښه که ده اکثر د نا محرم ستر بڅے پے لږی کوے ويښتو هم د غه شان پرده ده لکه څنګه چه د ښځے ده۔ بلکه زمکه او کنه او په هغے کښے ئے پټ څه کړه چه د چا ستر بڅے پے نه لږی۔

مسئله ۳۱ :- د کوم مضمون چه په ژبه بيا نول ګناه دے هغه په خط کښے ليکل هم ګناه دے لکه د چا غيبت شکايت خپله برائی وغيره۔

مسئله ۳۲ :- که تار په خبر کښے شک راتلے شی په دے وجه د ميا شتے په خبر

کښې په دے اعتبار نِشته -

مسئله ۳۳:- د طاعون د ځائے نه پد دے وجه تختېدل چه هیڅ به شم تے منع دی او څوک چه پد غه ځائے په صبر سره پاتے شی هغه ته د شهید مرتبه به ملاویږی (د خو چه صبر او کړی) -

مسئله ۳۴:- د بعضو عادت وی چه چا وارہ یا خادم ته او وائی لاړشه د جمات په لوټه کښې اوبه راوا خله هلته په موږ کو نکو ئے دم کړه راوړه ئے چه فلانی بیمار له ئے ورکړو - یا د قرآن ختمید و په وخت کښې د جمات په لوټه کښې اوبه دم کړی کور ته ئے د برکت د پاره راوړی - یا دسا ته چه د جمات لوټه د څان د پاره استعمال ول منع دی د خپل کوره دے لوښے وړی -

مسئله ۳۵:- په چا هلاک کښې مشهوره ده چه په یو لاس کښې اوبه او په بل لاس کښې اور وړل منحوس دی یا داچه ښځه خاوند دے په یو لوښی کښې ئے نه خوری خور رور کیږی - یا د یو پیر مریدان کیږی دے نه خور رور به شی - یا داچه د مرید دے سره نکاح جائز نه دے - یا داچه قینچی مه کړه سه وه جګړه تے جوړیږی - یا چه او روسره وی نو د دوه تنو په مینځ کښې مه تیریږه د دوی په مینځ کښې جګړه جوړیږی - یا دوه تنه دے یوه منګر نه استعمالوی جګړه به ئے جوړه شی - یا د ورځے قیصے مه وایه د مسافرینو لار ورکیږی دا ټولے خبرے داحیات بے اصله دی دا سے عقیده ساتل ګناه دے -

مسئله ۳۶:- چا ته حرام زاده یا د سپی نه پیدا یا د سور بچے یا بله داسے خبره مه کوه چه کنځل ئے به مور و پلار لګی حقوق ئے یا نو درله څه ګناه کړے دے او بچیله قصور وار ته هم د قصور نه زیات بد رد مه وایه -

مسئله ۳۷:- تمباکو خوړل یا چیلم سکل خو هسے هم بے ضرورته مکروه دی او که لاچاری وی نو بیا خیر دے مګر د مانځه په وخت کښې به خوله ښه صفا کوی په مسواک یا دانړیا لوجویلو یا په بله څه طریقه که په مانځه کښې ئے بخولے کښې بوئ وی نو ملائکو ته تکلیف وی په دے وجه منع دی -

مسئله ۳۸:- آفیم که د علاج د پاره په نوره دوائی کښې دومره قدرے شامل وی چه نشه نه راولی نو جائز دی او بعضے ښځے چه ئے بچولو ته اوده کولو د پاره ورکوی چه اوده وی دا جائز نه دی -

مسئله ۳۹:- اکثر ښځے چه قرآن لولی او چرته د خاوند نوم ئے په کښې راشی نو پاتے کوی ئے یا ئے پټ وائی دا داحیات خبره ده د قرآن شریف په لوستو کښې د څه شرم دے

مسئله ۴۰:- هوښیار وجینکو ته دے په ځوان سړی سبق د قرآن شریف نه وائی (دا بنهٔ خبره نه ده)۔

مسئله ۴۱:- د لیکلی شوی کاغذ ادب ضروری دے هسے غورځول ئے نه دی پکار۔ کوم خط چه ردّی شی یا د دوکاندار نه په لیکلی شوی کاغذ کښے سودا راوړے شی نو چرته محفوظ ئے کیږده یا ئے اوسوځوه۔ دغه شان کله په لاره کښے لیکلے شوے کاغذ اُووینے نو یا ئے محفوظ کړه یا ئے اوسیزه۔

مسئله ۴۲:- په دسترخوان چه د غلے کوم پوتی پاتے شی هغه هسے مه اچوه یائے داسے ځائے ته جاروکوه چه خپے پے نه راځی یا ئے چرګو وغیره ته اچوه۔

مسئله ۴۳:- چه څوک خط لیکی نو پټو اکښے ئے کینا ستل او خط ئے لوستل منع دی (دا ډیره بده خبره ده)

مسئله ۴۴:- که د چا د بدن په لاندے نیمه حصّه کښے زخم یا دانے وی او په اوبو رسیدو سره نقصان کوی او غُسل ته ئے حاجت وی او په لمبلو کښے ئے ېچ کولے نه شی نو تیمم کول ورله جائز دی۔

مسئله ۴۵:- په جاهلانو کښے مشهوره ده چه د تسبو په دے غاړه اړه ول برابر دی او په دے غاړه اُلټه دی دا قول واهیات دی اصل مطلب د شمارنه دے په هره د ړه چه وی۔

مسئله ۴۶:- درود شریف ے او دسه په جنابت کښے په حیض او په نفاس کښے په هرحالت کښے لوستل جائز دی۔

مسئله ۴۷:- د هلک غوږ یا پوزه سوری کول منع دی۔

مسئله ۴۸:- ناکاره نوم ایښودل منع دی چه غوره نوم کده نو د پیغمبرانو په نوم نوم کده یا د الله پاک په نومونو کښے په یو نوم د "عبد" لفظ زیاته وه لکه عبد الله، عبد الرحمن، عبد الباری، عبد القدوس، عبد الفتاح، یا بل یو نوم په چا عالم کده۔

مسئله ۴۹:- په جاهلو ښځو کښے دا مشهوره ده چه په جا ناز مونځ او کړے نو بیا ئے اُلټه کړه۔ شیطان پے مونځ کوی چه سم پروت وی۔ دا خبره محض غلطه او وهم دے۔

مسئله ۵۰:- د جاهلانو عقیده ده چه ښځه په ځلو ېخې کښے د ېچی کیدو په وخت کښے مړه شی نو بلا کیږی دا بلکل غلطه عقیده ده بلکه په حدیث شریف کښے راغلی دی چه داسے ښځه شهیده شی۔

مسئله ۵۱:- جاهلان وائی چه ښځه مړه شی نو خاوند دے د جنازے څخه

نه نیسی داو بعضے خولاداوائی چه خاوند مړشی او غسل ورله ورکړی نو بیا به ورته خپله ښځه نزدے نه ورځی او نه به ورته کوری) دا بالکل غلط ده بلکه خاوند ښځې ته کتے هم شی او ښځه خوخپل خاوند لمبولے هم شی) په دے کښې هیڅ یره نِشته (لیکن دَجاهلانو په خه او وائے پردے پردے ښځې به دَچم کلاونو راغلے وی پردی مړی ته به کوری او خپله ښځه به ورته نه پریدی)۔

مسئله:- که ښځه مړه شوه او بچے ئے په کیده کښې ژوندے معلومیدو نو کیده دے ورله څیرے کړی او بچے دے تے راوباسی۔ په یو ځائے کښې خلقو داسے جهالت کړے دے چه دَیوے ښځے دَلمبولو په وخت کښې دَبچی دَپیدا کیدو نښے ښکاره شوے نو ښځو اودے چه تلو ارکوئی معلومه نه ده چه څۀ به کیږی۔ غرض زر زرئے کفن کړه چه قبرته ئے کوزه کړه نو په کفن کښې دننه دَبچی دَکیدو حرکت معلوم شه۔ لیکن افسوس چه هیچائے تماشه هم او نه کړه او زر زرئے پے تختے کیښودے۔ خاورے ئے پے واچولے۔ افسوس دے چه په ښځو او سړو کښې خو مره جهالت زور شوے دے دا ټولے خرابئ دَدین دَعلم دَنِشت والی په وجه دی (که دینی علم وے نو هرڅه به برابر وو۔ لیکن هرسړے په دنیا وړپسے دے دَدین فکر دَهیچا سره نِشته عالمان چه نن صبا ممبرته او خیژی نو په یو بل پسے خبرے شروع کړی په فرد عاتو پسے وړپسے دی دَدین بنیادی مسئلے هیڅوک نه بیانوی جاهلانو ځانله خپلے خپلے پارټئ جوړے کړی دی او عالمانو ځانله هر یو دَخپلے پارټئ دَخیالاتو او نظریاتو پرچارکوی دَدین پرچار پاتے شوے دے په کورکښې دَپارټئ خبرے په محله کښې دَپارټئ خبرے په جرګه جماعت کښې دَپارټئ خبرے په کلی بازارکښې دَپارټئ خبرے۔ دَدین خبرے دَدین شغل ئے دَمینځه خالص ویستلے دے۔ هغه دین چه دَوحدت دوروولئ همدردئ الفت او مینے محبت دَپاره به بے دینه خلق دے ته پسخیدل او خه نه خه بهانه به ئے دے ته دراتلو تو لټوله دَدے زمانے عالمانو او مشرانو دَبغض عناد نفرت او عداوت په تبرونو داسے پاره پاره کړه چه هغه تش په نوم مسلمان چه وپلار ئیکه نه ورته مسلمانی په میراث کښې پاتے شویده اخوا دیخوا کوری او دَدینه دَځان خلاصولو لار کوری چه کوم یو ړوند داسے پیدا شی چه دا دَمسلمانئ دا څادر به زڅه دَاوکوند ارتا ؤ کړم او که بیدینئ او شیطانئ په کنده به ورننوزم هم دغه وجه ده چه څوک دَروس او چین دَقانون صفتونه کوی او څوک دَامریکے او برطانئے۔ دَاسلام زدین اصول چه دَانسانی ژوندَ دَآزادئ او دَدین او دنیا دَکامیابئ او فلاح اصول دی دَمسلمان کلاسه پائمال شو[له]

له مترجم ۱۲

مسئله ۵۳:- په جاهلانو کښې دا مشهوره ده چه خاوند نامرد وی نو د هغه سره نکاح نه صحیح کیږی یعنې د سره ورسره نکاح شوے نه دے نو ښځه به تے پرده کوی - دا بالکل غلطه خبره ده -

مسئله ۵۴:- فال کتل، نوم راویستل خواه په هرچا باندے چه وی او په هره طریقه سره چه وی خو ډیر لوئے گناه ده -

مسئله ۵۵:- په ښځو کښے د مصافحے کولو او السلام علیکم ویلو رواج عام نه دے - دا دواړه خبرے د ثواب دی د دے په کورا وپه صحرا په نروا و په ښځو کښے خوره ول پکار دی -

مسئله ۵۶:- کوم ځائے چه میلمه شی نو چا فقیر وغیره له ټکړا مه ورکوه -

مسئله ۵۷:- په بعضے جاهلانو کښے دا دستور دے چه په کومه ورځ د کوره د کړلو د پاره دانے او ځی په هغه ورځ دانے نه وریتوی دا سے عقیده لرل بالکل گناه ده دا پریښو دل پکار دی -

اضافه د جانبه د مولوی محمد رشید صاحب
مدرسه جامع العلوم کان پور

مسئله ۱:- د هر یوجانور تریخے د هغه د تشو بولو پشان ناپاک دے او په شو ځند وحلوچه د معدے نه څه راوباسی هغه ئے د پاخانے په شان ناپاک دی ریعنې د تریخی اوبه ئے د تشو بولو برابر دی - او په شوځند چه د معدے نه خوراک راوباشی هغه ئے د پاخانے برابر دی)

مسئله ۲:- قرآن مجید او سپارے چه داسے زړے شی چه د سبق ویلو او لوستو د کاره او ځی - یا داسے غلط او لیکلے شی چه صحیح کول ئے مشکل دی نو په یوه پاک کپړه کښے دے او نغاړی داسے ځائے دے ښخ کړی چه د پاسه پے څوک گرځی نه - او داسے دے ښخ کړی چه خاورے پے ورنه شی بلکه لکه مړی ښځو لو پشان دے یا په بغلی قبر کښے کیدی بغلی قبر دے ورله اوکنی یا دے لحد جوړ کړی او د پاسه دے پے تختے کیدی او خاوره دے پے واچوی -

ضروری اصطلاحات

دا د مؤلف مضمون نهٔ دے بل چا پکښے زیات کړے دے پهٔ دے باندے ځان پوهول پکار دی چه د بندګانو په باره کښے چه کوم عملونه او کارونه دی دهغے اته قسمونه دی: (۱) فرض

(۲) واجب (۳) سنت (۴) مستحب (۵) حرام (۶) مکروه تحریمی
(۷) مکروه تنزیهی (۸) مباح۔

(۱) **فرض** هغه دی چه په قطعی (یقینی) دلیل سره ثابت وی، بې عذره د دې پرېښودونکے فاسق او دعذاب مستحق وی انکارکونکے ئې کافر دے (رد المحتار ص۹۶ ج۱) بیا د دې دوقسمونه دی فرض عین او فرض کفایه **فرض عین** هغه دې چه په هر یوئے کول ضروری وی، بې دعذره د دې پرېښودونکے دعذاب حقدار اوفاسق دے لکه پنځه وخته او دجُمعے مونځ وغیره **فرض کفایه** هغه دے چه په هر یوئے کول ضروری نهٔ وی د بعضو په اداکولو سره د ټولو ذمه خلاصیږی اوکه هیچا هم اونهٔ کړل نو ټول ګنهګار دی لکه دجنازے مونځ وغیره (رد المختار ص۹۰۶ و ۹۰۷ ج۱)

(۲) **واجب** هغه دی چه په دلیل ظنی (چه بل ضعیف احتمال هم لری) ثابت شوی وی د دے بې عذره پرېښونکے فاسق او دعذاب حقدار دے خو چه بې تاویله او بې شبهے ئې پرېږدی انکارکونکے ئې فاسق دے کافر نه دے (ردالمختار ص۹۶ ج۱)

(۳) **سنت** سنت هغه کار دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کړے وی د دے دوه قسمه دی: سنت مؤکده او سنت غیره مؤکده **سنت مؤکده** هغه کار دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو همیشه کړے وی او بې عذره ئې چرے هم نهٔ وی پرېښې خو پرېښونکی ته ئې څهٔ رټنه دکنه نه وی کړی دد دے حکم هم لکه دواجبو دے چه بې عذره پرېښونکے او عادتاً کړُونکے ئې فاسق او ګنهګار دے لکه. دواجب د پرېښونکی پشان او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفاعت نه به محروم وی (عام شفاعت نه به محروم نهٔ وی خاص شفاعت نه به محروم وی (شامی ص۳۲ ج۵) کله کله به پاتے کید وسره څهٔ بدیت نهٔ لری خود واجب پرېښودو ګنبے د دے د پرېښودلو نه زیاته ګناه ده **سنت غیر مؤکده** هغه فعل دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو کړے وی او بې عذره ئې کله پرېښې هم وی د دے کوګے د ثواب حقدار دے او پرېښونکے ئې دعذاب حقدار نهٔ دے د دے بل نوم سنتِ زائده او سنتِ عادیه هم دے. (رد المحتار ص۷۱ ج۱ و ص۳۳ ج۵)

(۴) مستحب هغه فعل دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو رضی الله عنهم کله کله کړے وی ددے په کولو ثواب او په نه کولو ئے څه ګناه نشته، د فقهاؤ په اصطلاح کښے دے ته نفل، مندوب او تطوع هم وئیلے شی (ردالمحتار داوسنئ پورته حواله)

(۵) حرام هغه دی چه په دلیل قطعی (یقینی) سره ثابت وی دده انکار کونکے کافر او بے عذره کونکے ئے فاسق او دعذاب حقدار دے (ردالمختار ص۹۶ ج ۱)۔

(۶) مکروه تحریمی هغه دی چه په دلیل ظنی سره ثابت وی انکار کونکے ئے فاسق او بے عذره کونکے ئے ګنهګار او دعذاب حقدار دے (شرح التنویر و ردالمختار ص۳۳ ج ۵)

(۷) مکروه تنزیهی هغه فعل دے چه په نه کولو کښے ئے ثواب وی او په کولو کښے عذاب نه وی (ص۳۲۹ ج۵ ردالمحتار)

(۸) مباح هغه فعل دے چه په کولو کښے ئے ثواب او په نه کولو کښے عذاب نهٔ وی (ردالمختار ص۳۲۹ ج ۵)

دجنت کالی یوولسمه حصه جنتی جوهر

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دنوے ملغلرے نوے دیباچه

دابنکاره خبره ده چه نوے ملغلره څه مستقل تالیف نهٔ دے بلکه دعلم الفقه نومے رسالے نه چونړکړے شوے خبرے دی کوم چه د مولنا عبد الشکور صاحب تالیف دے لکه چه ددے دزړے دیباچے نه ښکاره ده خو داځل څنے مسئلے راته دفقهے نه ښکاره شوے، داصلی جنتی ملغلر مسوده هم پهٔ لاس رانغله چه ددے اختلاف پته مو ولګولے وے دغسے پهٔ خپله پهٔ علم الفقه کښے هم بعضے مسئلے دتحقیق محتاجه نظر لاندے راغلے ځکه اوس پهٔ ټول جنتی ملغلره باندے دوباره نظر کول ضروری شو، احقر (ما) چه عرض اوکړو نو حضرت حکیم الامة مجدد الملة معظم و محترم مولانا اشرف علی صاحب (نورالله مرقده العالی) پرے پخپله دوباره نظر اوکړو سره ددے چه نور ډیر کارونه ورته هم پراته وو نو بیائے هم پرے

سرسري نظر واچولو په کومه مسئله کښې چه شک راغلو په هغې ئې نښان اوکړو دغه نښان شوي ځايونه م په حکم د حکيم الامةؒ د براد رمکرم حضرت مولانا ظفر احمد په خدمت کښې دے د پاره وړاندے کړے چه د فقهې دکتابونه دغه ځايونه درست کړي موصوف په ډيرے خوارئ دغه کار سرته ورسولو او د ضرورت په موقعو ئې حضرت حکيم الامةؒ سره مشوره هم جاري اولرله جزاهم الله، داځل چه جنتي ملغلره بيا اوکتے شوه نو پکښې د بعضې مسئلو حوالې اونه موندے شوے. ځما عزتمند دوستانو مولانا مولوي وصي الله صاحب اعظم ګړهي زاد مجدهٗ او مولانا مولوي عبد الکريم صاحب کمتهلوي مرحوم په ډيرے خوارئ سره دغه حوالې د فقهې دکتابونه درج کړے، وړاندينئ ځنې حوالې داسے وے چه د صفحاتو (مخونو) شميره پرے نه وه لګيدلے په هغے ئې شميره هم اولګوله، ړومبي ځل د ليکلي کتاب نه چه حواله ترلاسه نه شوه د هغې په ځائے د فقهې بل کتاب درج کړے شوه او د ضرورت په موقعو کښې ئې بعضې عبارتونه په مشورے سره بدل کړل، غرض دا چه داځل جنتي ملغلره په دے شان اوليکلے شوه ګويا کښې د نوي سره ليکلے شوے وي او په جنتي کالي کښې خود اضروري ګڼړلے شوي وو چه د دے ځل کمي زياتي په حاشيه باندے خبر ورکړے شي خو داسے ځکه اونه کړے شو چه په جنتي ملغلره کښې زيات بدلون راغلے دے بلکه صرف دومره اطلاع ورکړے شوه چه د دے نه وړاندے چاپ شوي جنتي ملغلرے د دے اوسني جنتي ملغلرے نه درستے کړے شي ځکه چه د دے مسئلے صحيح او په وړاندينو کښې ځنې مسئلے غلطے دي.

ضروري خواست په جنتي کالي او جنتي ملغلره باندے حضرت حکيم الامةؒ سرسري نظر اچولے دے، دوباره مکمل نظر اچونکي پرے دغه دواړه حضرات وو (اګرچه دوئ پکښې څه کوتاهئ نه دي پريښي خو که چرته د غسے کوتاهئ اووينئ) نو حضرت حکيم الامةؒ ته ئې مه منسوب کوئ البته د حق طلب کولو په غرض د مسئلے تپوس کولے شي داند ازنه هم د حق د طلب او عناد وغيره معلوميدے شي.

محمد شبير علي تهانوي عفي عنه سنه ١٣٤٤ه

دجنتي کالي يولسمه برخه چه لقب ئې دی دجنتي ملغلرې

زېره — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ — ديباچه

دحمد وصلوٰة نه پس دارساله دجنتي ملغلرې تتمه ده دهغې جنتي کالي چه دے نه وړاندے په لسو برخو کښې خورشوے دے او په آخر کښې ئې ددے تتمې خبر اوضرورت ښکاره کړے شوے ووخو دنا اوزګارتيا په وجه ددې ټولے مسئلے د اصل لويو کتابونو د فقهې نه ورنهٔ کړے شو بلکه دا حوالے د علم الفقه نومے رسالے نه ورکړے شوے کومه چه دَ لکهنؤ نه خوره شوے ده او په اکثرو ځايونو کښې دکتابونو حواله ورکړے شوے ده مادده يوقسم طالب علمانه (سرسري) مطالعه اوکړه - ددے تتمې مناسب يعني ضروري مسئلے چه ناريښۍ سره خاص دي مقصودًا او دځنۀ عارضي مصلحت په خاطرم شريکې مسئلے تبعًا چونړ کړے او يوځائے راجمع کول م د هغې کافي اوګنړل البته په ضروري ځايونو کښې م اصلي کتابونه هم ورپسې اوکتل او خپله تسلی م اوکړه په دے شان م دمضمونونو يادکتابونو دحوالو غلطيانے ټولے درستے کړے چرته چرته م څۀ کمے بيشے پکښې راوستو، عبارت م پکښې بدل کړو يا مختصره اضافه م هم پکښې اوکړه په دے حساب دا مجموعه په يوحيث مستقله او په بل حيث غيرمستقله شوه، څنے ضروري مسئلے دصفائي معاملات نه هم واغستے شوے څۀ لرے خبره نۀ ده چه بيا هم څنے ضروري مسئلے پکښې پاتے شوې وي، ځکه دعام کتونکو نه م خواست دے چه د غسې ضروري مسئلے دسوال په عنوان سره راته په ګوته کړي چه راتلونکي چاپ کښې هغه درج کړے شي او خاص اهلِ علمو نه اُميد دے چه دغسې ضروريات پخپله لکه دلسم برخې د اضافې پشان دضميمې په ډول په آخر کښې اوګوي بنه خبره دا ده چه د هرے برخې تتمه هغې برخې پسے سمد ستي ګوري چه د دغې برخې په ټولو مضمونو باندے په ښهٔ شان پوهه شي. والله الکافي لکل خيرو هوالواقي من کل ضيرٍ. کتبه اشرف علي عفي عنه احد ربيع الاول سنه ۱۳۲۷ھ

تتمه داولې برخې :. کتاب الطهارة

داوبو د استعمال احکام

مسئله :- ۱ دکومو ناپاکو اوبوچه درې ۸۳

دا ټول صفتونه (خوند، رنګ، بوئ) د پليتئ په وجه بدل شوے وي د هغې استعمال په هيڅ شان درست نه دے. څاروُته تے ورکول او په هغې جوړه شوے خټه استعمالول ناروا دي که د تے واړه صفتونه يے نه وي بدل شوي نو څاروو ته يے څکلو له ورکول ځائے پرے څنډکاؤ کول، خټه پرے جوړول هم روا دي البته دغه خټه په جومات کښې لګول درست نه دي. (عالمګيري ص۱۶۲ ج۱) مسئله ۱۲:- درياب، وله او تالاؤ چه دچا په زمکه کښے نه وي او هغه کوهے چه جوړو نکي وقف کړے وي، د دے ټولو داوبو نه عام خلق فائده اغستے شي. دے ته د چامنع کولو هيڅوک څه حق نه لري او نه داسے کول روا دي چه درياب تالاؤ نه صِرف ځان دپاره بو نهر راولي، چه په هغې سره درياب يا تالاؤ اوچ شي، دکلي يا دځه زمکے دغرقيدو انديښنه پيدا شي، هر څوک دد اسے کار بندولو حق لري. (رد المختار ص۴۳۳ ج۵ فصل الشرب) -
مسئله ۱۳:- دچا په ذاتي زمکه کښے چه کوهے، حوض يا نهر وي، نو هغه کس بل چالره داوبو څکلو، څاروو ته ورکولو، اودس، غسل کولو جامو وينځلو، بوټو اويه کولو د پاره يے په منګي وغيره کښے داوبو نه شي منع کولے البته که دڅاروو دګڼړوالي په وجه داوبو ختميدو، د نهر، تالاؤ وغيره دخرابيدو انديښنه وي نو منع کولے شي او که دخپلے زمکے نه يے منع کول غواړي نو کتے به شي چه دبل ځائے نه داوبو اغستو نکو کار په آسانئ سره کيدے شي (مثلاً څه بل کوهے د شرعي ميل نه په کمه فاصله کښے موجود دے او دچا په ذاتي زمکه کښے هم نه دے يا به يے کار بند شي او ورته به تکليف وي، که کار يے دبل ځائے نه کيږي نو بنه ده، ورنه دکوهي خاوند ته به او وئيلے شي چه يا خودغه کس ته په دے شرط ستا زمکے ته د راننوتو اجازت ورکړه چه ستا د زمکے نهر وغيره نه به څه زيان نه رسوي يا ته په خپله داوبو راويستلو انتظام اوکړه او دغسے کس ته يے حواله کړه البته د مالک د زمکے اجازت نه بغير دغے تالاؤ يا نهر نه خپل فصل يا باغ او به کول جائز نه دي دے نه يے مالک منع کولے شي دا حکم په خپله د راټوکيدونکي وښو او بے تنوبوټو هم دے البته تنه داره اونه د مالک ملک دے -
(درِ مختار ص۴۳۴ ج۵) مسئله ۱۴:- دچا ملکيتي کوهي او نهر نه په بيعه دچا فصل يا باغ ته او به ورکول جائز دي؟ دا يو اختلافي مسئله ده،

خود بلخ مشائخو دده د رواوالي فتوىٰ ورکړې ده (ردالمحتار صـ٢٤٢ ج ٥ درمختار صـ٢٥٨ ج ٣ فصل الشرب) **مسئله**:- بيوکس ددرياب، نالاؤ يا کوهي وغيره په خپل څهٔ لوښى مشک وغيره کښې اوبه راواخلي نو دغه کس ددې مالک شو ددهٔ داجازت نه بغير ئې بل چا دپاره هيڅ استعمال جائز نهٔ دې البته دتندې نه سخت مجبورکس ئې ترې په زور هم اخستې شي کله چه ددغه مالک دخپل سخت حاجت نه زياتې وي خود دې به ضمان ورکول ضروري وي (دُرّ وردالمحتار صـ٤٣٦ ج ٥) **مسئله**: پهٔ لاره کښې کوهي اوبه څکلو دپاره (پهٔ کرمئ کښې) چه اېښودې شوي وي په هغې سره اودس ياغسل کول درست نهٔ دي البته که زياتې وي نو څهٔ بديت بيا نهٔ لري او اودس دپاره دېخواوبو نه څکل روادي (دُرّ مختار صـ٢ ج ١ باب اليتيم) **مسئله**: پهٔ کوهي کښې چه يوه ، دوه پچې پريوتې اوثابتې ترې راووتې نوکوهې پليت نشو که هغه کوهې دبيديا وي يا دآبادئ غاړه ئې وي اوکه نهٔ وي (ردالمحتار صـ٢٢ ج ١)

دپاکئ اوناپاکئ څنې مسئلې

مسئله: دغلې دغوبل کولو پهٔ وخت چه غوائې پرې متيازې اوکړي نو دضرورت دپاره معاف دي يعني غله به ئې پاکه وي اوکه بل وخت کښې پرې متيازې اوکړي نو ناپاکه به وي (شرح التنوير صـ٣٣٨ ج ١ وفتاوىٰ هنديه صـ٢٨ ج ١) (غالبًا دا موقف دامام محمدؒ دمذهب په بنا اختيارکړې شوې دې ولې چه هغه دهغې څاروو بول پاک بولي چه غوښه ئې خوړې شي او دحرمتيازې دعاملکرفتارئ دوجې نه پاکئ بولي ظفراحمد تهانوى) **مسئله**: دکافرو تيارکړې دخوراک څيز يا ددهٔ لوښې اوجامې به ترهغه وخته ناپاک نهٔ بولو ترڅوچه هغه پهٔ څه دليل ياقرينه ناپاک ثابت نشي (عالمګيري مختصرًا صـ٢٣١ ج ٦) **مسئله**: څنې خلق چه پهٔ عام ډول د زمرې وازده پاکه بولي او استعمالوي ئې نو دا درست نهٔ دي، البته که دحاذق طبيب ديندار پهٔ رائې باندې ديومرض علاج سوا دوازدې نه بل هيڅ نهٔ وي نو دبعضې عالمانو په نزد درست دي خو دمونځ پهٔ وخت به ئې پاکول ضروري وي (شرح التنوير صـ٢١٦ ج ١) **مسئله**:- دلاروختې اوناپاکې اوبه معاف دي خو شرط دا دې چه پهٔ بدن ياکپړه کښې دپليتئ اثر نه معلوميږي، فتوىٰ پهٔ دې ده خو احتياط دا ده چه دچاتلل راتلل دلارې اوبازارزيات نه وي نو هغه دې دغسې څخواو اوبو نه بدن اوجامې وينځي اګرچه د

پلیتۍ اثر پرې نهٔ معلومیږي (ردالمحتار ص۳۳۴ ج۱) **مسئله۵:** پلیت څیز چه سوزولے شي دهغې لوګے پاک دے، که هغه پهٔ یوځائے کښې جمع شي او څهٔ څیز ترے جوړ شي نو پاک دے لکه نوشادر چه ترے جوړ کړے شي (ردالمحتار ص۳۳۵ ج۱) **مسئله۶:** پلیتۍ دپاسه ګرد وغبار پاک دے خوچه دپلیتۍ لوند والے پکښې نهٔ وي ورننوتے (ردالمحتار ص۳۳۴ ج۱) **مسئله۷:** دپلیتو څیزونو نه راپورته کیدونکے براس پاک دے (ردالمحتار ص۳۳۴ ج۱) دمیوو وغیره چینجي پاک دي خو خوړل ئے درست نه دي چه ساه پکښې راغلې وي (ردالمحتار ص۳۶ ج۱ وردالمختار ص۲۹۹ ج۵) او دسپیږو وغیره دمیوو دتولو چینجو دا حکم دے (بذل المجهود ص۳۶۵ ج۴) **مسئله۸:** دخوراک څیزونه چه سخا شي او بوئ پرېږدي نو پلیت نهٔ وي خو دنقصان په وجه ئے خوړل درست نهٔ دي (ردالمحتار ص۳۶ ج۱) **مسئله۹:** مشک او دهغې دنوم غوټۍ پاکه ده او دا سے عنبر وغیره (دُرّ مختار ص۲۳ ج۱) **مسئله۱۰:** دخوبیدلی بنده دخولے نه راوتے لاړے پاکے دي (فتاوی عالمګیری ص۲۸ ج۱) **مسئله۱۱:** دحلال ساه دار ګنده هګۍ پاکه ده خوچه ماته شوے نهٔ وي (بحرالرائق ص۸۹ ج۱ وهدایه ص۲۳) **مسئله۱۲:** دمار جلۍ پاکه ده (فتاوی عالمګیری ص۲۸ ج۱) **مسئله۱۳:** په کوم اوبو چه پلیت څیز او وینځلے شي هغه پلیتے دي ړومبی ځل او دویم ځل او دریم ځل وینځل یو شان دي البته فرق دومره دے چه پهٔ ړومبی ځل سره پلیت شوے څیز به پهٔ درے ځل وینځلو او پهٔ دویم ځلے او بو سره پلیت شوے څیز به دوه او په دریم ځلے او بو سره پلیت شوے څیز به پهٔ یو ځل وینځلو سره پاکیږي (فتاوی عالمګیری ص۲۶ ج۱) **مسئله۱۴:** پهٔ کوم اوبو چه مړے لمبولے شوے وي هغه پلیتے دي (فتاوی هندیه ص۱۴ ج۱) **مسئله۱۵:** دمار غړمن چه بدن سره لګیدلے ده هغه پلیته ده البته جلۍ ئے پاکه ده څنګه چه مسئله تیره شوه (فتاوی هندیه ص۳۸ ج۱) **مسئله۱۶:** دمړي دخولے لاړے پلیتې دي (فتاوی هندیه ص۲۸ ج۱) **مسئله:** دیو وستوے جامے دپلیتۍ اندازه به هم یو طرف نهٔ لګي او دغبرګے به د دواړو طرف نه دا سے چه څومره زیاته وي. مطلب دا چه دیو وستوے جامے مقدار به هم یو طرف ته حسابیږي، اګرچه پورے ترے وتے وي یعنې که یو طرف ته پلیتۍ دیو روپۍ مقدار نه کمه وي نو دبل طرف راوتے پلیتۍ سره نهٔ زیاتیږي خو دغبرګے جامے حساب به غبرګ کیږي (ردالمختار

ص۳۲۶ج ۱) مسئله ۱۸:- د ښځو لشلوپهٔ وخت چه پیښ کښې یو دوه پچے یا دومره مقدار څو تے پریوځی نو معاف دی خو هله چه سمد ستی تر ے راوښکلے شی او ورا نے پکښې نشی (خو بل وخت چه پریوځی سمد ستی پلیتیږی) (شرح تنویر ص۲۲۶ ج ۱) مسئله ۱۹:- د خلورو پنځو کالو ماشوم چه په اودس نهٔ پوهیږی یا لیونے چه اودس اوکړی نو دغه اوبه مستعملے نهٔ دی (فتاوی هندیه ص۱۲ ج۱ وبحر الرایق ص۹۱ ج۱) مسئله ۲۰:- څه پاک لوښے ښیز یا پاکه جامه چه او وینځلے شی نو پهٔ دغه اوبو اودس او غسل کولے شی خو هله چه دغه اوبه ټینګے شوی نهٔ وی، چه پهٔ محاوره کښې دغے اوبو ته "ماء مطلق" صرف اوبهٔ ویلے شی او که پهٔ لوښی کښې د خوراک څکاک لګید لے وی او د هغے په وینځلو سره د اوبو یو صفت (خوند، رنګ یا بوی) بدل شی نو اودس یا غسل پر ے کولے شی او که دوه صفتونه ئے بدل شی نو کولے نهٔ شی (شرح التنویر و رد المحتار ص۲۰۵ وص۱۸۷ ج۱) مسئله ۲۱:- د مستعملو اوبو څکل او د خوراک پهٔ ښیزونو کښې ئے استعمالول مکروه دی، اودس او غسل پر ے کول درست نهٔ وی البته پلیتی وینځل پر ے درست دی. (شرح التنویر ص۲۰۰ وبحر الرائق ص۹۲ ج ۱) مسئله ۲۲:- بے اودسه دے د زمزم پهٔ اوبو اودس نهٔ کوی، د غسے پهٔ غسل کښې بنده دے پر ے غسل نهٔ کوی په دے سره د پلیتو ښیزونو وینځل او استنجاء پر ے کول مکروه دی البته که څهٔ مجبوری وی یعنی پهٔ یو میل کښې څهٔ نورے اوبهٔ نشی موندے او ضروری پاکی پهٔ بل شان هم نشی حاصلید ے نو دا ټولے خبرے د زمزم په اوبو سره کول جائز دی (طحطاوی ص۱۲ منیه ص۲۴) مسئله ۲۳: د ښځے د اودس او غسل نه پاتے اوبو سره نارینه لره اودس او غسل کول پکار نهٔ دی اګر چه د احنافو پهٔ نزد منع نهٔ دی خو امام احمد رح ئے جائز نهٔ بولی حکه د اختلاف نه وتل زیات غوره دی (شرح التنویر ص۱۳۸ ج ۱) مسئله ۲۴: چرته چه پهٔ یو قوم باند ے عذاب راغلے وی مثلاً عاد او ثمود، نو د هغه ځائے په اوبو باند ے اودس او غسل کول پکار نه دی ولے چه دا هم اختلافی مسئله ده نو اختلاف نه ځان ساتل غوره دی، د مجبوری پهٔ صورت کښې بیا کولے شی څنګه چه د زمزم د اوبو حکم وو (رد المختار ص۱۳۵ ج۱) مسئله ۲۵: ناپاک شوی تنور کښې پهٔ اوریلو سره هغه پا کیږی خو شرط دا دے چه د پلیتئ اثر پکښې پاتے نشی (رد المختار ص۳۲۵ ج ۱) مسئله ۲۶:

په ناپاکه زمکه چه پاکه خاوره واچولے شي او هغه پليتي پرے پټه کړے شي
چه بوئ ئے نه راځي نو دغه پورته برخه ئے پاکه ده (مراقی الفلاح) مسئله ۲۷
د پليتو تيلو يا وازدے نه چه صابون جوړ کړے شي نو پاکيږي (ددے باب
حاشيه د ۲۵ مسئلے اوګورئ) مسئله ۲۸ :- په رګ وهلو، وينے، حوئے
بهيدلو په وجه پليت شوے چه په لوند زړوکی صفا کړے شي هم کافی
دی خو وينځل ئے غوره دی که نقصان ئے نه کولو (فتاوی هنديه ص ج ۱)
مسئله ۲۹ :- پليت رنګ چه په جامه، بدن يا ويښتو اولګی نو دومره وينځل
ئے کافی دی چه رنګ د ارے او به ترنه راتوئيږی اګر که رنګ په جامه بدن
يا ويښتو ښکاری (شرح التنوير ص ۳۳۹ ج ۱) مسئله ۳۰ : مات شوے غاښ
يا هډوکے چه بيا په ځيل ځائے کښے په پاک يا ناپاک څيز سره پيوند کړے
شي يا پکښے بل پاک يا ناپاک غاښ يا هډوکے کيښودے شي، يا څه زخم
په ناپاک څيز ډک کړے شي او ښه شي (جوړ شي) نو اوښکل ئے نه
دی پکار بلکه په خپله به پاک شي (ردالمحتار ص ۲۱۳ ج ۱ و درمختار
ص ۳۴۱ ج ۱) مسئله ۳۱ :- که ناپاک غوړ څيز دومره او وينځلے شي چه صفا
او به ترے راروانے شي نو پاک شو اګر چه هغه غوړوالے پاتے وی
(ددے باب د ۲۵ مسئلے حاشيه اوګورئ) مسئله ۳۲ :- په پاکو اوبو کښے د يو پليت څيز
په پريوتلو سره چه چرته د هغے خاځکی اوړلګی نو په هغے سره نه پليتيږی
خو هله چه د پليتئ اثر نه ښکاری (غنيه ص ۱۸۱ و ردالمحتار ص ۳۵۸ ج ۱) مسئله ۳۳ :
غبرګه يا دمالوچونه ډکه شوے جامه چه يو اړخ ته پليته شي او بل اړخ ته
پاکه وی نو ټوله پليته ده موږ پرے نه کيږی خو هله چه پليت ځائے د
موږ ګزار ود او دريد و يا سجدے لګولو ځائے وی او دواړه جامے خپل
منځ کښے ګنډلے شوے وی او نا ګنډلے شوے دوه جامے د يو په پليتيدو
سره هغه بله نه پليتيږی خو هله چه په پاسنئ جامے ته د پليتئ رنګ
او بوئ بهر نه ښکاری او نه راځی (منيه ص ۷۵ - د سجدے د ځائے
مطلب دا چه نه د تندی او نه د لاسونو ايښودلو او ز نګنونو لګولو ځائے
وی ۱۲ شبير علی) مسئله ۳۴ :- چرګے يا بل مارغه ته چه په ډکه خيټه
اوبو کښے جوش ورکړے شي نو هغه په هيڅ شان نه پاکيږی (ردالمحتار
ص ۳۲۵ ج ۱) مسئله ۳۵ :- نهر يا سيوړمۍ ته د اودس ماتولو په وخت مخ يا
شا کول مکروه دی، د نهر يا تالاؤ وغيره په غاړه لوئے، ورکوټے اودس
ماتے کول مکروه دی اګر چه پليتی په اوبو کښے نه ورغورځيږی، د غسے

کمونو او میوو اونو لاندے په یعنیٔ (ژمی) کښې چرته خلق پیناوی دپاره نمرته کښینی، دخارو و په منځ کښې جومات یا عید گاه ته دومره نزدے چه بدبویٔ سره ئے مونځ گزاروته تکلیف وی، په قبرستان کښې یا داسے ځائے کښې چه خلق غسل یا اودس کوی، په لاره کښې او د هوا لگید و مخے ته په سُوری کښې لارے ته نزدے، قافلے یا بلے گنړے ته نزدے اودس ماتے کول مکروه تحریمی دی، غرض دا چه چرته خلق کښینی، یا سی او ورته تکلیف وی یا په داسے ځائے کښې چه پلیتی هم ده ته واپس راځی اودس ماتول هم مکروه دی۔ (ردالمحتار ص ٣٥٣ و ٣٥٤ ج ١)

دوړوکی اولوئے اودس ماتی په وخت کښې چه دکوموکارونو نه ځان ساتل پکار دی

دخبرو کولو نه، بے ضرورته د توخې کولو نه، څه آیت، حدیث یا برکتی خیز دلوستو نه، د داسے څیز ځان سره دساتلو نه چه پرے دالله تعالیٰ، پیغمبرؑ فرشتے یا بلے لوئے هستئ نوم یا آیت یا حدیث یا دعا لیکلے شوی وی البته که داسے څه څیز په جیب کښې وی یا تعویذ په جامه وغیره کښې گنډلے شوے او نغښتلے شوے وی نو مکروه نهٔ دی بے ضرورته په ملاسته ولاړے، بالکل په لخره لوئے ورکوتے اودس ماتے کول، په ښی لاس سره استنجا کول دے تولو نه ځان ساتل پکار دی۔ (شرح التنویر ص ٢٥٥ ج ١ غنیه ص ٥٨)۔

په کوموڅیزونو چه استنجاء کول درست نهٔ دی

په هډوکو، د خوراک په څیزونو په خشتو او توتو ناپاکو څیزونو په هغه لوته یا کانړی چه یو ځل پرے استنجا کړے شوی وی، په پخه خښته ټیکری، شیشه، کوټله، چونه او سپینه، چاندیٔ او سرو زرو وغیره، په داسے څیزونو چه پلیتی نهٔ صفا کوی لکه سرکه وغیره دخارو و دخوراک په څیزونو لکه بوس و اښهٔ وغیره او په قیمت لرونکو څیزونو چه دیر قیمت لری یا کم (چه په وینځلو سره ئے په قیمت کښې کمے راځی) او عرق وغیره د بنیادم د بدن برخے لکه ویښته، هډوکی، غوښه وغیره، د جومات په یوړ (بوزی) ځغلے یا جارو وغیره باندے داونو په پانړو په لیکلی یا نالیکلی کاغذ د زمزم په اوبو، د بل په مال سره د هغه د اجازت او رضا نه بغیر خواه هغه اوبهٔ کپړا یا بل څیز وی، په مالوچو یا په داسے تولو څیزونو چه انسان یا

ځناورو ته فائده رسوي ، په دغو ټولو څيزونو سره استنجا کول مکروه دي (ردالمحتار وشرح التنوير ص۳۱۵ ج ۱)

په کومو څيزونو چه بې دمکروهوالي نه استنجا کول جائز دي

په اوبو په لوټه په کاڼي ، بې قيمته کپړا او په ټولو هغه څيزونو چه پاک وي او پليتي نړې کوي خو هله چه مال او قدرمن څيزونه نه وي . (شرح التنوير ص۳۴۸ ج ۱)

داودس بيان

مسئله ۱ :- د ږيرې خلال به د مخ وينځلو نه پس کوي خو د ږيرو ځلو نه زيات خلال کول به نه کوي (شرح التنوير ص۱۲۱ ج ۱) مسئله ۲ :- د ګنګو او غوږو تر منځه ځايونه وينځل فرض دي که ږيره ئې راښکاره شوي وي يا نه (شرح التنوير ص۱۰۱ ج ۱) مسئله ۳ :- د ځنې وينځل فرض دي خو هله چه ږيره پرې نه وي يا دومره ږيره پرې وي چه د وينتو لاندې څرمن ښکاري مسئله ۴ : داسې ږيره بريت ، يا وروځې چه دومره ګڼې وي چه هغې لاندې څرمن نه ښکاري نو دلاندې څرمن وينځل فرض نه وي صرف په وينتو د پاسه ئې اوبه تيرول کافي دي مسئله ۵ : وروځې ، ږيره يا بريت چه دومره ګڼې وي چه ورلاندې څرمن نه ښکاري نو په دې صورت هغه وينته وينځل واجب دي چه د مخ په حد کښې راځي دې نه د زيات وينتو وينځل واجب نه دي (دې نه وړاندينۍ حواله اوګورئ) مسئله ۶ :- په کولمې راوتو سره اودس ماتيږي که کولمه په خپله ننوځي يا په بله طريقه ننويستلې شي (شرح التنوير وردالمحتار ص۱۵۵ ج ۱) مسئله ۷ :- بې د شهوته په مني وتلو سره صرف اودس ماتيږي مثلاً څه دروند پيټې اوچت کړي ، يا د لوړ ځائې نه راوغورځيږي (فتاوی هنديه ص۶ ج ۱) مسئله ۹ :- په حواسو کښې د اسې خلل راتلو سره چه د ليونتوب او بې هوشۍ حد ته نه وي رسيدلې ، اودس نه ماتيږي (طحطاوی ص۵) مسئله ۱۰ : په مونځ کښې او دې شوې بنده چه قهقهه اوکړي (په زوره اوخاندي) نو اودس ئې نه ماتيږي (فتاوی هنديه ص۸ ج ۱ وردالمحتار ص۱۵ ج ۱) مسئله ۱۱ : دجنازې په مونځ او سجدهٔ تلاوت کښې په قهقهې سره اودس نه ماتيږي اګرچه بالغ وي - (هم دغه پورته حواله) -

په موزو باندې د مسح کولو بيان

مسئله ۱ :- په داسې بوټ باندې مسح کول جائز دي چه ګيټې پکښې پټې وي

اوچا که یې په لسمو سره بندوي چه د قدم هغو مره ځاے ترې نهٔ ښکاري کوم چه مسح لره منع کوي (شرح التنویر ص۲۶۹ ج ۱) مسئله ۲: د تیمم په حالت کښې په اغوستلو موزو باندې مسح نهٔ کیږي کله چه اودس اوکړي که دغه تیمم، اودس، غسل یا دواړو د پاره وي (فتاوی هندیه ص۲۱ ج ۱) مسئله ۳:- په غسل کښې په موزو مسح کول جائز نهٔ دي، که غُسل هر قسم وي یعنې فرض وي یا سُنّت مثلاً که د اسے خوارې اوکړي چه خپې په پورته ځاے د اسے کیږدي چه اوبه نهٔ وررسي، نو ټول بدن اووینځي او په خپو مسح کوي (طحطاوی ص۶۹ رد المحتار ص۲۷۴ ج ۱) مسئله ۴: د محدِ ورا اودس چه څنګه د وخت په تیریدو ماتیږي د غسې یې مسح هم باطلیږي چه د موزو په ویستلو به خپې د وینځل ورد پاره واجب وي البته که دے د اودس کولو او د موزو اغوستو په وخت یې د غه مرض نهٔ وو نو هغه به هم د نورو روغو خلقو په شان حسابیږي (شرح التنویر ص۲۷۰ ج ۱ وغنیة المستملی ص۱۱۱) مسئله ۵:- د خپې زیاته برخه په څه شان اووینځلې شوه، په داسے صورت کښې به موزے اوباسي او خپې به وینځي (طحطاوی ص۷۰)۔

د بے اودسه کید و د حالت احکام

مسئله ۱:- د قرآن کریم او د سیپاړو کاغذ له ګوتې وراوړل مکروه تحریمي دي خواه هغه ځاے له ګوتې وراوړي چه پکښې آیت لیکلے شوے دے یا نا لیکلے ځاے وي اوکه سالم قرآن نهٔ وي بلکه په ځان له کاغذ، کپړا یا جلي وغیره باندې د قرآن کریم پوره آیت لیکلے شوے وي او نور ځاے یې نا لیکلے وي نو ساده ځاے ته یې لاس وراوړل جائز دي خو چه د آیت په ځاے یې لاس او نهٔ لګي (بحر ص۲۰۱ ج ۱) مسئله ۲: په بے اودسۍ کښې د قرآن کریم لیکل مکروه نهٔ دي خو هله چه قرآن کریم ته لاس نهٔ وراوړي خو د امام محمد رح په نزد نا لیکلی ځاے ته یې هم لاس وروړل جائز نهٔ دي زیات احتیاط هم په دے کښې دے او هم د اختلاف په وړاندې ئې مسئله کښې هم دے او د احکم هله دے چه په ځان له کاغذ کپړا وغیره باندې څهٔ آیت لیکلے شوے وي او څهٔ برخه یې نا لیکلی هم وي (غنیه ص۵۶) مسئله ۳:- دیو آیت نه کم لیکل مکروه نهٔ دي که په کتاب وغیره کښې یې لیکي او که په قرآن کریم کښې دیو آیت نه کم لیکل هم جائز نهٔ دي (فتاوی هندیه ص۲۴ ج او رد المحتار ص۲۶۹ ج ۱) مسئله ۴:

دبے اودسۍ پهٔ حالت کښې نابالغو وړوته دقرآن مجید ورکول اولاس وهلو ته یٔ پرېښودل مکروه نهٔ دی (فتاوٰی هندیه ص۳۹ ج ۱) مسئله: نورو آسمانی کتابونو تورات، انجیل او زبور وغیره ته بے اودسه لاس وروړل لیکلی ځائے ته یٔ مکروه دی نا لیکلی ځائے ته یٔ وروړل مکروه نهٔ دی او دا حکم دقرآن کریم دهغه آیتونو دے چه تلاوت یٔ منسوخ شوے دے (دا حکم داصل تورات، انجیل، زبور وغیره دے چه پهٔ دنیا کښې موجود نهٔ وی دے موجود ترجمے وغیره (چه غلطے دی) ته لاس وروړل بے اودسه هم جائز دی) (ردالمحتار ص۱۲۹) مسئله :- که داودس کولو نه پس چاته دا شک راپورته شی چه یو (ناتا کلے) اندام وینځل رانه پاتے دی نودے دیاره دے صرف کسه خپه اووینځی که داودس دختمولو نه وړاند یٔ ورته شک راپورته شو نو آخری اندام دے اووینځی مثلاً ترخنګلو لاس وینځلو نه پس ورته دا شک راپورته شو نو مخ به وینځی او که دخپو وینځلو په دوران کښې ورته شک راپورته شو نو ترخنګلو لاسونه اووینځی خو دا هله چه کله ورته شک راولاړیږی او که اکثر ورته راولاړیږی و نو هغې پسے دے نهٔ اوړی او خپل اودس دے مکمّل کنړی (ردالمحتار ص۱۵۵ ج ۱) مسئله :- دجومات په فرش باندے اودس کول درست نهٔ دی البته که پهٔ احتیاط سره داشان اودس کوی چه داودس اوبه ترے نه دجومات پهٔ زمکه نه پریوځی نو درست دی خو بے احتیاطی خامخا کیږی دے نه ځان ساتل پکار دی (شرح التنویر وردالمحتار ص۹۱ ج ۱)

دغسل بیان

مسئله :- دجنابت نه غسل کول فرض دی، دجنابت دپیداکیدو څلور اسباب دی، اومبے سبب یٔ دا دے چه پهٔ شهوت سره منی دبدن نه جدا شی او بهرته راوځی پهٔ ویښه وی که پهٔ اودو پهٔ هوش کښې وی یا بیهوشۍ کښې پهٔ جماع سره وی یا بغیر جماع، پهٔ خیال او تصور سره وی او که خاص برخے دبدن ته پهٔ حرکت ورکولو سره وی (فتاوٰی هندیه ص۹ ج ۱) مسئله :- که منی دخپل ځائے نه پهٔ شهوت سره جدا شوکه او دوتو پهٔ وخت کښې شهوت نهٔ وو نو بیا هم غسل کول فرض دی مثلاً پهٔ څهٔ طریقه دمنی راوتل څهٔ وخت دپاره بند کړی چه شهوت یٔ ختم شی نو راوتوته یٔ پرېږدی (فتاوٰی هندیه ص۹ ج ۱) مسئله :- که دخاص اندام نه څهٔ منی اووته او هغهٔ غسل اوکړو دغسل نه پس یٔ بے شهوت نه نوره منی راووته نو وړومبے غسل به باطل شی بیا به غسل کوی خو هله چه دا منی داوده کیدو،

متيازو کولو او خلو ئيښت قدمه يا زيات تلونه وړاندې راوځي، خو که د دې پلټې مني د وتونه وړاندې ئې مونځ او کړو نو هغه به صحيح وي دوباره کول ئې لازم نه دي (فتاوٰی هنديه ص۹ ج۱ ورد المحتار ص۱۲۲ ج۱) **مسئله**:- دوړاند ينې اندام نه په مني راوتلو سره هم غسل فرض کيږي خو چه شهوت سره وي (فتاوٰی هنديه ص۹ ج۱) **مسئله**:- دخوب نه په راويښيدو که چا سړي يا ښځې په خپلو جامو يا بدن باندې لوند والې محسوس کړو نو د هغې کنړ صورتونه دي دهغې څخه په اتو کښې غسل فرض دې (۱) يقين ئې وي يا غالب ګمان چه دا مني ده او خوب ليدل ورته هم يادوي (۲) يقين ئې وي چه مني ده خو خوب ليدل ورته ياد نه وي (۳) يقين ئې شي چه دا مذی ده او احتلام ئې يادوي (۴) شک ئې وي چه دا مني ده که مذی او احتلام ئې ياد وو (۵) شک ئې وي چه دا مني ده که ودی او احتلام ورته يادوي (۶) شک ئې ووچه دا مذی ده يا ودی او احتلام ئې ياد وي (۷) شک ئې وي چه دا مني، مذی يا ودی ده او احتلام ئې ياد وو (۸) شک ئې ووچه دا مني ده يا مذی او احتلام ئې ياد نۀ وو (رد المحتار ص۱۶۸ ج۱ غنيه ص۴۱ شامي په دې آخري صورت کښې ليکلي دي چه غسل په اتفاق سره واجب نۀ دې ليکن کبيري په وجوب باندې اجماع ليکلې ده، حکه احتياطًا مونږ دکبيري قول راغستې دې ۱۲ محشي) **مسئله**: ديونا سنته سړي د ذکر دسرنه مني راوُوته په هغه زياتې خرمن کښې دننه پاتې شوه نو غسل پرې فرض دې (بحر الرائق ص۵۵ ج۱) دويم سبب دنارينه دوړاند ينې اندام د زنانه په وړاند ينې اندام يا دنارينه زنانه خنثٰی په وروستني اندام کښې سر ورننباسي، مني ئې اوځي يا نه نو په دا سې صورت کښې په لاندې باندې دواړو باندې غسل فرض دې خو هله چه بالغ وي **مسئله**:- وړې جينۍ سره په کور والي کولو کښې په سړي (بالغ) باندې فرض شو په دا سې صورت کښې چه دهغې په وړاند ينې اندام کښې دخپل وړاند ينې اندام سر ور دننه کړي او جينۍ دومره وړه نۀ وي چه ورسره په کور والي کښې دهغې دوړاند ينې او وروستني اندام ديو ځائې کيدو خطره وي (شرح التنوير بحذف ص۱۶۷ ج۱) **مسئله**: دهګو پريکړي سړي د ذکر سر چه د زنانه په وړاند ينې يا نارينه زنانه په وروستني اندام کښې ورننوځي نو غسل په دواړو فرض دې يعنې په بالغ باندې (فتاوٰی قاضي خان ص۵۳ ج۱) **مسئله**: که دنارينه دوړاند ينې

اندام سر پريکړے وي نو دغه نيمګړے اندام که د سر د ذکر هومره ورننوتو په هغے سره غسل فرض شو (دد ے مسئلے حواله اوګوره) مسئله^[١]: که سړے د خپل وړاندينی اندام نه کپړا تاؤ کړي او دبل په اندام کښے ئے ورداخل کړي نو که د جسم حرارت ئے محسوسولو غسل به پرے فرض شي خو احتياط په د ے کښے دے چه په دواړو حالتونو کښے غسل فرض شي (بحر الرائق ص^[٦] ج ١) مسئله^[١١]: د شهوت د غلبے نه که يوه ښځه د بے شهوته هلک اندام يا د څاروي، سپي وغيره وړاند ينے اندام يا ګوته يا لرګے په خپل اندام (وړاند ينی) کښے ورد ننه کړي نو غسل پرے فرض کيږي مني ئے وځي يا نه. دا د مُنيهٔ د شارح رائے ده خو اصل مذهب کښے د انزال نه بغير غسل واجب نهٔ د ے (درمختار ورد المحتار ص^[١٧١] ج ١) درېم سبب د حيض نه پاکيدل. څلورم سبب د نفاس نه پاکيدل ددے مسئلے دجنتي کالي په دويمه برخه کښے اوګوري (شرح التنوير ص^[١٧٠] ج ١)-

په کوم صورتونو کښے چه غسل فرض نهٔ وي

مسئله^[١]:- مني که په شهوت سره د خپل ځائے نه جدا نشوه اګر که هغه بهرته راووځي نو هم غسل نهٔ فرض کيږي مثلاً په بيتي پورته کولو يا د لوړ ځائے نه په راپريوتلو يا دوهلو د صدمے په وجه ترے مني اووتله (رد المختار ص^[٦٥] ج ١) مسئله^[٢]: که يو سړے ورے جينئ سره کوروالے اوکړي نو غسل نهٔ فرض کيږي خو هله چه مني ئے اونهٔ وځي او هغه جينئ دومره وړه وي چه ورسره په کوروالي کولو کښے دا خطره وي چه دد ے وړاند ينے او وروستنے اندام به سره يو ځائے شي (شرح التنوير بحذف ص^[١٧١] ج ١) مسئله^[٣]:- که يو سړے خپل ذکر په کپړا کښے انغښتے د بل په اندام کښے ورننباسي نو غسل نهٔ فرض کيږي خو هله چه کپړا دومره غټه (پيړه) وي چه د کوروالي خوند او د بدن حرارت نه محسوسوي خوزيات احتياط په د ے کښے دے چه د ذکر د سر په ورننوتو سره غسل فرض شي (شرح التنوير ص^[١٧١] ج ١) مسئله^[٤]: که يو سړے د ذکر ټول سر ورد ننه نهٔ کړي نو غسل نهٔ فرض کيږي (دد ے باب د مسئله^[٩] حواله اوګوره) مسئله^[٥]:- د مذي او ودي په وتو غسل نهٔ فرض کيږي (شرح البدايه ص^[٣٨] ج ١) مسئله^[٦]: په استحاضه سره غسل نهٔ فرض کيږي (فتاوی هنديه ص^[٢٤] ج ١) مسئله^[٧]:- که د چاد مني جاري پاتے کيدو مرض وي نو په هغه به ددغه مني په وتو سره

غسل نهٔ فرض کیږی (ددے باب دمسئلہ ۱ حاشیه اوګورئ) مسٔله: دخوب نه پهٔ راپاڅیدو باندے په خپلو جامو کښے لوند والے ښوک اوګوری نو پهٔ دے صورتونو کښے غسل نهٔ فرض کیږی (۱) یقین ئے وی چه دامذی ده او احتلام ئے یاد نهٔ وی (۲) شک ئے وی چه دا منی ده یا ودی او احتلام ئے یاد نهٔ وی (۳) شک ئے وی چه دا مذی ده یا ودی او احتلام ئے یاد نهٔ وی (۴ و ۵) یقین ئے وی چه دا ودی ده او احتلام ئے یاد وی یا نهٔ وی (۶) شک ئے وی چه دا منی ده یا مذی ده یا ودی ده او احتلام ئے یاد نهٔ وی. البته په رومبی، دویم او شپږم صورت کښے احتیاطًا غسل کول واجب دی که غسل ئے اونه کړو نو مونځ ئے نهٔ کیږی او سخته ګناه به ئے وی ولے چه پهٔ دے سر امام ابی یوسفؒ غسل واجب نهٔ بولی او طرفین ئے واجب بولی او فتوٰی د طرفینو رح په قول ده (دغسل دباب د مسئلے حاشیه اوګورئ) مسٔله: که ښوک سره خپل ذکر دسری یا نیځے پهٔ نوم کښے ورننباسی او منی ئے او نهٔ وځی نو غسل پرے فرض نهٔ دے (درمختار ص۳۱ ج۱ و فتاوٰی هندیه مصری ص۱۵ ج۱) مسٔله: که ښوک پهٔ خوب کښے خپله منی وتل اووینی او خوند ئے هم محسوس کړی خو پهٔ جامو ئے څهٔ لوند والے یا بل اثر ښکاره نشی نو غسل نه فرض کیږی (فتاوٰی هندیه ص۹ ج۱ و شرح التنویر ص۱۶۱ ج۱)۔

پهٔ کومو صورتونو کښے چه غسل واجب دے

(۱) یو کافر چه مسلمان شی د کفر پهٔ حالت کښے دواجب غسل نه ئے نهٔ وی لامبلی یا ئے صحیح شرعی غسل نه وی کړے نو لامبل پرے واجب دی (شرح التنویر ص۱۶۳ ج۱) (۲) که ښوک د پنځلسو ۱۵ کالو دعمر نه رومبے بالغ شی او د هغه رومبے احتلام وی نو احتیاطًا پرے غسل واجب دے او ددے نه پس چه کوم احتلام وی یا د پنځلسو ۱۵ کالو دعمر نه پس ئے احتلام اوشی نو غسل پرے فرض وی (غُنیه ص۴۴ و شرح التنویر ص۱۶۳ ج۱) (۳) هر مسلمان ته غسل ورکول پهٔ مسلمانانو باندے فرض کفایه دی (درمختار ص۶۴ ج۱)۔

پهٔ کومو صورتونو کښے چه غسل سنت دے

(یعنی سنت زوائد کښے راځی شامی ص۱۶۴ ج۱)

(۱) دجمعے پهٔ ورځ دسباد مونځ نه دجمعے ترمانځه پورے هغسے خلقو باندے غسل کول سنت دی پهٔ چا چه دجمعے مونځ واجب دے (۲) د دواړو

آخترونو مونځ واجب وی (۳) دحج یا دعمرے داحرام دپاره غسل کول سنت دی (۴) حج کونکو لره دعرفے په ورځ پس دزوال نه غسل کول سنت دی (ردالمحتار صـ۱۷۴ ج ۱ و بحرالرائق صـ۶۴ ج ۱)

په کومو صورتونو کښے چه غسل کول مستحب دی

(۱) داسلام راوړلو د پاره غسل کول مستحب دی که دجنابت نه پاک وی (فتاوی هندیه صـ۱۶ ج ۱) (۲) ځوك نارینه یا زنانه چه د پنځلسو کالو عمرته اورسی او ترد غے وخته پکښے دځوانئ څۀ نخښه نشی موندے نو غسل کول ورد پاره مستحب دی (شرح التنویر صـ۱۷۴ ج ۱) (۳) د ښکر لګولو نه پس دلیونتوب، مستئ او بیهوشئ ختمیدو نه پس غسل کول مستحب دی (۴) دمړی لامبلو نه پس ځپله لامبل مستحب دی (۵) دشب قدر (۱۵ شعبان) په شپه غسل کول مستحب دی (۶) دلیلة القدر په شپه هغه چالره غسل کول مستحب دی چه لیلة القدر ورته معلوم شی (۷) په مدینه منوره کښے داخلیدو د پاره غسل مستحب دے (۸) په مزدلفه کښے تمیکا ویدو دپاره دلوے آختر (عید الاضحٰی) په ورځ دسبا راختو نه پس غسل کول مستحب دی (۹) طواف زیارت دپاره غسل کول مستحب دی (۱۰) په جمرو باندے د کیڼو ویشتو په وخت غسل کول مستحب دی (۱۱) د نمر سپوږمئ تورید او داستسقاء د مونځونو دپاره غسل کول مستحب دی (۱۲) دویرے او مصیبت دمونځ دپاره غسل کول مستحب دی (۱۳) څۀ ګناه نه توبه کولو دپاره غسل کول مستحب دی (۱۴) دسفرنه واپس راتلو تکی لره غسل کول مستحب دی کله چه وطن ته راورسی (۱۵) عامو مجلسونو ته تللو او نوو جامو اغوستلو دپاره غسل کول مستحب دی (۱۶) دوژلی شوی لامبول مستحب دی (ردالمحتار صـ۱۷۵ و صـ۱۷۶ ج ۱)

دجنابت احکام

مسئله ۱:- په چاچه غسل فرض وی هغه لره جوماتی ته ورننوتل حرام دی البته د سخت ضرورت دپاره ورننوتے شی مثلاً دچادکور دروازه په جومات کښے وی او ددے نه سوا دوتو بله لاره ئے نۀ وی او نه دغه ځائے نه سوا بل چرته اوسیدے شی دجومات نه دتیریدو په غرض به تیمم کوی یا په جومات کښے داوبو چینه یا کوهے یا حوض وی او له دغے نه سوا نورچرته اوبۀ نۀ وی نو په دے جومات کښے د تیمم کولو نه پس ورتلل جائز

دی مسئله ۲ :- عیدگاه مدرسے، او خانقا وغیره ته دننه ورتلے شی (رد المحتار صفحه ۱۷۱ ج ۱) مسئله ۳ : دحیض او نفاس په حالت کښے د ښځے دنوم او زنګون ترمنځه جسم ته کتل یا ورسره خپل بدن یو ځائے کول کله چه څه کپړه په کیږه کښے پرته نهٔ وی او جماع (کورواله) کول حرام دی مسئله ۴ :- دحیض او نفاس په حالت کښے ښځه ښکلول جوته اوبه وغیره ئے څکل ورسره غاړه غړۍ ځملاستل او نوم نه پورته، زنګون نه لاندے بدن سره ئے خپل بدن یو ځائے کول اګرچه په منځ کښے کپړا نهٔ وی او د نوم او ځنګون ترمنځه کپړے سره ئے لګول جائز دی بلکه دحیض په وجه د ښځے نه بیل ځملاستل یا ورسره دکېږون نه ځان ساتل مکروه دی (شرح التنویر ورد المحتار صفحه ۳۰۱ ج او فتاویٰ هندیه صفحه ۲۲ ج ۱) مسئله ۵ :- که څوک سړے درا ویښیږی ونه پس په خپل خاص اندام بانده لوند والے وینی او د اوده کیدونه وړاندے دده خاص اندام ولاړ وی نو غسل پرے نهٔ فرض کیږی او هغه لوندوالے به مذی ګڼړلے شی خوهله چه احتلام ورته یاد نهٔ وی او دغه لوندوالی باندے د منی غالب ګمان نهٔ وی او که په پتون یا جامو وغیره بانده هم لوندوالے وی نو غسل په هرحال واجب دے مسئله ۶ :- که دوه سړی یا ښځے یا یو سړے یوه ښځه په یو توشک (کټ) بانده څملی او په راپاسیدو بانده دغلته د منی څښنه بیاموجی په هیڅ طریقه نهٔ معلومیږی چه دا دچا منی ده په دغه بسترے بانده ددوئ نه وړاندے بل څوک ملاست هم نهٔ وی نو په دے صورت کښے به په دواړو بانده غسل فرض وی او که ددوئ نه وړاندے بل څوک په دغه بستره بانده اوده شوے وی او منی اوچه ده نو په دے صورت کښے به په چا بانده هم غسل فرض نهٔ وی (شرح التنویر ورد المحتار صفحه ۱۷۱ ج ۱) مسئله : په چاچه غسل فرض دے او د پردے ځائے دلامبلو د پاره نشته نو تفصیل ئے دا دے چه سړے د سړو په وړاندے بربنډ لامبیدے شی واجبًا دغه شان د ښځے د ښځو په وړاندے لامبل واجب دی البته سړی لره د ښځو په وړاندے او ښځے لره د سړو په وړاندے بربنډ لامبل حرام دی بلکه تیمم به کوی (رد المحتار صفحه ۱۶۱ ج ۱) -

دتیمم بیان

مسئله ۱ :- که دکوهی نه دا و بورا و یستلو څه خیز نهٔ وی او نه څوک کپړا وی چه په کوهی لوند ولوسره ئے

نجوړ کړی او پاکی ورسره حاصله کړی یا او به په چاټی وغیره کښې وی او خه خیز ترې د اوبو راویستلو نهٔ وی او د چاټی په راکږولو ترې هم اوبه نشی راخستے او لاسونه ئے پلیت وی بل بنده د اوبو راخستلو دپاره هم نشته چه ددهٔ د لاسونو دپاکولو څهٔ انتظام اوکړی په داسے حالت کښې تیمم درست دے (مراقی ص۶۳ وردالمحتار ص۲۴۳ ج۱) مسئله ۲: دبند کانو دطرفه دیو عذر په وجه چه په تیمم مونځ کړے شوے وی دهغے عذر په لرے کید و سره په تیمم اوکړل کړارلی مونځونه به دوباره په اودس سره کزاری مثلاً په جیلخانه کښې ورته داودس کولو دپاره اوبه نهٔ شوے ورکولے یا چاورته وئیلی ووکه اودس دے اوکړو نو اوبه دے وژنم (فتاویٰ هندیه ص۱۸ ج۱ وشرح التنویر ص۳۶ ج۱) مسئله ۳: دزمکے او دیوال وغیره په بوخاڅے یا دخاورے په یوه لوټه خو کسان چه په یو بل پسے تیمم کوی نو دا صحیح دی (شرح التنویر ص۲۶ ج او فتاویٰ هندیه ص۱۹ ج۱) مسئله ۴ خوک چه د اوبو او خاورے دواړو په استعمال باندے یا ددے وجے نه قادر نهٔ وی چه دا دواړه ورته په لاس نشی ورتلے یا دبیماری په وجه ددے استعمال نشی کولے او د مونځ وخت ترے تیریدی و نو بے پاکئ دے مونځ اوکړی او په پاکئ سره دے بیا سر دوباره کړی مثلاً په اورګاډی کښې په چا د مونځ وخت په تیریدو وو او په یا خاوره دګرد وغبار څهٔ خیز نهٔ وی دغه حکم دجیل (دقیدی) هم دے (دُرِّمختار ص۲۵۹) مسئله ۵: چا ته چه تر آخره دوخت پورے د اوبو موند و یقین یا غالب ګمان وی نو هغه لره د مستحب وخت تر آخره پورے انتظار کول او بو دپاره مستحب دی مثلاً د کوهی نه د اوبو راویستلو دولچه او پړے وغیره نهٔ وی او تر آخره وخته پورے ددے د انتظام کید و یقین یا غالب ګمان وی، یا خوک په اورګاډی کښې سور وی او په یقین یا غالب ګمان سره تر آخره وخته پورے داسے سټیشن ته د اورګاډی رسیدل وی چرته به چه اوبه مونده شی نو انتظار کول تر آخره وخته پورے مستحب دی (شرح التنویر ص۲۵۶ ج۱) مسئله ۵: په اورګاډی کښې روان بنده د اوبو نهٔ موندو په وجه تیمم کړے دے په لاره کښې ئے د اوبو ویے اوچینے اولیدلے نو تیمم ئے مات نهٔ شو ځکه چه دے د اوبو په استعمال باندے دغه وخت قادر نهٔ دے. (فتاویٰ هندیه ص۱۸ ج۱) - دجنتی کالی داولے برخے تتمه ختمه شوه ورپسے ئے ددویمے برخے تتمه شروع کیږی.

دجنّتی کالی د دویمې برخې تتمه

د مونځ د وختونو بیان

مُدْرِک[۱]: هغه مقتدی دے چه دجمعے ټول مونځ ئے امام سره لاندے کړے وی دده بل نوم مُوتَم هم دے - مَسْبُوق[۲]:- هغه مقتدی دے چه د اول سر مونځ ئے امام سره نهٔ وی لاندے کړے او په آخر کښې ورسره شامل شوے وی او لاحِق:- هغه مقتدی دے چه اول سر نه امام سره په مونځ د جمعے کښې شریک شی او پهٔ څهٔ وجه ترے دجمعے دروستی سر ټول یا څهٔ مونځ پاتے شوے وی مثلاً د شریکیدو نه پس امام پسے نور مونځ کښې اوده شوے وی یا بے اودسه شوے وی طحطاوی ص۱۶۹ ورد المحتار ص۶۲۱ ج ۱) مسئله[۱]: نارینو دپاره دا مستحب دی چه دصبا مونځ دا سے وخت کښې اوکړی چه رڼړا سنه خوره شوی وی او نمر خاته ته دومره وخت پاتے وی چه د څلویښتو پنځوسو آیتونو دغسے دوه[۲] رکعته پکښې ادا کولے شی که چرے پهٔ څهٔ وجه اول ګزارلی دوه رکعته فرض ئے نهٔ وی شوی، البته ښځو دپاره مستحب دا دی چه دصبا مونځ پهٔ تیاره کښې کوی خو نارینه وُ دپاره دا مونځ پهٔ تیاره کښې صرف په مزدلفه کښې کول مستحب دی (شرح التنویر ص۳۷۹ ج ۱) مسئله:- دجُمعے او دماسپخین مونځ وخت یو دے (شرح التنویر ص۴۲۶ ج ۱) خو دومره فرق شته چه دا وړی د ماسپخین مونځ ډیل سره کول غوره دی او پهٔ ژمی کښې پهٔ اول وخت کښې ئے کول مستحب دی او دجُمعے مونځ پهٔ هر موسم کښې اول وختا کښې ادا کول سنت دی دجمهورو دا قول دے (شرح التنویر ص۳۸۳ ج ۱ ورد المحتار ص۳۸۰ ج ۱) مسئله[۳]: دا ختر ونو مونځ پهٔ دا سے وخت کښې کول پکار دی چه د اختر پهٔ ورځ نمر یوه نیزه راپورته شی او دزیړوالی پهٔ ځائے پکښې سپینوالے پیدا شی، رڼړا ئے دومره تیزه شی چه کتل ورته ګران شی (مراقی الفلاح ص۲۶ ج ۱ ورد المحتار ص۸ ج ۱) خو دوړوکی اختر مونځ پهٔ لږ ډیل سره کول پکار دی آخر وخت ئے د نمر څخیدو نه وړاندے پورے دے (رد المحتار ص۸ ج ۱) مسئله:- څهٔ وخت چه امام خطبے دپاره دخپل ځائے نه پورته شی چه دجمعے، اخترونو یا حج خطبه وی نو پهٔ دغه وختونو کښې مونځ کول مکروه دی د نکاح پهٔ خطبه کښې او پهٔ ختم قرآن کښې د شروع کولو د خطبے نه مونځ کول مکروه دی (دُر مختار ص۳۹ ج ۱)

فتاوی هندیه صـ۳۳ ج ۱) مسئله :- کله چه د فرض مونځ د پاره اقامت کولے شي هغه وخت مونځ کول مکروه دي البته که د صبا سنت چا نه وي کړي او په څه شان ئے د ایقین او غالب گمان راشي چه پوره یو رکعت به جمع سره اونیسم یا د ځینې علماؤ په قول باند ے د تشهد د ملاویدو وچه امید وي نو د صبا سنت ادا کول مکروه نهٔ دي یا شروع کړے سنت مؤکده پوره کړي (شرح التنویر صـ۴۷۹ ج ۱) مسئله :- د اختر و نو په ورځ د اختر د مونځ نه وړاندے په کور او عیدګاه دواړو کښې او د اختر د مانځهٔ نه پس صرف په عیدګاه کښې نفل کول مکروه دي. (شرح التنویر صـ۶۶۹ ج۱)

داذان بیان

مسئله :- دکوم مونځ د پاره چه اذان کیږي هغے د پاره هم د هغے مونځ ضروري دے که وخت نه وړاندے اوشو نو په وخت راتلوئے دوباره کول ضروري دي که هغه اذان د صبا او که د بل وخت وي. - (فتاوی هندیه صـ۳۳ ج ۱، رد المحتار صـ۴۰۲ ج۱) مسئله : د اذان او اقامت په عربي کښې هم په هغے الفاظو کښے کول ضروري دي کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه منقول دي که په بله ژبه کښے اذان اوشي یا په کښے نورو الفاظو سره اذان اوکړے شي نو صحیح به نهٔ وي اګر چه خلق ورته اذان اووائي او د اذان مقصود پرے هم حاصل شي (شرح التنویر ورد المحتار صـ۳۹۷ ج ۱) مسئله :- ضروري ده چه نارینه دے اذان کوي د ښځے اذان درست نهٔ دے، د ښځے کړے اذان به دوباره نارینه کوي، که چا هم د ښځے په اذان مونځ اوکړو نو بے اذانه ئے مونځ اوکړو (بحر الرائق صـ۲۶۳ و ۲۶۴ ج۱ وحاشیه بحر الرایق صفحه هذا) مسئله : دا ضروري ده چه مؤذن دے صاحب عقل هم وي، ناپوهه ماشوم یا لیونے یا مست چه اذان اوکړي نو معتبر به نهٔ وي (فتاوی هندیه صـ۳۳ ج ۱ ورد المحتار صـ۴۰۷ ج ۱) مسئله :- د اذان کولو سنت طریقه دا ده چه اذان کونکے دے دواړه قسمه بے اودسۍ او ناپاکۍ نه پاک وي په یو لوړ ځائے کښے دے د جومات نه بهر مخ په قبله او دریږي او دخپلو غوږونو دواړو سوري دے په مسواکه گوته بند کړي دخپل وس په جوړه اوچت آواز سره څلور کرته " الله اکبر " بیا دے دوه کرته " اشهد ان لا اله الا الله " بیا دوه کرته اشهد ان محمدا رسول الله " بیا دوه کرته " حَيّ عَلَى الصَّلوٰة " بیا دوه کرته " حَيَّ عَلَى الْفَلَاح - بیا " الله اکبر " دوه کرته بیا لا اله الا الله یو کرت اووائي (فتاوی هندیه صـ۳۴ ج ۱) حي علی الصلوٰة

سره به مخ بنى ارخ ته اړوی په داسے شان چه سینه او قدمونه ئے وانه وړی دغسے به حیّ علی الفلاح سره به کس اړخ ته مخ اړوی (مراقی الفلاح ص۱۰۶ ورد المحتار ص۴۰۱ ج ۱) د صبا په اذان کښے به د حَیَّ عَلَى الْفَلَاحِ نه پس اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ هم دوه ځله وائی (رد المحتار ص۴۰۲ ج ۱) نو د اذان د اټول لفظونه ینځلس شو او د صبا په اذان کښے اولس داذان الفاظ به د سند رو په طرز نهٔ ادا کوی لکه چه څهٔ په ښکته او څهٔ په پورته آواز او وائی او دوه ځل " الله اکبر " و ئیلو نه پس به دومره چپ کیږی چه آوریدونکے د دے جواب ورکړی دغسے به د نورو الفاظونه پس هم چپ کیږی (رد المحتار ص۴۰۱ ج ۱)

مسئله ۶:- د اقامت طریقه هم دغه ده فرق دادے چه اذان د جوماتنه بهر او اقامت په جومات کښے دننه کول دی اذان په اوچت آواز او اقامت په ټیټ آواز کول دی په اقامت کښے هیڅ وخت خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ وئیل نشته خو پینځه واره وختونه به د حَیَّ عَلَى الْفَلَاحِ نه پس دوه ځله قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ وائی دغسے په اقامت کښے دغوږونو په سوروکښے ګوتے ورکول هم نشته او دا هم نشته چه حَیَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَیَّ عَلَى الْفَلَاحِ سره مخ بنى او کس طرف ته اړوی (شرح التنویر ص۳۰۲ ج ۱) یعنی مخ اړول ضروری نه دی ولے چه بعضے فقهاؤ اړول لیکلی دی.

داذان او اقامت احکام

مسئله ۱:- ټول فرض عین مونځونو پاره یو ځل اذان کول په سړو باندے سنت مؤکده دی که مسافر وی که مقیم د جُمعے مونځ وی که ځان له ادا مونځ وی که قضا، د جمعے مونځ د پاره دوه ځله اذان وئیل دی (شرح التنویر ص۳۹۵ ج ۱) مسئله ۲:- چه عامو خلقو نه مونځ قضا شوے وی نو اذان به د اعلان په ډول په اوچت آواز وئیلے شی او که په خاص سبب قضا شوے وی نو په رو آواز سره دے په پټه اذان کولے شی چه عام خلق پرے خبر نشی ولے چه مونځ قضا کیدل د غفلت او سستئ د وجے نه وی چه د دین په کارونو کښے ګناه ده چه ښکاره کول ئے ښهٔ دی او نورو مونځونو د پاره صرف اقامت البته هر یو مونځ د پاره ځان ځان له اذان کول هم مستحب دی (شرح التنویر ص۴۰۲ ج ۱) مسئله ۳: مسافر د پاره که دغه ټول ملګری موجود وی اذان کول مستحب دی سنت مؤکده نهٔ دی (شرح التنویر ص۴۰۹ ج ۱) مسئله ۴:- خوک چه خپل

کور کښې ځان له یا په جمع مونځ کوی نو ورد پاره اذان او اقامت کول دواړه مستحب دی خو هله چه دکلی په جوماتٔ کښې اذان او اقامت شوے وی کوم چه دسالمے محلے دپاره کافی دی (بحرالرائق ص۲۶۵ ج ۱)

مسئله ۵:- په کوم جوماتٔ کښې چه په اذان او اقامت سره مونځ شوے وی هلته چه مونځ اوشی نو بیا اذان او اقامت پکښې کول مکروه دی، البته که دغے جوماتٔ دپاره څوک تاکلے امام یا مؤذن نهٔ نو بیا مکروه نهٔ بلکه زیات غوره دی (فتاوی هندیه ص۳۳ وص۳۴ ج ۱ ورد المحتار ص۴۱۷ ج ۱)

مسئله ۶: چرته چه دجمعے دمونځ شرطونه بیا مونده شی او جمعه هلته کیږی اودغلته څوک دماسپخین مونځ کوی نو اذان او اقامت کول مکروه دی اګرچه هغه دماسپخین مونځ په عذر سره کوی د جُمعے دمانځه نه وړاندے کوی یا روستو (شرح التنویر ورد المحتار ص۴۰۶ ج ۱)

مسئله ۷: ښځو له اذان او اقامت کول مکروه دی که ځان له مونځ کوی او که په جمع (شرح التنویر ورد المحتار ص۴۰۵ ج ۱)

مسئله ۸:- د فرض عین مونځونو نه سواځه بل مونځ دپاره اذان او اقامت کول مسنون نه دی، که هغه فرض کفایه (دجنازے) مونځ یا واجب (وتر او داخترونو) مونځونه وی یا نفل (نور مونځونه دی (فتاوی هندیه ص۳۳ ج ۱ ورد المحتار ص۳۹۹ ج ۱)

مسئله ۹: اذان آوریدونکی سړی او ښځے دواړو دپاره داذان جواب ورکول مستحب دی خواه هغه پاک وی یا ناپاکه (جنب) بعضے علماؤ ورته واجب هم ویلی دی خو اعتباری او ظاهر مذهب استحباب دے طحطاوی علی المراقی ص۱۰۹ وشرح التنویر ص۴۱۱ ج ۱ یعنی دمؤذن په شان الفاظ به وائی خو دحیّ علی الصّلوٰة او حیّ علی الفلاح په جواب کښې به لاحول ولاقوة الا بالله » او د « اَلصَّلوٰةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ » په جواب کښې به صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وائی داذان په ختمیدو به درود شریف وئیلو نه پس دا دعا لولی: اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلوٰةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ سَيِّدَنَا مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِیْ وَعَدْتَّهٗ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ.- (مراقی الفلاح ص۱۱۱)

مسئله ۱۰:- دجُمعے داول اذان په آوریدو به هول کاروبار نه پریږدی او جومات له به ځی دا واجب دی په خرید، فروخت یا بل کار کښې مشغولیدل حرام دی (شرح التنویر ورد المحتار ص۸۹ ج ۱)

مسئله: د اقامت جواب ورکول هم مستحب دی واجب نهٔ دی او د قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةِ په جواب کښے به "اَقَامَهَا اللّٰهُ وَاَدَامَهَا" وائی (شرح التنویر ص۴۱۵ ج ۱) مسئله:- په اتو صورتونو کښے د اذان جواب نهٔ دی ورکول پکار (۱) چه مونځ کوی (۲) خطبه چه آوری که د جمعے وی یا بل (۳) و(۴) په حیض ونفاس کښے یعنی ضروری نه دی (۵) دعلمِ دین لوستلو او لولو په وخت (۶) د کوروالی په حالت کښے (۷) دلویو وړو متیازو کولو په وخت (۸) دخوراک څکاک کولو په وخت، یعنی ضروری نهٔ دی البته چه دے نه اوزګار شی او د اذان ډیلو ډیر وخت نهٔ وی تیر شوے نو جواب ورکول ئے پکار دی ورنه نهٔ دے ورکوی- (بحرالرائق ص۲۶۰ ج۱)

د اذان او اقامت سنن او مستحبات د اذان او اقامت سنن دوه قسمه دی ځنے دمؤذن په باره کښے دی او ځنے د اذان او اقامت په باره کښے مونږ تر ټیخو پورے اول د مؤذن د سنتونو ذکر کوو د هغے نه پس به د اذان سنتونه بیانوو (۱) مؤذن نارینه پکار دے د ښځے اذان او اقامت مکروه تحریمی دے . ښځه چه اذان اوکړی هغه دوباره کول پکار دی خو د اقامت دوباره کول نشته (۲) مؤذن دے عقلمن وی د لیونی او مست بنده او دناپوهه ماشوم اذان او اقامت مکروه دے او ددوئ کړی اذانو دوباره کول پهٔ کار دی نهٔ اقامت (شرح التنویر ص۴۲۰ ج ۱) (۳) مؤذن له پکار دی چه د ضروری مسئلو او دمونځ د وختونو نه واقف وی که نا واقفه سړے اذان اوکړی نو دمؤذنانو هومره ثواب به ئے نهٔ وی (بحرالرائق ص۲۵۴ ج ۱) (۴) مؤذن پرهیزګار او دخلقو دحال نه خبردار پکار دے جمعے تر نه راتلونکو ته خبردار ے ورکول دی خو هله چه خلقونه دد ئ د تنکولو ویره نهٔ وی (فتاوٰی هندیه ص۳۳ ج ۱) (۵) مؤذن دے دلوړ آواز خاوند وی (مشکوٰة ص۶۹) (۶) دجومات نه بهر په یولوړ ځائے باندے اذان کول او پهٔ جومات کښے دننه اقامت کول، ولے چه پهٔ جومات کښے دننه اذان کول مکروه تنزیهی دی (رساله تنشیط الاذهان مصنفهٔ مولانا خلیل احمد رح البته د جمعے دویم اذان پهٔ جومات کښے دننه پهٔ منبر باندے ناست دخطیب مخے ته کول مکروه نه دے، بلکه پهٔ ټولو اسلامی ښارونو کښے پهٔ دے عمل دے (فتاوٰی هندیه ص۳۴ ج ۱ ومراقی الفلاح ص۱۰۸) (۷) په ولاړه اذان

کول سنت دی په ناسته اذان کول مکروه دی چه دوباره کول ئے
پکار دی، البته که مسافر سور وی یا مقیم اذان صرف دخپل مونځ
د پاره کوی نو بیا د دوباره کولو ضرورت نشته (۸) په اوچت آواز اذان
کول، البته که صِرف خپل مونځ د پاره ئے کوی نو ورته اختیار دے خو
بیا هم ثواب به ئے په اوچت آواز کښے وی شامی ص۴۰۵ ج۱) (۹)
د اذان کولو په وخت د غوږونو سوری په گوتو بندول مستحب
دی (فتاوٰی هندیه ص۳۵ ج۱) (۱۰) د اذان الفاظ په دمه دمه ادا کول
او د اقامت الفاظ زر زر ادا کول سنت دی که چا زر زر اوکړو نو دوباره
کول ئے مستحب دی او که اقامت په دمه دمه اوشو نو دوباره کول ئے
مستحب نهٔ دی (فتاوٰی هندیه ص۳۵ ج۱ وشرح التنویر ص۴۰۳ ج۱)
(۱۱) په اذان کښے د "حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ" ویلو په وخت ښی طرف ته
مخ اړول او د "حَیَّ عَلَی الْفَلَاح" ویلو په وخت کس طرف ته مخ اړول
سنت دی که دغه اذان مونځ د پاره وی یا بل څهٔ د پاره خو چه سینه
او قد مونږ ئے د قبلے نه واوړی (شرح التنویر ورد المحتار ص۴۰۳ ج۱)
(۱۲) اذان او اقامت دے مخ په قبله وائی خو هله چه سور نهٔ وی دے
چه مخ په قبله اذان او اقامت نهٔ کول مکروه تنزیهی دی (شرح التنویر
ورد المحتار ص۴۰۳ ج۱) (۱۳) د اذان کولو په وخت د حدثِ اکبر (جنابت)
نه پاکوالے ضروری دے او د واړو حدثونو نه ئے پاکیدل مستحب دی او د
اقامت ویلو په وخت د دواړو حدثونو نه پاکیدل ضروری دی، د حدثِ
اکبر په حالت کښے اذان کول مکروه تحریمی دی چه د دغے اذان
دوباره کول مستحب دی، د غسے د دواړو حدثونو په حالت کښے
اذان کول مکروه تحریمی دی خو دوباره کول ئے مستحب نهٔ دی (حواله ئے
اوس اوس تیره شوه) (۱۴) د اذان او اقامت الفاظ په ترتیب سره
ویل سنت دی که وړاندے لفظ ځولے روستو او وائی مثلاً "حَیَّ عَلَی
الصَّلٰوۃ" نه وړاندے "حَیَّ عَلَی الْفَلَاح" او وائی نو صرف روستے
لفظ به دوباره کوی یعنی "حی علی الصلوٰۃ" به دوباره او وائی او "حی
علی الفلاح" به وروسته او وائی او بیا به په مخه وائی ټول اذان به نهٔ
سر دوباره کوی (دُرِّ مختار او شامی ص۴۰۳ ج۱) (۱۵) د اذان او اقامت
په حالت کښے څهٔ بل کلام نهٔ کول سنت دی که هغه سلام وی یا د سلام
جواب ورکول وی که ځولے د اذان او اقامت په دوران کښے نور څهٔ خبرے

اوکړی نو د اذان دوباره کول دی نه د اقامت (عالمګیری شرح التنویر و ردالمحتار ص۴۰۳ ج ۱۔)

مختلف مسئلے مسئله ۱:۔ څوک چه په هیره یا په قصد د اذان جواب ورنهٔ کړی د اذان ختمید و نه پس ئے د جواب ورکولو خیال شی، که زیات وخت نهٔ وو تیر شوے نو جواب دے ورکړی ګني نو نهٔ دے ورکوی (ردالمحتار ص۴۱۱ ج ۱) مسئله ۲:که د اقامت کولو نه پس زیات وخت تیر شی او جمع او نهٔ دریږی نو د اقامت دوباره کول پکار دی، که لږ ساعت شوے وی نو ضرورت ئے نشته، که اقامت اوشو او امام د صبا په سنتو کښے مشغول شو نو دغه وخت زیات نهٔ حسابیږی حکه د اقامت دوباره کولو ضرورت نشته او که د اقامت نه پس څه داسے کار شروع کړی چه مونځ سره ئے څهٔ تعلق نهٔ وی مثلاً خوراک څکاک کښے مشغول شی نو په دغے صورت کښے به اقامت دوباره کوی (شرح التنویر ص۴۱۵ ج ۱) مسئله ۳:۔که مؤذن د اذان په حالت کښے مړ یا بیهوشه شی، اواز ئے بند شی یا ترے هیر شی او څوک ښودونکے ورته نهٔ وی یا بے اودسه شی چه اودس د پاره لاړ شی نو د دغے اذان سره دوباره کول سنت مؤکده دی (شرح التنویر وردالمحتار ص۴۰۷ ج ۱) مسئله ۴:۔ د اذان او اقامت په دوران کښے چه څوک بے اودسه شو نو ښه خبره دا ده چه اذان او اقامت پوره کړی او هغے نه پس اودس کولو د پاره لاړ شی (ردالمحتا ص۴۰۷ ج ۱) مسئله ۵:۔ دیو مؤذن په دوو جوماتو نو کښے اذان ورکول مکروه دی چرته چه به فرض کوی هلته به اذان ورکوی (شرح التنویر ص۴۱۵ ج ۱) مسئله ۶:۔ د اقامت حق د مؤذن دے البته که مؤذن د اذان نه پس په څهٔ وجه موجود نهٔ وو یا ئے بل چاته اجازت ورکړو نو بل څوک ئے هم کولے شی (فتاوٰی هندیه ص۳۲ ج ۱ وردالمحتار ص۴۱۲ ج ۱) مسئله ۷:۔ دګنړو مؤذنانو په یوځائے اذان کول جائز دی ردالمحتار ص۴۰۵ ج ۱) مسئله ۸:۔ مؤذن له پکار دی چه چرته نه اقامت شروع کړی هم هلته دے ختم کړی (ردالمحتار ص۴۱۲ ج ۱) مسئله ۹: اذان او اقامت د پاره نیت شرط نهٔ دے البته بے د نیت نه پرے ثواب نه حاصلیږی، خو نیت د زړه وی چه اذان او اقامت د الله تعالیٰ د رضا د پاره په زړه کښے اونیسی ۔ (ردالمحتار ص۴۰۰ ج ۱)

د مونځ د شرطونو بيان

د پاکۍ مسئلې

مسئله: که د څادر يو پلو پليت وي او مونځ کولو د پاره ئې په سر کړي که هغه دومره لوئې وو چه د مونځ کزار په ښکته پورته کيدو سره ئې هغه پليت پلو نه خوځي او نه بې ځايه کيږي نو څه باك ئې نشته دا حکم د هغه څيز هم دے چه مونځ ګزار سره په ماڼځه کښې وي مثلا د اسے يو ماشوم ورسره په ماڼځه کښې وي چه هغه په خپله ورسره نښتی تينګيدے بلکه مونځ ګزار تينګ کړے وی که د هغه جامے پليتے وی نو د مونځ ګزار مونځ نه کيږي او که دا سے ماشوم وو چه پخپله ئے مونځ ګزار سره ځان تينګ کړے وو او جامے ئے پليتے وے نو د مونځ ګزار مونځ کيږي دا سے حکم د پليتئ هم دے چه پليتی خپل ځائے کښے وی نو د مونځ ګزار مونځ ورسره کيږي مثلاً يو مونځ ګزارته په مونځ کښې يو سپے په بدن کينا ستو او لاړے ئے نه بهيدے نو مونځ ورسره کيږي ولے چه د سپي لاړے د سپي په بدن کښې دی چه د هغے د پيدا کيدو خپل ځائے دے خلاصه دا چه مثال ئے د هغه پليتئ شو چه د مونځ ګزار په بدن کښې د ننه وی (شرح التنوير ورد المحتار ص۲۱ ج ۱) دا مثال د هغے سخا هګئ دے چه مونځ ګزار سره په جيب وغيره کښې وی او زيړے وينه ګرځيدلے وی نو مونځ ئے ورسره کيږي ځکه چه دغه پليتي په هغه ځائے کښې ده چيرته چه پيدا شوے ده په بهر باندے ئے هيڅ اثر نشته البته په بوتل وغيره کښے بند و متيازو سره مونځ ځکه نه کيږي چه دا د خپل پيدا کيدو ځائے نه را بهر شوی دی (شامی ص۲۱۸ ج ۱) **مسئله:** د مونځ ځائے دے د حقيقي پليتئ نه پاك وي البته که دغه پليتي په شريعت کښے د معاف په اندازه وي نو څه باك ئے نشته د مونځ ځائے نه مطلب د قدمونو ايښو ځائے، په سجده کښے د زنګنو نو، لاسونو پوزے او تندی ايښود ځائے دے (طحطاوی ص۱۲۱) **مسئله ۳:** که صرف د يوے خپے ځائے ئے پاك وی او بله خپه اوچته لری نو دا هم کافی ده (عالمګيری ص۳۸ ج ۱ ودرمختار ص۱۵) **مسئله ۴:** دا حکم د جانماز وغيره هم دے په کوم د پاسه چه مونځ کيږي (طحطاوی ص۱۲۰) **مسئله ۵:** په پليت ځائے چه کومه کپړه خوره کړے شي که هغه دومره غټه وه چه ورلاندے ځائے

ترے په آسانه نهٔ بنکاریږ و هله پرے مونځ کیږی، کنی نو نهٔ کیږی (طحطاوی علی المراقی ص۱۲۰) **مسئله**: که د مونځ په حالت کښې د مونځ گزار د جامے څهٔ برخه په (اوږ) پلیت ځائے پورے لګی نو څهٔ بد یت نشته (شامی ص۲۱۶ ج ۱) **مسئله**: که بنده د بند یا نو اخلقو له طرفه پهٔ بربنډ پاتے کیږ و مجبور وو او بربنډ ئے مونځونه اوکړل نو دغے عذر او مجبوریٔ لرے کیږ و پهٔ صورت کښې به دغه ټول مونځونه راگرځوی مثلاً پهٔ جیل کښې د حاکمانو د اړخه په بربنډ پاتے کیږ و مجبوره کړے شو یا د دشمنانو د اړخه پهٔ بربنډ پاتے کیږ و مجبوره شو که پهٔ خپله مجبوریٔ سره به بربنډ کړی مونځونه به دوباره جاموسره نهٔ راگرځوی (بحرالرائق ص۲۷۵ ج ۱) **مسئله**: که چا سره یوه جامه وه یو خوا بربنډ وه او بل خوا ورسره ټول ځائے پلیت وو نو مونځ کولو دپاره به په هغه جامه ځان (ستر) پټوی او په هغه ناپاک ځائے به مونځ کوی (شرح التنویر ص۶۶ ج ۱ مجتبائی).

دقبلے مسئلے

مسئله: که چا ته قبله نهٔ وه معلومه او پهٔ جمع ئے مونځ کول غوښتل نو پهٔ خپل غالب گمان به قبله تاکی او هغه اړخ ته به مخ کوی که یو مقتدی امام سره پهٔ غالب گمان کښې اختلاف لرلو نو د هغه په نزد امام پهٔ غلطی دے و رپسے ئے مونځ نهٔ کیږی ځان له به کوی (دخپل غالب گمان اړخ ته به مخ کوی (شرح التنویر ص۳۵۲).

دنیت مسئلے

مسئله: مقتدی دپاره د امام د اقتداء نیت کول هم شرط دی (مراقی الفلاح ص۶۲) **مسئله**: امام دپاره صِرف دخپل مونځ نیت کول شرط دی دهٔ دپاره د امامت نیت کول شرط نهٔ دی، البته که څوک ښځه دهٔ پسے مونځ کول غواړی او د سړی پهٔ برابریٔ کښې ولاړه وی او جمعے، جنازے او اخترونو مونځ نهٔ وی نو د هغے اقتداء ورپسے هله صحیح کیږی چه امام ئے نیت اوکړی او که د سړی پهٔ برابریٔ کښې ولاړه نهٔ وی، یا د جُمعے جنازے او اختر مونځ وی نو امام دپاره د هغے نیت شرط نهٔ دے (درمختار ص۳۴۴ ج ۱) **مسئله**: مقتدی دپاره صِرف د امام نیت کول کافی دی دا ضرورت نشته چه دیو خاص امام نیت اوکړی البته که چا داسے اوکړل چه زید پسے ئے د مونځ کولو نیت اوکړو هغه په منځ کښې خالد وو نو مونځ ئے اونهٔ شو (دُر ص۳۴۲ ج ۱، عالمگیری ص۲۱ ج ۱)

مسئله ۴:- دجنازے دمونځ دا سے نیت کول پکاردی چه زهٔ مونځ ددے جنازے د الله تعالیٰ درضا او ددے مُردہ د دعا دپارہ کوم که چاته دمړی د نر ښځے پته نهٔ لګی نو نیت دے دا سے کوی چه ددے امام مونځ کزارم پهٔ دے امام پسے (ردالمحتار ص۴۳۹ ج۱) دبعضے علماؤ پهٔ نزد صحیح دا دی چه د فرض او واجبو مونځونو نه سوا صرف د مونځ نیت کول کافی دی د دے پهٔ ګوته کول او تاکل ضروری نهٔ دی چه دا مونځ سنت یا مستحب دے د صبا سنت دی یا د ماسپخین، یا دا تهجد دی یا تراویح، دکسوف (نمر نوریدو) مونځ دے اوکه دخسوف (سپوږمۍ توریدو) خو غوره دا ده چه خاص هم دهغے مونځ نیت دے کوی کوم چه ادا کوی (درمختار ص۴۳۳ ج۱)

دتکبیر تحریمه بیان

مسئله ۱: ځنے نا واقفه خلق جومات ته پهٔ رانلو توچه امام پهٔ رکوع کښے لاندے کړی نو سمدستی ورسره په رکوع کښے شامل شی نیت وغیره هم پهٔ رکوع کښے اوکړی او خیال ئے دا وی چه مایو رکعت اوبیولو حالانکه د ده د سره تول مونځ اونشو ولے چه تکبیر تحریمه مونځ دپاره فرض دے او تکبیر تحریمه دپارہ قیام (ولاړه) شرط دے ردالمحتار ص۴۱۷ ج۱)

دفرض مونځ ځنے مسئلے

مسئله ۱:- دا امین لفظ الف ولاړلوستل پکاردی ورپسے د قرآن کریم بل سورت لوستل پکاردی (ردالمحتار ص۵۱۳ ج۱ و مراقی الفلاح ص۸۱) مسئله ۲: دسفر او بل ضرورت پهٔ حالت کښے د سورتِ فاتحے نه پس هر یو سورت پهٔ خپله خوښه لوستلے شی که دغسے حالت نهٔ وو نو د صبا او ماسپخین پهٔ مانځهٔ کښے سورهٔ حجرات او سورهٔ بروج او ددے ترمنځه سورتونو کښے بل یو سورت هم لوستلے شی خو د صبا پهٔ مونځ کښے د دویم رکعت نه اول رکعت کښے اوږد سورت لوستل پکاردی د نورو وختونو پهٔ مونځونو کښے د دواړو رکعتونو سورتونه برابر برابر لوستل پکاردی، د یو دوه آیتونو کمے زیاتے څهٔ خبره نهٔ ده د مازیګر او ماسختن په مونځ کښے "وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ" او "لَمْ يَكُنْ" یا ددے ترمنځه سورتونو نه یو سورت لوستل پکاردی، د ماښام پهٔ مونځ کښے د "اِذَا زُلْزِلَتْ" نه تر آخر د قرآن پورے سورتونو نه یو سورت لوستل پکاردی (عالمګیری بحذف ص۷۸ ج۱)

مسئله ۳: د رکوع نه پس چه نیغ اودریږی امام به "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ

حَمِدَہٗ " وائی او مقتدی به " رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ " وائی او ځان له مونځ ګزار به دواړه وائی، بیا په ګوډو لاس ایښوولے سجدے ته ځی خو تکبیر "اَللّٰهُ اَکْبَرُ" به سجدے ته په رسیدو ختموی (عالمګیری ص۴۶ ج۱)

مسئله۴: سجدے ته په تلو کښے به اول ګوډے په زمکه ایږدی، بیا لاسونه بیا پوزه بیا تندے په زمکه ایږدی بیا مخ، تندے د دواړو لاسونو ترمنځه به ایږدی او د ګوتو مخه به ئے قبلے ته وی دواړه خپے به ولاړے لری چه د هغے د ګوتو سرونه هم قبلے ته راځی خیټه به د ګوډو ورنه، مټے به د ترخ نه جدا لری خیټه به د زمکے نه دومره اوچته لری چه د چیلئ د بیر ورکوټے بچے ئے ترمنځه تیریدے شی (عالمګیری ص۴۶ ج۱)

مسئله۵:۔ د صبا، ماښام او ماسختن په وړمبو دوو رکعتونو کښے سورة فاتحه او بل سورة او سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ او ټول تکبیرونه به امام په اوچت آواز سره وائی او ځان له مونځ ګزار په قراءت کښے اختیارمند دے خو "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ" او تکبیرونه به غلی وائی د ماسپخین او ماز یګر په مونځونو کښے به امام "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ" او ټول تکبیرونه په لوړ آواز سره وائی او ځان له مونځ ګزار به په غلی آواز سره او مقتدی به هر وخت تکبیرونه وغیره په غلی آواز سره وائی (دُر ص۵۵۶ ج۱ و دُر ص۴۹۵ ج۱)

مسئله۶: د مونځ ختمولو نه پس دواړه لاسونه به سینے پورے پورته کړی او خواره به ئے کړی الله تعالیٰ نه به خپل ځان دپاره دعا غواړی او چه امام وی نو ټولو مقتدیانو دپاره هم چه دعا ختمه کړی نو دواړه لاسونه دے په خپل مخ اوګرځوی مقتدی به خپله دُعا کوی او که غواړی نو د امام په دُعا دے آمین آمین وائی که آوریدله ئے (مراقی الفلاح ص۱۷۳)

مسئله۷:۔ د کومو فرضونو پس چه سنت مونځ وی مثلاً د ماسپخین، ماښام او ماسختن نو د فرضونو پس دے اوږدے دعاګانے نه کوی او د صبا او ماز یګر د مانځه نه پس په خپله خوښه یاندے اوږدے اوږدے دعاګانے هم کولے شی د امام خوښه ده چه په ښی طرف خپلو مقتدیانو ته دعا دپاره راګرځی او که کس اړخ ته خو شرط دا دے چه مخے ته ئے څوك مونځ ګزار مونځ نه کوی (عالمګیری ص۴۸ ج۱)

مسئله۸:۔ د فرض مونځونو نه پس چه سنت وریسے نه وی دا سنت دی (کنی نو سنتونو پس) مستحب دی چه:۔ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ درے کرته آیة الکرسی، قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد،

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ یو یو کرت لولی، سُبْحَانَ اللّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ دواړه (هر یو) درې دیرش ۳۳ کرته او اَللّٰهُ اَکْبَرُ څلور دیرش ۳۴ کرته لولی (مراقی الفلاح ص۲۱۰) **مسئله ۹:-** د ښځو مونځ هم دا شان دے خو څو ځایونو کښې ترے بدل دے، هغه دا دی:

(۱) سړو له پکار دی چه څادر وغیره نه لاس (خپړه) راوباسی او غوږونو ته د نیت تړلو دپاره پورته کړی که څهٔ ضرورت د یخنۍ وغیره نه وو خو ښځې به پهٔ هرحال پهٔ څادر لوپټه کښې د ننه لاسونه صرف اوږو پورې پورته کوی (۲) سړی به پس د نیت تړلو نه د نامه نه لاندے لاسونه تړی او ښځې به پهٔ سینه باندے ایږدی سړی به د ښي او کیڼ ګوتے کړئ د ګس مړوند نه تاؤ کړی او درے ګوتے به ښیغے پهٔ ګس مړوند باندے کیږدی خو ښځې به د ښي لاس تلے د ګس لاس پهٔ شا باندے ایږدی او بس (طحطاوی ص۱۵۱ دُر او رد ص۵۰۰ ج۱) (۴) سړے به پهٔ رکوع کښې ښه ټیټیږی چه سر، کُناټی او شا ئے یو شان وی خو ښځې به دومره نهٔ ټیټیږی بلکه دومره ورد پاره کافی دی چه ګوډونو تهٔ ئے لاس اورسی (دُر ورد ص۵۱۸ ج۱) (۵) سړے به رکوع کښې پهٔ ګوډو باندے خورے ګوتے ایږدی خو ښځې به پرے جُختے ګوتے ایږدی (دُر و رد ص۵۱۴ ج۱) (۶) سړے به څنګلے د اړخونو نه لرے لری خو ښځې به ئے ورسره لګوی (۷) سړی به سجده کښې خیټه د پټونو او لیچے د اړخونو نه لرے لری خو ښځې به ئے ورسره یو ځائے لری (۸) سړے به پهٔ سجده کښې څنګلے پهٔ زمکه نه ایږدی خو ښځې به ئے زمکے پورے لګوی (مراقی الفلاح ص۱۴۶) (۹) سړے دے پهٔ قعده کښې پهٔ ګسه خپه کښینی او ښۍ خپه به ولاړه لری چه ګوتے به ئے قبلے اړخ ته راکړے کړی وی خو ښځې به پهٔ ګس کناټی کښینی او دواړه خپے به ښی طرف ته اوباسی پهٔ دا سے شان چه ښے پتون پهٔ ګس او ښۍ پنډۍ پهٔ ګسه پنډۍ باندے راشي (مراقی الفلاح ص۱۴۶) (۱۰) سړے به پهٔ سجده کښې دواړه خپے پهٔ ګوتو باندے ولاړے لری خو ښځې به دا سے نهٔ کوی (ردالمحتار ص۵۲۷ ج۱) (۱۱) ښځې به هیڅ وخت کښې پهٔ اوچت آواز سره قرأت نهٔ لولی بلکه هر وخت به پهٔ غلی آواز قرأت لولی (شامی ص۵۲۷ ج۱)

تحیة المسجد

مسئله ۱:- دا مونځ هغه چا دپاره سنت دے چه جومات ته ننوځی **مسئله ۲:-** د دے مونځ مطلب

دجومات تعظیم دے چه په حقیقت کښے د الله تعالیٰ تعظیم دے ولے چه د مکان تعظیم د صاحب مکان د تعظیم په خیال وی ځکه د غیر الله تعظیم د دلته نشی کیدے، جومات ته چه راننوځی نو د کښیناستو نه وړاندې دے دوه (نفل) اوکړی خو چه مکروه وخت نه وی (ردالمحتار ص۴۰۹ ج۱) **مسئله۳**:- که مکروه وخت وو نو څلور ځل دے دا کلمات وائی سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ او وروسته به څه درود شریف اولولی ددے موخه نیت دا دے: نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ رَكْعَتَيْ تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ. په پښتو کښے به داسے وائی یا به زړه کښے ځان ته راحاضر کړی چه "د دوو رکعاتو تحیة المسجد نیت مې کړے دے (ردالمحتار تغییر ص۴۰۹ ج۱) **مسئله۴**:- که د دوو رکعتونو په ځائے څلور رکعته اوکړی نو بیا هم ښه دی که جومات ته په راتلو سره فرض یا سنت موخه اوکړی نو هغه د تحیة المسجد د سنتو قائم مقام شی (یعنی په هغے به ورته د تحیة المسجد ثواب هم حاصل شی) اګرچه ددے نیت پکښے شامل هم نه وی (دُرمختار ص۴۰۹ ج۱) **مسئله۵**:- که جومات ته په ننوتو څوک کښینی او بیا راپاڅی تحیة المسجد (موخه) اوکړی نو څه باک ئې نشته البته په اول سر کښے د کښیناستو نه وړاندې ئې کول ښه دی (درمختار ص۴۵۷ ج۱) ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: څوک چه جومات ته ورشی نو د کښیناستو نه وړاندې دے دوه رکعاته نفل موخه کړی (مشکوٰة شریف) **مسئله۶**:- که څو ځله جومات ته ورننوتل وی نو صرف یو ځل تحیة المسجد اداکول کافی دی، خواه په اول ځل وی یا په آخر ځل (ردالمحتار ص۴۵۷ ج۱)

دسفر نفلونه

مسئله۱:- په سفر باندے د روانیدو په وخت په کور کښے دوه رکعته نفل کول مستحب دی د عنه دا هم مستحب دی چه د سفر نه په واپسئ اول جومات ته ورشی او هلته دوه رکعته نفل اوکړی هلته کورته لاړ شی (دُرّ مُختار ص۵۱۴ ج۱) چنانچه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: څوک چه په خپل کور کښے د هغے دوو رکعتونو زیات غوره څیز نه پریږدی چه د سفر په وخت کولے شی (رواه الطبرانی، ردالمحتار ص۵۹۵ ج۱) بل حدیث کښے راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سفر نه تشریف راوړو نو جومات ته به اول لاړو او دوه رکعته نفل به ئې اوکړل (رواه مسلم

ردالمحتار ص۷۱۵ ج ۱ مصری) **مسئله** :- مسافر له مستحب دی چه چرته په سفر کښې په یو ځائے تیکاوے دل غواړی نو هلته دے د کیناستو نه اول دوه رکعته مونځ اوکړی (غنیة الناسک ص۱۸)

دقتل مونځ **مسئله**۱:- کله چه یو مسلمان دوژلو تکل کولے شی نو هغه له پکار دی چه دوه رکعته مونځ اوکړی الله تعالیٰ نه دخپلو گناهونو بخښنه اوغواړی چه دغه مونځ او بخښنه غوښتل د هغه آخری عمل شی (طحطاوی ص۲۱۹) حدیث کښې راغلی دی چه یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم دصحابه کرامو رض څو قاریان دقرآن کریم د تعلیم دپاره چرته لیږلی وو په لاره کښې هغوئ دکفارو په لاس کښې بندیان شو هټول ئے شهید ان کړل خو حضرت خبیب رض ئے ځان سره مکے مکرمے ته بوتلو او په ډیر فخر اوغرور سره ئے شهید کړو، څه وخت چه شهید کولے شو نو هغے نه ئے پوښتنه وکړه چه ...ئے دغوخلقو نه د دوو رکعتونو گزارلو اجازت اوغوښتو او دوه رکعته ئے اوکړل دغې وخت نه دغه مونځ مستحب شو- (فتح الباری ص۲۹۴ ج ۷)

دتراویحو بیان **مسئله**۱:- وتر، دتراویحو نه پس کول بهتر دی که رومبے ئے تر ے اوکړل نو هم درست دی (مراقی الفلاح ص۲۲۵) **مسئله**۲:- دتراویحو په مونځ کښې هر څلور رکعته پس دومره کیناستل مستحب دی چه دغه څلور رکعته پکښې شوی وی که خلقو ته تکلیف وی یا دجمعے دکمیدو خطره وی نو بیا دے نه لږه هم د مه کولے شی چه په هغے کښې نفل کوی یا تسبیح وائی یا چپ ناست وی (شرح التنویر ص۴۳۸ ج ۱ وفتاوی سراجیه ص۱۳) **مسئله**۳:- که چا د ماسختن د مونځ نه پس تراویح گزار لی وی ورته پته اولگیده چه د ماسختن فرض م نه دی شوی نو هغه چه اوگزاری ورپسے به دوباره تراویح اوگزاری (مراقی ص۲۲۵ وعالمگیری ص۱۱۶ ج ۱) **مسئله**۴:- که د ماسختن مونځ په جمع نه وی شوے نو تراویح دے هم په جمع نه شی کولے ځکه چه تراویح د ماسختن تابع دی که چانه د ماسختن فرض مونځ په جمع شوے وی او دجمع تراویح کیدل د نورو خلقو جاری وی نو دے هم ورسره دجمع په تراویحو کښې شریکیدے شی او دے به دغې خلقو تابع حساب یږی (دُر ودد ص۶۲۱ ج ۱)

مسئله۵:- که چانه فرض د ماسختن په جمع شوی وو، هغه دے دغه فرض ځان له اوکړی بیا دے دجمع په تراویحو کښې شریک شی او وتر دے هم

نورو خلقو سره په جمع اوکړی او پاتے تراویح دے د وترو نه پس خانله اوکړی (دُر مختار ص۳۰ ج ۱) **مسئله**:۔ درمضان په میاشت کښے یو حُل ختم قرآن په تراویحو کښے کول سنت مؤکده دی د خلقو دسستئ په وجه دا پریښودل نهٔ دی پکار که په سالم قرآن لوستو سره دخلقو د کمید ویا تنګیدا اندیښنه وی نو هغه قدرے قرآن دے اولولی چه خلق ئے خوار اونورے تراویح دے په آخری لس سورتونو سره اوکړی په لسو رکعتونو کښے چه لس سورتونه ختم کړی بیا دے په لسو رکعتونو کښے هم هغه لس سورتونه دوباره اولولی **مسئله**:۔ د یو حُل قرآن ختمولو نه پس دے بیا بل ختم نه شروع کوی ځو پورے چه خلق د دے شوق ښکاره نهٔ کړی (دُر ورد ص۳۹ ج ۱) **مسئله**:۔ د تراویحو ختم په یوه شپه کښے هم جائز دے خو هله چه خلق ډیر زیات شوقین وی او پیټے پرے نهٔ وی که په خلقو پیټے جوړیږی و نو مکروه دی (مراقی ص۲۲) ۔خلق چه ورته شبینه وائی هغه په دے کښے داخله نهٔ ده د هغے حکم په اصلاح الرسوم کښے اوګورئ حبیب احمد) . **مسئله**:هرکله چه د سورة داول سره بسم الله هم د قرآن کریم یو آیت دے چه د یو ټا کلی سورت جز نهٔ دے ځکه د تراویحو په ختم قرآن کښے یو حُل د یو سورت په اول سر کښے په جهر سره لوستل د بسم الله پکار دی که وے نهٔ لوسته نو ختم قرآن ئے په یو آیت سره نیمګړے شو او که په غلی پټ آواز سره ئے اولوسته نو د مقتدیانو ختم پوره نهٔ شو (احکام القنطر ص۴۷۳ واحکام القرآن ص۲۲) **مسئله**:۔که په څو شپو کښے ئے قرآن ختم کړو نو په پاتے شپو د رمضان کښے به هر شپه تراویح ځکه کوی چه دا سنت مؤکده دی (فتاوی هندیه ص۱۱ ج۱) **مسئله** صحیح خبره دا ده چه په تراویح کښے قُلْ هُوَ اللهُ درے ځله وئیل مکروه دی ځکه چه نن صبا دستور دے (فتاوی هندیه ط۳۵ ج ۵ وتتمه امداد الفتاوی ص۱۱ وتصحیح الاغلاط)

د کسوف او خسوف مونځ

مسئله:۔ د نمر تورید و په وخت دوه رکعته مونځ کول سنت دی (مراقی الفلاح ص۲۹۷) **مسئله**: د نمر توریدو په وخت مونځ په جمع ادا کول دی خو د جمع امام یا حاکم وخت یا د هغهٔ نائب امامت کوی او په یو روایت کښے دی چه د هر جومات امام دے په خپل خپل جومات کښے ادا کړی درمختار و رد المحتار ص۸۸۰ ج۱) **مسئله**:۔ دے مونځ د پاره اذان او اقامت نشته البته که د خلقو راجمع کول مطلب

دی نو د اَلصَّلٰوۃُ جَامِعَۃٌ آواز دے اوکړی (مراقی الفلاح ص۲۹۸) مسئله:
په دے مونځ کښے لوے لوے سورتونه مثلاً سورۂ بقره وغیره لوستل او اوږدے
اوږدے سجدے او رکوع کول مسنون دی خو قراءت به غلے وائی (طحطاوی
ص۲۹۸، کبیری ص۴۰۲) مسئله :- پکاردی چه ددے مونځ په خلاصولو
باندے امام دعا کوی او مقتدیان پرے امین وائی ترڅو چه نمر تو ریدل
ختم شی البته که په دے دوران کښے نمر ډوب شو یا د بل مونځ وخت شو،
نو په بل مونځ کښے مشغولیدل پکاردی (مراقی الفلاح وطحطاوی ص۲۹۸)
مسئله :- د سپوږمۍ توریدو په وخت هم دوه رکعته مونځ کول سنت دی
خو مونځ ئے د جمعے نۀ دے دا هم سنت نۀ دی چه خامخا دے جومات ته لاړ شی
بلکه په کورونو کښے دے خلق ادا کړی (مجمع الانهر ص۱۳۹ ج۱) مسئله: دا سے
که څۀ ویره یا مصیبت راپیښ شی سخت زوول یا زلزله راشی یا تندر
غورځیږی، ستوری کنړ و پشتلے شی یا واوره ډیره وریږی یا باران سخت
وی یا څۀ عام مرض او وبا خوره شی یا د دشمن ویره وی خو ددے ټولو
مونځونو د پاره جمع نشته هرڅوک دے ځان ځان له په خپل خپل کور او
ډیره کښے کوی چنانچه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به چه څۀ
مصیبت یا غم راپیښ شو نو مونځ به ئے کولو (مراقی الفلاح ص۱۶۹ وفتاوی
هندیه ص۹۶ ج۱) مسئله :- ددے بیان شوو مونځونو نه علاوه د نورو
نفلونو هم ثوابونه شته او درجات پرے بلندیږی خصوصاً په هغه وختونو
کښے چه حدیث ئے فضیلت بیان کړے دے او په هغے کښے د عبادت شوق
ورکړے شوے دے لکه د رمضان د آخری لسو شپو او د شعبان د پینځلسمے
شپے چه په احادیثو کښے ددے ډیر فضیلتونه بیان شوی دی (مراقی الفلاح ص۱۲۰)

د استسقاء د مونځ بیان

د باران د ضرورت په وخت کښے الله تعالیٰ
نه ددے د وریدو سوال او دعا کول سنت دی د باران د پاره دعا په دے طریقه
مستحب ده چه ټول مسلمانان واړه، لوئے، ځوانان، هلکان او بوډاګان
سره د ځاروو بربنډے خپے په عاجزئ سره په ساده لباس کښے بهر
میدان (ډاګے) ته اوځی او توبه د ګناهونو سره او باسی حقدارو ته خپل
حقونه ورکړی څوک کافر دے ځان سره نۀ بوځی بیا به دوه رکعته بے اذانه
او بے اقامته په جمع لولی امام به په اوچت آواز قراءت کوی بیا به دوه خطبے
لولی لکه د اختر دورځے په شان، بیا به امام مخ په قبله دعا د پاره لاسونه
پورته کړی ورسره به ټول مقتدیان هم دعا ته لاسونه پورته کړی په دعا

کښې به شامل شي، دا سې به درې ورځې کوي که باران بیا هم اونه شو نو بس به کړي حُکم چه د دې نه زیاتې ورځې ثابتې نهٔ دي که په دغې درې ورځو کښې باران اوشي نو هم دې درې ورځې پوره کوي او په دې درې ورځو کښې به روژې نیول هم مستحب دي، بهرته وتو نه وړاندې خیر صدقه او خیرات کول هم مستحب دي (درمختار بحذف ص۸۸۳ ج ۱)

دمونځ د فرضو او واجباتو په باره کښې څنې مسائل

مسئله۱: په مُدرك باندې قرأت نشته د امام قراءت د مقتدي یا نو د طرفه کافي دې او د حنفیو په نزد مقتدي لره په امام پسې قراءت مکروه دې (شرح البدایه بحذف ص۱۰۵ ج ۱)

مسئله۲:- مسبوق باندې په هغې یو یا دوو رکعتونو کښې قرأت کول فرض دي کوم چه ترې تلي دي او امام سره ئې نهٔ دي لاندې کړي

مسئله۳:- حاصل دا چه امام پسې مقتدي یا نوله قرأت نهٔ دي کول پکار البته مسبوق به قرأت ځکه کوي چه ترې په تلو رکعتونو کښې ئې امام نهٔ وي (فتاوی هندیه ص۵۸ ج ۱) مسئله۴:- د سجدې ځائې د خپو د ځائې نه نیم گز پورته جائز دې خو د دې نه زیات درست نهٔ دې، البته که چیرې ضرورت وو نو بیا جائز دي مثلاً د زیات گڼړوالي په وجه د مونځ گزار په شا باندې هم سجده لګولې شي خو هله چه دواړه مونځ گزار هم یو مونځ کوي (مراقي) مسئله۵:- د دواړو اخترونو په مونځ کښې دعامو تکبیرونو نه شپږ زیات تکبیرونه وئیل واجب دي (طحطاوي ومراقي الفلاح ص۱۴۶) مسئله۶:- امام لره د صبا د فرضو په دواړو رکعتونو کښې ماښام او ماسختن په رومبو دوو رکعتونو کښې که قضا وي که ادا وي او د جمعې، اخترونو او تراویحو په مونځ کښې او وترو کښې په اوچت آواز سره قراءت کول واجب دي (درمختار ص۴۵۵ ومراقي الفلاح ص۲)

مسئله:- ځان له مونځ گزار لره د صبا د فرضو په دواړو رکعتونو او د ماښام او د ماسختن د فرضو په رومبنو دوو رکعتونو کښې اختیار دې که په اوچت آواز قرأت لولي او که په ښکته آواز (مجمع الانهر ص۱۰۳ ج۱) د اوچت آواز فقهاؤ دا اندازه ښودلې ده چه خوك بل ئې آواز آوریدې شي او د ښکته آواز ئې دا اندازه اېښې ده چه خپله ئې آوري او بل خوك ئې نهٔ آوري (سکب الانهر ص۱۰۳ ج ۱) دلته د بل خوك نه مراد لرې لرې بنده دې

مسئله:- امام او ځان له مونځ گزار لره د ماسپخین او د مازیګر په ټولو

رکعتونو کښې او د ماښام او د ماسختن په آخري رکعتونو کښې په رو آواز سره قراءت کول واجب دي (مراقي الفلاح ص١٤٠) مسئله[٩]:- د ورځې په نفلو کښې په خفيه (غلې) آواز قراءت کوي او د شپې په نفلو کښې د اوچت او ښکته (غلي) آواز کولو اختيار دے (مراقي الفلاح ص١٣٥) مسئله[١٠]:- څوک چې له مونځ ګزار که د صبا، ماښام او ماسختن قضا مونځ دور ځے ګزاري نو په ښکته آواز سره پکښې قراءت کول ورلره واجب دي او که د شپې ئے ګزاري نو اختيار ئې دے (دُر و رد ص٥٥٧ ج١) مسئله[١١]: يا نه چه د ماښام او ماسختن د فرضو په ړومبو دوو رکعتونو کښې د الحمد نه پس بل سورت هېر شي نو په دريم څلورم رکعت کښې دے هغه په اوچت آواز سره لولي او سجده د سهو دے او کړي، دا دواړه واجب دي- (سکب الانهر ص١٠٢)

د مونځ څنې سنتونه

مسئله[١]:- د تکبير تحريمه نه وړاندے د دواړو لاسونو پورته کول سره د پاره ترغوږونو پورے او ښځو د پاره تر اوږو پورے پورته کول سنت دي که د عذر د پاره وجه څوک سړے هم تر اوږو پورته کړي نو څه بد يت نشته (شرح البدايه ص٩٤ وطحطاوي ص١٤٩) مسئله[٢]: د تکبير تحريمه نه سمدستي پس نارينه ؤ لره نامه نه لاندے او ښځو لره په سينه باندے ايښودل سنت دي- مسئله[٣]: نارينه به د ګټې او قچې ګوتې کړي سره د ګس لاس مړوند او نيسي پاتے درے ګوتے به په مړوند سخورے کړي او د ښي لاس تلے به د ګس لاس د تلي په شا خورګيږ دي (درمختار ص٥٤٤ ج١) مسئله[٤]: امام او څان له مونځ ګزار لره د فاتحے ختميدو نه پس په رو آواز سره آمين ويئل سنت دي مقتدي يانو لره هم په رو آواز سره ويئل سنت دي اګرچه امام پکښې قراءت په اوچت آواز و يئلے وي (دُرمختار ص٤١٥ ج١) مسئله[٥]:- نارينه ؤ لره په دا سے شان په رکوع کښې ټيټيدل او سيدل پکار دي چه سر، شا او کناتي ئے برابروي (مراقي ص٤٦) مسئله[٦]:- په رکوع کښې نارينه ؤ لره د دواړو لاسونو د اړخونو نه جدا ګول سنت دي (مراقي ص٢٣٥ ورد المحتار ص٥١٥ ج١) په قومه کښې امام لره صرف سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ او مقتدي لره صرف رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ او څان له مونځ ګزار لره دواړه ويئل سنت دي (شرح البدايه ص٩٥ ج١) مسئله[٧]: د سجدے په حالت کښې نارينو لره خپله خيټه د زنګون نه او د څنګلو د اړخونو

نه او نیچے د زمکے نه پورته لرل سنت دی (مراقی الفلاح صـ۱۴۲ ج۱)
مسئله :- په اوله آخره قعده کښې ناریته ولره دا کینا ستل سنت دی
چه ښئ خپه ئے په ګوتو ولاړه وی او د هغې ګوتو سره قبلے ارخ ته
ورمات وی او ګسه خپه ئے په زمکه باندے خوره وی چه په هغې
ناست وی او دواړه لاسونه ئے په زنګنونو وی د ګوتو سرونه ئے ګوډو
طرف ته وی دا قول سنت دی (دُرّ مختار صـ۵۳۹ ج۱) مسئله :- امام لره
په اوچت آواز سره سلام ویل سنت دی (دُرّ مختار صـ۵۴۹ ج۱) مسئله:
امام دے په خپل سلام کښې دواړه طرف ته دمقتدیانو (ناریته وُه زنانه وُ
ماشومانو وغیره) فرشتو نیت کول او مقتدیانو لره دخپلو ملګرو (مقتدیانو)
دورسره فرشتو او د امام (چه دچا ښئ طرف ته وی یو ښئ) طرف نه او چه
دچا ګس طرف ته وی نوګس طرف ته او که نیغ د ر پیښے ولاړه وو نو دواړه
طرفونو ته) نیت کول هم سنت دی (درمختار صـ۵۴۹ ج۱) مسئله :دتکبیر
تحریمه وئیلو په وخت سره له دخادر لستونړو وغیره نه لاسونه رادښکل او
غوږونو پورے پورته کول (که څه عذر یعنی (زیاته) وغیره نه وه) سنت دی

دجماعت (جمع) بیان

هرکله چه په جمع مونځ کول واجب یا سنت مؤکده دی حُکه ددے بیان
هم دمونځ دواجباتو او سنتو نه پس او دمکروهاتو وغیره نه وړاندے
مناسب معلوم شو، مسئلے ئے زیاتے دقدر وړدی حُکه ورد پاره
بیل عنوان قائم کړے شو جمع کم نا کم د دوُکسانو یکارده چه یو (مقتدی)
یکښې تابع او بل (امام) پکښې متبوع وی۔ مسئله :چه امام یسے یو
مقتدی هم او دریدونو دا جمع شوه خواه هغه ناریته وی او که زنانه
وی، غلام وی که آزاد، بالغ وی که پوهه نابالغ وی (دُرّ مختار صـ۵۵۸ ج۱)
البته د جُمعے او اخترونو جمع دپاره درے ناریته ضروری دی (دے نه بغیر
دغه جمع نه کیږی) (دُرّ مختار صـ۸۵ ج۱ باب الجمعة) مسئله :دنفلو
په جمع کښې (یوازے د فرضو کښې نه) هم امام سره یوګس بل (مقتدی)
ضروری دے چه امام او مقتدی دواړه نفل کوی یا (صرف) مقتدی
نفل کوی، البته د نفلو جمع عادت جوړول یا د دریو مقتدیانو نه ئے
زیاتول مکروه دی (دُرّ مختار صـ۷۳۹ ج۱)

دجمع فضیلت او تاکید

دجمع په فضیلت (غوروالی) او تاکید کښې صحیح احادیث دومره

ډیر وارد شوی دی که هغه اوليکو نو يوه غټه رساله به ترے جوړه شی دهغې په کتو به دا معلومیږی چه د مونځ په تکمیل کښے جمع یو اعلیٰ درجه شرط دے رسول الله صلی الله علیه وسلم چرے هم جمع نۀ دہ پریښے، تر دے چه په بیمارئ کښے هم د دوو کسانو په اوږو باندے لاس ایښودے جمع ته تشریف راوړلے دے چا به چه جمع پریښوه په هغې به سخت غُصه کیدو او دجمع په پریښودو به ئے سخته ناسخته سزا ورکول غوښتل بنکاره کول وے چه مونځ مهم عبادت دے نو دے تکمیل چه په څۀ سره کیږی هغه هم ډیر مهم دے په دے باندے مونږه اول دلته هغه آیت لیکو دکوم نه چه بعضے مفسرینو رح او فقهاؤ رح جماعت (جمع) ثابت کړے دے بیا خو احادیث بیانوو: الله تعالیٰ فرمائی: وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ مونځ د مونځ گذارو سره یوځائے (په جمع) کوئ. (مدارك التنزيل ص۳۶ ج۱) هر کله چه په دے آیت کښے په دا که جمع سره د مونځ کولو حکم دے او په دے آیت کښے د رکوع نه مراد څنے مفسرینو رح خضوع اخستے ده ځکه فرضیت د جمع ترے نۀ ثابتیږی. (۱) په یو حدیث کښے د حضرت ابن عمر رض په روایت د جمع د مونځ اوویشت درجے زیات ثواب بیان کړے شوے دے (مشکوٰة شریف ص۹۵) (۲) بل حدیث کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه یو کس سره (په جمع) مونځ کول د ځان له مونځ نه زیات غوره دی د دے نه هم زیات غوره دد وُو کسانو سره په جمع مونځ کول زیات بهتر دی څومره چه جمع زیاته وی هغومره الله تعالیٰ ته زیات خوښ دی. مشکوٰة شریف ص۹۶ (۳) حدیث: د انس بن مالک رض په روایت د بنی سلمه خلقو اراده اوکړه چه د خپلو مکانا نو نه پریښودو (چه لرے وو) د رسول الله صلی الله علیه وسلم (مسجد نبوی) سره نزدے استوګنه اختیار کړی، هغوئ ته اوفرمائیل: آیا تاسو په هغے قدمونو کښے ثواب نۀ ګنړئ کوم چه په زمکه اړدئ (او د لرے نه راځئ) (رواه مسلم، مشکوٰة شریف ص۶۵) مطلب دا چه څوك د جمع د پاره یو جومات ته قدم وهی نو په هر یو قدم به بیل بیل ثواب مومی (خو که محله او کنډی کښے جومات وی نو بل جومات ته به نۀ ځی بلکه که د محلے په جومات کښے جمع هم نۀ کیږی نو مونځ د پاره دے هم هلته ورځی، اذان او اقامت دے کوی او ځان له مونځ دے هلته کوی (شامی احکام المساجد ص۱۹ ج۱) (۴) بل حدیث شریف کښے راغلی دی چه رسول الله

صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د مونځ انتظار کولو کښې وخت تیریدل لکه په مانځه کښې وخت تیریدل دی (۵) حدیث: یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو هغو صحابه کرامو رض ته اوفرمائیل چه ورسره د ماسختن په مانځه کښې شریک وو چه څوک د مونځ کولو په دوران کښې اوده شو یا د مونځ انتظار ئې په ویښه کولو دا ټول په مونځ کښې حساب شو۔ (۶) حدیث۔ د بریده اسلمی رض په روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغې مونځ گزاروته د ورځې د قیامت د مکمله رڼا زیرے ورکړئ کوم چه په تیارو کښې د جمع په غرض جوماتونو ته ورځي (۷) حدیث - د حضرت عثمان رض په روایت رسول الله صلی الله علیه اوفرمائیل چه څوک د ماسختن مونځ په جمع اوکړی نو د نیمې شپې د عبادت ثواب به بیا مومی او څوک چه د ماسختن او صبا مونځونه په جمع اوکړی نو د ټولې شپې د عبادت ثواب به بیا مومی (۸) حدیث۔ د حضرت ابی هریره رض په روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه بیشکه ځما په زړه کښې دا اراده اوشوه چه ځانته د لرګو راجمع کولو حکم اوکړم بیا د اذان کولو حکم ورکړم او بل چاته د امامت کولو حکم ورکړم او زه پخپله د هغې خلقو کورونو ته ورشم چه جمع ته نۀ راځي او د هغوئ کورونه اوسوځوم (۹) په یو حدیث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: که ما سره د وړو ماشومانو خیال نۀ وے نو په خپله به د ماسختن مونځ کښې مشغول شوے وُم او خادمانو ته به مې حکم ورکړے وو چه د هغې کسانو کورونو ته سره د مال اسباب نه اوسوځوی کوم چه جمع ته نۀ حاضریږی (مسلم) د ماسختن خاص کولو حکمت راته دا ښکاری چه دا د اُوده کیدو وخت وی او غالبًا ټول خلق دا وخت په کورونو کښې وی امام ترمذی رح د دے حدیث په لیکلو سره فرمائیلی دی چه هم دا مضمون ابن مسعود رض، ابن عباس رض او جابر رض نه هم مروی دے دا ټول د رسول الله صلی الله علیه وسلم عزتمند اصحاب کرام رض دی (۱۰) حدیث:- د ابی الدرداء رض په روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه په څۀ آبادئ یا ځنګل کښې درے مسلمانان وی او د جمع مونځ نۀ کوی نو بیشکه په هغوئ به شیطان غالب کیږی، ځکه اے ابی الدرداء رض! جمع په خپل ځان باندے لازمه کړه، کوره لیوه (شیطان) هغه چیلئ (بنده) خوری د غولوی چه خپلے ګلے (جمع) نه بیل وی (۱۱)

حديث۔ د ابن عباس رض په روايت رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه څوك د اذان په آوريدو د جمعِ مانځه ته رانشي او څۀ عذر يې هم نه وي نو د هغه د غه ځان له کړې مونځ به قبول نشي (يعني پوره ثواب به بيا نه مومي دا مطلب نه دے چه فرض به يې هم اداء نۀ شي او هيڅ ثواب به ورته حاصل نشي ۱۲ محشي) صحابه کرامو رض د عذر په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوئ ۴ اوفرمائيل چه ويره او مرض دے په دے حديث کښې د ويرے او مرض تفصيل نه دے ښودلے شوے خو په نورو احاديثو کښې يې تفصيل هم شته (۱۲) حديث۔ حضرت محجن رض روايت کوي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يو ځل زۀ وم اذان اوشو هغوئ ۴ مونځ کول شروع کړل او زۀ په خپل ځائے کښېناستم هغوئ ۴ د مونځ نه په فارغيدو اوفرمائيل چه اے محجن! تا د جمع مونځ ولے اونۀ کړو، مسلمان نه يې څۀ ؟، (ابو محجن وائي چه) ما عرض اوکړو مسلمان خو يم خو کور کښې م مونځ کړے وو هغوئ ۴ اوفرمائيل چه کله جومات ته راشے او جمع ولاړه اووينې نو د جمع په مونځ کښې شريک شه اګر چه (د ما سپخين او ما سختن فرض) مونځ دے کړے وي (البته د صبا، ماز يګر او ماښام فرض مونځ يې چه کړے وي نو د غے وختونو په جمع کښې نۀ شريکيږي) په دے حديث باندے غور اوکړئ چه د جمع په مونځ نه کولو يې څومره زور نه ابا محجن نه ورکړه ورته يې نزدے او فرمائيل چه ته مسلمان نه يې څۀ ؟ يو څو احاديث م د نمونے په طور بيان کړل اوس د رسول الله صلے الله عليه وسلم د برګزيده اصحابو رض اقوال واورئ چه د هغوئ رض په نظر کښې جمع سره مونځ کول څومره مُهم دي د دے پرېښودل به يې څومره بد ګنړل، ولے نه ؟ چه هغوئ رض به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مرضئ او تابعدارئ زيات خيال لرلو، دا سے او د تابعينو رح روايتونو ته اثر وئيلے شي. اثر (۱) ۔ حضرت اسود وائي چه يو ورځ مونږه د حضرت اُم المؤمنين عائشے رض په خدمت کښې حاضر وو چه د مونځ د پابندئ او د هغې د فضيلت او تاکيد ذکر (بيان) شروع شو، په دے باندے حضرت عائشے رض د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مرضِ وفات قيصه بيان کړه چه يو ورځ د مونځ وخت راغلو او اذان اوشو نو هغوئ ۴ اوفرمائيل چه ابو بکر رض نه د جمع ورکولو د پاره اووايئ،

عرض اوکړے شو چه حضرت ابوبکر رض خو ډير نرم زړه سړے دے ستاسو په ځائے باندے به دا اودريد و توان او نه شي لرلے او جمع به ورنه کړے شي، دويم ځل هغوئ ۴ اوفرمائيل بيا ورته هم هغه جواب ورکړے شو بيا هغوئ ۴ اوفرمائيل چه تاسوهم يکه د مصر د ښځو پيشان يئ چه يوسف عليه السلام ته يئے هم د غسے خبره کوله (اووے فرمائيل چه) ابوبکر رض نه اووايئ چه خلقوته د جمع مونځ ورکړي خير، حضرت ابوبکر رض د مونځ کولو د پاره اوونتلو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيماري لږ سپکه شوه نو د دوو کسانو په امداد اوونتو ماته هغه نقشه تراوسه ياده ده چه هغوئ ۴ به په زمکه باندے خپل قدمونه مبارک را ښکل د پورته کولو توان ئے نه لرلو هلته حضرت ابوبکر رض جمع ورکول شروع کړي وو، چه پوه شو روستو کيدل ئے اوغوښتل هغوئ ۴ منع کړو او ټوله جمع حضرت ابوبکر رض ورکړه. اثر (۲) . يوځل حضرت اميرالمؤمنين عمر فاروق رض سليمان بن ابی حثمه رض د صبا په مونځ کښے بيا نه موند و کورته ورغلو او د هغهٔ رض د مورنه ئے تپوس اوکړو چه نن م سليمان رض د صبا په مونځ کښے نهٔ دے ليد ے، هغے ورته اووئيل چه ټوله شپه ئے مونځ کړے وو، د غه وخت ئے سترګے ورغلے وے، حضرت عمر رض اوفرمائيل چه ماته د صبا مونځ په جمع سره کول د دے نه زيات خوښ دی چه ټوله شپه عبادت اوکړم مؤطا امام مالک رح شيخ عبد الحق محدث دهلوی ليکلی دی چه د دے حديث نه بنهٔ په داګه معلوميږی چه د ټولے شپے د تهجد کولو نه دا بنهٔ دی چه د صبا مونځ په جمع اوکړی ځکه علما ؤ ليکلی دی چه شپه روڼول که د صبا په مونځ کښے څهٔ خلل راولی نو پريښول ئے زيات غوره دی (اشعة اللمعات) اثر (۳) حضرت ابن مسعود رض فرمائيلی دی چه بيشکه موږ ه خپل او صحابه کرام رض اوازمائيل چه جمعے سره مونځ نه پريږدی خو هغه منافق ئے پريږدی چه ډاګيز منافق وی يا بيمار، خو بيمار به هم د دوو کسانو په امداد جمع ته حاضريدو بيشکه موږ ه ته رسول الله صلے الله عليه وسلم د هدايت لارے اوښودلے چه يو په هغے کښے مونځ دے په هغه جوماتو نو کښے چه اذان پکښے کيږی (يعنی جمع پکښے کيږی) په بل هد ايت کښے ئے اوفرمائيل : څوک چه صباله (د قيامت په ورځ) د الله تعالی په وړاندے مسلمان لاړ شي نو د پنځه وخته مونځونو پابندی دے کوی چرته چه اذان کيږی (او

په جمع سره هلته مونځ کیږي) بیشکه الله تعالیٰ ستاسو نبي ع ته د پاره د هدایت طریقې او ښکلې دي او دا مونځ هم د دغې طریقو څخه دے ، که تاسو خپلو کورونو کښې لکه د منافقانو مونځونه کوئ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت تاسو نه پاتې شول چه ورسره به ګمراه شئ او څوک چه په ښه شان او دس او کړي او جومات ته د (جمع) مونځ د پاره حئ نو د هغه په هر قدم با ندے ثواب ملاویږي ، یوه مرتبه ورکولے شي او یوه ګناه ئے معاف کیږي او مونږ اولیدل چه جمع نه روستو نهٔ پاتې کیږي مګر منافق۔ څومونږ د خلقو حالت خود او وچه د بیمارئ په حالت کښې به هم د دوو کسانو په اډانړه د جمع مونځ ته راوستے شو او په صف کښې اودرولے شو اثر (۴) ۔ یوځل یو سړے د جومات نه په داسے وخت کښې او وتو چه اذان پکښې شوے وو او مونځ ئے اونهٔ کړو نو حضرت ابو هریره رض او فرمائیل چه دے سړي د ابی القاسم صلی الله علیه وسلم نافرماني اوکړه او د هغوئ ع مقدس حکم ئے اونهٔ منلو (مسلم شریف) اوګورئ چه حضرت ابو هریره رض تارکِ جماعت ته څهٔ اووئیل آیا اوس هم څوک مسلمان د جمع پریښودو جرأت بے د عذر نه کولے شي آیا څوک ایماندار د حضرت ابی القاسم صلی الله علیه وسلم نافرماني کولو ته غاړه ایښودلے شي ؟ اثر (۵) ۔ اُمّ درداء رض فرمائیلي دي چه یو ځل حضرت ابوالدرداء رض حُما خوا ته د غصې په حالت کښې راغلو ، ما ترے د وجې تپوس اوکړو نو ورته فرمائیل چه قسم په خدائے زهٔ د محمّد صلی الله علیه وسلم په امت کښې اوس څهٔ خبره نهٔ وینم مګر دا چه په جمع سره مونځ کوي خو اوس ئے د هغې پریښودل هم شروع کړل ۔ اثر (۶) ۔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډیرو صحابو کرامو رض نه روایت دے چه هغوئ ع او فرمائیل چه دا اذان په آوریدو د جمع مونځ له نهٔ حئ د هغه مونځ د سره نهٔ کیږي ، د دے په لیکلو امام ترمذيؒ لیکلي دي چه اهل علمو دے ته تاکیدي حکم وئیلے دے ، مقصود دا دے چه بے د عذره د جمع مونځ پریښودل پکار نهٔ دي ۔ اثر (۷) ۔ مجاهدؒ د ابن عباس رض نه تپوس اوکړو چه څوک ټوله ورځ روژے ساتي او ټوله شپه مونځونه کوي مګر د جُمعے او جمع په مونځ کښې نهٔ شریکیږي ، د هٔ نه تاسو څهٔ وایئ ؟ وے فرمائیل چه دوزخ ته به حئ (ترمذي) امام ترمذيؒ د دے حدیث مطلب دا بیانوي چه د جمع او د جُمعے د مونځ د رجه کمه ګڼړي او پریږدي

ئے نو دوزخ ته به ځي او که لږ و ورځو د پاره دوزخ ته ئے تلل وي نو د ذے تاویل به څه ضرورت نهٔ وي۔ اثر (٨) - د پخوانو بزرګانو (نیکو خلقو) دا طریقه وه چه چانه به د جمع مونځ لا هو تر او وو ورځو پورے به ئے د هغه غمرازي کوله (احیاء العلوم) د صحابه کرامو اقوال هم لږ بیان شو چه په حقیقت کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم اقوال دي او س لږ شان دا مت علماؤ او د ملت مجتهدینو ته او ګورئ چه د هغوئ د جمع د مونځ په باره کښے څهٔ خیال دے او د دغے احادیثو مطلب هغوئ څهٔ اخستے دے؟ (١) د ظاهریؤ (اسلامی فرقے) او د امام احمد رح د ځنے مقلدینو مذهب دے چه جمع د مونځ د صحیح کیدو شرط دے بغیر د دے نه مونځ نهٔ کیږي (٢) د امام احمد رح صحیح مذهب دا دے چه جمع فرض عین ده اګر چه د مونځ د صحیح کیدو شرط نهٔ دے، د امام شافعی رح د بعضے مقلدینو هم دا مذهب دے (٣) د امام شافعی رح د بعضے مقلدینو دا مذهب دے چه جمع فرض کفایه ده امام طحاوي رح چه په حنفیو کښے د یو لوئے درجے فقیه او محدّث دے د هغوئ رح هم دا مذهب دے (۴) د حنفیانو د اکثرو محققینو په نزد جمع واجب ده، محقق ابن همام حلبی او د بحر الرائق صاحب وغیره په دے طرف دي (۵) د ځنے حنفیانو په نزد جمع سنّت مؤکد ده خو د واجب په حکم کښے او په حقیقت کښے د حنفیانو په دے دواړو قولونو کښے مخالفت نشته (٦) ځمونږ فقهاء لیکي چه که په یو بنار کښے خلق جمع پریږدي او په دے باره کښے د چاوئیل هم نهٔ مني نو دا سے خلقو سره جنګ کول حلال دي (٧) په قنیه وغیره کښے راغلي دي چه امام وقت باندے بے عذره پریښو نکي د جمع ته سزا ورکول واجب دي او د دا سے کس ګاوندیان چه په دے ناکاره کار ورته څه نهٔ وائي نو ګنهګار به وي (٨) جمع ته تلو د پاره د انتظار کولو سره ځکه ګنهګاریږي چه په دا سے صورت کښے یا خو د ټولے جمع یا د رکعت د وو تلو ترے ویره ده. د امام محمّد رح نه روایت دے چه جمعے او جمع د پاره تیز او یا تادئ سره تلل درست دي خو چه زیات تکلیف ورته نهٔ وي (٩) د جمع پریښونکے ضرور ګنهګار دے، د دهٔ ګواهي دے نشي قبلولے خو هله چه بے عذره ئے پریښي وي (١٠) که څوك د دیني مسئلو په لوستلو او لولو کښے شپه، ورځ مشغول وي او جمع ته نه حاضریږي نو معذور به ګڼړلے نشي او ګواهي به ئے قبلولے نشي۔

دجمع حکمتونه او فائدے

په دے باره کښے علمائے کرامو ډیرځه بیان کړی دی خو ځما په کوتاه نظر کښے حضرت شاه ولی الله رح محدث دهلوی نه زیات غوره جامع او خوندناک تقریر د بل چا نشته اګرچه زیات خوند په دے کښے وو چه د هغوئ رح په الفاظو کښے ئې درته بیان کړے وے خو د مقام او کتاب په مناسبت ئې درته په لنډو خلاصه بیانوم هغوی رح فرمائیلی دی: (۱) هیڅ خیز د دے نه زیات سود من نه دے چه عبادت عام رسم او ګرځولے شی ترڅو چه هغه ضروری عبادت اوګرځی او د هغے پریښول لکه دعادت د پریښولو پشان زیات ګران شی په دے بناء هیڅ یو عبادت د مونځ نه زیات قدرمن نشی کیدے ځکه ئې په خاص طور باندے کول پکار دی (۲) په مذهب کښے جاهلان او عالمان هر قسم خلق وی لهٰذا دا ښه او د خیر خبره ده چه ټول خلق په جمع د یو بل مخکښے عبادت اوکړی چه د غلطی کونکی غلطی په ګوته کړے شی ګویا کښے د الله تعالیٰ عبادت د یو کالی مثال لری چه ټول جاج کونکی ئې جاج واخلی د هغے ښه ولے خوښ کړے شی دا به د مونځ د تکمیل یو اعلیٰ ذریعه وی (۳) د بے نمازه خلقو خرابی به هم ښکاره شی او ورته به د نصیحت کولو موقع په ګوتو راشی (۴) دا هم لوئے او عجیبه خاصیت لری چه څو مسلمانان په یو ځائے (په جمع) د الله تعالیٰ عبادت اوکړی او دعا او غواړی کوم چه د رحمت د نازلیدو او قبولیت د حاصلید و باعث جوړیږی (۵) د الله تعالیٰ مقصود دا دے امت نه دا دے چه د دے کلمه بلنده او د کفر کلمه ټیټه وی او دزمکے هیڅ یو مذهب په اسلام باندے غالب رانشی دا مقصود هله حاصلید شی چه په یوه مقرره طریقه ټول مسلمانان، عام، خاص، مسافر او مقیم، لوئے واړه د خپل لوئے او مشهور عبادت د پاره جمع کیږی او د اسلام شان او شوکت ښکاره کوی په دے ټولو مصلحتونو سره د شریعت پوره مخه جمع ته راوګرځیدله او د دے شوق ورکړے شو او د دے پریښو نه سخته منع اوکړے شوه (۶) د جماعت (جمع) یو فائده دا هم ده چه ټول مسلمانان د یو بل د حال نه خبریږی او د یو بل په درد او مصیبت کښے به شریکیدے شی کوم سره چه د دینی رورولئ او ایمانی مینے پوره ښکاره کند ونه او مضبوطتیا راځی او د دے شریعت لوئے مقصود دے او ځائے په ځائے په قرآن کریم او حدیثونو کښے بیان شوی دی افسوس

دے چه څومره په زمانه کښې جمع پرېښودل یو عام عادت ګرځیدلے دے
د جاهلانو به څه وے چه څومره لیکونکی لوستونکی په دے مصیبت کښې
ګرفتاره دی دغه خلقو باوجود د احادیثو لوستونه زړونه د کاڼو نه زیات
سخت کړی دی او دوے په معنٰی پوهیږی مګر د جمع سخت تاکید نه
هغوئ هډو پام نه کوی د قیامت په ورځ کله به چه د ټولو نه اول د مونځ
مقدمے د احکم الحاکمین په وړاندے پیش کیږی د دے د نهٔ اداکولو
یا په کښې د کمی کولو جواب طلبی چه اوشی نو دا خلق به څهٔ جواب ورکوی؟

د جمع د واجبیدو شرطونه

(۱) په نارینه وُ جمع واجب ده په زنانه وُ نهٔ ده (۲) په بالغو نارینه وُ شته په نابالغو نشته (۳) آزاد والے ورد پاره شرط دے په غلام باندے واجب نهٔ ده (۴) عقلمن کیدل ورد پاره شرط دی په مست بیهوشه او لیونی باندے جماعت (جمع) واجب نهٔ ده (دُرمختار ص۵۵۶ ج۱)
(۵) د ټولو عذرونو نیشتوالے ورد پاره شرط دے، د دغے عذرونو په حالت کښې جمع واجب نهٔ ده خو په اداکولو کښې ئے ثواب زیات دے او په جمع سره نهٔ اداکولو سره د جمع د ثواب نه محرومه پاتے شی (ردالمحتار ص۵۲۹ ج۱)

د جمع د پرېښودلو د پاره عذرونه څوارلس دی (۱) د ستر پټولو په اندازه جامے نهٔ موندل (عالمګیری ص۳۶ ج۱) (۲) د جوماتت په لاره کښې دومره زیاتے خټے وی چه تلل پکښې ډیر ګران وی، امام ابو یوسف رح د حضرت امام اعظم رح نه تپوس اوکړو چه د خټو په حالت کښې د جمع د پاره تاسو څهٔ حکم ورکوئ؟ وے فرمائیل چه د جمع پرېښول څما خوښ نهٔ دی (ردالمحتار ص۵۵۵ ج۱). (۳) د شرق باران چه وریږی په دا سے حالت کښې امام محمد رح په مؤطا کښې لیکلی دی چه اګر که نهٔ تلل جائز دی خو زیاته غوره خبره دا ده چه د جمع مونځ د پاره جوماتت ته لاړ شی (۴) دا سے سخته یخنی وی چه بهر په وتو کښې یا جوماتت ته په تلو کښې ورته د نا جوړتیا د پیدا کیدو یا د زیاتید و خطره وی (۵) جوماتت ته په تلو کښې د مال اسباب د غلا کیدو خطره وی (۶) جوماتت ته په تلو کښې د دشمن سره د مخامخ کیدو ویره وی (۷) د جوماتت په لاره کښې ورته د دا سے قرض خواه مخے ته د راتلو خطره وی چه بے عزتی ئے کوی خو دا هله چه په قرض ورکولو قادر نهٔ وی، که قادر وی نو بیا دے وجه د جمع پرېښولو اجازت ورته نشته بلکه قرض دے ورته ادا کړی چه غم ئے عوض شی (۸) دا سے سخته تیاره وی چه د رڼا هیڅ بند وبست

نښي کيدے که د دنيا کولو خپل دس يُ دو نو هم د ے جمع نه پريږ دی (٦) د شپے په وخت کښے سخت خُولِ (سيلئ) چليږی (١٠) د داسے رنځور خدمت يُ په ذمه وی چه د دهٔ په تلو سره د رنځور رنځ يا ويره زياتيږی (١١) پو ډئ تياره وی او دا سے اوبے وی چه د ډوډئ خوړلو نه بغير يُ مونځ ته بيخي ډ ډه نه لګی (١٢) لوږه يا ورکوتے اودس ماتے سخت ورغلی وی (دُرّ مختار ص۵۸ ج۱) و (١٣) دسفر اراده لری او په جمع سره د مونځ کولو کبله يُ د قافلے د وتلو خطره وی، د ديل (اوږګاډی) مسئله په د ے قياس کولے شی مګر دومره فرق د ے چه ډيرے ورځُ پس بله ملاويږی او اورګاډ ے په يو ورځ کښے بيا بيا ملاويږی البته که دا سے سخت حرج د و نوخته بدلے شته ولے چه حُمونږ د شريعت نه حرج پورته کړے شو ے د ے (ردالمحتار ص۵۸۱ ج۱ التقديم تاخير سره) (١٤) داسے څهٔ مرض يُ چه د هغے په وجه ګرځيد ے نشي يا ړوند وغيره وی يا ځپه يُ پريکړے وی، خو هغه نابينا چه بے تکلفه جومات ته رسيد ے شی نو ورد ياره جمع پريښول نهٔ دی پکار۔

دجمع د صحيح کيدو شرطونه

شرط (١)۔ اسلام، يعني دکافر جمع کول صحيح نهٔ دی (شامی د نورالايضاح نه) شرط (٢)۔ عقلمن کيدل، مست، بے هوشه او ليونی جمع صحيح نهٔ ده شرط (٣) مقتدی لره د مونځ دنيت کولو سره د امام د اقتدا او نيت کول هم دی د نيت تفصيل وړاند ے بيان شو ے د ے شرط (٤)۔ د امام او مقتدی د واړو د ځا ئ يو وا لے خواه حقيقتًا يو وی لکه د واړه په يو جومات، يو مکان او يو کود کښے وی يا حُکمًا يو وی لکه د دريا ب په يو پُل باند ے جمع بنا کړے شی امام دُپل هغه غاړه وی مګر په مونځ کښے (په پُل باند ے) هم صفونه ولاړ وی نو دا هم ديو مکان په حکم کښے ده او اقتداء به صحيح وی مسئله :. که مقتديان د جومات په چت ولاړ وی او امام په جومات کښے د دنه نو درست دی ځکه چه د جُومات په حُکم کښے د ے داسے د هغے مکان په چت باند ے هم د هغے امام پسے اقتدا کول صحيح دی کوم چه د هغے جومات سره پيوست وی او په مينځ کښے يُ د څهٔ څيز بند يز نهٔ وی (درمختار ص$\frac{٦١٢ و ٦١١}{ج١}$) مسئله: په لويهٔ ميدان يا مکان کښے چه د دوو صفونو ځا ئ خالی وی نو هغے امام پسے د ے نه روسته اقتدا کول صحيح نهٔ دی ځکه چه د امام او د هغے مقتديانو ځا ئ به بيل بيل حسابيږی (فتاوٰی هنديه ص۵۵ ج١ و درمختار ص$\frac{٦١٣}{ج١}$)

مسئله ۳: دا سې که د امام او مقتدي یا نو ترمنځه دا سې نهر وي چه کشتۍ پکښې چلیدے شي یا دا سې لوئے تالاو وي چه شریعت ئے د نه پلیتیدو حکم ورکوي یا دا سې عامه لار وي چه دغوا یا نو ګاډے ئے په منځ کښې تیریدے شي او په منځ کښې ئے صفونه نۀ وي نو دا هم بیل بیل ځایونه دي البته که د ومره تنګه لار، وله وغیره ئے په منځ کښې وي چه صرف اوښ پکښې په ولاړه راځي نو بیا اقتداء صحیح ده **مسئله ۴:** دا شان که د دوو صفونو تر مینځه دا سې وله یا لار واقع شي نو د دغې صف اقتداء به صحیح نۀ وي کوم چه د دے نه پورے غاړه وي **مسئله ۵:** د پیاده اقتداء سور پسې یا د یو سور اقتداء بل پسې صحیح نۀ ده ولے چه د دواړو ځایونه بیل بیل دي البته که په یوه سورلۍ دواړه سواره وي نو صحیح ده (درمختار ص۴۰۸ ج۱)

شرط (۵) - چه د امام او مقتدي مونځ بدل بدل وي مثلاً امام د ماز یګر مونځ کوي او مقتدي ورپسې د ماسپخین مونځ کوي یا امام د نن ماز یګر مونځ کوي او مقتدي ور پسې د پرون ماز یګر مونځ کوي نو د مقتدي مونځ نۀ کیږي یعنې دا اقتداء صحیح نۀ ده البته په فرض کونکي امام پسې د نفل کونکي اقتداء صحیح ده - تفصیل ئے تیر شوے دے. که امام نفل مونځ کوي او مقتدي فرض نو بیا هم اقتداء صحیح نۀ ده (دُرمختار ص۴۰۶ ورد المحتار ص۴۰۶ ج۱) **مسئله:** مقتدي که تراویح کوي او امام نفل نو بیا هم اقتداء صحیح نۀ ده ولے چه د امام مونځ ضعیف دے (رد المحتار ص۴۱۱ ج۱) **شرط (۶)** د امام مونځ صحیح کیدل یعنې که د امام مونځ فاسد وي (نۀ کیږي) نو د ټولو مقتدیانو ور پسې نۀ کیږي خواه د دغه فساد (نۀ کیدل) د مونځ د ختمیدو نه وړاندے معلوم شي یا پس د ختمیدو نه لکه د امام په جامو کښې نجاستِ غلیظه د یوه روپۍ نه زیاته وي یا د مونځ په دوران کښې یا پس د مونځ نه معلوم شي یا امام په بے خیالۍ کښې بے اودسه مانځه ته ولاړ وو او د مونځ نه پس یا د مونځ په دوران کښې ئے ده ته خیال شو (رد المحتار ص۴۵۵ ج۱)

مسئله: د امام مونځ که په څۀ وجه فاسد وو او مقتدیان پرے خبر نۀ وو نو په هغې د مقتدیانو خبرول ضروري دي چه خپل مونځونه هغه مقتدیان راوګرځوي که د چا په خوله ئے خبر وي او که د خط وغیره په ذریعه ئے خبر وي (مراقي الفلاح ص۱۶۱ ورد المحتار ص۴۱۸ ج۱) **شرط (۷)** چه امام نه مقتدي وړاندے نۀ وي خواه برابر ور سره ولاړ وي یا ترے روستو یعنې که مقتدي ترے وړاندے وو نو اقتداء ئے صحیح نۀ ده د امام نه د وړاندې والي

دا مطلب دے چه پوند ے ئے دا امام د پوند ونه وړاندے وی که د مقتدی پنجه یا د خپو گوته ئے اوږدے وی او د امام نه په وړاندے ورتیرے شوے مگر پوندے ئے ترے په وړاندے نهٔ وی ورتیرے نو اقتداء ئے صحیح ده (رد المحتار ص۵۳۷ ج۱) **شرط (۸)** مقتدی ته د امام د انتقالاتو لکه د رکوع، قومے، سجدے او قعدے وغیره علم کیدل خواه د امام په لیدو وی یا د مکبّر په آواز یا بل مقتدی ته په کتو سره وی که مقتدی د امام د انتقالاتو نه نهٔ خبریږی چه څهٔ بند یزئے ترمینځه وی یا بل څهٔ وجه وی نو اقتداء یه ئے نهٔ صحیح کیږی او که څهٔ داسے بند یزئے ترمینځه وی چه د امام د انتقالاتو نه خبریدلو کښے اړ نهٔ جوړیږی نو اقتداء ئے درسته ده (رد المحتار ص۵۷۵ ج۱) **مسٔله**: که د امام څهٔ پته نه لګی چه مسافر دے که مقیم؟ البته د قرائنو په وجه ورته مقیم ښکاریږی او په ښار یا کلی کښے ئے امامت ورکولو او مونځ د مسافر په شان اوکړے، مقتدی ترے دا مطلب واخلی چه امام غلط شو نو مقتدی چه خپل څلور رکعاته پوره کړی په هغه باندے د امام د حالت تحقیق کول واجب دی چه امام رشتیا غلط شوے وو او که د مسافر والی په وجه ئے دوه رکعته کړی وو، که واقعی مسافر وو نو د ټولو مونځ صحیح شو او که سهو کیدل ئے ثابت شو نو مونځ به دوباره کوی او که داسے بے تحقیقه خواره شو نو په دے صورت کښے هم پرے د مونځ دوباره کول واجب دی **مسٔله۹**: که د امام باره کښے ئے د مقیم والی خیال وی او امامت ورته د ښار یا کلی نه بهر کوی د څلور رکعتیز په ځائے دوه رکعتیز مونځ اوکړی نو مقیم مقتدی به څلور رکعته خپل پوره کوی د هغے نه پس که تحقیق ئے اوکړی نو ښه ده او که معلوم ئے نهٔ کړی نو مونځ به ئے فاسد حُکه نهٔ وی چه په داسے حالت کښے د امام مسافر والے ښکاره دے، او که مقتدی پرے دا خیال کوی چه امام د غلطئ نه په دوو رکعاتو سلام کرځولے دے نو دا د ظاهر نه خلاف ده حُکه په داسے صورت کښے تحقیق ضروری نهٔ دے لیکن که امام په ښار، کلی یا بهر دے نه څلور رکعتیز مونځ پوره اوکړو او مقتدی پرے د مسافر خیال کړے وو نو بیا هم د حال تحقیق کول په مقتدی باندے واجب نهٔ دی، د غسے د صبا او ماښام مونځو نو په صورت کښے هم تحقیق کول حُکه واجب نهٔ دی چه د دے کښے مسافر او مقیم د واړه برابر دی (بحر الرائق ص۳۵ ج۱) **شرط (۹)**۔ په ټولو ارکانو کښے امام سره د مقتدی شریکیدل واجب دی

(سوا د قرأت نه) که هغه ورسره بالکل په یوځائے کوی یا ودروستو یا وړاندے ړومبے صورت خوښکاره ده چه امام سره په حقیقت کښے شریک پاتے کیدل دی او دوئم صورت داد ے چه مثلاً د امام دراپورته کیدو نه روستو رکوع ته لاړشی او وړاندے تلل د امام نه هله صحیح کیږی چه امام ورسره هم په آخر د رکن کښے شریک شو (ردالمحتار ص۵۷۵ ج۱)

مسئله:- که په یو رکن کښے امام سره شریک نشی، یا امام سره په یوه سجده کښے شریک شی بله کښے نهٔ، یا پوره رُکن د امام نه وړاندے اوکړی نو په دا سے صورتونو کښے به اقتداء درسته نهٔ وی (مراقی الفلاح ص۹۷)

شرط (۱۰):- د مقتدی حالت د امام نه کم یا برابر کیدل ضروری دی (درمختار ص۵۷۵ ج۱) (۱) خود قیام کونکی اقتداء په هغه چا پسے صحیح ده چه د قیام نه معذوره وی (۲) تیمم کونکی پسے د اودس کونکی یا غسل کونکی اقتداء صحیح ده خواه دغه تیمم اودس د پاره وی یا غسل پاره (۳) په موزو یا پټئ باندے مسح کونکی پسے د وینځونکی اقتداء صحیح ده (ردالمحتار ص۶۱۵) (۴) د معذورو اقتداء معذورو پسے صحیح ده خو هله چه د دواړو یوشان عذروی مثلاً د دواړو متیازے بهیږی یا د دواړو باد جاری وی (شامی ص۶۰۴ ج۱) (۵) د اُمّی اقتداء اُمّی پسے درسته ده (خو هله چه مقتدیانو کښے بل څوک قاری نهٔ وی) (شامی ص۶۰۵ ج۱) (اُمّی هغه څوک دے چه د فرض قرأت مطابق قرآن مجید زبانی نشی لوستے او قاری هغه دے چه د فرض قرأت مطابق قرآن کریم لوستے شی) (۶) د ښځے یا بالغ اقتداء بالغ سړی پسے درسته ده (عالمگیری ص۵۳ ج۱ و شامی ص۶۰۳ ج۱) (۷) اقتداء د ښځو، ښځے پسے درسته ده (شامی ص۶۰۳) (۸) د نابالغے ښځے یا نابالغ سړی اقتدا نابالغ سړی پسے درسته ده (شامی ص۶۰۳ ج۱) (۹) د نفل کونکی اقتداء واجب مونځ کونکی پسے درسته ده، مثلاً د ماسپخین یا اختر مونځ چا کړے وی او بیا د ماسپخین یا اختر په جمع کښے امام پسے شریک شی (شامی ص۶۱۷ ج۱) (۱۰) د نفل کونکی اقتداء نفل کونکی پسے صحیح ده (درمختار ص۶۱۷ ج۱) (۱۱) د قسم مونځ کونکی اقتداء نفل کونکی پسے صحیح ده، ولے چه د قسم مونځ هم نفل دے مثلاً یو کس قسم اوکړو چه زهٔ به دوه رکعته مونځ کوم او بیا نفل کونکی پسے ئے د دغے مونځ اقتداء اوکړه نو مونځ کیږی، قسم ئے پوره شو، کفارے نه خلاص شو (شامی ص۶۰ ج۱) (۱۲) د نذر (منښتے) مونځ کونکی مونځ د منښتے مونځ کونکی پسے کیږی خو هله چه د دواړو منښته

یوه وی مثلاً دیوبنده د منبتې نه پس بل هم منبته اوکړی چه ما هم دغسې منبته کړې ده ځنګه چه فلانی بنده کړې ده او که چا بیل بیل دوه دوه رکعتو مونځ منبته اوکړه نو ددا سې کسانو یو بل پسې اقتداء نهٔ کیږی حاصل داده چه مقتدی د امام نه کم یا ورسره برابر وی نو هله ئې ورپسې اقتدا کیږی (درمختار ورد المحتار ص۶۰۲ ج۱) اوس مونږ هغه صورتونه بیکو یو په کومو چه مقتدی د امام نه زیات دې خواه یقیناً یا احتمالاً او اقتداء ئې درسته نهٔ ده (۱) دبالغ سړی یا ښځې اقتداء نابالغ پسې درسته نهٔ ده (ردالمحتار ص۶۰۳ ج۱) (۲) د نارینه بالغ یا نابالغ دواړو اقتداء ښځې پسې نهٔ کیږی (درمختار ص۶۰۳ ج۱) (۳) د خُنثیٰ (هیجړا) بل خنثیٰ پسې مونځ نهٔ کیږی یعنی چه دنراو ښځې هیڅ پته ئې نه لګی، د داسې کس ډیر کم پیښیږی (شامی ص۶۰۳ ج۱) (۴) کومې ښځې ته چه دخپل حیض زمانه یاده نهٔ وی دهغې اقتداء د داسې قسم ښځې پسې کول درست نهٔ وی ولې چه د دې احتمال شته چه په داسې صورت کښې مقتدی د امام نه زیات وی، ولې چه ړومبی صورت کښې کیدے شی چه خُنثیٰ ښځه وی او مقتدی ئې سړے وی او په دویم صورت کښې داکیدے شی چه د امام (ښځې) دحیض موده وی او دبلې مقتدی (ښځې) دطهر (پاکۍ) موده وی (درورد ص۵و۶ ج۱) (۵) دخنثیٰ اقتداء ښځې پسې ځکه نهٔ کیږی چه خُنثیٰ په نارینهٔ کښې حساب وی (شامی ص۶۰۳ ج۱) ﴿۶﴾ په خود بنده اقتداء لیونی، مست او بے خوده بے عقله پسې نهٔ کیږی (عالمګیری ص۵۳ ج۱) (۷) دطاهر (پاک) اقتداء معذور پسې درسته نهٔ ده مثلاً د داسې بنده پسې چه متیازې یا باد ئې پرله جاری وی (عالمګیری ص۵۳ ج۱) (۸) په یو رنځ د اخته بنده په هغې بنده پسې اقتداء نه کیږی چه په دوو رنځونو کښې آخته وی لکه د مقتدی متیازې جاری وی او د امام متیازې او باد دواړه جاری وی (عالمګیری ص۵۳ ج۱) (۹) په یو رنځ کښې اخته معذور اقتداء په بل رنځ کښې اخته معذور پسې صحیح نهٔ ده (عالمګیری ص۵۳ ج۱) (۱۰) د قاری اقتداء امّی پسې جائز نهٔ ده، قاری هغه دے چه دومره قرآن ئې یاد وی په کوم سره چه مونځ کیږی او امّی هغه دے چه دومره ورته هم یاد نهٔ وی (دُر ص۶۰۵ ج۱) (۱۱) د امّی اقتداء په بل امّی پسې په هغه صورت کښې درسته نهٔ ده کله چه په مقتدیانو کښې قاری وی که قاری په مقتدیانو کښې وی او امّی امام شی نو دهغه مونځ فاسد شو ورپسې دټولو مقتدیانو مونځ فاسد شو (دُر ص۶۱۹ ج۱) (۱۲)

دامي اقتداء په کونګي پسې ځکه صحیح نهٔ ده چه ګونګے هیڅ وخت په قراءت باندے قادر نهٔ دے او امي څهٔ وخت قدرت لرلے شي (شرح التنویر ص۶۰۵ ج۱) (۱۳) دچا چه فرض (ستر) قدرے پټ وي او بربنډ سړي پسے دهغه اقتداء صحیح نهٔ ده (شرح التنویر ص۶۰۵ ج۱) (۱۴) څوک چه رکوع سجدے کولے شي دهغه اقتداء داسے کس پسے نهٔ کیږي چه د دواړو یا یو سجدے نه معذوره وي (شرح التنویر ص۶۰۶ ج۱) (۱۵) د فرض کونکي اقتداء نفل کونکي پسے درسته نهٔ ده (شرح التنویر ص۶۰۶ ج۱) (۱۶) د نذر (منبیتے) مونځ کونکي اقتداء نفل مونځ کونکي پسے صحیح نهٔ ده ولے چه د نذر مونځ واجب دے (۱۷) د نذر مونځ کونکي اقتداء د قسم مونځ کونکي پسے صحیح نهٔ ده ځکه چه د نذر مونځ واجب او د قسم مونځ نفل دے چنانچه د قسم پوره کول واجب دي په هغے داهم کیدے شي چه کفاره ورکړي او مونځ (د قسم) اونهٔ کړي (رد المحتار) محمد شفیع دیوبندي (۱۸) څوک چه صفا حروف نشي ادا کولے مثلاً سین ثے لولي یا رے غین لولي یا بل حرف څهٔ ادل بدل غوندے لولي نو ورپسے د صحیح لوستونکي مونځ صحیح نهٔ دے، البته که په ټول قراءت کښے یو نیم حرف داسے واقع شي نو اقتداء به صحیح شي (شامي ص۶۰۸ و ۶۰۹ ج۱) **شرط (۱۱)** - د امام واجب الانفراد نهٔ کیدل یعني داسے کس پسے اقتداء درسته نهٔ ده چه څهٔ وخت یوازے مونځ کول ورته ضروري وي لکه مسبوق شو چه امام سره د مونځ ختمیدو نه پس ورته پاتې دهغه خپلو تلو رکعاتو یوازے ګزارل ضروري وي نو داسے مسبوق پسے اقتداء کول درست نهٔ وي. **شرط (۱۲)** امام چه د چا مقتدي نهٔ وي یعني داسے مونځ ګزارلړه امام نهٔ دي جوړول پکار چه په خپله د چا مقتدي وي لکه مُدرِك (چه ټول مونځ امام سره لاندے کړي) یا حکماً لکه لاحق (چه روستي رکعتونه ترینه امام سره تلي وي) په دے بناء د مدرك او لاحق اقتداء کول درست نهٔ دي، داسے که دا دواړه خپل منځ کښے دیو بل اقتداء کوي نو هم درست نهٔ دي (در مختار ص۶۰۸ ج۱) دا څومره بیان کړي دولس[۱۲] شرطونه چه په یو مقتدي کښے بیا نهٔ موندے شي نو اقتداء به ئے صحیح نهٔ وي په دے صورت کښے به دهغه مونځ نهٔ کیږي (در ص۶۰۹ و ۶۱۰ ج۱).

دجماعت (جمع) احکام

مسئله:- جمع د جُمعے او اخترونو په مونځ کښے شرط ده، دا مونځونه ځان له (بے جمع) نهٔ کیږي. (در مختار ص۸۶۵ ج۱) په پنځه وخته مونځونو کښے واجب ده خو

هله چه څهٔ عذر نه وی او پهٔ تراویحو کښې سنت مؤکد دهٔ اګر چه یو ځل قرآن کریم ئې پکښې ختم کړے وی (بحر صـ۳۴۵ ج ۱) او د غیبی د کسوف (نمر تورید و) او د رمضان په وترو کښې مستحب دهٔ او د رمضان نه سوا په نورو میاشتو د کال کښې مکروه تنزیهی ده خو هله چه عادت ئې او کړځوی ګنی کله کله ئې په جمع کول څهٔ بدیت نهٔ لری (شامی مختصرًا صـ۴۱ ج ۱) او د کسوف (سپوږمۍ تورید و) او نورو نفلو نو کښې بلکه د فرضو د جمع پشان پابندئ سره جمع ته خلق رابلی نو دغه جمع مکروه تحریمی ده البته که بے اذان بے اقامته هسے په پیښه درے څلور کسان راټول شی او په جمع سره ئې اوکړی نو بدیت ئې نشته (بحر صـ۳۴۵ ج ۱) د غیبی پهٔ جوماتو کښې د فرضو دویمه جمع کول هم مکروه تحریمی دی خو په دے شرط چه دا د محلے جومات وی او د عامے لارے جومات نهٔ وی د محلے جومات دا مطلب چه امام او موذن ګزارئے خاص خلق مقرر وی (۲) په ومبئ جمع پهٔ اوچت آواز اذان او اقامت سره کړے شوی وی (۳) په ومبئ جمع هم د دے محلے خلقو کړے وی کوم چه د دے جومات انتظام په لاس کښې لری (۴) دویمه جمع په دے شان سره کولے شی چه کوم شان او بند وبست سره په ومبئ جمع شوی وی خو دا څلورم شرط صرف د امام ابی یوسف رح پهٔ نزد دے او د امام صاحب رح پهٔ نزد پهٔ شکل بدلولو سره هم مکروه والے راځی که دویمه جمع د جوماتٓ پهٔ ځائے پهٔ کونړ کښې اوکړے شی نو بیا مکروه نهٔ دی که د دے څلورو شرطونو نه یو شرط هم موجود نهٔ وی نو دویمه جمع کول به مکروه نهٔ وی (دُرّ درد صـ۵ ج ۱)۔

تنبیه که هر څنګه د څنی خلقو عمل د امام ابی یوسف رح پهٔ قول باندے دے لیکن د امام صاحب رح قول پهٔ قوی دلیل باندے بنا دے او ننن صبا پهٔ دینیاتو او خصوصا د جمع په کارکښې سستی کیږی د دے تقاضا هم دا ده چه سره د شان او شکل بدلولو نه بیا هم فتوی د دویمے جمع پهٔ مکروهوالی باندے ورکړے شی ګنی نو خلق به پهٔ قصد په ومبئ جمع پریږدی چه موږ به بله جمع کوو (دُرّ ورد صـ۵ ج ۱)

دمقتدی او امام پهٔ باره کښې مسئلے

مسئله ۱: مقتد یانو له پکار دی چه پهٔ ټولو حاضرینو کښې د امامت په لائقو خلقو کښې چه کوم د زیاتو ښو صفتونو خاوند وی هغه امام کړی، که ټول پهٔ صفتو نو کښې یو شان دو نو د مقتدیانو پهٔ غالبے رائے به عمل کولے شی، یعنی د کوم پهٔ امامت

چه زیاتره خلق خوشحاله وی، که دده نه خلاف اوکړے شو نو دستو نه ئے خلاف اوکړل (دُرمختار و شامی صـ۵۸۳ ج ۱) **مسئله ۱:** د ټولو نه زیات حقدار د امامت هغه څوک دے چه د مونځ په مسئلو بنه پوهیږی خو هله چه پکښې د فسق وغیره څه خبره نهٔ وی مسنون قراءت ورته هم یاد وی، قرآن صحیح لولی، بنهٔ ئے لولی یعنی د قراءت د قواعدو په جوړ، بیا هغه څوک چه د ټولو نه زیات پرهیزګاره وی، بیا هغه څوک چه د ټولو نه په عمر کښې مشر وی، بیا هغه چه د ټولو نه خوش اخلاقه وی بیا هغه چه د ټولو نه بنکلے وی، بیا هغه چه د ټولو نه شریف وی بیا هغه چه د ټولو نه خوش آوازه وی بیا هغه چه جامے ئے بنکلے اغوستے وی بیا هغه چه سرئے د ټولو نه زیات غټ وی خو په تناسب، بیا هغه چه مقیم وی په مسافر و کښې بیا هغه چه اصلی آزاد وی، بیا هغه چه د اودس ماتی نه ئے تیمم وهلے وی د هغو په نسبت چه د جنابت نه ئے تیمم کړے وی او د بعضو په نزد په دے کښې اول دا دویم دے (درمختار صـ۵۸۱ ج ۱ وشامی صـ۵۸۳ ج ۱) او په چا کښې چه د دغے صفتو نو څخه دوه صفتونه موندے شی هغه دیو صفت د خاوند نه زیات مستحق دے (درمختار صـ۵۸۳ وشامی صـ۳ ج ۱) **مسئله ۲:** د چا په کور کښې چه جمع کیږی نو هغه د امامت زیات حقدار دے. وربیسے هغه چه د هغه کور والائے امامت ته وړاندے کړی، البته که د کور خاوند بیخی جاهل وی نو بیا هغه څوک حقدار دی چه د جمعے د مسئلو نه هم واقف وی (دُر و شامی صـ۵۸۳ ج ۱) **مسئله ۳:** په یو جوماتِ کښې د امامتئ حقدار هم د دغے جومات مقرر امام دے البته که هغه بل څوک مانځه ته وړاندے کړی نو بیا څهٔ بد یت نشته (درمختار صـ۵۸۳ ج ۱) **مسئله ۵:** چرته چه قاضی یعنی شرعی حاکم یا د اسلام بادشاه موجود وی نو بل څوک د امامت حقدار نشی جوړیدے (رد المحتار صـ۳۸۴ ج ۱) **مسئله ۶:** دیو قوم د رضامندئ نه بغیر د چا امامت کول مکروه تحریمی دی البته که دغه کس د امامت زیات حقدار وی نو بیا څه مکروهوالے نشته بلکه هغه څوک په غلطئ دے چه دده په امامت راضی نهٔ وی (درمختار صـ۵۸۴ ج ۱) **مسئله ۷:** فاسق او بدعتی لره امام جوړول مکروه تحریمی دی البته خدا نخواسته که دغلته دده نه سوا د امامت حقدار بل څوک موجود نهٔ وی نو بیا مکروه نهٔ دی دغسے که فاسق او بدعتی زورور دی چه د هغه په برخاست کولو د چا قدرت نهٔ وی یا ترے لویه فتنه راپورته

کيږي نو بيا په مقتديانو باندې مکروه واله نشته (دُرّ ص۵۸۴ ج۱ وص۵۸۵ ج۱)
مسئله :- آزاد شوے (شرعي) غلام، باندي، ړندې داسې نا بينا چه د پاکۍ او
ناپاکۍ احتياط نهٔ لري يا چه د شپې يې نظر کمزورے وي او د ولد الزنا
(حرامي) امام جوړول مکروه تنزيهي دي البته که دا خلق د علم او فضل
خاوندان وي او خلق يې هم ناخوښه نهٔ ګڼړي نو بيا مکروه نهٔ دي،
د غسې هغه بښکلي هلک (بالغ) چه ږيره يې نه وي راوتې او بې عقل لره
امام جوړول مکروه تنزيهي دي (در وشامي ص۵۸۴ و۵۸۷ ج۱) **مسئله**[9]:
مقتديانو لره په فرضو او واجبو کښې د امام تابعداري واجب ده البته په
سنتو وغيره کښې يې تابعداري کول واجب نهٔ دي نو که امام شافعي مذهبې
وي او رکوع ته تلو او راپورته کيدو په وخت لاسونه پورته کوي نو حنفي
مقتديانو لره لاسونه پورته کول ضروري نهٔ دي البته په وترو کښې هر
کله چه قنوت لوستل واجب دي نو که شافعي امام يې د خپل مذهب په
جوړ د رکوع نه پس لولي نو حنفي مقتديانو لره هم پس د رکوع نه يې لوستل
پکار دي (شامي مختصر ص۴۹ ج۱) **مسئله**[10]: امام لره (د سنت مقدار
نه هم زيات) لويې لويې سورتونه لوستل يا په رکوع سجده وغيره کښې
ډير وخت پورې اوسيدل مکروه تحريمي دي بلکه پکار دي چه امام
د خپلو مقتديانو د حاجت، ضرورت او ضعف وغيره خيال لري چه په
هغو کښې د زيات صاحب ضرورت رعايت کولو سره قراءت وغيره کوي بلکه
د زيات ضرورت په وخت د مسنون مقدار نه هم کم قراءت کول غوره
دي چه خلقو ته څهٔ تکليف نهٔ وي او د جمع د کميدو سبب جوړ نشي
(در مختار ص۸۳ ج۱ وشامي ص۳۹۷ ج۱) **مسئله**[11] :- يوازې يو مقتدي (سړے
يا نابالغ هلک) به د امام په څنګ کښې ورسره برابر يا ترے معمولي روستو
د امام ښي اړخ ته اودريږي که کس طرف ته يې اودريدو نو بيا مکروه دي
(دُر ص۸۳ ج۱ وفتاوي هنديه ص۸۶ ج۱) **مسئله**[12] :که دوه نه زيات مقتديان
وي نو د امام شا ته دې ور پسې اودريږي که دوه مقتديان وو ښي او کس
اړخ د امام ته ودريدل نو مکروه تنزيهي دي او که د دوو نه زيات وو نو
مکروه تحريمي حکم دي چه کله دوو نه زيات مقتديان وي نو امام له يې
وړاندې اودريدل واجب دي (در مختار ص۸۳ ج۱ وفتاوي هنديه ص۸۸ ج۱)
مسئله[13] :- که اول يو مقتدي په امام پسې د هغه ښي طرف ته اودريدو،
چه کنړ شي نو هغه ړومبي مقتدي دې روستو شي او د امام شا ته دې پوره

صف جوړ کړي ورنه دغه روستو راغلي مقتديان دې هغه ړومبي مقتدي روستې راکاږي که هغوئ قول ورپسې د ناپوهئ په وجه بنې يا کس يا دواړو طرفته ئې اوډيدل نو امام دې وړاندې ورتير شي چه د دوئ صف پوره شي، داسې دې په هغه صورت کښې هم کوي چه روستو مقتديانو ته د روستوکيدو ځائے نهٔ وي نن صباخوناپوهي غالب ده ځکه پکار دي چه هم امام دې وړاندې ځي هسې نه چه د مقتدي د راښکلو نه ځه داسې حرکت راپيښ شي چه مونځ ورسره مات شي (ردالمحتار ص۳۸۲ ج۱) مسئله۱۴: که مقتدي ښځه وي يا نابالغه جينئ نو پکار دي چه د امام نه روستو اودريږي که يو وي اوکه زيات (شامي ص۳۸۴ ج۱) مسئله۱۵:- که مقتديان مختلف وي، سړي، ښځې بالغ او نابالغ وي نو امام دې اول د سړو صفونه برابر کړي بيا د نابالغو هلکانو بيا د بالغو زنانو بيا د نابالغو جينکو (درمختار ص۸۴ ج۱ وبحر ص۳۵۳ ج۱) مسئله۱۶:- امام له پکار دي چه صفونه نيغ برابر کړي په صف کښې ديو بل سره نزدې اودريږي چه په منځ کښې خالي ځائے پاتې نشي (دُر ص۸۳ ج۱) مسئله۱۷:- د جوړ صف نه روستو د يوازې کس اودريدل مکروه دي ځکه چه دې د وړاندې صف نه يو کس ځانته راکاږي چه صف کښې دوه کسه شي اوکه دې نه څهٔ ربړه جوړيده نو هم يوازې دې اودريږي (دُر ص۵۹۲ ج۱، طحطاوي ص۱۷۹) مسئله۱۸: خو پورې چه ړومبي صف نهٔ وي ډک شوې ورپسې بل صف جوړيدل مکروه دي، چه ډک شي هله بل صف کښې اودريدل پکار دي (در ص۸۳ ج۱ و رد ص۳۸۱ ج۱) مسئله۱۹:- سړي لره په هغه صورت کښې يوازې ښځو ته امامت کول مکروه تحريمي دي چه په جمع کښې ورسره سړې يا محرمه ښځه (خپله ښځه مور، خور لور وغيره) شامله نهٔ وي (دُر ص۸۳ ج۱ وردالمحتار ص۳۸۱ ج۱) مسئله۲۰: که يو سړے يوازې د صبا، ماښام يا ماسختن مونځ کوي بل څوک ورپسې اقتدا کوي نو ده د پاره دوه صورته دي يا به د امامت نيت اوکړي او ياتې قراءت به په جهر سره لولي يا به د امامت نيت نهٔ کوي نو قراءت به په مخه غلے لولي خو په دواړو صورتونو کښې د مقتدي مونځ اوشو او د امام خود شوې دے ولے چه امام له نيت د امام کول ضروري نهٔ دي بلکه مقتدي لره نيت د اقتداء کول ضروري دي (دُر ورد ص۵۵ ج۱) مسئله۲۱: که څوک په ډاګ ميدان کښې ځان له مونځ کوي اوکه په امامت سره نو د خپلې بنې يا کيڼې اړخ مخې ته به يو لاس اوږده اويوه ګوته غټه ستره اودروي د

سترے نه پورے بهرطرف ته که خوك ے بیا په وړاندے تیریږی نو گناهگار نهٔ دے او که دهغے د ننه خوك تیرشو په مانځهٔ کښې نوګناهګار دے البته په جومات کښې یا داسے ځاے کښې چه د چاد تیریدو څهٔ صورت نهٔ وی نو هلته د سترے اود رولو ضرورت نشته (هدایه ص۱۱ ج ۱، مراقی الفلاح علی الطحطاوی ص۲۱۴) **مسئله ۲۲**:- لاحق هغه مقتدی دے چه په اول سر کښې امام سره په مانځه کښې شریك شی او بیا په څهٔ وجه ترے ټول مونځ یا څهٔ قدرے مونځ امام سره لاړ شی، اوده شی، د خلقو دګڼړ والی په وجه رکوع، سجده وغیره او نهٔ شی کړے یا ئے او دس مات شی او اودس کولو د پاره لاړ شی (په صلوٰة خوف کښې رومبئ ډله لاحقه ده داسے کوم مقیم چه مسافر پسے اقتداء اوکړی او مسافر قصر اوکړی نو دغه مقیم پس د مونځ ختمولو د امام نه لاحق دے) بیا ئے عذره لاړ شی مثلاً د امام نه وړاندے دیو رکعت رکوع یا سجده اوکړی او په دغے وجه دغه رکعت ئے په نیشت حساب شی نو دغے رکعت په لحاظ سره به هغه لاحق ګڼړلے شی لاحق له واجب دی چه اول هغه ټلی رکعتونه راسرکړی، که جماعت (جمع) جاری وی نو هله دے په هغے کښې شریك شی ورنه پاتے مونځ دے ځان له اوکړی (دُرّ ص۶۲۳ ج ۱) **مسئله ۲۳**:- لاحق نه چه کوم رکعتونه تلی دی په هغے کښې به هم مقتدی حسابیږی یعنی په پاتے رکعتونو کښې به قرائت نهٔ کوی او که سهوه شو نو ځان له به سجده سهوهٔ هم نهٔ کوی۔

مسئله ۲۴:- چا نه چه امام سره وړاندینی رکعتونه تلی وی او روستی ئے ورسره لاندے کړی هغے ته مسبوق ویلے شی هغه چه امام سره شریك شی نو اول به امام سره مونځ ختم کړی هغه نه پس به هغه پاتے مونځ کوی **مسئله ۲۵**:- مسبوق به خپل تلی رکعتونه که ځان له مونځ ګزار قراءت سره ګزاری که په دغے رکعتونو کښې سهوشی نو سجده سهوه به هم ضرور کوی۔ **مسئله ۲۶**: مسبوق به پاتے رکعتونو کښې اول د قرائت رکعتونه ګزاری او وریسے بے قراءته او قعده به امام سره دلاندے کړی رکعتونو په حساب سره کوی مثلاً یو مقتدی د ماسپخین په څلورم رکعت کښې امام سره شریك شو نو د امام د سلام ګرځولو نه پس به پاتے درے رکعتونه په دے شان کوی په اول رکعت کښې به قرائت اولولی د دے په ختمیدو به قعده (اوله) اوکړی، دویم رکعت کښې به هم قرائت اولولی چه په اصل کښې دریم رکعت دے او دریم رکعت به بے قراءته اوګزاری (چه په اصل کښې څلورم رکعت دے) قعده (آخره) به اوکړی او سلام

په او کړ ځوی (درمختار ص۳۸۶ ج ۱) مسئله ۲۷ :- که څوک لاحق او مسبوق دواړه وی نو اول دے هغه رکعتونه ګزاری چه د شریکیدو نه پس ترے تللی دی په کومو کښے چه لاحق دے خود هغے شان به داوی لکه چه امام پسے ئے ګزاری یعنی قراءت به پکښے نهٔ کوی او د امام د ترتیب لحاظ به ساتی، بیا که جمع جاری وی نو په هغے کښے به شریک شی ورنه پاتے نور مونځ به هم اوګزاری وروسته به هغه مونځ اوکړی په کوم کښے چه مسبوق دے مثلاً یو مقتدی د ماز یګر د مونځ په دوئیم رکعت کښے امام سره شریک شو او هم په هغے کښے ئے اودس مات شو چه اودس د پاره لاړو نو په دغے دوران کښے ترے پاتے د جمع مونځ هم لاړو نو پکار دی چه اول دے هغه درے پاتے رکعتونه (دوئیم، دریم، څلورم) اوګزاری وروسته به هغه پاتے (اولنے رکعت اوګزاری)، په اولنو درے رکعتونو کښے به قرارت ځکه نهٔ کوی چه دے کښے هغه مقتدی دے، سجده سهو به هم نهٔ کوی که په دے کښے سهو شو خو د دغے دریو رکعتونو په رومبی رکعت به قعده اوله ځکه کوی چه دا د امام دوئیم رکعت دے په دوئیم رکعت به قعده نه کوی ځکه چه دا امام دریم رکعت دے او په دریم رکعت به قعده ځکه کوی چه دا د امام څلورم رکعت دے بیا به اولنے تلے رکعت ګزاری سره د قراءت نه دے په ختمولو به قعده کوی ولے چه دا دده څلورم رکعت جوړیږی خو دده رکعت حکم دځانله مونځ ګزار د مونځ حکم دے (رد ص۴۰۰ ج ۱)

مسئله ۲۸ :- سنت طریقه دا ده چه مقتدی دے هر رکن امام سره بالکل یو ځائے ادا کوی روستو دے ترے نهٔ پاتے کیږی مثلاً تحریمه، رکوع سجده، قومه وغیره البته که اوله قعده کښے امام وړاندے پورته شو چه مقتدیانو تر "عبده ورسوله" پورے نهٔ وو رسلی نو مقتدیان به د دے د پوره کولو نه پس پورته کیږی دا حکم د اخیرے قعدے هم دے، البته که په رکوع او سجده کښے مقتدیانو تسبیح نهٔ وی پوره کړی پاتے نهٔ وی ویلے نو هم دِ امام سره پورته شی (رد ص۳۱۶ ج ۱)

په جمع کښے د شاملیدو یا نه شاملیدو مسئلے

مسئله ۲۹ : که څوک د خپلے محلے یا مکان سره نزدے جومات ته ورغلو هلته ترے جمع شوے وه نو د جمع لاندے کولو په غرض ورد پاره بل جومات ته تلل مستحب دی او د اسے هم کولے شی چه کورته لاړ شی هلته خو کسان راجمع کړی او په کور کښے د جمع مونځ اوکړی (رد ص۳۱۶ ج ۱)

مسئله ۳۰ : یو سړی په کور کښے ځانله فرض مونځ اوکړو جومات ته چه ورشی

هلته هم دغه فرض په جمع کیږی نو په جمع کښې شریکیدل پکار دی خو هله چه دماسپخین او ماسختن مونځ وی د نورو درے ۳ وختونو په جمع کښې به نهٔ شریکیږی ځکه چه دے وختونو کښې نفل کول مکروه دی یا درے ۳ رکعته نفل نشته دے (یعنی دماښام جمع کښې به هم نهٔ شریکیږی) (درمختار ص۴۷۲ ج۱)

مسئله ۳: یو سړی فرض مونځ ځانله شروع کړو او س هغلته مونځ په جمع سره شروع شو نو دصبا د مونځ (دوه رکعتین دا حکم دے چه که د وړومبی رکعت سجده ئے نهٔ وی کړی نو دغه مونځ دے پریږدی او په جمع کښې دے شامل شی که د وړومبی رکعت سجده ئے کړی وی او د دویم رکعت سجده ئے نهٔ وی کړی نو هم دے دغه مونځ پریږدی او په جمع کښې دے شامل شی، که د دویم رکعت سجده ئے کړے وه نو دغه مونځ دے پوره کړی او په جمع کښې دے نهٔ شاملیږی د درے رکعتیز (دماښام) مونځ دا حکم دے چه د دویم رکعت سجده ئے که نهٔ وی کړی دغه مونځ دے پریږدی او په جمع کښې دے شامل شی که د دویم رکعت سجده ئے اوکړه نو دریم رکعت دے هم پوره کړی او په جمع کښې دے نهٔ شاملیږی که څلور رکعتیز مونځ (د ماسپخین، ماز یګر او ماسختن) وو نو که د وړومبی رکعت سجده ئے نه وه کړے دغه مونځ به قطع کړی او که دا ئے کړی وو نو دویم او څلورم رکعت به پوره کړه په اوله قعده او په آخره قعده به سلام اوګرځوی مونځ به ختم کړی او په جمع کښې به شریک شی خو که دماز یګر مونځ ئے په څلور پوره رکعتونو ختم کړے وو نو بیا به جمع کښې نهٔ شریکیږی، چرته چه مونځ د پوره کیدو نه وړاندے ختمول، پریښودل او قطع کول وی هلته به په ولاړے سلام ګرځوی خو چرته چه ځانله پوره مونځ اوکړے شی نو بیا به صِرف دماسپخین او ماسختن په جمع کښې شاملیږی د نورو دریو مونځونو په جمع کښې به نهٔ شریکیږی (شامی ص۴۷۵ ج۱) **مسئله ۴:** چاچه نفل مونځ شروع کړے وی او د فرضو جمع او دریږی نو هغه (نفل) دے نه قطع کوی بلکه د دوو رکعتو په قعده کښې دے سلام اوګرځوی اګر چه نیت ئے د څلورو رکعتو (نفلو) تړلے وی **مسئله ۵:** دماسپخین او جمعے سُنّتِ مؤکده ئے چه شروع کړی وی او فرض شروع شی نو ظاهر مذهب دا دے چه په دوو رکعتو سلام اوګرځوی (په قعده کښې) او جمع کښې دے شریک شی خو د یرو فقهاؤ په نزد غوره خبره دا ده (چه قوی مذهب دے) چه څلور رکعته دے پوره کړی که دریم رکعت ئے شروع

کړے وی نو بیا به څلور رکعته پوره کول ضروری وی (درّ ورد ص۴۲۶ ج۱)
مسئله۷:- که فرض مونځ شروع شوے وی نو بیا دے سُنت وغیره نهٔ شروع کوی خو پهٔ دے شرط چه د فرضو د رکعت تلو ویره وی البته که غالب یقین یا گمان ئے داوُو چه د فرضو رکعت به ترانه لاړ نشی نو بیا دے اوکړی خو کوم سنت مؤکده چه د فرضو د لاندے کولو پهٔ غرض چانه پاتے شی مثلاً د ماسپخین یا جُمعے فرض شو نو بیا خبره دا ده چه د فرضو کولو نه پس دے اول دوه رکعته سنت مؤکده اوګزاری، خو هر کله چه د صبا سنت مؤکده زیات مؤکد دی لهذا د هغے حکم دا دے چه که فرض شروع شوی وی نو هم دے اداء کړی خو هله چه دیو رکعت (د فرضو) موندلو اُمید ئے وی، او که دیو رکعت موندلو امید ئے هم نهٔ وی بیا دے نهٔ لولی، که دغه د صبا پاتے سنت مؤکده اداء کول غواړی نو د نمر راختو نه پس دے ئے اداء کوی. څنے روایتونو کښے راغلی دی چه که د آخرے قعدے (د فرضو) لاندے کولو امید ئے وی نو هم دے سنت اداء کوی، خو بهتره دغه ړومبئ خبره د ظاهر مذهب ده (ظفر احمد) مسئله:- که د صبا د سنتو پهٔ دے شان اداء کولو سره چه سُنّت او مستحبات ئے اداء کوی نو جمع نشی رالاندے کولے نو پهٔ دا سے حالت کښے پکار دی چه صرف فرض او واجبات د سنتو اداء کړی او سنت وغیره دے نهٔ اداء کوی مسئله: د صبا یا د بل وخت د فرضونه وړاندے سنت پهٔ دا سے ځا ے کښے اداء کول پکار دی چه د جومات نه بهر دی ولے چه د فرض د اداء کید و په ځائے سنت اداء کول مکروه تحریمی دی او که دا سے ځائے ئے نهٔ موندو نو د صف نه بیل د جومات پهٔ یو کُنج کښے دے ادا کوی. (د دے درے واړو مسئلو حواله دا ده (درّ ورد ص۴۲۹ ج۱) مسئله۹:- که چا ته د جمع د مونځ قعده ملاوُ شی او رکعتونه ئے ورته ملاوُ نشی نو بیا به هم د جمع ثواب ورته ملاویږی (انشاء الله تعالیٰ) (شامی ص۴۲۹ ج۱) مسئله۱۰: د کوم رکعت رکوع چه امام سره بیا موندے شی نو دغه ټول رکعت موندل شو، البته که رکوع ئے اونه موندله نو پوهه شه چه دغه رکعت ئے اونهٔ موندلو (طحطاوی ص۲۹۴).

په کومو څیزونو چه مونځ فاسدیږی

مسئله۱:- پهٔ مونځ کښے د خپل امام (د دغے مونځ) نه سوا بل چا ته لقمے (فتحه) ورکولو او په غلطئ خبرولو سره مونځ فاسدیږی

(دُرِّ مختار ص۸۹ وبحر الرائق ص۸)

تنبیه ۴ لقمه (فتح) ورکولو د فقهاؤ ترمنځه اختلافي مسئله ده ځنې عالمانو په دے کښې مستقلے رسالے تصنیف کړي دي ځکه مونږ د هغې یوڅو جزئیات دلته ذکر کوو. **مسئله ۲**: صحیح خبره دا ده چه خپل امام ته په لقمے (فتح) ورکولو د مقتدي مونځ نه فاسدیږي اګرچه امام د ضرورت په اندازه قراءت کړے وي، د ضرورت اندازے نه مراد هغه مسنون قراءت دے، خو په دے صورت کښې امام له پکار دي چه رکوع ته لاړشي او د لقمے (فتح) په انتظار کښې نه وي (بحر ص۶ ج۲ و در مختار ص۹۵ ج۱) **مسئله ۳**:- که امام د ضرورت په اندازه قراءت کړے وي نو لقمے (فتح) د مقتدیانو ته دِے نه ایساریږي (ولے چه داسے کول مکروه دي) بلکه رکوع ته دے ځي، د مقتدیانو دے هم د سخت ضرورت نه بغیر خپل امام ته فتح نه ورکوي (ولے چه داسے کول مکروه دي) د سخت ضرورت نه مراد دا دے چه مثلاً د غلطید و نه پس نور هم قراءت کول غواړي یا رکوع نه کوي او د فتح په انتظار کښې ولاړوي نو ځنګه چه مخکښې بیان شو چه بے د دے سخت ضرورت نه هم امام ته په فتح ورکولو سره د مقتدي مونځ نه فاسدیږي (ردّ ص۴۱۲ ج۱ وبحر ص۶ ج۲) **مسئله**: یوسړے په مونځ کښې وي یا مونځ نه بهروي او بل مونځ ګزارته (چه دغه وخت دے ورپسے په دغه مونځ کښې نه وي) فتح ورکړي که هغه د ده فتح واخسته نو مونځ ئے مات شو اوکه وائے نه خستله رکوع ته سمدستي لاړو یائے دخپل یادداشت نه دغه غلطي صحیح کړه د فتح ورکولو سره سم یا روستو نو مونځ ئے صحیح دے **مسئله ۵**:- که یو مونځ ګزار داسے یوکس ته فتح ورکړي چه دغه وخت د ده اقتدا، ورپسے نه وي، هغه په مونځ کښې وي یا بهروي نو صرف په فتح ورکولو د ځې مونځ ګزار مونځ فاسد شو برابره خبره ده چه هغه ئے فتح واخلي یا نه؟ (طحطاوي ص۱۹۵، دُرّ وردّ ص۶۵۰ ج۱) **مسئله ۶**: که یو مقتدي د بل چا نه په آورید و یا په قرآن کریم کښې دکتلو نه خپل امام ته (هم په مانځه کښې) فتح ورکړه نو د دغه مقتدي مونځ مات شو که امام ئے فتح واخسته نو د خپل امام مونځ هم مات شو اوکه مقتدي په قرآن کښې اولیدل یائے د بل چا نه واوریدل خو په خپله ورته هم ذهن کښې راغلل او د

خپل ذهن نه يځ خپل امام ته فتح ورکړه نو دمقتدي مونځ هم مات نشو او امام که دغه فتح واخسته نو د هغه مونځ هم مات نهٔ شو. **مسئله**:که څوك د قرآن کريم نه په کتو يو پوره آيت اولولي نو مونځ به يځ فاسد شي اوکه دغه پهٔ قرآن کښې کتلے پوره آيت ورته مخکښې نه ياد وي يا پوره آيت د قرآن نه اونهٔ لولي نو مونځ به يځ نهٔ فاسديږي (درمختار ص۹۵ ج۱ بحر ص۱۵ ج۱) **مسئله**:- ترڅو پورے که سجدے ته تلو پهٔ وخت د ښځے سر د سړي د خپو برابر (مخامخ) شي نو بيا هم مونځ فاسديږي. (۱) بالغه (ځوانه يا بوډئ) ښځه وي يا نابالغه، دکور والي جوګه وي. پهٔ دے بناء چه نابالغه جيني ورسره پهٔ مانځه کښے مخامخ شي نو مونځ نهٔ ماتيږي (۲) چه دواړه پهٔ مونځ کښې وي، که يو پهٔ مونځ کښے وي نو مونځ نهٔ ماتيږي (۳) چه څهٔ حائل (بنديز) پهٔ منځ کښې نهٔ وي که څهٔ ستره يا بنديز ترمنځهٔ وي يا پهٔ منځ کښې دومره ځائے وي چه پکښې يو کس بے تکليفه اودريدے شي نو بيا به هم مونځ نهٔ فاسديږي (ص۸۴ ج۱ درمختار وشامي وبحر) (۴) پهٔ ښځه کښې دمونځ دصحيح کيدو شرطونه بيا موندے شي نو که ښځه ليونئ يا دحيض اونفاس پهٔ حالت کښې وي نو هغے سره پهٔ مخامخ کيدو مونځ ځکه نهٔ ماتيږي چه دهغے دا مونځ، مونځ نهٔ حسابيږي (عالمګيري ص۸۸ ج۱) (۵) دجنازے مونځ چه نهٔ وي ولے چه دجنازے پهٔ مونځ کښې محاذاة (څنګ په څنګ کيدل مخامخ کيدل) دمونځ ماتونکے نهٔ دے (۶) چه محاذات ديو رکن پهٔ اندازه جاري وي ددے نه پهٔ کم سره مونځ نهٔ ماتيږي (۷) پهٔ تکبير تحريمه کښې دواړه شريک وي يعني دغه ښځه پهٔ خپله ددغه سړي مقتدي وي يا دغه دواړه سړي او ښځه د دريم (بل) سړي مقتديان وي (۸) امام ددغے ښځے دامامت نيت د مونځ د شروع کولو يا پهٔ منځ دمانځه کښے کړے وي څوکه امام ددغے ښځے دامامت نيت نهٔ وي کړے نو پهٔ محاذات سره دسړي مونځ نهٔ ماتيږي بلکه د ښځے مونځ صحيح نهٔ دے (څو عالمګيري او شامي وغيره کښې صفا ليکلي دي چه هرکله امام د ښځے نيت دامام د اول نه نهٔ وي کړے نو د ښځے مونځ صحيح نهٔ دے ځکه به محاذات مضر نهٔ وي **مسئله**:- که امام بے اودسه شو خليفه يځ جوړ نهٔ کړو او جومات نه بهر اووتو نو دمقتديانو مونځ به مات شي. (دُرّ وشامي ص۶۲۷ ج۱) **مسئله**:- امام چه داسے خليفه

مقرر کړی کوم چه د امامت نا اهله وی مثلا لیونے، ماشوم (نابالغ) یا ښځه، نو د ټولو مونځ مات شو (رد ص۴۰۳ فتاوی هندیه ص۹۴ ج۱ وبحر ص۳۹۶ ج۱) **مسئله** ۱۱: که سړی مونځ کولو او په دغه حالت کښې هغه لره ښځې ښکل کړو که د سړی شهوت را نغلو نو مونځ ئے مات نه شو او که شهوت ئے راغلو نو مونځ به ئے فاسد شی که ښځې مونځ کولو او سړی ښکل کړه نو په هر شان د ښځې مونځ مات شو که په خپله ئے شهوت راغلے وی او که نه او د سړی ورته شهوت راغلے وی او که نه (ردالمحتار ص۴۵۷ ج۱) **مسئله** ۱۲: د مونځ گزار مخے ته چه څوک تیریږی نو هغه ورسره گواخ کولے شی که دغه گواخ په لږ عمل سره وو نو خیر دے او که په ډیر عمل سره وو نو مونځ ئے ماتیږی (ردالمحتار ص۴۲۹ ج۱)

په کوم څیزونو سره چه مونځ مکروه کیږی

مسئله: که چا مونځ په جامه کښې په داسے شان کولو چه هغه ئے د عامے طریقے نه خلاف اغوستے وه نو دا مکروه تحریمی دی (درمختار وشامی ص۴۶۵ ج۱) مثلاً څوک څادر یو پلو په اوږه واچوی او بل پلو ئے زوړند پریږدی یا قمیص داسے واغوندی چه په لستونړو کښے ئے لاسونه ورننه کړی نو مونځ ئے مکروه کیږی (در وشامی ص۴۶۵ ج۱) **مسئله** ۲: په سر تور سر نا ریته لره مونځ مکروه کوی که دعاجزئ او زاری په غرض داسے کوی نو بد نیت ئے نشته (در ص۹۱) **مسئله**: د چا ټوپۍ یا پټکے په مونځ کښے او غورځیږی نو هم په ماڼځه کښے ئے په سر ول غوره دی که عمل کثیر ته پکښې ضرورت وو نو نه دے په سر وی (در ص۹۱ ج۱) **مسئله**: نارینه چه د لاسونو دواړه لیچے په زمکه باندے په سجده کښے خورے کړی نو دا مکروه تحریمی دی (شامی ص۴۳۲ ج۱، هدایه ص۱۲۰ ج۱) **مسئله** ۵: د امام خپے هم په محراب کښے لرل مکروه تنزیهی دی که خپے ئے بهر وی او سجده په محراب کښے نکوی نو مکروه نه دی (در وشامی ص۴۶۷) **مسئله** ۶: د لاس په اندازه په لوړ ځائے باندے صرف یو مقتدی ولاړ وی بیا هم مکروه دی او که دوه یا زیات ورسره په دغه لوړه ولاړ وو او نور لاندے ولاړ وو نو مکروه نه دی او خلو ښیلی دی چه که د یو لاس د اندازے نه کم هم لوړ وی خو په سرسری نظر ئے لوړوالے د یو لاس هومره ښکاری نو بیا هم مکروه دی. **مسئله**: که بے ضرورته امام د مقتدیانو نه بیل په لوړ ځائے او دریږی نو مکروه دی خو د ضرورت په

وجه مثلاً جمع زياته وي او ځائے کم وي نو مکروه نه دي دا هم مکروه
نهٔ دي چه ځنے مقتديان امام سره په برابر ځائے ولاړ وي او ځنے ترے
پورته ولاړ وي (در ص۵۶۹ ج ۱ هدايه ص۱۲ ج ۱) **مسئله**: مقتدي د پاره دا
مکروه تحريمي دي چه دخپل امام نه وړاندے څه عمل شروع کړي
(عالمگيري ص۱۰۶ ج ۱) **مسئله**: کله چه امام (په ولاړه) قراءت کوي نو مقتدي
لره دا مکروه تحريمي دي چه دعا کوي، قرآن لولي که سورة فاتحه وي
نو هم (درمختار ص۵۶۸ ج ۱)۔

په مانځه کښے دبے اودسه کيدو بيان

په مانځه کښے په څهٔ طريقه په چا غسل واجب شي نو مونځ ئے مات شو، او که بے اودسه شو، او بے اودسه کيدل ئے که اختياري وو چه دده ياد بل بنده په اختيار کښے وي نو مونځ ئے مات شو لکه په مونځ کښے قهقهه خندا او کړي ځان ته په کوذار ورکولو ځان نه وينه او باسي، بل څوک پورته خيژي په دغے وجے د پورته نه کانړے يا خښته راپريوځي او دے پرے زخمي شي البته که په بے اختياري سره بے اودسه شي نو د دے دوه صورته دي يا به کم پيښيدونکے وي نو مونځ ئے فاسد يږي لکه ليونتوب يا بيهوشي پرے راشي يا امام ئے په مانځه کښے مړ شي يا به دا زيات پيښيدونکي وي لکه باد، متيازے مذي وغيره وتل نو مونځ ئے نهٔ فاسد يږي بلکه د شريعت له اړخه دغسے کس ته اختيار دے چه مونځ مات کړي او د سر دوباره ئے اوکوذاري يا بنا پرے اوکړي هغه داسے چه اودس له لاړ شي او مونځ د هغه ځائے نه اوکوذاري کوم ځائے نه چه په بے اودسه کيدو ترے پاتے شوے دے خو مونځ به ئے په دے شرط نهٔ ماتيږي چه (۱) د بے اودسئ په حالت کښے رکن ادا نهٔ کړي (۲) د روانے په حالت کښے رکن ادا نهٔ کړي مثلاً رکوع او قراءت د قرآن هم او نهٔ کړي ولے چه قرائت د قرآن هم رکن دے (۳) مونځ سره بے جوړه څه حرکت او نهٔ کړي (اودس کولو د پاره تلل او بيرا تلل مانځه د پاره مجبوري ده اګر چه مونځ سره بے جوړه دے ځکه په دے سره مونځ نهٔ ماتيږي) (۴) د بے اودسه کيدو نه پس په اودس کولو کښے د اودس کولو نه پس په مونځ شروع کولو کښے دومره ايساريدل دے بے عذره نهٔ کوي په څومره ايساريدو کښے چه رکن (مثلاً رکوع) ادا کيږي، که په عذر سره څهٔ ايساريدل يا دپل ترے

اوشی نو مونځ ئې نهٔ ماتیږی مثلاً پهٔ خپله پهٔ رومبی صف کښې وی او وروستو ئې نور صفونه وی چه دهغې نه وتل څهٔ ډیل غواړی (درمختار ص۸۶ عالمگیری ص۹۳ ج۱) (محشی وائی چه دداسې عذر پهٔ وجه قبلې نه مخ اړول وردپارهٔ هم جائز دی) مسئله۱:- ځانله د مونځ کونکی اودس چه مات شی نو پکار دی چه سمدستی (بې ډیله) اودس له لاړشی او بې ډیله پاتې مونځ بانده شروع اوکړی البته که پهٔ عذر سره ایسار شی نو څهٔ بدیت نشته خو اودس له د تلو راتلو پهٔ دوران کښې دې کلام وغیره نهٔ کوی اودس کښې دې سنت او مستحب کارونه ټول کوی اوبهٔ چه لنبې وی نو لرې دې او بو پسې نهٔ ځی، دا اودس کولو نه پس ئې که خوښه وه نو هم هغلته دې پاتې مونځ ادا کړی (چه زیات غوره دی) یا خپل رومبی ځائ ته ورشی او هلته پاتې مونځ اوکړی خو د ټولو نه غوره خبره دا ده چه سلام گرځولو سره مونځ ختم کړی اودس دې ښهٔ پهٔ دمه اوکړی او بیا دې مونځ د نوی سره اوکړی (در ص۸۶ ج۱ وشامی بتقدیم وتاخیر ص۴۰۵ ج۱)

مسئله۲:- امام چه بې اودسه شی اگرچه پهٔ قعدهٔ آخره کښې وی نو سمدستی دې اودس کولو د پارهٔ لاړشی او ښه خبره دا ده چه هم پهٔ خپلو مقتدیانو کښې د امامتئ جوگه سړے خپل خلیفه جوړ کړی (کوم مقتدی چه اول د سره دغې امام سره شریک شوے وی نو هغه خلیفه جوړول بهتر دی) اگر چه مسبوق هم خلیفه جوړول وردپارهٔ جائز دی خو دغې مسبوق ته به دگوتو پهٔ اشارهٔ داښودل وی چه ما ته دومره رکعتونه پاتې دی مثلاً د یو پاتې رکعت د پارهٔ به دیوه او دوو پاتې رکعتونو دپارهٔ به دوو گوتو اشاره کوی چه صرف رکوع پاتې وی نو گوته وته به پهٔ لاس وراوړلو سره اشاره کوی چه سجده پاتې وی نو تندی ته پهٔ لاس وراوړلو، چه قراءت پاتې وی نو پهٔ خلې سره، سجدهٔ تلاوت چه پاتې وی نو پهٔ خلې او تندی سره چه سجدهٔ سهوه پاتې وی نو پهٔ سینې سره اشاره کوی خلیفه به داسې کس جوړوی چه پهٔ دې اشارو پوهیږی، د اودس کولو نه پس به خپل خلیفه پسې مونځ کولو کښې شریک شی، که د اودس کولو نه پس به خپل خلیفه پسې مونځ کولو کښې شریک شی، که د اودس کولو سره پهٔ ځائ کښې اودریدلو نو گورو به که د آخری صف او دده ترمنځه داسې څهٔ حائل (بندیز) وو چه دهغې پهٔ موجودگئ کښې اقتداء نه صحیح کیږی نو درست به نهٔ وی ورنه درست به وی که د امامت دغه مونځ ختم شوے وو نو دغه (بې اودسه شوی) امام له اختیار دې چه هم د اودس کولو

ځائے سره نزدے پاتے مونځ ختم کړي یا خپل ړومبي ځائے ته په ورتلو مونځ ختم کړي (در و شامي بحذف ص۶۲۲ ج ۱) مسئله ۳:- که اوبه د جومات په فرش کښے د ننه موجود ے وي نو بیا خلیفه جوړول ضروري نه دي بلکه اودس کولو نه پس دے بیا په خپله مصلّي اودریږي پاتے مونځ دے پوره کړي او مقتدیان دے دومره وخت ورته په انتظار کښے وي (شامي ص۶۰۴ ج ۱) مسئله ۴:- کله چه امام خپل خلیفه جوړ کړو نو په دغه مونځ کښے امام پاتے نهٔ شو بلکه د خپل خلیفه مقتدي شو، که دغه جمع ختم شوے وه نو ړومبے امام به د لاحق په ډول دغه مونځ ختم کړي که امام خپل خلیفه جوړ نهٔ کړو بلکه مقتدیانو ځان له په خپل منځ کښے بل مقتدي امام کړو یا مقتد یانو کښے یو مقتدي په خپله امامتۍ ته وړاندے شو او د امامتۍ نیت ئے اوکړو نو هم صحیح دي خو هله چه تردغے وخته پورے امام د جومات نه بهر نه وي وتلے، که دغه مونځ د جومات نه بهر کیدو نو امام د صفونو یا سُترے نه پورے وتے نهٔ وي، که پورے وتے وو نو مونځ ئے مات شو بیا به بل مقتدي امام نشي جوړیدے مسئله ۵:- نو مقتدي چه بے اودسه شي نو هم دے سمدستي اودس کوي دا اودس کولو نه پس په پاتے جمع کښے به شریک شي ورنه چرته ئے چه خوښه وي پاتے مونځ دے اوکړي خود اودس کولو سره نزدے مونځ ختمول ډیر غوره دي خپل ځائے ته په ورتلو او هلته مونځ ختمولو سره هم څهٔ بدیت نشته (هدایه ص۱۱۸ ج ۱ رفتاوي هندیه ص۹۴ ج ۱) مسئله ۶:- که امام مسبوق لره خلیفه جوړ کړو د امام نه پاتے رکعتونه چه دے پوره کړي نو یو مُدرک به په خپل ځائے اودروي چه سلام به اوګرځوي او دغه مسبوق به خپل پاتے مونځ ځانله اوکوذاري (هدایه ص۱۱۲ ج، درمختار ص۸۶ فتاوي هندیه ص۹۵ ج ۱) مسئله ۷:- که څوک په قعده اخیره د تشهد په اندازه د کیناستو نه پس لیونے یا په غسل کښے شي یا بے قصده بے اودسه شي یا بیهوشه شي نو مونځ ئے فاسد شو چه بیا به ئے کول وي (درمختار ص۸۶ ج ۱ رد ص۴۰۵ ج ۱ مسئله ۸:- هرکله چه دا مسئلے باریکے دي او نن صبا د علم کمي ده ضرور پکښے د غلطۍ احتمال دے ځکه ښه خبره دا ده چه بنا دے نهٔ کوي بلکه په سلام ګرځولو سره دے دغه مونځ ختم کړي او د نوي سره دے ئے اوکوذاري (در و رد ص۶۴۳ ج ۱)

د سهو ځنے مسئلے

که امام دغلی آواز په مونځونو کښې په جهر یا د جهر په مونځونو کښې په غلی آواز سره قراءت اوکړی نو ورد پاره سجده سهوه کول پکار دی (ځان له مونځ کزار بانده سجده سهوه نشته محشی) البته که دا کوتاهی په دومره انداز وه چه مونځ ورسره په اصلی حالت کښې صحیح کیدے نو سجده سهو واجب نه ده دا ډیره صحیح خبره ده (درمختار وشامی ص۴۹۵ ج۱)

د مونځ د قضا کیدو مسئلے

مسئله ۱:- د یو وخت مونځ دکنړو خلقو نه قضا شو نو پکار دی چه په جمع ادا کړی که جهری وی نو قراءت دے پکښې په جهر سره لولی او که خفیه مونځ وی نو قراءت دے پکښې خفیه لولی (فتاوی هندیه ص۱۲۰) مسئله ۲: که یو نابالغ هلک د ماسختن مونځ کولو نه پس اوده شو او د صبا ختو نه پس چه را بیدار شی نو په خپلو جامو د منی اثر اووینی چه احتلام کیدل ترے معلومیږی نو د غوره قول مطابق ورد پاره پکار دی چه د ماسختن مونځ سر دوباره اوکړی او که د صبا راختو نه وړاندے ئے په رابیدارید سره دغه حالت اولیدو نو په اتفاق سره د ماسختن د مونځ قضاء به راوړی (شامی ص۴۹۳ ج۱)

د مریض ځنے مسئلے

مسئله ۱:- که یو معذور په اشارے سره رکوع او سجده کړے وی نو بیا په دغه مونځ کښې په رکوع سجده کولو قادر شو نو دغه مونځ ئے او نه شو او د نوی سره به دغه مونځ په د رکوع او سجدے سره اوکړی چه واجب دی او که په اشاره د رکوع سجدے کولو نه اول په رکوع ، سجده کولو قادر شو نو بیا به کوی او په رکوع سجدے کولو سره به مونځ جاری ساتی (دُرمختار ص۱۰۳ ج۱) مسئله ۲:- که څوک داوږد قراءت (د امام) له کبله په ولاړے ستړے شی ا په تکلیف کښې شی نو هغه د پاره دیوال ، لرګی یا اوښ ته تکیه لګول مکروه نه دی چنانچه په تراویحو کښې ضعیفانو او بوډاګانو ته اکثر دا ضرورت راپیښیږی (درمختار ص۱۰۳ ج۱ وشامی ص۵۰۰ ج۱)

د مسافر د مونځ مسئلے

مسئله ۱:- څوک چه پنځلس ورځے د تیکاوید نیت اوکړی خو په دوؤ دا سے ځایونو کښې چه دیو ځاے د بل ځاے ته نشی رسیدے (لکه مکه او منی کښې مثلاً لس ورځے په مکه کښې او پنځه ورځے په منی کښې د

تیکاوید و نیت اوکړی نو په دے صورت کښې به هغه مسافر حسابیږی (دُرّ ص۱۰۷ ج۱) مسئله ۲:- اوکه هم په دے مسئله کښې د شپې په یو ځائے کښې او د ورځې په بل ځائے کښې د تیکاوید و نیت اوکړی نو د شپې د نیت ځائے به ئے د اقامت وطن وی هلته به ورته د قصر اجازت نهٔ وی اوچرته به چه د ورځې تیکا ویږی که هغه د هغې روميی ځائے نه د سفر په مزل وی نو هلته په تلو سره به مسافر، ورنه مقیم به وی (دُرّ و شامی ص۵۲۹ ج۱) مسئله ۳:- اوکه هم په دے مسئله کښې یو ځائے بل ته دومره نزدے وی چه د یو ځائے د اذان آواز بل ځائے ته رسیږے شی نو هغه دواړه ځایونه به یو ګڼړلے شی او په دغې دواړو کښې د نجلسو[15] ورځو د تیکاوید و په اراده به مقیم وی (دُرّ ص۱۰۷ ج۱ شامی ص۵۲۹ ج۱) مسئله ۴:- د مقیم اقتداء په هرحالت کښې مسافر پسې صحیح ده که هغه اداء مونځ وی او که قضا، خو کله چه مسافر امام په دوو سلام اوګرځوی نو مقیم مقتدی دے پاسی او پاتے خپل مونځ به پوره کوی البته قراءت به پکښې ځکه نهٔ کوی چه دا لاحق دے او د امام د تابعداری په وجه په دے مقتدی باندے هم اوله قعده فرض ده، مستحب دی چه مسافر امام د خپل مونځ ختمولو نه پس مقتدیان په دے خبر کړی چه زهٔ مسافریم، زیاته غوره خبره دا ده چه د مونځ شروع کولو نه وړاندے هم د خپل مسافروالی خبر ورکړی (درمختار ص۱۰۸ ج۱، بحر ص۱۳۵ ج۲) مسئله ۵: مسافر هم د مقیم مقتدی جوړیدے شی خو په خپل وخت کښې د ننه، که څهٔ وخت تیر شی نو په صبا او ماښام کښې کولے شی خو په ماسپخین، مازیګر او ماسختن کښې نهٔ - ځکه چه کله مسافر د مقیم مقتدی جوړ شی، نو د امام په تبع به دے هم څلور رکعته کوی، د امام اوله قعده به فرض نهٔ وی او د دهٔ (مسافر) به فرض وی، نو د فرض کونکی اقتداء غیر فرض کونکی پسے شو او دا صحیح نهٔ دی (دُرّ ص۱۰۸ شامی ص۵۳) (یعنی په وختی مونځونو کښې په مسافر مقتدی هم څلور واړه رکعتونه فرض دی او په قضا مونځونو کښې دا سے نهٔ ده ځکه چه په دے کښې اوله قعده فرض ده چه اقتداء په غیر فرض (د مقیم امام) پسے راځی او دا درست نهٔ دی محشی) مسئله ۶:- څوک مسافر د مونځ په دوران کښې د اقامت نیت اوکړی (په اول یا منځ یا آخر کښې) مګر د سجده سهو یا سلام نه وړاندے دا نیت اوکړی نو دغه مونځ ورد پاره پوره اداء کول یکاردی په دے کښې

قصرجائز نهٔ دے اوکه دسجدهٔ سهو یا سلام نه پس یے نیت کړے وی نو دا به قصر مونځ وی البته که د مونځ د وخت تیرید و نه پس نیت اوکړی یا د لاحق کیدو په حالت کښے نیت اوکړی نو ددهٔ د نیت اثر به یے مونځ کښے نهٔ ښکاره کیږی اودغه مونځ که څلور رکعتیز وی نو هم قصر کول به پکښے واجب وی **مثال (۱)**: یو مسافر د ماسپخین مونځ شروع کړی دیو رکعت کولو نه پس دغه وخت تیر شو، دهغے نه پس هغه نیت د اقامت اوکړی نو دغه نیت به په دغه مونځ کښے اثر نهٔ کوی اودغه مونځ به هم د قصر کوی **مثال (۲)**: یو مسافر د بل مسافر مقتدی وو اولاحق شو بیا یے ځان له هغه تلی رکعتونه اداء کول اودغه وخت یے نیت د اقامت اوکړو نو ددغے نیت اثر به یے په مونځ هیچرے نهٔ پریوځی یعنی څلور رکعتیز مونځ به دوه رکعتیز کوی (دُر وشامی ص۸۲۲ ج۱)۔

دویرے مونځ

کله چه د دشمن ویره وی که هغه انسان دشمن وی اوکه ځناور یا څه اژدها وغیره وی اوپهٔ داسے حالت کښے ټول مسلمانان یا څنے پهٔ جمع سره مونځ نشی کولے اود سورلو د راکوځیدو څهٔ صورت هم نهٔ جوړیږی نو پکار دی چه ټول په خپلو خپلو سورلو سواره ځان ځانله مونځ کوی دغه وخت قبلے ته مخ کول هم شرط نهٔ دی البته دیو سورلئ دوه یا درے سواره په جمع مونځ کولے شی که داسے هم نشی کولے نو سخته معذوری ده مونځ دے دغه وخت نهٔ کوی کله چه دغه ویره یے ختمه شی نو بیا دے قضا مونځ اوکړی، که ټول پهٔ یو ځائے پهٔ جمع مونځ نشی کولے نو دوه ډلے دے جوړے کړے شی یوه ډله به د دشمن مخه اونیسی اوبله ډله به امام سره مونځ شروع کړی۔ نیم مونځ (یعنی دوه رکعته پهٔ څلور رکعتیز اودرے رکعتیز او یو رکعت پهٔ دوه رکعتیز مونځ کښے) امام سره اوکړی کله چه امام (پهٔ څلور رکعتیز یا درے رکعتیز مونځ کښے) دریم رکعت یا (په دوه رکعتیز مونځ کښے (دویم رکعت ته پورته شی نو دغه ډله به د دشمن مخه اونیسی اوبله ډله به راشی امام سره به پاتے مونځ اوکړی هغوئ به بیا د دشمن مخے له ورشی امام به سلام اوګرځوی فارغ به شی وړمے چه د هغه مونځ پوره شو اوهغه اوله ډله به بیا د جمع ځائے ته راشی پاتے مونځ به ځان ځانله بے قرائته څکه اداء کوی چه دوئ لاحق دی، دوئ چه سلام اوګرځوی د دشمن مخے

ته به ورشي او دويمه ډله به شوے مونځ راوګرځوي چه قراءت به وائي ولے چه دوئ مسبوق دي او سلام به اوګرځوي فارغ به شي (دُرِّمختار ص۱۱۹ ج۱، هدايه ص۱۵۷ ج۱). مسئله[۱]: د مونځ په دوران کښے د دشمن مخے ته ورتللو راتللو کښے پياده ځي به سوريدو سره ئے مونځ ماتيږي ځکه چه دا عمل کثير (ډير عمل) دے (ردالمحتار ص۵۶۹ ج۱). مسئله[۲]: د دواړو ډلو د تلو راتلو دغه بيان شوي صورت په ځائے داسے هم کول روا دي چه دويمه ډله به پاتے مونځ هم په دغه ځائے ادا کړي دوئ به مونځ ختم کړي هلته چه ورشي نو ړومبئ ډله به بيا د امام ځائے ته نه راځي بلکه هم په دغه ځائے به تير شوے مونځ په بيان شوے طريقه ادا کړي خو په دے کښے اوله بيان شوے طريقه زياته غوره او مستحب ده (ردالمحتار ص۵۶۹ ج۱) مسئله[۳]:- دا بيان شوے طريقه د هغه صورت چه ټول خلق هم يو امام پسے مونځ کول ځکه غواړي چه هغه يو نامتو بزرګ وي او هر څوک ئے د بزرګئ نه برخه اخستل غواړي ورنه زياته غوره خبره دا ده چه اول يوه ډله ټول مونځ يو امام سره او بله ډله ټول مونځ بل امام سره ادا کړي (شرح التنوير ص۱۱۹ ج۱، ردالمحتار ص۵۶۹ ج۱، بحر ص۱۶۹ ج۲) مسئله[۴]: که د دے ويرے په وجه چه دشمن زر را رسيد ونکے دے خلقو د دوو ډلو په صورت کښے مونځ اوکړو بيا دغه خيال غلط ثابت شو نو د امام مونځ خو صحيح شو خو مقتديانو له دغه مونځ دوباره کول پکار دي چه د دے کښے عمل کثير (ډير عمل) شوے دے کوم سره چه بے د سخت ضرورت نه مونځ ماتيږي (ردالمحتار ص۵۶۸ ج۱ و بحر ص۱۶۱ ج۲) مسئله[۵]:- په ناجائزه جنګ کونکو (مثلاً باغيانو) لره په دغه دوه ډلے يزه طريقه مونځ کول جائز ځکه نه دي چه دا عمل کثير دے بغير د سخت ضرورت نه ورسره مونځ ماتيږي (در ص۶۱۹ ج۱). مسئله[۶]:- د قبلے نه بل طرف ته شروع کړي مونځ کښے سمدستي قبلے ته مخ کوي کله چه دشمن په دغه وخت کښے او تښتي ورنه مونځ نه کيږي (عالمګيري ص۱۵۳ ج۱) مسئله: که څوک په تسلئ قبلے ته مونځ کوي په دے کښے پرے دشمن ناګهانه راشي نو سمدستي د دشمن اړخ ته مخ کول او قبلے نه ئے ګرځول جائز دي دغه وخت به قبلے ته مخ کول شرط پاتے نشي (دُر و شامي ص۵۶۸ ج۱) مسئله:- د درياب په لمبا کښے مشغول سړي باندے د مونځ وخت آخر شو نو پکار دي چه لږ وخت د پاره لاسونه خپے خوزول بند کړي او په اشاره مونځ اوکړي

(دُرمنا ج ۱، عالمگیری ص ج ۱) تر دے ځایه د پنځه وخته مونځونو او دهغے د متعلقاتو بیان وو، اوس د الله تعالیٰ په فضل سره چه د دے نه فارغ شو نُو د جُمعے د مونځ بیان لیکوو لے چه دا هم د اسلام د لویو نخښو ځنے یوه نخښه ده او ځکه دا ختروُنو د مونځونو نه دا وړاندے کړے شو.

دجُمعے د مونځ بیان

د مونځ نه زیات د الله تعالیٰ بل څیز خوښ نهٔ دے ځکه د دے نه زیات فضیلت او سخت تاکید پهٔ شریعت کښے د بل عبادت نهٔ دے وارد شوے، پهٔ دے وجه د الله تعالیٰ دا عبادت دخپلو بے انتها نعمتونو د شکر ادا، کولو د پاره (چه سلسله ئے دپیدا ئښت د شروع نه تر آخره وخته پورے بلکه د مرګ نه پس او د پیدا ئښت نه وړاندے هم نهٔ ختمیږی) پهٔ هره ورځ کښے پنځه وخته مقرر کړی دی او د جمعے پهٔ ورځ هرکله چه د زیات نعمتونو فیضان جاری وی چنانچه حضرت آدم علیه السلام هم پهٔ دے ورځ پیدا شوے دے لهذا پهٔ دے ورځ د یو خاص مونځ حکم اوشو او مونږه د دے نه وړاندے د جمع حکمتونه او فائدے هم بیان کړی دی او دا هم ښکاره شوی دی چه څومره جمع زیاته وی هومره ئے فائدے هم زیاتے ښکاری او دا هله کیږی چه د کلیو محلو او کلو، علاقو خلق یو ځائے ته مونځ د پاره راجمع شی، خو هره ورځ دا سے کول د سخت تکلیف باعث جوړیږی. ځکه شریعت پهٔ هفته (اوو ورځو) کښے صرف یوه ورځ دا سے اوټاکله چه پکښے د مختلفو محلو، کلو او علاقو مسلمانان پهٔ خپل منځ کښے را یو ځائے شی او دا عبادت ادا کړی، هرکله چه جمعه پهٔ ټولو ورځو کښے زیاته غوره او مبارکه ده ځکه دا او ټاکلے شوه چه پخوانو امتونو ته هم الله تعالیٰ د دے ورځے د عبادت حکم کړے وو د هغوئی بد نصیبی وه چه پهٔ دے کښے ئے اختلاف اوکړو د دغے سرکشئ پهٔ نتیجه کښے ئے دغه لویه خوش قسمتی د لاسه ورکړه الله تعالیٰ دغه خوش قسمتی ددے امت نصیب کړه، یهود دخالی ورځ ځکه اوټاکله چه پهٔ دے ورځ الله تعالیٰ د ځمکے آسمانونو او نورو مخلوقاتو د پیدا کولو نه فارغ شوے وو نصارا ؤ د اتوار ورځ ځکه مقرر کړه چه د دے نه د مخلوقاتو د پیدا کولو شروع شوے ده چنانچه اوس دغه دواړه فرقے د دے دواړو ورځو د پر سبه بند و بست کوی او ټول دنیا د کارونو پهٔ پریښودو سره پهٔ عبادت کښے مشغول پاتے کیږی او هم پهٔ دے وجه پهٔ نصرانی حکومتونو کښے د اتوار پهٔ ورځ سرکاری چوټی وی.

دجُمعې فضيلتونه

(۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه په ټولو ورځو کښې دجُمعې ورځ زیاته غوره ده هم په دې ورځ حضرت آدم علیه السلام پیدا کړې شو، جنت کښې داخل کړې شو او دجنت نه بهر هم په دې ورځ راوبَښکلې شو (چه په دې دنیا کښې د انسان دموجود والي سبب جوړ شو او دا ډیر لوئې نعمت دې) او قیامت به هم په دې ورځ واقع کیږي. (مسلم شریف) (۲) د امام احمدؒ نه منقول دي هغوئی فرمائیلي دي چه دجُمعې د شپې درجه دلیلة القدرؒ نه هم زیاته ځکه ده چه دځنې روایتونو له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمور بي بي په خېټه شوې وو او دوئ په تشریف آوري ددنیا او آخرت دبې شمیره خیرونو او برکتونو موجب شوه (اشعة اللمعات فارسي شرح مشکوٰة شریف) (۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه په جمعه کښې داسې یو ساعت دې چه په هغې مسلمانان څه دعا اوکړي نو ضرور قبلیږي (صحیحین شریفین) ددغې ساعت په باره کښې دعلماؤ مختلف قولونه دي چنانچه شیخ عبد الحق محدث دهلوي دسفر السعادة په شرح کښې څلویښت قوله نقل کړي دي خو په دې ټولو کښې ئې دوه قولونه غوره ګرځولي دي یو[1] دا چه دغه ساعت دخطبې د شروع کیدو نه د مونځ دختمیدو تر وخته پورې دې. بل[2] قول دا دې دغه ساعت د ورځې په آخر کښې دې ځکه دغه آخرنې قول ګنړو بزرګانو اختیار کړې دې او ډیر صحیح احادیث ددې تائید کوي شیخ دهلويؒ فرمائیلي دي چه دا روایت صحیح دې چه حضرت فاطمې رضه به دجُمعې په ورځ چا خادمې ته حکم ورکولو چه دجُمعې د ورځې په آخر وخت کښې ما خبر وه چه دغه وخت په ذکر او دُعا کښې مشغول شم. (اشعة اللمعات) (۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه ستاسو په ټولو ورځو کښې دجمعې ورځ زیاته غوره ده په دې ورځ به شپیلئ پوکې وهلې شي په دې ورځ په ما باندې ډیر ډیر درود لیږئ چه دا هم په دغه ورځ ما ته پیش کولې شي. صحابه کرامو رضه عرض اوکړو چه تاسو ته به دا څنګه پیش کولې شي چه ستاسو هډوکي مبارک به هم نه وي (ددې ورځې قید په حدیث شریف کښې نشته محشي) هغوئ او فرمائیل "چه الله تعالیٰ همیشه دپاره په زمکه باندې دانبیاؤ علیهم السلام بدنونه حرام کړي دي" (ابوداود شریف)

(۵) رسول الله صلی الله علیه فرمائیلي دي چه دشاهد نه مراد دجُمعې ورځ ده هیڅ ورځ دجُمعې دورځې نه زیاته بزرګه نهٔ ده، پهٔ دې کښې یو ساعت داسې دې چه پکښې الله تعالیٰ هیڅ دُعا بې قبلولو نه پرېږدي او دیوڅیز نه پناه خوک نهٔ غواړي بلکه الله تعالیٰ ورته دهغې نه پناه ورکوي (ترمذی شریف) دشاهد لفظ پهٔ سورهٔ بروج کښې را غلی دې چنانچه الله تعالیٰ ددغې ورځې قسم خوړلې دې فرمائي: وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۝ (دبرجونو والا آسمان باندې قسم (چه لوئې لوئې ستوري لري) او قسم دې د موعود (دقیامت) د ورځې او قسم دې دشاهد (دجُمعې) او مشهود (دعرفې) (۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دجمعې ورځ دټولو ورځو سرداره او دالله تعالیٰ پهٔ نزد دټولو نه زیاته بزرګه ده او ددوړوکي اولوئې اختر دورځې نه هم دالله تعالیٰ پهٔ نزد زیاته لویه ده (ابن ماجه) (۷) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه کوم مسلمان د جُمعې پهٔ ورځ یا دجُمعې پهٔ شپه مړ شي الله تعالیٰ ئې دقبر دعذاب نه پهٔ حفاظت کښې لري (ترمذی شریف) (۸) حضرت ابن عباس رض یو ځل آیت "اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ" اولوستلو هغه رض سره یو یهودي ناست وو، هغه یهودي اووئیل چه که په مونږ باندې داسې آیت نازل شوې وې نو مونږ به پهٔ هغه ورځ اختر کولو- حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل چه دا آیت پهٔ مونږ باندې ددوو اخترونو (جُمعې او عرفې) پهٔ ورځ نازل شوې دې یعنې هرکله چه دا دوه ورځې پهٔ خپله داختر دي نو داختر جوړولو ضرورت ئې څهٔ دې؟ (۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمائیل چه دجمعې شپه روښانه شپه ده او دجمعې ورځ روښانه ورځ ده (مشکوٰة شریف) (۱۰) دقیامت نه پس کله چه الله تعالیٰ جنتیان جنت او دوزخیان دوزخ ته اولیږي نو دغسې ورځې به هغلته هم وي اګرچه (عملاً) هلته شپې ورځې نشته خو الله تعالیٰ به ئې پهٔ هغې اندازه ورځې نوموي یعنې کله چه پهٔ دغه حساب دجمعې ورځ شي او د جُمعې د مانځهٔ وخت شي نو یو آواز کوونکې به آواز کوي چه اې جنتیانو! دمزید میدان ته لاړ شئ، دا میدان داسې دې چه اوږدوالې او پلنوالې ئې دالله تعالیٰ نه سوا بل هیڅوک نهٔ پیژني، هلته به دمشکو ډیرې وي چه دآسمان هومره لوړې به وي پیغمبران علیهم السلام به

د نور په ممبر باندے کبنینولے شی او مؤمنان دیا قوتو په کرسو باندے کله چه دا ټول په خپلو خپلو ځایونو کښینی الله تعالیٰ به یو هوا لیږی چه په هغے سره به د مشکو ډهیرونه مشک الوځوی او د دوئی په جامو، مخونو او ویښتو به ئے پورے کوی ، د دغے هوا کښے دا کمال دے چه د دغه مشکو پورے کولو په طریقه د هغے ښځو نه هم زیات بنه پوهیږی چا ته چه د ټولے دُنیا خوشبویانے ورکړے شی بیا به الله تعالیٰ د عرش پورته کونکو فرشتو ته حکم اوکړی چه عرش د دغے خلقو په مینځ کښے راوړی او کیږدی بیا به دغے خلقو ته الله تعالیٰ اوفرمائی چه اے په غیب باندے ایمان راوړونکو ځما بندګانو! چه زه مو نه وم لیدلے او ځما د پیغمبر تصدیق مو اوکړو او ځما د حکم تابعداری مو اوکړه اوس ما نه څه اوغواړئ دا ورځ مزید یعنی د زیات انعام کولو ورځ ده ټول خلق به په یوه خوله وائی چه اے پروردګاره! مونږه تا نه خوشحاله یو ته هم مونږ نه راضی شے الله تعالیٰ به فرمائی: اے جنتیانو که زه تاسو نه راضی نه وے نو په خپل جنت کښے به مے نه لرلئ نو څه اوغواړئ دا ورځ د مزید ده نو ټول جنتیان به په یو اتفاق سره عرض اوکړی چه اے پروردګاره! مونږ ته خپل جمال اوښایه چه ستا مقدس ذات په خپلو سترګو اوګورو نو الله تعالیٰ به پرده اوچته کړی او دغے جنتیانو نه به خپل دیدار نصیب کړی او په خپل جمال کښے به ئے اونغاړی که الله تعالیٰ ته د جنتیانو نه سوځیدل منظور نه وے نو بیشکه چه په دے نورِ الٰهی به سوځیدلی وو بیا به ورته الله تعالیٰ اوفرمائی چه خپلو خپلو ځایونو ته واپس لاړشئ چه د دغے خلقو ښکلا به د الله تعالیٰ د جمالِ حقیقی په اثر بے حسابه زیاته شوی وی چه دا خلق خپلو بیبیانو ته واپس راشی نو دوئی لره به بیبیانے نه وینی او دوئ به خپلے بیبیانے نه وینی څه شیبه پس چه د الله تعالیٰ هغه انغښتونکے جمال د دوئ نه لرے شی هله به خپل منځ کښے دوئ یو بل اووینی د دوئ بیبیانے به وائی چه د تلو په وخت چه ستا سو کوم شکل وو هغه اوس نه دے یعنی د هغے نه ډیر زیات ښه شوے دے دا خلق به جواب ورکوی چه الله تعالیٰ مونږ ته ښه په مره خپل دیدار مبارک نصیب کړو چه مونږه د هغه تعالیٰ جمال په خپلو سترګو سره اولیدلو (شرح سفر السعادت) اوګورئ د جمعے په ورځ څومره لوئے نعمت ئے جنتیانو ته ورکړو (۱۲) هره ورځ د

غرمې پهٔ وخت دوزخ تیزولے شی، مګر د جُمعې پهٔ ورځ د جُمعې پهٔ برکت سره نشی تیزولے (احیاء العلوم) (دا دواړه حدیثونه ابوداؤد را خستی دی) (۱۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه جُمعه ارشاد اوفرمائیلو: اے مسلمانانو! الله تعالیٰ دا ورځ د اختر ګرځولے ده ځکه پهٔ دے ورځ غسل کوئ چا سره چه خوشبو وی هغه دے خوشبو لګوی او مسواک پهٔ دغه ورځ لازم اوګرځوی (ابن ماجه)۔

د جُمعې آداب

(۱) هر مسلمان له د جمعې انتظام د زیارت دورځے نه کول پکار دی د زیارت پهٔ ورځ دے د مازیګر نه استغفار زیات کوی خپلے جامے دے ځان د پاره صفا اوساتی که پهٔ کور کښے خوشبو نهٔ وی نو د زیارت پهٔ ورځ دے راوړی چه د جُمعې ورځے ته دا کارونه پاتے نشی، پخوانو بزرګانو فرمائیلی دی چه د ټولو نه به زیاته د جُمعې فائده هغه چاته حاصلیږی چه د دے پهٔ انتظار کښے وی او د دے غم د زیارت د ورځے نه کوی د ټولو نه زیات بد نصیبه هغه خوک دے چه د جُمعې د ورځے پته ورته نهٔ لګی ترد چه صبا له تپوس اوکړی چه نن د څهٔ ورځ ده؟ ځنے بزرګانو خو د جُمعې د وړه انتظام کړے وو چه د جُمعې شپه به ئے پهٔ جامع مسجد کښے تیروله (احیاء العلوم) (۲) د هرے جمعې په ورځ غسل کوه دسر او بدن ویښته به صفا کوه او مسواک کول هم په دے ورځ ډیر فضیلت لری (احیاء العلوم ص۱۶۱ ج۱) (۳) د جُمعې په ورځ دے د غسل نه پس خپلے اعلیٰ جامے واغوندی خوشبوئی دے پهٔ ځان پورے کړی او نوکونه دے پرے کړی (احیاء العلوم ص۱۶۱ ج۱) (۴) جامع مسجد ته دے ډیر وختی ځی خوک چه خومره وختی ځی هغومره به ورته زیات ثواب حاصلیږی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د جمعې پهٔ ورځ د جامع مسجد پهٔ دروازه فرښتے ولاړے وی نو چه خوک رومبے جومات ته راځی د هغه نوم لیکی د ا سے درجه پهٔ درجه د راتلونکو نومونه لیکی، د ټولو نه رومبی راتلونکی ته به د اوښ د قربانئ کولو ثواب ملاویږی ورپسے د غوا قربانی کولو، ورپسے د چرګ د خیرات کولو، ورپسے د هګئ د خیرات کولو بیا چه خطبه شروع شی نو فرښتے دغه رجسټر بند کړی او پهٔ خپله هم د خطبے په آوریدو کښے مصروف شی (صحیح بخاری وصحیح مسلم) پخوا

زمانه کښې دصبا په وخت اودصبانه پس به لارے کوڅے ډکے وے ، ټول خلق به دوختی نه جامع مسجد ته تلل کنړه کونړه به وه لکه داختر دورځے په شان په دغے طریقه اوس خلقو عمل کول پریښول نوخلقو ورته اول بدعت اوویل چه په اسلام کښې پیدا شو (دلته شرعی بدعت نه بلکه لغوی بدعت مراددے چه حرام نهٔ دے) ددې دلیکلو نه پس امام غزالی رح فرمائیلی دی مسلمانانو ته د یهود اونصاراؤ نه شرم نهٔ ورځی چه هغوئی دخپل عبادت په ورځ (خالی - اتوار) خپلو عبادت خانواوکرجوته ګومره وختی ځی او دنیا دار ګومره وختی بازارونو ته دخرید،فروخت او کاروبار دپاره ځی ؟ نو ددین طلبګاردے ته ولے نهٔ راوړاندے کیږی ؟ (احیاء العلوم) حقیقت دادے چه په دے زمانه کښې ددے مبارکے ورځے خلق بےقدری کوی هغوئی ته هم دا پته نهٔ وی چه نن دڅهٔ ورځ ده او ددے مرتبه څهٔ ده ؟ افسوس دے چه کومه ورځ مسلمانانو ته داختر نه هم زیاته ده او په کومه ورځ به چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فخر کولو او پخوا نو امتونو ته دغه ورځ نهٔ وه نصیب شوے دهغے نن دمسلمانانو دلاسه بےقدری کیږی د الله تعالیٰ دورکړی نعمت په دے شان ضائع کول سخته ناشکری ده چه وبال ئے مونږه په خپلو سترګو سره وینو. اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ " (۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم به دجمعے په ورځ دصبا په مانځه کښې سورهٔ "الٓمّٓ السجده " او" هَلْ اَتٰی عَلَی الْاِنْسَانِ " (سورهٔ دهر) لوستلو ، دا سورتونه دصبا په مانځه کښې دجمعے په ورځ مستحب کنړل پکاردی چه کله ئے پریښول هم پکار دی چه دخلقو دوجوب خیال رانشی (۶) دجمعے مونځ دپاره چه پیاده ځی نو په هرقدم باندے دیوکال دروژے ساتلو ثواب ملاویږی. (ترمذی شریف) (۷) دجمعے په مونځ کښې به رسول الله صلی الله علیه وسلم سورهٔ جمعه ، سورهٔ منافقون یا " سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلٰی " او هَلْ اَتٰکَ حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ . لوستلو. (۸) دجمعے په ورځ دجمعے دمونځ نه وړاندے یا روستو دسورهٔ کهف لوستلو ډیر ثواب دے ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه دجمعے په ورځ څوک سورهٔ کهف لولی هغه دپاره دعرش لاندے دآسمان هومره لوړ یو نور به بنکاره کیږی چه دقیامت په تیاره کښې به ددهٔ پکار راځی او د

تېرې شوې جمعې نه تر دغې جمعې پورې چه څومره گناهونه دي نه شوی وي هغه به معاف شي (شرح سفرالسعادت) علماؤ رحه لیکلي دي چه په دې حديث کښې واړه گناهونه مراد دي ولې چه لوئې گناهونه بې توبې نه معاف کيږي. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَهُوَ اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ. (۹) دجمعې په ورځ د درود شريف لوستو ثواب د نورو ورځو په نسبت زيات ملاويږي، ځکه په حديث شريف کښې راغلي دي چه دجمعې په ورځ درود شريف زيات لولئ.

دجمعې دمونځ فضيلت او تاکيد

دجمعې مونځ فرض عين دې، په قرآن، حديث متواتره او اجماع امت سره ثابت دې د اسلام په ډيرو لويو نخښو (شعائرو) کښې داخل دې د دې منکر کافر او بې عذره پريښودونکې ئې فاسق دې (۱) الله تعالیٰ فرمائي: يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ط ترجمه:- اې د ايمان خاوندانو کله چه دجمعې دپاره اذان اوشي نو تاسو دالله تعالیٰ د ذکر دپاره ورمنډه کوئ او خريد و فروخت پرېږدئ داستاسو دپاره زيات غوره دی که پوهيږئ. په دې آيت شريف کښې دذکر نه مراد دجمعې مونځ او د دې خطبه ده د منډې نه مراد په ښه شان او شوکت سره تلل دي (۲) رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي چه څوک څېل وس او توفيق مطابق پاکي او غسل اوکړي په ويښتو باندې تيل اولګوي او خوشبوئي په ځان پورې کړي جومات ته مانځه له راشي څوک دځېل ځائې نه نه پاڅوي چه دې د هغه په ځائې کښيني بيا دځېل وس په جوړ نفل اوکړي امام چه خطبه شروع کړي دې ورنه چپ کښيني نو د تيرې جمعې نه به تر دې جمعې پورې گناهونه ئې معاف شي (صحيح بخاری شريف) (په يو بل حديث شريف کښې راغلي دي چه کله امام دخطبې دپاره په منبر کښيني نو دغه وخت نه مونځ او کلام کول جائز نه دي او هم دا د امام اعظم رح مذهب دې. محشي) (۳) رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: څوک چه دجمعې په ورځ په ښه شان غسل اوکړي او وختي جومات ته پياده لاړشي بيا خطبه آوري او په دې دوران څه عبث کار نه کوي نو دۀ ته به د هر قدم په بدل کښې د يو کامل کال دعبادت ثواب حاصليږي يعني د روژو او دمونځونو

دوا بره (ثواب) به ورته حاصلیږي) (ترمذي شریف) (۴) ابن عمر رض او ابوهریره رضي الله تعالیٰ عنهما فرمائیلي دي چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ا فرمائیل واوریدل چه خلق دے د جمعے د مونځ پریښودو نه منع شي ګني نو الله تعالیٰ به د هغوئ په زړونو باندے مهر لګوي چه بیا به په سخت غفلت کښے ګرفتار شي (۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه څوک درے جمعے په سستئ سره بے عذره پریږدي د هغه په زړه باندے الله تعالیٰ مهر لګوي (ترمذي شریف) او په یو روایت کښے دي چه الله تعالیٰ د هغه نه ویزاره شي (۶) طارق بن شهاب رضي الله تعالیٰ عنه فرمائیلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د جمعے د مانځه جمع په هر مسلمان باندے واجب حق دے سوا د څلور قسمه خلقونه ۱ـ د مریی (شرعي) ۲ـ ښځے ۳ـ نابالغ هلک ۴ـ او رنځورنه (ابوداؤد شریف) (۷) د حضرت عمر رض په روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: ځما پخه اراده شوه چه په خپل ځائے د جمعے د امامت د پاره بل څوک مقرر کړم او په خپله د هغه خلقو کورونو سوځولو د پاره لاړ شم چه جمعے ته نه وي حاضر شوي (صحیح مسلم شریف) د اسے یو مضمون د عالے جمع پریښودو په باره کښے هم وارد شوے دے چه مونږ ۱ دے نه وړاندے په خپل ځائے کښے لیکلے دے (۸) ابن عباس رض فرمائیلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: بے ضرورته د جمعے مونځ پریښودونکے منافق لیکلے شي په داسے کتاب کښے چه د بدلون وغیره نه محفوظ دے (مشکوٰة شریف) یعنی د هغه د نفاق حکم به همیشه پاتے کیږي البته که توبه اوکړي یا په خپل فضل سره دے الله تعالیٰ ورته معاف کړي نو هغه بله خبره ده (۹) د حضرت جابر رض په روایت رسول الله صلی علیه وسلم اوفرمائیل: "څوک چه په الله تعالیٰ او د قیامت په ورځ ایمان لري هغه لره د جمعے د ورځے مونځ کول ضروري دي مګر رنځور، مسافر، ښځے، هلک او غلام لره (ضروري نه دي) نو که څوک په عبث کار یا تجارت کښے مشغول شي نو الله تعالیٰ ترے هم مخ اړوي چه هغه بے نیازه او ستائیلے شوے دے (مشکوٰة شریف) (یعني الله تعالیٰ د چا د عبادت څۀ پروا نه لري او نه ورته پکښے څۀ فائده شته) د هغه ذات په ټولو صفتونو کښے پوره دے څوک د هغه ثنا او صفت بیانوي او که نه. (۱۰) د ابن عباس رض نه روایت

شوی دی چه وې فرمائیل: چا چه په مخه څو جُمعې پریښوې نو هغه اسلام شاته اوغورځولو (اشعة اللمعات) (۱) حضرت ابن عباس رض نه چا تپوس اوکړو چه یو سړې په داسې حالت کښې مړ شو چه په جُمعه او جمع کښې به نهٔ حاضر یدو دهغه په باره کښې تاسو څهٔ وایئ؟ حضرت رض جواب ورکړو چه هغه په دوزخ کښې دې. بیا به هم دغه سړې په مخه پهٔ یوه میاشت دا سوال کولو او هم دا جواب به ورته ملاوید و (احیاء العلوم) په دې احادیثو چه سرسری نظر واچولی شی نو دا نتیجه ترې پهٔ ښهٔ شان راوځی چه دجُمع دمونځ سخت تاکید پهٔ شریعت کښې دې او ددې پریښودونکو ته سخت سخت وینا وعید (دړکې) ورکړې شوی دی آیا داسلام څوک دعوید ار به هم د فرض پریښودو ته تیار شی؟

دجمعې دمونځ ادا کولو طریقه

دجمعې د ړومبی اذان نه پس او د خطبې داذان نه ړومبې څلور رکعاته سنت مؤکده به ادا کوی بیا به دوه رکعته فرض دجُمع امام پسې ادا کوی بیا به څلور رکعته سنت مؤکده ادا کوی بیا به دوه رکعته سنت ادا کوی چه دبعضو پهٔ نزد سنت مؤکده دی.

دجمعې دمونځ دواجب کیدو شرطونه

(۱) مقیم کیدل یعنی پهٔ مسافر باندې جمعه واجب نهٔ ده (۲) روغوالې، پهٔ ناروغه باندې جمُعه واجب نهٔ ده، یعنی داسې رنځوروی چه جامع مسجد پورې پیاده نشی تلې، که دا دکمزوری یا بوډاتوب پهٔ وجه وی نو هم به ناروغ حسابیږی او دجُمعې مونځ به پرې واجب نهٔ وی (۳) آزاد والې، یعنی پهٔ غلام (مریی) باندې جُمعه واجب نهٔ ده (۴) نر والې، یعنی پهٔ ښځه باندې جُمعه واجب نهٔ ده (۵) مخکښې بیان شوی عذرونه دجمع پریښو چه یکښې نهٔ وی، که هغه یکښې وو، نو دجُمعې مونځ پرې نه واجبیږی مثال (۱) سخت باران وریږی (۲) دیو رنځور خدمت کښې مشغول وی (۳) جومات ته پهٔ تلو کښې دچا دشمن ویره وی (۴) او دمونځ دوا جب کیدو کوم شرطونه چه پهٔ خپله موقعه بیان شوی دی هغه هم په دې کښې معتبر دی یعنی عاقل کیدل، بالغ والې، مسلمان کیدل، دا ټول شرطونه دجُمعې د مونځ واجبیدو دپاره دی که څوک ددې شرطونو

د نیشتوالی باوجود د جُمعے مونځ ادا، کړی نو ذمه به ئے فارغه شی یعنی د ماسپخین مونځ ئے اداء کړو مثلاً چه مسافر یا ښځه د جُمعے مونځ اوکړی (طحطاوی ص۲۹۲، دُرو شامی ص۸۵۳ ج۱)

دجُمعے د مونځ د صحیح کیدو شرطونه

په دے باره کښے رساله: الظهر فی القری، القول البدیع احسن القری " اوګورئ چه کافی ذخیره پکښے راجمع ده (۱) مصر یعنی ښار یا لوئے کلے، نو په وړوکی کلی یا بانډه کښے د جُمعے مونځ درست نه دے خو کوم کلی کښے چه د درے (۳) زرو خلقو بنیا د موآبادی وی هلته جمع اداء کول درست دی (۲) د ماسپخین وخت: چه د ماسپخین وخت اوځی یا د ماسپخین وخت نهٔ وی داخل شوے نو د جُمعے مونځ نهٔ کیږی مطلب دا چه د مونځ ادا، کولو په دوران کښے چه د ماسپخین وخت اوځی نو مونځ به ئے مات شی اګرچه د تشهد په اندازه ئے قعده آخره هم کړی وی او د دے دوجے د جُمعے د مونځ قضا نشته (۳) خطبه: یعنی د خلقو په وړاندے د الله تعالیٰ ذکر کول خواه سُبْحَانَ اللهِ یا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لوویلے شی اګرچه صرف دومره قدر دے ویل مکروه حُکه دی چه د سنت طریقے نه خلاف دی (۴) خطبه د مونځ نه وړاندے ویل یعنی د مونځ نه پس خطبے لوستو سره د جُمعے مونځ اونشو (۵) خطبه د ماسپخین په وخت کښے ویل یعنی د ماسپخین د وخت داخلیدو نه وړاندے په خطبے ویلو سره هم د جُمعے مونځ اونهٔ شو (۶) جمع: یعنی د امام نه سوا کم نا کم د دریو سړو جمع کیدل چه د خطبے د شروع کیدو د وخت نه د اول رکعت تر سجدے پورے موجود وی خواه هم دغه درے سړی په مخه ورسره موجود وی یا په دے دوران کښے بدل درے کسان راشی خو شرط دا دے چه دغه درے واړه مقتدیان ئے د امامت کولو اهل هم وی یعنی که دغه صرف ښځے یا نابالغ هلکان وی نو مونځ اونهٔ شو (۷) که د سجدے کولو (د وومبی رکعت) نه په دغے دریو مقتدیانو کښے کم راغلو یا هیڅوک په امام پسے پاتے نهٔ شو نو مونځ ئے مات شو البته که سجدے پوره کولو نه پس دغسے اوشو نو څهٔ باک ئے نشته یعنی د جُمعے مونځ (د امام) اوشو (۸) په عام اجازت سره په جاره د جُمعے مونځ کول یعنی په پټ ځائے کښے (په پټه) د جُمعے مونځ کول درست نهٔ دی مطلب دا دے په داسے ځائے کښے د جُمعے مونځ کول چرته چه د عامو خلقو د راتلو اجازت

نهٔ وی یا دجُمعې پهٔ وخت دجومات دروازې بندې کړې شي نو مونځ نهٔ کیږي که دې بیان شوی شرطونو کښې یو هم کم یا نیشت وو نو دجُمعې مونځ ئې نهٔ دې شوې، دماسپخین مونځ به کوي، پهٔ دغې لحاظ به دغه دجُمعې مونځ (چه نهٔ دې شوې) نفل شي خو نفل داسې پهٔ انتظام او جمع سره کول مکروه تحریمي دي (درمختار ص۱۱۱ و ۱۱۳ ج وشامي ص۵۲۶ ج ۱)

دجُمعې دخطبې مسئلې

مسئله:- چه ټول خلق جمع ته راشي نو امام به پهٔ منبر کښینی او مؤذن به ورته مخامخ پهٔ مخامخ اذان اوکړي بیا به امام سمدستي پاسي او پهٔ ولاړې به خطبه شروع کړي (درمختار ص۱۱۳ و ۱۱۴ ج ۱ و بحر الرائق ص۱۵۷ ج ۱) پهٔ خطبه کښې دولس[۱۲] څیزونه مسنون دي (۱) خطبه پهٔ ولاړه ویل (۲) دوه خطبې ویل (۳) ددواړو خطبو ترمینځه دومره وخت کینا ستل چه درې ځل سبحان الله پکښې ویلې شي (۴) ددواړو حدثونو (ناپاکیانو) نه پاکیدل (۵) دخطبې لوستلو پهٔ وخت کښې خلقو ته مخ کول (۶) دخطبې شروع کولو نه وړاندې پهٔ خپل زړه کښې اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ، ویل (۷) پهٔ داسې آواز کښې خطبه لوستل چه خلق ئې اوري (۸) پهٔ خطبه کښې ددې اَتو قسمونو موجودګي دالله تعالیٰ شکر او دهغه تعریف دالله تعالیٰ دیووالی او درسول الله صلی الله علیه وسلم دپیغمبرۍ ګواهي، پهٔ رسُول الله صلی الله علیه وسلم باندې درود شریف ویل، وعظ ونصیحت، دقرآن کریم دآیتونو یا دیو سورت لوستل پهٔ دوېمه خطبه کښې بیا دا اته واړه څیزونه دوباره کول پهٔ دوېمه خطبه کښې دوعظ ونصیحت پهٔ ځائې مسلمانانو دپاره دعا کول دې نه علاوه دا څیزونه هم پهٔ خطبه کښې مسنون دي (۹) خطبه زیاته نهٔ اوږدول بلکه دمونځ نه ئې کم لرل (۱۰) خطبه پهٔ منبر باندې لوستل، که منبر نهٔ وي نو پهٔ یوه همسا باندې تیک لګول او دمنبر پهٔ موجودګۍ کښې پهٔ یوې همسا باندې لاس ایښې لرل او دیو لاس پهٔ بل لاس باندې ایښول لکه چه څنې خلقو حُمونږه پهٔ زمانه کښې عادت جوړ کړې منقول نهٔ دي (دامداد الفتاوی مبوب جلد اول ص۴۳۵ مطابق مولانا تهانوی پخپله فرمائیلي دي چه پهٔ درمختار کښې دا مکروه بللې شوې دې خو چه تحقیق اوشو نو پهٔ رد المحتار ص۵۸۲ ج ۱ دابی داؤد او دمحیط روایتونو لمخه دا سنت طریقه ثابته شوې ده والله اعلم) (۱۱) ددواړو خطبو پهٔ عربي کښې لوستل. خو پهٔ بله ژبه کښې ئې لوستل یا دې سره دبلې ژبې

څهٔ اشعار وغیره یوځای کول سنت مؤکده نه خلاف او مکروه تحریمی دی (ددې دپاره رساله تحقیق الخطبه اوګورئ چه تفصیل ئې لیکلې شته دفقهې عبارتونو تفصیل په امداد الفتاوی مبوب جلد اول ص ۲۱۵و۲۱۶ کښې هم اوګورئ) (۱۲) دخطبې اورید ونکو مخ په قبله کیناستل (بحر ص ۱۴۷ ج ۲ فتاوی هندیه ص ۱۴۷ ج ۱ عالمګیری ص ۱۴۵ ج ۱) په دویمه خطبه کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په آل، اصحابو رض او ازواجو مطهراتو رض خصوصًا خلفائے راشدینو او حضرت حمزه او حضرت عباس رض دپاره دعا کول مستحب دی د اسلام بادشاه دپاره هم دعا کول جائز دی مګر غلط تعریف ئې کول مکروه تحریمی دی (بحر ص ۱۴۷ ج ۱ فتاوی هندیه ص ۱۴۳ ج ۱) **مسئله۳:** کله چه امام خطبې دپاره پاسی د دغې وخت نه څهٔ مونځ کول یا یو بل سره خبرې کول مکروه تحریمی دی البته صاحب ترتیب دپاره قضا مونځ کول دغه وخت هم جائز بلکه واجب دی د اخیزونه دخطبې ترختمید وپورې ممنوع دی (دُر ص ۱۱۳ ج ۱ و بحر ص ۱۵۵ ج ۲) **مسئله۴:** کله چه خطبه شروع شی نو ټولو حاضرینو لره ددې اورېدل واجب دی که امام سره نزدې ناست وی یا لرې او په اورید وکښې بند یزراوستونکې څیزونه مکروه تحریمی او خوراک څکاک، خبرې اترې کول، ګرځیدل راګرځیدل سلام کول یاد سلام جواب ورکول یا تسبیح لوستل یا چاته څه شرعی مسئله ښودل څنګه چه دمونځ په حالت کښې منع دی دغه وخت هم منع دی البته خطیب دخطبې په دوران کښې شرعی مسئله چاته ښودلې شی (در وشامی ص ۱۱۱و۱۱۴ ج ۱ وبحر ص ۱۵۵ ج ۲) **مسئله۵:** که دسنتو او نفلو اداء کولو په وخت کښې خطبه شروع شی نو غوره خبره دا ده چه سنت مؤکده پوره کړی او د نفلو په دوو رکعتونو سلام اوګرځوی (دُر ص ۱۱۳ ج ۱ وبحر ص ۱۵۵ ج ۲) **مسئله۶:** د دواړو خطبو ترمنځه د امام دکیناستو په دوران کښې امام او مقتدیانو دواړو دپاره په لاسونو پورته کولو سره دعا غوښتل مکروه تحریمی دی البته بې د لاسو پورته کولو نه په زړهٔ کښې د دعا کولو څهٔ باک نشته، لیکن د اصحابو کرامو رض او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا منقول نهٔ دی د رمضان شریف د آخری جُمعې په خطبه کښې د وداع او فراق مضمونو لوستل بدعت حُکه دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابو کرامو رض نه منقول نهٔ دی د فقهې په کتابونو کښې هم د دې څه پته نشته چه همیشه دپاره دا سې کیږی نو عوام ئې ضروری

کنړی ځکه بدعت دی (رد المحتار ص۵۵۴ ج ۱).

تنبیه دغسې قسم خطبه ځمونږ په زمانه کښې ډیر ضروری گنړلے شی ددے آورېدل هم ضروری گنړلے شی چه خوك خطیب ئے نهٔ وائی نو هغهٔ ته په بد نظر کتلے شی (روح الاخوان)

مسئله: دغهٔ کتاب نه خطبه لوستل هم جائز دی **مسئله**: په خطبه کښې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم مبارك راشی نو مقتدیانو لره په زړهٔ کښې درود شریف وئیل جائز دی (بحر ص۱۵۶ ج۱ درص۱۱۳ ج ۱)

د رسول الله صلے الله علیه وسلم د جُمعے د ورځے خطبه ددے خُطبے د نقل کولو غرض

دا نهٔ دے چه خلق دے هم دا ولی بلکه مطلب دا دے چه کله کله دے تبرّك او دتابعداریٔ په غرض دا هم لولی، عادت شریف ئے دا وو چه ټول خلق به راجمع شو نو دغه وخت به ئے تشریف راوړو او حاضرینو ته به ئے سلام کولو، حضرت بلال رض به اذان کولو چه اذان به ختم شو نو هغوئ ؈ به پورته شو او سمد ستی به ئے خطبه شروع کوله ترڅو چه منبر جوړ شوے نهٔ وو نو په کمان (لینده) یا همسا باندے به ئے تکیه لکوله او کله به ئے په هغے ستنے (د لرګی) باندے تیک لګولو چه محراب سره جُخته وه چرته به چه هغوئ ؈ خطبه وئیله کله چه منبر جوړ شو نو په څه لرګی وغیرهٔ باندے ئے تیک لګول منقول نهٔ دی دوه خطبے به ئے وئیلے او د دواړو ترمنځه به څه وخت د پساره کیناستل او دغه وخت به ئے هیڅ قسم خبرے نهٔ کولے او نه به ئے دُعا غوښتله چه د دوېمے خطبے نه به فارغ شو نو حضرت بلال رض به اقامت اوکړو او هغوئ ؈ به مونځ شروع کولو د خطبے لوستلو په وخت به د رسول الله صلی الله علیه وسلم آواز مبارك پورته شو او سترګے مبارکے به ئے سرے شوے، د مسلم شریف په روایت کښے راغلی دی چه د خُطبے وئیلو په وخت به د هغوئ ؈ حالت داسے وو لکه چه څوك دیو د شمن د لښکر نه خپل خلق خبروی غواړی کوم لښکر چه نزدے رارسیدلے وی، اکثر به ئے خطبه کښے فرمائیل چه بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ.

(زهٔ او قیامت داسے (نزدے نزدے) لیږلے شوی یو لکه دا دوه ګوتے (مسواکه او منځه ګوته مبارکه به ئے یوځائے کړه او بیا به ئے فرمائیل:

اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللّٰهِ وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ وَّشَرَّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ اَنَا اَوْلٰى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِّنْ نَّفْسِهٖ مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِاَهْلِهٖ وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا اَوْضِيَاعًا فَعَلَيَّ. کله به ئې دا خطبه وئیله: يَا اَيُّهَا النَّاسُ تُوْبُوْا قَبْلَ اَنْ تَمُوْتُوْا وَبَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ الصَّالِحَةِ وَصِلُوْا الَّذِيْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ رَبِّكُمْ بِكَثْرَةِ ذِكْرِكُمْ لَهٗ وَكَثْرَةِ الصَّدَقَةِ بِالسِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ تُؤْجَرُوْا وَتُحْمَدُوْا وَتُرْزَقُوْا وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْكُمُ الْجُمُعَةَ مَكْتُوْبَةً فِيْ مَقَامِيْ هٰذَا فِيْ شَهْرِيْ هٰذَا فِيْ عَامِيْ هٰذَا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ وَجَدَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا فَمَنْ تَرَكَهَا فِيْ حَيَاتِيْ اَوْ بَعْدِيْ جُحُوْدًا بِهَا وَاسْتِخْفَافًا بِهَا وَلَهٗ اِمَامٌ جَائِرٌ اَوْ عَادِلٌ فَلَا جَمَعَ اللّٰهُ شَمْلَهٗ وَلَا بَارَكَ لَهٗ فِيْ اَمْرِهٖ اَلَا وَلَا صَلٰوةَ لَهٗ اَلَا وَلَا صَوْمَ لَهٗ اَلَا وَلَا زَكٰوةَ لَهٗ اَلَا وَلَا حَجَّ لَهٗ اَلَا وَلَا بِرَّ لَهٗ حَتّٰى يَتُوْبَ فَاِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ اَلَا لَا تَؤُمَّنَّ اِمْرَاَةٌ رَجُلًا اَلَا وَلَا يَؤُمَّنَّ اَعْرَابِيٌّ مُهَاجِرًا اَلَا وَلَا يَؤُمَّنَّ فَاجِرٌ مُؤْمِنًا اِلَّا اَنْ يَّقْهَرَهٗ سُلْطَانٌ يَّخَافُ سَيْفَهٗ وَسَوْطَهٗ (ابن ماجه)

او کله به ئې د حمد او صلوٰة نه پس دا خطبه لوستله اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَرْسَلَهٗ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ رَشَدَ وَاهْتَدٰى وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَاِنَّهٗ لَا يَضُرُّ اِلَّا نَفْسَهٗ وَلَا يَضُرُّ اللّٰهَ شَيْئًا. یو صحابی رض فرمائیلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به سورة قٓ اکثر په خطبه کښې لوستلو ترد ے چه ما سورة قٓ هم دهغې نه یاد کړو او کله به ئې سورة عصر او کله به ئې: لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ او کله: وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ط لوستلو (بحر ص۱۴۷ ج۲ وص۱۴۸ ج۲)

د مونځ مسئلې

مسئله:- بنه خبره دا ده چه هم خطبه ورکونکے دے د جمعې جمع ورکړي که بیل بیل کس ئې اوکړي نو هم جائز دی (ص۱۱۳ ج۱) **مسئله**:- په ختمید و سره سمدستی اقامت کړا! او مونځ شروع کول مسنون دی د خطبې او مونځ په منځ کښې څه

دنیوی کار کول مکروه تحریمی دی که په منځ کښې یې وقفه زیاته اوشی نو دخطبې دوباره کول ضروری دی، البته که په څه دینی کار کښې مشغول شی چا ته څه شرعی مسئله اوښائی یا ئې اودس پاتې نشی او اودس کولو دپاره لاړ شی یا دخطبې نه پس ورته معلومه شوچه دغسل کولو ضرورت ئې دے اوغسل له لاړ شی نو څه مکروه هوا لے نشته او خطبه دوباره کول ضروری نه دی (درمختار وشامی ص۵۵۴ ج۱) **مسئله ۳:** نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ رَكْعَتَيِ الْفَرْضِ صَلٰوةَ الْجُمُعَةِ۔ (نیت مې کړے دے چه دجمعې دوه رکعته فرض مونځ ادا کړم) **مسئله ۴:** زیاته غوره خبره دا ده چه دجمعې مونځ د یو مقام په یو جومات کښې ټول خلق په جمع مونځ اوکړی اګرچه دد غې مقام په ګڼرو جوماتونو کښې ځان ځانله مونځ کول هم جائز دی (درص۱۲ ج۱، بحر ص۱۴۲ ج۱، ردص۵۴۱ ج۱، کبیری ص۵۱۲) **مسئله ۵:** که څوک مسبوق په قعده آخره کښې دالتحیات لوستو په وخت یا دسجده سهو نه پس امام سره یو ځائې شی نو هغه شریکیدل صحیح شو یعنی دجمعې مونځ به پوره کړی او دماسپخین مونځ کولو ته ئې ضرورت نشته (هدایه ص۱۵۰ ج۱ درص۱۱۳ ج۱ رد ص۵۵۰ ج۱) **مسئله ۶:** ځنې خلق دجمعې دفرضونه پس دماسپخین احتیاطی مونځ کوی هرکله چه دعوامو اعتقاد په دے سره ډیره خرابه شوے دے ځکه ئې منع کول پکار دی اوکه څوک عالِم ئې دشبهې په موقع کول غواړی نو په هغې دے څوک نه خبروی (بحر ص۱۴۳ ج۱ ورد ص۵۴۲)

ددواړو اخترونو دمونځ بیان

مسئله ۱: درمضان دمیاشتې په ختمیدو وروستے دشوال دمیاشتې پرمبی نیټې ته عید الفطر (وړوکے اختر) وئیلے شی او دذی الحجې دمیاشتې لسمې نیټې ته عید الاضحیٰ (لوئې اختر) وئیلے شی، دا دواړه ورځې په اسلام کښې داختر او خوشحالئ ورځې دی ځکه په دے دواړو ورځو کښې دوه دوه رکعته مونځ دشکرئې په دول کول واجب دی، دجمعې دمونځ دصحیح والی او وجوب دپاره کوم شرطونه چه وړاندے ذکر شوی دی هغه ټول ددواړو اخترونو په مونځونو کښې هم دی سوا دخطبې نه چه دا دجمعې دمانځه دپاره فرض او شرط ده چه دجمعې دمانځه نه وړاندے ورکولے شی او داختر دورځې خطبه فرض نه، بلکه سنت ده او دمونځ نه پس لوستلے شی (درص۱۱۱ ج۱، هدایه ص۱۵ ج۱، بحر ص۱۵۷ ج۲) خو اوریدل ددواړو قسمو (دجمعې او اخترونو) خطبې واجب دی (درص۱۱۳ ج۱)

وشرح التنویر ص۱۱۶ ج۱، هدایه ص۱۵۴ ج۱، بحر ص۱۶۲ ج۱). د ورکی اختر عید الفطر په ورځ دیارلس۱۳ خیزونه مسنون دی (۱) د شریعت په جوړ خان جوړول (۲) غسل کول (۳) مسواک کول (۴) ورسره موجود ے اعلی جامے اغوستل (۵) خوشبوئی لګول (۶) د صبا په وخت ډیر وختی راپورته کیدل (۷) عیدګاه ته ډیر وختی تلل (۸) عیدګاه ته د تلونه وړاندے څه خوږ خیز لکه چوهارے وغیره خوړل (۹) عیدګاه ته تلو نه وړاندے فطرانه (سرسایه) ورکول (۱۰) د اختر مونځ په عیدګاه کښے کول او بے عذره ئے د ښار، کلی په جومات کښے نه کول (۱۱) په بیلے بیلے لارے تلل او واپس راتلل (۱۲) پیاده تلل او په لاره کښے "اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ" په رو آواز سره د تلو په دوران کښے وئیل (بحر الرائق ص۱۵۹ ج۱، در ص۱۱۲ ج۱) **مسئله:**[۲] د ورکی اختر د مونځ کولو طریقه دا ده چه نیت داسے اوکړی: نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ رَكْعَتَيِ الْوَاجِبِ صَلٰوةَ عِيْدِ الْفِطْرِ مَعَ سِتِّ تَكْبِيْرَاتٍ وَاجِبَةٍ اِقْتَدَيْتُ بِهٰذَا الْاِمَامِ مُتَوَجِّهًا اِلٰى جِهَةِ الْكَعْبَةِ الشَّرِيْفَةِ (نیت م اوکړو د دوو رکعا تو واجبو ادا، کولو سره د شپږو واجبو تکبیرو نو مونځ م د کعبے شریفے په لور کړو) اَللّٰهُ اَكْبَرُ د نیت کولو نه پس به لاسونه او تړی سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ به تر وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ پورے اولولی ورپسے به د۳رے زیاتی تکبیرونه (چه واجب دی) اوکړی او غوږونو ته به لاسونه پورته کوی او لاسونه به زوړند لری، د دریم تکبیر نه پس به لاسونه او تړی خو هر تکبیر نه پس به دومره ایسا ریږی چه پکښے درے کرته سُبْحَانَ اللّٰهِ وئیلے شی لاسونه تړلو نه پس به مقتدیان چپ ولاړ وی او امام به اَعُوْذُ بِاللّٰهِ او بِسْمِ اللّٰهِ وئیلو نه پس د ا رکعت د نورو مونځونو په شان پوره کړی او دویم رکعت ته به اودریږی د نورو مونځونو په شان چه اَلْحَمْدُ نه پس سورة هم ختم کړی نو د۳رے تکبیرونه به لکه د ړومبی رکعت پشان وائی او لاسونه به پورته کوی خو د دریم تکبیر سره پورته کولو نه پس به هم لاسونه ښکته وی څلورم تکبیر سره به لاسونه نهٔ پورته کوی او رکوع ته به لاړ شی او مونځ به لکه د عام مونځونو پشان ختم کړی (مراقی الفلاح بحاشیه طحطاوی ص۳۰۹، در ص۱۱۶) **مسئله:**[۳] د مونځ نه پس به دوه خطبے د جمعے د خطبو په طریقه اولولی. **مسئله:**[۴] د اخترونو د مونځونو (یا خطبو) نه پس دعا غوښتل اګرچه د رسول اللّٰه

صلی الله علیه وسلم او د هغوئ د صحابو کرامو، تابعینو او تبع تابعینو نه منقول نهٔ وی، خو چونکه د هر مونځ نه پس دعا غوښتل مسنون دی نو حُکه به د لته هم دعا غوښتل مسنون وی (ق) **مسئله:-** د اخترونو پهٔ خطبه کښې به شروع د تکبیر نه کوی پهٔ اوله خطبه کښې نهٔ او پهٔ دویمه خطبه کښې اووه ځله به تکبیر وائی (شرح التنویر صـ۱۱۶ ج۱، بحر صـ۱۶۲ ج۱)

مسئله:- د عید الاضحٰی (لوئ اختر) د مونځ طریقه هم د وړوکی اختر د مونځ پهٔ شان ده هم دغه پشان خیزونه پکښې مسنون دی، خو فرق صرف دومره قدرې دې چه پهٔ نیت کښې به د عید الفطر (وړوکی اختر) پهٔ ځائې د عید الاضحٰی (لوئ اختر) تکې وائی. پهٔ عید الفطر کښې عیدګاه ته تلو نه مخکښې څهٔ خوږ خیز خوړل مسنون دی او پهٔ لوئ اختر کښې نهٔ پهٔ وړوکی اختر کښې پهٔ لاره د تلو پهٔ وخت پهٔ پټه تکبیرونه لوستل مسنون دی او پهٔ لوئ اختر کښې پهٔ جهر سره. د وړوکی اختر مونځ لږ پهٔ ډیل سره کول مسنون دی او پهٔ لوئ اختر کښې لږ وختی، پهٔ وړوکی اختر کښې فطرانه ورکول دی (د اختر د مونځ نه وړاندې) او د لته د اختر د مونځ نه روستو قربانی کول دی اذان او اقامت کول د دواړو اخترونو پهٔ مونځونو کښې نشته (بحر الرائق صـ۱۶۰ و ۱۶۳ ج او د رصـ۱۱۲ ج۱ ورد صـ۵۵۹ ج او در و شامی صـ۳۹۹ ج۱) **مسئله:-** چرته چه د اختر مونځ کیږی هلته بل (نفل) مونځ کول مکروه دی (د مونځ نه وړاندې روستو) البته پس د مونځ نه پهٔ کور کښې کول مکروه نهٔ دی خو اول د ماښځه (د اختر) نه پهٔ کور کښې کول مکروه دی **مسئله:** ښځو او نورو داسې خلقو (نارینه وُ) لره چه د اختر مونځ نه عیدګاه ته نشی تلې هغوئ لره پهٔ کور کښې د اختر د مونځ نه وړاندې نفل وغیره کول مکروه دی (در و رد صـ۵۵۷ ج وبحر صـ۱۷۰ ج۲) **مسئله:-** د وړوکی اختر په خطبه کښې د صدقهٔ فطر (سرسائې) احکام او د لوئ اختر پهٔ خطبه کښې د قربانئ مسئلې او د تشریق د تکبیرونو احکام بیانول پکار دی (در مختار صـ۱۱۶ ج۱) چه هر فرض عین مونځ نه پس یو ځل ویئل ئې واجب دی، کوم چه پهٔ جمعې سره اداء کړې شوې وی (در صـ۱۱۲ و ۱۱۷ ج۱ وبحر صـ۱۶۴ ج۱) تکبیر داسې دې: اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ. او هغه د مصر (ښار) مقام وی (دا د امام صاحب قول دې) خو د صاحبینو پهٔ نزد پهٔ کلو کښې هم ویئلې شی فتوٰی د صاحبینو په قول ده. بحر الرائق صـ۱۶۶ ج۲). دا تکبیرونه پهٔ ښځو او مسافرو باندې

واجب نهٔ دی دا تکبیرونه دهغه چا پهٔ مقتدی یا نو هم واجب دی پهٔ کوم امام چه پهٔ خپله واجب دی خو که ځان له مونځ کزار، ښځې او مسافر ئے هم او وائی نو ډیره ښه خبره ځکه ده چه د صاحبینو رح پهٔ نزد پهٔ دوی باندې هم واجب دی. مسئله ۱۰:- دا تکبیرونه د عرفې د ورځې د صبا نه پس تر دیارلسمې نیټې د لوئے اختر د میاشتې پورې واجب دی چه ټول درویشت مونځونه جوړیږی (بحر ص ۱۶۵ ج ۱) مسئله ۱۱:- دا تکبیرونه پهٔ لوړ آواز سره ویل واجب دی البته ښځې به ئے پهٔ غلی آواز وائی مسئله ۱۲: د مونځ نه پس سمدستی تکبیر ویل پکار دی (در ص ۱۲۷ ج ۱ و بحر ص ۱۶۶ ج ۱) مسئله ۱۳: که امام نه تکبیر ویل هیر شی نو مقتدیان د ې سمدستی وائی امام ته د ې انتظار نهٔ کوی (در ص ۱۲۷ ج ۱ و بحر ص ۱۶۶ ج ۲) مسئله ۱۴:- د لوئے اختر د مونځ نه پس هم د بعضو پهٔ نزد تکبیرونه ویل واجب دی (در ص ۱۱۷ ج ۱ و بحر ص ۱۶۷ ج ۲) مسئله ۱۵:- د دواړو اخترونو مونځ پهٔ اتفاق سره پهٔ کنړو ځایونو کښې جائز دی (در ص ۱۳۶ ج ۲) مسئله ۱۶:- که څوک د اختر مونځ لاندې نهٔ کړې شی او بل هیچا نه هم نهٔ وی پاتې شوې نو دغه سړې ئے یوازې ځکه نشی کولے چه د دې کښې جمع شرط ده، د غسې که څوک د اختر مونځ لاندې کړی خو بیا مات شی نو هغه هم قضا نشی کولے او نه پرې واجب دی البته که نور څوک هم ورسره شریک شی نو لوستل ئے واجب دی (در ص ۱۱۶ ج ۱ و بحر ص ۱۶۲ ج ۲) مسئله ۱۷:. که پهٔ څهٔ عذر رچانه پهٔ شریکه د اختر مونځ پهٔ ړومبی ورځ پاتې شو نو دوهمه ورځ او د لوئے اختر مونځ پهٔ دریمه ورځ هم کولے شی. مسئله ۱۸:- د لوئے اختر مونځ تر دریمې ورځې د اختر پورې بے عذره روستو کزارل مکروه دی او د وړوکی اختر تر دویمې ورځې پورې بے عذره روستو کولو سره بیخی نهٔ کیږی (در ص ۱۱۶ ج ۱ هدایه ص ۱۵۴ ج ۱) د عذر مثال (۱) پهٔ څهٔ وجه امام د اختر د امامتئ دپاره نهٔ وی راغلے (۲) باران وریږی (۳) د میاشتې ړومبې تاریخ یقینی نهٔ وی او پس د زوال نه تاریخ (نیټه) یقینی شی (۴) د وریځې پهٔ ورځ مونځ اوشی او بیا پته اولګی چه بے وخته مونځ شوې وو (ص ۲۶۵ ج ۱) مسئله ۱۹:- که څوک سړې د اختر پهٔ مونځ کښې د اسې وخت شریک شی چه امام د تکبیرونو نه فارغ شوې وی نو سمدستی د ې د نیت تړلو نه پس تکبیرونه وائی اګرچه امام قرأت شروع کړې وی او که پهٔ رکوع کښې ئے امام بیا موند او غالب ګمان ئے وو چه تکبیرونه پهٔ ولاړه

او وایئم نو امام به په رکوع کښې لاندې کړې شم نو دغسې دې اوکړی کښی نو رکوع ته دې لاړ شی او تکبیرونه دې په رکوع کښې بغیر لاسونو پورته کولو اووائی، که په رکوع کښې تکبیرونه پوره نهٔ کړې شی نو هم دې امام سره د رکوع نه پورته کیږی او پاتې تکبیرونه ورته معاف شو (در ورد صفحه ۵۶ ج ۱) مسئله ۲:- که چا نه د اختر د مونځ پوره رکعت امام سره لاړ شی نو دوئیم رکعت دې امام سره اوکړی او چه خپل پاتې رکعت نه پاسی نو اول دې قراءت اووائی او د امام د دوئیم رکعت پشان به تکبیرونه په آخر د رکعت کښې اوکړی ځکه چه د دواړو رکعتونو زائد تکبیرونه به سره یو ځائې شی چه د هیڅ یو صحابی مذهب هم نهٔ دې (در و شامی صفحه ۱۱۶ ج ۱) که امام نه تکبیرونه هیر شو او په رکوع کښې ئې خیال شو نو هم په رکوع کښې دې تکبیرونه وائی، را پورته کیږی دې نه، که را پورته شو او په قیام کښې ئې تکبیرونه اووئیل نو هم ئې مونځ نهٔ فاسدیږی (نهٔ ماتیږی) خو په هرحال کښې به د زیات کښروالی په وجه سجدهٔ سهو نهٔ کوی (دُر صفحه ۱۱۶ ج ۱، شامی صفحه ۵۶۱ ج ۱، نور الایضاح صفحه ۵۱)

په کعبه کښې دننه د مونځ کولو بیان

مسئله ۱:- ځنګه چه کعبې ته مخامخ بهر مونځ کول درست دی دغسې په کعبه کښې دننه هم هر طرف ته مونځ (فرض او نفل) دواړه کول ځکه درست دی چه څلور واړه طرف ته قبله ده (درصفحه ۱۲ بحرصفحه ۲۰ ج ۲) مسئله ۲:- د کعبې شریفې په چت د پاسه هم مونځ ځکه کیږی چه د کعبې هوا هم تر آسمان پورې کعبه ده چه هوا ته ئې مخ راشی نو هم مونځ کیږی البته د بے ادبئ په وجه دا مکروهه تحریمی ځکه دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې نه منع فرمائیلې ده. مطلب دا چه د کعبې دیوالونو ته مخ کول ضروری نهٔ دی که څوک په لوړ غر مونځ کوی چه د کعبې د دیوالونو نه پورته د هغې هوا ته ئې هم مخ وی نو مونځ ئې کیږی. (بحر صفحه ۲۰ ج ۲، در مختار صفحه ۱۲۸ ج ۱) مسئله ۳: په کعبه کښې دننه ځانله او د امامت مونځ دواړه قسم جائز دې خو شرط دا دې چه مقتدی د امام نه وړاندې نهٔ حسابیږی، او دریدل په هر شان چه وی که مقتدی او امام سره مخامخ په مخامخ ولاړ وی نو هم جائز دی خو په دې صورت کښې به مونځ مکروه وی البته که د دوی تر منځه څه پرده یا بل څه بند یز دا وسته شی نو مکروه به نهٔ وی (درصفحه ۱۲۸ ج ۱، بحرصفحه ۲۰ ج ۲)

مسئله ۴:- که امام او څه مقتدیان په کعبه کښې دننه وی او نور مقتدیان

دکعبې نه گیر چاپیره وریسې مونځ کوی نوهم جائز دی البته که امام یواځې په کعبه کښې د ننه ولاړوی او نور مقتدیان وریسې بهر د خانه کعبې گیر چاپیره اقتداء کوی نو مونځ به مکروه حُکه وی چه امام ځانله دانسانی قد برابر په لوړ ځائے کښې ولاړ دے (رد صـ۶۱۳ ج ۱) **مسئله ۵:-** که امام بهر ولاړوی او مقتدیان وریسې د ننه ولاړوی نوهم مونځ درست دے خو په دے شرط چه امام د مقتدی وړاندے نه وی (رد صـ۶۱۳ ج ۱) **مسئله ۶:-** که ټول د خانه کعبې نه بهر ولاړوی ځنګه چه د دغه ځائے عامه طریقه ده نوهم مونځ کیږی خو شرط دا دے چه دامام په طرف کښې خانه کعبې ته دامام نه څوک زیات نزدے نۀ وی د نورو درے طرفونو مقتدیان که خانه کعبې ته دامام نه نزدے وی نو د دے هیڅ باک نشته، صورت ئے دا دے:

ب	و	ه	ا
۶	ز		ج

ا - ب او ج - ۶ خانه کعبه ده (ه) امام دخانه کعبې نه دوه گزه فاصله کښې ولاړ دے (و) او (ز) مقتدیان دی چه دخانه کعبې نه دیو گز په فاصله کښې ولاړ دی، د (و) مونځ به حُکه نۀ کیږی چه دامام نه وړاندے حسابیږی، د (ز) مونځ به حُکه کیږی چه دامام په اړخ کښې نۀ دے دامام نه زیات نزدے خو دے خو وړاندے ترے نۀ حسابیږی (در صـ۱۲۸/۱ وشامی صـ۱۲۳ ج ۱)

دسجدۀ تلاوت بیان

مسئله ۱:- یوامام په مانځه کښې سجدۀ تلاوت اولوستله د هغې د آوریدونه پس وریسې مقتدی دمانځه نیت اوتړلو نو امام سره دے سجده اوکړی، که امام دغه سجده کړے وه نو په هغې کښې دوه صورته دی یو صورت دا دے چه امام په کوم رکعت کښې د سجدے تلاوت کړے وی او هغه رکعت ئے امام سره لاندے کړو نو سجده ئے هم گویا کښې لاندے کړه د دغې سجدے کولو څۀ ضرورت پاتے نۀ شو اوکه هغه رکعت ئے امام سره لاندے نۀ کړو نو پس د مونځ ختمولو نه پرے سجدۀ تلاوت واجب ده (هدایه صـ۱۴۴ ج ۲، بحر صـ۱۳۲ ج ۲، رد صـ۵۱۸ ج ۱) **مسئله ۲:-** مقتدی نه د آیت د سجدے په آوریدو د دغې مونځ دامام او په دغې مونځ کښې شریک مقتدیانو باندے سجده کول واجب نۀ دی کوم چه په یل مونځ کښې مصروف وی یا په مونځ کښې نۀ وی او دغه آیت د سجدے واورې نو په هغوی به

سجده واجب وی (دُر و رد ص۵۱۴ وص۵۱۹ ج۱) **مسئله** ۱۔ په سجده تلاوت کښے په قهقهے کولو سره اودس نهٔ ماتیږی البته سجده تلاوت ئے باطلیږی (ردالمحتار ص۹۵ ج۲) **مسئله**:۔ د ښځے محاذات (په څنګ کښے ورسره کیدل) د سجده تلاوت ماتونکی نه دی (رد ص۲۸۶ ج۱، هدایه ص۱۰۴/۱ج) **مسئله**: په مونځ کښے واجبیدو نکے سجدهٔ تلاوت سمدستی اداء کول واجب دی (رد ص۵۱۷ ج۱) **مسئله**:۔ د مونځ نه بهر سجدهٔ تلاوت په مونځ کښے او دمونځ سجدهٔ تلاوت بهر نهٔ کیږی، مطلب دا چه څوک د مونځ سجده تلاوت هم په مونځ کښے ادا نهٔ کړی نو ګنهګار شو توبه ئے علاج دے بل هیڅ صورت ئے نشی کیدے (در ص۱۰۵ ج۱، بحر ص۱۳۲ ج۱، رد ص۵۱۸ ج۱) **مسئله**:۔ په بیلے بیلے سورتونو کښے دوه سوارهٔ چه په مانځه کښے هم یو آیت د سجدے لولی او دواړه د یو بل آیت آوری نو هم یوه یوه سجده په مانځه کښے کول وربانده واجب دی او که هم یو آیت ئے په مونځ کښے او لوستلو او هم هغه آیت ئے د مانځه نه بهر د چا نه واوریدو نو دوه سجدے پرے واجب شوے یوه سجده د خپل تلاوت په مانځه کښے او بله د آوریدو بهر د مانځه نه (به اداء کوی) (رد ص۵۲۲ ج۱) **مسئله**:۔ که د مانځه سجده تلاوت سمدستی رکوع ته په تلو سره یا ورپسے د دوو دریو نو رو آیتونو د لوستو نه پس لاړشی او نیت هم د سجده تلاوت اوکړی نو سجدهٔ تلاوت هم ادا شوه او که همد غسے عمل ئے په سجده کښے (د رکوع او تومے نه پس) اوکړو نو بے د نیت ئے هم سجدهٔ تلاوت اداء شوه (در ص۵۱۸/ج۱) **مسئله**:۔ د جمعے د دواړو اخترونو او پټ قراءت والا مونځونو کښے آیت د سجدے لوستل حُکه نهٔ دی پکار چه مقتدیان پکښے شک وشبهه او پریشانی کښے پریوځی (چه هم دغه سجده په مانځه کښے اوکړے شی) (بحر ص۱۲۱ ج۱)

دمړی دغسل مسئلے

مسئله ۱۔ په دریاب او یا کو او بو کښے ډوب شوے مړے چه د اوبو نه را وښکلے شی نو غسل ورکول فرض حُکه دی چه دا د ژوندو کار وو او هغوی دمړی د غسل نیت نهٔ وو کړے البته که دمړی د را وښکلو په وخت کښے ژوندو خلقو د دهٔ د غسل نیت کړے وو او حرکت ئے په اوبو کښے ورکړے وو نو غسل ئے اوشو، دغه حکم د اوبو (باران) د وریدو او په څه طریقه مړی نه د پاکو اوبو ورسید ودے، یعنی غسل به ورته بیا هم ورکول فرض وی (درمختار ص۱۲۰ ج۱، بحر ص۱۷۳ ج۲) **مسئله**: د مړی بیا موندلے شوی

صرف سر ته غسل ورکول نشته بلکه هم دغسې به دفن کولے شي او که دمړي د نيم بدن نه زيات چرته بيامونده شو چه سر ورسره وي او که نهٔ وي نو غسل به ورکولے شي او که نيم بدن ئے بيامونده شو او سر ورسره وو نو غسل به ورکولے شي ورنه نهٔ به ورکولے شي، د نيم نه کم ته به غسل نشي ورکولے خواه سر ورسره هم وي (در ورد ص۵۷۶ ج۱ وبحر ص۱۷۴ ج۱) مسئله ۳:- بيامونده شوے نا آشنا مړے (چه دکفر او اسلام پته ئے نهٔ لګي) که پهٔ دار اسلام کښې بيامونده شي (چرته چه زيات مسلمان اوسيږي محشي) نو غسل به ورکولے شي او مونځ به پرې کولے شي (در ص۱۲۰ ج۱، بحر ص۱۷۳ ج۱، فتاویٰ هنديه ص۱۵۶ ج۱) مسئله ۴:- که دمسلمانانو او کافرانو کالبوتونهٔ ګډ وډ سره بيامونده شي او فرق ئے بيلتون ئے نهٔ شو کيدے نو ټولو ته به غسل ورکولے شي او که بيلتون ئے کيدے شو نو صرف مسلمانانو ته به غسل ورکولے شي (در ص۱۲۰ و۵۷۷ ج۱ بحر ص۱۷۴ ج۲، فتاوی هنديه ص۱۵۶ ج۱) مسئله ۵:- ديو مسلمان کافر خپلوان چه مړشي نو هغه (مړے) که د هغه د مذهب خلقو ته ورکړے شي که دغسې څوک نهٔ وو يا هغوئ نهٔ قبلولو نو هم دغه مسلمان خپلوان به پهٔ غير سنت طريقے سره غسل ورکړي، اودس به ئے نهٔ کوي او سر به ئے نشي صاف کولے، کافور وغيره به ئے پهٔ بدن نشي مږلے بلکه هغسې به ئے اووينځي څنګه چه يو پليت څيز وينځي او کافر په وينځلو سره نهٔ پاکيږي مثلاً څوک دهٔ لره ځان سره نيولے مونځ کوي نو مونځ ئے نهٔ کيږي (در ص۱۲۳ ج۱ و بحر ص۱۹۱ ج۲ وهدايه ص۱۶۲ ج۱) مسئله ۶:- وژلو شو ياغيانو يا ډاکوانو ته به غسل نشي ورکولے خو هله چه خاص د جنګ پهٔ دوران کښې وژلے شوے وي (در ص۱۲۲ ج وفتاوی هنديه ص۱۵۶ ج۱) مسئله ۷:- مرتد مړی ته به هم غسل نشي ورکولے او دهغه مذهبيانو ته به هم دغه مړے نشي ورکولے (بحر ص۱۸ ج۱ ورد ص۵۹۶ ج۱) مسئله ۸: که داوبو نهٔ موندو پهٔ وجه يو مړي له تيمم اوو هلے شي نو په اوبو موندو به ورته بيا غسل ورکولے شي (درمختار ص۱۲۱ ج۱)

دمړي دکفن ځنے مسئلے

مسئله ۱:- که دانسان څهٔ اندام يا نيم بدن بے دسرنه بيامونده شي نو هغه هم پهٔ څهٔ کپړه کښې انغښتل کافي دي، البته که نيم جسم سره سر هم وي يا د نيم نه زيات برخه د بدن وي اګرچه سر ورسره نهٔ وي نو مسنون کفن ورکول

ورته پکار دی (رد ص۵۸۵ ج۱) که دیو مړی قبر وران شی او د هغه کالبوت ترے راښکاره شی اوکفن ئے شلیدلے وی نو مسنون کفن ورکول پکار دی خو هله چه چودے نهٔ وی که چودے وو نو صرف په یو جامه کښے انغښتلے به ئے بیا ښخ کړی (درمختار ص۶۱۲ ج۱)

دجنازے دمونځ مسئلے

دجنازے مونځ په حقیقت کښے ارحم الراحمین نه دغه مړی د پاره دعا کول دی (رد المحتار ص۱۸۳ ج۱) **مسئله۱**:- دجنازے دمونځ دواجبیدو د پاره هغه شرطونه (ټول) دی کوم چه مونږ ه دعامو مونځونو د پاره بیان کړی دی، البته چه دے کښے دا یو شرط زیاتی دے چه دغه سړی ته د هغه د مرګ علم هم وی، لهٰذا بے خبره سړے معذور دے د جنازے مونځ هغه لره ضروری نهٔ دے (رد ص۵۸۵ ج۱ وبحر ص۱۷۹ ج۱) **مسئله۲**: دجنازے دصحیح کیدو د پاره دوه قسمه شرطونه دی یو قسم هغه دی چه مونځ کونکو سره تعلق لری دا هغه دی چه کوم د نورو مونځونو د پاره وړاندے بیان شوی دی چه پاکی، دستر د اندامونو پټوالے (سترعورت) د قبلے ته مخ کول او نیت دے خو وخت دے د پاره شرط نهٔ دے او په دے خیال باندے تیمم کول ورد پاره هم جائز دی چه دے به دا مونځ لاندے نهٔ کړے شی، مثلاً د جنازے مونځ شروع دے که سړے او دس کوی نو مونځ ترے پاتے کیږی نو دے دے تیمم اوکړی او د جنازے مونځ کښے دے شامل شی خو د نورو مونځونو د وخت په ختمیدو هم تیمم روا نهٔ دے. (رد ص۲۴۹ و۵۸۲ ج۱ وبحر ص۱۷۹ ج۲) **مسئله۳**:- نن صبا ځنے خلق سره د پیزاره د جنازے مونځ کوی دا سے خلقو لره پکار دی چه پیزار ئے او هغه ځائے چه پرے ولاړ وی دواړه پاک وی، په او ښکاری پیزار باندے او دریدلو سره هله مونځ کیږی چه یوازے پیزار پاک وی خو اکثر خلق د دے خیال نهٔ کوی ځکه ئے مونځ نهٔ کیږی (بحر ص۱۷۹ ج۳) دویم قسم هغه شرطونه دی چه مړی سره تعلق لری هغه شپږ دی. **شرط (۱)**:. د مړی مسلمانوالے نو په کافر او مرتد باندے مونځ صحیح نهٔ دے، مسلمان اګر چه فاسق یا بدعتی وی په هغه باندے مونځ کول صحیح دی، خو په باغیانو او ډاکوانو باندے مونځ د جنازے کول صحیح نهٔ دی چه په جنګ یا ډاکه کولو کښے مړه شوی وی که دے نه پس مړه شوی وی نو بیا پرے مونځ کول جائز دی، د غسے د مور و پلار د وژلو په سزا کښے په وژلے شوی باندے هم

دجنازے مونځ کول نهٔ دی پکار، دا یو قسم زجر (زورونه ورکول) دی، البته صحیح خبره دا ده چه په ځان وژونکی باندے دجنازے مونځ اوکړے شی (درمختار ۱۲۱ و ۱۲۲ ج۱) **مسئله** :- دیونابالغ مړ شوی مور یا پلار چه مسلمان وی نو هغه به مسلمان حسابیږی چه دجنازے مونځ به پرے کولے شی (شامی ۹۲۵ ج۱) **مسئله** :- مړی نه مراد هغه ځوک دے چه ژوندے پیدا شوے وی او ساه ئے اوخیژی، که ماشوم مړ پیدا شو نو په هغه باندے دجنازے مونځ کول درست نهٔ دی (بحر ۱۸۵ ج۱) **شرط (۲)** : دمړی بدن او کفن دحقیقی او حکمی پلیتئ نه پاکیدل، البته دغسل ورکولو نه پس دمړی دبدن نه پلیتی راوځی او بدن ئے بالکل پلیت وی نو هم پرے دجنازے مونځ کول څه باک نهٔ لری (ردمحتار ۵۸۲ ج۱) **مسئله** :- که څوک مړے د نجاستِ حکمیه نه پاک نهٔ وی یعنی غسل نهٔ وی ورکړے شوے یا غسل ورکول ناممکن وو او تیمم ئے هم نهٔ وو ورکړے نو دجنازے مونځ پرے کول درست نهٔ دی، خو چه دفن کړے شی او په قبرئے خاورے وراچولے شی نو په قبر باندے ئے دجنازے مونځ کول صحیح دی ولے چه هغه مخکښے پرے کړے شوے دجنازے مونځ صحیح نهٔ دے دغه حکم دهغه مړی هم دے چه بے غسله یا دمجبورئ په حالت کښے بے تیممه ښخ کړے شوے وی او پرے دجنازے مونځ کولو او دښخولو نه پس دغه معلومه شی نو په قبر به ئے مونځ کولے شی ولے چه اول مونځ ئے صحیح نهٔ وو، البته اوس چونکه غسل ممکن نهٔ دے لهٰذا مونځ کیږی (بحر ۱۷۹ ج۱ ردالمحتار ۵۸۲ و ۵۹۲ ج۱) **مسئله** :که یو مسلمان باندے دجنازے مونځ نهٔ وی کړے شوے او ښخ کړے شی نو دجنازے مونځ دے دهغه په قبر اوکړے شی خو هله چه دخیرے کیدو اندیښنه ئے نهٔ وی که خیال راځی چه اوس به دغه مړے شلیدلے وی نو بیا دے مونځ پرے نشی کولے دمړی دشلیدلو وخت دهرځائے په اعتبار سره مختلف دے چه تاکل ئے نشی کیدے، صحیح خبره هم دا ده خو بیا هم ځنے درے ورځے ځنے لس ورځے او ځنے یوه میاشت مقرر کړے ده (درمختار ۱۲۳ ج۱ بحر ۱۸۲ ج۲ ردمحتار ۵۹۳ ج۱) **مسئله** :- په کټ یا تخت باندے چه مړے پروت وی نو دهغے نه لاندے ځائے پاکیدل شرط نهٔ دی، خو که تخت یا کټ یا هغه زمکه پلیته وه په کومه چه مړے پروت وی نو په دے صورت کښے اختلاف دے، د بعضو په نزد دمړی دځائے پاکوالے هم شرط دے چه په دے صورت کښے

به ئے مونځ نهٔ کیږی او دبعضو پهٔ نزد شرط نهٔ دے چه پهٔ د ـ صورت کښے به ئے مونځ کیږی (رد ص۵۸۳ ج۱ وبحر ص۱۷۹ ج۲) **شرط (۳)**:۔ دمړی د واجب الستر بدن پټ والے، د بیخی بربنډ مړی مونځ دجنازے کول درست نهٔ دی **شرط (۴)**:۔ مړے دے دجنازے کونکو مخے ته وی که شاته ئے وی نو مونځ نهٔ کیږی **شرط (۵)**:۔ دمړی، تخت، کټ یا چپله مړ: دے پهٔ زمکه وی هله به ئے مونځ کیږی که مړے پهٔ خټه خاروی د پاسه پروت وی یا خلقو پهٔ لاسونو کښے یا پهٔ اوږو د پاسه نیولے وی نو مونځ یرے نهٔ کیږی (درص۱۲۱ ج۱ رد ص۵۸۲ ج۱) **شرط (۶)**:۔ دمړی هلته موجود والے د نا موجود مړی دجنازے مونځ صحیح نه دے **مسئله**[۹]:۔ دجنازے مونځ کښے دوه څیزونه فرض دی (۱) څلور ځله اَللّٰهُ اَکْبَرُ وئیل دلته هر یو اَللّٰهُ اَکْبَرُ د یو یو رکعت قائم مقام کنړلے شی (۲) قیام (پهٔ ولاړه) جنازه کول، څنګه چه پهٔ فرض او واجبو مونځونو کښے قیام فرض دے او بے عذره ئے پریښول جائز نهٔ دی (دعذر بیان دمونځ پهٔ بیان کښے کړے شوے دے). (درص۱۲۱ ج۱ بحر ص۱۸۰ ج۲) **مسئله**[۱۰]:۔ رکوع، سجده، قعده وغیره پهٔ دے مونځ کښے نشته **مسئله**[۱۱]: دجنازے پهٔ مونځ کښے درے څیزونه مسنون دی (۱) د الله تعالیٰ ثنا وئیل (۲) پهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے درود وئیل (۳) مړی دپاره دعا کول، جماعت (جمع) پهٔ دے کښے شرط نهٔ ده که یو کس هم دجنازے مونځ اوکړی نو فرض به اداء شی خواه هغه (مونځ کونکے) ښځه، بالغ یا نابالغ بنده وی (رد ص۵۸۲ ج۱، بحر ص۱۷۹ و ۱۸۰ ج۲) **مسئله**[۱۲]:۔ البته دلته دجماعت (جمع) ضرورت زیات ځکه دے چه دا دعا مړی دپاره او دیو څو مسلمانانو پهٔ جمع باندے دعا کول درحمت نازلیدوا وقبولیت دپاره یو عجیبه خاصیت لری۔ **مسئله**[۱۳]:۔ دجنازے د مونځ مسنون او مستحب طریقه دا ده چه مړے وړاندے کیښوے شی او امام ددهٔ سینے پهٔ برابرئ او دریږی او ټول خلق دا نیت اوکړی: نَوَیْتُ اَنْ اُصَلِّیَ صَلٰوةَ الْجَنَازَةِ لِلّٰهِ تَعَالٰی وَدُعَاءً لِلْمَیِّتِ نیت م اوکړو دجنازے د مونځ کولو چه د الله تعالیٰ مونځ دے او مړی دپاره دعا ده۔ ددے نیت کولو نه پس، دواړه لاسونه د تکبیر تحریمه پشان غوږونو نه پورته کولو سره "اَللّٰهُ اَکْبَرُ" وئیل دی، بیا لکه دنورو مونځونو پشان دواړه لاسونه د نامه نه لاندے تړل دی بیا "سُبْحٰنَکَ اللّٰهُمَّ" تر آخره پورے لوستل دی، ددے نه پس بیا اَللّٰهُ اَکْبَرُ وئیلو سره لاس پورته کول نهٔ دی بیا اَللّٰهُ اَکْبَرُ بے دلاس پورته کولو نه وئیل دی او درود شریف

لوستل دی بهتره دا ده چه د مونځ درود شریف پکښې اووئیلے شی، بیا بے دلاس پورته کولو نه اَللّٰهُ اَکْبَرُ وئیل دی او وروسته به د بالغ نارینه او زنانه دپاره دا دُعا لولی: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وَکَبِیْرِنَا وَذَکَرِنَا وَاُنْثَانَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَهٗ مِنَّا فَاَحْیِهٖ عَلَی الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ او په ځنې احادیثو کښې دا دعا هم راغلې ده اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ وَاَکْرِمْ نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بِالْمَآءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَایَا کَمَا یُنَقَّی الثَّوْبُ الْاَبْیَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَیْرًا مِّنْ دَارِهٖ وَاَهْلًا خَیْرًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَیْرًا مِّنْ زَوْجِهٖ وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ. که دا دواړه دُعاگانے اولولی نو هم زیات غوره دی بلکه علامه شامی" په ردالمحتار کښې دواړه دعاگانے هم یو دعا حساب کړے ده د دے دواړو دعاگانو نه سوا نورے دعاگانے هم یو دعا حساب کړے ده د دے دواړو دعاگانو نه سوا نورے دعاگانے هم په احادیثو کښې راغلی دی چه څومره فقهاؤ" هم نقل کړې دی نو هر څوک دے په خپله خوښه دغې دعاگانو کښې څه دعا کوی د نابالغ هلک مړی دپاره به دا دعا کوی اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا د نابالغې جینۍ دپاره هم دغه دعا ده خو "اجْعَلْهُ" په ځائے د اِجْعَلْهَا او د شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا په ځائے به شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً لولی۔ د دے دعا ختمولو نه پس به بے لاسونو پورته کولو اَللّٰهُ اَکْبَرُ وائی د دے تکبیر نه پس به په ولاړه د نورو مونځونو پشان سلام اوګرځوی په دے مونځ کښې التحیات او د قرآن کریم تلاوت نشته (درمختار ص۵۸۵ و ۱۲۲ ج۱ عالمګیری ص۱۶۱ ج۱ بحر ص۱۸۳ ج۱) **مسئله۱۴**:- د جنازے مونځ د امام او مقتدی دواړو په حق کښې یو شان دے، صرف دومره فرق دے چه امام به تکبیرونه او سلام په لوړ آواز سره، ثنا، سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ، درود او دعا به مقتدی هم په رو آواز سره وائی (فتاوی هندیه)۔

مسئله۱۵:- د جنازے په مونځ کښې مستحب دی چه د مقتدو یا نورو د صفونه جوړ کړے شی یعنی که ټول اوه کسان وو نو یو امام او درے صفونه به د مقتدو یا نو جوړ کړے شی په دا سے شان چه اول صف کښې درے په دویم صف کښې دوه او په دریم صف کښې یو کس او دریږی (ص۱۶۱ ج۱ فتاوی هندیه)

مسئله ۱۶:- دجنازې مونځ هم په هغه څیزونو سره ماتیږي کوم سره چه نورمونځونه ماتیږي البته په قهقهه خندا سره په دې کښې اودس نه ماتیږي او ښځې سره په راتلو سره هم دا مونځ نه ماتیږي. (فتاوی هندیه ص۱۶۱ و ۱۱ ج۱)-

مسئله ۱۷:- دعاموموځونو د جمعې یا د اختر د مونځونو د پاره جوړ شوي جوماتونو کښې جنازه کول مکروه تحریمي دي خواه جنازه یا مونځ کونکي په جومات کښې د ننه یا بهر وي خو که جنازه او مونځ کونکي دواړه بهر وو نو هله به صحیح وي، البته کوم جومات چه خاص جنازې د پاره جوړ شوې وي نو په هغې کښې د جنازې مونځ کول مکروه نه دي (درمختار ص۱۴۳ ج۱ بحر ص۱۸۶ ج۱ عالمگیري ص۱۶۲ ج۱، ځینې فقهاء په عیدګاه کښې د جنازې مونځ روا بولي ۱۲ف)

مسئله ۱۸:- د جمعې د زیاتید و په خیال د جنازې په مونځ کښې ډیل کول مکروه دي (ردص۶۰۲ ج۱) **مسئله ۱۹:-** د جنازې مونځ بې عذره په سورلۍ د پاسه یا په ناستې کول مکروه دي (درص۱۲۳ ج۱) **مسئله ۲۰:-** په ګڼرو مړو جنازې یو مونځ کول هم جائز دي طریقه یې دا پکار ده چه ټولې جنازې یو شان قبلې ته کیښودې شي چه سرونه د ټولو یو اړخ ته او خپې یې بل اړخ ته وي او سینې یې امام ته برابرې راشي خو بیلې بیلې جنازې کول غوره دي **مسئله ۲۱:-** که ټولې جنازې یو شان نه وې، د سړو، د هلکو او زنانو ګډې وډې وې نو امام ته نزدې به د سړو ورپسې قبلې اړخ ته د نابالغه هلکانو ورپسې د بالغه ښځو ورپسې د نابالغو جینکو جنازې کیښودې شي او مونځ به پرې اوکړې شي (درص۱۲۲ ج۱ فتاوی هندیه ص۱۶۲ ج۱) **مسئله ۲۲:-** چانه د جنازې څه تکبیرونه شوي وو چه په جنازه کښې شامل شو هغه به سمدستي تکبیر تحریمه نه کوي بلکه د امام تکبیر ته به انتظار کوي د امام تکبیر سره به تکبیر اوکړي چه دا یې تحریمه شو امام چه سلام اوګرځوي نو دې به پاتې تکبیرونه بغیر د څه لوستو پوره کوي او سلام به ګرځوي که امام څلورم تکبیر هم کړې وو نو دې نه پس شاملیدونکې به بې د انتظاره ورسره په مونځ کښې شامل شي او د امام د سلام ګرځولو نه پس به خپل تکبیرونه پوره کړي او سلام به اوګرځوي (درص۱۲۲ ج۱، بحر ص۱۸۵ ج۱) **مسئله ۲۳:-** که څوک د تکبیر تحریمه یا بل تکبیر په وخت موجود وو او د څه سستۍ له کبله په مانځه کښې شریک نه شو نو سمدستي به امام سره شریکیږي د هغه د بل تکبیر انتظار به نه کوي او دده په ذمه د هغه تکبیر ویل ضروري نه دي د کوم تکبیر په

وخت کښې چه دے موجود وو خوهله چه دامام د بل تکبیر ویلو نه وړاندې دے دغه بل تکبیر ادا کړی اګرچه امام سره یو ځائے نه وی (فتاوی هندیه ص۱۶۲ ج۱) مسئله ۲۴ :۔ دجنازے د مونځ مسبوق کله چه خپل تلی تکبیرونه راسرکړی او په دعالوستو کښې ئے ترے د جنازے دپورته کولو خطره وی نو دغه دعا دے نه لولی (درص۱۲۲ ج۱ فتاوی هندیه ص۱۶۲ ج۱ بحر ص۱۷۵ ج۱) مسئله ۲۵ :۔ دجنازے د مونځ د لاحق حُکم هم هغه دے کوم چه د نورومونځونو دلاحق حُکم دے (ص۱۸۶ ج۲ بحر) مسئله ۲۶ :۔ دجنازے د مونځ د امامت زیات حقدار وخت بادشاه دے اګرچه دغلته دهغه نه زیات تقوٰی دار نور خلق هم موجود وی که بادشاه نهٔ وو نو دهغه نائب چه د ښار حاکم دے اګر چه دغلته دهغه نه زیات تقوٰی دار خلق وی، که نائب هم نهٔ وو نو د ښار قاضی حقدار دے، او دده په ناموجودګئ کښې دده نائب دے، دده بیان شو خلقو په موجودګئ کښې نورچا لره امام جوړول د امام د اجازت نه بغیر جائز نهٔ دی، که دوئ کښې هیڅوک هم موجود نهٔ وی نو بیا د محلے امام حقدار دے خوهله چه دمړی په عزیزانو کښې دده نه زیات بهتر څوک نهٔ وو که وو نو بیا هم هغه حقدار دے چه دهٔ ورته اجازت ورکړو که د ولی د اجازت نه بغیر غیر حقدار بنده امامت اوکړو نو ولی د دغے مونځ راګرځولو اختیارمند دے تردے چه، که مړے ښخ شوے هم وی نو په قبرئے مونځ راګرځولے شی ترهغے چه دمړی دشلیدو (چاودو) خیال نهٔ وی (دُرص۱۲۲و۱۲۳ ج۱ فتاوی هندیه ص۱۶۱ ج۱، بحر ص۱۷۵و۱۸۰ ج۱) مسئله ۲۷ :۔ که دمړی د ولی د اجازت نه بغیر چا حقدار امامت دجنازے امامت اوکړو نو بیا دمړی ولی دغه مونځ دوباره نشی کولے، دغسے که دمړی ولی د بادشاهِ وخت په ناموجودګئ کښې دجنازے امامت اوکړو نو بادشاهِ وقت دغه مونځ نشی راګرځولے بلکه د بادشاه په موجودګئ کښې که دا سے اوشو نو هم ئے بادشاه نشی راګرځولے البته د واجب په پرینښودو به دمړی ولیا ګنهګاروی، غرض داچه دوباره دجنازے مونځ کول صرف په دغه بیان کړی یو صورت کښې کیدے شی په نورو صورتونو کښې نشی کیدے (شامی ص۵۹۲ ج۱)

دښځولو (دمړی) مسئلے

مسئله ۱ : دمړی ښخول فرض کفایه دی لکه دده دغسل او مونځ (عالمګیری ص۱۶۳ ج۱) مسئله ۲ :۔ دمړی د مونځ نه په فارغیدو سمدستی هغهٔ لره ښخولو دپاره وړل پکاردی (مراقی الفلاح ص۲۳۲) مسئله ۳ :۔ که ترے رودونکے ماشوم یا ترے بر شان لوئے ماشوم مړ

شي نو هغه په لاس کښې اغستې ښخولو دپاره اوړل پکار دي او لويې مړې په کټ یا پلنګ کښې اوړل پکار دي او د غسل دې يو د بل نه اغستې اوړي، لويې مړې به اوږو باندې څلور کسان اخلي لکه د مال اسباب په شان يې په اوږه باروَل مکروه دي، د غسل يې بې عذره په ګاډي کښې يا په څه څاروي باندې بار کړې اوړل مکروه دي خو په عذر سره مکروه نه دي مثلاً قبرستان لرې وي (بحر ص۱۹۱ ج ۲، عالمګيري ص۱۵۹ ج۱، مراقي الفلاح ص۳۴۲)

مسئله ۴:- د مړي د پورته کولو مستحب طريقه دا ده چه ړومبې د هغه د کټ ړومبۍ ښۍ خپه په خپلې ښۍ اوږه باندې کيږدي کم نا کم څه لس قدمه لا ړشي نو د کټ روستۍ ښۍ خپه به په ښۍ اوږه واخلي، د غسل کسه ړومبۍ خپه به په خپلې کسه اوږه او کسه روستۍ خپه به په خپلې کسه اوږه واخلي او کم نا کم لس لس قدمه دې يې اوړلې لرې چه ټول څلويښت قدمه اوړل يې راشي (درمختار ص۱۲۳ و ۱۲۴ ج ۱، عالمګيري ص۱۵۹ ج۱)

مسئله ۵:- جنازه په تيز (جلت) قدم سره اوړل مسنون دي خو دومره تيز نه چه مړې د بيکې خوري (درود ص۵۹۷ ج۱ بحر ص۱۹۱ ج ۲) **مسئله ۶:** جنازې سره تلونکو لره دا مکروه دي چه د جنازې د ايښودو نه وړاندې کښيني البته په ضرورت يا عذر سره کښيناستل څه بديت نه لري (در ص۱۲۴ ج ۱ بحر ص۱۹۱ ج۱)

مسئله ۷:- د ړومبې نه ناست خلق د جنازې ښکاره کيدو سره نه پورته کيږي (مراقي الفلاح ص۳۵۴) **مسئله ۸:** جنازې سره تلونکو خلقو لره د هغې نه روستو تلل مستحب دي اګر چه د دې نه وړاندې تلل مکروه دي، د غسل د جنازې نه وړاندې په څه سورلۍ باندې تلل هم مکروه دي (در ص۱۲۴ ج۱؛ بحر ص۱۹۲ ج ۲) **مسئله ۹:-** جنازې سره پياده تلل مستحب دي که په څه سورلۍ ځي نو روستو روستو دې ځي (شامي ص۵۹۸ ج۱، بحر ص۱۹۲ ج۱)

مسئله ۱۰:- جنازې سره تلونکو لره په اوچت آواز سره دعا يا ذکر کول مکروه دي د مړي قبر کم نا کم د نيم قد برابر او زيات نه زيات د يو قد برابر ژور کنستل پکار دي او د مړي د قد برابر دې اوږد وي، بغلي قبر د صندوقي قبر په نسبت غوره دې، که زمکه دومره نرمه وي چه بغلي قبر پکښې کښيني نو بيا دې بغلي قبر نه کني- (در و شامي ص۵۹۹ ج۱، بحر ص۱۹۳ ج۱)

مسئله ۱۱:- دا هم روا دي چه که بغلي قبر نشي جوړيدې نو په صندوق کښې د مړي ښخول هم جائز دي صندوق د لرګي، کانړي يا اوسپنې کيدې شي خو غوره خبره دا ده چه په هغې کښې خاوره خوره کړې شي (در ص۱۲۴ ج۱،

بحر صـ۱۹۳ ج ۱) **مسئله ۱۲**:- کله چه قبر تیار شی نو مړے دے قبر ته د قبلے د طرف نه ورښکته کولے شی، صورت ئے داد ے چه جنازه د قبر نه قبلے طرف ته کیښودے شی او ښکته کونکی دے مخ په قبله ولاړ، مړے قبر ته ورښکته کړی او کیږدی (بحر صـ۱۹۳ ج ۱، در صـ۱۲۵ ج ۱) **مسئله ۱۳**:- قبر ته د مړی ورښکته کونکو شمیر طاق یا جفت کیدل مسنون نه دی چنانچه رسول الله صلی الله علیه وسلم په قبر مبارک کښے ښکته کونکی او ایښودونکی څلور صحابه کرام رض وو (بحر صـ۱۹۳ ج ۱، شامی صـ۲ ج ۱) **مسئله ۱۴**:- په قبر کښے د مړی د ایښو په وخت "بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ" ویئل مستحب دی (درمختار صـ۱۲۵ ج ۱) **مسئله ۱۵**:- مړے چه قبر ته ورښکته کړی نو په ښی اړخ ئے مخ په قبله کول مسنون دی۔ **مسئله ۱۶**:- د کفن هغه غوټه به پرانستے شی کومه چه د کفن د خوریدو د ویرے ورکړے شوی وی (عالمگیری صـ۱۶۳ ج ۱ بحر صـ۱۹۴ ج ۲، در صـ۱۲۵ ج ۱) **مسئله ۱۷**:- بیا به لحد په کچه خښتو یا نل، کهی وغیره سره بند کړے شی، په پخو خښتو یاد لرګی په تختو سره ئے بندول مکروه دی البته چرته چه زمکه نرمه وی چه د قبر د کیناستو ویره وی نو پخے خښتے یا د لرګی تختے ایښول یا په صندوق کښے ایښول هم جائز دی۔ (بحر صـ۱۹۴ ج ۱، شامی صـ۶ ج ۱ در صـ۱۲۵ ج ۱) **مسئله ۱۸**:- ښځه چه په قبر کښے ایښوے شی نو پرده کول ورته مستحب دی او که د بدن د ښکاره کیدو ویره وی نو پرده کول ئے واجب دی (شامی صـ۹۳۶ ج ۱) **مسئله ۱۹**:- د نارینو د ښخولو په وخت پرده نه دی کول پکار البته که عذر وی مثلاً سخت باران یا واوره وریږی یا تیز نمر وی نو بیا جائز دی (بحر صـ۱۹۴ ج ۱ در صـ۱۲۵ ج ۱) **مسئله ۲۰**:- مړے په قبر کښے د ایښودلو نه پس د قبر تو له کنستے خاوره دے په قبر واچولے شی دے نه زیاته خاوره پرے اچول مکروه دی کله چه ډیره زیاته وی چه قبر د یو لیشت نه زیات لوړ شی مکروه دغے حد نه لږه خاوره پرے اچول مکروه نه دی (مراقی الفلاح صـ۳۵۶)۔ **مسئله ۲۱**:- په قبر کښے د خاورے اچولو په وخت دا مستحب دی چه د سرغاړے نه شروع اوشی او هر څوك د خاورے لپه ډکوی او په قبر کښے دے وراچوی په ړومبی لپه دے "مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ" لولی په دویمه لپه دے "وَمِنْهَا نُعِيْدُكُمْ" او په دریمه لپه دے "وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰی" لولی۔ **مسئله ۲۲**:- د ښخولو نه پس څه وخت په قبر ایساریدل د مړی د پاره دعا کول (د بخښنے) یا قرآن

مجید لوستل او د هغې ثواب ورته بخښل مستحب دي **مسئله ۲۳:-** په قبر باندې د خاورې اچولو نه پس پرې اوبه څنډکاؤل مستحب دي (در وشامي ص۶۰۱ ج۱ عالمگیري ص۱۶۳ ج۱) **مسئله ۲۴:-** په یو مکان کښې (چه لوئ وي او که ورکوټې مړه ښخول نهٔ دي پکار ځکه چه دا د پیغمبرانو علیهم السلام خصوصیت دې (در ص۲۳۴ ج۱، بحر ص۱۹۳ ج۱) **مسئله ۲۵:-** څلور ګوټیز هوار قبر جوړول مکروه دي، مستحب دا دي چه د اوښ د قب پهٔ شان پهٔ منځ کښې لږ لوړ وي او د یو لیشت برابر پټول قبر لوړ وي (در وشامي ص۶۰۱ ج۱ عالمگیري ص۱۶۳ ج۱، بحر ص۱۹۴ ج۱) **مسئله ۲۶:-** یو لیشت نه ډیر زیات لوړول د قبر مکروه تحریمي دي، قبر ګچ کول او خښته پرې لګول مکروه دي **مسئله ۲۷:-** د مړي ښخولو نه پس هم پهٔ قبر باندې څهٔ آبادي کول لکه ګنبت وغیره جوړول د ښایست پهٔ غرض حرام دي د مضبوطوالي پهٔ غرض مکروه دي. د مړي په قبر د یاداشت د پاره څهٔ لیکل روا دي خو هله چه ضرورت ئې وي ګنې نو نا روا دي، لیکن د دې زمانې خلقو عقیدې او نیتونه خراب وي چه د هغې پهٔ وجه مُباح هم حرامیږي او دا خلق چه کوم ضرورتونه بیانوي، هغه ټول بهانې دي چه بخښله پرې هم دغه خلق پوهیږي (محشي لیکلي دي چه د صحیح حدیث له مخه پهٔ قبر باندې د څهٔ لیکلو نه منع راغلې ده) (در وشامي ص۶۰۱ ج۱، بحر ص۱۹۴ ج۲)

د شهید احکام

د شهید مړي احکام د عام مړو نه بیل دي، د شهید فضیلتونه هم ډیر دي ځکه ئې بیل احکام بیانولے شي پهٔ حدیثو کښې د شهید قسمونه ډیر راغلي دي. ځینې عالمانو د دې قسمونو جمع کولو د پاره رسالې لیکلي دي، مګر دلته مونږه د هغې شهید احکام بیانول غواړو چه څو دا شرطونه موندې شي. **شرط (۱):-** چه مسلمان وي، نا مسلمان مړي چرې تسمید نشي ثابتیدې. **شرط (۲):** مکلف (عاقل بالغ) وي چه عقل ئې نهٔ وي (لیونے وغیره وي) یا نابالغ او وژلے شي هغه به هم پهٔ دې کښې داخل نهٔ وي د کوم چه مونږه بیان کوو. **شرط (۳):** د جنابت او حیض، نفاس وغیره (حدث اکبر) نه ئې پاکوالے. **شرط (۴):-** بے ګناه او وژلے شي، پهٔ شرعي جرم کښې وژلے شوې وي و یا پهٔ خپل مرګ مړ وي نو هغه هم شهید نهٔ دې. **شرط (۵):-** که د مسلمان یا ذمي د لاسه وژلے شوې وي نو دا هم شرط دې چه پهٔ زخم کونکي آلې سره وژلے شوې وي، خو که پهٔ کاڼي یا چقونکي بل څیز سره وژلے شوې وو نو د شهید احکام به پهٔ هغهٔ نهٔ جاري کیږي او او سپنه

مطلقًا په زخمي کونکے آلے کښے داخله ده اګرچه هغه تیره نهٔ وی، د حربیانو، کافرانو، یاغیانو او ډاکه مارو د لاسه وژلے شوے یا دوی سره په جنګ کښے مونډلے مسلمان هم شهید دے خواه په زخمي کونکے آلے سره نه بلکه په بل قسم آلے، کانړي وغیره سره وژلے شوے وی دا هم شرط نه دے چه د هغوی په لاس قتل مرتکب شوے وی یعنی د وژلو باعث حرکتونو په وجه وژلے شوے وی نو هم شهید دے **مثال (۱)**: چا حربي وغیره په خپل ښاروی ورخیژولو سره یو مسلمان او وژلو او په خپله پړے دغه حربي سور وو (۲) د سور مسلمان ښاروے وغیره یو حربي او زغلولو په ویرولو یا ګزار کولو وغیره سره او مسلمان په دغے وجه د خپل ښاروی یا سورلۍ نه په پریوتو مړ شو (۳) چا حربي وغیره دیو مسلمان کور یا جهاز ته اور ورته کړو او په هغے سره مسلمانان مړه شو۔ **شرط (۶)**:۔ د دغے وژلو په سزا کښے ابتداءً د شریعت دا رخه مالی بدله مقرر نهٔ وی بلکه قصاص واجب شوے وی نو د مالی بدلے مقرریدو په صورت کښے به په دغه وژلے شوی باندے د شهید احکام نهٔ جاری کیږی اګرچه په ظلم سره وژلے شوے وی **مثال (۱)**، یو مسلمان بل مسلمان لره په نازخمي کونکے آلے سره او وژنی (۲) یو مسلمان بل مسلمان لره په زخمي کونکے آلے سره د خطا نه او وژنی مثلاً په څه ځناور یا نښانے باندے حمله کوی او په هغے دے اولګی (۳) د جنګ د ځائے نه په بل ځائے کښے مسلمان مړا مونډے شی او وژونکے ئے معلوم نهٔ وی په دے ټولو صورتونو کښے د وژلی شوی په بدل کښے مال واجبیږی، قصاص نهٔ واجبیږی، ځکه به پرے د شهید احکام نهٔ جاری کیږی، د ابتداءً قید لګولو مطلب دا دے چه په اول کښے د قصاص حکم شوے وی یا د څهٔ مانع له کبله د قصاص د معاف کیدو په بدله کښے مال واجب شوے وی نو هله به هم د شهید حکم په وژلے شوی باندے جاری کیږی۔ **مثال (۱)**، څوک په زخمي کونکے آله په قصد سره په ظلم وژلے شوے وی لیکن د وژونکی او وژلی شوی د وارثانو ترمنځه د مال په بدله کښے صُلح شوی وی نو په دے صورت کښے هر کله چه "ابتداءً" قصاص واجب شوے وو او مال ابتداءً نهٔ وو واجب شوے بلکه د صُلح له کبله واجب شو ځکه به د دلته پرے د شهید احکام جاری کیږی (۲) څوک پلار خپل ځوئے لره په زخمي کونکی آله او وژنی نو په دے صورت کښے "ابتداءً" قصاص واجب شوے وو مال "ابتداءً" نهٔ وو واجب شوے خو د پلار د احترام

اولویئ له کبله د قصاص پهٔ بدله کښې مال واجبیږی ځکه به دلته هم د شهید احکام جاری کیږی۔ **شرط (۷)** د زخمی کیدو نه پس ئے څهٔ آرام نهٔ وی کړے یا څهٔ دنیوی فائده ئے نهٔ وی حاصله کړی مثلاً خوراک څکاک، سودا کول یا خرید فروخت وغیره ئے نهٔ وی کړی او نه دیو وخت د مونځ پهٔ اندازه پهٔ هوش وحواس کښې ژوندے پاتے شوے وی او نه د هوش پهٔ حالت کښې د جنګ د ځائے نه راوړے شوے وی البته که د خاروو د خپو لاندے د چقیدو د ویرے راوړے شی نو څه باک نشته که شهید د زخمی کیدو نه پس زیاتے خبرے اوکړی نو هغه به هم شهید نه حسابیږی (ځکه چه زیاتے خبرے کول د ژوندون نښان دے) دا حکم د وصیت هم دے که پهٔ دنیوی معامله کښې ئے وصیت کړے وی نو د شهید د حکم نه به ووځی او پهٔ دینی معامله کښې وصیت کولو سره به د شهید د حکم نه نهٔ ووځی که پهٔ میدان جنګ کښې وژلے شوی بنده د اکاروئه کړی وی نو د شهید د احکامو نه به خارج شی کنی نو نهٔ به خارجیږی لیکن پهٔ جنګ کښې وژلے شوے مسلمان که د هغه فائده ئے داخلی او جنګ لانهٔ وی ختم شوے نو هم شهید دے (دُر وشامی ص۶۰۸ و ۶۱۱ ج۱، بحر ص۱۹۶ ج۲، عالمګیری ص۱۶۵ ج۱)

مسئله ۱:- پهٔ کوم شهید کښې چه دا ټول شرطونه بیا موندے شی د هغه یو حکم دا دے چه غسل ورنهٔ کړے شی او وینه ئے د بدن نه لرے نکړے شی او هم د غسے ښخ کړے شی، بل حکم دا دے چه د هغه اغوستے جامے دے ترے او نهٔ ویستے شی البته که اغوستے جامے ئے د سنت شمیر نه کمے وے نو زیاتے (درے) دے کړے شی او که زیاتے وے نو کمے دے کړے شی که داسے جامے ئے اغوستے وے چه د کفن جوګه نهٔ وے (لکه پوستین وغیره) نو هغه دے ترے لرے کړے شی او که د دے نه سوا بله جامه ئے نهٔ وی اغوستے نو دغه پوستین دے ترے نشی اوبکلے، ټوپۍ، پیزار او وسله وغیره پهٔ هر حال ترے لرے کول پکار دی، باقی مسئلے او حکمونه ئے د نورو مړو پشان دی، لکه مونځ وغیره هغه به ټولے د شهیدانو پهٔ حق کښې هم جاری کیږی، که د شهید کی دا شرطونه (یعنی یو هم دے نه) پکښې او نشی موندے نو غسل به هم ورکولے شی او د نورو مړو پشان کفن به هم ورته اغوستولے شی (در وشامی ص۶۲۵ ج۱، بحر ص۱۹۶ ج۲ عالمګیری ص۱۶۵ ج۱)۔

د جنازے نورے مختلفے مسئلے

مسئله ۲:- چه قبلے ته د مړی مخ کول چانهٔ هیر شو او قبرے ئے ډک کړو نو هغې

دپاره ئے قبر پرانستل جائز نۀ دی البته که صرف تختے ئے ورته نکولے
وے نو هغه وردپاره لرے کولے شی ۔(عالمگیری صـ۱۶۷ ج ۱، بحر صـ۱۹۴ ج ۲)
مسئله ۲ :۔ دبنځو جنازے سره تلل مکروه تحریمی دی **مسئله ۳** :۔ دویرکونکو
یا بیان کونکو بنځو جنازے سره تلل منع دی (در وشامی صـ۵۹۵ ج ۱، بحر صـ۱۹۲ ج ۲)
مسئله ۴ :۔ په قبر کښے دمړی دایښودو په وخت ورته اذان کول بدعت دی
(شامی صـ۶۰۰ ج ۱) **مسئله ۵** :۔ که دجنازے امام د څلورو نه زیات تکبیرونه
کوی نو حنفی مقتدیان دے پکښے دهغه تابعداری نۀ کوی بلکه چپ دے
ولاړ وی او سلام به امام سره کرځوی، البته که زیات تکبیرونه دامام
نه نشی آوریدے بلکه تکبیر نۀ آوریدے شی نو مقتدی یا نوله پکار دی
چه تابعداری ئے وکړی او هر تکبیر دے تکبیر تحریمه وګڼړی او دا دے اوګڼی
چه ړومبنی نقل کړی تکبیرونه د امام نه غلط وو کویا کښے اوس ئے
تکبیر تحریمه وئیلے وی (درصـ۱۲۲ ج ۱، بحر صـ۱۸۲ ج ۲، عالمگیری صـ۱۶۲ ج ۱)
مسئله ۶ :۔ په سمندری جهاز کښے که مړشوے بندره خرابیدو او زمکه
(کودر) دومره لرے وو چه مړے پکښے خرابیدو، نو غسل کفن دے ورکړی
مونځ دے پرے اوکړی او په سمندر دے لاهو کړے شی او که کودر دومره
لرے نه وو نو دغه مړے دے هلته په رسولو زمکه کښے دفن کړی (طحطاوی
صـ۳۵۸) **مسئله ۷** :۔ که چاته دجنازے منقوله دعا یاده نۀ وی نو هغه دِ صرف
اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۔ وائی او که دا هم نشی وئیلے، نو صرف
هغه څلور تکبیرونه کول وردپاره هم کافی دی او مونځ به ئے اوشی ولے
چه دعا کول فرض نۀ، بلکه مسنون دی او دا شان درود شریف وئیل هم
فرض نۀ دی (بحر صـ۱۸۳ ج ۱ عالمگیری صـ۱۶۱ ج ۱) **مسئله ۸**: په قبر چه
خاوره وروا ړولے شی نو د هغے نه پس مړے د قبر نه اوبنکل جائز نۀ دی
البته که دچا حق وهلے کیږی نو اوبنکل ئے جائز دی۔ **مثال** (۱) د
قبر زمکه دبل چا وی چه په دغے قبر هغه ناراض وی (۲) دچاڅۀ مال
په قبر کښے پاتے شوے وی۔ (در وشامی صـ۶۰۲ ج ۱ بحر صـ۱۲۵ ج ۲ عالمگیری صـ۱۳۴ ج ۱)
مسئله ۹ :۔ د مړے نیځے په خیټه ژوندے ماشوم دے نو خیټه دے ئے څیرے
کړے شی او ماشوم دے دا وویستے شی، دغسے که دچا مال کوم کس تیر
کړو او مړشو نو هغه هم ترے راوبنکلے شی البته که مال ئے پاتے وو نو
دهغے مال نه دے ورکړے شی او خیټه دے ورله نشی څیرے کولے (درصـ۱۲۰ ج ۱) (که دغے
مال دپاره د ړاکوانو وغیره دا ړخه دمړی د بے عزتۀ کولو خطره وه نو په

ځینې خیری کولو سره دے دغه مال راوښکل ښهٔ دی. مترجم) **مسئله ۱۰:**
د ښخولو نه وړاندے ښخولو د پاره دیوځائے نه بل ځائے ته مړے اوړل، ښهٔ
نهٔ دی کله چه دغه بل ځائے د دوو میلونه زیات نهٔ وی او که زیات وی
نو جائز نهٔ دی او د ښخولو نه پس مړے د قبر نه راوښکل او بل ځوائے
اوړل خو پهٔ هر حالت کښې ناجائز دی (دُر وشامی صـ۶۰۲ـ ج۱ عالمگیری صـ۱۶۴ـ ج۱)
مسئله ۱۱: په نظم اونثر دواړو کښې دمړی تعریف کول جائز دی خو چه
دحد نه تیریدل پکښې نهٔ وی، کوم تعریفونه چه پهٔ مړی کښې نهٔ دی هغه
بیانول نهٔ دی پکار (درمختار بر شامی صـ۶۰۳ـ ج۱) **مسئله ۱۲:** دمړی عزیزانو
ته تسلّی ورکولو د پاره د صبر فضیلتونه او د هغے ثواب آورول او مړی او
عزیزانو د پاره ئے دعا کول جائز دی چه ورته تعزیت وئیلے شی، د درے ورځو
نه پس تعزیت کول مکروه تنزیهی دی، که تعزیت کونکے یا د مړی عزیزان
د سفر نه راشی نو د درے ورځو نه پس هم تعزیت کول څهٔ بدیت نهٔ لری
البته یو ځل تعزیت کونکی د پاره دویم ځل تعزیت کول مکروه دی (دُرو شامی
صـ۶۰۳ـ ج۱ عالمگیری صـ۱۶۴ـ ج۱) **مسئله ۱۳:** خپل ځان د پاره کفن تیار
ایښودل مکروه نهٔ دی البته د قبر تیار ساتل مکروه دی (در صـ۱۲۶ـ ج۱)
مسئله ۱۴: دمړی پهٔ کفن باندے بے سیاهی هسے په ګوتو راښکلو سره څهٔ
دُعا عهد نامه وغیره لیکل یا دمړی پهٔ سینه باندے بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ
الرَّحِیْمِ او پهٔ تندی باندے لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ
(صلّی الله علیه وسلّم) لیکل جائز دی خو دڅهٔ صحیح حدیث نه ئے ثبوت
نشته، ځکه د مسنون یا مستحب کیدو خیال ئے نهٔ دی ساتل پکار.
(دُر مختار صـ۲۶ـ ج۱، شامی صـ۶۰۶ـ ج۱) **مسئله ۱۵:** پهٔ قبر باندے څهٔ شنه
ځانګه ایښودل مستحب دی که ورسره نزدے څهٔ اونه وغیره راټوکیدلے
وی نو د هغے پریکول مکروه دی (بحر صـ۱۹۴ و ۱۹۶ـ ج۲. شامی صـ۶۰۶ـ ج۱) **مسئله ۱۶:**
پهٔ یو قبر کښې دیو مړی نه زیات ښخول نهٔ دی پکار خو د سخت ضرورت
په وجه جائز دی، که ټول مړی نارینه وی نو پهٔ هغے کښې د ټولو نه غوره
به وړاندے کیښودے شی که مړی نارینه او زنانه کیږی ود
وونو نارینه به وړاندے او زنانه به وروستو کیښودے
شی (عالمگیری صـ۱۶۴ـ ج۱، بحر صـ۱۹۴ـ ج۲) **مسئله ۱۷:** د قبرونو
زیارت کول نارینه وُلره مستحب دی غوره خبره دا ده چه هره هفته
کښې کم ناکم د قبرونو زیارت اوکړے شی چه غوره ورځ پکښې جمعه ده

دبزرګانو د سفر دپاره سفر کول هم جائز دی خو چه عقیده او عمل ئے څهٔ د شریعت خلاف نهٔ وی ځکه چه پهٔ عُرسونو کښې نن صبا خرابئ دی (شامی ص۶۰۴ ج۱ وبحر ص۱۹۵ ج۱، احیاء العلوم ص۲۱۹ ج۱)

دجوماتو احکام

دلته مونږ دجوماتو د وقف پهٔ باره کښې بحث کول نهٔ غواړو دا بیان د وقف پهٔ بحث کښې مناسب معلومیږی لهٰذا دلته به دجوماتو هغه احکام بیانوو چه دجوماتو د ذات یا مونځ سره تعلق لری **مسئله ۱:-** دجومات دروازه بندول مکروه تحریمی دی خو هله چه د مونځ وخت نهٔ وی او که د مال، اسباب وغیره د حفاظت دپاره ئے دروازه بنده کړے شی نو جائز دی (دُر ص۹۳ ج۱، هدایه ص۱۱ ج۱، بحر ص۳۳ ج۱، عالمګیری ص۱۰ ج۱) **مسئله ۲:-** دجومات پهٔ چت د پاسه لوئے ورکوټے او دس ماتے یا جماع کول داسے دی لکه پهٔ جومات کښې دننه (درص۹۳ ج۱ بحر ص۳۴ ج۲ عالمګیری ص۱۰۸ ج۱) **مسئله ۳:-** پهٔ کوم کور کښې چه جومات وی هغه ټول کور دجوماتو حکم نهٔ لری (بلکه یوازے هغه ځائے حکم دجوماتو لری چرته چه جومات دے. مترجم) داسے دعیدګاه او دجنازے جوماتو حکم هم دجوماتو حکم نهٔ لری (عالمګیری ص۱۰۸ ج۱، بحر ص۳۶ ج۱، دُر ص۹۳) **مسئله ۴:-** دجومات پهٔ دیوالونو وغیره نقش ونګار دخپل جیب پهٔ خرچ کول څهٔ بدیت نهٔ لری خو پهٔ محراب او د محراب پهٔ دیوال مکروه دی او که دجومات د آمدنی او چندے نه وی نو ناجائز دی (در مختار ص۹۳ ج۱ بحر ص۳۷ ج۲، عالمګیری ص۱۰۸ ج۱) **مسئله ۵:-** دجومات پهٔ درودیوار باندے د قرآن مجید د آیتونو یا سورتونو لیکل بنهٔ نهٔ دی. **مسئله ۶:-** دجومات دننه یا بهر پهٔ دیوالونو باندے تُوکل یا پوزه صفا کول ډیره بده خبره ده او که ډیر زیات ضرورت راپیښ شی نو پهٔ خپلے کپړه کښې دے او توکی **مسئله ۷:-** پهٔ جومات کښې دننه اودس کول یا خُله کنګالول مکروه تحریمی دی. (عالمګیری ص۱۰۸ ج۱، بحر ص۳۷ ج۲) **مسئله ۸:-** جنب او حائضے وغیره لره جوماتو ته تلل ګناه ده (عالمګیری ص۳۶ هدایه ص۲۸ ج۱ درص۵۸ ج۱) **مسئله ۹:-** پهٔ جومات کښې خرید او فروخت مکروه تحریمی دی البته پهٔ اعتکاف کښې د ضرورت پهٔ اندازه جومات کښې دننه خرید، فروخت کول جائز دی د ضرورت نه زیات دغه وخت هم جائز نهٔ دی خو هغه څیز دے پهٔ جومات کښې موجود نهٔ وی. (دُر وشامی ص۴۴۵ ج۱) **مسئله ۱۰:** دچاخیرپورے چه خاورے او خټے او نښلی نو هغه دجومات پهٔ دیوال یا

ستنه وغیره صفا کول مکروه دی **مسئله** ۱۱:- په جومات کښې دننه اُوبه کرل او نالول مکروه دی ځکه چه دا د اهل کتابو عمل دے، که دجومات د فائدے د پاره وی نو بیا خیر دے، مثلاً دجومات په زمکه کښې نمی زیاته وی چه ددیوالونو د عورځیدو خطره یئ وی نو دغے نمی د جذب کولو په غرض اونے کرل جائز دی **مسئله** ۱۲:- جومات لره لار جوړول جائز نهٔ دی البته کله کله د ضرورت په خاطر داسے کول به جائز وی (عالمگیری ص۱۱۰ ج۱) **مسئله** ۱۳: کوم کسب کرله په جومات کښې کسب کول جائز نهٔ دی ولے چه جوماتونه ددینی کارونو خصوصاً مانځه د پاره جوړ شوی وی په دے کښې د نیوی کارنهٔ دی کول پکار تر دے چه څوک قرآن کریم په تنخواه باندے لولوی هغه هم په دے کسب کرو کښې داخل دے دجومات نه بهر دے لولوی. البته که څوک په جومات کښې دجومات د حفاظت د پاره په جومات کښې ناست وی او خپل کار پکښې هم کوی نو څه بدیت نشته، مثلاً څوک کاتب یا درزی په جومات کښې د حفاظت په غرض کښیني او ورسره خپل کتابت او گنډل هم کوی نو جائز دی. (عالمگیری ص۱۰۹ ج۱)

د اصلی جنتی کالی د دریم برخے تتمه

د روژے بیان

مسئله ۱:- دیو ښار والو میاشت لیدل په نورو ښار والو هم حجت دے که دد دواړو ترمینځه هر څومره فاصله وی نو هم تر دے چه د مغرب د ابتداء خلق میاشت اووینی نو د مشرق د انتهایٔ خلقو باندے حجت جوړیږی چه دا خبر ورته په صحیح او معتبر طریقه اورسی، یعنی ددغے ورځے روژه ساتل به ورد پاره ضروری وی (درص۱۴۹ ج۱ وبحر ص۲۷ ج۲ وفتاوی هندیه ص۱۹۷ ج۱) **مسئله** ۲:- که دوه ثقه سړو په گواهئ سره دمیاشتے لیدل ثابت شی او په دغے حساب خلق روژے اونیسی چه دیرش ورځے پوره شی نو په یودیرشمه ورځ به وړوکے اختر کولے شی که آسمان شین وی یا وریځ وغیره، میاشت اولیدے شی یا نه. (فتاوی هندیه ص۱۹۶ ج۱ درص۱۴۹ ج۱ بحر ص۲۶۷ ج۲) **مسئله** ۳: که د روژے دمیاشتے په دیرشمه نیټه دورځے میاشت اولیدے شی نو هغه به د راتلونکے شپے میاشت حسابیږی نه چه د تیرے شوے میاشتے، او دغه ورځ به د تیرے شوے میاشتے ورځ حسابیږی خواه دا میاشت دزوال نه وړاندے یا روستو لیدے شوی وی (در ورد ص۹۵ ج۲)

مسئله ۴ :- څوک چه د رمضان یا آخر مباشرت اووینی او په وجه دهغهٔ کوتاهی شرعًا داعتبار جوګه او نهٔ ګرځی په هغه باندے ددغے دواړو ورځو روژه ساتل واجب دی (درمختار ص۱۴۸ ج ۱ بحر ص۲۶۵ ج ۲) **مسئله ۵** :- یو سړے په بے خیالئ کښے د فرض روژے په ورځ څهٔ خوراک، څښاک یا کورواله اوکړو او دا ئے اوګنړل چه زما روژه ختمه شوه او بیا ئے قصدًا څه خوراک، څښاک اوکړو نو روژه به ئے په دے صورت کښے ماته شی او کفاره به پرے نهٔ لازمیږی، صرف قضا به پرے واجب شی او که په مسئله پوه وو او په هیره د روژے ماتولو نه پس په قصد سره خوراک څښاک وغیره اوکړی نو جماع په صورت کښے به پرے کفاره هم لازمیږی او د خوراک څښاک په صورت کښے به پرے صرف قضا راوړل وی (درمختار ص۱۶۳ ج ۱) **مسئله ۶** :- چا بے اختیاره قے اوکړو یا محتلم شو یا صرف د ښځے وغیره په لید وے انزال اوشو او د ناواقفیت په وجه ئے دا اوګنړل چه ګنی روژه م ماته شو او په قصد ئے خوراک څښاک وغیره اوکړل نو روژه ماته شوه او صرف قضا به لازمیږی کفاره نه. او که د مسئلے نه واقف وو چه په دغے څیزونو ئے روژه نهٔ وه ماته شوے او قصدًا ئے خوراک، څښاک وغیره اوکړو نو کفاره پرے هم لازمه شوه (درمختار ص۱۵۰ ج ۱) **مسئله ۷** :- که نارینه د ذکر په سوری کښے څهٔ څیز واچوی نو هغه معدے ته نهٔ رسی ځکه به ئے روژه نهٔ ماتیږی. (شرح البدایه ص۲۰۰ ج ۱) **مسئله ۸** :- چا چه مړے ښځے، د ومره ورے جینئ سره چه ورسره د کوروالی کولو ته شوق د چا نهٔ راپورته کیږی یا څهٔ ځناور سره جماع (کوروالے) اوکړو، یا ئے څوک ځان ته راجُخت کړل یا ئے ښکل کړل یا ئے موښک اووهلو او په دے ټولو صورتونو کښے ترے منی اووتله نو روژه به ئے ماته شی او کفاره به نهٔ واجبیږی. (درمختار ص۱۵۰ ج ۱ هدایه ص۱۹۹ ج ۱) **مسئله ۹** : په زور یا په اوده چا چرے ښځے یا لیونئ سره کوروالے اوکړو نو دغے (دے واړو قسمو) ښځو صرف روژه ماته شوه چه قضا به پرے راځی او په روژه دار سړی به قضا او کفاره دواړه لازم وی (درو رد ص۱۲۰ وهدایه ص۲۰۶ ج ۱) **مسئله ۱۰** :- هغه سړے چه د روژے د واجبیدو ټول شرطونه پکښے بیا مونده شی د رمضان په ادائی روژه کښے چه نیت ئے د صبا صادق نه وړاندے کړے وی په قصد سره څیزے ته دا سے څیز ورداورسوی چه د انسان په دارو یا غذا کښے مستعملیږی یعنی د هغے په استعمال سره بدنی فائده یا خوند اخستے شی او د هغے د استعمال

نه یو سلیم الطبع بنده کوکه نهٔ کوی اګرچه هغه ډیر بډ دکنجلی برابر وی یا جماع پهٔ خپله اوکړی یا پهٔ بل چا اوکړی لواطت هم پهٔ دے حکم کښے داخل دے، پهٔ جماع کښے د ذکر سر داخیدل کافی دی، د منی وتل هم شرط نهٔ دی په دے ټولو صورتونو کښے قضا او کفاره دواړه واجبیږی خو دا خبره شرط ده چه جماع د اسے ښځے سره اوکړے شی چه د جماع جوګه وی، ډیره وړه جینئ نهٔ وی چه د جماع کولو سره جوګه نهٔ وی (شرح التنویر ص۱۵۱ ج ۱، هدایه ص۱۹۹ ج۱) **مسئله۱۱ :-** څوک چه پهٔ تیلو سر غوړ کړی یا رانجه واچوی (پهٔ سترګو کښے) یا سړے پهٔ خپل روستی اندام کښے څه اوچ څیز ورد ننه کړی چه بل سر ئے بهر پاتے شی چه څهٔ لوند څیز ورد ننه کړی چه د پیچکارئ ځائے ته وراونهٔ رسی نو هرکله چه دا څیزونه خیټے ته نهٔ وررسی ځکه به روژه نهٔ ماتیږی او قضا، کفاره به هم پرے نهٔ واجبیږی اوکه سړے اوچ څیز مثلاً روځئ یا جامه وغیره پهٔ خپل روستی اندام کښے وردننباسی او ټول پکښے غائب کړی یا لوند څیز داخل کړی او هغه د پیچکارئ ځائے ته اورسیده و نو روژه ماتیږی او صرف قضا واجبیږی. (در ورد ص۹۹ ج۱، عالمګیری ص۲۰۲ ج۱) **مسئله۱۲ :-** څوک چه د چلم څکلو عادت وی یا د څهٔ فائدے په غرض چلم په روژه کښے اوڅکی نو پهٔ هغه به قضا او کفاره دواړه واجبیږی (در ورد ص۹۹ ج۱) **مسئله۱۳ :-** که څوک ښځه یونابالغ هلک یا لیونے پهٔ ځان واچوی نو پهٔ هغے به قضا او کفاره دواړه لازمیږی (فتاوی ص۲۰۳ ج۱) **مسئله۱۴ :-** په جماع (کوروالی) کښے د سړی او ښځے دواړو عقلمند کیدل شرط نهٔ دی، کهٔ دواړو کښے یو لیونے او بل عقلمند وی نو پهٔ عقلمند باندے به کفاره لازمیږی. (رد ص۱۰۴ ج۱) **مسئله۱۵ :-** پهٔ خوب کښے او دس (غسل) آوړیدونه پس که په پلیته همدغسے روژه ینول جاری او ساتی نو نهٔ ماتیږی، ځکه چه د ښځے خاص اندام ته پهٔ کتو سره یا صرف د څهٔ خبرے پهٔ زړهٔ کښے خیال راوستو سره چه منی خارجه شی نو روژه نهٔ ماتیږی. (شرح البدایه ص۱۹۶ ج ۱، دُر ص۱۴۹ ج۱) **مسئله :-** سړے چه د خپل خاص اندام پهٔ سوری کښے څهٔ څیز لکه تیل یا اوبه واچوی اګرچه د پیچکارئ پهٔ ذریعه سره وی یا د سلائی پهٔ ذریعه پکښے څهٔ څیز وردننباسی اګرچه دا څیزونه مثانے ته او رسی خو روژه نهٔ ماتوی (در ص۱۰۵ ج۲)، **مسئله۱۶ :-** که خبره داسے وه چه بنده پهٔ بے خیالئ کښے یا د شپے په څهٔ

یا تے وخت کښے جماع (کوروالے) شروع کړی یا څه خوراک څکاک کول شروع کړی، نو هغه ته چه رایاد شو یا پرے صبا صادق راو وتو نو دغه کارونه (خوراک- څکاک -جماع) ئے سمدستی پریښول یائے یهٔ خوله کښے ایښے نمړئ کُو ذارکړه که ددے جدا کید ونه پس منی راووځی نو هغه بهٔ د احتلام منی وتل حسابیږی، یعنی روژه به ئے پرے نهٔ ماتیږی (شرح التنویر ص۱۲۹ و ۱۵۰ ج۱ و بحر ص۲۰۲ ج۲). **مسئله ۱۸:** په مسواک کو لو سره اګرچه د زوال نه پس وی د تازه لرګی مسواک وی او که د اوچ نو روژے ته هیڅ نقصان نهٔ کیږی (شرح البدایه ص۲۰۰ ج۱، فتاوی هندیه ص۱۹۷ ج۱ درص۱۵۲ ج۱) **مسئله ۱۹:** د ښځے ښکلول یائے ځان ته راغاړے ویستل مکروه دی کله چه د انزال ویره وی یا د بے اختیارئ پهٔ وجه د جماع (کوروالی) کولو ویره وی، که د اسے قسم ویره نهٔ وه نو بیا مکروه نهٔ دی (شرح البدایه ص۱۹۷ ج و بحر ص۱۸۲ ج ۲ و عالمګیری ص۱۹۸ ج۱) **مسئله ۲۰:** دچا ښځے شونډے پهٔ خُله کښے نیول او بربنډ پهٔ بربنډ سره یو ځائے کید ل یے دکوروالی کولو نه هم مکروه دی اګرچه د انزال او جماع ویره هم نهٔ وی (فتاوی هندیه ص۱۹۸ ج۱، بحر ص۲۷۲ ج۲، هدایه ص۱۹۷ ج۱، ردص۱۱۳ ج۱) **مسئله ۲۱:** که یو مقیم د روژے د نیت کولو نه پس مسافر شی او څهٔ ځائے پورے د تلو نه پس د څه ضرورت را پیښید و پهٔ وجه کورته راشی او د غلته روژه ماته کړی نو کفاره ورکول پرے شته دے حُکه چه دهٔ ته پهٔ دغه وخت پهٔ شریعت کښے مسافر نشی وئیلے اګرچه د ایساریدو پهٔ نیت کورته نهٔ و وتلے او ایسار شوے هم نهٔ وی فتاوی هندیه ص۲۰۵ ج۱ **مسئله ۲۲:** دکوروالی نه سوا پهٔ بله وجه که کفاره واجبه شوی وی او دیو کفارے اداء کولو نه وړاندے بله کفاره اداء کول پرے واجب شوی وی نو د غسے د واړو دپاره یوه کفاره اداء کول دی اګرچه د واړه کفارے دد واړو رمضانو نو وی البته د جماع (کوروالی) پهٔ وجه هم د یو رمضان چه څومره روژے ماتے شوی وی نو ورد پاره هم یوه کفاره کافی ده او دد وُو رمضانو نو د هر یو رمضان کفاره به بیله ورکول وی اګرچه د رومبیٔ کفاره ئے نهٔ وی اداء کړی (د رمختار و رد المحتار ص۱۱۱ ج۲ و بحر ص۲۷۷ ج۲) (دے کښے نور تفصیل هم شته په امداد الفتاوی مبوّب جلد دوئم کښے ئے اوګورئ او دلته پهٔ حاشیه کښے هم څه تفصیل ورکړے شوے دے. (مولانا ظفر احمد).

داعتکاف مسئلے

مسئله ۱: داعتکاف د پاره درے څیزونه ضروری دی (۱) د جمع پهٔ جومات کښے تیکا ویدل (۲) داعتکاف پهٔ نیت تیکا ویدل، بے نیته تیکا ویدو نه اعتکاف نشی وئیلے هر کله چه نیت کونکی د پاره دا ضروری دی

چه مسلمان او عقلمند دے وی لهٰذا دا هم دشیت په ضمن (ترخ) کښې راغلل (۳) دحیض، نفاس نه خالی او پاکیدل او دجنابت نه پاکیدل (فتاوٰی هندیه ص۲۰۹ ج۱، درص۱۵۵ ج۱، بحرص۲۹۹ ج۲) **مسئله ۲:-** دهٔولو نه زیات غوره په مسجد حرام کښې اعتکاف کول دی ورپسے مسجد نبوی کښې ورپسے مسجد اقصٰی کښې ورپسے هغې جامع مسجد کښې چه پکښې دجمع پوره انتظام وی که جامع مسجد کښې دجمع انتظام نهٔ وی نو بیا د محلے جومات ورپسے هغه جومات چه جمع پکښې زیاته وی (فتاوٰی هندیه ص۲۰۹ ج۱، ردالمحتار ص۱۲۹ ج۲) **مسئله ۳:-** د اعتکاف دریٔ قسمونه دی واجب، سنّت مؤکده، مستحب. هغه اعتکاف واجب دے چه منښته (نذر) ئے شوے وی که غیر معلق وی او که معلق وی او هغه اعتکاف سنت مؤکد دے چه د رمضان شریف په آخری لسو شپو (ورځو) کښې کولے شی چنانچه دا قسم اعتکاف رسول الله صلی الله علیه وسلم په لزوم سره په احادیثو صحیحو سره ثابت او منقول دے، خو دا اعتکاف که څهٔ خلقو اوکړو او څهٔ اونهٔ کړو نو دهٔولو غاړه خلاصه شوه او ددے نه سوا نور ټول اعتکافونه مستحب قسم دی (درص۱۵۵ و ۱۵۶ ج۱، عالمګیری ص۲۰۹ ج۱، وبحرص۲۹۹ ج۲) **مسئله ۴:-** واجب اعتکاف د پاره روژه نیول شرط دی بلکه که دے اعتکاف سره د چا د روژے نه نیولو نیت اوکړو نو هم پرے روژه نیول ضروری وی ځکه به صرف د شپے د اعتکاف نیت کول لغو (بے فائده) وی په دے بناء که د شپے ورځے د اعتکاف نیت اوکړی یا یوازے د ورځے د اعتکاف نیت اوکړی نو شپه پکښې ضمناً داخلیږی او د شپے اعتکاف کول په هم ضروری وی او که یوازے د یوے ورځے د اعتکاف نذر اوکړی نو بیا به شپه پکښې ضمناً هم داخله نهٔ وی، خاص د اعتکاف د پاره روژے نیول ضروری نهٔ دی د رمضان روژے هم دے د پاره کافی کیږی چه په رمضان کښې د اعتکاف کولو نذر اوکړی خو دغه روژے د واجب وی نفل روژے دے د پاره نهٔ کافی کیږی مثلاً یو کس د ورځے نفل روژه اونیسی او بیا د دغے ورځے د اعتکاف نذر اوکړی نو صحیح نهٔ دی که څوک دټولے میاشتے د رمضان شریف اعتکاف نذر کړی او په رمضان کښې ئے اونهٔ کړے شی نو بیا به میاشت کښې چه اوکړی نذر به ئے پوره شی خو په مخه (بے وقفے) روژه نیول به ورد پاره ضروری وی چه پکښې به دغه اعتکاف کول ضروری وی (درمختار ص۱۵۶ ج۱ بحرص۳۰۰ ج۲، عالمګیری ص۲۰۹ ج۱) **مسئله ۵:**

مسنون اعتكاف هم په روژه كښې وى ځكه ورډپاره د روژے شرط كولو ضرورت نشته (رد صـ۱۳۰ ج۱) **مسئله** :- په مستحب اعتكاف كښې احتياط د روژے شرط كيدل دى او اعتبارى ذخيره داده چه شرط نه دى (درمختار وشامى صـ۲۰۹ ج ۲) **مسئله** :- واجب اعتكاف هم كم نا كم يوه ورځ كيدے شى او زيات چه څومره نيت كوى او مسنون اعتكاف لس ورځے دے ځكه چه دا د رمضان شريف په آخرى لسيزه كښې وى او نفلى اعتكاف دپاره څه ټاكلے حد نشته چه يو منټ يا دد ے نه كم هم كيدے شى (مجمع الانهر بتغير صـ۲۵۵ ج ۱) **مسئله** :- د اعتكاف په حالت كښې دوه قسمه كارونه حرام دى چه د هغے په كولو سره واجب او مسنون اعتكاف فاسد يږى (ماتيږى) چه قضا به ئے راوړے شى او مستحب اعتكاف پرے بيخى ختميږى، خو قضائے هم نشته (درمختار صـ۱۵۵ ج۱، بحر صـ۳۰۲ ج۱) په اعتكاف كښې يو مبے قسم حرام كارے ضرورته بهرته وتل دى، ضرورت نه مراد طبعى او شرعى دواړه دى طبعى لكه واړه، لوئے بول، دجنابت غسل، خوراك څكاك (چه بل څوك ئے دراوړو دپاره نه وى) شرعى ضرورت لكه د جمعے مونځ (درمختار صـ۱۵۵ ج۱، بحر صـ۳۰۲ ج ۱). **مسئله** :- د كوم ضرورت پوره كولو دپاره چه د جومات نه بهر ووځى نو هلته د ے د هغے پوره كولو نه سمدستى جومات ته راځى ډيل دے نه كوى، كوشش دے دا كوى چه نزدے ځائے كښې خپل ضرورت پوره كوى مثلاً لوئے او دس ماتى د پاره چه ځى نو د دوست يا خپلوان نزدے كورته دے ځى كه خپل كور ئے لرے وو البته كه د خپل كور نه بغير ئے په تسلى سره ضرورت نشو پوره كيدے نو بيا جائز دى، كه د جمعے مونځ دپاره لاړ شى او يا تے نورا اعتكاف هلته پوره كړى نو هم روا دى خو مكروه والے پكښې شته (شامى صـ۱۳۱ ج ۲ درر صـ۱۳۲ و ۱۳۳ ج ۲ وبحر صـ۳۰۱ ج ۲) **مسئله** :- چه كوم عذر ډير پيښيدونكے نه وى هغے دپاره د خپل اعتكاف د ځائے پريښودل نشته مثلاً د رنځور پوښتنے (عيادت) دپاره يا د ډوبيدونكى د بچ كولو دپاره يا د اور مړ كولو دپاره يا د جومات د غورځيدو د ويرے نه په دے صورتونو كښې اګر چه د اعتكاف د ځائے نه وتل ګناه نه ده بلكه د ځان ساتلو په غرض ضرورى دى خو اعتكاف ورسره ماتيږى كه شرعى يا طبعى ضرورت دپاره او ځى او د ضرورت پوره كولو نه پس يا يو مبے د مريض عيادت (پوښتنه) اوكړى يا د جنازے په مونځ كښې شريك شى، نو څه بد يت نشته.

(در وردص ۱۳۲ و ۱۳۳ ج ۱ وبحر ص ۳۰۲ ج ۲ عالمگیری ص ۲۱۱ ج ۱) **مسئله[۱۳]:-** دجمعې د
مونځ دپاره به دا سې وخت ځئ چه تحیة المسجد او دجمعې سنت هلته
کولے شئ او پس دمونځ نه هم سنتو کولو دپاره ایسار یدل جائز دی
ددے وخت اندازه ددغه سړی رائے ته پریښودے شوے ده که اندازه
غلط اوختله یعنی ډیر ړومبے لاړشی نو څهٔ بدیت نشته (بحر ص ۳۲ ج ۲)
مسئله[۱۴]:- پهٔ زبردستئ داعتکاف دځائے نه په اوبنکلو سره ئے اعتکاف
ماتیږی خواه دغه اوبنکل په جائز یا ناجائز وی، مثلاً دحاکم وخت د
طرف نه ورپسے وارنټ وی یا د قرض غوښتلو وصولولو دپاره وی. **مسئله[۱۵]:**
دغسے که څهٔ شرعی یا طبعی ضرورت دپاره اووځئ او پهٔ لاره کښے ئے څوک
قرض غوښتونکے را ایسار کړی او داعتکاف ځائے ته پهٔ راتلو کښے ډیل
اوشی نو پهٔ دے صورت کښے هم اعتکاف قائم نه پاتے کیږی (رد ص ۱۳۳ ج ۲
عالمگیری ص ۲۱۱ ج ۱) دویم قسم پهٔ اعتکاف کښے ناجائز څیزونه جماع
(کوروالے کول) وغیره دی که دا پهٔ قصد وی یا په هیره، داعتکاف
دخیال د نشتوالی پهٔ وجه پهٔ جومات کښے اوکړی او که بهر پهٔ دواړو
صورتونو کښے اعتکاف باطلیږی، دجماع (کوروالی) تابع کارونه لکه
ښکلول یا ترغاړے باسل هم داعتکاف پهٔ حالت کښے ناروا دی خو دے
سره تر هغے وخته اعتکاف نهٔ باطلیږی چه منی ئے نه وی وتلی، که
اووتله، نو اعتکاف ئے مات شو، البته که صرف پهٔ خیال او تصور سره
منی اووتله نو اعتکاف نه ماتیږی (فتاوی هندیه ص ۲۱۱ ج ۱، در ص ۱۵۸ ج ۱
بحر ص ۳۰۲ ج ۱) په اعتکاف کښے بے ضرورته پهٔ څهٔ دُنیاوی کار کښے لګیدل
مکروه تحریمی دی مثلاً بے ضرورته خرید وفروخت یا دتجارت څهٔ کار
کول البته کوم کار چه ډیر ضروری وی، مثلاً پهٔ کور کښے دخوراک دپاره
څهٔ نهٔ وی او دمعتکف نه سوا بل څوک اعتباری بنده دخرید اری دپاره
نهٔ وی، نو پهٔ دا سے حالت کښے خرید، فروخت کول ور دپاره جائز دی
خو مبیعه (دخرڅولو څیز) جومات ته راوړل په هیڅ حال کښے جائز نهٔ
دی خو شرط دا دے چه په راوړلو ئے جومات نهٔ خرابیږی او نهٔ پکښے
څهٔ ځائے بندیږی، که دا نهٔ وی نو دبعضے پهٔ نزد، جومات ته ئے
راوړل جائز دی (رد ص ۱۳۴ ج ۲، بحر ص ۳۰۳ ج ۲) **مسئله[۱۶]:-** داعتکاف پهٔ
حالت کښے بیخی چپ کښیناستل مکروه تحریمی دی، البته خرابے خبرے
دے نهٔ کوی، دروغ دے نهٔ وائی، غیبت دے نهٔ کوی بلکه دقرآن کریم

تلاوت دے کوی یا دینی تعلیم دے زده کوی او بل ته دے ښائی یا بل څهٔ عبادت دے کوی، خلاصه دا چه چپ کښیناستل څهٔ عبادت نهٔ دے (دُر مختار و بحر ص۳۰۴ ج۲، عالمگیری ص۲۱۲ ج۱)

د زکوٰة بیان

مسئله ۱ :- یو کال تیریدل په ټولو کښے شرط دی (شرح البدایه ص۱۶۵ و ۱۶۸ ج۱ و عالمگیری ص۱۴۲ ج۱)

مسئله ۲ :- په څاروو کښے د زکوٰة فرض کیدو د پاره یوه خبره دا ده چه څاروی دے سائم وی، سائم هغه څاروی دی چه د نیم کال نه زیات ئے صرف په څرند کار کیږی تیارے گیاه ته ئے ضرورت نهٔ وی۔ بله دا ده چه د پیُو یا د نسل (کول) زیاتولو یا د غړبولو په غرض ساتلے شوی وی، خو که د غوښے د خوراک یا سورلئ په غرض ساتلے شوی وی نو دے ته سائمه نشی وئیلے۔ (دُر و رد ص۱۵ خ۱، عالمگیری ص۱۷۴ ج۱، بحر ص۲۱۳ ج۱)

د سائمه څاروو د زکوٰة بیان

مسئله ۱ :- د سائمه څاروو په زکوٰة کښے دا شرط دے چه اوښ اوښه، غوا، غوایه، سنډا، میښه، چیلے، چیلئ، گډه، گډورے وی، په ځنګلی څاروو لکه هوسئ وغیره کښے زکوٰة نشته۔ البته که د تجارت په غرض سره ساتلے شی نو د تجارت په حساب سره به پکښے زکوٰة ورکولے شی، د ځنګلی او کورنی څاروی فیصله به په مورئے کولے شی که مورئے کورنئ وه او پلار ئے ځنګلی وو نو څاروے به کورنے حسابیږی مثلاً د چیلئ او هوسئ نه پیدا څاروے به چیلے چیلئ حسابیږی د غنمے نور۔ (رد ص۱۵ ج۲) مسئله ۲ :- سائمه څاروی چه د کال په مینځ کښے د تجارت په نیت سره خرڅ کړے شی نو په دغه کال کښے به ئے زکوٰة نشی ورکولے او د کله نه چه دے د تجارت نیت اوکړی نو د غه وخت نه به ئے تجارتی کال شروع شی (در ص۱۳۱ ج۱) مسئله ۳ :- د څاروو په بچو کښے چه هغه یوازے وی نو هغے زکوٰة ورکول فرض نهٔ دی البته که د ورسره نور لوئے څاروی وی نو هله به په حساب سره پکښے زکوٰة فرض وی او په زکوٰة کښے به همدغه لوئے څاروے ورکولے شی او د کال پوره کیدو نه پس دغه لوئے څاروے مړ شی نو زکوٰة پکښے ساقط شو (نهٔ به شی ورکولے) (در ص۱۳۳ ج۱، بحر ص۲۱۷ ج۲، عالمگیری ص۱۷۵ ج۱) مسئله ۴ : د وقف څاروو کښے زکوٰة فرض نهٔ دے۔ (دُر ص۱۳۱ ج۱) مسئله ۵ :- په سائمه آسونو کښے کله چه نر او ښځے گډ وی یا خو به دیویواس (اسپے) په

سریو یو دینار یعنې پاؤ کم درې٣ درې توله چاندي ورکوي یا به د هغو قیمت ورکوي او په هغو کښې به څلویښتمه برخه زکوٰة ورکړي. **مسئله٦:** په خرونو او قچرو کښې چه تجارت د پاره نه وي زکوٰة نه شته. (در صـ١٣٣/١٥)

داوښانو نصاب

یاد لرئ چه په پنځو اوښانو کښې زکوٰة فرض دے، د دے نه په کمو کښې فرض نه دے، په پنځو اوښانو کښې زکوٰة یوه چیلۍ په لسو کښې دوه٢ په پنځلسو١٥ کښې درې٣ او په شلو کښې څلور٤ چیلۍ / چیلي ورکول فرض دي چه د یو کال عمر نه کم نه وي او په منځ منځ کښې هیڅ زکوٰة نشته، بیا په پنځه ویشتو٢٥ اوښانو کښې یوه داسې بچۍ اوښه ده چه د یو کال عمر ئې پوره شوی وي او په دوئیم کال کښې روانه وي، د شپږ ویشتو نه تر پنځه دیرشو پورې هیڅ نشته په شپږ دیرشو اوښانو کښې یوه داسې اوښه چه د عمر دریم کال ئې شروع شوے وي، د اوه دیرشو٣٧ نه تر پنځه څلویښتو پورې هیڅ نشته، په شپږ څلویښتو اوښانو کښې یوه داسې اوښه ده چه څلورم کال د عمر ئې شروع شوے وي او د اوه څلویښتو نه تر شپیتو پورې هیڅ زکوٰة پکښې نشته بیا په یو شپیتو اوښانو کښې داسې یوه اوښه ورکول دي چه پنځم کال د عمر ئې شروع شوے وي، د دوه شپیتو نه تر پنځه اویاؤ پورې هیڅ نشته، بیا په شپږ اویاؤ کښې دوه دوه کلنې اوښانې دي، د اوه اویاؤ نه تر څلور نیمو شلو٩٠ پورې هیڅ نشته بیا په یو د پاسه څلور نیمو شلو کښې دوه درې کلنې اوښې دي د دوه د پاسه څلور نیمو شلو نه تر شپږ وشلو پورې هیڅ پکښې نشته چه د شپږ وشلو نه زیاتې شي نو بیا به د نوي سره حساب کیږي څلور د پاسه په شپږ وشلو باندې هیڅ نشته خو چه پنځه پرې د پاسه شي نو یوه چیلۍ / چیلي او دوه درې کلنې اوښې به پکښې ورکوي، په هر پنځو به دے نه پس یو یو چیلي / چیلۍ زیاتولے شي تر څلور د پاسه په اوو شلو کښې خو چه کله پنځه د پاسه اوو شلو ته ئې شمیر اورسي نو یوه کلنه اوښه او دوه درې کلنې اوښې به ورکوي تر نهه د پاسه اوو شلو پورې په اوه نیمو شلو اوښانو کښې نو درې څلور کلنې اوښې به ورکوي، کله چه دے نه زیات شي نو بیا به د نوي سره هغسې حساب کوي څنګه چه مونږ د پنځو نه تر پنځه څلویښتو پورې بیان کړو خو چه یو پرې د پاسه شي او څلور کم دوه سوو٢٠٠ ته اورسي نو څلور درې کلنې اوښې به فرض شي تر دوو سوو پورې چه دے نه هم

زياتے شي نوحساب به هغسے سردوباره کوے شي ځکه چه داوونيمو شلونه پس سردوباره کړے شوے وو (شرح البدايه ص۱۶۸ و۱۶۹ ج۱ درص۱۳۱ ج۱ بحرص۲۱۳ و۲۱۴ ج۱) **مسئله** :- داوبنانو په زکوٰة کښے به اوبنه ورکولے شي البته که نر ورسره په قيمت کښے برابر وو نو نر ورکول هم درست دي

دغوا ميښے نصاب

دغوا ميښو يوحساب دے، نصاب ئے هم يو دے که ددواړو په يوځائے کولو سره نصاب پوره کيږي نو دغسے دے کولے شي مثلاً ستل ۲۰ ميښے اولس غوا کانے (ديرش) نو په دے کښے زکوٰة د زيات شمير د خاروونه ورکولے شي مثلاً دلته به د ميښو د جنس نه په زکوٰة کښے ورکولے شي اوکه دواړه قسمه په شمير کښے برابر وونو په اعلیٰ قسم کښے کوم خاروے چه د زيات قيمت وي هغه به ورکوي چنانچه په ديرشو غواګانو ميښو کښے به يوکلن خځے يا کټے ورکولے شي (نراوښځه يکښے برابردي) دديرشو نه په کم شمير کښے زکوٰة نشته، ديرشو نه پس تر يوکم څلويښتو پورے هيڅ نشته، چه شميرے څلويښت شي نو دوه کلن خځے /خحئ يا کټے/کټئ پکښے واجب شي يوڅلويښتو نه تر يوکم شپيتو پورے پکښے هيڅ نشته کله چه شپيته شي نو يوکلن درے بچي به ورکولے شي کله چه د شپيتو کالونه زيات شي نو په هرو ديرشو پسے به يوکلن بچے په هرو څلويښتو دوه کلن بچے مثلاً چه اويا شي نو يو، يوکلن او يو دوه کلن بچے به زکوٰة کښے ورکولے شي په اويا کښے دوه (دديرشو او څلويښتو) دوه نصابونه دي اوکله چه شمير ئے اتيا شي نو دوه دوه کلن بچي به ورکولے شي او په څلور نيمو شلو کښے درے، يوکلن بچي په سلو کښے به يوکلن دوه بچي او دوه کلن يو بچے، په دے حساب به هرو ديرشو پسے يوکلن بچے او هرو څلويښتو پسے دوه کلن بچے ورکولے شي خوکله چه مختلف نصابونه را يوځائے شي نو اختيار دے چه دکوم نصاب په حساب ئے ورکوي مثلاً په شپږ وشلو کښے څلور نصابونه د ديرشو او درے نصابونه د څلويښتو جوړيږي نو خوښه ئے ده چه څلور يوکلن بچي په زکوٰة کښے ورکوي او که دوه کلن درے بچي پکښے ورکوي (در ورد ص۱۸۰ ج۲ هدايه ص۱۶۹ و ۱۷۰ ج۱)

دګډو چيلو نصاب

دزکوٰة په باره کښے ګډے چيلئ دواړه برابردي، دلَم او بے لمه ګډ يوشان

حسابیږی، که ددواړو نصاب بیل بیل پوره شی نو ددواړو زکوٰة به یو ځائے ورکولے شی او مجموعه به یو نصاب وی او که دهر یو نصاب ځان ځانله نه پوره کیږی او پۀ یو ځائے کولو پوره کیږی نو یو ځائے دے کړی او یو نصاب دے ترینه جوړ کړی خو زکوٰة کښې به هغه ورکوی کوم چه پۀ شمیر زیات وی مثلاً پنځلس چیلۍ دی او پنځویشت ګډے دی نو پۀ دے کښې به یوه ګډه ورکوی ځکه چه ګډے پکښې زیاتے دی او که دواړه برابر وی نو اختیار دے چه دکوم شمیر په حساب زکوٰة ورکوی دځلویښتو نه پۀ کمو ګډو وچیلو کښې زکوٰة نشته چه څلویښت شی نو یو به پکښې زکوٰة ورکولے شی دے نه پس ترشپږوشلو پورے پکښې زکوٰة نشته پـه یـو دپاسه شپږ وشلو کښې دوه چیلۍ / ګډے دی دے نه پس تر دوه سوو پورے پکښې هیڅ نشته، چه یو دپاسه دوه سوه شی نو درے به پکښې زکوٰة ورکولے شی، یو کم څلور سوو پورے پۀ دغې زیاتی کښې زکوٰة نشته خو چه څلور سوه شی نو څلور به پکښې زکوٰة ورکولے شی دڅلور سوو نه پس په هر وسلو به یو په زکوٰة کښې ورکولے شی۔

(درص۱۳۳ ج۱، ردص۱۹ ج۲، هدایه ص۱۸ ج۱) **مسئله ۱:**۔ دګډو وچیلو پۀ زکوٰة کښې د نر ښځې څۀ قید (سوال) نشته، خو بچے دیو کال عمر نه کم پۀ زکوٰة کښې نۀ دی ورکول پکار، دچیلۍ وی که دګډے۔

دزکوٰة مختلفې مسئلې

مسئله ۱:۔ حلال او حرام مال چه سره ګډ کړے شی نو دے ټول مال زکوٰة به ورکولے شی (دروشامی ص۲۵ ج۲، بحرص۲۰۵ ج۲) **مسئله ۲:** که څوک دزکوٰة د واجبید و نه پس مړ شو، نو دغه زکوٰة به د هغه د زکوٰة نه نشی اخستے، البته که وصیت ئے کړے وو نو دمال (میراث) د دریمې برخې نه به ئے اخستے شی، اګرچه ورسره پوره زکوٰة نۀ ادا کیږی، که وارثان ئے پۀ زیات مال ورکولو راضی شو نو چه په څومره راضی شی هغومره مال به ئے زکوٰة کښې ورکړے شی (درص۱۳۴ ج۱)

مسئله ۳:۔ که یو کال پس قرضخواه قرضدار ته او بښلو نو دتیر شوی کال زکوٰة قرضخواه به نۀ ورکوی که قرضدار مالدار وی نو ورته قرض معاف کول دمال تباه کول دی او قرضخواه به ئے زکوٰة ورکوی ځکه چه دزکوٰة دمال پۀ تباه کولو سره د هغې زکوٰة نۀ ساقطیږی۔ (درص۱۳۶ ج۱ بحرص۱۵۹ ج۲)

مسئله ۴:۔ د قرض او واجب صدقو نه علاوه (نورے) صدقے هغه وخت

کښیے ورکول مستحب دی چه د ضرورتونو نه زیاتی وی کنی نو مکروه دی، دغسے خپل ټول مال صدقه کول هم مکروه دی، البته که دچا د صبر او توکل جذبه یقینی او مضبوطه وی او دبال بچ د تکلیف هم خهٔ احتمال نهٔ وی نو بیا مکروه نهٔ، بلکه زیات غوره دی (ردالمحتار ص۷۲ ج۲)

مسئله :- که یونابالغه جینئ دخاوند کورته په نکاح کولو دخپل کور نه رخصت کړے شی، که هغه (جینئ) مالداره وی نو د هغې دمال نه صدقه فطر (سرسایه) ورکول واجب دی، او که مالداره نهٔ وی خو دخاوند خدمت کولے شی او ورسره تعلق ساتلے شی (یعنی کار ئے پرے جوړ وی) نو صدقه فطر پرے پخپله هم نشته او نه ئے په نور چا او خاوند شته، کنی نو پهٔ پلار ئے صدقه ورکول واجب دی، خو که دغه جینئ د خاوند کورته نهٔ وه رخصت کړے شوے نو صدقهٔ فطرئے ورکول پهٔ پلار باندے واجب دی اگرچه دغه جینئ باندے دخاوند کار جوړیدے شی (درورد ص۷۲ ج۳ وبحر ص۲۵۳ ج۲)

داصلی جنتی کالی د دریمے برخے تتمه ختمه شوه، دڅلورمے برخے تتمه نشته ځکه وریسے د پنځمے برخے تتمه شروع کیږی۔

داصلی جنتی کالی د پنځمے برخے تتمه

دویښتو پهٔ باره کښے احکام

مسئله :- دغوږونو ترنرمو پورے یا دے نه لاندے پورے د سرویښته ساتل سنت دی، که سرخرئیل وی نو ټول سرخرئیل سنت دی، لنډول ئے هم روا دی خو چه ټول ئے لنډ کړی څهٔ لنډول او څهٔ پریښودل ځنگه چه نن صبا فیشن دے داهم جائز نهٔ دی دغسے خرئیلو حکم هم دے چه څهٔ خرئیل او څهٔ پریښودل هم جائز نهٔ دی (رد ص۴۰۲ ج۵ فتاوی هندیه ص۲۳۵ ج۱) **مسئله** :- نارینه چه خپل ویښته ډیر اوږده کړی نو د ښځو په شان ترل ئے درست نهٔ دی (در ص۴۰۵ ج۵ فتاوی هندیه ص۳۰۵ ج۴). **مسئله** :- د ښځے ویښته (د سر) لنډول او خرئیل حرام دی حدیث کښے پرے لعنت راغلے دے (حواله ئے هم دا وړاندے تیره شوے ده) **مسئله** :- د ښونډے ویښته د ومره لنډول چه د ښونډے برابر شی، سنت دی او پهٔ خرئیلو کښے ئے اختلاف دے ځنے ورته بدعت وائی او ځنے اجازت ورکوی لهٰذا احتیاط پکښے دادے

چه اونهٔ خرئيلے شي (رد ص۲۰۱ ج ۵)۔ مسئله۵:۔ دواړو طرفو ته بريت اوږدګه پرېښودل درست دي خو هله چه دشونډے وېښته اوږده نهٔ وي (رد ص۲۰۲ ج ۵، فتاوٰی هنديه ص۲۳۹ ج ۴) مسئله۶:۔ بږيره خرئيل او پرېکول حرام دي، البته دموټې نه چه زياته وي نو دهغې پرېکول درست دي دا سے دبږيرے څلورواړو طرفونوځنګه لږ لږ قدرے وېښته اخستل چه برابره شي اوښهٔ ښکاري درست دي۔ (رد ص۲۰۱ ج ۱، فتاوٰی هنديه ص۲۳۹ ج ۴) سرې لره بږيره خرئيل حرام دي۔ درمختار برهامش ردالمحتار) مسئله۷:۔ انګوارخ ته چه کوم وېښته ورتېر شي دهغې برابرول اوخط ئے جوړول درست، دغسے دواړه وروځے څهٔ قدرے اغستل برابرول ئے هم درست دي (رد ص۲۶ ج ۵، فتاوٰی هنديه ص۲۳۹ ج ۴) مسئله۸:۔ دمرئ وېښته اغستل (خرئيل) نهٔ دي پکار مګر دابي يوسف رح نه منقول دي چه څهٔ باک ئے نشته (فتاوٰی هنديه ص۲۳۹ ج ۴) مسئله۹ دلاندينئ شونډے وېښته اغستل دفقهاؤ پهٔ قول بدعت دے دغسے دځټا وېښته اخستلو اوسمولو ته هم فقهاؤ مکروهه وئيلي دي (رد ص۲۰۱ ج ۱، فتاوٰی هنديه ص۲۳۹ ج ۴) مسئله۱۰:۔ دزينت په خيال سپين وېښته ويستل منع دي البته مجاهد دپاره منع نهٔ دي چه څهٔ کفاروباندے دُرعب کښېنولو پهٔ خاطرے کوي (عالمګيري ص۲۴ ج ۱) مسئله۱۱:۔ دپوزے وېښته او ښکل نهٔ دي پکار بلکه په قينچي ئے پرېکول (اغستل پکار دي۔ مسئله۱۲:۔ دسينے اوملا (شا) وېښته جوړول جائز دي مګر دآدب نه خلاف اوناخوښه دي (رد ص۴۰ ج ۵ فتاوٰی هنديه ص۲۳۹ ج ۴) مسئله۱۳:۔ سړي دپاره دنامه نه لاندے وېښتو اغستو دپاره غوره طريقه په چاړه (پاکی) سره اخستل دي، شروع به دنوم نه لاندے برخے نه کوي او په هړتالو يا نورے دوايئ لګولو سره ئے لرے کول هم جائز دي، ښځو دپاره سنت طريقه دادهٔ چه پهٔ ګوتو يا نوسي سره راؤباسي چه په چاړه سره ئے اونهٔ کړي (رد ص۴۰ ج ۵) مسئله۱۴:۔ دترخ وېښته پهٔ نوسي سره اوښکل غوره دي خو په چاړه سره ئے خرئيل هم جائز دي (درص۴۰ ج ۵)۔ مسئله۱۵: دے نه علاوه دټول بدن وېښته خرئيل اوپرېښودل دواړه جائز دي مسئله۱۶:۔ دځېنو نوکونه لرے کول هم سنت دي، البته مجاهد دپاره په دارحرب کښے نوکونه اوبريت نهٔ لنډول مستحب دي (درص۲۹۹و۴۰ ج ۵) مسئله۱۷:۔ دلاسونو نوکونه په دے ترتيب سره پرېکول غوره دي، دښي

لاس د مسواک کوتے نه به شروع کړی او په قچه کوته به ئے ختم کړی بیا به دکس لاس د قچے کوتے نه شروع کړی چه ټول پنځه واړه نوکونه دے لاس پرے کړی نو په آخر کښے به د ښی لاس د کښتے کوتے نوک پریکړی خو د خپو نوکونه پریکول به داسے کوی چه د ښی خپے د قچے کوتے نه به شروع کړی او د کسے خپے په قچه کوته به ئے په ترتیب سره ختم کړی خو په بله طریقه کټ کول د دواړو هم درست دی (رد ص۲۰۱ ج۵)

مسئله: پریکړی نوکونه او ویښته ښخول پکار دی یائے په یو پاک ځائے کښے اچول پکار دی که په ګندګی ځائے کښے ئے اوغورځول نو د رنځوریدو ویره ده (رد ص۳۹۹ ج۵، وفتاوی هندیه ص۲۳۹ ج۱).

مسئله ۱۹: د نوکونو په غابنونو سره پریکول مکروه (طبی) دی دے نه د برګی مرض پیدا کیږی (هم دا پاسنی حواله) **مسئله ۲۰:** د جنابت په حالت کښے ویښته جوړول او نوکونه وغیره پریکول (د نوم لاندے ویښته پریکول هم) مکروه دی (فتاوی هندیه ص۲۳۹ ج۴) **مسئله ۲۱:** په هره هفته کښے د نامه نه لاندے او د ترخونو ویښته خریل بریت لنډول او نوکونه پرے کول او ځان په لمبا وغیره سره صفا سُتهره ساتل زیات غوره دی، دے دپاره د ټولو نه زیات غوره د جمعے ورځ ده چه د جمعے د مونځ نه وړاندے ځان دغے کارونو نه اوزګار کړی او د جمعے مانځه له لاړ شی چه هره هفته نۀ وی نو په پنځلسمه ورځ هم ښۀ ده خو د خلویښتو ورځو نه ئے روستو کول رخصت نشته ولے چه دے سره ګنهګاریږی. (فتاوی هندیه ص۲۳۵ ج۲ ورد ص۲۱ ج۵)

د شفعے بیان

مسئله ۱: شفیع د زمکے د دے خبر په رسیدو چه خرڅه شوه او دے پرچپ پاتے شو (یعنی سمدستی ئے د شفعے کولو اراده ښکاره نۀ کړه) نو شفعه ئے باطله شوه. که د زمکے د خرڅید و خبر ورته د خط په ذریعه اورسید وچه په اول سرکښے ئے دغه خبر لیکلے شوے وو او د ټول خط چه ټول اولوستو او د هغے نه پس ئے د شفعے کولو اراده ښکاره کړه نو په دے سره هم شفعه باطله شوه (یعنی د شفعے کولو حق ئے پاتے نشو) - (رد ص۲۱۹ و۲۲۰ ج۵، فتاوی هندیه ص۱۷۰ ج۴)

مسئله ۲: که شفیع دا اوواي چه دومره رقم راکړه نو زۀ به شفعه نۀ کوم نو په دے صورت کښے دے د خپل حق (شفعے) په پریښودو راضی شو نو شفعه ئے ساقطه (پاتے) شوه، البته د دغه شرط کړے شوی رقم ورکول

او اغسنل دواړه ځکه حرام دي چه دا رشوت دے (فتاوٰی هنديه ص۳۳ ج۴ وهدايه ص۲۰۴ ج۱) **مسئله ۳:-** حاکم د شفعې فيصله نهٔ وه کړے چه شفيع مړ شو نو شفعه ختمه شوه يعنې د شفيع وارثان **يا** اولاد ئې د شفعې حقدار پاتې نشو او که خريدار د زمکې مړ شو نو د غه شفعه بدستور جاري ده (درص۲۱۵ ج۲، هدايه ص۴۰۴ ج۴) **مسئله ۴:-** شفيع ته په غلط قيمت باندے د مکان وغيره خرڅيد و خبر اورسيدو يا ورته د زمکې وغيره دغلط خريدار خبر ورکړے شو، يا دا خبر ورکړے شو چه نصف (نيم) مکان خرڅ شوے دے او په دے ټولو صورتو نو کښې د شفعې نه دستبردار شو بيا په حقيقت کښې خبر شو نو شفعه کولے شي (يعنې شفعه ئې باطله نهٔ ده) (هدايه ص۴۰۵ ج۱)-

دمزارعت (فصل) اومساقاة (ميوو) دويش بيان

مسئله ۱:- چا خالي زمکه بل چا ته په دے غرض ورکړه چه کروندګر دے پکښې کوي او حاصلات کښې به دواړه په فلاني نسبت مثلاً په دريو کښې دوه برخې ځما او يوه برخه ستا وي يا به نيمه ستا او نيمه ځما وي نو دا مزارعت دے چه جائز دے (هدايه ص۴۰۵ ج۴، درص۲۲۳ ج۲، فتاوٰی هنديه ص۹۶ ج۴) **مسئله ۲:-** يو کس نګولے تيار باغ چا ته په دے غرض ورکړو چه اوبه ورکوي او خدمت ئې کوي او دپيداوار (دميوے) به نيم په نيمه وي او دا لوظنامه مثلاً تر لس کاله پورے اوکړي دے ته "مساقاة" وائي چه جائز دے (هدايه ط۴۲ ج۴ درص۲۲۵ ج۲)- **مسئله ۳:-** دمزارعت دصحيح والي دپاره شرطونه دادي: (۱) زمکه دے د فصل کولو جوګه وي (۲) د زمکې مالک او کروندګر دے عقلمند او بالغ وي (۳) د زراعت د مودے بيانول (۴) دا بيانول چه تخم به د مالک وي او که د کروندګر؟ (۵) د جنس بيان چه غنم به مثلاً کرلے شي يا وربشے؟ (۶) د کروندګر د برخې ټاکل چه ټول پيداوار کښې به څومره وي؟ (۷) زمکه خالي کول او کروندګر ته ئې سپارل (۸) د زمکې په پيداوار (حاصلات) کښې د کروندګر او مالک شريک پاتې کيدل (۹) زمکه او تخم ديو (مالک) او قلبه خواري وغيره د بل (کروندګر) کيدل يا صرف زمکه د مالک او نور ټول خيزونه د بل (کروندګر) کيدل (درص۲۲۳ ج۲) **مسئله ۴:-** که په دے شرطونو کښې څه يو شرط نهٔ وي نو مزارعت صحيح نهٔ دے، يعنې فاسد به وي- (درص۲۲۳ ج۲) **مسئله ۵:**

په مزارعت فاسده کښې به ټول پیداوار دهغه چا وی چه تخم ئې اچولے وی او بل ارخ ته که د زمکے مالک وی نو د زمکے کرایه به د دستور په جوړ ورکولے شی خود امزدوری اوکرایه به د هغې اندازے نه زیاته نشی ورکولے کومه چه د دواړو ترمنځه ټاکلے شوے وه یعنی مثلاً نیمه دیو او نیمه دبل وه نو د ټول پیداوار د نیمے برخے نه په زیات نشی ورکولے. (درص۲۲۴ ج ۲، هدایه ص۴۲۵ و۴۲۶ ج ۴) **مسئله۶**:- د مزارعت په معامله کښې د شرطونو په موجب که څوک د کار کولو نه انکار کوی نو په زور به ترے کار اخستے شی لیکن د تخم خاوند نه به په زور کار نشی اخستے (درص۲۲۴ ج ۲ هدایه ص۲۶ ج ۴) **مسئله۷**:- که د مزارعت په دواړو اړخونو یوالانو کښې یو کس مړ شی نو مزارعت به باطل شی (هدایه ص۲۶ ج ۴) **مسئله۸**: که د مزارعت ټاکلے موده تیره شی او فصل لا تیار نه وی نو د زمکے مالک ته به کروندګر د دغه ځائے د دستور په جوړ د دغه زیاتو ورځو کرایه ورکوی (درص۲۲۴ ج ۲ هدایه ص۲۷ ج ۲) **مسئله۹**:- د ځینو ځایونو د دستور په جوړ د زمکے نه چه کومه غله پیدا کیږی نو هغه خو د دواړو اړخو ترمینځه ویشلے شی او د څرند کیاه وغیره څیزونه نشی ویشلے بلکه د جریباتو په حساب کروندګر ته هغه په څهٔ عوضانه کښې مُجره کولے شی، اګرچه په ظاهره د مزارعت نه خلاف معلومیږی چه ناجائز به وی، خو په دے تاویل سره چه دغه قسم څیزونه د مزارعت په کښې حساب نشی او په دے باره کښې د دواړو اړخو مراد دا واخستے شی چه په فلانی جنسونو کښې د مزارعت لوظ کولے شی او په فلانی جنسونو کښې زمکه د اجارے په ډول ورکولے شی، دا شان جائز کیږی خو په دے د دواړه اړخیزه رضامندی شرط ده (درو شامی ص۱۹۷ ج ۵) **مسئله۱۰**:- ځنې مالکان د زمکے دا سے کوی چه خپله برخه واخلی نو په کروندګر باندے د نایانو شیخیانو وغیره حقونه زیاتی اړدی دا ناجائز دی خو که دا سے ئے او ټاکل چه مثلاً په یو من کښې یو سیر (یعنی سیر منځے) نو دا به درست وی (عالمګیری) **مسئله۱۱**:- ځنے خلق صفا معامله نه کوی چه څهٔ به کرل وی روستو بکښې جنجالونه راپورته شی دا جائز نه دی یا خو دے صفا د تخم نوم اخلی یا دے عام اجازت ورکړی چه په خپله خوښه هر څهٔ کرلے شی (فتاوٰی هندیه ص۱۵۵). **مسئله۱۲**:- بعضے ځایونو کښې دا رواج هم شته چه کروندګر د تخم کولو نه پس د خدمت د پاره دغه زمکه بل چا ته حواله کړی او د پیداوا

خهٔ برخه مثلاً (دریمه برخه) دغه خواری کښې له ورکول مقرر کړی نو دا هم مزارعت دے، لیکن هله جائز کیږی چه د زمکې مالک ئې نه منع کوی او رضا وی پرے ورنه جائز به وی (عالمګیری ص۱۶۸ ج ۶) مسئله ۱۳:- په دے تیر شوی صورت کښې هم د دوهمې صورت پښان عرفاً تفصیل شته دے، څُنې حاصلات خو په دغې خواری کښې نو باندے و یشلے شی او څُنې کښې دجریبا تو په حساب څهٔ نغدیت ورکوی نو په دے کښې همدغه د ناروا والی شُبه او د روا والی تاویل جاری دے (ق) مسئله ۱۴:- څــهٔ موده دیو زمکې دکروندے کولو نه پس په هغې باندے د موروثیت (کسانی) دعوی کول خالص باطل، حرام، ظُلم او غصب دے، د مالک دخوشیٔ نه بغیر د دے نه نفع اخستل هرګز جائز نهٔ دی، د دا سے زمکې پید اوار خبیث او پلیت دے او خوراک ئې حرام دے (رد ص۲۴ ج ۴) مسئله ۱۵: دمساقاة حال په ټولو حالاتو کښې د مزارعت پشان دے۔ (دُر ص۲۲۵ ج ۲) مسئله ۱۶:- په مساقاة سره په اونو کښې دا سے میوه ورکول جائز دی چه په اوبه کولو او محنت کولو سره وده کوی کنې نو نا جائز دی لکه چه دفصل تیاریدو نه پس چه مزارعت جائز نه دے (در ص۲۲۶ ج ۲، هدایه ص۴۳ ج ۴) مسئله ۱۷:- دمساقاة لوظنامه چه فاسده شی نو ټوله میوه به هم داونو دخاوندوی او کارکونکی ته به محمولی مزدوری ملاویږی څنګه چه په مزارعت کښې ئې بیان اوشو۔ (در ص۲۲۶ ج ۲، هدایه ص۴۳ ج ۴)

دنشه دار څیزونو بیان

مسئله ۱:- کوم څیز چه نرم بهیدونکې نشه دار وی چه شراب وی که تاړی یا نور څهٔ او دد ے په زیاتو څکلو سره که نشه خیژی نو د هغې یوه قطره (څاڅکې) څکل هم حرام دی اګر چه په لږه سره ئې نشه نه خیژی، د دا سے څیز خوراک څکاک په دارو کښې استعمالول یا ئې په یواندام باندے تپل (پلستر کول) وغیره هم منع دی خواه دغه نشه دار څیز په خپل اصلی شکل پاتے شی خواه بل شکل اختیار کړی په دے بیان سره دی انګریزی دارو ګانو حال معلوم شو چه اکثر دا سے قسم څیزونه پکښې کوی (مجمع الانهر ص۵ ج ۲) مسئله ۲:- او کوم څیز چه نشه دار وی خو نرم نهٔ وی بلکه د اصل نه منجمد (سخت) وی لکه تمباکو، څیفل، افین وغیره، د هغې حکم دا دے چه یو څیز بالفعل نشه پیدا کوی یا ترے سخت ضرر وی نو هغه خو حرام دی او څومره مقدار چه نشه نهٔ راولی او نه

ترے ضرور رسی هغه خوجائز دی اوکه پهٔ ترے جوړه کړے شی نوهم غه بد یتا ئے نشته (دُرّ ص۲۵۲ ج ۵) -

دشرکت بیان

شراکت په دوه قسمه دے، یو تهٔ شرکت د املاک، وئیلے شی لکه دیومړی پهٔ میراث کښے چه څو وارثان شریک وی، یادوه کسه پهٔ شریکو روپوڅهٔ څیز واخلی یا خوک دووکسانو تهٔ څیز او بخښی دهغے حکم دادے چه یوشریک لره د اجازت نه بغیر پکښے تصرف کول جائز نهٔ دی . بل شرکت عقود دے، یعنی دوه کسان خپل منځ کښے لوظ اوکړی چه مونږ دواړه به پهٔ شریکه تجارت کوو د دے شرکت قسمونه او حکمونه دا دی (عالمگیری ص۳۰۱ ج ۲) **مسئله** :- دشرکتِ عقود بل قسم شرکت عنان دے هغه دادے چه دوه کسان خپل خپل رقم رایوځائے کړی او پرے دغلے جاے وغیره دتجارت کولو لوظنامه اوکړی، پهٔ دے کښے دا شرط دے چه ددواړو اصلی پنګه دے نقدیت وی، یعنی اشرفئ، روپئ یا ډالرے وغیره دے وی، پهٔ دے کښے پهٔ څه دا سے اسبا بونو شاملولو سره چه غیر نقدیت وی یایو طرف نه نقدیت وی او بل طرف نه غیر نقدیت وی نو دا شرکت به صحیح نه وی **مسئله** :- پهٔ دے شرکت عنان کښے روا دی چه د یو طرف مال زیات او د بل طرف کم وی او د نفع شرکت د بل شریک په رضا مندئ سره وی، یعنی که دا سے لوظنامه اوشوه چه اګرچه د یو طرف مال کم دے خو نفع به برابره ویشلے شی یا مال د دواړو یو شان دے خو نفع کښے به فرق وی (مثلاً یو به دریمه برخه نفع اخلی او بل به خلورمه برخه یا به یو پهٔ دریو کښے دوه او بل به یوه برخه پکښے اخلی) نو دا هم جائز دی. **مسئله** :- پهٔ دے شرکت عنان کښے هر یو شریک به شریک مال کښے د هر قسم تصرف (دتجارت پهٔ باره کښے) خو هله چه د لوظنامے خلاف نهٔ وی خو د یو شریک قرض به د بل شریک نه نشی غوښتے (مجمع الانهر ص۷۲۹ عالمگیری ص۳۰۲ ج ۲) **مسئله** :- د دا سے شرکت د لوظنامے نه پس که پهٔ دغه مال څهٔ څیز وانخستے (خرید نکړے) شو او تول د شرکت مال یا د یو کس مال بربادشو نو شرکت به باطل شی او که یو کس پکښے څه خرید کړے وی او بیا د بل مال تباه شو نو شرکت باطل نهٔ دے او شریک شوے مال به د دواړو شریک وی او څومره چه پهٔ راس المال کښے د دویم شریک برخه ده دهغے برخے په جوړ به د زرِ ثمن دهغے بل شریک نه وصولولے شی

مثلاً دیوکس لس روپیٔ وے او د بل پنځه دلسو روپو والا مال خرید کړے وو او د پنځو روپو د خاوند روپیٔ تباه شوے د پنځو روپو خاوند به په دے کښې د دریمې برخې شریک وی او د لسو روپو خاوند به د دے نه د لسو روپو په دریمه برخه نغده وصولوی چه درے روپیٔ پنځه آنے او غلور پایٔ (درے روپیٔ او درے دیرش پیسے واخلی او آینده کښې به دا مال به شرکت کښې خرڅولے شی (هدایه ص٦ ج ٢ و دُرّ ص٣٢٢ ج ١) **مسئله**: په دے شرکت کښې د دوو کسانو مال ګډول (یوځائے کول) ضروری نه دی صرف په زبانی ایجاب او قبول سره د دے شرکت تړون کیږی (هدایه ص٦١١ ج ٢) **مسئله**: نفع (ګټه) په نسبت سره تا کل پکار دی یعنی نیمه یا دریمه برخه خو که دا سے خبره شوه چه یوکس ته به سل روپیٔ او پاتے به د بل وی نو دا جائز نه دی. (هدایه ص٦١٢ ج ٢، دُرّ مختار ص٣٢٢ ج ١) **مسئله**: د شرکتِ عقود یو قسم ته شرکتِ صنائع شرکتِ تقبل هم وئیلے شی لکه دوه درزیان یا دوه رنګونکی چه خپل منځ کښې دا خبره غوټه کړی، چه هر یو ته چه کار راشی هغه دے ئے قبلوی او د هغے مزدوری به مونږ دواړه خپل منځ کښې ویشو یا دا سے چه نورخهٔ برخه، نو دا جائز دی (هدایه ص٦١٢ ج ١، در مختار ص٣٢٣ ج ١) **مسئله**: یو شریک چه کوم کار واخستو، په دواړو لازم شو مثلاً یو درزی چه کار (د ګنډلو) واخستلو نو هغه ورسره هغه بل شریک هم کولے شی په کوم شان چه ورته د کپړے مالک وئیلے وی څنګه چه د دے جامې ګنډونکے مزدوری غوښتے شی بل هم مزدوری اخستے شی او څنګه چه دا اصل مزدوری نه مالک خلاصیدے شی د هغه که بل شریک ته ئے ورکړه نو هم ذمه ئے فارغه شوه (درص٣٢٣ ج ١، ص٦١٣ ج ٢) **مسئله**: د شرکت یو قسم شرکت وجوه دے یعنی شریکانو سره پیسه او هنر دواړه نشته صرف خپل منځ کښې دا خبره غوټه کړی چه دکاندارانو نه به په قرض مال آخلو او خرڅوو به ئے، ګټه به ئے د مونږ ترمنځه شریکه وی، په دے شرکت کښې به هر یو شریک د بل شریک وی، دغه خرڅون مال چه په کوم حساب شریک وی په هغه حساب به نفع (ګټه) هم تقسیمولے شی. (سکب الانهر ص٧٣٥ ج ١).

بهشتی جوهر ضمیمه د اصلی بهشتی گوهر

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیۡرِ خَلۡقِهٖ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اَجۡمَعِیۡنَ۔

دمرګ، ددے دمتعلقاتو او دقبرونو د زیارت کولو بیان

۱۔ حدیث: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه مرګ ډیر ډیر یادوئ ځکه چه دے سره ګناهونه لرے کیږی او ناکاره دنیا او نامطلوبه او فضول نه ویزاره کوی یعنی کله چه انسان مرګ یادوی نو دنیا کښے به ئے زړه نه لګی او طبیعت به ئے ددنیا دسامان نه کرکه کوی او شوق به ورسره نهٔ لری دآخرت طلب به کوی، د هغه ځائے د نعمتونو خواهش او دهغه ځائے دردناک عذاب ویره به وی نو ضرور به په نیکو عملونو کښے ترقی کوی او دګناهونو نه به ځان ساتی چه دا دټولو نیکیانو بنیاد دے، ترڅو چه د دنیا او ددے د زینت نه تعلق کم نهٔ وی نو الله تعالیٰ ته پوره مخه نشی کیدے او ډیر ځل داعرض کړے شوی دی چه ددنیا ضروری څیزونه چه بغیر دهغے نه کار نهٔ چلیږی، دعبادت هم دغه مطلوب دی او په دین کښے داخل دی لهٰذا هغه به دے ناکاره څیزونو کښے نهٔ حسابیږی بلکه ناکاره او بیکاره څیزونه ددنیا هغه دی چه دالله تعالیٰ نه په څهٔ درجه کښے بنده غافله کوی، ددغے څیزونو ناکاروالے به ددرجو په حساب وی یعنی کوم چه پهٔ کمه درجه د الله تعالیٰ نه بنده غافله کوی هغه به کم ناکاره کنړلے شی او کوم چه په زیاته درجه کښے غافله کوی هغه به پهٔ زیاته درجه کښے ناکاره کنړے شی، نو معلومه شوه چه مرګ رایادول او دهغے خیال ساتل او ددے نازک او عظیم الشان سفر دپاره توښه تیارول په هر عقلمند بنده باندے لازم دی (۲) په بل حدیث کښے راغلی دی چه څلیریشت ځل دورځے مرګ رایادوئ نو دشهیدانو درجه به بیا مومئ نو که هغه تاسو د مالداری پهٔ حالت کښے یادوئ نو هغه دغه مالداری ستاسو پهٔ نظر کښے راغورځوی ولے چه مالداری د الله تعالیٰ نه غافله کول دی هر کله چه زړه ورپورے او نهٔ نښتی نو الله تعالیٰ سره به ئے یو ځائیکت او نزدیکت نصیب شی، البته پکار اتلو نکی کارونه دے کوی چه آخرت کښے پکار راځی چرته چه همیشه اوسیدل دی، نو د

دے خیالونو په وجه به د مال څه بد اثر نه پریوځی او که تاسو مرګ
ډیره د فقیرئ او تنګ لاسئ په وخت کښے یادوئ نو دغه یادول به
تاسو راضی کړی په دے تنګ لاسئ باندے چه د ا د نیا خوښیے هم
ختمیدونکے ده د دے بر تکلیف په بدل کښے به راته الله تعالیٰ ډیرے ټونه
او نعمتونه نصیب کړی (ابن ابی الدنیا عن انس مرفوعًا، کنز العمال ص۵ ج۸)

(۳) حدیث :- رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه بیشکه
زمکه هره ورځ اویا ځله آواز کوی، خوریٔ چه څهٔ غواړیٔ او کوم خیز چه
خوښوئ پس قسم په خدائے چه زهٔ به ستاسو غوښے او پوستکی خورم
(رواه الحکیم والترمذی عن ثوبان مرفوعًا (کنز العمال ص۵ ج۸ منه)

دلته دا سوال پورته کول نهٔ دی پکار چه هرکله مونږ د زمکے آوازنهٔ
آورو نو د دے تصدیق به څنګه کیږی؟ جواب ئے په هرخیز باندے
یقین راوړو د پاره پخپله د هغے لیدل یا آوازئے آوریدل ضروری نهٔ
دی بلکه کله به په خپلو لیدو او آوریدو او کله به په معتبرخبر باندے
یقین راتلے شی مثلاً د دشمن په خپله راتلل او ویښے یا د اعتباری بنده
په خبر ورکولو سره خبر شے نو د هغے نه د ځان ساتلو بند وبست کوے،
د غسے د رسول الله صلے الله علیه وسلم نه زیات اعتباری به څوک وی ځکه
د هغوئ په فرمان باندے یقین کول دی هغوئ فرمائیلی دی: كَفٰى
بِالْمَوْتِ وَاعِظًا وَّبِالْيَقِيْنِ غِنًى ؛ ترجمه :- وعظ نصیحت د پاره
مرګ هم کافی دے (یعنی خلق دے مرګ رایادوی او په دنیا او مال
(فانی) دے زړهٔ نهٔ تړی) او د الله تعالیٰ په وعده د ئے یقین لری چه
هرسادا رته روزی ورکونکے الله تعالیٰ دے نو په دے به ئے زړه جوړ وی
چه هرشے فانی دے او د الله تعالیٰ وعده حقه ده په دے یقین سره
د بنده زړهٔ ته غنا (مالداری) حاصلیږی کومه چه په مال او دنیا سره
نهٔ حاصلیږی ځکه چه دا خیزونه فانی دی او د الله تعالیٰ وعده باقی ده
(دا حدیث په کنز العمال ص۲ ج۸ کښے د طبرانی نه نقل شوے دے چه
عمار نه ئے روایت کړے دے) (۴) حدیث :- څوک چه الله تعالیٰ سره
یوځائے کیدل خوښوی نو الله تعالیٰ هم هغه سره وصال غواړی او څوک
چه الله تعالیٰ سره یوځائے کیدل او د دنیا سرو سامان نه بیلیدل نهٔ غواړی
نو الله تعالیٰ هم دهٔ سره یوځائے کیدل نهٔ غواړی او دا ښکاره خبره ده
چه بغیر د مرګ نه الله تعالیٰ سره ملاقات نشی کیدے، هرکله چه مرګ

د محبوب حقیقي د ملاقات ذریعه ده ځکه ئے مومن ته محبوب کیدل پکاردی او دا سے سامان پیدا کول پکاردی چه ناګهانی مرګ نه بنده ځان ساتلے نهٔ غواړی یعنی نیک عمل دے جاری لری چه هم په دغے دوران کښے پرے مرګ راشی او دجنت په خوشحالی کښے ورته مرګ محبوب وی ، ګناهونو نه دے ځان ساتی چه مرګ ئے بدی نهٔ شی ولے چه دهغه چا مرګ بدی شی کوم چه په مرګ راتلو سره د سختت عذاب نه ویریږی نیک بخت هم اګرچه عذاب نه ویریږی خو دجنت امید ئے هم وی ځکه ئے د مرګ نه کرکه نهٔ وی او دا تجربه هم شوے ده چه په کافر او فاسق بانده د امید اثر نهٔ غالب کیږی ځکه هغه د مرګ نه ډیر ویریږی .

(۵) حدیث :- په حدیث کښے راغلی دی چه څوک مړے او لامبوی او هغه ئے پټ کړی (پرده پرے واچوی مثلاً شکل ئے بدل او وینی نو هغه دے خلقو ته نهٔ بیانوی او نهٔ دے ښکاره کوی دا بیان دجنتی کالی په دویمه برخه کښے تیر شوے دے) الله تعالیٰ به دهغه ګناهونه پټ کړی (او به ئے بخښی) او څوک چه مړے په کفن کړی (یعنی کفن پرے واچوی نو الله تعالیٰ به ورته په آخرت کښے سندس (د نرو وریښمو) جامه ورواغوندی ځنے جاهلان د مړی د کار نه کرکه او ویره کوی او سپیره ئے ګنړی ، دا سخته بیهوده خبره ده آیا په خپله به نهٔ مړکیږی ؟ پکار خو دا دی چه د مړی په ښه خدمت کولو سره لوئے ثواب حاصل کړی او خپل مرګ را یاد کړی ګنی نو کیدے شی چه الله تعالیٰ د دهٔ په مرګ ، دهٔ لره دا سے خلقو ته حواله کړی چه د ده د خدمت او کفن او دفن نه به کرکه کوی حضرت علی رض فرمائیلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : څوک چه مړی لغسل ورکړی په کفن ئے کړی حنوط (خوشبوئی) پرے اولګوی او دهغه جنازه پورته کړی مونځ پرے اوکړی او دهغه خراب حالت خلقو ته نهٔ بیانوی چه دهٔ پکښے لیدلے وی ، نو دے به ګناهونو نه دا سے لرے شی څنګه چه د پیدا کید و په وخت کښے وو (یعنی واړه ګناهونه به ئے او بخښلے شی او لوئے به په توبه او بخښلے شی) (داقول احادیث کنزالعمال ج ۸ ص ۸۲-۸۱ ,۷۶ کښے شته)

حدیث (۶) :- په حدیث کښے راغلی دی چه څوک مړے او لمبوی او دهغه عیب پټ کړی نو دهغه به څلویښت لوئے ګناهونه (یعنی په صغیرو کښے لوئے) معاف کړے شی او څوک ئے چه په کفن کړی نو الله تعالیٰ به ورته دجنت سندس او استبرق (ریښم) راغوندوی او څوک

چه مړې د پاره قبر اوکنی او پکښې ئې ښخ کړی نو الله تعالی به ورته د هغې مکان هومره ثواب ورکړی کوم کښې چه دے تر قیامته پورې اوسیدلے شو خو دا ثوابونه هله به وی چه د خدمت کونکی مطلب خالص ثواب حاصلول وی نور څۀ نه. اګرچه په دغې خدمتونو اُجرت اخستل نا روا نۀ دی، څنې پکښې داسې دی چه اُجرت پرې اخستل حرام دی او ثواب ئې هم نشته، څنې بانډے اُجرت اخستل روا دی خو ثواب ئې نشته، لهذا د علماؤ نه تحقیق کوئ او په هغې عمل اوکړئ، دا موقعه د تفصیل نۀ ده، مګر د دے څیزونو په باره کښې درته یوه خبره عرض کوم چه د بصیرت خاوندان پرے خبروی هغه دا چه په کوم دینی څیزونو بانډے چه اجرت اخستل روا دی نو د هغې په کولو بیخی ثواب نشی ورکولے البته په څو شرطونو سره د هغې ثواب هم ورکولے شی، بنه په غور ئې واورئ دکوم غریب او نیستمن بنده چه د دغې اُجرت نه سوا د واجب خرڅونو پوره کولو، سوا د دغې اُجرت نه بله ذریعه نۀ وی، هغه د حاجت په اندازه په دینی ضروری کارونو بانډے اُجرت اخستے شی خو خیال به دا کوی چه که بل څۀ ذریعه م وے نو هیچرے به م دا اُجرت نۀ وو اخستے یا که بل څۀ ذریعه م پیدا شوه نو اجرت به نۀ آخلم او مفت به ئې کوم. داسے بنده ته به سره د اُجرت اخستو هم ثواب ملاویږی ځکه چه مطلب ئې د دین خوروِل دی او واجب نفقه پیدا کول هم ثواب لری نو دواړه ثوابونه به ورته حاصل شی خو غیر ضروری حاجتونه ضروری ګرځول ډیره ګناه ده الله تعالی ته به جواب ورکوی، دا لیکل م د ډیر تحقیق نه پس کړی دی چه د شامی نه را خستے شوی دے، ښکاره خبره ده چه په چا کښې د توکل شرطونه جمع وی او بیا هغه په نیک کاربانډے اُجرت واخلی نو هغه که نیتونه جمع کړی په کوم چه ثواب ورکولے شی، نو ثواب به ورته حاصل شی خو بیا به هم د توکل فضیلت ورته نۀ حاصلیږی، بنه فکر پکښې اوکړه دا ډیرے باریکے خبرے دی (ډیر داسے نومیالی عالمان پکښې راګیر وینم چه په کنډو کښې ئې نو مونږ نه ځانځ کیږی الله دے مونږ ترے اوساتی «مترجم») مسلمان خصوصًا د علم خاوندان دِ په دے کښې ضرور احتیاط کوی چه په دینی خدمت بانډے د الله تعالی رضا نۀ حاصلوی او بے د سختے مجبورئ نه لږه فائده (دنیوی) حاصلول الله تعالی سره بیوفائی او نامردی ښکاره کول دی

څوبنږه کارغلطي دفع کول او شوق پیدا کول دي په مباحو څیزونو کښې دتنګۍ راوستلو حق موبنږه نهٔ لرو البته دومره به ضرور وایوچه دثواب حاصلولو موبنږه ټولوته سخت حاجت دے اوس دَ لږ یادیږ فیصله دے بنده ګڼلیه اوکړي الله تعالیٰ دبندګانو پهٔ زړونو بانډے داناٰ بینادے (۷) پهٔ حدیث کښې راغلي دي چه دمؤمن رومبئ تحفه داده چه ګناهونه ئې اوبخښلے شي څوک چه پهٔ مړي دجنازے مونځ کوي (یعني واړه ګناهونه ئے معاف کیږي) (حکیم مرفوع روایت کړو، په حواله دکنز العمال ص۱۲۹۳ ج۸). حدیث (۸) هیڅوک مسلمان داسے نه دے چه هغه مړشي او په هغه (په جنازه ئې) دمسلمانانو درے صفونه مونځ اوکړي نو واجب ئې کړو (یعني جنت ئې واجب کړو، مطلب داچه دے به اوبخښلے شي (احمد او ابوداؤد داروایت کړل پهٔ حواله دکنز العمال). (۹) پهٔ حدیث شریف کښې راغلي دي چه څوک داسے مسلمان مړشي او پهٔ جنازه ئے څلویښت داسے کسان مونځ اوکړي چه شرک نهٔ کوي الله تعالیٰ لره نو خبره داده چه دهغوئ (مونځ کونکو) شفاعت به قبول کړے شي (یعني دجنازے مونځ به ئے قبول کړے شي) دهغه (مړي) په باره کښې. (احمد او ابوداؤد داروایت کړو ۱۲ منه) (۱۰) پهٔ حدیث شریف کښې راغلي دي چه څوک مسلمان داسے ندے چه پړے (پهٔ جنازه ئې) یوه ډله مونځ اوکړي مګر خبره داده چه دهغوئ (جنازه کونکو) شفاعت به دهغه (مړي) پهٔ باره کښې قبول کړے شي (احمد وغیره روایت کړو ۱۲ منه) (۱۱) پهٔ حدیث شریف کښې راغلي دي چه نهٔ دے څوک مړے چه دمسلمانانو یوه ډله پرے مونځ اوکړي چه (پهٔ شمیر) سل ورسي بیا سفارش اوکړي هغوئ (جنازه کونکي یعني دعا اوکړي ولے چه دجنازے مونځ دعا دے) هغه (مړي) دپاره نوخبره داده چه دهغوئ سفارش به دهغه په باره کښې قبول کړے شي (مطلب داچه دُعا به ئے قبوله شي او دغه مړے به اوبخښلے شي) (مسلم وغیره) (۱۲) پهٔ حدیث شریف کښې دي چه دڅلورو طرفونو جنازے پورته کونکو (اوړونکو) به څلویښت لوئے ګناهونه بخښلے شي (ابن عساکر وغیره ۱۲) (ددے تحقیق اوس اوس تیر شوے دے) (۱۳) پهٔ حدیث شریف کښې راغلي دي، چه پهٔ جنازه کونکو کښې زیات غوره هغه څوک دے چه پکښې زیات ذکر دالله تعالیٰ کوي او ترهغې نهٔ کښېني چه جنازه نږدې وي ایښودے شوے او (دثواب) زیاته پیمانه پوره کونکے هغه

خوک دے چه پۂ هغه (مړی) د رے موتی خاؤره هم وروا چوی (ابن النجار) (۱۴) پۂ حدیث شریف کښې راغلی دی چه خپل مړے دنیکو خلقو پۂ منځ کښې ښخوئ ولے چه مړے دخراب ګاونړی پۂ وجه تکلیف بیاموی څنګه چه پۂ دنیا کښې ژوندی مومی، هغه داسے چه په فاسقانو فاجرانو او کافرانو مړو چه عذاب وی نو دهغوئ د نارو سورو په وجه دغه ګاونړی مړی ته تکلیف کیږی (الحلیه ۱۲) (۱۵) پۂ حدیث شریف کښې راغلی دی چه جنازے سره ډیر ډیر "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" لولئ (دیلمی مرفوعًا) (خو پۂ مزه مزه ولے چه جنازے سره پۂ زوره ذکر کول ته شامی مکروه ویلی دی) (۱۶) په یو صحیح حدیث کښې راغلی دی، حاکم روایت کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ما تاسو د قبرونو د زیارت کولو نه منع کړی وئ (دیو خاص وجے نه چه اوس پاتے نهٔ دهٔ) خبر شئ چه اوس ئے زیارت کوئ ولے چه د قبرونو زیارت کول زړونه نرموی چه ورسره د نیکو توفیق بیا مونده شی، هره سترګه ژړوی او یاد ورکوی د آخرت او تاسو پۂ قبرونو باندے ناروا خبره مهٔ کوئ.

(۱۷) پۂ حدیث شریف کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: "ما تاسو د قبرونو د زیارتونو نه منع کړی وئ (نو اوس ئے) تاسو زیارت (ځکه) کوئ چه دنیا سره بے شوقی پیدا کوی او آخرت وریادوی (ابن ماجه) د قبرونو زیارت کول خاصکر د جمعے په ورځ سنت دی او په حدیث شریف کښې راغلی دی چه څوک هره جمعه د والدینو یا والد یا والدے د قبر زیارت کوی نو هغه ته به بخښنه کولے شی او هغه به د والدینو خدمتګذار لیکلے شی (په عملنامه کښې) (رواه البیهقی مرسلًا) خود قبر طواف کول او ښکلول ئے منع دی اګرچه د ولی یا نبی قبر وی قبرونو ته چه ورشی نو اول به داسے سلام کوی: اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ یَآ اَهْلَ الْقُبُوْرِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُسْلِمِیْنَ یَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَکُمْ وَاَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ" (پۂ حواله د طبرانی او ترمذی) قبلے ته به شا کړی او مړی ته به مخ کړی قرآن کریم به د خپل وس مطابق لولی په حدیث شریف کښې راغلی دی چه څوک پۂ قبرونو تیریږی او دیوولس ځل قل هو الله لوستو ثواب مړو ته او بخښی نو د مړو د شمیر په حساب به دهٔ ته هم ثواب ورکولے شی، دغسے پۂ حدیث شریف کښې راغلی دی چه څوک پۂ قبرستان کښې داخل شی، سورۂ فاتحه، سورۂ اخلاص او سورۂ تکاثر اولولی ثواب

ئے دغے مړوته او بخښی نو دغه مړی به ئے شفاعت کوی، او په حدیث شریف کښے راغلی دی چه څوک سورۂ یٰسٓ په قبرستان کښے لولی نو د مړو په عذاب کښے الله تعالیٰ سپکوالے راولی او لوستونکوته به د دغے مړو په شمیر ثواب ورکولے شی، دا درے واړه حدیثونه سره د سندونو دادے اوس لاندے (په عربی کښے) لیکلے شی. (۱۸۱) په حدیث شریف کښے راغلی دی چه څوک سړے د داسے کس په قبر تیریږی او سلام پرے واچوی نو هغه ئے د سلام جواب ورکوی (اگرچه سلام اچونکے دغه جواب نهٔ آوری) (رواه تمام وغیره مرفوعاً بسند جید. کنز العمال ۱۲ منه)

(۱) اخرج ابو محمد السمرقندی فی فضائل قل هو الله احد عن علی مرفوعا من مر علی المقابر وقرأ قل هو الله احد احد عشرة مرة ثم وهب اجره للاموات اعطی من الاجر بعدد الاموات

د قل هو الله شریف په فضائیلو کښے ابو محمد سمرقندی د حضرت علی رض نه مرفوعا روایت کوی چه څوک په قبرستان تیریږی هغه یولس ځل دا سورت شریف اولولی بیا د دغے مړو ته ئے ثواب او بخښی نو لوستونکی ته به هومره ثواب ورکولے شی څومره چه (مړی) په شمیر دی۔

(۲) اخرج ابو القاسم سعد بن علی الزنجانی فی فوائده عن ابی هریرة مرفوعاً من دخل المقابر ثم قرأ فاتحة الکتاب و قل هو الله احد والهٰکم التکاثر ثم قال اللهم انی جعلت ثواب ماقرأت من کلامك لاهل المقابر من المؤمنین والمؤمنات کانوا شفعاء له الی الله تعالیٰ

ابو القاسم سعد بن علی زنجانی د حضرت ابی هریره رض نه مرفوعًا دا دے په فضیلتونو کښے بیانوی چه څوک قبرستان ته ورشی او الحمد لله او قل هو الله او الهٰکم التکاثر اولولی او اووائی چه اے الٰهی ما د دے لوستو ثواب د دے قبرستان مړو ناریٔنو زنانو ته او بخښلو نو دغه ټول مړی به د قیامت په ورځ د ده شفاعت کوی

(۳) اخرج عبد العزیز صاحب الخلال بسنده عن انس رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من دخل المقابر فقرأ سورة یٰسٓ خفف الله عنهم وکان له بعدد من فیها حسنات هذه احادیث اوردها الامام السیوطی

عبد العزیز صاحب خلال په روایت د حضرت انس رض بیان کړل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، څوک چه په قبرستان ورشی دغلته سوره یٰسٓ اولولی نو الله تعالیٰ به د دغے مړو نه عذاب سپک کړی (په چا چه عذاب وی) او ویونکی (لوستونکی) ته به د دے قبرستان د مړو په شمیر ثواب حاصل

في شرح الصدور بشرح احوال الموتیٰ والقبور ص۱۲۳ مطبوعه مصر قال المحلق علی رسالة بهشتی گوهر الحدیث الاول والثالث یدلان ظاهراً علیٰ ان الثواب الحاصل من الاحیاء للاموات یصل الیهم علی السواء ولا یتجزی تأمل۔

شی دا حدیثونه امام سیوطی رح په کتاب، شرح الصدور فی احوال الموتیٰ والقبور ص۱۲۳ (طبع مصر) کښې بیان کړی دی د بهشتی گوهر محشی وائی چه اول او دریم حدیث په ظاهره په دے دلالت کوی چه ثواب د ژوندو دا رخه مړو ته بے د ویشلونه هر یو مړی ته پوره پوره رسی۔

❖ ❖ ❖

احقر د دے توضیح په باره کښې وائی چه مطلب د دے قبرستان د مړو برابر ثواب ملاویږی وخت دا دے چه د ثواب بخښلو والا یوه نیکی د ه ده څخه په معاوضه (بدله) کښې به په دے هدیه کښې د بخښو شوو مړو تعداد برابر نیکی ورته ملاویږی، ولے چه الله تعالیٰ د خپل رحمت نه بخښو شوو مړو ته بغیر د تقسیمه پوره پوره اجر ورکوی یعنی د وټولو والا ته هم هغومره اجر ملاویږی څنګه چه هغه هر یو مړی د پاره جدا جدا دعا وغوښتله او ورته ئے اوبخښله۔

مسئلے (په دے ضمیمه کښې دا اوه مسئلے حضرت تهانوی رح اضافه کړی دی۔ شبیر علی) (۱) سوال:۔ د امام د قرائت د شروع کولو نه پس چه مقتدی په دغه جمع کښې شریک شی نو سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ به وائی او که نه، که وائی به ئے نو څه وخت؟ جواب:۔ په هیڅ وخت کښې نه دی لوستل پکار (شامی ص۵۰۹ ج۱) (۲) سوال: څوک چه په رکوع کښې امام سره شریک شو او س خو رکعت د ه لاندے کړو خو سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ترے پاتے شو نو دا به په دویم رکعت کښې لولی یا په بل رکعت کښې یا په ذمه ئے بالکل پاتے نه شوه؟ جواب:۔ بیا به ئے هیڅ وخت نه لولی (شامی ص۵۱۱ ج۱) (۳) سوال:۔ چا چه په رکوع او سجده کښې ادل بدل تسبیح په هیره اوویل نو سجده سهوه پرے لازم شوه او که په مونځ کښې ئے نوره خرابی راغله؟ جواب:۔ سنت ترے پاتے شو، سجده سهو پرے نه ده لازم۔ (شامی ص۵۱۱ ج۱) (۴) سوال:۔ په سجده سهو کښې ئے د رکوع تسبیح اوویل بیا ئے هم په دغه سجده کښې خیال راغلو چه غلطی رانه اوشوه نو آیا دغه تسبیح ئے اوشو او که د سجدے تسبیح به وائی؟ جواب:۔ ځان له مونځ کزار او امام به د سجدے تسبیح وائی او مقتدی به د امام په تابعداری کښې پوره ته

کیږی او د سجدے تسبیح به نهٔ وائی. (شامی ص۵۱۵ و ص۵۱۷ ج ۱) ۰ (۵) سوال :- کله چه پهٔ مونځ کښے اسویلے نهٔ ایساریږی نو پهٔ خُله کښے به پهٔ لاس ورمنډ لو به ئے ایساروی او که نه؟ جواب :- چه اسویلے ایسارنشی نو پهٔ لاس ایښولو سره دے ئے ایساروی، دا جائز دی. (شامی ص۴۷۷ ج۱) (۶) سوال :- چانه چه پهٔ سجده کښے ټوپۍ او غورځیږی نو هغه به په مانځه کښے پهٔ سَر َوی او که پهٔ سر توره به مونځ کوی کوی؟ جواب :- که دعمل کثیر ضرورت نهٔ وو نو پهٔ سر ول ئے غوره دی. (شامی ص۴۷۷ ج۱ مکروهات الصّلوٰة) (۷) سوال :- پهٔ مونځ کښے د سورۀ فاتحے نه پس چه سورة شروع کوی نو بِسۡمِ اللهِ وئیلو سره دے شروع کوی او که د دوؤ رکوع والا سورت وائی او د دے بله رکوع په بل رکعت کښے وائی نو د دویمے رکوع پهٔ اول سر کښے بیا بِسۡمِ اللهِ وائی او که نه؟ جواب :- د سورت پهٔ اول سر کښے بِسۡمِ اللهِ وئیل مستحب دی خو پهٔ هر رکوع کښی نه. والله اعلم (شرح مراقی الفلاح ط۱۵۱) (کتبه اشرف علی تهانوی رحمه الله) -

مسئله[۱] :- امام لره بے ضرورته په جومات کښے د محراب نه بل ځائے کښے اودریدل مکروه دی خو په محراب کښے دا اودریدو پهٔ وخت ئے خپے د محراب نه بهر پکار دی (شامی ص۶۷۵ ج۱) مسئله[۲] :- د نوم او شهرت د پاره کړے دعوت نهٔ قبلول بهتر دی (صفائی معاملات). مسئله[۳]: پهٔ ګواهئ باندے اُجرت اخستل حرام دی که څهٔ روزګار ئے لرلو ورنه د ضرورت په اندازه د خپل ځان او بال بچ د پاره دومره اخستل جائز دی څومره ئے چه وخت لګیدلے دے (عالمګیری ص۲۳۴ ج۴ و ۲۵۲) مسئله[۴] :- که د دعوت (بلنے) پهٔ ځائے کښے څوک د ورتلو نه وړاندے پهٔ خلاف شرع خبره باندے خبرشی نو دعوت دے نه قبلوی او که داتوقع ئے امید ئے وو چه د دهٔ پهٔ تلو به د حیا او شرم له کبله دغه نا روا کار او نهٔ شی نو بیا تلل ورد پاره غوره دی او که پهٔ ناخبرئ کښے ورغلو او هلته ئے خلاف شرع کار اولیدو نو که دینی څوک مشروی هغه دے واپس راشی او که عام سړے وی نو هلته دے نه کښینی که خالص هم د خوراک پهٔ وخت دغه خلاف شرع کار روو او که نه پهٔ بله موقعه ده نو پهٔ مجبورئ سره دے کښینی او بنه خبره دا ده چه دعوت ورکوونکے دے پوهه کړی که دومره همت ئے نهٔ وی نو صبر دے اوکړی او پهٔ

زړه کښې د ے بد ګڼړي، دغسې د اثر رسوخ او محبوبيز خلق هم د دينې مشر په حُکم کښې دي **مسئله** :- په بينک کښې روپو جمع کولو باندې سود اخستل خو قطعي حرام دي ځينې خلق په بينک کښې خپلې روپۍ صرف د حفاظت په خيال سره ايږدي خو سود پرې نۀ اخلي خو ښکاره خبره ده چه بينک دغه روپۍ په سودي کاروبار کښې استعمالوي نو بنه خبره ده چه په بينک کښې يوه خانه (دوه) په کرايه سره واخستې شي او په هغې کښې اصل حساب محفوظ کيږدي چه په خپله خوښه ئې ترې را اوُباسي او کيږدي ئې پکښې په داسې شان به اګرچه دۀ ته سودي او ناجائز نفع نه وي او د جيبه به ئې خرچ کيږي خو د لوئې ګناه نه به بچ وي چه مسلمان د پاره ضروري خبره ده د بينک په اصطلاح کښې دغې عمل ته لاکر نوم ورکړے شوے دے. **مسئله** :- تشې او ډکې متيازې چه څوک کوي نو په هغه باندې سلام اچول حرام دي او جواب ئې هم ورکول جائز نه دي **مسئله** :- څوک چه په ډله کښې په يو خاص کوټه کړي بنده باندې سلام واچوي نو هم د دغه خاص بنده په ذمه ئې جواب ورکول فرض دي که نورچا جواب ورکړو نو د دغه خاص سړي غاړه پرې نۀ خلاصيږي او په جواب نه ورکولو ګنهګار پاتې کيږي خو داسې سلام کول خلاف سنت دي، د سنت طريقه دا ده چه په ډله څوک خاص سړے په ګوته نۀ کړي بلکه په نيت کښې ئې که هم دغه کس راوستو نو بل چا جواب به (په ډله) کښې د هغه د طرف نه حسابيږي، دغسې جواب د سلام که يو کس يا ګڼړو ته ورکولے شي نو "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ دے وائي.(عالمګيري ص۲۱۵ ج۶) **مسئله** :- پکار دي چه سور دے په پياده بنده سلام اچوي ولاړ دے په ناست او لږ خلق دے په ګڼړو، واړه په لويو خلقو سلام اچوي دا غوره خبره ده که د دې اپوټه کار اوشو نو هم جائز دي سنت ادا شو البته غوره والے د هغه پورته بيان شوے طريقے دے (ق)(عالمګيري ص۲۱۵ ج۶) **مسئله** :- نامحرم سړي لره په ځوانه يا درمیانه ښځه باندې سلام اچول منع دي ځکه چه دے نه د فتنې راپورته کيدو انديښنه ده، د فتنې سبب هم فتنه وي، البته که بوډۍ ښځې يا بوډا سړي ته سړے يا ښځه سلام اوکړي نو څه بديت ئې نشته خو بيا هم د نا محرمه خلقو ترمنځه تعلقات ساتل بنه نۀ دي البته که څه خصوصيت د دے مقتضي او د فتنې احتمال نۀ

وی نو هغه بله خبره ده (عالمگیری ص۲۱ ج۶) مسئله :- تر څو چه یو خاص ضرورت نهٔ وی نو کافرانو ته دے سلام نهٔ کوی دغسے فاسقانو ته هم خو که ضرورت وی نو څه بد یت نے نشته (شامی ص۲۴۳ ج۱) او که په سلام کولو سره په هدایت باندے د راتلو امید وی نو هم دے ورته سلام کوی (عالمگیری ص۲۱ ج۶) مسئله :- کوم خلق چه علمی خبرے اترے کوی، لوستل لولول کوی یا یو بل ته څه علمی مسئله بیانوی او نورے آورّی نو سلام دے پرے نشی اچولے ورنه گنهگار به وی. دغسے د اذان او اقامت په وخت کښے په هیڅ سلام اچول نشته مکروه دی او صحیح دا ده چه په دے درے واړه صورتونو کښے جواب ورنه کړی (عالمگیری ص۲۱۸ ج۶)-

دحقوق الوالدین دتعدیل په نوم دبهشتی گوهر اجنتی کالی) دویم ضمیمه

دجنتی ملغلرے محشی عرض لری چه دا عنوان څخیله حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رح لیکلے دے په دے کښے د والدینو د حقونو تحقیق او تفصیل بیان شوے دے هسے خو د"جنتی کالی" په پنځمه برخه کښے چرته چه نور حقونه بیان شوی دی د والدینو د حقونو هم اجمالی بیان شوے دے لیکن هغلته دغه مضمون د سره او بنځو ترمنځ شریک وو او دلته د مضمون زیا تعلق سره سره دے ځکه په "جنتی ملغلره" کښے د دے شاملول مناسب معلوم شو ځکه دا د"جنتی کالی پنځمے برخے" تتمه کنړل پکار دی هغه مضمون دا دے : بسم الله الرحمن الرحیم. نحمده ونصلی علی رسوله الکریم قال الله تعالیٰ اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰۤی اَهْلِهَا وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَیْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ الآیة (ترجمه) :- الله تعالیٰ تا سو ته حکم کوی چه امانتونه د دغے امانتونو خاوندانو ته ادا کوئ او کله چه تاسو د خلقو ترمنځه حکم کوئ نو په انصاف سره حکم کوئ د دے آیت دعموم نه دوه حکمونه معلوم شو یو دا چه حقدارانو ته د هغوئ واجب حقونه ادا کول واجب دی بله دا چه د یو حق د پاره بل حق ضائع کول نا جائز دی)، د دے دواړو کلی حکم د جزئی دوه واقعا تو هم دلته بیانول او تحقیق کول نے مقصود دی. یو په دے کښے د والدینو د واجب او نا واجب حقونه په گوته کول دی دویم د دغے حقونو سره د نورو ناجوړو حقونو جوړښت را وستل دی دعامو واقعا تو نه په خلقو کښے د افراط او تفریط خطره وه بلکه دا سے

شوی هم وو چه ځنے آنا دوخلقو دوالدینو په حقونو کښے کمی راوستلو او په دے باره کښے دوالدینو دحقونو وجوب ئے شا ته غورځولو چه دوبال موجب وو او ځنے دېندارو خلقو دوالدینو په حقونو کښے دومره افراط (زیاتوالے) اوکړو چه دنورو (مثلاً اولاد او ښځے) حقونه ورسره برباد یدل او په دے شان ئے ځانونه ګنهګار ول او ځنو پکښے دا سے هم کول چه غیر واجب حقونه ئے واجب ګنړل او دهغے د ادا کولو قصد ئے کولو کله به ئے دغه دبرداشت نه بهر وو ځکه به پرے تنګیدل او دا وسوسه به ئے مل کیدله چه په ځنے شرعی احکامو کښے بے حده سختی او تنګی ده او په دے شان به د دوئ دین ته ضرر او نقصان رسیدلو زیات دا چه دنورو او خپل حقوق واجبه به ئے ضائع کول ځکه چه د حق خاوند (حقدار) د ده نفس هم دے چه د دے واجب حقونه هم شته لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: "وَاِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا" (ستا د ځان هم په تا حق شته)۔ په دے ټولو واجبو حقونو کښے د ټولو نه لوئے حق د دین حفاظت دے هر کله چه د والدینو د نا واجبو حقونو واجب ګنړلو نه دا ګناه راولاړیده ځکه د واجبو او نا واجبو حقونو تر منځه بیلتون کول واجب شو، که سړه د دے هم د والدینو نا واجب حقونه په دے شان پوره کوی چه واجب ئے نه ګنړی نو دغه بندیز خو به نهٔ لازمیږی دغه دشریعت تنګی به دخپله ځانه ګنړی او سړه ذدے چه برداشت کوی نو دا دهغه بلند همتی ده چه زیات خوند هم پکښے دے غرض دا چه په علم الاحکام کښے سراسری مصلحت (ښیګړه) ده او دے به نا پوهی کښے سراسری زیان ده، لهٰذا د دے بیلتون ښکاره کولو په غرض دا خوکرښے لیکم اول به په دے باره کښے دحدیثو او فقهے د روایتونو بیان کوم بیا به د دے نه راوتلی احکامو بیان کوم که دے ته د "تعدیل حقوق الوالدین" نوم ورکړم نو بے ځایه به نهٔ وی والله المستعان وعلیه التکلان ۔ (یادګیرنه :۔ اول یوا ځے عربی لیکلے شوے وه او س د عوام دفائدے د پاره اردو ترجمه او لیکلے شوه چه زه ئے په پښتو ترجمه کوم ۔ (مترجم) ۔

فی المشکوٰة عن ابی عمرؓ قال کانت تحتی امرأة احبها وکان عمرؓ یکرهها فقال لی طلقها فابیت فاتی عمر رسول الله صلی الله علیه وسلم

عبد الله بن عمر فرمائیلی دی چه ځما منکوحه ځما خوښه وه خو د حضرت عمرؓ (والد) ئے نا خوښه وه نو ما ته ئے د هغے د طلاقولو او فرمائیل ما او نهٔ منل نو حضرت عمرؓ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو

فذکر ذلک له فقال لی رسول الله
صلی الله علیه وسلم طلقها رواه
الترمذی فی المرقاة طلقها امر
ندب او وجوب ان کان هناك باعث
آخر وقال الامام الغزالی فی الاحیاء
ج ۲ ص۲۶ کشوری فی هذا الحدیث
فهذا یدل علی ان حق الولد مقدم
ولکن والد یکرهها لا لغرض فاسد
مثل عمر فی المشکوٰة عن معاذ
قال اوصانی رسول الله صلی الله
علیه وسلم وساق الحدیث وفیه
لا تعصین والدیك وان امراك ان
تخرج من اهلك ومالك الحدیث فی
المرقاة شرط للمبالغة باعتبار
الاکمل ایضا اما باعتبار اصل الجواز
فلا یلزمه طلاق زوجة امرأة بفراقها
وان تاذیا ببقاءها ایذاء شدیدا لانه
قد یحصل له ضرر بها فلا یکلفه لا
جلهما اذ من شان شفقتهما انهما
لو تحققا ذلك لم یامراه به فالزامهما
له به مع ذلك حمق منهما ولا یلتفت
الیه وکذلك اخراج ماله انتهی
مختصرا قلت والقرینة علی کونه للمبالغة
اقترانه بقوله علیه السلام فی ذلك
الحدیث لا تشرك بالله وان قتلت
او حرقت فهذ للمبالغة قطعا
والا فنفس الجواز بتلفظ کلمة
الکفر وان یفعل ما یقتضی الکفر
ثابت بقوله تعالی من کفر بالله
من بعد ایمانه الا من اکره الآیة

دغه بیان ئې وړته او کړو ما ته رسول الله صلی الله
علیه وسلم د هغې د طلاق ورکولو حکم او فرمائیلو ترمذی
روایت کړې. په مرقاة کښې دا حکم استحبابی وو
او که هلته بل څه باعث هم وو نو وجوب د پاره
وو او امام غزالی رح په احیاء العلوم ص۲۶ ج ۱
کشوری کښې لیکلی دی چه دا حدیث په دې دلالت
کوی چه د والد حق وړاندې دې خو دا ضرور ده
چه والد ئې دغه ښځه د خراب غرض د پاره
بده نه ګنړله لکه حضرت عمر رض پشان (والد)
چه نه ګنړله چنانچه حضرت معاذ رض په یو حدیث
(د مشکوٰة) کښې روایت کوی چه رسول الله صلی الله
علیه وسلم راته او فرمائیل چه د مور او پلار نافرمانی
هیچرې مه کوه اګر چه دغه دواړه تا ته د خپل مال
او اهل نه د وتلو حکم کوی مرقاة کښې لیکلی دی چه
دا مبالغه او د کامل فرمانبرداری بیان دې ورنه د
اصل حکم په لحاظ سره دا ضروری نه ده چه
ځوئ دې د پلار په حکم خپلې ښځې ته طلاق ورکړی
اګر چه مور و پلار ته ئې په طلاق نه ورکولو سخت
تکلیف وی ولې چه په طلاق ورکولو سره کله خو ځوئ
ته سخت تکلیفونه راپیښیږی چه شریعت ئې نه
غواړی ځکه چه د والدینو د شفقت د شان نه دا لرې
خبره ده چه خپل ځوئ ته دغسې حکم ورکړی نو
دا د هغوئ (مور و پلار) ناپوهی ده چه ورسره مخه
او وړل نه دی پکار او دغسې د مال نه د جدا کیدو په
هم نه دی او وړل پکار خبره په دې ختمه شوه او هم
چه دا د مبالغه کیدو قرینه دا ده چه رسول
الله صلی الله علیه وسلم ورسره دا هم او فرمائیل
چه الله تعالی سره شریک مه جوړوه اګر چه ته
او وژنې او او سوزولی شې چه دا یقینا مبالغه ده
ورنه کلمه د کفر د داسې مجبوری په حالت کښې ویل د

فافهم في المشكوٰة عن ابن عباس
قال قال رسول الله صلى الله
عليه وسلم من اصبح مطيعًا لله
في والديه الحديث وفيه قال رجل
وان ظلماه قال وان ظلماه وان
ظلماه وان ظلماه رواه البيهقي
في شعب الايمان في المرقاة في
والديه اي في حقهما وفيه ان
طاعة الوالدين لم تكن طاعة
مستقلة بل هي طاعة الله التي
بلغت توصيتها من الله تعالى
بحسب طاعتهما الطاعة الى ان
قال ويؤيده انه ورد لاطاعة لمخلوق
في معصية الخالق وفيها وان
ظلماه قال الطيبي يراد بالظلم ما
يتعلق بالامور الدنيوية لا
الاخروية قلت وقوله صلى الله
عليه وسلم هذا وان ظلماه كقوله
عليه السلام في ارضاء المصدق
ارضوا مصدقيكم وان ظلمتم رواه
ابوداود ولقوله عليه السلام فيهم
وان ظلموا فعليهم الحديث رواه
ابوداود ومعناه على ما في اللمعات
قوله وان ظلموا اي بحسب زعمكم
اوعلى الفرض والتقدير مبالغة و
لوكانوا ظلمين حقيقة كيف يامرهم
بارضائهم في المشكوٰة عن ابن عمر
عن النبي صلى الله عليه وسلم في
قصة ثلثة نفر يتماشون واخذهم
المطر فمالوا الى غار في الجبل فانحطت

الله تعالىٰ په قول ,, مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْ بَعْدِ اِيْمَانِهٖ
الايه ابن عباس رض فرمائيلي دي چه رسول الله
صلى الله عليه وسلم او فرمائيل څوک چه د خپل
مور و پلار تابعدار د الله تعالىٰ په خاطر وګرځيد
اګرچه دغه دواړو پرے ظلم کړے وي، دا ئے
څله بيهقي روايت کړو په شعب الايمان
کښے، په مرقاة کښے، مطلب دا دے چه تابعدا
د والدينو مستقله تابعداري نه ده بلکه دا د الله
تعالىٰ تابعداري ده چه د هغه تر د حکم مطابق
ده چنانچه دد ے تائيد دا حديث کوي چه
د الله تعالىٰ په نافرماني کښے د مخلوق فرمانبرداري
نشته په کوم کښے چه دا راغلي دي:۔ اګرچه
مور و پلار ئے پرے ظلم کړے وي طيبي
وئيلي دي دلته د ظلم نه مراد هغه دے
چه دنيوي څيزونو سره تعلق لري نه چه
د آخرت څيزونو سره زه وايم چه د رسول
الله صلى الله عليه وسلم دا فرمائيل ,, وَ
اِنْ ظَلَمَاهُ ،، دا سے دي لکه چه هغوي ۴ په
بل ځلئے کښے فرمائيلي دي چه تاسو خپل
زکوٰة اخستونکي راضي ساتئ اګرچه هغوئ
په تاسو ظلم کوي ابوداود روايت کړو مطلب دا
چه اګر که د هغوئ دغه کار تاسو ته ظلم ښکاري
دلے چه په بل حديث کښے راغلي دي چه که
هغوئ په تاسو ظلم کوي نو د هغے سزا به ورکولے
شي غرض دا چه که په حقيقت کښے ئے ظلم
کولے نو د هغوئ د رضا کولو حکم به ئے څنګه
کولے - په مشکوٰة کښے ابن عمر رض د رسول الله
صلى الله عليه وسلم نه د هغے درے سړو په
قيصه کښے روايت کوي چه چرته روان وو او
باران پرے راغلو نو دغو په يو غار کښے ورننوتل

على فم غارهم صخرة فاطبقت عليهم فذكر احدهم من امرة فقمت عند رؤسهما (اى الوالدين الذين كانا شيخين كبيرين كما فى هذا الحديث) اكره ان اوقظهما واكره ان ابدأ بالصبية قبلهما والصبية يتضاغون عند قدمى الحديث متفق عليه فى المرقاة تقديما لاحسان الوالدين على المولودين لتعارض صغرهم بكبرهما فان الرجل الكبير يبقى كالطفل الصغير قلت وهذا التضاغى كما فى قصة اضياف ابى طلحة قال فعليهم بشئ ونوميهم فى جواب قول امرأته لما سئلها هل عندك شئ قالت لا الا قوت صبيانى ومعناه كما فى اللمعات قالوا وهذا محمول على ان الصبيان لم يكونوا محتاجين الى الطعام و انما كان طلبهم عادة الصبيان من غير جوع والا وجب تقديمهم وكيف يتركان واجبا وقد اثنى الله عليهما اه قلت ايضا ومما يؤيد وجوب الاضطرارى الى هذا التاويل تقديم حق الولد الصغير على حق الوالد فى نفسه كما فى الدر المختار باب النفقة ولو له اب وطفل فالطفل احق به وقيل (بصيغة التمريض) يقسمها فيهما فى كتاب الآثار للامام محمد ص۱۵۲

نو د غے غار په خوله باندے یو کټ راپریوتو او دروازه ئے بنده کړه هغوئ خپل مینځ کښے اووئیل تا سو خپل نیک عملونه چه خالص د الله تعالیٰ د پاره موکړی وی او د هغے په خاطر دعا اوکړئ چه الله تعالیٰ دروازه پرانیځی په هغوئ کښے یو اووئیل چه اے خُدایه! زما مور، پلار ډیر بوډاګان وو او زما ماشومان اولاد هم وو، ما به چیلئ څرولے او د شپے به چه کور ته راغلم چیلئ به مے اولوشلے نو د خپلو ماشومانو نه مخکښے به مے هغه پئ مور و پلار ته ورکول یو ځل زه ډیر لرے لاړمے او د شپے چه کور ته راغلم نو مور پلار مے اوده شوی وو ما چه پئ اولوشل نو اول مور و پلار ته ورغلم د هغوئ ویښول مے هم مناسب اونه ګڼړل او د هغوئ نه وړاندے مے خپلو بچوته پئ ورکول هم مناسب اونه ګڼړل بچی راته په خپو کښے لوغړیدل ژړا انګولا ئے کوله زه د مور پلار د ویښیدو په انتظار ولاړ ووم په دے کښے صبا شو، زه وایم چه د ماشومانو دا ژړا انګولا د سے وه لکه د ابی طلحه رض د میلمنو په قصه کښے چه دی یعنی هغوئ رض د خپلے بی بی رض نه تپوس اوکړو چه تا سره څه خوراک د پاره شته، بی بی رض ورته اووئیل چه صرف د ماشومانو خوراکه ده نو ابو طلحه رض اووئیل چه ماشومان په څه چل ول اوده کړه لمعات کښے لیکلی دی چه علماء په دے حمل کړی دی چه د غه ماشومان اوږی نه وو بلکه هسے ئے غوښتل څنګه چه د ماشومانو عادت دے ورنه هغوئ ته خوراکه ورکول واجب وو چه د هغے پریښودل هغوئ رض نشو کولے سره د دے چه الله تعالیٰ د ابی طلحه رض او د هغوئ د بی بی رض ستاینه اوکړه زه وایم چه د دے تاویل ضرورت د دے نه هم ثابت شو چه د والدینو نه د ماشوم حق وړاندے دے لکه چه په

عن عائشة قالت افضل ما
اکلتم کسبکم وان اولادکم من
کسبکم قال محمد لا بأس به اذا
کان محتاجا ان یاکل من مال
ابنه بالمعروف فان کان غنیا
فاخذ منه شیئا فهو دین علیه
وهو قول ابی حنیفة محمد قال
اخبرنا ابو حنیفة عن حماد عن
ابراهیم قال لیس للاب من مال
ابنه شیٔ الا ان یحتاج الیه من
طعام او شراب او کسوة قال محمد
وبه ناخذ وهو قول ابی حنیفةؒ
فی کنز العمال ص۲۸۳ ج۸ عن الحاکم
وغیره ان اولادکم هبة الله
تعالی لکم یهب لمن یشاء
اناثا ویهب لمن یشاء الذکور
فهم واموالهم لکم اذا احتجتم
الیها اھ (سنده صحیح ۱۲ محشی)
قلت دل قوله علیه السلام فی
الحدیث اذا احتجتم علی تقیید
الامام محمد قول عن عائشة ان
اولادکم من کسبکم بما اذا کان
محتاجا ویلزم لتقیید کونه
دینا علیه اذا اخذ من غیر
حاجة کما هو ظاهر وایضا فسر
ابوبکر الصدیق بهذا قوله علیه
السلام انت ومالک لابیک قال
ابوبکر انما یعنی بذلک النفقة
رواه البیهقی کذا فی تاریخ
الخلفاء ص۶۵ وفی الدر المختار

دُر مختار کښې دي چه که د چا پلار او ځوئ دواړه موجود
وي نو د خرچې په اعتبار سره ځوئ د پلار نه زیات
حقدار دے او څنو ویلي دي چه په دواړو دې تقسیم وي
د امام محمدؒ په کتاب الآثار ص۱۵۴ کښې راغلي دي چه حضرت
عائشې رضؓ فرمائیلي دي : د ټولو نه زیاته غوره روزي هغه ده
چه په خپل لاس ګټلې شوي وي او ستاسو اولاد هم ستاسو
په ګټه کښې داخل دے امام محمد رح فرمائیلي دي چه که
پلار محتاج وي نو د ځوئ د مال نه خوړل ورته بیا رته
نه لري خو د ضرورت په اندازه دے خوراک کوي
فضول خرچي دې نه کوي که یو مالدار پلار د خپل ځوئ
مال خوري نو هغه پرے قرض دے، دا قول د امام
ابی حنیفهؒ دے او په دې باندے عمل دے، امام محمدؒ د امام
ابی حنیفهؒ نه روایت کوي هغه د حماد نه هغه د ابراهیم نه
چه پلار لره د ځوئ په مال کښې هیڅ حق نشته خو هله
چه د خوراک څکاک او د جامو حاجتمند وي امام محمدؒ
او فرمائیل چه په دے باندے مونږ عمل کوو او هم دا
د امام ابوحنیفه رح قول دے په کنز العمال کښې د حاکم
وغیره نه نقل شوي دي چه ستاسو اولاد د الله تعالی
ورکړه ده چا ته چه غواړي جینکۍ ورکوي او چا
ته چه غواړي هلکان ورکوي نو دغه اولاد او د
هغوئ مال تاسو دپاره دے کله چه تاسو ته
ضرورت وي زۀ وایم چه د حضورؐ دا قول (چه
ستاسو کله ضرورت وي) په دے مسئله باندے
دلالت کوي کومه مسئله چه اوس امام محمدؒ د قول
د حضرت عائشې رضؓ نه اخستے وه د غسې د حضرت
ابی بکر رضؓ د دے قول هم دا تفسیر دے کوم چه هغوئ
رضؓ فرمائیلي وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
فرمائیلي دي «ته او ستا مال ستا د پلار دے»
یعني دې نه مراد نان نفقه ده په در مختار کښې دي
چه په دا سے نابالغ او ځوان هلک باندے جهاد

لا یفرض (القتال) علی صبی
وبالغ له قبلها او احدهما لان
طاعتهما فرض عین الی ان
قال لا یحل سفر فیه خطر الا
باذنهما وما لاخطر فیه یحل
بلا اذن ومنه السفر فی طلب
العلم فی رد المحتار انهما فی سعة
من منعه اذا كان یدخلهما
من ذلك مشقة شدیدة وشمل
الكافرین ایضا او احدهما
اذا كره خروجه مخافة ومشقة
والا بل لكراهة قتال اهل
دینه فلا یطیعه مالم یخف علیه
الضیعة اذ لو كان معسرا محتاجا
الی خدمته فرضت علیه ولو
كافرا ولیس من الصواب ترك
فرض عین لتوصل الی فرض
كفایة قوله فیه خطر كالجهاد
وسفر البحر قوله وما لاخطر
كالسفر للتجارة والحج والعمرة
یحل بلا اذن الا ان خیف علیهما
الضیعة سرخسی قوله ومنه
السفر فی طلب العلم لانه اولی
من التجارة اذا كان الطریق
امنا ولم یخف علیهما الضیعة
(سرخسی) اه قلت ومثله
فی البحر الرائق والفتاوی
الهندیة وفیها فی مسئلة فلا
من الاستیذان فیه اذا كان
له منه بد صـ۲۴۲ ج ۲ فی الدر المختار

نه فرض کیږي چه مور یو پلار یا یو یې موجود
وي، ولې چه د دوي تابعداري فرض عین ده
او داسې څه سفر کول هم جائز نه دي چه
د خطرې وي خو د دوي (مور پلار) په اجازت
سره جائز دي په دې کښې د علم د پاره سفر
کول هم داخل دي، په رد المحتار کښې راغلي
دي، چه مور و پلار د هغې سفر نه اولاد
ایسار ولې شي چه د هغې په وجه په سخت
تکلیف کښې پریوځي او د کافر مور پلار
هم دا حکم دې کله چه د اولاد سفر نه
هغوي ته اندیښنه وي او که هغوي یې د
خپل دین د خلقو د جنګ په وجه ایساروي
نو د هغوي دغه خبره دې نه مني ترڅو چه
د هغوي د هلاکت اندیښنه نه وي، ولې که هغوي
تنګ لاسي او د دوي د خدمت حاجت لري نو په
ده یې خدمت فرض دې که هغوي کافران وي
او فرض عین لره د فرض کفایه په خاطر پریښودل
درست نه دي هغه سفر چه پکښې خطره وي
لکه د جهاد او سمندر سفر وي او په کوم کښې
چه خطره نه وي لکه د تجارت او حج او عمرې
د پاره سفر کول شو هغه بې اجازته جائز دې
خو هله چه د هلاکیدو ویره یې وي او د علم
سفر هم په دې کښې داخل دې کله چه
لاره کښې امن وي او د هلاکیدو ویره نه وي
دغنیې په بحر الرائق او فتاوی هندیه
کښې هم لیکلي دي او په فتاوی هندیه
کښې د یوې مسئلې په بحث کښې لیکلي دي
چه والدینو نه اجازت اخستل ضروري
دي کله چه ضروري کار نه وي۔ د در مختار
په "باب النفقه" کښې راغلي دي چه

باب النفقه وکذا تجب لها السکنی فی بیت خال عن اهله وعن اهلها الخ وفی ردالمختار بعد ما نقل الاقوال المختلفة ما نصه ففی الشریفة ذات الیسار لابد من افرادها فی دار ومتوسطة الحال یکفیها بیت واحد من دار واطال الی ان قال واهل بلادنا الشامیة لا یسکنون فی بیت من دار مشتملة علی اجانب وهذا فی اوساطهم فضلا عن اشرافهم الا ان تکون دار موروثة بین اخوة مثلا فیسکن کل منهم فی جهته منها مع الاشتراك فی مرافقها ثم قال لاشك ان المعروف یختلف باختلاف الزمان والمکان فعلی المفتی ان ینظر الی حال اهل زمانه وبلده اذبدون ذالك لا تحصل المعاشرة بالمعروف ام.

خپلے ښځے ته داسے کور ورکول واجب دی چه پکښے د ښځے یا خاوند خپل خپلوان نهٔ اوسیږی په، درمختار کښے د مختلفو قولونو دنقل کولو نه پس لیکلی دی چه شریفے مالدارے ښځے دپاره دیو درمیانه درجے کور ورکول ضروری دی، دے پسے لیکی چه حُمونږه دشام په ښارونو کښے د درمیانه درجے خلق هم په داسے کورونو کښے نهٔ اوسیږی چه پکښے اجنبی (پردی) خلق اوسیږی نو امیران او شریفان خلق به پکښے څنګه اوسیږی، خو کله چه یو کور د څو وروڼو شریک او موروثی وی نو په دغسے صورت کښے هر یو په خپله برخه کښے اوسیږی او د کور حقونه او ضروریات شریک وی، دے پسے ئے وئیلی دی چه عُرف (رسم، رواج وغیره) د زمانے او مکان د اختلاف په وجه بدلیږی، مفتی لره پکار دی چه په زمان او مکان باندے ضرور نظر لری، سوا د دے نه په صحیح طریقے سره معاشره نشی حاصلیدے۔ (ترجمه ختمه شوه)

د دے روایتونو نه څو مسئلے ښکاره شوے، اول دا چه کوم څیز شرعًا واجب وی او مور پلار د هغے نه منع کوی نو په دے کښے د هغوئ تابعداری کول جائز هم نهٔ دی نو واجب به څنګه کیدے شی؟، په دے قاعدے دا فروع هم راغلل، مثلًا د دغے سړی مالی وس هم دومره کم دے چه که د مور پلار خدمت کوی نو ښځے او بچو ته ئے تکلیف وی نو دغسے سړی له جائز نهٔ دی چه ښځے او ماشومانو ته تکلیف ورکړی او په مور پلار خرچ کوی او مثلًا د ښځے دا حق هم شته چه هغه د خاوند د مور و پلار نه جدا اوسیږی و مطالبه د خاوند نه اوکړی او مور و پلار ئے هم ځان سره اوسول غواړی نو خاوند به ئے د خپل مور و پلار دا خبره نه منی بلکه بیل اوسول ئے واجب دی یا مثلًا حج او عمرے یا د فرض عِلم دپاره ئے خپل مور پلار

پرېښول نهٔ غواړي نو د هغوئ دا خبره منل ئې جائز نهٔ دي - دوئم دا چه یو کار په شریعت کښې ناروا وي او مور و پلار ورته د هغې د کولو حُکم ورکوي نو دا حُکم ئې منل هم ناجائز دي مثلاً هغوئ د یو ناجائزه نوکرئ حُکم کوي یا د جهالت د رسمونو (رواجونو) اختیارولو ورته وائي او د غسې نور، دریم دا چه څهٔ کار په شریعت کښې نه خو واجب وي او نه منع وي بلکه د مباح په درجه کښې وي یا د مستحبو په درج کښې وي او مور پلار ئې د هغې د کولو یا نه کولو حُکم کوي یا زور پرې اچوي نو په دې کښې تفصیل دے دے ته به کتے شي چه د دغې کس هغې ته ضرورت وي او بے د هغې نه ورته تکلیف وي، مثلاً یو نیستمن سړے دے په خپل بنا رکلي کښې ئې څه روزګار نشته مګر بهر وتو ته ئې پلار نه پرېږدي یا دغه سړي ته دغسې ضرورت نشته، که دغسې ضرورتا ئې وي نو په دې کښې د مور و پلار خبره منل نشته او که دغسې ضرورت نهٔ وو نو بیا دا کتل دي چه په دغې کار کښې څهٔ خطره آندېښنه د هلاکیدو یا مرض شته او که نشته او دا هم کتل دي چه په دے کار کښې مشغولیدو سره د خادم یا ضروري سامان د نیشتوالي په وجه همدغه سړي ته بخپله د تکلیف پورته کولو قوي احتمال دے یا نهٔ د. که د دغې خطره وي نو بیا ورد پاره مخالفت کول جایز نهٔ دي مثلاً یو ناواجب جهاد ته ځي یا د سمندر سفر کوي یا به ئې د مور پلار د خبرا غستو خوک نهٔ وي او هغوئ د پاره دے د بل خادم نان، نفقے وغیره څهٔ بل بند وبست نشي کولے او دغه کار او سفر هم ضروري نهٔ دے نو په دغې حالت کښې به ئې خبره منل واجب وي او که په دواړو خبرو کښې یوه خبره هم نهٔ وي یعني په دغې سفر کښې خطره هم نهٔ وي او نه پکښې د دغې سړي د ظاهري مشقت او تکلیف څهٔ احتمال وي نو بے ضرورته هم دغه کار یا سفر کول جائز دي که مور پلار ترے منع کوي هم اګرچه مستحب په دے کښې هم د هغوئ (مور، پلار) خبره منل دي دے نه د نورو فروعو حکم هم معلوم شو مثلاً مور پلار ورته د معقولے وجے نه بغیر خپلے بي بي ته د طلاق ورکولو حُکم کوي نو دا خبره منل ئې واجب نهٔ دي او حدیث د ابن عمر رضي الله عنه په استحباب باندے محمولولے شي یا دا چه د هغوئ دغه حکم په یوه معقوله وجه باندے بنا وو حُکه ئې پرے عمل

کول ورد پاره واجب وو او د مور او پلار د ا مطالبه منل هم واجب نهٔ دی چه خُوئے د دے ټوله خپله کټه وټه مور و پلار ته حواله کوی او که مور پلار ئے په دے خبره زور ورکوی نو ګنهګار به وی او هغه حدیث چه پکښے وئیلے شوی دی: ,,تهٔ او ستا مال ستا د پلار دے" د ا به په حاجت باندے محمولولے شی یعنی د دے منل او پرے عمل کول به هله واجب وی چه مور و پلار ئے د دے محتاج وی او د هغوئ بله ذریعه نه وی، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم فرمائیلی دی: ,,د چا مال د هغه د پوره رضا نه بغیر نشی حلالید ے، که مور پلار بے اجازته د غیر ضروری څیزونو د پاره د ځُوئے د مال نه بے اجازته اخلی نو دا به د هغهٔ په ذمه قرض وی چه په دنیا کښے تره نه هم د هغے طلب او غوښتنه کولے شی ورنه قیامت کښے به ترے ضرور غوښتنه کولے شی، د فقهاؤ رحمه الله تصریح په دے باره کښے ځکه کافی ده چه هغوئ په دے معنو ډیر ښه پوهیږی خصوصاً کله چه د حاکم په حدیث کښے د ,,اذا احتجتم" (کله چه ستاسو حاجت وی) قید ډاګیز دے۔ والله اعلم

کتبه اشرف علی رحمه الله ۲۷/ جمادی الاخر سنه ۱۳۳۲ھ، مقام تهانه بهون

تمت بالخیر

عرض دَ مترجم

پس دَ ثنا دَ رب العلمین او درود دَ سید المرسلینؐ نه دا ناچیز بنده ابو حسینؒ عرض کوئکے دے چه ما دا کتاب چه مسمّٰی دے په "دَ جنت کالی" سره دَ "تاج بهشتی زیور" نه په پښتو ژبه کښے ترجمه کړو اصل کتاب یعنے تاج بهشتی زیور چه دَ مولنٰا اشرف علی صاحب تهانوی تصنیف دے خاص کر دَ ښځو دَ پاره لیکلے شوے دے او اکثر مسئلے ئے تعلق هم دَ ښځو سره لری لیکن دا په اردو ژبه کښے یو داسے بے مثله او بے نظیره کتاب دے چه ښځے او نر تے یو شان فائده اغستے شی او دَ ډیرو کتابونو دَ کتو نه سړے بے نیازه کوی ځکه چه دَ دین داسے یوه مسئله به شائد نه وی چه په دے کتاب کښے به لهٔ موندے کیږی بلکه دا یو دریاب دے چه په کوزه کښے فاضل مصنفؒ بند کړے دے هر یو غو په وهونکے په کښے دَ خپل مقصد ملغلره مومی - چونکه دا یو ډیر اهم او ضروری کتاب دے په دے وجه ما دَ خپلو پښتنو خویاندو ورونړو دَ پاره ترجمه کړو چه دوی تے هم فائده واخلی - او ماته دُعا کوی -

اصل کتاب په لسو حصو کښے دے او هره یوه حصّه ئے جدا جدا ده دَ هرے حصّے دَ مضامینو فهرست دَ خپلے خپلے حصے سره دے - خو مائے دَ آسانئ دَ پاره په یو مسلسل کتاب کښے ترجمه او کړه او دَ مضامینو فهرست م دَ ټولو حصو په اول سر کښے راوست البته دَ هرے حصے په شروع کښے م دَ هغے نوم لیکلے دے چه دَ حصو پته تے لږی -

په نهمه او لسمه حصه کښے م دَ مرضونو علاجونه او دوایانے جوړه ول وغیره پاتے کړی دی ځکه چه نن صبا دَغے ته څه حاجت او ضرورت نه دے پاتے نور کتاب ټول ترجمه شوے دے او په بعضے ځایونو کښے دَ زیات وضاحت دَ پاره م پکښے قدرے قدرے اضافے هم کړی دی چه په بریکټ کښے ورته دَ مترجم لفظ لیک دے امید دے چه پښتانه خویاندے رونړه به زما دا کوشش او محنت قبول کړی او کوم ځائے چه زما دَ کم علمئ او ناپوهئ احساس ورته اوشی یا چرته دَ کتابت غلطی او وینی نو په خپل قلم دے صحیح کړی او ما دے معاف کړی او چه فائده تے اخلی نو ما دے په خپلو نیکو دعاگانو کښے یادساتی -

طالب دعا :- ابو حسین چند الخوری سواتی واکخانه کبل ضلع سوات (تاریخ ۲۰ نومبر ۱۹۸۳ء)

نظر ثانی: مولانا عبدالوالی ولد عبدالباقی الافغانی حصارک مزینه فاضل جامع امداد العلوم صدر پشاور

دَ"اصلی انسانی زیور" اردو نظم په پښتوکښے ترجمه "دَ سر پټوب اصلی کالے"
دَ جناب سیف الملوک صدیقی صاحب دَکبل دَ قلم نه لاندِ درج شو -

دَ سر پټوب اصلی کالے

یو جینۍ اوکړه تپوس دَ خپلے موره
نا خبره یم دَ کالی د صفت څوره

په کالو کښے چه کوم ښۀ دی را ته وایه
چه نا کاره دی هغه را ته او خایه

چه دَ ښۀ او دَ نا کاره تمیز اوکړم
په دُعا به دِ بدېږدم غور یز اوکړم

مورے اُووے لور دَ زړه په غوږونو واوره
دَ سرو سپینو دَ کالو دَ پاره مه ګرځه

خلقو خوښ دی په دنیا کښے سره او سپین
چرته دے پسے ته ځان نه کړے غم ګین

سره او سپین خو دَ نظر هسے دهوکه ده
یو څو ورځے رنړائی بیا توره شپه ده

کړه دَ ځان دَ پاره هغه کالی غوره
چه دِ دین دُنیا خائسته شی دَ زړه سره

ته په سر باندِ دَ عقل جهومر کیده
په مخلوق ته نیغه لار دَ عمر کیده

په غوږو لوکښے منډ رئی دِ تا دَ هوش وی
نیکی او رے او بدئی پرے فراموش وی

چه نظر رونه که په غوږو کښ نصیحت
چه نصیب دے خوشحالی شی په قیامت

هر کالے په غوږ کول به عذاب دَرکی
نصیحت به په ښئ لاس کښے کتاب درکی

که په غاړه دے کالی څومره پکار وی
کړه نیکی دغه به ستا دَ غاړے هار وی

نیّت دَ نیکو ارادو دے بازوبند شه
دَ جنت بنګلے باؤو دِ په مړو ند شه


دَ کالو نه هره مته دِ وزګار شه
خو فریم ستا دَ همت مټے دِ پکار شه


دَ لاسونو دَ کالو نه هنر ښۀ دے
بے هنره بے عمله بشر څۀ دے؟


دَ پا نزیب پهنو کول څۀ ښۀ کار نه دے
کړه که نه ابئے دا شریف لره عار نه دے

سر دَ خپو پورے دا قول کالی ګنډار که
خو ځان تینګه صرف دَ نیکئ په سمه لار که

دَ سرو سپینو په کالو مه لره کار
چه خطا نه شے کړه ټګ په سمه لار


تنبیه الغافلین


تفسیر یسیر
فوق الیسیر


قصص الانبیاء
پښتو



د جنت ګاڼې

مؤلف

حکیم الامت حضرت مولانا محمد اشرف علی صاحب تهانوی